کشف الباری
عما فی
صحیح البخاری
تصنیف
حضرت مولانا سلیم اللہ خان

کشف الباری

عما فی

صحیح البخاری

علماء دیوبند کے علوم کا پاسبان
دینی وعلمی کتابوں کا عظیم مرکز ٹیلیگرام چینل
حنفی کتب خانہ محمد معاذ خان
درس نظامی کیلئے ایک مفید ترین
ٹیلیگرام چینل

کتاب التفسیر

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم اللہ خان مدظلہ العالی
شیخ الحدیث جامعہ فاروقیہ کراچی

ترتیب وتحقیق ← مولانا ابن الحسن عباسی استاذ جامعہ فاروقیہ کراچی

ترجمہ ← مولانا شاہ فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم

خصوصیات

جلد ⑪

① داحادیثو تخریج
② د تعلیقات بخاری تخریج کول
③ د اسماء الرجال مختصر تعارف
④ دگرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
⑤ ماقبل باب سره د ربط په باره کښې پوره تحقیق
⑥ د شرحې د هرې خبرې په حاشیه کښې حواله ورکول
⑦ د ترجمة الباب مقصد په بیانولو کښې پوره تحقیق
⑧ د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
⑨ دحدیث اطراف بیانول چه په بخاری کښې داحدیث په کوم کوم ځائې کښې دې

خورونکی فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د کتاب ټول حقوق د مصنف او ناشر سره محفوظ دي

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

جلد: کتاب التفسیر

شارح: صدر وفاق المدارس شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مدظله العالی

ترتیب وتحقیق: مولانا ابن الحسن عباسی استاذ جامعه فاروقیه کراچی

پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل فاضل امداد العلوم و وفاق المدارس
ایم اے اسلامیات وعربی پیښو ریونیورسټی

د کشف الباري د پښتو اور فارسۍ د ترجمې د حقوقو په حقله وضاحت

دا خبره دې په ذهن کښې وی چې فیصل کتب خانه د صدر وفاق المدارس العربیه مهتمم جامعه فاروقیه شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مدظله العالي څخه د کشف الباري پښتو او فارسۍ ژبو کښې د ترجمو حقوق ترلاسه کړل او د حقوقو معاوضه ئې ورته ورکړه ددې څخه روسته هیڅ چاته د کشف الباري پښتو او فارسۍ د ترجمه کولو او چهاپ کولو اجازت نشته او د هر یو جلد رجسټریشن ئې هم د حکومت پاکستان سره شوې دی.

د ملاویدو پتې د فیصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رشیدیه کتب خانه اکوړه خټک
- علمیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴
- مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عثمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰
- مکتبه یوسفیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰
- راشد کتب خانه چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳
- مکتبه عمریه تاج میر روډ چمن بلوچستان
- مکتبه علوم اسلامیه تاج میر روډ چمن بلوچستان ۰۳۳۳۷۹۵۸۶۹۶
- مکتبه حقانیه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبهٔ رحمانیه قندهار افغانستان ۰۷۹۷۷۳۵۲۸۱
- مکتبه عبد الحي قندهار افغانستان ۰۷۰۰۸۲٤۳۳٤
- اسد الله کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۰۷٤۷۷۶۲۷
- مکتبهٔ غفاریه قندهار افغانستان ۰۷۰۰۳٤۱۷٤۹
- مکتبهٔ رشیدیه قندهار افغانستان ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹
- مکتبهٔ حبیبیه قندهار افغانستان ۰۷۹۹٤٤۷٤۱۳
- مکتبهٔ القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹٤۸۵۵۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۲۱۹۲۰۳
- عبد المجید کتب خانه جلال آباد ۰۷۰۸۱۹۷۷۴۹
- شاهین کتب خانه خوست افغانستان
- بلال کتب خانه خوست افغانستان
- اسلامي کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲۴۷

فهرست مضامین

شمیره	مضمون	صفحه

عرض د مرتب ۲۹
د امام بخاری په کتاب التفسیر باندې یو نظر [از مرتب] ۳۰
د امام بخاری د کتاب التفسیر ماخذ: ۳۰
ابوعبیده معمر بن المثنی او د هغوی تفسیر ،،مجاز القران: ۳۱
یو غلط فهمی: ۳۴
د ابوعبیده په مجاز القران او د بخاری په کتاب التفسیر کښې وجوه فرق ۳۵
د امام بخاری د کتاب التفسیر اسلوب او انداز: ۳۶
په فن تفسیر کښې د دې حیثیت او مرتبه: ۳۸

کتاب التفسیر

د تفسیر لغوی معنی: ۳۹
د تفسیر اصطلاحی معنی: ۳۹
په تفسیر او تاویل کښې فرق: ۴۰
په کتاب التفسیر کښې د امام بخاری رحمه الله انداز: ۴۱
باب: مَا جَاءَ فِي فَاتِحَةِ الْكِتَابِ ۴۲
سورة فاتحه ته ``ام الکتاب،، ولې وائی؟: ۴۲
د سورة فاتحه نومونه: ۴۳
د لفظ ``دین،، معنی: ۴۳
د نبی کریم ﷺ په آواز باندې د لبیک ویونکی مونځ کونکی مونځ به فاسد وی یا نه؟: ۴۴
سورة فاتحه ته د ``سبع مثانی،، وئیلو وجوه: ۴۵
سورة فاتحه ته د ``قرآن عظیم،، وئیلو وجه: ۴۵
باب (غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ) ۴۶
ترجمة الباب سره د روایت باب مناسبت: ۴۶

تفسیر سورة البقرة

بقره طرف ته د سورة اضافت کولو کې اختلاف او قول راجح: ۴۶
باب قول الله (وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا) ۴۷
حضرت آدم علیه السلام ته د کومو څیزونو نومونه ښودلی شوی وو؟: ۴۷
یو اشکال او د هغې جواب: ۴۷
په ``خلقك الله بيده،، کې د ``ید،، نه څه مراد دې؟: ۴۸

شمیره	مضمون	صفحه
	د سجود ادم نه کومه سجده مراد ده؟	۴۸
	دا سجده ټولو ملائکو کړې وه یا بعضو؟	۴۹
	حضرت نوح ''اول رسول،، په کوم حیثیت سره دې؟	۴۹
	د کلماتو تشریح	۴۹
	باب	۴۹
	د راعنا معنی او په دې کې مختلف قراءتونه:	۵۲
	باب: قَوْلُهُ تَعَالَى: فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ	۵۳
	د حدیث د الفاظو تشریح	۵۳
	باب: وَقَوْلُهُ تَعَالَى (وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَى ....الخ	۵۴
	د ''من،، تفسیر	۵۴
	یو اشکال او د هغې جواب:	۵۴
	د مار د چترۍ اوبه سترګې دپاره مفید دی:	۵۵
	باب (وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا هَذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا ....الخ	۵٦
	د حدیث باب تشریح	۵٦
	باب: قَوْلُهُ (مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ)	۵٦
	د جبرئیل او میکائیل معنی:	۵٦
	باب: قَوْلِهِ (مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا	۵۷
	د نسخ لغوی او اصطلاحی معنی:	۵۷
	د نسخ په مفهوم کښې د متقدمینو او متاخرینو په اصطلاحاتو کښې فرق:	۵۸
	د شریعت په احکامو کښې د نسخ کیدل څه عیب نه دې:	۵۸
	د نسخ قسمونه:	۵۹
	بیا د نسخ القران بالقران درې صورتونه دی:	۵۹
	باب: وَقَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ	٦۲
	باب: وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى	٦۲
	د مقام ابراهیم نه څه مراد دې؟	٦۲
	باب قَوْلُهُ تَعَالَى (وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ ....الخ	٦۳
	باب: قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا	٦۴
	باب: قوله تعالی: سَيَقُولُ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلَّاهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا	٦۵
	د سفهاء نه څوک مراد دی؟	٦۵
	باب: قوله تعالی: وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ	٦٦
	باب: قوله تعالی: وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُولَ	٦۷

شميره	مضمون	صفحه

باب: قوله تعالى: قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ) إِلَى (عَمَّا تَعْمَلُونَ)......... ۶۷
باب: قوله تعالى: وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ مَا تَبِعُوا قِبْلَتَكَ......... ۶۷
باب قوله تعالى: الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ......... ۶۸
باب: وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ أَيْنَمَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعًا......... ۶۸
باب: قوله تعالى: وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ......... ۶۸
باب: قوله تعالى: وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُمَا كُنْتُمْ......... ۶۸
باب قوله تعالى: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ......... ۶۹
باب: قوله تعالى: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا......... ۷۱
باب: قوله تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ......... ۷۱
په قصاص کې د نفس په بدله کې نفس دې د آزاد او غلام هيڅ تفريق په دې کې نشته:......... ۷۱
د حضرت ربيع د يوې جينۍ د غاښ ماتولو واقعه:......... ۷۳
د رواياتو تعارض او دهغې حل :......... ۷۳
باب: قوله تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ......... ۷۴
په دې سلسله کې د رواياتو تعارض او ددې حل:......... ۷۵
د رمضان د فرضيت نه مخکې د عاشورې د ورځې د روژې حيثيت......... ۷۵
اشعث بن قيس......... ۷۶
باب قوله تعالى: أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ......... ۷۶
د معمولي مرض په وجه د روژې ماتولو متعلق د امام بخاری او د جمهورو مسلك......... ۷۷
د مرضعه او حامله د روژو نه نيولو متعلق د ائمه وُ مذاهب......... ۷۷
باب: قوله تعالى: فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ......... ۸۰
باب: قوله تعالى: أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ......... ۸۱
په روژه کې تدريجاً درې تبديلۍ اوشوې......... ۸۱
باب: قوله تعالى: وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ......... ۸۲
باب قوله تعالى: وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَى......... ۸۳
باب: قوله تعالى: وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ......... ۸۴
عبيد الله بن لهيعه ضعيف راوی دې......... ۸۵
باب قوله: وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ......... ۸۶
باب قوله: فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ......... ۸۶
باب: قوله تعالى: فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ......... ۸۷

شمیره	مضمون	صفحه
	باب: قوله تعالى: لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ	٨٧
	باب: قوله تعالى: ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ	٨٧
	باب: قوله تعالى: وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً	٨٩
	باب: قوله تعالى: وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ	٨٩
	باب: قوله تعالى: أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ	٨٩
	د سورة يوسف په ذكر شوى ايت كښې دوه قراتونه دى:	٩٠
	باب: قوله تعالى: نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ وَقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ	٩٣
	ښځې سره د وطی فی الدبر مسئله:	٩٣
	ښځې سره په دبر كښې وطى كولو كښې د عالمانو اختلاف دې:	٩٤
	باب: قوله تعالى: وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ	٩٦
	د آيت كريمه نه په عبارة النساء سره په نكاح باندې استدلال:	٩٦
	باب: قوله تعالى: وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا	٩٦
	د ايت په باره كښې يو اشكال او د هغې جواب:	٩٨
	د لامع الدرارى په غلطئ باندې تنبيه:	١٠٠
	د مُتوفّى عنها زوجها د نفقه او سكنى حكم:	١٠١
	د حاملې متوفّى عنها زوجها عدت:	١٠٢
	باب قوله تعالى: حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى	١٠٤
	د صلاة وسطى په باره كښې د عالمانو اقوال:	١٠٤
	باب: (وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ) مُطِيعِينَ	١٠٦
	باب: قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا فَإِذَا أَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُمْ	١٠٦
	په وسع كرسيه كې د كرسى نه څه مراد دې؟:	١٠٦
	د كلماتو تشريح:	١٠٧
	باب: (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا)	١٠٨
	باب: (وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى)	١٠٩
	حضرت ابراهيم عليه السلام دا سوال ولې اوكړو؟:	١٠٩
	باب قَوْلِهِ (أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُونَ لَهُ جَنَّةٌ) إِلَى قَوْلِهِ (تَتَفَكَّرُونَ)	١١٠
	يو اشكال او د هغې جواب:	١١٠
	باب: (لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا)	١١١
	باب: (وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا)	١١٢
	يو اشكال او د هغې جواب:	١١٢

شمیره	مضمون	صفحه

باب: (يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا) يذهبه ۱۱۳
باب: (فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ) فَاعْلَمُوا ۱۱۳
باب: (وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ) ۱۱۳
په روايت باب او آيت باب كې مناسبت: ۱۱۳
باب: (وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ) ۱۱۴
د روايت باب متعلق يو اشكال او دهغې جواب: ۱۱۴
باب: وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ.. ۱۱۴
د آيت كريمه تفسير: ۱۱۵
ابوجعفر عبدالله بن محمد نفيلى: ۱۱۶
باب: آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ ۱۱۶

تفسير سورة آلِ عِمْرَانَ

د كلماتو تشريح: ۱۱۷
باب: مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ ۱۲۰
يو اشكال او د هغې جواب: ۱۲۱
د متشابهاتو دوه قسمونه: ۱۲۲
باب: وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ۱۲۳
څو اشكالات او د هغې جوابونه: ۱۲۳
باب: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَٰئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ ۱۲۵
باب: قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ ۱۲۷
باب: (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ) إِلَى (بِهِ عَلِيمٌ) ۱۲۸
باب: قُلْ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ) ۱۲۹
باب:... كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ۱۳۰
تنبيه: ۱۳۱
باب: (إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا) ۱۳۱
باب: (لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ) ۱۳۲
د آيت كريمه "ليس لك من الامر شيئ" شان نزول: ۱۳۲
باب: قَوْلِهِ: وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِي أُخْرَاكُمْ ۱۳۳
وَهُوَ تَأْنِيثُ آخِرِكُمْ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ) فَتْحًا أَوْ شَهَادَةً ۱۳۳
باب: قَوْلِهِ (أَمَنَةً نُعَاسًا) ۱۳۴
باب: قَوْلِهِ: الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ ۱۳۴

شمیره	مضمون	صفحه

باب: (إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ) ۱۳۴
باب: (وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ) ۱۳۵
باب: وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيرًا) ۱۳۵
باب: (لَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا) ۱۳۸
باب: قوله: (إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ) ۱۳۹
باب: قوله: الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۱۴۰
باب: رَبَّنَا إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ) ۱۴۰
باب: قوله: (رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِي لِلْإِيمَانِ) ۱۴۱

تفسیر سورة النِّسَاءِ

د مثنیٰ وثلاث ورباع تفسیر ۱۴۲
د ایت کریمه نه یو غلط استدلال او د هغې جواب ۱۴۲
باب: وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى ۱۴۴
په "فانکحوا ما طاب لکم من النساء" کې د (ما) د استعمال توجیهات ۱۴۶
باب: وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ ۱۴۶
د یتیم د مال حکم ۱۴۷
باب: وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُو الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينُ ۱۴۸
باب: قوله: يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ۱۴۸
د آیت د نزول متعلق د روایاتو تعارض او د هغې حل ۱۴۹
باب: قوله: وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ ۱۵۰
باب: لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ ۱۵۰
باب: قوله: وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ. ۱۵۱
باب: (إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ) يَعْنِي زِنَةَ ذَرَّةٍ ۱۵۱
محمد بن عبد العزیز ۱۵۳
باب: فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا ۱۵۴
باب: وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ ۱۵۵
فائده ۱۵۶
باب: قوله. أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ (ذَوِي الْأَمْرِ) ۱۵۶
د اولی الامر نه کوم خلق مراد دی ۱۵۷

شمیره	مضمون	صفحه
	فائده: د ایت کریمه نه د اصول اربعه په حجیت باندې استدلال	۱۵۸
	باب: (فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ)	۱۵۸
	د رجل من الانصار نه څوک مراد دي؟	۱۵۹
	فائده	۱۵۹
	باب: فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ	۱۶۰
	باب: وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ الاية	۱۶۰
	باب: فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوا	۱۶۱
	باب: وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ	۱۶۱
	باب: وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ	۱۶۲
	آیا قاتل به همیشه دپاره په جهنم کښې وی؟	۱۶۲
	آیا د قاتل توبه قبلیږی؟	۱۶۳
	باب: وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰ إِلَيْكُمُ السَّلَمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا	۱۶۴
	باب: لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ	۱۶۴
	د روایت د سند متعلق یوه فائده	۱۶۶
	باب إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا	۱۶۶
	باب: إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ...	۱۶۷
	باب: فَأُولَٰئِكَ عَسَى اللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا	۱۶۷
	باب: وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰ أَن تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ	۱۶۷
	باب: وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ فِي يَتَامَى النِّسَاءِ	۱۶۸
	باب: وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِن بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا	۱۶۸
	باب: إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ	۱۶۹
	باب: قوله إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ	۱۷۰
	د من قال انا خیر من یونس بن متی معنی	۱۷۰
	باب: يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ..	۱۷۱
	د کلاله تفسیر	۱۷۱

تفسیر سورة المَائِدَةِ

شمیره	مضمون	صفحه
	د کلماتو تشریح	۱۷۳
	باب: الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ	۱۷۵
	د حدیث باب تشریح	۱۷۵

شمیره	مضمون	صفحه
	باب: فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا	۱۷۷
	باب: فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ	۱۷۸
	حمدان بن عمر	۱۷۹
	باب: إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا	۱۷۹
	د محاربینو سزا	۱۷۹
	فائده	۱۸۱
	باب: وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ	۱۸۱
	باب: يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ	۱۸۲
	باب: لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ	۱۸۲
	د یمین لغو تعریف	۱۸۲
	باب: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ	۱۸۳
	باب: قوله: إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ	۱۸۴
	باب: لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا	۱۸۶
	باب: قَوْلِهِ: لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ	۱۸۶
	د ایت کریمه په شان نزول کې مختلف واقعات	۱۸۷
	فائده	۱۸۸
	باب: مَا جَعَلَ اللَّهُ مِنْ بَحِيرَةٍ وَلَا سَائِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ	۱۸۸
	د واذقال الله یاعیسی ابن مریم تشریح	۱۸۸
	د حضرت عیسی علیه السلام د حیات عقیده	۱۹۰
	د حضرت ابن عباس په مذکوره تعلیق باندې بحث	۱۹۱
	اي روي الحديث المذكور يزيد بن عبد الله بن اسامة بن الهاد عن الزهري، عن سعيد عن ابي هريرة رضي الله عنه	۱۹۵
	د بحیره، وصیله او د حام وغیره تشریح	۱۹۵
	د حضور اکرم ﷺ عمرو بن عامر خزاعی لره په جهنم کې د لیدلو توجیهات	۱۹۶
	باب: وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ	۱۹۷
	په روایت باب باندې یو اشکال او دهغې جوابونه	۱۹۷
	د قیامت په ورځ په ټولو نه اول حضرت ابراهیم علیه السلام ته لباس اغوستلې شي	۱۹۸
	باب: إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ	۱۹۸
	تفسیر سورة الانعام	
	د کلماتو تشریح	۱۹۹
	د سورة قصص آیت لره په سورة انعام کې د ذکرکولو متعلق د حضرت گنگوهی توجیه	۲۰۲

شمیره	مضمون	صفحه
	یو اشکال او دهغې جواب	۲۰۲
	باب: قَوْلِهِ: أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ	۲۰۷
	د شرائع من قبلنا متعلق یوه فائده	۲۰۷
	باب: قَوْلِهِ: وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ	۲۰۹
	باب: قَوْلِهِ (هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمْ)	
	باب (لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا	۲۱۰
	د آیت کریمه نه د معتزله په عقیده باندې د علامه زمخشری استدلال او دهغې رد:	۲۱۱
	فائده:	۲۱۲
	تفسیر سورة الأَعْرَاف	
	د آیت کریمه: هوالذی خلقکم من نفس واحدة وجعل منها زوجها.. په تفسیر کې د تفسیرد انمو مختلفې رائې:	۲۱۷
	باب: قَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ	۲۲۴
	باب:	۲۲۴
	د روایاتو تعارض او دهغې حل:	۲۲۵
	د فاکون اول من یفیق تشریح:	۲۲۵
	د قیامت په ورځ د نفخاتو شمیر:	۲۲۵
	باب الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ	۲۲۷
	باب: قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ	۲۲۷
	عبدالله بن حماد:	۲۲۸
	د کمالاتو والؤ غلطئ ته نظر نه شی کولې:	۲۲۸
	باب: { وَقُولُوا حِطَّةٌ }	۲۲۹
	باب: { خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ }	۲۲۹
	العرف المعروف	۲۲۹
	تفسیر سورة الأنفال	
	باب: قوله: يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ..	۲۳۰
	د کلماتو تشریح:	۲۳۰
	باب: إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ	۲۳۲
	باب: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ	۲۳۲
	باب: قَوْلِهِ: وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ.	۲۳۳
	احمد بن النضر	۲۳۳

شمیره	مضمون	صفحه
	باب: وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ	۲۳۴
	د آيت مبارك دوه تفسيرونه:	۲۳۴
	باب: وَقَاتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلّٰهِ	۲۳۵
	باب: يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفًا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ	۲۳۷
	د ميدان جنګ نه كوم وخت تيخته جائز ده؟:	۲۳۷
	باب: الْآنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا) الآيَةَ إِلَى قَوْلِهِ (وَاللّٰهُ مَعَ الصَّابِرِينَ)	۲۳۸
	تَفْسِيرُ سُورَةُ بَرَاءَةٌ	
	د كلماتو تشريح:	۲۳۹
	باب: قَوْلِهِ: بَرَاءَةٌ مِنَ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ إِلَى الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ	۲۴۲
	دټولو نه په آخركې نازليدونكې سورت:	۲۴۳
	باب: قَوْلِهِ: فَسِيحُوا فِي الْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ وَأَنَّ اللّٰهَ مُخْزِي الْكَافِرِينَ .	۲۴۳
	باب: قَوْلِهِ: وَأَذَانٌ مِنَ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ أَنَّ اللّٰهَ بَرِيءٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ..	۲۴۴
	باب: إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ	۲۴۴
	باب: فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ	۲۴۴
	د آيت د تعيين متعلق يوه تنبيه:	۲۴۵
	باب: قَوْلِهِ: وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ..	۲۴۶
	باب: قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ	۲۴۶
	باب: قَوْلِهِ: إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ...	۲۴۷
	د حرمت د مياشتو په ترتيب كې اختلاف:	۲۴۷
	باب: قَوْلِهِ: ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ	۲۴۸
	دحضرت عبد الله بن عباس اوحضرت عبد الله بن زبير رضی الله عنهما په مينځ كې د اختلاف ذكر:	۲۴۹
	باب: قَوْلِهِ: وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ	۲۵۲
	باب: قَوْلِهِ: الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ	۲۵۲
	باب: قَوْلِهِ: اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً	۲۵۳
	باب: قوله: وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ	۲۵۴
	د حضور اكرم ﷺ د عبد الله بن ابى د جنازې مونځ كول:	۲۵۴
	يوڅو اشكالات او دهغې جوابات:	۲۵۵
	تفسير سورة يونس	
	د كلماتو تشريح:	۲۶۴

شمیره	مضمون	صفحه

په ''ان لهم قدم صدق،، کې د ''قدم صدق،، مصداق: ۲۶۵
آیا دَ فرعون ایمان راوړل معتبر وو؟: ۲۶۷

تفسیر سورة هود

د کلماتو تشریح: ۲۶۹
د آیت باب شان نزول: ۲۷۲
باب: قوله: ﴿وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَآءِ﴾ ۲۷۳
باب: وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۲۷۶
په بسم الله مجريها ومرساها کې مختلف قراءتونه: ۲۷۸

تفسیر سورة یُوسُفَ

د کلماتو تشریح: ۲۸۲
صواع څه شي دي؟: ۲۸۲
د غیابة الجب نه څه مراد دي؟: ۲۸۳
د بلغ اشده مصداق: ۲۸۳
په ''متكأ،، کې دوه قراءتونه: ۲۸۴
باب: قَوْلِهِ: قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۲۸۷
د آیت کریمه په تفسیر باندې یو اشکال او دهغې جوابات: ۲۸۸
د سورة صافات ددې لفظ په سورة یوسف کې د ذکر کولو وجه: ۲۹۰
په ''بل عجبت ویسخرون،، کې د عجبت په یو قراءت باندې د قاضی شریح یو اشکال او دهغې جواب: ۲۹۰
عبد الرحمن بن القاسم ۲۹۲
د ''لقد كان يأوى الى ركن شديد،، معنی: ۲۹۲
د کلماتو تشریح: ۲۹۴
د آیت کریمه ''انزل من السماء ماء فسالت اودية،، تفسیر: ۲۹۸
د کلماتو تشریح: ۳۰۰
د ''فردوا ايديهم في افواههم،، تفسیر: ۳۰۰
د آیت کریمه تفسیر: ۳۰۲
باب: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَةَ اللَّهِ كُفْرًا ۳۰۳

تفسیر سورة الحِجْرِ

د کلماتو تشریح: ۳۰۴
باب: قَوْلِهِ: إِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ مُّبِينٌ ۳۰۶

شميره	مضمون	صفحه
	د سند توضيح	۳۰۸
	په "فاذا فزع عن قلوبهم" كي دوه قراءتونه	۳۰۸
	شيطانان او شهاب ثاقب	۳۰۹
	تنبيه	۳۱۰
	په "كما انزلنا على المقتسمين" كي د مقتسمين نه كوم خلق مراد دي؟	۳۱۲
	تفسير سورة النحل	
	د كلماتو تشريح	۳۱۳
	د "فاذا قرأت القرآن فاستعذ بالله" تفسير	۳۱۴
	تلاوت نه وړاندي دتعو ذ حكم	۳۱۵
	په سند كي د صدقي نه كوم سړي مراد دي؟ په دي سلسله كي دري اقواله او په هغي كي د قول راجح تعين	۳۱۷
	د آيت كريمه "ولا تكونوا كالتي نقضت غزلها" تفسير	۳۱۸
	د كلماتو تشريح	۳۲۰
	د كلماتو تشريح	۳۲۴
	په "امرنا مترفيها" كي مختلف قراءتونه	۳۲۷
	د شفاعت حديث او ددي تشريح	۳۲۸
	د ثلاث كذبات تفصيل	۳۳۰
	ددي سلسلي يو د تنبيه	۳۳۲
	په "كلمته القاها الى مريم وروح منه" كي د روح متعلق د علماؤ اقوال	۳۳۳
	د "قد غفر الله لك ما تقدم من ذنبك وما تأخر" تشريح	۳۳۴
	طي زمان او طي مكان	۳۳۷
	د قرآن الفجر د مشهور كيدو مختلف وجوه	۳۳۸
	باب: قَوْلِهِ: عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا	۳۳۸
	آدم بن على	۳۳۹
	د اذان نه پس دعا	۳۳۹
	په دعا كي د "الدرجة الرفيعة" ذكر نشته	۳۳۹
	د روح متعلق د يهوديانو سوال	۳۴۰
	عالم خلق او عالم امر	۳۴۱
	آيا د روح دحقيقت علم چاته كيدشى؟	۳۴۲
	آيا روح او نفس يو دى كه جدا جدا ؟	۳۴۲
	دمولانا انورشاه كشميرى رحمه الله تحقيق	۳۴۳

شمیره	مضمون	صفحه
	يو اشكال اودهغې جواب:	۳۴۳
	د روح قسمونه:	۳۴۴
	آيا په روح باندې مرګ راځي ؟:	۳۴۵
	دلته په آيت كې د روح نه څه مراد دي؟:	۳۴۵
	باب(وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا)	۳۴۶
	تفسير سورة الكهف	
	د كلماتو تشريح:	۳۴۷
	د اصحاب كهف قصه:	۳۴۸
	د اصحاب كهف غار كوم ځائې دي؟:	۳۵۰
	د رقيم مصداق:	۳۵۱
	د ''فضربنا على آذانهم...، معنى:	۳۵۴
	باب: وَكَانَ الْإِنْسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا	۳۵۵
	د كلماتو تشريح:	۳۵۶
	باب: وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتَّى أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا زَمَانًا وَجَمْعُهُ أَحْقَابٌ ..	۳۵۸
	باب: قَوْلِهِ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا	۳۵۹
	د سند توضيح:	۳۶۱
	باب: فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا	۳۶۱
	باب قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا	۳۶۴
	باب أُولَئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ... الآيَةَ	۳۶۵
	دَ قيامت په ورځ به وزن د څه څيز وى؟:	۳۶۵
	تفسير سورة مريم	
	د كلماتو تشريح:	۳۶۷
	باب: وانذرهم يوم الحسرة	۳۶۹
	جنت او دوزخ دائمي دي:	۳۷۰
	باب وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا	۳۷۱
	باب قَوْلِهِ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا	۳۷۱
	باب قَوْلُهُ أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَنِ عَهْدًا قَالَ مَوْثِقًا	۳۷۱
	د آيت كريمه شان نزول:	۳۷۱
	باب كَلَّا سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا	۳۷۲
	باب قَوْلُهُ عَزَّوَجَلَّ وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْجِبَالُ هَدًّا هَدْمًا	۳۷۲

شمیره	مضمون	صفحه

تفسیر سُورَةُ طٰهٰ

د کلماتو تشریح ۳۷۳
د طٰهٰ معنی ۳۷۳
په حرم شریف کې په یوه خپه اودریدو سره د امام ابوحنیفه رحمه الله د نیم قرآن لوستلو متعلق یوه فائده ۳۷۳
بَاب: وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِي ۳۷۷
د حضرت آدم او حضرت موسیٰ علیهما السلام ملاقات او مناظره کله اوشوه؟ ۳۷۷
بَاب وَلَقَدْ أَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا ۳۷۹
بَاب قَوْلِهِ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَى ۳۷۹

تفسیر سُورَةُ الْأَنْبِيَاءِ

د کلماتو تشریح ۳۸۰
د سجل په معنی کې مختلف اقوال ۳۸۳
بَاب كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا ۳۸۴
اشکال او د هغې جوابونه ۳۸۴

تفسیر سُورَةُ الْحَجِّ

د "وما ارسلنا من قبلك من رسول ولا نبی الا اذا تمنّٰی القی الشیطان فی أمنیته" تفسیر ۳۸۵
بَاب وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى ۳۹۳
په زرو کې یو کم زر بعث النار ۳۹۳
د "وانی لأرجو أن تكونوا ربع أهل الجنة" معنی ۳۹۳
بَاب وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَى حَرْفٍ ۳۹۴
بَاب هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ ۳۹۵

تفسیر سُورَةُ الْمُؤْمِنُونَ

د کلماتو تشریح ۳۹۵

تفسیر سُورَةُ النُّورِ

د کلماتو تشریح ۳۹۷
بَاب قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ ۳۹۹
بَاب وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَةَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ۴۰۰
بَاب وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ۴۰۰
د لعان آیتونه د چا متعلق نازل شوی؟ ۴۰۱

شمیره	مضمون	صفحه

باب قَوْلِهِ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ ۴۰۲
باب إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ ۴۰۲
باب قَوْلِهِ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۴۰۲
باب إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ مَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ ۴۰۲
باب وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُمْ مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا ۴۰۲
باب يَعِظُكُمُ اللَّهُ أَنْ تَعُودُوا لِمِثْلِهِ أَبَدًا ۴۰۷
باب وَيُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۴۰۷
باب إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا ۴۰۷
باب وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ ۴۰۹

تفسیر سُورَةُ الْفُرْقَانِ

د کلماتو تشریح ۴۱۰
د رس معنی ۴۱۲
باب قَوْلِهِ الَّذِينَ يُحْشَرُونَ عَلَى وُجُوهِهِمْ إِلَى جَهَنَّمَ أُولَئِكَ شَرٌّ مَكَانًا وَأَضَلُّ سَبِيلًا ۴۱۲
باب قَوْلِهِ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ ۴۱۳
د سند توضیح ۴۱۳
د سورة فرقان او د سورة نساء د آیتونو متعلق د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما سوال او دهغه جواب ۴۱۴
باب يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ۴۱۵
باب إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ۴۱۵
باب فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا أَيْ هَلَكَةً ۴۱۵
د قیامت د علاماتو نه خومرد علامتونه تیرشوی دي ۴۱۵

تفسیر سُورَةُ الشُّعَرَاءِ

د کلماتو تشریح ۴۱۷
آیا دَ حضور اکرم ﷺ والدین مؤمنان وو؟ ۴۱۸
فائده ۴۱۹
باب وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ۴۲۰
باب وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ أَلِنْ جَانِبَكَ ۴۲۱
د انزار څلور صورتونه ۴۲۲

تفسیر سُورَةُ النَّمْلِ

د کلماتو تشریح ۴۲۲

شميره	مضمون	صفحه

واوتينا العلم.. د چا مقوله ده: ۴۲۳

تفسير سورة القصص

باب: قَوْلِهِ: إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۴۲۵

آيا ابو طالب مسلمان شوې وو؟: ۴۲۵

د بخارى په روايت باندې د شبلى نعمانى مرحوم اعتراض او دهغې جواب: ۴۲۵

د كلماتو تشريح ۴۲۷

د لفظ ''ويكأن.. تحقيق: ۴۲۹

باب إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ الْآيَةَ ۴۳۰

تفسير سورة العنكبوت

د كلماتو تشريح ۴۳۰

د آيت ''فليعلمن الله الذين صدقوا'' متعلق يو اشكال او د حضرت شيخ الهند رحمه الله جواب: ۴۳۰

تفسير سورة الم غلبت الروم

د كلماتو تشريح: ۴۳۳

بَاب لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ لِدِينِ اللَّهِ خُلُقُ الْأَوَّلِينَ دِينُ الْأَوَّلِينَ وَالْفِطْرَةُ الْإِسْلَامُ ۴۳۵

د ''فطرت الله التى فطر الناس عليها.. تفسير ۴۳۵

تفسير سورة لقمان

بَاب لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ۴۳۶

بَاب قَوْلِهِ إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ ۴۳۶

تفسير سُورَةُ تنزيل (السَّجْدَةِ)

د كلماتو تشريح: ۴۳۷

بَاب قَوْلِهِ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ ۴۳۷

د ''ذخرا بله ما اطلعتم عليه.. معنى: ۴۳۸

تفسير سُورَةُ الْأَحْزَابِ

د كلماتو تشريح ۴۳۹

بَاب النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ ۴۳۹

بَاب ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ ۴۳۹

بَاب فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا ۴۳۹

حضرت خزيمه رضي الله عنه گواهى د دوه سړو د گواهئ قائم مقام وو: ۴۴۰

باب قَوْلُهُ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ ۴۴۱

شميره	مضمون	صفحه
	د حديث باب تشريح	۴۴۱
	باب قَوْلِهِ وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللّٰهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ.. الخ	۴۴۲
	بَاب وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللّٰهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَاهُ	۴۴۲
	د آيت كريمه دود تفسيرونه	۴۴۲
	باب قَوْلِهِ تُرْجِئُ مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ	۴۴۴
	باب قَوْلُهُ لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ	۴۴۵
	د "لعل الساعة تكون قريباً.. متعلق يو اشكال او دهغې جواب	۴۴۲
	دَ درود شريف حكم:	۴۵۰
	تشهد نه پس د دردشريف حكم:	۴۵۰
	يو اشكال او دَ هغې جوابونه:	۴۵۱
	د علامه ابن تيميه په تسامح باندې يوه تنبيه:	۴۵۲
	د درود حكم كله نازل شو؟	۴۵۲
	بَاب قَوْلُهُ لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَى	۴۵۳
	تفسير سُورَةُ سَبَإٍ	
	د كلماتو تشريح	۴۵۳
	بَاب حَتَّى إِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ	۴۵۲
	بَاب قَوْلُهُ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ	۴۵۲
	باب: تفسير سُورَةِ الْمَلَائِكَةِ (فاطر)	۴۵۲
	تفسير سُورَةُ يٰسٓ	
	د كلماتو تشريح	۴۵۷
	"ياحسرة على العباد.. د چا مقوله ده؟	۴۵۷
	باب وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ	۴۲۰
	دسجود شمس تحقيق او روايت باندې وارد كيدو نكى اشكالات او دَ هغې جوابونه:	۴۲۱
	تفسير سورة الصافات	
	د كلماتو تشريح	۴۲۴
	باب وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ	۴۲۵
	تفسير سُورَةُ صٓ	
	د كلماتو تشريح	۴۲۲
	د آيت كريمه "ردوها على فطفق مسحا بالسوق والاعناق.. دوه تفسيرونه	۴۲۸
	باب: قَوْلِهِ هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ	۴۷۰

شمیره	مضمون	صفحه

باب: قَوْلُهُ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ ۴۷۰

تفسیرسورة الزمر

د کلماتو تشریح: ۴۷۱
باب: قَوْلُهُ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۴۷۲
د آیت کریمه شان نزول: ۴۷۳
د "فضحك النبي ﷺ تصديقا لقول الحبر." معنی: ۴۷۴
باب: قَوْلِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ ۴۷۴
باب: قَوْلُهُ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ ۴۷۵
د "وبلى كل شئ من الانسان الا عجب ذنبه." معنی: ۴۷۵

تفسیرسُورَةُ الْمُؤْمِنِ (غافر)

د کلماتو تشریح: ۴۷۶

تفسیرسورة حٰم السّجدة (فُصّلت)

د قرآنی آیتونو متعلق د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه څلور سوالات: ۴۸۰
د کلماتو تشریح: ۴۸۲
باب: قَوْلُهُ: وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ ۴۸۵
باب: قوله: وَذَلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِي ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ أَرْدَاكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ مِنَ الْخَاسِرِينَ ۴۸۵
د سند توضیح ۴۸۶

تفسیرسُورَةُ حٰم عسق (الشوریٰ)

د کلماتو تشریح: ۴۸۶
باب: قَوْلِهِ: إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَى ۴۸۷
د آیت کریمه تفسیر ۴۸۷

تفسیرسُورَةُ حٰم الزُّخْرُفِ

د کلماتو تشریح: ۴۸۸
د "وقيله يارب ان هؤلاء قوم لا يؤمنون." تفسیر ۴۸۹
د کلماتو تشریح: ۴۹۰
باب: قَوْلُهُ وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ قَالَ إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ ۴۹۳
د "فانا اول العابدين." مختلف تفسیرونه: ۴۹۳

تفسیرسورة حٰم (الدّخان)

د کلماتو تشریح: ۴۹۴

صفحه	مضمون	شميره
۴۹۵	باب: فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ	
۴۹۵	باب: يَغْشَى النَّاسَ هَذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ	
۴۹۶	باب: قَوْلِهِ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ	
۴۹۶	باب: أَنَّى لَهُمُ الذِّكْرَى وَقَدْ جَاءَهُمْ رَسُولٌ مُبِينٌ الذِّكْرُ وَالذِّكْرَى وَاحِدٌ	
۴۹۶	باب: ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوا مُعَلَّمٌ مَجْنُونٌ	
۴۹۷	باب: يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى إِنَّا مُنْتَقِمُونَ	
	تفسير سُورَةُ حٰمٓ الْجَاثِيَةِ	
۴۹۷	د کلماتو تشريح	
۴۹۸	باب: وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ..... الْآيَةَ	
۴۹۸	د ''يؤذيني ابن آدم، يسب الدهر وأنا الدهر،، معنى	
۴۹۸	باب: سُورَةُ حٰمٓ الْأَحْقَافِ	
۴۹۹	باب: وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَكُمَا أَتَعِدَانِنِي أَنْ أُخْرَجَ	
۵۰۰	باب: قَوْلِهِ فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ	
	تفسير سُورَةُ مُحَمَّدٍ ﷺ	
۵۰۰	د ''حتى تضع الحرب أوزارها،، معنى	
۵۰۱	د کلماتو تشريح	
۵۰۲	باب وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ	
۵۰۳	د ''فأخذت بحقو الرحمن،، معنى	
	تفسير سُورَةُ الْفَتْحِ	
۵۰۵	د کلماتو تشريح	
۵۰۶	باب: إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا	
۵۰۶	باب: لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا	
۵۰۶	د آيت کريمه متعلق يو اشکال او دهغې جوابات	
۵۰۸	د ''فلما کثر لحمه، صلى جالسا،، معنى	
۵۰۸	باب إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا	
۵۰۹	د سند توضيح	
۵۰۹	باب هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ السَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ الْمُؤْمِنِينَ	
۵۰۹	د سکينه په تفسير کې مختلف اقوال	
۵۱۰	باب قَوْلِهِ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ	

شميره	مضمون	صفحه
	د سند توضيح	۵۱۰
	تفسير سورة الْحُجُرَاتِ	
	د كلماتو تشريح	۵۱۲
	باب لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ الْآيَةَ	۵۱۲
	د آيت كريمه شان نزول	۵۱۳
	باب إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ	۵۱۴
	باب قَوْلِهِ وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّى تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ	۵۱۴
	تفسير سُورَةُ ق	
	د كلماتو تشريح	۵۱۵
	باب: قَوْلِهِ: وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ	۵۱۷
	د سند توضيح	۵۱۸
	د جنت او جهنم مناظره	۵۱۸
	د ''فيضع الرب تبارك وتعالى قدمه عليها'' معنى	۵۱۹
	د ''لا يدخلني الا الضعفاء الناس وسقطهم'' معنى	۵۲۰
	باب قَوْلِهِ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ	۵۲۰
	تفسير سُورَةُ وَالذَّارِيَاتِ	
	آيا د حضرت على رضي الله عنه نوم سره عليه السلام ليكل جائز دى؟	۵۲۱
	د كلماتو تشريح	۵۲۳
	د آيت ''وما خلقت الجن والانس'' تفسير	۵۲۴
	د آيت نه د معتزله د دريو مسئلو اثبات او د هغې رد	۵۲۴
	د كلماتو تشريح	۵۲۲
	تفسير سُورَةُ وَالطُّور	
	باب: تفسير سُورَةُ وَالنَّجْمِ	۵۲۹
	د ''فكان قاب قوسين'' تفسير	۵۲۹
	د كلماتو تشريح	۵۳۰
	باب فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى	۵۳۲
	باب قَوْلِهِ فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى	۵۳۲
	باب لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى	۵۳۲
	باب أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّى	۵۳۲
	باب وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَى	۵۳۴

شمیره	مضمون	صفحه

باب فَاسْجُدُوا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوا ۵۳۵
باب: تفسیر سورة القمر (اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ) ۵۳۵
باب وَانْشَقَّ الْقَمَرُ وَإِنْ يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا ۵۳۷
د انشقاق قمر بحث ۵۳۷
باب تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَاءً لِمَنْ كَانَ كُفِرَ ۵۳۹
باب وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ۵۴۰
باب أَعْجَازُ نَخْلٍ مُنْقَعِرٍ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ۵۴۰
باب فَكَانُوا كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ۵۴۰
باب وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُسْتَقِرٌّ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ إِلَى فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ۵۴۰
باب وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ۵۴۰
باب قَوْلِهِ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ۵۴۰
باب قَوْلِهِ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ يَعْنِي مِنَ الْمَرَارَةِ ۵۴۱

تفسیر سُورَةُ الرَّحْمٰنِ

د کلماتو تشریح ۵۴۲
د ''والحب ذو العصف والريحان،، تفسیر ۵۴۲
نخل او رمان په فواکه کې داخل دي یا نه؟ ۵۴۵
باب قَوْلِهِ وَمِنْ دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ۵۴۷
باب حُورٌ مَقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ ۵۴۷

تفسیر سورة الواقعه

د کلماتو تشریح ۵۴۸
باب قَوْلِهِ وَظِلٍّ مَمْدُودٍ ۵۵۱

تفسیر سُورَةُ الْحَدِيدِ

د کلماتو تشریح ۵۵۱

تفسیر سُورَةُ الْمُجَادَلَةِ

د کلماتو تشریح ۵۵۲

تفسیر سورة الحشر

باب قَوْلِهِ مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ نَخْلَةٍ مَا لَمْ تَكُنْ عَجْوَةً أَوْ بَرْنِيَّةً ۵۵۳
باب قَوْلِهِ مَا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلَى رَسُولِهِ ۵۵۳
باب وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ ۵۵۳

شميره	مضمون	صفحه
	د حديث باب تشريح	۵۵۴
	باب وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ	۵۵۵
	باب قَوْلُهُ وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ ... الآيَةَ	۵۵۵
	تفسير سُورَةُ الْمُمْتَحِنَةِ	
	باب لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ	۵۵۶
	د سند توضيح	۵۵۷
	باب إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ	۵۵۷
	حضرت ام عطيه ته د نوحه اجازت ملاويدو په سلسله کې اشکال او جواب:	۵۵۸
	باب إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ	۵۵۹
	تفسير سُورَةُ الصَّفِّ	
	باب قَوْلُهُ تَعَالَى مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ	۵۶۱
	د نبى کريم ﷺ اسماء مبارکه:	۵۶۱
	تفسير سُورَةُ الْجُمُعَةِ	
	باب قَوْلُهُ وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ وَقَرَأَ عُمَرُ فَامْضُوا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ	۵۶۱
	د سند توضيح	۵۶۲
	د "لوكان الايمان عند الثريا لناله رجال،، معنى:	۵۶۲
	باب وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا	۵۶۳
	تفسير سُورَةُ الْمُنَافِقِينَ	
	باب قَوْلُهُ إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللَّهِ إِلَى لَكَاذِبُونَ	۵۶۳
	د كلماتو تشريح	۵۶۴
	باب اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً يَجْتَنُّونَ بِهَا	۵۶۴
	باب قَوْلِهِ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا فَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ	۵۶۵
	باب وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ وَإِنْ يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ	۵۶۵
	باب قَوْلُهُ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ	۵۶۶
	باب قَوْلُهُ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ ... الخ	۵۶۶
	باب قَوْلُهُ هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ	۵۶۶
	باب قَوْلُهُ يَقُولُونَ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ	۵۶۷
	تفسير سُورَةُ التَّغَابُنِ	
	د كلماتو تشريح:	

شمیره	مضمون	صفحه

تفسیرسُورَةُ الطَّلَاق

بَاب وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۵۶۸

تفسیرسُورَةُ التَّحْرِيمِ

د آیت کریمه په شان نزول کې مختلف واقعات ۵۷۰
څوك چه حلال په ځپل ځان باندې حرام کړي نوهغه له کفاره دیمین اداکول پکاردي یانه؟ .. ۵۷۰
بَاب تَبْتَغِي مَرْضَاةَ أَزْوَاجِكَ قَدْ فَرَضَ اللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ وَاللَّهُ مَوْلَاكُمْ....الخ ۵۷۱
د روایت باب تشریح ۵۷۲
بَاب وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَى بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا ۵۷۳
بَاب إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ۵۷۴
بَاب قَوْلُهُ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ ۵۷۴

تفسیرسُورَةُ الْمُلْكِ

د کلماتو تشریح ۵۷۴

تفسیرسُورَةُ ن وَالْقَلَمِ

د کلماتو تشریح ۵۷۵
بَاب عُتُلٍّ بَعْدَ ذَلِكَ زَنِيمٍ ۵۷۶
بَاب يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ ۵۷۷

تفسیرسُورَةُ الْحَاقَّةِ

د کلماتو تشریح ۵۷۸
تنبیه ۵۷۹

تفسیرسورة المعارج "سال سائل"

تفسیرسورة نوح "انا ارسلنا"

بَاب وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ ۵۸۱
د روایت باب په سند باندې اعتراض ۵۸۲

تفسیرسورة الجن "قل اُوحِيَ اِلَيَّ"

د کلماتو تشریح ۵۸۳
تعارض روایات او دَ هغې حل ۵۸۴
دَ باب په روایت اشکال اودَ هغې جواب ۵۸۴

تفسیرسُورَةُ الْمُزَّمِّلِ

تفسیرسُورَةُ الْمُدَّثِّرِ

شميره	مضمون	صفحه

باب قُمْ فَأَنْذِرْ ٥٨٧
باب قوله وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ٥٨٧
د ټولونه اول نازل شوى آياتونه ٥٨٧
باب وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ٥٨٩
باب قوله وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ يقال الرِّجْزُ والرِّجْسُ العَذَابُ ٥٨٩

تفسير سُورَةُ الْقِيَامَةِ

باب إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ ٥٩٠
باب قوله فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ قال ابن عباس قَرَأْنَاهُ بَيَّنَّاهُ فَاتَّبِعْ اعْمَلْ بِهِ ٥٩٠
د آياتونو ربط ٥٩١

تفسير سُورَةُ هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ

معدوم وصف عدم سره موجود فى الخارج وى يا نه؟ ٥٩٥

تفسير سُورَةُ وَالْمُرْسَلَاتِ

باب قوله إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ٥٩٧
باب قوله كَأَنَّهُ جِمَالَاتٌ صُفْرٌ ٥٩٨
باب قوله هَذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُونَ ٥٩٨

تفسير سُورَةُ النَّبَأِ (عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ)

باب يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا زُمَرًا ٥٩٨

تفسير سورة والنازعات

د امت محمديه ټول عمر: ٦٠٠

تفسير سُورَةُ عَبَسَ

مس مصحف او طهارت: ٦٠٢
باب: تفسير سُورَةُ إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ٦٠٤
باب: تفسير سُورَةُ إِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ ٦٠٥
باب: تفسير سُورَةُ وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ ٦٠٦
باب: تفسير سُورَةُ إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ ٦٠٦
باب فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ٦٠٧
باب لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ٦٠٧
باب: تفسير سُورَةُ الْبُرُوجِ ٦٠٧
باب: تفسير سُورَةُ الطَّارِقِ ٦٠٧

شمیره	مضمون	صفحه
	باب: تفسیر سورۃ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى	۲۰۸
	باب: تفسیر سورۃ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ	۲۰۸
	باب: تفسیر سورۃ وَالْفَجْرِ	۲۰۹
	باب: تفسیر سورۃ لَا أُقْسِمُ	۲۱۱
	تنبیه:	۲۱۱
	باب: تفسیر سورۃ وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا	۲۱۲
	تفسیر سورۃ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى	
	باب وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى	۲۱۳
	باب وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى	۲۱۳
	باب قوله فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى	۲۱۳
	باب فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى	۲۱۴
	باب قوله وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَى	۲۱۴
	باب قوله وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى	۲۱۴
	باب فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى	۲۱۵
	تفسیر سورۃ وَالضُّحَى	
	باب مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى	۲۱۶
	باب: تفسیر سورۃ أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ	۲۱۶
	باب: تفسیر سورۃ وَالتِّينِ	۲۱۷
	تفسیر سورۃ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ	
	د سند توضیح	۲۱۹
	سعید بن مروان	۲۱۹
	محمد بن عبدالعزیز بن ابی رزمه:	۲۲۰
	ابوصالح سلمویه:	۲۲۰
	باب قوله خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ	۲۲۱
	باب قوله اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ	۲۲۱
	باب الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ	۲۲۲
	باب كَلَّا لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ	۲۲۲
	تفسیر سورۃ إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ (القدر)	
	باب: تفسیر سورۃ لَمْ يَكُنْ	۲۲۲

شمیره	مضمون	صفحه
	احمد بن ابی داؤد جعفر المناوی:	۲۲۳
	باب تفسیر سورة: إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا	۲۲۴
	باب وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ	۲۲۵
	باب: تفسیر سورة وَالْعَادِيَاتِ	۲۲۵
	باب: تفسیر سورة الْقَارِعَةِ	۲۲۶
	باب: تفسیر سورة أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ	۲۲۶
	باب: تفسیر سورة وَالْعَصْرِ	۲۲۶
	باب: تفسیر سورة وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ	۲۲۶
	باب: تفسیر سورة أَلَمْ تَرَ (الفیل) أَلَمْ تَعْلَمْ	۲۲۶
	د سجیل مختلف معنی:	۲۲۶
	باب: تفسیر سورة لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ	۲۲۷
	باب: تفسیر سورة أَرَأَيْتَ (الماعون)	۲۲۸
	باب: تفسیر سورة إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ	۲۲۹
	د کوثر مصداق څه دي؟	۲۳۰
	باب: تفسیر سورة قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (الكافرون)	۲۳۱
	باب: تفسیر سورة إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ (النصر)	۲۳۲
	باب قَوْلُهُ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا	۲۳۲
	باب قَوْلُهُ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا	۲۳۲
	باب: تفسیر سورة تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ	۲۳۲
	باب قَوْلُهُ وَتَبَّ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ	۲۳۳
	باب قَوْلُهُ سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ	۲۳۳
	باب قَوْلِهِ وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ	۲۳۳
	باب: تفسیر سورة قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (الإخلاص)	۲۳۴
	باب قَوْلُهُ اللَّهُ الصَّمَدُ وَالْعَرَبُ تُسَمِّي أَشْرَافَهَا الصَّمَدَ	۲۳۴
	باب: تفسیر سورة قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (الفلق)	۲۳۵
	باب: تفسیر سورة قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (الناس)	۲۳۶
	حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه او معوذتین:	۲۳۶

عرض د مرتب

باسمه الکریم حمدًا ومصلیًا: د حضرت شیخ الحدیث زید مجدهم د اخلاص ،او په نیمې صدئ باندې مشتمل د هغوی د اوږد تدریسی ژوند د برکته او د ټولو نه زیات د الله جل شانه په فضل او کرم سره . کشف الباری. ته چه په علمي حلقو کښې کوم مقبولیت حاصل شو په دې سره زمونږ حوصله اوچته او د محنت جذبه تازه شوه،د کتاب المغازی نه تقریبا درې کاله پس کتاب التفسیر ستاسو په خدمت کښې پیش کولې شی ،د ترتیب او تدوین او تحقیق او مراجعت مرحله تقریبا په کال یا ددې نه په زیاته موده کښې مکمل کیږی،خو ددې نه پس د کتابت تصحیح او نور طباعتی لوازمات هم دومره موده اخلی ،د کومو حضراتو چې د کشف الباری جلدونو ته ډیر انتظار دې.مونږ ته د هغې پوره احساس دې خو د تاخیر څه وجوهات څه داسې دی چه د معیار برقرار ساتلو په صورت کښې ددې نه بغیر بله لار نشته،خو بیا هم زمونږ کوشش اراده او د الله جل شانه نه هم دا دعا ده چه د دوو جلدونو په مینځ کښې د انتظار دا وقفه کم نه کمه شی.

د کشف الباری په دې جلد کښې د ترتیب او تحقیق هم هغه انداز دې کوم چې په کتاب المغازی کښې ذکر شوې وو.البته څو څیزونه داسې دی کوم چې د کتاب التفسیر ددې جلد سره مخصوص دی.او د کتابت د مطالعې نه وړاندې هغه د نظر وړاندې ساتل پکار دی.

① امام بخاری رحمه الله په کتاب التفسیر کښې د قرانی الفاظو انتخاب کوی خو پوره آیت نه ذکر کوی مونږ چې د متن په طور کومه نسخه اختیار کړې ده په هغې کښې د هر قرانی لفظ ته مخامخ د هغې لفظ آیت نمبر مو لیکلې دې .او ددې نه پس د امام بخاری رحمه الله تشریح لیکلې شوې ده. بیا وړاندې هغه قرانی لفظ چې په کوم آیت کښې واقع شوې وو،نو د هغه پوره آیت یا د هغې ضروری حصه او د هغې ترجمه لیکلې شوې ده،کومه چې زیاته د بیان القران نه اخستې شوې ده. ددې نه پس امام بخاری رحمه الله چې ددغه لفظ کومه معنی بیان کړې وی د هغې تشریح شوې ده .ددې سره عام طور د دغه آیت سره متعلق تفسیر عثمانی رحمه الله فوائد هم د فائدې پوره کولو د پاره لیکلې شوې دی.

② امام بخاری د هر آیت تفسیر نه دې کړې بلکه د خپل مخصوص مزاج مطابق ئې د منتخب آیاتونو او الفاظو تفسیر کړې دې.په دې کښې چې کوم الفاظ او ایتونه گران وو یا د هغې په تفسیر کښې د مفسرینو رائې گانې مختلف دی هلته په خصوصیت سره په هغې کښې اهمو رائې گانو او قول راجح جمع کولو کوشش شوې دې

③ ..امام بخاری کله چرته مرجوع تفسیر کړې وی نو هغه هم په نښه کړې شوې دې،

④ ..کوم احادیث چه تیر شوې دی د هغې د تشریح التزام نه دې کړې شوې او اکثر خودلې شوې دی چې دا حدیث په فلانکې ځائې کښې تیر شوې دې .

⑤ ..یو اهم کار دا کړې شوې دې (کوم چه په کتاب المغازی کښې نه دې کړې شوې) چه په کتاب التفسیر کښې امام بخاری رحمه الله کوم حدیث په اول ځل ذکر کړې وی،او په صحیح بخاری کښې وړاندې د هغې ذکر نه وی راغلې نو مونږ په حاشیه کښې د هغه حدیث تخریج

كړي دي او دا مو خردلی دی چې دا حديث په صحيح بخاری كښې كوم كوم ځائې كښې موجود دې. او په اصحابو سته كښې نورو كومو حضراتو دا ذكر كړي دې .كه په اصحاب سته كښې د امام بخاری نه سوا بل چا دا نه وی ذكر كړې صرف امام بخاری ذكر كړې وی.نو د هغې هم وضاحت كړې شوې دې.

⑥ .په ابتداء كښې د امام بخاری رحمه الله په كتاب التفسير باندې يو نظر .په عنوان سره احقر د كتاب التفسير يو تعارف ليكلې دې.په كوم كښې چې د كتاب التفسير په مآخذ او اسلوب او انداز باندې رڼا اچولې شوې ده

د شيخ الحديث دامت بركاتهم وجود باسعادت زمونږ د پاره ددې كار ګرانې لاره روښانه كوی .لوستونكو ته د حضرت شيخ د صحت او عافيت او د عمر اوږدوالی د پاره د خصوصی دعاګانو درخواست دې چې دا كار ددوی د شفقت او د سيوری لاندې مكمل شی.د خپل مستقبل نه هر وخت بې خبره انسان د همت او دعا نه سوا نور څه كولې شی .عزم او همت او د رب العزت په دربار كښې د توفيق دعا كول د انسان د پاره د يو كار د تكميل سرمايه او په فانی ژوند كښې د اميد د رڼاګانو آواز جوړيدې شی چه...

ہمیں خبر ہے کہ ہم ہیں چراغ آخر شب ہماری بعد اندھیرا نہیں اجالا ہے

ابن الحسن عباسی ۲۵شوال۱۴۱۸

....

د امام بخاری په كتاب التفسير باندې يو نظر[ازمرتب]

د حديث په كتابونو كښې د صحيح بخاری يو منفرد انداز دې ،امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح كتاب كښې د كتاب التفسير د پاره يو لويه حصه خاص كړې ده.او په يو خاص اسلوب او مخصوص انداز كښې ئې د قرانی آياتونو او د كلماتو مفرداتو تفسير او تشريح ئې كړې ده.مونږ دلته د امام بخاری رحمه الله د كتاب التفسير په څو اړخونو باندې يو تعارفی نظر اچوو.

① د امام بخاری د كتاب التفسير ماخذ څه دې؟

② په فن تفسير كښې ددې حيثيت او مرتبه څه ده؟ ③ د امام اسلوب او انداز څه دې؟

د امام بخاری د كتاب التفسير ماخذ: د امام بخاری د كتاب لوئې ماخذ احاديث صحيحه دی.امام ته چې د خپلو شرطونو مطابق د قرانی آيتونو او تفسير متعلق كوم احاديث ميلاؤ شوې دی امام هغه په كتاب التفسير كښې ذكر كړې دی. او څه احاديث ئې د خپل عادت مطابق د معمولی مناسبت سره هم ذكر كړی دی. د صحيح البخاری په كتاب التفسير كښې پنځه سوه اته ځلويښت مرفوع احاديث دی .په دې كښې څلورسوه او پنځه شپيته احاديث موصول او باقی تعليقات دی.په دې كښې څلور سوه اته ځلويښت احاديث مكرر دی.او سل حديثونه هغه دی كوم چې په اول ځل راغلې دی .د امام بخاری د كتاب التفسير د احاديثو په ذخيره كښې شپږ شپيته احاديث متفق عليها دې.يعنی امام بخاری هم د هغې تخريج كړې دې او د صحابو او تابعينو وغيره پنځه سوه او اتيا آثار په دې كښې راغلې دی(1)

---

1) فتح البخاری(۸/۷۴۳۶)-

تر څو چې د قرانی الفاظو د تشریح او د کلمات مفردد د تفسیر تعلق دې .نو په دې حصه کښې ددوی زیات تر ماخذ د دویمې او دریمې صدئی مشهور امام لغت ابوعبیده معمر بن المثنی کتاب مجاز القران دې.

مولانا انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی: «کان عنده مجاز القران لابی عبیدة معمربن المثنی فاخذ منه تفسیر المفردات وذلك ایضا بدون ترتیب وتهذیب فصار کتابه ایضا علی وزن کتاب ابی عبیدة فی سؤ الترتیب، والرکة ،والاتیان بالاقوال المرجوحة و الانتقال من مادة الی مادة ومن سورة الی سورة فصعب علی الطالبین فهمه، ومن لایدری حقیقة الحال یظن ان المصنف اتی بها اشارة الی اختیاره تلك الاقوال المرجوحة مع انه رتب کتاب التفسیر کله من کلام ابی عبیدة، ولم یعرج الی النقد اصلا»[1]

تقریبا دا خبره مولانا د بدر عالم میرټهی په .ترجمان السنة . کښې لیکلې ده هغوی لیکی امام بخاری چې په کتاب التفسیر کښې چې کوم لغات نحو او تراکیب نحویه نقل کړې دی په خپله د هغوی د طرف نه نه دی بلکه د هغوی د طرفه هغه حصه ده کوم چې هغوی په خپلو اسنادو سره روایت کړې دی.اصلی خبره داده چې امام بخاری سره د ابوعبیده کتاب التفسیر موجود وو .امام موصوف دا ټول کتاب التفسیر د څه تنقید او انتخاب نه بغیر بجنسه راوچت کړو او په خپل کتاب کښې ئې ذکر کړو .نو څومره اقوال مرجوحه چې په اصل کتاب کښې موجود وو نو هغه هم ټول دلته نقل شو.اهل علمو ته ښه معلومه ده چې په کتاب التفسیر کښې په ډیر مقاماتو کښې په حل لغات کښې تسامح هم شوې دې اقوال مرجوحه هم نقل شوې دی.او ددې په ترتیب کښې هم ډیر اختلاف واقع شوې دې .خو امام بخاری په خپله ددې جملو تناقضو نه بری دې که په هغوی باندې ذمه واری راځی نو په ابوعبیده باندې راځی .د امام بخاری د کتاب د علو صحت په باره کښې چه کومه دعوی ده.دا د هغه احادیث مرفوعه متعلق دد کوم چه په دې کښې په اسناد سره امام پخپله روایت کړې دی، د هغه اقوالو متعلق نه دد کوم چه د اسناد نه بغیر د یو طرف نه په کتاب کښې نقل شوې دی ـ

[ترجمان السنة ۳/۵۵۸،۵۵۷]

دې دواړو عبارتونو حاصل دا راووتلو چې امام بخاری د کلمات مفرده په تفسیری حصه کښې بعینه د ابوعبیدد کتاب . .مجاز القران. . اخستې دې .خو دا خبره د وضاحت محتاج ده .ددې وضاحت نه وړاندې مناسب معلومیږی چې د ابوعبیده معمر بن المثنی په کتاب . .مجاز القران . . باندې یو نظر واچولې شی.

ابوعبیده معمر بن المثنی او د هغوی تفسیر «مجازالقران» د ابو عبیده پیدائش په ۱۱۰ ھ کښې په هغه شپه شوې وو په کومه شپه چې د حضرت حسن بصری رحمه الله وفات شوې وو،[2] یعنی په کومه شپه چې د علم او زهد مایه فخر یو عظیم انسان دنیا ته الوداع اوویئیل.هم هغه

---

[1]) فیض الباری (٤/١٤٩)۔

[2]) سیر اعلام النبلاء ٤٤٥/٩)۔

شپه د علم او لغت يو بل لوي انسان د راتلو مطلع جوړا شوه، د الوداع او استقبال دا نظام ددې فاني دنيا هغه رښتيني او ابدی حقيقت دې کوم چې هميشه د پاره د انسانو د سترګو نه پټ وی ،د رجالو په کتابونو کښې د ابوعبيده نسب«معمر بن المثنى ابوعبيده التيمى البصرى النحوى العلامة مولى بنى تيم بن مرة» [۱]

د ابوعبيده په شيوخو کښې هشام بن عروة ،روبه بن العجاج او ابی عمر بن العلاء داخل دی او علی بن المدينی ابو عبيد قاسم بن سلام او عمر بن شبه د ابوعبيده نه روايت اخستې دې [۲]ابو عبيده معمر مقدم دې ،او ابو عبيده قاسم د دوی نه مؤخر دې[۳]د حضرت کشميری رحمه الله په تقرير ،،فيض الباری،، کښې ابوعبيد قاسم ليکلې شوې دې [۴]دا تسامح دې ،په فيض الباری کښې څه تسامحات دی ددې تصحيح ددې مرتب مولانابدر عالم ميرتهی رحمه الله کول غوښتل خو هغه د تصحيح نه وړاندې د آخرت په مسافرو کښې شامل شو[۵]۔

د ابوعبيده معمر بن مثنى په علم او فضل کښې شک نشته خو په علم حديث کښې هغوی ته څه اوچت مقام نه دې حاصل ،علامه ذهبی رحمه الله په ،،سير اعلام النبلاء،، کښې ددوی تذکره کړې ده او ورسره ئې دا هم ليکلې دی چې «لم يكن صاحب حديث وانما اوردته لتوسعه فى علم اللسان وايام الناس»[۶]

يعنی ابوعبيده محدث نه وو ما دده تذکره ددې وجه اوکړه چې دوی په لغت او د خلقو په تاريخ کښې وسيع علم لرلو .

علامه جاحظ ددوی په باره کښې فرمائی «لم يكن فى الارض جماعى ولا خارجى اعلم بجميع علوم من ابى عبيدة»[۷] يحيى بن معين فرمائی ليس به باس[۸]

---

[۱]) تهذيب الكمال (۳۱۷،۳۱/۲۷) وسير اعلام النبلاء(۴۴۵/۹) وفيات الاعيان (۲۳۵/۵)۔

[۲]) سير اعلام النبلاء(۴۴۵/۹و۴۴۶)۔

[۳]) د ابوعبيده قاسم بن سلام پيدائش په ۱۵۰ هـ انظر وفيات الاعيان ۶۲/۴) د ابوعبيده د پيدائش کال ۱۱۰هجری دې۔

[۴]) فيض البارى (۱۴۹/۴)۔

[۵]) مولانا محمد منظور نعمانی رحمه الله ليکی ،راقم مسطور ته ذاتی طور معلوم دې چې په خپله حضرت مولانا بدر عالم رحمه الله ته ددې احساس وو چې په دې کښې تسامحات دی ،او هغوی د مدينې طيبې د قيام په زمانه په دې باندې د نظر ثانی د اصلاح او تصحيح کار شروع کړې ووخو لږ کار يې کړې وو چې په دې کښې د آخرت کور طرف ته منتقل شو ،اوګورئې شيخ محمد عبد الوهاب او د هندوستان علمائي حق(۱۶۱)

[۶]) سير اعلام النبلاء (۴۴۵/۹)۔

[۷]) تاريخ بغداد ۲۵۲/۱۳) وسيراعلام النبلاء(۴۴۶/۹) وتهذيب الكمال (۳۱۸/۲۸) والبيان والتبيين (۳۳۱/۱)

[۸]) ميزان اعتدال ۱۵۵/۴ وفى السير ۴۴۸/۹ ،وقيل كان يميل الى المرد،وفى حاشية بغية الوعاة ۲۹۵/۲ قال الاصمعى دخلت انا وابوعبيدة يوما المسجد فاذا على السنوانة التى يجلس...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

دارقطنی فرمائی «لاباس به الا انه یتهم بشئ من رای بالخوارج ویتهم بالاحداث»[1]
ابوالعباس مبرد فرمائی .ابوعبیده د خوارجو نظریه لرله[2]
ابوحاتم سجستانی فرمائی .ابو عبیده به په ما باندې خاص نظر کولو چې هغه څه د سجستان خارجی گڼړلم[3]
علی بن مدینی ددوی د روایت صحت منل[4] او ابن حبان په کتاب الثقات کښې ددوی ذکر کړې دې[5]
د جرح او تعدیل تله کښې ددوی تله خو درنه نه ده البته ددوی تبحر .علمي وسعت .معلومات او لغوی مهارت باندې د ټولو اتفاق دې علامه ذهبی ددوی د تذکرې په آخر کښې لیکلې دی .

قلت قد کان هذا المرء من بحور العلم ومع ذلك فلم یکن بالماهر بکتاب الله ولا العارف بالسنة رسول الله ﷺ ولا البصیر بالفقه ،واختلاف ائمة الاجتهاد بلی وکان معانی معرفة حکمة الاوائل والمنطق واقسام الفلسفة[6]
په عربئ کښې ددوی مهارت منلې شوې وو خو عجیبه داده چې په خپل خان باندې د اعتماد په وجه به ئې بعضې وخت قران کریم او شعر غلط لوستل .ونیل یې «نحومحدوده»[7]
د عربو سره ددوی څه محبت نه وو .چا ددوی نه تپوس اوکړو چې ته د هر چا په نسب کښې خبرې کوې نو ستا پلار څوک وو .؟نو ونیل ئې چې زما پلار به ونیل چې د هغوی پلار د باجروان یهودی وو[8] د ابوعبیده په طبیعت کښې سختی دومره زیاته وه چې ددوی اکثر معاصرین

...بقیه ازحاشیه گذشته] علیها ابوعبیدة مکتوب علی نحو من سبعة اذرع:

صلی الاله علی لوط وشیعته   اباعبیدة قل بالله امینا

فقال لی یا اصمعی امح هذا فرکبت ظهره ومحوته بعد ان اثقلته الی ان قال اثقلتنی وقطعت ظهری فقلت له قد بقي..لوط..فقال من هذا نفر به ثم قلت قد بقیت الطاء هی شر الحروف هذا البیتوکان الذي کتب هذا ابونواس .بعده بیت تان: فانت عندی بلا شک بقیة   منذ احتملت وقد جاوزت سبعینا)-

[1] وانظر وفیات الاعیان (۵/۲٤۲)-
[2] فهرست ابن ندیم (۵۹)-
[3] سیر اعلام النبلاء (۹/٤٤۷) وانباء الرواة (۳/۲۸۱)-
[4] تاریخ بغداد (۱۳/۲۵۷)_.
[5] ۹/۱۹۶)-
[6] سیر اعلام النبلاء۹/٤٤۸)-
[7] فهرست ابن ندیم ۵۹ وفیات الاعیان ۵/۲۳۵).
[8] باجروان قریة من دیار مضر بالجزیره من اعمال البلیغ .باجروان ایضا مدینة من نواحی باب الابواب قرب شیروان عندها عین حیاة التی وجدها الخضر ؈ وقال هی قریة التی استطعم موسی والخضر علیهما السلام اهلها (وانظر معجم البلدان (۱/۳۱۳)-
[9] تهذیب الکمال ۲۸/۳۱۷ والفهرست لابن الندیم ۵۹ وبغیة الوعاة (۲/۲۹۵)-

ددوی نه خفه وو او چې کله ددوی وفات اوشو نو ددوی په هم عصرو کښې څوک دده جنازې ته لاتړل[۱] ددوی په تاريخ وفات کښې مختلف اقوال دی کال ۲۰۹،۲۱۰،۲۱۱،۲۱۳ هجری [۲] او د تصنيفاتو شمير ئې تقريبا دوه سوه دې [۳] ابن النديم په ،،الفهرست،، کښې د يو سل پنځوؤ کتابونو نومونه شمارلي دی[۴]

مجاز القران: په مجاز القران کښې هغوی د قران کريم د الفاظو مفرده تشريح او لغوی معنی بيان کړې دی.په دې باره کښې هغوی لغت او عربی تعبيراتو بنياد جوړ کړې دې ددې وجه ددوی د زمانې څه اهل علمو دا په تفسير بالرائی کښې داخل ګنړل ،د اصمعی ،ابوحاتم و زجاج او ازهری وغيره هم دا موقف وو[۵]

علامه ابن خلکان په وفيات الاعيان کښې ليکلې دی چې امام اصمعی به د ابوعبيده په باره کښې فرمائيل چې دا کس د کتاب الله تفسير بالرای کوی يو ځل ابوعبيده د اصمعی مجلس ته حاضر شو او وې وئيل چې (خبز) څه شې دې؟ اصمعی جواب ورکړو **هو الذى تخبزه وتأكله** يعنی څه چې ته خورې او هغه خبز دې .ابو عبيده اووئيل چې تاسو د کتاب الله تفسير په رائې باندې کړې دې په قران کريم کښې دې (انى ارانى احمل فوق راسى خبزا) کښې تا د خبز تشريح په خپلې رائې سره کړې دد اصمعی اوفرمائيل چې دا تفسير بالرائې نه دې بلکه زما په نيز يو ځيز ښکاره وو کوم چې ما بيان کړې دې.ابوعبيده اوفرمائيل تا چې په موتږ باندې د تفسير بالرائې کوم عيب لګولې هغه هم زمونږ په نيز يو ښکاره ځيز وی کوم چه مونږ بيان کوو[۶]

د معاصرينو د تنقيد باوجود په دې کښې شک نشته چې د ابوعبيده ،،مجاز القران،، د اول نه مصدر او مرجع پاتې شوې دې. هم دا وجه ده چې ابن قتيبه په ،،مشکل القران،، کښې طبری په ،،تفسير،، کښې ،ابن النحاس په ،،معانی القران،، کښې ،ابن دريد په ،،الجمهرة،، کښې ،جوهری په ،،صحاح،، کښې او امام بخاری په کتاب التفسير کښې د ،،مجاز القران،، نه استفاده کړې ده.

يو غلط فهمی د مجاز القران،، په نوم باندې څه خلقو ته دا غلط فهمی کيږی چې په دې کښې د قران کريم هغه مقامات بيان شوې دې په کومو کښې چې الفاظ د حقيقی معنی په ځائې په مجازی معنی کښې مستعمل دی [۷] خو دا صحيح نه ده بلکه ابوعبيده د قرانی اياتونو تفسير کوی او داسې الفاظ استعمالوی (مجازه کذا) تفسيره کذا،،معناه کذا) نو د

---

[۱]) شرح مقامات لشريشی (۲)-
[۲]) وفيات الاعيان ۲۴۶/۵ وبغية الوعاة ۲۹۶/۲)-
[۳]) وفيات الاعيان ۲۳۸/۵)-
[۴]) فهرست ابن النديم ۵۹-۶۰)-
[۵]) مقدمة جاز القران ۱۶-۱۷)-
[۶]) وفيات الاعيان (۲۳۷/۵)-
[۷]) تاريخ تفسير ومفسرين ،انظر صفحه ۶۲)-

مجاز د كلمې نه د لفظ مورد استعمال ،طريقه تعبير او د هغې مصداق مراد دې د متاخرينو په نيز د مجاز اصطلاحى معنى مراد نه ده هم دا وجه ده چې حضرت كشميرى رحمه الله فرمائى

ثم ان المجاز فى مصطلح القدماء ليس هو المجاز المعروف عندنا بل هو عبارة عن موارد استعمالات اللفظ ومن ههنا سمى ابوعبيدة تفسيره بمجاز القرآن[1]

په مجاز باندې د تحقيق او تعليق كار كونكى د تركى علامه فواد ليكلى:

وان كلمة المجاز عنده عبارة عن الطرق التى يسلكها القرآن فى تعبيراته وهذا المعنى اعم بطبيعة الحال من المعنى الذى حدده علماء البلاغة لكلمة المجاز فيما بعد[2]

د ابوعبيده په مجاز القران او د بخارى په كتاب التفسير كښې وجوه فرق

① د قرانى الفاظو د تشريح او كلمات مفرده په تفسير كښې د امام بخارى زيات تر ماخذ هم دا ..مجاز القران.. دې خو ددې مطلب هر گز دا نه دې چې امام د ابوعبيده د ..مجاز القران..، نه سوا د بل څه نه استفاده نه ده كړې، امام بخارى د كلمات مفرده په تفسيرى حصه كښې د حضرت ابن عباس ،سعيد بن المسيب، مجاهد، عكرمه، ابوالعاليه، زيد بن اسلم، ابوميسره، حضرت حسن بصرى وغيره اقوال هم ذكر كړې دى،دلته ددې صرف يو مثال اوگورئى په سوره هود كښې د كلمات مفرده په تشريح كښې امام بخارى ليكى:

قال ابن عباس رضی الله عنه عصيب: شديد..وقال مجاهد (فلا تبتئس) تحزن ،وقال ابوميسرة (لاواه) الرحيم بالحبشية، وقال الحسن (انك لانت الحليم الرشيد) يستهزؤن به، قال ابن عباس رضی الله عنه (اقلعى) امسكى و (وفار التنور) نبع الماء وقال عكرمة وجهه الارض)

② دابوعبيده په مجاز القرآن كښې په استشهاد كښې كثرت سره اشعار كوى ليكن امام بخارى په استشهاد كښې صرف يوڅو ځايونو كښې اشعار ذكر كړى دى.

③ د ډيرو كلماتو تشريح امام بخارى كړې ده خو ابو عبيده نه ده كړې او څه الفاظ ابو عبيده بيان كړې دى خو امام بخارى هغه نه دى اخستې،مثلاً په سورة هود كښې (من لدن حكيم) كښې د (لدن) تشريح په ،،مجاز القران.. كښې شته خو په بخارى كښې نشته،ددې په عكس هم په سورة عد كښې په آيت نمبر ۱۲ كښې د (السحاب الثقال) تشريح په بخارى كښې شته خو په مجاز القران كښې نشته. د سورة ابراهيم د آيت نمبر ۷ كښې (واذكروا نعمت الله عليكم)امام بخارى د ابن عيينه نه نقل كړې دى او په آيت ۳۴ د (من كل ما سالتموه) تفسير ئې د مجاهد نه نقل كړې دې خو په مجاز القران كښې دا دواړه نشته.

---

[1]) فيض البارى(۱۶۹/۶)-
[2]) مقدمة مجاز القران ..۱۹)-

④ د مجاز القران او کتاب التفسیر په تعبیراتو کښې هم څو ځایه فرق موجودیږی. د طوالت د وجه نه مثالونه پرېښودلې شی.

د فرق ددې وجوه په وجه خو دا وئیل محل د نظر دې چه امام بخاری د ابوعبیده ..مجاز القران،، بعینه راوچت کړې دې البته دا وئیلې شی چې امام بخاری زیاته استفاده د ابوعبیده د مجاز القران نه کړې ده هم دا وجه ده چې په څو ځایونو کښې د ابوعبیده په تقلید کښې د امام بخاری نه هم د لغات په حل کښې تسامح شوې دې.

په سورة بنی اسرائیل کښې دی ﴿ان قتلهم كان خطا كبيرا﴾ په دې کښې د لفظ ﴿خطا﴾ تشریح کوی ،امام بخاری لیکی ﴿خطئا اثما وهو اسم من خطئت الخطاء ،مفتوح مصدر ه،،من الاثم بمعنى اخطات﴾ امام دلته درې خبرې د ابوعبیده په اتباع کښې کړې دی او په درې واړو کښې غلطی شوې ده

①﴿خطا﴾ دخا کسرې سره دې ته دوی اسم مصدر وئیلې دی حالانکه دا مصدر دې ②﴿خطا﴾ د خا فتحې سره دې ته دوی مصدر وئیلې دی حالانکه دا اسم مصدر دی ③ او خطئت ته هم دوی د ﴿خطآت﴾ معنی ورکړې ده ،حالانکه د اولنی معنی په قصد سره د ګناه کولو .او د دویم معنی بغیر د قصد سره ګناه کولو راځی.(۱)

په سورة یوسف کښې ﴿واعتدت لهن متكا﴾ کښې په لفظ د ﴿متکا﴾ کښې یو قراءت د حضرت مجاهد نه د تاء د سکون سره ﴿متکا﴾ منقول دې ددې معنی اترج او وره سنګتره ده. امام بخاری د ابوعبیده په اتباع کښې ددې قراءت تردید کړې دې او فرمائی چې د ﴿متکا﴾ معنی د عربو کلام کښې وړه سنګتره نه راځی حالانکه حقیقت دادې چې ددې معنی سنګتره راځی .علامه عینی رحمه الله په دې باندې تبصره کوی او فرمائی ﴿وقلد اباعبيدة والافة من التقليد﴾ امام بخاری د ابوعبیده تقلید کړې دې او د غلطئ دا آفت د تقلید د وجه راغلې دې(۲)

د امام بخاری د کتاب التفسیر اسلوب او انداز: ① دصحیح بخاری د کتاب التفسیر مجموعی اسلوب څه داسې دې چې په شروع کښې عام طور امام د سورة د منتخب کلمات مفرده تشریح او لغوی معنی کوی بیا د مختلف آیات کریمه لاندې بابونه قائموی او احادیث ذکر کوی خو په دې کښې ددوی څه متعین اصول نشته،د کلمات مفرده تشریح کله څنګه چې په ابتدا کښې کوی دغه شان د څو بابونو او احادیثو ذکر کولو نه پس هم کوی.

② د قرانی کلماتو په تشریح کښې د آیاتو د ترتیب خیال نه کوی بلکه بغیر د څه ترتیب نه کلمات ذکر کوی نو د روستو آیاتونو د کلماتو تشریح وړاندې او د وړاندې آیاتونو تشریح روسته راځی.

③ داسې هم کیږی چې د یو سورة د کلماتو مفرده په تشریح کښې د بل سورة کلماتو ته منتقل شی په دې انتقال کښې بیا دوه قسمه الفاظ میلاویږی یو هغه په کوم کښې چې د

(۱) عمدة القاری (۳۱۰/۱۸)-
(۲) عمدة القاری ۲۰/۱۹)-

منتقل کیدو څه وجه او مناسبت موجود وی او بل هغه چې په هغې کښې څه مناسبت او وجه په پوهه کښې نه راځی د دواړو مثالونه او ګورئ:

(الف) د سورة مائده په تفسیر کښې د سورة آل عمران د آیت نمبر ۵۵ کښې واقع لفظ (متوفیك) معنی بیانوی. د سورة مائده د ایت نمبر ۱۱۷ کښې دی (فلما توفیتنی فکنت انت الرقیب علیهم) په دې کښې د (توفیتنی) مناسبت سره امام د سورة ال عمران لفظ (متوفیك) طرف ته منتقل شوې دې،

په سورة انعام کښې (فان استطعت ان تبتغی نفقا فی الارض) په دې لفظ د (نفقا) تشریح امام بخاری په سورة نساء کښې ذکر کړې ده، ځکه چې په سورة نساء کښې دی (ان المنافقین فی الدرك الاسفل من النار) چونکه (نفق) د منافقین مشتق منه دې، په دې مناسبت سره سورة نساء نه سورة انعام طرف ته منتقل شوې دې

په سورة حجر کښې دی (کما انزلنا من المقتسمین) د (المقتسمین) تشریح کوی او په دې کښې د سورة اعراف د آیت (وقاسمهما انی لکما لمن الناصحین) کښې د لفظ (قاسمهما) تشریح کوی، هم په دې مناسبت سره بیا د سورة نمل آیت (قالو تقاسموا بالله) کښې د (تقاسمو) کلمه راوړی.

په (تبت یدا ابی لهب وتب) د (تبت) معنی بیانوی بیا فرمائی (تباب: خسران، وتتبیب: تدمیر) تباب د سورة غافر په ایت کښې واقع شوې دې (وما کید فرعون الا فی تباب) او تتبیب د سورة هود په ایت نمبر ۱۰۱ کښې دې (وما زادوهم غیر تتبیب) غرض دا چې امام بخاری د کلمات مفرده په تشریح کښې د یو سورة نه بل سورة ته په مختلفو مناسبتونو سره منتقل کیږی خو څه مقامات داسې هم دی چې هلته د منتقل کیدو مناسب او څه وجه په پوهه کښې نه راځی.

(ب) مثلا د سورة انعام تفسیر کوی (سرمدا) دائما حال دا چه دا د سورة قصص آیت ۷۱ کښې واقع دې (قل ارایتم ان جعل الله علیکم النهار سرمدا الیٰ یوم القیامة) د سورة قصص دا الفاظ چه ئې په سورة انعام کښې راوړې دی، د دې متعلق علامه عینی فرمائی (لا مناسبة لذکر هذا ههنا لانه لم یقع هذا الا فی سورة القصص)[1]

په سورة نحل کښې دی (شاکلته ناحیته) حال دا چه دا لفظ د سورة بنی اسرائیل په ایت ۸۴ کښې دې (قل کل یعمل علی شاکلته) په سورة نحل کښې د دې ذکر کولو وجه او مناسبت ښکاره نه دې، هم دا وجه ده چه په بعضې نسخو کښې دا لفظ نشته.

د کلمات مفرده تشریح چه کوی نو کله کله د جمهورو د قراءت په ځائې بل قراءت ذکر کوی په سورة اعراف ایت نمبر ۵۷ (هو الذی یرسل الریاح بشرا بین یدی رحمته) کښې د جمهورو قراءت

[1]) عمدة القاری (۳۲۱/۱۸)-

«بشرا» دې د امام بخاری د «نشرآ» قراءت نقل کړې دې هم ددې سورة په آيت نمبر ۳۴ کښې «قد انزلنا لباسا يوارى سوآتكم وريشا» دې ، امام د «ريشا» قراءت منتقل کړې دې[1]

⑤په بعضې رواياتو کښې شاذ اقوال هم راغلې دی د حضرت حسن بصری رحمه الله نه ئې د سورة علق په ابتدا کښې يو قول نقل کړې دې «عن الحسن قال اكتب فى المصحف فى اول الامام بسم الله الرحمن الرحيم ، واجعل بين السورتين خطا» يعنی د سورة فاتحې په شروع کښې بسم الله اوليکه او د باقی سورتو په مينځ کښې صرف يو خط راکاږه ، دا قول شاذ دې[2]

دا خو د الفاظ مفرده د تشريح په باره کښې د امام اسلوب او انداز وو ترکومې پورې چه د بابونو او احاديثو تعلق دې نو په دې کښې د امام بخاری هم هغه طريقه ده کومه چه په ټول صحيح بخاری کښې ده ، امام په کتاب التفسير کښې په مختلفو آياتونو او سورتونو باندې ۲۷۳ بابونه قائم کړې دی ، د احاديثو او رواياتو شمار په ماقبل کښې مونږ ليکلې دی.

په فن تفسير کښې ددې حيثيت او مرتبه: پاتې شوه دا خبره چه په فن تفسير کښې د امام بخاری د کتاب التفسير څه مرتبه او حيثيت دې ؟نو په دې باره کښې چه ترڅو پورې د تفسير په باره کښې کوم تعلق دې نو د امام بخاری په احاديثو کښې چاته شک کيدې شی څکه چه د صحيح بخاری احاديث د ټولو نه زيات صحيح دی او د حديث په کتابونو کښې د اوچت معيار په وجه هم صحيح بخاری ته «د اصح الكتب بعد كتاب الله» اعزاز حاصل دې ، ددې وجې د بخاری د کتاب التفسير دا حصه د فن تفسير صحيح ترينه سرمايه ده.

البته هغه حصه په کومو کښې چه د الفاظو لغوی تشريح شوې ده په دې حصه کښې امام بخاری چونکه زيات اعتماد د ابوعبيده په ، ،مجاز القران باندې کړې دې دې وجې دلته هغه اوچت معيار برقرار نه دې پاتې شوې او په دې حصه کښې بعض تسامحات او مرجوح اقوال راغلې دی د کوم چې څه نمونې په ماقبل کښې تاسو اوکتلې.

د ابوعبيده مجاز القران هم چاپ شوې دې د قاهره مشهور اشاعتی اداره مکتبه خانجی د يو ترکی عالم محمد فواد سزکين تحقيق سره په دوو جلدونو کښې شائع کړې دی ، محمد فواد پنځه مخطوطه نسخې خان ته کيخودې دی او مرتب کړې دی ، او د تحقيق او مراجعت سره سره ئې د الفاظو په تشريح کښې چه کومه بې ترتيبی شوې ده ، هغه ئې هم ختمه کړې ده ، او د الفاظو لغوی تشريح ئې د آياتونو د ترتيب مطابق کړې ده.

---

[1]) عمدة القاری ۲۸/۳۳۱)-
[2]) عمدة القاری ۱۹/۳۰۳)-

بسم الله الرحمٰن الرحيم

كتاب التفسير

الرحمٰن الرحيم: اسمان من الرحمة، الرحيم والراحم بمعنى واحد، كالعليم والعالم

كتاب التفسير:

په اصحاب صحاح كښې امام بخاري، امام ترمذی امام ابوداود او امام مسلم كتاب التفسير پيش كړې دې، په مسلم كښې د كتاب التفسير حصه ډيره كمه ده ددې وجې بعضې حضراتو دا په جوامع كښې نه دې داخل كړې امام ابوداود د كتاب الحروف په نوم باندې يو بحث كړې دې او د هغې تعلق هم د تفسير سره دې [1] امام ترمذی كتاب التفسير مفصل پيش كړې دې [2] امام بخاری د امام ترمذی نه هم زيات تفصيل سره كتاب التفسير بيان كړې دې.

د تفسير لغوي معنى: تفسير د فسر نه مشتق دې چه معنى ئې ده پرانستل، په تفسير كښې چونكه د الفاظو مغلقاتو او د قران كريم مفهوم واضحه بيانولې شى ددې وجې دې ته تفسير وئيلې شى.

بعضې حضرات وائى چه دا د (سفر) نه ماخوذ دې ددې قلب ئې كړې دې او (فسر) ترې جوړ كړې شوې دې بيا ددې نه تفسير مشتق دې د سفر معنى هم د پرانستلو راځى سفر ته سفر ددې وجې وائې چه دا د ډيرو پټو كارونو د پاره كاشف وى [3]

د تفسير اصطلاحي معنى: علامه زركشى د علم تفسير تعريف كړې دې (علم يعرف به فهم كتاب الله المنزل على نبيه محمد ﷺ وبين معانيه واستخراج احكامه وحكمه) [4]

علم تفسير هغه علم دې چه په كوم سره د قران كريم فهم حاصليږى، ددې د معانو وضاحت او ددې احكامو او حكمتونو استنباط كولې شى.

علامه آلوسى په روح المعانى كښې د علم تفسيري تعريف كړې دې

(علم يبحث فيه عن كيفية النطق بالفاظ القران مدلولاتها واحكامها الافرادية والتركيبية ومعانيها التى تحمل عليها حالة التركيب وتتمات لذالك كمعرفة النسخ وسبب النزول وقصة توضح ما ابهم فى القران) [5]

علم تفسيري هغه علم دې په كوم كښې چه د قران د الفاظو دا ادا كولو كيفيت ددې مفهوم

---

[1] سنن ابى داود (۳۱/٤) كتاب حروف القراءات)-

[2] سنن ترمذى كتاب التفسير (۱۹۹/۵-٤۵٤)-

[3] قال السيوطى فى الاتقان التفسير تفعيل من الفسر و هو البيان و الكشف و يقال: هو مقلوب السفر تقول اسفر الصبح : اذا ضاء وانظر الاتقان فى علوم القران (۲۲۱/۲) وروح المعانى ۶/۱)-

[4] البرهان (۱۳/۱)-

[5] روح المعانى ۶/۱)-

ددې افرادي او ترکيبي احکام او ددې د معانيو نه بحث کولې شی کوم چه ددې الفاظو نه په ترکيبي جالت کښې مراد اخستې شی، دغه شان ددې معانيو د تتمې نه بحث کيږی، لکه ناسخ او منسوخ ،شان نزول او د قران د هغه مبهمو قصو معرفت د کومو چه وضاحت ئيې نه وی شوې ـ

په تفسير او تاويل کښې فرق: د متقدمينو په نيز په تفسير او تاويل کښې څه فرق نشته امام ابوعبيده تصريح کړې ده چه دا دواړه الفاظ بيخی مترادف دی [1] خو روستو عالمانو په دې دواړو کښې فرق کړې دې او د دواړو په مينځ کښې فرق بيانولو کښې ئې مختلف رائيگانې ظاهرې کړې دی،مثلاً څو اقوال دا دی.

① تفسير نوم دې د بيان المراد بالفظ او تاويل نوم دې بيان المراد بالمعنی [2]

② د تفسير تعلق د نقل او روايت سره دې او د تاويل تعلق د عقل او درايت سره دې [3]

③ تفسير د هغه لفظ د تشريح نوم دې په کوم کښې چه د يو نه زياتومعنو احتمال نه وی او تاويل وائې په لفظ کښې چه کوم مختلف معانی محتمل دی د قرائنو او دلائلو په ذريعه په کښې يو اختيارولې شی [4]

④ تفسير په يقين سره تشريح کولو ته وئيلې شی او تاويل په تردد سره تشريح کولو ته وئيلې شی [5] ⑤ تفسير د الفاظو د مفهوم نوم دې او تاويل ددې مفهوم نه د راوتلو نتيجو د وضاحت نوم دې [6]

ددې نه پس پوهه شئ چه د ټولو نه اولنې مفسر د قران رسول الله ﷺ دې او بيا د دوی نه پس په حضراتو صحابه کرامو کښې مفسرين تير شوې دی په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې د ټولو نه مشهور مفسر حضرت عبدالله بن عباس(رض) دې چه رئيس المفسرين ورته وئيلې شی، تابعينو هم په خپلو دورونو کښې تفسيرونه کړې دی او د هغوی نه تفسيری اقوال منقول دی او بيا د دوی نه پس راتلونکی امامان.

د نحو امامانو خاص کر د قران پاک لوې خدمت کړې دې ابو عبيده معمر بن مثنی او فراء وغيره د قران پاک په معانيو باندې کتابونه ليکلې دی ابوعبيده ،،مجاز القران،، او فراء ،،معانی القران،،تاليف کړې دی.

دغه شان حضراتو محدثينو کرامو د قران په تفسير باندې مشتمل کتابونه ليکلې دی او د آياتونودتفسيرمتعلق چه کوم روايات مرفوعا اوموقوفا منقول دی هغه ئې يو ځائې کړې دی،

---

[1]) الاتقان فی علوم القران ۲۲۱/۲(وروح المعانی ۶/۱ وفتح الباری ۱۵۵/۸)-

[2]) فتح الباری ۱۵۵/۸)-

[3]) روح المعانی ۶/۱) والاتقان فی علم القران ۲۲/۲)-

[4]) الاتقان ۲۲۱/۲)-

[5]) علوم القران (۳۲۶)-

[6]) علوم القران ۳۲۶)-

په دې سلسله کښې دننه د ټولو نه جامع او مستند تفسير د ابو جعفر بن جرير طبرى دې په يو زمانه کښې په ديرش جلدونو کښې چهاپ شوې وو.

په كتاب التفسير كښې د امام بخارى رحمه الله انداز: امام بخارى په كتاب التفسير كښې د ابن جرير طبرى طريقه نه ده اختيار كړې بلكه دوى د ابوعبيده معمر بن مثنى كتاب مجاز القرآن خان ته ايخودې دې او تفسير ئې كړې دې امام بخارى د مفرداتو معانى هم ددې نه نقل كوى او چونكه ابوعبيده په مجاز القرآن كښې د يوې مادې تشريح كوى او دې سره د بلې ماده تشريح شروع كوى د يو سورة نه بل سورة طرف ته منتقل كيږى دغه شان په دې كښې اقوال مرجوحه هم دى ددې وجې د سوء ترتيب او اقوال مرجوحه په وجه د امام بخارى په كتاب التفسير كښې د امام بخارى مختلف انداز دې.

كه څه مشكل لفظ وى نو اكثر د هغې تشريح كوى

كه د آيت شان نزول او پس منظر څه واقعه سره متعلق وى نو هغه واقعه بيانوى

كه د څه ايت فضيلت په روايت سره ثابت وى نو د هغې ايت لاندې هغه روايت ذكر كوى.

بعضې وخت داسې كيږى چه په ايت قرانيه كښې څه لفظ راغلې وى او بعينه هم هغه لفظ په حديث كښې هم راغلې وى نو امام بخارى دغه حديث ددې ايت لاندې ذكر كوى ځكه چه بعضې وخت د حديث د پوره كلام نه د ايت مراد او د هغې د معنى تعيين كيږى

رسول اكرم ﷺ كه د يو سورة په اختتام باندې د بعضې كلماتو د وئيلو تلقين كړې وى نو امام بخارى د هغه سورة ذكر كولو نه پس هغه كلمات بيانوى

دغه شان د امام بخارى يو عادت دا هم دې كه د يو شان نزول په وخت ګنړ آيتونه هم په يو وخت كښې نازل شوې وى نو امام بخارى په دغه اياتونو كښې د هر لاندې هغه روايت په كوم كښې چه شان نزول مذكور وى بار بار مكرر اسانيدو سره ذكر كوى، لكه څنګه چه د سورة بقره په آيت ١٣٣ (وما جعلنا القبلة التي كنت عليها) نه واخله تر د ايت ١٥٠ (ومن حيث خرجت فول وجهك شطر المسجد الحرام) پورې د هر يو لاندې ئې د قبلې روايت كوم چه د حضرت ابن عمر او حضرت براء بن عازب نه منقول دې ذكر كړې دې.

قوله: الرحمن الرحيم اسمان من الرحمة الرحيم والراحم بمعنى واحد كالعليم والعالم: امام بخارى فرمائى چه رحمان او رحيم دواړه اسمونه دى د رحمت نه مشتق دى په رحمن او رحيم دواړو كښې د معنى په اعتبار سره فرق دې رحمن د رحيم نه ابلغ دې ځكه چې قاعده ده (زيادة المبنى تدل على زيادة المعنى) په رحمان كښې الفاظ د رحيم نه زيات دى ددې وجې د رحمن نه د الله تعالى هغه صفت مراد دې كوم چه د ټول مخلوق د پاره عام وى او د رحيم نه هغه صفت د رحمت مراد دې كوم چه صرف مومنانو سره خاص دې [1]

بعضو وئيلې دى چې د رحمن نه مراد عام معنى الرحمة او د رحيم معنى تام الرحمة دې ، د

---

[1] عمدة القارى (٧٩/١٧)-

عام الرحمة مطلب دادي چه هغه ذات د چا رحمت چه ټول عالم او ټولو کائناتو باندې حاوی او شامل دې او د تام الرحمة مطلب دادې چه دده رحم کامل او مکمل دې او بعضې حضراتو وئيلي دی «الرحمن من تعم الدنيا والاخرة، والرحيم من تخص رحمته بالاخرة»[1]

مبرد او ثعلب وئيلي دی چه رحمان د عبراني لفظ دې او رحيم د عربئ لفظ دې خو ابن الانباری او زجاج وغيره ددې ترديد کړې دې[2] او حقيقت هم دادې چې د رحيم په شان رحمان هم د رحمت نه مشتق دې په ترمذی شريف کښې د رسول الله ﷺ ارشاد دې چه الله تعالى فرمائی «انا الرحمن خلقت الرحم وشققت لها من اسمى فمن وصلها وصلته ومن قطعها بتته»[3]

امام بخاری چه دا کوم فرمائيلي دی چه «الرحيم والراحم بمعنى واحد» يعنى رحيم او راحم په يو معنى دی ددې نه مقصد دادې چه د دواړو ماده يوه ده، او نفس معنى د دواړو يوه ده، يعنى رحمت کښې رحيم د مبالغې يا د صفت مشبه صيغه ده او راحم اسم فاعل دې او د مبالغې صيغه د معنې په زيادت باندې دلالت کوی دغه شان د صفت مشبه صيغه په ثبوت اودوام باندې دلالت کوی او د اسم فاعل د په نفس حدوث فعل باندې دلالت کوی ددې وجې د صيغې په اعتبار سره په رحيم او راحم کښې فرق شته البته نفس معنى په دواړو کښې يوه ده او امام بخاری په دې اعتبار سره دواړو ته بمعنى واحد وئيلي دی[4]

١- باب: مَا جَاءَ فِي فَاتِحَةِ الْكِتَابِ

وَسُمِّيَتْ أُمَّ الْكِتَابِ أَنَّهُ يُبْدَأُ بِكِتَابَتِهَا فِي الْمَصَاحِفِ، وَيُبْدَأُ بِقِرَاءَتِهَا فِي الصَّلَاةِ. وَالدِّينُ الْجَزَاءُ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ، كَمَا تَدِينُ تُدَانُ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ بِالدِّينِ بِالْحِسَابِ (مَدِينِينَ) مُحَاسَبِينَ.

سورة فاتحه ته ''ام الكتاب،، ولې وائى؟: امام بخاری فرمائى چه سورة فاتحې ته ،،ام الكتاب،، هم وائي يو خو ددې وجې چه دا د مصاحف په ابتداء کښې ليکلې شى دويم ددې وجې چه په مانځه کښې هم ددې د قراءت نه ابتدا کيږى د امام بخارى د بيان کړې ذکر شووو دواړو وجوهو نه په ظاهره د فاتحة الكتاب وجه تسميه معلوميږى ،ام الكتاب نه خو حقيقت دادې چه د دواړو وجه تسميه ده ،د فاتحه الكتاب وجه تسميه خو ښکاره ده او د ام الكتاب وجه ددې وجې ده چه مور هم د بچى نه وړاندې وى او د ولد مبداء وى[5]

---

[1] قال ابن فتيبه فى المحرر الوجيز ٩٧/١ ان اباسعيد وابن مسعود رويا ان الرسول قال الرحمان رحمان الدنيا والرحيم رحيم الاخرة وانظر مجمع البحرين ٢١/١ و تفسير النسفى ٥/١)-

[2] فتح البارى ١٥٥/٨)-

[3] بحواله بالا

[4] حاشية لامع الدرى ٣/٩)-

[5] عمدة القارى ٨٠/١٨)-

بعضې حضراتو وئيلې دى چه د ام الشئ معنى اصل الشئ او سورة فاتحه هم اصل الکتاب ده، د قران ټول بنيادى مضامين په دې کښې اجمالاً جمع دى [1]
علامه ابن سيرين او تقى الدين بن مخلد فرمائيلې دى چه دفاتحة الکتاب ته ام الکتاب وئيل مکروه دى، ځکه چې ام الکتاب لوح محفوظ ته وائى په قران کريم کښې دى «وعنده ام الکتاب»[2]، «وانه فى ام الکتاب»[3] په دې ايتونو کښې د ام الکتاب نه لوح محفوظ مراد دې دغه شان د يو حديث نه هم دوى استدلال کوى «لايقولن احدکم بام الکتاب وليقل فاتحة الکتاب»[4]،
خو حقيقت دادې چه سورة فاتحه نوم ، ،ام الکتاب،، په صحيح حديث کښې مروى دې دار قطنى صحيح حديث نقل کړې دې «اذا قراتم الحمد فاقرؤو بسم الله الرحمن الرحيم انها ام القران وام الکتاب والسبع المثانى»[5]
باقى ابن سيرين او تقى الدين چه په استدلال کښې کوم حديث پيش کړې دې هغه صحيح نه دې، علامه سيوطى رحمه الله ددې متعلق فرمائى «هذا لااصل له فى شئى من کتب الحديث»[6]
د سورة فاتحه نومونه: د سورة فاتحه څو نومونه دى علامه سيوطى په الاتقان کښې د سورة فاتحه پنځويشت نومونه نقل کړې دى
① فاتحة الکتاب ② فاتحة القران ③ ام الکتاب ④ ام القران ⑤القران العظيم. ⑥السبع المثانى،⑦ الوافية، ⑧ الکنز ، ⑨ الکافية ،⑩ الاساس، ⑪النور، ⑫ سورة الحمد، ⑬ سورة الشکر، ⑭ سورة الحمد الاولى، ⑮ سورة الحمد القصرى، ⑯الراقية، ⑰ الشفاء، ⑱ الشافية،⑲ سورة الصلاة،⑳ سورة الدعاء، ㉑ سورة السوال، ㉒ سورة تعليم المسئلة، ㉓ سورة المناجاة، ㉔ سورة التفويض [7]

قوله: الصَّلَاةِ. وَالدِّينُ الْجَزَاءُ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ، كَمَا تَدِينُ تُدَانُ:

د لفظ ``دين،، معنى: يعنى په مالک يوم الدين کښې د دين معنى جزاء او بدله ده که د خير وى او که د شر وى، دين دواړو ته شامل دې لکه چې وئيلې شى کما تدين تدان چې څنګه کوې هغه

---

[1]) الاتقان فى علوم القران ۱/۸۴)-
[2]) الرعد ۳۹)-
[3]) الرحرف : ٤ کل اية (وانه فى ام الکتاب لدينا لعلى حکيم)-
[4]) الاتقان فى علوم القران ۱/۷۰)-
[5]) الاتقان فى علوم القران ۱/۷۰ وسنن دارقطنى کتاب الصلاة باب وجوب قراتم بسم الله الرحمن الرحيم فى الصلاة ۱/۳۱۲)-
[6]) الاتقان فى علوم القران ۱/۷۰)-
[7]) الاتقان فى علوم القران ۱/۷۰،۷۱)-

شان به بيا مومي، دا حديث مرسل دې عبدالرزاق ذ ابوقلابه نه مرسلا نقل كړې دې[1] په كما تدين تدان كښې كاف د مثل په معنى كښې دې او ما تدين د مصدر په معنى كښې دې ددې نه وړاندې «دينا» محذوف دې كوم چې د تدان د پاره مفعول مطلق واقع شوې دې اصل عبارت دادې (تدان دينا مثل دينك) يعنى ته چې څنګه عمل كوې هم هغه شان جزا به تاته دركولې شى.

قوله: وقال المجاهد بالدين (الماعون: ١) بالحساب مدينين (الواقعه ٨٦) محاسبين: امام بخارى د سورة فاتحې نه د سورة ماعون او سورة انفطار ايت (اَرَءَيْتَ الَّذِىْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ) او (كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ) طرف ته منتقل شوې دې ځكه چې په دې دواړو ايتونو كښې د دين معنى حساب ده ،دغه شان د سورة واقعه په ايت (فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ) ([2]) كښې د مدينين معنى (محاسبين) ده

ددين د لفظ نورې هم څو معانې راځى ،عادت، عمل ، حكم ، حال، حق ، طاعت ،قهر ،ملت، شريعت ،ورع ، سياست،([3])

[٤٢٠٤] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي سَعِيدِ بْنِ الْمُعَلَّى قَالَ: كُنْتُ أُصَلِّي فِي الْمَسْجِدِ فَدَعَانِي رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَلَمْ أُجِبْهُ، فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي كُنْتُ أُصَلِّي. فَقَالَ «أَلَمْ يَقُلِ اللَّهُ (اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ) ثُمَّ قَالَ لِي لأُعَلِّمَنَّكَ سُورَةً هِيَ أَعْظَمُ السُّوَرِ فِي الْقُرْآنِ قَبْلَ أَنْ تَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ». ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي، فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ قُلْتُ لَهُ أَلَمْ تَقُلْ «لأُعَلِّمَنَّكَ سُورَةً هِيَ أَعْظَمُ سُورَةٍ فِي الْقُرْآنِ». قَالَ «(الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي أُوتِيتُهُ.» [٤٣٧٠، ٤٤٢٦، ٤٧٢٠]

قوله: فَقَالَ «أَلَمْ يَقُلِ اللَّهُ (اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ):

د نبى كريم ﷺ په اواز باندې د لبيک ويونكى مونځ كونكى مونځ به فاسد وى يا نه؟: په دې خبره خو اتفاق دې كه نبى ﷺ يو كس راوبلى او هغه د مانځه په حالت كښې وى نو د نبى ﷺ د بلنې اجابت پكار دې خو په دې لبيک سره به د دغه كس مونځ باطليږى كه نه ؟ په دې كښې د احنافو ،مالكيانو او حضراتو شوافعو دوه قولونه دى ،د مالكيانو او شوافعو په نيز راجع قول عدم فساد دې او د احنافو په نيز مشهورقول د فساد دې،امام بخارى هم دا اختيار كړې دې([4])

[1]) عمدة القارى ١٨/٨٠)-
[2]) سورة الواقعه ٨٦)-
[3]) عمدة القارى ١٨/٨٠)-
[4]) اوجز المسالک(٢/٨٨) باب ما جاء فى القران)-

بعضې حضرات وائي چه مونځ نه فاسيديږي.[1]

قوله: هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي أُوتِيتُهُ:

سورة فاتحه ته د ''سبع مثاني'' وئيلو وجوه: سورة فاتحې ته سبع مثاني هم وائي ،سبع خو ورته ددې وجه وائې چې د سورة فاتحې اووه اياتونه دى ،په اووه اياتونو كيدو كښې خو څه اختلاف نشته،البته ددې په تعين كښې اختلاف دې د احنافو په نيز «صراط الذين انعمت عليهم» يو آيت دې او بسم الله د سورة فاتحې آيت نه دې.

د شوافعو په نيز «صراط الذين انعمت عليهم» مستقل يو ايت نه دې بلكه «صراط الذين» نه واخله تر «ولا الضالين» پورې اووه اياتونه دې او د سورة فاتحې اولنې ايت «بسم الله» دې.[2]

مثاني د مثنى جمع ده د مثنى معنى ده دوه دوه ،د مثاني مختلف وجوه تسميه بيان شوې دى

① ددې نزول دوه ځله شوې دې يو ځل په مكه كښې او په دويم ځل مدينه كښې

② «لانها تثنى فى كل ركعة اى تعاد» يعنى په هر ركعت كښې ددې اعاده كولې شي.

③ «لانها يثنى بها على الله تعالى» يعنى په دې كښې د الله تعالى تعريف ثناء بيان شوې وى.

④ «لانها استثنيت له الامة لم تنزل على من قبلها» يعنى دا سورت امت محمديه ته استثنائى او خصوصى طور وركړې شوې دې.[3]

خو حقيقت دا دې ،برابره ده كه د ثناء نه ماخوذ وى يا د تثنيه نه ماخوذ وى يا د استثناء نه ماخوذ وى ،نو په دې كښې څه تعارض نشته ددې ټولو وجوهو په بنياد باندې دې سورت ته مثاني وائي.

سورة فاتحه ته د ''قران عظيم'' وئيلو وجه: سورة فاتحې ته قران عظيم هم وائى ځكه چې د قران بنيادى مضامين په دې سورت كښې اجمالا راغلې دى ددې وجې د عظمت او اهميت ښكاره كولو د پاره «تسمية الكل باسم الجزء» په طور سورة فاتحې ته القران العظيم وائي.

د قران بنيادى مضامين د مبدا او معاد سره متعلق دى په مبدا كښې د الله تعالى ذات، صفات او احكام راځى په معاد كښې حشر نشر جزاء او سزا راځى،د سورة فاتحې په اولنى دوو آيتونو كښې د الله تعالى د ذات او صفاتو ذكر دې په اياك نعبد كښې احكامو طرف ته اشاره ده،نو د مبداء ذكر راغلو ،او په «اهدنا الصراط..» د حشر نشر او جزاء سزا تذكره ده.كوم چې د معاد سره متعلق دى ـ

---

[1]) قال العينى فى شرح البخارى :قال صاحب التوضيح : صرح اصحابنا ،فقالو ،من خصائص النبى ﷺ لو دعا انسانا وهوفى الصلاة وجب عليه الاجابة ولا تبطل صلاته وانظر اوجز المسالک الى موطا الامام مالک (٨١/٢)-

[2]) عمدة القارى ٨١/١٨)-

[3]) الاتقان فى علوم القران ٧١/١)-

② باب (غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ)

[٤٢٠٥] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ سُمَيٍّ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ- رضى الله عنه- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- قَالَ «إِذَا قَالَ الإِمَامُ (غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ) فَقُولُوا آمِينَ. فَمَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلاَئِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»

د (غيرالمغضوب عليهم) مصداق يهوديان دى او د (الضالين) مصداق نصارى دى.

ترجمة الباب سره د روايت باب مناسبت: ددې روايت تعلق د تفسير سره نه دې، تفسير خو ددې هغه دې كوم چه امام ترمذى بيان كړې دې چه د (المغضوب عليهم) نه يهود او د (الضالين) نه نصارى مراد دى، (١) علامه عينى ددې روايت په دې ځائې كښې ذكر كولو باندې اعتبار كړې دې چې ددوى د تفسير سره څه تعلق نشته، دا د فضائل القران په بابونو كښې ذكر كول پكار وو(٢) خو لكه څنګه چې بيان شوې دى چې امام بخارى د ادنى مناسبت په وجه هم روايت ذكر كوى.

تفسير سورةُ البقره

بقره طرف ته د سورة اضافت كولوكې اختلاف او قول راجح: ددې نه دا معلومه شوه چې سورة بقره طرف ته اضافت كولو كښې څه حرج نشته، بيهقى په شعب الايمان كښې يو روايت نقل كړې دې په هغې كښې دى (لا تقولوا: سورة بقرة ولا سورة عمران ولا سورة نساء ولكن قولوا السورة التى تذكر فيها البقرة والسورة التى يذكر فيها ال عمران)

خو دا روايت صحيح نه دې ددې روايت كښې يحيى بن ميمون خواص يو ضعيف راوى دې په صحيحينو كښې د حضرت عبدالله بن مسعود نه يو روايت منقول دې په هغې كښې دى (هذا المقام الذى انزلت عليه سورة البقرة) دغه شان حضرت عائشه رضي الله عنها نه بيهقى يو روايت نقل كړې دې په هغې كښې دى (كنت اقوم مع رسول الله ﷺ فى الليل، فيقرا بالبقرة وال عمران والنساء) دغه شان امام ترمذى په شمائل كښې د عوف بن مالك نه روايت نقل كوى چه په هغې كښې (قمت مع رسول الله ﷺ ليلة فقام، فقرا سورة البقرة ولا يمر باية رحمة الا وقف)

ددې احاديثو نه معلومه شوه چې سورة بقره او سورة نساء وغيره وئيل صحيح دى (٣)

سورة بقره مدنى دې په دې كښې څلويښت ركوع ګانې، دوه سوه شپږ اتيا آيتونه، شپږ زره او يو سل يوويشت كلمات، او پنځويشت زره پنځه سوه حروف دى، په سورة بقره كښې پنځلس

---

١) سنن الترمذى كتاب تفسير القران رقم الحديث ٢٨٥٤)-

٢) عمدة القارى ٨١/١٨)-

٣) فتح القدير (٢٩٢٨/١)-

امثال، پنځه سوه حکمتونه او درې سوه شپيته رحمتونه دي.(١)

③باب قَوْلِ اللَّهِ (وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاءَ كُلَّهَا)

حضرت ادم علیه السلام ته د کومو څيزونو نومونه ښودلی شوي وو؟ په دې کښې اختلاف دې چې دغه نومونه د کومو څيزونو وو، بعضې حضراتو وئيلې دی چې د ادم علیه السلام د اولاد نومونه وو، بعضو وئيلې دی چې د فرښتو نومونه وو، بعضو وئيلې دی چه د اجناس اشياء نومونه وو. او بعضو وئيلې دی چې د اشياء مافی الارض نومونه وو(٢) مولانا انور شاه کشميری رحمه الله فرمائيلې دی چې ددې نه د هغه څيزونو نومونه مراد دی د کومو علم چې ضروری دې.(٣)

يو اشکال او د هغې جواب: دلته اشکال کيږی چې الله تعالى د امتحان اخستلو په وخت حضرت ادم علیه السلام په فرښتو باندې د غلبې دا صورت ښکاره کړو چې دوی ته ئې نومونه اوښودل، او د فرښتو نه ئې سوال اوکړو نو هغوی اووئيل ﴿لا علم لنا الا ما علمتنا﴾ چې د حضرت ادم علیه السلام نه ئې سوال اوکړو نو هغوی نومونه اوخودل، الله تعالى فرښتو ته اوفرمائيل ﴿قال الم اقل لکم انى اعلم غيب السموات والارض واعلم ما تبدون وما کنتم تکتمون﴾ سوال دا دې چه حضرت ادم علیه السلام ته الله تعالى تعليم ورکړې وو او فرښتو ته ئې ددې نومونو تعليم نه وو ورکړې، نو د فرښتو دا امتحان پاس کول به څنګه ممکن وو؟ که فرښتو ته ئې دغه نومونو خودنه کړې ده نو هغوی به هم بيان کړې وو.

ددې جواب دادې چه ددې سوال او جواب نه مقصود په فرښتو باندې دا حقيقت ښکاره کول وو چه د خورې په دې قالب کښې دومره لوئې صلاحيت او استعداد موجود دې که مونږ اوغواړو نو دد ته به په دنيا کښې په تاسو باندې فوقيت ورکړو او بعضې داسې علوم به ورته اوښايو چې د هغې تاسو ته هم علم نشته نو په دې امتحان کښې د حضرت ادم علیه السلام علمی صلاحيت ښکاره شو(٤)

[۴۲۰۶] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -. وَقَالَ لِي خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «يَجْتَمِعُ الْمُؤْمِنُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُونَ لَوِ اسْتَشْفَعْنَا إِلَى رَبِّنَا فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ أَنْتَ أَبُو النَّاسِ، خَلَقَكَ اللَّهُ بِيَدِهِ وَأَسْجَدَ لَكَ مَلاَئِكَتَهُ، وَعَلَّمَكَ أَسْمَاءَ كُلِّ شَىْءٍ، فَاشْفَعْ لَنَا عِنْدَ رَبِّكَ حَتَّى يُرِيحَنَا مِنْ مَكَانِنَا هَذَا. فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ - وَيَذْكُرُ ذَنْبَهُ فَيَسْتَحِى - ائْتُوا نُوحًا فَإِنَّهُ أَوَّلُ رَسُولٍ بَعَثَهُ

---

(١) عمدة القارى ٨١/١٨)-
(٢) عمدة القارى ٨٣/١٨) وفتح البارى ١٢٠/٨)-
(٣) فيض البارى ١٥٥/٤)-
(٤) روح المعانى ٢٢٧/١، ٢٢٥)-

اللَّهُ إِلَى أَهْلِ الأَرْضِ. فَيَأْتُونَهُ فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ. وَيَذْكُرُ سُؤَالَهُ رَبَّهُ مَا لَيْسَ لَهُ بِهِ عِلْمٌ فَيَسْتَحِي، فَيَقُولُ ائْتُوا خَلِيلَ الرَّحْمَنِ. فَيَأْتُونَهُ فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ، ائْتُوا مُوسَى عَبْدًا كَلَّمَهُ اللَّهُ وَأَعْطَاهُ التَّوْرَاةَ. فَيَأْتُونَهُ فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ. وَيَذْكُرُ قَتْلَ النَّفْسِ بِغَيْرِ نَفْسٍ فَيَسْتَحِي مِنْ رَبِّهِ فَيَقُولُ ائْتُوا عِيسَى عَبْدَ اللَّهِ وَرَسُولَهُ، وَكَلِمَةَ اللَّهِ وَرُوحَهُ. فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ، ائْتُوا مُحَمَّدًا - صلى الله عليه وسلم - عَبْدًا غَفَرَ اللَّهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ. فَيَأْتُونِي فَأَنْطَلِقُ حَتَّى أَسْتَأْذِنَ عَلَى رَبِّي فَيُؤْذَنُ {لِي} فَإِذَا رَأَيْتُ رَبِّي وَقَعْتُ سَاجِدًا، فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ يُقَالُ ارْفَعْ رَأْسَكَ، وَسَلْ تُعْطَهْ، وَقُلْ يُسْمَعْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ. فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأَحْمَدُهُ بِتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ، ثُمَّ أَشْفَعُ، فَيَحُدُّ لِي حَدًّا، فَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ، ثُمَّ أَعُودُ إِلَيْهِ، فَإِذَا رَأَيْتُ رَبِّي - مِثْلَهُ - ثُمَّ أَشْفَعُ، فَيَحُدُّ لِي حَدًّا، فَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ {ثُمَّ أَعُودُ الثَّالِثَةَ} ثُمَّ أَعُودُ الرَّابِعَةَ فَأَقُولُ مَا بَقِيَ فِي النَّارِ إِلاَّ مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْآنُ وَوَجَبَ عَلَيْهِ الْخُلُودُ». قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ «إِلاَّ مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْآنُ». يَعْنِي قَوْلَ اللَّهِ تَعَالَى (خَالِدِينَ فِيهَا).

قوله: فَيَقُولُونَ أَنْتَ أَبُو النَّاسِ، خَلَقَكَ اللَّهُ بِيَدِهِ:

په ``خلقک الله بیده،، کې د ``ید،، نه څه مراد دي؟: بعضو وئیلي دی چې دلته د (ید)نه مراد قدرت دې که قدرت مراد وی نو بیا د حضرت ادم علیه السلام فضیلت څه شو ابلیس هم الله تعالی په خپل قدرت پیدا کړې دې ددې وجې اکثر عالمان فرمائی چې د ید نه مراد د الله تعالی صفت ذاتیه دې الله تعالی د حضرت ادم علیه السلام په تخلیق کښې خپل خاص صفت ذاتیه داسې استعمال کړو چې په دې کښې نې څه قسمه واسطه حائله نکړه[1]

قوله: وَأَسْجَدَ لَكَ مَلاَئِكَتَهُ:

د سجود ادم نه کومه سجده مراد ده؟: دلته دوه خبرې دی یو دا چې ددې سجدې نه کومه سجده مراد ده .دویمه دا چې سجده ټولو فرشتو کړې وه که بعضو.؟

د سجود په باره کښې خو د بعضې رائې داده چې ددې نه خضوع او تذلل مراد دې حقیقی سجده (وضع الجبهة علی الارض)مراد نه ده[2]

خو مشهوره هم داده چې ددې نه حقیقی سجده مراد ده[3]

بیا ددې په نوعیت کښې اختلاف دې شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیه اوحافظ ابن کثیر رحمهما الله

[1] قال ابی فی شرح المسلم//٣٥٥)قوله خلق الله بیده..ای بقدرته وهو تنبیه علی ان خلقه لیس کخلق بنیه من تقلبهم فی الرحام وغیر ذلک من الوسائط ولا فکل شئ بقدرته عزوجل..وفی فتح الملهم ٣٦٢/١) خلقک الله بیده ای بلا واسطة او بقدرته الکاملة او ارادته الشاملة)-

[2] الجامع الاحکام القران ٢٩٣/١)-

[3] الجامع لاحکام القران (٢٩٣/١)-

فرمائی چې دا سجده تحیه او سجده د تعظیم وه او حضرت ادم علیه السلام حقیقت کښې مسجود وو[۱]او بعضې عالمان فرمائی چې سجده د عبادت وه معبود برحق الله تعالی ذات گرامی وو د حضرت ادم علیه السلام حیثیت د قبلې وو، مجدد الف ثاني رحمه الله دا اختیار کړې ده.

دا سجده ټولو ملائکو کړې وه یا بعضو؟: د دویمې خبرې په باره کښې ابن حزم او حافظ ابن کثیر فرمائی چې دا سجده ټولو فرشتو کړې وه[۲]او بعضو وئیلې دی چې صرف هغه فرشتو سجده کړې وه چې د کومو تعلق د زمکې سره وو[۳].

قوله: قَوْلِ اللّٰهِ (وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا): د دې روایت نه دا دې مقصود بالترجمه.

قوله: ائتوا نوحا فانه اول رسول بعثه الله الى اهل الارض:

حضرت نوح ''اول رسول،، په کوم حیثیت سره دې؟: اولنې رسول خو حضرت ادم علیه السلام دې حضرت نوح علیه السلام ته اول رسول د طوفان نوح نه پس حیثیت سره وئیلې شوې دې چې د طوفان نه پس هم نوح علیه السلام په مخ د زمکې د ټولو نه اولنې رسول وو.

قوله: فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ: زه د دې درجې سړې نه یم حضرت ادم علیه السلام دا خبره د عاجزئی د وجې کړې وه ګنې هغه د الله تعالی نبی ﷺ دې او د دې خبرې یقینا قابل او لائق دې چې د رب العزت په دربار کښې سفارش اوکړی.

او د دې معنی دا هم کیدې شی چې دا کار د بل چا د پاره مقرر دې، الله تعالی د وړاندې نه دا فیصله کړې ده چه دا سفارش به څوک کوی نو زه دا کار نشم کولې[۴].

قوله: فانه رايت ربي مثله:

د کلماتو تشریح: یعنی (افعل مثل ما سبق من السجود ورفع الراس وغيره) یعنی دوباره به د وړاندې په شان سجده او دعا دغیره اوکړم، په بعضې روایتونو کښې دی چې د دې سجدې موده به یو هفته وی[۵].

۴ - باب

قَالَ مُجَاهِدٌ (إِلَى شَيَاطِينِهِمْ) أَصْحَابِهِمْ مِنَ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُشْرِكِينَ (مُحِيطٌ بِالْكَافِرِينَ) اللّٰهُ جَامِعُهُمْ (عَلَى الْخَاشِعِينَ) عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَقًّا. قَالَ مُجَاهِدٌ (بِقُوَّةٍ) يَعْمَلُ بِمَا فِيهِ. وَقَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ (مَرَضٌ) شَكٌّ، (وَمَا خَلْفَهَا) عِبْرَةٌ لِمَنْ بَقِيَ. (لَا شِيَةَ) لَا

---

[۱]) تفسیر ابن کثیر (۷۸/۱)-

[۲]) تفسیر قرطبی (۲۹۳/۱)-

[۳]) تفسیر ابن کثیر (۲۳۸/۱)-

[۴]) فتح الباری (۴۳۳/۱۱) کتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار واکمال اکمال المعلم (۳۵۵/۱) ومکمل اکمال الاکمال (۳۵۵/۱)_

[۵]) فتح الباری (۴۳۷/۱۱) کتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار)-

بَيَاضٌ. وَقَالَ غَيْرُهُ (يَسُومُونَكُمْ) يُولُونَكُمْ. (الْوَلَايَةُ) مَفْتُوحَةٌ مَصْدَرُ الْوَلَاءِ، وَهِيَ الرُّبُوبِيَّةُ، إِذَا كُسِرَتِ الْوَاوُ فَهِيَ الإِمَارَةُ. وَقَالَ بَعْضُهُمُ الْحُبُوبُ الَّتِي تُؤْكَلُ كُلُّهَا فُومٌ. وَقَالَ قَتَادَةُ (فَبَاءُوا) فَانْقَلَبُوا. وَقَالَ غَيْرُهُ (يَسْتَفْتِحُونَ) يَسْتَنْصِرُونَ. (شَرَوْا) بَاعُوا. (رَاعِنَا) مِنَ الرُّعُونَةِ إِذَا أَرَادُوا أَنْ يُحَمِّقُوا إِنْسَانًا قَالُوا رَاعِنًا. (لَا يَجْزِي) لَا يُغْنِي. (خُطُوَاتِ) مِنَ الْخَطْوِ، وَالْمَعْنَى آثَارَهُ.

قوله: قَالَ مُجَاهِدٌ (إِلَى شَيَاطِينِهِمْ): يعنى په ﴿وَإِذَا خَلَوْا إِلَىٰ شَيَاطِينِهِمْ﴾ كښې د شياطين نه مراد منافقين او مشركان دى ،چې دا خلق هم د شيطانانو پشان حركات كوى او خلق د ايمان نه د لرې ساتلو كوششونو كښې لګيدلى دى.

قوله: مُحِيطٌ بِالْكَافِرِينَ) اللَّهُ جَامِعُهُمْ) : د سورة بقرة ايت دې ﴿أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَاءِ فِيهِ ظُلُمَاتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ ۚ يَجْعَلُونَ أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِم مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ ۚ وَاللَّهُ مُحِيطٌ بِالْكَافِرِينَ﴾ مجاهد د ﴿مُحِيطٌ بِالْكَافِرِينَ﴾ تفسير كړې دې ﴿الله جامعهم﴾ الله ددې ټولو جمع كونكې دې ،د الله د رانيولو نه دوى نشى بچ كيدې.

قوله: صبغة: دين : يعنى ﴿صِبْغَةَ اللَّهِ ۖ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً﴾ كښې د ﴿صِبْغَةَ﴾ نه مراد دين دې د ﴿صِبْغَةَ اللَّهِ﴾ معنى ده، د الله دين مضبوط اونسئ ،د مجاهد نه د ﴿صِبْغَةَ اللَّهِ﴾ تفسير په ﴿فطرة الله﴾ سره هم منقول دې [1]

قوله: عَلَى الْخَاشِعِينَ) عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَقًّا : يعنى ﴿وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ﴾ كښې د خاشعين نه حقيقى مومنان مراد دى په دې كښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چه په حقيقى مومن كښې به خشوع وى ،د خاشعين تفسير په خائفين او متواضعين سره هم شوې دې [2]

قوله: قَالَ مُجَاهِدٌ (بِقُوَّةٍ) يَعْمَلُ بِمَا فِيهِ: د سورة بقرة په ايت ﴿خُذُوا مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ﴾ كښې د قوت نه مراد عمل دې په دې قوت سره د نيولو مطلب دادې چه په دې باندې عمل كونى بعضې حضراتو د ﴿قوت﴾ نه مراد طاعت او بعضو كوشش اومحنت هم مراد اخستې دې [3]

قوله: وَقَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ (مَرَضٌ) شَكٌّ : ابوا العاليه فرمائى چه په ﴿فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ﴾ كښې د مرض نه مراد شک دې.ددې نه معلومه شوه چه دلته د مرض نه روحانى مرض مراد دې ، جسمانى مرض نه دې.

قوله: وَمَا خَلْفَهَا) عِبْرَةٌ لِمَنْ بَقِيَ : د ﴿فَجَعَلْنَاهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ﴾

---

[1]) عمدة القارى ١٨/٨٣-

[2]) عمدة القارى ١٨/٨٣-

[3]) عمدة القارى (١٨/٨٣) روح المعانى (١/٢٨١)-

معنى بيان كړې ده (عبرة لمن بقى) يعنى دا واقعه مونږ عبرت جوړ كړو، د هغه خلقو د پاره كوم چه روسته باقى پاتې كيدونكې وى او د راروانو د پاره، مراد ددې نه د بنى اسرائيلو نه د شادوګانو جوړولو واقعه ده.

قوله: (لَاشِيَةَ) لَا بَيَاضَ: (إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ الْأَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا) تفسير ني د (لا بياض) سره كړې دې، يعنى چه په كومه كښې سپينوالې نه وى (شية) مصدر دې، (وشى يشى) ددې معنى ده، د يو رنګ سره بل رنګ ملاوول، منقش كول. مطلب دا دې، چه د غوا رنګ خالص زيړ وى چه په هغې كښې څه قسم سپينوالې او داغ نه وى.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ: د غيره ضمير ابوالعاليه طرف ته راجع دې يعنى د ابوالعاليه نه غير ونيلې دى، ددې نه ابوعبيد قاسم بن سلام او ابوعبيده معمر بن المثنى مراد دې [1] د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه تردې ځائې پورې د الفاظو تفسير ابوالعاليه نه منقول وو، راروان تفسير د نورو حضراتو نه منقول دې.

قوله: يَسُومُونَكُمْ) يُولُونَكُمْ: (يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ) (سام فلانا الامر) پابند جوړول، مكلف جوړول، (سام الشئ) د يو څيز په طلب كښې تلل، دلته دا ټولې معانى كيدې شى يعنى هغه به تاسو د سخت عذاب مكلف جوړولې يا هغه به د سخت عذاب په طلب او لټون كښې تاسو ته راتلو، بعضې حضراتو د (يسومونكم) ترجمه په (يذيقونكم) سره كړې ده يعنى هغه به تاسو ته سخت عذاب دركولو [2]

دلته د په بخارى كښې د (يَسُومُونَكُمْ) تفسير په (يولونكم) سره شوې دې، (يولونكم: اولى، يولى ايلاء) نه د جمعې صيغه ده (اولى فلانا الامر) په كار باندې والى مقرر كول، په دې صورت كښې به د (يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ) ترجمه وى، هغه به تاسو ته د سخت عذاب دركولو د پاره والى مقرر كولو چونكه د (يولونكم) ماده (ولى) دې، ددې وجې امام بخارى سورة كهف طرف ته منتقل شوې دې او فرمائى:

قوله: (الْوَلَايَةُ) مَفْتُوحَةٌ مَصْدَرُ الْوَلَاءِ، وَهِيَ الرُّبُوبِيَّةُ، إِذَا كُسِرَتِ الْوَاوُ فَهِيَ الْإِمَارَةُ: په سورة كهف كښې دى، (هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلَّهِ الْحَقِّ) [3] امام فرمائى چې د (ولاية) د واو په فتحې سره دې د (ولاء) مصدر دې، ددې معنى ربوبيت ده او (ولاية) د واو په كسرې سره هم مصدر دې، خو ددې معنى امارت او سيادت راځى. د امام بخارى دا تشريح خو د ابوعبيده معمر بن المثنى د كلام نه ماخوذ ده، هغوى په سورة كهف كښې ددې ايت لاندې ليكلې دى (الولاية

---

[1]) عمدة القارى (۸۵/۱۸)-

[2]) فتح البارى (۱۶۲/۸)-

[3]) (سورة كهف ٤٤)-

بالفتح مصدر الولی وبالکسر مصدر ولیت الامر والعمل تلیه)[1]

قوله: وَقَالَ بَعْضُهُمُ الْحُبُوبُ الَّتِي تُؤْكَلُ كُلُّهَا فُومٌ: د بعضو نه عطاء او قتاده مراد دی. هغوی وئیلي دی چې په ایت «فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ مِنْ بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا» کښې د «فوم» نه هغه ټوله غله او دانې مراد دی کومې چه دخوراک د پاره استعمالیږی .لکه چنړه. اوربشې .ویزې وغیره .حضرت ابن عباس رضي الله عنهما او مجاهد نه منقول شوې دی چې د «فوم» نه غنم مراد دی[2]

قوله: وَقَالَ قَتَادَةُ (فَبَاءُوا) فَانْقَلَبُوا: «فَبَاءُوْ بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٍ» هغه خلق بیا راغلل په شوی غضب کښې د پاسه غضب .قتاده فرمائی چه «فباءوا» په معنی د «انقلبوا» دی

قوله: فادارأتم اختلفتم: «وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا»[3] طرف ته اشاره ده یعنی کله چه تاسو کښې یو کس قتل کړو او بیا مو اختلاف کړو .او په یو بل باندې مو الزام لګولو.

قوله: يَسْتَفْتِحُونَ) يَسْتَنْصِرُونَ: «وَكَانُوا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا» په دې کښې «یستفتحون» د مدد په طلب کولو په معنی کښې دې، یعنی د رسول الله ﷺ د بعثت نه وړاندې یهودو به نبی ﷺ وسیله جوړولو او د الله تعالی نه به ئې مدد غوښتلو «اللهم انا نسالك بحق نبیك الذی وعدتنا ان تبعثه فی آخر الزمان ان تنصرنا الیوم علی عدونا»[4]

قوله: (شَرَوْا) بَاعُوا: اشاره ده «وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِ أَنْفُسَهُمْ» طرف ته چه دې کښې «شروا» د «باعوا» په معنی کښې دې.

قوله: (رَاعِنَا) مِنَ الرُّعُونَةِ إِذَا أَرَادُوا أَنْ يُحَمِّقُوا إِنْسَانًا قَالُوا رَاعِنًا: [5]

د راعنا معنی او په دې کې مختلف قراءتونه: امام بخاری فرمائی چه په دې آیت کښې «راعنا» تنوین سره د رعونیت نه مشتق دې .د رعونیت معنی حماقت دې، راعن د اسم فاعل صیغه ده په معنی د بیوقوف [6] یهودو چه به کله څوک حماقت طرف ته منسوب غوښتل نو راعنا به

---

[1]) فتح الباری (۱۶۲/۸) عمدة القاری (۸۵/۱۸)_

[2]) عمدة القاری ۸۵/۱۸)-

[3]) فاداراتم فیها اصله تداراتم من الدر وهو الدفع فاجتمعت التاء والدال مع تقارب مخرجیها وارید الادغام فقلبت التاء دالاء وسكنت للادغام فاجتلبت همزة الوصل للتوصل للابتداء بها وهذا مطرد فی كل فعل علی تفاعل او تفعل فاؤه : تاء او طاء او ظاء او صاد، او ضاد، والتدارو، اما مجاز عن الاختلاف والاختصام ..او مستعمل فی حقیقته اعنی التدافع بان طرح قتلها كل عن نفسه الی صاحبه(وانظر روح المعانی (۳۲۰/۱)-

[4]) روح المعانی ۳۲۰/۱)-

[5]) سورة البقرة ۱۰٤)-

[6]) روح المعانی ۳٤۹/۱)-

ئې وئيل يعنى (قال قولا راعنا) هغه د بيوقوف توب خبره اوكړه يهود به راتلل د حضورپاك ﷺ په مجلس كښې به كيناستل.چې كومې خبرې به ئې مكرر تحقيق كولو نو راعنا به ئې وئيل او ددې نه به ئې غلطه معنى مراد اخستله چه معاذالله رسول الله احمقانه خبره اوكړه.صحابو كرامو گنړل چې د مراعاة نه ماخوذ دې او د امر صيغه ده.د (نا) ضمير مفعول به منصوب متصل دې.يعنى زمونږ رعايت اوكړه زمونږ خيال اوساته نوهغوى هم چه يهود اوكتل دا لفظ استعمالولو شروع كړو.حضرات صحابه كرامو ته د الفاظو ادب اوخودلې شو چې داسې لفظ چې دغلطې معنې وهم پكښې پيدا كيږي.نه دى وئيل پكار.(راعنا)مه وايئ:(انظرنا) وايئ:

قوله: (لَا يَجْزِي) لَا يُغْنِي: (وَاتَّقُوا يَوْمًا لَّا تَجْزِىْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْـًٔا) كښې د (لاتجزى) معنى ده (لاتغنى) يعنى فائده به ورنكړى هيڅ نفس ته بل نفس د هيڅ څه؟

قوله: ابتلى اختبر: (وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ ؕ) په ايت كريمه كښې د ابْتَلٰى معنى د (اختبر) ده يعنى امتحان واخستلو اوزمائيلې شو.

قوله: (خُطُوَاتِ) مِنَ الْخَطْوِ، وَالْمَعْنَى آثَارُهُ: (يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِى السِّلْمِ كَاۗفَّةً ۠ وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ) په ايت كريمه كښې (خُطُوٰتِ) د (خطو) نه ماخوذ دې او دا مصدر دې (خطاء يخطو) چې معنى ئې ده د قدمونو مينځنئ حصه ارتول او تلل، د (خطوا) معنى ده قدم.ددې جمع (خطوا) راځى (ولاتتبعوا خطوات الشيطن)معنى شوه .د شيطان په نقش قدم باندې مه ځئ:

٥- باب: قَوْلُهُ تَعَالَى: فَلَا تَجْعَلُوا لِلّٰهِ أَنْدَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ

[٤٢٠٧] حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُرَحْبِيلَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - أَيُّ الذَّنْبِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللّٰهِ قَالَ «أَنْ تَجْعَلَ لِلّٰهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ». قُلْتُ إِنَّ ذَلِكَ لَعَظِيمٌ، قُلْتُ ثُمَّ أَيُّ قَالَ «وَأَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ تَخَافُ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ». قُلْتُ ثُمَّ أَيُّ قَالَ «أَنْ تُزَانِيَ حَلِيلَةَ جَارِكَ».

د حديث د الفاظو تشريح: (انداد) د (ند) جمع ده په معنى د نظير يعنى الله سره تاسو څوک مه شريكونئ په داسې حال كښې چه تاسو پوهيږئ

قوله: قُلْتُ ثُمَّ أَيُّ قَالَ «وَأَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ تَخَافُ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ: ما تپوس اوكړو بيا كومه گناه لويه ده نو حضورپاک ﷺ اوفرمائيل چې خپل ځوئې قتل كړې ددې وجې نه چه هغه به تاسره خوراک كوى .دا گناه په حقيقت كښې په څو گناهونو باندې مشتمله ده ،اول بې گناه قتل كول، او بيا قتل كول د خپل ځوئى،دريمه دداسې كس قتل كول چې مدافعت نشى كولې ،څلورم ددې وېرې نه قتل كول چې زمونږ سره به خوراک كوى.لكه چې ته روزى رسان ئې .د الله په روزئى رسولو باندې دې اعتماد او توكل نشته

قوله: قُلْتُ ثُمَّ أَيُّ قَالَ «أَنْ تُزَانِيَ حَلِيلَةَ جَارِكَ: (ان تزانى) فرمائى چې (تزانى د مزاناة)

نه ماخوذ دي کوم چې باب مفاعله مصدر دې چې معنی ئې مشارکت دې .مطلب دادې چې د خپل ګاونډي ښځه په دهوکه په زنا باندې آماده کړي،دا يو ګناه په اصل کښې په څو ګناهونو باندې مشتمل ده ،اولنې ګناه زنا کول دی ،دويمه ګناه د بل ښځه دهوکه کول.دريمه ګناه دخپل ګاونډي سره خيانت کول. حال دا چې ګاونډي ددې خبرې اميد ساتی چې ده به د خپل ګاونډ نه راحت ميلاؤ شی.څلورم ګناه په دې کښې د هغه نسب خرابول دی.

٦- باب: وَقَوْلُهُ تَعَالَى (وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَى كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ).(٢)

وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْمَنُّ صَمْغَةٌ. وَالسَّلْوَى الطَّيْرُ.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْمَنُّ صَمْغَةٌ. وَالسَّلْوَى الطَّيْرُ:

د ''من،، تفسير: د مجاهد په نيز (من) د (صمغة) نه ماخوذ دې صمغة ګوند ته وائی ،مراد د ګوند سره مشابه څه څيز دې،بعينه ګوند مراد نه دې،څکه چې ګوند د اونې نه اوځی،او دا څيز د ونې نه نه راوځی. او د ګوند په شان په اونه باندې جام کيږی(١)

اردو کښې د (مَنّ) ترجمه په ترنجبين سره کوی او سلوٰی د يوې مرغۍ نوم دې چه په پښتو کښې ورته مرز وائی.

[٤٢٠٨] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ، وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ»

نبیﷺ فرمائيلې دی چه (کماة) يعنی د مار چترئی د (من) د قسم څنی ده اوددې اوبه د سترګو د بيمارئی د پاره شفا دی.

(الکماة) د کاف په فتحه د ميم په سکون او همزه په فتحې سره، جمع ده ددې مفرد (کما) دې (په وزن د قلب) سيبويه وئيلې دی چې (الکماة) جمع نه ده بلکه اسم جمع ده(٢) دې ته خريړې او د مارچترئی وائی. دا د باران په موسم کښې راټوکيږی، او د اګۍ په شان سپين وی.

يو اشکال او د هغې جواب: دلته په روايت کښې (الکماة من المن) وئيلې شوې دې سوال دا پيدا کيږی چې بنی اسرائيلو ته خو دا مارچترئی د خوراک د پاره نشو ورکولو کيدې ، ددې

---

(١) وفی الامع ٧٠٦/٩) قوله المن صمغة ای شبهة بها فی انجمادها علی اغصان الشجر وان لم يكن عين الصمغة فان الصمغة تخرج من نفس الشجر وليس الترنجبين بهذا المثابة فانه شئ يحصل بانجماد ما ينزل من الطل علی شجرة مخصوصة لا توجد فی ديارنا هذه)-

(٢) عمدة القاری ٨٨/١٨)-

وجې علامه خطابی اعتراض کړې دې چې دا روايت د ترجمة الباب سره مطابقت نه لری ځکه چې په ترجمة الباب کښې د هغه (من) ذکر دې کوم چې الله تعالی په بنی اسرائيلو باندې د اسمان نه نازلولو، او مارچترئی خو ئې د اسمان نه نازل کړې نه ده بلکه دا په زمکه کښې پيدا کيږی؟[1]

ددې جواب دادې چه امام مسلم په کتاب الاشربة کښې دا حديث ذکر کړې دې، د هغې الفاظ دی (الكماة من المن الذی انزل الله تبارك وتعالى على بنی اسرائيل وماؤها شفاء للعين)[2]

د مسلم شريف ددې روايت نه معلوميږی چې د حديث باب د ترجمة الباب سره تعلق شته چونکه د علامه خطابی نظر د مسلم شريف روايت ته نه وو تلې ددې وجې هغوی د ترجمة الباب سره د حديث د عدم مطابقت اشکال کړې دې.

خو دا سوال هم په خپل ځائې باقې دې چې مارچترئی په هر حال د هغه منزل من الله مصداق خو نه دې.

ددې جواب دادې چه دلته په اصل کښې تشبيه ده لکه څنګه چې دا د مارچترئی د باران په موسم کښې بغير د څه مشقت او تدبير نه الله تعالی پيدا کوی نو دغه شان هغه (من) ووکوم چې الله تعالی حضرت موسى عليه السلام او د هغه قوم ته ورکول ددې د پاره هم هغوی ته د څه محنت او مشقت زغمل نه وو[3] بعضې حضراتو وئيلې دی (الكماة من المن يعنى مما من الله على عباده بانعامه ذلك عليهم)[4]

قوله: وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ:

د مار د چترئ اوبه سترګې دپاره مفيد دی: د مار د چترئی اوبه د سترګو د پاره ډيرې فائده مند دی عالمانو ليکلې دی که په سترګو باندې امراض حاره (ګرم مرضونه) راشی نو صرف د مار د چترئی د سترګو د پاره ښيګړه کونکې او فائده مندې دی او که ګرم مرضونه نه وی نو بيا ددې اوبه د نورو دوايانو سره شاملول د سترګو د پاره استعمالولې شی او دا مفيد وی[5]

حافظ ابن حجر ليکلې دی چې مونږ سره يو پرهيزګار عالم وو ،د هغه نظر ختم شو نو هغه د مارچترئی د علاج په توګه استعمال کړو الله تعالی د هغه د سترګو نظر واپس راوستلو[6]

---

[1]) عمدة القاری ۸۸/۱۸)-
[2]) كتاب الاشربة باب فضل الكماة ومداومة العين بها ۱۶۳/۳)-
[3]) عمدة القاری ۸۹/۱۸)-
[4]) حواله بالا
[5]) عمدة القاری ۸۸/۱۸)-
[6]) فتح الباری ۹)-

٧- باب (وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا هَذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ نَغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ).(٥٨)

قوله: رَغَدًا وَاسِعٌ كَثِيرٌ: او كله چې مونږ اووئيل چې داخل شئ دې ښار ته او خوراک کوئی او په دې کښې د کوم ځائې نه چې مو خوښه وی په پراخئی سره ، او داخل شئی دروازې ته سجده کونکې او وايئ چې معاف کړه ،نو معاف به کړو مونږ ستاسو قصور، او زياتی به هم ورکړو نيکانو ته.

دا واقعه د وادی تيه د زمانې ده بنی اسرائيلو چې کله من او سلوی خوړل نو ستومانه شول او د خپل معمولی خوراک درخواست ئې اوکړو نو هغوی ته يو ښار ته د داخليدو حکم اوشو، بعضو وئيلې دی چې دغه ښار بيت المقدس وو او بعضو وئيلې دی چې د شام په ملک کښې اريحا ښار وو.[1]

[٤٢٠٩] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « قِيلَ لِبَنِي إِسْرَائِيلَ (ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ) فَدَخَلُوا يَزْحَفُونَ عَلَى أَسْتَاهِهِمْ، فَبَدَّلُوا وَقَالُوا حِطَّةٌ، حَبَّةٌ فِي شَعَرَةٍ».

د حديث باب تشريح: بنی اسرائيلو د الله د احکامو سره ټوقې اوکړې هغوی ته وئيلې شوی وو تاسو دروازې ته د سجدې په حالت کښې داخل شئی او «حطة» وايئ، «حطة» يا خو خبر دې او ددې مبتداء محذوف ده يعنی «شانك حطة» ستاسو شان د ګناهونو ساقط کونکې او معاف کونکې دې، د «حطيط» معنی ساقط کول راځی، او يا دا منصوب دې د مفعول مطلق کيدو په وجه ، يعنی «حط عنا ذنوبنا حطة» اې الله زمونږ ګناه ساقط کړه.

بنی اسرائيلو د سجدې په حالت کښې د داخليدو په ځائې کوناټې راښکونکې په زمکه باندې تليدو تليدو باندې داخل شو او د «حطة» وئيلو په ځائې ئې د ټوقو په ډول «حطة فی شعرة» (په ويختوکښې دانه ده) وئيل شروع کړل په بعضې کښې د «حبة» په ځائې د «حنطة» لفظ راغلې دې.[2]

٦- باب: قَوْلُهُ (مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ).(٩)

وَقَالَ عِكْرِمَةُ جَبْرَ، وَمِيكَ، وَسَرَافِ عَبْدٌ. إِيلْ اللَّهُ.

د جبرئيل او ميکائيل معنی: عکرمه فرمائی چې د جبر ،ميک او سراف معنی د عبد او بنده ده، او د ايل معنی ده الله، نو د جبرائيل ،ميکائيل او اسرافيل معنی شوه عبدالله.

---

[1] عمدة القاری ٨٩/١٨)-

[2] روح المعانی ٢٦٦/١)-

[۴۲۱۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُنِيرٍ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ بَكْرٍ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ أَنَسٍ قَالَ سَمِعَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلاَمٍ بِقُدُومِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ فِي أَرْضٍ يَخْتَرِفُ، فَأَتَى النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ إِنِّي سَائِلُكَ عَنْ ثَلاَثٍ لاَ يَعْلَمُهُنَّ إِلاَّ نَبِيٌّ فَمَا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ وَمَا أَوَّلُ طَعَامِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمَا يَنْزِعُ الْوَلَدُ إِلَى أَبِيهِ أَوْ إِلَى أُمِّهِ قَالَ «أَخْبَرَنِي بِهِنَّ جِبْرِيلُ آنِفًا». قَالَ جِبْرِيلُ قَالَ «نَعَمْ». قَالَ ذَاكَ عَدُوُّ الْيَهُودِ مِنَ الْمَلاَئِكَةِ. فَقَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ (مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ) أَمَّا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ فَنَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ، وَأَمَّا أَوَّلُ طَعَامِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوتٍ، وَإِذَا سَبَقَ مَاءُ الرَّجُلِ مَاءَ الْمَرْأَةِ نَزَعَ الْوَلَدَ، وَإِذَا سَبَقَ مَاءُ الْمَرْأَةِ نَزَعَتْ». قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ. يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الْيَهُودَ قَوْمٌ بُهُتٌ، وَإِنَّهُمْ إِنْ يَعْلَمُوا بِإِسْلاَمِي قَبْلَ أَنْ تَسْأَلَهُمْ يَبْهَتُونِي. فَجَاءَتِ الْيَهُودُ فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «أَيُّ رَجُلٍ عَبْدُ اللَّهِ فِيكُمْ». قَالُوا خَيْرُنَا وَابْنُ خَيْرِنَا، وَسَيِّدُنَا وَابْنُ سَيِّدِنَا. قَالَ «أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَسْلَمَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلاَمٍ». فَقَالُوا أَعَاذَهُ اللَّهُ مِنْ ذَلِكَ. فَخَرَجَ عَبْدُ اللَّهِ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ. فَقَالُوا شَرُّنَا وَابْنُ شَرِّنَا. وَانْتَقَصُوهُ. قَالَ فَهَذَا الَّذِي كُنْتُ أَخَافُ يَا رَسُولَ اللَّهِ.

۷- باب: قَوْلِهِ (مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا)

[۴۲۱۱] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ حَبِيبٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ - رضى الله عنه - أَقْرَؤُنَا أُبَيٌّ، وَأَقْضَانَا عَلِيٌّ، وَإِنَّا لَنَدَعُ مِنْ قَوْلِ أُبَيٍّ، وَذَاكَ أَنَّ أُبَيًّا يَقُولُ لاَ أَدَعُ شَيْئًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَقَدْ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى (مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا)

حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي چې مونږ کښې د ټولو نه اولنې قاري ابی ابن کعب دې او د ټولو نه لوئې قاضي او فيصله کونکې حضرت علي رضي الله عنه دې خو ددې باوجود مونږ د ابی ابن کعب يوه خبره پرېږدو او هغه نه منو او هغه دا چې ابی وائی چه ما د رسول الله نه اوريدلې دی څه په آيتونو کښې هيڅ يو آيت نه پرېږدم، حال دا چه الله سبحانه وتعالى فرمائيلې دی (ماننسخ من آية او ننسها) يعنی الله تعالى پخپله بعضې آياتونه منسوخ کړې دی، نو بيا د ابی ابن کعب دا وئيل چې زه هيڅ نه پرېږدم ، دهغه دا خبره مونږ نه منو.

د نسخ لغوی او اصطلاحی معنی : د نسخې معنی په لغت کښې زائل کول نقل کول او ليکل راځی وائی (نسخت الشمس الظل) يعنی نمر سيوری زائله کړو او وائی (نسخت الكتاب) ما کتاب اوليکلو په اصطلاح کښې د نسخ مختلف تعريفونه شوی دی.

① هو الخطاب الدال على ارتفاع الحكم الثابت بالخطاب المتقدم على وجه لولاه لكان ثابتا مع تراخيه عنه يعنی نسخ هغه خطاب ته وائی کوم چه په اولنی خطاب سره د ثابت شوی حکم ختميدو و باندې

دلالت كوى دغه شان دا دويم خطاب (كوم چې د اولنى حكم نه پس راغلې وو) نو د اولنى خطاب حكم به ثابت او برقرار وو.

② يو تعريف دا هم شوې دې (هو الخطاب الدال على ان مثل الحكم الثابت بالنص المتقدم زائل على وجه لولاه لكان ثابتا) ③ هو الخطاب الدال على ظهور انتفاء شرط دوام الحكم الاول)

④ الخطاب الدال على انتهاء امد الحكم الشرعى مع التاخر عن مورده

صاحب د كشف الاسرار دا څلور تعريفونه نقل كړې دى او ددې نه پس فرمائى چه دا ټول تعريفونه د ناسخ دى د نسخې نه دى، ددې نه پس هغوى د نسخې تعريفونه نقل كړې دى.

⑤ هو ازالة مثل الحكم الثابت بقول منقول عن الله تعالى او عن رسوله عليه السلام مع تراخيه عنه على وجه لولاه لكان ثابتا) ⑥ په متاخرينو كښې بعضې عالمانو دا تعريف كړې دې (انه عبارة عن الرفع الحكم الشرعى بدليل شرعى متاخر)[1]

د نسخ په مفهوم كښې د متقدمينو او متاخرينو په اصطلاحاتو كښې فرق: د متقدمينو په نيز د نسخ د اصطلاح دائره وسيع ده، يو حكم د بل حكم په ذريعه بيخى منسوخ كول يا د دويم حكم په ذريعه په وړاندېنى حكم كښې تخصيص كول، څه قيد يا شرط لګول. دا ټول په نسخ كښې داخل دى[2]

او د متاخرينو په نيز نسخ صرف د هغه تبديلۍ نوم دې كوم چې اولنې حكم بيخى منسوخ كړى. هم دا وجه ده چې د متقدمينو په نيز د قران په آياتونو كښې د نسخ شمار تقريبا پنځه سوره دې. او د متاخرينو په نيز تعداد كم دې، علامه سيوطى رحمه الله صرف شل آياتونه منسوخ ګرځولې دى[3]

او حضرت شاه ولى الله رحمه الله صرف پنځه اياتونه منسوخ ګرځولې دى[4]

د شريعت په احكامو كښې د نسخ كيدل څه عيب نه دې: د يهوديانو خيال دې چه د شريعت په احكامو كښې نسخ بيخى جائز نه ده. دوى وائى چه په اسمانى شريعتونو كښې د نسخ تسليمولو سره (بداء) لازميږى او بداء مستلزم ده جهل لره، او الله تعالى د جهل نه پاک او منزه دې بداء وائى (حدوث رائ لم يكن) يعنى اول نه هغه رائې نه وه روستو هغه رائې قائمه كړې شى،

[1]) انظر كشف الاسرار (۱۵۵،۱۵۶/۳) و شرح الكوكب المنير(۵۲۶) والاعتبار للحازمى(۸)-

[2]) قال الزركشى فى البرهان (۳۳/۲) اعلم ان سورة القران تنقسم بحسب ما دخله النسخ وما لم يدخل الى اقسام احدها ما ليس فيه ناسخ ولا منسوخ وهى ثلاث واربعون سورة الثانى ما فيه ناسخ وليس فيه منسوخ وهى ست سور، الثالث: ما فيه منسوخ وليس فيه ناسخ : وهى اربعون : الرابع ما اجتمع فيه ناسخ والمنسوخ وهى احدى وثلاثون سورة)-

[3]) الاتقان ۳۰/۲)-

[4]) الفوز الكبير(۴۰)-

ددي نه معلوميږي چه د اول د رائې علم نه وو، روسته د هغې علم حاصل شو او دا جهالت لره مستلزم دي،(١)

خو د اسلام د امامانو په نيز نسخ بالاجماع په احكام سماويه كښې جائز ده.فخر الاسلام بزدوي رحمه الله ليكي: (والنسخ في احكام الشرع جائز صحيح عند المسلمين اجمع)(٢)

باقي د يهوديانو دا وينا چه نسخ جهالت لره مستلزم ده ،بيخي غلطه ده ځكه چې يو حكم منسوخ كول او د هغې په ځائې بل حكم نافذ كول دا مطلب نه دې چې د دويم حكم دوراندې نه علم نه وو، او اوس د هغې علم حاصل شو، بلكه يو حكم د يو خاصې مودې پورې د څه خاص زماني د پاره د څه خاص مصلحت په بنياد باندې مفيد وو، هم د هغه مودې پورې هغه برقرار پاتې كړې شو ددغه مودې نه پس د مصلحت په تقاضا سره هغه حكم منسوخ كړې شو او بل حكم جاري كړې شو ددې مثال ټيک هم داسې دې چې يو حكيم يا ډاكټر د مريض موجوده حالات اوګوري او يوه دوائي ورته وركړې هغه ته معلومه وي چه دوه ورځې ددې دوائي استعمال سره به د مريض په حالت كښې فرق راشي او بيا به بله دوئي خودل وي، دا هر څه پيژندي او هغه په اوله ورځ يوه دوائي تجويز كړي كومه چه د دغه ورځې مناسب وي ،او دوه ورځې پس د حالاتو په بدليدو باندې دويمه دوائي تجويز كړي (٣)

په مسلمانانو كښې ابو مسلم اصفهاني ته دا قول منسوب دې چې په قران او احكام الهية كښې د نسخ امكان خو شته خو په ټول قران كښې د نسخې وقوع چرته نه ده شوې (٤)خو د اهل سنت عالمانو د دوي په دې قول باندې انكار كړې دې او دا ئې نه دې تسليم كړې .علامه قرطبي رحمه الله ليكي:

معرفة هذا الباب اكيدة وفائدته عظيمة لا تستغنى عن معرفته العلماء ولا ينكره الا الجهلة الاغبياء(٥)

د نسخ قسمونه :د نسخ څلور قسمونه دي:

①نسخ القران بالقران ②نسخ السنة بالسنة ③نسخ القرآن بالسنة ④نسخ السنة بالقران

بيا د نسخ القران بالقران درې صورتونه دي:(الف)اولنې صورت دادې چه تلاوت او حكم دواړه منسوخ وي د حضرت عائشې رضي الله عنها روايت دې (كان فيما انزل عشر رضعات معلومات فنسخن بخمس

---

١) الاتقان في علوم القران ٢٧/٢) وفي شرح الكوكب ٥٣٦: قال ابن الزاغوني : البداء هو ان يريد شئيا دائما هم ينتقل عن الدوام لامر حادث لا يعلم سابقا)-

٢) اصول فخر الاسلام على هامش الاسرار(١٥٧/٣)-

٣) وفي اصول فخر الاسلام البزدوي (١٥٦/٣١) وهو في حق صاحب الشرع محض لمدة الحكم المطلق الذى كان معلوما عند الله تعالى الا انه اطلقه فصار ظاهرة البقاء في حق البشر مكان تبديلا في حقنا بيانا محضا في حق صاحب الشرع)-

٤) روح المعاني ٣٥٢/١)-

٥) تفسير قرطبي ٥٥/١)-

معلومات فتوفی رسول الله ﷺ وهن مما یقرأ من القرآن)[1]
یعنی په ابتدا کښې په لس رضعاتو حرمت رضاعت د ثبوت حکم وو بیا په پنځو رضعاتو سره ددې د ثبوت حکم اوشو ،حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چې د رسول الله ﷺ وفات ته نژدې پورې د هغې تلاوت کیدلو. خو اوس د لسو او پینځو رضعاتو حکم او تلاوت دواړه منسوخ دې ،د قران کریم ایت (وامهاتکم الاتی ارضعنکم)[2] سره.
(ب) دویم صورت دا چې حکم خو باقی وی خو تلاوت منسوخ شی لکه درجم په باره کښې دا ایت منسوخ التلاوة دې خو حکم ئې باقې دې (الشیخ والشیخوخة اذا زنیا فارجموهما البته نکالا من الله والله عزیز حکیم)[3]
(ج) دریم صورت دادې چې تلاوت باقی وی او حکم منسوخ شی لکه (وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ)[4] د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما او نورو عالمانو رائې ددې ایت په باره کښې دا ده چې ددې حکم منسوخ شوې دې البته ددې تلاوت باقې دې.ددې ایت د پاره ناسخ یو بل آیت دې (فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ) البته بعضې حضراتو دا ایت منسوخ نه دې منلې ،وائی چې (یطیقونه) د (لا یطیقونه) په معنی کښې دې[5]
دغه شان د متوفی عنها زوجها د عدت موده په یو روایت کښې یو کال بیان شوې ده.(وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ مَتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ)[6] خو بل ایت دا حکم منسوخ کړو او د عدت موده ئې څلور میاشتې او لس ورځې بیان کړې(وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا)[7]
② دویم قسم دې(نسخ السنة بالسنة)بیا ددې څلور قسمونه دی.
(الف) نسخ المتواتر بالمتواتر: یعنی د یو متواتر حدیث حکم په بل حدیث متواتر باندې منسوخ کول .دا په اتفاق سره جائز دی.
(ب) نسخ الاحاد بالمتواتر: دا هم بالاتفاق جائز دې[8]

---

[1] الاتقان فی علوم القران ۲۸/۲-
[2] النساء ۲۳-
[3] الاتقان فی علوم القران ۳۲/۲-
[4] البقرة ۲۴۰-
[5] روح المعانی ۸۳/۲)فی علوم القران ۲۹۰/۲-
[6] البقیرة ۲۳۴-
[7] حواله بالا
[8] یرقم مولانا عبدالحق بعد ذکر اقسام الثلاثة (تلک الاقسام جائزة بالاتفاق) النامی شرح الحسامی(۱۸۳)-

(د) نسخ المتواتر بالاحاد: په دې کښې اختلاف دې بعضې اهل ظاهر ددې د جواز قائل دی خو د جمهورو په نیز دا جائز نه دی

③ د نسخ دریم قسم (نسخ القران بالسنة): د احنافو په نیز دا جائز ده ،د جمهورو فقهاؤ او اکثرو متکلمینو هم دا مذهب دې،د امام شافعی اکثرو محدثینو او امام احمد بن حنبل په نیز دا صورت جائز نه دې[1]
دا حضرات وائی چې سنت د قران شرح او تفسیر دې ،دا د قران د پاره څنګه ناسخ کیدې شی.
دویمه دا چې د ناسخ د پاره ضروری ده چه هغه د منسوخ سره کم ازکم برابر وی او ښکاره ده چه سنت د قران برابر نه دې

دریمه خبره دا ده چې په قران مجید کښې فرمائیلې شوی دی (قُلْ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنْ أُبَدِّلَهُ مِن تِلْقَآءِ نَفْسِيٓ) که تاسو سنت د قران د پاره ناسخ تسلیم کړئی نو ددې معنی به داسې شی چې نبی ﷺ د خپل طرف نه تبدیلی کوی،او ددې ایت په رڼا کښې دا جائز نه ده
دغه شان دا حضرات د دارقطنی ددې روایت نه دا استدلال (کلامی لاینسخ کلام الله، وکلام الله ینسخ کلامی، کلام الله ینسخ بعضه بعضا)[2]

ددې مفهوم د یو بل حدیث نه هم دا حضرات استدلال کوی ،روایت دې (اذا روی لکم عنی حدیث فاعرضوه علی کتاب الله تعالی فان وافق الکتاب فاقبلوه والا فردوه)[3]
احناف حضرات فرمائی چې په قران کښې د رسول الله ﷺ په باره کښې فرمائیلې شوی دی (وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ۝)[4] ددې نه ښکاره معلومیږی چې د شریعت یو حکم کله نبی ﷺ بیانوی نو نبی ﷺ هغه د خپل طرف نه نه بیانوی ،هغه په حقیقت کښې د الله تعالی د طرف نه وی نو د وحی غیر متلو په ذریعه د قران یو حکم منسوخ کیدې
ترکومې چې د ایت کریمه نه د استدلال خبره ده ددې جواب دادې چې ددې ایت په رڼا کښې سنت د قران د پاره په هغه وخت کښې ناسخ نشی کیدې شی کله چې نبی ﷺ د خپل طرف نه څه تبدیلی اوکړی د ایت کریمه معنی دا ده چې نبی ﷺ په خپل اختیار سره د قران مجید په څه حکم کښې څه تبدیلی نشی کولې،خو که دوی ته وحی غیر متلو راشی او د نبی ﷺ د اختیار په هغې کښې څه دخل نه وی نو بیا د ایت په رڼا کښې د حدیث ناسخ جوړولو کښې څه اشکال کیدې شی[5]

---

[1]) کشف الاسرار علی اصول فخر الاسلام (۱۷۷/۳) باب تقسیم الناسخ)-
[2]) انظر الکامل فی ضعفاء الرجال (۱۸/۲)-
[3]) اصول فخر الاسلام البزدوی علی هامش الکشف (۱۷۷/۳)-
[4]) النجم (۳-۴)-
[5]) قال الزرکشی فی البرهان (۳۱/۲)السنة اذا کان من امر الله من طریق الوحی نسخت وان کان بالاجتهاد فلا تنسخه، حکاه ابن احبیب النیسابوری فی تفسیره)-

باقي د دار قطني په کوم روايت سره کوم استدلال شوې دې دا روايت بعضو حضراتو موضوع بعضو منکر او بعضو ډير ضعيف گرځولي دې، ددې وجې په هغې باندې استدلال نشي کولې[1] دغه شان په استدلال کښې چې هغوی کوم دويم حديث پيش کړې وو عالمانو دا ضعيف گرځولې دې هغه قابل استدلال او قابل اعتبار نه دې

احناف حضرات فرمائی چه په قران شريف کښې فرمائيلې شوې دی ﴿لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنۢ بَعْدُ﴾ او حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی ما قبض رسول الله حتى اباح الله تعالى له من النساء ما شاء) معلومه شوه چې وحی غير متلو د سنت په ذريعه د قران دغه حکم منسوخ او گرځولې شو[2]

④ څلورم قسم (نسخ السنة بالقران) دې دا د احنافو په نيز جائز دې البته د امام شافعی رحمه الله په نيز دا صورت هم جائز نه دې

احناف وائی چې په ابتدا کښې رسول کريم ﷺ بيت المقدس طرف ته متوجه مونځ کولو، نو د بيت المقدس طرف ته دا توجه په سنت سره ثابت شو، خو قران دا منسوخ کړه او ايت نازل شو ﴿فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ دې ايت د سنت حکم منسوخ کړو[3]

۱۰- باب: وَقَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ

[۴۲۱۲] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضى الله عنهما- عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «قَالَ اللَّهُ كَذَّبَنِي ابْنُ آدَمَ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذَلِكَ، وَشَتَمَنِي وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذَلِكَ، فَأَمَّا تَكْذِيبُهُ إِيَّايَ فَزَعَمَ أَنِّي لَا أَقْدِرُ أَنْ أُعِيدَهُ كَمَا كَانَ، وَأَمَّا شَتْمُهُ إِيَّايَ فَقَوْلُهُ لِي وَلَدٌ، فَسُبْحَانِي أَنْ أَتَّخِذَ صَاحِبَةً أَوْ وَلَدًا».

دا ايت د هغه يهوديانو او نصاری او مشرکانو په باره کښې نازل شوې دې څوک چې دالله تعالى د پاره د ځوئی يا د لور قائل وو.

۱۱- باب: وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى

د مقام ابراهيم نه څه مراد دې؟: د مقام ابراهيم په تفسير کښې مختلف اقوال دی. بعضې

---

[1]) الكامل فى ضعفاء الرجال لابن عدى ۱۴۰/۲)رقم الترجمة ۳۶۸/۷۳) ميزان الاعتدال ۳۸۸/۱)رقم الترجمة ۱۴۳۵)-

[2]) اصول فخر الاسلام البزدوى ۱۸۲/۳) ولكن ضعف صاحب كشف الاسرار هو يقول انْ ناسخ لاية المذكورة (انا احللنا لك ازواجك الاتى اتيت اجورهن .فهذا نسخ القران بالقران. لا يصح االستدلال نسخ القران بالسنة بهذا. كشف الاسرار ۸۳/۳)-

[3]) اخرجه البخارى فى كتاب التفسير باب: وقالو اتخذ الله سبخانه. رقم الحديث ۴۲۱۲. والحديث من افراده قاله العينى فى العمدة ۹۱/۱۸)-

وائی چې ټول حرم مقام ابراهیم دې، څوک وائی چې مشاهد حج، خو مشهوره دا ده چې ددې نه مراد هغه کاڼړې دې په کوم باندې چې حضرت ابراهیم علیه السلام ولاړ وواو کعبه ئې جوړه کړې وه او کوم چې تر اوسه پورې موجود دې[1]

قوله: مثابة [۱۲۵] يثوبون يرجعون: ﴿وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِلنَّاسِ﴾ مَثَابَةً وائی «الموضع الذی يرجع اليه مرة بعد اخرى» یعنی هغه ځائې کوم طرف ته چې بار بار واپس کیدل کولې شی، د «ثاب، يثوب» معنی ده ،واپس کیدل، د ایت ترجمه ده «مونږ بیت الله د خلقو د پاره بار بار د راتلو ځائې جوړ کړې دې»

[۴۲۱۳] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ وَافَقْتُ اللَّهَ فِي ثَلَاثٍ- أَوْ وَافَقَنِي رَبِّي فِي ثَلَاثٍ- قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَوِ اتَّخَذْتَ مَقَامَ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ يَدْخُلُ عَلَيْكَ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ، فَلَوْ أَمَرْتَ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ بِالْحِجَابِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ الْحِجَابِ قَالَ وَبَلَغَنِي مُعَاتَبَةُ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - بَعْضَ نِسَائِهِ، فَدَخَلْتُ عَلَيْهِنَّ قُلْتُ إِنِ انْتَهَيْتُنَّ أَوْ لَيُبَدِّلَنَّ اللَّهُ رَسُولَهُ - صلى الله عليه وسلم - خَيْرًا مِنْكُنَّ. حَتَّى أَتَيْتُ إِحْدَى نِسَائِهِ، قَالَتْ يَا عُمَرُ، أَمَا فِي رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَا يَعِظُ نِسَاءَهُ حَتَّى تَعِظَهُنَّ أَنْتَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ (عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ مُسْلِمَاتٍ وَقَالَ ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ سَمِعْتُ أَنَسًا عَنْ عُمَرَ.

قوله: إِحْدَى نِسَائِهِ: د بعضې «نسائه» مصداق حضرت زینب بنت جحش رضی الله عنها ده، د «احدی نسائه» مصداق حضرت ام سلمه رضی الله عنها ده[2]

۱۲: باب:- باب قَوْلُهُ تَعَالَى (وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ).(۱۰)

قوله: الْقَوَاعِدُ أَسَاسُهُ، وَاحِدَتُهَا قَاعِدَةٌ، وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ وَاحِدُهَا قَاعِدٌ:

قواعد د بنیاد په معنی کښې استعمالیږی په دغه وخت ددې مفرد قاعده راځی او قواعد د هغه ښځو د پاره هم استعمالیږی کومې چې د حیض وغیره په وجه ناستې وی په دغه وخت کښې ددې مفرد «قاعد» راځی لکه څنګه چې په سورة نور کښې دی «وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ الّٰتِیْ لَا یَرْجُوْنَ نِکَاحًا»

---

[1]) تصريحه من هذا الحديث(حتى اذا اتينا البيت معه استلم الركن فرمل ثلاثا ومشى اربعا ثم تقدم الى مقام ابراهيم، وقرا(واتخذوا من مقام ابراهيم مصلى) صحيح مسلم كتاب الحج باب حجة النبى صلى الله عليه وسلم ۳۹٤/۱) علم ان مقام ابراهيم ليس كل الحرم)-

[2]) عمدة القارى ۹۲/۸)-

[۴۲۱۴] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ أَخْبَرَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها - زَوْجِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ قَوْمَكِ بَنَوُا الْكَعْبَةَ وَاقْتَصَرُوا عَنْ قَوَاعِدِ إِبْرَاهِيمَ». فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلاَ تَرُدُّهَا عَلَى قَوَاعِدِ إِبْرَاهِيمَ قَالَ «لَوْلاَ حِدْثَانُ قَوْمِكِ بِالْكُفْرِ».

فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ لَئِنْ كَانَتْ عَائِشَةُ سَمِعَتْ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَا أُرَى رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - تَرَكَ اسْتِلاَمَ الرُّكْنَيْنِ اللَّذَيْنِ يَلِيَانِ الْحِجْرَ، إِلاَّ أَنَّ الْبَيْتَ لَمْ يُتَمَّمْ عَلَى قَوَاعِدِ إِبْرَاهِيمَ.

نبی علیہ السلام حضرت عائشه رضی الله عنها ته اوفرمائیل: ولې تا نه دی کتلي چې ستا قوم قریشو د کعبې تعمیر کړې دې، او د حضرت ابراهیم علیہ السلام د بنیادونو نه ئې دا اباديې ورکوتي کړې دې، حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چې ما رسول اکرم ﷺ ته عرض اوکړو چې یا رسول الله: تاسو دا د حضرت ابراهیم علیہ السلام په بنیادونو باندې ولې دوباره نه جوړوئی، نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل «لولا حدثان قومك بالكفر» یعنی که ستا قوم د کفر نه اوس نوې نه وی راوتلي نو ما به دا د حضرت ابراهیم علیہ السلام په بنیادونو باندې جوړ کړې وو، مطلب دا دې چې قریش اوس اوس مسلمانان شوی دی، او ددوی د کفر د زمانې سره اوس تعلق ختم شوکه د کعبې موجوده ابادې بدل کړو، او د حضرت ابراهیم علیہ السلام په بنیادونو باندې دا اباد کړې شی نو په دې سره د دوی په ذهنونو کښې شکوک او شبهات پیدا شی.

حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی که عائشې رضی الله عنها دا خبره د رسول الله ﷺ نه اوریدلې وی (او یقینی چې اوریدلې به وی) نو څه دا ګنړم چې ددې وجې نه د حجر یعنی د حطیم سره متصل د رکنینو عراقیینو استیلام پریخودې دې، حطیم سره متصل چې د عراق او شام طرف ته د کعبې دیوالونو سرد د کوم ګوټونه دی دهغې استیلام نبی کریم ﷺ نه کولو څکه چې دا دواړه ګوټونه د حضرت ابراهیم علیہ السلام د جوړ کړې آبادئ د ګوټونو په ځائې باندې نه دی او بل طرف ته د رکن یمانی او حجر اسود استیلام به ئې کولو څکه چې د حضرت ابراهیم علیہ السلام د آبادئ مطابق وو. د ابراهیم علیہ السلام په آبادئ کښې حطیم په کعبه کښې داخل وو، قریشو د حلال مال د کمی په وجه د خانه کعبې تعمیر مختصر کړو او حطیم ئې د خانه کعبې نه بهر کړو.

۱۳ - باب: قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا

[۴۲۱۵] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ كَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَقْرَءُونَ التَّوْرَاةَ بِالْعِبْرَانِيَّةِ، وَيُفَسِّرُونَهَا بِالْعَرَبِيَّةِ لأَهْلِ الإِسْلاَمِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «لاَ تُصَدِّقُوا أَهْلَ الْكِتَابِ وَلاَ تُكَذِّبُوهُمْ، وَقُولُوا (آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ) الآيَةَ».

امام بخاري هم دا حديث هم په دې سند سره او متن سره په کتاب الاعتصام او کتاب التوحيد کښې تخريج کړې دې[١]

اهل کتابو به تورات په عبراني ژبه کښې لوستلو او په عربي ژبه کښې به ئې د هغې تفسير کولو، رسول الله اوفرمائيل تاسو مه ددوی تصديق کوئی او مه ددوی تکذيب کوئی، ځکه چې معلومه نه ده چې هغوی په عربي کښې صحيح تفسير کوی او که نه، کيدې شی چې غلط تفسير اوکړی او تاسو ئې تصديق اوکړئی نو غير کلام به په کلام الله اومنئی، او ممکن ده چې هغوی صحيح تفسير اوکړی او تاسو ئې تکذيب اوکړئ نو د کلام الله تکذيب به لازم شی ،ددې وجې تاسو وائې (امنا بالله وما انزل الينا)

١٤ - باب: قوله تعالى: (سَيَقُولُ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلَّاهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا قُلْ لِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ) [١٤٢]

اوس به بې وقوف خلق خامخا وائی چې مسلمانان څه څيز واړولو د دې قبلې نه (يعنی بيت المقدس) په کوم چې دوی وو، تاسو ورته اوفرمائې چې مشرق او مغرب ټول هم د الله په ملک کښې دې هغه چې څوک غواړی نيغه لار ورته ښائی.

قوله: السُّفَهَاءُ: السفهاء د(سفيه) جمع ده، ددې معنی ده کم عقل، بيوقوف

د سفهاء نه څوک مراد دی؟: د(من الناس) نه يهود مراد دی، ځکه چې د قبلې په تحويل باندې د ټولو نه زيات هغوی هنګامه جوړه کړې وه او د يهوديانو خيال وو چې د بيت المقدس قبله کله هم منسوخ کيدې نشی، د بعضو په نيز منافقان مراد دی، ځکه چې هغوی به هميشه د پاره په مسلمانانو باندې د اعتراضونه کولو په فکر کښې وو، او بعضې مبصرينو ددې مصداق مشرکان ګرځولی دی ځکه چې د قبلې په تحويل باندې هغوی ونيلې وو چه د محمد ﷺ عجيبه معامله ده چې خپل د مور پلار قبله يعنی د ابراهيم او اسماعيل (عليهما السلام) قبله بيت الله ئې پرخودې ده، او بيا هم دې خپلې د مور پلار قبلې ته دوباره راواړيلو، ددې نه معلوميږی چه زر ده ،چې دې به د خپل مور پلار دين ته هم راواوړی.

[٤٢١٦] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ سَمِعَ زُهَيْرًا عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- صَلَّى إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ سِتَّةَ عَشَرَ شَهْرًا أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا، وَكَانَ يُعْجِبُهُ أَنْ تَكُونَ قِبْلَتُهُ قِبَلَ الْبَيْتِ، وَإِنَّهُ صَلَّى -أَوْ صَلَّاهَا- صَلَاةَ الْعَصْرِ، وَصَلَّى مَعَهُ قَوْمٌ، فَخَرَجَ رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ صَلَّى مَعَهُ، فَمَرَّ عَلَى أَهْلِ الْمَسْجِدِ وَهُمْ رَاكِعُونَ قَالَ أَشْهَدُ بِاللَّهِ لَقَدْ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قِبَلَ مَكَّةَ، فَدَارُوا كَمَا هُمْ قِبَلَ الْبَيْتِ، وَكَانَ

[١] عمدة القارى ١٨/٩٥) واخرجه النسائى فى التفسير ايضا عن محمد بن المثنى عمدة القارى ١٨/٩٤٩)-

الَّذِی مَاتَ عَلَی الْقِبْلَةِ قَبْلَ أَنْ تُحَوَّلَ قِبَلَ الْبَیْتِ رِجَالٌ قُتِلُوا لَمْ نَدْرِ مَا نَقُولُ فِیهِمْ، فَأَنْزَلَ اللّٰهُ (وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ)

١٥٠-باب: قوله تعالی: وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا

[۴۲۱۷] حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ رَاشِدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ وَأَبُو أُسَامَةَ - وَاللَّفْظُ لِجَرِيرٍ - عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ وَقَالَ أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صلی الله علیه وسلم - «يُدْعَى نُوحٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ يَا رَبِّ. فَيَقُولُ هَلْ بَلَّغْتَ فَيَقُولُ نَعَمْ. فَيُقَالُ لِأُمَّتِهِ هَلْ بَلَّغَكُمْ فَيَقُولُونَ مَا أَتَانَا مِنْ نَذِيرٍ. فَيَقُولُ مَنْ يَشْهَدُ لَكَ فَيَقُولُ مُحَمَّدٌ وَأُمَّتُهُ. فَتَشْهَدُونَ أَنَّهُ قَدْ بَلَّغَ». (وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا) فَذَلِكَ قَوْلُهُ جَلَّ ذِكْرُهُ (وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا) وَالْوَسَطُ الْعَدْلُ.

د یوسف بن راشد دلته دوه استاذان دی جریر او اسامه، په حدیث کښې د جریر الفاظ نقل کړې شوې دی او جریر د ابوصالح نه په (عن) سره نقل کړې دې، او اسامه په (حدثنا ابوصالح) سره روایت نقل کړې دې د ابوصالح نوم ذکوان دې (١)

په روایت کښې دی چې د حضرت نوح علیه السلام قوم به انکار اوکړی او اوبه وائی چې مونږ ته څوک ویرونکې نه وو راغلې .د حضرت محمد ﷺ امت به د حضرت نوح علیه السلام په حق کښې ګواهی ورکړی چې دوی خپل قوم ته د الله تعالی پیغام رسولې وو.او نبی ﷺ به په خپل قوم ګواه وی چې دې خلقو ربښتینې ګواهی ورکړه.(وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا) هم دا مطلب دې.

بعضې حضراتو ددې آیت نه د نبی کریم ﷺ په حاضرناضر باندې استدلال کړې دې، خو ددې استدلال ضعف ښکاره واضح دې چې د نبی ﷺ او ددوی د امت دا ګواهی د وحی الهی په بنیاد باندې ده .الله تعالی د وحی په ذریعه نبی ﷺ او د نبی ﷺ ته خودلې ده چې حضرت نوح علیه السلام تبلیغ کړې وو.په دې بنیاد باندې به ذا ګواهی ورکولې شی.

که ددې څوک د نبی ﷺ په حاضر ناضر باندې استدلال کوی نو بیا صرف نبی ﷺ حاضر ناضر نه دې بلکه پکار ده چې ټول امت حاضر ناضر تسلیم کړې شی.

---

(١) عمدة القاری ١٨/٩٥)-

۱۶-باب: قوله تعالی: (وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّنْ يَنْقَلِبُ عَلَى عَقِبَيْهِ وَإِنْ كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ) ‹۱۴۳›

[۴۲۱۸] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی الله عنهما بَيْنَا النَّاسُ يُصَلُّونَ الصُّبْحَ فِي مَسْجِدِ قُبَاءٍ إِذْ جَاءَ جَاءٍ فَقَالَ أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم قُرْآنًا أَنْ يَسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ فَاسْتَقْبِلُوهَا. فَتَوَجَّهُوا إِلَى الْكَعْبَةِ

امام بخاری ددې ایت نه واخله تر ایت کریمه ‹وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ› پورې ایاتونو باندې جدا جدا تراجم قائم کړې دی او ددې لاندې ئې هم دغه د قبلې د تحویل روایت د حضرت ابن عمر، د حضرت ابراءابن عازب او حضرت انس رضی الله عنه نه نقل کړې دی په دې کښې دې طرف ته اشاره ده چې ددې ټولو ایاتونو تعلق قبلې سره دې او د ټولو شان نزول یو دې. د تحویل قبلې سره متعلق بحث په کتاب الصلاة ‹باب ما جاء فی القبلة› لاندې تیر شوې دې.

۱۷-باب: قوله تعالی: قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ) إِلَى (عَمَّا تَعْمَلُونَ)

[۴۲۱۹] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَنَسٍ - رضی الله عنه - قَالَ لَمْ يَبْقَ مِمَّنْ صَلَّى الْقِبْلَتَيْنِ غَيْرِي.

د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې چې په هغه صحابو کښې چا چې دواړو قبلو ته مونځ کړې وو څما نه سوا بل څوک باقی پاتې نه دی، مطلب دادې چې په مهاجرینو او انصارو کښې اوس په بصره کښې صرف څه باقی یم، نور ټول وفات شوی، د حضرت انس رضی الله عنه عمر د سلو کالو نه زیات وو او په کال ۹۰ یا ۹۱ هجرئی کښې دوی وفات شوی وو.

۱۸. باب: قوله تعالی: وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ مَا تَبِعُوا قِبْلَتَكَ) إِلَى قَوْلِهِ (إِنَّكَ إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ) ‹۱۴۵›

[۴۲۲۰] حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضی الله عنهما - بَيْنَمَا النَّاسُ فِي الصُّبْحِ بِقُبَاءٍ جَاءَهُمْ رَجُلٌ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - قَدْ أُنْزِلَ عَلَيْهِ اللَّيْلَةَ قُرْآنٌ ، وَأُمِرَ أَنْ يَسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ أَلَا فَاسْتَقْبِلُوهَا . وَكَانَ وَجْهُ النَّاسِ إِلَى الشَّأْمِ فَاسْتَدَارُوا بِوُجُوهِهِمْ إِلَى الْكَعْبَةِ.

۱۹. باب قوله تعالى: الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ وَإِنَّ فَرِيقًا مِنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ) إِلَى قَوْلِهِ (مِنَ الْمُمْتَرِينَ) [۱۴۶، ۱۴۷]

[۴۲۲۱] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ بَيْنَا النَّاسُ بِقُبَاءٍ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ إِذْ جَاءَهُمْ آتٍ فَقَالَ إِنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَدْ أُنْزِلَ عَلَيْهِ اللَّيْلَةَ قُرْآنٌ، وَقَدْ أُمِرَ أَنْ يَسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ فَاسْتَقْبِلُوهَا . وَكَانَتْ وُجُوهُهُمْ إِلَى الشَّأْمِ فَاسْتَدَارُوا إِلَى الْكَعْبَةِ.

۲۰- باب: وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ أَيْنَمَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعًا إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

[۴۲۲۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ حَدَّثَنِي أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ - رضى الله عنه - قَالَ صَلَّيْنَا مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ سِتَّةَ عَشَرَ - أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ - شَهْرًا، ثُمَّ صَرَفَهُ نَحْوَ الْقِبْلَةِ.

۲۰- باب: قوله تعالى: (وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ) [۱۴۹]

شَطْرُهُ تِلْقَاؤُهُ.

[۴۲۲۳] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ - رضى الله عنهما - يَقُولُ بَيْنَا النَّاسُ فِي الصُّبْحِ بِقُبَاءٍ إِذْ جَاءَهُمْ رَجُلٌ فَقَالَ أُنْزِلَ اللَّيْلَةَ قُرْآنٌ، فَأُمِرَ أَنْ يَسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ، فَاسْتَقْبِلُوهَا . وَاسْتَدَارُوا كَهَيْئَتِهِمْ، فَتَوَجَّهُوا إِلَى الْكَعْبَةِ وَكَانَ وَجْهُ النَّاسِ إِلَى الشَّأْمِ.

۲۱- باب: قوله تعالى: (وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُمَا كُنْتُمْ) إِلَى قَوْلِهِ (وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ)

[۴۲۲۴] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ بَيْنَمَا النَّاسُ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ بِقُبَاءٍ إِذْ جَاءَهُمْ آتٍ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَدْ أُنْزِلَ عَلَيْهِ اللَّيْلَةَ، وَقَدْ أُمِرَ أَنْ يَسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ، فَاسْتَقْبِلُوهَا . وَكَانَتْ وُجُوهُهُمْ إِلَى الشَّأْمِ فَاسْتَدَارُوا إِلَى الْقِبْلَةِ. الْكَعْبَةِ

٢٢. باب قوله تعالى: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ [١٥٨].

شَعَائِرُ عَلَامَاتٌ، وَاحِدَتُهَا شَعِيرَةٌ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الصَّفْوَانُ الْحَجَرُ. وَيُقَالُ الْحِجَارَةُ الْمُلْسُ الَّتِي لَا تُنْبِتُ شَيْئًا، وَالْوَاحِدَةُ صَفْوَانَةٌ بِمَعْنَى الصَّفَا، وَالصَّفَا لِلْجَمِيعِ. ٦/٢٨

د شعائر مفرد شعيرة دي زمونږ په هندوستاني نسخو كښې شعرة ليكلې دي،او د شعيرة معنى علامت راځي.

[٤٢٢٥] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَأَنَا يَوْمَئِذٍ حَدِيثُ السِّنِّ أَرَأَيْتِ قَوْلَ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا) فَمَا أَرَى عَلَى أَحَدٍ شَيْئًا أَنْ لَا يَطَّوَّفَ بِهِمَا. فَقَالَتْ عَائِشَةُ كَلَّا لَوْ كَانَتْ كَمَا تَقُولُ كَانَتْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ لَا يَطَّوَّفَ بِهِمَا، إِنَّمَا أُنْزِلَتْ هَذِهِ الآيَةُ فِي الأَنْصَارِ، كَانُوا يُهِلُّونَ لِمَنَاةَ، وَكَانَتْ مَنَاةُ حَذْوَ قُدَيْدٍ، وَكَانُوا يَتَحَرَّجُونَ أَنْ يَطُوفُوا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَلَمَّا جَاءَ الإِسْلَامُ سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ ذَلِكَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا

[٤٢٢٦] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَاصِمِ بْنِ سُلَيْمَانَ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ - رضي الله عنه - عَنِ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ. فَقَالَ كُنَّا نَرَى أَنَّهُمَا مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ، فَلَمَّا كَانَ الإِسْلَامُ أَمْسَكْنَا عَنْهُمَا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ) إِلَى قَوْلِهِ (أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا)

قوله: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ: دا روايت په كتاب الحج كښې تير شوې دې[١] حضرت عروه رضي الله عنه د حضرت عائشه رضي الله عنها نه ددې ايت په باره كښې تپوس اوكړو (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا) خضرت عروه رضي الله عنه اوفرمائيل څما خيال دې كه څوک د صفا او مروه طواف او ددې په مينځ كښې سعي اونكړي نو په ده باندې به څه ګناه نه وي ځكه چې په ايت كښې فرمائيلې شوي دي چه چا د صفا اومروه طواف اوكړو په هغه باندې څه ګناه نشته.رفع د جناح د اباحت دليل دې ځكه چې كوم څيز مباح وي د هغې په نه كولو كښې څه ګناه نه وي.

حضرت عائشه رضي الله عنها ورته ډير عجيبه جواب وركړو وې فرمائيل هرګز نه ، كه مسئله داسې وه لكه څنګه چه ته وائې نو (فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا) رفع د جناح په خپله دليل د اباحت نه وي

[١] صحيح البخارى كتاب الحج باب وجوب الصفاء والمروة (١/٢٢٢)-

كه يو كس د فعل تارک شي او دا اوونيلې شي چه په دې ترک باندې گناه نشته نو بيا اباحت ثابتيږي، خو كه د فاعل په باره كښې كه دا اوونيلې شي چه كوم كس دا فعل اوكړي په هغه باندې څه گناه نشته،ددې اباحت نه ثابتيږي مثلا اووائی،كوم كس چې د ماسخوتن مونځ اوكړي په هغه باندې گناه نشته په دې سره د ماسخوتن د مانځه اباحت نه ثابتيږي،مباح كيدل به هله ثابتيږي چه كله اوونيلی شی كوم كس چه د ماسخوتن مونځ اونكړي په هغه باندې گناه نشته.

حضرت عائشې رضي الله عنها اوفرمائيل چه د قران مجيد په ايت كښې په تارک سعی باندې د گناه نه نفی نه ده شوې،سعی كونكی ته ونيلی شي چه ده د پاره څه گناه نشته.

اوس سوال دا پيدا كيږي چه د سعی كونكی نه دگناه د نفی ضر ورت ولې پيښ شو؟ ددې جواب دا وركولې شي چه د انصارو يوه ډله وه،دا واقعه په اولنی روايت كښې بيان شوې ده،او بله ډله د قريشو وه، دا واقعه په دريم روايت كښې بيان شوې ده،د انصارو ډلې خلقو به د منات بت په نوم باندې احرام تړل او د صفا مروه سعی به ئې نه كوله بلكه دا به ئې گناه گڼله،كله چې اسلام راغلو او د حاجی او معتمر د پاره د صفا او مروه په مينځ كښې د سعی مسئله پيښه شوه نو اوفرمائيلې شو﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا﴾ په دې عنوان سره انصارو ته بيان شو چه د صفا او مروه په مينځ كښې سعی څه قباحت نه دې او نه په دې باندې د جاهليت د زمانې خيال كوئی چه د صفا اومروه سعی گناه ده ،دا غلطه ده.

بل طرف ته د قريشو معامله دا وه چه هغوی به په صفا او مروه باندې د كيخودې شوې بتانو د وجې سعی كوله كله چه اسلام هم د سعی حكم وركړو نو هغوی ته تنگی محسوس شوه چه دا خو زمونږ د جاهليت رسم وو. كوم چې به مونږ د بتانو د پاره كولو.اوس خو مونږ بت پرستی پرخودې ده نو آيا اوس به هم مونږ د جاهليت دا رسم برقرار ساتو.قران د ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا﴾ تعبير اختيار كړو او هغوی ته ئې اوونيل چه تنگی مه محسوسوئی. بهرحال د انصارو او قريشو ددې پس منظر په بنيادباندې قران دا اسلوب اختيار كړې دې. خو ددې نه د فعل اباحت نه لازميږي بلكه سعی بين الصفا والمروة واجب ده .

كه د يو كار د فعل اوترک طرفونه دواړه سره برابر وی نو هغه كار به مباح وی او كه د فعل طرف مطلوب وی او د ترک طرف غير مطلوب وی نو بيا به كتلې شی چه د فعل د طرف د مطلوبيت څه حيثيت لری؟كه هغه په دې اعتبار سره مطلوب وی چه اولی او افضل دې او طرف د ترک غير مطلوب دې،په دې معنی چه هغه خلاف اولی او افضل دې او طرف د ترک غير مطلوب دې،په دې معنی چه هغه خلاف اولی او ناخوښه دې نو په داسې صورت كښې به دفعل د طرف استحباب اوسنت ثابتيږي او كه د ترک طرف مكروه وی او د فعل طرف مطلوب وی په دې طريقه چه دهغې د كولو تاكيد هم وی او طرف د ترک غير مطلوب وی.

په دې طريقه چې په هغې باندې وعيد راغلې وی نو په داسې صورت كښې به د فعل طرف فرض يا واجب وی او طرف د ترک به حرام يا مكروه تحريمی وی.(١)

---

(١) توضيح تلويح (٣۶/١)-

د سعی بین الصفا والمروة هم دا نوعیت دې چه د فعل طرف مطلوب بالتاکید دې او د ترک طرف ممنوع دې،نو په دې باندې وعید راغلې دې.

قوله: قُدَیْد: د مدینې منورې نه مکې طرف ته د تلو په لاره کښې د یو ځائې نوم دې.

۲۴-باب: قوله تعالی: (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا) (۲۲)

أَضْدَادًا، وَاحِدُهَا نِدٌّ

[۴۲۲۷] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ شَقِيقٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- كَلِمَةً وَقُلْتُ أُخْرَى قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «مَنْ مَاتَ وَهْوَ يَدْعُو مِنْ دُونِ اللَّهِ نِدًّا دَخَلَ النَّارَ». وَقُلْتُ أَنَا مَنْ مَاتَ وَهْوَ لاَ يَدْعُو لِلَّهِ نِدًّا دَخَلَ الْجَنَّةَ. [ر: ۱۱۸۱]

نبی کریم ﷺ فرمائیلي دی(من مات وهو يدعو من دون الله ندا دخل النار) کوم کس چې د الله تعالی نه سوا بل څوک رابلي او د الله سره شرک کوی هغه به اور ته داخلیږی، حضرت عبدالله بن مسعود د نبی کریم ﷺ ددې حدیث نقل کولو نه پس دا جمله اوونیله (من مات وهو لا يدعو لله ندا دخل الجنة) (وهو لا يدعو لله ندا) د مسلمان کیدو نه کنایه ده،مطلب دادې چه کورونه بس دوه دی،یو جنت او یو دوزخ، شرک کونکې به دوزخ ته لیږلې شی.ددې نه دا خبره پخپله په پوهه کښې راځی،چه څوک مشرک نه وی او مسلمان اومومن وی هغه به جنت ته ځی.

۲۵.باب: قوله تعالی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ) إِلَى قَوْلِهِ (عَذَابٌ أَلِيمٌ) (۱۷۸)

عُفِيَ: [۱۷۸] ترک

په قصاص کې د نفس په بدله کې نفس دې د ازاد او غلام هیڅ تفریق په دې کې نشته: په دې ایت کښې د آزاد مقابله د ازاد سره او د غلام مقابله د غلام سره ده، ددې تقابل تقاضه دا ده که ازاد غلام لره قتل کړی نو دده نه به قصاص نشی اخستې او هم دا مذهب دې د امام مالک او امام شافعی (۱)

د احنافو مذهب دادې چه د نفس په بدله کښې دنفس اعتبار دې په قصاص کښې د ازادئی او غلامئ څه اعتبار نشته نو د غلام په بدله کښې به ازاد قتل کولې شی (۲)

ترکومې پورې چې د ایت کریمه تعلق دې په دې کښې صرف دومره خبره بیان شوې ده چه داز اد په مقابله کښې به ازاد او غلام په مقابله کښې به غلام قتل کولې شی،دغه شان د ښځې

(۱) احکام القران للجصاص (۱/۱۳۵)-
(۲) حواله بالا

په مقابله کښې به ښځه قتل کولې شي باقي دا چه غلام به ازاد په مقابله کښې قتل کولې شي يا آزاد به د غلام په مقابله کښې قتلولې شي که نه؟ ايتددې نه چپ دې.
بل طرف ته په سورة مائده کښې د نفس په مقابله کښې د نفس تصريح ده ﴿وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ﴾ .
دغه شان د نبي كريم ﷺ ارشاد دې «المسلمون تتكافأ دماؤهم»[1] چه د مسلمانانو وينه په خپل مينځ کښې برابر ده.
باقي په ذکر شوی ايت کريمه کښې ازادد ازاد او غلام د غلام په مقابله کښې راوړلې شوې دې. ددې وجې په حقيقت کښې ددې د شان نزول هغه واقعه ده کومه چې حافظ ابن کثير او علامه آلوسي رحمه الله په خپل تفسيرونو کښې بيان کړې ده.چه په جاهليت کښې د دوو قبيلو په مينځ کښې د وينې تويولو او قتل او قصاص مسئله راروانه وه،په دې کښې يوه قبيله دشان او شوکت خاونده وه، هغې وئيلې وو چې مونږ به د غلام په بدله کښې ازاد او د ښځې په بدله کښې سړې قتل کوو،کله چې اسلام راغلو نو دادوړه قبيلې د خپلې فيصلې د پاره د نبي كريم ﷺ په خدمت کښې حاضرې شوې نو الله تعالى دا ايت كريمه نازل کړو په دې کښې وئيلې شوى دى ،چې د ازاد په مقابله کښې به ازاد او غلام په مقابله کښې به غلام قتل کولې شي، د غلام په مقابله کښې خوک بې قصوره ازاد يا د ښځې په قصاص کښې خوک بې ګناه سړې قتل کول ټيک نه دى [2] د ايت دا مطلب نه دې که د ښځې قاتل سړې وى يا د غلام قاتل ازاد وى نو قاتل به نشي قتلولې، والله اعلم

[۴۲۲۸] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرٌو قَالَ سَمِعْتُ مُجَاهِدًا قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- يَقُولُ كَانَ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ الْقِصَاصُ، وَلَمْ تَكُنْ فِيهِمُ الدِّيَةُ فَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى لِهَذِهِ الأُمَّةِ (كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالأُنْثَى بِالأُنْثَى فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ) فَالْعَفْوُ أَنْ يَقْبَلَ الدِّيَةَ فِي الْعَمْدِ (فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ) يَتَّبِعُ بِالْمَعْرُوفِ وَيُؤَدِّي بِإِحْسَانٍ، (ذَلِكَ تَخْفِيفٌ مِنْ رَبِّكُمْ) وَرَحْمَةٌ مِمَّا كُتِبَ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ. (فَمَنِ اعْتَدَى بَعْدَ ذَلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ) قَتَلَ بَعْدَ قَبُولِ الدِّيَةِ.

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائى چې په بنى اسرائيلو کښې د قصاص حکم وو او ديت نه وو، او د حضرت عيسى (ع)په شريعت کښې د ديت حکم وو او د قصاص نه وو، الله تعالى ددې امت د پاره قصاص او ديت دواړه مشروع اوګرځول .په قتل عمد کښې قصاص او د قتل په نورو قسمونو کښې ديت، په ايت کريمه کښې د ﴿فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ﴾ مطلب دادې چې په قتل

---
[1]) حواله بالا
[2]) تفسير ابن كثير (۲۰۹/۱) وروح المعانى ۴۹/۲)-

عمد کښې قصاص معاف کړي او دیت قبول کړي (که د مقتول وارثان قصاص او دیت دواړه معاف کول اوغواړي نو دواړه معاف کیږي.

[۴۲۲۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيُّ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ أَنَّ أَنَسًا حَدَّثَهُمْ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «كِتَابُ اللَّهِ الْقِصَاصُ».

دا روایت ثلاثی دې ددې نه وړاندې پنځلس ثلاثی روایات تیر شوی دی.

[۴۲۳۰] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُنِيرٍ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ بَكْرٍ السَّهْمِيَّ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ الرُّبَيِّعَ عَمَّتَهُ كَسَرَتْ ثَنِيَّةَ جَارِيَةٍ، فَطَلَبُوا إِلَيْهَا الْعَفْوَ فَأَبَوْا، فَعَرَضُوا الأَرْشَ فَأَبَوْا، فَأَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَأَبَوْا إِلاَّ الْقِصَاصَ، فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِالْقِصَاصِ، فَقَالَ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَتُكْسَرُ ثَنِيَّةُ الرُّبَيِّعِ لاَ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لاَ تُكْسَرُ ثَنِيَّتُهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «يَا أَنَسُ كِتَابُ اللَّهِ الْقِصَاصُ» فَرَضِيَ الْقَوْمُ فَعَفَوْا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لأَبَرَّهُ».

د حضرت ربیع د یوې جینۍ د غاښ ماتولو واقعه: د حضرت انس ﷺ ترور (د پلار خور) ربیع د یوې جینۍ غاښ مات کړو خلقو ددغه جینۍ نه معافي اوغوښتله خو د جینۍ کسانو نه منله دیت ئې ورته پیش کړو نو ددیت اخستلو نه ئې انکار اوکړو رسول الله ﷺ ته راغلل او د قصاص مطالبه ئې اوکړه.نبی کریم ﷺ د قصاص حکم اوکړو په دې باندې د ربیع ورور حضرت انس بن النضر اوونیل ،یا رسول الله ﷺ آیا څما د خور ربیع غاښ به ماتولې شي نو په هغه ذات مې دې قسم وی چې ته ئې رالیږلې ،ددې غاښ به نشی ماتولی،انس ابن نضیر دالله په بهروسه باندې قسم اوکړو ،ددې مطلب دادې چې څما د الله په ذات باندې کامل یقین دې چې هغه به د غاښ ماتولو نوبت نه رواولی ،او هم دا اوشوه چې د جینۍ کسان په دیت باندې راضي شول او قصاص ئې معاف کړو، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل د الله داسې بندیګان دی که د الله په نوم باندې قسم اوکړی نو الله به د هغوی قسم پوره کړی.

امام مسلم په کتاب القسامة کښې د ثابت بن انس په طریقه سره دا روایت نقل کړې دې چه الفاظ یې دا دی (ان اخت الربیع ام حارثة جرحت انسانا فاختصموا الی النبی ﷺ فقال رسول الله: القصاص القصاص.فقالت ام الربیع :یا رسول الله ایقتص من فلانة؟ والله لا یقتص منها فقال النبی ﷺ سبحان الله،یا ام الربیع القصاص کتاب الله قالت: فقال لا والله لا یقتص منها ابدا(۱)قال فما زالت حتی قبلوا الدیة فقال رسول الله ان من عباد الله من لو اقسم علی الله لابره.

د روایاتو تعارض او دهغې حل: د امام بخاری په حدیث باب او د امام مسلم په ذکر شوی

---

(۱) واستشکل هذا الانکار منها مع ما سمعت من رسول الله ﷺ من الامر بالقصاص واجابوا عنه بوجوه احسنها عندی انه لم یکن اعتراضا علی الحکم وانما کان علی طریق الثقة بالله تعالی والتوکل علیه تکملة فتح الملهم ۲/۳۵۳)

روايت كښې په څو ځيزونو كښې تعارض دې.
①اولنې تعارض دادې چې د مسلم په روايت كښې جنايت كونكې د ربيع خور وه او د بخارى په روايت باب كښې جانى پخپله ربيع ده.
②دويم تعارض دادې چې د مسلم په روايت كښې قسم خوړونكې د ربيع مور ده او د بخارى په روايت كښې حالف حضرت انس بن النضر دې.
امام نووى فرمائيلى دى چه دا دواړه جدا جدا واقعات دى [1] نو د تعارض اشكال صحيح نه دې، د علامه عينى او د مسلم د شارح ابى رحمه الله ميلان هم دې طرف ته دې [2]
خو مولانا ظفر احمد عثمانى په اعلاء السنن كښې په دې خبره باندې جزم كړې دې چې داجدا جدا واقعات نه دى بلكه هم يوه واقعه ده [3]
په اصل كښې د امام مسلم د ذكر شوى روايت د راوى ته وهم شوې دې، اصل عبارت دادې (عن انس عن اخته الربيع جرحت انسانا) يعنى د انس خور ربيع يو انسان زخمى كړې وو په غلطى سره عبارت داسې شو (عن انس ان اخت الربيع جرحت انسانا) د ربيع خور يو سړې زخمې كړې وو ،كاتب (اخته الربيع) نه (اخت الربيع) جوړ كړې دې ددې وجې تعارض پيدا شوې دې [4]
باقى پاتې شو دويم تعارض چه د حالف د تعيين په باره كښې دمسلم په روايت كښې تصحيح طرف ته د حافظ ابن حجر ميلان معلوميږى [5]
بهرحال د نومونو د تعيين په باره كښې بعضې وخت د رواياتو نه يو قسم وهم واقع كيږى خو په دې سره د اصل حديث په ثبوت باندې څه اشكال نه راځى.

۲۶-باب: قوله تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (۱۸۳)

د ايت كريمه متعلق مفسرينو دا بحث كړې دې چه دلته كومه تشبيه وركړې شوې ده دا تشبيه په نفس صيام كښې ده، يا په موده د صيام كښې راجح او ظاهر هم دا ده چې دا تشبيه په نفس صيام كښې ده، د بعضې حضراتو رائې داده چې دا په مودې او مقدار كښې تشبيه ده.
د يوې مياشتې روژې لكه څنګه چې په دې امت باندې فرض شوې دى دغه شان په يهودو او نصارو باندې هم فرض كړې شوې وې. يهوديانو د ديرشو ورځو په ځائې په پوره كال كښې صرف يوه روژه نيول شروع كړله او نصارو دا زياتې كړې، پنځوس ورځې روژې ئې نيول شروع

---

[1] انظر شرح مسلم للنووى (۵۹/۲) صحيح مسلم (۵۹۱/۲) كتاب القسامة باب اثبات القصاص فى الاسنان وما فى معناها)-
[2] عمدة القارى ۲۰۳/۱۱) وشرح المسلم للابى ۴۱۷/۰۴)-
[3] اعلاء السنن ۱۱۰/۱۸)-
[4] تكملة فتح الملهم ۳۵۵/۲)-
[5] فتح البارى ۲۱۵/۱۲)-

کړل بیا کله چې په ګرمئ کښې د پنځوس روژو نیول ګران شو نو نصارو د روژو وخت بدل کړلو ،د ګرمئ په ځائې به ئې په معتدل موسم کښې روژې نیولې (١)

[۴۲۳۱] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ- رضى الله عنهما- قَالَ كَانَ عَاشُورَاءُ يَصُومُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ «مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ».

[۴۲۳۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها- كَانَ عَاشُورَاءُ يُصَامُ قَبْلَ رَمَضَانَ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ «مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ».

[۴۲۳۳] حَدَّثَنِي مَحْمُودٌ أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ دَخَلَ عَلَيْهِ الأَشْعَثُ وَهْوَ يَطْعَمُ فَقَالَ الْيَوْمُ عَاشُورَاءُ. فَقَالَ كَانَ يُصَامُ قَبْلَ أَنْ يَنْزِلَ رَمَضَانُ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ تُرِكَ، فَادْنُ فَكُلْ.

[۴۲۳۴] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم- يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ الْفَرِيضَةَ، وَتُرِكَ عَاشُورَاءُ، فَكَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ.

په دې سلسله کې د روایاتو تعارض او ددې حل: په ذکر شوې څلور واړه روایاتو کښې دا خبره بیان شوې ده چه د رمضان د فضیلت نه وړاندې د عاشورې یعنی د لسم محرم روژه به خلقونیوله کله چې رمضان راغلو نو د عاشورې روژه پریخودې شوه اوس اختیار دې که څوک غواړي نو نیسي دې او که څوک غواړي نو نه دې نیسي.

د رمضان د فرضیت نه مخکښې د عاشورې د ورځې د روژې حیثیت: په دې خبرو باندې خو د ټولو عالمانو اتفاق دې چه د عاشورې روژه اوس واجب نه ده خو په دې کښې اختلاف دې چه د رمضان نه وړاندې د عاشورې روژه فرض وه که مستحب؟د شوافعو نه خو په دې باره کښې دوه روایتونه راغلي دی خو د هغوی مشهور روایت دادې چه د عاشورې روژه فرض نه ده احناف وائی چې د رمضان نه وړاندې د عاشورې روژه فرض وه.(٢)

د احادیثو نه د احنافو تائید کیږی دلته په حدیث کښې دی (کان النبی ﷺ یصومه فلما قدم المدینة

---

(١) روح المعانی ٢/ ٧٩.٨٠) اخرجه البخاری کتاب التفسیر باب (یا ایها الذین آمنوا کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم) رقم حدیث ۴۲۳۴. واخرجه مسلم فی کتاب الصیام باب صوم یو عاشوراء رقم الحدیث ١١٢۶)-

(٢) عمدة القاری ١١/ ١٨) باب صیام یوم عاشوره)-

صام وامر بصیامه فلما نزل رمضان کان رمضان الفریضة وترك عاشوره» دا دي نه معلومیږی چه وړاندې د عاشورې روژه فرض وه کله چه د رمضان د روژو حکم راغلو نو د عاشورې روژه پریښودلې شوه. امام بخاری په کتاب الصوم کښې هم یو روایت نقل کړې دې «صام النبی ﷺ عاشوره وامر بصیامه فلما فرض رمضان ترکه» (۱)

ددې روایت نه هم د رمضان نه وړاندې د صوم عاشوره فرضیت معلومیږی. ددې سره متعلق نور مباحث په کتاب الصوم کښې د «باب صیام یوم العاشوره» لاندې تیر شوی دی.

قوله: دَخَلَ عَلَيْهِ الْأَشْعَثُ:

اشعث بن قیس: دلته په دریم روایت کښې دی چې عبدالله بن مسعود ته اشعث راغلو دا اشعث بن قیس بن معدی کرب بن معاویه بن جبله دې، په کال ۱۰ هجرئی کښې د وفد کنده سره د رسول الله په خدمت کښې حاضر شوې وو، علامه عینی لیکی «وکان فی الجاهلیة رئیسا مطاعا فی کندة وکان فی الاسلام وجیها فی قومه الا انه کان ممن ارتد عن الاسلام بعد النبی ﷺ ثم راجع الاسلام فی خلافة ابی بکر» (۲)

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خپلې خور ذده سره واده کړې وو، په جنګ صفین کښې دې د حضرت علی رضی الله عنه سره وو، په کال ۴۰ هجرئی کښې د حضرت علی رضی الله عنه د وفات نه څلویښت ورځې پس په کوفه کښې دوی وفات شول. حضرت حسن بن علی رضی الله عنه ددوی د جنازې مونځ وزکړو (۳)

باب قوله تعالى: أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ

وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ [۱۸۴]

وَقَالَ عَطَاءٌ يُفْطِرُ مِنَ الْمَرَضِ كُلِّهِ كَمَا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى. وَقَالَ الْحَسَنُ وَإِبْرَاهِيمُ فِي الْمُرْضِعِ وَالْحَامِلِ إِذَا خَافَتَا عَلَى أَنْفُسِهِمَا أَوْ وَلَدِهِمَا تُفْطِرَانِ ثُمَّ تَقْضِيَانِ. وَأَمَّا الشَّيْخُ الْكَبِيرُ إِذَا لَمْ يُطِقِ الصِّيَامَ، فَقَدْ أَطْعَمَ أَنَسٌ بَعْدَ مَا كَبِرَ عَامًا أَوْ عَامَيْنِ كُلَّ يَوْمٍ مِسْكِينًا خُبْزًا وَلَحْمًا وَأَفْطَرَ. قِرَاءَةُ الْعَامَّةِ (يُطِيقُونَهُ) وَهُوَ أَكْثَرُ.

---

(۱) عمدة الباری ۱۱/۱۱۹ باب صیام یوم عاشوره)-

(۲) عمدة القاری ۱۸/۱۰۳)-

(۳) سیر اعلام النبلاء ۲/۳۷،٤٧) واسد الغابة ۱/۱۱۸) وتهذیب التهذیب ۱/۳۵۹، والاصابة ۱/۷۹)-

[۴۲۳۵] -۴۵۰۵- حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ بْنُ إِسْحَاقَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ عَنْ عَطَاءٍ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقْرَأُ (وَعَلَى الَّذِينَ يُطَوَّقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ). قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَيْسَتْ بِمَنْسُوخَةٍ ، هُوَ الشَّيْخُ الْكَبِيرُ وَالْمَرْأَةُ الْكَبِيرَةُ لاَ يَسْتَطِيعَانِ أَنْ يَصُومَا ، فَلْيُطْعِمَانِ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا.

قوله: أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ : نه مراد رمضان المبارک دي نو دا منصوب دې دفعل مقدر د (صوموا) د وجې (۱)

قوله: وَقَالَ عَطَاءٌ يُفْطِرُ مِنَ الْمَرَضِ كُلِّهِ كَمَا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى :

د معمولي مرض په وجه د روژې ماتولو متعلق د امام بخاري اود جمهورو مسلک: د عطاء ابن ابی رباح ابن سیرین او اهل ظاهر مذهب دادې که څوک معمولي غوندې بیمار هم وی هغه افطار کولې شی ددوی دلیل دا دې چې (فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا) مطلق دې په دې کښې قید نشته چه مرض سخت وی ، ددې وجې که مرض سخت وی او که معمولی ، مریض ته د افطار اجازت دې.(۲)

هم دا مذهب د امام بخاری هم دې.حافظ بن حجر د فتح الباری په مقدمه کښې د ابوحیان په حوالې سره نقل کړې دی چه یو ځل امام بخاری په نیشاپوری کښې معمولي غوندې بیمار شو نو ددوی استاد اسحق بن راهویه د خپل شاګردانو د یوې ډلې په ملګرتیا کښې ددوی بیمار پرسۍ له لاړل چې وئې کتل نو امام بخاری روژه ماته کړې ده او مرض ئې څه سخت نه وو، اسحق بن راهویه چې کله په دې باره کښې خبرې اوکړې نو امام بخاری رحمه الله هغوی ته د عطاء بن ابی رباح ذکر شوې تعلیق واورولو، د اسحق ابن راهویه سره دا تعلیق موجود نه وو،(۳)

عبدالرزاق دا تعلیق موصولا ذکر کړې دې(۴) هم دا مذهب د ابن سیرین هم دې .یو ځل هغوی ته څه کسان راغلل نو هغوی د ګوتې د تکلیف په وجه روژه نه وه نیولې (۵)

خو د جمهورو فقهاؤ په نیز د مرض نه سخت مرض مراد دې. یا دا چه د روژې نیولو سره د مرض د زیاتیدو ویره وی.وړاندې په (ولایرید بکم العسر) کښې دې طرف ته اشاره موجود ده.

قوله: وَقَالَ الْحَسَنُ وَإِبْرَاهِيمُ فِي الْمُرْضِعِ وَالْحَامِلِ :

د مرضعه او حامله د روژو نه نیولو متعلق د ائمه ؤ مذاهب: د حضرت حسن بصری ،ابراهیم نخعی او احنافو ﷺ دا مذهب دې که مرضعې یا حاملې ته په خپل ځان یا په خپل بچې

---

(۱) روح المعانی (۸۱/۱)-
(۲) حواله بالا
(۳) مقدمة فتح الباری(۶۷۳)-
(۴) عمدة القاری (۱۰٤/۱۸)-
(۵) روح المعانی(۸۱/۱)-

باندې د هلاکت ويره وي نو روژه پريښودلې شي خو روسته به دهغې قضا راوړي او په دې باندې کفاره نشته،

امام شافعی او امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی که د دوی په خپل ځان باندې ويره وي نو افطار نه پس به قضا راوړي خو که دې ته په خپل بچی باندې ويره وه نو د قضا سره سره به د کفارې په ډول فديه هم ورکوي.

امام مالک رحمه الله فرمائی که مرضعه په خپل بچی باندې د هلاکت د ويرې د وجې افطار اوکړي نو د قضا سره به فديه ادا کول وي خود حاملې په باره کښې د دوی مذهب د احنافو سره دې[1]

قوله: قِرَاءَةُ الْعَامَّةِ (يُطِيقُونَهُ) وَهُوَ أَكْثَرُ: د سورة بقرة په آيت ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾[2] کښې مختلف قراءتونه شوی دی:

① مشهور او د جمهورو قراءت ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ﴾ دې، د ايت کريمه مطلب دادې چه کم کسان د روژې نيولو استطاعت او طاقت لرى خو روژه نه نيسى د هغوى په ذمه د فديه ادا کول واجب دى ښکاره دا چې دا مذهب اوس د چا هم نه دې، ددې وجې ددې قراءت مختلف توجيهات شوی دی.

(الف): حضرت سلمه بن الاكوع، عبدالله بن عمر رضي الله عنهم او جمهورو قول دادې چه دا ايت منسوخ دې ورانديې د حضرت سلمه بن الاكوع رضي الله عنه روايت راځی چه کله دا ايت نازل شو نو چه کوم کس به غوښتله روژه به ئې نيوله او چا چه به افطار کول غوښتل نو د روژې نه نيولو فديه به ئې ورکوله خو چه کله ددې نه روسته ايت ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ نازل شو نو د ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ حکم منسوخ شو.

(ب) بعضې حضرات وائی چې (يطيقونه) د باب افعال نه دې او د باب افعال يو خاصيت سلب ماخذ دې دلته هم دا خاصيت موجود دې نو په دې صورت کښې به د ايت کريمه دا مطلب وی چه کوم کسان د روژې نيولو طاقت نه لرى د هغوى نه طاقت سلب شوې دې داسې کسان به فديه ادا کوی[3]

(ج) بعضې حضرات فرمائی چې دلته لانافيه محذوف ده بلکه د حضرت حفصه رضي الله عنها نه د ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ﴾ قراءت مروی دې[4].

(د) بعضې عالمانو ددې قراءت يو بله نفيس توجيه کړې ده چې دلته د يطيقونه صيغه استعمال شوې ده او طاقت وائی (القدرة مع المشقة والشدة) يعنی د مشقت او تکليف سره په يو

---

[1]) الجامع لاحكام القران (١٨٠/١)-

[2]) سورة بقرة ١٨٤)-

[3]) روح المعانی (٨٢،٨٣/١)-

[4]) حواله بالا

ځيز باندې طاقت لرلو ته .نو د ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ نو ددې مطلب دا شو(وعلى الذين يصومونه مع الشدة المشقة) هغه خلق چې په مشقت او تكليف سره روژې نيسي په اسانۍ سره هغوی روژه نشي نيولې هغوی ته اجازت دې چې فديه ادا کړی او روژه اونه نيسي،او دا كيفيت د شيخ كبير وی ،او د شيخ كبير د پاره هم دا حكم دې چه هغه به د روژې په بدله كښې فديه وركوی ،ددې توجيه مطابق هم دا ايت منسوخ نه دې([1])

②: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قراءت په روايت باب كښې ذكر شوې دې ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ﴾ دباب تفعيل نه د جمع غائب مجهول صيغه ده په دې صورت كښې به معنى وی چې په هغه كسانو چې د روژې د وجې په تكليف كښې اخته وی،نو فديه ده، د تطويق معنى ده د څه كار تكليف وركولو دې.

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه دا ايت منسوخ نه دې په ايت كښې داسې بوډاګانو سړو او بوډيګانو ښځو ذكر دې كومې چې د روژې ساتلو طاقت نه لرى، د هغوى د پاره هم دا حكم دې چې هغوی به فديه وركوی.

د حضرت مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله هم دا رائې ده چې دا ايت بالكليه منسوخ نه دې هغوى فرمائي چې د څلور وارو امامانو په نيز د فديې كوم احكام په بعضې صورتونو كښې موجوديږی د هغې اصل هم دا ايت دې كه دا ايت بيخی منسوخ كړې شى نو بيا به په قران كښې د فديې څه بنياد پاتې نه شى ددې ايت تلاوت باقى ساتلو كښې هم دا راز معلوميږی([2])

امام ابوداود په سنن ابى داود كښې دوه بابونه قائم كړې دى يو باب دې ‹باب نسخ قوله وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ› په دې كښې هغوى د حضرت سلمه بن اكوع رضي الله عنه روايت نقل كړې دې كوم چې دلته په باب كښې موجود دې او دويم باب هغوى قائم كړې دې ‹باب من قال هى مثبتة لشيخ والحبلى› او په دې كښې هغوى د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت نقل كړې دې ([3])امام ابوداود هم چې دا دوه بابونه قائم كړې دې نو اشاره ئې كړې ده چې ذكر شوې ايت بلكليه منسوخ نه دې.

صاحب د تفسير مظهرى فرمائيلې دى چې په ابتداء د اسلام كښې د روژې او فديې دواړو اختيار وو كم كس چې د روژې نيولو طاقت نه لرلو نو د ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ﴾ ايت د هغوى په حق كښې د عبارة النص په ډول دال دې، دوى ته اختيار حاصل دې كه غواړى نو روژه دې اونيسى او كه غواړى نو د روژې نيولو په ځاې دې فديه ادا كړى.

البته كوم كسان چې د روژې نيولو طاقت نه لرى نو ذكر شوې ايت د هغوى په حق كښې د

---

[1]) حواله بالا)-

[2]) فيض البارى ٤/ ١٥٩،١٦٠)-

[3]) سنن ابى داود ٢/ ٢٩٦) كتاب الصوم)-

دلالة النص په ډول دلالت کوی چې دوی ته په روژه او فدیه کښې اختیار دې ،څکه چې کله طاقت لرونکو ته اختیار ورکړې شوې دې نو چې په چا کښې طاقت نه وی نو هغوی ته خو به په طریق اولی سره اختیار وی.

بیا چې کله روستنې ایت ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ نازل شو نو کومو ته چې په آسانۍ سره د روژې نیولو طاقت وی د هغوی په حق کښې د فدیې حکم منسوخ شو، د روژې نیولو طاقت برابره ده که فی الحال وی لکه صحتمند یا مقیم، او یا فی المال وی لکه مریض او مسافر.

خو هغه کسان چې د روژې نیولو طاقت نه فی الحال لری او نه فی المال لکه شیخ فانی ، نو د هغوی په حق کښې د فدیې حکم اوس هم باقی دې ،

حاصل دا چې مذکوره ایت د بعضو خلقو په حق کښې په وړاندنی ایت سره منسوخ دې او د بعضې آفرادو په حق کښې ددې حکم اوس هم باقی دې منسوخ نه دې.

ددې نه تاسو په نورو الفاظو کښې داسې تعبیر کولې شئ چې د وړاندنی ایت سره ددې ایت په حکم سره تخصیص اوشو.

مطلق لره مقید کول یا عام کښې تخصیص کول د بعضې متقدمینو په اصطلاح کښې نسخ ده او متاخرین ورته نسخ نه وائی، دغه شان عبدالله بن عباس رضی الله عنهما او بعضې حضرات کوم چې د عدم نسخ قائل دی د هغوی قول د هغه حضراتو قول سره متعارض نه دې څوک چه ایت ته منسوخ وائی څکه چه دا د اصطلاح فرق دې (ولا مشاحة فی الاصطلاح)

۲۸- باب: قوله تعالى: فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ [۱۸۵]

[۴۲۳۶] - حَدَّثَنَا عَيَّاشُ بْنُ الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - أَنَّهُ قَرَأَ (فِدْيَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ) قَالَ هِيَ مَنْسُوخَةٌ.

[۴۲۳۷] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ يَزِيدَ مَوْلَى سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ عَنْ سَلَمَةَ قَالَ:

لَمَّا نَزَلَتْ (وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ) كَانَ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُفْطِرَ وَيَفْتَدِيَ حَتَّى نَزَلَتِ الآيَةُ الَّتِي بَعْدَهَا فَنَسَخَتْهَا. مَاتَ بُكَيْرٌ قَبْلَ يَزِيدَ.

دا روایت بکیر بن عبدالله د یزید نه کوی امام بخاری فرمائی چې د بکیر وفات وړاندې شوې وو ، دبگیر وفات په ۱۲۰ هجرئی کښې شوې وو او د یزید وفات په ۱۴۷ کښې شوې دې،

حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائیلی دی دا د (روایة الاکابر عن الاصاغر) د قبیلې څنې دې.[۱]

خو حضرت شیخ الحدیث فرمائی چې څوک وړاندې وفات شی ددې نه دا نه لازمیږی چې هغه به په عمر کښې هم مشر وی نو تر څو پورې چې ددوی د ولادت تاریخ معلوم نه وی تر هغه

[۱] لامع الدراری ۹/۱۶)-

وخته پورې دي .دې لره ،رواية الاكابرعن الاصاغر،د قبيلې نه شي ګرځولې.او حضرت شيخ الحديث فرمائي چې د دوې تاريخ ولادت تر اوسه پورې ماته معلوم نشو[1]

باب: قوله تعالى: أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُونَ أَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنْكُمْ فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ.

او ستاسو د پاره جائز کړې شوی دی د روژو په شپو کښې د خپلو بيبيانو سره کوروالې . هغوی ستاسو د پاره او تاسو د هغوی د پاره جامې يئ الله تعالى ته معلومه ده چې تاسو خپل خان په خيانت کښې اخته کولو نو الله ستاسو توبه قبوله کړه او تاسو ني معاف کړئ نو اوس تاسو د دوی سره شپه تيرونی او څه چه ستاسو د پاره الله ليکلي دی هغه طلب کوئی

[۴۲۳۸] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ. وَحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا شُرَيْحُ بْنُ مَسْلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ - رضى الله عنه - . لَمَّا نَزَلَ صَوْمُ رَمَضَانَ كَانُوا لاَ يَقْرَبُونَ النِّسَاءَ رَمَضَانَ كُلَّهُ، وَكَانَ رِجَالٌ يَخُونُونَ أَنْفُسَهُمْ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ (عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُونَ أَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنْكُمْ).

په روژه کې تدريجا درې تبديلئ اوشوې: حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمائي کله چې د رمضان شريف د روژو حکم نازل شو نو مسلمانان به په ټول رمضان کښې خپلو بيبيانو ته نه ورتلل .يعنی هغوی سره د جماع کولو اجازت نه وو،خو د بعضې خلقو نه په دې باره کښې کوتاهی کيدله په دې باندې الله تعالى (عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ.....)ايت نازل کړو او په رمضان کښې د شپې د خپلو بيبيانو سره د مباشرت اجازت ورکړې شو.

دا روايت مختصر دې امام احمد بن حنبل رحمه الله د حضرت معاذ نه يو تفصيلي روايت نقل کړې دې د هغې نه د ذکر شوی ايت شان نزول او پس منظر ښکاره کيږی د هغه روايت حاصل دا دې چه په روژو کښې درې تبديلئ شوی دی

① رسول الله ﷺ چې کله مدينې منورې ته تشريف يوړلو نو په هره مياشت کښې به ئې درې روژې نيولې او د عاشورې روژه به ئې هم نيوله.

② بيا د رمضان فرضيت نازل شو حکم دا وو چه روژه نيسئ يا فديه ورکوئ ،په دې کښې اختيار ورکړې شوې وو خو د افطار نه پس دا اکل او شرب او جماع اجازت صرف په هغه وخت کښې وو تر څو چې به سړې اوده شوې نه وو. او د ماسخوتن مونځ ئې کړې نه وی، خو که اوده شو يا ئې د ماخسوتن مونځ اوکړو نو ددې نه پس بيا د اکل شرب او جماع اجازت نه وو، دا حکم ډير ګران او شاق وو.بعضې صحابه کرامو نه ددې پابندی نشوه کيدې او هغوی د

---

[1] تعليقات لامع الدراری ۱۶/۹-

ماخسوتن نه پس د خپلو بيبيانو سره جماع اوكړه، په ذكر شوى ايت كښې په ﴿عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ﴾ سره دې ته اشاره اوكړه.

③ دريمه تبديلي: كښې ذكر شوې حكم هم منسوخ كړې شو او الله په ذكر شوې ايت سره د شپې د اكل شرب او جماع اجازت وركړو.

٣٠- باب: قوله تعالى: (وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ وَلاَ تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ) إِلَى قَوْلِهِ (تَتَّقُونَ). (٢٨)

الْعَاكِفُ الْمُقِيمُ [١٨٧] ا [الحج: ٢٥]

[٤٢٣٩] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ حُصَيْنٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عَدِيٍّ قَالَ أَخَذَ عَدِيٌّ عِقَالاً أَبْيَضَ وَعِقَالاً أَسْوَدَ حَتَّى كَانَ بَعْضُ اللَّيْلِ نَظَرَ فَلَمْ يَسْتَبِينَا، فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، جَعَلْتُ تَحْتَ وِسَادَتِي. قَالَ «إِنَّ وِسَادَكَ إِذًا لَعَرِيضٌ أَنْ كَانَ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ وَالأَسْوَدُ تَحْتَ وِسَادَتِكَ

[٤٢٤٠] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مُطَرِّفٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رضي الله عنه قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ أَهُمَا الْخَيْطَانِ قَالَ «إِنَّكَ لَعَرِيضُ الْقَفَا إِنْ أَبْصَرْتَ الْخَيْطَيْنِ». ثُمَّ قَالَ «لاَ بَلْ هُوَ سَوَادُ اللَّيْلِ وَبَيَاضُ النَّهَارِ».

[٤٢٤١] حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا أَبُو غَسَّانَ مُحَمَّدُ بْنُ مُطَرِّفٍ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ وَأُنْزِلَتْ (وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ) وَلَمْ يُنْزَلْ (مِنَ الْفَجْرِ) وَكَانَ رِجَالٌ إِذَا أَرَادُوا الصَّوْمَ رَبَطَ أَحَدُهُمْ فِي رِجْلَيْهِ الْخَيْطَ الأَبْيَضَ وَالْخَيْطَ الأَسْوَدَ، وَلاَ يَزَالُ يَأْكُلُ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُ رُؤْيَتُهُمَا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ بَعْدَهُ (مِنَ الْفَجْرِ) فَعَلِمُوا أَنَّمَا يَعْنِي اللَّيْلَ مِنَ النَّهَارِ.

كله چې د قران دا ايت نازل شو په كوم كښې چې د اكل شرب او جماع اجازت وركړې شوې دې، تردې چې سپين مزې د تور مزى نه ښكاره نشى. په ايت كريمه كښې د خيط ابيض نه د ورځې سپينوالې او د خيط اسود نه د شپې تياره مراد ده، نو حضرت عدى بن حاتم رضي الله عنه د خيط ابيض او خيط اسود حقيقى معنى مراد واخسته او د خپلې تكيه د لاندې ئې سپين او تور مزې كيخودو او ترڅو پورې چه هغه ښكاره په نظر رانغلو نو هغوى خوراك څښاك جارى اوساتلو، چې صبا شو نو د نبى ﷺ په خدمت كښې حاضر شو او بيان ئې ورته اوكړو، نبى ﷺ ورته په ټوقه كښې اووئيل ستا تكيه خو به ډيره پلنه وى چې ددې لاندې سپين او تور مزې راتلې شى.

قوله: إِنَّ وِسَادَكَ إِذًا لَعَرِيضٌ: علامه خطابی رحمه الله په معالم السنن کښې ددې جملې دوه مقصدونه بیان کړې دی.

① یو داچې ته ډیر کثیر النوم ئې. وساد، د خوب نه کنایه ده، په وساده باندې انسان سر کیږدی او اوده کیږی نو وساده د خوب ذریعه ده، ددې وجې وساده ئې اوونیله او خوب ترې مراد اخستې شوې دې او یا دا مطلب دې چې بیا خو به ستا شپه ډیره اوږده وی چې ترڅو پورې سپین مزې د تور مزی نه جدا په نظر نه راځی، تر هغه وخته پورې به ته خوراک څښاک کوې(¹)

② دویم مطلب ئې دا بیان کړې دې چه دې جمله کښې نبی ﷺ د حضرت عدی کم فهمئ طرف ته اشاره کړې ده دلته د باب په دویم روایت کښې د «انك لعریض القفا» الفاظ راغلې دی علامه خطابی فرمائی چه کله د یو کس د ذهن کمزوری او غفلت بیانول وی نو عرب وائی «فلان لعریض القفا» قفا څټ ته وائی (عرض القفا) هغه کس ته وائی چه د هغه څټ پلن وی او عام طور د پلن څټ سړی کم فهم وی.(²)

خو علامه قرطبی دا قول رد کړې دې هغوی فرمائیلې دی چه په دې کښې د ناپوهئ څه خبره ده، د حضرت عدی په نیز د خیط ابیض اطلاق په بیاض نهار باندې او د خیط اسود اطلاق په ظلمت لیل باندې نه کیدل نو بیا به هغه څنګه پوهه شوې وو، نو ځکه دا په کم پوهئ باندې حمل کول صحیح نه دی(³)

بیا سوال کیږی چې نبی کریم ﷺ هغه ته «انك لعریض القفا» اوونیل نو ددې څه مطلب دې.؟

ددې مطلب دادې چې ته زیات اوده کیږې او د خوب غټه تکیه استعمالوې او داې قسم تکلفات عام طور سره هغه کسانو کوی څوک چې په بې فکرئ سره اوده کیږی او دا وائی چه کله مو سترګې پرانستې شی نو پرانستې به وی. د څه نظام پابند نه وی، سپین مزې چې د تور مزی نه ترڅو پورې په نظر جدا نه وی راغلې تر هغه وخته پورې ته د روژې اهتمام نه کوې

۳۱-باب قوله تعالى: وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَى وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ [۱۸۹]

[۴۲۴۲] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانُوا إِذَا أَحْرَمُوا فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَتَوُا الْبَيْتَ مِنْ ظَهْرِهِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ (وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ

---

¹) قال الخطابی یرید ان نومک اذن لکثیر وکنی بالوساد عن النوم اذاکان النائم یتوسده او یکون اراد ان لیلک اذن لطویل :اذ کنت لا تمسک عن الاکل والشرب حتی یتبین لک سواد العقال من بیاضه: (وانظر معالم السنن)۲۳۲/۳)-

²) معالم السنن ۲۳۲/۳ باب وقت السحور)-

³) تعلیقات لامع الدراری ۱۷/۹)-

مِنْ ظُهُورِهَا وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَى وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا).
په زمانه د جاهليت کښې عربو داسې رسم جوړ کړې وو چه کله به ئې د حج د پاره احرام اوتړلو نو کور يا خيمې ته به د دوازې نه د داخليدو په ځائې شاته په ديوال کښې کړکۍ شان اوکړه او په هغې به داخليدل او يا به ئې ديوال اوکنستلو او داخليدل به او دا به ئې نيکي ګڼړله ،الله تعالى په دې ايت کښې زورنه ورکړه چه د خپل طرف نه مو دا کوم رسمونه جوړ کړې دى په دې کښې نيکى نشته.(١)

٣٢-باب: قوله تعالى: (وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ) [١٩٣]

[٤٢٤٣] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ- رضي الله عنهما- أَتَاهُ رَجُلَانِ فِي فِتْنَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ فَقَالَا إِنَّ النَّاسَ قَدْ ضُيِّعُوا، وَأَنْتَ ابْنُ عُمَرَ وَصَاحِبُ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَمَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَخْرُجَ فَقَالَ يَمْنَعُنِي أَنَّ اللَّهَ حَرَّمَ دَمَ أَخِي. فَقَالَا أَلَمْ يَقُلِ اللَّهُ (وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ) فَقَالَ قَاتَلْنَا حَتَّى لَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ، وَكَانَ الدِّينُ لِلَّهِ، وَأَنْتُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تُقَاتِلُوا حَتَّى تَكُونَ فِتْنَةٌ، وَيَكُونَ الدِّينُ لِغَيْرِ اللَّهِ.

وَزَادَ عُثْمَانُ بْنُ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي فُلَانٌ وَحَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ عَنْ بَكْرِ بْنِ عَمْرٍو الْمَعَافِرِيِّ أَنَّ بُكَيْرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَهُ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ رَجُلًا أَتَى ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ مَا حَمَلَكَ عَلَى أَنْ تَحُجَّ عَامًا وَتَعْتَمِرَ عَامًا، وَتَتْرُكَ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَقَدْ عَلِمْتَ مَا رَغَّبَ اللَّهُ فِيهِ قَالَ يَا ابْنَ أَخِي بُنِيَ الإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ إِيمَانٍ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَالصَّلَاةِ الْخَمْسِ، وَصِيَامِ رَمَضَانَ، وَأَدَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ. قَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَلَا تَسْمَعُ مَا ذَكَرَ اللَّهُ فِي كِتَابِهِ (وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا) (إِلَى أَمْرِ اللَّهِ) (قَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ) قَالَ فَعَلْنَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَكَانَ الإِسْلَامُ قَلِيلًا، فَكَانَ الرَّجُلُ يُفْتَنُ فِي دِينِهِ إِمَّا قَتَلُوهُ، وَإِمَّا يُعَذِّبُوهُ، حَتَّى كَثُرَ الإِسْلَامُ فَلَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ.

قَالَ فَمَا قَوْلُكَ فِي عَلِيٍّ وَعُثْمَانَ قَالَ أَمَّا عُثْمَانُ فَكَأَنَّ اللَّهَ عَفَا عَنْهُ، وَأَمَّا أَنْتُمْ فَكَرِهْتُمْ أَنْ تَعْفُوا عَنْهُ، وَأَمَّا عَلِيٌّ فَابْنُ عَمِّ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَخَتَنُهُ. وَأَشَارَ بِيَدِهِ فَقَالَ هَذَا بَيْتُهُ حَيْثُ تَرَوْنَ. [٤٣٧٣، ٤٣٧٤، ٦٦٨٢، وانظر: ٨]

---

(١) تفسير مظهرى (٢١١/١)-

په کال ۷۳ هجرئی کښې حجاج بن یوسف ثقفی د حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه محاصره اوکړه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه د چا سره نه وو او کناره کش وو.دوه سړی عبدالله بن عمر ته ورغلل او د هغوی نه ئې تپوس اوکړو چې تاسو ولې نه راوخئ ابن عمر رضی الله عنه اوفرمائیل خما د پاره دا څیز مانع دې چې الله تعالی د خپل مسلمان ورور وینه حرام کړې ده.په دې باندې هغوی دواړو د قران په دې ایت باندې استدلال اوکړو ﴿وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ﴾ حضرت ابن عمر رضی الله عنه جواب ورکړو چې مونږ خو د کافرانو سره جنګیدلې یو، تر دې چې فتنه باقی پاتې نه شوه او دین خالص د الله د پاره شو خو اوس تاسو په خپل مینځ کښې قتال کول غواړئی چې فتنه پیدا شی او دین د غیرالله شی.

عثمان بن صالح زیادت کړې دې چې یو سړې عبدالله بن عمر ته راغلو اودوی نه ئې تپوس اوکړو چې تاسو یو کال حج کوئی او یو کال عمره کوئی خو جهاد فی سبیل الله تاسو پریخودې دې حال دادې چې د جهاد کوم ترغیب ورکړې شوې دې هغه تاسو ته معلوم دې . کله چې عبدالله بن عمر رضی الله عنه په جواب کښې اوفرمائیل چې د اسلام بنیاد په پنځو څیزونو باندې دې،ایمان،مونځ، روژه، زکاة او حج، مطلب دا چې د جهاد فضیلت په خپل ځائې دې خو بهرحال دا د اسلام په بنیادی ارکانو کښې نه دې په دې باندې هغه کس د سوره حجرات ایت ﴿وَاِنْ طَآىِٕفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ او﴿وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ﴾ اولوستلو.

حضرت ابن عمر رضی الله عنه هم هغه جواب ورکړو چې مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې جهاد کړې وو تر دې چې اسلام غالب شو او فتنه باقی پاتې نشوه.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه د وئیلو مقصد دا دې چې د کوم جهاد ترغیب ورکړې شوې دې هغه جهاد مع الکفار دې او مونږ هغه کړې دې خو موجوده قتال جهادمع الکفار نه دې .

په دې کښې شک نشته چې د باغیانو سره په قتال کولو کښې هم ثواب شته خو ترغیب چې کوم ورکړې شوې دې هغه جهاد مع الکفار دې نو بیا د باغیانو سره د قتال صورتحال غیر واضح دې بعضې وخت دا پته نه لګی چې حق د چاسره دې د قتال کولو دنیت هم صحیح علم نه وی چې داقتدار حصول مقصود دې او که داسلامی نظام حکومت د قیام په لاره کښې رکاوټ ختمول مقصود دې په دې وجه د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه خیال وو چې عافیت هم په دې کښې دې چې چاسره هم ملګرتیا اونشی او د دین په بنیادی احکامو او خبرو باندې عمل اوشی.

قوله: أَتَاهُ رَجُلَانِ فِي فِتْنَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ: په دوو سړو کښې یو علاء بن عرار وو او بل حبان وو (۱)

قوله: أَخْبَرَنِي فُلَانٌ وَحَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ :

عبیدالله بن لهیعه ضعیف راوی دې: علامه عینی لیکلې دی چې دفلان نه عبیدالله بن لهیعه

---

(۱) فتح الباری ۸/۱۸٤)-

مراد دي کوم چې د مصر قاضی وو او په کال ۱۹۴ کښې وفات شوې وو (۱)
علامه بيهقی ليکلي دی چې د عبدلله بن لهيعه په ضعف باندې د عالمانو اجماع ده کله چې يو حديث هغه خانله ذکر کړی نو د هغه حديث نه استدلال نشی کولې (۲)
چونکه دې ضعيف دې ددې وجې امام بخاری رحمه الله ددوی نوم ذکر نه کړلو او دده سره ئې حيوة بن شريح، ملاؤ کړو، حيوة بن شريح دوه دی. يو مصری دې او بل حضرمی دې، دلته مصری مراد دې (۳)

قوله: اما عثمان فكان الله عفا عنه: يعنی د احد په ورځ حضرت عثمان رضی الله عنه د ميدان نه تلونکې وو او د ميدان نه تلونکو په باره کښې الله تعالی دا ارشاد فرمائيلې دې «ولقد عفا الله عنه» (۴) ددې ايت په رڼا کښې حضرت ابن عمر رضی الله عنه دا جمله اوفرمائيله.

۳۳- باب قوله: (وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ) (۳۱)

التَّهْلُكَةُ وَالْهَلَاكُ وَاحِدٌ [۱۹۵]

[۴۲۴۴] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا النَّضْرُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ عَنْ حُذَيْفَةَ (وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ) قَالَ نَزَلَتْ فِي النَّفَقَةِ.

۳۴- باب قوله: (فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ [۱۹۶]

[۴۲۴۵] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَصْبَهَانِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَعْقِلٍ قَالَ قَعَدْتُ إِلَى كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ فِي هَذَا الْمَسْجِدِ - يَعْنِي مَسْجِدَ الْكُوفَةِ - فَسَأَلْتُهُ عَنْ فِدْيَةٍ مِنْ صِيَامٍ فَقَالَ حُمِلْتُ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَالْقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلَى وَجْهِي فَقَالَ «مَا كُنْتُ أُرَى أَنَّ الْجَهْدَ قَدْ بَلَغَ بِكَ هَذَا، أَمَا تَجِدُ شَاةً». قُلْتُ لَا. قَالَ «صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، أَوْ أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ، لِكُلِّ مِسْكِينٍ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ طَعَامٍ، وَاحْلِقْ رَأْسَكَ». فَنَزَلَتْ فِيَّ خَاصَّةً وَهْيَ لَكُمْ عَامَّةً.

د احرام په حالت کښې داسې عذرونه که پيښ شی د کومو په وجه چې د حلق راس ضروری وی نو په شريعت کښې د حلق اجازت شته البته فديه ورکول به وی.

دا روايت په کتاب الحج کښې «باب الاطعام فی الفدية» لاندې تير شوې دې.

---

(۱) عمدة القاری ۱۸/۱۰۹)-
(۲) حواله بالا)-
(۳) حواله بالا)-
(۴) ال عمران ۱۵۵)وهذا الحديث لم يخرجه احد من اصحاب السته سوی البخاری)-

۳۵-باب: قوله تعالى: فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ [۱۹۶]

[۴۲۴۶] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عِمْرَانَ أَبِي بَكْرٍ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رضی الله عنهما قَالَ أُنْزِلَتْ آيَةُ الْمُتْعَةِ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَفَعَلْنَاهَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم، وَلَمْ يُنْزَلْ قُرْآنٌ يُحَرِّمُهُ، وَلَمْ يَنْهَ عَنْهَا حَتَّى مَاتَ قَالَ رَجُلٌ بِرَأْيِهِ مَا شَاءَ.

قوله: قَالَ رَجُلٌ بِرَأْيِهِ مَا شَاءَ: دا تعرض يا حضرت عمر رضی الله عنه باندې دې يا په حضرت عثمان رضی الله عنه باندې دې چې حضرت عمر او عثمان رضی الله عنهما په خپل خپل دور کښې د تمتع نه منع کړې وه [۱]

تفصيل ئې په كتاب الحج کښې تير شوې دې.

۳۶-باب: قوله تعالى: لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ [۱۹۸]

[۴۲۴۷] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - قَالَ كَانَتْ عُكَاظٌ وَمَجَنَّةُ وَذُو الْمَجَازِ أَسْوَاقًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَتَأَثَّمُوا أَنْ يَتَّجِرُوا فِي الْمَوَاسِمِ فَنَزَلَتْ (لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ) فِي مَوَاسِمِ الْحَجِّ.

مطلب دادې چې په زمانه د جاهليت کښې عكاظ. مجنه او ذوالمجاز نومې بازارونه لګيدل اوخلقو به په دې کښې لوئې لوئې کاروبارونه کول او د حج په لويه مجمع کښې به هم داسې قسم بازار لګيدلو خلقو ته سوچ پيدا شو چې چرته ددې تجارت حيثيت د جاهليت د زمانې د تجارت په شان نه وى. الله تعالى اجازت ورکړو چې په ايام حج کښې په مجمع د حاجيانو کښې تجارت کولې شى د انسانو دضرورت خيال ئې اوساتلو.

دا حديث په كتاب الحج کښې د (باب التجارة ايام الموسم) لاندې تير شوې دې [۲]

۳۷-باب: قوله تعالى: ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ [۱۹۹]

[۴۲۴۸] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَازِمٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - كَانَتْ قُرَيْشٌ وَمَنْ دَانَ دِينَهَا يَقِفُونَ بِالْمُزْدَلِفَةِ، وَكَانُوا يُسَمَّوْنَ الْحُمْسَ، وَكَانَ سَائِرُ الْعَرَبِ يَقِفُونَ بِعَرَفَاتٍ، فَلَمَّا جَاءَ الإِسْلاَمُ أَمَرَ اللَّهُ نَبِيَّهُ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ يَأْتِيَ عَرَفَاتٍ، ثُمَّ يَقِفَ بِهَا ثُمَّ يُفِيضَ مِنْهَا، فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى (ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ).

په زمانه د جاهليت کښې چه به عام عرب كله حج د پاره تلل نو عرفات ته به رسيدل او د هغه

---

[۱] عمدة القارى ۱۸/۱۱۱)-

[۲] صحيح البخارى كتاب الحج باب التجاره ايام الموسم ۱/۲۳۸)-

ځائې نه به د مزدلفې په لاره واپس کيدل خو قريش به عرفات ته د تلو په ځاې هم مزدلفه کښې حصاريدل او وونيل به ئې چې مونږ چونکه د بيت لله او د حرم مجاور يو . ددې وجې د حرم د حدودو نه زمونږ د پاره بهر وتل مناسب نه دی.خپل ځان ته به ئې حمس وئيل. حمس د احمس جمع ده .احمس بهادر او متشدد ته وائی، ددې مطلب دا وو چې مونږ به په دين کښې متشدد او بهادر يو.ددې وجې د حدود حرم نه مونږ نه اوځو.چونکه عرفات د حدود نه بهر دې او مزدلفه دننه ده ددې وجې به قريش عرفات ته نه تلل.په حقيقت کښې د قريشو ددېنه مقصود د خپل امتياز او فخر او غرور مظاهره وه. الله تعالى دوی ته تنبيه ورکړه چې هم هلته ځئ چرته چې ټول خلق ځي

قوله: وَمَنْ دَانَ دِينَهَا : يعنی کوم خلق چې په حج کښې د قريشو طريقه اختياروی او د هغوی اتباع کوی ددې نه بنو عامر. بنوثقيف او بنو خزاعه مراد دی.(۱)

[۴۲۴۹] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ أَخْبَرَنِي كُرَيْبٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ يَطَوَّفُ الرَّجُلُ بِالْبَيْتِ مَا كَانَ حَلاَلاً حَتَّى يُهِلَّ بِالْحَجِّ، فَإِذَا رَكِبَ إِلَى عَرَفَةَ فَمَنْ تَيَسَّرَ لَهُ هَدِيَّةٌ مِنَ الإِبِلِ أَوِ الْبَقَرِ أَوِ الْغَنَمِ، مَا تَيَسَّرَ لَهُ مِنْ ذَلِكَ أَىَّ ذَلِكَ شَاءَ، غَيْرَ إِنْ لَمْ يَتَيَسَّرْ لَهُ فَعَلَيْهِ ثَلاَثَةُ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ، وَذَلِكَ قَبْلَ يَوْمِ عَرَفَةَ، فَإِنْ كَانَ آخِرُ يَوْمٍ مِنَ الأَيَّامِ الثَّلاَثَةِ يَوْمَ عَرَفَةَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِ، ثُمَّ لِيَنْطَلِقْ حَتَّى يَقِفَ بِعَرَفَاتٍ مِنْ صَلاَةِ الْعَصْرِ إِلَى أَنْ يَكُونَ الظَّلاَمُ، ثُمَّ لِيَدْفَعُوا مِنْ عَرَفَاتٍ إِذَا أَفَاضُوا مِنْهَا حَتَّى يَبْلُغُوا جَمْعًا الَّذِي يُتَبَرَّرُ فِيهِ، ثُمَّ لِيَذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا، أَوْ أَكْثِرُوا التَّكْبِيرَ وَالتَّهْلِيلَ قَبْلَ أَنْ تُصْبِحُوا ثُمَّ أَفِيضُوا، فَإِنَّ النَّاسَ كَانُوا يُفِيضُونَ، وَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى (ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ) حَتَّى تَرْمُوا الْجَمْرَةَ.

قوله: ثُمَّ لِيَنْطَلِقْ حَتَّى يَقِفَ بِعَرَفَاتٍ مِنْ صَلاَةِ الْعَصْرِ إِلَى أَنْ يَكُونَ الظَّلاَمُ:

دلته په (من صلاة العصر) کښې دوه احتمالات دی ،يو دا چې ددې نه اول وخت مراد دې او د مثل اول نه پس دمازيګر اول وخت شروع کيږی او د وقوف عرفه هم دا وخت مستحبه دې هسې خو د نمر د زوال نه پس د وقوف عرفه وخت شروع کيږی او دويم احتمال دا دې چې ددې نه د مازيګر نه پس وخت مراد دې.اګرچې په يوم عرفه کښې د ماسپښن او مازيګر مونځ د جمع تقديم په طريقه ادا کولې شی او ددې نه پس د وقوف عرفه رکن ادا کولې شی په اولنی صورت کښې دوخت د استحباب بيان دې اوپه دويم صورت کښې به د جواز دوخت بيان وی(۲)

قوله: يطوف الرجل بالبيت ما كان حلالا حتى يهل بالحج: د (ما كان حلالا) مطلب

۱) عمدة القاری ۱۱۲/۱۸)-

۲) عمدة القاری ۱۱۳/۱۸)-

دادې که څوک په مکه کښې د وړاندې نه مقیم وی نو ښکاره ده چې په احرام کښې نه وی . حلال وی یا د بهر نه راغلې وی او د عمرې کولو نه پس حلال شوې وی او تر اوسه پورې هغه د حج احرام نه وی تړلې او هغه دبیت الله شریف طواف کوی او بیا ده د حج احرام اوتړلو . نو په وړاندینې حدیث کښې دداې صورت بیان شوې دې.

۳۸-باب: قوله تعالى: وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ) [۲۰۱]

[۴۲۵۰] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم يَقُولُ «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ».

دلته په روايت کښې «اللهم ربنا» دې او په آيت کښې «اللهم» نشته ،معلومه شوه که په دعا کښې د «اللهم» زيادت اوکړې شی نو څه باک او حرج نشته.

۳۹-باب: قوله تعالى: وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ[۲۰۴]

وَقَالَ عَطَاءٌ النَّسْلُ الْحَيَوَانُ.

[۴۲۵۱] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ تَرْفَعُهُ قَالَ «أَبْغَضُ الرِّجَالِ إِلَى اللَّهِ الأَلَدُّ الْخَصِمُ».

وَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنِي ابْنُ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - عَنِ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم -.

د «وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ» معنی ده «شديد الخصومة» سخت جګړالو

قوله: وَقَالَ عَطَاءٌ النَّسْلُ الْحَيَوَانُ : يعنى د قران شريف په ايت «وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ» کښې د نسل نه حيوان مراددې طبرى دعطاء دا تعليق د ابن جريج سره موصولانقل کړې دې[۱]

۴۰-باب: قوله تعالى: أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ) إِلَى (قَرِيبٌ)[۲۱۴]

[۴۲۵۲] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي مُلَيْكَةَ يَقُولُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - (حَتَّى إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا) خَفِيفَةً، ذَهَبَ بِهَا هُنَاكَ، وَتَلاَ (حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلاَ إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ).

---

[۱]) عمدة القارى ۱۸/۱۱٤)-

فَلَقِيتُ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ فَذَكَرْتُ لَهُ ذَلِكَ فَقَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ مَعَاذَ اللَّهِ، وَاللَّهِ مَا وَعَدَ اللَّهُ رَسُولَهُ مِنْ شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا عَلِمَ أَنَّهُ كَائِنٌ قَبْلَ أَنْ يَمُوتَ، وَلَكِنْ لَمْ يَزَلِ الْبَلَاءُ بِالرُّسُلِ حَتَّى خَافُوا أَنْ يَكُونَ مَنْ مَعَهُمْ يُكَذِّبُونَهُمْ، فَكَانَتْ تَقْرَؤُهَا (وَظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِّبُوا) مُثَقَّلَةً.

ابن ابی ملیکه فرمائی چې ابن عباس ﷺ د سورة یوسف ایت ﴿حَتّٰٓى إِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوٓا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا﴾ په تخفیف سره اولوستلو او د سورة یوسف دا ایت ئې د سورة بقره ایت طرف ته راوړلو او د بقره ددې ﴿حَتّٰى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ اٰمَنُوا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ۗ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيبٌ﴾ ایت تلاوت ئې اوکړو.

د ابن ابی ملیکه د ارشاد مطلب دادې چې حضرت ابن عباس ﷺ د دواړو ایتونو مطلب یو ګرځولې دې دواړه ایتونه هم په یو مفهوم باندې دلالت کوی د سورة یوسف په ایت کښې د یاس او مایوسئ ذکر دې ،د سوره بقره په ایت کښې ﴿متی نصر الله﴾ استفهام استبعادی دې . په مایوسئ کښې هم استبعاد وی نو دواړه ایتونه د استبعاد په معنی کښې دی.

د سورة یوسف په ذکر شوی ایت کښې دوه قراتونه دی: ① یو قرات د عائشې ﷺ دې چې په ﴿وَظَنُّوٓا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِّبُوا﴾ کښې ﴿كذبوا﴾ د ذال د تشدید سره دې د ایت مطلب دادې چې کله پیغمبرانو ته د الله په مدد راتلو کښې د تاخیر احساس اوشو نو هغوی مایوسه شول او ګمان ئې اوکړو چې ددوی تکذیب به اوشی ،مطلب دادې چې الله تعالی د مدد د تاخیر په وخت کښې انبیاءؑ ته دا ویره شوه که د الله مدد رانغلو نو کومو کسانو چې ددوی تصدیق کړې دې چرته هغوی ددوی تکذیب اونکړی.

ددې قراءت مطابق د ایت معنی بیخی ښکاره ده او بې غباره ده او څه قسم اشکال نه پاتې کیږی

② دویم قراءت د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ دې په ذکر شوی ایت ﴿وَظَنُّوٓا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا﴾ کښې ﴿كُذِبُوا﴾ په تخفیف سره دې ،په دې صورت کښې د ایت ظاهری مطلب دا په پوهه کښې راځی چه کله د پیغمبرانو په نصرت کښې تاخیر اوشو،تردې چې هغوی مایوسه شول او دا ګمان ئې اوکړو چې دوی ته دروغ ونیلې شوی وو یعنی دوی ته دا خیال راغلو چې د الله د نصرت وعده چې شوې وه هغه ربښتونې نه وه او دوی ته دروغ ونیلې شوی وو.

خو د ایت په دې مطلب باندې دا اشکال دې چې پیغمبران دا بدګمانی چرته کولې شی چې الله تعالی د نصرت کومه دوی سره کړې وه هغه دروغ وه.

ددې وجې حضرت عائشې ﷺ فرمائیلې دی چې قراءت ﴿کذبوا﴾ په تشدید سره دې ځکه چې د تخفیف په صورت کښې ذکر شوې اشکال نه لازمیږی او دا مسلمه حقیقت دې چې الله تعالی د خپلو پیغمبرانو سره کومه وعده اوکړی نو پیغمبرانو ته کامل یقین وی چې هغه به د مرګ نه مخکښې ضرور پورا کیږی، ددې وجې ددغه وعدې په پورا کیدو کښې پیغمبرانو ته دره برابر تردد نه وی البته هغوی ته دا خیال راتلې شی که نصرت رانغلو نو ددوی تصدیق کونکی چرته د دوی تکذیب اونکړی نو دا ﴿كُذِّبُوا﴾ په تشدید سره دې ،دا په تخفیف سره

صحيح نه دي.

خو حضرت ابن عباس رضي الله عنهما بهرحال رئيس المفسرين دي فرمائي چي ﴿كُذِبُوا﴾ په تخفيف سره دي ددې نه دا خبره په يقين سره مخامخ راځي چي هغوى هغه مطلب نه دې اخستې كوم چي حضرت عائشي رضي الله عنها ګنړلې دې ،او اعتراض كوى او د كوم په بنياد چه ئي د هغوى قراءت رد كړې دې،

اوس سوال دادې چي د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د قراءت په صورت كښې به د ايت داسې كوم مطلب وى چي په هغې باندې د حضرت عائشي رضي الله عنها اشكال نه واردېږى. عالمانو ددې قرآءت په صورت كښې مختلف مطالب بيان كړې دى.

①علامه زمخشرى فرمائي چي د ﴿ظَنُّوا﴾ نه د وسوسې معنى مراد ده .د وسوسې يو قسم (هاجس) دې بې اختياره خيال راشى او لاړشى پاتې كېږى نه، دلته د ظن نه د وسوسې هم دا قسم مراد دې ،او د بشريت په بناء كه په نصرت كښې د تاخير د وجې داسې وسوسه راشى نو په دې كښې څه حرج نشته او نه په دې باندې څه موخذه شته[1]

②علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه په ﴿وَظَنُّوٓا اَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُوا﴾ كښې ﴿كُذِبُوا﴾ په خپله حقيقى معنى كښې نه دې دا د غلط په معنى كښې دې او مطلب دا دې چي انبياء عليهم السلام ته دا خيال راغلو چي مونږ ته چي الله تعالى د وحى او الهام په ذريعه د خپل نصرت يقين راكړې وو او هغه نصرت عنقريب راتلونكې دې كله چي د نصرت په راتلو كښې تاخير اوشو او د مايوسئ كيفيت پيدا شو نو زمونږ نفسونو مونږ ته غلط باور راكړې وو چي هغه الهام او وحى ده، نو كذب په معنى د غلط .ددې نسبت د الله تعالى وعدې طرف ته نه دې بلكه انبياء عليهم السلام خپلې نفسونو ته ددې نسبت كړې دې[2]

خو د علامه خطابى په دې توجيه زړه نه مطمئن كېږى وجه داده چي د پيغمبرانو په باره كښې دا وئيل چي هغوى ته په وحى الهى كښې اشتباه شوې وه او د زړه خيال هغوى الهام خداوندى ګنړلو، مناسب نه دى.

حضرت انورشاه كشميرى رحمه الله يو ډيره ښكلې توجيه كړې ده هغوى فرمائي چي د نصرت خداوندى د تاخير په صورت كښې تشويش اوشو او تشويش د علم اويقين سره جمع كيدې شى دا بيخى ممكن ده چي يو كس ته د يو څيز دواقع كيدو متعلق يقين وى خو د هغې د واقع كيدو نه وړاندې وړاندې د مختلفو حالاتو په بناء باندې د دهغه څيز د وقوع په باره كښې په ذهن كښې تشويش پيدا شى ، ټيک هم دغه شان پيغمبرانو عليهم السلام ته د نصرت خداوندى په واقع كيدو باندې يقين وو خو كله چي په هغې كښې روستوالې راغلو نو حالات سنګين او سخت شول او ورته تشويش او پريشانى لاحق شوه او چونكه د انبياؤ شان اوچت او شان ارفع وى نو ځكه دا تشويش او پريشانى د هغوى په حق كښې د كذب په منزله اوګرځولې

---

[1]) تفسير كشاف ۵۱۰/۲)-

[2]) البدر السارى الى فيض البارى ۱۶۲/۴)-

شوه د (تلقيا للمخاطب بمالايترقب) اسلوب اختيار وى.
الله تعالى هغوى سره هغه خبره اوكړه كومه چې د هغوى په وهم او گمان كښې هم نه وه . الله تعالى اوفرمائيل چې آيا ستاسو دا گمان دې چې مونږ تاسو سره غلطه وعده كړې وه؟ حالانكه دا د هغوى گمان نه وو هغوى ته خو تشويش وو چې الله تعالى اوفرمائيل چې دا دومره پريشانى ولې ده مطلب دا دې چې تاسو خما وعده ولې صحيح نه گنړله
دا هم د محبوب سره د لطف او كرم يو انداز دې په دې باندې د مثال په رنړا كښې داسې پوهه شئ چې كله يو وفادار محب د خپل محبوب سره وعده اوكړى چې زه به صبا تاسره ميلاويږم او چې كله د ميلاويدلو د پاره لاړ شى نو هغه په انتظار كولو كښې پريشانه بيا مومى او هغه ته وائى چې تا په ما باندې د دروغژن گمان كړې وو چې زما د راتلو په انتظار كولو كښې پريشانه شوې حال دا چې هغه دروغژن نه وى گنړلې خو د هغه ذهن مشكوك شوې وو او محب د هغه د تشويش په منزله كښې دا تكذيب اوگرخوى او دا جمله ورته اووائى..
په قران شريف كښې د حضرت يونس عليه السلام په باره كښې راغلې دى (فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ) آيا څوك وئيلې شى چې د يونس عليه السلام به دا گمان وو چې د الله تعالى قدرت به په هغه باندې نه وى هرگز نشى وئيلې هغه د الله تعالى پيغمبر وو د هغه د خيال په يو طرف كښې هم دا خبره نه راتله چې هغه دالله د قدرت د دائرې نه بهر وى. هغوى د هغوى د طرز عمل په وجه هلته (تلقيا للمخاطب بمالايترقب) اصول او اسلوب اختيار كړې شوې دې (١)
د حضرت ابن عباس رضى الله عنهما ددې قراءت يو تفسير په خپله د هغوى نه امام نسائى نقل كړې دې ددې نه پس د بلې توجيه ضرورت نشته هغه دا دې چې (استيأس الرسل من ايمان قومهم و ظن قومهم ان الرسل قد كذبوهم) يعنى پيغمبران دخپل قوم د ايمان راوړو نه مايوسه شوې وو، او قوم دا گمان كړې وو چې پيغمبرانو (عليهم السلام) سره چې د نصرت كومه وعده كړې وه هغه صحيح نه وه، په دې وخت كښې د (وَظَنُّوْٓا) ضمير قوم طرف ته راجح دې او د كذبوا ضمير پيغمبرانو ته . او په وړاندينى توجيهاتو كښې دواړه ضميرونه پيغمبران عليهم السلام ته راجع دى او د قوم په دې خيال كولو سره د پيغمبرانو په عظمت څه داغ نه لگى
دا توجيه چونكه په خپله د ابن عباس رضى الله عنهما نه مروى ده. ددې وجه د ټولو نه زياته راجحه معلوميږى او په دې باندې اشكال هم نشته.

قوله: حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ):

په دې كښې درې احتمالات دى.
① يو دا چې (مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ) رسول او اهل ايمان ټولو وئيلې دى او الله فرمائيلې دى (اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ)

---

(١) فيض البارى ٤/١٦٢،١٦١)-

② دويم دا چې اهل ايمان ونيلي دى (مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ) او رسول ونيلي دى (اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ)
③ دريم احتمال دادې چې دواړو ونيلې وى (مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ) بيا چې كله ورته هوش راغلې وى نو دواړو ونيلې وى (اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ)

قوله: ذَهَبَ بِهَا هُنَالِكَ: يعنى حضرت ابن عباس رضى الله عنهما د سورة يوسف ايت هلته (د سورة بقره ايت باب طرف) ته اوړى دې څكه چې د دواړو مفهوم او مصداق يو دې لكه څنګه چې تيرشو.

۴۱-باب: قوله تعالى: (نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ وَقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ)

[۴۲۵۳] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ-رضى الله عنهما- إِذَا قَرَأَ الْقُرْآنَ لَمْ يَتَكَلَّمْ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ، فَأَخَذْتُ عَلَيْهِ يَوْمًا، فَقَرَأَ سُورَةَ الْبَقَرَةِ حَتَّى انْتَهَى إِلَى مَكَانٍ قَالَ تَدْرِي فِيمَا أُنْزِلَتْ. قُلْتُ لَا. قَالَ أُنْزِلَتْ فِي كَذَا وَكَذَا. ثُمَّ مَضَى. وَعَنْ عَبْدِ الصَّمَدِ حَدَّثَنِي أَبِي حَدَّثَنِي أَيُّوبُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ (فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ) قَالَ يَأْتِيهَا فِي. رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ.

[۴۲۵۴] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ سَمِعْتُ جَابِرًا-رضى الله عنه- قَالَ كَانَتِ الْيَهُودُ تَقُولُ إِذَا جَامَعَهَا مِنْ وَرَائِهَا جَاءَ الْوَلَدُ أَحْوَلَ. فَنَزَلَتْ (نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ).

ښځې سره د وطى فى الدبر مسئله: د ايت كريمه سبب نزول په روايت كښې دا بيان شوې دې چې يهوديانو به ونيل چې سړې كله د خپلې ښځې د شاه طرف نه د هغې په فرج كښې جماع اوكړى نو بچې احل يعنى كاڼړې پيدا كيږى .په دې باندې ذكر شوې ايت نازل شو. د ايت مطلب دادې چې ستاسو ښځې پټى دى نو تاسو خپل پټى ته څنګه چې مو خوښه وى نو راځئ.
په ايت كښې د (انى) لفظ راغلې دې. د (انى) لفظ د (اين) (كيف) او (متى) په معنى كښې استعماليږى. كله چې د (اين) په معنى كښې استعمال وى نو په هغه وخت كښې به (من) ضرور وى برابره ده كه ظاهر وى او كه محذوف وى.
ضحاك فرمائيلې دى چې دلته (انى) د (متى) په معنى كښې دې يعنى (متى شئتم) مجاهد فرمائيلې دى چې د كيف په معنى كښې دې او قتاده او ربيع فرمائيلې دى چه د (من اين) په معنى كښې دې (١)
بعضې محققينو د (من اين) معنى ته ترجيح وركړې ده يعنى د كوم طرف نه چې تاسو غواړئ

(١) روح المعانى ١٧٧/٢ والجامع لاحكام القران ٩٣/٣)-

خپلو بيبيانو ته راځئ، د مخكښې نه ، شا نه، پورته نه، ښكته نه، ، البته وطى فى القبل پكار دي . دلته د جهت تعليم مراد دې د مكان تعميم مراد نه دې [1]

ښځې سره په دبر كښې وطى كولو كښې د عالمانو اختلاف دې: ①حضرت عبدالله بن عمر ، محمد بن كعب قرظى، سعيد بن يسار، امام مالك او امام شافعى په قول قديم كښې .د اباحت قائل دى[2]

د امام مازرى او ابن العربى رجحان هم دې طرف ته معلوميږى، ابوبكر جصاص په احكام القران كښې ليكلې دى چې د امام مالك مشهور قول د اباحت دې خو مالكيانو ددې قول ترديد كړې دې ، صحيح خبره دا ده چه امام مالك نه د اباحت قول منقول دې [3]

البته ابويعلى خليلى په «الارشاد» كښې د امام مالك نه ددې قول رجوع نقل كړې ده.

د امام شافعى رحمه الله په باره كښې منقول دى چې كله د هغوى نه ددې باره كښې تپوس اوشو نو هغوى اوفرمائيل چې په دې باره كښې څه صحيح حديث راغلې نه دې البته د قياس تقاضه داده چې دا حلال دې[4] حاكم او بيهقى وغيره د امام محمد او امام شافعى نه په دې مسئله كښې مناظره هم نقل كړې ده امام محمد فرمائى چې په موضع حرث كښې وطى كول جائز دى او په موضع فرث «د ګندګئ ځائې» كښې وطى كول جائز نه دى ، په دې باندې امام شافعى د امام محمد نه تپوس اوكړو چې سړې د خپلې بى بى سره د هغې په پتون كښې وطى اوكړى نو دا جائزه ده؟ امام محمد اوفرمائيل او دا جائزه ده، نو امام شافعى اووئيل «فكيف تحتج بما تقول به» څكه چې پتون وغيره هم د حرث ځائې نه دې [5]

خو د امام شافعى قول قديم وو روستو هغه ددې د حرمت تصريح كړې ده او د شوافعو مذهب د تحريم دې[6]

①احناف، شوافع ،حنابله او جمهور امت د ښځې سره په دبر كښې وطى ته حرام وائى څكه چې دا موضع حرث نه دې [7]

ابن حزيمه د رسول الله ﷺ نه روايت نقل كړې دې «ان الله لا يستحى من الحق لا تاتوا النساء فى ادبارهن»[8]

---

[1]) روح المعانى ۱۷۷/۲)-
[2]) تفسيرى مظهرى ۲۸۰/۱) والجامع ۹۳/۳) وعمدة القارى ۱۱۷/۱۸)-
[3]) احكام القران للجصاص ۳۵۲/۱)-
[4]) عمدة القارى ۱۱۷/۱۸) وتفسير مظهرى ۲۸۰،۲۸۱/۱)ورح المعانى ۱۷۸/۲)-
[5]) روح المعانى ۱۷۸/۲) وتفسير مظهرى ۲۸۱/۱)-
[6]) عمدة القارى ۱۱۷/۱۸)-
[7]) تفسير مظهري ۲۸۰/۱)-
[8]) عمدة القارى ۱۱۷/۱۸)-

دغه شان دعمروبن شعیب روایت دي (هی اللواطة الصغری یعنی وطی النساء فی ادبارهن)—
امام طحاوی . امام محمد . او ابن شیبة روایت نقل کړي دي چې نبی ﷺ فرمائیلي دی (لاینظر الله تعالیٰ الی رجل وطی امراة فی دبرها)[1]
حضرت ابن عمر رضی الله عنه ته د اباحت نسبت هم مشکوک دي امام طحاوی روایت نقل کړي دي چې د ابن عمر رضی الله عنه نه د وطی فی الدبر په بارد کښې تپوس اوشو نو هغوی اوونیل (اویفعله مسلم) ایا مسلمان داسې کولې شی ددې وجې هغوی طرف ته د جواز د قول نسبت صحیح نه دې (۲)
علامه ابن القیم په زاد المعاد کښې تصریح کړې ده چې د سلفو نه په کوم کوم ځائې کښې د (اتیان فی الدبر) جواز منقول دې نو د هغې نه (اتیان فی القبل من جهة الدبر) مراد دې .بعضې راویان په دې مفهوم باندې ښه نه دی پوهه شوې او (اتیان فی نفس الدبر) ئې مراد اخستې دې .او ددې فعل شنیع د جواز قول ئې ذکر کړې دې (۳)هم دا حق او صواب دې .او هم دا مقتضا د عقل اوشرع ده .او ددې نه خلاف ګڼړل او وئیل تجاوز عن الحد دې.
اسماعیلی دیحیی ابن زاهد په طریق سره د سفیان نه روایت نقل کړې دې (بارکة مدبرة فی فرجها من ورائها) دلته (من ورائها) سره د (فی فرجها) تصریح ده (۴)
دغه شان په صحیح مسلم کښې دی (اذا اتی الرجل امراته من دبرها فی قبلها) (۵)او د روایت په الفاظو کښې (اذا اتی المراة من دبرها فی قبلها ثم حملت) (۶)حامله کیدل هله ممکن دی چې وطی فی القبل وی .ددې وجې به د (جماع من الوراء) نه مراد (وطی فی القبل) وی.

قوله: <u>یاتیها فی</u> : دلته په باب کښې په دویم روایت کښې دا الفاظ راغلې دی (فی) د حرف جر ذکر دې خو د مجرور ذکر نشته.
ابن جریر په تفسیر کښې د ابوقلابه په طریق سره دا روایت نقل کړې دې په دې کښې ئې د مجرور ذکر کړې دې (یاتیها فی الدبر) (۷)
حمیدی په (الجمع بین الصحیحن) کښې د (یاتیها فی الفرج) الفاظ نقل کړي دي (۸)

---

[1]) حواله بالا)_
[2]) عمدة القاری ۱۸/ ۱۱۷)تفسیر ابن کثیر ۱/ ۲۶۲،۲۶۳) وشرح معانی الاثار ۲/ ۲۲،۲۳)کتاب النکاح باب وطی النساء فی ادبارهن)_
[3]) فیض الباری ٤/ ۱۶۳)-
[4]) فتح الباری کتاب التفسیر ۸/ ۱۹۲)-
[5]) الصحیح المسلم ۱/ ٤۶۳)-
[6]) حواله بالا)_
[7]) عمدة القاری ۱۸/ ۱۱۶)-
[8]) حواله بالا)-

امام بخاري د مجرور ذكر نه دې كړې عام طور كله چې امام ته د څه لفظ متعلق اشكال كيږي نو هغه هلته بياض پريږدي چې روستو كله اطمينان اوشي نو ګوري به. خو بعضې وخت هغه بياض هم پاتې نه شي. دلته هم داسې ده [1]

۴۲-باب: قوله تعالى: وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ [۲۳۲]

[۴۲۵۵] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ رَاشِدٍ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ قَالَ حَدَّثَنِي مَعْقِلُ بْنُ يَسَارٍ قَالَ كَانَتْ لِي أُخْتٌ تُخْطَبُ إِلَيَّ. وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ عَنْ يُونُسَ عَنِ الْحَسَنِ حَدَّثَنِي مَعْقِلُ بْنُ يَسَارٍ. حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنِ الْحَسَنِ أَنَّ أُخْتَ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا، فَتَرَكَهَا حَتَّى انْقَضَتْ عِدَّتُهَا، فَخَطَبَهَا فَأَبَى مَعْقِلٌ، فَنَزَلَتْ (فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ).

د ايت كريمه نه په عبارة النساء سره په نكاح باندې استدلال: ددې ايت نه امام ترمذى، ابن جرير طبرى اوقاضى ابن عربى وغيره په دې خبره باندې استدلال كړې دې چې دنكاح په معامله كښې د ښځو اعتبار نشته بلكه دا اولياؤ ته حواله دې، ګنى كه ښځو ته اعتبار وې نو بيا حضرت معقل بن يسار خپله خور د نكاح نه ولې منع كوله او ددوى په دې منع كولو باندې به ﴿فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ﴾ [2]

خو كوم حضرات چې د نكاح بعبارة النساء د معتبر كيدو قائل دى هغوى وائى چې ايت خو زمونږ دليل دې ځكه چې حضرت معقل بن يسار د نكاح بعبارة النساء باندې نصيحت اوكړو او خپله خور ئې دنكاح نه منع كړه نو الله تعالى په دې باندې انكار اوكړو. ددې نه معلومه شوه چې ښځې په خپله نكاح كولې شى [3]

۴۳-باب: قوله تعالى: (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا) إِلَى (بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ) [۴۱]

[۴۲۵۶] حَدَّثَنِي أُمَيَّةُ بْنُ بِسْطَامٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ عَنْ حَبِيبٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ قُلْتُ لِعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا) قَالَ قَدْ نَسَخَتْهَا الْآيَةُ الْأُخْرَى فَلِمَ تَكْتُبُهَا أَوْ تَدَعُهَا قَالَ يَا ابْنَ أَخِي، لَا أُغَيِّرُ شَيْئًا مِنْهُ مِنْ مَكَانِهِ.

[۴۲۵۷] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا شِبْلٌ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ (وَالَّذِينَ

[1]) حواله بالا)-
[2]) جامع الابيان فى تفسير القران ۲۹۹/۲، ۳۰۰) وسنن ترمذى ۲۱۷/۵، ۲۱۶) كتاب تفسير القران)-
[3]) التفسير المظهرى ۳۱۶-۳۱۷)-

يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا) قَالَ كَانَتْ هَذِهِ الْعِدَّةُ تَعْتَدُّ عِنْدَ أَهْلِ زَوْجِهَا وَاجِبٌ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ مَتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعْرُوفٍ) قَالَ جَعَلَ اللَّهُ لَهَا تَمَامَ السَّنَةِ سَبْعَةَ أَشْهُرٍ وَعِشْرِينَ لَيْلَةً وَصِيَّةً، إِنْ شَاءَتْ سَكَنَتْ فِي وَصِيَّتِهَا، وَإِنْ شَاءَتْ خَرَجَتْ، وَهُوَ قَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى (غَيْرَ إِخْرَاجٍ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ) فَالْعِدَّةُ كَمَا هِيَ وَاجِبٌ عَلَيْهَا. زَعَمَ ذَلِكَ عَنْ مُجَاهِدٍ. وَقَالَ عَطَاءٌ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ نَسَخَتْ هَذِهِ الْآيَةُ عِدَّتَهَا عِنْدَ أَهْلِهَا، فَتَعْتَدُّ حَيْثُ شَاءَتْ، وَهُوَ قَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى (غَيْرَ إِخْرَاجٍ). قَالَ عَطَاءٌ إِنْ شَاءَتِ اعْتَدَّتْ عِنْدَ أَهْلِهِ وَسَكَنَتْ فِي وَصِيَّتِهَا، وَإِنْ شَاءَتْ خَرَجَتْ لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى (فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ). قَالَ عَطَاءٌ ثُمَّ جَاءَ الْمِيرَاثُ فَنَسَخَ السُّكْنَى فَتَعْتَدُّ حَيْثُ شَاءَتْ، وَلَا سُكْنَى لَهَا. وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يُوسُفَ حَدَّثَنَا وَرْقَاءُ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ بِهَذَا. وَعَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَسَخَتْ هَذِهِ الْآيَةُ عِدَّتَهَا فِي أَهْلِهَا، فَتَعْتَدُّ حَيْثُ شَاءَتْ لِقَوْلِ اللَّهِ (غَيْرَ إِخْرَاجٍ) نَحْوَهُ.

قوله: يَعْفُونَ يَهَبْنَ: يعنى (وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا أَن يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ) په دې ايت کښې يعفون په معنى د (يهبن) دې يعنى هبه کول.

د متوفى عنها زوجها (کونډې) عدت څلور مياشتې او لس ورځې دې.د عدت تيريدو نه وړاندې هغه نه نکاح کولې شى او نه د نکاح خبرې کولې شى نه به خوشبو لګوى او نه به ډول او سنګار کوى او نه به رنګينې جامې اغوندى.د زينت د اسبابو استعمال ددې د پاره ممنوع دې هم دا حکم د مطلقه بائنه دې کله چې د خاوند د پاره د رجوع حق نه وى.[1]

د خاوند په کور کښې اوسيدل مطلقه بائنه د پاره هم ضرورى دى او د کونډې د پاره هم واجب دى ، خو دا وجوب من الجهة الاحداد (ماتم) دې ،ددې وجې نه نه دې چې ددې د پاره سکنى لازم ده ، خو د ميراث په ايت سره ساقطه شوې ده البته د ابن عباس رضي الله عنه په نيز دمعمولى ضرورت د پاره هم وتل جائز دى .که د خاوند وفات د سپوږمۍ په شپه کښې وى نود عدت مياشت به د سپوږمۍ د حساب نه پورا کولې شى برابره ده که سپوږمۍ د يو کم ديرش وى او که د ديرشو وى ،خو که وفات د سپوږمۍ د شپې نه پس وى نو ټولې مياشتې به د ديرشو ورځو په حساب سره پوره کولې شى.په دې صورت کښې د څلورو مياشتو ۱۲۰ ورځې شوې ، او چې نورې لس ورځې ورسره ملاؤ شى نو د عدت ټولې يو سل ديرش ورځې شوې.

[1] بدائع الصنائع ۲۰۸،۲۰۹/۳) البحرالرائق ۱۶۲/٤) الباب ۸۵/۳) انلدر المختار.۸٤/۲) واعانة الطالبين للسيد البكرى ٤۳/٤)والمقنع ۲۹۱/۳) والفقه الاسلامى وادلته ٦۵۳/۷) عند الاحناف لايحوز ان يخرج مطلقه من البيت فى الليل ولافى نهار.والمتوفى عنها يجوز ان يخرج فى النهار للحاجة ولا يجوز ان يخرج فى الليل)

قوله: حَدَّثَنِي أُمَيَّةُ بْنُ بِسْطَامٍ: دلته دوه آياتونه دى﴿وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَّعَشْرًا﴾دا ايت دتربص دي او ناسخ دې او په قرانى ترتيب كښې مقدم دې. دويم ايت دې ﴿وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا ۚ وَّصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِمْ مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْ مَا فَعَلْنَ فِيْ أَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَّعْرُوْفٍ﴾نو دا ايت الحول منسوخ دې او په قرانى ترتيب كښې موخر واقع شوى دې.

ابن زبير رضي الله عنه ته دا اشكال پيښ شوى دې، چې كله د وصيت ايت منسوخ شو نو دائې په قران كښې ولې ليكلې دې نو حضرت عثمان رضي الله عنه اوفرمائيل ددې ايت حكم منسوخ شوې دې تلاوت ئې نه دې منسوخ شوې ،ددې وجې دا باقى پريخودې شوې دې ،نبى ﷺ دا باقى پريخودې دې او په مونږ باندې د نبى ﷺ اتباع لازم ده ،ددې وجې زه په دې كښې څه تبديلى نشم كولې.

پاتې شو دا سوال چې كله د ايت الحول حكم په ايت التربص باندې منسوخ شوې دې نو په تلاوت برقرار پاتې كولو كښې څه فائده ده؟

ددې جواب يو خو دادې چې په دې باندې ثواب ميلاويږى ،دويم د نبى ﷺ د تابعدارئى او اتباع ثواب به ملاويږى چې څنګه دا نبى ﷺ په مصحف كښې برقرار پريخودې دې نو چې مونږ هم د هغوى په اتباع كښې هم داسې اوكړو.

د ايت په باره كښې يو اشكال او د هغې جواب: ددې نه پس دا سوال كيږى چې هر كله ايت الحول منسوخ دې نو پكار وه چې دا مقدم وې او ايت د تربص ددې د پاره ناسخ وې نو چې هغه مؤخر وى ځكه چې منسوخ هميشه د پاره مقدم وى او ناسخ مؤخر وى خو دلته قران كريم كښې په ترتيب كښې ايت د تربص چې ناسخ دې مقدم واقع شوې دې او ايت الحول منسوخ ايت په قران كريم كښې ورسته واقع شوې دې.

ددې اشكال جواب دادې چې يو ترتيب نزول دې په دې كښې خو هم دا وى چه منسوخ ايت مقدم وى او ناسخ مؤخر وى، ددې نه خلاف متصور نه دې نو د نزول ايت په ترتيب كښې يقينا د ايت الحول نزول وړاندې دې او د ايت تربص نزول روسته دې خو يو ترتيب هغه دې كوم چه دې وخت كښې په قران كريم كښې موجود دې دا ترتيب د لوح محفوظ د ترتيب مطابق دې او دا ترتيب توقيفى دې ، د رسول الله ﷺ نه ترتيب د آياتونو هم داسې منقول دې په دې كښې د تبديلئ كولو چاته حق نشته ،په دغه ترتيب توقيفى كښې ايت د تربص كوم چې ناسخ دې مقدم دې او ايت الحول كوم چې منسوخ دې مؤخر دې (اګر چې عام طور باندې په دې توقيفى ترتيب كښې هم منسوخ مقدم او مؤخر دې ،خو دلته داسې نه ده)نو موجوده ترتيب چونكه توقيفى دې په دې وجه دغه په لوح محفوظ كښې په دې ترتيب سره د كيدو په وجه هم پابند يو چه ناسخ اول او منسوخ روستو اوګرځوو(١).

---

١) الاتقان فى علوم القران ١٥٥)-

چې دا ترتيب نې اوكتلو نو مجاهد او عطاء دا دعوى اوكړه چې ايت الحول كوم چې مؤخر دې منسوخ نه دې ځكه چې منسوخ ايت خو د ناسخ نه وړاندې وى ځكه چې په ترتيب نزول كښې واقعى هم داسې وو خو د تلاوت په ترتيب كښې دا ضرورى نه دې .موجوده چې د اياتونو كوم ترتيب د تلاوت په وخت كښې ملحوظ ساتلې شى دا توقيفى دې .په دې كښې د رائې او قياس دخل نشته ،ددې وجه د جمهورو په دې باندې اتفاق دې چې ايت الحول منسوخ دې او ايت د تربص ددې د پاره ناسخ دې اول به ښځې د ګونډتوب په عدت كښې يو كال تيرولو ،د جاهليت د زمانې طريقه هم دا وه بيا د رسول الله ﷺ تقرير دې ته حاصل شو،دغه شان د ايت الحول په ذريعه د بيبيانو د پاره حكم راغلو چې د مرګ د اثارو ښكاره كيدوپه وخت كښې كه دوى بيبيانې پريږدى او وفات كيږى نو د دوى د پاره دې د يو كال د نفقې او سكنى وصيت كوى ځكه چې اول په اسلام كښې د عدت يو كال ددې نه پس د تربص ايت نازل شو او د كال په ځائې څلور مياشتې او لس ورځې مقرر شوې.

مجاهد او عطاء د ابن عباس رضي الله عنهما نه ددې خلاف نقل كړې دى چې ايتِ الحول منسوخ نه دې د وصيت حكم په ايت الحول كښې د څلورو مياشتو او لسو ورځو عدت مقرر كيدو نه پس راغلې دې،بيا بيبيانو ته اختيار وركړې شوې دې كه هغوى غواړى ددې وصيت نه فائده واخلى او ياكه د دوى مرشى د استفادې نه وى نو نه دې اخلى. اوس دلته په دې پوهه شئ چه دلته درې څيزونه دى.

① متوفى عنها زوجها د پاره څلور مياشتې او لس ورځې عدت دې

② د متوفى عنها زوجها د پاره د خاوند په كور كښې د سكونت لزوم

③ په خاوندانو باندې د وصيت وجوب

امام بخارى يو قول د مجاهد نه نقل كړې دې او يو قول د عطاء نه او دا دواړه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما شاګردان دى لكه چې دوى د ابن عباس رضي الله عنهما پيش كړې ده ،حضرت مجاهد دا وئيلې دى﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا ۖ وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم﴾ چې د څلورو مياشتو او لس ورځو د عدت سره څه تعلق نشته.

د ايت الحول د نزول نه پس د څلورو مياشتو او لسو ورځو عدت هم داسې واجب دې څنګه چې وړاندې وو.په ايت الحول كښې خاوندان ددې پابند كړې شوى دى، چه هغوى بيبيانو ته د نورو اووه مياشتو او شلوورځو وصيت اوكړى، د متاع او سكنى د پاره چه پوره كال شو او بيبيانو ته دا اختيار وركړې شو كه هغوى ددې وصيت مطابق د خاوند په كور كښې اوسيدل خوښوى نو اوسيږى دې او كه نه خوښوى نه دې اوسيږى.

عطاء وائى چې په ﴿وصية لازواجهم﴾ ايت الحول كښې په امور ثلاثه كښې امرثانى منسوخ كړې شوې دې او د ښځې د پاره د خاوند په كور كښې عدت تيرول ضرورى نه دى پاتې شوې .عطاء فرمائى چې نه څلور مياشتې او لس ورځې د خاوند په كور كښې عدت تيرول ضرورى دى او نه په موده د وصيت كښې د خاوند په كور كښې سكونت اختيارول ضرورى دى،د عطاء په نيز د څلور مياشتو او لسو ورځو د عدت حكم په خپل ځائې باندې باقى دې د ايت الحول د

نزول سره د سكوت فى بيت الزوج وجوب ختم شو نه په موده د عدت كښې څلورمياشتې او لس ورځو كښې دا وجوب باقى پاتې شو او نه په موده د وصيت كښې چې اووه مياشتې او شل ورځې دى.

مجاهد په موده د وصيت كښې خو د ښځې د اختيار ذكر كړې دې خو د عدت په موده څلور مياشتو او لس ورځو په باره كښې مجاهد سكوت اختيار كړې دې خو ظاهره دا ده چې د مجاهد په نيز هم لكه څنګه چې په موده د وصيت كښې د ښځې د پاره د خاوند په كور كښې سكونت واجب نه دې دغه شان د عدت په موده څلورمياشتې او لسو ورځو كښې هم سكونت فى بيت الزوج واجب نه دې ،اګرچې هغوى ددې ذكر نه دې كړې خكه چې كله موده د وصيت كښې ډيره موده ده سكونت فى بيت الزوج ضرورى نه دې نو په موده د عدت كښې چه څلور مياشتې او لس ورځې كومه موده ده .په هم سكونت ضرورى نه وى. نو كه دا اومنلې شى چه مجاهد هم سكونت فى بيت الزوج نه په موده د وصيت كښې ضرورى ګڼړى او نه په موده د عدت كښې نو بيا په عطاء او مجاهد كښې اختلاف باقى نه پاتې كيږى.

د لامع الدرارى په غلطئ باندې تنبيه: دلته په (لامع الدرارى) كښې غلطى واقع شوې ده په هغې كښې د مجاهد قول ددې عكس نقل كړې شوې دې چه هغه په موده د عدت څلورمياشتې او لسو ورځو كښې د تخير قائل د وصيت د مودې په باره كښې هغوى سكونت اختيار كړې دې [1] حال دا چې حقيقت ددې په خلاف دې څكه چې هغوى د ښځې د اختيار ذكر د وصيت د مودې په باره كښې كړې دې او په موده د عدت كښې چه څورمياشتې او لس ورځې دى په هغې كښې ئې د سكونت ذكر كړې دې.

ددې نه پس عطاء فرمائيلې دى چه د ميراث د ايت د نزول نه پس د ښځې د پاره د خاوند په كور كښې د اوسيدو اختيار ختم شو ،نه هغه څلور مياشتې لس ورځې د عدت په موده كښې هلته حصاريدې شى او نه په موده د وصيت كښې چه اووه مياشتې او شل ورځې اوسيدې شى .كه اوسيږى نو كرايه به وركوى ميراث دې ته ملاؤ شو .پيسې دې سره شته نو كه اوسيدل غواړى كرايه دې وركوى. بلكه د ميراث د ايت نه پس خو دا وصيت هم جائز نه دې څكه چې ميراث ايت الحول منسوخ كړې دې .په ايت د تربص سره هغه نه دې منسوخ شوې څكه چې ايت تربص په نزول كښې مقدم دې او ايت الحول مؤخر دې خو د ميراث ايت ددې نه هم مؤخر دې ،نو د ايت الحول د پاره ناسخ شو.

په دې دريمه مسئله كښې هم چه ايت الحول په ايت د ميراث سره منسوخ شوې دې د عطاء او مجاهد اختلاف نشته ،دواړه ددې نسخ قائل دى.

ددې تفصيل نه معلومه شوه چې د مجاهد او عطاء په بيان كښې د ابن عباس رضي الله عنه د مذهب په بيانولو كښې اختلاف نشته خو د ابن عباس رضي الله عنه په رواياتو كښې اختلاف واقع شوې دې د بعضې رواياتو نه عدم نسخ معلوميږى لكه څنګه امام بخارى نقل كړې دى او د هغې تفصيل

---

[1]) لامع الدرارى ۹/۲۶)-

ستاسو وړاندې پیش کړې شو او بعضې روایاتو نه نسخ معلومیږی علامه سیوطی په درمنثور کښې فرمائیلې دی «اخرج ابوداود والنسائی والبیهقی من طریق عکرمة عن ابن عباس رضی الله عنهما فی قوله ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِم مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ﴾ قال نسخ الله ذلك بآية المیراث بما فرض الله لهن من الربع والثمن ونسخ اجل الحول بان جعل اجلها اربعة اشهر وعشرا»[1]

د داسې قسم روایاتو نه د ابن عباس رضی الله عنهما رائې د جمهورو سره موافق معلومیږی چې هغوی عدت الحول په ﴿أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا﴾ ایت باندې منسوخ منی.

د متوفی عنها زوجها د نفقه او سکنی حکم: د احنافو په نیز د متوفی عنها زوجها (کونډې) د پاره نه نفقه شته او نه سکنی. که حامله وی یا غیر حامله وی ځکه چه د زوج د وفات نه پس د هغه مالونه وارثانو ته منتقل شول نو دوارثانو د مال نه به نه نفقه ادا کولې شی او نه سکنی[2]

د علامه نووی مطابق د شوافعو په نیز نفقه خو واجب نه ده که حامله وی او که غیر حامله وی البته د سکنی د پاره امام نووی رحمه الله فرمائی «والاصح عندنا وجوب السکنی»[3] لکه چې په بل روایت کښې ددې د پاره د هغوی په نیز سکنی نشته.

د حنابله په نیز که هغه غیر حامله وی نو نه نفقه شته او نه سکنی شته. او که حامله وی نو دواړه روایتونه دی په یو روایت کښې د حاملې د پاره هم نفقه او سکنی شته او بل روایت کښې د حاملې د پاره نفقه او سکنی شته «وکذا قال الموفق»[4]

د مالکیانو په نیز د متوفی عنها زوجها د پاره نفقه نشته که حامله وی او که غیر حامله وی البته سکنی په دې صورت کښې شته چه کله کور د خاوند ملکیت وی یا د کرایه وی او خاوند د وفات نه وړاندې کرایه ادا کړې وی گنی نشته «وکذا قال الباجی»[5]

قوله: حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا رَوْحٌ: په دې حدیث کښې ئې د ایت تربص د نقل کولو نه پس وئیلې دی «قال کانت هذه العدة تعتد عند اهل زوجها واجب» ددې نه عدت د وفات څلور میاشتې او لس ورځې مراد دی او مطلب دا دې چه د آیت الحول د نزول نه پس په دې عدت کښې څه تبدیلی نه ده راغلې، دا عدت د ایت الحول نه پس هم هغه شان واجب دې څنګه چې وړاندې وو البته په ایت الحول کښې خاوندانو ته د وصیت حکم ورکړې شوې وو او ښځو ته د

---

[1] درمنثور (۳۰۹/۱) وتعلیقات لامع الدراری (۲۶/۹)-
[2] بدائع الصنائع (۲۱۱/۳) واوجز المسالک (۱۸۵/۱۰)-
[3] الصحیح المسلم مع شرحه الکامل للنووی (۴۸۲/۱)-
[4] اوجز المسالک (۱۸۵/۱۰) والمقنع فی فقه الامام احمد کتاب النفقات ۳۱۱۹/۳ والعدة شرح العمدة للمقدسی(۴۳۳ باب نفقة المتعتدات والانصاف فی معرفة الراجح من الخلاف للمرداوی ۳۶۸،٤٦٩/۰۹)-
[5] اوجز المسالک (۱۸۵/۱۰) والفقه الاسلامی وادلته (۶۵۹۹ والشرح الصغیر للدردیر ۶۸۶/۰۲) باب العدة والمنتقی شرح موطا للباجی(۱۳۶/٤، ۱۳٤) وبلغة المسالک لاقرب المسلک للصاوی ۲۵۰/۱)-

وصيت مطابق عمل كولو او نه عمل كولو اختيار وركړې شوې وو. وړاندې بيان وائى (فالعدة كما هي واجب عليها) دلته هم هغه د څلورمياشتو او لس ورځو عدت وجوب مراد دې.

قوله: زَعَمَ ذَلِكَ عَنْ مُجَاهِدٍ: يعنى ابن ابى نجيح د مجاهد نه هم دغه شان نقل كړې دى وړاندې د عطاء قول دې د كوم تشريح چه شوې ده، وړاندې بيا (وعن محمد بن يوسف قال حدثنا ورقاء عن ابن ابى نجيح عن مجاهد: بهذا) سره د مجاهد هم هغه ذكر شوې قول په بل سند سره بيانوى بيا (عن ابن ابى نجيح، عن عطاء، عن ابن عباس، قال نسخت هذا الاية عدتها الى اهلها فتعتد حيث شاءت) سره ئې د ابن عباس رضي الله عنه قول نقل كړې دې چې په ايت الحول سره ايت التربص منسوخ شو خو عدت منسوخ نه دې ځكه چې هغه خو (فتعتد حيث شاءت) كښې د عدت تيرولو ذكر كوى البته د بيت زوج لزوم ختم شو ددې وجې چه چرته غواړى عدت دې تير كړى.

[۴۲۵۸] حَدَّثَنَا حِبَّانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَوْنٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ جَلَسْتُ إِلَى مَجْلِسٍ فِيهِ عُظْمٌ مِنَ الأَنْصَارِ وَفِيهِمْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى، فَذَكَرْتُ حَدِيثَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ فِي شَأْنِ سُبَيْعَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ، فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ وَلَكِنَّ عَمَّهُ كَانَ لاَ يَقُولُ ذَلِكَ. فَقُلْتُ إِنِّي لَجَرِيءٌ إِنْ كَذَبْتُ عَلَى رَجُلٍ فِي جَانِبِ الْكُوفَةِ. وَرَفَعَ صَوْتَهُ، قَالَ ثُمَّ خَرَجْتُ فَلَقِيتُ مَالِكَ بْنَ عَامِرٍ أَوْ مَالِكَ بْنَ عَوْفٍ قُلْتُ كَيْفَ كَانَ قَوْلُ ابْنِ مَسْعُودٍ فِي الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا وَهْيَ حَامِلٌ فَقَالَ قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ أَتَجْعَلُونَ عَلَيْهَا التَّغْلِيظَ، وَلاَ تَجْعَلُونَ لَهَا الرُّخْصَةَ لَنَزَلَتْ سُورَةُ النِّسَاءِ الْقُصْرَى بَعْدَ الطُّولَى. وَقَالَ أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدٍ لَقِيتُ أَبَا عَطِيَّةَ مَالِكَ بْنَ عَامِرٍ.

د حاملې متوفى عنها زوجها عدت: حضرت ابن سيرين رحمه الله فرمائى چه زه په كوفه كښې په يو مجلس كښې ناست ووم په هغې كښې د انصارو لوئې خلق ناست وو، په هغوى كښې عبدالرحمان بن ابى ليلى هم وو. ما دسبيعه بنت الحارث متعلق د عبدالله بن عتبه حديث نقل كړلو. د هغه حديث مفهوم دادې چې د سبيعه بنت حارث خاوند وفات شو او دا حامله وه ،اوس لا څلورمياشتې او لس ورځې نه وې تيرې شوې چه دا د حمل نه فارغه شوه نو د نبى صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضره شوه او د خپل عدت په باره كښې ئې تپوس اوكړو ،نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل په وضع د حمل سره عدت ختم شو.

دا حديث چې ئې واوريدلو نو عبدالرحمن بن ابى ليله اوفرمائيل، ته د عبدالله بن عتبه بن مسعود په حوالې سره حديث نقل كوې حالاتكه چې دهغه تره عبدالله بن مسعود دابعد الاجلين قائل وو[1] د عبدالرحمن ابن ابى ليله مطلب دادې چې عبدالله بن عتبه د حضرت عبدالله بن

---

[1] ابن ابى ليلى د حضرت عبدالله بن مسعود هم دا مذهب اختيار كړې دې هغوى د ابعد الاجلين قائل وو خو دا صحيح نه ده لكه څنګه چې وړاندې راځى او دا هم ممكن ده چې اول كښې هغوى د ابعد الاجلين قائل وو.

مسعود وراره دې او شاګرد ئې هم دې هغه د خپل استاذ خلاف څنګه وئيلې شي عبدالرحمان بن ابی ليلی د ابن سيرين حديث باندې يو قسم د خپل عدم اطمينان اظهار اوکړو.په دې ابن سيرين اووئيل که ما په داسې کس باندې دروغ وئيلې وی کوم چې په کوفه کښې موجود دې نوبيا خو به زه ډير زړه ور يم ، مطلب دا دې چې عبدالله بن عتبه په کوفه کښې موجود دې او د هغه په حواله حديث بيانوم نو په هغې باندې دروغ او هغه ته د حديث غلط نسبت څنګه کولې شم.

قوله: فَلَقِيتُ مَالِكَ بْنَ عَامِرٍ أَوْ مَالِكَ بْنَ عَوْفٍ : حضرت ابن سيرين ددې مجلس نه پاسيدلو فرمائی بيا زه د مالک بن عامر سره ملاؤشوم. دلته راوی ته د مالک بن عامر او مالک بن عوف په باره کښې شک دې ، صحيح مالک بن عامر دې لکه وړاندې چې د ايوب په تعليق کښې تصريح ده.

چونکه مالک بن عامر هم د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ شاګرد وو نو ځکه د زيات اطيمينان حاصلولو د پاره ابن سيرين د هغه نه تپوس اوکړو چه حضرت عبدالله بن مسعود د هغه ښځې په باره کښې څه قول دې چې د چا خاوند مړ شی او هغه حامله وی.مالک بن عامر د عبدالله بن مسعود ﷺ قول نقل کړو(اتجعلون عليها التغليظ، ولا تجعلون لها الرخصة) يعنی تاسو خو په دغه کونډه باندې سختی کوئی که موده د څلورمياشتو او لسو ورځو نه زياته هم وی نو بيا ښځې د پاره دا حکم دې چې د وضع حمل نه وړاندې د هغې عدت نه پوره کيږی ،برابره ده که موده د حمل نهه مياشتو پورې اوږده شی.او هغې ته رخصت نه ورکوی(که وضع د حمل د څلورومياشتو او لس ورځونه کمه موده کښې اوشی نو په وضع سره دهغې عدت پوره نه منی) مطلب دا چه د وضع حمل موده اوږده شی نو په دې صورت کښې تاسو ښځې ته د انتظار کولو حکم کوئی نو د وضع حمل موده مختصره شی په دې صورت کښې هم هغې ته د تخفيف حق ملاويدل پکار دی ،بيا اوفرمائيل چې سورة قصری يعنی سورة طلاق د سورة طولی يعنی سورة بقره نه پس نازل شوې دې مطلب دادې چې د سورة طلاق ايت (وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ) روستو نازل شوې دې ايت سره د سورة بقره ايت (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا) کښې تخصيص کړې دې.د سورة بقره د ايت حکم اوس صرف د غير حامله د پاره دې اوس درې صورتونه راوځی.

① يو صورت دادې چې ښځه متوفی عنها زوجها وی او حامله نه وی ددې عدت څلورمياشتې او لس ورځې دې.

② دويم شکل دادې چه ښځه حامله وی مطلقه وی او متوفی عنها زوجها نه وی،ددې عدت وضع د حمل ده.

③ دريم صورت دادې چې ښځه متوفی عنها زوجها هم وی او حامله هم وی.په دې کښې اختلاف دې چې ددې عدت ابعد الاجلين دې او که وضع د حمل؟

د حضرت علی رضی الله عنه نه منقول دی (تعتد بأبعد الاجلین) [1]
ابن ابی لیلی هم دا قول د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه طرف ته منسوب کړې دې خو دا نسبت صحیح نه دې جمهور فرمائی چې د دې عدت وضع د حمل دې [2]

باب قوله تعالی: حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى

[۴۲۵۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَلِيٍّ - رضى الله عنه - قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم -. حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ قَالَ هِشَامٌ حَدَّثَنَا قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَلِيٍّ - رضى الله عنه - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ «حَبَسُونَا عَنْ صَلَاةِ الْوُسْطَى حَتَّى غَابَتِ الشَّمْسُ مَلَأَ اللَّهُ قُبُورَهُمْ وَبُيُوتَهُمْ أَوْ أَجْوَافَهُمْ - شَكَّ يَحْيَى - نَارًا».

امام بخاری چې دلته کوم روایت پیش کړې دې ،د دې نه معلومیږی چه د امام بخاری په په نیز د صلاة وسطی نه د مازیګر مونځ مراد دې.
په روایت کښې د صلاة وسطی په باره کښې د اهل علمو مختلف اقوال دی حافظ شرف الدین دمیاطی د دې په باره کښې یو مستقله رساله (کشف العطاء عن الصلاة الوسطی) لیکلې ده [3]

د صلاة وسطی په باره کښې د عالمانو اقوال: ① د حضرت انس، حضرت جابر رضی الله عنهما او عکرمه او مجاهد وغیره رائې دا ده چې د صلاة وسطی نه د صبا مونځ مراد دې د امام مالک او امام شافعی رحمهما الله هم دا قول دې.

② د حضرت عائشې رضی الله عنها، حضرت زید بن ثابت او حضرت ابوسعید رضی الله عنهم نه نقل دی چې د دې نه د ماسپخین مونځ مراد دې او د امام ابوحنیفه یو روایت هم دا دې.

③ د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی چې د دې نه د ماښام مونځ مراد دې.

④ د حضرت معاذ بن جبل او عبدالله بن عمر رضی الله عنهم نه نقل دی چې د دې نه ټول مونځونه مراد دی. دا حضرات وائی چه په (حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ) کښې فرائض او نوافل ټول شامل دی او چه (وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى) ئې اووئیل نو د پنځو مونځونو تاکید ئې اوکړو علامه عبدالبر هم دا قول اختیار کړې دې.

⑤ د ابن حبیب مالک او ابواثامه رائې دا ده چه د دې نه د جمعې مونځ مراد دې

⑥ ابن التین او علامه قرطبی نقل کړې دی چې د دې نه د ماسخوتن مونځ مراد دې.

---

[1] احکام القران للجصاص ۱/۱۵۹-۴-
[2] احکام القران للجصاص ۱/۴۱۸،۴۱۴)-
[3] قال الحافظ فی الفتح ۸/۱۹۶۹ وجمع الدمیاطی فی ذلک جزاء مشهورا اسماء کشف العطآء عن الصلاة الوسطی..بلغ تسعة عشرا قولا)-

⑦ بعضو وئیلي دی چې ددې نه د مازیګر مونځ مراد دې
⑧ د بعضو رائې ده چې ددې نه د صبا او ماسخوتن مونځونه مراد دی.
⑨ علم الدین سخاوی او تقی الدین اخنائی فرمائی چې ددې نه د وترو مونځ مراد دې.
⑩ بعضو وئیلي دی چې صلاة الخوف ترې مراد دې.
⑪ بعضو ترې اشراق مونځ مراد اخستې دې.
⑫ بعضو ترې نه د څاښت مونځ مراد اخستې دې.
⑬ د سعید بن جبیر او امام الحرمین رائې دا ده چې ددې نه لا علی التعیین پنځو مونځونو کښې یو مراد دې.
⑭ بعضو ددې نه د تهجدو مونځ مراد اخستې دې.
⑮ خو د اکثرو حضراتو رائې دا ده چې ددې نه د مازیګر مونځ مراد دې.هم دا قول د احنافو او حنابلو دې (۱)امام ترمذی فرمائی (هوقول اکثرعلماء الصحابة) (۲)

ماوردی وائی چه (هوقول الجمهور التابعین) (۳)او علامه ابن عبد البر وائی(هوقول اکثراهل الاثر) (۴)
د امام بخاری هم دا رائې ده نو د سورة رحمن په تفسیر کښې ئې ددې تصریح کړې ده. فرمائی (فیها فاکهة ونخل ورمان) قال بعضهم: لیس الرمان والنخل بالفاکهة اما العرب فانها تعدهما فاکهة کقوله عزوجل(حافظوا الصلوات والصلاة الوسطی) فامر بالمحافظة علی کلا الصلوات ثم اعاد العصر تشدیدا لها کما اعید النخل والرمان) (۵)
حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه دا صلاة وسطی سابقه امتونو ته پیش شوې ووهغوی دا ضائع کړلو ددې وجې دې امت ته په خصوصیت سره ددې د محافظت تاکید شوې دې،د امام مسلم د روایت مطابق په دې باندې دوه اجرونه ملاویږی.
شاه صاحب داهم فرمائیلي دی چې امام شافع د صلاة وسطی تفسیر د صبا په مونځ باندې کړې دې ،کیدې شی ددې وجې چه ددې ایت آخری حصه ده (وقوموا لله قانتین) او چونکه ددوی په نیز قنوت د صبا په مانځه کښې وی،ددې وجې هغوی د ایت دا اخری حصه ددې خبرې قرینه جوړه کړې چه د صلاة وسطی مصداق صلاة فجر دې (۶)

---

۱) فتح الباری ۱۹۶/۸)-
۲) سنن ترمذی ابواب الصلاة باب ما جاء فی صلاة الوسطی ۱/ ۴۲ ۳)-
۳) فتح الباری ۱۹۶/۸)-
۴) حواله بالا)-
۵) صحیح البخاری مع فتح الباری ۶۶۰/۸)-
۶) فیض الباری ۱۶۵/۴)_

٤٥-باب (وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ) مُطِيعِينَ.

[٤٢٢٠] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنِ الْحَارِثِ بْنِ شُبَيْلٍ عَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ كُنَّا نَتَكَلَّمُ فِي الصَّلَاةِ يُكَلِّمُ أَحَدُنَا أَخَاهُ فِي حَاجَتِهِ حَتَّى نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ (حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ) فَأُمِرْنَا بِالسُّكُوتِ.

امام بخاری د قانتين تفسير په مطيعين سره کړې دې دا تفسير د حضرت عبدالله بن مسعود او عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه منقول دې (١)

حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی چې کمال طاعت دادې چې انسان د هر داسې څيز نه منع شی کوم چې په قرب او حضور کښې حائل وی او کلام هم چونکه په حضور کښې مخل دې ددې وجې نه د ايت کريمه نه د کلام فی الصلاة ممانعت مستفاد کيږی، هم ددې نکتې په وجه امام بخاری هغه روايت ذکر کړې دې، په کوم کښې چې د کلام فی الصلاة نه منع شوې ده(٢) دا روايت په کتاب الصلاة کښې د (باب ماينهى من الكلام فى الصلوة) لاندې تير شوې دې(٣)

باب قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ (فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا فَإِذَا أَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ) (٢٣)

وَقَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ (كُرْسِيُّهُ) عِلْمُهُ يُقَالُ (بَسْطَةً) زِيَادَةً وَفَضْلًا (أَفْرِغْ) أَنْزِلْ (وَلَا يَئُودُهُ) لَا يُثْقِلُهُ. آدَنِي أَثْقَلَنِي. وَالآدُ وَالأَيْدُ الْقُوَّةُ، السِّنَةُ نُعَاسٌ. (يَتَسَنَّهْ) يَتَغَيَّرْ. (فَبُهِتَ) ذَهَبَتْ حُجَّتُهُ. (خَاوِيَةٌ) لَا أَنِيسَ فِيهَا. عُرُوشُهَا أَبْنِيَتُهَا. نُنْشِرُهَا نُخْرِجُهَا (إِعْصَارٌ) رِيحٌ عَاصِفٌ تَهُبُّ مِنَ الأَرْضِ إِلَى السَّمَاءِ كَعَمُودٍ فِيهِ نَارٌ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (صَلْدًا) لَيْسَ عَلَيْهِ شَيْءٌ. وَقَالَ عِكْرِمَةُ (وَابِلٌ) مَطَرٌ شَدِيدٌ. الطَّلُّ النَّدَى، وَهَذَا مَثَلُ عَمَلِ الْمُؤْمِنِ. (يَتَسَنَّهْ) يَتَغَيَّرْ.

قوله: وَقَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ (كُرْسِيُّهُ) عِلْمُهُ:

په وسع کرسيه کې د کرسی نه څه مراد دې؟: يعنی د سورة بقره ايت (وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ) کښې د کرسئ نه علم مراد دې، علامه قسطلانی فرمائی (فيه اشارة الى انه لا كرسى فى الحقيقة ولا قاعد وانما هو مجاز عن علمه)(٤)

---

(١) عمدة القاری ١٢٥/١٨)-

(٢) لامع الدراری ٣٠/٩)-

(٣) صحيح البخاری کتاب الصلاة ١٦٠/١٠)-

(٤) ارشاد الساری ٧٣/١٠)تعليقات لامع الدراری ٣١٩/٩-

علامه سندهي رحمه الله فرمائي چه عام طور عالم دين په کرسئ باندې کيني او د علم نشر واشاعت کوي نو کرسئ يو قسم د علم محل شو او دلته ذکر د محل دې مراد ترې حال دې.[1]
او بل مناسبت هغوی دا بيان کړې دې چه لکه څنګه په کرسئ باندې صاحب د کرسئ اعتماد کوي او کيني دغه شان عالم په خپل علم اعتماد کوي او مسائل بيانوي نو په اعتماد د علم او کرسئ دواړو کښې قدر مشترک دې ،ددې مناسبت په وجه ئې کرسئ وئيلې ده ،او مراد ترې علم اخستې شي.[2]

د کلماتو تشريح:

قوله: يُقَالُ (بَسْطَةً) زِيَادَةً وَفَضْلًا:

د سورة بقرې دې ايت طرف ته اشاره ده (إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ) فرمائي دلته د (بَسْطَةً) معنى فضيلت او زياتې ده

قوله: أَفْرِغْ) أَنْزِلْ: يعنى ايت کريمه (وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا) کښې (افرغ د انزل په معنى دې،

قوله: (وَلَا يَئُودُهُ) لَا يُثْقِلُهُ: يعنى په ايت کرسئ کښې د (وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا) معنى ده ،الله تعالى د اسمان او زمکې حفاظت ګران او مشکل نه معلوميږي (اد، يؤده) په وزن د قال يقول معنى ئې درنيدل او ستړې کيدل راځي

قوله: (لَمْ يَتَسَنَّهْ) يَتَغَيَّرْ: (فَانْظُرْ إِلَى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ) فرمائي د (يتسن) معنى تغير کيدل او تبديل کيدل دي.

قوله: خَاوِيَةٌ) لَا أَنِيسَ فِيهَا: (أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا) کښې د (خاوية) معنى ده (چرته چه څوک مونس او غمخوار نه وي،خالي وي.

قوله: عُرُوشُهَا أَبْنِيَتُهَا: (أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا) کښې د عروش معنى ده ،چتونه بنيادونه.

قوله: نُنْشِزُهَا نُخْرِجُهَا: (وَانْظُرْ إِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا) په دې کښې د ننشز معنى (نخرج) ده يعنى هډوکو طرف ته اوګوره چه .مونږ دا څنګه راپورته کوو او جوړوو.

قوله: (إِعْصَارٌ) رِيحٌ عَاصِفٌ تَهُبُّ مِنَ الْأَرْضِ إِلَى السَّمَاءِ كَعَمُودٍ فِيهِ نَارٌ: (وَلَهُ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَاءُ فَأَصَابَهَا إِعْصَارٌ) تشريح کوي او فرمائي چه داسې تيزه هواچې هغه د زمکې نه اسمان طرف ته چليږي د ستنې په شان په هغې کښې اور وي.

---

[1]) حاشية السندي ۲/۶۵۰)-

[2]) حواله بالا)-

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (صَلْدًا) لَيْسَ عَلَيْهِ شَيْءٌ: (كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْدًا) يعنى څنګه چې يو ښويدونكې كانړې وى چې په هغې باندې خاوره وى نو په هغې باندې تيز باران اوشى او هغه صفا كړى، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چې د (صلدا) معنى ده (چې په هغې باندې څه نه وى بيخى صفا وى د (وابل) معنى بيانوى حضرت عكرمه رحمه الله فرمائى (مطر شديد) سخت باران.

قوله: الطَّلُّ النَّدَى: (فان لم يصبها وابل فطل) د (طل) معنى ده معمولى باران، پرخه

قوله: وهذا مثل عمل المؤمن: په قران كريم كښې په دې ايت كښې د مومن عمل يو مثال بيان شوې دې. پوره ايت دادې (وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ)
يعنى كوم خلق چې د الله د رضا په غرض خرچ كوى چې د خپلو نفسونو كښې (د ګرانو اعمالو برداشت كولو د پاره) پوخوالې پيدا كړى، ددوى مثال داسې دې چې يو باغ په يوه ډيرئى باندې واقع وى او په هغې باندې تيز باران اوشى او هغه دوچنده ميوه اوكړى او كه تيز باران پرې هم اونشى نو (د زمكې د ښه والى او د موقع موافقت په وجه) معمولى پرخه (او لږ باران) هم د هغې د پاره كافى وى.
په دې ايت كښې د مومن عمل په يو مثال سره واضح كړې دې مقصد دا دې چې په اخلاص سره مومن څه ډير خرچ هم اونكړى او لږ غوندې خرچ اوكړى بيا هم هغه ته دوچنده اجر او ثواب ملاويږى.

[۴۲۲۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ -رضى الله عنهما- كَانَ إِذَا سُئِلَ عَنْ صَلَاةِ الْخَوْفِ قَالَ يَتَقَدَّمُ الإِمَامُ وَطَائِفَةٌ مِنَ النَّاسِ فَيُصَلِّي بِهِمُ الإِمَامُ رَكْعَةً، وَتَكُونُ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْعَدُوِّ لَمْ يُصَلُّوا، فَإِذَا صَلَّوُا الَّذِينَ مَعَهُ رَكْعَةً اسْتَأْخَرُوا مَكَانَ الَّذِينَ لَمْ يُصَلُّوا وَلَا يُسَلِّمُونَ، وَيَتَقَدَّمُ الَّذِينَ لَمْ يُصَلُّوا فَيُصَلُّونَ مَعَهُ رَكْعَةً، ثُمَّ يَنْصَرِفُ الإِمَامُ وَقَدْ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، فَيَقُومُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الطَّائِفَتَيْنِ فَيُصَلُّونَ لأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً بَعْدَ أَنْ يَنْصَرِفَ الإِمَامُ، فَيَكُونُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الطَّائِفَتَيْنِ قَدْ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، فَإِنْ كَانَ خَوْفٌ هُوَ أَشَدَّ مِنْ ذَلِكَ صَلَّوْا رِجَالاً، قِيَامًا عَلَى أَقْدَامِهِمْ، أَوْ رُكْبَانًا مُسْتَقْبِلِي الْقِبْلَةِ أَوْ غَيْرَ مُسْتَقْبِلِيهَا. قَالَ مَالِكٌ قَالَ نَافِعٌ لَا أُرَى عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ ذَكَرَ ذَلِكَ إِلَّا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-.

۴۵- باب: (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا)

[۴۲۲۲] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي الأَسْوَدِ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ الأَسْوَدِ وَيَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ قَالَا حَدَّثَنَا حَبِيبُ بْنُ الشَّهِيدِ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ قَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ قُلْتُ لِعُثْمَانَ هَذِهِ الآيَةُ الَّتِي

فِي الْبَقَرَةِ (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا) إِلَى قَوْلِهِ (غَيْرَ إِخْرَاجٍ) قَدْ نَسَخَتْهَا الأُخْرَى، فَلِمَ تَكْتُبُهَا قَالَ تَدَعُهَا. يَا ابْنَ أَخِي لاَ أُغَيِّرُ شَيْئًا مِنْهُ مِنْ مَكَانِهِ. قَالَ حُمَيْدٌ أَوْ نَحْوَ هَذَا.

دلته اشكال كيږي چې په دې ايت باندې خو ترجمه قائمه شوې ده نو امام بخارى ترجمه دوباره ولې قائمه كړه.ونيلې شى چې اوله ترجمه په ايت ناسخه باندې وه او دلته په ايت منسوخه باندې نو تكرار نشته

۴۶-باب: (وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى)

[۴۲۶۳] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ وَسَعِيدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «نَحْنُ أَحَقُّ بِالشَّكِّ مِنْ إِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ (رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ قَالَ بَلَى وَلَكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي)

كله چې دا يت نازل شو نو بعضې صحابو اوفرمائيل (شك ابراهيم ،لم يشك نبينا) نو نبى ﷺ هغوى ته اوفرمائيل (نحن احق بالشك من ابراهيم)

علامه كرمانى دلته اشكال كړې دې چې دابراهيم علیه السلام څنګه شک كړې وو حال دادې چې ابراهيم علیه السلام د الله تعالى جليل القدر پيغمبر وو؟

بيا خپله جواب وركوى او فرمائى چې د نبى ﷺ د قول (ونحن احق بالشك من ابراهيم) مطلب خو دادې چې شک خو مونږ ته كول پكار وو خو زمونږ شک نشته نو حضرت ابراهيم علیه السلام ته به په طريقه اولى شک نه وى شوې نبى ﷺ افضل الانبياء دې هغوى دا جمله د عاجزئى په دول اوفرمائيله (۱)

حضرت ابراهيم علیه السلام دا سوال ولې اوكړو؟: اوس سوال دادې چې ابراهيم علیه السلام ته هركله د الله تعالى په صفت احياء كښې شک نه وو نو بيا ئې د الله تعالى نه سوال ولې كولو؟ چې (رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَىٰ)

① بعضې حضراتو ونيلې دى چې د حضرت ابراهيم علیه السلام د الله تعالى په صفت احياء باندې قدرت كښې څه شک نه وو بلكه د احياء د كيفيت ليدو شوق ئې وو چې څنګه ورته ژوند وركوى. ددې كيفيت مشاهده كولو ئې غوښتل ددې وجې ئې د الله نه سوال اوكړو. (۲)

② بعضې حضراتو ونيلې دى چې حضرت ابراهيم ته علم حصولى حاصل ووا و د هغه د ايمان د پاره كافى دې.حضرت ابراهيم علیه السلام غوښتل چې علم حضورى ورته حاصل شى. (۳)

---

(۱) شرحالكرمانى (۴۳/۱۷)-

(۲) شرح الكرمانى (۴۳/۱۷) وفيض البارى (۱۴۶/۱۴۵/۴) تفسير قرطبى (۲۹۱/۳)-

(۳) قال الامام رازى فى تفسير الكبير وعلى قول المتكلمين العلم الاستدلالى مما يتطرق اليه الشبهات والشكوک فطلب علما ضروريا يستقرالقلب معه استقرارا لا يتعالجه شئ من الشكوک والشبهات (۴۱/۰۸)

بعضې وئیلي دي چې حضرت ابراهیم علیه السلام ته علم یقیني حاصل وو هغوی عین الیقین غوښتل[1]

۴۹- باب قَوْلِهِ (أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُونَ لَهُ جَنَّةٌ) إِلَى قَوْلِهِ (تَتَفَكَّرُونَ)

[۴۲۶۴] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي مُلَيْكَةَ يُحَدِّثُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ وَسَمِعْتُ أَخَاهُ أَبَا بَكْرِ بْنَ أَبِي مُلَيْكَةَ يُحَدِّثُ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ-رضي الله عنه-يَوْمًا لأَصْحَابِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِيمَ تَرَوْنَ هَذِهِ الآيَةَ نَزَلَتْ (أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُونَ لَهُ جَنَّةٌ) قَالُوا اللَّهُ أَعْلَمُ. فَغَضِبَ عُمَرُ فَقَالَ قُولُوا نَعْلَمُ أَوْ لاَ نَعْلَمُ. فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِي نَفْسِي مِنْهَا شَيْءٌ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ. قَالَ عُمَرُ يَا ابْنَ أَخِي قُلْ وَلاَ تَحْقِرْ نَفْسَكَ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ضُرِبَتْ مَثَلاً لِعَمَلٍ. قَالَ عُمَرُ أَيُّ عَمَلٍ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لِعَمَلٍ. قَالَ عُمَرُ لِرَجُلٍ غَنِيٍّ يَعْمَلُ بِطَاعَةِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، ثُمَّ بَعَثَ اللَّهُ لَهُ الشَّيْطَانَ فَعَمِلَ بِالْمَعَاصِي حَتَّى أَغْرَقَ أَعْمَالَهُ..

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چې حضرت عمر رضي الله عنه یو ځل د حضرات صحابه کرامو نه تپوس اوکړو چې (أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُونَ لَهُ جَنَّةٌ) دا ایت په څه باره کښې نازل شوې دې؟ صحابه اووئیل تاسو (تعلم) یا (لاتعلم) اووائې، یعنې چې مونږ ته علم دې یا داقرار اوکړئی چې مونږ ته علم نشته. حضرت ابن عباس (رض) اووئیل زما په زړه کښې ددې په باره کښې څه شته. حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل ته اووایه او (د خپلې کم عمرئی په وجه خپل ځان حقیر مه ګڼړه. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائیل په دې کښې د یو عمل مثال بیان شوې دې.حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل د کوم عمل ؟ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د عمل تعیین اونکړو او وئې وئیل د څه عمل؟ نو حضرت عمر رضي الله عنه په خپله تفسیر بیان کړو او وئې وئیل چه په دې کښې د یو مالدار سړي مثال بیان شوې دې هغه د الله تعالی اطاعت او عبادت کولو، بیا الله تعالی هغه طرف ته شیطان راولیږلو نو هغه په ګناهونو کښې اخته شو تردې چه د هغه نیک عمل ئې غرق کړل.

یو اشکال او د هغې جواب: دلته دا اشکال کیږی چې د حضرت عمر رضي الله عنه د سوال په جواب کښې صحابه رضي الله عنهم (والله اعلم) او فرمائیل نو حضرت عمر رضي الله عنه په دې باندې خفه شوحال دا چې صحابو رضي الله عنهم به د نبی صلی الله علیه وسلم په جواب کښې وئیل (والله ورسوله اعلم) او نبی صلی الله علیه وسلم په دې باندې نه خفه کیدلو.

ددې جواب دادې چې نبی صلی الله علیه وسلم به د صحابه کرامو د متوجه کولو د پاره سوال کولو. کله چې به هغوی په جواب کښې (الله ورسوله اعلم) اوفرمائیل نو لکه چې هغوی به متوجه شول. د نبی صلی الله علیه وسلم د صحابو رضي الله عنهم نه داسې قسم سوال کول امتحان نه وو ځکه چې نبی صلی الله علیه وسلم خو استاذ رالیږلې شوې

[1]) تفسیر القرطبی ۳/۲۹۹)-

وو او حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم به د نبی ﷺ نه علم زده کولو، نو د صحابو رضی الله عنهم د متوجه کولو په غرض به نبی ﷺ به کله د صحابو رضی الله عنهم تپوس اوکړو نو هغوی به په جواب کښې «والله ورسوله اعلم» وئیل.

خو دلته خبره داسې نه ده دلته حضرت عمر رضی الله عنه په خپله معلومول غواړی او دا کتل ئې مقصود دی چه صحابو ته ددې په باره کښې علم شته که نه، ددې وجې په داسې موقع د «والله اعلم» وئیل د سوال سره مطابق نه دی. هم دا وجه وه چه حضرت عمر رضی الله عنه خفا شو.(١)

قوله: فَعَمِلَ بِالْمَعَاصِي: بعضې حضرات وائی چې ددې نه د معتزلو تائید کیږی چې یو کس د گناه کبیره ارتکاب اوکړی او د هغه ټول اعمال خبط شول.

ددې جواب دادې چې اغراق، احباط لره مستلزم نه دې دلته د اغراق اعمال نه د اعمال صالحه قلت مراد کیدې شی، دغه شان د معاصی نه کفر او شرک نه پس اعمال صالحه باندې څه اخروی فائده نشته.(٢)

٤٨-باب: (لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا)

يُقَالُ أَلْحَفَ عَلَيَّ وَأَلَحَّ عَلَيَّ، وَأَحْفَانِي بِالْمَسْأَلَةِ، (فَيُحْفِكُمْ) يُجْهِدْكُمْ.

[٤٢٢٥] حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنِي شَرِيكُ بْنُ أَبِي نَمِرٍ أَنَّ عَطَاءَ بْنَ يَسَارٍ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي عَمْرَةَ الأَنْصَارِيَّ قَالاَ سَمِعْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلاَ اللُّقْمَةُ وَلاَ اللُّقْمَتَانِ. إِنَّمَا الْمِسْكِينُ الَّذِي يَتَعَفَّفُ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ يَعْنِي قَوْلَهُ (لاَ يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا)». [ر: ١٤٠٦]

پوره ایت دې «لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا»

یعنی په صدقاتو کښې اصل حق د حاجتمندو دې کوم چې مقید شوې وی د الله په لار کښې یعنی د دین په خدمت کښې، هغه خلق په طلب معاش د پاره په زمکه کښې د گرځیدلو طاقت نه لری. د سوال نه د ځان ساتلو په وجه ناواقف خلق په هغوی باندې د مالدارانو خیال کوی، تاسو د هغوی د مخونو نه پیژندلې شئ (چه د فقر او فاقه نه ددوی په مخونو او بدنونو کښې د کمزورئی آثار په نظر راځی. هغوی په خلقو پورې انخلی نه، چه څه ترې اغواړی (یعنی د نورو نه هډو غواړی نه، ځکه چې کوم خلق د غوښتلو عادتیان وی عموما هغوی په انختیدلو سره غوښتل کوی.

---

١) لامع الدراری (٣٣/٩)-
٢) عمدة القاری (١٢٩/١٨)-

قوله: يُقَالُ أَلْحَفَ عَلَيَّ وَأَلَحَّ عَلَيَّ ، وَأَحْفَانِي بِالْمَسْأَلَةِ: مقصد دادي چې «الحف على ، الح على» او «احفانى بالمسئالة» د يوې معنې د پاره راځي يعنى اصرار كول.

قوله: فَيُحْفِكُمْ) يُجْهِدْكُمْ: په دې سره د سورة محمد ايت «وَلَا يَسْئَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ۝ إِنْ يَسْئَلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا» طرف ته اشاره ده يعنى الله تعالى نه غواړى ستاسو نه ستاسو مال او كه غواړى ستاسو نه هغه مال او تاسو په مشقت كښې واچوى نو تاسو به بخل اوكړئى په دې كښې «يحفكم» معنى د «يجهد كم» ده «اى يجهد كم فى السوال بالالحاح»

قوله: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ: حضرت ابوهريره رضی الله عنه ارشاد فرمائى چې نبى كريم ﷺ ارشاد فرمائيلې دې چې مسكين هغه نه دې كوم چې په سوال كولو باندې يو يا دوه كهجورې يا دوه نمړئ واخلى او واپس شى او د هغه د واپس كولو د پاره دومره كافى وى ، مسكين خو هغه دې كوم چې د حاجت نه باوجود د سوال نه بچ كيږى كه تاسو غواړئى نو د قران دا ايت اولولئ «لَا يَسْئَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا» مطلب دا دې چې د صدقاتو او خيراتونو مستحق صرف هغه خلق نه دى څوك چې دربه در ګرځى او خير غواړى، بلكه اصل مسكين او د صدقاتو حقدار هغه خلق دى څوك چې محتاجئ نه باوجود سوال نه كوى، د سوالګرو طريقه په انختلو سره سوال كول وى.

۵۱ - باب: (وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا)

الْمَسُّ الْجُنُونُ.

[۴۲۶۶] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ لَمَّا نَزَلَتِ الآيَاتُ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي الرِّبَا قَرَأَهَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى النَّاسِ، ثُمَّ حَرَّمَ التِّجَارَةَ فِي الْخَمْرِ.

قوله: الْمَسُّ الْجُنُونُ: په ايت كريمه كښې دى «لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ» فرمائى چې په دې كښې «مس» په معنى د ليونتوب دې.

ددې باب نه واخله تر د «وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ» پورې ټول ايتونه د حرمت ربا په باره كښې نازل شوى دى ددې وجې امام بخارى دهر ايت لاندې صرف يو حديث د حرمت ربا نقل كړې دې كوم چې د حضرت عائشې رضی الله عنها نه مروى دې.

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائى چې كله د سود په باره كښې د سورة بقره ايتونه نازل شول نو رسول الله ﷺ دا اولوستل او خلقو ته ئې واورول، او بيا ئې د شرابو تجارت حرام كړو.

يو اشكال او د هغې جواب: دلته دا اشكال كيږى چې د سود د حرمت په باره كښې نازليدونكى د سورة بقره ايتونه خو بيخى په آخره كښې نازل شوى وو او د شرابو حرمت خو د غزوه احد نه پس شوې وو، او په هغه وخت كښې ددې تجارت هم ممنوع ګرځولې شوې وو، نو بيا دا څه خبره ده چې كله رسول الله ﷺ د سود د ايتونو نه د سود د حرمت اعلان اوكړو نو د شرابو دحرمت اعلان ئې هم اوكړو په دغه وخت كښې ددې څه موقع وه؟

ددې جواب دادې چې د سود د حرمت د اعلان سره ئې د شرابو د تجارت د حرمت اعلان ددې د قباحت شناعت او شدت حرمت ظاهرولود پاره وو، چونکه په شدت حرمت او قباحت کښې دواړه يو شان يا نژدې دى ،دا هم ممکن ده چه په دغه وخت کښې د نبى ﷺ په مجمع کښې داسې خلق محسوس کړې وى چاته چې د تجارت خمر د حرمت علم نه وو ددې وجې نبى کريم ﷺ ددې اعاده او تکرار اوکړلو.(١)

۵۲-باب: (يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا) يذهبه

[۴۲۲۷] حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ سَمِعْتُ أَبَا الضُّحَى يُحَدِّثُ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ لَمَّا أُنْزِلَتِ الآيَاتُ الأَوَاخِرُ مِنْ سُورَةِ الْبَقَرَةِ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَتَلاَهُنَّ فِي الْمَسْجِدِ، فَحَرَّمَ التِّجَارَةَ فِي الْخَمْرِ.

۵۳- باب: (فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ) فَاعْلَمُوا.

[۴۲۲۸] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا أُنْزِلَتِ الآيَاتُ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ قَرَأَهُنَّ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فِي الْمَسْجِدِ، وَحَرَّمَ التِّجَارَةَ فِي الْخَمْرِ.

۵۴-باب: (وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ)

[۴۲۲۹] وَقَالَ لَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مَنْصُورٍ وَالأَعْمَشِ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا أُنْزِلَتِ الآيَاتُ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَرَأَهُنَّ عَلَيْنَا، ثُمَّ حَرَّمَ التِّجَارَةَ فِي الْخَمْرِ.

په روايت باب او ايت باب کې مناسبت: اسماعيلى اعتراض کړې دې چې د روايت الباب او ترجمة الباب کښې څه مناسبت نشته ځکه چې د ايت تعلق د قرض سره دې او د روايت تعلق د سود اوتجارت خمرد حرمت سره دې ،ددې وجې د سود په ايتونو کښې ددې ذکربې موقعې دې(٢) مونږ ددې جواب ورکړې دې چې ذکر شوې ايت هم د سود د ايتونو سره نازل شوې دې ددې وجې امام بخارى په دې مناسبت سره دا دلته ذکر کړو.

حضرت گنگوهى رحمه الله د باب د روايت سره مناسبت بيانوى او فرمائى «مناسبة برواية الواردة فيه من حيث ان المامور به هو الانظار والتصديق فكيف بمن ياخذ زيادة على اصله ماله»(٣) يعنى په ايت باب کښې مديون ته مهلت ورکولو په هغه باندې صدقه کول او قرض معاف کولو حکم ترغيب دې

(١) عمدة القارى ۱۱/ ۲۰۰ کتاب البيوع باب اکل الرباء وشاهده وکاتبه)-
(٢) عمدة القارى ۱۸/ ۱۳۲)-
(٣) لامع الدرارى ۹/ ۳٤)-

نو هر کله چې د اصل راس المال په باره کښې دا حکم دې نو ددې نه زیاتی د سود په ډول اخستلو به څنګه اجازت ورکولې شی د حضرت ګنګوهی ددې توجیه حاصل دادې چې د ذکر شوی ایت نه د سود حرمت اګرچه په عبارت النص سره ثابت دې د دلالت النص په طور سره ددې ایت نه د سود حرمت ثابتیږی، ددې وجې د باب د ایت ذکر دلته بې موقعې نه دې.

۵۵- باب: (وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ).

[۴۲۷۰] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ بْنُ عُقْبَةَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَاصِمٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضی الله عنهما- قَالَ آخِرُ آيَةٍ نَزَلَتْ عَلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- آيَةُ الرِّبَا.

د روایت باب متعلق یو اشکال او دهغې جواب: دلته اشکال کیږی چې په روایت باب کښې نې د سود ایت د نزول په اعتبار سره آخری ایت ګرځولې دې او آبن جریر طبری رحمه الله د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه دا نقل کړې دی چه آخری ایت (وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ) دې او دا د سود ایت نه دې.

ددې جواب دادې چې د (احل الله آلبیع وحر م الربا) نه واخله تر د (وَاتَّقُوا يَوْمًا) پورې ټول ایتونه د سود په باره کښې یو ځل نازل شوی وو. حضرت ابن عباس رضی الله عنه د بخاری په روایت کښې د ابتدائی ایتونو ذکر کړې دې او د ابن جریر طبری په روایت کښې هغوی د آخری ایت ذکر کړې دې.[1] یو بل تعارض د حضرت براء ابن عازب د روایت سره دې په هغې کښې دی چې اخری ایت د کلاله دې او ابن عباس رضی الله عنه (وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ) ته اخری ایت وائی.

علامه کرمانی ددې جواب دا ورکړې دې چې دواړو حضراتو د خپل خپل علم مطابق وئیلې دی.[2]

بعضو حضراتو جواب ورکړې دې چې د میراث په باره کښې آخر ی ایت د کلاله دې او د حضرت براء ابن عازب په روایت کښې هم په دې اعتبار سره دې ته اخری ایت وئیلې شوې دې او د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په روایت کښې د سود ایت د عامو ایاتونو په اعتبار سره اخری ایت وئیلې شوې دې نو څه تعارض نشته.[3]

۵۶- باب: وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

[۴۲۷۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ حَدَّثَنَا مِسْكِينٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ عَنْ مَرْوَانَ الأَصْفَرِ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- وَهُوَ ابْنُ عُمَرَ أَنَّهَا قَدْ

---

[1] فتح الباری ۲۰۵/۸)-

[2] شرح الکرمانی ۴۶/۱۷،۴۷)-

[3] شرح الکرمانی ۴۶،۴۷/۱۸، و فتح الباری ۲۰۵/۸)-

نُسِخَتْ (وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ) الآيَةَ.

په دې ايت كښې دى چه څه ستاسو په زړونو كښې دى برابره ده كه تاسو ئې ښكاره كوئى او كه تاسو ئې پټوئى د هغې په باره كښې الله تعالى ستاسو محاسبه كوى بيا ددې نه پس چې چاته غواړى بخښنه به اوكړى او چې چاته غواړى عذاب به ورکړى.

د ايت كريمه تفسير: كله چې دا ايت نازل شو نو صحابه رضي الله عنهم ډير پريشانه شول چې غير اختيارى وسوسې او خيالات كه په دې باندې نيول كيږى نو څوک به بيا نجات مومى. صحابه كرام د نبى ﷺ په خدمت كښې حاضر شول او د خپلې پريشانئى ذكر ئې اوكړو ، نبى ﷺ اوفرمائيل دا د الله حكم دې او تاسو (سمعنا واطعنا) وائى ي.(۱)

ددې نه يو كال پس آيت كريمه (لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا) نازل شو نو دې اولنې ايت منسوخ كړو لكه څنګه چې په روايت باب كښې تصريح ده .

خو امام مازرى په دې باندې اشكال كړې دې چې د نسخې ضرورت به هله وى كله چې جمع بين الايتين ممكن نه وى حال دا دې چې دلته دواړه جمع كولې شى او دا وئيلې شى چې (وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ) كښې هغه خيالاتو باندې د نيولو ذكر دې كوم چې اختيارى وى او په (لَا يُكَلِّفُ اللهُ) دا بيان شوى دى چې په غير اختيارى خيالاتو باندې نيول نشته (۲)

خو د امام مازرى په خپله دا شكال محل د نظر دې ځكه چې ته په اولنى ايت كښې صرف د اختيارى خيالاتو او وسوسو د نيولو ذكر وو نو بيا صحابه په دې باندې ولې پريشانه شوې وو او كه هغوى پريشانه شوې وو نو نبى ﷺ به هغوى ته ښودلې وو چې د محاسبې ذكر په اختيارى خيالاتو باندې دې په غير اختيارى خيالاتو باندې نه دې .نو هم دا وئيلې شى چې په اولنى ايت كښې په اختيارى او غير اختيارى هر قسم خيالاتو باندې د نيولو ذكر وو او په نورو اياتونو كښې دا اوئيلې شو چې په غير اختيارى خيالاتو باندې نيول نشته.صرف په اختيارى خيالاتو باندې به نيول وى او د نيول به هم هغه وخت كښې وى كله چې د ا ختيارى خيالات سرې په سوچ كښې راولى او دې سره سره بيا د هغې مطابق په زړه باندې د هغې اظهار هم شروع كړى باقى كه چرته داسې په زړه كښې څه خبره راشى او د هغې اظهار اونكړى او پكښې زيات سوچ او فكر نه كار وانخستلې شى نو په دې باندې به څه مواخذه او نيول نه وى. (۳)

قوله: حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ: دلته محمد غير منسوب دې د والد نوم ئې ذكر نه دې حافظ ابن حجر په

---

(۱) فتح البارى ۲۰۶/۸، والدر المنثور فى تفسير بالماثور ۳۴۰/۱) تفسير ابن كثير ۳۳۸/۱) تفسير كبير ۱۲۵/۷)-

(۲) تفسير المنير ۲۲۰/۳)-

(۳) المرقات شرح مشكوة ۱۳٤/۱)-

فتح البارى كښې (١)ددې په تعيين كښې درې اقوال ذكر كړې دې . د كلاباذى قول دې چې ددې نه محمد بن يحيى ذهلى مراد دې حاكم فرمانى چې ددې نه محمد بن ابراهيم بوشنجى مراد دې او ابونعيم د كلام نه معلوميږى ددې نه محمد بن ادريس ابو حاتم رازى مراد دې.

ابوجعفر عبدالله بن محمد نفيلى: د (محمد) شيخ نفيلى دې دده نوم عبدالله بن محمد بن على او ابوجعفر دده كنيت دې.

امام ابوداود رحمه الله ددوى په باره كښې فرمانى (ما رايت احفظ من النفيلى)

امام نسائى فرمائى (ثقة) دارقطنى فرمانى (ثقة مامون محتج)

ددوى وفات په كال ٢٣٢ هجرئي كښې شوې وو. د امام مسلم نه علاوه باقى حضراتو دده نه روايات نقل كړې دى او په بخارى شريف كښې ددوى صرف دا يو روايت دې .(٢) د نفيلى شيخ مسكين ابن بكر حرانى دې، دوى د سفيان ثورى، شعبه بن الحجاج او مالك بن انس وغيره نه روايات نقل كوى او ددوى روايات امام بخارى، مسلم ، امام ابوداود امام نسائي نقل كړې دى.په بخارى شريف كښې ددوى صرف دا يو حديث دې.

امام احمد رحمه الله ددوى په باره كښې فرمانى (لا باس به ولكن فى حديثه خطا)

يحيى ابن معين فرمائى (لا باس به)

امام ابو حاتم فرمانى (باس به وكان صالح الحديث يحفظ الحديث)

ددوى وفات په ١٩٨ هجرئي كښې شوې وو.(٣)

٥٧-باب: آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ

[٤٢٧٢] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا رَوْحٌ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ عَنْ مَرْوَانَ الْأَصْفَرِ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-- قَالَ أَحْسِبُهُ ابْنَ عُمَرَ-(إِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ) قَالَ نَسَخَتْهَا الْآيَةُ الَّتِي بَعْدَهَا.[ر: ٤٢٧١]

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ،اصرا: عهدا: اشاره ده (رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا) طرف ته . چې په دې كښې د اصرا معنى عهد او پيمان دې .او د عهد او پيمان نه مراد داسې حكم دې د كومو چې پورا كول او په هغې باندې د عمل كولو طاقت نه وى . يعنى اې زمونږه ربه په مونږ باندې داسې عهد مه ايږده .د كومې د پوره كولو چې مونږ كښې طاقت نه وى علامه زمخشرى د اصرا معنى په بوج سره كړې ده.(٤)

(١) فتح البارى ٢٠٦/٨)

(٢) تهذيب الكمال ٨٨،٩٢/١٦) وفتح البارى ٢٠٦/٨)-

(٣) تهذيب الكمال ٤٨٤،٤٨٦/٢٧) الجرح والتعديل (٨) الترجمه (١٥٢١(وسير اعلام النبلاء ٢٠٩/٩) وميزان الاعتدال ٤/الترجمه ٨٤٧٩)-

(٤) تفسير كشاف ٢٩٢/١)-

او هم دا ددې اصل معنی ده خو د عهد پابندی هم بوج وی او گران معلومیږی ددې وجې د (اصرا) تفسیر په عهد سره شوې دې.

۵۸-باب: سورة آلِ عِمْرَانَ

تُقَاةٌ وَتَقِيَّةٌ وَاحِدَةٌ (صِرٌّ) بَرْدٌ (شَفَا حُفْرَةٍ) مِثْلُ شَفَا الرَّكِيَّةِ، وَهُوَ حَرْفُهَا (تُبَوِّءُ) تَتَّخِذُ مُعَسْكَرًا، الْمُسَوَّمُ الَّذِي لَهُ سِيمَاءٌ بِعَلَامَةٍ أَوْ بِصُوفَةٍ أَوْ بِمَا كَانَ (رِبِّيُّونَ) الْجَمِيعُ، وَالْوَاحِدُ رِبِّيٌّ (تَحُسُّونَهُمْ) تَسْتَأْصِلُونَهُمْ قَتْلًا. (غُزًّا) وَاحِدُهَا غَازٍ (سَنَكْتُبُ) سَنَحْفَظُ (نُزُلًا) ثَوَابًا، وَيَجُوزُ وَمُنْزَلٌ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ كَقَوْلِكَ أَنْزَلْتُهُ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ: وَالْخَيْلُ الْمُسَوَّمَةُ الْمُطَهَّمَةُ الْحِسَانُ. قَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ وَعَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبْزَى الرَّاعِيَةُ الْمُسَوَّمَةُ. وَقَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ (وَحَصُورًا) لَا يَأْتِي النِّسَاءَ. وَقَالَ عِكْرِمَةُ (مِنْ فَوْرِهِمْ) مِنْ غَضَبِهِمْ يَوْمَ بَدْرٍ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ (يُخْرِجُ الْحَيَّ) النُّطْفَةُ تَخْرُجُ مَيِّتَةً وَيُخْرِجُ مِنْهَا الْحَيَّ. الْإِبْكَارُ أَوَّلُ الْفَجْرِ، وَالْعَشِيُّ مَيْلُ الشَّمْسِ - أُرَاهُ - إِلَى أَنْ تَغْرُبَ.

د کلماتو تشریح:

قوله: تُقَاةٌ وَتَقِيَّةٌ وَاحِدَةٌ: (لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكٰفِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِي شَيْءٍ إِلَّا أَنْ تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقٰىةً ۗ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهُ ۗ وَإِلَى اللّٰهِ الْمَصِيرُ)

مسلمانان دې ایمانداران پرېښودلو سره کافران په دوستۍ نه نیسی، کوم کس چې داسې اوکړل نو د هغه د الله سره څه تعلق نشته، په داسې صورت کښې (د ظاهرئی دوستۍ اجازت دې) که تاسو په دوی کښې د چا نه (قوی) ویره کوئی (نو هلته د ضرر لرې کولو حاجت دې) او الله تعالی تاسو د خپل ځان نه ویروی او هم هغه طرف ته واپس کیدل دی.

امام بخاری فرمائی چې (تقاة) او (تقیة) دواړه په یو معنی دی دا دواړه د باب ضرب نه مصدر دې، (تقی یتقی، تقاة وتقیة وتقوی) په اصل کښې (وقی) دې خوواؤ په تاء باندې بدل کړې شوې دې او تاء د حروف اصلیه ځنې ده.[1]

قوله: صِرٌّ: برد: (مَثَلُ مَا يُنْفِقُونَ فِي هٰذِهِ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيحٍ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ فَأَهْلَكَتْهُ)

په دنیاوی ژوند کښې د کافرانو د خرچ کولو مثال د هغه هوا پشان دې چې په هغې کښې تیزه یخنی وی او هغه د داسې قوم په پټی باندې اولگی چا چې په خپل ځان باندې ظلم کړې وی، نو هغه هوا دغه پټې برباد کړی دغه شان ددې کافرانو خرچ کول په اخرت کښې ټول ضائع دی

قوله: شَفَا حُفْرَةٍ) مِثْلُ شَفَا الرَّكِيَّةِ، وَهُوَ حَرْفُهَا: (وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا): او تاسو خلق د اور د کندې په غاړه باندې وئی نو الله تعالی تاسو ته نجات درکړو. په

[1]) عمدة القاری ۱۸/۱۳۶،۱۳۵)-

دې کښې د شفا حفرة معنی ده (د کندې په غاړه) څنګه چې د شفا الرکبة معنی ده (کوهی غاړه) کوئی ته وائی.

قوله: تُبَوِّءُ) تَتَّخِذُ مُعَسْكَرًا: (وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ) او کله چې تاسو خپل کور ته د صبا په وخت کښې راووتې او مسلمانانو ته مو په مورچه کښې ځائې ورکولو.

د (تبوئ) ترجمه امام په (تتخذ معسکرا) سره کړې ده معسکر لښکر ته وائی یعنی چې کله هغوی ته په مورچو او د جنګ صفونو کښې دننه مقرر کول او لګول ،دا د ابوعبیده تفسیر دې ګنی نو نور حضرات وائی (تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ)[1] (ای تنزل المومنین مقاعد للقتال)

قوله: الْمُسَوَّمُ الَّذِي لَهُ سِيمَاءٌ بِعَلَامَةٍ أَوْ بِصُوفَةٍ أَوْ بِمَا كَانَ: (زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ)

قوله: وَالْخَيْلُ الْمُسَوَّمَةُ: امام بخاری فرمائی چې مسوم هغه څیز ته وائی په کوم کښې چې څه نښه او علامه لګیدلې وی.یا ورئی لګیدلې وی،یا هر څه څیز چې ورسره اولګوی، د (سوم) معنی ده نښه لګول ، د باب تفعیل نه د اسم مفعول صیغه ده په معنی د نښه دار، په ایت کریمه کښې (خیل المسومة) نه نښه دار اسونه مراد دی، یعنی خه او غوره اسونه ،څکه چې غوره اسونو باندې به عربو د امتیاز نښې لګولې.امام مجاهد د (خیل المسومة) تفسیر کوی (المطهمة الحسان) یعنی پوره ښه اسونه، (المطهمة)د باب تفعیل نه اسم مفعول صیغه ده. د طهم معنی ده مکمل کیدل، خرب.

د مجاهد دا تعلیق عبدبن حمید موصولاً ذکر کړې دې[2]

قوله: (رِبِّيُّونَ) الْجَمِيعُ ، وَالْوَاحِدُ رِبِّيٌّ: (وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قُتِلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ) امام بخاری فرمائی چې په ایت کریمه کښې ربیون جمع ده ،او ددې مفرد (ربی) دې ، او دا منسوب دې رب طرف ته . هغه عالم ته وائی چې هغه هم الله طرف ته منسوب وی، او هغوی لره د الله طرف ته دعوت ورکوی.

بعضې حضرات د (رِبِّيُّونَ) تفسیر کوی،(الذین یربون بالعلم) د علم په ذریعه چې د نورو خلقو تربیت کوی.په اول کښې ورته اسان اسان مسائل بیانوی او په اخر کښې د صلاحیت پیدا کیدو نه پس دقیق او ګران مسائل ورته ښائی. بیا اول ورته جزئیات ښائی او ددې نه پس ورته د کلیاتو تعلیم ورکوی.[3]

قوله: تَحُسُّونَهُمْ) تَسْتَأْصِلُونَهُمْ قَتْلًا: (وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُمْ بِإِذْنِهِ) امام بخاری

---

[1]) وفی العمدة ۱۸/۱۳۶) والمعقد جمع مقعد وهو موضع القعود)-

[2]) عمدة القاری ۱۸/۱۳۶)-

[3]) الجامع لاحکام القران ۲/۱٤۸)-

فرمائی چه په ایت کښې د (تحسونهم) معنی قتل کول، او د جرړې نه ویستل دی. او الله تعالی تاسو سره خپله وعده رښتونې کړه، کله چې تاسو دغه کافران د الله په حکم باندې قتلول او د جرړې نه مو ختمول.

قوله: غُزًّا) وَاحِدُهَا غَازٍ: (وَقَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ إِذَا ضَرَبُوا فِي الْأَرْضِ أَوْ كَانُوا غُزًّى لَّوْ كَانُوا عِندَنَا مَا مَاتُوا وَمَا قُتِلُوا) او هغوی (منافقان) وائی د خپلو رونړو په باره کښې چې هغوی په څه زمکه کښې سفر کړې وی (او هلته اتفاقا مړ شی) یا هغه خلق چرته په جهاد کښې خی (او په هغې کښې قتل کړې شی نو دا منافقان وائی) که دا خلق زمونږ سره وې نو نه به وو مړه شوي او نه به قتل شوی.
امام بخاری فرمائی چه په ایت کریمه کښې (غزا) د (غاز) جمع ده غزی غزا او جهاد کونکی ته وائی.

قوله: سَنَكْتُبُ) سَنَحْفَظُ: (لَقَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا) په ایت کریمه کښې د (سنکتب) معنی ده (سنحفظ) مونږ حفاظت کوو.

قوله: (نُزُلًا) ثَوَابًا، وَيَجُوزُ وَمُنْزَلٌ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ كَقَوْلِكَ أَنْزَلْتُهُ: (لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلًا مِّنْ عِندِ اللَّهِ ۗ وَمَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ لِّلْأَبْرَارِ) خو چه کوم کسان د رب نه ویرېږی د هغوی د پاره باغونه دی چه د هغې د لاندې به نهرونه بهیږی او هغوی به په دې کښې همیشه همیشه د پاره وی دا به الله د طرفه ته میلمستیا وی او څه چې د الله سره دی هغه ډیر ښه دی. د نیکانو خلقو د پاره.
امام بخاری فرمائی چه په دې ایت کښې د (نزلا) معنی د (ثوابا) ده. یعنی دا به د الله د طرفه بدله وی او دا هم ممکن ده چه د (نزلا) معنی په (منزل) سره اوکړی شی، منزل د باب افعال نه د اسم مفعول صیغه ده هغه څیز کوم چې د میلمستیا په ډول میلمه ته وړاندې کړې شی، وائی (انزلته) ما هغه میلمه کړو. د هغه وړاندې مې د میلمستیا په ډول څه پیش کړل، په دې صورت کښې به د ایت مطلب دا وی چه دا باغونه به د الله د طرفه د میلمستیا په ډول مومنانو ته پیش کولې شی.

و قوله: وَقَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ (وَحَصُورًا) لَا يَأْتِي النِّسَاءَ: (أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ)

حضرت سعید بن جبیر رحمه الله د (حَصُورًا) تفسیر کړې دې هغه کس چه ښځو ته نه ورځی خو دلته ددې معنی د نامرد نه ده. دا په اصل کښې د باب سمع نه د مبالغې صیغه ده. (حصرا حصرا) ادریدل، بندیدل، د (حصورا) نه داسې کس مراد دې چه هغه په خپلو شهواتو باندې قابو لری او خپل نفس په ضبط کښې ساتونکې وی. دلته هم دا مراد دې چه حضرت یحیی علیه السلام د طاقت، قوت او شهوت لرلو باوجود د خپل نفس په قابو کولو باندې قادر وو او هغوی ښځو ته نه ورتلل[1]

[1]) قال الراغب فی المفردات (۱۲۰) فالحصور الذی یاتی النساء امامن العنة وامام العفة والاجتهاد فی ازالة الشهود والثانی اظهر فی الایة لان بذلک یستحق المحمدة)-

قوله: وَقَالَ عِكْرِمَةُ (مِنْ فَوْرِهِمْ) مِنْ غَضَبِهِمْ يَوْمَ بَدْرٍ: ﴿بَلَىٰ إِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُمْ مِنْ فَوْرِهِمْ هَٰذَا﴾

يعنى كه تاسو ثابت قدم پاتې كيږئى او تقوى اختياروئ او هغه خلق په تاسو باندې په غصه كښې حمله اوكړى ،عكرمه د (فور) تفسير په غضب سره كړې دې بعضې حضراتو ددې تفسير كړې دې (بلا تاخير) فورا، د عكرمه دا تعليق طبرى موصولاً نقل كړې دې.[1]

قوله: الإِبْكَارُ أَوَّلُ الْفَجْرِ، وَالْعَشِيُّ مَيْلُ الشَّمْسِ - أُرَاهُ - إِلَى أَنْ تَغْرُبَ: ﴿وَاذْكُرْ رَبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ﴾ امام بخارى فرمائى چې د (ابكار) نه د صبا ابتدائى حصه مراد ده او د (عشى) نه زما په خيال د نمر د زوال نه واخله تر نمر پريوتو پورې منيخمې وخت مراد دې.

۵۸- باب: مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْحَلاَلُ وَالْحَرَامُ. (وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ) يُصَدِّقُ بَعْضُهُ بَعْضًا، كَقَوْلِهِ تَعَالَى (وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلاَّ الْفَاسِقِينَ) وَكَقَوْلِهِ جَلَّ ذِكْرُهُ (وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لاَ يَعْقِلُونَ) وَكَقَوْلِهِ (وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى) (زَيْغٌ) شَكٌّ (ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ) الْمُشْتَبِهَاتِ (وَالرَّاسِخُونَ) يَعْلَمُونَ (يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ)

[۴۲۷۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التُّسْتَرِيُّ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ -رضى الله عنها- قَالَتْ:

تَلاَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - هَذِهِ الآيَةَ (هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ) إِلَى قَوْلِهِ (أُولُو الأَلْبَابِ) قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «فَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ، فَأُولَئِكَ الَّذِينَ سَمَّى اللَّهُ، فَاحْذَرُوهُمْ».

د ايات محكمات او ايت متشابهات نه څه مراد دى په دې باره كښې مختلف اقوال دى:

① د بعضې حضراتو رائې داده چې محكم هغه ايت ته وائى كوم چې ناسخ وى او متشابهات هغه ايت ته وائى كوم چه منسوخ وى.[2]

② بعضې حضراتو وئيلې دى چې محكم هغه ايات دى چه.مفهوم او معنى ئې ښكاره وى او متشابه هغې ته وائى چه مفهوم او معنى ئې غير واضح وى.[3]

③ بعضې وئيلې دى چې محكم هغې ته وائى چه په معنى ئې هغه كس پوهيدې شى چې د

---

[1] عمدة القارى ١٨/١٣٧)-

[2] روح المعانى ٣/٨٢ وتفسير البغوى ١/٢٧٩)-

[3] فتح البارى ٨/٢١٠)-

عربي ژبې او قواعدو نه واقف وی او متشابه هغه دی چې د هغې معنی د الله نه سوا بل څوک نه پیژنی (۱)

④ بعضو ونيلى دى چه محكم هغې ته وائى چه دهغې په معنى هر هغه سړې پوهيږى چه هغه ... د عربي ژبې او دهغې د قواعدو نه خبر وی. او متشابه هغې ته وائى چه دهغې په معنى د الله تعالى نه سوا بل څوك نه پوهيږى.

⑤ امام رازى رحمه الله فرمائيلې دى چې لفظ به په خپله معنى كښې يا د غير احتمال لرى يا نه لرى كه د غير احتمال نه لرى نونص ورته وائى او كه د غير احتمال لرى نو يو جانب به راجح وى، يا به نه وى كه راجح وى نو ظاهر ورته وائى او مرجوح طرف ته مؤول وائى او كه راجح نه بلكه دواړه طرفو ته برابر او مساوى وى نو دواړه معانو ته په يو وخت د نسبت په اعتبار سره هغې ته لفظ مشترک وائى او يوې معنې طرف ته په متعين ډول نسبت كولو په اعتبار ورته محمل وائى. نو ددې تقسيم په اعتبار سره به لفظ يا نص وى يا ظاهر وى يا مؤول وى يا مشترک وى او يا مجمل وى، په دې قسمونو كښې نص او ظاهر ته محكم وائى او مؤول او مجمل ته متشابه وائى (۲)

يو اشكال او د هغې جواب: دلته چاته دا شكال كيدې شى چه د قران شريف د ذكر شوى ايت نه خو معلوميږى چې په قران مجيد كښې ايات محكمات او ايات متشابهات دواړه قسم آياتونه دى. خو د قران په يو بل ايت كښې دى ﴿كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ﴾ (۳) ددې نه دا معلوميږى چې د قران كريم ټول آياتونه محكمات دى او په يو آيت كښې دى ﴿كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ﴾ ددې ايت نه معلوميږى چې د قران كريم ټول اياتونه متشابهات دى (۴)

ددې حل دا دې چې په بل ايت كښې د (احكمت آياته) نه د بلاغت وفصاحت احكام او اتقان او د كلام جلال مراد دې د محكم اصطلاحى معنى هلته مراد نه ده، او په دريم ايت كښې د ﴿كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا﴾ نه مراد دا دې چې د قران مجيد ټول آياتونو د يو بل د مضمون مصدق دى او په دې كښې څه تعارض نشته، د اصطلاحى معنى متشابه مراد نه دې. (۵)

امام بخارى دلته د (واخر متشابهات) تفسير كړې دې (يصدق بعضه بعضا) دا تفسير بې محل دې ځكه چې دلته د متشابهات نه مراد داسې آياتونه دى چه د هغې مفهوم واضح نه وى او په هغې كښې د وجوه كثيره احتمال وى. دا د (يصدق بعضه بعضا) تفسير د (كتابا متشابها) سره

---

(۱) الجامع لاحكام القران ۴/۱۰۹) او معالم التنزيل ۱/۲۷۹)-

(۲) تفسير كبير ۷/۱۸۰)-

(۳) سورة الزمرا ۱:۲۳)-

(۴) سورة هود (۱)-

(۵) معالم التنزيل ۱/۲۷۸) وفتح البارى ۸/۲۱۱)-

منطبق کیږی
ددې نه پس امام بخاری رحمه الله درې ایاتونه پیش کړې دی په دې کښې د هر یو ایت مضمون د بل ایت د مضمون تصدیق کوی

اولنې ایت دې ﴿وَمَا يُضِلُّ بِهٖٓ اِلَّا الْفٰسِقِيْنَ﴾ ددې نه معلومه شوه چه ضلال او گمراهی هم د فاسقانو حصه ده

دویم ایت دې ﴿وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ﴾ ددې نه معلومیږی چې د کفر او شرک گندگی په هغه خلقو باندې مسلط کولې شی ځوک چه د عقل نه کار نه اخلی او د عقل نه هم هغه خلق کار نه اخلی ځوک چه فاسق وی، ددې ایت نه د اولنی ایت د مضمون تصدیق کیږی.

دریم ایت دې ﴿وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ﴾ ددې ایت نه هم د اولنو دوو آیاتونو د مضمون تائید کیږی چه په دې کښې د فاسقانو او گمراهانو تذکره ده او په دې ایت کښې فرمانیلې شوی دی چه خلق هدایت اختیار وی او په صراط مستقیم باندې د تلو کوشش کوی نو الله تعالی هغوی ته هدایت نصیب کوی او کوم خلق چې ددې کوشش نه کوی هغوی گمراه او فاسقان دی . دغه شان په اولنی دوو ایاتونو کښې چه کومه خبره کړې شوې ده هغه په دې ایت کښې په یو بل طرز سره بیان شوې ده.

قوله: اِبْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ) الْمُشْتَبِهَاتِ: د (ابتغاء الفتنه) معنی ئې بیان کړې ده (ابتغاء المتشابهات) یعنی کوم خلق چې په متشابهاتو پسې وی او ددې په غور او فکر کښې مشغول وی چونکه ددوی دا مشغولتیا د فتنې سبب جوړیږی، ددې وجې ئې په متشابهاتو کښې غور او فکر ته (ابتغاء الفتنة) اوونیل.

د متشابهاتو دوه قسمونه: د متشابهاتو دوه قسمونه دی یو قسم هغه دې چه په هغې کښې غور او فکر کولو سره د معنی حصول ممکن وی لکه تقدیم ما حقه التاخیر چه د هغې په وجه د معنی په پوهیدو کښې مشکل پیښیږی یا روابط کلام محذوف وی نو په داسې قسم متشابهاتو کښې په سوچ او فکر کولو سره معنی په پوهه کښې راځی ځکه چه داسې قسم مشتبهاتو کښې غور او فکر کول ممنوع نه دې.

دویم قسم هغه دې چه په هغې کښې سوچ او فکر کولو سره معنی د کلام په پوهه کښې نه راځی نو په هغې کښې سوچ او فکر کولو نه منع شوې ده.[۱]

قوله: وَالرَّاسِخُوْنَ) يَعْلَمُوْنَ (يَقُوْلُوْنَ آمَنَّا بِهٖ): په ایت کښې ﴿وَالرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ﴾ کښې واو کښې د عالمانو اختلاف دې چه دا واو مستانفه دې او که عاطفه دې. امام بخاری د مجاهد نه ذکر شوې تفسیر نقل کړې دې ددې نه معلومیږی چه دا واو عاطفه دې او د ﴿وَالرّٰسِخُوْنَ﴾ عطف په لفظ د (الله) کیږی او مطلب دادې چې الله هم د متشابهاتو معنی پیژنی او

---

[۱]) فتح الباری ۸/۲۱۱)-

راسخين في العلم هم پيژني خو د نه پيژندلو باوجود وائي چې مونږ په دې باندې ايمان راوړو او په دې کښې د غور او فکر کولو نه چونکه منع شوې ده، ددې وجې ترې لرې اوسيږي او دغه شان په حکم باندې عمل کوي او ثواب حاصلوي.[1]

٦٠-باب: (وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ)

[٤٢٧٤] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «مَا مِنْ مَوْلُودٍ يُولَدُ إِلاَّ وَالشَّيْطَانُ يَمَسُّهُ حِينَ يُولَدُ، فَيَسْتَهِلُّ صَارِخًا مِنْ مَسِّ الشَّيْطَانِ إِيَّاهُ، إِلاَّ مَرْيَمَ وَابْنَهَا» . ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ (وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ).

قوله: فَيَسْتَهِلُّ صَارِخًا مِنْ مَسِّ الشَّيْطَانِ إِيَّاهُ، إِلاَّ مَرْيَمَ: دا دې حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت دې فرمائي چې کله ماشوم پيدا شي نو شيطان هغه ته سکونداره ورکوي ، د هغې د وجې هغه چغه کړي خو حضرت مريم عليها السلام او د هغوي خوې حضرت عيسى عليه السلام ددې نه مستثنى دي. هغوي د پيدائش نه پس شيطان هغوي لره مس کړې نه دي.

دا روايت په کتاب احاديث الانبياء کښې هم تير شوې دې هلته هم تقريبا هم دا الفاظ دي[2] په دې کښې د حضرت عيسى عليه السلام ذکر دې د حضرت مريم عليها السلام ذکر پکښې نشته.

بعضې حضراتو وئيلې دي چه په اصل کښې ذکر خو د دواړو دې خو د کتاب بدء الخلق راوي صرف يو ذکر کړې دې کيدې شي چې د دواړو ذکر راوي ته ياد نه وي پاتې شوې[3]

دلته د مس ذکر دې نو د مس نه بي بي مريم او عيسى عليه السلام دواړه مستثنى دي، خو د (طعن) نه صرف عيسى عليه السلام مراد دې.[4]

خو اشکالات او د هغې جوابونه: سوال دا پيدا کيږي چې شيطان د ماشوم د ولادت په وخت کښې په ده باندې نوکاره ولې لګوي نو په دې باره کښې وئيلې شوي دي چې دا د شيطان د طرف نه تنبيه ده چې خيال کوه زه ستا دشمن يم نو هوښيار اوسه بل طرف ته شريعت حکم ورکړې دې چې ماشوم پيدا شي نو دده په يو غوږ کښې اذان او په بل کښې تکبير وائي. او ده ته دا اوښايئ چې د شيطان د ضرر نه محفوظ اوسيدل غواړې نو د الله او د هغه د رسول اطاعت او تابعداري کلکه اونيسه، نو بيا هغه تا ته څه نقصان نشي رسولې.

---

[1] فتح البارى ٨/٢١٠)-

[2] الفاظ الحديث (ما من بنى آدم مولود الا يمسه الشيطان حين يولد فيستهل صارخا من مس الشيطان غير مريم واتنها ، صحيح البخارى مع فتح البخارى ٦/٤٦٩) كتاب احاديث الانبياء باب قول الله واذكر فى الكتاب مريم...رقم الحديث (٣٤٣١)-

[3] صحيح البخارى مع فتح البخارى كتاب بداء الخلق باب صفة ابليس وجنده ،رقم الحديث(٣٣٧)-

[4] حواله بالا)-

علامه زمحشري ددې روايت په صحت كښې توقف كړې دې او وئيلې دى چې دا رويت په هغه وخت كښې صحيح منلې شى كله چه ددې حقيقى معنى مراد نه وى نو هغوى مجازى معنى بيان كړې ده او وئيلې ئې دى چې په حديث كښې د ‹مس الشيطان› نه د انسان د گمراه كولو كوشش مراد دې د پيدائش په وخت كښې چه شيطان كله دا كوشش كوى نو ماشوم په ژړا شى ځكه چې ماشوم په دغه وخت كښې د شيطانى وسوسو سره مانوس نه وى ،حال دا چه كله ماشوم پيدا كيږى نو په هغه كښې د گمراهئ قبلولو صلاحيت نه وى نه د عقيدې په اعتبار سره او نه د قول او عمل په اعتبار سره.

د علامه زمحشري په نيز حقيقى معنى ځكه مراد نشى اخستې چه شيطان ته په انسان باندې داسې قدرت حاصل وى چه هغه ده باندې سكونډارئى لگوى نو ددې تقاضا بيا داده چې ټول انسانان چغې وهى، خو داسې نه ده.(١)

خو د علامه زمحشرى دا اعتراض فضول دې ځكه چې په روايت كښې دا تصريح موجود ده چې ماشوم كله پيدا شى نو په هغه وخت كښې پرې شيطان سكونډاره لگوى ددې نه دا چرته معلوميږى چې شيطان په انسان ټول عمر سكونډارې لگوى او دا مشاهده ده چې كله ماشوم پيدا شى نو ژاړى.(٢)

په دې روايت باندې يو اشكال بل كيږى چې د ‹مس الشيطان› نه عيسىٰ عليه السلام او مريم بى بى مستثنى اوگرځولې شول، ځكه چې د حضرت مريم بى بى مور دعا كړې وه ‹وَإِنِّيٓ أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ› د دغه دعا په بركت سره الله تعالى دوى مستثنى كړل، سوال خو دادې چې دا دعا خو د حضرت مريم مور كړې وه د مريم د پيدائش نه وړاندې ، نو په دې صورت كښې د ولادت په وخت كښې د ‹مس الشيطان› نه د حضرت مريم بچ كيدل د هغوى د مور د دعا اثر ځنگه گرځولې شى؟

ددې جواب دا وركړې شوې دې چه ممكن ده چه د ولادت نه وړاندې يا د ولادت په وخت كښې د دوى مور دا دعا كړې وى او الله تعالى قبوله كړې وى او مريم بى بى ئې د مس الشيطان نه بچ كړې وى.(٣)

يو اشكال بل كيږى چې ددې روايت په وجه د حضرت عيسىٰ عليه السلام او بى بى مريم په نبى كريم ﷺ باندې فضيلت لازميږى حالانكه نبى ﷺ افضل الخلائق دې.

① ددې جواب علامه طيبى او علامه آلوسى دا وركړې دې د حضرت عيسىٰ عليه السلام او حضرت مريم په شان نبى ﷺ هم د ‹مس الشيطان› نه مستثنى دې. اگرچې دلته ذكر صرف د دوو شوې دې.(٤)

---

(١) تفسير كشاف (٣٥٧/١)-

(٢) فتح البارى ٢١٢/٨ وروح المعانى ١٣٧/٣)-

(٣) روح المعانى ١٣٨/٣)-

(٤) حواله بالا

④ دويم جواب دا ورکړې شوې دې چه په دې روايت کښې د حضرت عيسى عليه السلام او حضرت مريم بي بى صرف جزئى فضيلت ثابت دې او په جزئى فضيلت سره کلى فضيلت نه متاثر کيږى.[1]

⑤ او قاضى عياض رحمه الله فرمائيلى دى چه د رسول الله ﷺ په شان ټولو پيغمبرانو ته دا خصوصيت حاصل دې چه شيطان هغوى ته د ولادت په وخت کښې مس او طعن نه ورکوى.

بيا يو سوال پيدا کيږى چې هر کله دا د ټولو پيغمبرانو (عليهم السلام) مشترکه وصف دې نو د نبى ﷺ د حضرت مريم بى بى او ابن مريم په خصوصيت سره د ذکر کولو څه وجه وه؟

دې باره کښې دا وئيلې شوې دى چه د حضرت مريم او د ابن مريم په باره کښې يهوديانو ډيرې افواهګانې خورې کړې وې، د هغوى د تقدس او بزرګئ هغوى د خربولو کوشش کړې وو څکه نبى ﷺ په خصوصيت سره د هغوى ذکر اوکړو او دا ئې بيان کړو چه دوى د ابتداء ولادت نه د شيطان د تصرف نه مستثنى کړې شوى وو، په روستونى ژوند کښې دوى د شيطانى دهوکې څنګه ښکار کيدې شى او منکراتو سره تعلق ساتونکې هغه خبرې څنګه صحيح کيدې شى کومې چې يهوديان ددې مقدس او پاکيزه نفوسو باره کښې وائى.

٦٦-باب: (إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ) لَا خَيْرَ. (٣)

(أَلِيمٌ) مُؤْلِمٌ مُوجِعٌ مِنَ الْأَلَمِ، وَهُوَ فِي مَوْضِعِ مُفْعِلٍ.

[٤٢٧٥] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ حَلَفَ يَمِينَ صَبْرٍ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ، لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ». فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَصْدِيقَ ذَلِكَ (إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ. قَالَ فَدَخَلَ الْأَشْعَثُ بْنُ قَيْسٍ وَقَالَ مَا يُحَدِّثُكُمْ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ. قُلْنَا كَذَا وَكَذَا. قَالَ فِيَّ أُنْزِلَتْ كَانَتْ لِي بِئْرٌ فِي أَرْضِ ابْنِ عَمٍّ لِي قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «بَيِّنَتُكَ أَوْ يَمِينُهُ» فَقُلْتُ إِذًا يَحْلِفَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينِ صَبْرٍ يَقْتَطِعُ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ وَهُوَ فِيهَا فَاجِرٌ، لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ».

[٤٢٧٦] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ - هُوَ ابْنُ أَبِي هَاشِمٍ - سَمِعَ هُشَيْمًا أَخْبَرَنَا الْعَوَّامُ بْنُ حَوْشَبٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى - رضى الله عنهما - أَنَّ رَجُلًا أَقَامَ سِلْعَةً فِي السُّوقِ فَحَلَفَ فِيهَا لَقَدْ أَعْطَى بِهَا مَا لَمْ يُعْطَهُ. لِيُوقِعَ فِيهَا رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ، فَنَزَلَتْ (إِنَّ

---

[1] حوالا بالا

الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا) إِلَى آخِرِ الآيَةِ.

[٤٢٧٧] حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ كَانَتَا تَخْرُزَانِ فِي بَيْتٍ- أَوْفِي الْحُجْرَةِ- فَخَرَجَتْ إِحْدَاهُمَا وَقَدْ أُنْفِذَ بِإِشْفًى فِي كَفِّهَا، فَادَّعَتْ عَلَى الأُخْرَى، فَرُفِعَ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «لَوْيُعْطَى النَّاسُ بِدَعْوَاهُمْ لَذَهَبَ دِمَاءُ قَوْمٍ وَأَمْوَالُهُمْ». ذَكِّرُوهَا بِاللَّهِ وَاقْرَءُوا عَلَيْهَا (إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ). فَذَكَّرُوهَا فَاعْتَرَفَتْ، فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «الْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ».

په دې ايت كريمه كښې دى (ولهم عذاب اليم) فرمائى چې د اليم معنى دردناک ده او دا (الم) نه مشتق دې او د (مفعل) په وزن دې.

امام بخارى ددې ايت متعلق دوه واقعات د شان نزول په ډول بيان كړې دى .اولنۍ ئې د اشعث بن قيس واقعه نقل كړې ده او دويمه واقعه ئې د عبدالله ابن ابى اوفى نه د هغه سرى په باره كښې نقل كړې ده چه د هغه نوم په روايت كښې نشته، دا دواړه واقعات د يو بل نه مختلف دى او دا خبره تاسو په اصول تفسير كښې وئيلې ده چه د يو ايت په شان نزول كښې مختلف واقعات كيدې شى.

قوله: أَنَّ امْرَأَتَيْنِ كَانَتَا تَخْرُزَانِ فِي بَيْتٍ): يعنى دوو ښځو په يو كور كښې موزې او خپلۍ ګنډلې (وقد انفذ باشفى فى كفها فادعت على الاخرى) (باشفا) بغير تنوين نه هم وئيلې شى د خپلۍ اوموزې په ګنډلو كښې چه كومه ستن استعماليږى هغه (اشفا) ده (په پښتو كښې ورته كونډه وائى ددې عمل په دوران كښې د يوې د لاس نه كونډه تيرې راپيرې اووتله نو هغې په بله باندې دعوى اوكړه چه دې زما لاس زخمى كړلو.

فيصله حضرت ابن عباس رضي الله عنه ته يوړلې شوه نو ابن عباس رضي الله عنه اوفرمائيل چه رسول الله ﷺ فرمائيلې دى كه صرف د خلقو په دعوى باندې د هغوى مدعا او مطلوب وركولې شى نو بيا خو د خلقو وينه او ددوى مالونه ختم او برباد شى، ددې حديث نقل كولو كښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه مطلب دا وو چې شريعت د جګړو او مقدماتو ختمولو د پاره مستقل اصول او باقاعده ضوابط مقرر كړې دى چه مدعى به ګواهان پيش كوى او كه د هغه سره ګواهان نه وى نو بيا به د مدعى عليه نه قسم اخستې شى ،صرف په دعوى سره د مدعى په حق كښې فيصله نشى كولې. په راتلونكو دوو ښځو كښې كه د مدعيه سره ګواه نه وى نو د مدعا عليها نه د قسم مطالبه متعين ده . او چونكه د مدعيه عليها سره ګواهان نه وو ددې وجې حضرت ابن عباس رضي الله عنه اوفرمائيل چې مدعا عليها ته د الله ياد ورورانډې كړئى او د قران دا ايت ورته واوروئى (چه چرته دغه ښځې ته نصيحت اوكړو او دالله ويره ئې ورته ورورانډې كړه نو هغې د خپل جرم اقرار اوكړو، حضرت ابن عباس رضي الله عنه د نبى ﷺ ارشاد نقل كړو چه قسم په مدعا عليه باندې دې.

٦٢-باب: (قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَنْ لَا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ). (۴)

سَوَاءٌ قَصْدٌ

[۴۲۷۸] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى عَنْ هِشَامٍ عَنْ مَعْمَرٍ. وَحَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو سُفْيَانَ مِنْ فِيهِ إِلَى فِيَّ قَالَ انْطَلَقْتُ فِي الْمُدَّةِ الَّتِي كَانَتْ بَيْنِي وَبَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-- قَالَ - فَبَيْنَا أَنَا بِالشَّأْمِ إِذْ جِيءَ بِكِتَابٍ مِنَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - إِلَى هِرَقْلَ قَالَ وَكَانَ دِحْيَةُ الْكَلْبِيُّ جَاءَ بِهِ فَدَفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ بُصْرَى، فَدَفَعَهُ عَظِيمُ بُصْرَى إِلَى - هِرَقْلَ - قَالَ - فَقَالَ هِرَقْلُ هَلْ هَا هُنَا أَحَدٌ مِنْ قَوْمِ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ فَقَالُوا نَعَمْ. قَالَ فَدُعِيتُ فِي نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَدَخَلْنَا عَلَى هِرَقْلَ، فَأُجْلِسْنَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ أَيُّكُمْ أَقْرَبُ نَسَبًا مِنْ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ فَقَالَ أَبُو سُفْيَانَ فَقُلْتُ أَنَا. فَأَجْلَسُونِي بَيْنَ يَدَيْهِ، وَأَجْلَسُوا أَصْحَابِي خَلْفِي، ثُمَّ دَعَا بِتُرْجُمَانِهِ فَقَالَ قُلْ لَهُمْ إِنِّي سَائِلٌ هَذَا عَنْ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ، فَإِنْ كَذَبَنِي فَكَذِّبُوهُ. قَالَ أَبُو سُفْيَانَ وَايْمُ اللَّهِ، لَوْلَا أَنْ يُؤْثِرُوا عَلَيَّ الْكَذِبَ لَكَذَبْتُ. ثُمَّ قَالَ لِتُرْجُمَانِهِ سَلْهُ كَيْفَ حَسَبُهُ فِيكُمْ قَالَ قُلْتُ هُوَ فِينَا ذُو حَسَبٍ. قَالَ فَهَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مَلِكٌ قَالَ قُلْتُ لَا. قَالَ فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ قُلْتُ لَا. قَالَ أَيَتَّبِعُهُ أَشْرَافُ النَّاسِ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ قَالَ قُلْتُ بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ. قَالَ يَزِيدُونَ أَوْ يَنْقُصُونَ قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ يَزِيدُونَ. قَالَ هَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ دِينِهِ، بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ، سَخْطَةً لَهُ قَالَ قُلْتُ لَا. قَالَ فَهَلْ قَاتَلْتُمُوهُ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ. قَالَ فَكَيْفَ كَانَ قِتَالُكُمْ إِيَّاهُ قَالَ قُلْتُ تَكُونُ الْحَرْبُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ سِجَالًا، يُصِيبُ مِنَّا وَنُصِيبُ مِنْهُ. قَالَ فَهَلْ يَغْدِرُ قَالَ قُلْتُ لَا وَنَحْنُ مِنْهُ فِي هَذِهِ الْمُدَّةِ لَا نَدْرِي مَا هُوَ صَانِعٌ فِيهَا. قَالَ وَاللَّهِ مَا أَمْكَنَنِي مِنْ كَلِمَةٍ أُدْخِلُ فِيهَا شَيْئًا غَيْرَ هَذِهِ. قَالَ فَهَلْ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ قُلْتُ لَا. ثُمَّ قَالَ لِتُرْجُمَانِهِ قُلْ لَهُ إِنِّي سَأَلْتُكَ عَنْ حَسَبِهِ فِيكُمْ، فَزَعَمْتَ أَنَّهُ فِيكُمْ ذُو حَسَبٍ، وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِي أَحْسَابِ قَوْمِهَا، وَسَأَلْتُكَ هَلْ كَانَ فِي آبَائِهِ مَلِكٌ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا فَقُلْتُ لَوْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مَلِكٌ قُلْتُ رَجُلٌ يَطْلُبُ مُلْكَ آبَائِهِ، وَسَأَلْتُكَ عَنْ أَتْبَاعِهِ أَضُعَفَاؤُهُمْ أَمْ أَشْرَافُهُمْ فَقُلْتَ بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ، وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ لِيَدَعَ الْكَذِبَ عَلَى النَّاسِ ثُمَّ يَذْهَبَ فَيَكْذِبَ عَلَى اللَّهِ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ دِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ

فِيهِ سَخْطَةً لَهُ فَزَعَمْتَ أَنْ لاَ، وَكَذَلِكَ الإِيمَانُ إِذَا خَالَطَ بَشَاشَةَ الْقُلُوبِ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ فَزَعَمْتَ أَنَّهُمْ يَزِيدُونَ، وَكَذَلِكَ الإِيمَانُ حَتَّى يَتِمَّ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَاتَلْتُمُوهُ فَزَعَمْتَ أَنَّكُمْ قَاتَلْتُمُوهُ فَتَكُونُ الْحَرْبُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ سِجَالاً، يَنَالُ مِنْكُمْ وَتَنَالُونَ مِنْهُ، وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْتَلَى، ثُمَّ تَكُونُ لَهُمُ الْعَاقِبَةُ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَغْدِرُ فَزَعَمْتَ أَنَّهُ لاَ يَغْدِرُ، وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ لاَ تَغْدِرُ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَالَ أَحَدٌ هَذَا الْقَوْلَ قَبْلَهُ فَزَعَمْتَ أَنْ لاَ، فَقُلْتُ لَوْ كَانَ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ قُلْتُ رَجُلٌ ائْتَمَّ بِقَوْلٍ قِيلَ قَبْلَهُ. قَالَ ثُمَّ قَالَ بِمَ يَأْمُرُكُمْ قَالَ قُلْتُ يَأْمُرُنَا بِالصَّلاَةِ وَالزَّكَاةِ وَالصِّلَةِ وَالْعَفَافِ. قَالَ إِنْ يَكُ مَا تَقُولُ فِيهِ حَقًّا فَإِنَّهُ نَبِيٌّ، وَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنَّهُ خَارِجٌ، وَلَمْ أَكُ أَظُنُّهُ مِنْكُمْ، وَلَوْ أَنِّي أَعْلَمُ أَنِّي أَخْلُصُ إِلَيْهِ لأَحْبَبْتُ لِقَاءَهُ، وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهُ لَغَسَلْتُ عَنْ قَدَمَيْهِ، وَلَيَبْلُغَنَّ مُلْكُهُ مَا تَحْتَ قَدَمَىَّ. قَالَ ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَرَأَهُ، فَإِذَا فِيهِ «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللَّهِ، إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ، سَلاَمٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى، أَمَّا بَعْدُ، فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدِعَايَةِ الإِسْلاَمِ، أَسْلِمْ تَسْلَمْ، وَأَسْلِمْ يُؤْتِكَ اللَّهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ، فَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَإِنَّ عَلَيْكَ إِثْمَ الأَرِيسِيِّينَ، وَ(يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَنْ لاَ نَعْبُدَ إِلاَّ اللَّهَ) إِلَى قَوْلِهِ (اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ). فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ الْكِتَابِ ارْتَفَعَتِ الأَصْوَاتُ عِنْدَهُ، وَكَثُرَ اللَّغَطُ، وَأُمِرَ بِنَا فَأُخْرِجْنَا قَالَ فَقُلْتُ لأَصْحَابِي حِينَ خَرَجْنَا لَقَدْ أَمِرَ أَمْرُ ابْنِ أَبِي كَبْشَةَ، أَنَّهُ لَيَخَافُهُ مَلِكُ بَنِي الأَصْفَرِ فَمَا زِلْتُ مُوقِنًا بِأَمْرِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ سَيَظْهَرُ حَتَّى أَدْخَلَ اللَّهُ عَلَىَّ الإِسْلاَمَ. قَالَ الزُّهْرِيُّ فَدَعَا هِرَقْلُ عُظَمَاءَ الرُّومِ فَجَمَعَهُمْ فِي دَارٍ لَهُ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الرُّومِ، هَلْ لَكُمْ فِي الْفَلاَحِ وَالرَّشَدِ آخِرَ الأَبَدِ، وَأَنْ يَثْبُتَ لَكُمْ مُلْكُكُمْ قَالَ فَحَاصُوا حَيْصَةَ حُمُرِ الْوَحْشِ إِلَى الأَبْوَابِ، فَوَجَدُوهَا قَدْ غُلِّقَتْ، فَقَالَ عَلَىَّ بِهِمْ. فَدَعَا بِهِمْ فَقَالَ إِنِّي إِنَّمَا اخْتَبَرْتُ شِدَّتَكُمْ عَلَى دِينِكُمْ، فَقَدْ رَأَيْتُ مِنْكُمُ الَّذِي أَحْبَبْتُ. فَسَجَدُوا لَهُ وَرَضُوا عَنْهُ. [ر: ۷]

٦٣- باب: (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ) إِلَى (بِهِ عَلِيمٌ)

[۴۲۷۹] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ -رضى الله عنه- يَقُولُ كَانَ أَبُو طَلْحَةَ أَكْثَرَ أَنْصَارِيٍّ بِالْمَدِينَةِ نَخْلاً، وَكَانَ أَحَبَّ أَمْوَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرُحَاءَ، وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَدْخُلُهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ، فَلَمَّا أُنْزِلَتْ (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ) قَامَ أَبُو طَلْحَةَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ) وَإِنَّ أَحَبَّ أَمْوَالِي إِلَيَّ بَيْرُحَاءَ وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلَّهِ، أَرْجُو بِرَّهَا وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللَّهِ، فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ حَيْثُ أَرَاكَ اللَّهُ. قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «بَخٍ، ذَلِكَ مَالٌ رَايِحٌ، ذَلِكَ

مَالٌ رَابِحٌ، وَقَدْ سَمِعْتُ مَا قُلْتَ، وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الأَقْرَبِينَ». قَالَ أَبُوطَلْحَةَ أَفْعَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَقَسَمَهَا أَبُوطَلْحَةَ فِي أَقَارِبِهِ وَبَنِي عَمِّهِ. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ وَرَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ «ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ». حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ يَحْيَى قَالَ قَرَأْتُ عَلَى مَالِكٍ «مَالٌ رَايِحٌ».

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - قَالَ فَجَعَلَهَا لِحَسَّانَ وَأُبَيٍّ، وَأَنَا أَقْرَبُ إِلَيْهِ، وَلَمْ يَجْعَلْ لِي مِنْهَا شَيْئًا.

قوله: بَخٍ، ذَلِكَ مَالٌ رَايِحٌ: ډيره ښه ده دا مال خو د ګټې دې (بخ) اسم فعل دې د خوشحالئ او داد په موقع باندې ئې استعماليږي په بعضې رواياتو کښې د «رابح» په ځائې «رايح» دې، يعنې مال خو تلونکې راتلونکې څيز دې که دا د اخرت د پاره ذخيره جوړه کړې شي نو قيمتي خبره ده.[1]

قوله: حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ يَحْيَى: امام بخاری دا روايت په کتاب الوکالة کښې پوره نقل کړې دې.[2]

قوله: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيُّ: دا روايت امام بخاری په کتاب الوقف کښې د باب (اذا وقف او اوصی لاقاربه) لاندې ذکر کړې دې.[3]

۶۴- باب: قُلْ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ)

[۴۲۸۰] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا أَبُو ضَمْرَةَ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - أَنَّ الْيَهُودَ جَاءُوا إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - بِرَجُلٍ مِنْهُمْ وَامْرَأَةٍ قَدْ زَنَيَا، فَقَالَ لَهُمْ «كَيْفَ تَفْعَلُونَ بِمَنْ زَنَى مِنْكُمْ». قَالُوا نُحَمِّمُهُمَا وَنَضْرِبُهُمَا. فَقَالَ «لاَ تَجِدُونَ فِي التَّوْرَاةِ الرَّجْمَ». فَقَالُوا لاَ نَجِدُ فِيهَا شَيْئًا. فَقَالَ لَهُمْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلاَمٍ كَذَبْتُمْ (فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ) فَوَضَعَ مِدْرَاسُهَا الَّذِي يُدَرِّسُهَا مِنْهُمْ كَفَّهُ عَلَى آيَةِ الرَّجْمِ، فَطَفِقَ يَقْرَأُ مَا دُونَ يَدِهِ وَمَا وَرَاءَهَا، وَلاَ يَقْرَأُ آيَةَ الرَّجْمِ، فَنَزَعَ يَدَهُ عَنْ آيَةِ الرَّجْمِ فَقَالَ مَا هَذِهِ فَلَمَّا رَأَوْا ذَلِكَ قَالُوا هِيَ آيَةُ الرَّجْمِ. فَأَمَرَ بِهِمَا فَرُجِمَا قَرِيبًا مِنْ حَيْثُ مَوْضِعُ الْجَنَائِزِ عِنْدَ الْمَسْجِدِ، فَرَأَيْتُ صَاحِبَهَا يَجْنَأُ عَلَيْهَا يَقِيهَا الْحِجَارَةَ. [ر: ۱۲۶۴]

قوله: يَقِيهَا الْحِجَارَةَ: ما هغه يهودی اوليدلو چه هغه خپله محبوبه د کانړی نه د بچ کولو د پاره هغه خپل اړخ ته کوله خو په آخر کښې انجام هم دا راوتلو چه کله په هغه کښې حرکت پاتې نشو نو هغه هم مړ شو او يهوديه هم مړه شوه.

[1]) عمدة القاری ۱۸/۱۳۶)-
[2]) صحيح البخاری مع فتح الباری کتاب الوکالة باب اذا قال الرجل لوکيله ۴/۴۹۳) رقم الحديث ۲۳۱۸)-
[3]) صحيح البخاری معی فتح الباری کتاب الوصايا (۵/۳۷۹) -

۶۵- باب: ... كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ.

[۴۲۸۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مَيْسَرَةَ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه - (كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ) قَالَ خَيْرَ النَّاسِ لِلنَّاسِ، تَأْتُونَ بِهِمْ فِي السَّلَاسِلِ فِي أَعْنَاقِهِمْ حَتَّى يَدْخُلُوا فِي الإِسْلَامِ.

دا هم احتمال لرى چه د (كنتم خير امة) نه صرف حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم مراد وى او دا هم احتمال دې چه ټول امت ترې مراد دې [1] كه صحابه ئيې مراد وى نو مطلب ئې دادې چه صحابه امت كښې د ټولو نه غوره دى او كه ټول امت مراد وى نو مطلب به دا وى چه د نورو امتونو په مقابله كښې امت محمديه د ټولو نه غوره دې او ظاهر او راجح هم دادې چه صرف صحابه كرام مخاطب او نه ګرخولې شى بلكه ټول امت ددې مخاطب اوګرخولې شى [2]

په روايت كښې دى چې بهترين خلق د خلقو د پاره هغه دى چه هغوى دوى په بيړو كښې بنديان راولى تردې چه هغوى په اسلام كښې داخل شى، مطلب دادې چه د امت محمديه د خير امت كيدو پوه ننبه دا هم ده چه ددې امت مجاهدين كافران د ميدان جنګ نه په قيد كښې راولى او دغه شان ددې مجاهدينو په قيد كښې ډير كافران قيديان اسلام راوړى او د ابدى سعادت مستحق شى.

علامه شبير احمد عثمانى ددې لاندې ليكى:

د تيرې شوې ركوع په اول كښې ئې فرمائيلي وو (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ) په مينځ كښې هم ددې مناسب څه اوامر او نواهى او وعده وعيد راغلل، ددې ځائې نه بيا د هغه اولنى مضمون تكميل كيږى يعنى اې مسلمانانو ! الله تعالى تاسو په ټولو امتونو كښې بهترين امت ګرخولې يئ د هغه په علم ازلى كښې د اولنۍ ورځې نه دا مقدره وه. ددې خبر بعضې پخوانو پيغمبرانو ته هم وركړې شوې وو، لكه څنګه چې نبى اخر الزمان محمد ﷺ په ټولو نبيانو كښې افضل دې. ددوى امت به هم په ټولو امتونو باندې وړاندې وى، څكه چې دوى ته به د ټولو نه افضل او اكرم پيغمبر نصيب كيږى اكمل او د هميشه شريعت به ورته ميلاويږى، د علومو او معارفو دروازې به په دوى باندې پرانستى كيږى، د ايمان او عمل او تقوى ټول بناخونه به د دوى په محنت او قربانو باندې تروتازه او شنه وى، هغوى به په څه خاص قوم او نسب يا مخصوص ملك او اقليم كښې محصور نه وو بلكه د دوى د عمل دائره به ټولې دنيا ته او د انسانى ژوند په هر شعبه باندې محيط وى، لكه څنګه چې د دوى وجود به ددې د پاره وى چه د نورو خيرخواهى كوى او چه تركومې پورې ممكن وى نو هغوى د جنت په دوازه باندې اودروى. په (أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ) كښې دې طرف ته اشاره ده.

---

[1]) معالم التنزيل (۴۴/۱)-

[2]) فتح البارى (۲۲۵/۸)-

تنبیه: ددې سورت په نهمه رکوع کښې د ﴿وَإِذْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ﴾ نه د نبي كريم ﷺ د امامت او جامعيت كبرى بيان وو، په لسمه رکوع کښې د ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ﴾ ددې امت د قبلې برتري خودلې شوې ده او د يوولسمې ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللّٰهِ﴾ رکوع نه ددې امت د کتاب او شريعت د مضبوطيا اظهار کړې شوې دې، اوس دلته د دولسمې رکوع په آغاز کښې پخپله د امت مرحومه د فضيلت او عظمت اعلان کيږي.

﴿منكر﴾ (په غلطو کارونو کښې) کفر، شرك، بدعاتو، رسومات قبيحه، فسق او فجور او هر قسم بداخلاقي او نامعقول خبرې شامل دی ددې منع کول هم په خو طريقو دی کله په ژبه سره کله په لاس سره وی کله په قلم سره وی کله په تورې سره وی. غرض هر قسم جهاد په دې کښې شامل دې، دا صفت چه څومره په عموم او هتمام سره په امت محمديه کښې موجود شوې دې په اولنو امتونو کښې ددې نظير او مثال نه ملاويږي.

حضرت تهانوی صاحب په بيان القران کښې ليکي:

﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ﴾ تاسو غوره ډله ئې چه هغه ډله د (عامو) خلقو (ته د فائدې او هدايت رسولو د پاره) ظاهر شوې ده، تاسو (په مقتضا د شريعت په زيات اهتمام سره) د نيکئ کارونه ښايئ او د بدو کارونو نه منع کويئ.

دا خطاب ټول ام محمديه ته عام دې لکه څنګه چه په كمالين كښې د حضرت علی رضي الله عنه مرفوع د احمد بن حنبل رحمه الله په سند سره منقول دې چې نبی ﷺ فرمائيلي دی چې زما امت خير الامم دې، بيا په دې کښې صحابه اول اشرف مخاطبين دی، او په امر بالمعروف او نهی عن المنكر کښې چې کوم د زيات اهتمام قيد راوستې شو مراد دې نه (امرونهی بالید) دی کومه چې ددې اوچته درجه ده، دا درجه په دې امت کښې د نورو امتونو نه په دوو وجوهو سره زياته ده، اول د جهاد مشروع کيدل ددې نه رفع د کفر او رفع د فساد مقصود ده، دويمه د عموم دعوت محمديه، ددې د ټولو قومونو د پاره عام کيدل، لکه څنګه چې په (للناس) کښې د (عام) لفظ ورکړې شوې دې په خلاف د مخکښې شريعتونو نه چې په بعضو کښې جهاد نه وو او بعضو کښې سابقه انبياء كرام ټولو اقوامو ته مبعوث نه وو، او ښکاره ده چه په زيات عمل سره زيات اجر دې بلکه صرف دويمه وجه هم کافی ده نو دا هم منجمله د اسبابو د خيرت ددې امت شو.

٦٦- باب: (إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا)

[۴۲۸۲] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ -رضي الله عنهما- يَقُولُ فِينَا نَزَلَتْ (إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا) قَالَ نَحْنُ الطَّائِفَتَانِ بَنُو حَارِثَةَ وَبَنُو سَلِمَةَ، وَمَا نُحِبُّ - وَقَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً وَمَا يَسُرُّنِي - أَنَّهَا لَمْ تُنْزَلْ لِقَوْلِ اللّٰهِ (وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا)

٦٧-باب: (لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ).

[۴۲۸۳] حَدَّثَنَا حِبَّانُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي سَالِمٌ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فِي الرَّكْعَةِ الآخِرَةِ مِنَ الْفَجْرِ يَقُولُ «اللَّهُمَّ الْعَنْ فُلاَنًا وَفُلاَنًا وَفُلاَنًا». بَعْدَ مَا يَقُولُ «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ». فَأَنْزَلَ اللَّهُ (لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ) إِلَى قَوْلِهِ (فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ). رَوَاهُ إِسْحَاقُ بْنُ رَاشِدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ.

[۴۲۸۴] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَأَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ عَلَى أَحَدٍ أَوْ يَدْعُوَ لأَحَدٍ قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوعِ، فَرُبَّمَا قَالَ إِذَا قَالَ «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، اللَّهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ، وَسَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ، وَعَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ، اللَّهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ وَاجْعَلْهَا سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ». يَجْهَرُ بِذَلِكَ وَكَانَ يَقُولُ فِي بَعْضِ صَلاَتِهِ فِي صَلاَةِ الْفَجْرِ «اللَّهُمَّ الْعَنْ فُلاَنًا وَفُلاَنًا». لأَحْيَاءٍ مِنَ الْعَرَبِ، حَتَّى أَنْزَلَ اللَّهُ (لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ) الآيَةَ.

د ایت کریمه ``لیس لک من الامر شیئ،، شان نزول: ددې ایت مختلف شان نزول دی:

① یو خو دا بیان شوې دې چې نبی ﷺ د صفوان بن امیه او سهیل بن عمرو د پاره خیرې کړې وې په دې باندې دا ایت نازل شو[1]

② یو د بیان شوې دې چې نبی ﷺ د ولید ابن ولید، سلمه بن هشام، عیاش بن ابی ربیعه وغیره د پاره خیرې کړې وې او ورسره ئې دا هم فرمائیلي وو (او اللهم اشدد وطاتکم علی مضر) په دې باندې دا ایت نازل شو[2]

③ بعضې حضراتو وئیلي دی چه په جنګ احد کښې د عبدالله بن قیمه په کاڼړی ویشتلو سره د نبی ﷺ مخ مبارک زخمی شوې وو په دغه وخت کښې نبی ﷺ فرمائیلي وو (کیف یفلح قوم شجوا نبیهم) په دې باندې دا ایت نازل شو[3]

④ امام زهری رحمه الله امام طحاوی او حافظ ابن حجر وغیره نقل کړې دی چه د رعل او ذکوان په قصه کښې دا ایت نازل شوې وو[4]

[1]) تفسیر ابن کثیر ۱/۴۰۲)-
[2]) کما فی روایت الباب)-
[3]) فتح الباری ۸/۲۲۷) تفسیر ابن کثیر ۱/۴۰۳) ومعالم التنزیل ۱/۳۵۰)-
[4]) فتح الباری ۸/۲۲۷)-

خو حقيقت دادې چې ددې تولو واقعاتو پېښېدو نه پس دا ايت نازل شوې دې. چا په شان نزول کښې يوه واقعه ذکر کړې ده او چا بله واقعه [1] او دا خبره تاسو ته اوخودلې شوه چه د يو ايت مختلف واقعات سبب نزول کيدې شي.

٦٨-باب قَوْلِهِ (وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِي أُخْرَاكُمْ).

وَهُوَ تَأْنِيثُ آخِرِكُمْ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ) فَتْحًا أَوْ شَهَادَةً.

[٤٢٨٥] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ -رضى الله عنهما- قَالَ جَعَلَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى الرَّجَّالَةِ يَوْمَ أُحُدٍ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ جُبَيْرٍ، وَأَقْبَلُوا مُنْهَزِمِينَ، فَذَاكَ إِذْ يَدْعُوهُمُ الرَّسُولُ فِي أُخْرَاهُمْ، وَلَمْ يَبْقَ مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- غَيْرُ اثْنَيْ عَشَرَ رَجُلاً.

پوره ايت دې (إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ عَلَى أَحَدٍ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِي أُخْرَاكُمْ فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ لِكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَا أَصَابَكُمْ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ) امام بخارى فرمائى چې په ايت كريمه كښې (اخركم) د (آخركم) تانيث دې ،

حافظ ابن حجر او علامه عينى په دې باندې اشكال كړې دې چه (اخرى) د (آخر) تانيث نه دې د (آخر) تانيث خو (آخرة) راځى [2] علامه عينى فرمائى چې امام بخارى په دې كښې د ابوعبيده اتباع كړې ده او د ابوعبيده نه په دې كښې ذهول شوې دې [3]

خو علامه قسطلانى وغيره حضراتو فرمائيلې دى چه د امام بخارى نظر په دې سلسله كښې زيات دقيق دې، وجه دا ده چې (آخر) (د خاء په كسرې سره) د تاخير د پاره راځى او (آخر) د (خاء په فتحې سره) د مغايرت د پاره راځى او په ايت كريمه كښې تاخير د بيان مقصود دې، د مغايرت بيان مقصود نه دې، ددې وجې امام بخارى دا د (آخر) (بكسر الخاء) تانيث اوګرځولو او (آخرى) د (آخر) د مونث په طور استعمال په لغت كښې موجود دې بلكه هم دا د اصلى په معنى كښې دې. [4]

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ) فَتْحًا أَوْ شَهَادَةً.: يعنى تاسو په مونږ باندې په دوو ښيګړو كښې د يوې انتظار كوئى. يا خو به مونږ ته فتح اوشى يا شهادت، د (إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ) د ا كلمه په سورة آل عمران كښې نه ده بلكه په سورة براءت كښې ده (قُلْ هَلْ

---

[1]) حواله بالا

[2]) فتح البارى ٢٢٧٩/١ وعمدة القاى ١٥١٩/١٨-

[3]) عمدة القارى ١٥١/١٨)-

[4]) الهدى السارى ٣٤٠٩/٨-

تَرَبَّصُونَ بِنَآ اِلَّآ اِحۡدَى الۡحُسۡنَيَيۡنِ) امام بخاري دا دلته په کوم مناسبت سره ذکر کړې ده؟ علامه عيني فرمائيلي دي چه ددې دلته د ذکر کولو څه وجه نشته، دا په سورة توبه کښې ذکر کول پکار وو (۱)

بعضې حضراتو وئيلي دي چه (احدى الحسنين) کښې يوه ښيګړه په غزوه احد کښې حاصله شوې وه، يعني شهادت او دلته خو چونکه د ابواب غزوه احد باره کښې بيان کيږي په دې مناسبت سره ئې دا ذکر کړې دي (۲)

او دا هم ممکن ده چې امام د (أخرى) په مناسبت سره دا ذکر کړې وي لکه څنګه چه (اخرى) د (آخر) تانيث د مطلق تاخير په معنى کښې مستعمل دې، دغه شان (حسنى) د (احسن) تانيث دې په مذکوره آيت کښې مطلقا د حسن په معنى مستعمل دې (۳)

٦٩- باب: قَوۡلِهِ (أَمَنَةً نُعَاسًا)

[۴۲۸۶] حَدَّثَنَا إِسۡحَاقُ بۡنُ إِبۡرَاهِيمَ بۡنِ عَبۡدِ الرَّحۡمَنِ أَبُو يَعۡقُوبَ حَدَّثَنَا حُسَيۡنُ بۡنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا شَيۡبَانُ عَنۡ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا أَنَسٌ أَنَّ أَبَا طَلۡحَةَ قَالَ غَشِيَنَا النُّعَاسُ وَنَحۡنُ فِي مَصَافِّنَا يَوۡمَ أُحُدٍ- قَالَ- فَجَعَلَ سَيۡفِي يَسۡقُطُ مِنۡ يَدِي وَآخُذُهُ، وَيَسۡقُطُ وَآخُذُهُ.

٧٠- باب: قَوۡلِهِ (الَّذِينَ اسۡتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ مِنۡ بَعۡدِ مَا أَصَابَهُمُ الۡقَرۡحُ لِلَّذِينَ أَحۡسَنُوا مِنۡهُمۡ وَاتَّقَوۡا أَجۡرٌ عَظِيمٌ)

(الۡقَرۡحُ) الۡجِرَاحُ (اسۡتَجَابُوا) أَجَابُوا. يَسۡتَجِيبُ يُجِيبُ.

امام بخاري د استجابوا تفسير په (استجابوا) سره کوي، ددې خودلو د پاره چه دلته (سين) د طلب د پاره نه دې.

٧١- باب: (إِنَّ النَّاسَ قَدۡ جَمَعُوا لَكُمۡ)

[۴۲۸۷] حَدَّثَنَا أَحۡمَدُ بۡنُ يُونُسَ - أُرَاهُ قَالَ - حَدَّثَنَا أَبُو بَكۡرٍ عَنۡ أَبِي حَصِينٍ عَنۡ أَبِي الضُّحَى عَنِ ابۡنِ عَبَّاسٍ (حَسۡبُنَا اللَّهُ وَنِعۡمَ الۡوَكِيلُ) قَالَهَا إِبۡرَاهِيمُ عَلَيۡهِ السَّلَامُ حِينَ أُلۡقِيَ فِي النَّارِ، وَقَالَهَا مُحَمَّدٌ- صلى الله عليه وسلم- حِينَ قَالُوا (إِنَّ النَّاسَ قَدۡ جَمَعُوا لَكُمۡ فَاخۡشَوۡهُمۡ فَزَادَهُمۡ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسۡبُنَا اللَّهُ وَنِعۡمَ الۡوَكِيلُ).

[۴۲۸۸] حَدَّثَنَا مَالِكُ بۡنُ إِسۡمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِسۡرَائِيلُ عَنۡ أَبِي حَصِينٍ عَنۡ أَبِي الضُّحَى عَنِ ابۡنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ آخِرَ قَوۡلِ إِبۡرَاهِيمَ حِينَ أُلۡقِيَ فِي النَّارِ حَسۡبِيَ اللَّهُ وَنِعۡمَ الۡوَكِيلُ

---

(۱) عمدة القاري (۱۸/۱۵۱)-
(۲) فتح الباري (۸/۲۲۸،۲۲۷)-
(۳) لامع الدراري (۸/۴۳،۴۱) وتعليقات الامع الدراري (۸/۴۳)-

يعنى د ﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾ كلمه كله د نبى ﷺ جد امجد حضرت ابراهيم علیہ السلام په هغه وخت كښې وئيلې وه كوم وخت كښې چې هغوى په اور كښې واچولې شو، فرشتې راغلې او وې وئيل مونږ ستاسو مدد او نصرت اوكړو؟ نو حضرت ابراهيم علیہ السلام ورته اوفرمائيل ﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾ نبى ﷺ دا كلمه په هغه وخت كښې اووئيله كله چه ابوسفيان او د هغه ملګرو د احد نه پس واپسئ كښې اووئيل چې اوس به مقابله په راروان كال كيږى او په راروان كال نبى ﷺ د بدر پورې لاړلو او دا كلمه ئې اوفرمائيله.

عالمانو وئيلې دى چه ﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾ د سختو او تكليفونو په وخت كښې وئيل ډير مجرب دى [1]

٧٢-باب: (وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَا آتَاهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهِ)

(سَيُطَوَّقُوْنَ) كَقَوْلِكَ طَوَّقْتُهُ بِطَوْقٍ.

[٤٢٨٩] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُنِيرٍ سَمِعَ أَبَا النَّضْرِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ - هُوَ ابْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِينَارٍ - عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ آتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ، مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ شُجَاعًا أَقْرَعَ، لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ - يَعْنِي بِشِدْقَيْهِ - يَقُولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ». ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ (وَلَا يَحْسِبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهِ) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ.

قوله: (سَيُطَوَّقُوْنَ): دغه خلقو ته به طوق واچولې شى وائى «طوقته بطوق» ما هغه ته طوق واچولو، ما د هغه په څټ كښې د طوق بار واچولو.

٧٣-باب: وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ أَشْرَكُوْا أَذًى كَثِيْرًا)

[٤٢٩٠] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ - رضى الله عنهما - أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - رَكِبَ عَلَى حِمَارٍ عَلَى قَطِيفَةٍ فَدَكِيَّةٍ، وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ وَرَاءَهُ، يَعُودُ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ فِي بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ قَبْلَ وَقْعَةِ بَدْرٍ - قَالَ - حَتَّى مَرَّ بِمَجْلِسٍ فِيهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ، وَذٰلِكَ قَبْلَ أَنْ يُسْلِمَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ فَإِذَا فِي الْمَجْلِسِ أَخْلَاطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ وَالْيَهُودِ وَالْمُسْلِمِينَ، وَفِي الْمَجْلِسِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَوَاحَةَ، فَلَمَّا غَشِيَتِ الْمَجْلِسَ عَجَاجَةُ الدَّابَّةِ خَمَّرَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ أَنْفَهُ بِرِدَائِهِ، ثُمَّ قَالَ لَا تُغَبِّرُوا عَلَيْنَا. فَسَلَّمَ رَسُولُ اللّٰهِ - صلى الله

[1] فتح البارى ٨/٢٩٠)- ارشاد السارى ١٠/١١٥)-

عليه وسلم - عَلَيْهِمْ ثُمَّ وَقَفَ فَنَزَلَ فَدَعَاهُمْ إِلَى اللّٰهِ، وَقَرَأَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنَ، فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ أَيُّهَا الْمَرْءُ، إِنَّهُ لَا أَحْسَنَ مِمَّا تَقُولُ، إِنْ كَانَ حَقًّا، فَلَا تُؤْذِينَا بِهِ فِي مَجْلِسِنَا، ارْجِعْ إِلَى رَحْلِكَ، فَمَنْ جَاءَكَ فَاقْصُصْ عَلَيْهِ. فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَوَاحَةَ بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ، فَاغْشَنَا بِهِ فِي مَجَالِسِنَا، فَإِنَّا نُحِبُّ ذٰلِكَ. فَاسْتَبَّ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ وَالْيَهُودُ حَتَّى كَادُوا يَتَثَاوَرُونَ، فَلَمْ يَزَلِ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يُخَفِّضُهُمْ حَتَّى سَكَنُوا، ثُمَّ رَكِبَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - دَابَّتَهُ فَسَارَ حَتَّى دَخَلَ عَلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «يَا سَعْدُ أَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالَ أَبُو حُبَابٍ». يُرِيدُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ أُبَيٍّ «قَالَ كَذَا وَكَذَا». قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، اعْفُ عَنْهُ وَاصْفَحْ عَنْهُ، فَوَالَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ، لَقَدْ جَاءَ اللّٰهُ بِالْحَقِّ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ، لَقَدِ اصْطَلَحَ أَهْلُ هٰذِهِ الْبُحَيْرَةِ عَلَى أَنْ يُتَوِّجُوهُ فَيُعَصِّبُونَهُ بِالْعِصَابَةِ، فَلَمَّا أَبَى اللّٰهُ ذٰلِكَ بِالْحَقِّ الَّذِي أَعْطَاكَ اللّٰهُ شَرِقَ بِذٰلِكَ، فَذٰلِكَ فَعَلَ بِهِ مَا رَأَيْتَ. فَعَفَا عَنْهُ رَسُولُ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - وَكَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - وَأَصْحَابُهُ يَعْفُونَ عَنِ الْمُشْرِكِينَ وَأَهْلِ الْكِتَابِ كَمَا أَمَرَهُمُ اللّٰهُ، وَيَصْبِرُونَ عَلَى الْأَذَى قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ (وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيرًا) الآيَةَ، وَقَالَ اللّٰهُ (وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ) إِلَى آخِرِ الآيَةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَتَأَوَّلُ الْعَفْوَ مَا أَمَرَهُ اللّٰهُ بِهِ، حَتَّى أَذِنَ اللّٰهُ فِيهِمْ، فَلَمَّا غَزَا رَسُولُ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - بَدْرًا، فَقَتَلَ اللّٰهُ بِهِ صَنَادِيدَ كُفَّارِ قُرَيْشٍ قَالَ ابْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ، وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، وَعَبَدَةِ الْأَوْثَانِ هٰذَا أَمْرٌ قَدْ تَوَجَّهَ. فَبَايِعُوا الرَّسُولَ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى الْإِسْلَامِ فَأَسْلَمُوا.

حضرت اسامه بن زید فرمائی چې رسول الله ﷺ په یو خر باندې د فدک نه جوړه شوې کپړه کیخودو نه پس سور شو. حضرت اسامة رضی الله عنه ئې روستو کینولو او بنو حارث بن خروج د حضرت سعد بن عباده د بیمار پرسۍ د پاره ئې تشریف یوړلو، دا د جنګ بدر نه وړاندې واقعه ده، په لاره کښې یو مجلس باندې تیر شو عبدالله بن ابی سلول، مسلمانان او مشرکان مختلف قسم خلق جمع وو په دې مجلس کښې حضرت عبدالله بن رواحه هم وو، د نبی ﷺ د سورلۍ دوړې په مجلس باندې والوتې، نو عبدالله بن ابی خپله پوزه په څادر باندې پټه کړه او وې وئیل دوړې مکوه: رسول الله سلام اوکړو او د سورلۍ نه راکوز شو او اهل مجلس ته ئې د اسلام دعوت ورکړو په دې باندې عبدالله بن ابی اووئیل ته څه زیاته ښه خبره نه کوې، اګر چه هغه حق وی خو په دې باندې مونږ ته تکلیف مه رسوه، ته کور کینه څوک چه تا ته هلته درشی نو هغه ته بیان کوه.

په دې باندې حضرت عبدالله بن رواحه اووئیل ولې نه یا رسول الله ﷺ تاسو به زمونږ په

مجلسونو کښې دا کلام خامخا اوروئ، په مونږ باندې دا خبرې ښې لګی دې نه پس مسلمانانو مشرکانو او یهودو یو بل ته بدرد وئیل شروع کړل.
رسول الله ﷺ تول چپ کړل او د حضرت سعد بن عباده رضی الله عنه بیمار پرسئ ته لاړو او د عبدالله بن ابی ګیله ئې ورته اوکړه، حضرت سعد رضی الله عنه اوفرمائیل چې هغه معاف کړه په اصل کښې ستاسو د راتلو نه وړاندې د مدینې خلقو د عبدالله بن ابی ته تاج په سرکولو او د ده په سر باندې د پټکی په تړلو ئې اتفاق کړې وو (چې دې به زمونږ سردار وی) خو چه کله الله تعالی تاسو راولیږلئ او الله تعالی چې تاسو ته کوم دین درکړې دې د هغې په ذریعه دې د سردارئی نه محروم شو نو دې مخالف شو او ددې وجې تاسو سره داسې قسم خبرې کوی نو نبی ﷺ هغه معاف کړو او نبی ﷺ او ددوی صحابو به مشرکانو او اهل کتابو ته معافی کوله او د هغوی په تکلیفونو باندې به ئې صبر کولو ځکه چې د الله تعالی دوی ته دا حکم هم وو، تردې چې الله تعالی دوی ته د جهاد حکم ورکړو ، د اجازت نه پس په غزوه بدر کښې د قریشو لوئې لوئې سرداران قتل کړې شو نو عبدالله بن ابی او د هغه ملګرو اووئیل چې دا اسلام دا معامله خو به اوس غالبه کیږی، ددې وجې دې خلقو بیعت اوکړو او په ظاهره مسلمانان شول، په دې روایت کښې څو الفاظ دی لږ هغې ته اوګورئی.

قوله: قَطِيفَةٍ فَدَكِيَّةٍ: (قطيفة) پیرې کپړې ته وائی او (فدكية) فدک طرف ته منسوب دې، یعنی د مقام فدک پیره کپړه، کمبل.

قوله: فَلَمَّا غَشِيَتِ الْمَجْلِسَ عَجَاجَةُ الدَّابَّةِ: (عجاجة) دوړې ته وائی یعنی کله چې په مجلس باندې د سورلئ نه پورته کیدونکې دوړه خوره شوه.

قوله: خَمَّرَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ أَنْفَهُ بِرِدَائِهِ: یعنی عبدالله بن ابی خپله پوزه په خپل څادر باندې پټه کړه. د خمر معنی ده (پټول)

قوله: لاتقول مما تقول عليك: په دې کښې (لا) نافیه ده، او د (لا) نافیه خبر محذوف دې

(لا احسن كائنت مما تقول)

بعضو وئیلې دی چې احسن خبر دې او مرفوع دې او (لا) ددې اسم محذوف دې یعنی (لا شئ احسن مما تقول) او د کشمیهنی په روایت کښې (احسن) د اسم تفضیل صیغه نشته بلکه د باب افعال نه د مضارع واحد متکلم صیغه ده (لا احسن) او په روایت کښې (لا احسن) دې په دې کښې (لا) نافیه نه دې بلکه (احسن) اسم تفضیل باندې لام تاکید دې او معنی ده (لاحسن من هذا ان تقعد في بيتك ولا تاتينا) یعنی ددې نه غوره دا ده چې په خپل کور کښې کینې او مونږ ته نه راځې (۱)

---

۱) عمدة القارى ۱۸/۱۵۶) وفتح البارى ۸/۲۳۲)-

قوله: لَقَدِ اصْطَلَحَ أَهْلُ هَذِهِ الْبُحَيْرَةِ عَلَى أَنْ يُتَوِّجُوهُ فَيُعَصِّبُونَهُ بِالْعِصَابَةِ: (بحيرة بفتح الباء وكسر الالحاء او بضم الباء و فتح الحاء المهملة) د مديني منورې نوم دې (۱) د (توج يتوج) معنى ده (تاج په سر كولو يعنى د مديني خلقو اتفاق كړې وو چه ده ته به تاج اچوى او دده په سر به د سردارئ پټكې تړى.

قوله: . فَبَايَعُوا الرَّسُولَ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى الإِسْلاَمِ فَأَسْلَمُوا: ددې نه ظاهرى اسلام مراد دې چه دې خلقو حالات اوكتل نو په ظاهرى ډول ئې اسلام قبول كړو.

۷۴- باب: (لاَ يَحْسِبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا)

[۴۲۹۱] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رضى الله عنه - أَنَّ رِجَالاً مِنَ الْمُنَافِقِينَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ إِذَا خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - إِلَى الْغَزْوِ تَخَلَّفُوا عَنْهُ، وَفَرِحُوا بِمَقْعَدِهِمْ خِلاَفَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَإِذَا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - اعْتَذَرُوا إِلَيْهِ وَحَلَفُوا، وَأَحَبُّوا أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا، فَنَزَلَتْ (لاَ يَحْسِبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ) الآيَةَ.

[۴۲۹۲] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ مَرْوَانَ قَالَ لِبَوَّابِهِ اذْهَبْ يَا رَافِعُ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقُلْ لَئِنْ كَانَ كُلُّ امْرِئٍ فَرِحَ بِمَا أُوتِيَ، وَأَحَبَّ أَنْ يُحْمَدَ بِمَا لَمْ يَفْعَلْ، مُعَذَّبًا، لَنُعَذَّبَنَّ أَجْمَعُونَ. فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَمَا لَكُمْ وَلِهَذِهِ إِنَّمَا دَعَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَهُودَ فَسَأَلَهُمْ عَنْ شَىْءٍ، فَكَتَمُوهُ إِيَّاهُ، وَأَخْبَرُوهُ بِغَيْرِهِ، فَأَرَوْهُ أَنْ قَدِ اسْتَحْمَدُوا إِلَيْهِ بِمَا أَخْبَرُوهُ عَنْهُ فِيمَا سَأَلَهُمْ، وَفَرِحُوا بِمَا أُوتُوا مِنْ كِتْمَانِهِمْ، ثُمَّ قَرَأَ ابْنُ عَبَّاسٍ (وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ) كَذَلِكَ حَتَّى قَوْلِهِ (يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا وَيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا). تَابَعَهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ.

حَدَّثَنَا ابْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا الْحَجَّاجُ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ مَرْوَانَ بِهَذَا.

امام بخارى ددې ايت په سبب نزول كښې دوه واقعات ذكر كړې دى،

اولنى واقعه د حضرت ابوسعيد خدرى رضى الله عنه په روايت كښې د ه چه منافقانو به د نبى عليه السلام سره

---

(۱) اهل هذا البحيرة فى رواية الحموى البحيرة) بالتصغير. وهذا اللفظ يطلق على القرية وعلى البلد والمراد به ههنا المدينة المنورة ونقل ياقوت: ان البحرة من اسماء المدينة المنورة (فتح البارى) (۲۳۲/۸) ومعجم البلدان ۳۴۶/۱)-

غزواتو کښې شرکت نه کولو، رسول اللهﷺ چه به کله د دې غزاواتو نه تشریف راوړلو نو دا خلق به ئې د نبیﷺ حاضر.شو او عذرونه به ئې پیش کول او قسمونه به ئې خوړل چه مونږ معذور وو او زړه مو غوښتل چه تاسو سره شرکت او کړو خو د عذر په وجه مو شرکت اونکړې شو نو یو طرف ته خو په دې خوشحالیدل چې جهاد ته لاړ نشو او بل طرف ته د خپل تعریف توقع کوله، په دې خبره چې دوی صرف د عذر په وجه پاتې شوې وو حالانکه دا چه هغوی به معذور نه وو په دې باندې دا ایت نازل شو.

دویمه واقعه دعلقمه بن ابی وقاص په روایت کښې ده مروان بن حکم حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ته سړې اولیږلو او تپوس ئې ترې او کړو چه په ایت کریمه کښې دی ﴿وَيُحِبُّونَ أَن يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا﴾ یعنی د عمل نه بغیر دوی غواړی چې ددوی تعریف اوکړې شی ، دا به د عذاب سبب جوړیږی نو هر سړې چې دا غواړی چې کوم عمل ده نه وی کړې په هغې باندې دې هم دده تعریف اوکړې شی نو عذاب به ورته ملاویږی، نو بیا خو به مونږ ټول معذب کیږو(ځکه چې زمونږ د ټولو هم دا حالت دې) حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل ستاسو ددې ایت سره څه تعلق دې؟ بیا ئې ددې ایت سبب نزول بیانولو سره حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل چې نبیﷺ یهودیان راوبلل او د هغوی نه ئې څه تپوس اوکړو یهودیانو ورته اصل خبره بیان نه کړه، بله خبره ئې ورته بیان کړه او ورسره ددوی دا خواهش پیدا شو چې د رسول اللهﷺ د سوال په جواب کښې چې دوی کومه خبره بیان کړه په دې باندې ددوی تعریف اوشی، نو یو طرف ته د اصل او حق خبرې پټولو باندې خوشحاله وو او بل طرف ته ئې غوښتل چې ددوی تعریف دې هم اوشی په دې باندې دا ذکر شوې ایت نازل شو.﴿يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوا وَّيُحِبُّونَ أَن يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا﴾

امام بخاری دا دواړه واقعات ددې ایت په سبب نزول کښې بیان کړې دی او دا خبره تاسو پیژنئ چه په سبب نزول کښې مختلف واقعات راتلې شی.

۷۵-باب: قوله: ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾

[۴۲۹۳] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي شَرِيكُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضي الله عنهما - قَالَ بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ، فَتَحَدَّثَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَعَ أَهْلِهِ سَاعَةً ثُمَّ رَقَدَ، فَلَمَّا كَانَ ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ قَعَدَ فَنَظَرَ إِلَى السَّمَاءِ فَقَالَ ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لأُولِي الأَلْبَابِ﴾، ثُمَّ قَامَ فَتَوَضَّأَ وَاسْتَنَّ، فَصَلَّى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، ثُمَّ أَذَّنَ بِلاَلٌ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ.

امام بخاری رحمه الله وړاندې تر سورة نساء پورې د مختلفو بابونو لاندې هم هغه یو حدیث د لیلة المبیت والا ذکر کړې دې د مبیت واقعه د فتح مکې نه روستو ده کله چه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د خپلې ترور ام المؤمنین حضرت میمونه رضی الله عنها کره لاړلو او هلته ئې د نبیﷺ د شپې د معمولات اوکتل نو په هغې کښې یو معمول دا بیانوی چې نبیﷺ د راویښیدو نه پس

آسمان طرف ته نظر پورته کړو او د سورة آل عمران ددې ايت (ان فى خلق السموات والارض) نه واخله تر د سورة آخره پورې ئې يولس آياتونه اولوستلى، دلته په ايت کښې د لسو آياتونو ذکر راغلې دې او دلته په روايت کښې کسر حذف کړې شوې دې
ددې نه معلومه شوه كه يو كس د شپې رابيدار شى نو د سنتو په اتباع کښې دا اياتونه لوستل پكار دى.

٧٦- باب: قوله: (الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ.)

[٤٢٩٤] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - قَالَ بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ فَقُلْتُ لَأَنْظُرَنَّ إِلَى صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَطُرِحَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وِسَادَةٌ، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي طُولِهَا، فَجَعَلَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ، ثُمَّ قَرَأَ الآيَاتِ الْعَشْرَ الأَوَاخِرَ مِنْ آلِ عِمْرَانَ حَتَّى خَتَمَ، ثُمَّ أَتَى شَنًّا مُعَلَّقًا، فَأَخَذَهُ فَتَوَضَّأَ، ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي، فَقُمْتُ فَصَنَعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ ثُمَّ جِئْتُ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ، فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى رَأْسِي، ثُمَّ أَخَذَ بِأُذُنِي، فَجَعَلَ يَفْتِلُهَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَوْتَرَ.

٧٧- باب: رَبَّنَا إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ

[٤٢٩٥] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مَعْنُ بْنُ عِيسَى حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ بَاتَ عِنْدَ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَهْيَ خَالَتُهُ قَالَ فَاضْطَجَعْتُ فِي عَرْضِ الْوِسَادَةِ، وَاضْطَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَأَهْلُهُ فِي طُولِهَا، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى انْتَصَفَ اللَّيْلُ، أَوْ قَبْلَهُ بِقَلِيلٍ، أَوْ بَعْدَهُ بِقَلِيلٍ، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَجَعَلَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ بِيَدَيْهِ، ثُمَّ قَرَأَ الْعَشْرَ الآيَاتِ الْخَوَاتِمَ مِنْ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ، ثُمَّ قَامَ إِلَى شَنٍّ مُعَلَّقَةٍ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا، فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي، فَصَنَعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ، ثُمَّ ذَهَبْتُ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ، فَوَضَعَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رَأْسِي، وَأَخَذَ بِأُذُنِي بِيَدِهِ الْيُمْنَى يَفْتِلُهَا، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَوْتَرَ، ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى جَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ، فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ.

٧٨- باب: قوله: (رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِي لِلإِيمَانِ)

[۴۲۹۶] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكٍ عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - أَخْبَرَهُ أَنَّهُ بَاتَ عِنْدَ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَهِيَ خَالَتُهُ قَالَ فَاضْطَجَعْتُ فِي عَرْضِ الْوِسَادَةِ، وَاضْطَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَأَهْلُهُ فِي طُولِهَا، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى إِذَا انْتَصَفَ اللَّيْلُ، أَوْ قَبْلَهُ بِقَلِيلٍ، أَوْ بَعْدَهُ بِقَلِيلٍ، اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَجَلَسَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ بِيَدِهِ، ثُمَّ قَرَأَ الْعَشْرَ الآيَاتِ الْخَوَاتِمَ مِنْ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ، ثُمَّ قَامَ إِلَى شَنٍّ مُعَلَّقَةٍ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا، فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقُمْتُ فَصَنَعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ، ثُمَّ ذَهَبْتُ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ، فَوَضَعَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رَأْسِي، وَأَخَذَ بِأُذُنِي الْيُمْنَى يَفْتِلُهَا، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَوْتَرَ ثُمَّ، اضْطَجَعَ حَتَّى جَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ، فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ.

٧٩- باب: سورة النِّسَاءِ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَسْتَنْكِفُ يَسْتَكْبِرُ. قِوَامًا قِوَامُكُمْ مِنْ مَعَايِشِكُمْ. (لَهُنَّ سَبِيلاً) يَعْنِي الرَّجْمَ لِلثَّيِّبِ وَالْجَلْدَ لِلْبِكْرِ، وَقَالَ غَيْرُهُ (مَثْنَى وَثُلاَثَ) يَعْنِي اثْنَتَيْنِ وَثَلاَثًا وَأَرْبَعًا، وَلاَ تُجَاوِزُ الْعَرَبُ رُبَاعَ.

سورة النِّسَاءِ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَسْتَنْكِفُ يَسْتَكْبِرُ.

(لَنْ يَسْتَنْكِفَ الْمَسِيحُ أَنْ يَكُونَ عَبْدًا لِلَّهِ وَلَا الْمَلَائِكَةُ الْمُقَرَّبُونَ ۚ وَمَنْ يَسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعًا ۝)

حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہما د (يستنكف) تفسير په (يستكبر) سره كړې دې په دې صورت كښې به په آيت كريمه كښې (يستكبر) د (يستنكف) د پاره عطف تفسير وى ،د استنكاف اصل معنى (پيغور ګڼړل او سپک ګڼړلو باندې ، وريزې رابنكلو د پاره راځي.

قوله: قِوَامًا قِوَامُكُمْ مِنْ مَعَايِشِكُمْ: (وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا)

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہما دوه قراءتونه دلته دى په يو قراءت كښې (قواما) دې ، دا ابن ابى حاتم نقل كړې دې[1] امام بخارى دلته هم دا روايت نقل كړې دې او بل قراءت (قياما) دې، دا

[1]) فتح البارى ۸/۲۳۷)-

امام طبرى رحمه الله نقل كړې دي(١) د (قواما) تفسير امام بخارى رحمه الله كړې دي (قوامكم من معايشكم) يعنى هغه څيزونه چې د هغې په ذريعه د معيشت او ژوند قيام كيږى.

قوله: لهن سبيلا) يعني الرجم للثيب والجلد للبكر: (وَالَّتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ فَإِن شَهِدُوا فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّىٰ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا) په ابتداء د اسلام كښې د زناكارو ښځو د پاره د سزا په ډول د حبس فى البيوت حكم وو خو دا حكم بيا منسوخ شو او الله تعالى بله لاره بيان كړه چې ثيبه به رجم كولې شى او ثيبه به رجم كولې شى.

د مثنى و ثلاث و رباع تفسير:

قوله: مثنى وثلاث) يعني اثنتين وثلاثا وأربعا، ولا تجاوز العرب رباع: د (غيره) ضمير حضرت ابن عباس رضى الله عنه طرف ته راجع كيږى اودا تفسير ابوعبيده په، مجاز القران كښې كړې دي (٢) اشكال كيږى چه د (مَثْنَىٰ وَثُلَٰثَ) په معنى كښې تكرار وو ،هغوى په تفسير كښې ددې تكرار ذكر نه دې كړې،ددې په جواب كښې خو يا دا وئيلې شى چه د شهرت په وجه هغوى د تكرار ذكر اونكړو اودا هم ممكن ده چې ددوى په نيز په دې معنى كښې تكرار نه وى اودريمه خبره داهم كيدې شى چې دلته تكرار مقصودنه دې څكه ئې دلته ددې ذكر اونكړو(٣) ددې نه پس امام بخارى فرمائيلې دى دا عدد د (رباع) پورې استعمالولې شى ددې نه وړاندې (حماس) (حمس) نه استعمالوى، خو ددې باره كښې د نحاتو اختلاف دې كوفيان وائى چې په دې د قياس دخل دې او د (رباع) نه وړاندې تر د (عشار، معشر) پورې استعماليدې شى، او بصريان وائى چې په دې كښې د قياس دخل نشته، د اهل عرب نه د (رباع) پورې منقول دې ددې وجې صرف ددې ځائې پورې به استعمالولې شى ددې نه وړاندې نه،(٤) راجح قول د بصريانو دې او امام صاحب هم دا اختيار كړې دې،

په دې ټولو كښې دوه لغته دى (فعال) او (مفعل) وائى چې د (احاد، موحد، ثناء، مثنى، ثلاث مثلث) ابواسحاق ثعلبى يو دريم روايت هم نقل كړې دې (فعل احدثنى ثلاث). د (عمر) او (زفر) (٥) پشان تركيب كښې دا غير منصرف دې ، عدل او وصف دوه سببونه په دې كښې موجود دى.

د ايت كريمه نه يو غلط استدلال او د هغې جواب: د قران كريم ددې ايت نه استدلال كوى، بعضې اهل ظواهرو او خوارجو وئيلې دى چې ددې ايت نه د نهه ښځو سره د نكاح كولو جواز

---

(١) حواله بالا_

(٢) فتح البارى ٢٣٧/٨) وعمدة القارى ١٦٢/١٨)-

(٣) عمدة القارى ١٦٢/١٨)-

(٤) فتح البارى ٢٣٨/٨)وعندة القارى ١٦٣/١٨)-

(٥) الجامع لاحكام القران ٥٥/١٥)-

ثابتيږي خکه چې دې کېښې (واو) د جمع د پاره دې نو دوه او درې پنځه او بيا پنځه او څلور ، نو نهه شوې، د خپلې دې بې وزنه خبرې تائيد هغوی ددې نه هم کړې دې چه رسول الله ﷺ هم نهه بيبيانې کړې وې.

بعضې اهل ظواهر ددې نه هم وړاندې تلې دی او وائی چې په آيت کريمه کښې د اتلس ښځو سره د نکاح جواز معلوميږي خکه چې د مثنى ،ثلاث، او رباع په معنى کښې تکرار دې نو دوه او دوه څلور ، ،درې او درې شپږ، ،څلور او څلور اته، ،دغه شان څلور ، شپږ او اته اتلس شوې ،([1])

خو ددې خلقو دا استدلال په جهالت باندې مبنى دې د سنت او اجماع امت نه خلاف دې په صحابه ،تابعينو او تبع تابعينو کښې د چا نه هم د څلورو نه زيات ښځو سره نکاح ثابته نه ده، امام مالک په مؤطا کښې ، امام نسائي او دارقطني په خپل خپل سنن کښې روايت نقل کړې دې چې غيلان بن اميه ثقفي چه اسلام قبول کړو نو د هغه سره لس ښځې وې نبى ﷺ هغوی ته اوفرمائيل (اخترمنهن اربعا وفارق سائرهن)([2])

باقي پاتې شوه د نبى ﷺ نهه نکاحونه ، نو دا د نبى ﷺ په خصوصياتو کښې وه،([3])

بيا بله خبره دا ده چه قران کريم د نهه يا اتلس ښځو د نکاح اجازت ورکولو نو د (تسع) يا د (ثمان عشرة) لفظ به ئې استعمال کړې وو خکه چه په دې کښې اختصار دې او د اسلوب قران سره بيخى موافق وو خو قران دا لفظ استعمال کړې نه دې ددې نه ښکاره معلوميږي چې د قران مقصود هغه نه دې کوم چې دا جاهلان گنړي.

دې حضراتو (واو) د جمعې په معنى کښې اخستې دې خو (واو) د جمعې د پاره نه دې علامه قرطبى رحمه الله په خپل تفسير کښې ددې لاندې ليکلې دی چه دلته (واو) په ځائې دبدل کښې استعمال شوې دې اودآيت مطلب دې (انكحوا ثلاثا بدلا من مثنى ورباع بدلا من ثلاث) يعنى ددواو په ځائې ددريوسره نکاح کولې شئ ددريو په ځائې دڅلوروسره نکاح کولې شې.

اوحضرت زين العابدين رحمه الله فرمائيلې دی چې دلته (واو)داو په معنى کښې دې يعنى ياد دواو سره نکاح کوئ ياڅلوروسره.

بعضې اهل ظاهرواوخوارجو مثنى ،ثلاث اورباع معنى تکراراخستې اوداتلسوښځوپه جواز باندې کوم استدلال کړې دې هغه هم صحيح نه دې يوخوپه دې وجه لکه چې اووئيلې شوچې واودجمع دپاره نه دې ،دويم ددې دپاره چې داخطاب دتوزيع اوتقسيم په توگه دې اوددې خطاب مخاطبت هم ډيردی اوپه داسې صورت کښې قاعده داوی چې دتوزيع دخطاب نه پس کوم شميرراځي هغه هم موزعا مراد وی. قاضى ثناالله پانى پتى رحمه الله په تفسيرمظهرى کښې دا قاعده دمثال په توگه داسې واضح کړې دې مثلا چې يوسړې يوې ډلې ته اووائى (خذوا من

---

[1]) الجامع لاحكام القران (١٧/٥)-

[2]) تفسير ابن كثير (٤٥٠/٥) والجامع لاحكام القران (١٧/٥)-

[3]) الجامع لاحكام القران (١٧/٥) وتفسير ابن كثير (٤٥١/١)-

هٰذه الدارهم مثنٰی) نوددې مطلب به داوی چې هرسړي دې دوه دوه درهمه اوچت کړي نوددې به دا مطلب هیڅ کله نه وی چې هرسړي دې څلوردرهمه اوچت کړي (۱)مولانا عبدالحی لکهنوی رحمه الله د شرح وقایه په شرح اوحاشیه کښې په دې قاعده باندې ډیره تفصیلی خبره کړې ده.(۲)

باب: وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتٰمٰى

[۴۲۹۷] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - أَنَّ رَجُلاً كَانَتْ لَهُ يَتِيمَةٌ فَنَكَحَهَا، وَكَانَ لَهَا عَذْقٌ، وَكَانَ يُمْسِكُهَا عَلَيْهِ، وَلَمْ يَكُنْ لَهَا مِنْ نَفْسِهِ شَيْءٌ فَنَزَلَتْ فِيهِ (وَإِنْ خِفْتُمْ أَنْ لاَ تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى) أَحْسِبُهُ قَالَ كَانَتْ شَرِيكَتَهُ فِي ذَلِكَ الْعَذْقِ وَفِي مَالِهِ.

[۴۲۹۸] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ عَنْ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى (وَإِنْ خِفْتُمْ أَنْ لاَ تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى). فَقَالَتْ يَا ابْنَ أُخْتِي، هَذِهِ الْيَتِيمَةُ تَكُونُ فِي حَجْرِ وَلِيِّهَا، تَشْرَكُهُ فِي مَالِهِ وَيُعْجِبُهُ مَالُهَا وَجَمَالُهَا، فَيُرِيدُ وَلِيُّهَا أَنْ يَتَزَوَّجَهَا، بِغَيْرِ أَنْ يُقْسِطَ فِي صَدَاقِهَا، فَيُعْطِيَهَا مِثْلَ مَا يُعْطِيهَا غَيْرُهُ، فَنُهُوا عَنْ أَنْ يَنْكِحُوهُنَّ، إِلاَّ أَنْ يُقْسِطُوا لَهُنَّ، وَيَبْلُغُوا لَهُنَّ أَعْلَى سُنَّتِهِنَّ فِي الصَّدَاقِ، فَأُمِرُوا أَنْ يَنْكِحُوا مَا طَابَ لَهُمْ مِنَ النِّسَاءِ سِوَاهُنَّ. قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ وَإِنَّ النَّاسَ اسْتَفْتَوْا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بَعْدَ هَذِهِ الآيَةِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ (وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ) قَالَتْ عَائِشَةُ وَقَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى فِي آيَةٍ أُخْرَى (وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ) رَغْبَةُ أَحَدِكُمْ عَنْ يَتِيمَتِهِ حِينَ تَكُونُ قَلِيلَةَ الْمَالِ وَالْجَمَالِ قَالَتْ فَنُهُوا أَنْ يَنْكِحُوا عَنْ مَنْ رَغِبُوا فِي مَالِهِ وَجَمَالِهِ فِي يَتَامَى النِّسَاءِ، إِلاَّ بِالْقِسْطِ، مِنْ أَجْلِ رَغْبَتِهِمْ عَنْهُنَّ إِذَا كُنَّ قَلِيلاَتِ الْمَالِ وَالْجَمَالِ. [ر: ۲۳۶۲]

بعضې رافضیان وائی چې (وَإِنْ خِفْتُمْ) شرط دې او (فَانْكِحُوا)جزاء ده اودشرط اوجزاء په مینځ کښې څه ربط نشته .دقرآن دریمه حصه ددې شرط اوجزاء په مینځ کښې غائبه کړې شوې ده،ددې وجې په عبارت کښې ربط نشته حالانکه چې داضروری دې .

دلته دباب په دوارورواياتو کښې ددې آیت سبب نزول بیان شوې دې او په دې سره په شرط اوجزاء کښې ربط اودآیت کریمه مطلب په پوهه کښې راځی .

اولنې روایت دحضرت عائشې رضی الله عنها دې فرمائی چې دیوکس سره یتیمه جینۍ وه ،ددغه جینۍ

---

(۱) اوګورئی تفسیر مظهری ج۲ص۷)

(۲) السعاية فی کشف مافی شرح الوقاية (ج۱ص۷۱وغاية

يو باغ وو.دغه كس چې د دغه جينۍ ولي وو دغه جينۍ سره صرف د دغه باغ په وجه واده اوكړو حال دا چې په زړه كښې ئې دهغې سره څه محبت اوتعلق نه وونو د دې په باره كښې دا آيت نازل شو (وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا) د آيت مطلب دا دې چې په داسې صورت كښې چې ستاسو د زړه نه تعلق نه وى اود يتيمې جينۍ سره محبت نه وى او تاسو ته ويره وى چې دهغوى به باره كښې به تاسو انصاف اونكړئ نو د نورو حلالو ښځو سره نكاح كوئ كومې چې ستاسو خوښې وى.

قوله:احسبه قال كانت شريكته في ذلك العذق وفي ماله: هشام وائى چې زما خيال دې چې حضرت عروه رضي الله عنه وئيلى دى چې په باغ كښې اود دغه كس (ولى) سره په مال كښې د اىتيمه جينۍ شريكه وه .د (احسبه) قائل د ابن جريج شاګرد هشام بن يوسف دې اود (قال) ضمير حضرت عروه رضي الله عنه طرف ته راجع دې علامه عينى رحمه الله فرمائيلى دى چې د (احسبه) قائل هشام بن عروه هم كيدې شى(١). اود قال ضمير د غه شان حضرت عروه رضي الله عنه طرف ته راجع دې.

(عَذق): دعين په فتحې سره) دكهجورې ونه جمع ئې (اعذق) راځې او(عِذق) دعين په كسرې سره دانګورو غونچې اود كهجورو غوشې ته وائى (٢)

دويم روايت هم دحضرت عائشې رضي الله عنها نه مروى دې حضرت عروه د دوى نه د قرآن پاك د دې ذكرشوى آيت په باره كښې نازل شوې دې كومه چې دځپل ولي په پرورش كښې وى او هغه ورسره په مال كښې نازل شوې دې كومه چې دځپل ولي په پرورش كښې وى او هغه ورسره په مال كښې شريك وى .دولى د دغه ښځې مال اوجمال خوښ وى خوولى په مهر كښې د انصاف نه بغير دهغې سره نكاح كول غواړى نو داسې كسان د دې يتيمانو جينكو سره د نكاح كولو نه منع كړې شول. البته كه انصاف كولې شى اوپوره مهرور كولې شي نو بيا اجازت دې.

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چې د دې آيت د نازليدونه پس خلقو د رسول الله ﷺ نه تپوسونه شروع كړل نو الله تعالى بل آيت نازل كړل [وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ ۖ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ فِي يَتَامَى النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْوِلْدَانِ وَأَنْ تَقُومُوا لِلْيَتَامَىٰ بِالْقِسْطِ ۚ] (النساء ۱۲۷)

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چې په بل آيت كښې (وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ) مراد دا دې چې كله د يتيمې جينۍ سره مال اوجمال كم وى نو په داسې صورت كښې تاسو دهغوى سره د نكاح كولو نه اعراض كوئ اوكه دغه جينكۍ د زيات مال اوزيات جمال خاوندانې وى نو دهغوى سره نكاح په دې صورت كښې كولې شئ چې تاسو ورسره انصاف كولې شئ .دا حكم د دې دپاره دې چې د مال اوجمال د نشتوالى په صورت كښې خلق د دوى سره نكاح كولو نه اعراض كوى.

په دې دويم روايت كښې دى (قَالَتْ عَائِشَةُ وَقَوْلُ اللَّهِ فِي الْآيَةِ الْأُخْرَىٰ وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ) آيت

---

(١) عمدة القارى (ج١٨ص١٦٣) _

(٢) عمدة القارى (ج١٨ص١٦٣)_

يعنى جمله هم په ﴿وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ﴾ آيت كښې دې په بل آيت كښې نه دې نوبيائې دې ته (فى اية اخرى) ولې اووئيل ؟

ددې جواب دادې چې ﴿وَتَرْغَبُونَ﴾ ته ئې د (فى آية اخرى) په اعتبارسره بل آيت كښې نه دې وئيلې بلكه د ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا﴾ په اعتبارسره ورته وئيلې شوى دى.

دامام بخارى په روايت كښې سقوط شوې دې .ددې وجې دااشكال كيږى چې امام مسلم دارِوايت نقل كړې دې په هغې باندې دااشكال نه راځې دهغې الفاظ دادى، (قالت عائشة: والذى ذكرالله: انه يتلى عليكم فى الكتاب ....الاية الاولى التى قال الله فيها:﴿وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَىٰ فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ﴾ قالت: وقول الله عزوجل فى الاية الاخرة، ﴿وَتَرْغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ﴾)[1]

په ''**فانكحوا ما طاب لكم من النساء**،، كې د (ما) **د استعمال توجيهات**: په ﴿فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ﴾ كښې (ما) استعمال شوې دې داعام طوردغيرذوى العقول دپاره راځى اوښځې ذوى العقول دى .ددې مختلف جوابونه وركړې شوى دى .

① علامه قرطبى رحمه الله فرمائى چې (ما) او(من) دواړه ديوبل په معنى كښې استعمال شوى دى په ﴿وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنَاهَا﴾ كښې (ما) د(من) په معنى كښې دې .يوبل ځائې دې ﴿فَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ بَطْنِهِ﴾ په دې آيت كښې(من)د(ما) په معنى كښې استعمال شوې دې[2]

② بعضې حضراتووئيلى دى چې دعقل دنقصان په وجه ئې ښځوته دغيرذوى العقول درجه وركړې دد اود(ما) نې استعمال كړې ده.[3]

③يوجواب داهم وركړې شوې دې چې د(ما) نه دلته عقدنكاح مراد ده.(اى فانكحوانكاحا طيبا)[4] اولنې جواب راجح معلوميږى .

٨١- باب: ﴿وَمَن كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۖ وَمَن كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ ۚ فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ حَسِيبًا﴾

وبدارمبادرة اعتدنا[س ١٨] اعددنا افعلنا من العتاد

[٤٢٩٩] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ-

---

[1]) صحيح مسلم (ج٢ ٤٢٠) كتاب التفسير) .

[2]) الجامع لاحكام القرآن للقرطبى (ج١٢ ٥) ومعالم السنن (ج١ص٣٩١)_

[3]) تفسيرالكبير(ج٩ص ١٧٢)_

[4]) الجامع لاحكام القرآن(ج ٥ص١٣)

رضي الله عنها - فِي قَوْلِهِ تَعَالَى (وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ) أَنَّهَا نَزَلَتْ فِي مَالِ الْيَتِيمِ إِذَا كَانَ فَقِيرًا، أَنَّهُ يَأْكُلُ مِنْهُ مَكَانَ قِيَامِهِ عَلَيْهِ، بِمَعْرُوفٍ. [ر: ٢٠٩٨]

قوله: وَبِدَارًا: مبادرة : په آیت کښې دی (وَلَا تَأْكُلُوهَآ إِسْرَافًا وَبِدَارًا) یعنی ددې یتیمانو په مالونو کښې مه تاسو اسراف کوئ اومه ئې په دې ویرې زرزر خورئ چې دوی به لوئ شی نو بیا به دوی ته حواله کول وی (بدار) د باب مفاعله مصدر دې.

قوله: اعتدنا: اعددنا افعلنا من العتاد: په آیت کښې دی (أُولَٰئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا) فرمائی چې (اعتدنا) او (اعتدنا) د دواړو یوه معنی ده (اعتدنا) د عتید نه ماخوذ دې چې معنی ئې ده (الشئ المعد) هغه څیز کوم چې تیار شوې وی او (اعودنا) د باب افعال نه دې او ددې ماده (عتاد) ده.

د یتیم دمال حکم : دیتیم ولی که مالداروی نو دهٔ ته دیتیم دمال نه دڅه خوړلو اجازت نشته او که دیتیم ولی فقیروی نو هغه اخستې شی که نه ؟ په دې کښې مختلف اقوال دی.

① دجمهورو قول دادې که ولی دیتیم محتاج اوفقیروی نو هغه دضرورت په اندازه دیتیم د مال نه اخستې شی دحضرت حسن بصری، عطاء ا بن ابی رباح اومکحول رحمهم الله دامذهب دې [١] داحنافو نه مختلف اقوال منقول دی . ددوی په نیزهم یو قول دادې [٢]

ددې حضراتو دلیل خودا ایت دې (وَمَن كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ) یعنی که ولی دیتیم محتاج اوفقیروی نو هغه دیتیم دمال نه دضرورت مطابق اخستې شی.

دویم دعمرو بن شعیب په طریق سره امام ابوداود، امام نسائی اوابن ماجه روایت نقل کړې دې چې یوسړې دنبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضرشواووې وئیل زهٔ فقیریم دیتیم مال ماسره دې .زهٔ ددې نه خوراك کولې شم ؟ نونبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل (کل مال یتیمك غیرمسرف ولا مبادرولامتاثل) [٣]

② دویم قول دا دې چې ولی دیتیم دمال نه په اندزاه دضرورت دقرض په ډول اخستې شی خودمالداریدونه پس به هغه مال واپس کوی .داقول دحضرت عمر رضی الله عنه ابن عباس رضی الله عنهما ابن جبیر رضی الله عنه اوشعبی رضی الله عنه نه منقول دې [٤] اوعلامه طحاوی رحمه الله دامام ابوحنیفه هم دامسلك نقل کړې دې [٥]

---

[١] احکام القران للجصاص (ج ٤ص٢٦٤) باب اکل ولی الیتیم من ماله) _

[٢] اوګورئ تفسیرمظهری (ج ٤ص١٧)

[٣] تفسیرمظهری (ج: ٤ ص:١٧) وقال ابن الاثیر فی النهایة :ج١ص٢٣) غیرمتاثل :غیرجامع یقال مال مؤثل ای مجموع .ذواصل واثلة الشئ :اصله)_

[٤] احکام القران للجصاص (ج٢ص ٦٤) _

[٥] احکام القران للجصاص (ج٢ص ٦٤) _

③ دریم قول دا دې چې مطلقاولی دیتیم دمال نه نشی اخستې .نه دقرض په ډول اونه بغیر دقرض،ابوبکرجصاص په احکام القران کښې داحنافوهم دامذهب نقل کړې دې[1]علامه ظفراحمدعثمانی په احکام القران ج۲ص ۱۲۰ کښې هم داداحنافومسلك ګرځولې دې.

په دې صورت کښې سوال کیږی چې بیاد(وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ) څه مطلب شو نوپه دې کښې دوه اقوال دی.

مجاهدفرمائی چې داایت منسوخ شوې دې ددې دپاره ناسخ دسورة نساء دویم ایت دې(يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ)

دویم قول دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما دې اوابوبکرجصاص په احکام القران کښې هم دا تفسیر اختیار کړې دې .دوی فرمائی چې(وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ) کښې دیتیم دمال خوړلو اجازت نه دې ورکړې شوې بلکه دخپل مال ټیك اوپه معتدله طریقه داستعمالولوتعلیم ورکړې شوې دې دایت کریمه مطلب دادې که دیتیم ولی فقیروی نوولی دې خپل مال په ښه طریقه سره په استعمال کښې رواولی چې دیتیم مال ته دده حاجت پاتې نشی[2]

باب: وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُوا الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ

[۴۳۰۰] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حُمَيْدٍ أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللهِ الْأَشْجَعِيُّ عَنْ سُفْيَانَ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- (وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُو الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينُ) قَالَ هِيَ مُحْكَمَةٌ وَلَيْسَتْ بِمَنْسُوخَةٍ. تَابَعَهُ سَعِيدٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ.

دتقسیم ترکات په وخت کښې چې رشته داران اومسکینان راشی نودوی ته دڅه ورکول حکم ورکړې شوې دې په دې کښې اختلاف دې چې داایت محکم دې کنه چې دترکاتوتقیسم وی نواصلي دحصوخاوندان خوهم هغه دی کوم چې شرعی حیثیت سره وارثان جوړیږی خوکه هلته څه نور رشته داران اویتیمان موجودوی نوهغوی ته هم څه حصه ورکول پکاردی۔

سعیدبن المسیب .قاسم بن محمد .عکرمه اوائمه اربعه فرمائی چې داآیت دمیراث په ایت باندې منسوخ شوې دې[3]دایت حکم که په ندب یاپه استحباب باندې محمول کړې شی نوپه دې کښې چې کوم بالغ دی هغوی به دخپلوحصونه اوکه ټول بالغان وی نوټول به په خپله خوشۍ سره دترکې نه څه ورکړی نودمنسوخ منلوضرورت به نه پیدا کیږی.

۸۳- باب: قوله: يُوصِيكُمُ اللهُ فِي أَوْلَادِكُمْ

[۴۳۰۱] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ

[1] احکام القران للجصاص (ج۲ص۲۵)_
[2] احکام القران للجصاص (ج۵ص۴۲)_
[3] فتح الباری (ج:۸صک۲۴۲)_

مُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرٍ-رضي الله عنه-قَالَ عَادَنِي النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- وَأَبُو بَكْرٍ فِي بَنِي سَلِمَةَ مَاشِيَيْنِ فَوَجَدَنِي النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- لَا أَعْقِلُ، فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ مِنْهُ، ثُمَّ رَشَّ عَلَيَّ، فَأَفَقْتُ فَقُلْتُ مَا تَأْمُرُنِي أَنْ أَصْنَعَ فِي مَالِي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَنَزَلَتْ (يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ).

د ايت د نزول متعلق د رواياتو تعارض او دهغې حل: داروايت امام مسلم رحمه الله هم نقل کړې دې [1] په دې کښې دی چې د (يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ) نزول د حضرت جابر رضي الله عنه په قصه کښې شوې دې حافظ شرف الدين دمياطي رحمه الله فرمائيلي دی چې داوهم دې خکه چې د شعبه اوسفيان ثوري په روايت کښې دی چې دحضرت جابر رضي الله عنه په قصه کښې آيت (يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ) نازل شوې دې دميراث ايت دحضرت جابر رضي الله عنه په قصه کښې نازل شوې دې. کله چه حضرت سعد بن ربيع په جنګ احد کښې شهيد شونو دهغوی بی بی دنبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضره شوه اوعرض ئې اوکړو يارسول الله صلی الله علیه وسلم دسعد بن ربيع روغواړئ چې په ټول مال باندې قبضه اوکړی. که هغه په ټول مال باندې قبضه اوکړه نو ددې لونړوودونه به دمال نه بغير ګران شی. په دې باندې آيت (يُوصِيكُمُ اللَّهُ) نازل شو امام ابوداؤد اوامام ترمذي رحمه الله داروايت نقل کړې دې [2] ددې وجې حافظ دمياطيي دميراث دايت سره دحضرت جابر رضي الله عنه قصه بيانول وهم ګرځولې دې.

خو حافظ ابن حجر رحمه الله دحافظ دمياطي دې روايت ته وهم وئيل غلط ګرځولی دی دوی فرمائی چې ابن جريج په دې روايت کښې منفرد نه دې بلکه ترمذی اوحاکم دعمرو بن ابی قيس نه ددې متابعت نقل کړې دې او اسماعيلي دعبد بن حميد نه اوترمذی دسفيان بن عينه نه هم ددې په مفهوم روايت نقل کړې دې [3] وړاندې پخپله امام بخاري په کتاب الفرائض کښې په دې آيت باندې باب قائم کړې دې اودسفيان بن عينه په طريق سره ئې روايت نقل کړې دې چې دميراث آيت دحضرت جابر په قصه کښې نازل شوې وو. [4]

بهرحال دواړو طرفو ته روايت شته دامام بخاري رحمه الله په تائيد کښې هم روايت شته اودحافظ د مياطيي په تائيد کښې هم روايت شته په رواياتو کښې تطبيق داسې کيدې شی چې دحضرت جابر رضي الله عنه په قصه کښې دميراث ايت نازليدو مطلب دادې چې ددې آيت په اخرې کښې (وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً) راغلی دی. ددې حصې تعلق دحضرت سعد بن الربيع دجينکو باره کښې نازل شوې وه [5]

---

[1] صبح مسلم مع تکملة فتح الملهم (ج٢ص٢٣) رقم الدحيث (٢٤و٤٠) كتاب الفرائض باب ميراث الكلالة)

[2] تفسير ابن كثير (ج١ص٤٥٧) _

[3] فتح البارى (ج٨ص٤٤٤))_

[4] فتح البارى (ج٨ص٢٤٣)_

[5] فتح البارى (ج١٢ص٤) كتاب الفرائض باب قول الله تعالى (يوصيكم الله)

باب: قوله: وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ

[۴۳۰۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ وَرْقَاءَ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- قَالَ كَانَ الْمَالُ لِلْوَلَدِ، وَكَانَتِ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ، فَنَسَخَ اللَّهُ مِنْ ذَلِكَ مَا أَحَبَّ، فَجَعَلَ لِلذَّكَرِ مِثْلَ حَظِّ الأُنْثَيَيْنِ، وَجَعَلَ لِلأَبَوَيْنِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسَ وَالثُّلُثَ، وَجَعَلَ لِلْمَرْأَةِ الثُّمُنَ وَالرُّبُعَ، وَلِلزَّوْجِ الشَّطْرَ وَالرُّبُعَ

داحديث هم په دې سند سره په كتاب الوصايا كښې تيرشوې دې (۱) اوهم په دې سند سره په كتاب الفرائض كښې راغې. (۲)

باب: لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ [۱۹] الاية

وَيُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (لَا تَعْضُلُوهُنَّ) لَا تَقْهَرُوهُنَّ (حُوبًا) إِثْمًا. (تَعُولُوا) تَمِيلُوا. (نِحْلَةً) النِّحْلَةُ الْمَهْرُ

[۴۳۰۳] (۳) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ حَدَّثَنَا أَسْبَاطُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا الشَّيْبَانِيُّ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ الشَّيْبَانِيُّ وَذَكَرَهُ أَبُو الْحَسَنِ السُّوَائِيُّ وَلَا أَظُنُّهُ ذَكَرَهُ إِلَّا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ) قَالَ كَانُوا إِذَا مَاتَ الرَّجُلُ كَانَ أَوْلِيَاؤُهُ أَحَقَّ بِامْرَأَتِهِ، إِنْ شَاءَ بَعْضُهُمْ تَزَوَّجَهَا، وَإِنْ شَاءُوا زَوَّجُوهَا، وَإِنْ شَاءُوا لَمْ يُزَوِّجُوهَا، فَهُمْ أَحَقُّ بِهَا مِنْ أَهْلِهَا، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ فِي ذَلِكَ.

دښځو سره داظلم په دوه قسمه وو يو خو داچې دښځې درضانه بغيربه ئې خپل خان ته واده كوله .دويمه داكه ددوى به دارائي وه چې ددې چرته هم واده اونشي اوهغه به ئې ساتله اودچاسره به ئې ددې واده نه كولو .اسلام داجبر اوزياتې ختم كړو.

په سند كښې دعكرمه شاګرد شيباني دوه سندونه بيان كړي دى يو د(عكرمه عن ابن عباس) نه دشك نه بغير او بل د(ابوالحسن اسوائي عن عباس) نه په شك سره .

---

(۱) صحيح ابخارى كتاب الوصايا باب لاوصية لوارث (ج۱ص۳۸۳)_

(۲) صحيح البخارى مع فتح البارى كتاب الفرائض باب ميراث الزوج مع الولد وغيره (ج۲۱ص۲۳) رقم الحديث (۶۷۳۹)_

(۳) اخرجه البخارى فى كتاب التفسيرباب لايحل لكم ان ترثواالنساء كرهارقمالحديث(۳۰۳) وايضا فى كتاب الاكراه باب من الاكراه رقم الحديث (۴۵۴۹واخرجه ابوداودفى كتاب النكاح باب قوله تعالى لايحل لكم ان ترثواالنساء كرها رقم الحديث(۲۰۸۹)

باب: قوله: وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ ۚ وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا

وَقَالَ مَعْمَرٌ: مَوَالِي) أَوْلِيَاءُ وَرَثَةٌ)(عَاقَدَتْ) هُوَ مَوْلَى الْيَمِينِ، وَهُوَ الْحَلِيفُ، وَالْمَوْلَى أَيْضًا ابْنُ الْعَمِّ. وَالْمَوْلَى الْمُنْعِمُ الْمُعْتِقُ. وَالْمَوْلَى الْمُعْتَقُ. وَالْمَوْلَى الْمَلِيكُ. وَالْمَوْلَى مَوْلًى فِي الدِّينِ

[۴۳۰۴] حَدَّثَنِي الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ إِدْرِيسَ عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- (وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ) قَالَ وَرَثَةً. (وَالَّذِينَ عَاقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ) كَانَ الْمُهَاجِرُونَ لَمَّا قَدِمُوا الْمَدِينَةَ يَرِثُ الْمُهَاجِرُ الْأَنْصَارِيَّ دُونَ ذَوِي رَحِمِهِ لِلْأُخُوَّةِ الَّتِي آخَى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- بَيْنَهُمْ فَلَمَّا نَزَلَتْ (وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ) نُسِخَتْ، ثُمَّ قَالَ (وَالَّذِينَ عَاقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ) مِنَ النَّصْرِ، وَالرِّفَادَةِ وَالنَّصِيحَةِ، وَقَدْ ذَهَبَ الْمِيرَاثُ وَيُوصِي لَهُ. سَمِعَ أَبُو أُسَامَةَ إِدْرِيسَ، وَسَمِعَ إِدْرِيسُ طَلْحَةَ.

قوله: سَمِعَ أَبُو أُسَامَةَ إِدْرِيسَ، وَسَمِعَ إِدْرِيسُ طَلْحَةَ: دا روایت هم په دې سند او متن سره په کتاب الکفاله کښې تیر شوې دې[1] حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چې ایت کریمه ﴿وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ﴾ ناسخ دې او په دې کښې د ،، موالی ،، نه وارثان مراد دی او آیت ﴿وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ﴾ منسوخ دې .بیانې ددې وضاحت کړې دې چې کله مهاجرین مدینې منورې ته راغلل نو نبی ﷺ د مهاجرینو او انصارو په مینځ کښې مواخات اورور ولی قائمه کړې وه .ددې اثر دا او شو چې کله به یو انصاری وفات شو نو دهغه وارث به مهاجر و او رشته دار به نه وو .روسته په آیت کښې ﴿وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ﴾ نازل شو نو فیصله او شوه چې اوس به مهاجر وارث نه وی بلکه خپلوان به وارثان وی .

خو صرف د میراث حکم منسوخ شو باقی د حلیف سره عهد او پیمان، نصرت کول ،معاونت وغیره نه دی منسوخ شوی .نن هم که څوك دڅا سره د مواخاة امداد او خیرخواهئ معاهده اوکړی نو دا صحیح ده .خو میراث ختم شوې دې البته په دریمه حصه مال کښې وصیت کیدې شی .د روایت په آخر کښې د (عاقدت ایمانکم من النصر والرفادة والنصیحة وقد ذهب المیراث ویوصی له) نه مراد هم دادې .سَمِعَ أَبُو أُسَامَةَ إِدْرِيسَ، وَسَمِعَ إِدْرِيسُ طَلْحَةَ

په دې پوره سند کښې عنعنه وه دلته امام بخاری د تحدیث صراحت اوکړو.

باب: (إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ) يَعْنِي زِنَةَ ذَرَّةٍ

يَعْنِي زِنَةَ ذَرَّةٍ.

[1] صحیح البخاری ،کتاب الکفالة باب قول الله :والذین عقدت ایمانکم..(ج۱ص۳۰۴)

[۴۳۰۵](١) حدثني محمد بن عبد العزيز حدثنا أبو عمر حفص بن ميسرة عن زيد بن أسلم عن عطاء بن يسار عن أبي سعيد الخدري -رضى الله عنه- أن أناسا في زمن النبي -صلى الله عليه وسلم- قالوا يا رسول الله، هل نرى ربنا يوم القيامة قال النبي -صلى الله عليه وسلم- «نعم، هل تضارون في رؤية الشمس بالظهيرة، ضوء ليس فيها سحاب». قالوا لا. قال «وهل تضارون في رؤية القمر ليلة البدر، ضوء ليس فيها سحاب». قالوا لا. قال النبي -صلى الله عليه وسلم- «ما تضارون في رؤية الله عز وجل يوم القيامة، إلا كما تضارون في رؤية أحدهما، إذا كان يوم القيامة أذن مؤذن تتبع كل أمة ما كانت تعبد. فلا يبقى من كان يعبد غير الله من الأصنام والأنصاب إلا يتساقطون في النار، حتى إذا لم يبق إلا من كان يعبد الله، بر أو فاجر وغبرات أهل الكتاب، فيدعى اليهود فيقال لهم من كنتم تعبدون قالوا كنا نعبد عزير ابن الله. فيقال لهم كذبتم، ما اتخذ الله من صاحبة ولا ولد، فماذا تبغون فقالوا عطشنا ربنا فاسقنا. فيشار ألا تردون، فيحشرون إلى النار كأنها سراب، يحطم بعضها بعضا فيتساقطون في النار، ثم يدعى النصارى، فيقال لهم من كنتم تعبدون قالوا كنا نعبد المسيح ابن الله. فيقال لهم كذبتم، ما اتخذ الله من صاحبة ولا ولد. فيقال لهم ماذا تبغون فكذلك مثل الأول، حتى إذا لم يبق إلا من كان يعبد الله من بر أو فاجر، أتاهم رب العالمين في أدنى صورة من التي رأوه فيها، فيقال ماذا تنتظرون تتبع كل أمة ما كانت تعبد. قالوا فارقنا الناس في الدنيا على أفقر ما كنا إليهم، ولم نصاحبهم، ونحن ننتظر ربنا الذي كنا نعبد. فيقول أنا ربكم، فيقولون لا نشرك بالله شيئا. مرتين أو ثلاثا

امام بخاری رحمه الله دا روايت دلته ذکر کړې دې خو د ترجمة الباب د آيت سره په ظاهره څه مطابقت په پوهه کښې نه راځي ځکه چې په روايت کښې د ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾ د مفهوم څه خبره نشته .ددې جواب دادې چې امام بخاری رحمه الله دا حديث دلته مختصر ذکر کړې دې وړاندې په کتاب التوحيد کښې دا حديث په تفصيل سره مذکور دې هلته ددې حديث په آخر کښې دي (اذهبوا فمن وجدتم في قلبه مثقال ذرة من ايمان فاخرجوه، فيخرجون من عرفوا، وقال ابوسعيد: فان لم تصدقوني فاقرؤا ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ......﴾)(٢)

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب التفسير باب ان الله لا يظلم مثقال ذرة رقم ۳۰۵ وايضا فی کتاب التفسير باب يوم يكشف عن ساق رقم الحديث ۴۶۳۵] وايضا فی کتاب التوحيد باب وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة رقم الحديث ۷۰۰۱ واخرجه مسلم فی کتاب الايمان باب معرفة طريق روية رقم الحديث ۱۸۳_

(٢) صحيح البخاری کتاب التوحيد باب قول الله (وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة (ج۲ص۱۱۰۵) _

دکتاب التوحید داروایت دترجمة الباب سره مطابقت لری اوداما م بخاری رحمه الله داعادت دې چې دوی اجلی ته په اخفی باندې ترجیح ورکوی ایماء اوشازه زیاته استعمالوی .ددې وجې ئې دکتاب التوحید روایت دترجمة الباب مناسبت ته اشاره کړې ده .

محمد بن عبد العزیز: په دې حدیث کښې داما م بخاری رحمه الله شیخ محمدبن عبدالعزیز ، دې دې په ابن الواسطی سره مشهوردې اوددې کنیت ، ابوعبدالله الرملی دې امام ابوزعه ددوی متعلق فرمانیلي دی (لیس بقوی) [۱] ابوحاتم فرمائی (هو الی الضعف ماهو) [۲] خوعجلی ددوی توثیق کړې دې [۳]

یعقوب بن سفیان فرمائی (کان حافظا) [۴] اوابن حبان په کتاب الثقات کښې ددوی ذکرکړې دې [۵] امام ترمذی اوامام نسائی هم ددوی نه روایت اخستې دې [۶] امام بخاری رحمه الله ددوی نه دوه حدیثونه نقل کړی دی.یوحدیث باب اوبل حدیث ئې په کتاب الاعتصام کښې ددوی نه نقل کړې دې [۷] داما م په نیزدې ثقه اومعتبردې .

قوله:غبرات اهل الکتاب: (غبرات اهل لکتاب) د(غبر) جمع ده او(غبر) د(غابر) جمع ده معنی ده باقی [۸] (غبرات اهل لکتاب) یعنی داهل کتابو باقی خلق.

قوله: قَالُوا فَارَقْنَا النَّاسَ فِي الدُّنْيَا عَلَى أَفْقَرِ مَا كُنَّا إِلَيْهِمْ، وَلَمْ نُصَاحِبْهُمْ، وَنَحْنُ نَنْتَظِرُ رَبَّنَا الَّذِي كُنَّا نَعْبُدُ. فَيَقُولُ أَنَا رَبُّكُمْ، فَيَقُولُونَ لاَ نُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا. مَرَّتَيْنِ أَوْثَلاَثًا: یعنی دمشرکانوجهنم ته دتلونه پس به الله جل شانه مسلمانانوته توجه شی اودوی ته به اوفرمائی چه تاسودکومې خبرې منتظر ئې ؟ هغوی به په جواب کښې اووائی چې کله مونږ په دنیاکښې وودې مشرکانوته ډیرمحتاج وونوپه هغه وخت کښې مونږ دوی نه جداوواوددوی صحبت مونه وواختیارکړې (نونن به مونږددې خلقوصحبت څنګه اختیارکړو) نن خومونږ دخپل رب منتظریوچاچې به مونږ عبادت کولونوحق تعالی شانه به اوفرمائی زهٔ ستاسورب یم په دغه وخت کښې به دالله تعالی دتجلي رعب داسې وی چې هغه به نشی پیژندې اوددې په جواب کښې به اووائی مونږدالله سره څوك نه شریکوواوچې کله ورته دالله

---

[۱] الجرح ولتعدیل (۸الترجمة (۲۹) وتهذیب الکمال (ج ۲۶ص ۱۲ الترجمة (۵۴۱۹) _
[۲] تهذیب الکمال (ج۲۶ص۱۲)
[۳] عمدة القاری (ج۱۸ص۱۷۲)
[۴] المعرفة والتازیخ (ج ۲ص۴۳۷)
[۵] کتاب الثقات(ج۹ص۸۱) _
[۶] تهذیب الکمال (ج۲۶ص۱۳)
[۷] عمدة القاری (ج۱۸ص۱۷۲)
[۸] عمدة لقاری (۱۸ص۱۷۲)_

تعالى معرفت حاصل شى نو الله تعالى به او فرمائى زۀ ستاسو رب يم نو اوبه وائى (انت ربنا) تۀ زمونږ رب ئى.

باب: فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا۝

الْمُخْتَالُ وَالْخَتَّالُ وَاحِدٌ، (نَطْمِسَ) نُسَوِّيَهَا حَتَّى تَعُودَ كَأَقْفَائِهِمْ. طَمَسَ الْكِتَابَ مَحَاهُ (سَعِيرًا) وُقُودًا.

حديث[۴۳۰۶] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ أَخْبَرَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ يَحْيَى بَعْضُ الْحَدِيثِ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ قَالَ قَالَ لِي النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «اقْرَأْ عَلَيَّ». قُلْتُ آقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ «فَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي». فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ سُورَةَ النِّسَاءِ حَتَّى بَلَغْتُ (فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا) قَالَ «أَمْسِكْ». فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ.

قوله: المختال والختال واحد: دسورة نساء په ايت كښې دى (إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا) بيشكه الله تعالى نه خوښوى تكبر كونكى .او كنجوسى كونكى. امام بخارى رحمه الله مختال او ختال ته يو وئيلى دى حال داچې (ختال) دختل نه دې چې معنى ئې دهوكه وركونكې ده او (مختال) دخيلاء نه دې چې معنى ئې متكبر راخى ددې وجې دواړو ته يو وئيل صحيح نه دى [1]

داصيلى په روايت كښې دى (المختال والخال واحد)[2] په دې باندې به اشكال نه وى ځكه چې دخال معنى هم متكبر راځى.

قوله: (وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا): په (هَؤُلَاءِ) كښې امت محمديه ته اشاره ده يعنى ته به ددغه پيغمبرانو په صداقت باندې ګواهى وركړې او ددوى امتونه به دهغوى تكذيب كوى ياكافرانو طرف ته اشاره ده كوم چې ددې نه وړاندې مذكوردى .نومطلب به داوى چې ته به ددې كافرانو په بدو عملونو باندې ګواه ئې. په دې سره به ددې خرابې او بدحالت ښه ښكاره كيږى.

قوله: نطمس وجوها: نسويها حتى تعود كأقفائهم طمس الكتاب محاه: په آيت (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ آمِنُوا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَطْمِسَ وُجُوهًا) كښې د نطمس وجوها معنى ده مونږ به مخونه برابر كړو تردې چې هغه مخونه به دښا طرف په شان هوارشى چې دپوزې ستر ګو وغيره به څه اثر باقى پاتې نشى وائى (طمس الكتاب) ليكلې شوى ئې وران كړل. علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله ددې آيت لاندې ليكى:

---

[1] عمدة القارى (ج١٨ص١٧٣) وفتح البارى (ج٨ص ٢٥٠) _

[2] عمدة القارى (ج١٨ص١٧٣) وفتح البارى (ج٨ص ٢٥٠) _

په وړاندينی آيتونو کښې ديهوديانو دضلالت اومختلفو قباحتونو ذکروو اوهغوی ته دخطاب په توګه دايمان اوتصدق قرآن حکم کولې شی اوددې دمخالف نه ئې ويرولې شی مطلب دادې چې اې اهل کتابو ايمان راوړئ په قرآن باندې چې دهغې احکام مصدق اوموافق دی دتورات ،ايمان راوړئ ددې نه وړاندې چې وران کړومونږستاسو دمخونو نښې يعنی سترګې پوزه وغيره.مطلب داچې ستاسو صورتونه به بدل کړې شی اوبيابه الټه ستاسو مخونه شاطرف ته .يعنی مخ به مطموس اوهوار کړې اوشاطرف ته به ئې کړی اوخټ به مخکښې طرف ته کړی يادخالی دورخې دخلقوبه شان به تاسو هم مسخ کړی اوخناوربه درنه جوړ کړی.

روايت باب يحيی القطان دسفيان نه اوسفيان دسليمان اعمش نه اوسليمان اعمش دابراهيم نخعی نه نقل کړې دې ،سيلمان اعمش ددې حديث څه حصه براه راست دابراهيم نه نقل کړې دی اوڅه حصه ئې دعمروبن مره په واسطه دابراهيم نه نقل کړې ده ،دلته يحيی ددې تصريح کړې ده اوپه فضائل القرآن کښې (باب البكاء عند قراءة القران) لاندې پخپله سليمان اعمش ددې تصريح کړې ده نوهلته دی (قال الاعمش :وبعض الحديث عمرو بن مرة عن ابراهيم) (۱)

باب: وَإِنْ كُنتُمْ مَّرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ

(صَعِيدًا) وَجْهَ الأَرْضِ . وَقَالَ جَابِرٌ كَانَتِ الطَّوَاغِيتُ الَّتِي يَتَحَاكَمُونَ إِلَيْهَا فِي جُهَيْنَةَ وَاحِدٌ، وَفِي أَسْلَمَ وَاحِدٌ، وَفِي كُلِّ حَيٍّ وَاحِدٌ، كُهَّانٌ يَنْزِلُ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ . وَقَالَ عُمَرُ الْجِبْتُ السِّحْرُ . وَالطَّاغُوتُ الشَّيْطَانُ . وَقَالَ عِكْرِمَةُ الْجِبْتُ بِلِسَانِ الْحَبَشَةِ شَيْطَانٌ، وَالطَّاغُوتُ الْكَاهِنُ.

قوله: (طواغيت): دطاغوت جمع ده .ددې اطلاق په بت باندې هم کيږی اوپه کاهن باندې هم شيطان ته هم طاغوت وائی .په سورة نساء کښې دی (يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ) په دې ايت کښې دطاغوت نه کاهن مراددې .دلته ئې ددې تفسير کړې دې چې په قبيله جهنيه .قبيله اسلم اودغه شان په هره يوه قبيله کښې به يوکاهن ووخلقوبه هغوی ته خپلې فيصلې اړولې اودسورة نساء په ايت نبمر ۵۱ کښې دی (أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ) حضرت عکرمه فرمائی چې ،جبت .په حبی ژبه کښې شيطان ته وائی اوطاغوت ته هم کاهن ونيلې شی

[۴۳۰۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ-رضی الله عنها-قَالَتْ هَلَكَتْ قِلاَدَةٌ لأَسْمَاءَ فَبَعَثَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فِي طَلَبِهَا، رِجَالاً فَحَضَرَتِ الصَّلاَةُ وَلَيْسُوا عَلَى وُضُوءٍ. وَلَمْ يَجِدُوا مَاءً، فَصَلَّوْا وَهُمْ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ. يَعْنِي آيَةَ التَّيَمُّمِ.

دتيمم آيت په دوه ځايونو کښې دې يوپه سورة نساء کښې اوبل په سورة مائده کښې امام

(۱) عمدة القارى (ج۱۸ ص۱۷۳)

بخاري رحمه الله په دواړو مقاماتو کښې دحضرت عائشي رضي الله عنها هار ورکيدو قصه ذکر کړې دې.
قاضي ابن العربي وئيلي دي چې دحضرت عائشي رضي الله عنها قصه په دواړو آياتو کښې ديو آيت سبب نزول کيدې شي، يادسورة نساء دآيت يادسورة مائده دآيت خوچونکه په دواړو کښې دتيمم تذکره ده اوحضرت عائشي رضي الله عنها په روايت کښې هم دتيمم ذکر دې ددې وجې دحضرت عائشي رضي الله عنها په قصه کښې دااحتمال هم شته چې دادسورة نساء سره متعلق وي اوداهم ممکن ده چې دسورة مائده سره ددې تعلق وي. ددې وجې امام بخاري ددواړو آياتو نولاندې دحضرت عائشي رضي الله عنها قصه نقل کړې ده.
بيا قاضي ابن العربي رحمه الله خپله فيصله وړاندې کړې ده اووئيلي دي چې دحضرت عائشي رضي الله عنها دقصې تعلق دسورة مائده دآيت سره دې. ددې دليل دادې چې دسورة مائده آيت ﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا قُمۡتُمۡ اِلَى الصَّلٰوةِ﴾ تفسير دمديني مفسرينو په (اذقمتم من النوم) سره کړې دې. دادې خبرې ته نبه ده چې په دې موقع باندې دسورة مائده آيت نازل شوې دې (1)
خو کومه خبره چې قاضي ابن العربي رحمه الله په اجتهاد سره کړې ده وړاندې امام بخاري رحمه الله دسورة مائده په تفسير کښې دهغې تصريح کړې ده چې دحضرت عائشي رضي الله عنها په واقعه کښې دسورة مائده آيت نازل شوې دې (2) نو دامام بخاري رحمه الله په نيزهم دعائشي رضي الله عنها دقصې تعلق دسورة مائده سره متعين دې. باقي داچې دسورة نساء په آيت کښې ئې ددې روايت تخريج ولې کړې. ددې جواب ښکاره دې چې امام بخاري رحمه الله دمعمولي مناسبت په وجه دروايات وذکر کوي اوچونکه دعائشي رضي الله عنها په روايت کښې دتيمم ذکر دې. ددې وجې امام بخاري دلته ددې تخريج کړې دې.
فائده: چې په اوبو قدرت نه وي نو دخاورې نه دپاکئ حاصلولو حکم دادې چونکه خاوره پاکه ده اوبعضې څيزونو ډاره داوبو په شان مطهره هم ده لکه توره، شيشه وغيره دغه شان په مخ اوپه لاسونو باندې دخاورې په لګولو کښې تذلل اوعاجزي ښه زياته ده اوداګناهونو دمعاف کيدوغوره موقع ده اودګناهونو دمعافئ غوره صورت دې. اوهرکله چې خاوره ظاهري اوباطني دواړه قسم پليتي زائله کوي نوځکه دمعذورئ په وخت کښې داوبو په ځائې ددې داستعمالولو حکم شوې دې اوددې نه سوا په تيمم کښې دآسانئ اوسهولت خيال ساتلې شوې دې ددې وجې داوبو په ځائې داسې څيزپکاردې چې دهغې پيداکيدل داوبو نه هم اسان وي اوپه زمکه کښې داصفت موجوددې (3)

۹۰ باب: قوله. أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ) ذَوِي الْأَمْرِ

[۴۳۰۸] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ يَعْلَى بْنِ

(1) صحيح البخاري (ج۲ص ۶۶۳) _
(2) صحيح البخاري مع فتح الباري (ج۸ص ۲۷۲) رقم الحديث (۴۶۰۸)
(3) ماخوذ از تفسير عثماني (۱۱۱) _

مُسْلِمٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- (أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ). قَالَ نَزَلَتْ فِي عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُذَافَةَ بْنِ قَيْسِ بْنِ عَدِيٍّ، إِذْ بَعَثَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم- فِي سَرِيَّةٍ.

د اولی الامر نه کوم خلق مراد دی: په دې آیت کښې دی چې الله تعالی اورسول اواولی الامر اطاعت کوئ: داولی الامرنه کوم خلق مراددی په دې کښې مختلف اقوال دی علامه عینی رحمه الله یوولس اقوال ذکرکړی دی [1] خوپنځه اقوال زیاتوعالمانواختیارکړی دی .

① دمجاهدنه منقول دی چې ددې نه صحابه رضی الله عنهم مراددی [2]

② ابن کیسان فرمائی چې ددې نه عقلمنداصحاب الرائې خلق مراددی [3]

③ مقاتل ،کلبی اومهران بن میمون فرمائی چې ددې نه دسرایاامیران مراد دی [4] قاضی ابن العربی په احکام القران کښې دمهران بن میمون نه داقول نقل کړې دې.بیافرمائی هم داقول دامام بخاری په نیزمختاردې [5] امام بخاری رحمه الله چې دلته کوم روایت نقل کړې دې په دې کښې دی چې ذکرشوې آیت دحضرت عبدالله بن حذافه په باره کښې نازل شوې دې.دوی یوځل نبی کریم صلی الله علیه وسلم په یوسریه باندې امیرمقررکړې وو(ددې تفصیل په کتاب المغازی) کښې تیرشوې دې) غالباهم داخبره ئې ننبه ګرځولې ده اوقاضی ابن العربی فرمائیلی دی چې امام بخاری رحمه الله په نیز(اولی الامر) نه مراد دسرایااصحاب دی .

④ ابوالعالیه اوجابربن عبدالله وغیره فرمائی چې ددې نه عالمان اوفقهاء مراددی .امام مالک رحمه الله هم دااختیارکړې دې چې ددې نه اهل قرآن اواهل علم مراددی [6]

⑤ مشهورقول دادې چې ددې نه امراء مراددی .امام شافعی رحمه الله هم دا راجح ګرځولې دې [7] امام نووی رحمه الله هم دې طرف ته میلان ظاهرکړې دې اوعلامه قرطبی رحمه الله دې ته اصح فرمائیلی دی.دامراؤنه دحکومت اومملکت حاکمان هم مراد کیدې شی

ا ودجماعت اواداري امیرهم مراد کیدې شی. امام بخاری رحمه الله د(ذوی الامر)تشریح کوی اودې طرف ته اشاره کوی .علامه قرطبی رحمه الله دادوه آخری اقوال دټولونه زیات صحیح ګرځولی دی یعنی ددې نه امراء اوعالمان مراددی [8] والله اعلم.

---

[1] عمدة القاری (ج١٨ص١٧٦) _
[2] عمدة القاری (ج١٨ص١٧٦) _وتفسیر القرطبی (ج٥ص٢٥٩) وفتح الباری (ج٨ص٢٥٣)
[3] عمدة القاری (ج١٨ص١٧٦) _وتفسیر القرطبی (ج٥ص٢٦٠)
[4] تفسیر القرطبی (ج٥ص٢٦٠)_
[5] احکام القرآن لابن العربی (ج١ص٣٥١) _
[6] تفسیر القرطبی (ج٥ص٢٥٩)_
[7] فتح الباری (ج٨ص٢٥٣)
[8] تفسیر القرطبی (ج٥ص٢٦٠)_

فائده : د ايت كريمه نه د اصول اربعه په حجيت باندې استدلال: بعضې ددې آيت نه داصل اربعه په حجت باندې استدلال كړې دې .فرمائي چې په (أَطِيعُوا اللَّهَ) كښې كتاب الله ته اشاره ده اوبه(وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ) كښې سنت رسول الله ﷺ ته اشاره ده اوبه(وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ) كښې دمجتهدينو اجتهاد طرف ته اشاره ده وراندې(فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ) كښې قياس طرف ته اشاره شوې ده يعنى كه په څه څيز كښې تنازعه او اختلاف واقع شى اودا پته نه لګى چې ددې شرعى حكم څه دې نو دكتاب الله اوسنت رسول ﷺ نه چې كوم احكام ملاوېږى په هغې باندې قياس كوئ (١)

باب: (فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ)

[۴۲۰۹] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ قَالَ خَاصَمَ الزُّبَيْرُ رَجُلاً مِنَ الأَنْصَارِ فِي شَرِيجٍ مِنَ الْحَرَّةِ، فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ أَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ». فَقَالَ الأَنْصَارِيُّ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْ كَانَ ابْنَ عَمَّتِكَ فَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ «اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ احْبِسِ الْمَاءَ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى الْجَدْرِ، ثُمَّ أَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ». وَاسْتَوْعَى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- لِلزُّبَيْرِ حَقَّهُ فِي صَرِيحِ الْحُكْمِ حِينَ أَحْفَظَهُ الأَنْصَارِيُّ، كَانَ أَشَارَ عَلَيْهِمَا بِأَمْرٍ لَهُمَا فِيهِ سَعَةٌ. قَالَ الزُّبَيْرُ فَمَا أَحْسِبُ هَذِهِ الآيَاتِ إِلاَّ نَزَلَتْ فِي ذَلِكَ (فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ).

په روايت باب كښې دى چې دحضرت زبير رضي الله عنه ديو انصارى سره دمقام حره ديوې نالۍ په باره كښې نزاع اوشوه چې ددې نه څوك اول خپل باغ ته داوبو ور كولو حق لرى .نبى ﷺ اوفرمائيل زبير ته خپل باغ وراندې اوبه كوه اوبيا خپل ګاونډى طرف ته اوبه پرېږده. په دې باندې انصارى اوونيل دافيصله (تاسوددۀ په حق كښې اوكړه (ځكه چې دې ستاد ترور خوئي دې چې دائې واوريده نودنبى كريم ﷺ مخ مبارك متغير شواونبى ﷺ اوفرمائيل زبيره ته خپل باغ اوبه كوه .بيااوبه ايسارې كړه ترڅو چې پولې ته اورسى ددې نه پس خپل ګاونډى طرف ته اوبه پرېږده دغه شان نبى كريم ﷺ دحضرت زبير رضي الله عنه حق په صريحى حكم سره هغه ته پوره وركړو كله چې انصارى نبى ﷺ لره خفه كړو.

حضرت زبير رضي الله عنه اوفرمائيل زما خيال دې چې (فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ) آيت په دې باره كښې نازل شوې دې. نبى كريم ﷺ اول خوپه ګنجائش باندې نظر كولو او وسعت طرف ته ئې اشاره كړې وه اوبه هغې كښې دانصارى دخيال ساتلو اړخ موجود وو خو كله چې انصارى نبى ﷺ لره خفه كړونوبيانبى ﷺ دخپل پوره حق حاصلولو د پاره حضرت زبير رضي الله عنه ته اوفرمائيل په دې كښې فائده دااوشوه چې نهرته دنزدې حق معلوم شو چې هغه تر كومې پورې داوبو اخستلو حق لرى.

دنبى ﷺ فصيله دقانون قاعدې اونصاف عين مطابق وه ځكه چې داعلى النهرته دنزدې كس

---

(١) تفسير كبير(ج١٠ص١٤٨) وفيض البارى (ج٤ص١٧٥و١٧٦)_

حق مقدم وى ددې نه پس د(الاقرب فالاقرب) په ترتيب سره وراندينو ته استحقاق حاصل دې خوانصارى دافيصله په خپلولئ طرفدارئ كولوباندې حمل كړه اواشكال ئې اوكړو.

د رجل من الانصار نه څوك مراد دې ؟: دا انصارى څوك وو، ددۀ نوم معلوم نشوغالباحضرت زبير رضي الله عنه اونوروروايانوپرې پرده اچولې ده اونوم ئې نه دې ښكاره كړې .داؤدى وئيلى دى چې داكس منافق وو.اگرچې په ده باندې دلته دانصارى اطلاق شوې دې خوصرف په انصارى وئيلوسره دانه لازميږى چې هغه دې منافق نه وى ځكه چې دانصاروپه خاندان كښې هم څه خلق ووچې هغوى نفاق اختيار كړې وو.[1]

خود داؤدى په قول باندې دصحيح بخارى دكتاب الصلح په روايت سره اشكال كيږى .هلته كښې دى (انه من الانصار قد شهد بدرا)[2]

اوكوم كس چې د(قدشهدبدرا) مصداق وى هغه هيڅ كله منافق نشى كيدې نوځكه معلومه شوه چې داكس مسلمان وو منافق نه وو .واحدى په (اسباب النزول) كښې ليكلى دى چې داكس حاطب بن ابى بلتعه وو.

حضرت حاطب مهاجروو انصارى نه ووخو دلغوى معنى په اعتبار سره په دۀ باندې دانصارى اطلاق كيدې شى.

ابن بشكوال په «منبهات» كښې ليكلى دى چې داكس حضرت ثابت بن قيس بن شماس وو اوبعضو وئيلى دى چې ثعلبه بن حاطب وو[3]

بهرحال چې څوك هم وو خوپه دې موقع باندې هغوى نامناسبه جمله وئيلې وه اودبشريت نه مغلوبه شويو لويه غلطى ئې كړې وه اوداخبره په خپل ځائې بې غباره ده چې دبشرى غلطيانو نه دبدر صحابه هم پاك نه وو خوالله تعالى جل شانه به دهغوى غلطيانې معاف كړې.

قوله: شريج من الحرت: (شريج) دابوبهيدولارې اولختى ته وائى (حرة) مدينې منورې ته نزدې هغه ځاى ته وائى په كوم ځاى كښې چې تور كاڼړى دى (حتى يرجع الى الجدر....) جدر دجيم په فتې اودال په سكون سره، ديوال اوپولې ته وائى.

داحديث په كتاب المساقاة كښې تيرشوى دې.[4]

فائده: حضرت حكيم الامت مولاناتهانوى رحمه الله فرمائى چې په ظاهره دايت نه دامعلوميږى چې كوم كس بل قانون باطل گڼړى اودهغې باوجود هغې ته رجوع كوى هغه مسلمان نه دې كه يوشرعى فيصله برحق گڼړى اوددې باجودپه زړه كښې تنگى محسوسوى نوهغه هم پكارده

---

[1] عمدة القارى ،كتاب المساقاة باب سكرالانهار(ج۱۲ص۲۰۰)

[2] عمدة القارى ،كتاب المساقاة باب سكرالانهار(ج۱۲ص۲۰۰)

[3] عمدة القارى كتاب المساقاة باب كسر الانهار(ج۱۲ص۲۰۰) وفيه ....ولكن اب الداودى بعد ان جزم انه كان منافقابانه وقع منه ذلک قبل شهوده بدرا لانتفاء النفاق ممن شهدابدرا) _

[4] صحيح البخارى مع عمدة القارى كتاب المساقاة باب سكرالانهار(ج۱۲ص۲۰۰) _

چې مسلمان نه وی .حالانکه په تنګئ باندې دانسان اختیار نشته نو ددې جواب دا دې چې تحکیم دعدم حرج اوتسلیم درې درجې دی ① په اعتقادسره ② په ژبې سره ③ په عمل سره ،داولنۍ درجې نوم ایمان دې اودا موجودنه وی نوعندالله کفردې ،ددویمې درجې نوم اقراردې که دانه وی نوعندالناس کفردې اوددریم درجې نوم تقوی اواصلاح ده که دانه وی نوفسق به وی ،طبعی تنګی معاف ده اوپه ایت کښې په دې قرینۍ سره چې دمنافقانوذکردې اولنۍ مرتبه یعنی په زړه کښې تصدیق اوایمان نه کیدل مرادی نوچې اشکال نشته[1]

۹۲: باب: فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ

[۴۳۱۰]حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَوْشَبٍ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «مَا مِنْ نَبِيٍّ يَمْرَضُ إِلاَّ خُيِّرَ بَيْنَ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ». وَكَانَ فِى شَكْوَاهُ الَّذِى قُبِضَ فِيهِ أَخَذَتْهُ بُحَّةٌ شَدِيدَةٌ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ (مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ) فَعَلِمْتُ أَنَّهُ خُيِّرَ.

(بحة) دباء په ضمې اوجاء په تشدیدسره)په اوازکښې غټ والې اوپه حلق کښې سختی او خشکئ ته وائی. په آیت کریمه کښې دکیدومطلب دادې چې دخپلې درجې نه به ددې حضراتو درجات عالیه ته خی اودهغوی زیارت به کوی اودهغه ځائې په برکاتوبه مشرف کیږی[2]

باب: وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ الاية (۷۵)

[۴۳۱۲]حَدَّثَنِى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَأُمِّى مِنَ الْمُسْتَضْعَفِينَ.

[۴۳۱۲]حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنِ ابْنِ أَبِى مُلَيْكَةَ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ تَلاَ (إِلاَّ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ) قَالَ كُنْتُ أَنَا وَأُمِّى مِمَّنْ عَذَرَ اللَّهُ. وَيُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (حَصِرَتْ) ضَاقَتْ (تَلْوُوا) أَلْسِنَتَكُمْ بِالشَّهَادَةِ. وَقَالَ غَيْرُهُ الْمُرَاغَمُ الْمُهَاجَرُ. رَاغَمْتُ هَاجَرْتُ قَوْمِى. (مَوْقُوتًا) مُوَقَّتًا وَقْتَهُ عَلَيْهِمْ.

قوله: وَيُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (حَصِرَتْ) ضَاقَتْ: اشاره ده دسورة نساء آیت طرف ته (اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ اَوْ جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ) معنی ده ددوی زړونه تنګ شی.

---

[1] ماخوذازبیان القرآن (ج۲ص۱۳۰) _
[2] ماخوذازبیان القرآن (ج۲ص۱۳۰) _

قوله: تلووا السنتکم بالشهادة: (وَإِنْ تَلْوُوا أَوْ تُعْرِضُوا فَإِنَّ اللهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا) یعنی تاسو ژبې تاوهئ او دروغو ګواهي بیان کړئ یا اعراض او کړئ نو الله ستاسو د کارونو نه خبر دې

قوله: وقال غیره المراغم المهاجر راغمت هاجرت قومي: د(غیره) ضمیر حضرت ابن عباس رضی الله عنه ته راجع دې اشاره ده آیت کریمه وَمَنْ يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً طرف ته . ابوعبیده وئیلې دی چې د(مراغم) معنی ده مهاجر یعنی دهجرت مقام راخی وائی (راغمت قومي) ما خپل قوم پریخودو.

قوله: موقوتا موقتا وقته علیهم: په آیت کریمه کښې دی (إِنَّ الصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا) بې شکه مونځ په مسلمانانو باندې فرض دې په مقرروختونو کښې فرمائی چې (موقوتا) د (موقتا) په معنی کښې دی یعنی مقرر وخت ،دباب ضرب نه او (وقت) دباب تفعیل په معنی کښې دې .وخت مقرر کول (وقته ای وقته الله علی المؤمنین) الله تعالی په مسلمانانو باندې د مونځ وخت مقرر کړې دې .

باب: فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللهُ أَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوا

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ بَدَّدَهُمْ، فِئَةٌ جَمَاعَةٌ

[۴۳۱۳] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ قَالَا حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيٍّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ -رضي الله عنه- (فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ) رَجَعَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- مِنْ أُحُدٍ، وَكَانَ النَّاسُ فِيهِمْ فِرْقَتَيْنِ فَرِيقٌ يَقُولُ اقْتُلْهُمْ. وَفَرِيقٌ يَقُولُ لَا فَنَزَلَتْ (فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ) وَقَالَ «إِنَّهَا طَيْبَةُ تَنْفِي الْخَبَثَ كَمَا تَنْفِي النَّارُ خَبَثَ الْفِضَّةِ

حضرت ابن عباس رضی الله عنه د (ارکس) تفسیر کړې دې په (بدد) سره (بدد تبدیدا) متفرق کول. قتاده تفسیر کړې دې (اهلکهم) د حضرت ابن عباس رضی الله عنه تعلیق طبری موصولا نقل کړې دې (۱)

باب: وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ

(يَسْتَنْبِطُونَهُ) يَسْتَخْرِجُونَهُ. (حَسِيبًا) كَافِيًا (إِلَّا إِنَاثًا) الْمَوَاتَ حَجَرًا أَوْ مَدَرًا وَمَا أَشْبَهَهُ (مَرِيدًا) مُتَمَرِّدًا. (فَلَيُبَتِّكُنَّ) بَتَّكَهُ قَطَّعَهُ. (قِيلًا) وَقَوْلًا وَاحِدٌ (طَبَعَ) خَتَمَ

قوله: (إِنْ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ إِلَّا إِنَاثًا): (اناث) د (انث) جمع ده ښځې ته وائی .داناث نه لات عزی او مناة وغیره بتان مراد دی چاته چې به مشرکانو بنات الله وئیل .امام بخاری رحمه الله د دې

---

(۱) عمدة القاری (ج۱۸ص ۱۸۰)_

تفسیربه (اموات) سره کړي دي یعني بې جانه څیزونه، کاڼي خاوره اودغه شان نور بې روحه څیزونه قرآن په دې بتانوباندې داناث اطلاق کړې دې ځکه چې دابتان به دبې جانه اوبې روحه څیزونونه جوړولې شول.

هم په دې آیت کښې وړاندې دی (وَإِنْ يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَانًا مَرِيدًا) دمرید معنی ده سرکش دادصفت مشبه صیغه ده دباب نصراوکرم نه سرکش کیدل.

قوله: فلیبتکن بتکه قطعه: په آیت کریمه کښې دی (فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ) فرمائی چې د(بتك) معنی ده کټ کول، ټکړې کول (وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ قِيلًا) دقیل اوقول دواړو معنی یوه ده دواړه مصدردی.

باب (وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ)

[۴۳۱۴] حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا مُغِيرَةُ بْنُ النُّعْمَانِ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ قَالَ {آيَةٌ} اخْتَلَفَ فِيهَا أَهْلُ الْكُوفَةِ، فَرَحَلْتُ فِيهَا إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَسَأَلْتُهُ عَنْهَا فَقَالَ نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ (وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ) هِيَ آخِرُ مَا نَزَلَ وَمَا نَسَخَهَا شَيْءٌ.

ایا قاتل به همیشه دپاره په جهنم کښې وی ؟: دلته دوه بحثونه دی. اولنې بحث دادې که یو مؤمن بل مؤمن عمدا قتل کړونودې به مخلدفي النار وی اوکه نه. دمعتزلواوخوارجوپه نیزبه دې مخلدفي النار وی اواهل سنت والجماعت به نیزبه دې مخلدفي النار نه وی بلکه دخپلې ګناه سزاخوړلونه پس به دجهنم نه رواخې (١)

داهل سنت والجماعت په مذهب باندې دآیت باب په وجه اشکال کیږی ځکه چې په دې کښې د(خالدافیها) فرمائیلې شوی دی. ددې نه دده مخلدفي النار معلومیږی. ددې مختلف جوابونه ورکړې شوی دی.

① بعضوتیلی دی چې داسزادهغه کس دپاره ده څوك چې دمؤمن قتل جائزاوحلال اوګڼړی اوبنکاره ده چې داسې کس مؤمن نشی پاتې کیدې. ددې وجې دده سزا دامقررشوه. (٢)

② بعضې حضراتووئیلې دی چې د(خالدافي النار) نه مکث طویل مراد دې او(خلد) دتابیدنه علاوه دمکث طویل دپاره استعمالیږی وائی (لاخلدن فلانافي السجن) زۀ به فلانې په جیل کښې همیشه دپاره قید کړم حال داچې دجیل دپاره دوام نه وی مرداد دې نه مکث طویل وی (٣)

(١) احکام القرآن للشیخ ظفر احمد العثمانی (ج٢ص٣٢٧) وتفسیر مظهری (ج٤ص١٩٧)
(٢) تفسیر القرطبی (ج٥ص٣٣٤) _
(٣) تفسیر القرطبی (ج٥ص٣٣٤) _

③ اوبعضې عالمانوونيلى دى چې(خالدا فيها) دتغليظ دپاره وئيلې شوې دې يعنې جزاء خودې هم داپكارده چې هميشه دپاره په جهنم كښې پاتې شى ځكه چې داجرم دومره خوالله جل شانه به دايمان په وجه دې روا باسى (١)

④ اوحضرت تهانوى رحمه الله د (جزاءه جهنم خالدا فيها) ترجمه كړې ده چې ددې اصلى سزا خو جهنم دې چې هميشه هميشه دپاره به دې كښې پاتې وى خودالله فضل دې چې دااصلى سزابه جارى كيږى بلكه دايمان په بركت كښې آخرنجات بياومومى .په تفسيرعثمانى كښې هم دا جواب مذكور دې(٢)

ايا دقاتل توبه قبليږى ؟ : دويم بحث دادې چې دده توبه قبليږى كه نه؟ په دې كښې داهل علم اختلاف دې دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه يوروايت مروى دې چې دده توبه نه قبليږى .دحضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه حضرت ابن عمر رضي الله عنه اوحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه هم دا قول مروى دې (٣)
دويم قول دادې چې دده توبه قبليږى .داهم دحضرت ابن عباس رضي الله عنه اوحضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه نه مروى دې .علامه قرطبى رحمه الله دااهل سنت صحيح مذهب ګرځولې دې (٤)علامه عينى فرمائى (واجمع المسلمون على صحة توبه القاتل عمدا)(٥)
سفيان بن عيينه (فرمائى چې دابتلاء نه وړاندې كله داهل علم نه ددې په باره كښې تپوس اوشى مثلا يوكس اووائى كه زۀ داسې اوكړم نوځه به كيږى نواهل علم دې ورته وائى چې توبه دې نه قبليږى اوددوى مقصدبه داوى چې داكس ددې ارادې نه منع شى خوچې كله يوكس مبتلا شى اوقتل اوكړى نو بيابه قاتل ته وائى چې توبه اوباسه (٦)
قاضى ثناء الله رحمه الله په تفسيرمظهرى كښې داهل علم مذكوره دواړه اقوالوكښې تطبيق كولو سره فرمائى چې (ان قتل العمد جناية على حق العبد وجناية على حق الله تعالى ،فقولهم: لاتوبة له ،معناه لاتوبة له فى حق العبد،وفيه القصاص لامحالة،اما فى الدنيااوفى الاخرة....واماقول العلماء بقبول التوبة فمعناه تفيدالتوبة لاستدراك حق الله تعالى..........)(٧)
ابوعبدالله موصلى په خپل كتاب (الناسخ والمنسوخ) كښې ليكلى دې چې ډيروعالمانو دسورة بعضو ددې دپاره ناسخ دسورة فرقان داآيت ګرځولې دې (يُضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَيَخْلُدْ فِيْهِ

---

١) تفسيرروح المعانى (ج١ص١٧٠)_
٢) بيان القرآن (ج٢ص١٣٦) وتفسيرعثمانى(١٢٢) _
٣) عمدة القارى (ج١٨ص١٨٢) وتفسيرالقرطبى(ج٥ص٣٣٢) _
٤) تفسيرالقرطبى(ج٥ص٣٣٣) _
٥) عمدة القارى (ج١٨ص١٨٣) —
٦) تفسيرالبغوى(ج١ص٤٦٥)
٧) تفسيرالبغوى (ج١ص٣٦٥) تفسيرالمظهرى (٤_١٩٧)

مُهَانًا﴾ ددې نه وړاندې دشرك زنا اوقتل النساء دا آيت منسوخ ګرځولې دې ذكرشوې دې چې ددې جرمونو مرتكبينو دپاره دائمى عذاب دې .بيا فرمائى ﴿اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا﴾ خوچې څوك توبه اوباسى داحضرات فرمائي چې دې آيت دسورة نساء آيت منسوخ كړې دې اوبعضې حضرات فرمائى چې دسورة نساء آيت لره ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ﴾ (١) منسوخ كړې دې

خو حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په روايت باب كښې فرمائيلى دى چې دسورة نساء آيت لره هيڅ يو آيت نه دې منسوخ كړې دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما داقول په تغليظ اوتشديد باندې محمول كول مناسب دى (الاجماع المسلمين على صحة توبة القاتل عمدا) والله اعلم .

٩٧- باب : وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا

السِّلْمُ وَالسَّلَمُ وَالسَّلَامُ وَاحِدٌ.

[٤١١٥] (٢)حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - (وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا) . قَالَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَانَ رَجُلٌ فِي غُنَيْمَةٍ لَهُ فَلَحِقَهُ الْمُسْلِمُونَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَقَتَلُوهُ وَأَخَذُوا غُنَيْمَتَهُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ فِي ذَلِكَ إِلَى قَوْلِهِ (عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا) تِلْكَ الْغُنَيْمَةُ. قَالَ قَرَأَ ابْنُ عَبَّاسٍ السَّلَامَ.

٩٨ باب : لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

[٤٣١٦]حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِي سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ السَّاعِدِيُّ أَنَّهُ رَأَى مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ فِي الْمَسْجِدِ، فَأَقْبَلْتُ حَتَّى جَلَسْتُ إِلَى جَنْبِهِ، فَأَخْبَرَنَا أَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَمْلَى عَلَيْهِ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَجَاءَهُ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ وَهُوَ يُمِلُّهَا عَلَيَّ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَاللَّهِ لَوْ أَسْتَطِيعُ الْجِهَادَ لَجَاهَدْتُ -وَكَانَ أَعْمَى- فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ -صلى الله عليه وسلم- وَفَخِذُهُ عَلَى فَخِذِي،

---

(١) عمدة القارى (ج١٨ص١٨٢و١٨٣)

(٢) اخرجه البخارى فى كتاب التفسير، باب ولاتقولوا لمن القى اليكم السلام لست مؤمنا.رقم الحديث :٤٣١٥ واخرجه مسلم فيه ايضا .رقم الحديث : ٣٠٢٥.واخرجه الترمذى فى كتاب التفسير.باب ومن سورة النساء، رقم الحديث : ٣٠٢٣. واخرجه ابوداؤد فى الحديث ولقراءات .رقم الحديث :٣٩٧٣.واخرجه النسائى فى السنن فى الكبرى، كتاب التفسيررقم الحديث :١١١١٦.و كتاب السير. رقم الحديث : ٨٥٩٠

فَثَقُلَتْ عَلَيَّ حَتَّى خِفْتُ أَنْ تَرُضَّ فَخِذِي، ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ (غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ)

[۴۳۱۷] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ - رضى الله عنه - قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ (لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ) دَعَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - زَيْدًا فَكَتَبَهَا، فَجَاءَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ فَشَكَا ضَرَارَتَهُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ (غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ)

[۴۳۱۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ (لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ) قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «ادْعُوا فُلَانًا». فَجَاءَهُ وَمَعَهُ الدَّوَاةُ وَاللَّوْحُ أَوِ الْكَتِفُ فَقَالَ «اكْتُبْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ». وَخَلْفَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَا ضَرِيرٌ. فَنَزَلَتْ مَكَانَهَا (لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ). [ر ۲۶۷۶]

[۴۳۱۹] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ ح وَحَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الْكَرِيمِ أَنَّ مِقْسَمًا مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ أَخْبَرَهُ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - أَخْبَرَهُ (لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ) عَنْ بَدْرٍ وَالْخَارِجُونَ إِلَى بَدْرٍ.

ددې باب په اولنۍ روايت کښې دي چې رسول الله ﷺ په حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه باندې آيت اوليکو (لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ) اوس لاهغوی دا آيت ليکلو چې حضرت عبد الله بن مکتوم رضي الله عنه د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو يارسول الله ﷺ که ما جهاد کولې شو نو ضرور به مې کولو. حضرت ابن ام مکتوم رضي الله عنه نابينا وو. نو الله تعالی په آيت کريمه کښې ځو الفاظ نور نازل کړل يعنی (غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ) چې مطلب ئې دا دې چې د قاعدين نه غير معذور خلق مراد دی کوم چې د طاقت استطاعت باوجود په جهاد کښې شرکت نه کوی او چې څوك معذوروی هغوی مستثنی دی.

دلته يو معمولی شان اشکال دې چې د اولنی او دويم روايت نه معلوميږی چې دوباره صرف د (غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ) قيد نازل شوې دې او د دويم روايت نه معلوميږی چې پوره آيت دوباره نازل شوې دی.

ددې جواب دا دې چې اصلا وبالذات دوباره صرف قيد نازل شوې دې. اوس راوی کله په اصل باندې نظر کوی او صرف قيد ذکر کوی او کله د آيت د سياق رعايت کوی او پوره آيت د قيد سره تلاوت کوی ځکه چې د ادب تقاضا هم داده. نو را احتمال شته چې دوباره ټول آيت مع القيد نازل شوی وی نو کله راوی د واقعه بيانولو په ډول پوره آيت مع القيد تلاوت کوی لکه څنګه چې دلته په دريم روايت کښې دی او کله صرف قيد ذکر کوی. دې طرف ته اشاره کوی چې باقی آيت خو وړاندې نازل شوې وو. دوباره صرف ددې قيد دپاره نازل شوې دې لکه څنګه چې په

اولنی اودویم روایت کښې دې .والله اعلم.

د روایت د سند متعلق یوه فائده: دباب داولنی روایت په سند کښې یوه لطیفه خوداده چې په دې کښې صالح بن کیسان دامام زهری رحمه الله نه روایت کوی صالح بن کیسان دزهری نه مشر دې نو دا (روایة الاکابر عن الاصاغر) دې [1]

دویمه لطیفه داده چې په دې کښې صحابی دتابعي نه روایت کوی ځکه چې په دې کښې سهل بن سعد دمروان بن الحکم نه نقل کوی اوسهل رضی الله عنه صحابی دې حال داچې دمروان په باره کښې مشهوره دا ده چې هغه تابعی دې [2]

۹۹- باب إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنْتُمْ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا (۹۸)

[۴۳۲۰] ([3]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِءُ حَدَّثَنَا حَيْوَةُ وَغَيْرُهُ قَالَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَبُو الْأَسْوَدِ قَالَ قُطِعَ عَلَى أَهْلِ الْمَدِينَةِ بَعْثٌ فَاكْتُتِبْتُ فِيهِ، فَلَقِيتُ عِكْرِمَةَ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَأَخْبَرْتُهُ، فَنَهَانِي عَنْ ذَلِكَ أَشَدَّ النَّهْيِ، ثُمَّ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ أَنَّ نَاسًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ كَانُوا مَعَ الْمُشْرِكِينَ يُكَثِّرُونَ سَوَادَ الْمُشْرِكِينَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- يَأْتِي السَّهْمُ فَيُرْمَى بِهِ، فَيُصِيبُ أَحَدَهُمْ فَيَقْتُلُهُ أَوْ يُضْرَبُ فَيُقْتَلُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ (إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ) الآيَةَ. رَوَاهُ اللَّيْثُ عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ

قوله: حَدَّثَنَا حَيْوَةُ وَغَيْرُهُ: د (وغیره) نه عبدالله بن لهیعه مراد دې .دابن لهیعه روایت طبرانی اوابن ابی حاتم تخریج کړې دې ([4]) عبدالله بن لهیعه چې متکلم فیه اوضعیف دې .ددې وجې امام بخاری دهغه دنوم تصریح اونکړه.

محمدبن عبدالرحمان ابوالاسود فرمائی چې داهل مدینه لښکر متعین کړې شو په هغې کښې

---

[1]) دا امام زهری پیدائش ابن سعد په طبقات (ج۲ص۱۷۹) کښې ۵۷ لیکلی دې اودوی وفات علامه مزی رحمه الله په تهذیب الکمال (ج۲۶ص۴۴۱) کښې ۱۳۳ه لیکلی ده .دصالح بن کیسان وفات حافظ په تقریب التهذیب (۳۷۳رقم الترجمه ۲۸۸۶ کښې اوخزرجي په (خلاصة التهذیب) ص ۱۷۱) کښې د ۱۴۰ه نه پس لیکلی دې اوپیدائش دکال علم نشته خوپه عمرکښې دزهری نه مشردې .یحیی بن معین فرمائی (صالح بن کیسان اکبرسنامن الزهری) علامه مزی په تهذیب الکمال (ج۲۶ص۸۲و۸۱) کښې دامام احمداوعلی بن مدینی نه هم ددې مفهوم اقوال نقل کړې دی۔

[2]) عمدة القاری (ج۱۸ص۱۸۶)) ـ

[3]) اخرجه البخاری فی کتاب التفسیر،باب، ان الذین توفاهم الملائکة ظالمی انفسهم ،رقم الحدیث :۴۳۲۰، وایضافی کتاب الفتن ،باب من کره ان یکثرسواد الفتن والظلم، رقم الحدیث :۶۶۷۴، واخرجه النسائی فی السنن الکبری . رقم الحدیث :۱۱۱۱۹

[4]) عمدة القاری (ج۱۸ص۸۸)) ـ

زمانوم هم شامل وو. په دې دوران کښې زما ملاقات دحضرت ابن عباس رضی الله عنه د آزاد کړې غلام حضرت عکرمه سره اوشو هغوی ډیر په سختئ سره لښکر کښې دتلونه منع کړم. بیا ئې دحضرت ،ابن عباس رضی الله عنه په حوالې سره راته اوئیل چې څه خلق په مسلمانو کښې دمشرکانو سره اوسیږی. د رسول الله ﷺ خلاف دمشرکانو ډله زیاتوی. جنګ په دوران کښې که یو غشې په دغه مسلمانانو کښې چاته اورسی اوهغه مرشی. یا په توري چلولو سره قتل شی نو په دې باندې الله جل شانه دا ذکرشوې آیت کریمه نازل کړو۔

دواقعه په جنګ بدرکښې پیښه شوې وه، په مکه کښې مقیم بعضې مسلمانان مشرکانو دخپل خان سره دمسلمانانوسره دجنګ کولودپاره په زورباندې راوستی وو. په دې کښې بعضې مړه شول .دغه شان دمسلمانانودلاس نه مړه شول. حضرت عکرمه ابوالا سود په لښکرکښې دتلونه منع کړلواودا واقعه ئې ورته په دې موقع باندې واوروله ځکه چې ذکرشوې لښکرته دحضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه دطرف نه اهل شام خلاف جنګ کولودپاره ترتیب ورکړې شوې وو.([1]) او ښکاره ده چې په دې کښې دواړه طرفونوته مسلمانان وو اودمسلمانانوتوره په مسلمانانو باندې چلیده.په دې مناسبت سره عکرمه ذکرشوې واقعه واورله اوابوالاسودئې په لښکر کښې دتلونه منع کړو.

١٠٠ = باب: إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا

[٤٣٢١] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- (إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ) قَالَ كَانَتْ أُمِّي مِمَّنْ عَذَرَ اللَّهُ.

١٠١-باب: فَأُولَئِكَ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَعْفُوَ عَنْهُمْ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا [٩٩]

[٤٣٢٢] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- قَالَ بَيْنَا النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يُصَلِّي الْعِشَاءَ إِذْ قَالَ «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ». ثُمَّ قَالَ قَبْلَ أَنْ يَسْجُدَ «اللَّهُمَّ نَجِّ عَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ، اللَّهُمَّ نَجِّ سَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ، اللَّهُمَّ نَجِّ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ، اللَّهُمَّ نَجِّ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، اللَّهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ، اللَّهُمَّ اجْعَلْهَا سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ».

١٠٢-باب وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ كَانَ بِكُمْ أَذًى مِنْ مَطَرٍ أَوْ كُنْتُمْ مَرْضَى أَنْ تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ [١٠٢]

[٤٣٢٣] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَبُو الْحَسَنِ أَخْبَرَنَا حَجَّاجٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي

---

[1]) عمدة القاری (ج١٨ص٨٨))

يَعْلَى عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضي الله عنهما - (إِنْ كَانَ بِكُمْ أَذًى مِنْ مَطَرٍ أَوْ كُنْتُمْ مَرْضَى) قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ كَانَ جَرِيحًا

۱۰۳-باب وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ فِي يَتَامَى النِّسَاءِ [۱۲۷]

[۴۳۲۴] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها - (وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ) إِلَى قَوْلِهِ (وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ) . قَالَتْ هُوَ الرَّجُلُ تَكُونُ عِنْدَهُ الْيَتِيمَةُ ، هُوَ وَلِيُّهَا وَوَارِثُهَا، فَأَشْرَكَتْهُ فِي مَالِهِ حَتَّى فِي الْعِذْقِ ، فَيَرْغَبُ أَنْ يَنْكِحَهَا ، وَيَكْرَهُ أَنْ يُزَوِّجَهَا رَجُلاً، فَيَشْرَكُهُ فِي مَالِهِ بِمَا شَرِكَتْهُ فَيَعْضُلَهَا فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ.

۱۰۴-باب: وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا [۱۲۸]

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ شِقَاقٌ تَفَاسُدٌ (وَأُحْضِرَتِ الأَنْفُسُ الشُّحَّ) هَوَاهُ فِي الشَّيْءِ يَحْرِصُ عَلَيْهِ (كَالْمُعَلَّقَةِ) لاَ هِيَ أَيِّمٌ وَلاَ ذَاتُ زَوْجٍ (نُشُوزًا) بُغْضًا

کله چې دیو سړی دخه څیز خواهش وی او هغه په ده باندې غالب شی نو دې حرص او خواهش ته شح وائی (۱)

[۴۳۲۵] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها - (وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا) . قَالَتِ الرَّجُلُ تَكُونُ عِنْدَهُ الْمَرْأَةُ لَيْسَ بِمُسْتَكْثِرٍ مِنْهَا يُرِيدُ أَنْ يُفَارِقَهَا فَتَقُولُ أَجْعَلُكَ مِنْ شَأْنِي فِي حِلٍّ . فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ فِي ذَلِكَ.

یو داسې ښځه چې په هغې کښې دخاوند څه قسم رغبت نه وی او خاوند غواړئ چې ددې نه جدائی اوبیلتون اختیار کړی خوښځه اووائی چې ما په خپل زوجیت کښې اوساته اوزما حقوق معاف دی . ذکرشوې آیت په دې باره کښې نازل شوې دې .

که ښځې خپل نوبت اونور حقوق ساقط کړل نو هغه حقوق به ساقط شی خو که روسته ښځې رجوع اوکړی نو بیا به په خاوند باندې حقوق اداکول وی. خو د ماضی نه ،بلکه په مستقبل کښې به هغې ته دهغې دحقوقو نواداکولو اهتمام کوی .

دا روایت په کتاب الصلح کښې تیر شوې دې .

(۱) قال الراغب فی المفردات(۲۵۶) الشح بخل مع حرص مع وذلک فیماکان عادة)

١٠٥_ باب: إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِى الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ

[٤٣٢٦].. (١)حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ عَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ كُنَّا فِي حَلْقَةِ عَبْدِ اللَّهِ فَجَاءَ حُذَيْفَةُ حَتَّى قَامَ عَلَيْنَا، فَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ لَقَدْ أُنْزِلَ النِّفَاقُ عَلَى قَوْمٍ خَيْرٍ مِنْكُمْ. قَالَ الْأَسْوَدُ سُبْحَانَ اللَّهِ، إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ (إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ) فَتَبَسَّمَ عَبْدُ اللَّهِ، وَجَلَسَ حُذَيْفَةُ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ، فَقَامَ عَبْدُ اللَّهِ فَتَفَرَّقَ أَصْحَابُهُ، فَرَمَانِي بِالْحَصَا، فَأَتَيْتُهُ فَقَالَ حُذَيْفَةُ عَجِبْتُ مِنْ ضَحِكِهِ، وَقَدْ عَرَفَ مَا قُلْتُ، لَقَدْ أُنْزِلَ النِّفَاقُ عَلَى قَوْمٍ كَانُوا خَيْرًا مِنْكُمْ، ثُمَّ تَابُوا فَتَابَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ.

قوله: نفقا سربا: دسورة انعام آیت (فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَبْتَغِيَ) كښې ئې د(نفق) تفسیربه (سرب) سره كړې دي .سرب سورنګ ته وائي ،داتفسيرامام بخاری رحمه الله دلته د(إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ) په مناسبت سره بیان كړې دې .چې دمنافق لفظ هم د «نفق»، نه ماخوذدې چونكه منافق هم دزمكي لاندې تول كوششونه داسلام خلاف جاري ساتي اولكه څنګه چې سرنګ دتحفظ دپاره جوړولې شي دغه شان منافق هم دخپل حفاظت اوبچاؤدپاره لاره جوړه كړې وی (٢)ددې پوره تفصیل په كشف الباری باب علامة الايمان لاندې تیرشوې دې.

په روایت كښې حضرت اسودبن یزید فرمائي چې مونږ دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په مجلس كښې حاضروو.په دې كښې حضرت حذیفه رضي الله عنه راغلواودريدواوسلام ئې اوكړو وې فرمائیل چې نفاق په داسې قوم باندې نازل كړې شوې ووكوم چې ستاسونه غوره وو. مطلب داووچې دصحابو رضي الله عنهم په دوركښې خلق منافقان ووحال داچې هغه خيرالقرون دوروو ددې وجې یوكس نه دهوكه كیدل نه دی پكار اوفخرنه دې كول پكار.

په دې باندې اسودبن یزیداووئیل (سبحان الله) ته عجیبه خبره كوې، الله خوفرمائي (إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِى الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ) اوته وائي چې زمونږ نه غوره خلق منافقان ووحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه چې دمجلس شیخ ووهغوی صرف مسكې شو.

حضرت حذيفه رضي الله عنه خپله خبره اوكړه اودجماعت په یوكوټ كښې كیناستلواسودبن یزید وائي چې دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دمجلس ختمیدونه پس حضرت حذیفه رضي الله عنه زه راوغوښتلم اوماطرف ته ئې یوكټكې راګزاركړوزه هغوی ته ورغلم نووې فرمائیل دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په خندا باندې زه ډیرحیران شوم .حال داچې هغه زما په مرادپوهه شوې

---

(١) اخرجه البخاري فی كتاب التفسيرباب ان المنافقين فی الدرك الاسفل من النارقم الحديث (٤٣٢٦) ولم يخرجه احدمن اصحاب الستة سوى البخاری)_

(٢) قال الكرمانی : ١٧/٩١ فان قلت : النفق فی سورة الانعام ،ولاتعلق له ايضابقصة المنافقين قال تعالى : ان استطعت ان تبتغی نفقافی الارض. قلت : غرضه بيان اشتقاق المنافقين منه ».._

وو او بیانې دخپلې خبرې وضاحت او کړو چې ستاسو نه په غوره خلقو نفاق نازل شوې وو. بیا الله هغوی ته د توبې توفیق ورکړو او د هغوی توبه ئ قبوله کړې وه.
او په دې کښې هم څه شك نشته چې څه خلق داسې هم پاتې شوې وو چې بغیر توبې مړه شوې وو. لکه عبدالله بن ابی وغیره.

مولانا رشید احمد گنګوهی رحمه الله فرمائی چې په (لقد انزل النفاق علی قوم خیر منکم) کښې د قوم نه صحابه کرام رضی الله عنهم مراد دی او د نفاق نه نفاق عملی مراد دې او مطلب دا دې چې صحابه کرام رضی الله عنهم ستاسو نه غوره وو خو دې باوجود بعضې صحابه په نفاق عملی کښې مبتلا شوی وو او بیائې توبه ویستې وه نو څکه تاسو خلقو له تکبر نه دې پکار چې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه غوندې لوئې فقیه او عالم نه سبق وایو. اسود د حضرت حذیفه رضی الله عنه په خبره صحیح پوهه نشو. هغه دا او کنړل چې حضرت حذیفه رضی الله عنه مونږ ته منافقان وائی. د دې وجې ئې د تعجب اظهار او کړو او (سبحان الله) ئې اوونیل. حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه چې کله او کتل چې اسود د حضرت حذیفه رضی الله عنه د خبرې نه بل مطلب اخلی نو هغه مسکې شو حضرت حذیفه رضی الله عنه د دوی په مسکا باندې حیران شو څکه چې هغوی خو د دوی (حذیفه) مراد باندې صحیح پوهه شوی وو (١)

په آیت کریمه کښې دی (إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ) چه حضرت ابن عباس رضی الله عنه د دې تشریح په (اسفل النار) سره کړې ده او د دې خبرې طرف ته ئې اشاره کړې ده چې (من) د اسم تفضیل په صله کښې نه دې مستعمل بلکه د ابیانیه دې نو چاته دا وهم نه دی کول پکار چې (درك اسفل) د اور نه بهر د څه ځائې نوم دې بلکه د دې نه د اور ښکته حصه مراد ده.
د حضرت ابن عباس رضی الله عنه تعلیق ابن ابی حاتم موصلا نقل کړې دی. (٢)

١٠٦- باب: قوله إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلٰى نُوْحٍ [١٦٣]

[٤٣٢٧] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِي الْأَعْمَشُ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَقُولَ أَنَا خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتّٰى».

[٤٣٢٨] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ حَدَّثَنَا هِلَالٌ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَنْ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتّٰى فَقَدْ كَذَبَ»

د من قال انا خیر من یونس بن متی معنی: یو مطلب خو دا دې چې که یو کس د خپل ځان په باره

(١) لامع الدرای (ج٩ص٥٨و٥٧) _
(٢) عمدة القاری (ج١٨ص١٩٣) _

كښې ديونس (عليه السلام) په مقابله كښې دغوره والى اوافضليت دعوى كوى نوهغه دروغژن دې ،دالله دنبى نه غيرنبى افضل كيدى نه شى اگر چې هغه نبى دانبياؤپه ډله كښې څومره دكمې درجې ولې نه وى. دحضرت يونس (عليه السلام) تخصيص ئې ددې وجې اوكړوچې هغوى سره دبطن حوت واقعه پيښه شوې وه چې هغې ته اوگورى اوځوك اووائى چې زماخوتول ژوندپه عبارت اواطاعت كښې تيرشوې دې نوځكه زۀ غوره يم نوداسې كس دروغژن دې.

اودويم مطلب داهم كيدې شى چې ددې نه پخپله نبى ﷺ مراد وى، په دې صورت كښې به دنبى ﷺ دارشاد مطلب به داشى چې څوك ماديونس عليه السلام نه بهترگنړى نوهغه غلط وائى (١)

په دې صورت كښې به اشكال كيږى چې نبى ﷺ خوپه اتفاق سره دټولوپيغمبرانونه افضل دې نوبيادداسې كس قول ته غلط ولې وئيلې شوى دى.

① ددې يوجواب داددې چې نبى ﷺ دعاجزئ اودخپل نفس دښكته كولودپاره دافرمائيلى دى.(٢)

دويم جواب داوركړې شوې دې چې نبى ﷺ دارشاد په هغه وخت كښې كړې ووكله چې دوى ته دنوروپيغبرانوپه مقابله كښې دخپل ځان دفضيلت علم نه ووحاصل (٣)

دريم جواب داوركړې شوې دې چې ددې نه په نفس نبوت كښې دفضيلت نفى مراد ده ځكه چې په نفس نبوت كښې ټول انبياء برابردى.(٤)

④ اوڅلورم جواب داوركړې شوې دې چې دنبى ﷺ ددې ارشادنه دداسې فضيلت نفى مقصود ده چې په هغې سره دحضرت يونس (عليه السلام) دتحقير اوتنقيص شبه پيداشى.(٥)

١٠٧-باب: يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ وَهُوَ يَرِثُهَا إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهَا وَلَدٌ

وَالْكَلَالَةُ مَنْ لَمْ يَرِثْهُ أَبٌ أَوِ ابْنٌ وَهُوَ مَصْدَرٌ مِنْ تَكَلَّلَهُ النَّسَبُ.

[٤٣٢٩] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ-رضى الله عنه قَالَ آخِرُ سُورَةٍ نَزَلَتْ بَرَاءَةَ، وَآخِرُ آيَةٍ نَزَلَتْ (يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ»[ر: ٤١٠٦]

د كلاله تفسير :د كلاله په تفسير كښې دعالمانواختلاف دې اوڅلوراقوال په كښې مشهوردى.

① يوقول دا دې چې كلاله دهغه مړى مال موروث ته وائى چې دكوم مړې ولداو والدنه وى

② دويم قول دا دې چې كلاله اسم مصدر دې او دهغه مړى د وراثت ته وائى دكوم مړى چې

(١) فتح البارى : كتاب احاديث الانبياء باب: وان يونس لمن المرسلين، ٦/٤٥١_

(٢) عمدة القارى(ج١٨ص ١٩٤) _

(٣) فتح البارى ،كتاب احاديث الانبياء (ج٦ص٤٢٥)_

(٤) فتح القديرللشوكانى(ج١ ص٤٥٢) _

(٥) فتح البارى (ج٦ص٤٢)،كتاب احاديث الانبياء _

ولد او والد نه وي ـ

③ دريم قول دادې چې كلاله دهغه وارثانونوم دې چې په هغوى كښې څوك ولد اووالد نه وي په دې صورت كښې به دمړى رويان كلاله وي.

④ څلورم قول دادې چې دهغه مرى نوم دې دچاچې خوئ اوپلار ژوندى موجودنه وى هم دادجمهوروقول دې

خوپه قرآن اوحديث كښې دكلاله اطلاق په مړى باندې هم شوې دې اوپه وارث باندې هم په آيت باب اوآيت ميراث كښې د وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ كَلٰلَةً كښې دكلاله اطلاق په مړى باندې شوې دې اودحضرت جابر(رض) په حديث كښې په (انمايرثنى كلالة) كښې دكلاله نه وارث مراددې

ددې وجې په ظاهره دامعلوميږى چې دكلاله لفظ په يوخاص حالت كښې دمړى اووارث دواړو دپاره استعماليږى اودا په خاص حالت كښې دولداووالدنه موجودكيدل دى (١)

دويم بحث دادې چې لفظ دكلاله په لغوى اعتبار سره څه دې اوڅه نه مشتق دې ؟ امام بخارى رحمه الله دلته دابوعبيده قول نقل كړې دې چې كلاله مصدردې د(تكلل) نه .د(تكلله النسب) ترجمه علامه عينى كړې ده (تطرفه) (٢)يعنى طرف ته كيدل (لكه څنګه چې ابن العم دې چې دادعمود نسب ځنى نه بلكه په طرف كښې وى خودكلاله په صورت كښې هغه دپلار اومور طرف اخلى) يعنى دكلاله په صورت كښې داصول اوفروع دميراث حصه په اطرافوكښې واقع خپلوانوته ملاويږى.

اوبعضې وائى چې كلاله د(اكليل)نه ماخوذده معنى ئې تاج راځى ،

لكه څنګه چې تاج په سرباندې احاطه كړې وى دغه شان كلاله دغه مړې راګير كړې وى (٣)

اوبعضې وائى چې كلاله د (كلال) په معنى دې اودكلال معنى ده ستړې كيدل (٤) كوم چې په ضعف باندې دلالت كوى .دپلار اوخوې دقرابت نه سوابل قرابت ته كلاله وئيلې شوې ده ځكه چې داقرابت دپلار اوخوې قرابت ته په نسبت سره كمزورې وى .

كلاله ته دلته مصدر وئيلې شوې دې .علامه عينى په دې باندې اشكال كړې دې اووئيلې دى چې دباب تفعل مصدر داڅنګه كيدې شى ځكه چې داپه دې وزن باندې نه دې ،نوځكه دامصدر نه دې بلكه اسم مصدردې (٥)

دآيت باب نه بعضې شيعه ګانواستدلال كړې دې اووئيلې دى چې كلاله هغه دې چې دهغه اولاد نه وى .اګرچې پلار ئې وى ځكه چې په آيت كښې صرف دولد نفى ده.

---

(١) دذكرشووقسمونودتفصيل دپاره اوګورئ.تكملة فتح الملهم(٢٠و١٩) وشرح مسلم للنووى (ج٢ص٣٥)

(٢) عمدة القارى(ج١٨ص١٩٥)ـ

(٣) شرح مسلم للنووى (ج٢ص٣٥)ـ

(٤) فيض البارى(ج٤ص١٧٧) ـ

(٥) عمدة القارى(ج١٨ص١٩٥)ـ

الکللة ان امرؤا هلك ليس له ولد،
خودا استدلال صحيح نه دې آيت كريمه كښې دوالد نفى ددې وجې نه شوې ده چې داهل عرب په نيز دکلاله معنى مشهوره وه چې دچاپلار اومور دواړه نه وى ددې وجې دنفى الوالدتصريح قرآن نه دې کړې (۱)

اوعلامه خطابى رحمه الله فرمائيلى دى چې په آيت كريمه كښې د(ولد) نه ولادت من جانب اعلى اومن جانب اسفل دواړه مراد دى .(ليس له ولد اى ولادة فى الطرفين ان اعلى واسفل) دولادت جانب اعلى دنفى نه پلار اودولادت جانب اسفل دنفى نه ولدمراددې ((دهومعنى قول الصحابة الفقهاء ان الكلالة من ليس له ولدولا والد)(۲)

۱۰۸- تفسیرسورة المَـائِدَةِ

(حُرُمٌ) وَاحِدُهَا حَرَامٌ. (فَبِمَا نَقْضِهِمْ) بِنَقْضِهِمْ (الَّتِي كَتَبَ اللَّهُ) جَعَلَ اللَّهُ (تَبُوءَ) تَحْمِلُ (دَائِرَةٌ) دَوْلَةٌ. وَقَالَ غَيْرُهُ الإِغْرَاءُ التَّسْلِيطُ (أُجُورَهُنَّ) مُهُورَهُنَّ. الْمُهَيْمِنُ الأَمِينُ، الْقُرْآنُ أَمِينٌ عَلَى كُلِّ كِتَابٍ قَبْلَهُ.

سورة المائدة

د کلماتو تشریح:

قوله: أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ:
ستاسو څاروى حلال کړې شوى دى .خوهغه څناورچې دهغې حرمت تاسوته بيان کړې شى (هغه ستاسودپاره حلال نه دى)خود احرام په حالت كښې ښكارحلال مه گڼئ.
امام بخارى رحمه الله فرمائى . چې د(حرم) واحد(حرام) دې په معنى دمحرم

قوله: فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيثَاقَهُمْ: (فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً) امام بخارى رحمه الله فرمائى چې په (فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيثَاقَهُمْ
كښې ((ما)) زائده ده .

قوله: الَّتِي كَتَبَ اللَّهُ جَعَلَ اللَّهُ: يَا قَوْمِ ادْخُلُوا الأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِي كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ موسى (عليه السلام) اوئيل اى قومه، دې پاکې زمكې (دشام ملك، ته داخل شئ كومه چې الله ستاسودپاره ليكلې ده يعنى په آيت كښې (كَتَبَ اللَّهُ) د (جَعَلَ اللَّهُ) په معنى كښې دې يعنى الله مقرر کړې ده.

قوله: تبوء تحمل : إِنِّي أُرِيدُ أَنْ تَبُوءَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ په دې كښې د(تبوء) تفسيرئې په (تحمل) سره كړې.

---

۱) شرح مسلم للنووى (ج ۲ ص ۳۵) وتكملة فتح الملهم (ج۲ص ۳۱) _
۲) معالم لسنن (ج ٤ص ١٤١و١٤٢) _

دي (١) داتفسيرابوعبيده کړي دي.

قوله: دائرة دولة: ﴿يَقُولُونَ نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ﴾ تفسيريه (دولة) سره کړي دي چې معنى ئې ګردش انقلاب اومصيبت دې دادمنافقانوقول دې کوم چې به کافرانوته ورتلل او دخپلې دوستۍ اظهاربه ئې کولواوکله چې به چادوى لره په دې حرکت باندې ملامته کول نوويل به ئې زمونږويره ده چې مونږ په څه مصيبت کښې اخته نشويعنى دنبى ﷺ کاميابى اوغلبه څه يقينى نه ده، ممکن ده چې په حالاتوکښې انقلاب راشى اومسلمانان مغلوبه شى نوپه دغه وخت کښې به کافران مونږمخالف اوګڼړى اوقتل به موکړى اوددې ويرې دوجې مونږ د کافرانو سره رابطه ساتواوهغوى ته ورځو.

قوله: وقال غيره الاغراء التسليط: ﴿فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾ نومونږ دهغوى په مينځ کښې دشمنى اوکينه واچوله کومه چې به ترقيامته پورې جارى وى.

په دې آيت کښې لفظ د(اغرينا) تفسيرشوې دې چې (اغراء) په معنى دتسليط دې يعنى مونږ د نصرانيانوپه خپل مينځ کښې دښمنى اوکينه ترقيامته پورې مسلط کړه. داتفسير باللازم دې

اکثرمفسرين د(اغرينا) تفسيرپه (القينا) سره کوى اوهم داواضح دې ځکه چې په بل ځائې کښې سورة مائده آيت نمبر ۶۴ کښې دالله تعالى ارشاد دې ﴿وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾

قوله: قال سفيان ما فى القران آية اشدعلى: حضرت سفيان ثورى رحمه الله چې دقرآن کريم يوآيت هم په ما باندې دومره ګران اوسخت نه دې څومره چې داآيت ﴿لَسْتُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ﴾ حضرت سفيان ثورى ته داآيت ځکه ګران اومشکل معلوم شوچې په دې کښې دتورات انجيل اوقرآن ټولوباندې دعمل کولومطالبه کړې ده (٢)

قوله: من احياها يعنى من حرم قتلها الا بحق حيى الناس منه جميعا: ﴿وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا﴾ امام بخارى رحمه الله داحياء تفسيرپه تحريم قتل سره ددې وجې کړې دې چې احياء په حقيقت دالله جل شانه صفت دې، غيرالله ته ژوندې کونکې نشى وئيلې

---

(١) يعنى ان تبوء ههنا ليست بمعنى جعل الشئ وطنا كما فى قوله ،تبوءوالداروالايمان بل بمعنى الحمل والنكتة فى تعبيره بلفظه دون لفظ آخرمما فيه معنى الحمل اشارة الى انه باجترام هذه الكبيرة يقحم فيهافكانه محطاط بهااحاطة المكان بالمتمكن...(وانظرلامع الدرارى(ج۹ص ۶۰و۶۱)

(٢) وسبب نزول هذه الاية ما رواه ابن ابى حاتم عن ابن عباس رضى الله عنهما قال جاء مالك بن الضيف وجماعة من الاحبارفقالوا: يامحمد الست تزعم ان انک على ملة ابراهيم وتؤمن بما فى التوراة والانجيل وتشهد انها حق قال بلى، ولكناكم كتمتم منها مالمرتم ببيانه فانا ابرامماحدث ثتموه قالا:انانتمسک بمافى ايدينا من الهدى والحق ولانؤمن بک ولا بماجئت به فانزل الله تعالى هذه الاية قل يااهل الكتاب لستم على شئ) عمدة القارى(ج۱۸ص ۱۹۶) _

.ددې وجې په آيت کښې احياء په مجازی معنی باندې مستعمل ده اومجازی معنی دتحريم ده يعنی چاچې دنفس قتلول حرام کړی دی لکه چې دۀ ټول خلق ددې تحريم قتل په وجه ژوندی اوساتل ،مطلب داددې چې دنفس قتلول حرام ګڼرونکې په حقيقت کښې دټولو خلقو دژوند سبب جوړيږی ګنی که څوک يوکس قتل کړی نودمقتول کسان به دهغه په بدله کښې دوه قتل کوی اوبيابه هغه په بدله کښې څلورقتلوی اودغه شان به دقتل دائره لويه شی.

قوله: شِرۡعَةً وَمِنۡهَاجًا سبيلا وسنة: لِكُلٍّ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةً وَمِنۡهَاجًا (شرعة) تفسيرئې په (سنة) او(منهاج) تفسيرئې په (سبيل) سره کړې دې . دالف نشر غير مرتب دې په کتاب الايمان کښې ددې تفصيل تيرشوې دې.

قوله: الْمُهَيْمِنُ الأَمِينُ ،الْقُرْآنُ أَمِينٌ عَلَى كُلِّ كِتَابٍ قَبْلَهُ: وَاَنزَلۡنَاۤ اِلَيۡكَ الۡكِتٰبَ بِالۡحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ الۡكِتٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِ،په دې کښې ئې د(مهيمن)تفسيرپه (امين) سره کړې دې ،داد(هيمن)نه ماخوذ دې چې معنی ئې حفاظت کول راځي ،قرآن مجيدته (مهيمن) وئيلې شوی دی خکه چې دادټولواسمانی کتابونودمضامينوامين اومحافظ دې.

۱۰۹=باب: اَلۡيَوۡمَ اَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِيۡنَكُمۡ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مَخْمَصَةٌ مَجَاعَةٌ.

قوله: فَمَنِ اضۡطُرَّ فِىۡ مَخۡمَصَةٍ غَيۡرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثۡمٍ: نوکوم کس چې دلوږې دسختې نه مجبوره شی خوپه دې شرط چې ګناه طرف ته ئې ميلان نه وی . په دې آيت کښې (مخمصة) د(مجاعة)په معنی کښې دهيعنی سخته لوږه.

[۴۳۳۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ قَيْسٍ عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَتِ الْيَهُودُ لِعُمَرَ إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ آيَةً لَوْ نَزَلَتْ فِينَا لاَتَّخَذْنَاهَا عِيدًا. فَقَالَ عُمَرُ إِنِّي لأَعْلَمُ حَيْثُ أُنْزِلَتْ، وَأَيْنَ أُنْزِلَتْ، وَأَيْنَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حِينَ أُنْزِلَتْ يَوْمَ عَرَفَةَ، وَإِنَّا وَاللَّهِ بِعَرَفَةَ - قَالَ سُفْيَانُ وَأَشُكُّ كَانَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمْ لاَ - (الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ).

د حديث باب تشريح: داروايت په کتاب الايمان کښې تيرشوې دې [1]

دلته دی چې يهوديانو دحضرت عمر رضی الله عنه نه سوال اوکړواود کتاب الايمان په روايت کښې دی چې په يهودو کښې يوسړی سوال اوکړوداسړې کعب بن احباروو. لکه څنګه چې مسددپه خپل مسند کښې طبری په خپل تفسيرکښې اوطبرانی په خپل معجم کښې بيان کړې دې. [2]

[1] صحيح البخاری کتاب الايمان باب زيادة الايمان ونقصانه رقم (۴۵)

[2] فتح الباری (ج۱ص ۱۰۵) باب زيادة الايمان ونقصانه) _

کعب بن احبار وئیلی دی که دا آیت چرته مونږ کښې نازل شوې وو نومونږ به ددې یوم نزول لره یوم العید جوړ کړې وو ددې وجه دا ده چې په دې آیت کښې الله جل شانه دې امت ته ډیرلوئې اعزاز ورکړې دې په دوی باندې ئې دخپل خاص انعام ذکر کړې دې . دویم داتمام نعمت تذکره ده چې په تاسو باندې ماخپل نعمت مکمل کړواودویم دا چې په آخرکښې ئې وئیلي دي (ورضیت لکم الاسلام دینا) په ټولو آسمانی دینونو کښې مونږ دین اسلام ستاسو دپاره منتخب کړو.

حضرت عمر رضی الله عنه فرمائیلي دی ماته هغه ورځ هم معلوم دې کله چې په نبی ﷺ باندې داآیت نازل شوې وو یعنی دعرفې ورځ وه او نبی علیه السلام په میدان عرفات کښې وو . دکتاب الایمان په روایت کښې دجمعې دورځې تصریح هم شته .

داسحاق په روایت کښې دی (وکلاهما بحمدالله لنا عید) (۱) یعنی دجمعې اودعرفې ورځ زمونږ دپاره اختردې اوطبری په روایت کښې دی (وهمالنا عیدان) (۲)

خودلته سوال دادې چې دجمعې ورځ خویقینا دخالی دورځې اختردې خودعرفې ورځې ته ئې څنګه اختراووئیل . نوددې جواب دا دې چې یوم النحر په حقیقت کښې یوم العید دې ، اوچونکه هغه دعرفې سره متصل دې اونږدې څیزته هم دهغه څیزحکم بعضې وخت ورکولې شی ددې وجې یوم عرفې ته اختروائی .(۳)

اوداهم وئیلې شی چې دحاجیانو اصلی اخترخودعرفې ورځ ده ځکه چې هم په دې ورځ دحج رکن اعظم وقوف عرفه ادا کولې شی .

قوله: وَأَشُكُّ كَانَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمْ لَا: سفیان ثوری دلته فرمائی چې ما ته په دې کښې شک دې چې دغه دعرفې ورځ دجمعې ورځ وه که نه .حافظ ابن کثیر په خپل تفسیر کښې دبخاری دروایت دنقل کړی روایت نه پس دسفیان ثوری داجمله نقل کړې ده اوپه دې باندې ئې تبصره کړې ده فرمائیلی ئې دی چې دسفیان ثوری که چرته شک په دې کښې وی چې ددهٔ دشیخ په روایت کښې د(یوم الجمعة) ذکر کړې دې اوکه نه . نودادهغوی په تقوی او ورع باندې دلالت کوی چې هغوی دابیان کړوچې ماته دخپل شیخ دا خبره صحیح یاده نه ده چې هغوی دیوم الجمعة ذکر کړې ووکه نه .

خوکه ددوی شک په دې خبره کښې وی چې په نفس الامر اوحقیقت کښې یوم عرفه په یوم الجمعه کښې واقع شوې وه که نه ؟ نوزهٔ نه پوهیږم چې دسفیان ثوری غوندې محدث ته به داسې ښکاره اومتفق علیه کښې شک وی ځکه چې اصحاب مغازی په دې خبره متفق دي چې یوم عرفه په یوم الجمعة کښې واقع شوې وه په دې باره کښې روایات تواترسره ثابت دی(۴)

---

(۱) فتح الباری ج۱ص۱۰۵) کتاب الایمان باب زیادة الایمان ونقصانه) _

(۲) فتح الباری ج۱ص۱۰۵) کتاب الایمان باب زیادة الایمان

(۳) و التخذو ایوم عرفة عید الانه لیلة العید (فتح الباری ج۱ص۱۰۵) _

(۴) تفسیر ابن کثیر (ج۲ص۱۳) سورة المائدة _

ددې وجې په ظاهره هم دامعلومیږی چې دسفیان ثوری په دې کښې شک نه ووچې دعرفې ورځ په یوم الجمعة کښې واقع شوې وه شک ورته په دې کښې ووچې ددوی شیخ دروایت بیانولوپه وخت کښې دیوم الجمعة ذکرکړې ووکه نه ؟

صاحب دخیرجاری په دې کښې چې دعرفې ورځ دجمعې په ورځ کښې راغلې وه نودسفیان ثوری توجیه بیانوی چې مشهوره داده چې رسول الله ﷺ وفات دګل په ورځ واقع شوې وی نوبیا په هیڅ صورت کښې د۱۲ ربیع الاول ۱۱ هه باندې شوې وونوکه یوم عرفه دجمعې په ورځ واقع شوې وی نوبیاپه هیڅ صورت کښې د۱۲ربیع الاول ۱۱هه تاریخ دګل ورځ نه راځی اګرکه ذوالحجه محرم اوصفردیرشوورځواومنلې شی یادیوکم دیرشویابعضې د‌دیرشواوبعضې دیوکم دیرشو،ددې وجې دسفیان ثوری شک شوې دې چې یوم عرفه دجمعې ورځ وه که نه ؟(۱)

خولکه څګنه چې مونږ ذکرکړوچې دجمعې ورځ دعرفې په ورځ راتلوکښې دچااختلاف نشته اوپه دې باره کښې روایات حدتواترته رسیدلی دی . باقی داخبره چې مونږپه کتاب المغازی. کښې په تحقیق سره بیان کړې ده چې درسول الله ﷺ وفات په یکم ربیع الاول ۱۱ هه کښې شوې وو. دنبی ﷺ دوفات چې دګل په ورځ دولسم ربیع الاول کوم قول مشهوردې داتحقیقی نه دې .(۲)

۱۱۰ = باب : فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا

تَيَمَّمُوا تَعَمَّدُوا. (آمِّينَ) عَامِدِينَ. أَمَّمْتُ وَتَيَمَّمْتُ وَاحِدٌ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَمَسْتُمْ وَتَمَسُّوهُنَّ وَاللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ وَالْإِفْضَاءُ النِّكَاحُ.

په ذکرشوې آیت کښې (فَتَيَمَّمُوا) په معنی د(تعمدوا) دې یعنی چې تاسوقصد اوکړئ تاسواراده اوکړئ ،دغه شان په دویم آیت کښې (وَلَآ آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ)په دې کښې (آمین) په معنی د(عامدین) ،دې ،یعنی قصدکونکې ،اراده کونکې ،(امت)او(تیممت)دواړه په یوه معنی دی یعنی قصدکول .

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَمَسْتُمْ وَتَمَسُّوهُنَّ وَاللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ وَالْإِفْضَاءُ النِّكَاحُ: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چې په قرآن مجید کښې ذکرشوڅلوروواړو الفاظو معنی نکاح یعنی وطی ده .(لامستم) په دې آیت کښې واقع دې (وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ) او(تَمَسُّوهُنَّ) دسورة بقرې په آیت کښې دې (وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ) او په سورة نساء کښې دې (الَّتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ) او(أَفْضَى) او هم په سورة نساء

---

(۱) حاشیه صحیح بخاری (ج۲ص۶۶۲)

(۲) کشف الباری کتاب المغازی (۶۷و۶۸)

كنبى دي «وكيف تأخذونه وقد وكيف تأخذونه وقد أفضى بعضكم إلى بعض»

[٤٣٣١ و ٤٣٣٢] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - زَوْجِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ أَوْ بِذَاتِ الْجَيْشِ انْقَطَعَ عِقْدٌ لِي، فَأَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى الْتِمَاسِهِ، وَأَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ فَأَتَى النَّاسُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ فَقَالُوا أَلاَ تَرَى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُ أَقَامَتْ بِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَبِالنَّاسِ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ، فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ وَرَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَاضِعٌ رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِي قَدْ نَامَ، فَقَالَ حَبَسْتِ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَالنَّاسَ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ قَالَتْ عَائِشَةُ فَعَاتَبَنِي أَبُو بَكْرٍ، وَقَالَ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقُولَ، وَجَعَلَ يَطْعُنُنِي بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِي، وَلاَ يَمْنَعُنِي مِنَ التَّحَرُّكِ إِلاَّ مَكَانُ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى فَخِذِي، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ التَّيَمُّمِ فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ مَا هِيَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِي بَكْرٍ. قَالَتْ فَبَعَثْنَا الْبَعِيرَ الَّذِي كُنْتُ عَلَيْهِ فَإِذَا الْعِقْدُ تَحْتَهُ.

[٤٣٣٣] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْقَاسِمِ حَدَّثَهُ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - سَقَطَتْ قِلاَدَةٌ لِي بِالْبَيْدَاءِ وَنَحْنُ دَاخِلُونَ الْمَدِينَةَ، فَأَنَاخَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - وَنَزَلَ، فَثَنَى رَأْسَهُ فِي حَجْرِي رَاقِدًا، أَقْبَلَ أَبُو بَكْرٍ فَلَكَزَنِي لَكْزَةً شَدِيدَةً وَقَالَ حَبَسْتِ النَّاسَ فِي قِلاَدَةٍ. فَبِي الْمَوْتُ لِمَكَانِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَقَدْ أَوْجَعَنِي، ثُمَّ إِنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - اسْتَيْقَظَ وَحَضَرَتِ الصُّبْحُ فَالْتُمِسَ الْمَاءُ فَلَمْ يُوجَدْ فَنَزَلَتْ (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلاَةِ) الآيَةَ. فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ لَقَدْ بَارَكَ اللَّهُ لِلنَّاسِ فِيكُمْ يَا آلَ أَبِي بَكْرٍ، مَا أَنْتُمْ إِلاَّ بَرَكَةٌ لَهُمْ.

١١١ - باب: (فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلاَ إِنَّا هَا هُنَا قَاعِدُونَ)

[٤٣٣٤] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ مُخَارِقٍ عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ سَمِعْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ - رضى الله عنه - قَالَ شَهِدْتُ مِنَ الْمِقْدَادِ وَحَدَّثَنِي حَمْدَانُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ حَدَّثَنَا الأَشْجَعِيُّ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مُخَارِقٍ عَنْ طَارِقٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ الْمِقْدَادُ يَوْمَ بَدْرٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا لاَ نَقُولُ لَكَ كَمَا قَالَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ لِمُوسَى (فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلاَ إِنَّا هَا هُنَا قَاعِدُونَ) وَلَكِنِ امْضِ وَنَحْنُ مَعَكَ. فَكَأَنَّهُ سُرِّيَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله

عليه وسلم-. وَرَوَاهُ وَكِيعٌ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مُخَارِقٍ عَنْ طَارِقٍ أَنَّ الْمِقْدَادَ قَالَ ذَلِكَ لِلنَّبِي -صلى الله عليه وسلم-.

حمدان بن عمر: امام بخارى رحمه الله داحديث په دووسندونوباندې بيان كړې دې. يوتحويل سره اوبل دتحويل نه پس دتحويل دوړاندې سند الفاظ امام په كتاب المغازى كښې بيان كړې دى اوبل سند دتحويل نه پس دې، ددې الفاظ امام بخارى رحمه الله دلته پيش كوى. دحمدان بن عمر په بخارى كښې صرف دا يوروايت دې، ددوى نوم احمدبن عمرحميرى دې اوپه حمدان سره مشهوردې، علامه مزى ددوى په باره كښې فرمائى (روى عنه البخارى مقروناً بغيره) يعنى امام بخارى رحمه الله يواځې ددوى نه روايت نه كوى بلكه دبل راوى سره ئې يوځاې كوى اوددوى نه روايت كوى لكه څنګه چې دلته دې.

خطيب بغدادى ددوى په باره كښې فرمائى. (ثقة)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى (صدوق من الحادية عشرة)

ددوى وفات په كال ٢٥٨ هجرى كښې شوې دې [1]

قوله: رواه وكيع عن سفيان: داتعليق دې، دارقطنى داموصولاً ذكر كړې دې [2]

١١٢-باب: إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا) إِلَى قَوْلِهِ (أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الأَرْضِ)

الْمُحَارَبَةُ لِلَّهِ الْكُفْرُ بِهِ.

قوله: الْمُحَارَبَةُ لِلَّهِ الْكُفْرُ بِهِ: دلته داپيژندل دى چې محاربه آيا دكافرانودطرفه وى اوكه داهل ايمان دطرفه هم محاربه مقصودده، امام بخارى رحمه الله دلته ښكاره ونيلى دى، (المحاربة لله: الكفربه) يعنى ددوى رائې داده چې محاربه صرف دكافرانودطرفه وى. دغه شان وړاندې په كتاب المرتدين والمحاربين كښې دعرينين واقعه نقل كوى. دهغې نه هم ددې خبرې تائيد كيږى چې دامام بخارى رحمه الله په نيزمحاربه صرف دكافرانودطرفه وى. هلته امام بخارى رحمه الله دمحاربين سره د (من اهل الكفر والردة) الفاظ هم زيات كړى دى.

خودجمهورو مسلک دادې چې محارب كافرهم كيدېشى اومؤمن هم [3]

د محاربينو سزا: بياپه دې كښې اختلا ف دې چې دمحاربينوسزابه څه وى؟ دقرآن مجيدپه

---

[1] دذكر شوى تفصيل دپاره اوګورئ (عمدة القارى (ج١٨ص٢٠٢) وتقريب التهذيب (ج٨٣ رقم الترجمة ٨٣ وتهذيب الكمال (ج١ ص ٤١٤و ٤١٥) _

[2] عمدة القارى (ج١٨ص٢٠٣)

[3] فيض البارى (ج ٤ص١٧٧) _

دې آيت کښې څلور څيزونه بيان شوی دی ① تقتيل ② تصليب ③ قطع ايدی وارجل من خلاف ④ نفی من الارض. دامام مالک رحمه الله مذهب دادې چې امام ته اختيار دې په دې څلوروسزاګانو کښې چې هغه محاربين ته کومه سزاورکول غواړی ورکولې شی.(١)

خودنوروفقهاؤپه نيزدې کښې تفصيل دې اود مختلفوصورتونو مختلف احکام دی.

① که محارب مال اخستې وی اوقتل ئې نه وی کړې نوددهٔ لاسونه اوپښې به من خلاف قطع کولې شی خوداپه هغه وخت کښې دی کله چې مال په اندازه دنصاب سرقه وی. د احنافو.شوافعواوحنابلو رحمهم الله په نيز به دې صورت کښې هم داحکم دې(٢)

② که محارب مال نه وی اخستې خوصرف قتل ئې کړې وی نوپه داسې صورت کښې به دې حدا قتل کولې شی نوکه دمقتول اولياء ئې معاف کړی.بيابه هم قتل کولې شې .ددې صورت حکم دڅلوروواړو امامانومتفق عليه دې .دټولوپه نيزدپه حدا قتل کولې شی (٣)

③ که محارب قتل هم کړې وی اومال ئې هم اخستې وی نوپه دې صورت کښې داحنافوپه نيزامام ته اختيار دې که هغه ددهٔ لاسونه اوپښې هم کټ کړی قتل ئې هم کړی اوپه سولئ ئې هم کړی .ياصرف قتل ئې کړی يائې صرف په سولئ کړی.

دشوافعواوحنابلو رحمهم الله په نيزدپه دې صورت کښې به ئې قتل کوی اوپه سولئ کوی به ئې ،ددهٔ پښې اولاسونه به نشی کټ کولې (٤)

④ څلورم صورت دادې چې محارب نه قتل کړې وی اونه ئې مال اخستې وی .صرف خلق ئې ويرولې وی نوپه دې صورت کښې داحنافواوشوافعوپه نيزددې به دتعزيرنه پس قيد کولې شی .تردې چې دې توبه اوباسی داسې توبه چې دهغې آثارددهٔ په مخ کښې ښکاره وی.

دحنابلؤ په نيزپه دې صورت کښې به دې دټولوښارونو نه اوشړلې شی .په هيڅ يو ښارکښې به دهٔ ته استوګنه نه ورکولې شی (٥) څکه چې په آيت کريمه کښې دی .﴿أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ﴾ اوجمهور عالمان د نفی من الارض تفسيرپه حبس اوقيدسره کوی.(٦)

---

(١) تکملة فتح الملهم (ج٢ص٣١٢) _

(٢) تکملة فتح الملهم (ج٢ص٣١٢) ومغنى المحتاج (ج٤ص١٨٢) والمغنى لابن قدامة (ج١٠ص٣١٣) _

(٣) تکملة فتح الملهم (ج٢ص٣١٢) ومغنى المحتاج (ج٤ص١٨٢) والمغنى لابن قدامة (ج١٠ص٣١٣) _ والدردير(ج٤ص٤٩٥) _

(٤) تکملة فتح الملهم (ج٢ص٣١٢) ومغنى المحتاج (ج٤ص١٨٢) والمغنى لابن قدامة (ج١٠ص٣١٣) _

(٥) تکملة فتح الملهم (ج٢ص٣١٢) ومغنى المحتاج (ج٤ص١٨٢) والمغنى لابن قدامة (ج١٠ص٣١٣) _

(٦) واما لانفى من الارض فقدفسره الجمهوروباحبس .لان النفى عن وجه الارض غيرممكن ،الى بلدة اخرى استضراربالغيرفتعين ان يكون المرادالحبس لان المحبسوس منقطع الدنيا ولذاقال صالح بن عبدالقدوس حين حبسوه :خرجنا من الدنياى ونحن من اهلها : فلسنا من لاموات فيها ولا الاحياء : اذجاءنا السجان يومالحاجة: عجبنا وقلنا جاء هذا من الدنيا (وانظرغرائب القرآن للنيسابورى بهامش ابن جرير (ج٦ص١٢٧) واعلاء السنن (ج١١ص٧٢٣) واحكام القرآن للجصاص (ج٢ص١٤و٤٠٦) والجامع لاحكام القرآن (ج٦ص١٥٣و١٥١) _

فائده: اکثرومفسرینود ﴿وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا﴾ نه لارد شوكول اوړاكه مراداخستې ده خوكه الفاظ په عموم باندې پاتې شي نومضمون زيات وسيع كيږي .كوم شان نزول اواحاديث چې بيان شوى دى هغه هم ددې مقتضى دى چې الفاظ په خپل عموم باندې پريخودې شي چې په دې كښې دكافرانوحملې دارتددفتنه شوكه ډاكه په ناحقه قتل اولوټ ،مجرمانه سازشونه ،دبغاوت پروپيګنډې ،ټولې داخليدې شي ،اوداذكرشوې سزاګانې دقيدنه وړاندې په توبه ويستلوسره معاف كيږي خوحقوق العباد خكه چې ددې دمعاف كولوصاحب حق ياولى دمقتول ته وى اوددې حدنه سواباقي نورحدود مثلا حدزنا حدشرب خمرحدسرقه . ،حدقذف ،په توبې سره مطلقانه ساقطيږي .(١)

[۴۳۳۴] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيُّ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ قَالَ حَدَّثَنِي سَلْمَانُ أَبُو رَجَاءٍ مَوْلَى أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ أَنَّهُ كَانَ جَالِسًا خَلْفَ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، فَذَكَرُوا وَذَكَرُوا فَقَالُوا وَقَالُوا قَدْ أَقَادَتْ بِهَا الْخُلَفَاءُ، فَالْتَفَتَ إِلَى أَبِي قِلاَبَةَ وَهُوَ خَلْفَ ظَهْرِهِ، فَقَالَ مَا تَقُولُ يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ زَيْدٍ أَوْ قَالَ مَا تَقُولُ يَا أَبَا قِلاَبَةَ قُلْتُ مَا عَلِمْتُ نَفْسًا حَلَّ قَتْلُهَا فِي الإِسْلاَمِ إِلاَّ رَجُلٌ زَنَى بَعْدَ إِحْصَانٍ، أَوْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ، أَوْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ - صلى الله عليه وسلم -. فَقَالَ عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا أَنَسٌ بِكَذَا وَكَذَا. قُلْتُ إِيَّاىَ حَدَّثَ أَنَسٌ قَالَ قَدِمَ قَوْمٌ عَلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَكَلَّمُوهُ فَقَالُوا قَدِ اسْتَوْخَمْنَا هَذِهِ الأَرْضَ. فَقَالَ «هَذِهِ نَعَمٌ لَنَا تَخْرُجُ، فَاخْرُجُوا فِيهَا، فَاشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا». فَخَرَجُوا فِيهَا فَشَرِبُوا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا وَاسْتَصَحُّوا، وَمَالُوا عَلَى الرَّاعِي فَقَتَلُوهُ، وَاطَّرَدُوا النَّعَمَ، فَمَا يُسْتَبْطَأُ مِنْ هَؤُلاَءِ قَتَلُوا النَّفْسَ وَحَارَبُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ، وَخَوَّفُوا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -. فَقَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ. فَقُلْتُ تَتَّهِمُنِي قَالَ حَدَّثَنَا بِهَذَا أَنَسٌ. قَالَ وَقَالَ يَا أَهْلَ كَذَا إِنَّكُمْ لَنْ تَزَالُوا بِخَيْرٍ مَا أُبْقِيَ هَذَا فِيكُمْ أَوْ مِثْلُ هَذَا.

داروايت ددې نه وړاندې په كتاب المغازى كښې مختصرتيرشوې دې اودلته هم داروايت مختصر دې په دیات كښې داروايت په تفصيل سره راروان دې اوهلته به انشاء الله خبره هم كيږي.

١١٣- باب: وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ

[۴۳۳۵] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ سَلاَمٍ أَخْبَرَنَا الْفَزَارِيُّ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه - قَالَ كَسَرَتِ الرُّبَيِّعُ - وَهْىَ عَمَّةُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - ثَنِيَّةَ جَارِيَةٍ مِنَ الأَنْصَارِ، فَطَلَبَ الْقَوْمُ الْقِصَاصَ، فَأَتَوُا النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَأَمَرَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِالْقِصَاصِ. فَقَالَ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ عَمُّ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ لاَ وَاللَّهِ لاَ تُكْسَرُ سِنُّهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -

---

(١) تفسيرعثمانى (١٥٠) _

صلى الله عليه وسلم -«يَا أَنَسُ كِتَابُ اللَّهِ الْقِصَاصُ». فَرَضِيَ الْقَوْمُ وَقَبِلُوا الأَرْشَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لأَبَرَّهُ».

۱۱۴- باب: يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ

[۴۳۳۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ -رضى الله عنها- قَالَتْ مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا -صلى الله عليه وسلم- كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُنْزِلَ عَلَيْهِ، فَقَدْ كَذَبَ، وَاللَّهُ يَقُولُ (يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ) الآيَةَ.

۱۱۵- باب: لاَ يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ

[۴۳۳۷] (۱) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَلَمَةَ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ سُعَيْرٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ -رضى الله عنها- أُنْزِلَتْ هَذِهِ الآيَةُ (لاَ يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ) فِي قَوْلِ الرَّجُلِ لاَ وَاللَّهِ، وَبَلَى وَاللَّهِ.

[۴۳۳۸] (۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي رَجَاءٍ حَدَّثَنَا النَّضْرُ عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - أَنَّ أَبَاهَا كَانَ لاَ يَحْنَثُ فِي يَمِينٍ حَتَّى أَنْزَلَ اللَّهُ كَفَّارَةَ الْيَمِينِ. قَالَ أَبُو بَكْرٍ لاَ أَرَى يَمِينًا أُرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا، إِلاَّ قَبِلْتُ رُخْصَةَ اللَّهِ، وَفَعَلْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ. [۶۶۲۷]

قوله: رخصة الله: اى اذنه وتسهيله على عباده فى تشريع الكفارة عند الحنث باليمين،

د يمين لغو تعريف: ددې روايت په رنړا كښې امام شافعى رحمه الله ديمين لغوتعريف كړې دې چې يمين لغوهغه وى چې انسان ديمين قصدكړې نه وى اودعام عادت اومحاورې په ډول (لا، والله بلى، والله) اووائى .برابرده كه ددې تعلق دماضى سره وى اوكه دمستقبل سره وى دخبرسره وى اوكه دانشاء سره وى .(۳)

داحنافوحضراتوپه نيزديمين لغوهغه وى چې انسان دماضى ديوكارپه باره كښې چې هغه رښتياګڼرى اوقسم اوخورى اوروسته ښكاره شى چې هغه كاردغه شان نه وو. نودې ته يمين

(۱) اخرجه البخارى فى كتاب التفسير،باب لايؤاخذكم الله باللغوفى ايمانكم ،رقم الحديث :۴۳۳۷،و ايضافى كتاب الايمان والنذور، باب لايؤاخذكم الله بالغوفى ايمانكم ،رقم الحديث: ۶۲۸۶، واخرجه ابوداؤد فى كتاب الايمان والنذور،باب لغواليمين، رقم الحديث : ۲۱۹۵، ۳۲۵۴

(۲) اخرجه البخارى فى كتاب التفسير،باب لايؤاخذكم الله باللغوفى ايمانكم ،رقم الحديث :۴۳۳۸،و ايضافى كتاب الايمان والنذور، باب لايؤاخذكم الله بالغوفى ايمانكم ،رقم الحديث: ۶۲۸۷،ولم يخرجه احدمن اصحاب الستة سوى البخارى _

(۳) التفسير المظهرى (ج۱ص۲۸۷) سورة البقرة) _

لغووائي په دې کښې نه ګناه شته او نه کفاره [1]

نو داحنافو په نيزد که يو کس «لا والله ، بلى ، والله» سره په يوداسې کار باندې قسم اوخوري چې دهغې تعلق دمستقبل سره وى ، اګرچې دۀ دقسم قصد نه وى کړې خو په داسې صورت کښې بۀ په دۀ باندې کفاره وى او دشوافعو په نيزد په داسې صورت کښې به دې حانث نه وى ځکه چې دا دهغوى په نيزد يمين لغو دې [2]

امام محمد په کتاب الاثار کښې ذکرشوې دواړه قسمونه يمين لغو شمار کړى دى ، يعنى «لا ، والله ، بلى ، والله» کښې که ديمين قصد کړې وى ، که څوک اووائى برابره ده چې تعلق دمستقبل سره نه وى ، نو دا به يمين لغو وى . دغه شان که دماضى څه خبره ده يو شان رښتيا ګنړلې وى او قسم اوخوري او هغه غلطه وى نو دا په يمين لغو کښې شامل دې [3] علامه ابن الهمام رحمه الله دامام محمد رحمه الله قول اختيار کړې دې [4]

١١٦=باب: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ

[٤٣٣٩] [5] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رضى الله عنه قَالَ كُنَّا نَغْزُو مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَلَيْسَ مَعَنَا نِسَاءٌ فَقُلْنَا أَلَا نَخْتَصِي فَنَهَانَا عَنْ ذَلِكَ، فَرَخَّصَ لَنَا بَعْدَ ذَلِكَ أَنْ نَتَزَوَّجَ الْمَرْأَةَ بِالثَّوْبِ، ثُمَّ قَرَأَ (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ

صحابو رضی الله عنهم داختصاء ، خصى کيدو اجازت اوغوښتلو نو نبى کريم صلى الله عليه وسلم منع کړل ، خصاء فى الانسان په اتفاق سره ناجائز ده او دخصاء فى الحيوان په باره کښې امام بغوى فرمائى چې په غيرماکول اللحم کښې خو مطلقا حرام ده او په ماکول للحم کښې په حالت صغر کښې جائز ده او چې لوئې شى نو دې نه پس جائز نه ده [6]

---

[1] التفسير المظهرى (ج١ص٢٨٧) سورة البقرة) _
[2] اعلاء السنن (ج١١ص٣٥١) كتاب الايمان _
[3] قال محمد فى الاثار اخبرنا ابوحنيفه عن حماد عن ابراهيم ،عن عائشة ام المؤمنين فى اللغو قالت هوكل شئ يصل به الرجل كلامه لايريد يمينا لا والله وبلى والله لا يعقدعليه قلبه قال محمد وبه ناخذومن اللغوايضا الرجل يحلف على شئ يرى انه على ماحلف عليه فيكون على غير ذلك ،فهذا ايضا من اللغو وهوقول ابى حنيفة (وانظر اعلاء السنن (ج١١ص ٣٥٠) كتاب الايمان وكتاب الاثار (١٢٥) _
[4] فتح القدير (ج٤ص٣٣٥) _
[5] اخرجه البخارى فى كتاب التفسيرباب ياايهاالذين آمنولاتحرمواماحل الله لكم رقم الحديث ٤٣٣٩ وايضافى كتاب النكاح باب تزويج المعسرالذى معه القرآن والاسلام رقم الحديث (٤٧٨٤) وايضا فى النكاح باب مايكره من التبتل والخصاء رقم الحديث (٤٧٨٧)واخرجه مسلم فى كتاب النكاح باب نكاح المتعة وبيان ابيح ثم نسخ رقم الحديث(١٤٠٤) واخرجه النسائى فى السنن الكبرى رقم الحديث (١١١٥٠)
[6] شرح مسلم للنوى (ج١ص٤٤٩) كتاب النكاح باب استحباب النكاح) _

قرطبي فرمائي دارومداريه حاجت اوضروت باندي دي (١)
په دي روايت كښي دي چې رسول الله ﷺ مونږ ته اجازت راكړې دې . چې ښځې سره دجامې په بدله كښې نكاح اوكړو يعنې متعه اوكړو بيا حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه داآيت تلاوت كړو ، (امَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا) ددې نه معلوميږي چې دحضرت ابن عباس رضي الله عنه پشان حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه هم دمتعې داباحت اعتقادساتلو اوذكرشوې آيت ئې دمتعه په باره كښې منلو.
كيدې شي چې دادهغه وخت خبره وي كله چې دمتعې دحرمت صريح علم هغوى ته نه وو اوكله چې ورته دناسخ علم اوشونوبيا هغوى دخپل قول نه رجوع كړې ده. دامام اسماعيلى په روايت كښې هم په دې حديث كښې راغلى دي .(ثم ترك ذلك)او په يوروايت كښې دى (ثم نسخ)(٢)
اوداهم ممكن ده چې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه آيت تحريم داختصاء دپاره لوستې وي اومطلب دادې چې الله تعالى دبدن دا اندام چې كوم وركړې دې .دا يونعمت دې . ددې په ذريعه تاسودحلالې جماع لذت حاصلولې شئ . دغه شان داپه طيبات كښې داخل دى .داتاسويه خپل ځان مه حراموئ او اختصاء مكوئ (٣) والله سبحانه وتعالى اعلم.
دمتعه په باره كښې تفصيلي بحث په كتاب المغازى كښې تيرشوې دې (٤)

۱۱۷: باب قوله (إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ).

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (الْأَزْلَامُ) الْقِدَاحُ يَقْتَسِمُونَ بِهَا فِي الْأُمُورِ. وَالنُّصُبُ أَنْصَابٌ يَذْبَحُونَ عَلَيْهَا، وَقَالَ غَيْرُهُ الزُّلَمُ الْقِدْحُ لَا رِيشَ لَهُ، وَهُوَ وَاحِدُ الْأَزْلَامِ. وَالِاسْتِقْسَامُ أَنْ يُجِيلَ الْقِدَاحَ فَإِنْ نَهَتْهُ انْتَهَى وَإِنْ أَمَرَتْهُ فَعَلَ مَا تَأْمُرُهُ. وَقَدْ أَعْلَمُوا الْقِدَاحَ أَعْلَامًا بِضُرُوبٍ يَسْتَقْسِمُونَ بِهَا وَفَعَلْتُ مِنْهُ قَسَمْتُ وَالْقُسُومُ الْمَصْدَرُ

فرمائي چې داستقسام نه فعلت يعنې ثلاثى مجرد قسمت دې اوددې نه مصدرقسوم، راځى (يجيل) په معنى د(يدير) دې .(يحيل القداح) غشى چورلوى.
داپه اصل كښې په جوف كعبه كښې كيخودې شوى اووه غشى ووچې په يو غشى كښې به په يوغشى باندې (امرني ربي) په دويم غشى باندې (نهاني ربي) اوپه دريم باندې (واحد منكم) په څلورم باندې (من غيركم) په پنځم باندې (ملصق) په شپږم باندې (العقل) اوپه اووم باندې (الغفل) ليكلي شوى

---

١) قال القرطبى فى غيربنى آدم ممنوع فى الحيوان الا لمنفعة حاصلة فى ذلك كتطييب اللحم اوقع ضررعنه (تعليقا لامع الدرارى (ج٩ص٦٧)_
٢) تعليقات لامع الدرارى (ج٩ص٦٧)_
٣) لامع الدرارى (ج٩ص٦٧)_
٤) كشف البارى، كتاب المغازى (٤٣٤و ٤٤٠) _

ووچې ديوكاركولونه وراندې به ئې غشي راوويستل .كله چې به په هغې باندې (امرني ربي) ليكلې شوې وونوهغه كاربه ئې كولواوكله چې به پرې ليكلې شوې وو (نهاني ربي) نوبيابه ئې نه كولو.دغه شان كه دچاپه نسب كښې به احتلاف وونوغشي به رواويستلې شوكه په هغې كښې به (واحدمنكم) ليكلې شوې وونوهغه به ئې په خپل نسب كښې شاملولواوكه (من غيركم) به په كښې ليكلې شوې وو نوهغه به ئې دخپل نسب نه بهر ګنړلو.دغه شان كه به د (ملصق) غيرراووتلونودې مطلب به داوو چې ديت وركول پكار دې اوكه هغه غشي به راووتلوپه كوم باندې چې به (الغفل) ليكې وونوهغه به ئې دوباره اچولواوبيابه ئې راوستل شروع كول څكه چې ددې غشي څه نښه نه وه. (١)

[٤٣٤٠] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ قَالَ حَدَّثَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضي الله عنهما - قَالَ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَإِنَّ فِي الْمَدِينَةِ يَوْمَئِذٍ لَخَمْسَةَ أَشْرِبَةٍ، مَا فِيهَا شَرَابُ الْعِنَبِ.

ددې مطلب دانه دې چې هلته دانګوروشراب بيخي معدوم وو بلكه قليل الووجودوو څكه چې دحضرت عمر ﷺ روايت هم په دې باب كښې وړاندې راځي .په هغې كښې د انګورو د شرابو ذكر شته.

[٤٣٤١] (٢) حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ - رضي الله عنه - مَا كَانَ لَنَا خَمْرٌ غَيْرُ فَضِيخِكُمْ هَذَا الَّذِي تُسَمُّونَهُ الْفَضِيخَ. فَإِنِّي لَقَائِمٌ أَسْقِي أَبَا طَلْحَةَ وَفُلاَنًا وَفُلاَنًا إِذْ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ وَهَلْ بَلَغَكُمُ الْخَبَرُ فَقَالُوا وَمَا ذَاكَ قَالَ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ. قَالُوا أَهْرِقْ هَذِهِ الْقِلاَلَ يَا أَنَسُ. قَالَ فَمَا سَأَلُوا عَنْهَا وَلاَ رَاجَعُوهَا بَعْدَ خَبَرِ الرَّجُلِ.

قوله: فضيخ: دفضخ نه وتلې دې ،دفضخ معنى ماتول راځي په فضيخ كښې به داكيدله چې كه كهجورې به شوكولې شوې اودهغې عرق به په لوښى كښې نچوړولې شوتردې چې په هغې كښې به تغيرپيدا شو اونشه به په كښې پيدا شوه (٣)

---

(١) حاشيه صحيح البخاري (ج٢ص ٦٦٤) _

(٢) اخرجه البخاري فى كتاب التفسير باب قوله: انماالخمروالميسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشيطان رقم الحديث (٤٣٤٠) وايضا كتاب الاشربة باب الخمر من العنب وغيره رقم الحديث (٥٢٥٧) وايضا فى كتاب الاشربة باب الخمرمن العنب وغيره رقم الحديث ٥٢٥٩وايضا فى كتاب الاشربة باب ماجاء فى ان الخمرما خامرالعقل من الشراب رقم الحديث (٥٢٦٦) والحديث من افراده (عمدة القارى ج١٨ص ٢١٠)

(٣) الفضيخ ان يكسرالبسروصب عليه ويترك حتى يغلى وقال ابوعبيدة هومانضخ من البسرمن غيران تمسه نار. فان كان تمرا فهو خليط (عمدة القارى ج١٨ص ٢١٠) _

[۴۳۴۲] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرٍ قَالَ صَبَّحَ أُنَاسٌ غَدَاةَ أُحُدٍ الْخَمْرَ فَقُتِلُوا مِنْ يَوْمِهِمْ جَمِيعًا شُهَدَاءَ، وَذَلِكَ قَبْلَ تَحْرِيمِهَا.

[۴۳۴۳] [1] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْحَنْظَلِيُّ أَخْبَرَنَا عِيسَى وَابْنُ إِدْرِيسَ عَنْ أَبِي حَيَّانَ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ -رضى الله عنه- عَلَى مِنْبَرِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ أَمَّا بَعْدُ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَهْيَ مِنْ خَمْسَةٍ، مِنَ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْعَسَلِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ، وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ.

۱۱۸_ باب: لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا

[۴۳۴۴] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ -رضى الله عنه- أَنَّ الْخَمْرَ الَّتِي أُهْرِيقَتِ الْفَضِيخُ. وَزَادَنِي مُحَمَّدٌ عَنْ أَبِي النُّعْمَانِ قَالَ كُنْتُ سَاقِيَ الْقَوْمِ فِي مَنْزِلِ أَبِي طَلْحَةَ فَنَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ، فَأَمَرَ مُنَادِيًا فَنَادَى. فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ اخْرُجْ فَانْظُرْ مَا هَذَا الصَّوْتُ قَالَ فَخَرَجْتُ فَقُلْتُ هَذَا مُنَادٍ يُنَادِي أَلاَ إِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ. فَقَالَ لِي اذْهَبْ فَأَهْرِقْهَا. قَالَ فَجَرَتْ فِي سِكَكِ الْمَدِينَةِ.

قَالَ وَكَانَتْ خَمْرُهُمْ يَوْمَئِذٍ الْفَضِيخَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ قُتِلَ قَوْمٌ وَهْيَ فِي بُطُونِهِمْ قَالَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ (لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا).

۱۱۹_ باب قَوْلِهِ (لاَ تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ).

[۴۳۴۵] [2] حَدَّثَنَا مُنْذِرُ بْنُ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْجَارُودِيُّ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَنَسٍ -رضى الله عنه- قَالَ خَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم

---

[1]) حدثنا اسحاق بن ابراهيم عن ابن عمر قال سمعت عمر رضی اللہ عنہ علی منبر النبی ﷺ يقول امابعد. اخرجه البخاری فی كتاب التفسيرباب قوله انما الخمروالميسر والانصاب رقم الحديث :۴۳۴۳ ايضا فی كتاب الاشربة (ج۲ص۸۳۷) وايضا اخرجه مسلم فی آخرالكتاب باب فی نزول تحريم الخمر رقم الحديث (۳۰۳۲) واخرجه ابوداودفی كتاب الاشربة رقم الحديث (۳۶۶۹) واخرجه الترمذی فی كتاب الاشربه رقم الحديث (۱۸۷۳واخرجه النسائی فی كتاب الاشربة (ج۲ص ۳۲۴) _

[2]) اخرجه البخاری فی كتاب التفسير باب قوله لاتسالواعن اشياء ان تبدلكم تسؤكم رقم الحديث (۴۳۴۵ وايضا اخرجه البخاری فی كتاب الرقيق باب قول النبی ﷺ لوتعلمون ماعلم لضحكتم قليلا ولبكيتم كثيرا (ج۲ص۹۶۰) وكتاب الاعتصام (ج۲ص۱۰۸۳) واخرجه مسلم فی الفضائل باب توقيره ﷺ وترک اكثارسواله رقم الحديث (۲۳۵۹) واخرجه الترمذی فی كتاب الزهد باب فی قول النبی ﷺ لوتعلون ما اعلم لضحتكتم قليلا رقم (۲۳۱۲) واخرجه النسائی فی السنن الكبری فی كتاب التفسير باب قوله تعالی لاتسالواعن اشياء ان تبدلكم رقم الحديث (۱۱۱۵۳) المجدالسادس)_

خُطْبَةً مَا سَمِعْتُ مِثْلَهَا قَطُّ، قَالَ «لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا«. قَالَ فَغَطَّى أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وُجُوهَهُمْ لَهُمْ خَنِينٌ. فَقَالَ رَجُلٌ مَنْ أَبِي قَالَ فُلاَنٌ فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ (لاَ تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ). رَوَاهُ النَّضْرُ وَرَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ عَنْ شُعْبَةَ.

[۴۳۴۶] (۱) حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ سَهْلٍ حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ حَدَّثَنَا أَبُو خَيْثَمَةَ حَدَّثَنَا أَبُو الْجُوَيْرِيَةِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - قَالَ كَانَ قَوْمٌ يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - اسْتِهْزَاءً، فَيَقُولُ الرَّجُلُ مَنْ أَبِي وَيَقُولُ الرَّجُلُ تَضِلُّ نَاقَتُهُ أَيْنَ نَاقَتِي فَأَنْزَلَ اللَّهُ فِيهِمْ هَذِهِ الآيَةَ (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ) حَتَّى فَرَغَ مِنَ الآيَةِ كُلِّهَا.

د ايت كريمه په شان نزول كې مختلف واقعات: ددې آيت په شان نزول كښې مختلف قسم واقعات په رواياتوكښې بيان شوى دى .په مسلم اوصحيح بخارى كښې دى چې يوځل خلقونبى ﷺ نه داخواديخوا غيبى خبروپه باره كښې تپوسونه اوكړل .نونبى ﷺمنبر ته وراوختلواوارشادني اوفرمائيلو (فوالله لا تسالوني عن شئ الا اخبرتكم به مادمت فى مقامى هذا) يعنى تاسوچې زمانه په دې مقام كښې ترڅوپورې څه سوال كوئ نو زه به درته دتپولوسوالو نو جواب دركوم .دمشهورصحابى حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ دپلاردنسب په باره كښې دبعضې خلقوشک وو،ددې وجې هغه په دې موقع باندې اودريدلواودنبى ﷺ نه ئې تپوس اوكړوچې زما پلار څوک دې ،نونبى ﷺ ورته اوفرمائيل ستاپلارحذافه دې په دې باندې دا آيت نازل شو (۱)

دترمذى اودارقطنى په روايت كښې دى چې كله دقرآن شريف دا آيت نازل شو (وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا) نوخلقوتپوس اوكړو ،يارسول الله هركال به حج فرض وى ؟رسول الله چپ شو.خلقوبياتپوس اوكړونونبى ﷺ اوفرمائيل نه، بيائې اوفرمائيل كه ماوئيلى ووچې آونوهركال به واجب وو.په دې باندې ذكرشوې آيت نازل شو (۲)

دلته دبخارى په روايت كښې دى چې څه خلقودتوقوپه ډول مختلف قسم تپوسونه اوكړل په دې باندې داآيت نازل شو.

خوداټول واقعات ددې آيت دپاره سبب نزول كيدې شى اومقصد دادې چې نه خودتوقوپه ډول سوال كول پكار دى اونه دشريعت په احكاموكښې بې كاره اوبې ضرورته تپوسونه كول

---

(۱) اخرجه البخارى فى كتاب التفسير باب قوله لاتسالواعن اشياء ان تبدلكم تسؤكم رقم الحديث (۴۳۴۶) وهذالحديث من افراده (عمدة القارى) (ج۱۸ ص۲۱۳) _

(۲) الجامع لاحكام القرآن (ج۶ص ۳۳۰) _

(۳) الجامع لاحكام القرآن للقرطبى (ج۶ص ۳۳۰) _

پکاردي .(۱)

فائده: په دي آیت کښې تنبیه ده چې کوم څیزشارع علیه‌السلام تصریحا نه وی بیان کړې دهغې په باره کښې فضول تپوسونه مه کوئ ،لکه څنګه چې په تحلیل اوتحریم کښې دشارع بیان موْجب هدایت اوبصیرت دې ،دغه شانْ دنبی ﷺ چپوالې هم ذریعه درحمت ا وسهولت دې ، دسنت الله نه دامعلومیږی چې کله په یوه معامله کښې تپوسونه زیات شی ،نوخامخاشقوق اواحتمالات راویستی شی اودبل طرف نه تشدید زیاتیږی څکه چې داقسم تپوسونه ښکاره کوی چې لکه دتپوس کونکوپه خپل ځان باندې بهروسه ده (۲)

قوله: رَوَاهُ النَّضْرُ وَرَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ عَنْ شُعْبَةَ: دنضر روایت امام مسلم نقل کړې دې اوددروح بن عباده روایت امام بخاری په کتاب الاعتصام کښې ذکرکړې دې (۳)

۱۲۰-بَاب: مَا جَعَلَ اللَّهُ مِنْ بَحِيرَةٍ وَلَا سَائِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ

ددې څیزونوتفسیر روستوروایت کښې راځي .ددې نه وړاندې امام دځونوروالفاظوتشریح کوی.

قوله: (وَإِذْ قَالَ اللَّهُ) يَقُولُ قَالَ اللَّهُ. وَإِذْ هَا هُنَا صِلَةٌ:

د واذ قال الله یا عیسی ابن مریم تشریح: په سورة مانده کښې دی (وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ) (۴)امام بخاری رحمه‌الله د ،، قال ،، تفسیر په ،، یقول ،، سره کړې دې اومقصود دادې چې دلته ماضی دمستقبل په معنی دې ،ددې نه پس ئې پوره لفظ دوباره ذکرکړې دې اوفرمائیلی ئې دی (قال) ددې خودلو دپاره چې (اذ) په آیت کریمه کښې صله په طوریعنی زیاتی استعمال شوې دې نولکه چې اصلی عبارت دې (قال الله) دذکرشوی آیت باره کښې دمفسرینو اختلاف دې چې په دې کښې الله تعالی حضرت عیسی (علیه‌السلام) مخاطب کړې دې اوتپوس ئې ترې کړې (ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ) چې دابه الله تعالی دقیامت په ورځ کوی اوکه داپه هغه وخت کښې شوې دی ،کله چې الله تعالی حضرت عیسی (علیه‌السلام) آسمان طرف ته پورته کړې وو دواړه قولونه شته (۵) داولنی قول په صورت کښې به (قال) دمستقبل په معنی کښې وی او(اذ) به زیاتی وی اود دویم قول په صورت کښې به (قال) دمستقبل په معنی کښې نه وی اوپه دې صورت کښې به (اذ) ظرفیه وی

---

(۱) علامه عینی لیکی (وجه الجمع بين عذه الوجه انها نزلت سبب كثرة المسائل اما من جهة الاستهزاء واما من جهة الامتحان وامن جهة التعنت هويعم الكل (عمدة القارى (ج۱۱۸ص۲۱۳)_

(۲) تفسیر عثمانی (۱۶۵)_

(۳) (عمدة القاری (ج۱۱۸ص۲۱۳)_

(۴) سورة المائدة (۱۱۶) _

(۵) دذکرشوې دواړو قولونو دپاره اوګورئ (تفسیر ابن کثیر(ج۲ص۱۲۰) والجامع لاحكام القرآن (ج۶ص ۳۷٤) _

زانده به نه وى . دامام بخارى رحمه الله په رائې كښې به داتپوس دقيامت په ورځ باندې كيږى
بعضې حضراتو داهم وئيلى دى چې دلته (اذ) د(اذا) په معنى كښې دې او(اذا) چې كله په ماضى
باندې داخل شى نوهغه دمضارع مستقبل په معنى كښې گرځوى .(١)

حضرت مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى چې دلته (اذ) زنده نه دې بلكه دا داصل واقعه
دصورت داستحضار دپاره دې ، حضرت شاه صاحب په دې باندې ډيرتفصيلى كلام په خپل
كتاب (عقيدة الاسلام) كښې كړې دې او مولانا بدرعالم ميرتهى دفيض البارى په حاشيه باندې
ددې خلاصه نقل كړې ده (٢)

قوله: الْمَائِدَةُ أَصْلُهَا مَفْعُولَةٌ كَعِيشَةٍ رَاضِيَةٍ وَتَطْلِيقَةٍ بَائِنَةٍ وَالْمَعْنَى مِيدَ بِهَا صَاحِبُهَا مِنْ خَيْرٍ، يُقَالُ مَادَنِي يَمِيدُنِي: په آيت كريمه كښې دې إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَنْ يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ امام بخارى رحمه الله دابوعبيده نه دمائده دلفظ تشريح
نقل كوى (المائدة) اګرچې داسم فاعل صيغه ده خوپه معنى داسم مفعول كښې دې ، يعنى
د(ميدة) په معنى كښې (ميودة) ده لكه څنګه چې په (عيشعة راضية) كښې (راضى) داسم فاعل
صيغه ده ، د(مرضية) اسم مفعول په معنى كښې ده (٣)

دويم مثال ئې د(تطليقة بائنة) ئې وركړې دې، علامه عينى اوحافظ ابن حجروغيره فرمائى چې
دامثال صحيح نه دې ځكه چې په دې كښې (بائنة) صيغه دخپل اسم فاعل په معنى كښې ده
داسم مفعول په معنى كښې نه ده ، د(تطليقة بائنة) نه دزوج اوزوجه تعلق ختمونكى طلاق
مراددې نودا دمفعول دمعنى دپاره په مثال كښې پيش كول صحيح نه دى .(٤)
خوچې تاويل اوكړې شى نوبه (تطليق بائنة) كښې (بائنة) د(مبانة) په معنى كښې اخستې شى

---

(١) قال القرطبى رحمه الله فى الجامع لاحكام القرآن (ج٦ ص٣٧٥و٣٧٤) اختلف فى وقت هذه المقالة فقال قتادة وابن جريج واكثرالمفسرين :انمايقول له هذايوم القيامة وقال السدى :قال له ذلک حين رفعه الى السماء .. فان ..اذ..فى كلام العرب لامضى ولاول اصح .يدل عليه ماقبله من قوله .. يوم يجمع الله الرسل ..ومابعده .. هذا يوم ينفع الصادقين صدقهم .. وعلى هذاتكون ..اذ.. بعنى .. اذ..كقوله تعالى ولوترى اذافزعوا..اى اذافزعوا) _

(٢) البدر السارى الى فيض البارى (ج٤ص١٧٩و١٧٨) _

(٣) قال العينى فى العمدة (ج١٨ص٢١٤) فقوله المائدة اصلها مفعولة ليس على طريق اهل الفن فى هذاالباب لان اصل كل كلمة حرفها وليس المرادهنا بينان الحروف الاصول وانها المرا ان لفظ امائدة وان كان على لفظ فاعلة فهوبمعنى مفعولة يعنى مميودة ولكن تنقل حركة الياء الى ما قبلها، فتحذف الواو د (وكسرماقبل الياء) بتقى مميدة)_

(٤) عمدة القارى (ج١٨ص٢١٤) وفتح البارى)_

چې ددې نه (مبانة صاحبتها) مراد واخستې شي یعنی ددې طلاق په ذریعه طلاقه شوې ښځه ددې دخاوند نه کټ کولې شي نوچې داسې تاویل اوکړې شي اسم فاعل داسم مفعول په معنی کښې اخستې شي [۱] اګرچه په دې کښې تکلف دې ، وړاندې امام بخاري رحمه الله ،،مائدة،، چونکه دمفعول په معنی کښې اخستې ده څکه ددې وضاحت کوی ،(میدبها صاحبها) یعنی هغه درستخوان دکوم په ذریعه چې ددې درستخوان مالک ته دخیرتوبنه ورکړې شوه وائی (مادّ یبیدن) کله چې سړی ته توبنه ورکړی .

قوله: وقال ابن عباس متوفيك :[۵۵] مميتك :داسورة ال عمران دآیت حصه ده په سورة آل عمران کښې دی إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَىٰ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا.....[۲] امام دادلته ذکرکړې دې بعضو ونیلی دی چې دا روستنوراویانوپه غلط فهمئ سره دلته نقل کړې دې ،ګنی ددې اصلی مقام خوسورة آل عمران دې اوبعضوونیلې دی دسورة مائدة په آیت فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ کښې د(فلماتوفیتنی) دمناسبت په وجه دادلته ذکرکړې دې. [۳]

د حضرت عیسی علیه السلام دحیات عقیده :امام بخاری رحمه الله دسورة آل عمران په ذکر شوی آیت کښې د(متوفیک) تفسیردحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه (میتک) نقل کړې دې .ددې نه معلومیږی چې حضرت عیسی علیه السلام وفات شوې دې حال داچې دحضرت عیسی علیه السلام په حیات اوپه آخره زمانه کښې په نزول الی الارض باندې دامت اجماع ده ،البته په دې کښې اختلاف دې چې حضرت عیسی علیه السلام په کوم وخت کښې آسمان طرف ته پورته کړې شوې ووکه اول پرې مرګ راغلې وواوددې نه پس ژوندې شوې وواوپورته کړې شوې وو. دوهب بن منبه اوعلامه ابن حزم ظاهری رائې داده چې اول پرې مرګ راغلې ووبیاددې نه پس پورته کړې شوې وو. دعلامه ابن رائې دا ده چې دسورة آل عمران په آیت (انی متوفیك) اودسورة مائدې په آیت (فلماتوفیتنی) کښې د(توفی) نه مرادمرګ دې ،خوددې دامقصدهرګزنه دې چې علامه ابن حزم دحیات عیسی علیه السلام قائل نه دې بلکه مقصد.دادې چې حضرت عیسی علیه السلام آسمان طرف ته دپورته کولونه وړاندې مړ شوې وو اوددې نه پس ژوندې کړې شوې وو او وپورته کړې شوې وو اوپه آخری زمانه کښې به هغه دنیاته دآسمان نه تشریف راوړی.علامه ابن حزم په خپل مشهورکتاب،المحلی، کښې ددې تصریح کړې ده چې حضرت عیسی علیه السلام به په آخروخت کښې دآسمان نه راکوزیږی[۴]

---

[۱] لامع الدراری (ج۹ص۷۲و۷۳) وتعليقات لامع الدراری (ج۹ص۲۷و۷۳) وفيها : فالاوجه ماافاده الشيخ قدس سره ففى البحرالرائق قوله هى بائن من باب بان الشئ اذاانفصل :قال ابن السكيت فى كتاب ا لتوسعة: تطليقة بآئنة والمعنى مبانة قال الصغانى رحمه الله فاعلة بعنى المفعولة كذافى المصباح ،فعلم ان تمثىل البخارى صحيح بل واضح) _

[۲] آل عمران :۵۵) _

[۳] عمدة القاری (ج۱۸ص۲۱۵) _

[۴] المحلی بالاثار(ج۱ص۲۸) كتاب التوحيد .الايمان بجميع الانبياء فرض) _

او وهب بن منبه هم دحيات عيسى عليه السلام قائل دي.
مرزا غلام احمد قاديانى چونكه دمسيح موعود دعوى هم كړې وه . ددې وجې هغه دا خبره نه منله چې حضرت عيسى عليه السلام حيات دې .هغه دابن حزم،وهب بن منبه اودلته په بخارى كښې دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما په تعليق باندې استدلال كوى چې داحضرات هم دوفات عيسى عليه السلام قائل دى .حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دسورة آل عمران آيت كښې د«متوفيك» كښې دتوفى نه مرګ مراد اخستې دې.

دعلامه ابن حزم اووهب بن منبه باره كښې خومونږ اوښودل چې دا حضرات دحيات عيسى عليه السلام قائل دى البته دا وائى چې رفع الى السماء نه وړاندې په حضرت عيسى عليه السلام باندې دڅه وخت دپاره مرګ راغلى وو[1] اوددې نه پس بياژوندې كړې شوې وونوپه دې باندې دقاديانى استدلال صحيح نه دې .

د حضرت ابن عباس په مذكوره تعليق باندې بحث: تركومې پورې چې دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما دذكر شوى تعليق تعلق دې .نوپه دې باندې هم استدلال صحيح نه دې . يوخوددې وجې چې ددې تعليق په سند كښې انقطاع ده. په اصل كښې داتعليق ابن ابى حاتم دعلى بن ابى طلحه په طريق سره دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل كړې دې[2] دعلى بن ابى طلحه او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په مينځ كښې ئې دواسطې ذكر نه دې كړې .حال داچې على بن ابى طلحه ته دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه براه راست داستفادې موقع نه ده ملاؤ شوې لكه څنګه چې په كتاب الرجال كښې ددې تصريح كړې ده[3]ددې وجې په سند كښې انقطاع ده .
البته په دې كښې دومره خبره ده چې على بن ابى طلحه دمجاهدشاګرد دې اودحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت اكثرهغه دمجاهدپه واسطه سره نقل كوى اومجاهدثقه دې .خوداپه هغه وخت كښې ده چې دا خبره متعينه شى چې په ذكرشوى تعليق كښې واسطه يقيناً دمجاهدده. [4]

دويمه داكه ذكرشوې تعليق صحيح هم اومنلې شى نوبياهم ددې نه دانه ثابتيږى چې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دوفات عيسى عليه السلام قائل ووځكه چې امام شعرانى په طبقات كبرى كښې دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما ارشادنقل كړې دې چې الله تعالى حضرت عيسى عليه السلام دهغه دجسدمبارك سره آسمان طرف ته پورته كړې دې اوهغه اوس هم ژوندې دې .هغه به دنياته راځى

---

[1]) تفسيرابن كثير(ج۱ص۳۶۶) _
[2]) عمدة القارى (ج۱۸ص۲۱۵) _
[3]) خلاصه تذهيب الكمال للخزرجى (۲۷۵) وتاريخ البخارى الكبير(۶الترجمة :۲۴۰۶) والجرح والتعديل : الترجمة (۱۰۳۱) وثقات ابن حبان(۷ص۳۱) وتاريخ بغداد(ج۱۱ص۴۲۸) وميزان الاعتدال ۳ الترجمة ۵۸۷وتهذيب التهذيب (ج۷ص۳۳۹ششِ۹ وتهذيب الكمال (۱۰ص۴۹۰) _
[4]) قال المزى فى تهذيب الكمال (۲۰۰۴۹۰) مرسل بينهمامجاهد) _

اوبيا به بادشاهي کوی اوددې نه پس دعاموخلقوپشان مړکيږی.([1]) ابن کثير، علامه آلوسي اوصاحب د کنزالعمال هم دحضرت ابن عباس ﷺ نه ددې مفهوم روايت نقل کړی دی.([2]) ددې نه داخبره ښکاره کيږی چې د(متوفيک) ترجمه چې هغوی په (مميتک) سره کوی. په دې سره دهغوی مراددا دې چې قيامت ته نژدې چې کله حضرت عيسی عليه السلام زمکې ته تشريف راوړی نوحکومت به کوی. ددې نه پس به الله تعالى هغه وفات کوی. څومفسرينوهم دامطلب اخستې دې. صاحب د مدارک فرمائی (مميتك فى وقتك بعد النزول من السماء وارفعك الان) يعنى الله تعالى فرمائی چې زۀ به تا ستاپه وخت کښې (کوم چې قيامت ته نژدې دې) دآسمان نه راکوزولو نه پس وفات کوم اواوس زۀ تاپورته کوم. مفسرخازن هم ددې قول دامطلب په خپل تفسيرکښې بيان کړې دې.([3])

دسورة آل عمران په ذکرشوی آيت کې اودسورة مائده په آيت کښې (فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ) دواړو کښې دتوفى مشهوره معنى د مرګ نه ده اخستې شوې بلکه ددې معنى ده (اخذ الشئ وافيا) يعنى يو څيزپوره پوره اخستل، ددې دليل هغه احاديث متواتره دی کوم چې په دې باندې دلالت کوی چې حضرت عيسى عليه السلام الله تعالى ژوندې آسمان ته پورته کړې دې، بيا پخپله قرآن هم وائی (وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ) ([4]) دغه شان قرآن د (بَلْ رَفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ) صراحت هم کړې دې([5]) دا دامت اجماعى عقيده ده او په دې کښې دچا اختلاف نشته. حضرت انورشاه کشميرى رحمه الله په دې موضوع باندې يومستقل دقيق کتاب ليکلې دې. کوم چې د (التصريح بما تواتر فى نزول المسيح) په نوم باندې چهاب شوې دې، په دې باب کښې دغه ډيرقيمتى اوډير ښه کتاب دې.([6])

---

[1]) الطبقات الكبرى للشعرانى (ج١ص٢٦)_

[2]) روح المعانى (ج١ص ٥٩٥) وابن كثير (ج١ص ٤٩٣) وكنزالعمال (ج ١٤ص٦١٨) _

[3]) مدارک (ج١ص٢٣٤٩) وتفسير خازن (ج١ص ٢٣٤)_

[4]) المائدة : ١٥٧)_

[5]) المائدة : ١٥٨)_

[6]) په اصل کښې دمرزا غلام احمد قاديانى اودهغه دمتبعينوداعقيده ده. چې حضرت عيسى عليه السلام مړشوې دې. دهغه ژوندې گڼړل شرک دې. قيامت ته نژدې به هغه هرگزتشريف نه راوړی. اوکوم عيسى بن مريم چې راکوزيدونکې دې. هغه زۀ يم په .. ازاله کلان .. (ج٢ص٢١١) کښې ليکى، ابن مريم مړشوې دې په الله قسم جنت ته داخل شوې دې، هغه محترم دې په ..کشتى نوح .. صفحه ١٥ کښې دې. تاسويقين اوکړئ. چې عيسى بن مريم وفات شوې دې. اوپه کشميرسرينگرمحله خانيارکښې دهغه قبردې. ددې نه پس په ١٨٩١ء کښې مرزاقاديانى دمسيحيت دعوى اوکړه، په ..ائينه کمالات اسلام ..صفحه (٥٥١) کښې ليکى، په الله قسم چې ماډيروخت نه داپيژندل چې زۀ مسيح بن مريم جوړکړې شوې يم. اوزۀ دهغه په ځاې نازل شوې يم

قاديانى دحضرت ابن عباس، وهب بن منبه، ابن حزم اوامام بخارى وغيره حضراتوپه قول باندې

استدلال كوي چي دې اكابرين امت دسورة آل عمران اوسورة مائده كښې د(توفي) ترجمه په مرګ سره كړې ده ددې مطلب دادې چې داحضرات دحيات عيسى عليه السلام قائل نه وو.حيات عيسى ته دامت اجماعي مسئله ونيل صحيح نه ده.

خودا استدلال صحيح نه دې بې شكه دامت مسلمه دبعضې اكابرينونه د،، توفي،، ترجمه په مرګ سره منقول ده، خوددې نه دا بيخي نه لازميږي چې دكوموحضراتونه دا ترجمه منقول ده هغوى دحيات عيسى منكردى ،ددې نه وړاندې چې كومو حضراتود،،توفي ،، نه مرګ مراد اخستې دې . چه دمعتبروكتابونونه په حيات عيسى باندې دهغوى عقيده ثابته كړو.مونږ دلته دلفظ ،،توفي ،، په اصل معنى باندې دلغت په اعتبارسره رڼړاچوو.

د توفي معنى: دتوفي اصل معنى ده څه څيزپوره پوره اخستل ،علامه منظورافريقي په خپل مشهور لغت ،،لسان العرب ،، كښې داهل عربودامحاوره پيش كړې ده (توفيت عدد القوم)) مادقوم شمار پوره حاصل كړو، فراء كوفي مشهورنحوى په خپل كتاب ،ومعاني القرآن ،، (ج۱ ص۲۱۹) كښې دتوفي ذكرشوې معنى نقل كړې ده ، اوبيانې په استدلال كښې داشعرپيش كړې دې، ان بنى الادر ليسوا من احد

ولا توفيهم قريش فى العدد

يعنى بنى اوردخويه څه شماركښې نه دى اوقريشوددوى پوره پوره شمارنه دې كړې .دغه شان وائي (توفيت المال) يعنى مادهغه نه خپل پوره مال واخستلو،علامه مطرزى په خپل مشهور لغت (المغرب) كښې دتوفي معنى ليكي ده. (اخذه كله) ټول په ټوله ني واخستل ،علامه زمخشرى په (اساس البلاغه) كښې په ۷۸۶ كښې ليكي دى (توفاه استكمله يعنى (توفاه) معنى ده .هغه داپوره واخستل علامه فيومي په (مصباح المنير)ص ۲۰۸،) كښې دتوفي معنى ليكي يوڅيزپوره اخستل .

دتوفي اصل اوحقيقي معنى خوهم داده . يعنى يوڅيزپوره پوره اخستل ،خويه درې نوروممعانيوكښې هم دا استعمال شوې دى اوكيږي .

(۱) يوخوب يعنى سملاستل ،په قرآن كښې دى (وهوالذى يتوفاكم بالليل) (الانعام :۶۰) يعنى الله هغه ذات دې چې تاسويه شپه كښې اودهٔ كوى .

(۲) توفي دويمه معنى (رفع) يعنى دپورته كولوهم راغلې ده لكه څنګه چې دسورة آل عمران په ذكرشوې آيت بعضې حضراتوهم دامعنى اخستې ده.

(۳) اوتوفي معنى دمرګ هم راځي .لكه څنګه چې علامه ابن حزم هم دامعنى كړې ده.

نوددې اصلي اوحقيقي معنى خويوره پوره اخستل دى ،اوباقى درې معانى خوب ،رفع اومرګ ددې مجازي معانى دى .دسورة مائدې (فلما توفيتني) كښې اكثروحضراتودرفع معنى اخستې ده. څكه چې دا معنى دحقيقي معنى سره مطابقت لري .څكه چې په دې صورت كښې به مطلب داوى .چې الله تعالى حضرت عيسى عليه السلام دروح اوبدن دواړو سره پوره پوره دزمكې نه آسمان طرف ته پورته كړې دې . خوكه ددې معنى دمرګ واخستې شي .نويه دې صورت كښې به (پوره پوره اخستل) موجود نشي ،څكه چې دمرګ معنى مراد اخستلومطلب به داوى چې روح خوآسمان طرف ته پورته كړې شوې دې اوبدن په زمكه باندې پاتې شوې دې اودا اصل واقعه نه بيخي خلاف دې اوحقيقي معنى سره ددې مطابقت واضح نه دې هم داوجه ده ،چې داردو ژبې ټولو معتبرومترجمينو ددې ترجمه په مرګ سره نه ده كړې حضرت شيخ الهند ،حكيم الامت حضرت تهانوى ، مولانا عاشق الهى ميرتهى ،مولانا فتح محمدجالندهرى،مولانا عبدالماجد دريا آبادى ،سبحان الهند ،مولانا عبدالستار دهلوى ، مرزا حيرت،ډپټى نذيراحمداوسياب اكبرآبادى دې ټولوحضراتوددې ترجمه په، پورته كولو،،سره كړې ده. متقدمينوعالمانوهم ددې نه رفع الى اسماء مراد اخستې ده ،ابن اسحاق ابن جريج ،ابن الجوزى . ابن سيرين،حسن بصرى ،ربيع بن انس، زجاج ،سعيد بن جبير ،سعيد بن المسيب ضحاک ،عطاء بن

حضرت شیخ الهند د(فلما توفیتنی)) ترجمه په تا به زۀ پورته کړم،سره کړی ده . دادمحاورې په اعتبار سره په مرګ اورفع الی السماء دواړوباندې صادقی دیشی ،لکه چې تنبیه ورکړې شوې ده . داسې نه ده چې دتوفی دلفظ سره مرګ لازم دې اونه خاص توفی په صورت دمرګ کښې په زیربحث مضمون کښې چې قسم مدخل شته رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چې دبعضې خلقوباره کښې به زۀ دقیامت په ورځ داسې اووایم لکه څنګه چې بنده صالح حضرت عیسی علیه السلام وئیلی وو(فلما توفیتنی ..) ددې قسم تشبیهاتونه دا راویستل چې دنبی ﷺ او حضرت عیسی علیه السلام توفی په ټولووجوهو سره یوشان ده، دادعربیت نه دناواقفیت دلیل دې[1]

ابی رباح ،عکرمه ، حضرت قتاده ، ماوردی ،مجاهد ،وهب بن منبه اومحمد بن کعب قرطبی درفع الی السماء معنی مراد اخستې ده ،اوګورئ بحرمحیط (ج۲۲ص۴۷۲) ومعالم التنزیل (ج۳ ص۱۵۰) ومقاصدحسنه (ص ۳۷۲) ومصنف ابن ابی شیبه (ج ۱۵ص۱۹۸) قرطبی (ج۲ص۲۲۵) وابن جریر (ج۲ص۲۰۷) ودرمنثور (ج۳ص۲۰۷) وروح المعانی (ج۳ص ۱۶۴) وابن کثیر(ج۱ص۳۱۵)

ترخوېوزې چې تعلق دې دسورة آل عمران دآیت (انی متوفیک ورافعک الی) په دې کښې دتوفی عامومفسرینودوه معانی نقل کړې دی .یومرګ اوبله خوب ،بیاکوموحضراتوچې دمرګ معنی مراد اخستې ده نوهغوی ددې په تفسیر کښې په دووډلوکښې تقسیم شوی دی .قتادۀ ضحاک اوفراء وغیره حضرات وائی چې په آیت کریمه کښې تقدیم اوتاخیر دې واوبه دې کښې دمطلقا جمعې دپاره دې .دترتیب دپاره نه دې اود آیت معنی ده (انی رافعک الی ومطهرک من الذین کفرواومتوفیک بعدان تنزل من السماء) یعنی اوس مونږ تااوچتوو، ، اودنزول الی الارض نه پس به بیامونږ تاته مرګ درکوو.

اووهب بن منبه وغیره حضرات لیکی چې درفع الی السماء نه وړاندې الله جل شانه حضرت عیسی بن مریم باندې دڅه وختدپاره مرګ راوستې ووبه آیت کښې (متوفیک) سره دې عارضی مرګ ته اشاره ده. دادواړه قولونه حافظ ابن کثیرپه خپل تفسیر(ج۱ص۳۶۶)_ کښې اوعلامه قرطبی په الجامع لاحکام القرآن (ج۴ص۱۹۹و۹۹) کښې ذکرکړې دی .

اوبعضې حضرات دتوفی نه دلته خوب مراداخستې دې حافظ ابن کثیر دادا کثروقول ګرځولې دې ،یعنی الله جل شانه درفع الی السماء نه وړاندې په حضرت عیسی علیه السلام باندې خوب راوستې وو

د عیسی علیه السلام په حیات باندې د امت اجماع ده: بهرحال په دې آیت کښې که دتوفی نه مرګ مرادواخستې شی اوکه خوب یاکه رفع الی السماء، خوبه هیڅ صورت کښې ترې دحیات عیسی علیه السلام انکار نه لازمیږی ځکه چې دایوه اجماعی عقیده ده ،اوپه امت کښې ترننه ورځې پورې چاهم په دې کښې اختلاف نه دې کړې ،حافظ ابن حجرپه تلخیص الحبیرکښې (۳۱۹) دا اجماع نقل کړې ده ،امام بخاری رحمه الله په کتاب الانبیاء کښې په دې باندې مستقل باب قائم کړې دې (باب نزول عیسی ابن مریم اوګورئ صحیح بخاری (ج۱ص ۴۹۰) والله اعلم بالصواب ،

په حیات عیسی علیه السلام باندې لویولویوعالمانومستقل کتابونه اورسالې لیکلی دی ،مثلا دحضرت انورشاه کشمیری رحمه الله تصنیف په عربې ژبه کښې (عقیدة الاسلام فی حیاة عیسی علیه السلام حضرت مولانا بذرعالم صاحب میرتهی په اردوژبه کښې حیات عیسی علیه السلام مولانه محمد ادریس کاندهلوی تصنیف ،،حیات مسیح علیه السلام اودحضرت کشمیری رحمه الله په حکم سره مولانا مفتی محمد شفیع صاحب جمع شوې ددووسوو احادیثو مجموعه (التصریح بما تواترفی نزول المسیح) اودمولانا محمد حسین نیلوی صاحب رساله (القول الاتم فی حیاع عیسی ابن مریم)) اردو)

[1] تفسیر عثمانی : ۱٤۹)

[٤٣٤٧] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ الْبَحِيرَةُ الَّتِي يُمْنَعُ دَرُّهَا لِلطَّوَاغِيتِ فَلاَ يَحْلُبُهَا أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ. وَالسَّائِبَةُ كَانُوا يُسَيِّبُونَهَا لآلِهَتِهِمْ لاَ يُحْمَلُ عَلَيْهَا شَيْءٌ.
قَالَ وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « رَأَيْتُ عَمْرَو بْنَ عَامِرٍ الْخُزَاعِيَّ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ، كَانَ أَوَّلَ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ ». وَالْوَصِيلَةُ النَّاقَةُ الْبِكْرُ تُبَكِّرُ فِي أَوَّلِ نِتَاجِ الإِبِلِ، ثُمَّ تُثَنِّي بَعْدُ بِأُنْثَى. وَكَانُوا يُسَيِّبُونَهُمْ لِطَوَاغِيتِهِمْ إِنْ وَصَلَتْ إِحْدَاهُمَا بِالأُخْرَى لَيْسَ بَيْنَهُمَا ذَكَرٌ. وَالْحَامِ فَحْلُ الإِبِلِ يَضْرِبُ الضِّرَابَ الْمَعْدُودَ، فَإِذَا قَضَى ضِرَابَهُ وَدَعُوهُ لِلطَّوَاغِيتِ وَأَعْفَوْهُ مِنَ الْحَمْلِ فَلَمْ يُحْمَلْ عَلَيْهِ شَيْءٌ وَسَمَّوْهُ الْحَامِي
وَقَالَ أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ سَمِعْتُ سَعِيدًا قَالَ يُخْبِرُهُ بِهَذَا قَالَ وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - نَحْوَهُ.

قوله: وقال ابواليمان ، و في رواية ابي ذر: قال لي ابواليمان، وهو الحكم بن نافع يروى عن شعيب بن ابي حمزة الحمصي عن الزهري، قوله: يخبره، من الاخبار والضمير المرفوع فيه يرجع الى سعيد بن المسيب ، والمنصوب يرجع الى الزهري، قوله: قال وقال ابوهريرة رضى الله عنه: اى قال سعيد بن المسيب: قال ابوهريرة: سمعت النبي صلى الله عليه وسلم.

وَرَوَاهُ ابْنُ الْهَادِ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - نَحْوَهُ

اى روى الحديث المذكور يزيد بن عبدالله بن اسامة بن الهاد عن الزهري، عن سعيد عن ابي هريرة رضي الله عنه.

د بحيره، وصيله او د حام وغيره تشريح:

بحيره : به ئې هغه واوښې ته وئيل د كومې پئ چې به د طواغيتو اوبتانو په نوم باندې ايسارولې اوور كولې شو.

سائبه :هغه وه چې هغه به ئې د بتانو په نوم باندې آزاده پريخوده ا و په هغې باندې به ئې بوج نه باركولو. حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله ﷺ فرمائيلى دى عمروبن عامرخزاعى مااوليدلو چې هغه خپلې كولمې په جهنم كښې راكاږى اوچغې وهي .داهغه كس وو چې دتولو نه وړاندې ئې دبتانو په نوم باندې دځاروآزادپريخودو طريقه رائج كړې وه .

وصيله: هغه ځوانه اوښه وى چې په اول ځل اوښه زيږوى اوبيا په بل ځل هم اوښه اوزيږوى ،چونكه په اوښانو كښې دا وښ په مقابله كښې داوښې اومونث ډيرقيمت وي نوځكه چې به ئې دوه اوښې پرله پسې اوزيږولې ددې په وجه به ئې هغه دبتانو په نوم باندې آزاده پريخودله .

اوحام :هغه نراوښ ته وائي كوم چې ديومقررشمير كښې دوطى نه پس دبتانو په نوم باندې پريخودې شو.

دبحيرې، سائبې وغيره ددې نه سوانوره تشريح هم شوې ده او داهل لغت په دې کښې مختلف اقوال دى .بهرحال دومره خبره متعين ده چې داپه زمانه دجاهليت کښې دبتانوپه نوم باندې دآزادپريخودې شوې څاروونومونه وو.

[۴۳۴۸] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُبْنُ أَبِي يَعْقُوبَ أَبُوعَبْدِاللَّهِ الْكَرْمَانِي حَدَّثَنَا حَسَّانُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم- «رَأَيْتُ جَهَنَّمَ يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا، وَرَأَيْتُ عَمْرًا يَجُرُّ قُصْبَهُ، وَهُوَأَوَّلُ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ».

د حضور اکرم ﷺ عمرو بن عامر خزاعى لره په جهنم کې د ليدلو توجيهات: دلته دااشکال کيږى ، چې درواياتواونصوص قطعيه نه ثابته ده ،چې جهنم ته به دکافرانو او فاسقانو داخليدل دقيامت په ورځ وى .نونبى اکرم ﷺ عمروبن عامرخزاعى دوخت نه وړاندې په جهنم کښې څنګه اوليدلو ،

① ددې يوجواب دا دې ،اګرچه کافران اوفسقان به جهنم ته دقيامت قائميدونه پس داخليږى خوپه عالم برزخ کښې هم صبا اومابنام جهنميانوته جهنم پيش کولې شى .په قرآن مجيد کښې دى (اَلنَّارُيُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّاوَّعَشِيًّا)[۱] نودير ممکن ده،چې عمروبن عامرخزاعى لره نبى اکرم ﷺ په هغه وخت کښې ليدلې وى، کله چې هغه ص بااومابنام په څه وخت کښې جهنم ته راوستې شوې وو،

② اودويم جواب داورکولې شى چې داعالم شهادت دې اوجنت اوجهنم دعالم شهادت کښې موجوددى، ددې يومثالى شکل په عالم مثال کښې هم موجوددې ،کيدې شى چې نبى ﷺ ته دهغه مثالى شکل خودلې شوې وى چې هغه ته عذاب ورکولې شو.

خودا سوال به پيداکيږى چې په عالم مثال کښې په معذب کيدوسره به په عالم برزخ کښې هغه معذب کيږى ؟ ددې جواب دا دې چې دمثالى شکل معذب کيدوسره ددې اثرصاحب مثال ته رسيږى اوپه دې کښې څه استبعادنشته .په دې باندې دمثال په رنګ اکښې داسې پوهه شئ چې جادوګر کله جادوکوى نوکله کله هغه دموم يوګډاکې جوړکړى او په دغه ګوډاکى کښې دعذاب اوسزامختلف آلات ورداخل کړى .ستن دخلوى هغه ګوډاکې په تارباندې سخت اوتړى. ددې په وجه چې هغه کس په چاچې داجادوشوې وى په خپل ځان کښې ستن منډلې شوې محسوسوى اوياخپل ځان په زنځيرونوکښې بند محسوسوى نودجادوګرعمل دعالم مثال سره متعلق دې ، خوددې تکليف په عالم شهادت کښې سړې محسوسوى، ددې وجې که نبى ﷺ عمروبن عامرخزاعى په عالم مثال کښې هم ليدلې وى چې هغه ته په جهنم کښې عذاب ورکولې شى نوبياهم په برزخ کښې دهغې داثردوجې دهغه معذب کيدل څه مستبعده خبره نه ده ،والله اعلم

[۱] المؤمن _

۱۲۱-باب: وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ)

[۴۳۴۹] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ أَخْبَرَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ النُّعْمَانِ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- قَالَ خَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ إِلَى اللَّهِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلاً- ثُمَّ قَالَ- (كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ) إِلَى آخِرِ الآيَةِ- ثُمَّ قَالَ- أَلاَ وَإِنَّ أَوَّلَ الْخَلاَئِقِ يُكْسَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِبْرَاهِيمُ، أَلاَ وَإِنَّهُ يُجَاءُ بِرِجَالٍ مِنْ أُمَّتِي فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ، فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُصَيْحَابِي. فَيُقَالُ إِنَّكَ لاَ تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ. فَأَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ (وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ) فَيُقَالُ إِنَّ هَؤُلاَءِ لَمْ يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ».

قوله: إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ إِلَى اللَّهِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلاً: (حفاة) دحافي جمع ده هغه سړي چې خپې ابلې وي، (عراة) دعاري جمع ده ،بربنډبدن او (غرل) د (اغرل) جمع ،ده غیرمختون (ناسنته) ته وائي، مطلب دادې چې دقيامت په ورځ به کله دټولوخلقوحشراوشي نوښپې ابلې پښې بربنډ بدن اوغیرمختون به وي.

په روایت باب باندې یو اشکال اودهغې جوابونه : په دې باندې دابوسعیدخدري رضي الله عنه دهغه روايت په وجه اشکال کیږی کوم چې امام ابوداود رحمه الله نقل کړې دې ،کله چې هغوی وفات کیدل نوهغوی اوفرمائیل چې نوې جامې راوړئ نونوې جامې ورته راوړې شوې اوهغوی دغه جامې واغوستې اووې فرمائیل ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی (ان المیت یبعث فی ثیابه التی یموت فیها) ([1]) ددې نه معلومیږی چې په کوم وخت کښې بعث کیږی ،په هغه وخت کښې به سړی جامې اغوستې وی اوحدیث باب نه معلومیږی چې خلق به بربنډه وی.

① ددې یوجواب داوکړې شوې دې چې بعث یوځیزدې اوحشر بل ځیزدې بعث دقبرونونه راپاسیدوته وائی اوحشردقیامت داجتماع نوم دې .حدیث باب دحشرسره متعلق دې اوحضرت ابوسعیدخدري رضي الله عنه روایت دبعث سره متعلق دې نوځکه تعارض نشته.

② بعضوداهم وئیلی دی چې دحضرت ابوسعیدخدري رضي الله عنه حدیث دشهداؤسره متعلق دې اودلته په (انکم محشرون الی الله) کښې غیرشهداء مراددی،

---

[1]) سنن ابی داود (ج۳ص۱۹۰) کتاب الجنائز باب مایستحب من تطهیر المیت عند الموت ،رقم الحدیث (۳۱۱٤) _

③ يوه خبره داهم شوې ده چې دحضرت ابوسعيدخدرى رضي الله عنه حديث كښې دثياب نه اعمال مراد دى چې سړې به دهغه اعمالوسره پورته كولې شى كوم چې هغه په خپل ژوند كښې كړى وى. اوس سوال داكيږى چې آياابوسعيد رضي الله عنه ته داخبره معلومه نه وه چې هغه دخپل خان دپاره جامې راوغوښتې، ددې په باره كښې تاسوداوئيلې شئ چې هغوى ته داخبره معلومه وه هغوى په ظاهرحديث باندې دعمل كولواهتمام كړې دې .(۱) والله اعلم.

قوله: ان اول الخلائق يكسى يوم القيامة ابراهيم:

د قيامت په ورځ په ټولو نه اول حضرت ابراهيم عليه السلام ته لباس اغوستلې شى: دټولونه وړاندې به حضرت ابراهيم عليه السلام ته دقيامت په ورځ جامې اغوستلوشى. سوال پيداكيږى چې په دې سره خود حضرت ابراهيم عليه السلام په نبى عليه السلام باندې فضيلت لازميږى.

ددې جواب دادې چې داجزئى فضيلت دې كوم چې دنبى عليه السلام دكلى فضيلت سره منافى نه دې، باقى پاتې شوه داخبره چې دټولونه وړاندې به حضرت ابراهيم عليه السلام ته ولې جامې اغوستلې شى نوپه رواياتوكښې ددې مختلف علتونه اوتوجيهات بيان شوى دى.

① يوه وجه دابيان شوې ده چې حضرت ابراهيم عليه السلام دټولونه وړاندې دنمرودپه اوركښې اچولې شوې وو، ددې وجې به دقيامت په ورځ دااعزازهغوى ته وركولې شى (۲)

② اوبعضې رواياتوكښې دى «للانه اول من لبس السراويل» چونكه دوى دالله دپاره دټولونه وړاندې دسراويل استعمال كړې وو، په كوم كښې چې دتسترزيات اهتمام وى، ددې وجې به دټولونه وړاندې هغوى ته جامې اغوستولې شى، (۳)

دابن المبارك وغيره په روايت كښې راځى چې دحضرت ابراهيم عليه السلام نه پس به نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته جامې اغوستولى شى اوپه بعضې رواياتوكښې دومره اضافه هم شته چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته كومې جامې اغوستولې شى هغه به ډيرې قيمتى وى (۴) ددې تاخيرتلافى به داسې كولې شى چې تاسوته به كوم لباس دركولې شى نوهغه به زيات قيمتى وى.

۱۲۲- باب: إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ

[۴۳۵۰ ، ۳۳۵] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ النُّعْمَانِ قَالَ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ، وَإِنَّ نَاسًا يُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ، فَأَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ (وَكُنْتُ

---

۱) د ذكرشووتوجيهاتواونوروتوجيهاتودپاره اوګورئ (فتح البارى(ج ۱۱ص ۳۸۴و۳۸۳) كتاب الرقاق باب الحشر)_

۲) فتح البارى (ج ۶ص ۳۹۰)_كتاب احاديث الانبياء باب قول الله تعالى واتخذالله ابراهيم خليلا)_

۳) فتح البارى (ج ۶ص ۳۹۰)_كتاب احاديث الانبياء باب قول الله تعالى واتخذالله ابراهيم خليلا)_

۴) دذكرشوو رواتودپاره اوګورئ فتح البارى (ج ۱۱ص ۳۸۴) _كتاب الرقائق باب الحشر)_

عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ) إِلَى قَوْلِهِ (الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ)

۱۲۳- باب: تفسير سورة الانعام

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (فِتْنَتُهُمْ) مَعْذِرَتُهُمْ. (مَعْرُوشَاتٍ) مَا يُعْرَشُ مِنَ الْكَرْمِ وَغَيْرِ ذَلِكَ. (حَمُولَةً) مَا يُحْمَلُ عَلَيْهَا. (وَلَلَبَسْنَا) لَشَبَّهْنَا (يَنْأَوْنَ) يَتَبَاعَدُونَ. تُبْسَلُ تُفْضَحُ (أُبْسِلُوا) أُفْضِحُوا. (بَاسِطُو أَيْدِيهِمْ) الْبَسْطُ الضَّرْبُ. (اسْتَكْثَرْتُمْ) أَضْلَلْتُمْ كَثِيرًا. (ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ) جَعَلُوا لِلَّهِ مِنْ ثَمَرَاتِهِمْ وَمَالِهِمْ نَصِيبًا، وَلِلشَّيْطَانِ وَالْأَوْثَانِ نَصِيبًا. (أَمَّا اشْتَمَلَتْ) يَعْنِي هَلْ تَشْتَمِلُ إِلَّا عَلَى ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى فَلِمَ تُحَرِّمُونَ بَعْضًا وَتُحِلُّونَ بَعْضًا. (مَسْفُوحًا) مُهْرَاقًا (صَدَفَ) أَعْرَضَ (أُبْلِسُوا) أُويِسُوا وَ (أُبْسِلُوا) أُسْلِمُوا. (سَرْمَدًا) دَائِمًا. (اسْتَهْوَتْهُ) أَضَلَّتْهُ. (يَمْتَرُونَ) يَشُكُّونَ. (وَقْرٌ) صَمَمٌ، وَأَمَّا الْوِقْرُ الْحِمْلُ. (أَسَاطِيرُ) وَاحِدُهَا أُسْطُورَةٌ وَإِسْطَارَةٌ وَهِيَ التُّرَّهَاتُ. الْبَأْسَاءُ مِنَ الْبَأْسِ وَيَكُونُ مِنَ الْبُؤْسِ. (جَهْرَةً) مُعَايَنَةً. الصُّوَرُ جَمَاعَةُ صُورَةٍ، كَقَوْلِهِ سُورَةٌ وَسُوَرٌ. مَلَكُوتٌ مُلْكٌ، مِثْلُ رَهَبُوتٍ خَيْرٌ مِنْ رَحَمُوتٍ، وَيَقُولُ تُرْهَبُ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تُرْحَمَ. (جَنَّ) أَظْلَمَ. يُقَالُ عَلَى اللَّهِ حُسْبَانُهُ أَيْ حِسَابُهُ، وَيُقَالُ حُسْبَانًا مَرَامِيَ. وَرُجُومًا لِلشَّيَاطِينِ، مُسْتَقَرٌّ فِي الصُّلْبِ وَ (مُسْتَوْدَعٌ) فِي الرَّحِمِ. الْقِنْوُ الْعِذْقُ، وَالِاثْنَانِ قِنْوَانِ، وَالْجَمَاعَةُ أَيْضًا قِنْوَانٌ، مِثْلُ صِنْوٍ وَصِنْوَانٍ.

سورة الانعام

د کلماتو تشریح:

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (فِتْنَتُهُمْ) مَعْذِرَتُهُمْ. (: ﴿وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا أَيْنَ شُرَكَاؤُكُمُ الَّذِينَ كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ ۝ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ إِلَّا أَنْ قَالُوا وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ۝﴾ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په دې آیت کښې د (فتنتهم) تفسیر په (معذرتهم) سره کړې دې .مطلب دادې چې کله دقیامت په ورځ دمشرکانو نه تپوس اوشي چې تاسو به دالله سره کوم شریکان جوړول اوس هغه شریکان څه شو؟ نو په هغه وخت کښې به دهغوی سره دمعذرت دپاره ددې نه سوابله جمله نه وی چې په الله قسم مونږ خو مشرکان نه وو.

دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما داتعلیق ابن ابی حاتم موصولانقل کړې دې .(۱) حضرت قتاده رحمه الله (فتنة) تفسیر په (مقالتهم) سره کړې دې اوبعضو په (حجتهم) سره کړې دې(۲) مطلب د ټولو یو دې.

قوله: مَعْرُوشَاتٍ) مَا يُعْرَشُ مِنَ الْكَرْمِ وَغَيْرِ ذَلِكَ: ﴿وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ جَنَّاتٍ مَعْرُوشَاتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَاتٍ﴾ الله هغه ذات دې چې باغونه ئې پیداکړی دی چې په داسې (ټيټو) چپرونو (څپرونو) باندې خیژولی شی . (بلکه انګور کدو وغیره) اوهغه چې په څپرونو (ټيټو) باندې نه خیژی (لکه آم امزدود وغیره) حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د (معروشات) تفسیر په (ما يعرش من الكرم وغيره

---
(۱) عمدة القاری (۱۸ص۲۱۹)_
(۲) عمدة القاری (۱۸ص۲۱۹)_

ذلك) سره كړې دې .يعنى دانګوروغيره زيلئ چې دلرګواډانه ورته ورکولې شى اوپه ځمكې خيژولى شي .

قوله: حَمُولَةً) مَا يُحْمَلُ عَلَيْهَا :(وَمِنَ الْأَنْعَامِ حَمُولَةً وَّفَرْشًا) اوپه څاروو کښې خوځه دبوږ اوچتونكى (داوچت قد دې لكه اوښ خچر، اس اوخر) اوځه په زمكه پورې لګيدلې وى (يعنى دوركوتى قد لكه چيلئ، اوګډه)

قوله: (وَلَلَبَسْنَا) لَشَبَّهْنَا (:(وَلَوْجَعَلْنٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا وَّلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَّا يَلْبِسُوْنَ) اوموږدوى هم په دې شبه كښې اوچووپه كومه كښې چې دوى اوس پريوتى دى .كافران وائى چې فرښته ولې پيغمبرنه دې جوړشوې چې رالېګلې شوې وه نوقرآن په جواب كښې وائى كه موږبه فرښته پيغمبره جوړوله او راليګله مونومونږ هغه به هم دسړى په شكل كښې رالېږله اودوى به هم په دې شبه كښې پريوتلى ووپه كوم كښې چې دوى اوس هم پراته دى چې كوم شكونه اوشبهات دبشرپه رسالت باندې كوى نوهغه به ئې په فرښته باندې هم كول چې دبشرپه صورت كښې راغلى وې .

قوله: يَنْأَوْنَ) يَتَبَاعَدُونَ :(وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْئَوْنَ عَنْهُ) اوهغه كافران خلق دقرآن نه منع كوى اوبخپله هم ددې نه لرې اوسى .

قوله: تُبْسَلُ تُفْضَحُ (أُبْسِلُوا) أُفْضِحُوا : (وَذَكِّرْ بِهٖٓ اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ وَاِنْ تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اُبْسِلُوْا بِمَا كَسَبُوْا) اوددې قرآن په ذريعه دآخرت هيرشوې سبق يادكړه (ځكه چې دقيامت ورځ)ددې دپاره دالله تعالى نه سوا بل څوك نه مدګاركيدې شى اونه سفارشى اوكه څوک (په دغه ورځ دخپلې خلاصئ دپاره) هرقسم معاوضه هم وركړى نودهغه نه به وانخستې شى . هم داخلق (چې خپل دين نه ئې لوبې اوټوقې جوړې كړې دى) په عذاب كښې ګرفتارشوى دى دخپلوبدواعمالوپه وجه .

قوله: (بَاسِطُوْا اَيْدِيْهِمْ) اَلْبَسْطُ الضَّرْبُ .(:(وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِىْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ......) (بسط) تفسيرئې په (ضرب) سره كړې دې .دبسط معنى دخورولودہ چونكه فرښتې دروح قبض كولوسره سره دهغوى دوهلودپاره لاسونه وړاندې كوى .ددې وجې دبسط تفسيرئې مجازا په ضرب سره اوكړو .

قوله: اسْتَكْثَرْتُمْ) أَضْلَلْتُمْ كَثِيرًا :په دې آيت كښې دى (وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ الْاِنْسِ) اوپه كومه ورځ چې الله تعالى ټول خلق راجمع كړى (اود رټلوپه ډول به جناتوشيطانانوته اووئيلى شى) اې دجناتوډلې (يعنى دشيطانانوډلې)، تاسودانسانانوپه ګمراه كولوكښې) ډيره لويه حصه اخستې وه اوډيرموګمراه كړى وو . د(استكثرتم) معنى ده ډيرموګمراه كړى وو .

قوله: (ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ) جَعَلُوا لِلّٰهِ مِنْ ثَمَرَاتِهِمْ وَمَالِهِمْ نَصِيبًا : په آيت كښې دى (وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا) اودې خلقودالله تعالى په پيداكړوفصلونو اوځاروو

كنبې (دنذر په طور) يوه حصه د الله تعالى دپاره مقرر كړې ده، په دې آيت كريمه كښې (ذرا من الحرث) تفسير د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دې. يعنى مشركانو د خپلو ميوو او خپل مال نه يو حصه د الله تعالى دپاره مقرر كړې ده او يوه حصه د شيطانانو او بتانو دپاره مقرر كړې ده. بيا كه په اتفاقى توګه باندې د الله تعالى د حصې نه د بتانو حصې ته څه څيز لاړشى نو هغه هم په هغې كښې پريږدى. او وائى چې الله غنى دې او كه د دې په عكس د بتانو د حصې نه څه څيز د الله تعالى حصې ته لاړشى نو هغه را وباسى د بتانو په حصه كښې ئې اچوى دا څومره لوئې جهالت او حماقت دې.

قوله: أَمَّا اشْتَمَلَتْ) يَعْنِي هَلْ تَشْتَمِلُ إِلَّا عَلَى ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى فَلِمَ تُحَرِّمُونَ بَعْضًا وَتُحِلُّونَ بَعْضًا: په دې آيت كښې دې (قُلْ ءَآلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنْثَيَيْنِ أَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ الْأُنْثَيَيْنِ) اې نبى تاسو تپوس او كړئ (د دې كافرانو نه چه دا خو راته او ښائې) آيا الله تعالى دواړه نران (ځناور) حرام كړى دى او كه د دواړو ماده يعنى ښځينا څاروى او كه پر باندې د ښځو رحم (بچه دانئ) مشتمل دى. مطلب دا دې چې آيا هغه بچې حرام دې كوم چې دواړو ښځو (د ګډو او چيلئ) په خپلو خيټو كښې ساتلى دى. دا استفهام انكارى دې او په دې آيت كښې مشركانو د دې قول مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ الْأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰ أَزْوَاجِنَا رد كولو ته اشاره ده.

حاصل دا دې چې دا تاسو چې كوم (سائبة، وصيلة، بحيرة او حام) حرام كړى دى دا په څه وجه دى؟ كه دا تحريم د ذكرشوې وجې له كبله وى نو ټولو نرانو ته حرام او وائى او كه د ښځې د طرفه وى نو ټولو ښځو ته حرام و وائې. (وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ الْأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰ أَزْوَاجِنَا) يا چې په كوم بچې باندې د دواړو ښځو بچه دانئې ډكې وى يعنى كوم بچې چې په خيټه كښې وى كه هغه نروى او كه ښځه، نو بيا ولې بعضې حراموئ او بعضې حلالوئ؟ د خپل طرف نه د الله تعالى پيدا كړى څيزونو ته حرام يا حلال وئيل د دې برابر دې چې د الله منصب معاذ الله. تاسو د خپل ځان دپاره تجويز كړې دې او يا په الله باندې په قصد دروغ وائې دا دواړه څيزونه مهلك او تباه كونكى دى.

قوله: مسفوحا مهراقا: په آيت كښې دى. (قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَسْفُوحًا) ته او وايه (چې د دې څيزونو د حرمت په باره كښې د كومو حرمت چې تاسو الله ته منسوب كوئ) زۀ په هغه وحى كښې كومه چې ماته شوې ده په دې كښې هيڅ يو څيز هم په خوړونكى باندې چې هغه ئې خورى حرام نه بيامومم (كه سړې وى او كه ښځه) خو دا مرداره يا بهيدونكې وينه په دې آيت كښې د (دما مسفوحا) تفسير د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دې (دما مهراقا) يعنى بهيدونكې وينه.

قوله: صَدَفَ) أَعْرَضَ: په آيت كښې دى (فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَّبَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَصَدَفَ عَنْهَا) د هغه نه لوئې ظالم بل څوك كيدې شى چاچې د الله تعالى آيا تونو ته نسبت د دروغو كړى وى او د هغې نه يئې ډډه كړې وى.

دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه منقول دی چې (صدف عنها) په معنی د (اعرض عنها) ده.

قوله: (أُبۡلِسُوا) أُوِيسُوا وَ(أُبۡسِلُوا) أُسۡلِمُوا. (:﴿أَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ فَإِذَا هُم مُّبۡلِسُونَ﴾) مونږ هغوی لره ناڅاپه اونیول نو هغوی نا امیده شول. د (مبلس) معنی ده نا امیده کیدل د (ابلسوا) تشریح امام په (اویسوا) سره کړې ده. دا دباب افعال نه د ماضي مجهول صیغه ده. په معنی د نا امیده کیدلو او په آیت کریمه ﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أُبۡسِلُواْ بِمَا كَسَبُواْ﴾ سره شوې دې، یعنی دا خلق به دخپلو بدعملو په وجه عذاب او هلاکت ته حواله کړې شی. ددې نه دوه درې کربنې وړاندې د (ابلسوا) معنی ئې په (افضحوا) سره کړې ده. یعنی دا خلق به دبدو عملونو په وجه رسوا کړې شی. نتیجه د دواړو تفسیرونه یوه ده. عذاب ته حواله کول اورسوا کیدل د دواړو یو مطلب دې.

قوله: سَرۡمَدًا) دَائِمًا: دا دسورة قصص په آیت کښې دی. ﴿قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرۡمَدًا إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ﴾ په دې کښې (سرمدا) معنی (دائما) ده.

دا امام بخاری رحمه الله دلته ولې ذکر کړې دې؟ علامه عینی رحمه الله فرمائی چې ددې لفظ په دې مقام کښې دذکر کولو مناسبت ښکاره نه دې. [1]

د سورة قصص ایت لره په سورة انعام کې د ذکر کولو متعلق د حضرت گنگوهی توجیه: حضرت مولانا رشیداحمد گنگوهی رحمه الله فرمائی چې امام بخاری رحمه الله چې دا لفظ په دې مقام کښې ذکر کړې دی نو د سورة انعام او سورة قصص په مینځ کښې د معارضه یو وهم ئې لرې کړې دې.

د سورة انعام په آیت کښې دی (وجعل اللیل سکنا) ددې نه معلومیږی چې شپه په آرام او سکون سره موصوفه وی او ددې دوام وی. دغه شان وائی (لیل سرمد) اوږده شپه، او د سورة قصص د آیت نه معلومیږی چې شپې ته دوام او قرار نه وی.

امام بخاری رحمه الله دا تعارض لرې کړې دې چې په سورة قصص کښې اګرچه د سرمد معنی دوام دې، چې کومې شپې ته سرمد وائی دهغې نه مراد دوام نه وی بلکه ددې نه دشپې طوالت او اوږد والې مراد وی. دغه شان دشپې د ساکن کیدو نه هم مراد دوام نه وی بلکه دا مجاز عن الطول نه دې. او ((جعل اللیل سکنا)) کوم چې په سورة انعام کښې دې. ددې نه دشپې ساکن کیدل مراد نه دی بلکه دخلقو او څناورو ساکن کیدل مراد دی چې په شپه کښې ټول چپ او ساکن وی. [2]

دحضرت گنگوهی رحمه الله دا توجیه بې غباره نه ده. په دواړو آیاتونو کښې تعارض وهم او ازاله خو ښکاره ده چې د سورة انعام د آیت نه دشپې دوام او قرار معلوم دې او د سورة قصص د آیت نه دشپې عدم قرام او عدم دوام معلومیږی، ددې وهم ازاله هم ښکاره ده چې د سورة انعام په آیت کښې د سکون لیل نه مراد پخپله دشپې سکون مراد نه دی بلکه ددې نه په شپه کښې دخلقو آرام مراد دې. خو دا چې امام بخاری رحمه الله ددې دوهم ازله څنګه اوکړه. دحضرت گنگوهی په

[1] عمدة القاری (ج۱۸ص۲۲۱) _

[2] لامع الدراری (ج۹ص۸۰و۸۱)_

توجيه کښې دا ښکاره نه دى، امام بخارى رحمه الله دسرمدا تشريح په ،،دائما،، سره کړې ده.په دې سره دذکرشوى وهم ازاله نه کيږى، دا ازله خوبه په هغه وخت کښې وه چې امام بخارى د«وجعلنااليل سكنا» کښې دسکن تشريح داسې کړې وې چې ددې نه د«مافى الليل» سکون مراددې.

قوله: اسْتَهْوَتْهُ) أَضَلَّتْهُ: په دې آيت کښې «كَالَّذِى اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ» دهغه کس پشان چالره چې شيطانانوګمراه کړې وى په دې کښې «استهوته» د«اضلته» په معنى دې.

قوله: تَمْتَرُوْنَ) يَشُكُّوْنَ: په دې آيت کښې دى «ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ» بياهم تاسوشک کوئ.

قوله: وَقْرٌ) صَمَمٌ، وَأَمَّا الْوِقْرُ الْحِمْلُ: په آيت کښې دى «وَجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِىٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا» او مونږ ددوى په زړونوباندې پردې اچولې دى .دې دپاره چې دوى په دې «قرآن» پوهه نشي او ددوى په غوږونوکښې کوڼوالې دې.

يعنى په آيت کښې د«وقر» معنى ده «صم» کوڼوالې ،بوج ،مطلب دا دې اګرچه دوى «منکرين قرآن» اورى ليکن دحق اوهدايت دخبرونه کاڼه دى دجمهوروپه قرآت کښې هم داسې دى يعنى «بفتح الواو» يوقراءت بكسرالواودې ابوعبيده وائى چې «وقر» بکسرالواوپه معنى کښې دې، بوج،، په دې صورت کښې به معنى وى ددوى په غوږونوکښې بوج دې داټ دې چې دخبرې په اوريدوکښې رکاوټ دې.

قوله: أَسَاطِيرُ) وَاحِدُهَا أُسْطُورَةٌ وَإِسْطَارَةٌ وَهِيَ التُّرَّهَاتُ: په آيت کريمه کښې دى «يَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ» په دې کښې «اساطير» د«اسطورة» يا«استطارة» جمع ده چې تشريح ئې په «ترهات» سره کولې شى «ترهات» د«ترهة» جمع ده ددې معنى باطل راخى نوداساطيرنه مراداباطيل دى «ترهة» په حقيقت کښې هغې وړې لارې ته وائى کومه چې دلوې لارې نه جداشوې وى بيادروغژنې قصې اوباطل داستان دپاره کنايه اخستې شوې ده [1]

قوله: الْبَأْسَاءُ مِنَ الْبَأْسِ وَيَكُونُ مِنَ الْبُؤْسِ: فرمائى چې په آيت کريمه «يَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ» کښې «باساء» د«باس» نه مشتق دې چې معنى ئې شدت اوسختى ده اوداهم کيدې شى چې «بوس» بالضم نه مشتق وى چې معنى ئې فقيرى ده دآيت ترجمه ده بيامونږهغوى په سختئ اوبيمارئ سره اونيول يعنى په تکليف کښې مو اخته کړل.

قوله: جَهْرَةً) مُعَايَنَةً: په آيت کښې دى «قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ» ته اووايه چې داخوابنائې که په تاسوباندې دالله عذاب ناڅاپه راشى ياپټ نوظالمانونه سوابه بل څوک هلاکولې شى.

ابوعبيده د«جهرة» تفسير کړې دې «معاينة» يعنى دسترګو وړاندې ،ښکاره.

---

[1] عمدة القارى (ج۱۸ص۲۲۲) _

قوله: الصُّوَرُ جَمَاعَةُ صُورَةٍ، كَقَوْلِهِ سُورَةٌ وَسُوَرٌ: په آيت کښې دى ﴿وَلَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوَرِ﴾ ابوعبيده په دې ايت کښې (صور) بفتح الواولوستلې دې اود(صورة) جمع ئې ښودلې ده لکه څنګه چې د(سورة) جمع (سور) راځى ددې حاصل دادې چې دمړوپه صورتونوکښې به شپلئ پوهک وهلى شى اوبيابه هغوى ژوندى کړې شى خودجمهورومفسرينو اواکثرومحققينوقول دادې چې (صُوْر) دواوپه سکون سره اودواوپه فتحې سره (صورة) جمع دلته مرادنه ده بلکه دايوښکردې په کوم کښې چې به دقيامت په ورځ حضرت اسرافيل عليه السلام پوک وهى دهغې په وجه به ټول خلق ژوندى کيږى (١)

قوله: مَلَكُوتٌ مُلْكٌ، مِثْلُ رَهَبُوتٍ خَيْرٌ مِنْ رَحَمُوتٍ، وَيَقُولُ تُرْهَبُ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تُرْحَمَ: په آيت کښې دى ﴿وَكَذٰلِكَ نُرِىٓ إِبْرٰهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ﴾ فرمائى چې په دې آيت کښې (ملكوت) دملک په معنى دې يعنى بادشاهى اواقتداراعلى ،دلته د فعلوت وزن د مصدر دمعنى دپاره استعمال شوې دې لکه (رهوت خيرمن رحموت) کښې چې ،،رهبوت،، او،،رحموت ،،دواړه په مصدرى معنى کښې استعمال شوى دى يعنى چې خلق ستانه ويريږى دابنه ده چې خلق په تاباندې رحم اوکړى څکه چې رحم دچاسره کولې شى عام طورډيرخلق هغه ته تکليف رسوى اوکه څوک په وقاراورعب کښې اوسى نوڅوک هغه ته دتکليف رسولواوتنګولو جراءت نشى کولې (٢)

قوله: جَنَّ أَظْلَمَ: په آيت کښې دى ﴿فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ الَّيْلُ﴾ نوکله چه شپې هغه باندې تياره راوسته په دې آيت کښې د(جن)معنى ده (اظلم)تياره کړه په هغه باندې شپه راغله.

قوله: (يُقَالُ عَلَى اللَّهِ حُسْبَانُهُ أَيْ حِسَابُهُ، وَيُقَالُ حُسْبَانًا مَرَامِيَ. وَرُجُومًا لِلشَّيَاطِينِ): په آيت کښې دې ﴿وَجَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا﴾ دباب نصرنه مصدردې بلکه څنګه چه حساب مصدردې اومطلب دادې چه نمراوسپوږمۍ الله تعالى دحساب وسيله ګرځولې ده چه خلق ددې په ذريعه دکلونو، مياشتواوورځوحساب کوى.

دحسبان دويم تفسيرپه (مَرَامِيَ. وَرُجُومًا لِلشَّيَاطِينِ) سره شوې دے په (مرامى) د(مرماة) جمع ده يعنى دغشى ګذارولوآله مطلب دادې چه الله تعالى کواکب حسبان ګرځولې دى يعنى دشيطانانو دويشتلو ذريعه ئې ګرځولې ده په سورة ملک کښې دى ﴿وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَجَعَلْنٰهَا

(١) وفى فيض البارى (ج ٤ص ١٨١)_ ان ماقاله ابوعبيده صواب لكنه لاتوافقه اللغة لان الصورة تجمع على صورلاعلى سكون الواووليس الصوربعنى الصورة _

(٢) وفى لامع الدرارى (ج ٩ص ٨٢) حاصله ان مقام الخشية اعلى وافضل من مقام الرجاء فان الخاشى يتكلف من الاعمال والمشاق مالا يتحمله الراجى فى تعليقاته فان كان الغالب على القلب داء الامت من مكرالله تعالى والاعتراءبه ،فالخوف افضل وان كان الاغلب هو الياس والقنوط من رحمة الله

رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ) ددې تفصيل په «كتاب بدء الخلق» كښې په «باب صفة الشمس والقمر» كښې تيرشوې دې.

قوله: (مُسْتَقَرٌّ فِي الصُّلْبِ وَ(مُسْتَوْدَعٌ) فِي الرَّحِمِ): په آيت كښې دى «وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَّمُسْتَوْدَعٌ» او «الله هغه دې چه تاسونې ديوكس «آدم عليه السلام» نه پيداكړې يئ «اوبيانې د توالداوتناسل سلسله جارى كړه» بيايوه ټهكانه «يعنى داوسيدوخائې» دې اويودامانت كيخودوخائې دې

په آيت كريمه كښې دمستقراومستودع په مرادكښې دمفسرينوكرامواقوال مختلف دى.

«مستقرفي الصلب» په صلب كښې مستقروى. دمستقرمعنى ده دقرارنيولوخائې. يا د سريدو خائې او«مستودع» داستيداع نه دې. چه معنى ئې ده امانت كيخودوخائې، دابوعبيده د تفسير مطابق د مستقر نه مراد دپلار صلب دې اومستودع نه مراددمور رحم دې.

١٢٤- باب (وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ)

[٤٣٥١] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- قَالَ «مَفَاتِحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ، وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ، وَيَعْلَمُ مَا فِي الأَرْحَامِ، وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ».

١٢٥- باب قَوْلِهِ (قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ) الآيَةَ.

(يَلْبِسَكُمْ) يَخْلِطَكُمْ مِنَ الاِلْتِبَاسِ. (يَلْبِسُوا) يَخْلِطُوا. (شِيَعًا) فِرَقًا.

په آيت كريمه كښې دى. (أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ) يا به تاسوډلې ډلې كړى اوګډوډ به كړى، «يعنى په مختلفوډلوكښې به موېخپل مينځ كښې مشت وګريوان كړى» اويوته به دبل دجنګ مزه اوڅكوى

فرمائي چه «يلبسكم» معنى ده «يخلطكم» اودادالتباس نه مشتق دې چه معنى ئې اشتباه او اختلاط ده. «ويلبسوا» دباب ضرب په معنى د «يخلطوا» ده يعنى ملاوهل، خرابول اوفاسد كول «شيعا» په معنى د «فرقا» ده كومه چه د «فرقة» جمع ده چه معنى ئې فرقه اوډله ده.

[٤٣٥٢] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ جَابِرٍ- رضى الله عنه- قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ (قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ) قَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- «أَعُوذُ بِوَجْهِكَ». قَالَ (أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ) قَالَ

«أَعُوذُ بِوَجْهِكَ (أَوْيَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ) قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «هَذَا أَهْوَنُ». أَوْ «هَذَا أَيْسَرُ». [۶۸۸۳، ۶۹۷۱]

يعنی په کوم وخت کښې چه داآيت نازل شواوپه دې کښې داذکراوکړې شوچه دپورته نه به عذاب راشي نو نبی کريم ﷺ دالله جل شانه دپاک ذات په وسيله سره پناه اوغوښتله اوکله چه دا اوفرمائيلې شوچه دښکته نه به عذاب راشي ،ددې نه خسف يعنی په زمکه کښې ښخيدل مراد دی نونبی کريم ﷺ دالله دعذاب نه پناه اوغوښتله اوکله چه دا اوفرمائيلې شو چه په تاسو کښې به اختلاف پيدا شي اويود بل سره به مقابل شی نو نبی کريم ﷺ اوفرمائيل دا اهون (آسان) دې.

يو اشکال اودهغې جواب: په دې روايت باندې يواشکال کيږی چه ددې ځائې نه معلوميږی چه ددې امت نه دخسف عذاب پورته کړې شوې دې اودابن مردويه وغيره په روايت کښې ددې تصريح هم راغلې ده چه دروايت الفاظ دادی ،(دعوت الله ان يرفع عن امتی اربعا فرفع عنهم ثنتين وابی ان يرفع عنهم اثنين ،دعوت الله ان يرفع عنهم الرجم من السماء والخسف من الارض وان لا يلبسهم شيعا ولا يذيق بعضهم باس بعض، فرفع الله عنهم الخسف والرجم وابی ان يرفع عن الاخريين) (۱)

امام ترمذی دحضرت عائشې ﷺ حديث نقل کړې دې. په هغې کښې دی (يکون فی آخر هذه الامة خسف ومسخ وقذف) (۲) ددې نه معلوميږی چه خسف به ښکاره کيږی په ظاهره په دواړوکښې تعارض دې.

ددې جواب دادې چه په دې امت کښې به خسف وی خوپه دې کښې به ځوکسان اخته کيږی ټول امت به دخسف په عذاب کښې نه اخته کيږی نو په کومو رواياتو کښې چه دخسف دعذاب نفی کړې شوې ده دهغه نفی دټول امت په اعتبار سره ده اوپه کوموکښې چه دواقع کيدو ذکردې ، نوهغه دځوکسانوپه اعتبار سره دې. (۳)

۱۲۶= باب (وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ)

[۴۳۵۳] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ -رضی الله عنه- قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ (وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ) قَالَ أَصْحَابُهُ وَأَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ فَنَزَلَتْ (إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ)

۱۲۷= باب قَوْلِهِ (وَيُونُسَ وَلُوطًا وَكُلاًّ فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ)

[۴۳۵۴] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ

---

۱ فتح الباری (ج۸ص۲۹۲)_

۲ سنن الترمذی (ج۲ص۴۲) کتاب الفتن باب الخسف فتح الباری (ج۸ص۲۹۲)_

۳ فتح الباری (ج۸ص۲۹۲)_

قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ عَمِّ نَبِيِّكُمْ يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ - رضي الله عنهما - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَا يَنْبَغِي لِعَبْدٍ أَنْ يَقُولَ أَنَا خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى». [ر: ۳۰۶۷]

[۴۳۵۵] حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ أَخْبَرَنَا سَعْدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ سَمِعْتُ حُمَيْدَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَا يَنْبَغِي لِعَبْدٍ أَنْ يَقُولَ أَنَا خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى». [ر: ۳۲۳۴]

۱۲۸= باب قَوْلِهِ (أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ).

په آيت كريمه كښې ئې (فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ) فرمانيلى دى. (فَبِهُمُ اقْتَدِهْ) ئې نه دي فرمانلى خكه چه په دې صورت كښې به معنى داوه چه ته دپيغمبرانو ﷺ اتباع اوكړه اودهغوى داتباع نه كامله اتباع مراد ده. نو(فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ) ئې اوفرمائيل اودهغوى دسيرت اوهدايت په اقتداء حكم ئې وركړو او د شخصى اتباع حكم ئې نه دې وركړې اودسيرت اوهدايت په اقتداء اوشخصى اقتداء كښې فرق وى، دسيرت اوهدايت داقتداء معنى موافقت ده اوددې وجې دا نه معلوميږى چه ددې نه نبى كريم ﷺ ته دهغوى دپوره اتباع حكم وركولې شى بلكه ثابتيږى ترې چه تاسو دهغوى موافقت اوكړئ.(۱)

د شرائع من قبلنا متعلق يوه فائده: په دې آيت كښې تنبيه ده چه په اصولى توگه ستاسولار د وړاندينو پيغمبرانو ﷺ نه جداده. دفروعاتواختلاف دهرې زمانې په مناسبت سره او استعداد په اعتبارسره وړاندې هم واقع راروان دي او اوس هم واقع دي په دې كښې څه (شرائع من قبلنا) هم اعتبار شته په شرط دعدم انكار.(۲)

[۴۳۴۲] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ قَالَ أَخْبَرَنِي سُلَيْمَانُ الأَحْوَلُ أَنَّ مُجَاهِدًا أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَأَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ أَفِي «ص» «سَجْدَةٌ» فَقَالَ نَعَمْ. ثُمَّ تَلاَ (وَوَهَبْنَا) إِلَى قَوْلِهِ (فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ) ثُمَّ قَالَ هُوَ مِنْهُمْ. زَادَ يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ وَمُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ وَسَهْلُ بْنُ يُوسُفَ عَنِ الْعَوَّامِ عَنْ مُجَاهِدٍ قُلْتُ لاِبْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ نَبِيُّكُمْ - صلى الله عليه وسلم - مِمَّنْ أُمِرَ أَنْ يَقْتَدِيَ بِهِمْ.

په دې باندې به تفصيلى بحث په سورة ،،ص،، كښې انشاء الله راشى.

(.زَادَ يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ وَمُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ وَسَهْلُ بْنُ يُوسُفَ عَنِ الْعَوَّامِ عَنْ مُجَاهِدٍ قُلْتُ لاِبْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ نَبِيُّكُمْ - صلى الله عليه وسلم - مِمَّنْ أُمِرَ أَنْ يَقْتَدِيَ بِهِمْ.)

ديزيد بن هارون روايت اسماعيلى موصولانقل كړې دې. دمحمدبن عبيد روايت امام بخارى

---

(۱) فيض البارى (ج ٤ ص ١٨٤)_

(۲) تفسيرعثمانى (١٨٤)_

دسورة ،،ص ،،په تفسیر کښې موصولا نقل کړې دې اودسهل بن یوسف طریق باندې امام بخاری په کتاب الانبیاء کښې موصولانقل کړې دې .(۱)

۶-باب قَوْلِهِ (وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَا) الآيَةَ.

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (كُلَّ ذِي ظُفُرٍ) الْبَعِيرُ وَالنَّعَامَةُ. (الْحَوَايَا) الْمَبْعَرُ. وَقَالَ غَيْرُهُ (هَادُوا) صَارُوا يَهُودًا، وَأَمَّا قَوْلُهُ (هُدْنَا) تُبْنَا. هَائِدٌ تَائِبٌ.

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د(كُلَّ ذِي ظُفُرٍ) تفسیر په (الْبَعِيرُ وَالنَّعَامَةُ.) سره کړې دې اوحضرت سعیدبن جبیرفرمائیلی دی چه د(ذی ظفر) نه مراد هغه خناوردی چه ګوتې ئې جداجداوی جوختې نه وی .(۲)

قوله: (الْحَوَايَا) الْمَبْعَرُ: په آیت کښې دی . (اَوِالْحَوَايَآاَوْمَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ) (حوایا) د(حواية)حوية)جمع ده کولموته وائی (مبعر) هغه ځائې ته وائی په کوم کښې چه بچې جمع کیږی یعنی کولمه .

قوله: (وقال غيره هادوا صاروا يهودا وأما قوله (هُدْنَا) تُبْنَا . هَائِدٌ تَائِبٌ) په دې آیت کښې (وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا) نه یهودیان مراددی اوپه سورة عراف کښې دی . انا هدنا اليك (۳)کښې (هدنا) په معنی د(تبنا) یعنی توبه ویستلواورجوع کولوده ، (هادالرجل هودا) رجوع کول .توبه ویستل ،یهودیانوته ددې وجې یهود وائی چه هغوی دسخی دعبادت نه توبه ویستلې وه . دانوم دمدح په ډول ووخودهغوی دشریعت منسوخ کیدونه پس دمدح معنی دې نه ختمه شوه اوس په منسوخ اوتحریف شده دین اختیار کونکی باندې دیهودیت اطلاق کیږی.

[۴۳۵۷] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ قَالَ عَطَاءٌ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ-رضي الله عنهما- سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ، لَمَّا حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ شُحُومَهَا جَمَلُوهُ ثُمَّ بَاعُوهُ فَأَكَلُوهَا». وَقَالَ أَبُو عَاصِمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ حَدَّثَنَا يَزِيدُ كَتَبَ إِلَيَّ عَطَاءٌ سَمِعْتُ جَابِرًا عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم [ر: ۲۱۲۱]

نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی دې یهودیان تباه کړی کله چه الله تعالی په هغوی باندې وازګه حرامه کړه نوهغوی دا ویلې کړه اوبیا به ئې خرڅوله اوهغه روپئ به ئې خوړلې ،د (حمل الشحم) معنی دوازګې ویلې کول دی .داروایت په کتاب البیوع کښې تیرشوې دې .(۴)

۱) عمدة القاری (ج ۱۸ص۲۲۷)_
۲) عمدة القاری (ج ۱۸ص۲۲۷)_
۳) سورة الاعراف (الکهف :۵۵)_
۴) کتاب البیوع باب بیع المیتة والاصنام (ج ۱ص۲۹۸)، تعلیقات لامع الدراری (ج ۹ص۸۳)_

۱۲۰=باب قولِهِ (وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ)

[۴۳۵۸] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ -رضى الله عنه- قَالَ «لَا أَحَدَ أَغْيَرُ مِنَ اللَّهِ، وَلِذَلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، وَلَا شَيْءَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْمَدْحُ مِنَ اللَّهِ، لِذَلِكَ مَدَحَ نَفْسَهُ». قُلْتُ سَمِعْتَهُ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ نَعَمْ. قُلْتُ وَرَفَعَهُ قَالَ نَعَمْ. [ر: ۴۳۶۱، ۴۹۲۲، ۶۹۶۸]

وَكِيلٌ حَفِيظٌ وَمُحِيطٌ بِهِ. (..) (قُبُلًا) جَمْعُ قَبِيلٍ، وَالْمَعْنَى أَنَّهُ ضُرُوبٌ لِلْعَذَابِ، كُلُّ ضَرْبٍ مِنْهَا قَبِيلٌ. (زُخْرُفَ) كُلُّ شَيْءٍ حَسَّنْتَهُ وَوَشَّيْتَهُ وَهُوَ بَاطِلٌ فَهُوَ زُخْرُفٌ (وَحَرْثٌ حِجْرٌ) حَرَامٌ وَكُلُّ مَمْنُوعٍ فَهُوَ حِجْرٌ مَحْجُورٌ، وَالْحِجْرُ كُلُّ بِنَاءٍ بَنَيْتَهُ، وَيُقَالُ لِلْأُنْثَى مِنَ الْخَيْلِ حِجْرٌ. وَيُقَالُ لِلْعَقْلِ حِجْرٌ وَحِجًى. وَأَمَّا الْحِجْرُ فَمَوْضِعُ ثَمُودَ، وَمَا حَجَّرْتَ عَلَيْهِ مِنَ الْأَرْضِ فَهُوَ حِجْرٌ وَمِنْهُ سُمِّيَ حَطِيمُ الْبَيْتِ حِجْرًا، كَأَنَّهُ مُشْتَقٌّ مِنْ مَحْطُومٍ، مِثْلُ قَتِيلٍ مِنْ مَقْتُولٍ، وَأَمَّا حَجْرُ الْيَمَامَةِ فَهُوَ مَنْزِلٌ. -ر/-

قوله: (قُبُلًا) جَمْعُ قَبِيلٍ، وَالْمَعْنَى أَنَّهُ ضُرُوبٌ لِلْعَذَابِ، كُلُّ ضَرْبٍ مِنْهَا قَبِيلٌ: په سورة انعام كښې آيت دې (وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا) په دې آيت كريمه كښې (قبلا) د(قبيل)جمع دے او قبيل د(قبيلة)جمع ده .دقبيلې معنى ده ډله او جماعت دآيت مطلب دادې كه مونږ هر يو څيز ډلې ډلې اوصنف صنف ددوى وړاندې جمع كړو بيا هم دوى ايمان نه راوړى .

امام بخارى رحمه الله دلته ددې لفظ معنى دعذاب قسمونه اوانواع كړې ده . خودامعنى دسورة انعام په ذكرشوې آيت كښې صحيح نه ده .البته دالفظ په سورة كهف كښې راغلې دې، هلته ددې معنى دعذاب قسمونه او انواع كړې ده، خودامعنى دسورة انعام په ذكرشوې آيت كښې صحيح نه دہ، البته دالفظ په سورة كهف كښې راغلې دې، هلته ددې معنى دعذاب قسمونه اوانواع شوې ده آيت دې .(وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَنْ يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَى وَيَسْتَغْفِرُوا رَبَّهُمْ إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا) (۱) داسې معلوميږى چه كاتب دسورة كهف ددې لفظ تفسيرپه سورة انعام كښې ذكر كړې دې. (۲)

قوله: (زُخْرُفَ) كُلُّ شَيْءٍ حَسَّنْتَهُ وَوَشَّيْتَهُ وَهُوَ بَاطِلٌ فَهُوَ زُخْرُفٌ): هغه څيزدې چه ښكلې اوښائسته كړې شى اوپيش كړې شى اوهغه باطل وى خو د هغې د تزئين په وجه د هغې د بطلان د پټولو كوشش كولې شى هغه زخرف دې.

قوله: (وَحَرْثٌ حِجْرٌ) حَرَامٌ وَكُلُّ مَمْنُوعٍ فَهُوَ حِجْرٌ مَحْجُورٌ: په آيت كښې دى ((وقالواهذه انعام

---

(۱) الكهف :۵۵)_

(۲) اوګورئ تعليقات لامع الدرارى (ج۹ص ۸۴)، اوګورئ صحيح البخارى باب حديث الانبياء باب قول الله تعالى والى ثمود اخاهم صالحا(ج۱ص۴۷۸)_

وحرث حجر) د حجر معنی د حرام ده.د فصل څه حصه به داسي وه چه د هغي استعمال به هغوی دخپل ځان د پاره حرام ګڼړله او هغه حصه به ئي د بتانو په نوم ګرځوله نو دا د هغې بيان کیږی او هر هغه څيز چه هغه ممنوع ګرځولي شوي وی نو هغي ته حجر او محجور وئیلي شي او هره هغه آبادی چه ته ئي جوړه کړي هغي ته هم حجر وائی ځکه چه جوړولو نه پس د نورو خلقوهغي ته داخليدل ممنوع شی.او اسپي ته هم حجر وائي ځکه چه هلته هم د هغي مالك دا کوشش کوی چه عام اس د دې سره وطي اونکړی نو هلته هم ممنوعيت موجوديږی.اکثرد اسپې د وطی کولو دپاره د خاص اس انتخاب کولې شی.

عقل ته هم حجروئیلي شی ځکه چه دا هم د بدو کارونو نه منع کول کوی. او حجر د قوم ثمود د علاقي نوم هم دې او په کومه زمکه چه ته نښه اولګوي او د ګیرچاپیره نه ئي جدا او محفوظ کړي چه څوك هغي ته نه داخليږی. د زمکي داسي حصي ته هم حجر وائی. او د بيت الله حطيم شريف ته هم حجر وئیلي شي ځکه چه ددې نه ئې هم ديوال تاؤ کړې دې او راګير کړي ئي دي. لکه چه حطيم د محطوم نه مشتق دې او د محطوم نه مقصود دا دي چه د مفهوم په اعتبار سره چه څه د محطوم مطلب دي هم هغه د حطيم مطلب دي. په مفهوم کښي يوشان والي او مناسبت بيانول مقصود دي. د لفظ د بل لفظ نه استخراج مقصود نه دي.لکه د قتيل په باره چه وئیلي شی چه دا د مقتول نه مشتق دې.

حَجرالیمامة (د حا په فتحي سره) د يو منزل نوم دې.
امام بخاری رحمه الله هم دا تفصيل د حضرت صالح عليه السلام په واقعه کښي هم ذکر کړي دي.[1]

۱۳۱_باب قَوْلِهِ (هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمْ)[۱۵۰]

لُغَةُ أَهْلِ الحِجَازِ هَلُمَّ لِلْوَاحِدِ وَالاِثْنَيْنِ وَالجَمِيعِ

۱۳۲_باب (لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا[۱۵۸]

[۴۲۵۹][2] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا عُمَارَةُ حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَإِذَا رَآهَا النَّاسُ آمَنَ مَنْ عَلَيْهَا، فَذَاكَ حِينَ لاَ يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا، لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ».

---

[1]) اوګورئ: صحيح البخاری باب احاديث الانبياء، باب قول الله تعالى : والى ثمود اخاهم صالحاً. ۴۷۸۱۱-
[2]) اخرجه مسلم فى كتاب الايمان، باب: بيان الزمن الذى لا يقبل فيه الايمان رقم الحديث: ۱۵۷، واخرجه البخارى فى كتاب الفتن، رقم الحديث: ۷۱۲۰ (مع الفتح) واخرجه البخارى فى كتاب الرقاق، رقم الحديث: ۶۵۰۶ وفى كتاب التوحيد، واخرجه ابوداؤد فى كتاب الملاحم، باب حسر الفرات عن كنز، رقم الحديث: ۴۳۱۳، واخرجه الترمذى فى كتاب الفتن، باب ما جاء فى قتال الترک، رقم الحديث: ۲۲۱۵، واخرجه ابن ماجه فى كتاب الفتن، باب طلوع الشمس من مغربها، رقم الحديث: ۴۰۶۸ـ

[۴۲۶۰] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا فَإِذَا طَلَعَتْ وَرَآهَا النَّاسُ آمَنُوا أَجْمَعُونَ، وَذَلِكَ حِينَ لاَ يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا» . ثُمَّ قَرَأَ الآيَةَ..... ﴿يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا﴾

په كوم وخت كښې چې به د مغرب د طرفه نمر راخيژى او خلق به هغه اوګورى نو په زمكه چه څومره خلق دى هغوى ټول به ايمان راوړى خو په هغه وخت كښې به د هغوى ايمان راوړل چه د وړاندې نه مؤمن نه وى، مفيد به نه وى،او يا چا چه د وړاندې نه څه نيك اعمال نه وى كړى نو اوس چه د مغرب د طرف نه نمر راوخيژى د هغه نيك اعمال كول به د هغه د ايمان د پاره فائده مند نه وى. علامه زمحشرى ددې آيت نه د معتزلو په دې عقيده باندې استدلال كړې دې چه ايمان د عمل صالح نه بغير مفيد نه دې او كافر او مرتكب د ګناه كبيره دواړه به مخلد فى النار وى. په تفسير كشّاف كښې فرمائى «فلم يفرق كما ترى بين النفس الكافرة اذا آمنت فى غير وقت الايمان وبين النفس التى آمنت فى وقته ولم تكسب خيراً، ليعلم ان قوله «الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ» جمع بين قرينتين، لا ينبغى أن تنفك إحداهما عن الاخرى حتى يفوز صاحبهما ويسعد، وإلا فالشقوة والهلاك» (١) د علامه زمحشرى د استدلال حاصل دا دې چه طلوع شمس من الغرب نه وړاندې چه چا ايمان نه وى راوړې او اوس د دې نه پس ايمان راوړى. نو د هغه ايمان به مفيد نه وى. دغه شان ددې نه وړاندې چه چا ايمان راوړې وى خو نيك اعمال ئې نه وى كړې نو هم د هغه ايمان د هغه د پاره مفيد نه دې. د نمر راختلو نه پس ايمان غيرنافع، او د نمر راختو نه وړاندې ايمان د نيكو اعمالو نه بغير مفيد نه دې. د هغوى په نيز تقدير د عبارت داسې دې، ﴿يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا﴾

د ايت كريمه نه د معتزله په عقيده باندې د علامه زمحشرى استدلال او دهغې رد: د علامه زمحشرى ددې استدلال نه مختلف جوابونه وركړې شوې دى.

① مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه په آيت كريمه كښې كلمه د (او) د نفى په سياق كښې واقع شوې ده او تقديرد آيت دا دې قوله ﴿يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا﴾

په دې كښې د ايمان او عمل صالح دواړو نفى شوې ده چه چا سره ايمان او عمل صالح دواړه نه وى نو د طلوع الشمس من المغرب نه پس كه هغه ايمان راوړى نو د هغه ايمان د هغه د پاره مفيد نه دې. (٢)

---

(١) تفسير كشاف (٢/٨٢) تفسير سورة الانعام)-

(٢) فيض البارى (٤/١٨٢ و ١٨٣) قال الشيخ بدر عالم الميرتهى فى حاشية البدرالسارى الى فيض البارى قلت: وحينئذ لا بد من بيان نكتة للتعرض الى خصوص هذا اليوم فان...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

۲ اکثر حضرات فرمائی چه په آیت کښې لف و نشر مرتب دې. په لف کښې اجمال پرېخودې شوي دي او په نشر کښې دواړه اجزاء ذکر کړي شوي دی.
د آیت تقدير دادي قوله ﴿يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا﴾ يعنې په کومه ورځ چه به ستا د رب د بعضې نښو ظهور اوشي نو هغه نفس ته به ايمان څه نفع ورنکړي چا چه وړاندي ايمان نه وی راوړي او نه به د هغه چا عمل مفيد وی چا چه وړاندي د نيکۍ څه کار نه وی کړي مطلب ئي دا دي چه د طلوع الشمس من المغرب نه پس به نه ايمان مفيد وی او نه به عمل صالح مفيد وی. په آيت کښې د ايمان او عمل صالح د غير مفيد کيدو تعلق د طلوع شمس من المغرب نه روستو زمانې پورې متعلق دي. نو د طلوع شمس نه وړاندې په ايمان باندې چه د عمل صالح نه بغير وی د غير مفيد کيدو باندې استدلال کول صحيح نه دی.(١)
فائده: علامه عثمانی رحمه الله ليکي، کله چه د الله اراده اوشی چه موجوده نظام درهم برهم کړی نو د موجوده قوانين طبعيه خلاف به ډير عظيم الشان خوارق واقع شی په هغې کښې يو طلوع الشمس من مغربها دي. او په دې حرکت مقلوبی کښې دې طرف ته اشاره ده چه کوم قوانين قدرت او نواميس طبعيه د دنيا په موجودګۍ کار کونکی وو د هغې د ميعاد ختميدو وخت راغلي دي لکه چه د دغه وخت د عالم کبير د نزع او د روح وتلو وخت شروع شوي دي او لکه څنګه چه د عالم صغير (انسان) دځنکدن په وخت کښې ايمان او توبه مقبول نه وی دغه شان طلوع الشمس من المغرب نه پس به هم د مجموعه عالم په حق کښې هم دا حکم وی.
په بعض رواياتو کښې دي سره د خروج دجال او خروج دابه وغيره بيان شوي دي د هغې رواياتو نه مراد دا دي چه د توبې دروازه به هله بنديږی چه د دې ټولو نښو مجموعه متحقق شی او دا به هله کيږی چه طلوع الشمس من المغرب هم متحقق شی. جدا جدا په هره يوه نښه باندې حکم نه متفرع کيږی.(٢)

باب: تفسير سورة الأَعْرَافِ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَرِيَاشًا الْمَالُ (الْمُعْتَدِينَ) فِي الدُّعَاءِ وَفِي غَيْرِهِ. (عَفَوْا) كَثُرُوا وَكَثُرَتْ أَمْوَالُهُمْ (الْفَتَّاحُ) الْقَاضِي (افْتَحْ بَيْنَنَا) اقْضِ بَيْنَنَا. (نَتَقْنَا) رَفَعْنَا (انْبَجَسَتْ) انْفَجَرَتْ (مُتَبَّرٌ) خُسْرَانٌ (آسَى) أَحْزَنُ (تَأْسَ) تَحْزَنْ.
وَقَالَ غَيْرُهُ (مَا مَنَعَكَ أَنْ لَا تَسْجُدَ) يَقُولُ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ (يَخْصِفَانِ) أَخَذَا الْخِصَافَ مِنْ

...بقيه ازحاشيه گذشته] عدم النفع عندالخلوعن الايمان والاعمال عام لا اختصاص له بيوم دون يوم، ولم يتفق لي فيه مراجعة الى الشيخ (البدرالساری ۱۸۳\٤)-
(١) وانظرالانتصاف على الكشاف (۲\۸۲) وروح المعانی (۱۲۶\٥) -
(٢) تفسير عثمانی (۱۹۹)-

وَرَقِ الْجَنَّةِ، يُؤَلِّفَانِ الْوَرَقَ، يَخْصِفَانِ الْوَرَقَ بَعْضَهُ إِلَى بَعْضٍ. (سَوْآتِهِمَا) كِنَايَةٌ عَنْ فَرْجَيْهِمَا، (وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ) هَا هُنَا إِلَى الْقِيَامَةِ، وَالْحِينُ عِنْدَ الْعَرَبِ مِنْ سَاعَةٍ إِلَى مَا لاَ يُحْصَى عَدَدُهَا،

الرِّيَاشُ وَالرِّيشُ وَاحِدٌ وَهُوَ مَا ظَهَرَ مِنَ اللِّبَاسِ.

(قَبِيلُهُ) جِيلُهُ الَّذِي هُوَ مِنْهُمْ. (ادَّارَكُوا) اجْتَمَعُوا،

وَمَشَاقُّ الإِنْسَانِ وَالدَّابَّةِ كُلُّهُمْ يُسَمَّى سُمُومًا وَاحِدُهَا سَمٌّ وَهِيَ عَيْنَاهُ وَمَنْخِرَاهُ وَفَمُهُ وَأُذُنَاهُ وَدُبُرُهُ وَإِحْلِيلُهُ. (غَوَاشٍ) مَا غُشُوا بِهِ. (نُشُرًا) مُتَفَرِّقَةً. (نَكِدًا) قَلِيلاً (يَغْنَوْا) يَعِيشُوا (حَقِيقٌ) حَقٌّ. (اسْتَرْهَبُوهُمْ) مِنَ الرَّهْبَةِ (تَلْقَفُ) تَلْقَمُ. (طَائِرُهُمْ) حَظُّهُمْ. طُوفَانٌ مِنَ السَّيْلِ وَيُقَالُ لِلْمَوْتِ الْكَثِيرِ الطُّوفَانُ. الْقُمَّلُ الْحُمْنَانُ يُشْبِهُ صِغَارَ الْحَلَمِ. عُرُوشٌ وَعَرِيشٌ بِنَاءٌ (سُقِطَ) كُلُّ مَنْ نَدِمَ فَقَدْ سُقِطَ فِي يَدِهِ. الأَسْبَاطُ قَبَائِلُ بَنِي إِسْرَائِيلَ. (يَعْدُونَ فِي السَّبْتِ) يَتَعَدَّوْنَ لَهُ يُجَاوِزُونَ تَعْدُ تُجَاوِزْ. (شُرَّعًا) شَوَارِعَ (بَئِيسٍ) شَدِيدٍ، (أَخْلَدَ) قَعَدَ وَتَقَاعَسَ (سَنَسْتَدْرِجُهُمْ) نَأْتِيهِمْ مِنْ مَأْمَنِهِمْ كَقَوْلِهِ تَعَالَى (فَأَتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا) (مِنْ جِنَّةٍ) مِنْ جُنُونٍ. (فَمَرَّتْ بِهِ) اسْتَمَرَّ بِهَا الْحَمْلُ فَأَتَمَّتْهُ (يَنْزَغَنَّكَ) يَسْتَخِفَّنَّكَ، طَيْفٌ مُلِمٌّ بِهِ لَمَمٌ وَيُقَالُ (طَائِفٌ) وَهُوَ وَاحِدٌ (يَمُدُّونَهُمْ) يُزَيِّنُونَ. (وَخِيفَةً) خَوْفًا وَخُفْيَةً مِنَ الإِخْفَاءِ، وَالآصَالُ وَاحِدُهَا أَصِيلٌ مَا بَيْنَ الْعَصْرِ إِلَى الْمَغْرِبِ كَقَوْلِهِ (بُكْرَةً وَأَصِيلاً). (الفرقان)

سُورَةُ الأَعْرَاف

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَرِيَاشًا الْمَالُ: سوره اعراف كښې دى، قَدْ أَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا: رياشا جمع د ريش ده. د جمهورو قرآءت سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا : دي. (١) د رياشا يو تفسير مال سره کړې شوې دې او دويم تفسير په لباس سره شوي دي چه وړاندې راغې.

قوله: إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ فِي الدُّعَاءِ وَفِي غَيْرِهِ: آيت مبارك كښې دى، ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ، اعتداء د حد نه زياتي كونكى ته وائي. اعتداء فى الدعاء الله تعالى ته خوښه نه ده، په دعا كښې اعتداء دا ده چه انسان محالات او د ناممكن څيزونو دعا كوى .مثلاً د نبوت سوال كول، يا د فرښتي جوړيدو دعا كول. دغه شان په دعا كښې ډير قيودات لګول هم په اعتداء داخل دى. امام ابن ماجه رحمه الله يو حديث نقل كړې دې په كوم كښې چه ددې ممانعت شوې دې. د روايت الفاظ دا دى: أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مُغَفَّلٍ سَمِعَ ابْنَهُ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْقَصْرَ الأَبْيَضَ عَنْ يَمِينِ الْجَنَّةِ إِذَا دَخَلْتُهَا. فَقَالَ أَيْ بُنَيَّ سَلِ اللَّهَ الْجَنَّةَ وَعُذْ بِهِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّي سَمِعْتُ

(١) عمدة القاري: ١٨\٢٣١)

رَسُولَ اللهِ ـ صلی الله علیه وسلم ـ يَقُولُ سَيَكُونُ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِي الدُّعَاءِ:([1])
دغه شان په دعا کښې شور او رفع صوت اوکړی چه مونځ گذارو ته او ذکر کونکو ته پریشانی وی نو دا هم په اعتداء فی الدعاء کښې داخل دی.

قوله: عَفَوْا كَثُرُوا وَكَثُرَتْ أَمْوَالُهُمْ: ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ حَتَّى عَفَوْا، يعنی مونږ د بد حالئ په ځائې خوشحالی بدله کړه. تر دې چه ډیر لوئې شو یعنی بنه ترقی ئې اوکړه، فرمائی ((عفوا)) معنی ډیر شو او د هغوی مالونه زیات شو.

قوله: الْفَتَّاحُ الْقَاضِي افْتَحْ بَيْنَنَا اقْضِ بَيْنَنَا: آیت کښې دی رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ،، اې زمونږ پروردګاره ؛ زمونږ او زمونږ د قوم په مینځ کښې فیصله اوکړه.

قوله: وَإِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ اي رفعنا: آیت مبارک کښې دی، وَإِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُ ظُلَّةٌ،، او کله چه مونږ د هغوی د پاسه غر راوچت کړو لکه چه هغه چهترئې ده.((نَتَقْنَا)) معنی ده رفعنا ای مونږ اوچت کړو.

قوله: انْبَجَسَتْ: انْفَجَرَتْ: آیت مبارک کښې دی اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانْبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا: یعنې په کاڼړی باندې خپله همسا اووهه، نو د دې کاڼړی نه دولس چینې روانې شولې انبجست په معنی د انفجرت دې یعنی جاری شوې.

قوله: مُتَبَّرٌ: خُسْرَانٌ: آیت کښې مبارک دی،، إِنَّ هَؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَا هُمْ فِيهِ: یعنی دا خلق چه په کومه طریقه کښې لګیا دی خسارې والا دی (یعنی دا خلق به تباه کړې شی) متبرٌ په معنی د خُسران سره دې.

قوله: آسى اي أحزن: تأسَ اي تحزن: آیت مبارک کښې دی،، فَكَيْفَ آسَى عَلَى قَوْمٍ كَافِرِينَ: نو څنګه (یعنی ولې) غم اوکړم د کافر قوم. آسَی د واحد متکلم صیغه ده په معنی د أحزن سره. د حُزن معنی خفګان کول، هم په دې مناسبت سره دویم لفظ تأس په معنی د تحزن ذکر کړې شوې دې، سره ددې چه دا لفظ دې سورة کښې نه دې بلکه سورة مائده کښې دې: ''فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ''

قوله: وقال غيره: مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ يَقُولُ: ما منعك أن تسجد: آیت کښې دی مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ،، بعض حضراتو په کښې،، لَا،، زائده ګڼړلې ده. په دې سورة کښې به ترجمه دا وی: کوم څیز ته د سجدې کولو نه منع کړې سره ددې چه ما پخپله تا ته حکم درکړو. او بعض حضراتو،، لَا،، زائده نه ده منلې. هغوی فرمائی چه دا،،لَا،، د نفی د تاکید د پاره ده چه د،،منعك،، نه په پوهه کښې راځی نو په دې صورت کښې به ترجمه دا وی: کوم څیز ته منع

[1]) الحدیث اخرجه ابن ماجه فی سننه فی کتاب الدعاء باب کراهیة الاعتداء فی الدعاء رقم الحدیث: ۳۸۶۴

کړي چه ته سجده نه کوي کله چه ما تا ته حکم درکړو.

قوله: يَخْصِفَانِ أَخَذَا الْخِصَافَ مِنْ ورق الجنة يؤلفان الورق يخصفان الورق بعضه إلى بعض: آيت مبارك كښې دى،، فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ،، يعنى چه كله دې دواړو هغه وُونه اُوڅکله نو د دواړو ستر شوى بدنونه د يو بل په وړاندې ښکاره شو، (ځکه چه د جنت لباس د هغه عمل په وجه کوز کړې شو) او هغوى په خپلو اندامونو باندې پاڼړې کېخودل شروع کړې. پاڼړې به ئې يو ځائې کولې او يو بل سره به ئې ميلاوولې او ده ستر د پاره به ئې د بدن په پټو حصو باندې کېخودلې. ((خصف الشيئ على الشيئ)) اينخلول، (خصاف خصفة) جمع ده ((خصفة)) د کهجورو د پاڼړو نه جوړه شوې توکرنې زنبيل وغيره ته وائي.

قوله: (وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ) هو هاهنا إلى يوم القيامة، والحين عند العرب من ساعة إلى ما لا يحصى عددهم: وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ» په دې کښې، حين، د قيامت په معنى کښې دې، د حين لفظ د يوې لحظې نه واخله د غير محصور مودې پورې استعماليږي.

قوله: ادَّارَكُوا: اجْتَمَعُوا: آيت مبارك كښې دى،، كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَعَنَتْ أُخْتَهَا حَتَّى إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا» کښې چه هم يوه ډله (د کافرانو) دوزخ کښې داخله شى د خپل خان په شان بله ډله باندې به لعنت کوى تر دې چه کله به هغه (دوزخ) کښې ټول راجمع کړې شى.

فرمائى د ((ادارکوا)) معنى ((اجتمعوا)) ده.

قوله: وَمَشَاقُّ الْإِنْسَانِ وَالدَّابَّةِ كُلُّهُمْ يُسَمَّى سُمُومًا وَاحِدُهَا سَمٌّ: آيت مبارك كښې دى،، حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ،، فرمائى چه په انسان او ځناورو ټولو کښې چه دننه کومه سوره ده هغې ته سموم وائې ددې مفرد سم دې. د انسان سترګه، د پوزې سوړې، غوږ او وړاندې روستو ته سموم وائې.

قوله: (غَوَاشٍ) مَا غُشُّوا بِهِ: آيت مبارك كښې دى،، لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ،، ((غَوَاشٍ)) د،، غاشية،، جمع ده. هغه څيز کوم سره چه بل څيز پټ کړې شى. يعنى پرده وغيره

قوله: نُشْرًا اي متفرقة: وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ» د جمهورو قرأة ((بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ)) دې. امام بخارى رحمه الله،، نُشْرًا،، والا قرأة نقل کړې دې. په دې صورت کښې به ترجمه داسې وى،، او الله هغه ذات دې چه د باران رحمت نه وړاندې هوا ګانې راليږى.

قوله: نَكِدًا: قَلِيلًا: آيت مبارك كښې دى،، وَالَّذِي خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا،، او کومه زمکه چه خرابه ده د هغې پيدا وار کم راوځى. په دې کښې دَ ((نکد)) معنى قليل ده،

قوله: يَغْنَوْا: يَعِيشُوا: آيت مبارك كښي دى: ، الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا ، ، چا چه د شعيب عليه السلام تكذيب كړي وو ((يعنى د هغوى داسي حال شو)) لكه چه په هغه كورونو كښي چرته اوسيدلي هم نه وو. د ((يَغْنَوْا)) معنى د ژوندون او ژوند تيرول دى.

قوله: حَقِيقٌ: حَقٌّ: آيت مبارك كښي دى: ، وَقَالَ مُوسَى يَا فِرْعَوْنُ إِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ حَقِيقٌ عَلَى أَن لَّا أَقُولَ عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ .... ((رالګلى شوي) يم په ما باندي حق او واجب دا دى چه بغير د رينښتياؤنه دالله تعالى طرف ته هيڅ خبره منسوب نه كړم (يعنى د دروغو نسبت نه كوم) د ((حَقِيقٌ)) معنى حق ده.

قوله: اسْتَرْهَبُوهُمْ : مِنَ الرَّهْبَةِ: آيت مبارك كښي دى: ، فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ ، ، كله چه خلقو (جادوګرو خپلي رسئي او لرګى) اوغورزول نو د خلقو نظر بندى ئي اوكړه او په هغوى باندي ئي يره شروع كړه. ((اسْتَرْهَبُوهُمْ)) د ، ، رهبة ، ، نه مشتق دي د كوم معنى چه ويره ده.

قوله: تَلَقَّفُ: تَلَقَّمُ: آيت مبارك كښي دى" فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ" دي آيت كښي ((تلقف)) ((تلقم)) په معنى دي. يعنى نورئي جوړول او تيرول . . .

قوله: طَائِرُهُمْ: حَظُّهُمْ: آيت مبارك كښي دى: ، الا إِنَّمَا طَائِرُهُمْ عِندَ اللَّهِ ، ، امام بخارى رحمه الله د طائره تفسير په حظ سره كړي دي. د كوم معنى چه حصه او نصيب راځى ليكن اكثرو حضراتو د طائره معنى سپيره والي يا د سپيره والى سبب سره كړي ده.

قوله: وَالْقُمَّلَ: الْحُمْنَانُ يُشْبِهُ صِغَارَ الْحَلَمِ: آيت مبارك كښي دى: ، فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ ، ، امام بخارى رحمه الله د قُمَّلَ تشريح كړيده چه ددي نه مراد سپګي دى، چه د كُونو په شان وى. حمنان (د حاء په ضمي سره او د نون په سكوم سره) د حمنانة جمع ده چه جوګي او كُونى ته وائى. ((الحلم)) واړه چينجي او كُونى ته وائى دا د حملة جمع ده.

قوله: عُرُوشٌ: وَعَرِيشٌ: بِنَاءٌ: آيت مبارك كښي دى: ، وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ ، ، او مونږ د فرعون او د هغه د قوم جوړي شوي كارخاني او كوم چه هغوى عمارتونه جوړ كړي وو تباه كړل. فرمائى د عروش او د عريش معنى بناء يعنى عمارت او محل دي.

قوله: سُقِطَ: كُلُّ مَنْ نَدِمَ فَقَدْ سُقِطَ فِي يَدِهِ: آيت مبارك كښي دى: ، وَلَمَّا سُقِطَ فِي أَيْدِيهِمْ ، ، كوم سړى چه پښيمانه كيږى د هغه په باره كښي ونيلي كيږى ((سُقِطَ فِي يَدِهِ))

قوله: الْأَسْبَاطُ: قَبَائِلُ بَنِي إِسْرَائِيلَ: آيت مبارك كښي دى: ، وَقَطَّعْنَاهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ، ، مونږ هغوى په دولسو خاندانونو كښي تقسيم كړل او جُدا جُدا ډله مو كړه. د اسباط نه مراد بنى اسرائيل دى ددي واحد سبط دي.

قوله: يَعْدُونَ: يَتَعَدَّوْنَ لَهُ يُجَاوِزُونَ تَعْدُ تُجَاوِزْ: آيت مبارك كښې دى: ، وَاسْأَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِي السَّبْتِ ، ، او تاسو ددي (يهودو) نه ددي كلى د حال تپوس اوکړئ چه د سمندر په غاړه آباد وو، او هغوى د خالى په ورځ د حد نه زياتي كولو، آيت كښې د ((يعدون)) معنى ((يتعدون)) يعنى زياتي كول ده.

قوله: شُرَّعًا: شَوَارِعَ :آيت مبارك كښې دى: ، إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا ، ، د شُرَّعًا معنى د شوارع سره کړي شوي ده او دا جمع د شارع ده، د کوم معنى چه د اوبو د پاسه ښکاره کيدونکي يعنى د خيالى په ورځ به کبان ښکاره کيدل او د هغوى مخي ته به راتلل.

قوله: أَخْلَدَ: قَعَدَ وَتَقَاعَسَ :آيت مبارك كښې دى: ، وَلَكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ ، ، ليكن هغه د دنيا طرف ته مائل شو او د خپل نفساني خواهش پيروى ئي اوکړه. د ((أخلد)) تفسير ((قعد)) او د ((تقاعس)) سره شويدي. ((قعد عن حاجته)) او ((تقاعس عن الامر)) دواړه معنى دي. روستو اخوا شو ((قعود الى الارض)) د دنيا طرف ته ډير ميلان ته كنايه ده. اوس معنى شوه دنيا ئي لازم اونيولا، دنيا طرف ته مائل شو. د ضمير مرجع د اكثر مفسرينو په نيزد بلعم بن باعورد دي چه يو يهودى عالم وو او اسم اعظم ورته معلوم وو.

قوله: سَنَسْتَدْرِجُهُمْ: اى نأتيهم من مأمنهم :آيت مبارك كښې دى: ، سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ، ، رابه شو مونږ هغوى له د هغه ځائ نه د کوم ځائ نه چه هغوى ته څه خطره نه وي او د هغوى په خيال كښې به هغه ځائ بالكل د امن وى.
الله تعالى حكم په داسي طريقه راغلو چه د کوم ځائي نه د هغوى ګمان هم نه وو، دي آيت سره تشبيه د ناڅا پئ سره ده.(١)

قوله: مِنْ جِنَّةٍ: مِنْ جُنُونٍ :آيت مبارك كښې دى: ، أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا مَا بِصَاحِبِهِمْ مِنْ جِنَّةٍ ، ، آيا دي خلقو په دي خبره كښې غور اونه کړو چه د هغوى ملګرى (يعنى حضور ﷺ) ته هيڅ ليونتوب نيشته. په دي كښې د ((جنة)) تفسير په جنون سره شوي دي.

قوله: فَمَرَّتْ بِهِ: اسْتَمَرَّ بِهَا الْحَمْلُ فَأَتَمَّتْهُ:

د ايت كريمه: هوالذي خلقكم من نفس واحدة وجعل منها زوجها، په تفسيركي د تفسيرد ائمو مختلفي رائي: دي نه د سورة اعراف دي آيت طرف ته اشاره ده، ، هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا فَلَمَّا تَغَشَّاهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا فَمَرَّتْ بِهِ فَلَمَّا أَثْقَلَتْ دَعَوَا اللَّهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ آتَيْتَنَا صَالِحًا

---

(١) قال الراغب فى المفردات : سنستدرجهم معناه نأخذهم درجة فدرجة و ذالک ادناؤهم من الشئ شيئا فشيئا كالمراقى والمنازل فى ارتفائها ونزولها (او نظر المفردات فى لغات القرآن:١٤٨) وقال الالوسى فى تفسير روح المعانى : ٥/١٢٤ (الجزء التاسع) و استدراجه تعالى اياهم بادرارالنعم عليهم مع انهماكهم فى الغى-

لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ، فَلَمَّا آتَاهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهُ شُرَكَاءَ فِيمَا آتَاهُمَا فَتَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ،، الله تعالی هغه ذات دي چا چه تاسو د يو تن (حضرت آدم علیه السلام) نه پيدا کړئی او هم د هغه نه ئي د هغه جوړه پيدا کړه، دي د پاره چه هغه د خپلي دي جوړي نه سکون حاصل کړی، بيا چه کله خاوند خپلي بی بي سره نزديکت اوکړو نو هغي ته وړوکي غوندي حمل اوشو، نو هغه دي حمل سره ګرزيده راګرزيده، کله چه هغه درون شو (او د حمل موده زياته شوه) نو دواړو ښځي او خاوند د الله تعالی نه دعا اوکړه چه د هغوی رب دي که چري تا مونږ ته ښکلي بچي راکړو نو مونږ به ښه شکر کوؤ، نو چه لله تعالی دي دواړو ته نيک بچي ورکړو نو د الله تعالی ورکړي شوي څيز کښي هغه دواړو د الله تعالی د پاره د دي نه ما سوا شريك اوګرځولو، نو الله تعالی خو پاك دي د شرك نه.

آيت مبارك کښي ((نَفْسٍ وَاحِدَةٍ)) نه مراد حضرت آدم علیه السلام دي، او د ((وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا)) نه حضرت حواء علیها السلام مراد ده. [1]

او وړاندي د ((فَلَمَّا تَغَشَّاهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا)) کښي د مفسرينو دوه رائي دی. بعضي مفسرين فرمائي چه ضمير حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء علیها السلام طرف ته راجع دي، او بعضي مفسرين حضرات فرمائی چه ضمير مطلقًا ښځي او سړی طرف ته راجع دي، او دي نه يو متعين سړي يا ښځه مراد نه دی.

ضمير که مطلقًا د سړی يا ښځي طرف ته راجع وی نو په هغه صورت کښي د آيت په تفسير باندي هيڅ اشکال نه کيږی او مطلب به دا وی چه الله تعالی ټول انسانان د حضرت آدم علیه السلام نه پيدا کړل او هم د هغه نه د هغوی بی بی حضرات حواء علیها السلام راپيدا کړه د څه مقصد د پاره چه دا وو چه دي نه حضرت آدم علیه السلام ته سکون حاصل شی، بيا دي دواړو نه نسل زوان شو. د الله تعالی ددي خلقت او صنعت عجيبه تقاضه خو دا وه چه اولاد د آدم علیه السلام به د الله تعالی شکرګذار وی او هغه سره به څوك شريك نه ګرځوی ليکن د حضرت آدم علیه السلام غفلت شعار نسلونو معامله ددي نه اُلټه کړه او الله تعالی سره ئي شرك اوکړو. او د شرك تفصيل، فَلَمَّا تَغَشَّاهَا،، سره داسي بيان کړو چه کله سړی ښځي سره فطری خواهش پوره کړو نو ښځه حامله شو، په شروع شروع کښي چه د حمل بوج نه وو نو ښځه بي تکلفه په آزادئي دي حمل سره ګرځيده. بيا چه کله خيټه لويه شوه نو هله سړی او ښځي دواړو د نيك اولاد دعا اوکړه. کله چه الله تعالی د دوی تمنا پوره کړه نو د شکر په ځاني په شرك کښي مبتلا شو د کوم چه مختلف صورتونه وی. کله عقيده فاسده شی چه دا بچي مونږ له فلانکی ژوندی يا مړ مخلوق راکړي دي، چا په عقيده سره نه نو عملاً د غيرالله طرف ته منسوب کړو او د هغه د نوم نذر او نياز ورکول ئي شروع کړه. او د ماشوم تندي ئي د هغه په وړاندي اولګولو، يا د ماشوم نوم ئي دا

[1] (قال القرطبی فی الجامع لاحکام القرآن : ۷\۳۳۷) قال جمهورالمفسرين المراد بالنفس النفس الواحدة آدم وجعل منها زوجها يعنی حواء وتفسير البحر المحيط :۴\۴۳۸

کیخودلو چه د هغي نه د شرك اظهار کیږی مثلاً عبدالعزی، عبدالشمس یا بنده علی وغیره. د آیت دا تفسیر ډیرو مفسرینو حضراتو کړي دي[1] حافظ ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر کښي هم دا تفسیر راجح ګرځولي دي[2]. د دي تفسیر په رڼا کښي په آیت کښي د شرك او ناشکرئي نسبت عام انسانو طرف ته دي، حضرت آدم علیه السلام او بی بی حضرت حواء علیها السلام ته نه دي بلکه د هغوی د اولاد نقشه ئي په دي کښي راښکلي ده. د آیت شروع ((هُوَالَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا)) کښي خو د حضرت آدم علیه السلام او بی بی حواء علیها السلام ذکر دي مګر دي نه پس، ،فَلَمَّا تَغَشَّاهَا، ، نه مطلقاً د سړی او ښځي تذکره شروع کړه. په دي تفسیر هیڅ اشکال نه کیږی. لیکن ډیرو حضراتو په دي آیاتونو کښي بیان کړي شوي قصه د حضرت آدم علیه السلام او بی بی حواء علیها السلام سره مخصوص کړي ده او د دي په تائید کښي ئي مختلف اقوال نقل کړي دی.

امام احمد بن حنبل رحمه الله په ، ،مسند، ، کښي یو روایت نقل کړیدي دکوم الفاظ چه دا دی «حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ حَدَّثَنِي أَبِي حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ، ،لَمَّا حَمَلَتْ حَوَّاءُ طَافَ بِهَا إِبْلِيسُ وَكَانَ لَا يَعِيشُ لَهَا وَلَدٌ فَقَالَ سَمِّيهِ عَبْدَ الْحَارِثِ فَإِنَّهُ يَعِيشُ فَسَمَّوْهُ عَبْدَ الْحَارِثِ فَعَاشَ وَكَانَ ذَلِكَ مِنْ وَحْيِ الشَّيْطَانِ وَأَمْرِهِ، ،»[3] یعنی د حضرت حواء علیها السلام به یو بچی هم ژوندي نه پاتي کیدو، ابلیس (د نیك مخلوق په شکل کښي) حضرت حواء علیها السلام ته راغلو او ورته ئي اوونیل چه هلك پیدا شو نو د هغه نوم ، ،عبدالحارث، ، کیږده نو هغه به ژوندي پاتي شی. (حارث د ابلیس نوم وو) عبدالحارث (د شیطان بنده) نو حضرت حواء علیها السلام د هغه نوم عبدالحارث کیخودو نو هغه ماشوم ژوندي پاتي شو، آیت مبارك کښي، ،فَلَمَّا تَغَشَّاهَا، ، هم دي واقعي طرف ته اشاره ده. په دي صورت کښي، ،فَلَمَّا تَغَشَّاهَا، ، ضمیر مؤنث حضرت حواء علیها السلام طرف ته راجع کیږی او پوره واقعه د حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء علیها السلام سره متعلق کیږی. لیکن په دي تفسیر باندي اشکال کیږی چه په آیت کښي د شرك ارتکاب ذکر دي او حضرات انبیاء کرام علیهم السلام معصوم وی نو حضرت آدم علیه السلام د شرك ارتکاب څنګه اوکړو. او هغه خو ابوالانبیاء دي، او شرك د هغه د شان عصمت منافی دي؟ ددي دوه جوابونه ورکړي شوي دی، یو جواب علی سبیل التسلیم دي، او یو جواب علی سبیل الانکار دي.

① علی سبیل الانکار جواب دا دي چه کوم روایتونو نه په دي آیاتونو کښي بیان کړي شوي واقعه حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء علیها السلام سره مخصوص کړي ده هغه روایات صحیح نه دی او د مختلفو وجوهاتو په بناء هغه معلول دی. دي کښي بعض خو اسرائلیات دی او احمد

---

[1] (قال القرطبی فی الجامع لاحکام القرآن : ۷\۳۳۷) قال جمهورالمفسرین المراد بالنفس النفس الواحدة آدم وجعل منها زوجها یعنی حواء وتفسیر البحر المحیط :۴\۴۳۸ -

[2] (تفسیر ابن کثیر ۲\۲۷۵)

[3] (مسند امام احمد ۵\۱۱

رحمه الله چه کوم روایت نقل کړي دي هغه معلول دي. په دي کښي یو علت خو دا دي چه د هغه «حسن عن سمرة رضي الله عنه» په طریق باندي مروی دي او د حضرت حسن بصری رحمه الله سماع د حضرت سمرة بن جندب رضي الله عنه نه مختلف فیه ده.(١) دویم علت ددي په سند کښي دا دي چه دي کښي عمربن ابراهیم دي او عمر بن ابراهیم متکلم فیه راوی دي.(٢) دریم علت په دي حدیث کښي د موقوف او مرفوع کیدلو کښي اختلاف دي، امام احمد بن حنبل رحمه الله دا مرفوعا نقل کړي دي لیکن ابن جریر دا موقوفا نقل کړي دي.(٣) او څلورم علت دا دي چه دا روایت د حضرت حسن بصری رحمه الله نه نقل دي او حضرت حسن بصری رحمه الله نه پخپله ددي روایت خلاف د آیت رومنني تفسیر نقل دي،(٤)

② دویم جواب علی سبیل التسلیم دي. که چري دا روایات صحیح اوګنړلي شی او په آیت کښي بیان کړي شوي قصه حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء علیها السلام سره متعلق اوګرځولي شی نو بیا هم په دي سره دا نه لازمیږی چه هغوی حقیقة د شرك ارتکاب کړي وی، شیخ الاسلام حضرت مولانا شبیراحمد عثمانی رحمه الله فرمائی کله چه ماشوم پیدا شو نو دواړو ورته ،،عبدالحارث،، نوم کیښودلو. ظاهره خبره ده چه په اسماء اعلام کښي لغوی معنی معتبره نه وی خو بیا هم د «عبد» اضافت «حارث» طرف ته دي سره مستلزم نه دي چه ''حارث'' نعوذ بالله معبود اوګنړلي شی، لکه یو میلمه دوست سړی ته عرب، ،عبدالضیف،، وائی نو د دي

(١) (قال سعید فی ما روی الخزرجی فی خلاصة تذهیب تهذیب الکمال[ص:٧٧] [قال سعید:لم یسمع من سمرة " و قال المزی فی تهذیب الکمال:١٢٣\ ٦] :[وقال محمد بن سیرین:لم یسمع الحسن من سمرة :] وقال الذهبی فی سیرا علام النبلاء:٥٦٧\ ٤ : قال یحیی القطان: احادیثه عن سمرة، سمعنا انه کتاب: وقال ابن سعد فی طبقاته٧\١٥٧ :

وقال یحی بن سعید القطان فی احادیث سمرة التی یرویها الحسن عنه: سمعنا انه من کتاب: وقال البخاری فی تاریخه الکبیر : ٢\٢٩٠ : قال علی المدینی وسماع الحسن من سمرة صحیح: وقال الذهبی فی السیر:٥٦٧\ ٤ : وقد صح سماعه فی حدیث العقیقة وفی حدیث النهی عن المثلة من سمرة: وحدیث العقیقة اخرجه احمد:٢٢،١٧،٧\ ٥، وابو داؤد (٢٨٣٨) وترمذی (١٥٢٢)

و النسائی (٧\١٤٤) و حدیث النهی عن المثلة اخرجه ابوداؤد(٢٤٢٨) وقال الحافظ ابن حجر فی تهذیب التهذیب (٢\٢٤٩) واما روایة الحسن عن سمرة بن جندب ففی صحیح البخاری سماعا منه لحدیث العقیقه.

(٢)عمربن ابراهیم وثقه ابن المعین (تهذیب الکمال: ٢٧١ \ ٢١) وقال ابوحاتم،،یکتب حدیثه ولا یحتج به،،(تهذیب الکمال: ٢٧١ \ ٢١) وفی خلاصة الخزرجی: ٢٧١،،حدیثه عن قتادة مضطرب،،وقال البزار،،لیس هو بالحافظ،،(کشف الستار :١١١٥) وذکره ابن حبان فی الثقات :٤٤٦ \ ٨ وقال : خطی ویخالف وقال الذهبی فی میزان الاعتدال: ١٧٩ \٣،، عمربن ابراهیم عن قتادة عن الحسن عن سمرة. ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: کانت حواء لا یعیش لها ولد...... الخ. صححه الحاکم وهو حدیث منکر ......

(٣) (تفسیرابن کثیر: ٢٧٤ \ ٢-)

(٤) تفسیرابن کثیر: ٢٧٤ \ ٢-)

دا مطلب هيڅ كله هم نه وى چه ميلمستيا وركونكي د ميلمه عبادت كوى نو كه د عبدالحارث نوم كيخودلو دا واقعه صحيح ده نو دا نشي ونيلي كيدي چه حضرت آدم عليه السلام نعوذبالله حقيقتا د شرك ارتكاب اوكړو،چه د انبياءكرام د شان عصمت منافي دي. او د ماشوم داسي غيرموزون نوم كيخودل كوم نه چه په ظاهره د شرك بوئ راځى. د نبى معصوم او اوچت شان او د توحيد جذبي مناسب نه وو، د قرآن كريم عادت دي چه د انبياؤ مقربينو وړوكي غوندي لغزش او معمولى غوندي ذلت ((حسنات الابرار سيئات المقربين)) د قاعدي مطابق اكثر په سخت عنوان سره تعبير كوى، دلته ئي هم د حضرت آدم عليه السلام د مرتبي لحاظ سره دا مو هم شرك تسميه تغليظاً په دي الفاظو كښي ادا كړو((جَعَلَا لَهُ شُرَكَاءَ فِيمَا آتَاهُمَا)) يعنى د هغوى د شان لائق نه وو چه داسي نوم ئي ايخودي وي د كوم نه چه د شرك وهم كيږى.نو حقيقتاً شرك نه دي كيدي شي په دي وجه ((فَقَدْ أَشْرَكَ)) وغيره مختصر عبارت ئي پريخودو او دا اوګود عنوان ((جَعَلَا لَهُ شُرَكَاءَ فِيمَا آتَاهُمَا)) ئي اختيار كړو.([1])

④ امام رازى رحمه الله خو اولاً دا خبره منلي نه ده چه په آيت كښي بيان كړي قصي تعلق د حضرت آدم عليه السلام او حضرت حواء عليها السلام سره دي. او د نه منلو هغه مختلف وجوهات ليكلي دى.

يو خو دا چه په آيت كښي ((فَتَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ)) الفاظ پخپله په دي خبره دلالت كوى چه د شرك كونكي دوه نه وو،پوره يوه ډله وه چه هم د حضرت آدم عليه السلام اولاد كيدي شى.

دويم دا چه دي نه پس آيت كښي ((أَيُشْرِكُونَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ)) په دي كښي لفظ د ،،ما،، استعمال كړي شوي دي چه د غير ذوى العقول د پاره راځى كوم نه چه معلوميږى چه په آيت كښي په هغه خلقو باندي رد كول مقصود دى چا چه بتان الله(جل جلاله) سره شريك جوړ كړل. د ابليس لعين د الله (جل جلاله) سره د شريك جوړولو ذكر په دي آيت كښي نيشته.

دريم دا چه حضرت آدم عليه السلام ته د ابليس ټول نومونه معلوم وو لكه چه (وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا) نه واضح ده او حضرت آدم عليه السلام ته د ابليس دښمنى او د درګاه رب العزت نه شړلي كيدل ښه معلوم وو، نو ددي سره حضرت آدم عليه السلام د خپل يو بچى نوم عبدالحارث څنګه كيخودي شو؟

څلورم ددي د پاره په توحيد باندي ايمان ساتونكى يو عام سړى ته هم كه څوك راشى او دا قسم خبره اوكړى د كوم نه چه د شرك بوئ راځى نو هغه به هم دا اونه منى، نو د حضرت آدم عليه السلام په شان جليل القدر نبى نه د دي خبري صادر كيدل څنګه كيدي شى چه هغه د هغه ابليس خبره اومنله چه هغه ئي د باغ رضوان نه راؤويستل او د څه په وجه چه هغه د خپل رب (جل جلاله) نه په كلونو پوري د مغفرت دعا غوښتله.([2]) د دي وجوهاتو په وجه امام رازى رحمه الله آيت د حضرت آدم عليه السلام او حضرت حواء عليها السلام سره متعلق نه دي منلي چه حضرت آدم عليه السلام او حضرت حواء عليها السلام د شرك ارتكاب كړي دي بلكه په آيت كښي د هغوى طرف ته نسبت كونكو

---

[1]) (تفسير عثمانى:٢٣٢-)

[2]) تفسير كبير:١٥\٨٦

باندي رد دي او هغه داسي چه مشرکانو به وئیل حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء علیها السلام هم نعوذبالله د بتانو عبادت کولو،نو الله تعالی په مذکور آیت کښي د حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء علیها السلام قصه ذکر کړه او د هغوی قول ئي نقل کړو

(لَئِنْ آتَيْتَنَا صَالِحًا لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ) دي نه پس ئي اوفرمائيل (فَلَمَّا آتَاهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهُ شُرَكَاءَ فِيمَا آتَاهُمَا) دا استفهامیه جمله ده یعني د ماشوم ورکولو نه پس آیا حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء علیها السلام الله تعالی سره شرك اوکړو؟ استفهام انکاري دي یعني نه. وړاندي فرمائي (فَتَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ) یعني الله تعالی د دي شرك نه پاك دي کوم چه دا مشرکان کوي او حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء علیها السلام طرف ته ئي منسوب کوي نو په دي آیت کښي د حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء علیها السلام نه د شرك نفي ده او په مشرکانو باندي رد دي.([1])

④ بعض حضراتو فرمائيلي دی چه په دي آیاتونو کښي د حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء علیها السلام هډو ذکر نیشته نه د آیت په شروع کښي نه د آیت په آخر کښي، مطلب دا دي چه الله تعالی تاسو نه هر یو د یو نفس نه پیدا کړو او د هر نفس د پاره د هغه د جنس نه د هغه جوړه پیدا کړه، بیا چه کله دا دواړه د یو بل نه خپل فطري خواهش پوره کوي

او حمل جوړیږی او د حمل په زمانه کښي ټول اُمیدونه هم د الله تعالی سره تړلی وی چه هم هغه به صحیح او سالم بچي پیدا کوی لیکن چه کله بچي پیدا شی نو د شکریه د پاره نذر او نیاز د غیرالله په نوم باندي کوی، امام رازی رحمه الله د دي تفسیر باره کښي فرمائیلی دی((وهذا جواب في غاية الصحة والسداد)) ([2]) لیکن علامه آلوسی رحمه الله فرمائیلی دی((ولا يخفى ان المتبادر من صدرها آدم وحواء، ولا يكاد يفهم غيرهما راسا)) ([3])

امام بخاری رحمه الله په مذکوره آیت کښي ((فمرت به)) سره تشریح کړیده.((فاستمر بها الحمل فاتمته)) یعني هغه حمل قائم او برقرار وو، بیا ښځي د دي موده پوره کړه د دي تشریح مطابق په معنی کښي قلب دي،،فمرت،، کښي ضمیر ښځي طرف ته راجع دي لیکن مراد ترینه د حمل استمرار دي.

علامه آلوسی رحمه الله فرمائی ((فمرت به، والمراد: بقيت به كما كانت قبل حيث قامت وقعدت وأخذت وتركت وهو معنى لاعهار فيه)) ([4]) یعني هغه به حمل سره داسي ګرځیده راګرځیده، کیناسته پاسیده لکه څنګه چه به د حمل نه وړاندي وه.

قوله: يَنْزَغَنَّكَ: يَسْتَخِفَّنَّكَ: آیت مبارك کښي دی:،،وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ،،

---

[1]) تفسیر کبیر:۸۷\۱۵

[2]) تفسیر ابن کثیر:۷۸\۱۵

[3]) (روح المعانی: ۱۴۱\۵ (الجزء التاسع)

[4]) (روح المعانی :۱۳۸\۵(الجزء التاسع)

نو که چرې تا ته د شیطان د طرف نه څه وسوسه راشي نو د الله تعالی پناه غواړه. فرمائي چه ((ینزغنك)) معنی ((یستخفنك)) ده. داستخفاف لغوی معنی ده د حق او نیك کار نه اخوا کول او ، اما ، کښې ، ا ، شرطیه او ، ما ، زائده ده. مطلب دا دي که د شیطان د طرف نه د حق نه اوړېدلو څه وسوسه راشي یعنی غصه راشي نو پناه غواړه.

آیت مبارك کښې دی ، إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِنَ الشَّيْطَانِ ، د ((طیف)) معنی خیال، لیونتوب او غصه. ((طیف ملم)) په زړه کښې کوزیدونکي خیال کله چه سړی له وسوسې راځي او نیم ګړي غوندي لیونتوب وی وائي به ((لمم.....لمم)) وړي ګناه او نیم لیونتوب ته وائي. امام بخاری رحمه الله د طیف صفت ذکر کړي دي ((به لمم)) ((ملم طیف ملم)) په زړه کښې راتلونکي خیال په انسان باندي شروع کیدونکي لیونتوب. بیا وړاندي فرمائي ((به لمم)) دا هغه وخت وائي کله چه انسان په وسوسو کښې اخته شي او غلط خیالات هغه پریشانه کوی.

د جمهورو قرأت ((طائف)) دي. ﴿إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِنَ الشَّيْطَانِ﴾ امام بخاری رحمه الله فرمائي، وهو واحد د ((طائف)) او ((طیف)) دواړو معنی یوه ده. د آیت مبارك مطلب دي چه کوم خلق د الله تعالی نه یرېږي او کله هغوی له د شیطان د طرف نه خیال او وسوسه راځي نو هغوی د الله تعالی په یاد کښې لګیا کیږي.(١)

قوله: يَمُدُّونَهُمْ: يُزَيِّنُونَ: آیت مبارك کښې دی ، ﴿وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ﴾. د ((يَمُدُّونَهُمْ)) تشریح ((يُزَيِّنُونَ)) سره کړي ده، یعنی د ګمراهئ خبري ښائسته کوی او وړاندي پیش کوی،

قوله: وَخِيفَةً: خَوْفًا وَخُفْيَةً مِنَ الْإِخْفَاءِ: آیت مبارك کښې دی ((وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً)) کښې ((خيفة)) د وېرې په معنی کښې دي او هم د سورة اعراف یو بل آیت کښې دی ((ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً)) دلته ((خُفْيَةً)) د اخفاء نه ماخوذ دي.(٢)

قوله: وَالْآصَالُ: وَاحِدُهَا أَصِيلٌ مَا بَيْنَ الْعَصْرِ إِلَى الْمَغْرِبِ كَقَوْلِهِ (بُكْرَةً وَأَصِيلًا): آیت مبارك کښې دی ، وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ، فرمائي د ((اصال)) واحد

---

(١) (قال ابوعبيدة فی قوله: اذا مسهم طائف من الشيطان.. ای لمم. واللمم يطلق علی ضرب من الجنون و علی صغارالذنوب.حکی بعض اهل العربية ان الطيف والطائف بمعنی واحد. اسند عن ابن عباس. قال: المة من الشيطان (فتح الباری:٣٠١\٨)

(٢) (وفی فتح:٣٠١\٨ قوله خفية من الاخفاء فيه تجوز والمعروف فی عرف اهل الصرف من الخفاء لان المزيد مشتق من الثلاثی و يوجه الذی هنا بانه اراد انتظام الصفتين من معنی واحد وقال العينی فی العمدة:٣٣٨\١٨ ولکن يمکن ان يوجه کلامه باعتبار اشتقاق الصيغتين فی معنی واحد.

«اصيل» دي او «اصيل» د مازيگر نه واخله د مابنام د وخت پوري ته وائى او د بعضو نه نقل دى چه «اصال» جمع الجمع ده يعنى د «اصيل» جمع «اصل» او د «اصل» جمع «اصال» راځى، بهر حال لفظ اصل واحد دي د کوم دليل چه «بكرة واصيلا» دي.

١٣٤ - باب قَوْلِ اللَّهِ عَزَّوَجَلَّ: إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ

۴۳۲۱ - حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رضي الله عنه - قَالَ قُلْتُ أَنْتَ سَمِعْتَ هَذَا مِنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ نَعَمْ، وَرَفَعَهُ. قَالَ «لاَ أَحَدَ أَغْيَرُ مِنَ اللَّهِ، فَلِذَلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، وَلاَ أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْمِدْحَةُ مِنَ اللَّهِ، فَلِذَلِكَ مَدَحَ نَفْسَهُ». [ر: ۴۳۵۸]

١٣٥ - باب

(وَلَمَّا جَاءَ مُوسَى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَنْ تَرَانِي وَلَكِنِ انْظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَى صَعِقًا فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ) (٢)

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (أَرِنِي) أَعْطِنِي.

قوله: قَالَ ابن عباس أرني أعطني: حضرت ابن عباس په ((رَبِّ أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْكَ)) كښي د ارني تشريح په اعطنى سره كړيده، ځكه چه په «ارنى» او «انظراليك» كښي معنوى اتحاد او مناسبت ښكاره شى. مطلب دا دي چه اي الله: ته ماته د رؤيت قوت راكړه چه تا اوليدي شم.

بعض حضراتو وئيلي دى چه د «ارنى» مفعول «نفسك» محذوف دي او مطلب دا دي چه اي الله: ته ماته خپل ذات اوښايه چه زه تا اوليدي شم[1] د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دا تعليق طبرى د على بن ابى طلحة نه موصولاً نقل كړيدي.[2]

۴۳۲۲ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رضي الله عنه - قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَدْ لُطِمَ وَجْهُهُ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ رَجُلاً مِنْ أَصْحَابِكَ مِنَ الأَنْصَارِ لَطَمَ وَجْهِي. قَالَ «ادْعُوهُ». فَدَعَوْهُ قَالَ «لِمَ لَطَمْتَ وَجْهَهُ». قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي مَرَرْتُ بِالْيَهُودِ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ وَالَّذِي اصْطَفَى مُوسَى عَلَى الْبَشَرِ. فَقُلْتُ وَعَلَى مُحَمَّدٍ وَأَخَذَتْنِي غَضْبَةٌ فَلَطَمْتُهُ. قَالَ «لاَ تُخَيِّرُونِي مِنْ بَيْنِ الأَنْبِيَاءِ، فَإِنَّ النَّاسَ يَصْعَقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُفِيقُ،

---

[1] (تعليقات لامع الدرارى: ٨٨\٩).

[2] (عمدة القارى: ٢٣٩\١٨)

فَإِذَا أَنَا بِمُوسَى آخِذٌ بِقَائِمَةٍ مِنْ قَوَائِمِ الْعَرْشِ، فَلَا أَدْرِي أَفَاقَ قَبْلِي أَمْ جُزِيَ بِصَعْقَةِ الطُّورِ».

قوله: يا محمد إن رجلا من أصحابك من الأنصار لطم في وجهي:

د رواياتو تعارض او دهغې حل: د بخارى شريف ددې روايت نه معلوميږى چه د څپيړې وهلو تعلق انصارسره وو، حافظ ابوبكربن ابى الدنيا رحمه الله روايت نقل كړيدې چه څپيړه وهونكې حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه وو[1] په دواړو روايتونو كښې په ظاهره تعارض دې ځكه چه ابوبكرصديق رضي الله عنه د انصارو نه نه وو.

① ددې يو جواب دا دې چه په دواړو كښې تطبيق اوكړې شى چه څپيړه وهونكې هم حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه وو، دلته د بخارى په روايت كښې د هغه تعلق د انصارو سره ښودلې شويدې. دا د خپلې منعى لغوى په اعتبار دې، د انصارو معنى امداد كونكى راځى او د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه نه زيات د حضوراكرم صلى الله عليه وسلم امداد بل چا كړيدې.

② دويم جواب دا دې چه د ابن ابى الدنيا رحمه الله مقابله كښې د بخارى روايت راجح ګرځولې شوې دې. علامه عينى رحمه الله فرمائى، ،وما ذكره البخارى هو الاصح، ،[2]

قوله: فإن الناس يصعقون يوم القيامة فأكون أول من يفيق:

د فاكون اول من يفيق تشريح: حضور اكرم صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى چه د قيامت په ورځ به ټول خلق بې هوشه شى، د ټولو نه اول به زه په هوش كښې راشم. بيا ئې اوفرمائيل چه زه به اوګورم چه موسى عليه السلام به د عرش يوه پښه نيولې وى اوس ما ته نه ده معلومه چه هغه زما نه وړاندې په هوش كښې راغلې وو يا د كوه طور د بې هوشنې هغه ته بدله وركړې شوه او په هغه باندې هډوبې هوشى شروع نه شوه. صعق وائى د يو آوازاوريدل يا د څه څيز د ويرې د وجه بې هوشه كيدل[3] دوه ځل به نفخ صور كيږى. په رومبى ځل به د ټولونه هوش والوزى او چه څومره ژوندى دى هغه به ټول مړه شى او چه كوم مړه شوې وو د هغوى په روحونو به د بې هوشنې كيفيت شروع شى. دينه پس به دويمه نفخ وى په دې سره به د مړو روحونه د هغوى بدنونو طرف ته واپس راشى او بې هوشه به په هوش كښې راشى. په سورة زمر كښې دى، ،وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ، ، دلته د بخارى مذكوره روايت كښې «فأكون أول من يفيق» كښې د دويمې نفخ نه پس افاقه مراد ده، د شعبى رحمه الله په روايت كښې د دې تصريح ده «انا اول من يرفع راسه بعد النفخة الاخيرة»[4]

د قيامت په ورځ د نفخاتو شمير: د قيامت په ورځ د نفخاتو په شمير كښې اختلاف دې. علامه

---

[1] (عمدة القارى: ١٨\٢٤٠)

[2] (عمدة القارى: ١٨\٢٤٠)

[3] (والمراد بالصعق غشى يلحق من سمع صوتا او راى شيئا يفزع منه (فتح البارى: ٦\٤٤٤ كتاب الانبياء

[4] (فتح البارى: ٦\٤٤٤ كتاب احاديث الانبياء باب وفات موسى وذكره بعد

ابن حزم رحمه الله فرمائي څلور نفخات به وي، اول ځل به ټول ژوندي مړه شي، دويم ځل نفخه سره به ټول مړي راژوندي شي او د حساب د پاره به جمع شي، دريمه نفخه سره به عامه بي هوشي خوره شي او څلورم ځل نفخه سره به شروع شوي بي هوشئي نه افاقه اوشي.(۱) حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله هم دغه قول اختيار کړيدي.(۲)

مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله «لامع الدراري» کښي دري (۳) او په «کوکب الدري» کښي د څلورو نفخاتو قول اختيار کړيدي. يو نفخه اماتت، دويمه نفخه احياء، دريمه نفخه صعقه او څلورمه نفخه افاقه ده. نفخه صعقه به هغه وخت وي کله چه الله تعالى د حساب د پاره ظهور اوفرمائي.(۴)

علامه عيني رحمه الله فرمائي چه په روايت باب کښي «يصعقون» نه د حساب د پاره د الله تعالى د ظهور د وخت صعقه مراد ده.(۵)

بعضي حضراتو د پنځو نفخاتو قول اختيار کړيدي، صاحب جمل په دي باندي د حيرانتيا اظهار کولو سره فرمائي «وقد سمعنا بمن زاد في الطنبور نغمة، ولم نسمع بمن زاد في الصور نفخة» (۶)

يعني دا خو مونږ واورېده چه په ساز کښي د يوي نغمي چااضافه کړيده (چه يوه نغمه ئي نوي ايجاد کړيده) ليکن په صور کښي د نفخه د اضافي قول مونږ کله هم نه دي اوريدلي.

علامه آلوسي رحمه الله د دريو قول ته ترجيح ورکړيده (۷) ليکن د جمهورو او د علماء محققين په نزد ټول به دوه ځل نفخ صور وي (۸) د کوم ذکر چه د سورة زمر په مذکوره آيت کښي شوي دي چه په اول ځل به نفخ صور اوشي نو د زمکي او آسمان ټول مخلوق به بي هوشه شي. مګر څوک چه الله تعالى غواړي «الا من شاء الله» نه بعضو حضرت جبرائيل، حضرت ميکائيل، حضرت اسرافيل، او ملك الموت مراد اخستي دي. د بعضو په نزد أنبياء کرام او شهداء مراد دي. او

---

(۱) (فتح الباري: ۶\۴۴۴ کتاب احاديث الانبياء باب وفات موسیٰ وذکره بعد

(۲) (اوګورئ تفسير عثماني: ۶۲۰ سورة الزمر. ليکن شاه عبدالقادر رحمه الله د سورة النمل په تفسير کښي پنځه نفخات ذکر کړي دي، ليکي: يو ځل به شپيلئي اووهلي شي به څه سره چه به ټول مخلوق مړ شي، او په دويم ځل پوکوهلو سره به ژوندي شي. دينه پس چه پوکوهلي شي نو اوبه ويرېږي بيا څلورم ځل په پوکوهلو سره به بي هوشه شي اوبل ځل پوکوهلو سره به رابيدار شي. (تفسير عثماني: ۵۱۲ سورة النمل)

(۳) (لامع الدراري: ۸\۵۸ کتاب الانبياء-

(۴) (تعليقات لامع الدراري: ۸\۵۹ کتاب الانبياء والکوب الدري

(۵) (الظاهر ان هذاالصعق يکون يوم القيامة حين ياتي الرب عزوجل لفصل القضاء و يتجلى فيصعقون حينئذ اي يغشى عليهم وليس المراد من الصعق الموت (عمدة القاري ۱۸\۲۴۰

(۶) (تعليقات لامع الدراري :۸\۵۹ کتاب الانبياء

(۷) (روح المعاني-

(۸) (تفسير عثماني: ۶۲۰-

بعضو وئيلي دي چه ددي نه هغه څالرونكى مراد دي چه د نفخه اولى نه اول مړه شوي وي[1]
دا روايت امام بخارى رحمه الله كتاب احاديث الانبياء كښي هم نقل كړي دي.[2]

١٣٦- بَابُ الْمَنِّ وَالسَّلْوَى

٤٣٦٣ - حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَاءُ الْعَيْنِ».

١٣٧- بَاب (قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ).

[٤٣٦٤] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَمُوسَى بْنُ هَارُونَ قَالاَ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْعَلاَءِ بْنِ زَبْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي بُسْرُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو إِدْرِيسَ الْخَوْلاَنِيُّ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ يَقُولُ كَانَتْ بَيْنَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ مُحَاوَرَةٌ، فَأَغْضَبَ أَبُو بَكْرٍ عُمَرَ، فَانْصَرَفَ عَنْهُ عُمَرُ مُغْضَبًا، فَاتَّبَعَهُ أَبُو بَكْرٍ يَسْأَلُهُ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَهُ، فَلَمْ يَفْعَلْ حَتَّى أَغْلَقَ بَابَهُ فِي وَجْهِهِ، فَأَقْبَلَ أَبُو بَكْرٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ وَنَحْنُ عِنْدَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «أَمَّا صَاحِبُكُمْ هَذَا فَقَدْ غَامَرَ». قَالَ وَنَدِمَ عُمَرُ عَلَى مَا كَانَ مِنْهُ فَأَقْبَلَ حَتَّى سَلَّمَ وَجَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- وَقَصَّ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- الْخَبَرَ. قَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ وَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَجَعَلَ أَبُو بَكْرٍ يَقُولُ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ لأَنَا كُنْتُ أَظْلَمَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «هَلْ أَنْتُمْ تَارِكُو لِي صَاحِبِي هَلْ أَنْتُمْ تَارِكُو لِي صَاحِبِي إِنِّي قُلْتُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا فَقُلْتُمْ كَذَبْتَ. وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ صَدَقْتَ».

حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه فرمائى چه د حضرت ابوبكرصدّيق رضي الله عنه او د حضرت عمر رضي الله عنه په مينځ كښي څه خبري اوشوي، حضرت ابوبكرصدّيق رضي الله عنه په ذې بحث كښي حضرت عمر رضي الله عنه خفه كړو. حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت ابوبكرصدّيق رضي الله عنه نه خفه واپس لاړو، حضرت ابوبكرصدّيق رضي الله عنه هغه پسي شاته لاړو او هغه نه ئي معافي اوغوښتله ليكن حضرت عمر رضي الله عنه هغه معاف نه كړو او د خپل كور دروازه ئي بنده كړه. حضرت ابوبكرصدّيق رضي الله عنه د حضوراكرم صلى الله عليه وسلم په خدمت

---

[1] (الجامع لاحكام القرآن: ٢٨٠\١٥)
[2] (صحيح البخارى مع فتح البارى كتاب احاديث الانبياء باب وفاة موسى و بعده: ٤٤١\٦

كښې حاضر شو . حضوراكرم ﷺ چه د هغوى مخ اوليدو نو هلته موجود صحابه كرامو ته ئې اوفرمائيل((اما صاحبكم هذا، فقد غامر)) ستاسو دي ملګرى (يعنى حضرت ابوبكرصدّيق رضي الله عنه) چا سره جګړه كړېده، هغوى ﷺ د هغه د مخ كتلو سره د فراست نه اندازه لګولي وه او دا هم ممكن دى چه د وحى په ذريعه هغوى ﷺ ته خبر وركړې شوې وى. روستو حضرت عمر رضي الله عنه پښېمانه شو نو راغلو سلام ئې اوكړو او حضوراكرم ﷺ سره كيناستو او پوره قصه ئې ذكر كړه. نبى كريم ﷺ د حضرت عمر رضي الله عنه نه خفه شو، حضرت ابوبكرصدّيق رضي الله عنه اوئيل چه په الله قسم زياتې زما د طرف نه شوې وو بيا حضوراكرم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو آيا تاسو زما ملګري پرېخودل غواړئې، تاسو زما ملګري پرېخودل غواړئې؟ ما وئيلى وو((يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا))

(خلقو زه تاسو ټولو ته د الله تعالى د طرف نه رالېګلې شوې پېغمبر يم)نو هغه وخت تاسو زما تكذيب اوكړو او حضرت ابوبكرصدّيق رضي الله عنه زما تصديق اوكړو. د امام بخارى رحمه الله په روايت كښې((اما صاحبكم هذا، فقد غامر)) كښې د ((غامر)) تشيح ((سابق بالخير)) سره كړې ده، په نيكئ او خيګړه كښې د ټولو نه وړاندې كيدل معنى مراد ده ليكن اكثر حضراتو د ((غامر)) معنى((خاصم)) كړېده[1] يعنى جنګ جګړه او دلته په روايت كښې همدغه معنى مناسب او موزون ده.

عبدالله بن حماد: دې روايت كښې د امام بخارى رحمه الله شيخ عبدالله دې د هغه د پلار نوم نه دې ذكر كړې. ابن السكن د فربرى په طريق سره د امام بخارى رحمه الله دا روايت نقل كړېدې، په هغې كښې د پلار نوم ((حماد)) يعنې عبدالله بن حماد، دا د امام بخارى د زمانې هم دې او د هغه په شاګردانو كښې هم دې. حفاظ حديث كښې د هغوى شمير كيدلو. ۹محرم ۲۲۳ هجرئ كښې دهغوى وفات شوې دې.[2]

د كمالاتو والو غلطئ ته نظر نه شى كولې: دې روايت نه يوه دا خبره معلومه شوه چه كوم سړي د ډيروكمالاتو او فضائلومالك وى كه دهغه نه څه لغزش اوشى نوهغه هيرولې شى، دلته حضرت ابوبكرصدّيق رضي الله عنه د خپل زياتې اقرار هم كوى ليكن حضوراكرم ﷺ د دې سره په حضرت عمر رضي الله عنه باندې د خپل خفګان اظهار كوى، په دې وجه رونړو كه د بزرګانو نه څه غلطى اوشى يا د هغوى نه څه ګناه اوشى نو خامخا هغوى پسې نه دى لګيدل پكار، ځكه چه د دې بزرګانو ډيرې نيكئې هم وى او معلومه نه ده چه د هغه نيكو په وجه د الله تعالى په نزد يو لوئې مقام وى چه دې لغزش طرف ته الله تعالى توجه اونه فرمائى او د پيغور كونكو نيول اوشى.[3]

---

[1] (تعليقات لامع الدرارى:۸۹\۹ و فى الفيض: ۱۸۴\۴، اى خاصم واصله النزول فى الماء الكبير والمراد منه ههنا الخصومة وما فسر به المحشى فغلط

[2] (عمدة القارى:۲۴۱\۱۸-

[3] (عمدة القارى:۲۴۳\۱۸ و فتح البارى: ۳۰۴\۸ وارشاد السارى-

۱۳۸- باب {وَقُولُوا حِطَّةٌ}

۴۲۶۵ - حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «قِيلَ لِبَنِي إِسْرَائِيلَ (ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ نَغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ) فَبَدَّلُوا فَدَخَلُوا يَزْحَفُونَ عَلَى أَسْتَاهِهِمْ وَقَالُوا حَبَّةٌ فِي شَعَرَةٍ». [ر: ۳۲۲۲]

دا روايت په جلد اول كښي تير شوي دي هلته د امام بخارى رحمه الله د استاذ نوم اسحاق بن نصر مذكور دي، دلته صرف «حدثنا اسحاق» دي، حافظ ابن حجر، علامه عينى او علامه قسطلانى اوفرمائيل چه دلته «اسحاق» نه مراد اسحاق ابن رهويه دي خكه چه كله اسحاق مطلق اووئيلي شى نو دينه اسحاق ابن راهويه مراد وى ليكن ظاهر نه دا معلوميږى چه مراد اسحاق بن نصر دي خكه چه هم دغه سند اومتن په جلد اول كتاب الانبياء كښي تيرشوي دي. او هلته اسحاق بن نصر دي.[۱]

۱۳۹- باب {خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ}

العرف المعروف [ر: ۱۹۹]

[۴۲۶۶] [۱] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما - قَالَ قَدِمَ عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنِ بْنِ حُذَيْفَةَ فَنَزَلَ عَلَى ابْنِ أَخِيهِ الْحُرِّ بْنِ قَيْسٍ، وَكَانَ مِنَ النَّفَرِ الَّذِينَ يُدْنِيهِمْ عُمَرُ، وَكَانَ الْقُرَّاءُ أَصْحَابَ مَجَالِسِ عُمَرَ وَمُشَاوَرَتِهِ كُهُولاً كَانُوا أَوْ شُبَّانًا. فَقَالَ عُيَيْنَةُ لاِبْنِ أَخِيهِ يَا ابْنَ أَخِي، لَكَ وَجْهٌ عِنْدَ هَذَا الأَمِيرِ فَاسْتَأْذِنْ لِي عَلَيْهِ. قَالَ سَأَسْتَأْذِنُ لَكَ عَلَيْهِ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَاسْتَأْذَنَ الْحُرُّ لِعُيَيْنَةَ فَأَذِنَ لَهُ عُمَرُ، فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ قَالَ هِي يَا ابْنَ الْخَطَّابِ، فَوَاللَّهِ مَا تُعْطِينَا الْجَزْلَ، وَلاَ تَحْكُمُ بَيْنَنَا بِالْعَدْلِ. فَغَضِبَ عُمَرُ حَتَّى هَمَّ بِهِ، فَقَالَ لَهُ الْحُرُّ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَالَ لِنَبِيِّهِ - صلى الله عليه وسلم - (خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ) وَإِنَّ هَذَا مِنَ الْجَاهِلِينَ. وَاللَّهِ مَا جَاوَزَهَا عُمَرُ حِينَ تَلاَهَا عَلَيْهِ، وَكَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللَّهِ.

[۴۲۶۷] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ (خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ) قَالَ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلاَّ فِي أَخْلاَقِ النَّاسِ. أَوْ كَمَا قَالَ.

...

[۱] (واخرجه البخارى ايضا فى كتاب الاعتصام باب الاقتداء لسنن النبى صلى الله عليه وسلم رقم الحديث: ۷۲۸۶ مع الفتح وهذا الحديث من افراده (عمدة القارى)

تفسير سورة الأنفال

١٤٠ - قوله: يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنفَالِ قُلِ الْأَنفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (الْأَنفَالُ) الْمَغَانِمُ. قَالَ قَتَادَةُ (رِيحُكُمْ) الْحَرْبُ، يُقَالُ نَافِلَةٌ عَطِيَّةٌ

سورة الأنفال

د كلماتو تشريح:

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: الْأَنفَالُ: الْمَغَانِمُ: دي تفسير نه امام بخارى رحمه الله دي تفسير طرف ته اشاره كړيده چه دلته نفل په هغه معروف معنى كښې مستعمل نه دي چه د فقهاؤ اصطلاح ده چه غازى او جهاد كښې حصه اخستونكى ته مقرره حصې نه څه زياته حصه وركړى بلكه دلته د نفل معنى مطلقا غنيمت دي.(١) د حضرت ابن عباس رضى الله عنهما دا تعليق ابن ابى حاتم د على بن ابى طلحه په طريق سره موصولاً نقل كړيدي.(٢)

قوله: يُقَالُ: نَافِلَةٌ: عَطِيَّةٌ: د نافلة معنى عطيه ده، دا لفظ په سوره انفال كښې نيشته ليكن د انفال د لفظ په مناسبت سره امام بخارى دلته ذكر كړيدي، د دې معنى په اصل كښې د زياتى ده، په دې وجه د فرض او واجب مونځونو نه زياتى ركعتونو ته نافله وائى،

[٤٣٦٨] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا أَبُو بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما سُورَةُ الْأَنفَالِ قَالَ نَزَلَتْ فِي بَدْرٍ.

د حضرت سعيد ابن جبير رحمه الله دا سوال مقصد دا وو چه سوره انفال په كومه سلسله كښې نازل شوې وو، نو حضرت ابن عباس رضى الله عنهما ورته اوخودل چه دا د غزوه بدر په سلسله كښې نازل شويدې. مسند احمد كښې دى چه حضرت سعد ابن ابى وقاص رضى الله عنه په غزوه بدر كښې سعيد بن العاص قتل كړلو او د هغه توره ئې واخستله، حضورِاكرم صلى الله عليه وسلم حكم اوكړو چه دا توره په غنيمت كښې جمع كړه د څه په وجه چه حضرت سعد ابن ابى وقاص رضى الله عنه خفه شو. حضرت سعد رضى الله عنه توره جمع كولو نه پس لړې نه وو تلې چه د سوره انفال ړومبنې آيت نازل شو نو نبى كريم صلى الله عليه وسلم حضرت سعد رضى الله عنه راؤغوښتولو او توره ئې وركړه.(٣)

ابوداؤد او نسائى كښې د شان نزول په بله واقعه هم ذكر ده. چه غزوه بدر كښې د فتح نه پس په صحابه كرامو كښې د مال غنيمت په سلسله كښې څه اختلاف اوشو، ځوانانو وئيل چه دا هر څه زمونږ د محنت نتيجه ده، د بداګانو رائې دا وه چه مونږ خو ستاسو سهارا وو، په مينځ

(١) (لامع الدرارى: ٩٠\٩)-
(٢) (عمدة القارى: ٢٤٤\١٨)-
(٣) (عمدة القارى: ٢٤٥\١٨ والدرالمنثور فى التفسير بالماثور: ١٥٨\٣)-

كښې جندا موږ نيولي وه په دي وجه تاسو ته هيڅ فوقيت او په موږ باندي ترجيح نيشته. دا جګړه رسول الله ﷺ ته اورسيدله نو په دي باندي مذكوره آيت نازل شو (۱)

الشَّوْكَةُ الحَدُّ (مُرْدِفِينَ) فَوْجًا بَعْدَ فَوْجٍ، رَدِفَنِي وَأَرْدَفَنِي جَاءَ بَعْدِي (ذُوقُوا) بَاشِرُوا وَجَرِّبُوا وَلَيْسَ هٰذَا مِنْ ذَوْقِ الفَمِ (فَيَرْكُمَهُ) يَجْمَعُهُ. (شَرِّدْ) فَرِّقْ (وَإِنْ جَنَحُوا) طَلَبُوا (يُثْخِنَ) يَغْلِبَ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ (مُكَاءً) إِدْخَالُ أَصَابِعِهِمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ وَ(تَصْدِيَةً) الصَّفِيرُ (لِيُثْبِتُوكَ) لِيَحْبِسُوكَ.

قوله: الشَّوْكَةُ الحَدُّ: آيت كريمه كښې دى: ،، وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ ،، په دي كښې د ((الشوكة)) تفسير ،، الحد ،، سره كړيدي. حد د توري مخ ته وائى شوكة په اصل كښې ازغى ته وائى نو ازغي چه څنګه پريكول كوى توره هم پريكول كوى. ((غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ)) نه غير مسلح ډله يعنى د قريشو تجارتى قافله مراد ده.

قوله: مُرْدِفِينَ: فَوْجًا بَعْدَ فَوْجٍ، رَدِفَنِي وَأَرْدَفَنِي جَاءَ بَعْدِي: آيت كريمه كښې دى: ،، أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ ،، يعنى زه به ستاسو په يو زر فريښتو سره امداد كوم، چه وار په وار به راځى. د ((مردفين)) معنى ده د يو ډلي نه پس بله ډله. فرمائى چه ردف ثلاثى مجرد او اردف د افعال نه دي د دواړو معنى ده جاء بعدى يعنى زما نه پس راغله. زما شاته راغلو، دا ماخوذ دي د ((ردف)) نه معنى روستو راتلونكي، تابع. نو د ((مردفين)) معنى ((متبعين)) شوه.

قوله: فَيَرْكُمَهُ: يَجْمَعُهُ: آيت كريمه كښې دى: ،، لِيَمِيزَ اللّٰهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ ،، دي د پاره چه الله (جل جلاله) ناپاك د پاك نه جدا كړى او ناپاك يو بل سره ميلاؤ كړى بيا هغوى راجمع كړى او دوزخ كښې ني اوغورزوى. فرمائي چه په آيت كښې د ((يركمه)) معنى ((يجمعه)) يعنى جمع كړى، يوځاى كړى. په اصل كښې د باب د نصر نه ركم يركم معنى ډيري كول، جمع كول، سره راخى.

قوله: ذُوقُوا: بَاشِرُوا وَجَرِّبُوا وَلَيْسَ هٰذَا مِنْ ذَوْقِ الْفَمِ: آيت كريمه كښې دى: ،، ذٰلِكُمْ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابَ النَّارِ ،، په دي كښې ذوق نه مراد په خله سره څكل نه دى بلكه دا مراد دي چه تاسو اوس دا عذاب برداشت كړئي او اوئي زغمئي.

قوله: وَإِنْ جَنَحُوا: طَلَبُوا: آيت كريمه كښې دى: ،، وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ،، او كه هغوى د صلح طرف ته ټيټ شى او ته هم د هغوى طرف ته مائل شه او په الله تعالى باندي بهروسه ساته، فرمائى چه د ((جنحوا)) معنى ((طلبوا)) ده، يعنى كه هغوى صلح او سلامتى

(۱) (الدالمنثور فى التفسير بالماثور ۳/۱۵۹- ۱۶۰ والسنن الكبرىٰ للنسائى كتاب التفسير سورة الانفال رقم الحديث:۱۱۱۹۷-

غواړي نو ته هم اماده شه او په الله تعالی باندي یقین ساته.

قوله: يُثْخِنَ: يَغْلِبَ: آیت کریمه کښي دی: ,,مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ،، د یو نبی د پاره مناسب نه دی چه هغوی قیدیان باقی اوساتی، ابوعبیدرحمه الله د يُثْخِنَ تفسیر يَغْلِبُ سره کوی یعنی تر کومي چه د دښمن خونریزی او زیات قتل و غارت سره په ملك کښي غلبه حاصله نه کړی تر هغه وخت پوري قیدی کافران باقی ساتل مناسب نه دی.

قوله: لِيُثْبِتُوكَ: لِيَحْبِسُوكَ: آیت کریمه کښي دی: ,,وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ،، اوکوم وخت چه کافرانو ستا په نسبت تدبیرونه او سوچونه کول چه تا قیدی کړی یا تا قتل کړی یا تا دوطن نه اوباسی د(لِيُثْبِتُوكَ) معنی یحبسوك ده. یعنی تا قید کړی تا احصار کړی.

قوله: مُكَاءً: وَقَالَ مُجَاهِدٌ (مُكَاءً) إِدْخَالُ أَصَابِعِهِمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ وَ(تَصْدِيَةً) الصَّفِيرُ: آیت کریمه کښي دی: ,,وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً،، مجاهدرحمه الله په دي آیت کښي د «مکاء» تفسیر کړیدي خپلي ګوتي په خپله خُله کښي داخلول. او د تصدیه معنی ئي بیان کړي ده شپیلی، خو دا تفسیر غیر مشهور دي، مشهور تفسیر دا دي چه مکاء معنی شپیلی وهل دی او تصدیه معنی لاسونه پړقول دی.(۱)

علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله د دي آیت لاندي لیکی: ,, یعنی حقیقی مونځ ګذار د جماتونو نه منع کوی او پخپله د هغوی مونځ څه دي؟ د کعبي په بربنډه طواف کول او د الله تعالی د ذکر په ځائي شپیلی وهل او لاسونه پړقول. لکه چه نن هم په ډیرو ګرجو کښي ټلني او جرسونه کړنګول لوئ عبادت ګڼړی. مطلب دا چه نه پخپله د الله تعالی عبادت کوی او نه نور عبادت کولو ته پرېږدی. دا بي معني او فضول خبري ئی عبادت ګرځولي دی. بعضو وئیلي دی شپیلی وهل او لاسونه پړقول به ئي د مسلمانانو په عبادت کښي د خلل د پاره کول او د ټوقو مسخرو د پاره به ئي داسي کول.

۱۴۱=باب: إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ

[۴۳۴۹](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا وَرْقَاءُ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ) قَالَ هُمْ نَفَرٌ مِنْ بَنِي عَبْدِ الدَّارِ»

۱۴۲=باب (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ)

(اسْتَجِيبُوا) أَجِيبُوا (لِمَا يُحْيِيكُمْ) يُصْلِحُكُمْ.

---

(۱) (عمدة القاری: ۲۴۶\۱۸-

(۲) (وهذا الحدیث من افراد البخاری (عمدة القاری: ۲۳۷\۱۸-

[۴۳۷۰] - حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ سَمِعْتُ حَفْصَ بْنَ عَاصِمٍ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي سَعِيدِ بْنِ الْمُعَلَّى -رضي الله عنه- قَالَ كُنْتُ أُصَلِّي فَمَرَّ بِي رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَدَعَانِي فَلَمْ آتِهِ حَتَّى صَلَّيْتُ، ثُمَّ أَتَيْتُهُ فَقَالَ «مَا مَنَعَكَ أَنْ تَأْتِيَ أَلَمْ يَقُلِ اللَّهُ (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ) ثُمَّ قَالَ لأُعَلِّمَنَّكَ أَعْظَمَ سُورَةٍ فِي الْقُرْآنِ قَبْلَ أَنْ أَخْرُجَ». فَذَهَبَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- لِيَخْرُجَ فَذَكَرْتُ لَهُ.

وَقَالَ مُعَاذٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ خُبَيْبٍ سَمِعَ حَفْصًا سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ رَجُلاً مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- بِهَذَا، وَقَالَ هِيَ (الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) السَّبْعُ الْمَثَانِي. [ر:۴۲۰۴]

۱۴۳ = بَاب قَوْلِهِ (وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ) [۳۲]

قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ مَا سَمَّى اللَّهُ تَعَالَى مَطَرًا فِي الْقُرْآنِ إِلاَّ عَذَابًا، وَتُسَمِّيهِ الْعَرَبُ الْغَيْثَ، وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالَى (يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا): [۲۸]

ابن عيينه رحمه الله فرمائيلي دی د «مطر» اطلاق قرآن چه کوم ځای کړيدي هغه ټول عذاب له کړي دي، او «مطر» په معنی باران رحمت د پاره لفظ «غيث» استعمال کړي شوي دي. لکه چه په آيت کښي دی (وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ كَانَ بِكُمْ أَذًى مِنْ مَطَرٍ) په دي کښي «مطر» د عذاب معنی کښي نه دي بلکه د دي نه «غيث» او مراد دي.

[۴۳۸۱](۱) حَدَّثَنِي أَحْمَدُ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ -هُوَ ابْنُ كُرْدِيدٍ صَاحِبُ الزِّيَادِيِّ- سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ -رضي الله عنه- قَالَ أَبُو جَهْلٍ (اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ) فَنَزَلَتْ (وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ * وَمَا لَهُمْ أَنْ لاَ يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ) الآيَةَ.

احمد بن النضر: احمد دلته غيرمنسوب دي يعني د پلار نوم ئي امام نه دي ذکر کړي، د حاکم وغيره رائي دا ده چه دا احمد بن النضر بن عبدالوهاب نيشابوری دي.

دي حديث سره متصل وړاندي حديث محمد بن النضر نه امام بخاری رحمه الله نقل کړيدي، محمد بن النضر د احمد بن النضر رور دي(۲) امام بخاری رحمه الله به چه کله نيشاپور ته تشريف راوړو نو دي دوؤ رونړو سره به اکثر پاتي کيدو، او امام سره د هغوی د بعض شيخانو نه روايت کولو

(۱) (ورقم الحديث: ۴۳۷۲ و اخرجه مسلم فی صفات المنافقين و احكامهم باب فی قول الله تعالى وما كان الله ليعذبهم وانت فيهم، رقم الحديث: ۲۷۹۶-
(۲) (عمدة القاری: ۲۴۹\۱۸

كښې هم شريك دي. د دې دواړو رونړو په بخاري شريف كښې همدغه يو روايت دي.(1) امام مسلم رحمه الله دا روايت د عبيدالله بن معاذ نه نقل كړيدي.(2) چه د احمد بن النضر شيخ دي، داسې د امام مسلم رحمه الله سند يوه درجه عالى دي او دا خبره وړاندې تيره شويده چه امام مسلم رحمه الله ته دلسې فضيلت صرف په څلورو احاديثو كښې حاصل دي.(3)

۱۴۴ - باب (وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ)

[۴۳۷۲] - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ النَّضْرِ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ صَاحِبِ الزِّيَادِيِّ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ قَالَ أَبُو جَهْلٍ (اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ) فَنَزَلَتْ:
وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ * وَمَا لَهُمْ أَنْ لَا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ) الآيَةَ [۴۳۷۱]

د ايت مبارك دوه تفسيرونه: روايت كښې دى چه ابوجهل وغيره أووئيل (اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ) يعنى اي الله كه همدغه قرآن پاك ستا د طرف نه حق وى نو مونږ باندې كاڼرى راؤ وروه يا څه بل سخت عذاب نازل كړه، قرآن د دې جواب وركړو، ، وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ، ، په دې جواب كښې د عذاب نه نازليدلو دوه وجې خودلې دى، يو د حضوراكرم ﷺ په مكه كښې موجودګى او دويمه وجه د خلقو استغفار كول، ابن جرير وغيره اوفرمائيل، ، وَمَا لَهُمْ أَنْ لَا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، ، د آيت دا حصه هغه وخت نازل شوه كله چه هغوى ﷺ په مكه مكرمه كښې موجود وو او بيا د مدينې د هجرت نه پس د آيت دويمه حصه دا نازله شوه، ، وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ، ، د «يستغفرون» ضمير مسلمانانو طرف ته راجع دي او مطلب دا دي چه مكه مكرمه كښې كمزورى مسلمانان موجود دى چه هجرت ئې نه شو كولې او د الله تعالى نه ئې استغفار كولو دهغوى د خاطره او د هغوى د استغفار د بركته په اهل مكه باندې عذاب نازل نه كړيشو. بيا چه كله دې ټولو حضراتو هجرت اوكړو او د مكې نه لاړل نو وړاندينې آيت نازل شو، ، وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ، ، مطلب دا دي چه اوس عذاب منع كونكى دواړه اسباب لرې شو، نه حضوراكرم ﷺ په مكه كښې باقى پاتې شو او نه استغفار كونكى مسلمانان په مكه كښې باقى پاتې شو، نو اوس د عذاب منع كولو څه ركاوټ باقى

(1) (فتح البارى: ۸/۳۰۸ و تهذيب الكمال: ۱۱/۵۱۵ - ۵۱۶-
(2) (صحيح مسلم كتاب صفات المنافقين واحكامهم، رقم الحديث ۲۷۹۶
(3) (كشف البارى كتاب المغازى: ۶۹۲-

پاتي نه شو نو د مکي د فتح په موقع باندې په دې کافرانو باندې عذاب نازل کړیشو په دوی کښې بعض اُووژلي شول بعض اوویستلي شول او باقي مغلوب شول.(١)

د دې تفسیر مطابق، «وَأَنتَ فِيهِمْ»، نه مراد رسول ﷺ په مکه کښې قیام دې او «يستغفرون» نه د مسلمانانو استغفار مراد دې. او د عذاب نه د مکې د فتح وخت کښې د کافرانو مغلوب کیدل مراد دی. بعض حضراتو فرمائیلی دی چه د حضوراکرم ﷺ په دنیا کښې موجوګی د عذاب منع کونکي ده. صرف په مکه کښې موجود کیدل مراد نه دی او د «يستغفرون» ضمیر کافرانو ته راجع دې. او مطلب دا دې چه د اهل مکه د بدو اعمالو تقاضا خو دا وه چه په دوی د آسمان نه کاڼي راوروِلی وې خو دوه څیزونه د دې عذاب نه منع کونکی شو یو د حضور اکرم ﷺ په دنیا کښې موجود کیدل، او دویم د اهل مکه استغفار کول، د مکې خلق اګر که مشرکان وو خو د طواف وغیره په وخت کښې به ئي د «غفرانك غفرانك» ورد کولو، د دوی دا استغفار سره د دې چه د هغوی د پاره په آخرت کښې څه فائده نه ورکوله خو په دنیا کښې د هغوی دا فائده ضرور اوشوه چه هغه خلق د دُنیا د عذاب نه بچ شو، او وړاندې آیت، «وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ»، نه په دې صورت کښې به اُخروی عذاب مراد وی، مطلب به دا وی چه دا خلق خو د دنیاوی عذاب نه بچ شو خو د آخرت عذاب به دوی ته ضرور ملاویږی.(٢) نو چه د کوم عذاب نفی کړیشوي ده، «وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ»، دې نه عذاب دنیاوی مراد دې او چه د کوم اثبات کړي شوي دې د، «وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ»، نو د دې نه د آخرت عذاب مراد دې.(٣)

۱۴۵=باب: وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ:[۳۹]

[۴۳۷۳- ۴۳۷۴] - حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا حَيْوَةُ عَنْ بَكْرِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ بُكَيْرٍ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رضي الله عنهما- أَنَّ رَجُلاً جَاءَهُ فَقَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَلَا تَسْمَعُ مَا ذَكَرَ اللَّهُ فِي كِتَابِهِ (وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا) إِلَى آخِرِ الآيَةِ، فَمَا يَمْنَعُكَ أَنْ لَا تُقَاتِلَ كَمَا ذَكَرَ اللَّهُ فِي كِتَابِهِ. فَقَالَ يَا ابْنَ أَخِي أَغْتَرُّ بِهَذِهِ الآيَةِ وَلَا أُقَاتِلُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَغْتَرَّ بِهَذِهِ الآيَةِ الَّتِي يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى (وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا) إِلَى آخِرِهَا

قَالَ فَإِنَّ اللَّهَ يَقُولُ (وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ). قَالَ ابْنُ عُمَرَ قَدْ فَعَلْنَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- إِذْ كَانَ الإِسْلَامُ قَلِيلاً، فَكَانَ الرَّجُلُ يُفْتَنُ فِي دِينِهِ، إِمَّا يَقْتُلُوهُ وَإِمَّا يُوثِقُوهُ، حَتَّى كَثُرَ الإِسْلَامُ، فَلَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ، فَلَمَّا رَأَى أَنَّهُ لَا يُوَافِقُهُ فِيمَا يُرِيدُ قَالَ

---

(١) (تفسیر طبری:۶۸۳\۲ و البحر المحیط:۴۸۹\۳-
(٢) (البحر المحیط:۴۹۰\۱-
(٣) (تفسیر کبیر:۱۵۹\۱۵-

فَمَا قَوْلُكَ فِي عَلِيٍّ وَعُثْمَانَ. قَالَ ابْنُ عُمَرَ مَا قَوْلِي فِي عَلِيٍّ وَعُثْمَانَ أَمَّا عُثْمَانُ فَكَانَ اللَّهُ قَدْ عَفَا عَنْهُ، فَكَرِهْتُمْ أَنْ يَعْفُوَ عَنْهُ، وَأَمَّا عَلِيٌّ فَابْنُ عَمِّ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَخَتَنُهُ. وَأَشَارَ بِيَدِهِ وَهَذِهِ ابْنَتُهُ أَوْ بِنْتُهُ حَيْثُ تَرَوْنَ.

[۴۳۷۴] - حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا بَيَانٌ أَنَّ وَبَرَةَ حَدَّثَهُ قَالَ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا أَوْ إِلَيْنَا ابْنُ عُمَرَ، فَقَالَ رَجُلٌ كَيْفَ تَرَى فِي قِتَالِ الْفِتْنَةِ. فَقَالَ وَهَلْ تَدْرِي مَا الْفِتْنَةُ كَانَ مُحَمَّدٌ - صلى الله عليه وسلم - يُقَاتِلُ الْمُشْرِكِينَ، وَكَانَ الدُّخُولُ عَلَيْهِمْ فِتْنَةً، وَلَيْسَ كَقِتَالِكُمْ عَلَى الْمُلْكِ [۴۲۴۳]

قوله: فقال يا ابن اخي اُغْتَرُّ بهذه الاية: حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنهما له يو سړي راغلو او هغه ته ئي اووئيل چه تاسو د مسلمانانو د خپل مينځ جګړه کښي حصه ولي نه اخلئي، په قرآن کښي چه د الله تعالى ارشاد دي، ، وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا، ، حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنهما جواب ورکړو چه د دي آيت په سلسله کښي په دهوکه کښي پريوزم (يعنی د دي په صحيح مفهوم باندي پوهه نه شم او د مسسلمانانو په جنګ کښي شرکت اونه کړم) دا ماته ډير خوښ دی د دي نه چه زه په دهوکه کښي پريوزم او د دي آيت په سلسله کښي کوم کښي چه الله تعالى فرمائيلی دی (وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا) يعنی د دي آيت په سلسله کښي زه څه غلط فهمی نه شم برداشت کولي چه د مؤمن قتل عمداً زه معمولی او سپك كار اګنړم نو څه د قتلِ مؤمن عمداً ارتکاب نه شم کولي. بعض نسخو کښي د ((اغتر)) په ځائي ((اعير)) باب تفعيل نه صيغه مجهول واحد متكلم ده.

((عير تعييرا)) معنی شوه شرم ورکول، عيب لګول نو په دي صورت کښي به ترجمه دا وی ما ته، ، وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا، ، په آيت باندي عمل نه کولو باندي پيغور راکړي شی نو دا زما په نزد بهتر دی د هغي نه چه ما ته ، ، وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا، ، باندي عمل کولو په وجه کوم پيغور راکړي شي.

قوله: وَأَمَّا عَلِيٌّ فَابْنُ عَمِّ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم - وَخَتَنُهُ. وَأَشَارَ بِيَدِهِ وَهَذِهِ ابْنَتُهُ أَوْ بِيتُهُ: يعنی حضرت علی رضی الله عنه د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د تره ځوئ او ځوم دي، په لاس باندي ئي اشاره اوکړه چه دا د هغه کور دي يعنی نسبی قرابت سره سره د مکان په اعتبار هم هغه نبی کريم صلی الله علیه وسلم سره نزدي او متصل وو. دلته په روايت کښي، ،هذه ابنته او بيته، ، دي ليکن په دي کښي صحيح، ،هذا بيته، ، والانسخه ده نو امام بخاری رحمه الله دا روايت په ص:۶۴۸ باندي نقل کړيدي هلته بي شکه هم، ،هذا بيته، ، وارد شوي دي.[1]

[1] (صحيح بخاری کتاب التفسير باب قوله وقاتلوهم حتی لا تکون فتنة:۶۴۸۔

۱۴۶=باب (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفًا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ) [۴۰]

[۴۳۷۵] [۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - لَمَّا نَزَلَتْ (إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ) فَكُتِبَ عَلَيْهِمْ أَنْ لَا يَفِرَّ وَاحِدٌ مِنْ عَشَرَةٍ - فَقَالَ سُفْيَانُ غَيْرَ مَرَّةٍ أَنْ لَا يَفِرَّ عِشْرُونَ مِنْ مِائَتَيْنِ
ثُمَّ نَزَلَتِ (الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنْكُمُ) الْآيَةَ، فَكَتَبَ أَنْ لَا يَفِرَّ مِائَةٌ مِنْ مِائَتَيْنِ - زَادَ سُفْيَانُ مَرَّةً - نَزَلَتْ (حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ). قَالَ سُفْيَانُ وَقَالَ ابْنُ شُبْرُمَةَ وَأَرَى الْأَمْرَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيَ عَنِ الْمُنْكَرِ مِثْلَ هَذَا.

په شروع کښې دا حکم وو چه يو مسلمان به په جنګ کښې د لسو کافرانو نه نه تختی، لس مسلمانان به سلو، شل به د دوو سوؤ او زر به د لسو زرو کافرانو مقابله کوی ليکن روستو دا حکم منسوخ شو او آيت نازل شو، ،اَلْئٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ، . يعنى که سل مسلمانان کلك ولاړ وی نو هغوی به په دوؤ سوؤ کافرانو غالب راتلي شی. په دي کښې اشاره اوکړي شوه چه د خپل ځان نه په دوه چنده به مسلمانان د غالب کيدو توقع لرى نو د دي د وجي تيخته جائز نه ده، او که د مخالف فريق شمير د دوه چنده نه هم زيات شو نو تيخته جائز ده.

د ميدان جنګ نه کوم وخت تيخته جائز ده؟: د جمهورو علماؤ او ائمه اربعه په نزد همدغه حکم دي چه تر کومي د مخالف فريق تعداد د دوچند نه زيات نه وی هغه وخت پوري د ميدان جنګ نه تيخته حرام ده. [۲] په دي کښې خبري شوي دی چه د دښمن دوچند کيدل د شمير په اعتبار سره دی يا د طاقت او د وسلي په اعتبار سره دی. ابن ماجشون مالکی وغيره فرمائی چه دا دوچند کيدل د شمير په اعتبار سره نه دی د وسلي او طاقت په اعتبار سره دی نو که سل مسلمانان د سل کافرانو نه تيخته اختيار کړی چه په قوت او وسلي سره د هغوی نه دوچند وی نو د هغوی په نزد دا جائز ده. [۳] ليکن د جمهورو په نزد دا دو چند کيدل د شمير په اعتبار سره دی نو په مذکورصورت کښې د دي سلو مسلمانانوتيخته اختيارول د جمهورو په نزد جائز نه دی. او که د کافرانو شمير د دوچند نه هم زيات شی نو بيا تيخته اختيارول جائز دی. البته

---

[۱] (وايضا اخرجه فى كتاب الفسير باب الان خفف الله عنكم رقم الحديث:۴۳۷۶ وهذاالحديث من افراده (عمدةالقارى)-

[۲] (الجامع لاحكام القرآن: ۳۸۰\۷- ۳۸۱-

[۳] (الجامع لاحكام القرآن: ۳۸۰\۷-

امام محمد رحمه الله فرمائی چه د اسلام د لښکر شمير دولس زرو ته اورسي نو بيا د ميدان جنګ نه تيخته جائز نه ده که د دښمن شمير د دوچند نه زيات ولي نه وی.(۱) او په استدلال کښې د زهری طريق نه مروی حديث پيش کوی چه رسول الله ﷺ فرمائی «خير الاصحاب اربعة و خير السرايا اربع مائة وخير الجيوش اربعة آلاف ولن يؤتى اثنا عشر الفا من قلة ولن يغلب» (۲)

په دي روايت کښې تصريح ده چه د مسلمانانو د لښکر تعداد کله زره وی او که د دولسو زرو نه زيات وی نو هغوی به د کافرانو د مقابله نه تيخته نه اختياروی که کافران هر څومره زيات ولي نه وی. علامه قرطبی رحمه الله د امام مالک رحمه الله نه خو يو روايت د امام محمد رحمه الله د مذهب مطابق نقل کړيدي.(۳)

تاريخ اسلام کښې د دي ډير مثالونه موجود دی چه مسلمانان د کافرانو نه په ډير کم تعداد کښې وو خو ثابت قدم وو نو الله تعالى هغوی ته فتح او کاميابی ورکړه. د غزوه موته واقعه تيره شوي ده په دي کښې د مسلمانانو شمير دري زره وو او د روميانو او د هغوی د ملګرو شمير دوه لاکهه وو، جنګ قادسيه کښې د مسلمانانو شمير څلوېښت زره وو او کافران د بعض رواياتو مطابق د دوو لاکهو نه زيات وو د اُندلس د فتح په وخت کښې د طارق بن زياد په مشرتۍ کښې د اسلام د لښکر شمير اوولس سوه وو او مخالف لښکر اويا زره،، ۷۰۰۰۰،، وو(۴)

قوله: (قال سفيان وقال ابن شبرمة واری الامر بالمعروف والنهی عن المنكر مثل هذا ابن شبرمة: شبرمة (دشين ضمه او د باء سکون او د راء ضمه سره) د ده نوم عبدالله دي تابعي دي او د کوفي قاضی پاتي شوي دي، په کال ۱۴۴ هجري کښې د هغه وفات شوي دي.(۵) دوی فرمائی چه امر بالمعروف والنهی عن المنكر په سلسله کښې هم دا حکم دي چه د يو سړی په مقابله کښې دوه سړی په منکر باندې وی نو د هغه د پاره تيخته جائز نه ده، خو که د دوو نه زيات شو نو بيا تيخته جائز ده.

۱۴۷ = باب (الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا) الْآيَةَ إِلَى قَوْلِهِ (وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ)

---

۱) (احكام القرآن للجصاص:۳۱\۴۸ الكلام فی الفرار من الزحف-

۲) (الحديث اخرجه ابوداؤد عن ابی خيثمة زهيربن حرب وعن وهب بن جرير عن ابيه عن يونس عن الزهری عن عبيدالله بن عبدالله عن ابن عباس رضی الله عنه فی كتاب الجهاد باب فيما يستحب من الجيوش والرفقاء والسرايا رقم الحديث:۱۵۵۵ وقال هذا حديث حسن غريب لا يسنده كبير احد غيرجريرابن حازم و انما روی هذاالحديث عن الزهری عن النبی صلی الله عليه وسلم مرسلا-

۳) (الجامع لاحكام القرآن۸۷\۳۸۲-

۴) (الجامع لاحكام القرآن۸۷\۳۸۱-

۵) (عمدة القاری:۲۵۲\۱۸-

[۴۳۷۶] -حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عَبْدِ اللَّهِ السُّلَمِيُّ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ أَخْبَرَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ قَالَ أَخْبَرَنِي الزُّبَيْرُ بْنُ خِرِّيتٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ (إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ) شَقَّ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ حِينَ فُرِضَ عَلَيْهِمْ أَنْ لَا يَفِرَّ وَاحِدٌ مِنْ عَشَرَةٍ، فَجَاءَ التَّخْفِيفُ فَقَالَ (الآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضُعْفًا فَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ). قَالَ فَلَمَّا خَفَّفَ اللَّهُ عَنْهُمْ مِنَ الْعِدَّةِ نَقَصَ مِنَ الصَّبْرِ بِقَدْرِ مَا خُفِّفَ عَنْهُمْ. [ر: ۴۳۷۵]

۱۴۷ = بَابُ تَفْسِيرُ سُورَةُ بَرَاءَةٌ:

(وَلِيجَةً) كُلُّ شَيْءٍ أَدْخَلْتَهُ فِي شَيْءٍ. (الشُّقَّةُ) السَّفَرُ، الْخَبَالُ الْفَسَادُ، وَالْخَبَالُ الْمَوْتُ. (وَلَا تَفْتِنِّي) لَا تُوَبِّخْنِي. (كَرْهًا) وَكُرْهًا وَاحِدٌ. (مُدَّخَلًا) يُدْخَلُونَ فِيهِ. (يَجْمَحُونَ) يُسْرِعُونَ (وَالْمُؤْتَفِكَاتِ) ائْتَفَكَتْ انْقَلَبَتْ بِهَا الأَرْضُ
(أَهْوَى) أَلْقَاهُ فِي هُوَّةٍ. (عَدْنٍ) خُلْدٍ، عَدَنْتُ بِأَرْضٍ أَيْ أَقَمْتُ، وَمِنْهُ مَعْدِنٌ وَيُقَالُ فِي مَعْدِنِ صِدْقٍ. فِي مَنْبَتِ صِدْقٍ. الْخَوَالِفُ الْخَالِفُ الَّذِي خَلَفَنِي فَقَعَدَ بَعْدِي، وَمِنْهُ يَخْلُفُهُ فِي الْغَابِرِينَ، وَيَجُوزُ أَنْ يَكُونَ النِّسَاءُ مِنَ الْخَالِفَةِ، وَإِنْ كَانَ جَمْعَ الذُّكُورِ فَإِنَّهُ لَمْ يُوجَدْ عَلَى تَقْدِيرِ جَمْعِهِ إِلَّا حَرْفَانِ فَارِسٌ وَفَوَارِسُ، وَهَالِكٌ وَهَوَالِكُ. (الْخَيْرَاتُ) وَاحِدُهَا خَيْرَةٌ وَهِيَ الْفَوَاضِلُ. (مُرْجَوْنَ) مُؤَخَّرُونَ. الشَّفَا شَفِيرٌ وَهُوَ حَدُّهُ، وَالْجُرُفُ مَا تَجَرَّفَ مِنَ السُّيُولِ وَالأَوْدِيَةِ. (هَارٍ) هَائِرٍ. (لأَوَّاهٌ) شَفَقًا وَفَرَقًا. وَقَالَ إِذَا مَا قُمْتُ أَرْحَلُهَا بِلَيْلٍ تَأَوَّهُ آهَةَ الرَّجُلِ الْحَزِينِ.

سورة براءة

د كلماتو تشريح:

قوله: وَلِيجَةً: كُلُّ شَيْءٍ أَدْخَلْتَهُ فِي شَيْءٍ: آيت كريمه كښې دى: ،،وَلَمْ يَتَّخِذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَا رَسُولِهِ وَلَا الْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً،، امام بخارى رحمه الله فرمائى چه وليجة هغه څيز ته وائى كوم چه په بل څيز كښې ته داخل كړي دا د ولوج په معنى دخول نه مشتق دي.[۱] دلته په آيت كښې رازدار ته او دننه د زړه دوست مرا دي.

قوله: الشُّقَّةُ: السَّفَرُ: آيت كريمه كښې دى: ،،لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَاتَّبَعُوكَ وَلَكِنْ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ،، په دې كښې ئې د «شقة» تفسير سفر سره كړې دې او بعضو وئيلي دى شقة نه مدينه منوره نه شام پورې فاصله مراد ده.[۲]

[۱] (قال الراغب فى المفردات:۵۳۲ الولوج الدخول فى مضيق والوليجة كل ما يتخذه الانسان معتمدا عليه وليس من اهله قولهم فلان وليجة فى القوم اذاالحق بهم وليس منهم انسانا كان او غيره-
[۲] (عمدة القارى: ۲۵۴\۱۸-

قوله: الْخَبَالُ الْفَسَادُ، وَالْخَبَالُ الْمَوْتُ: آيت كريمه كښي دى: ﴿لَوْخَرَجُوافِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا﴾ امام فرمائى چه د «الخبال» معنى فساد او د «خبال» معنى مرګ دي. علامه عينى رحمه الله فرمائى چه «الموت» په ځاى «الموتة» كيدل پكار دى «موتة» معنى مرګي او ليونتوب دي.(۱)

قوله: وَلَا تَفْتِنِّي: لَا تُوَبِّخْنِي: آيت كريمه كښي دى: ﴿قُلْ أَنفِقُوا طَوْعًا أَوْكَرْهًا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ﴾ او دي «منافقين متخلفين» نه بعض هغه دى چه وائى ماته اجازت راكړه او ما په فتنه كښي مه اچوه يعنى په ما باندي زجر او توبيخ مه كوه.

قوله: كَرْهًا: وَكُرْهًا وَاحِدٌ: آيت كريمه كښي دى: ﴿قُلْ أَنفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ﴾ اووايه چه تاسو خرچ كړئي په خوشحالئي سره يا په خفګان سره ستاسو نه به هيڅ كله قبول نه شى وائى كرها (د كاف فتح سره) او كرها (د كاف ضمه سره) د دواړو ناخوښى ده.

قوله: مُدَّخَلًا: يُدْخَلُونَ فِيهِ: آيت كريمه كښي دى: ﴿لَوْيَجِدُونَ مَلْجَأً أَوْمَغَارَاتٍ أَوْمُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ﴾ كه چري هغه (منافقين) اومومى ځائى د پناه يا غار د ننوتلو ځائى نو خامخا به هغه طرف ته تلل او منډي به ئي وهلي د «يجمعون» معنى «يسرعون» يعنى منډي وهونكى او تختيدونكى ده.

قوله: وَالْمُؤْتَفِكَاتِ: ائْتَفَكَتْ انْقَلَبَتْ بِهَا الْأَرْضُ: آيت كريمه كښي دى، ﴿وَأَصْحَابِ مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكَاتِ﴾ امام فرمائى دي كښي «وَالْمُؤْتَفِكَاتِ» د «ائْتَفَكَتْ اى انْقَلَبَتْ بِهَا الْأَرْضُ» نه ماخوذ دي. «انْقَلَبَتْ بِهَا الْأَرْضُ» دلته دينه «منقلب» او اُلټه شوي د قوم لوط كلي مراد دي.

قوله: أَهْوَى: أَلْقَاهُ فِي هُوَّةٍ: دا لفظ په سورة براءة كښي نيشته سورة نجم كښي دي ﴿والمؤتفكة اهوى﴾ په سورة براءة ﴿وَالْمُؤْتَفِكَاتِ﴾ راغلي دي، «مؤتفكة» جمع دهڅو هم دي مناسبت سره امام بخارى رحمه الله لفظ د «اهوى» تشريح دلته ذكر كړه، اهوى معنى هغه ئي په يوه كنده كښي واچول، هوة وائى ښكته زمكه او كندي ته.

قوله: (عَدْنٍ) خُلْدٍ، عَدَنْتُ بِأَرْضٍ أَيْ أَقَمْتُ، وَمِنْهُ مَعْدِنٌ وَيُقَالُ فِي مَعْدِنِ صِدْقٍ. فِي مَنْبَتِ صِدْقٍ: ﴿فِى جَنَّاتِ عَدْنٍ﴾ دي كښي د «عدن» معنى «خلد» ده يعنى د هميشه والى په باغونو كښي. وائى «عدنت بارض» ما په هغي كښي اقامت اختيار كړو هم دينه «معدن» مشتق دي، د سرو زرو سپينو زرو كان ته هم وائى. وئيلي شى «فى معدن صدق» يعنى «فى منبت صدق» د صدق او رښتياؤ د راټوكيدو په ځاى كښي دي. دا د هغه سړى په باره كښي وائى څوك چه هم په صدق كښي وى او د دروغو هلته تيريدل نه وى.

---

(۱) (عمدة القارى: ۱۸\۲۵٤)-

قوله: الْخَوَالِفُ: الْخَالِفُ الَّذِي خَلَفَنِي فَقَعَدَ بَعْدِي: آيت كريمه كښي دى. .رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ. ، دي كښي خوالف د خالف جمع ده. خالف هغه سړي چه مانه شاته پاتي شوي وى او زما نه روستو هغه په كور كښي ناست وى. كله چه څوك مړ شي نو هلته د دعا په توګه وائى ((والله يخلفه فى الغابرين)) يعنى د هغه په پسماندګانو كښي الله تعالى د هغه خليفه جوړ شي. وړاندي امام فرمائى دا هم ممكن دى چه ((خوالف)) نه مراد ښځي وى او دا د ((خالفة)) جمع وى (ځكه چه فاعلة جمع د فواعل په وزن باندي راځى) او كه الف مذكر يعنى د خالف جمع وى نو دا به شاذ وى ځكه چه د فاعل جمع فواعل په وزن صرف دوو لفظونو كښي راځي يو فارس چه د دي جمع فوارس راځى بل د هالك چه د دي جمع هوالك راځى.

ليكن د امام دا قول محل نظر دي ځكه چه مذكوره دوو لفظونو نه علاوه هم يو څو لفظونه داسي دى د كومو جمع چه د فواعل په وزن راځى، لكه سابق. داجن. او ناكس. چه د دي جمع سوابق. دواجن. او نواكس راځي.(١)

قوله: الْخَيْرَاتُ: وَاحِدُهَا خَيْرَةٌ وَهِيَ الْفَوَاضِلُ: آيت كريمه كښي دى. ،أُولَٰئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ. ، او هم د دوى د پاره ټولي خوبياني دى او هم دغه خلق كامياب دى(كومو خلقو چه په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد اوكړو) فرمائى چه د خيرات واحد خيرة دي(په فتح د خاء سره او سكون د ياء او اخرها هاء التانيث) د دي په تفسير كښي ابوعبيدة رحمه الله فرمائى وهى الفواضل يعنى فضائل خوبياني، نيكئى او ښيګړي.

قوله: مُرْجَئُونَ: مُؤَخَّرُونَ: آيت كريمه كښي دى. .وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ. . او څه خلق هغه دى د كومو معامله چه د الله تعالى حكم راتلو پوري ملتوى ده چه هغوى له به سزا وركوى يا به د هغوى توبه قبلوى. فرمائى چه په آيت كښي د ((مرجون)) معنى ده د چا معامله چه روستو كړي شى.

قوله: الشَّفَا: شَفِيرٌ وَهُوَ حَدُّهُ، وَالْجُرُفُ مَا تَجَرَّفَ مِنَ السُّيُولِ وَالْأَوْدِيَةِ. (هَارٍ) هَائِرٍ: آيت كريمه كښي دى. .أَمْ مَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ. ، يا هغه سړي چا چه د خپل عمارت بنياد د يو غار په غاړه باندي چه پريوزى كيخودي وى. بيا هغه عمارت دا (باني) واخلى او د دوزخ اُور ته پريوزى. دي كښي د ((شفا)) معنى ده شفير يعنى غاړه، ((جرف)) د نالي غاړي ته وائى چه د نهر او واديانو اوبو سره كمزوري كيږى او پريوتلو ته نزدي وى او لږ شان خوزيدو سره پريوزى.(٢)

(١) (عمدة القارى:٢٥٦\١٨ وفتح البارى:٣١٤\٨)-

(٢) (قال الالوسى فى روح المعانى:٢٢\١١ الجرف بضمتين البئرالتى لم تطو و قيل هو الهوة وما يجرفه السيل من الاودية لجرف الماء له اى اكله و اذهابه-

((هار)) په اصل كښې ((هائر)) وو او هائر كښې قلب شوي دي. هائر نه ئى هارى جوړ كړو. بيا ئى همزه د ماقبل د كسري د وجهي نه يا جوړه كړه هارى جوړ شو، ياء ئى حذف كړه هار جوړ شو په معنى د پريوتلو.[1]

قوله: لَأَوَّاهٌ: شَفَقًا وَفَرَقًا: وَقَالَ الشَاعِر:[2]..

إِذَا مَا قُمْتُ أَرْحَلُهَا بِلَيْلٍ ... تَأَوَّهُ آهَةَ الرَّجُلِ الْحَزِينِ

آيت كريمه كښې دى،، إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ، يعنى ابراهيم عليه السلام ډير آه آه كونكي وو او حليم الطبع وو، امام فرمائى شفقاً و فرقاً يعنى د الله تعالى د ويري نه به هغوى آه آه كول او د رب په حضور كښې ژړا فرياد كونكي وو، شاعر وائى كله چه زه د شپې په خپله اوښه باندي كيجاوه ترم نو هغه د غمګين سړى پشان آه آه كوى.

١٤٩=باب قَوْلِهِ: بَرَاءَةٌ مِنَ اللهِ وَرَسُولِهِ إِلَى الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ

اذَانٌ[٣] إِعْلَامٌ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أُذُنٌ يُصَدِّقُ تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا[١٠٣] وَنَحْوُهَا كَثِيرٌ وَالزَّكَاةُ الطَّاعَةُ وَالإِخْلَاصُ لَا يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ[فصلت ٧] لَا يَشْهَدُونَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ يُضَاهُونَ[٣٠] يُشَبِّهُونَ

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: أُذُنٌ: يُصَدِّقُ: آيت كريمه كښې دى.. وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ،،

د أذن معنى راځى غوږ، دلته د دې معنى بيان كړيده د هغه سړى چه د هرې خبرې تصديق

---

[1] (قال الالوسى فى روح المعانى:٢٢ \ ١١ و اصله هاور او هاير فهو مقلوب وزونه فالع و قيل انه حذفت عينه اعتباطا فوزنه فال وقيل انه لا قلب فيه و لا حذف و اصله هور او هير على وزن فعل بكسر العين ككتف فلما تحرك حرف العلة و انفتح ما قبله قلب الفا وفى الكشاف:٢١٢ \ ٢ ونظيره: شاک و صات فى شائک و صائت الفه ليست بالف فاعل انما هى عينه و اصله هور و شوک و صوت-

[2] (و هوالمثقب العبدى وانظر بعض اشعار هذه القصيدة فى عمدةالقارى:٢٥٧ \ ١٨ و فتح البارى:٣١٥ \ ٨-

أفاطم قبل بينک متعينى ... ومنعک ما سألت كأن متعينى
فلا تعدى مواعد كاذبات ... تمر بها رياح الصيف دونى
فإنى لو تخالفنى شمالى ... عنادک ما وصلت بها يمينى
إذا لقطعتها ولقلت: بينى! ... كذلک أجتوى من يجتوينى
إذا ما قمت أرحلها بليل ... تأوه آهة الرجل الحزين
تقول إذا درأت لها وضينى ... أهذا دينه أبدا ودينى؟
أكل الدهر حلا وارتحالا؟ ... أما يبقى على ولايقينى!!
فأبقى باطلى والجد منها ... كدكان الدرابنة المطين

وكان ابو محمد بن العلا يقول لو كان الشعر مثلها وجب على الناس ان يتعلموه-

کوی. بعض منافقانو به وئیل چه حضوراکرم ﷺ خو د هري خبري تصديق کوی، د رښتياؤ او د دروغو د پيژندګلو تکليف نه برداشت کوی. قرآن د دي جواب ورکړو(قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ) يعنى که هغه هم غوږونه دی نو هم ستاسو د خيګړي د پاره، د نبى ﷺ عادت مبارك ستاسو په حق کښي بهتر دي.

قوله: تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا: نَحْوُهَا كَثِيرٌ وَالزَّكَاةُ: الطَّاعَةُ وَالإِخْلاَصُ: آيت کريمه کښي دی، ، خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا، ، د تطهرهم او تزکيهم دواړو هم يوه معنى ده. د تطهير نه دلته ((تزكية عن الذنوب)) او ((تزكية القلب)) مراد ده ده. د زکاة په ادائيګئى سره د زړه نه رذيله بُخل ختميږی، وړاندي امام فرمائى ((ونحوها كثير)) يعنى په الفاظو کښي مختلف ليکن معنى کښي متحد کلمات د عربو په لغت کښي ډير زيات مثالونه دی. بيا اوفرمائيلى شو د زکاة معنی طاعت او اخلاص هم راخي.

قوله: لاَ يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ: لاَ يَشْهَدُونَ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ: آيت کريمه کښي دی، ، وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ ۝ الَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ...الخ، ، دي کښي د ((لَا يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ)) تشريح ده، چه هغه د ((لا اله الا الله)) ګواهى نه ورکوی. نو په دي آيت کښي د زکاة نه د مال والازکاة مراد نه دي بلکه قلبى زکاة ترينه مراد دي چه شرك او كفر نه زړه پاکوی. د آيت دا تفسير د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دي.[1] دا آيت په سورة براءة کښي نيشته بلکه په سورة فُصِّلَتْ کښي دي. په سورة براءة کښي د ((وَتُزَكِّيهِم بِهَا)) په مناسبت سره امام بخاری رحمه الله دا آيت ذکر کړي دي.

[٤٣٧٧] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ - رضى الله عنه - يَقُولُ آخِرُ آيَةٍ نَزَلَتْ (يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلاَلَةِ) وَآخِرُ سُورَةٍ نَزَلَتْ بَرَاءَةٌ. [ر: ٤١٠٦]

دټولو نه په اخرکي نازليدونکي سورت: حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمائى چه د ټولو نه په آخره کښي سورة براءة نازل شو، مطلب دا چه د سورة براءة اکثره حصه په آخره کښي نازل شوه.[2] د پوره سورة په آخر کښي نازليدل مراد نه دی. پوره سورة چه د ټولو په آخره کښي نازل شوي دي هغه (إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ...... الخ) دي.[3]

١٥٠ = قَوْلِهِ (فَسِيحُوا فِي الأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ وَأَنَّ اللَّهَ مُخْزِي الْكَافِرِينَ)

سِيحُوا سِيرُوا.

[1] (عمدة القارى: ٢٥٩\١٨-
[2] (عمدة القارى: ٢٥٩\١٨-
[3] (فتح البارى: ٣١٦\٨-

[٤٣٧٨] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ بَعَثَنِي أَبُو بَكْرٍ فِي تِلْكَ الْحَجَّةِ فِي مُؤَذِّنِينَ، بَعَثَهُمْ يَوْمَ النَّحْرِ يُؤَذِّنُونَ بِمِنًى أَنْ لَا يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلَا يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ. قَالَ حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ ثُمَّ أَرْدَفَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، وَأَمَرَهُ أَنْ يُؤَذِّنَ بِبَرَاءَةَ. قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَأَذَّنَ مَعَنَا عَلِيٌّ يَوْمَ النَّحْرِ فِي أَهْلِ مِنًى بِبَرَاءَةَ، وَأَنْ لَا يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلَا يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ.

١٥١ = بَاب قَوْلِهِ (وَأَذَانٌ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ أَنَّ اللَّهَ بَرِيءٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ فَإِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ وَبَشِّرِ الَّذِينَ كَفَرُوا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ)

آذَنَهُمْ أَعْلَمَهُمْ.

[٤٣٧٩] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَنِي أَبُو بَكْرٍ - رضي الله عنه - فِي تِلْكَ الْحَجَّةِ فِي الْمُؤَذِّنِينَ، بَعَثَهُمْ يَوْمَ النَّحْرِ يُؤَذِّنُونَ بِمِنًى أَنْ لَا يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلَا يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ. قَالَ حُمَيْدٌ ثُمَّ أَرْدَفَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، فَأَمَرَهُ أَنْ يُؤَذِّنَ بِبَرَاءَةَ. قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَأَذَّنَ مَعَنَا عَلِيٌّ فِي أَهْلِ مِنًى يَوْمَ النَّحْرِ بِبَرَاءَةَ، وَأَنْ لَا يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلَا يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ.

١٥٢ = بَاب: (إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ)

[٤٣٨٠] = حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ حُمَيْدَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ - رضي الله عنه - بَعَثَهُ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي أَمَّرَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَيْهَا قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فِي رَهْطٍ يُؤَذِّنُ فِي النَّاسِ أَنْ لَا يَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ. فَكَانَ حُمَيْدٌ يَقُولُ يَوْمُ النَّحْرِ يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ. مِنْ أَجْلِ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ. [ر: ٣٦٢]

١٥٣ = بَاب (فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ)

[٤٣٨١] = [1] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ وَهْبٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ حُذَيْفَةَ فَقَالَ مَا بَقِيَ مِنْ أَصْحَابِ هَذِهِ الْآيَةِ إِلَّا ثَلَاثَةٌ، وَلَا مِنَ الْمُنَافِقِينَ إِلَّا

[1] (هذا الحديث لم يخرجه احد من اصحاب الستة سوى البخارى)-

أَرْبَعَةٌ. فَقَالَ أَعْرَابِي إِنَّكُمْ أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ- صلى الله عليه وسلم- تُخْبِرُونَا فَلَا نَدْرِي فَمَا بَالُ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يَبْقُرُونَ بُيُوتَنَا وَيَسْرِقُونَ أَعْلَاقَنَا. قَالَ أُولَئِكَ الْفُسَّاقُ، أَجَلْ لَمْ يَبْقَ مِنْهُمْ إِلَّا أَرْبَعَةٌ. أَحَدُهُمْ شَيْخٌ كَبِيرٌ لَوْ شَرِبَ الْمَاءَ الْبَارِدَ لَمَا وَجَدَ بَرْدَهُ.

د زيد بن وهب بيان دې چه مونږ حضرت حذيفه رضى الله تعالى سره وو نو هغه اوفرمائيل چه ددې آيت په اصحابو كښې صرف درې پاتې شوى دى او د منافقانو نه څلور باقى دى (حضرت حذيفه ﷺ د رسول الله ﷺ رازدار وو نوم په نوم منافقان ئى پيژندل) يو اعرابى په مجلس كښې موجود وو([1]) هغه اووئيل چه تاسو د رسول الله ﷺ اصحاب ئى هم تاسو مونږ ته ددين احكام وغيره ښائې، مونږ خو پخپله هيڅ نه پيژنو، دا څوك خلق دى چه زمونږ په كورونو كښې غلاګانې كوى ((ويسرقون اعلاقنا)) او زمونږ نه ښكلې څيزونه پټوى. (اعلاق): علِق (د عين په كسره سره) جمع د(علق) ښكلې څيز ته وائى څكه چه هغې سره زړه معلق وى او په بعض نسخو كښې ((ويسرقون اغلاقنا)) راغلى دى ((اغلاق)) جمع د ((غَلَق)) ده غلق نه مراد چابى ده، يعنى هغوى زمونږ چابيانې پټوى او زمونږ تاله شوى څيزونه كولاووى او پټوى. د اعرابى د سوال مطلب دا وو چه تاسو اوخودل چه د ((ائمة الكفر)) نه درې او منافقانو نه څلور باقى پاتې دى -دومره لږو خلقو كښې دومره لوئ چكر خو چلولې نه شى نو دا غلا كونكى خلق څوك دى؟ حضرت حذيفه ﷺ اوفرمائيل چه دا فاسق خلق دى دا ائمة الكفر او منافقانو مصداق نه دى، منافقانو نه خو صرف څلور باقى دى يو خو دومره بوډا شويدې چه كه يخې اوبه اوڅكى نو د هغې يخوالې هم هغه نشى محسوس كولې.

د ايت د تعيين متعلق يوه تنبيه: امام بخارى ﷺ په شان امام نسائى او ابن مردويه هم دا حديث آيت فقاتلوا ائمة الكفر په ذيل كښې فرمائيلى دې([2]) د كوم نه چه معلوميږى چه حديث كښې.. اصحاب هذه الاية.. كښې د آيت (فقاتلوا ائمة الكفر) والا آيت مراد دې. په حديث كښې د دې وضاحت نشته چه.. هذه الاية.. نه كوم آيت مراد دې ليكن اسماعيلى د سفيان بن عيينهطرف نه يو روايت ذكر كړيدې او په دې كښې د آيت تصريح ده او هغه آيت سورة ممتحنه دې. (لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ) د روايت الفاظ دى ((مابقى من المنافقين من اهل هذه الاية)) (لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ) (الاية.....الاربعة نفر ان احدهم لشيخ كبير([3]) اسماعيلى وئيلى دى چه ((اصحاب هذه الاية)) كښې هم هغه آيت مراد دې كوم چه سفيان بن عيينه په خپل روايت كښې ذكر كړيدې نو بيا دا روايت سورة براءت كښې ذكر كول نه دى پكار بلكه په

[1]) (قال الحافظ فى فتح البارى:۸\۳۲۳ لم اقف على اسمه)-

[2]) (فتح البارى:۸\۳۲۳-

[3]) (فتح البارى:۸\۳۲۳---

سورة ممتحنه كښې ذكر كول پكار دى.(١)

١٥٤=باب قوله (والذين يكنزون الذهب والفضة ولا ينفقونها في سبيل الله فبشرهم بعذاب أليم

[٤٣٨٢] حدثنا الحكم بن نافع أخبرنا شعيب حدثنا أبو الزناد أن عبد الرحمن الأعرج حدثه أنه قال حدثني أبو هريرة - رضى الله عنه - أنه سمع رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يقول « يكون كنز أحدكم يوم القيامة شجاعا أقرع ».

[٤٣٨٣] حدثنا قتيبة بن سعيد حدثنا جرير عن حصين عن زيد بن وهب قال مررت على أبي ذر بالربذة فقلت ما أنزلك بهذه الأرض قال كنا بالشام فقرأت (والذين يكنزون الذهب والفضة ولا ينفقونها في سبيل الله فبشرهم بعذاب أليم) قال معاوية ما هذه فينا، ما هذه إلا في أهل الكتاب. قال قلت إنها لفينا وفيهم.

د بعض حضراتو رائې دا ده چه د كنز نه مراد لغوى معنى ده، كوم مال چه ذخيره كړې شى هغه دلته مراد دې او په آيت كښې هم په دې باندې وعيد دې. ليكن د جمهورو رائې دا ده چه كنز نه دلته هغه مال مراد دې د كوم چه زكوة نه وى ادا شوې. د زكوة ادا كولو نه پس د مال په ذخيره كولو وعيد نشته.(٢)

د حضرت معاويه رضي الله عنه دا خيال وو چه دا آيت د اهل كتابو په باره كښې دې ليكن حضرت ابوذرغفارى رضي الله عنه فرمائيل چه دا آيت د اهل كتابو او مسلمانانو دواړو په باره كښې دې.«شجاع اقرع» هغه مار ته وائى په كوم چه ويښته نه وى.

١٥٥=باب قوله عز وجل (يوم يحمى عليها في نار جهنم فتكوى بها جباههم وجنوبهم وظهورهم هذا ما كنزتم لأنفسكم فذوقوا ما كنتم تكنزون)

[٤٣٨٤] وقال أحمد بن شبيب بن سعيد حدثنا أبي عن يونس عن ابن شهاب عن خالد بن أسلم قال خرجنا مع عبد الله بن عمر فقال هذا قبل أن تنزل الزكاة، فلما أنزلت جعلها الله طهرا للأموال.

امام بخارى رحمه الله دلته «قال احمد» وئيلې دى د كوم نه چه معلوميږى چه دا تعليق دې ليكن دا تعليق نه دې ځكه چه امام بخارى رحمه الله همدغه روايت په كتاب الزكوة كښې ذكر كړيدې او هلته ئې د «قال» په ځائې «حدثنا» وئيلې دى (٣) د امام بخارى رحمه الله يو عادت دا هم وو چه

---

(١) (فتح البارى:٨\٣٢٣-

(٢) (الجامع لاحكام القرآن للقرطبى:٨\١٢٥-

(٣) (صحيح بخارى كتاب الزكوة باب ما ادى زكوته فليس بكنز:١\١٨٨-

کله به هغه یو روایت مختصراً ذکر کولو نو هلته چه کومه قاعده تحدیث طرز او طریقه ده د هغې مطابق نه کوی بلکه ،،قال،، ذکر کوی. دلته زمونږ په هندوستانی نسخو کښې ،،احمد بن شعیب،، لیکلې شوېدې دا غلط دې صحیح ،،احمد بن شبیب،، دې باقی نسخو کښې هم ،،احمد بن شبیب،، دې.(۱)

۱۵۶=باب قَوْلِهِ (إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ) (۸)

(الْقَيِّمُ) هُوَ الْقَائِمُ.

[۴۳۸۵] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «إِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللَّهُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ، السَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا مِنْهَا، أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ، ثَلاَثٌ مُتَوَالِيَاتٌ، ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِي بَيْنَ جُمَادَى وَشَعْبَانَ». [ر: ۶۷]

کافرانو او مشرکانو به نسیان یعنی هیره اختیاروله، ذی قعده، ذی الحجه او محرم درواړه د عزت میاشتې دی او د اشهرالحرم لاندې باندې دریو میاشتو نه سترې شو نو محرم به ئې صفر او صفر نه به ئې محرم جوړولو (۲) او یوه طریقه دا هم وه چه شمسی او قمری کال به ئې یو بل سره برابرولو د پاره د قمری کال نه څه اورځې به ئې کمولې نو د دې اثر به دا وو چه ۳۸ کاله پس به د میاشتو خپل دور په خپل ځائ واپس راتلو. رسول الله ﷺ چه په کوم کال حج اوکړو هغه کال ذی الحجه په خپل صحیح وخت راغلې وه.

د حرمت د میاشتو په ترتیب کې اختلاف: د اشهرالحرم اعتبار به څنګه وی، په دې کښې اختلاف دې. د اهل بصره او اهل مدینه رائې دا ده چه د دی په ترتیب کښې اول ذی القعده او دویم ذی الحجه او دریم محرم او څلورم به د رجب اعتبار وی لیکن د اهل کوفه او اهل شام رائی ده چه اشهرالحرم د محرم نه شروع کیږی او څلور واړه به په یو کال کښې راځی. علامه سهیلی رحمه الله فرمائیلی دی چه د دې اختلاف اثر به د نذر وغیره په وخت کښې ښکاره کیږی چه یو سړی نظر منلې وی که زه په دې کار کښې کامیاب شوم نو د اشهرالحرم روژې به نیسم. نو دا سړې به د اهل او اهل مدینه په مذهب د ذی القعدې نه روژې ساتی او د اهل کوفه په نزد

(۱) (قال العینی فی العمدة:۱۸ \ ۲۴۵ احمد بن شبیب بفتح الشین و کسرالباء الموحدة من افراد البخاری یروی عن ابیه شبیب بن سعید ابی عبدالرحمن البصری-

(۲) (الجامع لاحکام القرآن للقرطبی:۸ \ ۱۳۷- او اکثر وختونو کښې به ئی حج د هغې د خپل وخت نه روستو کولو) (الجامع لاحکام القرآن للقرطبی:۸ ۱۳۷-

محرم نه به روژې ساتل شروع کوی (١) دلته په حدیث کښې د رجب میاشت قبیله مضر طرف ته منسوب کړې شوې ده ځکه چه قبیله مضر به د رجب ډیر عزت کولو. (٢)

۱٥٧= بَاب قَوْلِهِ (ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ).

مَعَنَا: نَاصِرُنَا السَّكِينَةُ فَعِيلَةٌ مِنَ السُّكُونِ.

قوله: لا تحزن ان الله معنا: د «معنا» تفسیر ،،ناصرنا،، نه معلومیږی چه د الله تعالی دا معیت په اعتبار د نصرت دې.

(فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ) کښې «سکینة» د فعلیة په وزن دې د سکون نه مشتق دې. یعنی الله تعالی په حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه باندې سکون او اطمینان نازل کړو.

[۴۳۸٦] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا حَبَّانُ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ حَدَّثَنَا أَنَسٌ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو بَكْرٍ -رضي الله عنه- قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِي الْغَارِ، فَرَأَيْتُ آثَارَ الْمُشْرِكِينَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ رَفَعَ قَدَمَهُ رَآنَا. قَالَ «مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللَّهُ ثَالِثُهُمَا».

[۴۳۸۷\۴۳۸۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- أَنَّهُ قَالَ حِينَ وَقَعَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ ابْنِ الزُّبَيْرِ قُلْتُ أَبُوهُ الزُّبَيْرُ، وَأُمُّهُ أَسْمَاءُ، وَخَالَتُهُ عَائِشَةُ، وَجَدُّهُ أَبُو بَكْرٍ، وَجَدَّتُهُ صَفِيَّةُ. فَقُلْتُ لِسُفْيَانَ إِسْنَادُهُ. فَقَالَ حَدَّثَنَا، فَشَغَلَهُ إِنْسَانٌ وَلَمْ يَقُلِ ابْنُ جُرَيْجٍ.

د دې روایت په آخر کښې چه عبدالله بن محمد د سفیان بن عیینه رحمه الله نه تپوس اوکړو چه د دې حدیث اسناد خو بیان کړه، هغه اوفرمائیل، ،حدثنا،، اوس ئې صرف لا دا جمله وئیلې وه چه هغه چا مشغول کړو او هغه ابن جریج اونه وئیلې شو، پورته سند کښې سره د دې چه ابن جریج شته لیکن هغه د صیغه ،،عن،، سره دې، عبدالله بن محمد صیغه تحدیث سره اوریدل غوښتل. په دې وجه ئې د هغه نه سوال اوکړو.

[۴۳۸۸] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ وَكَانَ بَيْنَهُمَا شَيْءٌ فَغَدَوْتُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ أَتُرِيدُ أَنْ تُقَاتِلَ ابْنَ الزُّبَيْرِ فَتُحِلَّ حَرَمَ اللَّهِ. فَقَالَ مَعَاذَ اللَّهِ، إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ ابْنَ الزُّبَيْرِ وَبَنِي أُمَيَّةَ مُحِلِّينَ، وَإِنِّي وَاللَّهِ لاَ أُحِلُّهُ أَبَدًا. قَالَ قَالَ النَّاسُ بَايِعْ لاِبْنِ الزُّبَيْرِ. فَقُلْتُ وَأَيْنَ بِهَذَا الأَمْرِ عَنْهُ أَمَّا أَبُوهُ فَحَوَارِيُّ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-، يُرِيدُ الزُّبَيْرَ، وَأَمَّا جَدُّهُ فَصَاحِبُ الْغَارِ، يُرِيدُ

---

(١) (روح المعانی: ٤\١٣٠ و الجامع لاحکام القرآن: ٤\٨٥-

(٢) (فتح الباری: ٨\٣٢٥-

أَبَا بَكْرٍ، وَأُمُّهُ فَذَاتُ النِّطَاقِ، يُرِيدُ أَسْمَاءَ، وَأَمَّا خَالَتُهُ فَأُمُّ الْمُؤْمِنِينَ، يُرِيدُ عَائِشَةَ، وَأَمَّا عَمَّتُهُ فَزَوْجُ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-، يُرِيدُ خَدِيجَةَ، وَأَمَّا عَمَّةُ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَجَدَّتُهُ، يُرِيدُ صَفِيَّةَ، ثُمَّ عَفِيفٌ فِي الإِسْلاَمِ، قَارِئٌ لِلْقُرْآنِ. وَاللَّهِ إِنْ وَصَلُونِي وَصَلُونِي مِنْ قَرِيبٍ، وَإِنْ رَبُّونِي رَبَّنِي أَكْفَاءٌ كِرَامٌ، فَآثَرَ التُّوَيْتَاتِ وَالأُسَامَاتِ وَالْحُمَيْدَاتِ، يُرِيدُ أَبْطُنًا مِنْ بَنِي أَسَدٍ بَنِي تُوَيْتٍ وَبَنِي أُسَامَةَ وَبَنِي أَسَدٍ، إِنَّ ابْنَ أَبِي الْعَاصِ بَرَزَ يَمْشِي الْقُدَمِيَّةَ، يَعْنِي عَبْدَ الْمَلِكِ بْنَ مَرْوَانَ، وَإِنَّهُ لَوَّى ذَنَبَهُ، يَعْنِي ابْنَ الزُّبَيْرِ.

قوله: وَكَانَ بَيْنَهُمَا شَيْءٌ:

د حضرت عبدالله بن عباس او حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما په مینځ کې د اختلاف ذکر: د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما او حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنهما په مینځ کښې څه اختلاف وو چه کله د حضرت معاویه رضي الله عنه انتقال اوشو. او د هغه د خوئ یزید په لاس د بیعت سلسله شروع شوه نو حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما او حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنهما د بیعت نه انکار اوکړو. یزید د حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنهما خلاف د مسلم بن عقبه په مشرئی کښې یو لښکر مکې مکرمې ته روان کړو او د حره مشهوره واقعه پیښه شوه په کوم کښې چه په کعبه مبارکه باندې منجنیق غورزولې شووواو خانه کعبه مبارکه سوزیدلې وه. د یزید د انتقال نه پس حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنهما د خپل خلافت د پاره خلقو ته د بیعت دعوت ورکړو. د حجاز، مصر، عراق او نورو ډیرو علاقو خلقو د هغوی په لاس باندې بیعت اوکړو.

محمد بن حنفیه رحمه الله او حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما هغه وخت په مکه مکرمه کښې موجود وو، حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنهما دې دواړو ته هم د خپل خلافت د پاره د بیعت دعوت ورکړو لیکن هغه دواړو حضراتو انکار اوکړو او وئې وئیل چه تر کومې پورې مسلمانان په یو خلیفه باندې متفق شوې نه وی هغه وخت پورې به مونږ د چا په لاس هم بیعت نه کوؤ. د دې دواړو بزرګانو په وجه نور هم ډیر خلق د بیعت نه منع شول، نو حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنهما سختی شروع کړه او هغوی ئې په مکه مکرمه کښې حصار کړل، بل طرف ته د عبدالملك بن مروان حکومت په شام، مصر او کوفه وغیره کښې قائم شوې وو، په کوفه کښې مروانی حاکم مختار بن ابی عبید ته چه کله معلومه شوه چه په مکه مکرمه کښې حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنهما خو حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما او محمد بن حنفیه رحمه الله قید کړې دی نو هغه لښکر اولیګلو چه دا دواړه بزرګان د هغې ځائ نه راوباسی. او دا دواړه لاړل طائف کښې آباد شول.[1]

قوله: فغدوت على ابن عباس فقلت اتريد ان تقاتل ابن الزبير: ابن ابی

---

[1] (د مذکوره تفصیل د پاره اوګورئی فتح الباری: ۸/ ۳۲۸ دې لښکر د دواړو بزرګانو نه د حضرت عبدالله بن زبیررضی الله عنه سره د جنګ اجازت اغوښتو لیکن هغوی منع کړل او د جنګ اجازت ئې ورنه کړو. د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما خو په کال ۶۷ هجرئ کښې په طائف کښې انتقال اوشو او د محمد بن حنفیه رحمه الله انتقال په ایله کښې په کال ۷۴ هجرئ کښې وفات اوشو.

مليکه فرمائي چه زه د سحر په وخت کښې حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما ته حاضر شوم او عرض مې اوکړو چه تاسو د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه سره د جنګ اراده کوئ نو آيا تاسو د هغه سره جنګ کولو باندې حرم حلال جوړوئ، نو حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل معاذالله! دا خو الله تعالى د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه او د بنى أميه په مقدر کښې ليکلى دى چه حرم حلال جوړ کړى او د دې بې حرمتى اوکړى او زه خو د الله قسم! کله به هم حرم حلال نه جوړوم. خلقو حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته اووئيل چه تاسو د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه نه بيعت اوکړئى نو هغوى جواب ورکړو چه حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه د بيعت د حق نه لرې نه دې مطلب دا چه په هغه کښې صلاحيت شته او د هغه د خلافت حق دې ځکه چه د هغه پلار د رسول الله صلى الله عليه وسلم حوارى وو او د هغه نيکه صديق اکبر رضي الله عنه دې د هغه مور حضرت اسماء رضي الله عنها ده او د هغه ترور حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها ده. د رسول الله صلى الله عليه وسلم بى بى حضرت خديجه رضي الله عنها او د نبى کريم صلى الله عليه وسلم ترور حضرت صفيه رضي الله عنها د هغه نيا ده بيا هغه په خپل ذاتى حيثيت سره په اسلام کښې پاك دامن دې،او د قرآن پاك عالم دې.

قوله: والله ان وصلوني وصلوني من قريب وان ربوني ربوني اكفاء كرام: او په الله قسم! که بنو أميه زما سره صله رحمي کوى نو هغوى د خپلولئى او رشته دارئى په وجه زما سره صله رحمى کوى. مطلب دا که بنو أميه زما سره ښه سلوك اوکړو نو په دې کښې څه د حيرانتيا خبره نيشته ځکه چه هغوى زما نزدې خپلوان دى (حضرت عبدالله بن عباس بن هاشم بن عبد مناف دې او د هغه وخت أموى حکمران عبدالملك بن مروان د هاشم رور عبد شمس نمسې وو نو په دريمه پيړئى کښې ابن عباس رضي الله عنهما او عبدالملك بن مروان شريك دى)[1] وړاندې فرمائى او که هغه زما پالنه کوى او زما خيال ساتى نو زما پالنه به هغه څوك خلق کوى چه زما امثال او کُف دى يعنې شريف دى. دا د بنو أميه تعريف کيږى، مطلب دا چه که زه د چا خلافت تسليم کولو سره رعايت حاصل کړم نو بيا د بنو أميه نه ولې اونه کړم ځکه چه په خپلولئى کښې هغوى ما ته نزدې دى او زمونږ مثل دى.

وړاندې د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه متعلق فرمائى.

قوله: فآثر التويتات، والاسامات والحميدات: ليکن عبدالله بن زبير رضي الله عنه خو تويتات، اسامات او حميدات له په مونږ باندې ترجيح ورکړه. دا درېواړه د بنو اسد څانګې دى او دې نه مراد بنو تويت، بنو اسامه او بنو حميد دى. د حضرت بن عباس رضي الله عنهما مطلب دا دې چه حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه دې خلقو ته په مونږ باندې ترجيح ورکړه او زمونږ پروا ئى اونه کړه او نه ئى زمونږ خيال اوکړو کله چه هغه زمونږ خيال نه ساتى نو بنو أميه مونږ ته ډير نزدې دى او هغوى ماسره ښه سلوك کوى نو زما د پاره قابل قبول دى.

قوله: ان ابن ابى العاص.........الخ: يعنى عبدالملك ښکاره شو وړاندې طرف

---

[1]) (فتح البارى:٨\٣٢٨-

ته پیش قدمی کولو سره او هغه د حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه نه لکئ راتاؤ کړه. مطلب دا چه د عبدالملك د حکومت دائره ورځ په ورځ زیاتیدله. او د حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه د حکومت دائره د خوریدلو په ځای تنګیدله. ((یمشی القدمیه))[1]

(د قاف په ضمه، د دال په فتحه او د میم په کسرې سره) هغه وخت ته وائی کله چه څوك د ترقئ په پرمخ تګ کوی.

[۴۳۸۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ بْنِ مَيْمُونٍ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ دَخَلْنَا عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ أَلاَ تَعْجَبُونَ لاِبْنِ الزُّبَيْرِ قَامَ فِي أَمْرِهِ هَذَا فَقُلْتُ لأُحَاسِبَنَّ نَفْسِي لَهُ مَا حَاسَبْتُهَا لأَبِي بَكْرٍ وَلاَ لِعُمَرَ، وَلَهُمَا كَانَا أَوْلَى بِكُلِّ خَيْرٍ مِنْهُ، وَقُلْتُ ابْنُ عَمَّةِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-، وَابْنُ الزُّبَيْرِ، وَابْنُ أَبِي بَكْرٍ، وَابْنُ أَخِي خَدِيجَةَ، وَابْنُ أُخْتِ عَائِشَةَ فَإِذَا هُوَ يَتَعَلَّى عَنِّي وَلاَ يُرِيدُ ذَلِكَ فَقُلْتُ مَا كُنْتُ أَظُنُّ أَنِّي أَعْرِضُ هَذَا مِنْ نَفْسِي، فَيَدَعُهُ، وَمَا أُرَاهُ يُرِيدُ خَيْرًا، وَإِنْ كَانَ لاَ بُدَّ لأَنْ يَرُبَّنِي بَنُو عَمِّي أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يَرُبَّنِي غَيْرُهُمْ.

ابن ابی ملیکه فرمائی چه مونږ د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په خدمت کښې حاضر وو نو هغوی اوفرمائیل چه په ابن زبیر رضي الله عنه باندې ستاسو خلقو تعجب نه کیږی چه هغه د امارت دعوې سره ولاړ دې، نو ما خو په خپل زړه کښې هم دغه سوچ اوکړو چه زه به د هغه په معامله کښې د خپل نفس نګرانی کوم، دا شان چه ما خپل نفس د ابوبکرصدیق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه باره کښې هم دومره نه وو پابند کړې (ما خو سوچ کړې وو چه زه به د خپلې ژبې نه د هغه خلاف یو لفظ هم نه اوباسم) حالاتکه هغه ابوبکرصدیق رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه د هغه نه په هر حیثیت سره بهتر او افضل وو.

قوله: لاحاسبن نفسي له: [2] یو مطلب خو دا دې او دویم مطلب دا کیدیشی چه زه به خپل نفس په مشقت کښې اچوم او د ابن زبیر رضي الله عنه د پاره به محنت کوم د هغه تائید به کوم او داسې تائید چه د شیخین حضراتو هم نه دې کړې. د ابن زبیر رضي الله عنه مناقب او فضائل به بیانوم. نو ما خلقو ته اووئیل چه هغه د رسول الله ﷺ د ترور د اولاد نه دې. د حضرت زبیر رضي الله عنه خوئ دې، د حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه نمسې، د حضرت خدیجه رضي الله عنها د رور خوئ او د حضرت عائشه رضي الله عنها د خور خوئ دې لیکن هغه خو زمانه هم لوئ جوړیږی (ما په خاطر کښې هم نه راولی) ما

---

[1] (وفی الفتح:٨\٣٢٩ القدمية بضم القاف وفتح الدال قال الخطابی وغيره معناه التبخير وهو مثل يريدانه برانه برز يطلب معالی الامور وقال ابن الاثير الذی فی البخاری القدمية وهی التقدمة فی الشرف والفضل –

[2] (وفی الفتح:٨\٣٢٩ لا حاسبن نفسی ای لاناقشنهافی معونة و نصحه قال الخطابی و قال الداودی معناه لاذكرن من مناقبه مالم اذكر من مناقبهما و انما صنع ابن عباس ذلك لاشتراك الناس فی معرفة مناقب ابی بكر و عمر بخلاف ابن الزبير فما كانت مناقبه فی الشهرة كمناقبهما فاظهر ذلك ابن عباس و بينه للناس انصافا منه له فلما لم يصنفه هو رجع عنه–

په زړه کښې اووئیل چه زما دا ګمان هم نه ووچه زه به د خپل طرف نه داسې عاجزی او انکساری ښکاره کوم او هغه به دې له لته ورکړی او ما به هیر کړی.(۱)
او زه پوهیږم چه هغه به(زما په معامله کښې) اوس د څه قسم خیګړه او خیر غواړی، اوس که د چا تابعداری کول وی نو زما د بنو اعمام یعنی بنو امیه چه زما پالنه اوکړی ماته ډیر خوښ دی د دې نه چه بل څوك زما پالنه اوکړی او زما خیال اوساتی.

۱۵۸=باب قَوْلِهِ (وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ)

قَالَ مُجَاهِدٌ يَتَأَلَّفُهُمْ بِالْعَطِيَّةِ.

[۴۳۹۰]حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ أَبِي نُعْمٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ- رضي الله عنه قَالَ بُعِثَ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم- بِشَيْءٍ، فَقَسَمَهُ بَيْنَ أَرْبَعَةٍ وَقَالَ « أَتَأَلَّفُهُمْ». فَقَالَ رَجُلٌ مَا عَدَلْتَ. فَقَالَ «يَخْرُجُ مِنْ ضِئْضِئِ هَذَا قَوْمٌ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ».

۱۵۹=باب قَوْلِهِ (الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ)

(يَلْمِزُونَ) يَعِيبُونَ، وَجُهْدَهُمْ وَجَهْدَهُمْ طَاقَتَهُمْ.

[۴۳۹۱]حَدَّثَنِي بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ أَبُو مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ لَمَّا أُمِرْنَا بِالصَّدَقَةِ كُنَّا نَتَحَامَلُ فَجَاءَ أَبُو عَقِيلٍ بِنِصْفِ صَاعٍ، وَجَاءَ إِنْسَانٌ بِأَكْثَرَ مِنْهُ، فَقَالَ الْمُنَافِقُونَ إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَدَقَةِ هَذَا، وَمَا فَعَلَ هَذَا الآخَرُ إِلاَّ رِئَاءً. فَنَزَلَتْ (الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لاَ يَجِدُونَ إِلاَّ جُهْدَهُمْ) الآيَةَ.

[۴۳۹۲]حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ قُلْتُ لأَبِي أُسَامَةَ أَحَدَّثَكُمْ زَائِدَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ شَقِيقٍ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- يَأْمُرُ بِالصَّدَقَةِ، فَيَحْتَالُ أَحَدُنَا حَتَّى يَجِيءَ بِالْمُدِّ، وَإِنَّ لأَحَدِهِمِ الْيَوْمَ مِائَةَ أَلْفٍ. كَأَنَّهُ يُعَرِّضُ بِنَفْسِهِ.

هغه خلق چه پیغورونه او عیبونه لګوی په هغه مؤمنانو باندې چه په خپله خوښه باندې صدقه ورکونکی دی، په روایت باب کښې دی، حضرت ابو مسعود انصاری رضی الله عنه بیان کړې چه رسول الله ﷺ به مونږ له د صدقې ترغیب راکولو نو مونږ به بوج اوچتولو (مزدوری به مو کوله او چه څه به په هغې کښې ملاویدل نو مونږ به هغه راوړل او صدقه به مو کوله) دغه شان ابوعقیل رضی الله عنه نیم صاع کهجورې صدقه راوړه او یو بل سړی د هغه زیاتې راوړې(دې نه مراد حضرت

---

۱) (وفی روایة ان عباس لما حضرته الوفاة بالطائف جمع بینه فقال یابنی ان ابن الزبیر کما خرج بمکة شددت ازره د دعوت الناس الی بیعته وترکت بنی عمنا من بنی أمیة الذین ان قبلونا قبلونا کفاء و ان ربونا ربونا کرامافلما اصاب ما اصاب جفانی (ونظر فتح الباری:۸\۳۲۸-

عبدالرحمن بن عوف ﷺ دي هغه اته زره درهم راوړل[1] په دې باندې منافقانو وئيل دا چه د ابوعقيل ﷺ نيم صاع دې نو الله تعالى ته ددې ضرورت نيشته او دې بل خو صرف د ځان خودلو د پاره دومره صدقه راوړه نو په دې باندې دا مذكوره آيت شريف نازل شو.

په دويم روايت كښې د حضرت ابو مسعودانصارى ﷺ نه روايت دې فرمائى چه حضور اكرم ﷺ به مونږ ته د صدقې كولو حكم راكولو نو په مونږ كښې يو سړى تدبير او مزدورى كوله (چه صدقه ادا كړى) نو هغه غريب به مزدورى كوله نو يو مُد به ئې حاصل كړو او د صدقه كولو د پاره به ئې راوړلو او نن هم هغه خلقو سره يو يو لاكهه درهم موجود دى.

حضرت ابو مسعودانصارى ﷺ هم خپل طرف ته اشاره كوى چه زه هم هغه وخت داسې ووم، مزدورى به مې كوله او صدقه به مې كوله او نن الله تعالى دومره څه راكړى دى چه په لاكهونو كښې لوبې كوم.

د حضرت ابو مسعودانصارى ﷺ د دې بيان مقصد څه دې؟ د ابن بطال خيال دې چه د رسول الله ﷺ په زمانه كښې به چه خلقو سره څه وو صدقه كول به ئې، او اوس خلقو سره د مال او دولت ډهيرى لګيدلى دى ليكن صدقه نه كوى. ليكن حافظ ابن حجر ﷫ د ابن بطال دا بيان شوې مقصد بعيد ګرځولى دى.[2] ابن منير وئيلى دى چه دينه مقصد دا دې چه د رسول الله ﷺ په زمانه كښې د مال قلت سره خلقو به محنت كولو او صدقه به ئې كوله، اوس الله تعالى په هغوى باندې د مال او دولت دروازې كولاؤ كړې دى او ډير په آسانئى سره صدقه كوى او د تنګئى ويره هغوى نه راحصاروى.[3] حافظ ابن حجر ﷫ فرمائى چه د دې نه دې خبرې ته اشاره ده چه د هغوى ﷺ په زمانه كښې د مال او دولت زياتوالې نه وو سختى وه اوس د مال او دولت زياتوالې شوېدى.[4] والله اعلم.

١٦٠=باب قَوْلِهِ (اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْلاَ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً)

[٤٣٩٣] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ أَبِي أُسَامَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ- رضى الله عنهما - قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ اللَّهِ جَاءَ ابْنُهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم - فَسَأَلَهُ أَنْ يُعْطِيَهُ قَمِيصَهُ يُكَفِّنُ فِيهِ أَبَاهُ فَأَعْطَاهُ، ثُمَّ سَأَلَهُ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم - لِيُصَلِّيَ فَقَامَ عُمَرُ فَأَخَذَ بِثَوْبِ رَسُولِ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ تُصَلِّي عَلَيْهِ وَقَدْ نَهَاكَ رَبُّكَ أَنْ تُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم - «إِنَّمَا خَيَّرَنِي اللَّهُ فَقَالَ (اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْلاَ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً) وَسَأَزِيدُهُ عَلَى السَّبْعِينَ» . قَالَ إِنَّهُ مُنَافِقٌ . قَالَ فَصَلَّى عَلَيْهِ

---

[1] (فتح البارى:٨\٣٣٢-
[2] (فتح البارى:٨\٣٣٣-
[3] (فتح البارى:٨\٣٣٣-
[4] (فتح البارى:٨\٣٣٣-

رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَأَنْزَلَ اللَّهُ (وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلاَ تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ).

[٤٣٩٤] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ. وَقَالَ غَيْرُهُ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضى الله عنه أَنَّهُ قَالَ لَمَّا مَاتَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ دُعِيَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لِيُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَلَمَّا قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَثَبْتُ إِلَيْهِ، فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَتُصَلِّي عَلَى ابْنِ أُبَيٍّ وَقَدْ قَالَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا قَالَ أُعَدِّدُ عَلَيْهِ قَوْلَهُ، فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَقَالَ «أَخِّرْ عَنِّي يَا عُمَرُ». فَلَمَّا أَكْثَرْتُ عَلَيْهِ قَالَ «إِنِّي خُيِّرْتُ فَاخْتَرْتُ، لَوْ أَعْلَمُ أَنِّي إِنْ زِدْتُ عَلَى السَّبْعِينَ يُغْفَرْ لَهُ لَزِدْتُ عَلَيْهَا». قَالَ فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم ثُمَّ انْصَرَفَ فَلَمْ يَمْكُثْ إِلاَّ يَسِيرًا حَتَّى نَزَلَتِ الآيَتَانِ مِنْ بَرَاءَةَ (وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا) إِلَى قَوْلِهِ (وَهُمْ فَاسِقُونَ) قَالَ فَعَجِبْتُ بَعْدُ مِنْ جُرْأَتِي عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ.

١٦١= باب قوله: وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلاَ تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ.

[٤٣٩٥] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - أَنَّهُ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ جَاءَ ابْنُهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَأَعْطَاهُ قَمِيصَهُ وَأَمَرَهُ أَنْ يُكَفِّنَهُ فِيهِ ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي عَلَيْهِ، فَأَخَذَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ بِثَوْبِهِ فَقَالَ تُصَلِّي عَلَيْهِ وَهُوَ مُنَافِقٌ وَقَدْ نَهَاكَ اللَّهُ أَنْ تَسْتَغْفِرَ لَهُمْ. قَالَ «إِنَّمَا خَيَّرَنِي اللَّهُ أَوْ أَخْبَرَنِي فَقَالَ (اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لاَ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ) فَقَالَ سَأَزِيدُهُ عَلَى سَبْعِينَ». قَالَ فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَصَلَّيْنَا مَعَهُ ثُمَّ أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيْهِ (وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلاَ تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ)

قوله: لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ:

د حضور اکرم ﷺ د عبدالله بن ابی د جنازې مونځ کول: د عبدالله ابن اُبی انتقال ذی قعده ۹هجری کښې دغزوه تبوك نه د رسول الله ﷺ د واپسئ نه پس اوشو. عبدالله بن ابی رئیس المنافقین وو په غزوه تبوك کښې نه وو شریك شوې. د قرآن کریم دا آیت ﴿ لَوْ خَرَجُوا فِيكُمْ مَا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا ﴾ دعبدالله بن ابی اودهغه دملګرو د غزوه تبوك نه د پاتکیدونکو منافقینو په باره کښې نازل شو. (١)

---

١) عمدة القاري: ١٨/٢٨٢ وفتح الباري: ٨/٣٣٤

جاء ابنه عبدالله بن عبدالله الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فسأله ان يعطيه قميصه، يكفن فيه اباه، فاعطاه، ثم ساله ان يصلى عليه فقام رسول الله صلى الله عليه وسلم ليصلى. عبدالله بن عبدالله چه دَ فضلائي صحابه نه وو اودَعبدالله بن ابى رئيس المنافقين خوئى وو دَحضوراكرم ﷺ په خدمت كښې حاضر شو او عرض ئى اوكړو چه حضورپاك ﷺ دې خپل قميص هغه ته وركړى چه هغه دادخپل پلاركفن جوړ كړى. نو حضورپاك ﷺ هغه ته قميص وركړو، بيا هغه درخواست اوكړو چه تاسو دَهغه دَ جنازې مونځ هم اوكړئى نو حضورپاك ﷺ دَهغه دَ جنازې دپاره اودريدو.

دَعبدالله بن ابى خوئى حضرت عبدالله بن عبدالله ﷺ دَمخلص صحابه كرامو نه وو.(١) دَده پلار سره ددې چه منافق وو ليكن مخلص خوئى دَ پلارمعامله په ظاهراسلام باندې محمول كولوسره حضورپاك ﷺ ته دَهغه متعلق مذكوره درخواستونه اوكړل. بعض رواياتو كښې دى چه عبدالله بن ابى پخپله په دې باندې اصراراوكړو اوخوئى حضورپاك ﷺ له اوليګلو چه حضورپاك دې خپل قميص دَهغه دكفن دپاره وركړى اودَهغه جنازه دې اوكړى.(٢)

دَ طبرانى په روايت كښې دى چه حضورپاك ﷺ عبدالله بن ابى له راغلو كوم وخت چه هغه بيماروونوهغه پخپله دحضورپاك ﷺ نه دادوه سوالونه اوكړل. (٣)

هغه دا سوالونه ددې وجې نه نه ووكړى چه هغه دَ نفاق نه توبه كړې وه بلكه دا سوالونه ئى خكه كړې ور چه دَ مرګ نه پس خلق دَهغه خوئى اودَهغه قبيلې ته دَهغه دَ نفاق پيغور ورنه كړى. هغه دَ زړه نه دغه وخت هم منافق وو اوهم دَ نفاق په حالت كښې مړشوې. قرآن پاك وړاندې ددې تصريح كړې ده. ﴿ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ۝﴾ حضورپاك دواړه درخواستونه قبول كړل.

يوځو اشكالات اودَهغې جوابات: دلته يوسوال داپيداكيږى چه دَ عبدالله بن ابى نفاق په مختلفو مواقع كښې ښكاره شوې وو. ددې باوجودهم حضورپاك خپل قميص مبارك دَهغه دكفن دپاره وركړو اوهغه سره ئى دا امتيازى سلوك اوكړو. ددې آخرڅه وجه ده؟

علماء كرامو ددې يووجه خوداليكلې ده دَ غزوه بدر په موقع چه دَ قريشو څوسرداران ګرفتار شوى وو په هغوى كښې حضرت عباس ﷺ هم وو. حضورپاك اوكتل چه دَهغوى په بدنونو باندې قميصونه نه وونو صحابه كرامو ته ئى ارشاد اوفرمائيلوچه دوى ته قميصونه واغونديئ. چونكه عبدالله بن ابى اوږدقدوالا وواوحضرت عباس ﷺ هم اوږد قدوالا ووپه دې وجه دَهغه نه علاوه دَ بل چا قميص دَحضرت عباس ﷺ په بدن باندې نه پوره كيدو. نو رسول الله ﷺ دَ عبدالله بن ابى قميص واخستلو اوخپل تره حضرت عباس ﷺ ته ئى واغوستلو.

(١) وفى الفتح : ٨/٣٣٤ وكان عبدالله بن عبدالله بن ابى من فضلاء الصحابة. شهدبدرا، ومابعدها، واستشهديوم اليمامة فى خلافة ابى بكر الصديق.
(٢) فتح البارى: ٨/٣٣٤
(٣) فتح البارى: ٨/٣٣٤

دَ هغه دَ احسان بدله ورکولو دَ پاره حضورپاك خپل قمیص مبارك هغه ته ورکړو.([1])
دې سره سره دویمه وجه دا هم کیدې شی چه دَعبدالله بن ابی خوئی حضرت عبدالله بن عبدالله ﷺ دَ فاضلانو صحابه کرامو نه وو دَهغه دَ زړه ساتنې په خاطر حضورپاك خپل قمیص مبارك ورکړې وو.([2])
دویم سوال دَ جنازې دَ مانځه متعلق کیږی چه حضورپاك دَ دغه منافق جنازه ولې اوکړه. هم دغه وجه ده چه کله حضور پاك دَ جنازې دَپاره اودریدونوحضرت عمر ﷺ پاسیدو او دَ حضورپاك ﷺ لمن مبارکه ئی اونیوله عرض ئی اوکړو "یارسول الله، أتُصلی علیه، وقدنهاك ربك ان تصلی علیه" یعنی یارسول الله! آیا تاسو به دَ ده جنازه کوئی؟ حالانکه ستاسو رب دَ ده دَ جنازې کولونه تاسو منع کړی ئی. حضرت فاروق اعظم ﷺ داخبره دَ کوم ځائی نه اوکړه ځکه چه دې نه وړاندې په یوآیت کښې په صراحت سره حضورپاك دَ منافق دَ جنازې نه منع کړې شوې نه وو. ښکاره خبره داده چه حضرت عمرفاروق ﷺ دَ سورت توبه دَ مذکوره آیت نه دا ګنړلی دی. په آیت کښې دی ﴿ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ ﴾ حضرت عمرفاروق ﷺ دَ آیت دَ اسلوب نه پوهه شوچه په دې کښې "او" دَ تخییر دَپاره نه دې بلکه دَتسویه دَپاره دې یعنی دَدغه منافقانو باره کښې استغفار اوعدم استغفار دواړه برابردی. دغه شان دَ ﴿ سَبْعِيْنَ مَرَّةً ﴾ عدد دَتحدید دَپاره نه دې بلکه دَمبالغه دَپاره دې اومطلب دادې چه که تاسو دَ ده دَپاره استغفار په کثرت سره ولې اونه کړئی خوالله تعالی به دې نه معاف کوی او چونکه دَ جنازې دَ مونځ یولوئی مقصد دَ مړی دَپاره دَمغفرت دعا وی په دې وجه حضرت عمر ﷺ ددې آیت نه استنباط کولو سره عرض اوکړو چه الله تعالی تاسو دَ منافق دَ جنازې کولونه منع کړی ئی.([3]) چنانچه ابن مردویه دَحضرت سعیدبن جبیر ﷫ په طریق سره دَحضرت ابن عباس ﷺ نه روایت نقل کړې دې په هغې کښې دی: "فقال عمر: اتصلی علیه وقد نهاك الله ان تصلی علیه؟ قال: این" قال ﴿ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ﴾".([4]) په دې روایت کښې تصریح ده چه حضرت عمر ﷺ حضورپاك ته اووئیل چه الله تعالی تاسو منع کړی ئی چه تاسو دده دَ جنازې مونځ ورکړئی. په دې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چرته ئی زه منع کړې یم؟ نوحضرت عمر فاروق ﷺ مذکوره آیت په استدلال کښې پیش کړو.
لیکن رسول الله ﷺ اوفرمائیل الله تعالی ماته اختیار راکړې دې او فرمائیلی دی ﴿ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ

---

[1]) عمدة القاری:۱۸/۲۸۲.
[2]) ارشادالساری: ۱۰/۲۶۵.
[3]) فتح الباری:۸/۳۳۵
[4]) فتح الباری:۸/۳۳۵

﴿ اَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ ؕ اِنۡ تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِيۡنَ مَرَّةً فَلَنۡ يَّغۡفِرَ اللّٰهُ لَهُمۡ ﴾ اوزه به دَ اویاځل نه هم زیات استغفار کوم، ځکه چه ممکن دی الله تعالی دَ اویاځل استغفار کولوسره دې معاف کړی،
دَ بعض نورو روایاتونه معلومیږی چه رسول الله ﷺ دَ اویاځل نه زیات استغفاردَ عبدالله بن ابی دَپاره لوکړو. دَ طبری په روایت کښې دی "فأنا استغفرلهم سبعین وسبعین وسبعین"[1]
اوس سوال دادې چه رسول الله ﷺ دَده جنازه ولې اوکړه اودهغه دَ پاره ئې استغفار ولې اوکړو ځکه چه دَ آیت سیاق او سباق اوپخپله دَ دغه منافق دَ منافقانه حرکتونوتقاضاخوهم دغه وه کومه چه دَحضرت عمر ﷺ رائې وه اوروستو بیا آیت هم دَحضرت عمر ﷺ په تائید کښې نازل شو. ﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلٰۤى اَحَدٍ مِّنۡهُمۡ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمۡ عَلٰى قَبۡرِهٖ ؕ ﴾
① دَدې یوجواب دادې چه حضورپاك هم دَ آیت هم هغه مقصد ګنړلو کوم چه حضرت عمر ﷺ فرمائیلو چه دَ منافق مغفرت خو به بهرحال کیږی نه که حضورپاك هرڅومره استغفاراوکړی خو بیاهم په آیت کښې په صراحت سره رسول الله ﷺ دَاستغفارنه منع کړې شوې نه وو. رسول الله ﷺ دَ مذکوره آیت نه هم دغه اوګنړل چه زما په مونځ کولو خو به دَ ده مغفرت نه کیږی اودَ مونځ کولوسره دَ نورو اسلامی مصالح دَ حاصلیدو توقع اوامیدوو اودَ مونځ کولو صراحت سره ممانعت هم نه ووبه دې وجه حضورپاك مونځ اوکړو. قمیص ورکول اومونځ کولومصالح دا وو چه یوخو دَ حضرت عبدالله بن عبدالله زړه ساتل په ذهن کښې وو اوبل مصلحت دَ عبدالله بن ابی خاندان وو. دې رویې کتلو سره کوم خلق چه اسلام ته نیزدې نه وو دَهغوی اسلام ته دَ نیزدې کیدو توقع وه. په یوحدیث کښې رسول الله ﷺ فرمائیلی چه زما قمیص هغه دَ الله تعالی دَ عذاب نه نشی بچ کولې مګر مادا کارځکه اوکړو چه په دې عمل سره دَهغه دَ قوم دَ زرو کسانو دَ مسلمانیدو امیددې.[2] چنانچه بعض روایاتوکښې دی چه دې واقع ته کتلوسره دَ قبیله خزرج زر کسان مسلمانان شو.[3]
دَدې جواب حاصل دادې چه دَ حضرت عمر ﷺ په شان رسول الله ﷺ هم دا عمل پخپل زړه کښې مفید نه ګنړلو مګر دَ مذکوره مصالح دَ وجې نه حضورپاك دا عمل اوکړو.
② دویم جواب دا ورکړې شوچه دا استغفار په منزله دَ دعا دې اودَ دعاقانون دادې چه که ددې دمحل دپاره اوکړې شی نوالله تعالی هغه قبلوی. بیا دَدې مختلف صورتونه وی یاخوهغه څیز ورکولې شی دکوم څیزچه دعاکړې وی یا هغه څیز مصلحتًا نه ورکوی اودَ آخرت دَپاره هغه دعا ذخیره کیږی دَ کوم ثواب چه به دعاکونکی ته هلته ملاویږی اویا دَ دغه دعا په وجه یولوئی راتلونکې مصیبت دفع کولې شی. دا هغه وخت دی چه کله دعا دَهغې دَمحل دَپاره کړې شوې وی چه دَدغه دعادپاره صالح وی لیکن دعاکه دَ یوداسې محل دَپاره اوکړې شی چه دَ دعادپاره صالح نه وی نو په داسې صورت کښې الله تعالی بیشکه هغه نه

[1] فتح الباری: ۸/۳۳۶
[2] فتح الباری: ۸/۳۳۶
[3] ارشاد الساری: ۱۰/۲۶۷.

قبلوي. چونکه دعا بهرحال يوعبادت دي په دې وجه دَ دعا کونکی ته دَهغې ثواب ملاويږی په دې وجه دَ حضورپاك په ذهن کښې داخبره وه چه داخو رئيس المنافقين دې په دې وجه محل دَمغفرت خودې نه دَده دپاره دَ مغفرت دعا په حقيقت کښې صرف مدعو يعني دَالله تعالی دَتعظيم دَپاره ده نودَدې اجربه بهرحال ملاويږی، دغه اجرې ولې پريخودې شی.(۱)
دا توجيه ابن منير وغيره کړې ده ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي دې کښې نظردې ځکه چه دې سره دَهغه سړی دپاره طلب دَمغفرت مشروعيت لازميږی دچادپاره چه دَ شريعت په نقطه نظرسره مغفرت محال دې. (۲)
يوبل اشکال هم کيږی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی چه زه به اوياځل نه هم زيات دَ ده دَپاره استغفارکوم اوحضورپاك استغفاراوکړوهم. اوددې واقعه نه ډير وړاندې دَ قرآن پاك دا آيت نازل شوې وو ﴿ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَىٰ ﴾ دا آيت دَ ابوطالب په قصه کښې نازل شوې وو کله چه دَهغه انتقال اوشو نو حضورپاك فرمائيلی وو "لأستغفرن لك مالم انه عنك" په دې آيت کښې حضورپاك دَهغه دَپاره دَ دعا کولو نه منع کړو نودَدې آيت په موجودګئ کښې حضورپاك دَ منافق دپاره ولې دَمغفرت دعااوکړه؟
دَدې اشکال جواب دا ورکړې شوې دې چه په مذکوره آيت کښې دَ مشرکانودَپاره دَ دعانه ممانعت راغلې دې. دَ منافقينودپاره دَ مغفرت دعا دَدې نه ثابتيږی نه. منافقان ظاهراً دَ خپل مسلمان کيدو اعلان اواظهار خوکوی په دې وجه هغوی دَدې آيت لاندې نه راځی.(۳)

۱۶۲ - باب: قوله: ﴿ سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا انْقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ إِنَّهُمْ رِجْسٌ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴾ ۹۵/

[۴۳۹۶] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ حِينَ تَخَلَّفَ عَنْ تَبُوكَ وَاللَّهِ مَا أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيَّ مِنْ نِعْمَةٍ بَعْدَ إِذْ هَدَانِي أَعْظَمَ مِنْ صِدْقِي رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ لَا أَكُونَ كَذَبْتُهُ فَأَهْلِكَ كَمَا هَلَكَ الَّذِينَ كَذَبُوا حِينَ أُنْزِلَ الْوَحْيُ (سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا انْقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ) إِلَى (الْفَاسِقِينَ). [ر: ۲۶۰۶]

---

(۱) وفی فتح الباری:۸/۳۳۸ وقيل: ان الاستغفار يتنزل منزلة الدعا والعبد اذا سأل ربه حاجة فسؤاله اياه يتنزل منزلة الذكر، لكنه من حيث طلب تعجيل حصول المطلوب ليس عبادة. فاذا كان كذلک، والمغفرة فی نفسها ممكنة، وتعلق العلم بعدم نفعها، لابغيرذلک. فيكون طلبها لالغرض حصولها بل لتعظيم المدعو، فاذا تعذرت المغفرة، عوض الداعی عنها مايليق به من الثواب اودفع السوء، كماثبت فی الخبر، وقد يحصل بذلک عن المدعولهم تخفيف، كما فی قصة ابی طالب"

(۲) فتح الباری:۸/۳۳۸

(۳) فتح الباری:۸/۳۳۹

١٦٣ - باب: قوله ﴿يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَرْضَىٰ عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ﴾ /٩٦/

١٦٤ - باب: قوله: ﴿وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللَّهُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ /١٠٢/

[٤٣٩٧] حَدَّثَنَا مُؤَمَّلٌ - هُوَ ابْنُ هِشَامٍ - حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ وحَدَّثَنَا عَوْفٌ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ حَدَّثَنَا سَمُرَةُ بْنُ جُنْدُبٍ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لَنَا «أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتِيَانِ فَابْتَعَثَانِي، فَانْتَهَيْنَا إِلَى مَدِينَةٍ مَبْنِيَّةٍ بِلَبِنِ ذَهَبٍ وَلَبِنِ فِضَّةٍ، فَتَلَقَّانَا رِجَالٌ شَطْرٌ مِنْ خَلْقِهِمْ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ، وَشَطْرٌ كَأَقْبَحِ مَا أَنْتَ رَاءٍ قَالَا لَهُمُ اذْهَبُوا فَقَعُوا فِي ذَلِكَ النَّهْرِ. فَوَقَعُوا فِيهِ ثُمَّ رَجَعُوا إِلَيْنَا قَدْ ذَهَبَ ذَلِكَ السُّوءُ عَنْهُمْ، فَصَارُوا فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ قَالَا لِي هَذِهِ جَنَّةُ عَدْنٍ، وَهَذَاكَ مَنْزِلُكَ قَالَا أَمَّا الْقَوْمُ الَّذِينَ كَانُوا شَطْرٌ مِنْهُمْ حَسَنٌ وَشَطْرٌ مِنْهُمْ قَبِيحٌ فَإِنَّهُمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا تَجَاوَزَ اللَّهُ عَنْهُمْ». [ر: ٨٠٩]

١٦٥ - باب: ﴿مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ﴾ /١١٣/

[٤٣٩٨] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَمَّا حَضَرَتْ أَبَا طَالِبٍ الْوَفَاةُ دَخَلَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - وَعِنْدَهُ أَبُو جَهْلٍ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي أُمَيَّةَ، فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «أَيْ عَمِّ قُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ. أُحَاجُّ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللَّهِ». فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي أُمَيَّةَ يَا أَبَا طَالِبٍ، أَتَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ. فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَا لَمْ أُنْهَ عَنْكَ». فَنَزَلَتْ (مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ). [ر: ١٢٩٤]

١٦٦ - باب: ﴿لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾ /١١٧/

[٤٣٩٩] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يُونُسُ قَالَ أَحْمَدُ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ كَعْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ كَعْبٍ - وَكَانَ قَائِدَ كَعْبٍ مِنْ بَنِيهِ حِينَ عَمِيَ - قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ فِي حَدِيثِهِ (وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا) قَالَ فِي آخِرِ حَدِيثِهِ إِنَّ مِنْ

تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ. فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «أَمْسِكْ بَعْضَ مَالِكَ، فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ». [ر: ۲۶۰۶]

۱٦۷ - باب: ﴿وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَنْ لَا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ﴾ /۱۱۸/

[۴۴۰۰] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ أَعْيَنَ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ رَاشِدٍ أَنَّ الزُّهْرِيَّ حَدَّثَهُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ، وَهُوَ أَحَدُ الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ تِيبَ عَلَيْهِمْ أَنَّهُ لَمْ يَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا قَطُّ غَيْرَ غَزْوَتَيْنِ غَزْوَةِ الْعُسْرَةِ وَغَزْوَةِ بَدْرٍ. قَالَ فَأَجْمَعْتُ صِدْقَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ضُحًى، وَكَانَ قَلَّمَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ سَافَرَهُ إِلَّا ضُحًى وَكَانَ يَبْدَأُ بِالْمَسْجِدِ، فَيَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ، وَنَهَى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ كَلَامِي وَكَلَامِ صَاحِبَيَّ، وَلَمْ يَنْهَ عَنْ كَلَامِ أَحَدٍ مِنَ الْمُتَخَلِّفِينَ غَيْرِنَا، فَاجْتَنَبَ النَّاسُ كَلَامَنَا، فَلَبِثْتُ كَذَلِكَ حَتَّى طَالَ عَلَيَّ الْأَمْرُ، وَمَا مِنْ شَيْءٍ أَهَمُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَمُوتَ فَلَا يُصَلِّي عَلَيَّ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- أَوْ يَمُوتَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَأَكُونَ مِنَ النَّاسِ بِتِلْكَ الْمَنْزِلَةِ، فَلَا يُكَلِّمُنِي أَحَدٌ مِنْهُمْ، وَلَا يُصَلِّي عَلَيَّ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَوْبَتَنَا عَلَى نَبِيِّهِ -صلى الله عليه وسلم- حِينَ بَقِيَ الثُّلُثُ الْآخِرُ مِنَ اللَّيْلِ، وَرَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عِنْدَ أُمِّ سَلَمَةَ، وَكَانَتْ أُمُّ سَلَمَةَ مُحْسِنَةً فِي شَأْنِي مَعْنِيَّةً فِي أَمْرِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «يَا أُمَّ سَلَمَةَ تِيبَ عَلَى كَعْبٍ». قَالَتْ أَفَلَا أُرْسِلُ إِلَيْهِ فَأُبَشِّرَهُ قَالَ «إِذًا يَحْطِمَكُمُ النَّاسُ فَيَمْنَعُونَكُمُ النَّوْمَ سَائِرَ اللَّيْلَةِ». حَتَّى إِذَا صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- صَلَاةَ الْفَجْرِ آذَنَ بِتَوْبَةِ اللَّهِ عَلَيْنَا، وَكَانَ إِذَا اسْتَبْشَرَ اسْتَنَارَ وَجْهُهُ حَتَّى كَأَنَّهُ قِطْعَةٌ مِنَ الْقَمَرِ، وَكُنَّا أَيُّهَا الثَّلَاثَةُ الَّذِينَ خُلِّفُوا عَنِ الْأَمْرِ الَّذِي قُبِلَ مِنْ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ اعْتَذَرُوا حِينَ أَنْزَلَ اللَّهُ لَنَا التَّوْبَةَ، فَلَمَّا ذُكِرَ الَّذِينَ كَذَبُوا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مِنَ الْمُتَخَلِّفِينَ، وَاعْتَذَرُوا بِالْبَاطِلِ، ذُكِرُوا بِشَرِّ مَا ذُكِرَ بِهِ أَحَدٌ قَالَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ (يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ قُلْ لَا تَعْتَذِرُوا لَنْ نُؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا اللَّهُ مِنْ أَخْبَارِكُمْ وَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ) الْآيَةَ. [ر: ۲۶۰۶]

۱٦۸ - باب: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ﴾ /۱۱۹/

[۴۴۰۱] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ

بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ - وَكَانَ قَائِدَ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ يُحَدِّثُ حِينَ تَخَلَّفَ عَنْ قِصَّةِ تَبُوكَ. فَوَاللَّهِ مَا أَعْلَمُ أَحَدًا أَبْلَاهُ اللَّهُ فِي صِدْقِ الْحَدِيثِ أَحْسَنَ مِمَّا أَبْلَانِي، مَا تَعَمَّدْتُ مُنْذُ ذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم إِلَى يَوْمِي هَذَا كَذِبًا، وَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى رَسُولِهِ صلى الله عليه وسلم (لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ) إِلَى قَوْلِهِ (وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ). [ر: ۴۴۰۶]

۱۶۹ - باب: قوله: ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾ ۱۲۹/:

مِنَ الرَّأْفَةِ.

[۴۲۰۲] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ السَّبَّاقِ أَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيَّ - رضي الله عنه - وَكَانَ مِمَّنْ يَكْتُبُ الْوَحْيَ قَالَ أَرْسَلَ إِلَيَّ أَبُو بَكْرٍ مَقْتَلَ أَهْلِ الْيَمَامَةِ وَعِنْدَهُ عُمَرُ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّ عُمَرَ أَتَانِي فَقَالَ إِنَّ الْقَتْلَ قَدِ اسْتَحَرَّ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِالنَّاسِ، وَإِنِّي أَخْشَى أَنْ يَسْتَحِرَّ الْقَتْلُ بِالْقُرَّاءِ فِي الْمَوَاطِنِ فَيَذْهَبَ كَثِيرٌ مِنَ الْقُرْآنِ، إِلَّا أَنْ تَجْمَعُوهُ، وَإِنِّي لَأَرَى أَنْ تَجْمَعَ الْقُرْآنَ. قَالَ أَبُو بَكْرٍ قُلْتُ لِعُمَرَ كَيْفَ أَفْعَلُ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ عُمَرُ هُوَ وَاللَّهِ خَيْرٌ. فَلَمْ يَزَلْ عُمَرُ يُرَاجِعُنِي فِيهِ حَتَّى شَرَحَ اللَّهُ لِذَلِكَ صَدْرِي، وَرَأَيْتُ الَّذِي رَأَى عُمَرُ. قَالَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَعُمَرُ عِنْدَهُ جَالِسٌ لَا يَتَكَلَّمُ. فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّكَ رَجُلٌ شَابٌّ عَاقِلٌ وَلَا نَتَّهِمُكَ، كُنْتَ تَكْتُبُ الْوَحْيَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَتَتَبَّعِ الْقُرْآنَ فَاجْمَعْهُ. فَوَاللَّهِ لَوْ كَلَّفَنِي نَقْلَ جَبَلٍ مِنَ الْجِبَالِ مَا كَانَ أَثْقَلَ عَلَيَّ مِمَّا أَمَرَنِي بِهِ مِنْ جَمْعِ الْقُرْآنِ. قُلْتُ كَيْفَ تَفْعَلَانِ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ هُوَ وَاللَّهِ خَيْرٌ، فَلَمْ أَزَلْ أُرَاجِعُهُ حَتَّى شَرَحَ اللَّهُ صَدْرِي لِلَّذِي شَرَحَ اللَّهُ لَهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ، فَقُمْتُ فَتَتَبَّعْتُ الْقُرْآنَ أَجْمَعُهُ مِنَ الرِّقَاعِ وَالْأَكْتَافِ وَالْعُسُبِ وَصُدُورِ الرِّجَالِ، حَتَّى وَجَدْتُ مِنْ سُورَةِ التَّوْبَةِ آيَتَيْنِ مَعَ خُزَيْمَةَ الْأَنْصَارِيِّ، لَمْ أَجِدْهُمَا مَعَ أَحَدٍ غَيْرِهِ (لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ) إِلَى آخِرِهِمَا، وَكَانَتِ الصُّحُفُ الَّتِي جُمِعَ فِيهَا الْقُرْآنُ عِنْدَ أَبِي بَكْرٍ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ، ثُمَّ عِنْدَ عُمَرَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ، ثُمَّ عِنْدَ حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ. تَابَعَهُ عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ وَاللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ. وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ خَالِدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ وَقَالَ مَعَ أَبِي خُزَيْمَةَ الْأَنْصَارِيِّ. وَقَالَ مُوسَى عَنْ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ مَعَ أَبِي خُزَيْمَةَ. وَتَابَعَهُ يَعْقُوبُ بْنُ

إبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِيهِ. وَقَالَ أَبُو ثَابِتٍ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ وَقَالَ مَعَ خُزَيْمَةَ، أَوْ أَبِي خُزَيْمَةَ. (١)

قوله: إِنَّ الْقَتْلَ قَدِ اسْتَحَرَّ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِالنَّاسِ، وَإِنِّي أَخْشَى أَنْ يَسْتَحِرَّ الْقَتْلُ بِالْقُرَّاءِ فِي الْمَوَاطِنِ: حضرت عمر فاروق ﷺ حضرت صديق اكبر ﷺ ته اووئيل چه په يمامه كښې دَ خلقو قتل (اودَ مسلمانانو شهادت) ډير شوې دې اوزه ويريږم چه په مختلف مواقع كښې به دَ قرآن پاك قاريان شهيدان كيږي نو داسې به دَ قرآن پاك ډيره حصه ضائع شي. جنګ يمامه دَ مسيلمه كذاب خلاف شوې وو او په دې كښې دَ مسلمانانو پوره تعداد شهيد كړې شوې وو. بعض رواياتو كښې يوولس سوه بعض كښې څوارلس سوه تعداد خودلې شوې دې په كوم كښې چه اوياد قرآن پاك قاريان حضرات وو. (٢)

قوله: حَتَّى وَجَدْتُ مِن سورة التوبة آيتين مع خُزيمة الانصاري، لَم اجِدْهُمَا مع احدٍ غيره: حضرت زيد بن ثابت ﷺ فرمائي چه دَ سورت توبه دوه آياتونه ماته دَ خزيمه انصاري ﷺ سره ملاؤشو چه دَهغه نه علاوه بل چاسره ماته نه دي ملاؤشوي (مراد دَ سورت توبه آخرى دوه آياتونه دي) مطلب دا چه دوه آياتونه ليكلې شوې دَ هغه سره ملاؤشو بل چاسره ليكلې شوى نه وو البته دا آياتونه ټولوته ياد وو. لهذا دا اعتراض كول به صحيح نه شي چه قرآن خو متواتردې اودا آياتونه يوسړى سره ملاؤ شوى دى. څكه چه دلته لټون دَ مكتوب يعنى ليكلى شوى ووپه عام توګه خو خلق هم دغه وائي چه دَ نفس مكتوب لټون وو وليكن حقيقت دادې چه هغوى ته دَدې مكتوب لټون ووكوم چه دَ آيت دَنزول په وخت حضورپاك ﷺ دَ كتابت په ذريعه محفوظ كړې وو.

قوله: تابعه عثمان بن عمر، والليث، عن يونس، عن ابن شهاب: يعنى دَ شعيب متابعت عثمان بن عمر اوليث بن سعد كړې دې او "عن يونس عن ابن شهاب" نقل كړو. دَعثمان متابعت امام احمد رحمة الله عليه موصولاً نقل كړې دې اودَ ليث رحمة الله عليه متابعت امام بخارى رحمة الله عليه فضائل القرآن او كتاب التوحيد كښې موصولاً نقل كړې دې. (٣)

قوله: وقال الليث: حدثني عبدالرحمان بن خالد، عن ابن شهاب، وقال: مع ابي خزيمة الانصاري: يعنى ليث بن سعد دَ عبدالرحمن بن خالدنه هم دا

---

(١) واخرجه البخاري في كتاب فضائل القرآن، باب جمع القرآن، رقم الحديث: ٤٧٠١، ٤٧٠٢، ٤٧٠٣، ٦٧٦٨، ٦٩٨٩. وانظر: ٢٦٥٢ وفي باب كاتب القرآن، رقم الحديث: ٤٧٠٣، واخرجه النسائي في السنن الكبرى، رقم الحديث: ٨٠٠٢.

وفي العمدة: ١٨/٢٨١ قداستحر: اى اشتدو كثر، على وزن استفعل من الحر. وذلك ان المكروه يضاف الى الحر، والمحبوب يضاف الى البرد، ومنه المثل: تولى حارهامن تولى قارها"

(٢) عمدة القاري: ١٨/٢٨١.

(٣) عمدة القاري: ١٨/٢٨٢ وفتح الباري: ٨/٣٤٥.

روايت نقل كړې دې او يونس بن يزيد نه هم ليكن دَ عبدالرحمن بن خالد په طريق كښې "خزيمة الانصارى" په ځائى باندې "ابوخزيمة الانصارى" دې. دَ ليث بن سعد رحمه الله دا تعليق ابوالقاسم بغوى "معجم الصحابه" كښې موصولاً نقل كړې دې. (۱)

قوله: وقال موسى عن ابراهيم: حدثنا ابن شهاب: مع ابى خزيمة: يعنى موسىٰ بن اسماعيل رحمه الله دَ ابراهيم بن سعد رحمه الله نه دا روايت نقل كړې دې او په دې كښې هم "خزيمة" په ځائى "ابى خزيمة" دې. دا تعليق امام بخارى رحمه الله فضائل قرآن كښې موصولاً نقل كړې دې. (۲)

قوله: وتابعه يعقوب بن ابراهيم، عن ابيه: يعنى دَ موسىٰ بن اسماعيل متابعت يعقوب بن ابراهيم رحمه الله كړې دې. دا متابعت ابوبكر بن ابى داؤد رحمه الله كتاب المصاحف كښې موصولاً نقل كړې دې. (۳)

قوله: وقال ابوثابت: حدثنا ابراهيم وقال: مع خزيمة اومع ابى خزيمة: يعنى ابوثابت محمد بن عبدالله مدنى رحمه الله هم د ابراهيم رحمه الله دا روايت نقل كړې دې او په دې كښې خزيمه او ابى خزيمه شك سره ذكر كړې دې، دَ ابوثابت دا تعليق امام بخارى رحمه الله په كتاب الاحكام كښې موصولاً نقل كړې دې. (۴)

خلاصه دَ كلام دا چه دَ ابراهيم بن سعد رحمه الله نه روايت كونكو كښې اختلاف دې. بعض مع خزيمه نقل كوى او بعض مع ابى خزيمه ذكر كوى. دوه صحابه كرام دى يو حضرت خزيمه بن ثابت رضي الله عنه چه ذوالشهادتين سره مشهور دې دَ چاګواهى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ دوو ګواهانو برابر ګرځولې وه. دې حضرت على رضي الله عنه سره په جنګ صفين كښې شهيد شوې دې. (۵) اودويم صحابى حضرت ابوخزيمه بن اوس بن زيد رضي الله عنه دې. دې په جنګ بدر كښې شريك شوې اود حضرت عثمان رضي الله عنه په دورخلافت كښې دې وفات شوې دې. (۶)

دَ سورت توبه دا آخرى دوه آياتونه حضرت خزيمه رضي الله عنه سره ملاؤشوى كه ابوخزيمه سره؟ په دې سلسله كښې په رواياتو كښې اختلاف دې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دَ سورت توبه مذكوره آياتونه دَ حضرت ابوخزيمه رضي الله عنه سره ملاؤشوى دى او دَ سورت احزاب آيت حضرت خزيمه رضي الله عنه سره ملاؤشوى. (۷)

جمع قرآن سره متعلق تفصيلى بحث به فضائل قرآن كښې انشاء الله راځى.

---

(۱) عمدة القارى:۱۸/۲۸۲وفتح البارى:۸/۳٤۵.

(۲) عمدة القارى:۱۸/۲۸۲وفتح البارى:۸/۳٤۵.

(۳) عمدة القارى:۱۸/۲۸۲وفتح البارى:۸/۳٤۵.

(۴) عمدة القارى:۱۸/۲۸۲وفتح البارى:۸/۳٤۵.

(۵) الاصابة فى تمييز الصحابة:۱/٤۲٦رقم الترجمة:۲۲۵۲.

(۶) عمدة القارى:۱۸/۲۸۲.

(۷) وفتح البارى:۸/۳٤۵.

۱۷۰ - باب: تفسير سورة يونس

وقال ابن عباس: ﴿ فَاخْتَلَطَ بِهِ نَبَاتُ الْأَرْضِ ﴾/۲۴/: فَنَبَتَ بِالْمَاءِ مِنْ كُلِّ لَوْنٍ. ﴿قَالُوا اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهُ هُوَ الْغَنِيُّ﴾ /۶۸/. وقال زيد بن أسلم: ﴿ أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ ﴾/۲/: محمد ﷺ، وقال مجاهد: خيرٌ يقال: ﴿ تِلْكَ اٰيٰتُ ﴾/۱/ يعنى هذا أعلام القرآن، ومثلُهُ: ﴿ حَتّٰى إِذَا كُنْتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِمْ ﴾/۲۲/: المعنى بكم. ﴿ دَعْوٰاهُمْ ﴾/۱۰/: دعاؤهم ﴿أُحِيطَ بِهِمْ﴾/۲۲/: دنوا من الهلكة. ﴿وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيْئَتُهُ﴾/البقرة: ۸۱/. ﴿ فَأَتْبَعَهُمْ ﴾/۹۰/: وَاتَّبَعَهُمْ واحدٌ. ﴿عَدْوًا﴾/۹۰/: مِنَ الْعُدْوَانِ.

وقال مجاهد: ﴿وَلَوْ يُعَجِّلُ اللهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ﴾ قول الانسان لولده وماله اذا غضب اللهم لا تبارك فيه والعنه ﴿ لَقُضِيَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ ﴾/۱۱/: لاهلك من دعى عليه ولاماته. ﴿لِلَّذِيْنَ أَحْسَنُوا الْحُسْنٰى﴾ مثلها حسنى ﴿وَزِيَادَةٌ﴾/۲۶/: مغفرة ﴿اَلْكِبْرِيَاءُ﴾/۷۸/: الملك.

سورة يونس

د كلماتو تشريح:

قوله: وقال ابن عباس: ﴿ فَاخْتَلَطَ ﴾: فَنَبَتَ بِالْمَاءِ مِنْ كُلِّ لَوْنٍ: په آيت مبارك كښې دى ﴿ إِنَّمَا مَثَلُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَاءٍ أَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَاءِ فَاخْتَلَطَ بِهِ نَبَاتُ الْأَرْضِ ﴾ دَ فَاخْتَلَطَ تفسير الله تعالى دَ اوبو په ذريعه مختلف قسم ګلونه او واښه پيدا كړى. دا تعليق ابن جرير موصولاً نقل كړې دې. (۱)

قوله: قَالُوا اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهُ هُوَ الْغَنِيُّ: امام بخارى رحمه الله دَ قرآن مجيد آيت خوذكر كړو ليكن وړاندې ئې هيڅ ذكر نه كړل، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى كيدې شى امام بخارى رحمه الله دَ توحيد متعلق څه روايت نقل كول غوښتل ليكن هغه ته موقع ملاؤنه شوه او بياض پاتې شو. (۲)

قوله: وقال زيد بن أسلم: أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ: محمد ﷺ، وقال مجاهد: خيرٌ: په آيت مبارك كښې دى ﴿ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَا إِلٰى رَجُلٍ مِنْهُمْ أَنْ أَنْذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ قَالَ الْكٰفِرُوْنَ إِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ﴾ يعنى آيا دې (مكې) خلقوته په دې خبره باندې تعجب اوشو چه مونږ دَهغوى نه يو كس ته وحى اوليګله چه ټول كسان (دَ الله تعالى دَ احكامو خلاف ورزى كولو باندې) اووېره وه اوچاچه ايمان راوړو هغوى ته دا زيرې وركړه چه دَهغوى رب ته (رسيدو) سره به هغوى ته پوره مرتبه ملاويږى. كافرانو اووئيل (نعوذ بالله)

---

(۱) عمدة القارى: ۱۸/۳۸٤.

(۲) فتح البارى: ۸/۳٤٦.

داسړي خو بيشكه صريح جادوګر دي.

په "ان لهم قدم صدق"، كې د "قدم صدق"، مصداق: دلته دَ "قَدَمَ صِدْقٍ" نه مراد رسول الله ﷺ دي داتفسيردَ زيدبن اسلم دي اومجاهد رحمه الله فرمائيلي "قَدَمَ صِدْقٍ" نه مراد خيردي. دَ زيدبن اسلم تعليق ابن جرير رحمه الله موصولاً نقل كړي دي. [1] او دَ مجاهدتعليق فريابى موصولاً نقل كړي دي.[2] ابن جرير رحمه الله دَ مجاهد رحمه الله قول راجح ګرځولي دي. [3]

علامه زمخشرى رحمه الله فرمائى "قَدَمَ صِدْقٍ" نه مراد فضيلت دي.[4]

قوله: يُقَالُ: تِلْكَ آيٰتُ يعني هذا أعلام القرآن: په آيت مبارك كښې دى ﴿ تِلْكَ آيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ﴾ دلته په ظاهره اشكال كيږى چه تلك ولې استعمال كړې شوې دې ځكه چه داخودَبعيددَپاره استعماليږى اوآيات قريب دي. دَدې متعلق امام بخارى رحمه الله فرمائى چه دَ تِلْكَ دَ "هذه" په معنى كښې دى اوآيات دَ اعلام په معنى كښې دى اودَ الكتاب نه قرآن حكيم مراددي. پاتې شو سوال چه دَ بعيدصيغه دَ قريب دَپاره ولې استعمال كړې شوې. دَدې وجه په اصل كښې دادَه چه بعض وخت بعد رتبي دَ بعدمكانى په درجه كښې راكوزولې شى اوبيادَ بعدمكانى دَپاره چه كومه صيغه استعماليږى هغه دَ قريب دَپاره استعمالولې شى. دغه شان دلته هم شوى دى چه دا آيات اګرچه مكاناً قريب دى مګر دَ رتبه او مقام په اعتبارسره دا بعيددى. دَدې مرتبه ډيره اوچته او لوړه ده. وړاندې امام بخارى رحمه الله فرمائى چه هم دغه شان په دې آيت كښې هم شوى دى. [5]

قوله: ﴿ حَتّٰى إِذَا كُنْتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِمْ ﴾: په دې آيت كښې بهم دَ بكم په معنى كښې دې ځكه چه اذا كنتم كښې صيغه دَ خطاب ده. وړاندې بيا دَ غائب ضمير راوړلې دې دَ اهل معانى په نيزدا شان تصرفات په كلام كښې صحيح دى دې ته التفات وئيلې شى اودَ يوخاص نكتې دَ وجې نه داقسم تصرفات په كلام كښې كولې شي.

قوله: أُحِيْطَ بِهِمْ: دَنَوْا مِنَ الْهَلَكَةِ وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيْئَتُهُ: په آيت مبارك كښې دى ﴿ وَظَنُّوْا أَنَّهُمْ أُحِيْطَ بِهِمْ ﴾ او دغه خلقو اوګنړل چه (په خرابه توګه) هغوى كورته لاړل. ابوعبيده دَ احيط

---

[1] عمدة القاري:۱۸/۲۸۳.

[2] فتح الباري:۸/۳٤٦.

[3] فتح الباري:۸/۳٤٦وعمدة القاري:۱۸/۲۸۳.

[4] وفى الكشاف:۲/۳۲۷اى سابقة وفضلاومنزلة رفيعة.

[5] وفى الامع الدراري:۹/۱۰۲ ومثله فى وضع اللفظة موضع اخرى قوله تعالى حتى اذا كنتم" فالتشبيه انما هو فى وضع الكلمة مقام اخرى وفى العمدة: ۱۸/۲۸٤" وجه المماثلة بينهما هو ان تلك" بمعنى هذه" فكذلك قوله: بهم بمعنى بكم" حيث صرف الكلام عن الخطاب الى الغيبة كما ان فى الاول صرف اسم الاشارة عن الغائب الى الحاضر"

بهم تفسير دنوا من الهلكة سره كوى يعنى هلاكت او بربادئى له نيزدې لاړل لكه چه په يو بل آيت كريمه كښې دى ﴿ بَلٰى مَنۡ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّاَحَاطَتۡ بِهٖ خَطِيۡٓـئَتُهٗ ﴾ په دې د اَحَاطَتۡ بِهٖ خَطِيۡٓـئَتُهٗ معنى ګناهونو هغوى دهر طرف نه راګير كړل. دُنُوا: د دال په ضمه مجهول لوستل هم صحيح دى چه په اصل كښې دُنِيُوا وو د ياء ضمه نقل كولوسره ماقبل نون ته وركړې شوه اود اجتماع ساكنين د وجې نه ياء حذف كړې شوه.

قوله: فَاَتۡبَعَهُمۡ: وَاَتۡبَعَهُمۡ وَاحِدٌ: په آيت مبارك كښې دى ﴿ وَجٰوَزۡنَا بِبَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ الۡبَحۡرَ فَاَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ وَجُنُوۡدُهٗ بَغۡيًا وَّعَدۡوًا ﴾ اومونږ بنى اسرائيل د درياب نه واړول او فرعون اودهغه لښكر هغوى پسې شو د شرارت اوظلم په اراده سره. فرمائى چه په آيت كښې اِتَّبَعَهُمۡ (په كسره د همزه او تشديد د تاء) د باب افتعال نه كوم چه دحضرت حسن بصرى رحمه الله قراءت دې او اَتۡبَعَهُم (په فتح د همزه او سكون د تاء) چه معروف قراءت د جمهورو دې د دواړو معنى يوه ده.

قوله: وقال مجاهد: وَلَوۡ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسۡتِعۡجَالَهُمۡ بِالۡخَيۡرِ: حضرت مجاهد رحمه الله ددې ايت په تشريح كښې فرمائى ددې نه مراد دغصې په وخت د سړي خپل اولاد اودخپل مال متعلق داويناكول دى چه اې الله په دې كښې بركت مه اچوه اودوى د خپل رحمت نه لرې كړه نودغه شان انسان دهغه شر غواړي. الله تعالى فرمائى كه هغه انسان ته شر اونقصان د هغه د خيرو د وجې نه دومره زر وراورسوى څومره زر چه هغه د ښيګړې رسولو خواهش لرى نودهغوى عمر به ختم كړې شى (او الله تعالى به ئى اولاد هم هلاك كړى اومال هم د كوم دپاره چه ئى بددعاكړې ده) ليكن انسان دغه شان خيرې كوى اوالله تعالى صرف د خپل رحم اوفضل په وجه دانسان دغه بددعاګانې نه قبلوى دغه شان د ده اولاد اومال په خائى ساتى.

قوله: لِلَّذِيۡنَ اَحۡسَنُوا الۡحُسۡنٰى مثلها حسنى وَزِيَادَةٌ: مغفرة ورضوان وقال غيره: النظر الى رحمة: په آيت كښې دى ﴿ لِلَّذِيۡنَ اَحۡسَنُوا الۡحُسۡنٰى وَزِيَادَةٌ ؕ وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوۡهَهُمۡ قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ؕ ﴾ يعنى د هغه خلقو دپاره چاچه نيك اعمال كړى كوم اجروى هغه به د دې حسنى مثل بهترين اوښكلې وى. امام بخارى رحمه الله "مثلها" نه پس بيا "حسنى" اضافه كړې ده حالانكه د حسنى تفسير مثلها سره شوې وو نودا اضافه ددې خبرې د خودلودپاره دې چه په آيت كښې "زيادة" عطف "الحسنى" باندې دې [1] اود دغه "زيادة" يوتفسير خودادې چه حسنى سره به مغفرت وركړې كيدې شى اود الله تعالى رضامندى به ورته حاصليږى اوبعضو وئيلى دى چه دې نه په جنت عدن كښې دالله تعالى زيارت او رؤيت مراددې اوبعض وئيلى دى چه دې نه تضعيف اجرمراددې نور اقوال هم دى "وقال غيره" ضمير مجاهد رحمه الله طرف ته راجع دې د مجاهد دغيرنه

[1] فى اللامع: ۹/۱۰۳ _ فقوله: حسنى بعد قوله: مثلها اما بيان للضمير المجرور او تمييز عن نسبة المثل الى ضميره"

مراد حضرت قتاده رحمه الله دي. (١)

١٧١ - باب: ﴿وَجُوزْنَا بِبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْيًا وَعَدْوًا حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا الَّذِيٓ ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓا إِسْرَآءِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾/٩٠/

﴿نُنَجِّيكَ﴾/٩٢/نُلْقِيكَ عَلَى نَجْوَةٍ مِنَ الارضِ، وهُوَ النَّشَزُ: المكَانُ الْمُرْتَفِعُ.

[٤٤٠٢] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - الْمَدِينَةَ وَالْيَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ. فَقَالَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم - لأَصْحَابِهِ « أَنْتُمْ أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْهُمْ، فَصُومُوا [ر: ١٩٠٠]

ايا دَ فرعون ايمان راوړل معتبرووو؟: دَ فرعون ايمان راوړل معتبردي كه نه ابوبكر باقلانى رحمه الله دَ بعض حنابله صوفياء كښې شيخ اكبر ملاجامى وغيره رائې داده چه دَ فرعون دا ايمان راوړل معتبردى. شيخ اكبر په فتوحات كښې په دې باندې ډير تفصيلى بحث كړې دې اوفرعون ئې مؤمن اودهغه مرګ ئې دَ شهادت ثابتولو كوشش كړې دې. (٢)

په دې باندې علماؤ دَهغه خلاف اوليكل اوپه هغه باندې سخت اعتراضات اوكړل. بعض خلقودهغه حمايت هم كړې دې. علامه جلال دوانى دَ شيخ اكبر په تائيد كښې په دې موضوع باندې يو مستقل رساله هم ليكلې ده. (٣)

ليكن دَ فرعون دَ ايمان قول دَ ټولونصوص او آيات ظاهر خلاف دې. فرعون دَ غرغره په حالت كښې ايمان راوړلې وو او په داسې حالت كښې ايمان راوړل معتبرنه دى. دَ قرآن په ډيرو آياتونوكښې دَ دې تصريح ده. يوځائى كښې ارشاد دې ﴿ وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّاٰتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الْـَٰنَ وَلَا الَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ ﴾ (النساء:١٨) يوبل آيت دې ﴿فَلَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا قَالُوٓا ءَامَنَّا بِاللَّهِ وَحْدَهُۥ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِۦ مُشْرِكِينَ ۝ فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَٰنُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا﴾ (المؤمنون ٨٤-٨٥) دغه شان امام ترمذى رحمه الله حديث نقل كړې دې "ان الله يقبل توبة العبد مالم يغرغر" (٤)

---

١) عمدة القارى:٨/٢٨٥.

٢) روح المعانى، الجزء العاشر:١٨٦-١٨٥.

٣) وقدانتصر لبعض الناس، ومنهم فى المشهور الجلال الدوانى. وله رسالة فى ذكل انى فيها بما لايعد شيئا عند اصاغر الطلبة و لكن فى تاريخ حلب للفاضل الحلبى.... انها ليست للجلال، وانما هى لرجل يسمى محمدبن هلال النحوى القزوينى، وشنع عليه، وقال: انما مثله رجل حامل الذكر لما قدم مكة بال فى زمزم ليشتهر بين الناس، وفى المثل، خالف تعرف (وانظرروح المعانى:١٨٧-١٨٦/١٠)

٤) سنن الترمذى كتاب الدعوات باب فى فضل التوبة والاستغفار رقم الحديث:٣٥٣٧.

دَ دې نه علاوه قرآن مجيدهم په دغه موقع باندې فرعون ته خطاب كولوسره ارشاد فرمائيلې ﴿آلْئٰنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ﴾ دا ټول نصوص په دې خبره باندې صراحةً دلالت كوى چه دَ فرعون ايمان معتبرنه دې اوهم دغه دَ محققين اوجمهور امت قول دې.
علامه محمدبن عبدالرسول برزنجى به په خپل مجلس كښې په ښكاره دَ فرعون دَ ايمان ذكر كولو. علامه حسن بن احمد باختر هغه سره ملاقات اوكړو او ورته ئى اووئيل ته دَ فرعون دَ مؤمن كيدو خبره كوې دامناسب نه ده. دلائل دَ هغه دَ ايمان ترديد كوى ليكن علامه برزنجى قائل نه شو يوورځ چه هغه راغلو نو علامه حسن باختر اووئيل "السلام عليك يا اخا فرعون" دې اوريدوسره هغه ډير خفه او پريشان شو اوخلقوله لاړو ورته ئى اووئيل چه حسن باختر ماته اخوفرعون اووئيل خلق هم ډير حيران شو چه دومره لوئى سړى ولې داسې زياتي اوكړو. خلق علامه باختر له راغلل اودَ هغه نه ئى په دې سلسله كښې پوښتنه اوكړه. نوهغه اووئيل چه په دې كښې دَ زياتى څه خبره ده هغه وائى چه فرعون مؤمن وو اوقرآن مجيدوئيلى دى ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ إِخْوَةٌ﴾ دې اوريدوسره ټول خاموش شو.(١)
داخبره خو په خپل ځائى ښه سپينه ده چه دَ فرعون ايمان معتبرنه دې اوهغه په وخت ايمان نه دې راوړې. په شرح مواقف كښې دااعتراض كړې شوې دې چه دَ فرعون ايمان نه راوړل په حقيقت كښې دَ حضرت موسى عليه السلام دَ دعا دَ وجې نه وو. حضرت موسى عليه السلام دَ فرعون اودَ هغه دَ حاميانو په حق كښې بددعاكړې وه ﴿ وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيْمَ﴾ اعتراض دادې چه موسى عليه السلام خودَ ايمان دَ دعوت دَپاره ليګلې شوې وو بيا هغه دا دعاولې اوكړه داخو رضابالكفر دې اورضابالكفر پخپله كفر دې اوحضرت موسى عليه السلام خو جليل القدر نبى دې دَ انبياء په معصوم كيدو باندې اجماع دَ امت ده.
حسن چلپى حاشيه شرح مواقف كښې دَدې اعتراض داجواب وركړې دې چه رضابالكفر على وجه الاستحسان وى نو كفر دې، على وجه الاستقباح كفرنه دې اودَ حضرت موسى عليه السلام بددعا هم دَدې قبيل نه وه. دادعاځكه وه چه دَ فرعون ظلم عدوان اوسركشى دَ حدنه اوړيدلې وه.(٢)

قوله: نُنَجِّيْكَ: نُلْقِيْكَ عَلٰى نَجْوَةٍ مِنَ الارضِ، وهُوَالنَّشَزُ: المكَانُ المُرْتَفِعُ: آيت كښې دى ﴿ فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُوْنَ لِمَنْ خَلْفَكَ اٰيَةً﴾ بنى اسرائيلوته شبه وه چه فرعون مړشوې هم دې اوكه نه، الله تعالى دَ هغه نعش دِ سمندر نه راؤچت كړو دَ زمكې يوې اوچتې غونډئى ته ئى اورسولو هلته هغه مردار پروت وو. پوزه ئى ګګه شوې وه مخ او شكل ئى وران شوې وو. بنى

---

(١) محمدبن عبدالرسول: له علم بالتفسير والادب، من فقهاء الشافعية ولد، وتعلم بشهر زور، واستقر فى المدينة، وتوفى بها سنة:١١٠٣ (وانظر الاعلام للزركلى:٢٠٤-٦/٢٠٣) والبرزنجي: منسوب الى برزنج مدينة من نواحي ازان بينها وبين برذعة ثمانية عشر فرسخا. (وانظر تعليقات الانساب:١/٣١٨).
(٢) وفى حاشيه برخوردار: .....والاصح انه لايكفربالرضا بكفر الغير، ان كان لايحب الكفر، ولايستحسنه" (وانظرحاشية برخوردارعلى هامش النبراس:٢٦٨)

اسرائيلو چه كله اوكتل چه فرعون خپل انجام ته اورسيدو نوبيا دهغوى تسلي اوشوه. دَ نجوة معنى بيان كړې دې اوچت ځائى غونډئى هم دې ته نشز هم وائى بيا دَ نشز تفسير المكان المرتفع سره كړې.

مشهوره داده چه دَ فرعون نعض تراوسه پورې دَ قاهره په عجائب گهر كښې محفوظ دې مگر دا په يقين سره نه شى وئيلې چه داهم هغه فرعون دې دَ كوم مقابله چه حضرت موسى عليه السلام سره شوې وه يابل فرعون دې ځكه چه لفظ دَ فرعون دَ يوسړى نوم نه دې په هغه زمانه كښې به دَ مصر هريوبادشاه ته دَ فرعون نوم وركولې شو. خو هيڅ عجيبه نه ده چه قدرت څنگه يوغرق شوې نعش دَ عبرت دپاره په غاړه باندې اچولې وو هم دغه شان دَ راتلونكى نسلونودَ عبرت پاره هغه دَ سخاكيدونه هم محفوظ كړو اوتراوسه پورې موجود دې.[1]

ددې فرعون نوم وليد بن مصعب بن ريان ليكلې شوې دې.[2]

۱۷۲-باب: تفسير سورة هود

قال ابن عباس: ((عصيب))/۷۷/: ((شديد ولا جرم))/۲۲/ :بلى وقال غيره: ((وحاق))/۸/: نزل،((يحيق))/فاطر:۴۳/ينزل.((يؤوس))/۹/فعول من يئست. وقال مجاهد: ((تبتئس)) /۳۶/ تحزن. ((يثنون صدورهم)) شك وامتراء في الحق ((ليستخفوا منه))/۵/: من الله إن استطاعوا. وقال أبوميسرة: الأواه الرحيم بالحبشية. وقال ابن عباس: ((بادي الرأي))/۲۷/ما ظهر لنا. وقال مجاهد: ((الجودي))/۴۴/جبل بالجزيرة. وقال الحسن: ((إنك لأنت الحليم)) /۸۷/ يستهزؤن به. وقال ابن عباس: ((أقلعي))/۴۴/: أمسكي. ((وفار التنور))/۴۰/: نبع الماء،وقال عكرمة: وجه الارض.

سورة هود[3]

د كلماتو تشريح:

قوله: عَصِيبٌ: شَدِيدٌ: په آيت مبارك كښې دى ﴿ وَقَالَ هٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ ﴾ دَ نن ورځ سخته ده درنه ده. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى دَ عصب معنى ده شديد يعنى سخت.

قوله: لَاجَرَمَ: بَلَى: په آيت كښې دى ﴿ لَاجَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴾ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه لاجرم په معنى بلى دې يعنى ولې نه ضرور.[4]

---

[1]) معارف القرآن:۵۶۷/ ٤.

[2]) عمدة القارى: ۱۱۸\ ۲۸۵_

[3]) دلته دَبخارى دَ نسخوپه الفاظوكښې دَتحقيق په ترتيب كښې اختلاف دې.مونږ دَخپل متن دَ ترتيب مطابق الفاظو تحقيق كړې دې.

[4]) وفى العمدة:۱۸/۲۸۷_لاجرم: كلمة كانت فى الاصل بمنزلة لابدولا محالة، فجرت على ذلک وكثرت حتى تحولت الى معنى القسم وصارت بمنزلة حقا، فلذلک يجاب عنه باللام ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

قوله: وقال غيره: وَحَاقَ: نزل، يَحِيقُ: ينزل: آيت مبارك كښې دى ﴿ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ اوكوم څيزسره چه دې خلقو ټوقې مسخرې كولې هغه به دوى راګيركړى يعنى په دوى به راپريوځى. دَ عكرمه غير يعنى ابوعبيده وئيلى دى حاق په معنى نزل دې يعنى راكوزيږى په. يحيق: راكوزيدل دا لفظ په سورت فاطركښې دې. ﴿ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ ﴾ اودَ خرابو تدبيرونووبال به په دغه تدبيركونكو باندې راپريوځى.

قوله: يَئُوسٌ: فعول من يَئِستُ: آيت مبارك كښې دى ﴿ وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ ﴾ اوكه چرې مونږ انسانانوته دَخپلې مهربانئى خوند اومزه وركولوسره دَهغوى نه په زور اخلو نوهغه نااميده اوناشكره كيږى. فرمائى آيت كښې يئوس فعول په وزن باندې دې اودَ يئست نه ماخوذ دې په معنى نااميده كيدل.

قوله: وقال مجاهد: تبتئس: تَحْزَنْ: په آيت مبارك كښې دى ﴿ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴾ بياتاسو هيڅ غم مه كوئى كوم څه چه هغه كوى. مجاهد رحمه الله بيان كړې دې چه په آيت كښې دَ تبتئس معنى ده تَحْزَنْ لَاتَبْتَئِسْ اى لَاتَحْزَنْ: غم مه كوه.

قوله: وَقَالَ أَبُومَيْسَرَةَ: اَلْأَوَّاهُ الرَّحِيمُ بِالْحَبَشِيَّةِ: په آيت مبارك كښې دى ﴿ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّاهٌ مُّنِيبٌ ﴾ ابوميسره عمرو بن شرجيل فرمائى چه "اَوَّاه" په حبشى ژبه كښې مهربان اورحم دل ته وائى.

قوله: وقال ابن عباس: بَادِيَ الرَّأْيِ: مَاظَهَرَلَنَا: آيت مبارك كښې دى ﴿ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ ﴾ هغه خلق زمونږ نه رذيلان دى په سرسرى نظركښې. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه بَادِيَ الرَّأْيِ معنى ده "مَا ظَهَرَلَنَا" كوم چه زمونږ په وړاندې بالكل ښكاره دى ظاهر دى.

قوله: وقال مجاهد: اَلْجُودِيِّ: جَبَلٌ بِالْجَزِيرَةِ: آيت مبارك كښې دى ﴿ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ ﴾ اوكشتئى په جودى غرباندې راغله اودريده. مجاهد رحمه الله فرمائى چه جودى په جزيره كښې يوغردې (چه دَ شام په ملك كښې موصل سره نيزدې دجله او فرات په مينځ كښې دې).

قوله: وقال الحسن: إِنَّكَ لَأَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ: يَسْتَهْزِءُونَ بِهِ: آيت مبارك كښې دى

....بقيه ازحاشيه گذشته] كما يجاب بها عن القسم، الاتراهم يقولون: لاجرم لاتينك، ويقال: جرم فعل عندالبصريين، واسم عندالكوفيين، فاذا كان اسما يكون بمعنى حقا، ومعنى الاية: حقا انهم فى الاخرة هم الاخسرون، وعلى قول البصريين لاردلقول الكفار، وجرم معناه عندهم: كسب اى كسب كفر هم الخسارة فى الآخرة" وفى المفردات للراغب:٩٢" ومعنى حرم: كسب اوجنى... وقيل جرم وجرم بمعنى لكن خص بهذالموضع جرم، كما خص عمر بالقسم وان كان عمر وعمر بمعنى.... وقد قيل فى ذلك اقوال اكثر هاليس بمرتضى عندالتحقيق..... لاجرم قبل: ان لا يتناول محذوفا نحولافى قوله: لااقسم"

﴿إِنَّكَ لَأَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ﴾ حضرت حسن بصرى رحمه الله فرمائى چه كافرانوبه دا جمله دَ مسخرو په توګه حضرت شعيب عليه السلام ته ونيله.

قوله: وقال ابن عباس: أقلعي: أمسكي: په آيت مبارك كښې دى ﴿ وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي﴾ اوحكم اوشوچه اې زمكې خپلې اوبه راكاږه او اې آسمانه ورول بند كړه. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه دَ أقلعى معنى ده بندشه، اودريږه.

قوله: وَفَارَ التَّنُّورُ: نَبَعَ المَاءُ، وقال عكرمة: وَجْهُ الأَرْضِ: ﴿ حَتَّى إِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ﴾ فرمائى چه فَارَ التَّنُّورُ معنى ده اوبه راخوټكيدل، عكرمه رحمه الله فرمائى چه دَتنور نه دَ زمكې مخ مراددې يعنى دَ زمكې دَمخ نه اوبه را خوټكيدل شروع شو.(1)

بعضې حضراتو دلته د تنور نه معروفه معنى اخستې ده او ونيلى ئې دى چه د حضرت آدم عليه السلام تنور مقام په "عين ورده،، د شام په ملك كې وو، هغه مراد دې دهغې نه اوبه راؤ وتلې.(2) بعضو ونيلى دحضرت آدم عليه السلام اصل تنور كوفه كښې وو هغه مراددې.(3) نور اقوال هم دى.

۱۷۳ - **باب: ﴿أَلَا إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا مِنْهُ أَلَا حِينَ يَسْتَغْشُونَ ثِيَابَهُمْ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾ /۵/**

[۴۴۰۶/۴۴۰۴](4) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ صَبَّاحٍ حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ قَالَ قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقْرَأُ (أَلَا إِنَّهُمْ تَثْنَوْنِي صُدُورُهُمْ) قَالَ سَأَلْتُهُ عَنْهَا فَقَالَ أُنَاسٌ كَانُوا يَسْتَحْيُونَ أَنْ يَتَخَلَّوْا فَيُفْضُوا إِلَى السَّمَاءِ، وَأَنْ يُجَامِعُوا نِسَاءَهُمْ فَيُفْضُوا إِلَى السَّمَاءِ، فَنَزَلَ ذَلِكَ فِيهِمْ.

[۴۴۰۵] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ وَأَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَرَأَ (أَلَا إِنَّهُمْ تَثْنَوْنِي صُدُورُهُمْ) قُلْتُ يَا أَبَا الْعَبَّاسِ مَا تَثْنَوْنِي صُدُورُهُمْ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ يُجَامِعُ امْرَأَتَهُ فَيَسْتَحِي أَوْ يَتَخَلَّى فَيَسْتَحِي فَنَزَلَتْ (أَلَا إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ).

[۴۴۰۶] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرٌو قَالَ قَرَأَ ابْنُ عَبَّاسٍ (أَلَا إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا مِنْهُ أَلَا حِينَ يَسْتَغْشُونَ ثِيَابَهُمْ) وَقَالَ غَيْرُهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ

---

(1) عمدة القارى:۱۸/۲۸۹.

(2) عمدة القارى: ۱۸ \ ۲۸۹-

(3) عمدة القارى:۱۸/۲۸۸.

(4) اخرجه البخارى فى كتاب التفسير باب ۳الا انهم يثنون صدورهم. رقم الحديث: ۴۴۰۴، ۴۴۰۵، ۴۴۰۶ وهذا الحديث لم يخرجه احدمن اصحاب الستة سوى البخارى.

(يَسْتَغْشُونَ) يُغَطُّونَ رُءُوسَهُمْ (سِيءَ بِهِمْ) سَاءَ ظَنُّهُ بِقَوْمِهِ. (وَضَاقَ بِهِمْ) بِأَضْيَافِهِ (بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ) بِسَوَادٍ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ (أُنِيبُ) أَرْجِعُ.

((سِيءَ بِهِمْ)) سَاءَ ظَنُّهُ بِقَوْمِهِ ((وَضَاقَ بِهِمْ))/۷۷/: بِأَضْيَافِهِ. ((بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ))/۸۱/: بِسَوَادٍ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ: ((أُنِيبُ))/۸۸/: أَرْجِعُ.

د ايت باب شان نزول: ددې آيت مبارك مختلف شان نزول بيان كړې شوى دى. دلته امام بخارى رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما روايت نقل كړې دې دكوم حاصل چه دادې چه صحابه كرامو كښې په بعض حضراتوباندې دحياء دومره غلبه اوشوه چه داستنجاء ياجماع وغيره ضروريات بشرى په وخت به د بدن يوه حصه بربنډولوسره شرميدل. چه الله تعالى جل جلاله هغوى ته ګورى دكوم د وجې نه چه به هغوى ټيټيدل او دشرمګاه دپټولو دپاره به ئى سينه پلنوله اوډپاسه به ئى څادر ياكپړه اچوله دې دپاره چه د الله تعالى په وړاندې ستربنكاره نه شى. الله تعالى ددې قسم تكلفاتو اختيارولونه منع اوفرمائيله چنانچه په آيت كښې ارشاد دې. "واورئى! هغه خلق خپله سينه پلنه وى (اوډپاسه كپړه اچوى) دې دپاره چه د الله تعالى نه پټ شى، واورئى! كله چه دوى خپل ځان په كپړوسره پټه وى الله تعالى د هغوى پټوالې هم پيژنى اوښكاره والې هم، هغه خود هغه رازونونه هم خبرداردې كوم چه په زړونو كښې دننه دى".

مطلب دادې چه كله انسان په يوحال كښې او په يووخت كښې هم دالله تعالى نه پټيدې نه شى نوبيا د بشرى ضرورتونو متعلق داسې غلو اوداسې تكلفاتونه كاراخستل صحيح نه دى.

ددې تفسير مطابق داآيت خود مسلمانانو په باره كښې نازل شوې دې ليكن د نورو بعض مفسرينو خيال دې چه دا آيت دكافرانو او مشركانوباره كښې نازل شوې دى. دكافرانو او مشركانو رويه داوه چه دحضورپاك د يوې خبرې اوريدودپاره تيارنه وو. كله چه به ئې حضورپاك د لرې نه په راتلو ليدلو نود سينې مخ به ئى اړولو يا به په كپړه كښې مخ پټولو يا د مسخرو په توګه به ئى خپل سرونه او سينې ښكته ټيټولې. هم دغه شان چه كله به كافرانو د مسلمانانوخلاف منصوبې جوړولې نو په ټيټه او سينې په كپړوكښې اينغښتلوسره به ئى خبرې كولې دې دپاره چه چرته حضورپاك اومسلمانانوته خبر اونه شى. الله تعالى آيت مبارك نازل كړوچه الله تعالى داټول حركتونه پيژنى تردې چه دهغوى دزړونود رازونو او پټو خبرونه هم ښه خبردې.

چنانچه امام بخارى رحمه الله د ﴿ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ ﴾ نه پس شَكٌّ وَامْتِرَاءٌ فِي الْحَقِّ اضافه كولوسره ددې دويم شان نزول طرف ته اشاره كړې ده. "شك وامتراء" د ﴿ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ ﴾ تفسيرنه دې بلكه د كافرانواومشركانود دغه فعل دپاره په توګه دعلت بيان كړې شوې دې چه داخلق داقسم حركتونه كوى دا په حق كښې شك وامتراء د وجې نه كوى. ﴿ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ ﴾ هغوى خپلې سينې پلنې كړى او اړولې دى.

قوله: ثَنْيُ الشَّيْءِ: ثَنْيًا: تاوول، راغونډول دباب ضرب نه دې. علامه آلوسى رحمه الله روح المعانى كښې فرمائى چه ﴿ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ ﴾ ياخو دا اعراض عن الحق نه كنايه ده يعنى هغه

مشركان دحق نه مخ اړوی ددې كوی اويا په دې سره مجازاً اخفاء او پټولو معنى مراد ده يعنى هغه كافرانو كفريه خبرې په خپلو زړونو كښې پټه وى اويادې نه حقيقى معنى مراد ده. چه كله داخلق رسول الله ﷺ وينى نوواپس كيږى.(¹) ددې دريواړو احتمالاتو په صورت كښې دَ آيت تعلق دكافرانواومشركانوواقعه سره دې اوهم دا علامه آلوسى رحمه الله راجح ګرځولې چنانچه هغه فرمائى "والذى يقتضيه السياق، ويستدعيه ربط الايات، كون الاية فى المشركين" (²)

قوله: كَانُوا يَسْتَخْفُونَ أَنْ يَتَخَلَّوْا فَيُفْضُوا إِلَى السَّمَاءِ: «يتخلوا» يقضوا حاجة فى الخلاء وهم عراة «فيفضوا» فتظهرعورتهم فى القضاء، ليس بينها وبين السماء حاجز يعنى هغوى به شرميدل ددې خبرې نه چه قضاء حاجت اوكړى اوكولاؤ فضا او آسمان طرف ته خپل ستر ښكاره كړى.

قوله: سِيءَ بِهِمْ: سَاءَ ظَنُّهُ بِقَوْمِهِ وَضَاقَ بِهِمْ: بِأَضْيَافِهِ: په آيت مبارك كښې دى ﴿وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا﴾ اوكله چه زمونږ ليګلې شوې فرښتې لوط عليه السلام له راغلې نولوط دهغوى په راتلوسره پريشان شو اودهغوى دَ راتللوپه سبب زړه تنګې شو(دخپل قوم نامعقول حركت ته خيال كولوسره). فرمائى چه په آيت كښې سئ بهم معنى ده سَاءَ ظَنُّهُ بِقَوْمِهِ يعنى حضرت لوط دَ خپل نه بدګمان شو اودَ دې ميلمنودَ راتګ دَ وجې نه. زړه تنګې شو داتفسير دَ حضرت ابن عباس رضى الله عنهما دې.

قوله: بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ: بِسَوَادٍ: آيت مبارك كښې دى ﴿ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ أَحَدٌ﴾ پس هغوى دَشپې په څه حصه كښې خپل كوروالوسره (ددې ځائى نه بهر) لاړو اوتاسوكښې دې څوك شاته هم نه ګورى. فرمائى چه په آيت كښې بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ نه مراد دَ شپې توروالې دې داتفسير دَحضرت ابن عباس رضى الله عنهما نه نقل دې.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: أُنِيبُ: أَرْجِعُ: آيت مبارك كښې دى﴿ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾ اوماته چه څه توفيق كيږى صرف هم دَالله تعالى په امدادسره دې هم په هغه باندې يقين كوم اوهم دَهغه طرف ته رجوع كوم. مجاهد رحمه الله بيان كړې چه په آيت كښې انيب په معنى ارجع دې يعنى زه رجوع كوم.

۱۷۴ - باب: قوله ﴿وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ﴾ /۷/

[۴۴۰۷] (³) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه

(¹) روح المعانى: ۱۱/۲۰۹.

(²) روح المعانى: ۱۱/۲۱۰.

(³) واخرجه فى كتاب النفقات، باب فضل النفقة على الاهل رقم الحديث: ۵۳۵۲ (مع الفتح) وفى التوحيد، باب لما خلقت بيدى: ۷۴۱۱ (مع الفتح) وباب، وكان عرشه على الماء: ۷۴۱۹ ... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ. وَقَالَ - يَدُ اللَّهِ مَلْأَى لَا تَغِيضُهَا نَفَقَةٌ، سَحَّاءُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ - وَقَالَ - أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْفَقَ مُنْذُ خَلَقَ السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ فَإِنَّهُ لَمْ يَغِضْ مَا فِي يَدِهِ، وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ، وَبِيَدِهِ الْمِيزَانُ يَخْفِضُ وَيَرْفَعُ». (اعْتَرَاكَ) افْتَعَلْتَ مِنْ عَرَوْتُهُ أَيْ أَصَبْتُهُ، وَمِنْهُ يَعْرُوهُ وَاعْتَرَانِي (آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا) أَيْ فِي مِلْكِهِ وَسُلْطَانِهِ. عَنِيدٌ وَعَنُودٌ وَعَانِدٌ وَاحِدٌ، هُوَ تَأْكِيدُ التَّجَبُّرِ، (اسْتَعْمَرَكُمْ) جَعَلَكُمْ عُمَّارًا، أَعْمَرْتُهُ الدَّارَ فَهِيَ عُمْرَى جَعَلْتُهَا لَهُ.

(نَكِرَهُمْ) وَأَنْكَرَهُمْ وَاسْتَنْكَرَهُمْ وَاحِدٌ (حَمِيدٌ مَجِيدٌ) كَأَنَّهُ فَعِيلٌ مِنْ مَاجِدٍ. مَحْمُودٌ مِنْ حَمِدَ. سِجِّيلٌ الشَّدِيدُ الْكَبِيرُ. سِجِّيلٌ وَسِجِّينٌ وَاللَّامُ وَالنُّونُ أُخْتَانِ، وَقَالَ تَمِيمُ بْنُ مُقْبِلٍ وَرَجْلَةٍ يَضْرِبُونَ الْبَيْضَ ضَاحِيَةً ضَرْبًا تَوَاصَى بِهِ الْأَبْطَالُ سِجِّينَا [۷۰۵۷، ۶۹۸۳، ۶۹۷۶، ۵۰۳۷]

قوله: أنفق أنفق عليك: حضورپاك فرمائی چه الله تعالى فرمائى ته خرچ كوه نوزه به هم په تاخرچ اوكړم. مطلب داچه كوم سړي دالله تعالى په لاركښې خرچ كوى الله تعالى دهغې عوض اوبدله وركوى.

قوله: يَدُ اللهِ مَلاى، لاتَغِيضُهَا نَفَقَةٌ سَحَّاءُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ: دالله تعالى لاس د قدرت ډك دې د شپې ورځې يوشان خرچ په هغې كښې كمې اونقصان نه شى واقع كولې. غَاضَ، يِغِيْضُ، غَيْضاً: كميدل، كمول لازم اومتعدى دواړه شان مستعمل دې.(١)
سَحَّاء: مسلسل بهيدونكې.(٢)

قوله: وكان عرشه على الماء: اودالله تعالى عرش په اوبوباندې دې يعنى دالله تعالى دعرش لاندې سمندردې دكوم مسافت چه د پنځوسوو ميلوبرابردې. لكه چه په حديث كښې راغلى دى.(٣)

بعض حضراتو وئيلى دى چه دې نه مراد ددنياسمندردې اومطلب دادې چه دالله تعالى دعرش خپې ددې زمكې په سمندركښې دى(٤) سره ددې چه ښكارى نه ليكن په نظرنه راتلل د نه

...بقيه ازحاشيه گذشته] (مع الفتح) وباب، ويريدون ان يبدلوا... رقم الحديث:۷٤۹۶ (مع الفتح) واخرجه مسلم فى زكاة، باب الحث على النفقة وتبشير المنفق بالخلف، رقم الحديث:۹۹۳ واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى التفسير، باب وكان عرشه على الماء، رقم الحديث:۱۲۳۹.

(١) عمدة القارى:۱۸/۲۹۳.

(٢) قوله: سحاء اى دائمة الصب والهطل بالعطاء، يقال: سح يسح فهوساح والمؤنث سحاء وهى فعلاء لاافعل لها، كهطلاء (عمدة القارى:۱۸/۲۹۳)

(٣) لم اجدهذه المسافة المذكورة فيما بين يدى من المصادر.

(٤) قال فى تفسيرفتح البارى:٤/۳۲۷ وعبارة سليمان الجمل بل هو فى مكانه...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

كيدو دليل نه شى كيدې. دَدې تفصيلى بحث به انشاء الله وړاندې كتاب التوحيد كښې راځى.

قوله: وَبِيَدِهِ الْمِيْزَانُ يخفض ويرفع: دَ ميزان نه خو يا ميزان عدل مراددې او يا ميزان رزق مراددې چه الله تعالى دچادپاره غواړى راښكته كوى اودَ چادپاره چه غواړى پورته كوى.(۱)

((اعْتَرَاكَ))/۵۴/: اَفْتَعَلَكَ، مِنْ عَرَوْتُهُ أَيْ أَصَبْتُهُ، وَمِنْهُ يَعْرُوْهُ وَاعْتَرَانِي. ((آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا))/۵۶/: أَيْ فِي مِلْكِهِ وَسُلْطَانِهِ. ((عَنِيْدٌ))/۵۹/: وَعَنُوْدٌ وَعَانِدٌ وَاحِدٌ، هُوَ تَأْكِيْدُ التَّجَبُّرِ. ((اسْتَعْمَرَكُمْ))/۶۱/: جَعَلَكُمْ عُمَّارًا، أَعْمَرْتُهُ الدَّارَ فَهِيَ عُمْرَى جَعَلْتُهَا لَهُ. ((نَكِرَهُمْ))/۷۰/: وَأَنْكَرَهُمْ وَاسْتَنْكَرَهُمْ وَاحِدٌ. ((حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ))/۵۹/: كَأَنَّهُ فَعِيْلٌ مِنْ مَاجِدٍ، مَحْمُوْدٌ مِنْ حَمِدَ. ((سِجِّيْلٍ))/۸۲/: الشَّدِيْدُ الْكَبِيْرُ، سِجِّيْلٌ وَسِجِّيْنٌ، وَاللَّامُ وَالنُّوْنُ أُخْتَانِ، وَقَالَ تَمِيْمُ بْنُ مُقْبِلٍ: وَرَجْلَةٍ يَضْرِبُوْنَ الْبَيْضَ ضَاحِيَةً ضَرْبًا تَوَاصَى بِهِ الْأَبْطَالُ سِجِّيْنَا.

قوله: اَعْتَرَاكَ: اَفْتَعَلَكَ، مِنْ عَرَوْتُهُ أَيْ أَصَبْتُهُ، وَمِنْهُ يَعْرُوْهُ وَاعْتَرَانِي: په آيت كښې دى ﴿ إِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ ﴾ فرمائى په دې كښې اعتراك دَباب افتعال نه دې په مجرد كښې دَنصر نه دې وائى عَرَوْتُهُ ماهغه په مصيبت كښې اخته كړو هم دَدې نه دې يَعْرُوْهُ او اِعْتَرَانِي. خلاصه دا چه لفظ نصر اوافتعال دواړونه هم په يومعنى كښې استعماليږى يعنى پيښيدل، لاحق كيدل، چاله سوال كونكې جوړيدل ورتلل، په مصيبت كښې اخته كيدل.

قوله: آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا: أَيْ فِي مِلْكِهِ وَسُلْطَانِهِ: ﴿ مَا مِنْ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا ۭ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰي صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴾ په دې كښې آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا مطلب بيان كړو چه هردابه دَ الله تعالى په قبضه او دهغه په حكومت كښې دې، هيڅ يو ځيز دَهغه دَ قبضه اوقدرت نه بهرنه دې.

قوله: عَنِيْدٌ: وَعَنُوْدٌ وَعَانِدٌ وَاحِدٌ، هُوَ تَأْكِيْدُ التَّجَبُّرِ: آيت كښې دى ﴿ وَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴾ اوهغه خلق دَداسې خلقو په وينا روان شوچه ظالم اوسركش وو. فرمائى چه په آيت عنيد. عاند اوعنود دَيولويوه معنى ده يعنى سركش اودا تجبر په معنى دَتكبر تاكيددې او دَدې مبالغه ده.

قوله: اِسْتَعْمَرَكُمْ: جَعَلَكُمْ عُمَّارًا، أَعْمَرْتُهُ الدَّارَ فَهِيَ عُمْرَى جَعَلْتُهَا لَهُ: آيت كښې دى ﴿ هُوَ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا فَاسْتَغْفِرُوْهُ ﴾ فرمائى چه په دې كښې اِسْتَعْمَرَكُمْ معنى ده تاسو ئى آبادكړئى، اَعْمَرْتُهُ الدَّارَ فَهِيَ عُمْرَى وائى يعنى ماهغه كوردَټول عمر دَپاره ده له وركړو پس هغه عمرى دې.

....بقيه ازحاشيه گذشته] الذى هوفيه الان وهومافوق السموات السبع والماء فى المكان الذى هوفيه الان وهو ماتحت الارضين السبع.

(۱) عمدة القارى:۱۸/۲۹۳.

قوله: نَكِرَهُمْ: وَأَنْكَرَهُمْ وَاسْتَنْكَرَهُمْ وَاحِدٌ: آیت مبارك کښې دی ﴿ فَلَمَّا رَاٰۤ اَیْدِیَهُمْ لَا تَصِلُ اِلَیْهِ نَكِرَهُمْ وَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِیْفَةً ﴾ نوبيا هله اوكتل ابراهيم علیه السلام چه د دغه (فرښتو) لاس خوراك ته نه رسيږي نومتوحش يعنی اوويريدو او په زړه کښې دهغه نه ويره کښې شو. فرمائی چه ابوعبيده بيان کړې دې چه نَكِرَ ثلاثى مجرد او أنكر ثلاثى مزيدفيه او إسْتَنْكَرَ د باب استفعال نه د يولويوه معنى ده.

قوله: حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ: كَأَنَّهُ فَعِيْلٌ مِنْ مَاجِدٍ. مَحْمُوْدٌ مِنْ حَمِدَ: آیت کښې دی ﴿ رَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكٰتُهٗ عَلَیْكُمْ اَهْلَ الْبَیْتِ ؕ اِنَّهٗ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ ﴾ په دې کښې حميداومجيددواړه د فعيل په وزن دی ليکن حميد د مفعول په معنی کښې دې او مجيد دفاعل په معنی کښې دی.

قوله: سِجِّيْلٍ: الشَّدِيْدُ الْكَبِيْرُ، سِجِّيْلٌ وَسِجِّيْنٌ، وَاللَّامُ وَالنُّوْنُ أُخْتَانِ، وَقَالَ تَمِيْمُ بْنُ مُقْبِلٍ:

وَرُجْلَةٍ يَضْرِبُوْنَ الْبَيْضَ ضَاحِيَةً ضَرْبًا تَوَاصَى بِهِ الْأَبْطَالُ سِجِّيْنَا (۱)

په آیت کښې دی ﴿ وَاَمْطَرْنَا عَلَیْهَا حِجَارَةً مِّنْ سِجِّیْلٍ ۙ۬ مَّنْضُوْدٍ ﴾ په دې کښې د سجيل معنى ده سخت اولوئی، سجيل او سجين دواړه لغت دی اومعنی يوه ده. لام اونون دواړه خوئندې دی لکه چه د تميم بن مقبل شعر دې "ډير پيدل تلونکی داسې دی چه د چاشت په وخت کښې داسې سختې تورې وهی د چابهادرسړی چه وصيت کوی يا ډير پيدل تلونکی داسې دی چه په خودونو باندې داسې سخت ګذارونه کوی دکوم چه بهادرسړی وصيت کوی."

قوله: وَرُجْلَةٍ: واؤ په معنى رب دې رجلة: د راجل جمع ده: پيدل تلونکې. الْبِيْضُ (دباء كسره سره) د ابيض جمع ده: سپينه توره، اويا دا د باء فتحه سره ده دغه وخت دا د بيضة جمع ده معنى خود.(۲)

باب (وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا)

إِلَى أَهْلِ مَدْيَنَ لِأَنَّ مَدْيَنَ بَلَدٌ، وَمِثْلُهُ (وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ) وَاسْأَلِ (الْعِيْرَ) يَعْنِي أَهْلَ الْقَرْيَةِ {

---

۱) وفى العمدة: ۱۸/۲۹۱ "تميم بن مقبل شاعر مخضرم، ادرک الجاهلية والاسلام، والبيت المذكورمن جملة قصيدته التى ذكر فيها ليلى زوج ابيه وكان خلف عليها، فلما فرق الاسلام بينهما قال:

طاف الخيال بنا ركبا يمانيا ودون ليلى عواد لو تعدينا
منهم معروف آيات الكتاب وان نعتل تكذب ليلى ما تمنينا
فان فينا صبوحا ان اريت به ركبا بهيا وآلافا ثمانينا
ورجلة يضربون البيض ضاحية ضربا تواصى به الابطال سجينا

۲) عمدة القارى: ۱۸/۲۹۱.

وَأَصْحَابَ } الْعِيرِ (وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا) يَقُولُ لَمْ تَلْتَفِتُوا إِلَيْهِ، وَيُقَالُ إِذَا لَمْ يَقْضِ الرَّجُلُ حَاجَتَهُ ظَهَرْتَ بِحَاجَتِي وَجَعَلْتَنِي ظِهْرِيًّا، وَالظِّهْرِيُّ هَا هُنَا أَنْ تَأْخُذَ مَعَكَ دَابَّةً أَوْ وِعَاءً تَسْتَظْهِرُ بِهِ. (أَرَاذِلُنَا) سُقَاطُنَا. (إِجْرَامِي) هُوَ مَصْدَرٌ مِنْ أَجْرَمْتُ وَبَعْضُهُمْ يَقُولُ جَرَمْتُ. الْفُلْكُ وَالْفَلَكُ وَاحِدٌ وَهِيَ السَّفِينَةُ وَالسُّفُنُ. (مُجْرَاهَا) مَدْفَعُهَا وَهُوَ مَصْدَرُ أَجْرَيْتُ، وَأَرْسَيْتُ حَبَسْتُ وَيُقْرَأُ (مَرْسَاهَا) مِنْ رَسَتْ هِيَ، وَ(مَجْرَاهَا) مِنْ جَرَتْ هِيَ وَ(مُجْرِيهَا وَمُرْسِيهَا) مِنْ فُعِلَ بِهَا، الرَّاسِيَاتُ ثَابِتَاتٌ.

قوله: وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا إِلَى أَهْلِ مَدْيَنَ لِأَنَّ مَدْيَنَ بَلَدٌ، وَمِثْلُهُ (وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ) وَاسْأَلِ (الْعِيرَ): په آیت کښې دی چه دمدین طرف ته مونږ دهغوی رور شعیب علیه السلام اولیږلو، یعنی دمدین خلقوطرف ته اشاره کول دی چه مضاف محذوف دې ځکه چه مدین یوښاردې اودغه شان واسال القریة او واسال العیردې یعنی مراداهل قریه اوهل عیردی، مطلب ذا چه په دې دواړومثالونوکښې هم محذوف دې، عیرپه کسره دعین قافلې ته وائی اومدین په اصل کښې دحضرت ابراهیم علیه السلام دیوخوئ نوم دې چاچه دا کلې آبادکړې وو اوورلره ئ هم خپل نوم مدین کیخودو.

قوله: (وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا) يَقُولُ لَمْ تَلْتَفِتُوا إِلَيْهِ، وَيُقَالُ إِذَا لَمْ يَقْضِ الرَّجُلُ حَاجَتَهُ ظَهَرْتَ بِحَاجَتِي وَجَعَلْتَنِي ظِهْرِيًّا): په آیت کښې ذی (قَالَ يَقَوْمِ أَرَهْطِيٓ أَعَزُّ عَلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ) ای زماقومه ایازماقوم ستاسوپه نزددالله تعالی په مقابله کښې ډیرعزت لرونکې دې اوتاسوالله تعالی شاته اوغورزولو. دهغه طرف ته التفات نه کوئی، کله چه څوک دچاحاجت پوره نه کړی نوپه داسې موقع باندې عرب وائی ،ظهرت بحاجتی وجعلتنی ظهریا ، یعنی زماحاجت دې شاته اوغورزولو او زه دې هم شاته اوغورزولم.

قوله: (وَالظِّهْرِيُّ هَا هُنَا أَنْ تَأْخُذَ مَعَكَ دَابَّةً أَوْ وِعَاءً تَسْتَظْهِرُ بِهِ): اود ،،ظهری،، مفهوم دلته دادې چه ته خپل ځان سره څه څناورياڅه لوښې واخلې ددې دپاره چه دهغې نه په وخت دضرورت څه امداد حاصل کړې ، داحصه دابوذر رضی الله عنه په روایت کښې نشته اوپه ظاهره همدغه صحیح ده .ځکه چه کومه معنی دلته بیان شویده په آیت کښې هغه معنی مرادنه ده، حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله خودل غواړی چه ظهری په دې معنی کښې هم استعمالیږی اوههنا نه دسورة هود آیت طرف ته اشاره نه ده، بلکه دکلام طرف ته اشاره ده کومه چه دعون اومدد معنی کښې استعمالیږی یعنی زمونږ په خبرو اتروکښې اوبه محاورو کښې دا لفظ په دې معنی کښې هم استعمالیږی.([1])

[1]) قوله والظهری ههنا ای حیث یستعمل فی معنی العون والمدد، ولیس اشاره الی مافی الایة لانه لیس فیها بالمعنى الذی ذکربعد قوله: ههنا(وانظرلامع الدراری: (۹ص۱۰۶)_

قوله: (اَرَاذِلُنَا سقاطنا): آیت کښې دی ، ، وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ اَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّاْيِ، او مونږ ګورو چه ستا تابعداری هم هغه خلقو کړیده چه په مونږ کښې بالکل رذیل دی په سرسری نظر کښې فرمائی چه اراذلنا نه غورزیدلی اوکم حیثیت والاقوم مراد دی ،

قوله: . (إِجْرَامِي) هُوَمَصْدَرٌ مِنْ أَجْرَمْتُ وَبَعْضُهُمْ يَقُوْلُ جَرَمْتُ: آیت کښې دی (قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ فَعَلَيَّ اِجْرَامِيْ وَاَنَا بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ) تاسو اوفرمائی که چرې ما دا (قرآن) پخپله جوړ کړې وی نو په ما خوخپله ګناه ده اوچه کوم جرم تاسو کوئ زه دهغې نه خلاص یم فرمائی اجرام مصدر دې داجرمت باب افعال نه دې بعض حضرات ثلاثی مجرد جرمت نه دې ته ماخوذ وائی .

قوله: (. (مُجْرَاهَا) مَدْفَعُهَا وَهُوَمَصْدَرُ أَجْرَيْتُ، وَأَرْسَيْتُ حَبَسْتُ وَيُقْرَأُ (مَرْسَاهَا) مِنْ رَسَتْ هِيَ ، وَ (مَجْرَاهَا) مِنْ جَرَتْ هِيَ وَ (مُجْرِيْهَا وَمُرْسِيْهَا) مِنْ فُعِلَ بِهَا ، الرَّاسِيَاتُ ثَابِتَاتٌ:

په بسم الله مجریها و مرساها کښې مختلف قراءتونه: په آیت مبارک کښې (بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا) امام بخاری رحمه الله په دې کښې دریو قراءتونو ته اشاره کړیده .

① یوقراءت دې (مجراها ومرساها) ددې قراءت په صورت کښې دادواړه دباب افعال نه مصدرمیمی دی. [1] دمجراها تفسیرامام بخاری دمدفعها سره کړیدې اومراد دې نه کشتۍ چلول دی . مرساها د(ارسیت) نه مصدر میمی دې دکوم معنی چه دبندولوده ، مرسها یعنی ددې کشتۍ بندول ،مطلب دادې چه دکشتۍ چلول اوبندول همّ د الله تعالی دنوم سره دی.

② دویم قراءت دې (مجراها ومرساها) دمیم په فتحه سره ددې قراءت په صورت کښې (مجراها) د (جرت هی) نه او (مرساها) د (درست هی) نه ماخوذدې اوددې معنی دچلولواودبندولوراخی مطلب داچه ددې کشتۍ چلیدل اوددې بندیدل دالله تعالی په نوم سره دی . (دجرت) معنی اوچلیدله ،(درست)معنی بند شوه، اودریده .

③ دریم قراءت دې(مجریها ومرسیها)ددې قراءت صورت کښې دواړه دباب افعال نه داسم فاعل صیغې دی اومطلب ئې دادې چه کشتۍ چلونکې او اودرونکې هم الله تعالی دې .دې وخت کښې ''من فعل بها،، کښې به دفعل معروف صیغه وی اوکه مجرها ومرسها داسم فاعل په ځائې داسم مفعول جوړ کړې مجراها ومرساها په معنی دمجریها ومرسابها نو ''من فعل بها،، کښې به دفعل مجهول صیغه وی اومطلب به داوی چه ددې کشتۍ چلول اوبندول هم د الله تعالی په نوم

---

[1]) مصدر نه دی ځکه چه ددې باب نه مصدر افعال په وزن باندې راځی نو په دې وجه مراد مصدر میمی دې۔

سره دى اوپه دريم قراءت كښې اسم فاعل اواسم مفعول د دوؤ قراءتونوطرف ته اشاره اوشوه او په رومبنى قراءت كښې مجراها ومرسها كښې دمصدر ميمى اعتبار كړې شوې وو امام بخارى رحمه الله دقراءت دحفص طرف ته اشاره نه ده كړې كوم كښې چه مجرها اومرسها (بفتح الميم فى الاول وضم الميم فى الثانى) وارد شويدى، په دې قراءت كښې اول دثلاثى نه دې اودويم درباعى نه دې.

۱۷۵=باب قَوْلِهِ (وَيَقُولُ الأَشْهَادُ هَؤُلاَءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى رَبِّهِمْ أَلاَ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ).

)وَاحِدُ الأَشْهَادِ شَاهِدٌ مِثْلُ صَاحِبٍ وَأَصْحَابٍ.

[۴۴۰۸]حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ وَهِشَامٌ قَالاَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ مُحْرِزٍ قَالَ بَيْنَا ابْنُ عُمَرَ يَطُوفُ إِذْ عَرَضَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَوْ قَالَ يَا ابْنَ عُمَرَ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فِي النَّجْوَى فَقَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ «يُدْنَى الْمُؤْمِنُ مِنْ رَبِّهِ وَقَالَ هِشَامٌ يَدْنُو الْمُؤْمِنُ - حَتَّى يَضَعَ عَلَيْهِ كَنَفَهُ، فَيُقَرِّرُهُ بِذُنُوبِهِ تَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا يَقُولُ أَعْرِفُ، يَقُولُ رَبِّ أَعْرِفُ مَرَّتَيْنِ، فَيَقُولُ سَتَرْتُهَا فِي الدُّنْيَا وَأَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ ثُمَّ تُطْوَى صَحِيفَةُ حَسَنَاتِهِ، وَأَمَّا الآخَرُونَ أَوِ الْكُفَّارُ فَيُنَادَى عَلَى رُءُوسِ الأَشْهَادِ هَؤُلاَءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى رَبِّهِمْ» وَقَالَ شَيْبَانُ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا صَفْوَانُ

اوګواه به وائى چه هم دغه خلق دى چاچه دخپل پروردګار په نسبت دروغ خبرې لګولې وى. واورئى چه دالله تعلى لعنت دې په ظالمانوباندې اشهاد دشاهد جمع ده لکه دصاحب چه اصحاب، دلته داشهاد نه مراد فرښتې دى چه داعمالوګواهى به وركوى.

باب قَوْلِهِ (وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ).

(الرِّفْدُ الْمَرْفُودُ) الْعَوْنُ الْمُعِينُ. رَفَدْتُهُ أَعَنْتُهُ (تَرْكَنُوا) تَمِيلُوا (فَلَوْلاَ كَانَ) فَهَلاَّ كَانَ (أُتْرِفُوا) أُهْلِكُوا. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ) شَدِيدٌ وَصَوْتٌ ضَعِيفٌ.)

[۴۴۰۹] [1]: حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا بُرَيْدُ بْنُ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّ

---

[1] واخرجه مسلم فى البر والصلة والادب باب تحريم الظلم رقم الحديث :۲۵۸۳) واخرجه الترمذى فى تفسيرباب ومن سورة هود رقم الحديث : ۳۱۱۰ واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى التفسيرباب وكذلك اخذ ربك رقم الحديث :١١٢٤٥ واخرجه ابن ماجه فى الفتن باب العقوبات رقم الحديث :۴۰۱۸_

اللّٰهَ لَيُمْلِي لِلظَّالِمِ حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ». قَالَ ثُمَّ قَرَأَ (وَكَذٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ)

قوله: ((الرِّفْدُ الْمَرْفُودُ) الْعَوْنُ الْمُعِينُ. رَفَدْتُهُ أَعَنْتُهُ): په آیت کښې دی ،(وَأُتْبِعُوا فِي هٰذِهِ لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُوْدُ) اوپه دې دنیاکښې هم هغوی پسی شاته لعنت اولګولې شو اودقیامت په ورځ هم خراب انعام دې چه هغوی ته به ورکړې شی. فرمائی آیت کښې (الرِّفْدُ الْمَرْفُودُ) په معنی د الْعَوْنُ الْمُعِينُ. یعنی امداد دې ،عرب وائی (رَفَدْتُهُ)ما دهغه مدد اوکړو د رفد معنی بخشش، انعام اومدد راځی ،

قوله: (تَرْكَنُوا) تَمِيلُوا): په آیت مبارک کښې دی ،(وَلَا تَرْكَنُوْا إِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا)اواې مسلمانانو دظالمانو طرف ته (یاچه دهغوی په شان وی دهغوی طرف ته د زړونو د دوستئ اویا په اعمالواو احوالوکښې شراکت اومشابهت ته) مه ښکته کیږئی ،فرمائی چه (ترکنوا) د(تمیلوا) په معنی کښې دې لاترکنوا مه مائل کیږی مه ښکته کیږئی.

قوله:(فَلَوْلَا كَانَ) فَهَلَّا كَانَ): په آیت کښې دی (فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ) نوبیا ولې تاسو هغه ډلونه نه شوئ کوم چه ستاسونه وړاندې وو. فرمائی آیت کښې د(فَلَوْلَا كَانَ) معنی (فَهَلَّا كَانَ) ده.

قوله: ((أُتْرِفُوا) أُهْلِكُوا....: په آیت کښې دی .(وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَآ أُتْرِفُوْا فِيْهِ وَكَانُوْا مُجْرِمِيْنَ)اونا فرمانه خلق دهغه خوندونو شاته پریوتل چه هغوی ته ورکړې شوی وو اوهغه مجرم خلق وو.

فرمائی (اترفوا)په معنی (اهلکوا) دې یعنې .هلاک کړې شو. اصل کښې (ترف یترف)دباب سمع نه دې معنی ئې ده، خوشحاله کیدل ، دآرام ژوندتیرول ، اودباب افعال نه د(اتراف) معنی ده دخوشحالئې اودولت مندئی نه سرکش اوخرابیدل اوهمدغه دهلاکت ذریعه ده. (اهکوا) د(اترفوا) تفسیر باللازم دې.

قوله: (وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ) شَدِيدٌ وَصَوْتٌ ضَعِيفٌ: آیت کښې دی (فَأَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَشَهِيْقٌ) بیاچه کوم خلق بدبخت وی هغه به په دوزخ کښې په داسې حال کښې وی چه په هغې کښې به هغوی چغې صورې وهی فرمائی چه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل چه زفیر تیز آواز او شهیق روآوازته وائی . دلغت داماما‌نو په دې کښې مخلتف اقوال دی. بعض فرمائی زفیر د خر رومبنی آواز ته او شهیق د قچر آوازته وائی.

=۱۷۷ باب قَوْلِهِ (وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذَّاكِرِيْنَ)

(وَزُلَفًا) سَاعَاتٍ بَعْدَ سَاعَاتٍ وَمِنْهُ سُمِّيَتِ الْمُزْدَلِفَةُ الزُّلَفُ مَنْزِلَةً بَعْدَ مَنْزِلَةٍ وَأَمَّا زُلْفٰى فَمَصْدَرٌ مِنَ الْقُرْبٰى ،ازْدَلَفُوا اجْتَمَعُوا (أَزْلَفْنَا) جَمَعْنَا

[۴۴۱۰] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ - هُوَ ابْنُ زُرَيْعٍ - حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِي عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رضی الله عنه - أَنَّ رَجُلاً أَصَابَ مِنِ امْرَأَةٍ قُبْلَةً، فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَأُنْزِلَتْ عَلَيْهِ (وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ). قَالَ الرَّجُلُ أَلِي هَذِهِ قَالَ «لِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِي». [ر: ۵۰۳]

امام بخاری رحمه الله فرمائی پرله پسې راتلوته زلف وائی ،دا دزلفة جمع ده. ساعات هم پرله پسې راځی په دې وجه دې ته زلف اوونیلې شو مزدلفه ته هم مزدلفه په دې وجه وائی چه پرله پسې خلق رارسی. اوزلفی مصدر دې لکه قربی په معنی نزدیوالې. دالفظ په سورة زمرکښې دې هلته په آیت مبارک کښې دی :(وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى) کوم خلقوچه دالله تعالى نه علاوه دوستان نیولی دی (هغوی وائی) چه مونږ خودهغوی عبادت کو، ددې دپاره چه هغوی مونږ دالله تعالى طرف ته دنزدیکت درجې ته اورسوی.

قوله: أَنَّ رَجُلاً أَصَابَ مِنِ امْرَأَةٍ قُبْلَةً: دا سړې څوک وو، بعضوونیل عمروبن غزیه وو، بعضوونیل کعب بن عمروو و ، بعضوونیل (نبهان تمار) وو او بعضو د عامربن قیس نوم اخستې دې.([1])

قوله: (إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ): بیشکه نیکئ بدئی لره ختموی یوبل آیت کښې دی .(إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ) ([2])اویه حدیث شریف کښې راغلی دی ،، الصلوات الخمس والجمعة الى الجمعة كفارة لما بينهن ما اجتنب الكبائر ،،([3]) بعض حضراتو خو دا ونیلی دی چه حسنات دسیئات دپاره کفاره هغه وخت جوړیږی چه دکبائرارتکاب ئی نه وی کړې ([4]) بعضو ونیلی دی چه دکبائروارتکاب شوې وی نو حسنات به صرف دصغائردپاره کفاره جوړیږی .بعضوونیلی دی چه سړې کله دحسنات اهتمام کوی نوهغه دګناهونونه محفوظ کیږی اوبیا دګناهونوارتکاب نه کوی ،داد معتزله رائی ده .([5]) دجمهورومسلک دادې چه دحسنات په وجه دصغائروکفاره کیږی که هغه دکبائرارتکاب کړې وی که نه .([6])

۱۷۸- باب: تفسیرسورة یُوسُف

وَقَالَ فُضَيْلٌ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ مُجَاهِدٍ (مُتْكَأً) الأُتْرُجُّ قَالَ فُضَيْلٌ الأُتْرُجُّ بِالْحَبَشِيَّةِ مُتْكًا

---

[1]) عمدة القاری ج۱۸ص ۲۹۷_

[2]) (النساء :۳۱)_

[3]) مشکوة : ج۱ص۵۲)_

[4]) فتح الباری)ج ۸ص ۳۵۱)_ وتفسیرروح المعانی (ج۷ص۱۵۷)_

[5]) فتح الباری)ج ۸ص ۳۵۱)_ وتفسیرروح المعانی (ج۷ص۱۵۷)_

[6]) فتح الباری)ج ۸ص ۳۵۱)_ وتفسیرروح المعانی (ج۷ص۱۵۷)_

وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ رَجُلٍ عَنْ مُجَاهِدٍ مُتْكًا كُلُّ شَيْءٍ قُطِعَ بِالسِّكِّينِ.
وَقَالَ قَتَادَةُ (لَذُو عِلْمٍ). عَامِلٌ بِمَا عَلِمَ.
وَقَالَ سعيد ابْنُ جُبَيْرٍ صُوَاعٌ مَكُّوكُ الْفَارِسِيِّ الَّذِي يَلْتَقِي كَانَتْ تَشْرَبُ بِهِ الْأَعَاجِمُ.
وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (تُفَنِّدُونِ) تُجَهِّلُونِ. وَقَالَ غَيْرُهُ غَيَابَةٌ كُلُّ شَيْءٍ غَيَّبَ عَنْكَ شَيْئًا فَهُوَ غَيَابَةٌ
وَالْجُبُّ الرَّكِيَّةُ الَّتِي لَمْ تُطْوَ. (بِمُؤْمِنٍ لَنَا) بِمُصَدِّقٍ. (أَشُدَّهُ) قَبْلَ أَنْ يَأْخُذَ فِي النُّقْصَانِ،
يُقَالُ بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغُوا أَشُدَّهُمْ،

سورة يوسف

د كلماتو تشريح:

قوله: (وَقَالَ فُضَيْلٌ عَنْ حُصَيْنٍ ...): حضرت مجاهد رحمه الله قول دې چه آيت مبارك «وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَأً» كښې «متكا» معنى د«اترنج» ده كله نون په جيم كښې مدغم هم كړى اواترج وائى، دځه معنى چه نارنج ده، دغه شان فضيل هم وئيلى دى چه اترج ته حبشى ژبه كښې متكا وائى اوسفيان بن عينيه ديوسړى په واسطه دحضرت مجاهدرحمه الله نه نقل كړى دى ,,متكا هرهغه څيزته وائى چه په چاړه سره پريكړى شى. په دې لفظ كښې دوه قراء تونه دى، حضرت ابن عباس رضي الله عنه ابن عمر رضي الله عنه اومجاهدوغيره په قراءت كښې همزه نشته اولفظ متكا «دميم په ضمه اود تاء په فتحه اوتشديد اودهمزه په تنوين سره» دى، ([1])ليكن دجمهورو قراء ت ,, متكا«دميم ضمه ، تا فتحه اوتشديد اوهمزه په تنوين سره» دې، امام بخارى رحمه الله دشپږو اوولفظونو تشريح كولونه پس وړاندې بيا په دې لفظ باندې كلام كوى.

قوله: (وَقَالَ قَتَادَةُ (لَذُو عِلْمٍ). عَامِلٌ بِمَا عَلِمَ: په آيت كښې دى «وَإِنَّهُ لَذُو عِلْمٍ لِمَا عَلَّمْنَاهُ» قتاده رحمه الله فرمائى دې كښې دذوعلم نه مراد هغه سړې دې چه په خپل علم باندې عمل كونكې وى.

قوله: (وَقَالَ سعيد ابْنُ جُبَيْرٍ صُوَاعٌ مَكُّوكُ الْفَارِسِيِّ الَّذِي يَلْتَقِي كَانَتْ تَشْرَبُ بِهِ الْأَعَاجِمُ):

صواع څه شې دې؟: په آيت كښې دى «قَالُوا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ» حضرت سعيد بن جبير رحمه الله فرمائى چه صواع دفارس دخلقويوه پياله ده دكوموبه چه دواړه طرفونه يوبل سره ملاؤ شوې ووعجم خلقو به په دې كښې اوبه څكلې ([2]) مكوك «دميم فتحه كاف ضمه مشدده اوواوسكون سره» د

---

[1]) روح المعانى : ج ۱۲ص۲۲۸) _
[2]) وفى فيض البارى : ٤_

عراقيانو ديوې پيمانې نوم دې، دمصري بادشاه داصواع دچاندئي وواومرغلرې په دې لګيدلې وې ،لويوخلقوبه په دې كښې اوبه څكلې اوهغې نه پس به بياد پيمانې په توګه هم استعماليدله .

قوله: (وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (تُفَنِّدُونِ) تُجَهِّلُونِ): په آيت كښې دى (إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلَا أَنْ تُفَنِّدُونِ) ديوسف عليه السلام پلاراوونيل كه چرې تاسوخلق ماپه بوډاوالى كښې ګډې وډې خبرې كونكې نه ګڼرئي نو(يوه خبره كوم چه) ماله خوديوسف بوئى راځى .حضرت ابن عباس رضي الله عنهما بيان اوكړوچه په آيت كښې تفندون معنى تجهلون ده ،يعنى كه تاسوراته جاهل اونه وائې ،نقصان دعقل طرف ته منسوب نه كړئى .

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ غَيَابَةٌ الجب: كُلُّ شَيْءٍ غَيَّبَ عَنْكَ شَيْئًا فَهُوَ غَيَابَةٌ:

دغيابة الجب نه څه مراد دې؟: دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه سواغيريعنى ابوعبيده رحمه الله فرمائيلې دى چه آيت (وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ) (غيابة) اطلاق په هرهغه څيزباندې كيږى چه تانه څه بل غائب كړى اوجب هغه كوهى ته وائى دكوم چه شپول اوغاړې نه وى جوړې شوې (١)غيابة الجب نه مراد بعضې خلقودكوهى تياره اخستې ده ،بعضوونيلى دى دينه مراد قعرينر دې. څكه چه قعركښې كله څه څيزپريوزى نوهغه به هغه پټ كړى اودپاس خلقوته هغه نه ښكارى. بعضې حضراتو وئيلى دى چه دينه مراددكوهى په مينځ كښې اوبه اود اوبودپاسه جوړشوى هغه طاخ دې چه دضرورت دپاره په كوهى كښې عام توګه باندې جوړولې شى . (٢)

قوله: (بِمُؤْمِنٍ لَنَا) بِمُصَدِّقٍ لنا: په آيت كښې دى ن(وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا فَأَكَلَهُ الذِّئْبُ وَمَا أَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ)اويوسف مونږ دخپل سامان سره پريخودوبياهغه شرمخ اوخوړلو او تاسو خو زمونږ خبره منونكى نه ئې، يعنى تصديق كونكې نه ئې (څكه په مونږ ستاسو بدګمانى ده).

قوله: (يُقَالُ بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغُوا أَشُدَّهُمْ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ وَاحِدُهَا شَدٌّ):

د بلغ اشده مصداق: په آيت كښې دى .(وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا) اشد نه مراد هغه عمردې چه دنقصان ،زوال او انحطاط نه اول وى په كوم كښې چه سړى دلوئيدلو په اعتبارسره مكمل شوې وى ،ديرشوكالوپورې سړې لوئيږى دې نه پس بيا انحطاط شروع كيږى او اشدد واحداوجمع دواړودپاره استعماليږى .وائى (ابى بلغ اشده ،بلغوا اشدهم) بعضوخلقووئيلى دى ددې واحدشد دې ،بعضهم نه سيبويه مراد دى ،(٣)

(١) وقال الراغب فى المفردات : ٨٥ جب اى بئرلم نطو،وتسميته بذلک امالکونه محفورا فى جيوب اى فى ارض غليظه وامالانه قدجب والجب قطع الشئ من اصله »_

(٢) (روح المعانى :١٢ ص١٩٢)

(٣) عمدة القارى :ج ١٨ص ٣٠٠) ليكن علامه آلوسى ليكلى دى چه ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

(وَالْمُتَّكَأُ مَا اتَّكَأْتَ عَلَيْهِ لِشَرَابٍ أَوْ لِحَدِيثٍ أَوْ لِطَعَامٍ. وَأَبْطَلَ الَّذِي قَالَ الْأُتْرُجُّ، وَلَيْسَ فِي كَلَامِ الْعَرَبِ الْأُتْرُجُّ، فَلَمَّا احْتُجَّ عَلَيْهِمْ بِأَنَّهُ الْمُتَّكَأُ مِنْ نَمَارِقَ فَرُّوا إِلَى شَرٍّ مِنْهُ، فَقَالُوا إِنَّمَا هُوَ الْمُتْكُ سَاكِنَةَ التَّاءِ، وَإِنَّمَا الْمُتْكُ طَرَفُ الْبَظْرِ وَمِنْ ذَلِكَ قِيلَ لَهَا مَتْكَاءُ وَابْنُ الْمَتْكَاءِ، فَإِنْ كَانَ ثَمَّ أُتْرُجٌّ فَإِنَّهُ بَعْدَ الْمُتَّكَإِ).

دائي دوباره ددي لفظ تشريح شروع کړه ،مناسب داوه چه مذکوره تشريح ،د ړومبنۍ تشريح سره مفصل وی، فرمائی المتكا (باب افتعال نه صيغه داسم مفعول (١) هغه څيزته وائی په کوم چه دځکلووخت کښې يا د خبروکولوپه وخت ،يادخوراک په وخت کښې په مجلس کښې ډډه لګوی دالفظ ,,مُتْك،، دې دې تاء سکون سره،حالانکه ,,مَتْك،، د ښځې د شرمګاه غاړې ته وائی (دښځې د سنت کولو نه پس چه د شرمګاه کومه حصه باقی پاتې کيږی هغې ته ,,مَتْك،، وائی.او هم په دې وجه (چه د کومې ښځې چه سنت نه وی شوی) هغې ته مَتْكَاء (ميم فتحه سره) وای اودهغې ځوی ته ابن المتكاء وائی بياکه چرې هلته (مجلس زليخاکښې) نارنجان ووهغه به ئی هم دمسنداوتکيه نه پس راوړی وی .

په ,,متكا،، کښې دوه قراء تونه: لکه چه دینه وړاندې تيرشوی چه په مذکوره آيت کښې دوه قراتونه دی يوقراء ت دجمهورو دې او دويم قراء ت دمجاهد رحمه الله وغيره نه منقول دې چه شاذ دې، د جمهورو قرأت ,,مُتَّكَأ،،دې او د مجاهد قرأت ,,مُتْكًا،،دې چه ددې معنی مجاهد اترج (نارنج) بيان کړې ده ،امام بخاری رحمه الله دمجاهد رحمه الله دقراءت ترديدکوی اوفرمائي چه دمتک معنی کلام عرب کښې اترج نه ده بلکه ددې معنی دشرمګاه غاړه راځی چه په آيت کښې په يوشان هم صحيح نه ده .

ليکن حقيقت دادې چه دامام بخاری رحمه الله دااشکال صحيح نه دې، دا قراء ت دابن عباس رضی الله عنهما نه مجاهد رحمه الله نقل کوی دې ته څنګه غلط وئيلی شي اود,,متک ،،معنی څنګه چه دشرمګاه غاړه راځی بالکل همدغه شان ددې معنی اترج هم راځی ، اهل لغت ,,متک،، ليکې ته. (٢) نو دامام بخاری رحمه الله داوينا چه متک په معنی د اترج دعربوپه کلام کښې مستعمل نه دې محل نظردې .بعضې حضراتووئيلی دی چه امام بخاری رحمه الله دلته دابوعبيده رحمه الله ړوند تقليد کړيدې څکه ددې غلطۍ ښکار شويدې،علامه عينی رحمه الله وقلد اباعبيده والافة من التقليد،(٣)

...بقيه ازحاشيه گذشته] دسيبويه په نيزد داد ,, شدة جمع ده لکه نعة چه جمع دانعم دې امام فراء په نيزددا دشد جمع ده ،لکه چه دصک جمع اصک راځی (اوګوری:روح المعانی :ج١٢ص٢٠٩)

(١) واصله موتكاء لانه من توكات فابدلت الواو تاءً وادغمت فی مثلها (روح المعانی :ج ٢ص٢٢٨)_

(٢)روح المعانی :ج ١٢ص٢٢٨وعمدة القاری ج١٨ص ٣٠٠)_

(٣) عمدة القاری (ج١٨ص٣٠١)_

(شَغَفَهَا) يُقَالُ إِلَى شِغَافِهَا وَهُوَ غِلَافُ قَلْبِهَا، وَأَمَّا شَعَفَهَا فَمِنَ الْمَشْعُوفِ (أَصْبُ) أَمِيلُ. (أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ) مَا لَا تَأْوِيلَ لَهُ، وَالضِّغْثُ مِلْءُ الْيَدِ مِنْ حَشِيشٍ وَمَا أَشْبَهَهُ، وَمِنْهُ (وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا) لَا مِنْ قَوْلِهِ (أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ) وَاحِدُهَا ضِغْثٌ (نَمِيرُ) مِنَ الْمِيرَةِ (وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ) مَا يَحْمِلُ بَعِيرٌ. (أَوَى إِلَيْهِ) ضَمَّ إِلَيْهِ، السِّقَايَةُ مِكْيَالٌ (تَفْتَأُ) لَا تَزَالُ. (حَرَضًا) مُحْرَضًا، يُذِيبُكَ الْهَمُّ (تَحَسَّسُوا) تَخَبَّرُوا. (مُزْجَاةٍ) قَلِيلَةٍ (غَاشِيَةٌ مِنْ عَذَابِ اللَّهِ) عَامَّةٌ مُجَلِّلَةٌ.

قوله: (شَغَفَهَا) يُقَالُ إِلَى شِغَافِهَا وَهُوَ غِلَافُ قَلْبِهَا، وَأَمَّا شَعَفَهَا فَمِنَ الْمَشْعُوفِ): په آیت کښې دی (قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا) یعنی دیوسف علیه السلام محبت دهغې دزړه دپردې پورې اورسیدلواوپه یو قراء ت کښې په شعفها (دعین مهمله سره) هم راغلې دې (۱) دا د مشعوف نه دې اومشعوف هغه سړی ته وائی دچازړه چه دمحبت په وجه سوزیدلې وی.

قوله: (أَصْبُ) أَمِيلُ: په آیت کښې دی (وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُنْ مِنَ الْجَاهِلِينَ) او اې الله، که هم ته زمانه ددوی دا دوونه اوپیچونه لرې نه کړې نوممکن ده چه زۀ هم ددوی طرف ته مائل شم. فرمائی چه په آیت کښې (اصب) په معنی (امیل) ده یعنی زۀ به مائل شم.

قوله: وَالضِّغْثُ مِلْءُ الْيَدِ مِنْ حَشِيشٍ وَمَا أَشْبَهَهُ، وَمِنْهُ (وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا) لَا مِنْ قَوْلِهِ (أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ) وَاحِدُهَا ضِغْثٌ): په آیت کښې دی قَالُوا أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الْأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ امام بخاری رحمه الله داضغاث احلام نه هغه پریشانه خوب مراد دې دکوم چه څه تعبیرنه وی ددې مفرد ,,ضغث،، دې دضغث معنی وابښه اوددې په شان نورخیزونه (ډکی وغیره) نه لاس ډکول راځی. سورة ص دا آیت هم په دې معنی کښې دې لیکن دلته سورة یوسف کښې دامعنی مراد نه ده، دلته ددې نه پریشانه خوب مراد دې (لامن قوله: اضغاث احلام) نه دې طرف ته اشاره ده. (۲)

قوله: (نَمِيرُ) مِنَ الْمِيرَةِ: (په آیت کښې دی (وَنَمِيرُ أَهْلَنَا وَنَحْفَظُ أَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ) فرمائی ,,نمیر،، میرة،، نه ماخوذ دې دکوم معنی طعام اوغله ده، دباب ضرب (مارا هله ..... میرا) دکرخلقو دپاره غله راوړل. د (ونمیراهلنا) معنی به وی ,,مونږ دخپل کوروالا دپاره غله اوطعام حاصل کړو (کیل بعیر) نه مراد دومره غله کوم چه یو اوښ اوچتولې شی.

قوله: (أَوَى إِلَيْهِ) ضَمَّ إِلَيْهِ): په آیت کښې دی (وَلَمَّا دَخَلُوا عَلَى يُوسُفَ آوَى إِلَيْهِ أَخَاهُ) اوچه کله

---

(۱) روح المعانی: ج ۱۲ص ۲۲۶)

(۲) وفی المفردات للراغب: ۲۹۸الضغث قبضة ریحان اوحشیش وجمعه اضغاث قال وخذ بیدک ضغثا وبه شبه الاحلام المختلطة التی لایتبین حقائقها قالوا اضغاث احلام حزم اخلاط من الاحلام

داخلق يعنى ديوسف عليه السلام رونړه) يوسف عليه السلام ته اورسيدل (اوبنيامين ئې پيش کړوچه مونږ ستاسو دحکم موافق دا راوستلو) هغه خپل رور خپل ځان سره کړو. فرمائى چه آيت کښې (آوٰى اِلَيْهِ) معنى ده (ضم اليه) خپل ځان سره ئې يوځائ کړو، خپل ځان سره ئې ځائ ورکړو.

قوله: ، السِّقَايَةُ مِكْيَالٌ: په آيت کښې دى (فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ فِيْ رَحْلِ اَخِيْهِ) بيا چه کله يوسف عليه السلام دهغه سامان تيار کړونو داوبوڅکلولوښې (همدغه پيمانه دغلې ورکولوهم وه) ئې دخپل ورور په سامان کښې کيخودله. فرمائى چه دسقايه معنى پيمانه ده.

قوله: (تَفْتَأُ) لاتَزَالُ: په آيت دى (قَالُوْا تَاللهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوْسُفَ حَتّٰى تَكُوْنَ حَرَضًا اَوْ تَكُوْنَ مِنَ الْهَالِكِيْنَ)

امام بخارى رحمه الله فرمائى چه دې کښې ,, تفتوه ،، دلاتزال په معنى کښې دې ،، دلته لا، محذوف دې اصل عبارت لاتفتا دې دکوم معنى چه هميشه ده اوحرضا، مصدر دمحرضا،، اسم مفعول په معنى کښې دې، په معنى د مضمحل ، ،بيمار، امام بخارى رحمه الله ددې تفسير کړې ,يُذِيبُك الهمّ،، مطلب دادې چه هغوى به برابر يوسف عليه السلام يادولوتردې چه دهغوى غم هغوى ويلې کړى وو.

قوله: (تَحَسَّسُوا) تَخَبَّرُوا: په آيت کښې دى (يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ) لاړشئ اويوسف او دهغه رور اولټوئ فرمائى چه آيت کښې تحسسوا،،په معنى د(تخبروا) دې يعنى تاسو خبر واخلئ دتحس معنى ده خبراخستل ،لټول،تلاش کول.

قوله: (مُزْجَاةٍ) قَلِيْلَةٍ): آيت کښې دى (وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجٰىةٍ) اومونږ خراب څيزراوړې دې،يعنى کمې پسې اوخراب قميت موراوړې دې فرمائى چه آيت کښې دمزجاة معنى قليل او ناقص ده.

قوله: (غَاشِيَةٌ مِنْ عَذَابِ اللهِ) عَامَّةٌ مُجَلِّلَةٌ): آيت کښې دى (اَفَاَمِنُوْا اَنْ تَاْتِيَهُمْ غَاشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ اللهِ اَوْ تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ) د,, غاشية تفسيراوکړو(عامة مجللة يعنى يولوئ عذاب (جلل الشئ تجليلا) عام کيدل ،داد غاشية صفت دې، دآيت مطلب دې آيا هغه خلق دې خبرې سره په امن کښې ووچه په دوى به دالله تعالى دعذاب نه يوخوريدونکې مصيبت راشى يا په هغوى باندې ناڅاپې قيامت راشى اوهغوى ته پته هم نه وى.

١٧٩ = باب قوله: وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَعَلٰى آلِ يَعْقُوبَ كَمَا أَتَمَّهَا عَلَى أَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ

[٤٤١١] وَقَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما - عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم -

قَالَ «الْكَرِيمُ بْنُ الْكَرِيمِ بْنِ الْكَرِيمِ بْنِ الْكَرِيمِ يُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ». [ر: ٣٢٠٢]

١٨٠= باب قوله: لَقَدْ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِ آيَاتٌ لِلسَّائِلِينَ

[٤٤١٢] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَيُّ النَّاسِ أَكْرَمُ قَالَ «أَكْرَمُهُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاهُمْ». قَالُوا لَيْسَ عَنْ هَذَا نَسْأَلُكَ. قَالَ «فَأَكْرَمُ النَّاسِ يُوسُفُ نَبِيُّ اللَّهِ ابْنُ نَبِيِّ اللَّهِ ابْنِ نَبِيِّ اللَّهِ ابْنِ خَلِيلِ اللَّهِ». قَالُوا لَيْسَ عَنْ هَذَا نَسْأَلُكَ. قَالَ «فَعَنْ مَعَادِنِ الْعَرَبِ تَسْأَلُونِي». قَالُوا نَعَمْ. قَالَ «فَخِيَارُكُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُكُمْ فِي الإِسْلاَمِ إِذَا فَقِهُوا». تَابَعَهُ أَبُو أُسَامَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ.

١٨١= باب قَوْلِهِ (قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا) (٣)

(سَوَّلَتْ) زَيَّنَتْ

[٤٤١٣] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ. قَالَ وَحَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ النُّمَيْرِيُّ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ الأَيْلِيُّ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ سَمِعْتُ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ وَسَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ وَعَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ وَعُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ حَدِيثِ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - حِينَ قَالَ لَهَا أَهْلُ الإِفْكِ مَا قَالُوا فَبَرَّأَهَا اللَّهُ، كُلٌّ حَدَّثَنِي طَائِفَةً مِنَ الْحَدِيثِ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «إِنْ كُنْتِ بَرِيئَةً فَسَيُبَرِّئُكِ اللَّهُ، وَإِنْ كُنْتِ أَلْمَمْتِ بِذَنْبٍ فَاسْتَغْفِرِي اللَّهَ وَتُوبِي إِلَيْهِ». قُلْتُ إِنِّي وَاللَّهِ لاَ أَجِدُ مَثَلاً إِلاَّ أَبَا يُوسُفَ (فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ) وَأَنْزَلَ اللَّهُ (إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالإِفْكِ) الْعَشْرَ الآيَاتِ.

[٤٤١٤] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ حَدَّثَنِي مَسْرُوقُ بْنُ الأَجْدَعِ قَالَ حَدَّثَتْنِي أُمُّ رُومَانَ وَهْىَ أُمُّ عَائِشَةَ قَالَتْ بَيْنَا أَنَا وَعَائِشَةُ أَخَذَتْهَا الْحُمَّى، فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «لَعَلَّ فِي حَدِيثٍ تُحُدِّثَ». قَالَتْ نَعَمْ وَقَعَدَتْ عَائِشَةُ قَالَتْ مَثَلِي وَمَثَلُكُمْ كَيَعْقُوبَ وَبَنِيهِ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ.

دا آيت په سورة يوسف په دوو ځايونوكښې دې، يودسورة يوسف په دويمه ركوع كښې دې ،كله چه حضرت يوسف عليه السلام دهغه رونړوبوتلو اوكوهى كښې ئې وركذاركړو نو حضرت يعقوب عليه السلام ته هغوى اووئيل چه هغه شرمخ اوخوړلواودحضرت يوسف عليه السلام په قميص ئې ددروغووينه اولګوله او رائيوړه حضرت يعقوب عليه السلام چه قميص اوكتلونوئى فرمائيل (قَالَ

﴿بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ أَنفُسُكُمۡ أَمۡرٗاۖ فَصَبۡرٞ جَمِيلٞۖ﴾ يعنى دا تاسوتا ستاسو زړونو يوه خبره جوړه كړه اوي هم صبربهتر دي.

حضرت مولانا شبيراحمد عثمانى رحمه الله ددې آيت په فائده كښې ليكى: ښه چه كوم سړى په شام كښې ناست وى اودمصرنه ديوسف عليه السلام دقميص خوشبوئى ورله راځى نوهغه دبكرى په وينه دحضرت يوسف عليه السلام دوينى ګمان څنګه كولې شو. هغه اوريدو سره دروغ اوګنړله اولكه څنګه چه په بعضې تفاسيروكښې دى ،وئيل ئې چه واقعى هغه شرمخ به ډيرحليم اومتين وى چه يوسف عليه السلام ئې يوړلو اودوينو لړلې قميص ئې ډير په احتياط سره صحيح سالم اوويستلو اوكيخودو. رښتيا دى چه ,, دروغګو را حافظه نه باشد ،، دوينو څاڅكى خوئى وركړه ولې داخيال ورته اونه شوچه قميص ئى بې ترتيبه راښكلې اوشلولې پيش كړې وې حضرت يعقوب عليه السلام صفااوفرمائيل چه داټول ستاسوسازش اوستاسودزړونو نه جوړې شوې خبرې دى .زه صبر جميل اختيارووم په كوم كښې چه نه دغيربه وړاندې څه ګيله وى اونه تاسونه دانتقام كوشش صرف دخپل خدائى نه كوم چه په دې صبر كښې زما امداد اوكړى اوپه خپل غيبى اعانت سره چه كومې خبرې تاسو وائى دهغې حقيقت داسې راښكاره كړى چه په سلامتې سره يوسف عليه السلام سره دوباره ملاويدل رانصيب شى، معلوميږى چه حضرت يعقوب عليه السلام خبركړيشوې ووچه په كوم امتحان كښې هغوى راګيركړې شوى دى هغه به پوره كيږى اود يوې مودې متعين نه پس به ددې مصيبت نه خلاصې ملاويږى. موجوده وخت كښې لټون يا دانتقام تدبيرونه اختيارولو هيڅ فائده نشته ،يوسف عليه السلام به اوس نه ملاويږى اودا خبره ده چه نورخامخه به مې په ټوله دنيا كښې رسوا كيږى اوممكن ده چه په غصه كښې راشى اوحضرت يعقوب عليه السلام ته دنقصان رسولوكوشش اوكړى.(١)

دويم ځائى كښې داآيت دسورة يوسف په لسمه ركوع كښې دې ،كله چه بنيامين حضرت يوسف عليه السلام خپل خان سره حصاركړواوپه يوه خاص بهانه باندې ئې بنيامين دتلونه منع كړونوروڼړه ئې راغله اوحضرت يعقوب عليه السلام ته ئې اووئيل چه بنيامين غلا كړې وه دهغې په وجه ئې اونيولو نو هغه وخت هم حضرت يعقوب عليه السلام اوفرمائيل:

د ايت كريمه په تفسير باندې يواشكال او دهغې جوابات: اوس اشكال داپيدا كيږى چه په دې بله موقع باندې خوئى روڼړو رښتيا وئيلى وو دهغې باوجود حضرت يعقوب عليه السلام دهغوى خبره دروغ اوګنړله اودهغوى په خبره ئې اعتبار اونه كړو، حضرت يعقوب عليه السلام دالله تعالى نبى دې نوهغه يوه غلطه خبره څنګه كولې شى ؟

① ددې اشكال يوجواب خوشاه عبدالقادر رحمه الله وركړې دې هغوى فرمائى داولنى ځل بې اعتبارۍ په وجه داځل هم حضرت يعقوب عليه السلام دخامنواعتبار اونه كړو ليكن دنبى كلام دروغ نه وى دخامنوجوړه شوې خبره وه. حضرت يوسف عليه السلام هم خوئ وونوكله چه د لكم خطاب

---

(١) تفسير عثمانى: ٣١٤_١٥ فائده نمبر١)_

دجنس ,, ابناء،، طرف ته اوشو، (۱) ددې حاصل دادې چه داخل خامنوځه اوونیل هغه رښتیا وولیکن دحضرت یعقوب علیه السلام په مذکوره جمله کښې اشاره دحضرت یوسف علیه السلام دبهانې طرف ته وه

② حضرت مولانا شبیراحمد عثمانی رحمه الله یوبل جواب ورکړې دې هغوی فرمائی بعضې مفسرینو دامطلب اخستې دې چه تاسودلته نه دحفاظت څنګه وعده او اصرار کولوسره بوتلو هلته په رسیدوباندې دومره هم اونه کړیشو چه ددهٔ دسامان نه پیاله راوتلوسره غلا څنګه ثابته شوه کیدیشی چه بل چا پټه کړې وی مدافعت خوبه موکړې وو،دې وئیلوسره چه اول دده رور غلا کړې وه هغه جرم نی پوخ کړو که ستاسوپه زړه کښې خرابی نه وه نودالار به مونه اختیاروله ، اوس دخبروجوړولودپاره راغلی ئې (۲) ددې جواب مطلب دادې چه حضرت یعقوب علیه السلام د بنیامین په قصه کښې دتسویل نسبت په دې وجه کړې دې چه کله دبنیامین دکجاوې نه پیاله راؤوتله اوپه هغه باندې دغلا الزام اولګولې شونوهغه وخت نی رونړو وئیلی وو،، دبنیامین طرف ته هغوی دغلا نسبت اوکړو اوهغوی تحقیق نه ووکړې ،په دې وجه حضرت یعقوب علیه السلام دتسویل اسناد دهغوی طرف ته اوکړو. دغه شان چه هغوی کومه جزا اوسزاتجویزکړې وه چه چاسره پیمانه راووتله هغه دې اونیولې شی داسزاهغوی دخپل طرف نه مقرر کړې وه، دمصربادشاه سره دغل داسزا نه وه .

③ دریم جواب داورکړې شوې دې چه دلته دحضرت یعقوب علیه السلام نه اجتهادی غلطی شوې اوهغه دخامنو رښتونې خبره اونه منله لیکن دهغوی رښتیا خبره نه منلویوه معقول وجه وه ،ددې نه وړاندې دحضرت یوسف علیه السلام په حق کښې دهغوی تجربه شوې وه چه رونړونی دهوکې نه کار اخستې دې اوس دلته داخبره واضحه وه سارق قید کول اودغلا په بدله کښې هغه اخستل صرف دحضرت یعقوب علیه السلام دشریعت سزا وه،په بل شریعت کښې هغه وخت دغل داسزا مقررنه وه اونه دمصردبادشاه دقانون لاندې دغلا داسزاوه .حضرت یعقوب علیه السلام پوهه شوچه دغلا ښکاره کیدو نه پس هغوی دخپل شریعت مطابق څکه فتوی ورکړه چه بنیامین بندکړې په دې وجه هغوی هغه خبره غلطه اوګنړله اویوه صحیح خبره په دې وجه غلطه ګرځول چه دهغې دغلط کیدلوقرائن موجود وی هیڅ قابل جرح امرنه دې علامه آلوسی رحمه الله لیکی :

وذكر ابن المنير في توجيه هذا القول ههنا ......انهم كانوا عند ابيهم عليه السلام حينئذ متهمين، وهم قمن باتهامه لما اسلفوه في حق يوسف عليه السلام وقامت عنده قرينة تؤكد التهمة تقويها وهو اخذ الملك له في السرقة ، ولم يكن ذلك الا من دينه لامن دين غيره من الناس ،فظن انهم الذين افتوه بذلك بعد ظهور السرقة التي ذكروها تعمدا ،ليتخلف دونهم ، واتهام من هو بحيث يتطرق اليه التهمة لا حرج فيه، لاسيما فيما يرجع الى الوالد مع الولد. (۳)

---

(۱) تفسیر عثمانی : ۳۱۴_۱۵ فائده نمبر ۲)_

(۲) تفسیر عثمانی : ۳۱۴_۱۵ فائده نمبر ۳)_

(۳) روح المعانی ج ۱۳ ص ۳۹)_

۱۸۲=باب قوله (وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَنْ نَفْسِهِ وَغَلَّقَتِ الأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ). (۴)

وَقَالَ عِكْرِمَةُ هَيْتَ لَكَ بِالْحَوْرَانِيَّةِ هَلُمَّ. وَقَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ تَعَالَهُ

قوله: هيت،،: دهاء کسره اوفتح دواړه شان سره نقل کړې شوې دي ،عکرمه رضی الله عنه فرمائی چه داحورانی لغت دې اوهلم معنی کښې دې، حوران دشام دیوښار نوم وو[۱]ددې طرف ته دامنسوب دی ،امام سدی رحمه الله فرمائی دادقبطی ژبې لفظ دې [۲]اودحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه منقول دی چه دادسریانئ ژبې لفظ دې اوبعضې وائي چه داعبرانی ژبه کښې استعمالیږی لیکن دجمهورو رائې ده چه دالفظ دعربې ژبې دې [۳].

[۴۴۱۵] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ هَيْتَ لَكَ قَالَ وَإِنَّمَا نَقْرَؤُهَا كَمَا عُلِّمْنَاهَا (مَثْوَاهُ) مُقَامُهُ (أَلْفَيَا) وَجَدَا (أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ) (أَلْفَيْنَا) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ (بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ)

د سورة صافات ددې لفظ په سورة یوسف کې د ذکر کولو وجه:د دې تعلق دسورة یوسف سره نه دې بلکه داپه سورة الصافات کښې واقع دې ،امام بخاری رحمه الله داولې دلته ذکر کړو، بعضې حضراتو وئیلی دی چه دائې دلته بې محل ذکرکړې دې. دلته ددې دراوړلو هیڅ مناسبت نشته [۴] لیکن دبخاری بعضو شراحو ددې مناسبت بیان کړې دې چه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په قراءت کښې ,, بل عجبت ،، دتاء ضمه سره ده، او,,هیت ،، کښې هم یوقراءت نو ددې د راوړلوسره امام بخاری دې طرف ته اشاره کول غواړی لکه چه څنګه,, بل عجبت ،،کښې یوقراءت دتاء په ضمه سره دې دغه شان ,,هیت لک ،، کښې هم یو قراءت دتاء په ضمه سره دې. [۵]

په ,,بل عجبت ویسخرون،، کې د عجبت په یو قراءت باندې د قاضی شریح یو اشکال او دهغې جواب: قاضی شریح دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه نقل شوې ,, بل عجبت ،، کښې دتاء دضمه والا قراءت رد کړې دې څکه چه په دې صورت کښې به مطلب داشی چه الله تعالی

---

[۱] عمدة القاری :۲۸ص۳۰۵)_

[۲] فتح الباری :(ج ۸ص ۳۶٤)_

[۳] فتح الباری :(ج ۸ص ۳۶٤)_

[۴] عمدة القاری :۱۸ص۳۰۶)_

[۵] قال الکرمانی رحمه الله شرحه البخاری :ج۱۷ص۱۶۳ فان قلت هذه فی سورة الصافات فلم ذکرماهنا؟ قلت لبیان ان ابن مسعودیقرا مضموماکما یقر اهیت مضموما وفی اللامع : ج۹ ۱۱۳_۱۱٤) قوله هیت لک قراء ابن مسعود رضی الله عنه بضم التاء والاخرون بفتحها وعلیه مدار اعتراض ابی وائل وکذلک اختلف ابی مسعود مع المجهورفی قوله بل عجبت ولذلک اوردالمولف نظیرالاختلاف ._

فرمائی زۀ تعجب کوم اوتعجب خوهغه سړې کوی چه دحقیقت حال نه خبرنه وی ولې الله تعالی خو دهرحال حقیقت نه خبر دې نو دتعجب اسناد دالله تعالی طرف ته به صحیح نه وی لیکن ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائی چه قاضی شریح دخپل علم په وجه په عجب اوحیرانتیا کښې اخته شوې دې اوهغه دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په شان دجلیل القدرصحابی اودقراءت دعالم قراءت ئې رد کړو. حالانکه رسول الله صلی الله علیه وسلم سره اختصاص ساتونکې دومره لوئ صحابی یوقراءت دخپل خان نه خونه شی جوړولې بلکه خامخابه ئې درسول الله نه څه اوریدلې وی په دې وجه دقاضی شریح دا وینا چه مذکوره قراءت صحیح نه دې محل نظرده .

ترکومې چه دقاضی شریح داشکال تعلق دې چه په دې صورت کښې به دتعجب اسناد دالله تعالی طرف ته شی نود دې یوجواب خودا دې چه دلته ,,قل محذوف اومنلې شی یعنی اې نبی صلی الله علیه وسلم تاسو اووائی چه ماته حیرانتیا ده په دې صورت کښې نواسنادبه دالله تعالی طرف ته نه کیږی اودویم جواب دادې که دتعجب نسبت دالله تعالی طرف ته هم وی نوبه هغه صورت کښې به ددې هم هغه معنی مراد اخستې شی چه د الله تعالی دشان لائق اوسزا وار وی. مثلاً دا مطلب بیانولې شی چه زه داسې معامله کوم لکه څنګه چه تعجب کونکې معامله کوی په حقیقت کښې تعجب کول مراد نه دی .

[۴۴۱۲] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ-رضي الله عنه-أَنَّ قُرَيْشًا لَمَّا أَبْطَئُوا عَنِ النَّبِيِّ-صلى الله عليه وسلم-بِالإِسْلاَمِ قَالَ « اللَّهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ « فَأَصَابَتْهُمْ سَنَةٌ حَصَّتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى أَكَلُوا الْعِظَامَ حَتَّى جَعَلَ الرَّجُلُ يَنْظُرُ إِلَى السَّمَاءِ فَيَرَى بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا مِثْلَ الدُّخَانِ قَالَ اللَّهُ (فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ) قَالَ اللَّهُ (إِنَّا كَاشِفُو الْعَذَابِ قَلِيلاً إِنَّكُمْ عَائِدُونَ) أَفَيُكْشَفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَقَدْ مَضَى الدُّخَانُ وَمَضَتِ الْبَطْشَةُ .[ر: ۹۶۲]

ددې روایت دترجمة الباب سره په ظاهره هیڅ تعلق په نظرنه راځی خکه چه په روایت کښې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دقریشودپاره خیرې اوکړې دڅه په نتیجه کښې چه په هغوی قحط راغلو هغوی صلی الله علیه وسلم په خیروکښې فرمائیلی وو «اللهم اکفنیهم بسبع کسبع یوسف» لیکن په روایت کښې صرف دحضرت یوسف علیه السلام نوم راتلل دمناسبت دپاره کافی نه دی بعضې حضراتو فرمائیلی دی چه ددې روایت په بل طریق کښې دی چه کله په قریشوباندې دقحط سختی شوه نو ابوسفیان رضی الله عنه دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت حاضرشو اووئی وئیل چه تاسوخوصله رحمئ حکم ورکوئ .ستاسوقوم دولږی مری دهغوی دپاره دعا اوکړئ .هغوی صلی الله علیه وسلم دقریشو دظلمونو اودهغوی قصورمعاف کړواودهغوی دپاره ئې دعا اوکړه اوتیک هم هغه شان اوشو څنګه چه حضرت یوسف علیه السلام دخپلوروڼوظلمونه اودزلیخا قصورمعاف کړې وواودهغوی نه ئې هیڅ قسم بدله نه وه اخستې.په دې مناسبت سره امام بخاری رحمه الله داحدیث دلته ذکرکړې دې .[1]

[1]) عمدة القاری :ج۱۸ص۳۰۷)_

۱۸۳-باب قَوْلِهِ (فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدْتُنَّ يُوسُفَ عَنْ نَفْسِهِ قُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ)

وَحَاشَ وَحَاشَى تَنْزِيهٌ وَاسْتِثْنَاءٌ (حَصْحَصَ) وَضَحَ

[۴۴۱۷] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ تَلِيدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْقَاسِمِ عَنْ بَكْرِ بْنِ مُضَرَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَأَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «يَرْحَمُ اللَّهُ لُوطًا، لَقَدْ كَانَ يَأْوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ، وَلَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ مَا لَبِثَ يُوسُفُ لَأَجَبْتُ الدَّاعِيَ، وَنَحْنُ أَحَقُّ مِنْ إِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ لَهُ (أَوَلَمْ تُؤْمِنْ قَالَ بَلَى وَلَكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي).

عبد الرحمن بن القاسم: دا امام مالک رحمه الله شاګرد دې اودهغه سلسله نسب داده عبدالرحمن بن القاسم بن خالد بن جنادة العتقى، المصرى.

امام ابوزرعه رحمه الله دهغوی باره کښې فرمائی ثقة رجل صالح،،

امام نسائی رحمه الله فرمائی ،،ثقة مامون احد الفقهاء،،

امام حاکم رحمه الله فرمائی ثقة مامون،، اوابن حبان رحمه الله کتاب الثقات کښې دهغه ذکرکړیدې. دهغوی وفات ۲۱ صفر ۱۹۱ هجرۍ کښې شوې اوولادت باره کښې ئې درې قوله دی ۱۲۸ھ ۱۲۱ھ او۱۳۲ھ امام بخاری، امام نسائی اوامام ابوداؤد رحمه الله په ,,مراسیل کښې دهغوی نه روایت کوی. (۱)

قوله: لقد کان یاوی الی رکن شدید):

د ''لقد کان یاوی الی رکن شدید،، معنی: یعنی حضرت لوط علیه السلام رکن شدید طرف ته مائل وو که د رکن شدید نه مرادالله تعالی وی اوظاهرخبره ده چه دالله تعالی نه سوابل څوک رکن شدید کیدیشی په دې صورت کښې دهغوی دعا،، یرحم الله لوطا......،، دمدح په توګه به وی چه دهغوی مقام څومره لوئی دې ،څنګه څنګه مصیبتونه راغلل لیکن حضرت لوط علیه السلام کله

---

(۱) عبدالرحمن بن القاسم الفقیه مشهور صاحب مالک وراوی المدونة ،،من علم مالک ولیس له فی البخاری سوی هذالموضع والاسناد مسلسل بالمصریین الی یونس بن یزیدوالباقون مدنیون وفیه روایة الاقران لاعمروبن الحارث المصری بالفقیه المشهورمن اقران یونس بن یزید (وانظرفتح الباری :ج۸ص۲۶۸) دهغوی حالات اومذکوره تفصیل دپاره اوګورئ تهذیب الکمال :ج۱۷ص ۳۴۴ وابن خلکان :ج۳ص ۱۲۹ والجمع لابن القیسرانی :ج۱ص۲۹۳) والکاشف :۲ الترجمة ۳۰، وشذرات الذهب ج۱ص۳۲۹)_

هم غیرالله طرف ته رجوع اونه کړه بلکه هم دالله تعالی طرف ته ئی رجوع اختیارکړه ،دالله تعالی په هغوی باندې خاص رحمت وواودرکن شدید نه خاندان اوقبیله هم مراد کیدلې شی په دې صورت کښې به مطلب داوی چه حضرت لوط علیه السلام خواهش اوکړوکه زما څوک مضبوط خاندان اوقبیله دلته وې نودهغه خلقوبهٔ داجراءت نه کیدو ،داخلق ما خوار او رسواپه دې وجه کوی چه زه یوازی اوتنها یم په دې صورت کښې دا دعا حضرت لوط علیه السلام دیوتسامح بیانولوډپاره اوفرمائیله ،دهغوی نه دبشری تقاضې په وجه دالغزش اوشو،الله تعالی هغه معاف کړلواوخپل رحمت ئی پرې نازل کړو،حضرت لوط علیه السلام نه پس الله تعالی هرنبی په یومستحکم قبله کښې راؤلیږلوچه هغوی ته په هیڅ یوه موقع ددې وینا ضرورت رانه شی چه افسوس زماخاندان وې نوزما دامداد دپاره به راتلو [1]

۱۸۴=باب قَوْلِهِ (حَتَّى إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ)

[۴۴۱۸] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها - قَالَتْ لَهُ وَهُوَ يَسْأَلُهَا عَنْ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى (حَتَّى إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ) قَالَ قُلْتُ أَكُذِبُوا أَمْ كُذِّبُوا قَالَتْ عَائِشَةُ كُذِّبُوا. قُلْتُ فَقَدِ اسْتَيْقَنُوا أَنَّ قَوْمَهُمْ كَذَّبُوهُمْ فَمَا هُوَ بِالظَّنِّ. قَالَتْ أَجَلْ لَعَمْرِي لَقَدِ اسْتَيْقَنُوا بِذَلِكَ. فَقُلْتُ لَهَا وَظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا قَالَتْ مَعَاذَ اللَّهِ لَمْ تَكُنِ الرُّسُلُ تَظُنُّ ذَلِكَ بِرَبِّهَا. قُلْتُ فَمَا هَذِهِ الآيَةُ. قَالَتْ هُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ الَّذِينَ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَصَدَّقُوهُمْ، فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْبَلاَءُ، وَاسْتَأْخَرَ عَنْهُمُ النَّصْرُ حَتَّى اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ مِمَّنْ كَذَّبَهُمْ مِنْ قَوْمِهِمْ وَظَنَّتِ الرُّسُلُ أَنَّ أَتْبَاعَهُمْ قَدْ كَذَّبُوهُمْ جَاءَهُمْ نَصْرُ اللَّهِ عِنْدَ ذَلِكَ.

په دې باندې تفصیلی کلام په سورة بقرة کښې تیرشوې دې.

باب تفسیر سورة الرعد:

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ) مَثَلُ الْمُشْرِكِ الَّذِي عَبَدَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا غَيْرَهُ كَمَثَلِ الْعَطْشَانِ الَّذِي يَنْظُرُ إِلَى خَيَالِهِ فِي الْمَاءِ مِنْ بَعِيدٍ، وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يَتَنَاوَلَهُ وَلاَ يَقْدِرُ. وَقَالَ غَيْرُهُ (سَخَّرَ) ذَلَّلَ. (مُتَجَاوِرَاتٌ) مُتَدَانِيَاتٌ. (الْمَثُلاَتُ) وَاحِدُهَا مَثُلَةٌ وَهْىَ الأَشْبَاهُ وَالأَمْثَالُ، وَقَالَ (إِلاَّ مِثْلَ أَيَّامِ الَّذِينَ خَلَوْا). (بِمِقْدَارٍ) بِقَدَرٍ (مُعَقِّبَاتٌ) مَلاَئِكَةٌ حَفَظَةٌ تُعَقِّبُ الأُولَى مِنْهَا الأُخْرَى، وَمِنْهُ قِيلَ الْعَقِيبُ. يُقَالُ عَقَّبْتُ فِي إِثْرِهِ، الْمِحَالُ الْعُقُوبَةُ. (كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَاءِ) لِيَقْبِضَ عَلَى الْمَاءِ. (رَابِيًا) مِنْ رَبَا يَرْبُو. (أَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ) الْمَتَاعُ مَا تَمَتَّعْتَ بِهِ. (جُفَاءً) أَجْفَأَتِ الْقِدْرُ إِذَا غَلَتْ فَعَلاَهَا الزَّبَدُ، ثُمَّ تَسْكُنُ فَيَذْهَبُ الزَّبَدُ بِلاَ مَنْفَعَةٍ، فَكَذَلِكَ يُمَيِّزُ الْحَقَّ مِنَ

[1] فتح الباری :(ج۶ص ۴۱۵ ،کتاب احادیث الانبیاء باب ولوطا اذقال لقومه .

الْبَاطِلِ. (الْمِهَادُ) الْفِرَاشُ. (يَدْرَءُونَ) يَدْفَعُونَ دَرَأْتُهُ دَفَعْتُهُ. (سَلَامٌ عَلَيْكُمْ) أَيْ يَقُولُونَ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ. (وَإِلَيْهِ مَتَابِ) تَوْبَتِي. (أَفَلَمْ يَيْأَسْ) لَمْ يَتَبَيَّنْ. (قَارِعَةٌ) دَاهِيَةٌ (فَأَمْلَيْتُ) أَطَلْتُ مِنَ الْمَلِيِّ وَالْمُلَاوَةُ وَمِنْهُ مَلِيًّا، وَيُقَالُ لِلْوَاسِعِ الطَّوِيلِ مِنَ الْأَرْضِ مَلًى مِنَ الْأَرْضِ (أَشَقُّ) أَشَدُّ مِنَ الْمَشَقَّةِ (مُعَقِّبَ) مُغَيِّرٌ.

وَقَالَ مُجَاهِدٌ (مُتَجَاوِرَاتٌ) طَيِّبُهَا، وَخَبِيثُهَا السِّبَاخُ، (صِنْوَانٌ) النَّخْلَتَانِ أَوْ أَكْثَرُ فِي أَصْلٍ وَاحِدٍ (وَغَيْرُ صِنْوَانٍ) وَحْدَهَا (بِمَاءٍ وَاحِدٍ) كَصَالِحِ بَنِي آدَمَ وَخَبِيثِهِمْ أَبُوهُمْ وَاحِدٌ السَّحَابُ الثِّقَالُ الَّذِي فِيهِ الْمَاءُ (كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ) يَدْعُو الْمَاءَ بِلِسَانِهِ وَيُشِيرُ إِلَيْهِ فَلَا يَأْتِيهِ أَبَدًا (سَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا) تَمْلَأُ بَطْنَ وَادٍ (زَبَدًا رَابِيًا) زَبَدُ السَّيْلِ خَبَثُ الْحَدِيدِ وَالْحِلْيَةِ

سورة الرعد

د کلماتو تشریح:

قوله: (وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ) مَثَلُ الْمُشْرِكِ الَّذِي عَبَدَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا غَيْرَهُ كَمَثَلِ الْعَطْشَانِ الَّذِي يَنْظُرُ إِلَى خَيَالِهِ فِي الْمَاءِ مِنْ بَعِيدٍ، وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يَتَنَاوَلَهُ وَلَا يَقْدِرُ): په آیت کښې ﴿وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُمْ بِشَيْءٍ إِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَاءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهِ﴾ فرمائی چه په دې آیت کښې ئې دمشرک مثال بیان کړیدې چه الله تعالی سره دبل اله هم عبادت کوی ، نودده مثال دهغه تږی په شان دې چه دلرې نه په خپل تصور کښې اوبه وینی اوغواړی چه هغه اوبه حاصلې کړی خوبه هغې باندې نه قادر کیږی «دغه شان دامشرک دغیرالله عبادت په دې نیت سره کوی چه هغه به دده امداد کوی حالانکه هغه دده په امداد باندې قادر نه وی».

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ (سَخَّرَ) ذَلَّلَ: په آیت کښې دی ﴿وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى﴾ اونمرسپوږمۍ ئې په کار کښې اولګول هریو(دې دواړونه) په مقرروخت باندې چلیږی حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ونیلی چه دسخرمعنی ذلل تابع جوړول، حکم منونکې.

قوله: (مُتَجَاوِرَاتٌ) مُتَدَانِيَاتٌ: په آیت کښې دی ﴿وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُتَجَاوِرَاتٌ﴾ دمتجاورات معنی دیوبل سره نزدې اوملاؤ شوی. [1]

قوله: (الْمَثُلَاتُ) وَاحِدُهَا مَثُلَةٌ وَهِيَ الْأَشْبَاهُ وَالْأَمْثَالُ، وَقَالَ (إِلَّا مِثْلَ أَيَّامِ الَّذِينَ خَلَوْا): په آیت کښې دی ﴿وَقَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلَاتُ﴾ دمثلة جمع ده، ددې معنی اشباه

---

[1]) قال الراغب الاصفهانی وقد تصورمن المجارمعنی القرب فقیل لمن یقرب من غیره جاره وجاورقال تعالی ولی الارض قطعا متجاورات (المفردات فی غریب القرآن ٣٤٠)_

اوامثال راځی ,, فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ '' دې آيت کښې هم د ,, مثل ,, مفهوم هم هغه دې چه په اولنی آيت کښې دې .

قوله: ((بِمِقْدَارٍ) بِقَدَرٍ: په آيت کښې دی ,, وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ,, اوهرڅيزدالله تعالى په نزدپه يوخاص اندازه دې، فرمائی چه دمقدارمعنی قدریعنی معین انداز، مقرره اندازه چه نه دهغې نه وړاندې کیږی اونه کمیږی .

قوله: (مُعَقِّبَاتٌ) مَلَائِكَةٌ حَفَظَةٌ تُعَقِّبُ الْأُولَى مِنْهَا الْأُخْرَى، وَمِنْهُ قِيلَ الْعَقِيبُ. يُقَالُ عَقَّبْتُ فِي إِثْرِهِ: په آيت کښې دی (لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ) فرمائی دې کښې دمعقبات نه مرادحفاظت کونکې هغه فرښتې دی دکوموچه ديوې ډلې نه پس بله ډله راځی : هم دینه عقیب دې ،هغه سړی ته وائی چه روستو راتلونکې وی او(عقب فی اثره) وائی چه کله تاسودهغوی په قدمونوباندې روستوروستو راځې .(۱)

قوله: الْمِحَالُ الْعُقُوبَةُ : په آيت کښې دی (وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ) اوهغه خلق دالله تعالى باره کښې جهګړې کوی سره ددې چه هغه ډيرسخت نيونکې دې ،فرمائی په آيت کښې دمحال معنی عقبوت يعنی عذاب دې داتفسيردابوعبيد رحمه الله دې دحضرت مجاهد رحمه الله نه نقل دی چه دمحال معنی دسخت قوت والاده ،دمحال معنی حيله اوتدبيرهم راځی .

قوله: (رَابِيًا) مِنْ رَبَا يَرْبُو: په آيت کښې دی فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا '' يعنی بيا هغه سيلاب پورته راوړی پړسيدلې زګ ، د(رابيا : ربا، يربو) نه مشتق دې دکوم معنی چه پړسيدل ، راختل اوزياتيدل راځی .

قوله: (أَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ) الْمَتَاعُ مَا تَمَتَّعْتَ بِهِ: په آيت کښې دی وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ اَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهٗ '' فرمائی متاع هغه څيزته وائی دکوم نه چه ته فائده اوچته کړې يعنی لوښی وغيره (۲)دآيت مطلب وړاندې راځی .

قوله: (جُفَاءً) أَجْفَأَتِ الْقِدْرُ إِذَا غَلَتْ فَعَلَاهَا الزَّبَدُ، ثُمَّ تَسْكُنُ فَيَذْهَبُ الزَّبَدُ بِلَا مَنْفَعَةٍ، فَكَذٰلِكَ يُمَيِّزُ الْحَقَّ مِنَ الْبَاطِلِ :په آيت کښې دی فَاَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً '' .(يعنی بياهغه زګ اوچ شی اوختميږی، اجفات القدر وائی کله چه په کټوئی کښې جوش پيداشی اوزګ دهغې دپاسه راشی اوبيا په هغې کښې سکون راشی نوزګ بغير څه فائدې نه ختميږی .دغه شان الله تعالى حق دباطل نه جدا کوی ،باطل دزګ په شان ښکاره وی ليکن هغه خپل څه اثر

---

(۱) قال الراغب فى المفردات ۳٤۰ والتعقيب ان ياتى بشئ بعد اخر.يقال عقب الرس فى عدوه.فالله معقبات من بين يديه ومن خلفه اى ملائكة يتعاقبون عليه خافظين له .

(۲) قال الراغب فى المفردات ٤٦۱ ويقال لماينتفع به فى البيت متاع وكل ماينتفع فى وجه مافهومتاع ومتعة _

يافائده نه پريږدي اوخي ختميږي اوزائل کيږي.

قوله: (الْمِهَادُ) الْفِرَاشُ: په آيت کښې دی ﴿وَمَأْوٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمِهَادُ﴾ اودهغوی ټکانړ (دهميشه دپاره) دوزخ دې اوډيرخراب دحصاريدو ځائ دې .فرمائی چه آيت کښې دمهاد معنی فراش ده يعنی بستره اودآرام ځائ.

قوله: (يَدْرَءُونَ) يَدْفَعُونَ دَرَأْتُهُ دَفَعْتُهُ: په آيت کښې دی ﴿وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ﴾ داخلق بدی په نيکئ سره لرې کوی (يعنی دبدسلوکئ مقابله په ښه سلوک سره کوی) فرمائی په آيت مبارک کښې د يدرون معنی ده يدفعون. د دراته عنی: دفعته يعنی ما هغه لرې کړو.

قوله: (سَلَامٌ عَلَيْكُمْ) أَيْ يَقُولُونَ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ: په آيت کښې دی ,,وَالْمَلٰئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ۝ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ,,اوفرښتې به هغوی له په هره دروازه راځی او وائی به ورته (دهرآفت اوخطرې نه) صحيح سلامت ئې په وجه دهغې چه ته (په حق دين باندې مضبوط ولاړ وې نويه دې جهان کښې ستانجات ډيرښه دې . فرمائی د (سلام عليکم) نه اول په آيت مبارک کښې يقولون محذوف دې .

قوله: (وَإِلَيْهِ مَتَابِ) تَوْبَتِي: په آيت کښې دی ,, قُلْ هُوَ رَبِّيْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ دهغه نه سواخوک دعبادت لائق نشته ماهم په دې يقين کړې دې اوهم هغه له به زه زرځم. فرمائی چه په آيت کښې د(اليه متاب) معنی ده (اليه توبت) يعنی دهغه طرف ته زمارجوع کول دې مقصد دادې چه متاب مصدرميمی دې په معنی درجوع .

قوله: . (قَارِعَةٌ) دَاهِيَةٌ: په آيت کښې دی ,, وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا تُصِيْبُهُمْ بِمَا صَنَعُوْا قَارِعَةٌ اودا (دمکې) کافرخوبه هميشه (هرورځ) هم په دې حالت کښې اوسيږی چه ددوی دکارونو يعنی بدعملونوپه سبب څه ناڅه حادثه پريوزی .(چرته قتل، چرته قيداوچرته شکست) فرمائی آيت کښې دقارعة معنی داهية يعنی تباه کونکې آفت ،سخت مصيبت .

قوله: (فَأَمْلَيْتُ) أَطَلْتُ مِنَ الْمَلِيِّ وَالْمُلَاوَةِ وَمِنْهُ مَلِيًّا ، وَيُقَالُ لِلْوَاسِعِ الطَّوِيْلِ مِنَ الْأَرْضِ مَلًى مِنَ الْأَرْضِ: په آيت کښې دی ﴿فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ﴾ پس ماکافرانوته ډهيل ورکړو بياماهغوی راونيول نوڅنګه عذاب وو(يعنی سخته سزا وه) فرمائی چه آيت کښې (امليت) په معنی د(اطلت) دې يعنی مامهلت اوږه ورکړو ډهيل مې ورکړو، د(املی) (دميم په فتح اودلام په کسره اودياء په تشديدسره) او(ملاوة) دميم کسرې نه مشتق دې اوهم دينه (مليا) ماخوذ دې .په قرآن کښې يوځائ کښې دې ,, واهجرنی مليا ،، او کولاؤ اواوږده زمکه يعنی صحرااوبيابان ته (ملامن الارض)وئيلې شی .

قوله: (أَشَقُّ) أَشَدُّ مِنَ الْمَشَقَّةِ: په آيت كښې دى ,,وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَقُّ" اوددې كافرانودپاره دآخرعذاب ډيرزيات سخت دې ،فرمائى چه آيت كښې (اشق) په معنى د (اشد) دې چه دمشقت نه مشتق دې اوداسم تفضيل صيغه ده .

قوله: (أَفَلَمْ يَيْأَسْ) لَمْ يَتَبَيَّنْ: په آيت كښې دى أَفَلَمْ يَايْئَسِ الَّذِينَ آمَنُوا أَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ لَهَدَى النَّاسَ جَمِيعًا فرمائى دې كښې ,,لم ييئس،، دلم يتبين،، په معنى كښې دې يعنى آيادايمان په خاوندانوداخبره ظاهره شوې نه ده كه چرې الله تعالى غوښتل نوټولوانسانانوته به ئې هدايت وركړې وو. طبرى دقاسم بن معن نه نقل كړى دى چه دا معنى دهوازن په لغت كښې ده هغوى وائى (يئست كذااى علمته) (١)

قوله: (. وَقَالَ مُجَاهِدٌ (مُتَجَاوِرَاتٌ) طَيِّبُهَا، وَخَبِيثُهَا السِّبَاخُ: په آيت كښې دى وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجَاوِرَاتٌ يعنى په زمكه كښې يوبل سره ملاوشوى مختلف قطعې دى په دې كښې چه كومې طيب وى نوهغه خوخوږې وى دې نه ښه اوښكلې پيداوارحاصليږى اوچه كومې ناكاره وى هغه بنجروى اوپه هغې كښې دراتوكولو صلاحيت نه وى دسباخ معنى شور، بنجراوغيرآباد

قوله: ((صِنْوَانٌ) النَّخْلَتَانِ أَوْ أَكْثَرُ فِي أَصْلٍ وَاحِدٍ (وَغَيْرُ صِنْوَانٍ) وَحْدَهَا (بِمَاءٍ وَاحِدٍ) كَصَالِحِ بَنِي آدَمَ وَخَبِيثِهِمْ أَبُوهُمْ وَاحِدٌ: په آيت كښې دى ,,وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَى بِمَاءٍ وَاحِدٍ فرمائى چه دوه كهجورې وى يادودونه زياتې اوپه يوه جرړه كښې راوتلې وى ،داتولې هم په يواوبوباندې خړوب كيږى مطلب داچه نه ونه ،ددې ميوې اوددې ښاخونه هم په يوه زمكه اوپه يواوبوسره خړوب كيږى ليكن ددې باوجود دهغوى په جوړښ كښې اودهغې په خوند كښې فرق وى، همدغه شان دانسانانومثال دې چه دهغوى پلارهم يوحضرت آدم عليه السلام دې ليكن يوبچې صالح پيداكيږى اوڅوك خبيث النفس وى .

قوله: معقب: مغير: په آيت كښې دى وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ الله حكم كوى (څه چه غواړى) څوك دهغه حكم روستوكونكې نشته يعنى بدلونكې نشته .

قوله: السَّحَابُ الثِّقَالُ الَّذِي فِيهِ الْمَاءُ: په آيت كښې دى ,,هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ هم هغه ذات دې چه تاسوته تندرښائى څه سره چه (دهغې دراپريوتلو) ويره هم وى اوهغې نه دباران اميدهم وى اوراؤچتوى درنې اوريځې فرمائى چه د (السحاب الثقال) نه مرادهغه اوريځې دى چه داوبوډكې وى سحاب اسم جنس دې ددې واحدسحابة دې معنى ئې اوريځې دى كه په هغې كښې اوبه وى اوكه نه وى. ثقال دسحاب صفت دې د (سحاب ثقال)

(١) عمدة القارى (ج١٨ص٣١١)_

معنى شوه داوبونه ډكه اوريځ.

قوله: (فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا) تَمْلأُ بَطْنَ كل وَادٍ:

د ايت كريمه ''انزل من السماء ماءً فسالت اودية،، **تفسير:** په آيت كښې دى أَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا يعنى الله تعالى دآسمان نه اوبه نازلې كړلې نوولې دخپل اندازې مطابق اوبهيدلې ،دوادئې خيټه يعنى دننه حصه داوبونه ډكه شوه.

قوله: (زَبَدًا رَابِيًا) زَبَدُ السَّيْلِ خَبَثُ الْحَدِيدِ وَالْحِلْيَةِ: په آيت كښې دى فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا (زبدارىيا) نه دسيلاب زګ مراد دې اوهم په دې كښې دى (أَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُ) زبد مثله نه د اوسپنې اود كالى خيرې مراد دې داوسپنې اود كالودپاسه چه كوم زنګ وى په اوبو كښې د اور دپاسه ګرمولوسره هغه دزګ په شكل كښې ښكاره كيږى پوره آيت دې أَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ۚ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ۚ فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ ۞ دآيت مبارك ترجمه ده .الله تعالى دآسمان نه اوبه نازل كړلې بيا نالئ دخپل مقداربرابرې اوبهيدلې (يعنى په وړه نالئ كښې لږې اوبه په لويه نالئ كښې زياتې اوبه) بيا هغه سيلاب خشاك اوګنګرې راوبهيول چه دهغه (اوبو) په مخ باندې راتلل اوكوم څيزونه چه په اوركښې دننه دكالوياڼورواسبابوجوړولوپه غرض سره ګرمولې شى په هغې كښې هم داسې خيرې (پاس) راځى .الله تعالى دحق اوباطل داسې مثال بيانوى. نوچه كوم خيرې وى هغه خوغورزولې شى اوكوم څيزچه دخلقو په كار راځى هغه په دنيا كښې پاتې كيږى .الله تعالى هم داسې مثالونه بيانوى.

علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله ددې تفسيركښې ليكى : دآسمان دطرف نه باران نازل شوپه څه سره چه ولې اولختې اوبهيدل ،په هره ناله كښې دهغې دظرف اوګنجائش په برابرچه څومره الله تعالى غوښتلې اوبه روانې كړلې ،په وړوكې كښې كمې اوبه لويوكښې زياتې .اوبه چه كله په زمكه روانې شوې نوخاوره اوګندګى (خځلې) يوځاى كيدوسره خرابې شوې ،بياخيرى او زګ وغيره اوپرسيدل اوسرله راغلل لكه څنګه چه په تيزاوركښې سپين زر،سره زر، تانبا، اوسپنه اونورمعدنيات ويلې كيږى چه كالى، لوښې او اسلحه وغيره ترې نه جوړه كړى په هغې كښې هم داسې زګ راؤچتيږى خولږساعت پس اوچ شى ياګډوډشى اوزګ لاړشى اوچه كوم اصلى دكار څيزوو(يعنى اوبه ياويلې شوى معدنيات) هم هغه په زمكه يا دزمكې دخاوندانوپه لاس كښې پاتې شى دكوم نه چه په مختلف طريقوسره خلق فائده اخلى هم دامثال دحق اوباطل اوګڼره ، كله چه آسمانى وحى حق دين سره راكوزيږى اودبنى آدموزړونه دخپل خپل لوښى اوطاقت په اندازه سره فيض حاصلوى نوبياحق اوباطل خپل مينځ كښې زيات شى نوخيرى راؤچتيدل عارضى اوبې بنياده دى . لږساعت پس ددې دجوش اوخروش پته نه وى چه كوم اصلى اودكارڅيزدزګ لاندې خښ شوې وى (يعنى حق اوصداقت) پس هم هغه پاتې شى .ګوره دالله تعالى بيان كړيشوى مثالونه څنګه عجيبه دى ،څنګه په مؤثره طريقه باندې ئې پوهه كړې چه په دنيا كښې كله حق اوباطل جنګى مقابله وى نودلږو ورځودپاره

باطل اوچت اوپورته ښکاری خوآخرباطل خورشي اوحق ظاهراوغالب پاتې شي. یومؤمن لره دباطل عارضي نمائش نه دهوکه نه دی خوړل پکار، دغه شان چه کله دیوانسان په زړه کښې دا حق ورکوزشي. دلږ وخت دپاره دوهمونواووسوسوشورښکاره شي خودویریدلوخبره نه ده، په لږ وخت کښې به داپورته کیدل کینی اوخالص حق به ثابت اومستقر پاتې شي.

۱۸۶= باب قَوْلِهِ (اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَى وَمَا تَغِيضُ الأَرْحَامُ) (۱) غِيضَ نُقِصَ.

[۴۴۲۰] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « مَفَاتِيحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ اللَّهُ لاَ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ إِلاَّ اللَّهُ، وَلاَ يَعْلَمُ مَا تَغِيضُ الأَرْحَامُ إِلاَّ اللَّهُ وَلاَ يَعْلَمُ مَتَى يَأْتِي الْمَطَرُ أَحَدٌ إِلاَّ اللَّهُ، وَلاَ تَدْرِي نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، وَلاَ يَعْلَمُ مَتَى تَقُومُ السَّاعَةُ إِلاَّ اللَّهُ ». [ر: ۹۹۲]

الله تعالی ښه پوهیږی کوم چه په خیټه کښې ساتی هره ماده (یعنی هلک اوجینۍ، نیک اوبد) اوکوم چه په خیټه کښې راغونډیږی اولوئیږی (یعنی ښه پوهیږی چه کوم ددې ښځوپه خیټو کښې کمې زیاتې راځی کله یو بچې کله ډیر، کله زربیدا کیږی اوکله پس) غیض په معنی دنقص نه اشاره ده دیوبل آیت مبارک طرف ته چه په سورة هود کښې دې په کوم کښې چه دی (وغیض الماء) اوبه کمې شوې، دتغیض اوغیض ماده یوه ده، په دې وجه امام بخاری رحمه الله دلته دالفظ ذکر کړو.

۱۸۷= تفسیر سورة إِبْرَاهِيمَ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (هَادٍ) دَاعٍ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ صَدِيدٌ قَيْحٌ وَدَمٌ. وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ (اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ) أَيَادِيَ اللَّهِ عِنْدَكُمْ وَأَيَّامَهُ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ (مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ) رَغِبْتُمْ إِلَيْهِ فِيهِ (يَبْغُونَهَا عِوَجًا) يَلْتَمِسُونَ لَهَا عِوَجًا (وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ) أَعْلَمَكُمْ آذَنَكُمْ (رَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ) هَذَا مَثَلٌ كَفُّوا عَمَّا أُمِرُوا بِهِ (مَقَامِي) حَيْثُ يُقِيمُهُ اللَّهُ بَيْنَ يَدَيْهِ (مِنْ وَرَائِهِ) قُدَّامِهِ. (لَكُمْ تَبَعًا) وَاحِدُهَا تَابِعٌ مِثْلُ غَيَبٍ وَغَائِبٍ (بِمُصْرِخِكُمْ) اسْتَصْرَخَنِي

اسْتَغَاثَنِي يَسْتَصْرِخُهُ مِنَ الصُّرَاخِ (وَلاَ خِلاَلَ) مَصْدَرُ خَالَلْتُهُ خِلاَلاً، وَيَجُوزُ أَيْضًا جَمْعُ خُلَّةٍ وَخِلاَلٍ (اجْتُثَّتْ) اسْتُؤْصِلَتْ.

سورة ابرهيم

د كلماتو تشريح:

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (هَادٍ) دَاعٍ: دسورة رعدپه آيت مبارك كښې ,,إِنَّمَا أَنتَ مُنذِرٌ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ د الفظ دسورة رعد په تفسير كښې نقل كول پكاروو كيد يشى دكتابت دغلطئ نه دلته ذكركړې شوى وى.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ صَدِيدٌ قَيْحٌ وَدَمٌ: په آيت كښې دى مِن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ دهغوى دوړاندې د دوزخ (عذاب) دې اوديپ اوبه په پرې څكولې شى .اومجاهد رحمه الله فرمائى چه په آيت كښې دصديدمعنى وينه زه وې (پيپ) دې.

قوله: (.وَقَالَ مُجَاهِدٌ (مِن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ) رَغِبْتُمْ إِلَيْهِ فِيهِ: په آيت كښې دى ,,وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَآتَاكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ" په دې كښې مجاهد رحمه الله د (سالتموه) تفسير په (رغبتم اليه) سره كړيدې .يعنى دكوموخيزونوطرف ته چه ستارغبت دې الله تعالى هغه تاته دركړل د (رغب) په صله كښې ,,الى او,,فى ، دواړه استعماليږى ، ددې طرف ته اشارې كولودپاره امام رغبتم اليه فيه) اووئيل.

قوله: (يَبْغُونَهَا عِوَجًا) يَلْتَمِسُونَ لَهَا عِوَجًا: په آيت كښې دى ,,الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا" او د الله تعالى دلارې نه منع كوى اوبه هغې كښې كوږوالې تلاش كوى. فرمائى چه په آيت كښې د (يبغونها) معنى (يلتمسون لها) ده يعنى د الله تعالى په لاركښې كوږوالې لټوى.

قوله: (وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ) أَعْلَمَكُمْ آذَنَكُمْ: فرمائى چه په آيت كښې (تاذن) په معنى د (اعلم) او (اذن) دې يعنى تاذن دايذان په معنى كښې دې ، اوايذان په معنى داعلان اوخبر كولوراځى مطلب دا چه كله ستارب تاته خبر دركړو.

قوله: (رَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ) هَذَا مَثَلٌ كَفُّوا عَمَّا أُمِرُوا بِهِ: په آيت كښې دى جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ [1]

د ``فردوا ايديهم فى افواههم،، تفسير: امام فرمائى (رَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ) ضرب المثل دې ددې معنى (كفّوا عمّا أمروا به) ده، اود آيت مطلب دادې. چه كله رسول الله صلى الله عليه وسلم دې خلقو ته دلائل راوړل، نو هغوى خپل لاسونه خپلو خلو ته يوړل، يعنى د كوم څيز چه هغوى ته حكم وركړې

---

[1] قال الراغب قوله تعالى (فردوا ايديهم فى افواههم) قيل عضوالانامل غيظاوقيل اومئوا الى السكوت واشاره وا باليدالى الفم وقيل رادوا ايديهم فى افواه الانبياء فاسكتوهم واستعمال الردفى ذلک تنبيها انهم فعلوا ذلک مرة بعد اخرى (المفردات للراغب :۱۹۲)

شوې وو هغوی هغه اونه كړل، او ﴿إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ﴾ ئې اووئيل. بل ځاى كې د كافرانو باره كښې ارشاد دې: ﴿وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ﴾ كله چه دوی خانله وی نو د غصې نه خپلې ګوتې كټ كوی، هم ددې كيفيت دلته ذكر دې.

بعضې حضراتو مِثل د ميم كسرې سره وئيلې دې، بيا به ددې مطلب داوی چه ﴿رَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ﴾ د ﴿كفواعما أمروا به﴾ په شان دې، او د دواړو به يو مطلب وی، بعضې حضراتو د أفواههم د ضمير مرجع حضرات انبياء عليهم السلام اخستې دی، يعنى دغه كافرانو خپل لاسونه د پيغمبر عليهم السلام په خوله باندې كيخودل، مطلب دادې كه كافرانو د انبياؤ نصحيت منلو نو ألټه دا كوشش به ئې ولې كولو چه هغوی ئې خبرې ته هم نه پريخودل، او د پيغمبرانو په خوله باندې به ئې لاس كيخودلو او هغوی به ئې د خبرو كولو نه بندول، يو مطلب داهم بيان كړې شوې دې چه د آيدی نه مراد نعمتونه دی يعنى نصيحتونه چه دا په اصل كې د الله تعالى نعمتونه دی، هغه ئې د پيغمبرانو خولې ته واپس كړل يعنى ونى نه منل.

قوله: (مَقَامِي) حَيْثُ يُقِيمُهُ اللَّهُ بَيْنَ يَدَيْهِ: په آيت كښې دی ﴿ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ﴾ دې كښې دمقامی نه مراد هغه ځائ دې چرته چه به الله تعالى بنده خپلې مخې ته اودروی [1]

قوله: (لَكُمْ تَبَعًا) وَاحِدُهَا تَابِعٌ مِثْلُ غَيَبٍ وَغَائِبٍ): په آيت كښې دی ﴿إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِن شَيْءٍ﴾ مونږ خلق (دنيا كښې) ستاسو تابع وو (تردې چه د دين كومه لار مونږ ته تاسو خودلې وه مونږ هم په هغې شواونن په مونږ باندې مصيبت دې) نو وئيلی چه تاسو د الله تعالى دعذاب څه حصه زمونږ نه ختمولې شئ يعنى بالكل به نشئ بچ كيدلې نو څه قدرې خو به موبچ كولې شئ؟ فرمائى په آيت كښې تبعًا جمع ده ددې واحد تابع دې لكه غيب (دوو پيښونو سره) دغائب جمع ده اولكه چه د خادم جمع خدم ده.

قوله: (بِمُصْرِخِكُمْ) اسْتَصْرَخَنِي اسْتَغَاثَنِي يَسْتَصْرِخُهُ مِنَ الصُّرَاخِ: آيت كښې ﴿فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا أَنفُسَكُم مَّا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنتُم بِمُصْرِخِيَّ﴾ د (ما انا بمصرخكم) معنى (ما انا بمغيثكم) ده، يعنى نه زه ستاسو امدادی جوړيدې شم اونه تاسوزما امدادی جوړيدې شئ عرب وائى (استصرخنى) هغه زمانه امداد اوغوښتلو، يستصرخه دصراخ نه ماخوذ دې دڅه معنى چه فرياد اوچغې راخې. [2]

---

[1]) اى موافقى الذى يقف به العباد بين يدى الحساب يوم القيامة والى هذا ذهب الزجاج فالمقام اسم مكان واضافته الى ضميره تعالى لكونه بين يديه سبحانه تعالى وقال الفراء مصدر ميمى اضيف الى الفاعل اى خاف قيامى عليه بالحفظ لاعماله ومراقبتى اياه (روح المعانى :ج۱۳ص ۲۰۰_

[2])(ماانا بمصر خكم اى بمعيثكم ممالنتم فيه من العذاب يقال استصرخنى فاصرخته اى استغاثنى ،فاغثته واصله من الصراخ وهومدالصوت والهمزة للسلب كان المغيث يزيل صراخ المستغيث (روح المعانى ج۱۳ص۲۰۹)_

قوله: (وَلاَ خِلاَلَ) مَصْدَرُ خَالَلْتُهُ خِلاَلاً ،وَيَجُوزُ أَيْضًا جَمْعُ خُلَّةٍ وَخِلاَلٍ: په آیت کښې دی مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِیَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ » فرمائی دا دباب مفاعله نه دخالل مصدر دې په معنی ددوستی کولو اودا هم ممکن دی چه دا دخلة جمع وی دخه معنی چه دوستی راځی.

۱۸۸=باب قَوْلِهِ (كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ * تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ)

[۴۴۲۱] حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ أَبِي أُسَامَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رضی الله عنهما- قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ »أَخْبِرُونِي بِشَجَرَةٍ تُشْبِهُ أَوْ كَالرَّجُلِ الْمُسْلِمِ لاَ يَتَحَاتُّ وَرَقُهَا وَلاَ وَلاَ وَلاَ، تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ«. قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ، وَرَأَيْتُ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ لاَ يَتَكَلَّمَانِ، فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَكَلَّمَ، فَلَمَّا لَمْ يَقُولُوا شَيْئًا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- «هِيَ النَّخْلَةُ». فَلَمَّا قُمْنَا قُلْتُ لِعُمَرَ يَا أَبَتَاهُ وَاللَّهِ لَقَدْ كَانَ وَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَكَلَّمَ قَالَ لَمْ أَرَكُمْ تَكَلَّمُونَ، فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَكَلَّمَ أَوْ أَقُولَ شَيْئًا. قَالَ عُمَرُ لأَنْ تَكُونَ قُلْتَهَا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ كَذَا وَكَذَا.

د ایت کریمه تفسیر: دلته الله تعالی دکلمه طیبې اوکلمه خبیثه مثال بیان کړې دې. دکلمه طیبه نه مراد کلمه توحید ، دالله تعالی د معرفت خبرې ،ایمان اوایمانیات ،قرآن حمد اوثنا ،تسبیح اوتهلیل ټول دی. [۱] اودکلمه خبیثه نه مراددکفرکلمه ،دروغ خبره اوهره هغه خبره چه الله تعالی د مرضئ خلاف وی. [۲] دکلمې طیبې مثال ئې هغه شجرهٔ طیبه سره ورکړیدې دکومې جرړې چه دزمکې ژورالی پورې خورې وی اودکومې سوکه چه آسمان طرف ته اوچته وی ،دینه مرادلکه چه دلته دبخاری په روایت کښې دی دکهجورې ونه ده اودکلمه خبیثه مثال ئې هغه ګنده ونې سره ورکړې دې دکومې جرړې چه دزمکې نه راویستلې شوې وی اوپه دې کښې مضبوطوالې نه وی دې نه حنظل ونه مراد ده [۳] په عموم لفظ کښې هره خرابه ونه شاملیدې شی ،مولانا شبیراحمد عثمانی رحمه الله لیکی:

,,د دواړو مثالونو حاصل داشوچه دمسلمانانوتوحید دعوی اوایمان پوخ اوربنتونې دې دکوم دلائل چه ډیرصفا صحیح اومضبوط دی، دفطرت سره دموافق کیدو په وجه ددې جرړې دزړونو بیخ ته کوزیږی اود نیکو اعمالو بناخونه دقبولیت آسمان سره ملاویږی ,,الیه یصعد الکلم الطیب والعمل صالح یرفعه» ددې ښکلې اوخوږې میوو سره دموحدینوکار اوخله همیشه دخوندنه

---

[۱] روح المعانی ج۱۳ص۱۱۳)

[۲] روح المعانی ج۱۳ص۱۱۳)

[۳] روح المعانی ج۱۳ص۱۱۵)_

د كه وي. لنډه دا چه د حق او صداقت او توحيد او معرفت هميشه شنه ونه ورځ په ورځ خورېږي غځېږي او مضبوطېدو سره او چتېږي. ددې په خلاف د دروغو خبره او د شرک او کفر باطل دعوې جرړې او بنياد هيڅ نه وي. په ناحق خبره ثابتولو کښې که هرڅومره زور اولګولې شي خود انساني ضمير او فطرت نه مخالف کېدو په وجه دهغې جرړې دزړه ژوروالي ته نه رسي. لږشان خيال کولو سره هغه غلطې معلومېږي. په دې وجه مشهوره ده چه د دروغو پښې نه وي يعني دربښتياؤ په شان په خپلو پښو باندې نه خي او نه دې سره په زړه کښې نور پيدا کېږي... (۱)

۱۸۹= باب (يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ)

[۴۴۲۲] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَلْقَمَةُ بْنُ مَرْثَدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ عُبَيْدَةَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «الْمُسْلِمُ إِذَا سُئِلَ فِي الْقَبْرِ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، فَذَلِكَ قَوْلُهُ (يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ).

د ,,فى الحيٰوة الدنيا،، نه په دنيا کښې دمؤمن لا اله الا الله محمد رسول الله ګواهي ورکول مراد ده او ,,فى الاخرة،، نه برزخ کښې د ده لا اله الا الله ګواهي ورکول مراد ده. (۲)

۱۹۱= باب (أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَةَ اللّٰهِ كُفْرًا). (۳)

(أَلَمْ تَرَ) أَلَمْ تَعْلَمْ كَقَوْلِهِ (أَلَمْ تَرَ كَيْفَ) (أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا) الْبَوَارُ الْهَلاَكُ، بَارَ يَبُورُ بَوْرًا (قَوْمًا بُورًا) هَالِكِينَ.

قوله: الم تر، د ،،الم تعلم ،، معنى کښې دي لکه ,,الم تر کيف فعل ربك ،،، او الم ترالى الذين خرجوا،، ،،،،الم تر،،،، الم تعلم،، په معنى کښې دى د ,,بدلوا نعمة الله كفرا) يعنى دالله تعالى دنعمت شکر هغوی په کفر بدل کړو. الله تعالى دهغوی درهنمائي او هدايت دپاره رسول راوليږلو چه په حقيقت کښې دالله تعالى ډيرلوئ نعمت وو، ددې نعمت دشکر تقاضا داوه چه هغه خلقو دهغه خبره منلې وه او دهغه په تعليماتو ئې عمل کړې وو ليکن هغه خلقو ناشکري اوکړه او دالله تعالى درسول او دهغه دتعليماتو نه ئې انکار او کړو.

۱۹۱ - باب تفسير سورة الْحِجْرِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ (صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ) الْحَقُّ يَرْجِعُ إِلَى اللّٰهِ وَعَلَيْهِ طَرِيقُهُ.
وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (لَعَمْرُكَ) لَعَيْشُكَ (قَوْمٌ مُنْكَرُونَ) أَنْكَرَهُمْ لُوطٌ
وَقَالَ غَيْرُهُ (كِتَابٌ مَعْلُومٌ) أَجَلٌ (لَوْمَا تَأْتِينَا) هَلاَّ تَأْتِينَا شِيَعٌ أُمَمٌ وَلِلأَوْلِيَاءِ أَيْضًا شِيَعٌ.
وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (يُهْرَعُونَ) مُسْرِعِينَ (لِلْمُتَوَسِّمِينَ) لِلنَّاظِرِينَ (سُكِّرَتْ)

---

(۱) تفسير عثماني: ۳۴۳ فائده نمبر ۳_
(۲) روح المعاني ج ۱۳ ص ۱۱۷)_

غُشِّيَتْ (بُرُوجًا) مَنَازِلَ لِلشَّمْسِ وَالْقَمَرِ (لَوَاقِحَ) مَلَاقِحَ مُلْقَحَةً (حَمَإٍ) جَمَاعَةُ حَمْأَةٍ وَهُوَ الطِّينُ الْمُتَغَيِّرُ وَالْمَسْنُونُ
الْمَصْبُوبُ (تَوْجَلْ) تَخَفْ (دَابِرَ) آخِرَ (لَبِإِمَامٍ مُبِينٍ) الإِمَامُ كُلُّ مَا ائْتَمَمْتَ وَاهْتَدَيْتَ بِهِ (الصَّيْحَةُ) الْهَلَكَةُ.

سورة الحجر

د کلماتو تشریح:

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ، الْحَقُّ يَرْجِعُ إِلَى اللَّهِ وَعَلَيْهِ طَرِيقُهُ: په آیت کښې دی هٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ دې علي" د الی په معنی کښې دې اومطلب دا دې چه حق لارصراط مستقیم ده الله تعالی طرف ته تلونکې ده اوهم ددې حق لارتلونکې سړې الله تعالی ته رسیدې شی اودهغه رضاحاصلولې شی . داتعلیق ابن ابی حاتم موصولا نقل کړې دې (١)علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله ددې آیت په تفسیر کښې فرمائی بیشکه دبندګئ اواخلاص لارنیغه ماته رسی اوهم دازما صفااونیغه لار ده کوم کښې چه هیڅ دهوکه وغیره نشته ،کوم بندګان چه دبندګئ اواخلاص لار اختیاروی هم هغه به دشیطان لعین نه په امن کښې وی اوڅوک چه ددې ملعون منه کوی نوهغه سره به دوزخ ته ځی .بعضې مفسرینو ,,هٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ په تهدید باندې محمول کړې دې یعنی اې ملعونه خلق دصراط مستقیم نه ګمراه کوې نوچرته به تختې هغه کومه لار ده چه زمونږ طرف ته نه ځی ،بیا زمونږ دسزا نه بچ شوی چرته تلې شی هغه وخت کښې به کلام داسې وی لکه چه وائی ‹‹افعل ماشئت فطریقك علی›› اوبه قرآن کښې بل ځائ کښې ارشاد دې : ‹‹ان ربك لبالمرصاد››(٢).

قوله: (الإِمَامُ كُلُّ مَا ائْتَمَمْتَ وَاهْتَدَيْتَ بِهِ): په آیت کښې دی ,,وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُبِينٍ اودا دواړه (قوم) کلی په صفا لاره باندې واقع دی . فرمائی چه امام هرهغه څیزدې دکوم چه ته منه کوې اودچا په ذریعه چه لاربیا مومې ،امام په وزن فعال اسم دې په معنی دمقتداء ،لارخودونکې ،هر هغه څیز چه دهغې اقتداء اوپیروی اوکړې شی دکوم چه قصد او اراده اوکړې ،چونکه لارهم خودونکې ده په دې وجه یوه معنی دامام لارده .مبین ښکاره ،مطلب دا چه قوم لوط اواصحاب آیکه په کولاؤ لار باندې واقع دی چه دحجاز نه شام طرف ته ځی .

قوله: (وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (لَعَمْرُكَ) لَعَيْشُكَ: په آیت کښې دی ,,لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ عمر (دعین په فتحه اوضمه سره) حیات اوژوندته وائی . دحضوراکرم ﷺ دا خصوصیت دې چه الله تعالی دهغوی په عمرمبارک قسم خوری .

---

(١) عمدة القاری : ج۶ص۱۹)_
(٢) تفسیر عثمانی:۳۵فائده نمر۱_

قوله: (قَوْمٌ مُّنكَرُونَ) أَنْكَرَهُمْ لُوطٌ: په آیت کښې دی ,, فَلَمَّا جَآءَ اٰلَ لُوْطِ الْمُرْسَلُوْنَ ۙ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ بیاچه کله دا فرښتې دلوط علیه السلام خاندان له راغلې (نوفرښتې په شکل دبشروې نوځکه) وائې چه تاسو خلقوخواجنبی معلومیږئ. آیت کښې د (قوم منکرون) مفهوم دادې چه لوط علیه السلام دا فرښتې اجنبي اوګنړلې.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ (كِتَابٌ مَّعْلُومٌ) أَجَلٌ: په آیت کښې دی ..وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُوْمٌ اومونږ چه څومره کلی (دکفر په وجه) هلاک کړی دی دهغه ټولودپاره یومقرر وخت لیکلې وو. دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه غیریعنی ابوعبیده رحمه الله ونیلی دی چه په آیت کښې د کتاب نه مراد اجل یعنی موده ده نو د (کتاب معلوم) معنی شوه وخت مقرر.

قوله: (لَوْمَا تَأْتِينَا) هَلَّا تَأْتِينَا: په آیت کښې دی لَوْمَا تَاْتِيْنَا بِالْمَلٰٓئِكَةِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ که چرې (ته د نبوت په دعوی کښې) رښتونې ئې نومونږ ته فرښتې ولې نه راولې. فرمائی په آیت مذکوره کښې ,,لو،، په معنی د ,,هلا،، دې یعنی ,,لو،، دتحضیض دپاره دې.

قوله: (شِيَعٌ أُمَمٌ وَلِلْأَوْلِيَاءِ أَيْضًا شِيَعٌ: په آیت کښې دی وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ شِيَعِ الْاَوَّلِيْنَ دلته دشیع معنی امم هم کیدې شی اواولیاء ته هم شیع ونیلې شی ،په اول صورت کښې به مطلب داوی چه مونږستانه وړاندې امتونوکښې رسولان لیږلی دی اوپه دویم صورت کښې به معنی داوی چه مونږ ستانه وړاندې تیروشووخلقوکښې هم رسولان لیګی وو په چاکښې چه به اتحاد اواتفاق وو اودیوبل دوستان به وو.

قوله: (لِلْمُتَوَسِّمِينَ) لِلنَّاظِرِينَ: په آیت کښې دی ,,اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ بیشکه په دې واقعه کښې ډیرې نښې دی دبصیرت دخاوندانودپاره .فرمائی چه په آیت کښې د متوسمین معنی ناظرین یعنی کتونکی ده.

قوله: (سُكِّرَتْ) غُشِّيَتْ: په آیت کښې دی ,, اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ زمونږ نظر بندی اوکړې شوه بلکه په مونږ خلقوباندې جادو کړې شوې دې. فرمائی چه سکرت په معنی غشیت دې یعنی پرده واچولې شوه . نظربندی اوکړیشوه.

قوله: (بُرُوجًا) مَنَازِلَ لِلشَّمْسِ وَالْقَمَرِ: په آیت کښې دی ,,وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِيْنَ ،، او البته مونږ په آسمان کښې دستورومقامات جوړکړې دی اودکتونکودپاره مونښائسته کړیدی . فرمائی په آیت مذکوره کښې دبرج نه مراد دنمرسپوږمئی منزلونه دی.

قوله: (لَوَاقِحَ) مَلَاقِحَ مُلْقِحَةً (حَمَإٍ): په آیت کښې دی وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ دې کښې لواقح په معنی دملاقح دملقحة جمع ده، دې نه مراد هواګانې دی چه اوبه ئی اوچتې کړی وی لواقح ، دلاقحة جمع ده ،لاقحة اوملقحة معنی یوه ده.

قوله: جَمَاعَةُ حَمَاةٍ وَهُوَ الطِّينُ الْمُتَغَيِّرُ وَالْمَسْنُونُ الْمَصْبُوبُ: په آیت کښې دی قَالَ لَمْ اَكُنْ

لَاَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهٗ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ دې کښې (حما، حماة (دح فتحه دمیم سکون اودهمزه فتحه سره) جمع ده هغه خاورې ته وائی چه دسخا کیدو په وجه بدله شوی وی اود مسنون معنی ده هغه خیز چه قالب شوې وی . مطلب دا چه دانسان جوسه الله تعالی دګرنګیدلې خاورې نه پیدا کړه اودا خاوره دکومې نه چه دانسان تخلیق په وجود کښې راغلو دانسان په قالب کښې واچولې شوه اوهغه دسخا کیدوبه وجه بدله شوه .صلصال هغه اوچې خاورې ته وائی چه داوچوالې دوجې آواز کوی اوګرنګیږی .(۱)

قوله: (تَوْجَلْ) تَخَفْ: په آیت کښې دی ..قَالُوْا لَا تَوْجَلْ اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمٍ عَلِیْمٍ هغوی اووئیل ته مه ویریږه خکه چه مونږ (فرښتې یو دالله تعالی دطرف نه مویوزیرې راوړې دې او) تاته دیوهلک زیرې درکووچه لوئ عالم به وی .فرمائی چه توجل په معنی دتخف ده یعنی آیت مذکوره کښې دلاتوجل معنی `` خوف مه کوه ، ویریږه مه ،،.

قوله: (دَابِرَ) آخِرَ: په آیت کښې دی وَقَضَیْنَآ اِلَیْهِ ذٰلِكَ الْاَمْرَ اَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوْعٌ مُّصْبِحِیْنَ اومونږ ددې فرښتوپه واسطه لوط علیه السلام ته داحکم اولیګلو چه سحر کیدوسره به دهغوی جرړې پرې کړې شی . فرمائی چه په آیت کښې (دابر) په معنی د(اخر) دې یعنی جرړه ،بنیاد دابر داسم فاعل صیغه ده، دهرخیزدآخراوتابع په معنی کښې مستعمل دې .لَبِاِمَامٍ مُّبِیْنٍ)

قوله: (الصَّیْحَةُ) الْهَلَكَةُ: په آیت کښې دیفَاَخَذَتْهُمُ الصَّیْحَةُ مُصْبِحِیْنَ هغوی دسحرپه وخت کښې چغې (سخت آواز) راګیر کړل ،فرمائی چه په آیت کښې دصیحة معنی هلاکت ده.

۱۹۲=باب قَوْلِهِ (إِلاَّ مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ مُبِينٌ)

[۴۴۲۴] (۲): حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « إِذَا قَضَى اللَّهُ الأَمْرَ فِي السَّمَاءِ ضَرَبَتِ الْمَلاَئِكَةُ بِأَجْنِحَتِهَا خُضْعَانًا لِقَوْلِهِ كَالسِّلْسِلَةِ عَلَى صَفْوَانٍ - قَالَ عَلِيٌّ وَقَالَ غَيْرُهُ صَفْوَانٍ - يَنْفُذُهُمْ ذَلِكَ فَإِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ، قَالُوا لِلَّذِي قَالَ الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ، فَيَسْمَعُهَا مُسْتَرِقُو السَّمْعِ، وَمُسْتَرِقُو السَّمْعِ هَكَذَا وَاحِدٌ فَوْقَ آخَرَ - وَوَصَفَ سُفْيَانُ بِيَدِهِ، وَفَرَّجَ بَيْنَ أَصَابِعِ يَدِهِ الْيُمْنَى، نَصَبَهَا بَعْضَهَا فَوْقَ بَعْضٍ - فَرُبَّمَا أَدْرَكَ الشِّهَابُ الْمُسْتَمِعَ، قَبْلَ أَنْ

---

۱) قال الراغب فی المفردات :۲۸۴ اصل الصلصال ترددالصوت من الشئ الیابس ،، وسمی الطین الجاف صلصالا...والصلصلة بقیة ماء سمیت بذلک لحکایة صوت تحرک فی المزادة وقیل الصلصال المنتن من الطین.

۲) واخرجه فی التفسیرباب حتی اذافزع عن قلوبهم رقم الحدیث : ۴۵۲۲) وفی التوحیدباب فی المشیئة والارادة، رقم الحدیث : ۴۷۸۱(مع الفتح) واخرجه ابن ماجه فی المقدمة رقم الحدیث : ۱۹۴واخرجه الترمذی فی کتاب التفسیررقم الحدیث :۳۲۲۳واخرجه ابوداؤد فی کتاب الحروف رقم الحدیث :۳۹۸۹_

يَرْمِي بِهَا إِلَى صَاحِبِهِ، فَيُحْرِقَهُ وَرُبَّمَا لَمْ يُدْرِكْهُ حَتَّى يَرْمِي بِهَا إِلَى الَّذِي يَلِيهِ إِلَى الَّذِي هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ حَتَّى يُلْقُوهَا إِلَى الْأَرْضِ - وَرُبَّمَا قَالَ سُفْيَانُ حَتَّى تَنْتَهِيَ إِلَى الْأَرْضِ - فَتُلْقَى عَلَى فَمِ السَّاحِرِ، فَيَكْذِبُ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ فَيَصْدُقُ، فَيَقُولُونَ أَلَمْ يُخْبِرْنَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا يَكُونُ كَذَا وَكَذَا، فَوَجَدْنَاهُ حَقًّا لِلْكَلِمَةِ الَّتِي سُمِعَتْ مِنَ السَّمَاءِ».

دحضرت ابوهريره ﷺ نه روايت دي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه كله الله تعالى په آسمان كښې ديوكارفيصله فرمائي نوملائكې دالله تعالى دارشادپه وړاندې خپلې عاجزئي اوبې وسئې ښكاره كولودپاره وزرې وهې اودهغه وزرو وهلو آواز داسې وى لكه په غوږ كانړى چه زنځير راښكې شى. على بن عبدالله مدينى فرمائيلى چه سفيان نه علاوه زمونږ بل استاذ «صفوان ينفذهم ذلك» فرمائيلى ، يوخوهغوى دصفوان فاء مفتوح لوستلې اوسفيان دا مجزوم لوستلې وه ،بل هغوى د«ينفذهم ذلك» اضافه اوكړه چه سفيان نه وه كړې يعنى الله تعالى داحكم فرښتو ته رسوى

قوله: إِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ، قَالُوا لِلَّذِي قَالَ الْحَقَّ: بيا چه كله ددې فرښتودزړونونه دخوف هغه كيفيت ختم شى نوهغه مقرب فرښتونه تپوس كوى چه ستاسو رب څه اوكړه؟ نوهغه فرښتې دهغه څيزباره كښې ښودنه كوى كوم چه الله تعالى فرمائيلى وى ,,الحق،، چه الله تعالى حق اوفرمائيل .وهوالعلى الكبيراوهغه بزرګ اواوچت دې . اوس ددې خبرې تذكره په ملائكو كښې كيږى نوبټ پناه هغه شيطانان اورى .

قوله: (فَيَسْمَعُهَا مُسْتَرِقُو السَّمْعِ، وَمُسْتَرِقُو السَّمْعِ هَكَذَا وَاحِدٌ فَوْقَ آخَرَ - وَوَصَفَ سُفْيَانُ بِيَدِهِ، وَفَرَّجَ بَيْنَ أَصَابِعِ يَدِهِ الْيُمْنَى، نَصَبَهَا بَعْضَهَا فَوْقَ بَعْضٍ: پټ پناه شيطانان داسې اورى چه يودپاسه بل اوبل دپاسه بل ،سفيان د«پوهه كولوپه غرض» دخپل ښى لاس ګوتې كولاؤ كړې اوبعضې په بعضوباندې كيخودلې اودهغې كيفيت ئې بيان كړو،نوبياكله خوداسې كيږى چه شهاب ثاقب دا اوريدنكى رانيسى اومخكښې دهغې نه چه دوى داخبره خپل صاحب ته اورسوى هغه سوزوى اوكله داسې كيږى چه هغه شهاب دا اوريدونكې خو نيولې نشى تردې چه هغه دا رسوى هغه شيطان طرف ته چه دهغه نه لاندې ورسره متصل وى بياهغه خپل متصل لاندينى ته اوتردې چه هغه خبره زمكې ته رسى. بياهغه خبره دجادوګرخلې ته رسولې شى اوهغه دې سره سل دروغ يوځائ كړى اوبيانوى .بياددې تصديق كولې شى اوددې يوې خبرې په بناخلق وائى چه ولې ده په فلانئې ورخ نه ووئيلې چه آئنده به داسې داسې كيږى اومونږ هغه صحيح اوموندل داتصديق دهغه خبرې دوجه كيږى چه آسمان نه ئې په غلا غولتې سره اوريدلې وى.

قوله: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرٌو عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ إِذَا قَضَى اللَّهُ الْأَمْرَ. وَزَادَ الْكَاهِنِ: يعنى په ړومبى روايت كښې راغلى دى

(فتلقى على فم الساحر) دې روايت كښې (على فم الساحر) نه پس د (الكاهن) لفظ اضافه هم ده.

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرٌو عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ إِذَا قَضَى اللَّهُ الأَمْرَ. وَزَادَ الْكَاهِنِ. وَحَدَّثَنَا سُفْيَانُ فَقَالَ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ عِكْرِمَةَ حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ قَالَ إِذَا قَضَى اللَّهُ الأَمْرَ وَقَالَ عَلَى فَمِ السَّاحِرِ. قُلْتُ لِسُفْيَانَ قَالَ سَمِعْتُ عِكْرِمَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ. قَالَ نَعَمْ. قُلْتُ لِسُفْيَانَ إِنَّ إِنْسَانًا رَوَى عَنْكَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَيَرْفَعُهُ أَنَّهُ قَرَأَ فُزِّعَ. قَالَ سُفْيَانُ هَكَذَا قَرَأَ عَمْرٌو. فَلاَ أَدْرِي سَمِعَهُ هَكَذَا أَمْ لاَ. قَالَ سُفْيَانُ وَهْيَ قِرَاءَتُنَا.

د سند توضيح:

قوله: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرٌو عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ إِذَا قَضَى اللَّهُ الأَمْرَ. وَزَادَ الْكَاهِنِ: امام بخاري رحمه الله فرمائي چه علي مديني بيان کړې دې چه مونږ د سفيان نه حديث بيان کړو نو په هغې کښې د سند الفاظ وو (قال سمعت عكرمة ....) د اسناد سابق په طريق عنعنه وو او په هغې کښې د سماع تصريح ده او (على فم الساحر) ني اووئيل او د کاهن ذکرئې اونه کړو.

قوله: قُلْتُ لِسُفْيَانَ آنت سمعت عمرا قَالَ سَمِعْتُ عِكْرِمَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ. قَالَ نَعَمْ: علي المديني فرمائي چه ما دخپل استاذ سفيان نه تپوس اوکړو چه ستاسو استاذ عمرو بن دينار کله چه تاسو نه دا روايت بيان کړې وو نو هغه (سَمِعْتُ عِكْرِمَةَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ) الفاظو سره بيان کړې وو؟ سفيان اووئيل اوجی نو د سماع تصريح راغله.

قوله: قُلْتُ لِسُفْيَانَ إِنَّ إِنْسَانًا رَوَى عَنْكَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: په "فاذا فزع عن قلوبهم" کې دوه قراءتونه: علي بن عبدالله مديني فرمائي چه ما د سفيان نه تپوس اوکړو چه يو سړې دا حديث تاسو نه نقل کوی ليکن په دې کښې د سماع تصريح نشته او روايت مرفوع دې او په دې کښې ,,فزع،، او لوستلې شو (تپوس کونکی ته آيت مبارک ﴿حَتَّىٰ إِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ ۖ قَالُوا الْحَقَّ ۖ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ﴾ [1] کښې د (فزع) په قراءت کښې شک دې چه دا فزغ ده يا فرغ. د جمهورو يو روايت فزع او بل روايت فرغ ده) نو سفيان اووئيل چه عمرو بن دينار خو دا فزع لوستلې دې اوس ماته معلومه نه ده چه عمرو دا فزع اوريدلې لوستلې دې يا بغير د اوريدونې لوستلې دې او سفيان اووئيل چه څنګه هغه فزع لوستلې دې نو زمونږ قراءت هم فزع دې.

[1]) سورة سبا ۲۳-

دلته يوه خبره خودا اوشوه چه هغه نه دې بيان كړې فزع ئې بيان كړې دې .مطلب به په دواړو صورتونوكښې يو وى خواشكال داكيږى چه حضرت سفيان بن عينيه يوطرف ته فرمائى چه زمونږ قراءت فزع دې اوبل طرف ته فرمائى((فلا ادرى سمعه هكذا ام لا)) نوچه كله دسماع علم نشته نودقراءت په مينځ كښې خودقياس دخل كيدې نشى نوبيا هغه داخپل قراءت څنګه اوګرځولو. ددې يو جواب خودادې چه سفيان ((فلا ادرى سمعه هكذا ام لا)) صرف دعمروبن دينارپه حواله سره ئې وئيلې دې چه ماته دهغه باره كښې معلومه نه ده چه هغه دخپل شيخ عكرمه نه اوريدلې نولوستلې ئې دې كه نه نوتركومې چه ددې آيت داوريدوتعلق دې نوډيره ممكنه ده چه سفيان دنوروشيخانونه دسماع سره دا قراءت اوريدلې وى. اوداهم ممكن ده چه دحضرت سفيان نقطه نظرداوى چه دسماع نه بغيرهم دقراءت اعتبار كول پكاردى كه په معنى كښې څه خرابى اونقص لازم نه راځى.

شيطانان اوشهاب ثاقب: دلته روايت كښې دشيطانانو آسمان ته تلل اودشهاب ثاقب په ذريعه هغه ويشتل اوتختول ذكردى .علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله په دې سلسله كښې ډيرجامع او نفيس بحث ليكى په كوم سره چه په دې سلسله كښې واردېدونكى اشكالات ختميږى ،هغوى ليكى : په آسمانونوباندې دشيطانانوهيڅ عمل دخل نه چليږى بلكه دنبى كريم ﷺ دبعثت نه پس خودهغوى هلته تيريدل هم نشى كيدلى .اوس دهغوى ډيركوشش داوى چه يوه شيطانى سلسله قائمه كړى آسمان ته نزدې اورسى اوعالم ملكوت ته نزدې شى اوغيبودخبرو خبرحاصلوى، نوپه دې هم دفرښتو څوكئ كينولې شوې دى چه كله شيطانان داسې كوشش كوى نودبره نه پرې اور راګذارولې شى . دنصوص قرآن اواحاديث نه معلوميږى چه دتكوينى اومورو متعلق په آسمان باندې كله ديوې فيصلې علان په يوخاص كيفيت سره دبره نه ښكته درجې ته راشى آخردنيا آسمان ته او دبخارى شريف ديوروايت موافق عنان (اوريځو) كښې فرښتې ددې تذكره كوى ، نودشيطانانو كوشش وى چه ددې معاملاتومتعلق غيبى معلومات حاصل كړى ،دغه شان لكه چه نن يوپيغام په وائرليس ،ټيلى فون څې نوهغه بعض خلق په لاركښې دجذب كولوتدبيرونه كوى ،ناڅاپى دبره نه دبم ګوله شهاب ثاقب اوچوى اوهغه غيبى پيغامونه پټونكى يازخمى كړى او يا هلاك كړى په دې درز دروز كښې كه يوه نيمه خبره دشيطانانوپه لاس ورشى نوهغه دهلاكيدلونه وړاندې په تندئى سره نوروشيطانانوته اوهغه شيطانان خپلو دوستانوانسانانوته درسولو كوشش كوى .كاهنان خلق دې نيمګړې خبرې سره په سوونودروغ دخپل طرف نه يوځائ كړى اوعواموته غيبى خبرې ښائى كله چه يوه نيمه هغه آسمانى خبره رښتياشى نو دهغوى منونكى هغه دهغوى دپاره درښتياؤ ثبوت پيش كوى اوچه كله هغه په سوونوجوړې شوى خبرې دروغ ثابيږى نودهغې نه اغماض اوتغافل كوى. قرآن اوحديث ددې دوه واقعات بيانولوسره خبردارې وركړوچه كم نه كم اودوړې نه وړه رښتونى خبرې سرچشمه هم هغه عالم ملكوت دې دشيطانانو انسى اوجنى په خزانه كښې بغيردروغو اوافتراء نه بل هيڅ نشته .بله داچه آسمانى انتظامات دومره مكمل دى چه ديو شيطان هم داطاقت نشته چه هلته قدم كيږدى ياسره دډير كوشش دهغه

خاې انتظامات اوفیصلو باندې معتدبه طاقت حاصل کړي .باقي که چرته یوه نیمه جمله دفرښتونه اخواديخوا واوری نوالله تعالی ددې اراده نه ده کړې چه دا بالکل بند کړی که هغه غوښتل نو ددې نه به ئې هم منع کړی وولیکن داخبره دهغه دحکمت برابره نه وه ،آخرداسې اوجنی شیطانانوته چه دځه په بابت معلومه ده چه کله به هم دغولولو اوګناه نه منع نشي نو دومره اوږد مهلت اودغولولواسباب اووسائل باندې طاقت ورکولوکښې به څه نه څه حکمت خوبه تړول مني دغه شان حکمت دلته هم اوګڼرئی.

تنبیه : شیطانان همیشه دشهابونوبه ذریعه مړه کیږی مګرځنګه چه په قطب جنوبی اوهمالیه اوچتې څوکې تحقیق کونکی مړه کیږی اونور دهغوی دا انجام ګوری او دامهم نه پریږدی نو هم په دې باندې دشیطانانودامسلسل کوشش هم قیاس کړئی.داخبره دې ښکاره وی چه قرآن اوحدیث دا نه دی خودلی چه دشهاب وجود صرف دشیطانانو رجم دپاره دې ،ممکنه ده چه ددې وجودسره نور ډیرمصالح تړلې وی اودضرورت په وخت کښې ترې کارهم اخستلې شي[1]

۱۹۳= بَاب قَوْلِهِ (وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَابُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِينَ)

[۴۴۲۵] ۴۲۰۲- حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ لأَصْحَابِ الْحِجْرِ «لاَ تَدْخُلُوا عَلَى هَؤُلاَءِ الْقَوْمِ إِلاَّ أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا بَاكِينَ فَلاَ تَدْخُلُوا عَلَيْهِمْ أَنْ يُصِيبَكُمْ مِثْلُ مَا أَصَابَهُمْ».

۱۹۴= بَاب قَوْلِهِ (وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ)

[۴۴۲۶] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي سَعِيدِ بْنِ الْمُعَلَّى قَالَ مَرَّ بِيَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - وَأَنَا أُصَلِّي فَدَعَانِي فَلَمْ آتِهِ حَتَّى صَلَّيْتُ ثُمَّ أَتَيْتُ فَقَالَ « مَا مَنَعَكَ أَنْ تَأْتِيَ » . فَقُلْتُ كُنْتُ أُصَلِّي. فَقَالَ « أَلَمْ يَقُلِ اللَّهُ (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ) ثُمَّ قَالَ أَلاَ أُعَلِّمُكَ أَعْظَمَ سُورَةٍ فِي الْقُرْآنِ قَبْلَ أَنْ أَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ » فَذَهَبَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - لِيَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ فَذَكَّرْتُهُ فَقَالَ (الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي أُوتِيتُهُ».

[۴۴۲۷] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ الْمَقْبُرِيُّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «أُمُّ الْقُرْآنِ هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ»

---

[1]) تفسیر عثمانی:۳۴۸_۳۴۹فائده نمر ٤_

۴- باب قوله (الَّذِينَ جَعَلُوا الْقُرْآنَ عِضِينَ)[1]

(الْمُقْتَسِمِينَ) الَّذِينَ حَلَفُوا
وَمِنْهُ (لَا أُقْسِمُ) أَيْ أُقْسِمُ وَتُقْرَأُ لَأُقْسِمُ. (قَاسَمَهُمَا) حَلَفَ لَهُمَا وَلَمْ يَحْلِفَا لَهُ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ (تَقَاسَمُوا) تَحَالَفُوا.

[۴۴۲۸] حَدَّثَنِي يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا أَبُو بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما (الَّذِينَ جَعَلُوا الْقُرْآنَ عِضِينَ) قَالَ هُمْ أَهْلُ الْكِتَابِ، جَزَّءُوهُ أَجْزَاءً، فَآمَنُوا بِبَعْضِهِ وَكَفَرُوا بِبَعْضِهِ.

[۴۴۲۹] حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي ظَبْيَانَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضى الله عنهما- (كَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِينَ) قَالَ آمَنُوا بِبَعْضٍ وَكَفَرُوا بِبَعْضٍ، الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى.

قوله: (الْمُقْتَسِمِينَ) الَّذِينَ حَلَفُوا: په آیت کښې دی كَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِينَ فرمائی مقتسمين نه مراد هغه خلق دی چاچه قسم خوړلې وو. دا دحضرت صالح عليه السلام دقوم کافر خلق وو هغوی قسم خوړلې وو چه دشپې په تياره کښې به په حضرت صالح عليه السلام او دهغه په متبعينو باندې حمله او کړو او ټول به ختم کړو. په سورة نمل کښې ددې پوره وضاحت راغلی دې ,,قَالُوا تَقَاسَمُوا بِاللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُ وَأَهْلَهُ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ أَهْلِهِ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ[2]

قوله: (وَمِنْهُ (لَا أُقْسِمُ) أَيْ أُقْسِمُ وَتُقْرَأُ لَأُقْسِمُ: او دمقتسمين نه لاقسم دې .دې کښې ,,لا زائده دې او معنی ده زه قسم خورم .بعضودې ته لاقسم لوستلې دې په کوم کښې چه لام دتاکيد دپاره دې دا د ابن کثير قراءت دې[3] دمقتسمين په مناسبت سره ئې دا ذکر کړې دې .

قوله: (قَاسَمَهُمَا) حَلَفَ لَهُمَا وَلَمْ يَحْلِفَا لَهُ: په سورة اعراف کښې دی ,,وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ امام بخاری رحمه الله فرمائی چه په آيت کښې قاسمهما مطلب دادې چه شيطان دحضرت آدم عليه السلام او بی بی حواء په وړاندې قسم خوړلې وو خو حضرت آدم عليه السلام او بی بی حواء قسم نه وو خوړلې دې خبرې ته اشاره ده چه دلته په باب مفاعله کښې خاصيت دمشارکت نه دې، دطرفين نه قسم نه دې خوړلې شوې صرف شيطان قسم خوړلې وو د اعراف دې آيت طرف ته

---

[1]) عضين اى متفرقه وقيل هو جمع عضة واصلها عضوة من عضى الشئ اذاجعلها اعضاء اى جزاءها اجزاء وقيل :اصلها عضة فخذفت الهاء الاصلية.... وبعد الحذف جمع على عضين مثل ماجمع برة على برين على قلين (عمدة القارى :ج۱۹ص۱۳)_

[2])سورة النمل :۴۹_

[3])عمدة القارى :ج۱۹ص۱۳-

اشاره هم دمقتسمين په مناسبت سره کړې شوې ده.

قوله: (وَقَالَ مُجَاهِدٌ (تَقَاسَمُوا) تَحَالَفُوا: په سورة النمل كښې دى. ,,قَالُوا تَقَاسَمُوا بِاللهِ لَنُبَيِّتَنَّهُ وَأَهْلَهُ داهم دقسم نه دې يعنى هغه ټولو قسم اوخوړلودسورة نمل دې آيت طرف ته اشاره هم د مقتسمين په مناسبت سره کړې ده.

په ,,كما انزلنا على المقتسمين،، کې د مقتسمين نه کوم خلق مراد دي؟: په آيت مبارک کښې څوک خلق مراد دى په دې سلسله کښې درې اقواله مشهوردى.

① حضرت صالح عليه السلام اودهغوى متبعينوباندې دشپې په وخت حمله کونکى دهغوى دقوم كافران خلق وولكه چه وړاندې تيرشو.

② هغه شپاړس اوولس سړى چاچه قسم خوړلې ووچه هغوى به درسول الله ﷺ دخبرې اوريدو نه خلق منع كوى (١)په دواړو صورتونوکښې دالفظ دقسم نه ماخوذ دې خوددې يو دريم تفسير هم دې ـ

③ دمقتسمين نه هغه اهل كتاب مراد دى چه دقرآن اجزاء ئې جوړ کړې وواوهغه ئې په ټکړو او حصوکښې تقسيم کړو داسې چه په يوه حصه به ايمان راوړى اود څه حصه نه به ئې انکار اوكړى. دباب په دواړوروايتونوکښې هم دغه تفسيربيان شوې دې او هم دغه تفسير راجح دې او جمهورواختياكړې دې په دې صورت کښې مقتسمين دقسم نه نه بلکه قسمة نه ماخوذ دې اقتسام معنى وائى تقسيم كيدوته يعنى هغوى قرآن تقسيم کړې ووبه بعض حصوباندې عمل كولواوبه بعض باندې نه امام بخارى رحمه الله دواړه تفسيرونو طرف ته داشان اشاره کړې ده چه په شروع کښې اوفرمائيل (المقتسمين : الذين حلفوا) دې سره ئې اشاره اوکړله چه دا دقسم نه ماخوذ دې اوچه كوم دوه روايات ذکرکړې شوهغې ته ئې اشاره اوکړه چه دا دقسمة نه ماخوذ دې. والله أعلم.

١٩٦- بَاب قَوْلِهِ (وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ) (٥)

قَالَ سَالِمٌ (الْيَقِينُ) الْمَوْتُ

١٩٦= باب تفسير سورة النَّحْلِ

(رُوحُ الْقُدُسِ) جِبْرِيلُ (نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ) (فِي ضَيْقٍ) يُقَالُ أَمْرٌ ضَيْقٌ وَضَيِّقٌ ،مِثْلُ هَيْنٍ وَهَيِّنٍ وَلَيْنٍ وَلَيِّنٍ ،وَمَيْتٍ وَمَيِّتٍ .وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (فِي تَقَلُّبِهِمْ) اخْتِلَافِهِمْ .وَقَالَ مُجَاهِدٌ تَمِيدُ تَكَفَّأُ (مُفْرَطُونَ) مَنْسِيُّونَ وَقَالَ غَيْرُهُ (فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ) هَذَا مُقَدَّمٌ وَمُؤَخَّرٌ وَذَلِكَ أَنَّ الِاسْتِعَاذَةَ قَبْلَ الْقِرَاءَةِ وَمَعْنَاهَا الِاعْتِصَامُ بِاللَّهِ (قَصْدُ السَّبِيلِ) الْبَيَانُ الدِّفْءُ مَا اسْتَدْفَأْتَ (تُرِيحُونَ) بِالْعَشِيِّ وَتَسْرَحُونَ بِالْغَدَاةِ (بِشِقِّ) يَعْنِي الْمَشَقَّةَ.

---

(١) عمدة القارى :ج ١٩ص١٣ وتفسيرنسفى :ج٢ص٢٧٩ خو په دې كښې ددولسوسړوذكر دې ـ

(عَلَى تَخَوُّفٍ) تَنَقُّصٍ (الأَنْعَامِ لَعِبْرَةً) وَهِيَ تُؤَنَّثُ وَتُذَكَّرُ، كَذَلِكَ النَّعَمُ لِلأَنْعَامِ جَمَاعَةُ النَّعَمِ (سَرَابِيلَ) قُمُصٌ (تَقِيكُمُ الْحَرَّ) وَأَمَّا (سَرَابِيلَ تَقِيكُمْ بَأْسَكُمْ) فَإِنَّهَا الدُّرُوعُ . (دَخَلًا بَيْنَكُمْ) كُلُّ شَيْءٍ لَمْ يَصِحَّ فَهُوَ دَخَلٌ . قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (حَفَدَةً) مَنْ وَلَدَ الرَّجُلُ . السَّكَرُ مَا حُرِّمَ مِنْ ثَمَرَتِهَا، وَالرِّزْقُ الْحَسَنُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ، وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ صَدَقَةَ (أَنْكَاثًا) هِيَ خَرْقَاءُ، كَانَتْ إِذَا أَبْرَمَتْ غَزْلَهَا نَقَضَتْهُ . وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ الأُمَّةُ مُعَلِّمُ الْخَيْرِ . { وَالْقَانِتُ الْمُطِيعُ } .

سورة النحل

د کلماتو تشریح:

قوله: (رُوحُ الْقُدُسِ) جِبْرِيلُ (نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الأَمِينُ) : په آیت کښې دی قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ مِنْ رَبِّكَ بِالْحَقِّ په دې کښې دروح القدس تفسیر امام بخاری رحمه الله حضرت جبرائیل علیه السلام کړې او ددې د پاره هغوی تائید دسورة الشعراء دآیت نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الأَمِينُ نه بیان کړو ځکه چه په دې کښې د ((روح)) اطلاق په حضرت جبرائیل علیه السلام باندې شوې دی .

قوله: (فِي ضَيْقٍ) يُقَالُ أَمْرٌ ضَيْقٌ وَضَيِّقٌ ، مِثْلُ هَيْنٍ وَهَيِّنٍ وَلَيْنٍ وَلَيِّنٍ ، وَمَيْتٍ وَمَيِّتٍ : په آیت کښې دی ,,وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِمَّا يَمْكُرُونَ امام بخاری رحمه الله فرمائی په دې کښې دوه لغته دی یو ضَيْقٍ (په سکون دیاء) اوبل ضَيِّقٍ (په تشدید دیاء) لکه چه هَيْنٍ وَهَيِّنٍ وَلَيْنٍ وَلَيِّنٍ او وَمَيْتٍ وَمَيِّتٍ کښې دوه لغته دی . دامام بخاری رحمه الله دبیان مطابق وَمَيْتٍ ((دیاء په سکون سره)) او مَيِّتٍ) په تشدید سره کښې هیڅ فرق نشته اهل لغتو په دواړو کښې لږشان فرق بیان کړې دې هغه داچه وَمَيْتٍ (په سکون دیاء) هغې ته وائی چه فی الحال مړشوې وی او مَيِّتٍ (په تشدید دیاء) عام دې ، که فی الحال چه څوک مړشو په دې نې هم اطلاق کیږی اوکه څوک په مستقبل کښې مړکیدونکې دې دهغه د پاره هم ددې لفظ اطلاق کیږی [1] په سورة زمر کښې إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ [2] کښې ددې لفظ الطلاق هم دمستقبل په اعتبار سره کړې شوې دې .

---

[1]. قال الفيروز ابادى فى القاموس المحيط :ج ١ص ١٦٤) الميت مخففه الذى مات والميت والمائت الذى لم يمت بعد وقال الزبيدى فى تاج العروس : ج١ص٥٨٦ نقلا عن شيخه وعلى هذه التفرقة جماعة من الفقهاء والادباء وعندى فيه نظرفانهم صرحو ابان الميت مخفف الياء ماخوذ وخفف من الميت المشدد واذاكان ماخوذمنه فكيف يتصور الفرق فيهما فى الاطلاق حتى قال العلامة بن دحية ..... بانه خطا فى القياس ومخفف للسامع اما القياس فان الميت المخفف انمااصله ميت المشدد مخفف وتخفيه لم يحدث فيه معنى مخالفا لمعناه فى حال التشديد وفى لسان العرب :ج ٢ص٩١)_ قال الزجاج الميت الميت بالتشديد الاانه يخفف يقال ميت ميت والمعنى واحد

[2]) الزمر:٣٠_

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (فِي تَقَلُّبِهِمْ) اخْتِلَافِهِمْ: په آیت کښې دی ,,يَأْخُذَهُمْ فِي تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُمْ بِمُعْجِزِينَ بیا هغوی ګرځیدونکی راګرځیدونکی (په یوآفت کښې) راګیرکړل.
حضرت ابن عباس رضی الله عنه بیان کړې دې چه دفي تقلبهم معنی ده في اختلافهم یعنی دهغوی په سفر او حضر کښې دهغوی په شپه اوورځ کښې الله تعالی هغوی راؤنیسی.

قوله: (وَقَالَ مُجَاهِدٌ تَمِيدُ تَكَفَّأُ: په آیت کښې دی ,,وَأَلْقَى فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِكُمْ الله تعالی په زمکه کښې لوئ لوئ غرونه خواره کړی دی دې دپاره چه زمکه تاسو واخلی اومتحرک اومضطرب مونه کړی، مجاهد رحمه الله دتمید تشریح تکفا سره کړې ده دڅه معنی چه راواپس کیدل، رڅیدونکې اوراپریوتونکې راځی. دمجاهد رحمه الله داتعلیق محمد موصولا نقل کړې دې.[1]

قوله: (مُفْرَطُونَ مَنْسِيُّونَ): په آیت کښې دی لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَأَنَّهُمْ مُفْرَطُونَ فرمائی دې کښې مفرطون منسیون په معنی کښې دې یعنی بیشکه دهغوی دپاره دقیامت په ورځ دوزخ دې اوهغه خلق به هیرکړیشی (په ذوزخ کښې داچولونه پس بیابه دهغوی هیڅ خبرنشی اخستې) حضرت شیخ الهند رحمه الله ترجمه فرمائیلې ده محقق شوچه دهغوی دپاره اور دې اوهغه زیاتولې شی. یعنی دهغه خلقو دپاره دوزخ تیار دې دکوم طرف ته چه هغوی وړاندې کولې شی اوچرته په رسیدوباندې به لکه چه هغوی بالکل هیرکړې شی. اوبه هغوی به کله هم دمهربانۍ نظرنشی اچولې.

قوله: (وَقَالَ غَيْرُهُ (فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ) هَذَا مُقَدَّمٌ وَمُؤَخَّرٌ وَذَلِكَ أَنَّ الِاسْتِعَاذَةَ قَبْلَ الْقِرَاءَةِ وَمَعْنَاهَا الِاعْتِصَامُ بِاللَّهِ:
د ,,فاذا قرات القران فاستعذ بالله،، **تفسیر:** په ایت کښې دی فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ امام بخاری رحمه الله دابوعبید رحمه الله په اتباع کښې فرمائی چه په دې آیت کښې تقدیم اوتاخیردې یعنی فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ اول ذکرکړې دې هغه مؤخربه وی اوچه فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ روستوذکرکړې شوې دې دابه وړاندې وی ځکه چه استعاذه دقرآن پاک دتلاوت نه وړاندې وی. جمهورعلماء دتقدیم اوتاخیرقائل نه دی هغوی وائی چه ,,فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ معنی ,,اذااردت قراءة القران،، ده یعنی چه کله دقرآن دتلاوت اراده اوکړئی نواستعاذه کوئی، علامه نووی اوحافظ ابن کثیر رحمه الله وغیره هم دغه معنی بیان کړې دې.[2] د استعاذه یعنی اعوذ بالله معنی امام بخاری رحمه الله بیان کړې ده ,,الاعتصام بالله،، یعنی الله تعالی سر مضبوط تعلق قائمول اوداالله تعالی په پناه کښې راتلل.

---

[1] عمدة القاری: ج۱۹ص۱۵_

[2] تفسیرابن کثیر: ج۲ص۵۸۶ والجامع لاحکام القرآن: ج۱ص ۸۶ روح المعانی: ۱٤ص۲۲۸_

تلاوت نه وړاندې دتعوذ حکم : دجمهورعلماو په نزد :قرآن شریف دتلاوت نه مخکښې تعوذ دې عطاء بن ابی رباح اونور حضرات وائی چه تعوذ وړاندې دقراءت نه واجب دې (۱)

حضرت ابوهریره رضی الله عنه محمد بن سرین اوحضرت ابراهیم نخعی نه نقل شوی دی چه تعوذدقراءت نه پس پکاردې هغوی دآیت په ظاهرباندې نظرکول سره دتعوذ مقام دقراءت نه پس تجویزکړې دې داؤد ظاهری اوحمزه زیات هم دغه مذهب دې (۲)

امام رازی رحمه الله دبعضې علماؤ نه نقل کړی دی چه تعوذ دقراءت نه وړاندې او روستو دواړو موقعو کښې پکار دې. (۳)

بیا په دې کښې اختلاف دې چه تعوذ پټ وئیل پکار دی که ښکاره .په مانځه کښې دننه دجمهور علماؤ په نزد تعوذ په تیزه نه دی وئیل پکار بلکه ابن قدامه رحمه الله فرمائیلی دی چه تعوذ په مانځه کښې پټ وئیل اجماعی اومتفق علیه مسئله ده .(۴) دشوافع حضراتو نه په دې سلسله کښې دوه قوله نقل دی .یوقول خودا دې چه تعوذبه پټ وئیلی کیږی اودویم قول دې چه قاری له اختیار دې که غواړی پټ دې وائی یا ښکاره . (۵)

قوله: <u>شاکلته : ناحیته:</u> دا لفظ دسورة بنی اسرائیل آیت کښې دی ,,قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ .. دلته ددې ذکر بې محل دې ناسخ سهواً دا دلته ذکرکړې دې .(۶)

وقال ابن عباس: (تسیمون) ترعون(قَصْدُ السَّبِيلِ) الْبَيَانُ الدِّفْءُ مَا اسْتَدْفَأْتَ (تُرِيحُونَ) بِالْعَشِيِّ وَتَسْرَحُونَ بِالْغَدَاةِ (بِشِقِّ) يَعْنِي الْمَشَقَّةَ. (عَلَى تَخَوُّفٍ) تَنَقُّصٍ (الأَنْعَامِ لَعِبْرَةً) وَهِيَ تُؤَنَّثُ وَتُذَكَّرُ، كَذَلِكَ النَّعَمُ لِلأَنْعَامِ جَمَاعَةُ النَّعَمِ (سَرَابِيلَ) قُمُصٌ (تَقِيكُمُ الْحَرَّ) وَأَمَّا (سَرَابِيلَ تَقِيكُمْ بَأْسَكُمْ) فَإِنَّهَا الدُّرُوعُ. (دَخَلاً بَيْنَكُمْ) كُلُّ شَيْءٍ لَمْ يَصِحَّ فَهُوَ دَخَلٌ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (حَفَدَةً) مَنْ وَلَدَ الرَّجُلُ. السَّكَرُ مَا حُرِّمَ مِنْ ثَمَرَتِهَا، وَالرِّزْقُ الْحَسَنُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ، وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ صَدَقَةَ (أَنْكَاثًا) هِيَ خَرْقَاءُ، كَانَتْ إِذَا أَبْرَمَتْ غَزْلَهَا نَقَضَتْهُ. وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ الأُمَّةُ مُعَلِّمُ الْخَيْرِ. {وَالْقَانِتُ الْمُطِيعُ}.

قوله: <u>(قَصْدُ السَّبِيلِ) الْبَيَانُ:</u> په آیت کښې دی ,,وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ وَلَوْ شَآءَ

---

(۱) الجامع لاحکام القرآن :ج۱ص ۸۶

(۲) فتح الباری :ج۸ص۳۸۵) ورح المعانی :ج ۱۴ص۲۲۹)_

(۳) تفسیر کبیر :ج۱ص ۶۰_

(۴) قال موفق الدین احمدبن قدامه فی کتابه المغنی.. ج۱ ص۲۸۳) ویسرالاستعاذة ولایجهر بهالااعلم فیه خلافا.

(۵) قال شافعی رحمه الله فی کتابه الام ج۱ص۱۰۷ وایهما فعل الرجل اجزاء ان جهر او اخفی _

(۶) مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله ددې یوه توجیه کړې دې ، ولعل الوجه فی ایراده ههنا التنبیه علی ان قصده فی القراءة لاینبغی ان یکون الا لله ، وعلی هذا فالمناسب فی ترجمة الشاکلة ههنا من التنبیه (لامع الد راری ج۹ص۱۱۶-۱۱۷)وفی الفتح :ج۸ص۳۸۵ شاکلته: ناحیته وقع فی روایة ابی ذر,,نیته.. یدل ناحیته _

لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ » فرمائی چه په دې کښې د ,,قصد،، معنی دبیانولوده .یعنی دهدایت او ضلالت بیان کول هم په الله تعالی باندې دې . بعضو قصدالسبیل تفسیر په صراط مستقیم سره کړې دې .(۱) یعنی نیغه لار الله تعالی ته رسی اوبعضې لارې (چه ددین خلاف دی) کږې هم دی اوکه الله اوغواړی نوتاسوټولوله به نیغه لار درکړی.

قوله: (اَلدِّفْءُ مَا اسْتَدْفَأْتَ: به په آیت کښې دی ,,وَالْاَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيْهَا دِفْءٌ وَّمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ فرمائی دې کښې دف ء نه مراد هغه څیزونه دی کوم نه چه تاسوگرمی حاصلونی دآیت مطلب داد ې الله تعالی څناورپیداکړی دی په دې کښې ستاسودپاره دګرمئی پیداکولو سامان دې (څکه چه دهغې دوېښتواوڅرمن نه استراوکپړې جوړیږی).

قوله: (تُرِيْحُوْنَ) بِالْعَشِيِّ وَتَسْرَحُوْنَ بِالْغَدَاةِ: په آیت کښې دی وَلَكُمْ فِيْهَا جَمَالٌ حِيْنَ تُرِيْحُوْنَ وَحِيْنَ تَسْرَحُوْنَ دتریحون معنی څناور څرول اومابنام وخت کښې راوستل اودتسرحون معنی دسحربه وخت کښې څرولولره بوتلل .مطلب دا دې چه څناور دسحروخت کښې څرن لره بوتلل اودمابنام په وخت کښې واپس راوستلوکښې ستاسو دپاره یوشان اورونق دې (بِشِقِّ) يَعْنِى الْمَشَقَّةَ.(عَلٰى تَخَوُّفٍ)تَنَقُّصٍ

قوله: (الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً) وَهِيَ تُؤَنَّثُ وَتُذَكَّرُ، كَذٰلِكَ النَّعَمُ لِلْاَنْعَامِ جَمَاعَةُ النَّعَمِ: په آیت کښې دی وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهٖ ،، امام بخاری رحمه الله فرمائی چه لفظ انعام مذکر اومؤنث دواړه قسمه استعمالیږی . اودا دانعم جمع ده. نعم هم مذکر اومؤنث دواړه استعمالیږی .دلته انعام مذکر استعمال شوې دې نو ,,في بطونه،، کښې ضمیر مذکرددې طرف ته راجع دې اوسورة مؤمنون کښې (نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهَا) (۲) دې هلته مؤنث استعمال شوې دې.

قوله: (بشق بمعنى المشقة: په آیت کښې دی وَتَحْمِلُ اَثْقَالَكُمْ اِلٰى بَلَدٍ لَّمْ تَكُوْنُوْا بٰلِغِيْهِ اِلَّا بِشِقِّ الْاَنْفُسِ ،، هغه به ستاسوبوج هم بار کړی داسې ښارته ئی اوړی چرته چه تاسوبغیر دځان محنت (مشقت) کښې اچولونه نشئی رسیدلې . فرمائی چه آیت کښې شق نه مراد مشقت اومحنت دې.

قوله: على تخوف : تنقص: په آیت کښې دی اَوْ يَاْخُذَهُمْ عَلٰى تَخَوُّفٍ فَاِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ یاداپه کمولو اونیسی .لکه چه هلته قحط پریوزی اوپه مزه مزه ختمیږی، مطلب دا دې چه بې ویرې کیدل نه دی پکار، دالله تعالی په ټولوقدرت حاصل دې .فرمائی په آیت کښې دتخوف معنی تنقص ده چه معنی ئی نمبرپه نمبر کمیدل دی اوهم دغه تفسیرحضرت ابن عباس رضي الله عنهما اومجاهد وغیره ائمه دتفسیرنه منقول دی اوهمدغه تفسیرحکیم الامت حضرت تهانوی رحمه الله

---

(۱) عمدة القاری :ج۱۹ص۱۶)_

(۲) سورة المؤمنون ۲۱_

هم کړې دې ،لکه چه ترجمه کښې کمول ظاهردی ، لفظ تخوف چه په ظاهره دخوف نه مشتق دې دځه معنی چه ویرول دی.

قوله: (سَرَابِيلَ) قُمُصٌ (تَقِيكُمُ الْحَرَّ) وَأَمَّا (سَرَابِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ) فَإِنَّهَا الدُّرُوعُ:
په آیت کښې دی ، وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ دلته اول سرابیل (ګرمئ نه دحفاظت دپاره دې) مراد قمیص اوکرتې دی اوبل سرابیل (چه په جنګ کښې دحفاظت دپاره دې) مراد ترینه زغرې دی.

قوله: (دَخَلًا بَيْنَكُمْ) كُلُّ شَيْءٍ لَمْ يَصِحَّ فَهُوَ دَخَلٌ : په آیت کښې دی تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ هغه څيز دکوم داخلول چه صحيح نه وى اوهغه په مينځ کښې واچوی هغې ته دخل وائی . دهوکه ،فساد . خیانت اوهریوملاوټ باندې ددخل اطلاق کیدیشی.

قوله: (قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (حَفَدَةً) مَنْ وَلَدَ الرَّجُلُ: په آیت کښې دی وَاللهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً دې کښې بنين نه صلبی اولاد مراد دی اوحفدة نه نمسی مراد دی.

قوله: (السَّكَرُ مَا حُرِّمَ مِنْ ثَمَرَتِهَا، وَالرِّزْقُ الْحَسَنُ مَا أَحَلَّ اللهُ: په آیت کښې دی وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا شراب یابل څه مسکرچه دثمارنه تیارولې شی هغې ته سکروائی اورزق حسن هغه دې چه الله تعالی جائز اوحلال ګرځولې وی [1]

قوله: (وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ صَدَقَةَ (أَنكَاثًا) هِيَ خَرْقَاءُ، كَانَتْ إِذَا أَبْرَمَتْ غَزْلَهَا نَقَضَتْهُ : (انكاثا) جمع نكث ، وهوالعزل يحل فتله فيعود كما كان قبل الفتل مفرق الاجزاء (هى خرقاء) حمقاء (نقضت) من النقض ، وستعمل لمعان منها : الهدم والابطال والحل بعد العقد، (ابرمت) فتلت.

په سند کې د صدقې نه کوم سړې مراد دې؟ په دې سلسله کې درې اقواله او په هغې کې د قول راجح تعین: حضرت سفيان بن عيينه رحمه الله دصدقه نه نقل کړی دی دعلامه کرمانی رحمه الله خيال دې چه دصدقه نه امام بخاری رحمه الله شيخ صدقه بن الفضل مروزی مراد دې . حافظ ابن حجر رحمه الله ددې تردید کړې دې اودائې فرمائیلی دی چه دینه زما په خیال کښې صدقه ابن عمران قاضی اهواز مراددی. امام بخاری رحمه الله په خپل تاریخ او ابن حبان ،،په کتاب الثقات ،،کښې صدقه ابوهذیل ذکرکړې دې چه دهغه نه سفیان بن عیینه روایت کوی اوبه ظاهردلته صدقه ابوهذیل مراد دې داشان تعلیقا دا رجال بخاری نه دې. په رجال بخاری باندې کارکونکو د

[1] اشکال کیږی چه شراب خوحرام دی نوداپه نعمتونوکښې څنګه ذکرکړې شومولانا رشید احمد ګنګوهی رحمه الله ددې جواب ورکوی ،، ولايبعدان يقال: ان الامتنان بمالم يسكر منها ،ولاشک جواز القدر الذی لايسكرمنها فصح لامتنان اويقال :ان الاية مكية وتحريم المحرمات منها مدنى .فصح الامتنان انزال الاية ،،لامع الدرارى:ج۹ص ۱۱۷)_

ده ذکرنه دي کړي. د کلام خلاصه دا شوه چه دلته صدقه باره کښې درې اقواله شو.

① يوقول د علامه کرماني دې هغه فرمائي دينه صدقه بن الفضل مروزي مراد دې، صدقه ابن الفضل مروزي دامام بخاري شيخ دې اوسفيان بن عيينه نه روايت کوي سفيان دهغه شيخ

ابن حبان په ,,کتاب الثقات،، کښې ليکي: صدقه ابن المروزي کنيته ابوالفضل يروي عن عيينة

......) د علامه کرماني رحمه الله په دې قول باندې اشکال کيږي چه سفيان خو د صدقه شيخ دې ،دلته شيخ دخپل شاگرد نه روايت کوي، دهغه شيخ نه دې صدقه بن الفضل دسفيان نه روايت کوي، علامه کرماني رحمه الله د دې جواب ورکوي چه سفيان خو د صدقه شيخ دې، دلته شيخ دخپل شاگرد نه روايت کوي او داسې کيږي چه ډير ځل شيخ دخپل شاگرد نه روايت کوي. د علامه کرماني رحمه الله په قول باندې اعتراض دا اوکړې شو چه مذکوره روايت د ابن جرير اوابن

ابي حاتم (عن ابن عيينه عن صدقه عن السدي) په طريق سره نقل شوې دې. اوصدقه بن الفضل

سدي اودهغه اصحاب نه دي ليدلي نوحافظ ابن حجر فرمائي (ويكتفى في الرد عليه ما اخرجناه من

تفسير جرير وابن ابي حاتم من رواية صدقه هذا عن السدي فان صدقه بن الفض المروزي ما ادرك السدي ولا

سحاب السدي......) په دې وجه د کرماني رحمه الله قول ضعيف دې.

② حافظ ابن حجر رحمه الله ليکي دي چه دينه صدقه ابن ابي عمران مراد دې ځکه چه د ابن عيينه دهغه نه روايت ثابت دې. داقول هم ضعيف دې ځکه چه دسفيان بن عيينه رور محمد بن عيينه دهغه نه روايت کوي ،علامه مزي رحمه الله د دې تصريح کړې ده ،دسفيان د ده نه روايت په عام توګه کتب رجال کښې ذکرنه دې ،

③ دريم قول صحيح معلوميږي دا دې چه دينه صدقه ابوهذيل مراد دې ځکه چه امام بخاري رحمه الله تاريخ کبير،، کښې فرمائي (صدقه ابو الهذيل عن السدي روى عنه ابن عيينه) تقريبا هم دغه الفاظ ابن حبان رحمه الله ذکر کړي دي، صدقه ابوهذيل تفصيلي حالات اوپيژندګلي درجال په کتابونو کښې نه ملاويږي ([1])

د ايت کريمه ``ولاتکونوا کالتی نقضت غزلها،، تفسير: هغه فرمائي چه آيت ((وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا)) کښې په مکه کښې اوسيدونکې يوه ليونئ او ديوانه ښځې ذکر دې چه دهغې نامه خرقاء يا ريطه بنت عمرو وه ([2]) دې به دسحر نه ترغرمې پورې سپرسې تارکول بيا به ئې دا تارشوي سپرسي توټې کول .په آيت مبارک کښې وعدې ماتولو مثال بيان

---

[1]) دحافظ ابن حجر رحمه الله داقوال دپاره اوګورئ فتح الباري :ج۸ص۲۸۷) علامه کرماني رحمه الله دقول دپاره اوګورئ شرح الکرماني :ج۱۷۱۷۶ دامام بخاري رحمه الله دقول دپاره اوګورئ التاريخ الکبير :ج ٤ص۲۹٤ دابن حبان رحمه الله دقول دپاره اوګورئ کتاب الثقات :ج۶ص٤۶۷و ج۸ص۳۲۱ اودعلامه مزي دقول دپاره اوګورئ تهذيب الکمال ج۱۳ص۱۳۹ ترجمة : ۲۸۶۶_

[2]) فتح الباري :ج۸ ص۳۸۷)_

کړې دې ، شیخ الاسلام مولاناشبیراحمد عثمانی رحمه الله لیکی: یعنی وعده کول اوهغه ماتول داسې بې وقوفتوب دې لکه چه یوښځه توله ورځ سپړسی تار کړی اوبیا تارشوی سپړسی دماښام په وخت کښې ذره ذره کړی په مکه کښې به یوې لیونې ښځې هم داسې کول مطلب دا چه معاهدې کلو صرف کچه تارپه شان گنړل چه کله اوغواړی نو یوځائ کړی اوکله اوغواړی نودخپل گوتو په حرکت سره بې پروانې سره ماته کړی . ډیره ناپوهی اولیونتوب دې، چه دخبراعتبار پاتې نه شوددنیا نظام به خراب شی دقول اواقرارپه پاندنی سره دعدل اوانصاف تله نیغه پاتې کیدیشی . کوم قومونه چه دعدل اونصاف دقانون نه اخواشی اوصرف دخپل غرض اومقصد کارونه شروع کړی نودهغوی په نزد معاهدې صرف دماتولودپاره پاتې کیږی ،ځرته چه معاهدقوم دخپل خان نه کمزورې اولیدو نومعاهدات نی دردئی په ټوکړئی کښې اوغورزول .(۱)

۱۹۸=باب قَوْلِهِ (وَمِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ).

[۴۴۳۰] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مُوسَى أَبُو عَبْدِ اللَّهِ الأَعْوَرُ عَنْ شُعَيْبٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ يَدْعُو «أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَالْكَسَلِ، وَأَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَفِتْنَةِ الدَّجَّالِ، وَفِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ». [ر: ۲۶۶۸]

ارزل عمرهغه عمرته وائی په کوم کښې چه انسان سراسردنورومحتاج وی ، دینه هغوی ﷺ پناه غوښتې ده .

۱۹۹=باب. سورة بَنِي إِسْرَائِيلَ

[۴۴۳۱] (۲): حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ - رضى الله عنه - قَالَ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ وَالْكَهْفِ وَمَرْيَمَ إِنَّهُنَّ مِنَ الْعِتَاقِ الأُوَلِ، وَهُنَّ مِنْ تِلاَدِي. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (فَسَيُنْغِضُونَ) يَهُزُّونَ. وَقَالَ غَيْرُهُ نَغَضَتْ سِنُّكَ أَىْ تَحَرَّكَتْ.

سورة بَنِي إِسْرَائِيلَ

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دسورة بنی اسرائیل ، سورة کهف اوسورة مریم متعلق اوفرمائیل چه دا دااولې درجې دښکلې سورتونونه دی .یعنی دا دپخوانئ زمانې په شروع

---

۱) تفسیرعثمانی :ج۳۶۷فائده نیمر ٤ــ

۲) اوخرجه البخاری ایضافی التفسیرباب سورة الانبیاء رقم الحدیث :٤٤٦٢ وباب تالیف القرآن رقم الحدیث ٤٧٠٨ وهذا الحدیث لم یخرجه احد من اصحاب السنة سوی البخاری ــ

كښې نازل شوی سورتونه دی زاودازما زوړ محفوظ مال دې عتاق : دعتق جمع ده .څه معنی چه ښکلې اوښخوانی ده .تلاد پخوانی هغه مال چه کوم انسان سره دزړې زمانی راسې وی.

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (فَسَيُنْغِضُونَ) يَهُزُّونَ. وَقَالَ غَيْرُهُ نَغَضَتْ سِنُّكَ أَيْ تَحَرَّكَتْ. وَقَضَيْنَا إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ) أَخْبَرْنَاهُمْ أَنَّهُمْ سَيُفْسِدُونَ، وَالْقَضَاءُ عَلَى وُجُوهٍ (وَقَضَى رَبُّكَ) أَمَرَ رَبُّكَ، وَمِنْهُ الْحُكْمُ (إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ)، وَمِنْهُ الْخَلْقُ (فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَوَاتٍ). (نَفِيرًا) مَنْ يَنْفِرُ مَعَهُ. (وَلِيُتَبِّرُوا) يُدَمِّرُوا (مَا عَلَوْا). (حَصِيرًا) مَحْبِسًا مَحْصَرًا (حَقَّ) وَجَبَ (مَيْسُورًا) لَيِّنًا. (خِطْئًا) إِثْمًا، وَهُوَ اسْمٌ مِنْ خَطِئْتُ، وَالْخَطَأُ مَفْتُوحٌ مَصْدَرُهُ مِنَ الإِثْمِ، خَطِئْتُ بِمَعْنَى أَخْطَأْتُ. (تَخْرِقَ) تَقْطَعَ. (وَإِذْ هُمْ نَجْوَى) مَصْدَرٌ مِنْ نَاجَيْتُ، فَوَصَفَهُمْ بِهَا، وَالْمَعْنَى يَتَنَاجَوْنَ (رُفَاتًا) حُطَامًا (وَاسْتَفْزِزْ) اسْتَخِفَّ (بِخَيْلِكَ) الْفُرْسَانِ، وَالرَّجْلُ الرَّجَّالَةُ وَاحِدُهَا رَاجِلٌ مِثْلُ صَاحِبٍ وَصَحْبٍ، وَتَاجِرٍ وَتَجْرٍ. (حَاصِبًا) الرِّيحُ الْعَاصِفُ، وَالْحَاصِبُ أَيْضًا مَا تَرْمِي بِهِ الرِّيحُ وَمِنْهُ (حَصَبُ جَهَنَّمَ) يُرْمَى بِهِ فِي جَهَنَّمَ، وَهُوَ حَصَبُهَا، وَيُقَالُ حَصَبَ فِي الأَرْضِ ذَهَبَ، وَالْحَصَبُ مُشْتَقٌّ مِنَ الْحَصْبَاءِ وَالْحِجَارَةِ. (تَارَةً) مَرَّةً وَجَمَاعَتُهُ تِيَرَةٌ وَتَارَاتٌ (لأَحْتَنِكَنَّ) لأَسْتَأْصِلَنَّهُمْ يُقَالُ احْتَنَكَ فُلاَنٌ مَا عِنْدَ فُلاَنٍ مِنْ عِلْمٍ اسْتَقْصَاهُ. (طَائِرَهُ) حَظَّهُ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كُلُّ سُلْطَانٍ فِي الْقُرْآنِ فَهُوَ حُجَّةٌ. (وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ) لَمْ يُحَالِفْ أَحَدًا..

د کلماتو تشریح:

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (فَسَيُنْغِضُونَ) يَهُزُّونَ. وَقَالَ غَيْرُهُ نَغَضَتْ سِنُّكَ أَيْ تَحَرَّكَتْ: په آیت کښې دی ,,قُلِ الَّذِيْ فَطَرَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَسَيُنْغِضُوْنَ اِلَيْكَ رُءُوْسَهُمْ ددې معنی يهزون ده يعنی هغوی خپل سرونه خوزوی اودحضرت ابن عباس رضی الله عنه غيرمعنی ابوعبيد رحمه الله وئيلی دی (نغضت سنك) معنی تحركت يعنی ستاغاښ اوخوزيدو ،په مجرد کښې داباب ضرب اونصرنه استعماليږی .نقض الشئ ، تغضا: خوزيدل حرکت کول،ينغضون باب افعال نه متعدی دې په معنی دخوزيدلو اوحرکت کولو.

قوله: (وَقَضَيْنَا إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَخْبَرْنَاهُمْ أَنَّهُمْ سَيُفْسِدُونَ، وَالْقَضَاءُ عَلَى وُجُوهٍ (وَقَضَى رَبُّكَ) أَمَرَ رَبُّكَ، وَمِنْهُ الْحُكْمُ (إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ)، وَمِنْهُ الْخَلْقُ (فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَوَاتٍ): په آیت کښې دی وَقَضَيْنَآ اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ فِي الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الْاَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيْرًا په دې کښې دقضينا معنی اخبرنا ده يعنی مونږ حضرت جبرائيل عليه السلام ته خبرکړې ووچه هغوی به فساد کوی . دلفظ قضا مختلف معنې راځی ،

① حکم ورکول. لکه قضی ربك :ستا رب حکم ورکړو.

② فيصله کول، لکه ان ربك يقضی بينهم : ستارب دهغوی په مينځ کښې فيصله اوکړه.

③ پيدا کول، لکه فقضاهن سبع سموات يعنی الله تعالی اووه آسمانونه پيدا کړل.

اسماعيل بن احمد نيشاپورى.. كتاب الوجوه والنظائر، كښې ليكى چه لفظ قضا په قرآن كښې پنځلس معنو كښې استعمال شوې دې حافظ ابن حجر رحمه الله دده تفصيل نقل كړې دې (١)

قوله: (نَفِيرًا) مَنْ يَنْفِرُ مَعَهُ: په آيت كښې دى.. وَجَعَلْنٰكُمْ اَكْثَرَ نَفِيرًا هغه خلقو ته وائى چه څوك چاسره تلونكى وى يعنى دد ښمن د مقابلې دپاره يوځاى وتونكى خلق

قوله: (وَلِيُتَبِّرُوا) يُدَمِّرُوا (مَا عَلَوْا): په آيت كښې دى.. وَلِيُتَبِّرُوْا مَا عَلَوْا تَتْبِيْرًا يعنى چه په كوم څيز هغوى غالب راشى هغه هلاك اوبرباد كړى

قوله: (حَصِيرًا) مَحْبِسًا مَحْصَرًا: په آيت كښې دى وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ حَصِيْرًا د حصير معنى ده محبس ومحصر يعنى جيل اوقيد خانه

قوله: (حَقَّ) وَجَبَ): په آيت كښې دى.. فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا پس په هغوى (يعنى هغه كلى والوباندې) حجت تماميږى بيامونږ هغه كلى غرق (برباد) كړو.فرمائى چه په آيت كښې حق په معنى دوجب دې يعنى ثابته شوه. ختمه شوه اوبعضې مفسرينو تفسير كړې دې وجب عليها العذاب.

قوله: (مَيْسُورًا) لَيِّنًا: په آيت كښې دى .. فَقُلْ لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُوْرًا نوهغوى سره په نرمئى خبره كوه فرمائى چه په آيت كښې د ميسور معنى ده لين يعنى نرم اومهين ده.

قوله: (خِطْئًا) إِثْمًا، وَهُوَ اسْمٌ مِنْ خَطِئْتُ، وَالْخَطَأُ مَفْتُوحٌ مَصْدَرُهُ مِنَ الْإِثْمِ، خَطِئْتُ بِمَعْنَى أَخْطَأْتُ: په آيت كښې دى.. اِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْاً كَبِيْرًا په دې كښې دخطاء معنى گناه ده كښې دلته دړې خبرې بيان كړى دى اوبه دريواړو كښې غلطى شويده. خطاء په كسره دخاء، ته هغه اسم مصدر وئيلى دې خطئت حالانكه هغه مصدر دې خطاء (په فتح دخاء) ته هغه مصدر وئيلې دې حالانكه هغه داخطاء اسم مصدر دې اوخطئت ته داخطات معنى كښې وئيلې دى حالانكه د ثلاثى مجرد نه دې معنى په قصدسره گناه كول دى اوباب افعال نه بلاعمد گناه كول دى (٢)

دلته دعبارت په آخركښې دى.. من الاثم خطئت بمعنى اخطاءت،،په دې كښې تقديم اوتاخيردې اصل عبارت داسې كيدل پكار دى.. خطئت من الاثم بمعنى اخطاءت يعنى خطئت چه دگناه په معنى كښې دې په معنى داخطاءت دې دغه شان علامه عينى رحمه الله فرمائى ..اى خطئت الذى اخذ معناه من الاثم بمعنى اخطائت.

---

(١) فتح البارى :ج٨ص٣٨٩_

(٢) عمدة القارى : ١٩ص ٢٠ وفى مختار الصحاح ⬚⬚الخطء.. الذنب⬚هومصدر (خطئ) بالكسر_

قوله: (تخرق) تقطع: په آيت كښې دى ,, وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا ,, اوپه زمكه باندې په فخرسره مه ګرځه (ځكه) چه ته (په زمكه باندې پښه ايږدې نونه زمكه شلولې شې اونه خپل بدن اوږدولې شې چه دغرونواوچتوالى ته اورسې . فرمائى چه آيت كښې دلن تخرق معنى لن تقطع يعنى ته به زمكه پرې نكړې شى اوفاصله به پوره نه كړې شى ځكه چه زمكه ډيره لويه ده عرب وائى ,,فلان اخرق من فلان،، معنى فلانى دفلانى نه زيات سفراوكړو.

قوله: (وَإِذْ هُمْ نَجْوَى) مَصْدَرٌ مِنْ نَاجَيْتُ، فَوَصَفَهُمْ بِهَا، وَالْمَعْنَى يَتَنَاجَوْنَ: په آيت كښې دى نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَى إِذْ يَقُولُ الظَّالِمُونَ إِنْ تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَسْحُورًا په دې كښې نجوى دناجيت مصدر دې اوپه ,,هم.. باندې مبالغة ددې حمل كړې شوې دې اومعنى ده ,,واذهم يتناجون،، يعنى چه كله هغوى په خپل مينځ كښې پټې خبرې كوى

قوله: (رُفَاتًا) حُطَامًا: په آيت كښې دى,, وَقَالُوا أَإِذَا كُنَّا عِظَامًا وَرُفَاتًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا (۱) د رفاتا معنى حطاما ده يعنى څه چه كوم وخت مونږ هډوكى جوړيږو اوذره ذره اوميده ميده شونوبيابه مونږ ژوندى كولې شو.

قوله: (وَاسْتَفْزِزْ) اسْتَخِفَّ (بِخَيْلِكَ) الْفُرْسَانِ، وَالرَّجْلُ الرَّجَّالَةُ وَاحِدُهَا رَاجِلٌ مِثْلُ صَاحِبٍ وَصَحْبٍ، وَتَاجِرٍ وَتَجْرٍ: په آيت كښې دى وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ داباالكل امام دابوعبيده رحمه الله كلام نقل كړې دې د استفزز معنى استخف يعنى سپک كنړل. دحق لارې نه اخواكول. بخيلك نه شهسوار مراددې او رجل او رجالة جمع ده. ددې مفرد راجل دې لكه دصاحب جمع ده صحب او دتاجر جمع تجرراځى .دآيت مطلب دا دې اودهغوى نه چه په چاستا قدرت رسى خپل آواز(وسوسه) سره هغوى دحق لارې نه واړوه دهدايت دلارې نه هغوى اخواديخواكړه اوپه هغوى پسې خپل سواره اوپياده راوله په آيت كښې شيطان ته خطاب دې.

قوله: (حَاصِبًا) الرِّيحُ الْعَاصِفُ، وَالْحَاصِبُ أَيْضًا مَا تَرْمِي بِهِ الرِّيحُ وَمِنْهُ (حَصَبُ جَهَنَّمَ) يُرْمَى بِهِ فِي جَهَنَّمَ، وَهُوَ حَصَبُهَا، وَيُقَالُ حَصَبَ فِي الْأَرْضِ ذَهَبَ، وَالْحَصَبُ مُشْتَقٌّ مِنَ الْحَصْبَاءِ وَالْحِجَارَةِ: په آيت كښې دى أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ وَكِيلًا حاصب سيلئې ته وائى اوحاصب هغه كانكراوشګې ته هم وائى كوم چه هوااوچت كړى اووئ غورزوى اوهم دې نه حصب جهنم ماخوذ دې چه په سورة انبياء كښې دې ,, إِنَّكُمْ وَمَا

(۱) قوله رفاتا قال مجاهد ترابا وقيل :حطاما والرفات كل مايكسرويبلى من كل شئ (تفسيرالبغوى: ج۳ص۱۱۸)

تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ اَنْتُمْ لَهَا وٰرِدُوْنَ یعنی ددوزخ خشاک خکه چه هغوی به په دوزخ کښې غورزولې شی .اوحصب حصباء نه مشتق دې په معنی دکانړی خکه چه کانړې او کانکر غورزولې شی په دې وجه دې ته حصب وائی داخبره دې ښکاره وی چه دلته داشتقاق نه اصطلاحی اشتقاق مراد نه دې لکه چه دفعل اشتقاق دمصدرنه کیږی بلکه اشتقاق نه صرف دلته مناسبت مراد دې عبارت کښې ..الحجارة،، د ،،الحصباء،،تفسیردې .

قوله: (تَارَةً) مَرَّةً وَجَمَاعَتُهٗ تِيَرَةٌ وَتَارَاتٌ: په آیت کښې دی..اَمْ اَمِنْتُمْ اَنْ يُّعِيْدَكُمْ فِيْهِ تَارَةً اُخْرٰى تارة دمرة په معنی کښې دی ددې جمع تیرة اوتارات راخی

قوله: (لَاَحْتَنِكَنَّ) لَاَسْتَاْصِلَنَّهُمْ يُقَالُ احْتَنَكَ فُلَانٌ مَا عِنْدَ فُلَانٍ مِنْ عِلْمٍ اسْتَقْصَاهُ: په آیت کښې دی ..لَئِنْ اَخَّرْتَنِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهٗۤ اِلَّا قَلِيْلًا دې کښې داحتنکن معنی دد زه به دهغه استیصال کوم. یعنی دبیخه به نی راوباسم [1]عرب وانی احتنك فلان ماعند فلان من علم ددې معنی ده استقصاء یعنی فلانکی سړی سره چه څومره علم ووفلانکی شاګرد هغه ټول حاصل کړو، ددې اخرته اورسیدو اودائې راګیر کړو.

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كُلُّ سُلْطَانٍ فِي الْقُرْآنِ فَهُوَ حُجَّةٌ: په آیت کښې دی .. فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهٖ سُلْطٰنًا یوبل ځائ کښې دی وَّاجْعَلْ لِّيْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِيْرًا حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه په قرآن کریم کښې دسلطان لفظ چرته چه هم راغلې دې هغه دحجت په معنی کښې دې

قوله: (وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ) لَمْ يُحَالِفْ اَحَدًا..:په آیت کښې دی وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا یعنی دکمزورئی په وجه څوک دهغه امدادی نشته .. ولی من الذل،، تفسیر کړې دې لم یحالف احدا یعنی الله تعالی داسې نه دې چه دکمزورئی په بناچاسره وعده کړې وی اوڅوک ئې حلیف جوړ کړې وی اوضروت په وخت هغه دالله تعالی امداد له راشی څکه چه الله تعالی دڅامحتاج نه دې دهرقسم کمزورئی اونقص نه پاک اومنزه دې .

۲۰۰= بَابُ قَوْلِهٖ (اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ).

[۴۴۳۲] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ اَخْبَرَنَا يُوْنُسُ ح وَحَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُوْنُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ قَالَ اَبُوْهُرَيْرَةَ اُتِيَ رَسُوْلُ اللهِ - صلى

---

[1] قال البغوی فی معالم التنزیل :ج۳ص۱۲۲) لاحتنکن ذریته ای لاستاصلنهم بالاضلال یقال احتنک الجراد الزرع اذا اکله وقیل هومن قول العرب حنک الدابة اذاشد فی حنکها الاسفل حبلا یقودها ای لاقودتهم کیف شئت وقیل لاستولین علیهم بالاغواء_

الله عليه وسلم - لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ بِإِيلِيَاءَ بِقَدَحَيْنِ مِنْ خَمْرٍ وَلَبَنٍ، فَنَظَرَ إِلَيْهِمَا فَأَخَذَ اللَّبَنَ قَالَ جِبْرِيلُ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَاكَ لِلْفِطْرَةِ، لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ.

قوله: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَاكَ لِلْفِطْرَةِ: يعنى فطرت اسلاميه لره هغوى ﷺ اختيار كړو، هدايت اوضلالت ئى لبن اوخمريه شكل كښې پيش كړې شونوهغوى ﷺ لبن اختيار كړه اوهدايت طرف ئى خوښ كړو. كه چرې هغوى ﷺ خمراختيار كړى وې نودابه دضلالت انتخاب وو اودهغوى ﷺ امت به په ګمراهئى كښې اخته شوې وو.

[۴۴۳۳] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ - رضي الله عنهما - قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «لَمَّا كَذَّبَنِي قُرَيْشٌ قُمْتُ فِي الْحِجْرِ، فَجَلَّى اللَّهُ لِي بَيْتَ الْمَقْدِسِ فَطَفِقْتُ أُخْبِرُهُمْ عَنْ آيَاتِهِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهِ». زَادَ يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَمِّهِ «لَمَّا كَذَّبَنِي قُرَيْشٌ حِينَ أُسْرِيَ بِي إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ». نَحْوَهُ. (قَاصِفًا) رِيحٌ تَقْصِفُ كُلَّ شَيْءٍ.

۲۰۱= بَاب قَوْلِهِ تَعَالَى (وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ)

) كَرَّمْنَا) وَأَكْرَمْنَا وَاحِدٌ (ضِعْفَ الْحَيَاةِ) عَذَابَ الْحَيَاةِ وَعَذَابَ الْمَمَاتِ (خِلَافَكَ) وَخَلْفَكَ سَوَاءٌ (وَنَأَى) تَبَاعَدَ (شَاكِلَتِهِ) نَاحِيَتِهِ، وَهْيَ مِنْ شَكْلِهِ (صَرَّفْنَا) وَجَّهْنَا (قَبِيلًا) مُعَايَنَةً وَمُقَابَلَةً، وَقِيلَ الْقَابِلَةُ لِأَنَّهَا مُقَابِلَتُهَا وَتَقْبَلُ وَلَدَهَا (خَشْيَةَ الْإِنْفَاقِ) أَنْفَقَ الرَّجُلُ أَمْلَقَ، وَنَفِقَ الشَّيْءُ ذَهَبَ (قَتُورًا) مُقَتِّرًا. (لِلْأَذْقَانِ) مُجْتَمَعُ اللَّحْيَيْنِ، وَالْوَاحِدُ ذَقَنٌ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ (مَوْفُورًا) وَافِرًا (تَبِيعًا) ثَائِرًا، وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ نَصِيرًا. (خَبَتْ) طَفِئَتْ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (لَا تُبَذِّرْ) لَا تُنْفِقْ فِي الْبَاطِلِ ــــ (ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ) رِزْقٍ (مَثْبُورًا) مَلْعُونًا (لَا تَقْفُ) لَا تَقُلْ (فَجَاسُوا) تَيَمَّمُوا. يُزْجِي الْفُلْكَ يُجْرِي الْفُلْكَ (يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ) لِلْوُجُوهِ.

د كلماتو تشريح:

قوله: (قَاصِفًا) تَقْصِفُ كُلَّ شَيْءٍ: په آيت كښې دى ,, فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ الرِّيحِ قاصف هغه سخت طوفان ته وائى چه هرڅيزدبيخ نه راوباسى اوغورزوى.

قوله: (ضِعْفَ الْحَيَاةِ) عَذَابَ الْحَيَاةِ وَعَذَابَ الْمَمَاتِ: په آيت كښې دى إِذًا لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ,,ابو عبيده رحمه الله دهې تفسيركړې دې ,,ضعف عذاب الحياة وضعف عذاب الممات ابوعبيده رحمه الله او بعضو وئيلى دى,, عذابا ضعفا فى الحياة وعذابا ضعفا فى الممات ،،موصوف عذابا حذف كړې دې صفت ،،ضعفا،، ئې ددې قائم مقام كړې دې اوبيائې ددې اضافت كړې دې[۱]

---

[۱]) قال البغوى فى معالم التنزيل: ج۳ص۱۲۷ يعنى اضعفنالک العذاب...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

قوله: (طائره) حظه: په آیت کښې دی .. وَكُلَّ إِنْسَانٍ أَلْزَمْنَاهُ طَائِرَهُ فِي عُنُقِهِ وَنُخْرِجُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كِتَابًا يَلْقَاهُ مَنْشُورًا اومونږ هر (عمل کونکی) انسان عمل (که نیک وی که بد) دهغه دغاړې هار جوړ کړې ایخودې دې (یعنی دهرسړی عمل هغه سره لازم اوملزوم دې) فرمائی په آیت کښې د طائره معنی حظه ده دځه معنی چه حصې قسمت اونصیب ده

قوله: (خِلَافَكَ) وَخَلْفَكَ سَوَاءٌ: په آیت مبارک کښې دی وَإِذًا لَا يَلْبَثُونَ خِلَافَكَ إِلَّا قَلِيلًا اوهغه وخت په هغه هم ستانه پس ډیر کم وخت دپاره حصارشی فرمائی چه خلافت (په کسره دخاء اوخلف (په فتح دخاء) دواړه برابر دی

قوله: وَنَأَى) تَبَاعَدَ: په آیت کښې دی وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنْسَانِ أَعْرَضَ وَنَأَى بِجَانِبِهِ اوچه کله مونږ انسان ته نعمت ورکوونو مخ اړوی اودډه کوی فرمائی آیت کښې ونأی په معنی تباعد دې یعنی لرې شو

قوله: (شَاكِلَتِهِ) نَاحِيَتِهِ، وَهِيَ مِنْ شَكْلِهِ: په آیت کښې دی قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَى شَاكِلَتِهِ د شاکلته تفسیرئې په ناحیة سره کړې دې اومعنی ئې طرف ،لاز اوطریقه ده اودا دشکل نه ماخوذ دې دشکل معنی ده مثل په شان (دلته زمونږ دمتن په نسخه کښې شکله داسم په خاې شکلته فعل دې دآیت مطلب دادې چه هر انسان په خپله خپله طریقه ،نیت . طبیعت اومذهب باندې روان دې اوهم په هغې باندې عمل کوی . (۱)

قوله: (قَبِيلًا) مُعَايَنَةً وَمُقَابَلَةً، وَقِيلَ الْقَابِلَةُ لِأَنَّهَا مُقَابِلَتُهَا وَتَقْبَلُ وَلَدَهَا: په آیت کښې دی .. أَوْ تَأْتِيَ بِاللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ قَبِيلًا په دې کښې دقبیلا معنی ده دسترګویه وړاندې . مخامخ به دې کافرانونیل چه مونږ دهغه وخت پورې ایمان نه راوړو ترکومې چه ته الله تعالی اوفرښتې زمونږ مخامخ نه راولې (اومونږ هغوی مخامخ اونه وینو) دقبیلا معنی مخامخ ،نوهم په دې مناسبت وړاندې فرمائی چه دائی ته قابله ځکه وائی چه هغه دښځې مخامخ کښې دچاچه بچې پیداکیږی اودهغې بچې اخلی اوقبلوی

قوله: (خَشْيَةَ الْإِنْفَاقِ أَنْفَقَ الرَّجُلُ أَمْلَقَ، وَنَفِقَ الشَّيْءُ ذَهَبَ: په آیت کښې دی إِذًا لَأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْإِنْفَاقِ وَكَانَ الْإِنْسَانُ قَتُورًا ددې معنی ده فقر (انفق الرجل) ونیلې شی اذا املق کله چه هغه محتاج اوفقیرشی، نفق الشئ ونیلی شی کله چه هغه څیزختم شی

قوله: (قَتُورًا) مُقَتِّرًا: په آیت کښې دی وَكَانَ الْإِنْسَانُ قَتُورًا القتور په معنی دمقتر دې یعنی بخیل

...بقیه ازحاشیه گذشته] فی الدنیا والاخرة وقیل الضعف هوالعذاب سمی ضعفا لضاعف الالم فیه ـ

(۱) قال ابن عباس علی ناحیته قال الحسن وقتاده علی نیته وقال مقاتل :علی خلیقته قال الفراء علی طریقته التی جبل علیها وقیل علی السبیل الذی اختاره لنفسه وهومن الشکل یقال :لست علی شکل وشاکلتی وکلها لغات متقاربة (وانظر تفسیر البغوی :ج۳ص۱۳۳ـ

قوله: (لِلأَذْقَانِ) مُجْتَمَعُ اللَّحْيَيْنِ، وَالْوَاحِدُ ذَقَنٌ: په آيت كښې دى يَخِرُّوْنَ لِلأَذْقَانِ سُجَّدًا د دواړو جامود يوځاى كيدو ځاى ته ذقن وائى اوددې جمع اذقان راځى.

قوله: (تَبِيعًا) ثَائِرًا، وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ نَصِيرًا: په آيت كښې دى ,, ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِ تَبِيعًا دې كښې تبيعا د ثائرا په معنى كښې دې، ثائر ديت غوښتونكې اوبدله اخستونكى ته وائى اوحضرت ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائيل چه تبيعا په معنى نصيرا دې .ديت طلب كونكې هم يو قسم مددګاروى.

قوله: (يَخِرُّونَ لِلأَذْقَانِ) لِلْوُجُوهِ: هغوى پرمخې راپريوزى ځكه چه ذقن هم په مخ كښې وى ددې دپاره الاذقان اوفرمائيلې شو.

۲۰۲=باب قَوْلِهِ (إِذَا أَرَدْنَا أَنْ نُهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا)

[۴۴۳۴] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ أَخْبَرَنَا مَنْصُورٌ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كُنَّا نَقُولُ لِلْحَيِّ إِذَا كَثُرُوا فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَمِرَ بَنُو فُلَانٍ.

حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ وَقَالَ أَمِرَ.

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دې چه كله به دجاهليت په زمانه كښې ديوې قبيلې خلق ډيرزيات شونو مونږ به وئيل ,, امربنوفلان ،،يعنى فلانكې قبليه زياته شوه دحميدى په طريق كښې امربنوفلان دې .دامام بخارى رحمه الله مقصد آيت ،،امرنا فيها.... ،، كښې مختلف قراتونو طرف ته اشاره كول دى.

په ''امرنا مترفيها،، كې مختلف قراءتونه: ① دجمهورو قراءت امرنا،، دې باب نصر نه ،،امر امرا.. معنى حكم وركول، په دې صورت كښې به دآيت ترجمه وى كله چه مونږ يوكلې هلاک كول غواړونو مونږ دهغې ښه ژوند تيرونكوته حكم وركوو. مطلب داچه دانبياء كرامو په ذريعه مونږ هغوى ته دايمان اواطاعت حكم وركوو. بياچه كله هغوى ګناه كوى نو مونږ هغوى تباه كوو.مولاناشبيراحمد عثمانى رحمه الله فرمائى :يعنى چه كله دبدوعملونوپه وجه يوكلې تباه كول وى نوهسې ئى داسې ناڅاپى نه رانيسى اوهلاكوى ئى .بلكه دحجت داتمام نه پس سزا وركولې شى .اول دپيغمبرياد هغه دنائبينوپه ذريعه زبانى خدائى احكام هغوى ته رسولې شى خاصكر دهغې ځائى مالدارانو او د اثر او رسوخ خلقوته دچا دمنلواونه منلواثرپه اكثروخلقووى خبرولې شى كله چه دالوئ خلق سره دپوهې دالله تعالى پيغام ردكوى اوبنه په ارت مخ نافرمانيانى كوى اود ټول كلى فضا مسموم اومكدر يعنى خرابوى هغه وخت هغه كلې خپل ځان ښكاره مجرم ثابت كړى اودالله تعالى دعذاب حقدار شى .(١)

(١) تفسيرعثمانى :۳۷۶فائده نمبر ۶_

خلاصه دکلام داشوه چه ,,امرنامترفیها،، کنبې دفسق اوفجورحکم مرادنه دې چه اشکال اوکړیشي چه الله تعالی څنګه دفسق اوفجورحکم ورکوی قُلْ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ اوبلکه دحکم نه مراددانبیاء په ذریعه مترفین ته دایمان اواطاعت حکم دې.[1]

دغه شان دیوکلی دتباهۍ اوبربادنی اراده هله کولې شی کله چه هغوی په بدوعملونوکنبې آخری حد ته اورسی نوبیا داتمام حجت دپاره دهغې ځائ مالدارانوخلقوته دالله تعالی پیغام رسولې شی اوچه کله هغوی دا هیراوشاته نی کړی نوپه هغوی عذاب راځی .داخوپه هغه صورت کنبې دی کله چه د,,امرنا..معنی دحکم کولودپاره راشی خودامرنامعنی دډیر والی هم راځی لکه چه دلته دحمیدی په طریق کنبې امرېنوفلان په معنی ،،کثیر،، راځی په دې صورت کنبې به ترجمه وی کله چه مونږ یوکلې هلاکول غواړونوهلته دمالدارانوشمیرزیاتوو. هغوی فسق اوګناه کوی نومونږ هغوی تباه کړو.

② قراءت دابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړیشوې دې ,,امرنامترفیها،، امردباب سمع نه دې معنی ئی دوړاندې کیدلواوزیاتیدلوده. دلته ددې معنی کثرنا ده متعدی ده یعنی دې کلی کنبې مونږ دعیش پرستوخلقوشمیرزیاتوو دامتعدی اولازم دواړه قسمه استعمالیږی وائی امرېنوفلان فلانکې خاندان زیات شو. امرالله الله تعالی دې هغوی زیات کړی.

۲۰۳=باب (ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا)

[۴۴۲۵] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا أَبُو حَيَّانَ التَّيْمِيُّ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- قَالَ أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِلَحْمٍ، فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ، وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ، فَنَهَسَ مِنْهَا نَهْسَةً ثُمَّ قَالَ «أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَهَلْ تَدْرُونَ مِمَّ ذَلِكَ يُجْمَعُ النَّاسُ الأَوَّلِينَ وَالآخِرِينَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ، يُسْمِعُهُمُ الدَّاعِي، وَيَنْفُذُهُمُ الْبَصَرُ، وَتَدْنُو الشَّمْسُ، فَيَبْلُغُ النَّاسَ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ مَا لاَ يُطِيقُونَ وَلاَ يَحْتَمِلُونَ فَيَقُولُ النَّاسُ أَلاَ تَرَوْنَ مَا قَدْ بَلَغَكُمْ أَلاَ تَنْظُرُونَ مَنْ يَشْفَعُ لَكُمْ إِلَى رَبِّكُمْ فَيَقُولُ بَعْضُ النَّاسِ لِبَعْضٍ عَلَيْكُمْ بِآدَمَ فَيَأْتُونَ آدَمَ عليه السلام فَيَقُولُونَ لَهُ أَنْتَ أَبُو الْبَشَرِ خَلَقَكَ اللَّهُ بِيَدِهِ. وَنَفَخَ فِيكَ مِنْ رُوحِهِ، وَأَمَرَ الْمَلاَئِكَةَ فَسَجَدُوا لَكَ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلاَ تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ أَلاَ تَرَى إِلَى مَا قَدْ بَلَغَنَا فَيَقُولُ آدَمُ إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنَّهُ نَهَانِي عَنِ الشَّجَرَةِ فَعَصَيْتُهُ، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي

---

[1])واختار الطبری قراءت الجهور واختارفی تاویلها حملها علی الظاهر وقال المعنی امرنا مترفیها بالطاعة فعصوا(فتح الباری :ج۸ص۳۹۵) وقال بعض السلف ان الامرفی قوله تعالی امرنامترفیها امرتکوینی قدری بالفسق وقوله تعالی ان الله تعالی لایامربالفحشاء معناه نفی الامرالتشریعی فلامنافاة(تفسیرعثمانی :۳۷۶)۔

،اذْهَبُوا إِلَى نُوحٍ، فَيَأْتُونَ نُوحًا فَيَقُولُونَ يَا نُوحُ إِنَّكَ أَنْتَ أَوَّلُ الرُّسُلِ إِلَى أَهْلِ الأَرْضِ، وَقَدْ سَمَّاكَ اللَّهُ عَبْدًا شَكُورًا اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ فَيَقُولُ إِنَّ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنَّهُ قَدْ كَانَتْ لِي دَعْوَةٌ دَعَوْتُهَا عَلَى قَوْمِي نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى إِبْرَاهِيمَ، فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ، فَيَقُولُونَ يَا إِبْرَاهِيمُ، أَنْتَ نَبِيُّ اللَّهِ وَخَلِيلُهُ مِنْ أَهْلِ الأَرْضِ اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ فَيَقُولُ لَهُمْ إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنِّي قَدْ كُنْتُ كَذَبْتُ ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ - فَذَكَرَهُنَّ أَبُو حَيَّانَ فِي الْحَدِيثِ - نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي اذْهَبُوا إِلَى مُوسَى، فَيَأْتُونَ مُوسَى، فَيَقُولُونَ يَا مُوسَى أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ، فَضَّلَكَ اللَّهُ بِرِسَالَتِهِ وَبِكَلَامِهِ عَلَى النَّاسِ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ فَيَقُولُ إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنِّي قَدْ قَتَلْتُ نَفْسًا لَمْ أُومَرْ بِقَتْلِهَا، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى عِيسَى، فَيَأْتُونَ عِيسَى فَيَقُولُونَ يَا عِيسَى أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ، وَكَلَّمْتَ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا اشْفَعْ لَنَا أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ فَيَقُولُ عِيسَى إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ - وَلَمْ يَذْكُرْ ذَنْبًا - نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي اذْهَبُوا إِلَى مُحَمَّدٍ - صلى الله عليه وسلم - فَيَأْتُونَ مُحَمَّدًا - صلى الله عليه وسلم - فَيَقُولُونَ يَا مُحَمَّدُ أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ وَخَاتَمُ الأَنْبِيَاءِ، وَقَدْ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ فَأَنْطَلِقُ فَآتِي تَحْتَ الْعَرْشِ، فَأَقَعُ سَاجِدًا لِرَبِّي عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَيَّ مِنْ مَحَامِدِهِ وَحُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِ شَيْئًا لَمْ يَفْتَحْهُ عَلَى أَحَدٍ قَبْلِي ثُمَّ يُقَالُ يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ، سَلْ تُعْطَهْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، فَأَرْفَعُ رَأْسِي، فَأَقُولُ أُمَّتِي يَا رَبِّ، أُمَّتِي يَا رَبِّ فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ أَدْخِلْ مِنْ أُمَّتِكَ مَنْ لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ مِنَ الْبَابِ الأَيْمَنِ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ وَهُمْ شُرَكَاءُ النَّاسِ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الأَبْوَابِ، ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَحِمْيَرَ، أَوْ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَبُصْرَى».

[ر: ۳۱۶۲]

د شفاعت حديث او ددې تشريح: دا حديث شفاعت دې، امام بخارى رحمه الله كتاب الانبياء كښې هم ددې حديث تخريج كړې دې خودلته نې داحديث په تفصيل سره ذكركړې دې .امام مسلم اوامام ترمذى هم حديث شفاعت نقل كړې دې .(١)

---

(١) الحديث اخرجه البخارى فى كتاب احاديث الانبياء باب قول الله تعالى ارسلنا نوحا الى قومه وباب وقول الله عزوجل واتخذالله ابراهيم خليلا وفى تفسير سورة بنى اسرائيل هنا ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

ددې حاصل دادې چه قيامت په ورځ به ميدان حشر كښې كله ټول خلق راجمع كړيشي اودهغه ځائ په خطرناكه ګرمئ اودلړزيدونكې ويرې دوجه نه به ناقابل برداشت تكليف اومصيبت كښې وى نودوى په مينځ كښې به مشوره اوشي چه يو داسې شخصيت له تلل پكار دى چه الله تعالى ته سفارش اوكړى ،نوخلق به حضرت آدم عليه السلام له راشى اوهغه ته به دسفارش دپاره اووائى خوهغه به انكار اوكړى اودحضرت نوح عليه السلام طرف ته دورتللو مشوره به وركړى خلق به حضرت نوح عليه السلام له راشى حضرت نوح عليه السلام به ورته دحضرت ابراهيم عليه السلام مشوره وركړى ،حضرت ابراهيم عليه السلام به ورته دحضرت موسى عليه السلام مشوره وركړى .اوحضرت موسى عليه السلام به ورته دحضرت عيسى عليه السلام دپاره اووائى اوحضرت عيسى عليه السلام به ورته حضرت سروردوعالم محمد مصطفى ﷺ خواته دتلو مشوره وركړى .نوخلق به نبى كريم ﷺ له راشى هغوى به دالله تعالى نه دسفارش كولودرخواست اوكړى ، حضوراكرم ﷺ به دعرش لاندې الله تعالى ته مخامخ په سجده پريوزى اودالله تعالى داسې تعريف اوثنابه بيانوى چه دهغوى ﷺ نه وړاندې به چاته هم د تعريف اوثنا داسې كلمې نه وى خودلې شوى .دنبى كريم ﷺ سفارش به قبول كړيشى اوالله تعالى به ارشاد اوكړى اې محمد: سر اوچت كړه غواړه تاته به دركولې شى سفارش كوه ستاسفارش به قبولولې شى. حضور ﷺ به فرمائى امتى يارب امتى يارب،، ارشادبه اوشى اې محمد ﷺ ته دخپل امت نه هغه كسان په چاچه حساب نشته دجنت نبى طرف دروازه باندې داخل كړه . دينه علاوه په باقى دروازو باندې هم دنوروخلقو سره داخليدلې شى .بيا حضوراكرم ﷺ اوفرمائيل په هغه ذات مى دې قسم وى دچادقدرت په قبضه كښې چه زما خان دې دجنت دغاړويه دواړو طرفونوكښې مكه اوحميريامكه اوبصرى هومره فاصله ده .

قوله: (يُسْمِعُهُمُ الدَّاعِي ، وَيَنْفُذُهُمُ الْبَصَرُ: يعنى ميدان حشربه داسې هواروى چه په دې كښې اوازكونكې به ټولوته خپل اواز اورولې شى اوهرطرف ته نظررسولې شى .يعنى ټولوته كتلې شى .دلته لفظ ينفذهم باره كښې اختلاف دې چه دا دباب افعال نه دې كه دمجرد نه دې. اختلاف دا دې چه دال سره دې كه ذال سره ، د محدثينو حضراتو په نزد داكثرذال سره د مجرد نه. ينفذهم لولى يعنى نظربه په ټولوكښې نفوذ كولې شى . ابوحاتم سجستانى داپه دال سره ينفدهم لولى اوترجمه كوى ،،يبلغ اولهم واخرهم ،،يعنى هغه به نظراول اوآخرته رسولې شى (۱) بيا دلته دنظرنه دمخلوق نظر مراد دې ابوعبيده رحمه الله دالله تعالى نظر مراد اخستې دې ليكن هغه قول راجح نه دې خكه چه دالله كتل ټولو خلقو ته په هرحال كښې محيط دى .كه

...بقيه ازحاشيه گذشته] وفى كتاب التوحيد باب قول الله وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة وفى كتاب الرقاق باب صفت الجنة والنار واخرجه مسلم فى كتاب الايمان باب اثبات الشفاعة واخراج الموحدين من النار :ج١ص١١ والترمذى فى صفة القيامة باب ماجاء فى الشفاعة رقم ٢٤٣٤_

(۱) شرح مسلم للنووى :ج١ ص١١١) وفتح الملهم :ج١ص٢٦٧_٢٦٨ وفتح البارى :ج٨ص٣٩٦)_

خلق په یومیدان کښې وی یاپه مختلفومقاماتوکښې وی .دلته دخلقونظرمراد دې ټول به په یومیدان کښې داسې جمع وی هرنظربه ټول لیدیشی .(۱)

قوله: وَتَدْنُو الشَّمْسُ: اونمربه نزدې شی بعضې روایاتوکښې ,,قدرالمیل،، اضافه هم ده.(۲) یعنی دیومیل په اندازه به شی .راوی وئیلی دی چه دانشی متعین کیدې چه ددې میل سره دمسافت میل دې یامکحله اوسرمه دانئ؛ په مینځ کښې چه کوم سلائی وی هغې ته هم میل وائی هغه مراد دې بهرحال که دمسافت والا میل هم مراد وی نوبیاهم دهغې دګرمی دسختوالی اندازه نشی کولې .نن دنمرفاصله په لاکهونو میلونونه زیاته ده خوددې په ګرمئ اوسیزلوسره سړې لیونی کیږی نوهغه وخت به دګرمئ څه حال وی .

قوله: (وَإِنِّي قَدْ كُنْتُ كَذَبْتُ ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ - فَذَكَرَهُنَّ أَبُو حَيَّانَ فِي الْحَدِيثِ:

د ثلاث کذبات تفصیل: ددې دریوکذبات تفصیل په کتاب الانبیاء کښې تیرشویدې هلته دروایت الفاظ دې ,,لم یکذب ابراهیم علیه السلام الاثلاث کذبات : ثنتین منهن فی ذات الله عزوجل قوله: انی سقیم وقوله بل فعله کبیرهم هذا ،وقال بیناهو ذات یوم وسارة ، اذاتی علی جبار من الجبابرة ،فقیل له : ان هاهنا رجلا معه امراة من احسن الناس ،فارسل الیه ، فساله عنها فقال : من هذه ، ؟ قال هذه اختی فاتی سارة قال یاسارة لیس علی وجه الارض مؤمن غیری وغیرك وان هذا سالنی عنك فاخبرته انك اختی فلاتکذبینی.(۳) دلته اشکال پیداکیږی چه دحضرت ابراهیم علیه السلام متعلق قرآن اوفرمائیل.,وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا اوصدیق هغه چاته وائی چه دهغه رګونوکښې صدق ورننوتې وی ،دچانه چه د دروغوصادرکیدلوهډواحتمال باقی نه وی ،نوسره دصدیق کیدودحضرت ابراهیم علیه السلام نه ددروغو ارتکاب څنګه اوشو؟ ددې اشکال جواب دا دې چه په اصل کښې داکذب نه ووتوریه وو. حضرت ابراهیم علیه السلام انی سقیم ،،اوفرمائیلو ددې نه دهغوی مطلب داووچه دخپل نه تللو دپاره څه ذلیل پیش کولونه قاصریم کوم چه تاسواومنئی زه سقیم الحجة یم تاسونه شم قائل کولې ظاهره ده چه حضرت ابراهیم علیه السلام که دا وئیلې چه تاسوداخترخوشحالو دپاره ځئ اوهلته خوبه هم شرک کوئی دالله تعالی دتوحید عقیدې خلاف به کوئی اوداجائزاوصحیح نه ده نوخلق به ددې خبرې دپاره هیڅ کله هم نه ووتیارشوی .(۴)

اوداهم ممکن دی چه انی سقیم نه وقتی توګه باندې په هغه وخت کښې بیمارکیدل مراد وی بلکه مطلب دا چه زۀ مستقبل کښې بیمارکیدونکې یم داسم فاعل صیغه دمستقبل دپاره په کثرت سره استعمالیږی (۵)

---

(۱) فتح الباری (ج۸ص۳۹۶ وشرح مسلم للنووی :ج۱ص۱۱۱وفتح الملهم :۱ج ۳۹۷ص۳۹۸_

(۲) فتح الباری .کتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار:ج۱۱ص۴۳۲)_

(۳) صحیح البخاری (مع فتح الباری کتاب الانبیاء باب واتخذ الله ابراهیم خلیلا رقم :۳۳۵۸_

(۴) فتح الباری :ج۶ص۳۹۱ کتاب الانبیاء باب واتخذ الله ابراهیم خلیلا _

(۵)فتح الباری :ج۶ص۳۹۱ کتاب الانبیاء باب واتخذ الله ابراهیم خلیلا _

امام نووى رحمه الله نقل كړى دى چه حضرت ابراهيم عليه السلام واقعة هغه وخت بيمارو او دهغه تبه وه حافظ ابن حجر رحمه الله دابعيد ګرځولې دې ځکه چه په هغه صورت کښې به بيا دانه صراحتا كذب وى اونه تعريضا (١) اودا مطلب هم کيدې شى چه ستاسو شرکى حرکتونوسره موافقت کولو دپاره زما طبيعت تيارنه دې دهغوى سره موافق نه كيدل نى بيمارئ سره تعبير كړل علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ لاندې ليکى : دهغوى په قوم كښې دنجوم زور وو، حضرت ابراهيم عليه السلام هغوى ته دخودلو په غرض ستوروته اوكتل او وئې فرمائل چه زما طبيعت ټيک نه دې (اوداسې په دنياکښې څوک دې چه دهغه طبيعت به په هرقسم ټيک وى څه ناڅه دننه عوارض په بهرنى خو وى ،هم دا تكليف څه كم وو چه هر وخت به ئې د قوم حالت كتلو او خفه كيدو به) يا دامطلب چه زه بيماريدونكې يم (بيمارى نوم دې دمزاج دبرابر كيدونه اخوا كيدل ، نودمرګ نه وړاندې هرسړى ته داپيش كيدونكې دې) بهر حال دابرهيم عليه السلام مراد صحيح وو ستورو ته كتل او انى سقيم وئيلو نه خلقودا مطلب اوګڼړو چه دنجوم په ذريعه هغه دا معلومه كړه چه زردې بيماريدونكې يم .هغه خلق دميلې دپاره دښارنه بهرتلل. داكلام اوريدلوسره حضرت ابراهيم عليه السلام ځان سره دبوتلونه معذور اوګڼړلو نويوازې پريخودلواولاړل . دحضرت ابراهيم عليه السلام غرض هم داووچه ځان له يوه موقع ملاؤ شى نو ددې دروغژنو خدايانوخبر به واخلم بت خانې ته لاړلو اوبتانوته ئې خطاب اوكړلوچه دا خوراكونه اوندرونه ستاسو مخې ته پراته دې ولې نه خورئى سره ددې چه ستاسو شكلونه دخوراك كونكو دى .پورتنى تقريرنه معلومه شوه چه د حضرت ابراهيم عليه السلام انى سقيم وينا دواقعى مطلب په اعتبار سره دروغ نه وه اومخاطبينوچه كوم مطلب اوګڼړلو دهغې په اعتبار سره خلاف واقعه وه . ددې دپاره په بعض احاديث صحيحه كښې په دې د كذب اطلاق كړې شوې دې حلانكه په حقيقت كښې مباح ده . لكه په حديث هجرت كښې ,, ممن الرجل ،، دجواب باره كښې رسول الله اوفرمائيل ,,من الماء،، اودابوبكرصديق رضى الله عنه ديوسوال په جواب كښې اوفرمائيل، ،رجل يهديني السبيل،، اودا توريه هم چونكه دابراهيم عليه السلام داوچتې مرتبې دشان په لحاظ خلاف اولى وه نوپه دې قاعده ,,حسنات الابرار سيئات المقربين ،، حديث كښې داذنب ګرځولې شوې دې .(٢)

دغه شان قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَاسْأَلُوهُمْ كښې هم توريه ده اودامشروط ده ,,إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ سره مطلب دادې كه چرې دابتان خبرې كولې شى نوبيابه دې لوئ داكار كړې وى اوكه خبرې نشى كولې نوبيا به بل چا داكاركړې وى .(٣)

---

(١) فتح البارى :ج٦ص ٣٩١ كتاب الانبياء باب واتخذ الله ابراهيم خليلا _

(٢) تفسيرعثمانى :٥٩٨ فائده نمبر٨_

(٣) فتح البارى :ج٦ص ٣٩٢ كتاب احاديث الانبياء باب واتخذالله ابراهيم خليلا_

علامه زمحشري رحمه الله فرمائي چه دحضرت ابراهيم عليه السلام مقصود دبت دپاره ددې کارثابتول نه دي بلکه داکارئي هم خپل طرف ته يوبليغ تعريفي طريقه سره منسوب کول وو. کوم کښې چه کافرانوپورې خندل هم وو. داپه مثال سره داسې اوګڼرئي چه تاسوښکلي خطاط ئي، تاسويوتحريراوليکلوستاسويو بل ملګرې چه هغه له دقلم نيولوطريقه هم نه ورځي تانه تپوس اوکړي چه دا تحريرچاليکلې دې؟ ته هغه ته په جواب کښې اووائي داتا ليکلې دې په دې جواب کښې مقصد هيڅ چرې دانه وي چه دا واقعي هغه ليکلې دې بلکه په دې کښې دتحرير خپل طرف ته نسبت ګرځول مقصد دې اوورسره مخاطب سره توقه مسخره هم مقصد وي (١) دغه شان حضرت ابراهيم عليه السلام اوفرمائيل قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا هغوی له پوهيدل پکارووچه داکارکونکې خو موجود دې نوبيا ولې تپوس کوی دې نه پس وړاندې حضرت ابراهيم عليه السلام خندا فرمائي فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ.

امام کسائي عليه السلام ددې يوه بله توجيه کړې ده ،چه ،،فعله،، ځان له جمله ده ،کبيرهم ددې فاعل نه دې بلکه کبيرهم هذا مستقل جمله مستانفه ده يعني فعله من فعله داکارئې اوکړو چاچه هم اوکړو اوددې بتانولوئ دا دې په دې توجيه کښې چه کوم تکلف دې هغه ظاهر دې (٢) شيخ الاسلام مولانا شبيراحمد عثماني رحمه الله ليکي :يعني زمانه دتپوس ضرورت نشته بلکه که دافرض کړې شي دا لوئ چه صحيح سالم ولاړ دې اودماتولو خيزهم هغه سره دې داکارئي کړې وی نودبحث اوتحقيق په وخت کښې دالزام اوتبکيت په توګه دا دعوی کوم چه دې لوئ بت داتول واړه مات کړل اوس تاسوسره څه دليل دې چه ده نه دی کړی آياپه دنيا کښې داسې نه کيږی چه لوئ ماران واړه اولوئ کبان واړه کبان خوری .لوئ باشاهان واړه حکومتونه تباه کوی .په دې وجه زمااوستاسوپه مينځ کښې بهترين صورت دا دې چه تاسو پخپله ددې معبودانو نه تپوس اوکړئ چه دا څه قصه شوې ده .که دوی چرته څه وينا کولې شی نوپه داسې اهم معامله کښې به دې وينا سره زما د رښتيا او دروغوفيصله به اونه کړی

ددې سلسلې يوه تنبيه: زمونږ دتقريرنه معلومه شوه چه ،،بَلْ فَعَلَهٗ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا ،، وينا کول دواقعه خلاف خبر ورکولو په توګه نه ووکوم ته چه حقيقتا دروغ اووئيلې شي بلکه دهغوی دتحقيق اوتجهيل دپاره يوفرضي احتمال ئي ددعوی په صورت کښې واخستلواودتعريض اوالزام کلام ئي کړې وو لکه چه په عام توګه بحث اومناظروکښې کيږی . دې ته دروغ نشي وئيلې اوپه ظاهرد درغو صورت معلوميږی څکه په بعضې احاديثو کښې په دې باندې د لفظ کذب اطلاق کيږی مفسرينو ددې دپاره توجيه کښې نورهم محمل بيان کړی دی مګر زمونږ په نزد هم داتقرير ډيرصفابې تکلف او اقرب الى الروايات دې (٣)

---

١) تفسير كشاف :٣،ص ١٢٤)_

٢) فتح البارى :ج٦ص٣٩٢ كتاب الانبياء باب واتخذ الله ابراهيم خليلا _

٣) تفسيرعثمانى :٤٣٦ فائده نمبر١ _

اودریمه خبره دحضرت ابراهیم علیه السلام خپلې بی بی حضرت ساره ته ،،هذه اختی،،ونیل دی دا هم توریه ده اومطلب داووچه داخوت دینیه په اعتبارسره دازما خورده .هغوی دا ګنړل لکه چه نسبی قرابت په اعتبار سره ئې خوربنائی

البته دلته یواشکال کیږی چه کله دا خبرې دروغ نه وې بلکه دتوریه په زمره کښې داخلې وې نوبیاحضرت ابراهیم علیه السلام دا په کذبات سره ولې تعبیر کړې ددې جواب دا دې چه دا توریې هم د حضرت ابراهیم علیه السلام دمرتبې داوچتوالی په اعتبار سره خلاف اولی وې په دې وجه په دې قاعده حسنات الابرار سئیات المقربین دا هغوی کذب اوګرځولې

قوله: (يَا عِيسَى أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ: حضرت عیسی علیه السلام الله تعالی په کلمه ,,کن،،سره پیدا کړې دې .دتوالد اوتناسل ظاهری واسطې نوبت دهغه په پیدا کیدو کښې نه دې راغلې شیخ محی الدین عربی رحمه الله لیکی چه کلمه وائی ،،لفظ وضع لمعنی مفرد،، ته ،څنګه چه په کلمه کښې معنی پټه وی دغه شان په حضرت عیسی علیه السلام کښې حقیقت ملکیه مستور وو، صورة خوهغه بشروو په هغه کښې حقیقت ملکیه موجودوو.

نقش آدم معنی جبرائیل رسته از جمله هواوقال وقیل

ترجمه :یعنی په صورت کښې انسان خوپه حقیقت کښې دجبرائیل په صفاتوموصوف دې. نه دخواهشاتوغلبه اونه په قیل اوقال کښې حجت بازی .

اوحضرت عیسی علیه السلام ته خوکلمة الله ونیلې شوې دی اوقرآن ونیلی دی الیه یصعد الکلم الطیب په دې وجه هغوی آسمان ته اوچت کړیشو.

محی الدین ابن عربی رحمه الله وائی چه دحضرت عیسی رحمه الله دنیوی پیدائش دمورد خیټې نه شوې دې لکه چه ,,وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ نه معلومیږی خو اصل مولد دهغه عالم قدس وو ددې دپاره الله تعالی تبارک وتعالی دلرې مودې نه پس هغه واپس خپل اصل وطن عالم قدس ته اوغوښتلو.

په ,,کلمته القاها الی مریم وروح منه،، کې د روح متعلق د علماؤ اقوال وړاندې فرمائی وَرُوحٌ مِنْهُ، یعنی الله په خپل خاص حکم دحضرت عیسی علیه السلام **روح مخلوق من امرالله،،** دا ،،من،، ابتدائیه دې تبعیضیه نه دې (۱) غرض دا دې چه دحضرت عیسی علیه السلام په پیدائش کښې دمادې دخل

(۱)(وروح منه : قیل هوروح کسائر الارواح الاان الله تعالی اضافه الی نفسه تشریفا وقیل الروح هو النفخ الذی نفخ جبرئیل علیه السلام فی درع مریم واضافه الی نفسه لانه کان یامره وقیل الروح الوحی (وانظرمعالم التنزیل :ج ۱ص۵۰۲ صورة النساء) ویحکی ان طبیبا نصرانیا ناظر علی بن الحسین الواقدی فقال له ان فی کتابکم ما یدل علی ان عیسی علیه السلام جزء منه تعالی وتلاهذه الایة فقرالواقدی قوله تعالی وسخرلکم مافی السموات وما فی الارض جمیعا منه فقا اذن یلزم ان یکون جمیع الانبیا ء جزء منه سبحانه وتعالی علواکبیرا فانقطع النصرانی فاسلم (روح المعانی ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

نشته ، دصلب والد دخل نشته ، اودروح الوتل آسمانونو طرف ته وی ددې دپاره حضر عيسى عليه السلام الله تعالى آسمان طرف ته اوچت کړو.دلته په روايت کښې دی چه حضرت عيسى عليه السلام به اوفرمائی چه تاسومحمد ﷺ له لاړشئ نو خلق به دحضور اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضرشی .يوروايت کښې دی چه حضرت عيسى عليه السلام به پخپله خلقوسره دحضور اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضريږی نو دې نه ديوحديث مفهوم واضح کيږی کوم کښې چه هغوی ﷺ فرمائيلی دی چه عيسى عليه السلام په ټولوپيغمبرانوکښې ماته نزدې دې (١)په عام توګه ددې مطلب دابيان کولې شی چه دعيسى عليه السلام اوهغوی ﷺ په مينځ کښې بل نبی نه دې مبعوث شوې خوددې روايت په بناددې يومطلب دا هم شوچه په قيامت کښې د حضرت عيسى عليه السلام اوحضوراکرم ﷺ قرب يعنى نزديکت ظاهريږی په دې توګه چه دشفاعت د درخواست دپاره خلقوسره د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حضرت عيسى عليه السلام هم راځی .نولکه په قيامت کښې دهغوی قرب دنبی کريم ﷺ سره وی .

قوله: وَقَدْ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ:

د ”**قد غفرالله لک ما تقدم من ذنبک وما تاخر**“، **تشريح**: حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه داخطاب تشريف دې اوددې مطلب دا دې چه الله تعالى هغوی ﷺ ته په دنيا کښې داتسلی ورکړې ده چه په آخرت کښې به ستاپه يوه خبره هم نيول نه کيږی نولکه هغوی ﷺ به دشفاعت اوسفارش دپاره دالله تعالى په دربار کښې پيش کيدېشی .(٢)بعضې حضراتو وئيلی دی چه دکوموحضراتونه صدور د ذنب کيږی دهغوی مرتبه دهغې سره نشی برابريدلې دچانه چه صدور ذنب نه وی شوې .دنورو انبياء کرامو نه دهغوی دمرتبې په اعتبار سره صدور د ذنب شوې وونوځکه هغوی دشفاعت جرات اونه کړې شواورسول الله ﷺ دصدورذنب نه محفوظ وو ددې دپاره هغوی ﷺ په شفاعت باندې تيار شو. حافظ ابن تيميه اودهغوی په اتباع کښې حافظ ابن قيم رحمه الله دا قاعده رد کړې ده چه دکوم سړی نه صدوروذنب شوې وی هغه دهغه سړی برابري دې نشی .دچانه چه صدور ذنب نه وی شوې .ځکه چه ډير خلق دګناه صادريدو نه پس سړې توبه کوی نودهغه درجه دهغه سړی برابريدې شی دچانه چه ګناه نه وی صادرشوې بلکه زياتيدې هم شی .امام بيهقی ,,مناقب شافعی،، کښې ليکلی دی چه ,, ماتقدم

...بقيه ازحاشيه گذشته] ج۶ص۲۵ سورة النساء) وقال ابن العربى فى احكام القرآن :ج۱ص۵۱۷ اختلف العلماء فيه على ستة اقوال الاول انها نفخة فى جيب درعها وسميت النفخة روحا لانها تكون من الريح الثانى ان الروح الحياة الثالث ان معنى الروح رحمة الرابع ان روح صورة لماخلق الله تعالى آدم اخرج من صلبه ذريته وصور هم فعيسى من تلك الارواح ادخله فى مريم واختار هذا ابى بن كعب وقيل فى الخامس روح صورة صورها الله تعالى ابتدء وجهها فى مريم وقيل فى السادس سر روح منه يعنى من جبرئيل وهو معنى كلام الله القاها اليه وروح منه اى القاء الكلمة كان من الله ثم من جبرئيل _

(١) وفى جامع الاصول فى احاديث الرسول :ج۸ص۵۲۳) والفاظه انا اولى الناس بابن مريم فى الدنيا والاخرة.

(٢) ولم تحت هذه الاية ولكنه ذكره فى فيض البارى : ج ٤ص ٩١ تحت قوله تعالى □□اعملوماشئتم ..._

من ذنبك،، نه هغه قصورمراد دي كوم چه دنبوت نه وړاندې صادر شوى وى او..ماتاخر،، نه مراد عصمت دي چه الله تعالى دنبوت وركولونه پس هغوى ﷺ معصوم جوړكړلو اوبيا هغوى ﷺ نه هيڅ ګناه اوقصورصادر نه شو (١)۔ بعضې حضراتو ونيلى دى چه درسول الله ﷺ وړاندينى اوروستوتولې خطاګانې الله تعالى معاف كړې وې ددې دپاره حضرت عيسى عليه السلام به دهغوى ﷺ په خدمت كښې دورتلو مشوره وركوى چه په دې مقام شفاعت كښې بالفرض كه څه تقصيرهم شوې وى نوهغه هم دعام معافې لاندې اول راغلې دى .(٢)

قوله: فَأَقُولُ أُمَّتِي يَارَبِّ، أُمَّتِي يَارَبِّ: دلته دا شكال پيدا كيږى چه ټول مخلوق حضور اكرم ﷺ له ورغلواوهغوى دسفارش وعده هم فرمائيلې .نوبياهغوى صرف دخپل امت سفارش ولې كوى اودنورو خلقو سفارش نه كوى ددې جواب دادې چه دلته په روايت كښې اختصار دې ګنى حضور اكرم ﷺ به دحساب شروع كولودپاره دټولو خلقو سفارش كوى په رواياتوكښې ددې ذكرموجود دې .هغه به شفاعت كبرى وى دلته روايت كښې دخپل امت دپاره شفاعت صغرى ذكر دې .(٣)

قوله: إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَحِمْيَرَ، أَوْكَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَبُصْرَى: دجنت په دوو دروازو كښې به دومره فاصله وى څومره چه دمكې اوحميرپه مينځ كښې ياوئى فرمائيل څومره چه دمكې اوبصرې په مينځ . دمختلف ښارونو نومونه هغوى ﷺ اخستى دى ، داپه دې اعتبار سره چه دكومې علاقې خلق هغوى ﷺ ته مخاطب دى هغوى دخپلوښارونوفاصله باندې پوهيږى .دلته دا شك كيديشى چه دادومره لويه دروازه خوبه ښه نه معلوميږى .ددې جواب دا دې چه په اصل كښې ددروازو لوئې والې اووړوكوالى او ددې مناسبت اوښائسته والى تعلق اوانحصار دعمارت په لوئى والى وړوكوالى باندې وى .كه عمارت ډير لوئ وى نو وړه دروازه ښه نه ښكارى اوظاهره ده دجنت عمارت خوبه ډير عظيم وى نوپه دې وجه ددې دروازې هم لوئى وى

(١) داقول علامه نووى شرح مسلم ج١ص١٠٩ كښې قاضى عياض طرف ته منسوب كړې دې مناقب بيهقى زمونږ سره نشته البته دامام شافعى رحمه الله احكام القرآن كوم چه امام بيهقى جمع كړو په دې كښې دى سئل الشافعى عن قول الله عزوجل انا فتحنا لك فتحنامبينا ليغفرلك الله ماتقدم من ذنبك وماتاخرقال معناه (ما تقدم) من ذنب ابيك آدم وهبته لك (وماتاخر) من ذنوب امتك ادخلهم الجنة بشفاعتك (وانظر احكام القرآن للشافعى رحمه الله :٣٨_

(٢) فتح الملهم :ج١ص ٣٦٤)_

(٣) قوله يا محمد ادخل من امتك هذه القطعة فى الشفاعة الصغرى وكانت الاولى فى الكبرى لفتح باب الحساب وحاصله ان العالم مجموعه اذا احتاج الى شافع لم يسرعنهم مارابهم غير النبى صلى الله عليه وسلم واذا وصل الامرالى كل من الامم تكفل كل نبى لامته ....(فيض البارى : ٤ص١٩٨)_

٢٠٤= باب قَوْلِهِ (وَآتَيْنَا دَاوُدَ زَبُورًا)

[٤٤٣٦] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «خُفِّفَ عَلَى دَاوُدَ الْقِرَاءَةُ، فَكَانَ يَأْمُرُ بِدَابَّتِهِ لِتُسْرَجَ، فَكَانَ يَقْرَأُ قَبْلَ أَنْ يَفْرُغَ». يَعْنِي الْقُرْآنَ. [ر ١٩٦٧]

دحضرت داؤد عليه السلام دپاره دزبور قراءت آسان کړې شوې وو هغه به دخپل څاروی دپاره دزين تړلو حکم ورکولو اودزين دتړلونه وړاندې به هغوی ټول زبور لوستلې وو. دامعجزه وه. علامه سيوطي رحمه الله دبعضو بزرګانو متعلق نقل کړی دی چه هغوی به په يوه ورځ اوشپه کښې نهه څل قرآن پاک ختمولواوشيخ سهروردی عليه السلام به يوه ورځ کښې شپيته څل قرآن ختمولو دحضرت شاه اسماعيل شهيد باره کښې راغلی دی چه هغوی دمازيګرنه ترماښامه پورې په ترتيل سره قرآن مجيد ختم کړې وو.(١)

طئ زمان او طئ مکان: دصوفياؤ په اصطلاح کښې دې ته طئ زمان،، وائی اويو وی ،،طی مکان ،، مثلا يوپه ډير لږ وخت کښې ددې ځائی نه مکې معظمې ته اورسی شيخ ابن عربی ..فتوحات .. کښې داقسم ډير واقعات نقل کړی دی. يوه واقعه ئی ليکلې ده چه جوهری يوځل وده شو، خوب ئی اوليدو چه هغه بغداد ته تلې دې اوهلته ئې يوې ښځې سره واده کړې دې اودهغې نه دده ډير بچی پيدا شوی دی کله چه دخوب نه بيدار شو نوخه موده پس يوه ښځه دبغدادنه راغله اوهغې دعوی اوکړه چه جوهری هغې سره نکاح کړې ده اودا ماشومان دهغه دی. شيخ مجدد احمد سرهندی عليه السلام ددې واقعه نه انکار کړې دې او دائی صحيح نه ده ګڼلې مولانا انور شاد کشميری عليه السلام فرمائيلی دی چه زماپه نزد په دې کښې هيڅ بعد شته او د..طی زمان،، دباب نه ئی دا ګڼلې ده.(٢)

٢٠٥= باب (قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا).

[٤٤٣٧] (٣) حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ (إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ) قَالَ كَانَ نَاسٌ مِنَ الإِنْسِ

---

(١) فيض البارى :ج ٤ص١٩٧_

(٢) فيض البارى :ج ٤ص١٩٨_١٩٩)_

(٣) اخرجه البخارى ايضا فى التفسيررقم الحديث :٤٧١٥(مع الفتح) واخرجه مسلم فى التفسير باب اولئك الذين يدعون يبتغون رقم الحديث :٣٠٣ واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى التفسيرباب قوله تعالى قل ادعوالذين زعمتم رقم الحديث :١١٢٨٧_

يَعْبُدُونَ نَاسًا مِنَ الْجِنِّ، فَأَسْلَمَ الْجِنُّ، وَتَمَسَّكَ هٰؤُلَاءِ بِدِينِهِمْ. زَادَ الْأَشْجَعِيُّ عَنْ سُفْيَانَ عَنِ الْأَعْمَشِ. (قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ). [٤٤٣٨]

دآيت ترجمه ده تاسواووايئى چه راوغواړه هغه څوک په چا چه تاسو دالله تعالى نه سوا دمعبود گمان كولو(كله چه هغه راؤغواړى) نونه به هغوى ستا تكليف كم كولې شى اونه به هغه بدلولې شى. حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ددې آيت په تفسيركښې فرمائى چه څه خلقوبه دپيريانو عبادت كولو. هغه پيريان خومسلمانان شو اودهغوى عبادت كونكى همدغه شان په شرك اوكفركښې اخته وو. دهغوى ذكرپه دې آيت كښې شوې دې چه هغه پيريان كوم چه دې خلقو معبودان جوړ كړې ووهغوى په هيڅ قسم نفع اونقصان باندې قدرت نه لرى.

=٢٠٦ باب قَوْلِهِ (أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ) الْآيَةَ.

[٤٤٣٨] حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنه - فِي هَذِهِ الْآيَةِ (الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ) قَالَ نَاسٌ مِنَ الْجِنِّ {كَانُوا} يُعْبَدُونَ فَأَسْلَمُوا. [ر: ٤٤٣٧]

=٢٠٧ باب (وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ إِلَّا فِتْنَةً لِلنَّاسِ)

[٤٤٣٩] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنه (وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ إِلَّا فِتْنَةً لِلنَّاسِ) قَالَ هِيَ رُؤْيَا عَيْنٍ أُرِيَهَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ (وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ) شَجَرَةُ الزَّقُّومِ. [ر: ٣٦٧٥]

دلته درؤيا په تفسيركښې اختلاف دې ،حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه ددې رؤيا نه مراد رؤيا عين د ې اوداهغه ده چه په ليلة السراء كښې حضور صلى الله عليه وسلم ته دبيدارئى په حالت كښې دمسجدحرام نه مسجد اقصى پورې اوبيا دهغه ځائ نه داووآسمانونو پورې اوخودلې شو بعضوئيلى دى چه درؤيا نه رؤيا بدر مراد دې په كوم كښې چه حضور صلى الله عليه وسلم ته دقتل شوو دغورزيدو ځائ خودلې شوې دې.[1]

بعضې حضراتو وئيلى دى چه دې نه مراد رؤيا حديبيه ده چه حضور صلى الله عليه وسلم ته په خوب كښې اوخودلې شوچه تا احرام تړلې دې اوتاسره دصحابه كراموړلې احرام تړلې دې اوتول دعمرې ادا كولو دپاره تلى ئى.[2]

بهرحال اقوال مختلف دى حضرت ابن عباس رضي الله عنهما چه حبرالامة او رئيس المفسرين دې په دې وجه دهغوى رائې ته به ترجيح وركولې شى.

---

[1] روح المعانى :ج ١٥ص١٠٧_

[2] الجامع الاحكام القران ج١٠ص٢٨٢ خومذكوره دواړه قوله ضعيف دى ځكه چه آيت مكى دې او درؤيا بدر اوحديبيه تعلق مدينې سره دې.

۲۰۸= باب قَوْلِهِ (إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا).(۹)

قَالَ مُجَاهِدٌ صَلَاةَ الْفَجْرِ.

[۴۴۴۰] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ وَابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «فَضْلُ صَلَاةِ الْجَمِيعِ عَلَى صَلَاةِ الْوَاحِدِ خَمْسٌ وَعِشْرُونَ دَرَجَةً، وَتَجْتَمِعُ مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلَائِكَةُ النَّهَارِ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ». يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ (وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا) [ر: ۶۲۲]

د قران الفجر د مشهور کیدو مختلف وجوه: دسحربه وخت کښې قرآن لوستل مشهود ګرځولې شوی دې ددې مختلف وجوهات بیان کړې شوی دی.

① دابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې دی چه دسحربه وخت کښې دشپې او ورځې فرښتې حاضریږی.

② بعضې حضراتو ونیلی دی چه دې وخت کښې دالله تعالی دقدرت شواهد ښکاره کیږی، دې وخت کښې دشپې تیارې دورځ په رڼړا کښې بدلیږی اوخوب چه اخت الموت دې دانتباه او استیقاظ سره بدلیږی.([1])

③ بعضې حضراتووئیلی دی چه دې وخت کښې مونځ ګذار خپلې بسترې پریږدی اوحاضریږی په دې وجه دې ته مشهود اووئیلې شو.([2])

④ بعضې حضراتووئیلی دی چه په دې کښې دې خبرې طرف ته ترغیب دې چه دقرآن الفجر حق دا دې چه په دې کښې ګڼرو خلقو له حاضری ورکول پکار دی.([3])

مجاهد رحمه الله فرمائی چه دقرآن الفجر نه دسحر مونځ مراد دې، اکثر ائمه تفسیر، ابن کثیر، قرطبی، اومظهری رحمه الله همدغه مراد اخستې دې.([4])

۲۰۹= باب قَوْلِهِ (عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا)

[۴۴۴۱] ([5]) حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبَانَ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ عَنْ آدَمَ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ

---

[1]) روح المعانی: ج۱۵ص۱۳۷)_

[2]) روح المعانی: ج۱۵ص۱۳۷)_

[3]) روح المعانی: ج۱۵ص۱۳۷)_ التفسیر ابن کثیر (ج۳ص۵۵ وروح المعانی: ج ۸ ص۱۳۵ والتفسیر الکبیر: ج۲۱ص۲۷ والقرطبی: ج ۱۰ ص۳۰۲)

[4]) التفسیر ابن کثیر (ج۳ص۵۵ وروح المعانی: ج ۸ ص۱۳۵ والتفسیر الکبیر: ج۲۱ص۲۷ والقرطبی: ج ۱۰ ص۳۰۲) _

[5]) واخرجه النسائی فی سنن الکبری فی التفسیر باب قوله تعالی عسی ... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

ابنَ عُمَرَ رضي الله عنهما يقُولُ إنَّ النَّاسَ يَصِيرُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ جُثًا، كُلُّ أُمَّةٍ تَتْبَعُ نَبِيَّهَا، يَقُولُونَ يَا فُلَانُ اشْفَعْ، حَتَّى تَنْتَهِيَ الشَّفَاعَةُ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَذَلِكَ يَوْمَ يَبْعَثُهُ اللَّهُ الْمَقَامَ الْمَحْمُودَ.

ابوالاحوص نوم سلام بن سليم دې ،دوى روايت كوى دآدم بن على عجلى بصرى نه آدم بن على نه بخارى كښې صرف دغه يوروايت دې.

ادم بن على: ابن سعد ,,طبقات،، كښې داهل كوفه طبقه ثانيه كښې دې ذكر كړې دې . هغه دحضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه نه روايت كوى اوده نه سفيان ثورى وشعبه ، اسرائيل بن يونس ،ابراهيم بن طهمان ، امام بخارى اوامام نسائى روايت كوى.

امام جرح وتعديل يحيى بن معين د ده باره كښې فرمائى ,,ثقة،،

امام نسائى دهغوى باره كښې فرمائى ,,ليس به باس،،

ابن حبان ,,ثقات،، كښې دده ذكركړې دې.

هشام بن عبدالملک بن مروان دحكومت په زمانه كښې دهغه وفات شوې دې.[1]

د اذان نه پس دعا:

[۴۴۴۲] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَيَّاشٍ حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضي الله عنهما - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ، حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ».
رَوَاهُ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -.

په دعا كې د ``الدرجة الرفيعة،، ذكر نشته:دلته په روايت كښې ,,آت محمدان الوسيلة والفضيلة ،،نه پس،، والدرجة الرفيعة ،، ذكرنشته . په صحيح روايت كښې دد ې لفظ ثبوت نه ملاويږى البته ابن السنى ،عمل اليوم والليلة ،،كښې ,,, الدرجة الرفيعة ،، ذكركړې دې [2] دحافظ ابن تيميه رحمه الله په فتاوى كښې هم ددې لفظ ذكر موجود دې [3] هغه تهول خويا سهوناسخ دى يا بيا

....بقيه ازحاشيه گذشته] ان يبعثک ربک مقاما محمودا رقم الحديث : ١١٢٩٤ وهذا الحديث لم يخرجه احد من اصحاب الستة سوى البخارى _

[1]) دمذكوره تفصيل دپاره اوګورئى فتح البارى : ٨ص ٤٠٠ وتهذيب الكمال : ج٢ص٣٠٨_٣٠٩ وطبقات ابن سعد]٦ ص٢٢٥ والجرح والتعديل :ج ١ص٢٦٧_

[2]) عمل اليوم الليلة :٨٨_

[3]) (فتاوى ابن ابن تيميه : ج١ص١٩٢ قال ملا على القارى فى كتابه : الصنوع فى معرفة الحديث الموضوع :١٠٠حديث : الدرجة الرفيعة فيمايقال بعد الاذان قال السخاوى لم اره ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

اصل مصنفينو ته دهوکه لګيدلې ځکه چه په يو صحيح سند کښې هم دا الفاظ نقل نه دی ، دا روايت کتاب الاذان کښې تشريح سره تيرشوې دې.

۲۱۰= باب (وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا)

يَزْهَقُ يَهْلِكُ.

[۴۴۴۳] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ-رضي الله عنه- قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- مَكَّةَ وَحَوْلَ الْبَيْتِ سِتُّونَ وَثَلاَثُمِائَةِ نُصُبٍ فَجَعَلَ يَطْعُنُهَا بِعُودٍ فِي يَدِهِ وَيَقُولُ (جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا) (جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ).

۲۱۱= باب (وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ).

[۴۴۴۴] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ -رضي الله عنه- قَالَ بَيْنَا أَنَا مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِي حَرْثٍ وَهُوَ مُتَّكِئٌ عَلَى عَسِيبٍ إِذْ مَرَّ الْيَهُودُ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ سَلُوهُ عَنِ الرُّوحِ، فَقَالَ مَا رَابَكُمْ إِلَيْهِ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ لاَ يَسْتَقْبِلُكُمْ بِشَيْءٍ تَكْرَهُونَهُ فَقَالُوا سَلُوهُ فَسَأَلُوهُ عَنِ الرُّوحِ فَأَمْسَكَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِمْ شَيْئًا، فَعَلِمْتُ أَنَّهُ يُوحَى إِلَيْهِ، فَقُمْتُ مَقَامِي، فَلَمَّا نَزَلَ الْوَحْيُ قَالَ (وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلاَّ قَلِيلاً) [ر: ۱۲۵]

قوله: (مَا رَابَكُمْ إِلَيْهِ: بصيغة الماضى من الريب وذكره فى (النهاية) بضم الهاء (ما رابكم اليه) اى ما اربكم وحاجتكم الى سؤاله وفى نسخة (ما رابكم) اى فكركم وفى العينى قال الخطابى الصواب (ما اربكم) اى ماحاجتكم.

د روح متعلق د يهوديانو سوال: روايت کښې دی چه دحضور اکرم ﷺ نه يهوديانو دروح باره کښې سوال اوکړو نوحضور اکرم ﷺ هغوی ته هيڅ جواب ورنه کړو په دې کښې دقرآن شريف

...بقيه ازحاشيه گذشته] فى شئ من الروايات وقال الحافظ ابن حجر فى التلخيص الحبير: ج۱ص ۲۱۰ وليس فى شئ من طرق هذا الحديث ذكر (الدرجة الرفيعة) وزيادة بعضهم فى اخر هذا الدعا (يا ارحم الراحمين) ليست ايضا فى شئ من طرق هذا الحديث وقال الشيخ عبد الفتاح ابوغده رحمه الله فى تعليقات المصنوع : ۱۰۱ فلاتقال ايضا ولاتزاد _

دا آيت نازل شو ,,وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّيْ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا، كښې تنوين دتقليل دپاره دې يعنى ستاعلم اقل قليل دې خكه چه ته علم دحواس په ذريعه حاصلوې اوحواس دروح احاطه نشى كولې نوته دروح متعلق ډير نه شې پوهيدلې . دوه عالم امر مجرد عن الماده دې ،روح دعالم خلق څيز نه دې چه داپه ماديات كښې اوشميرلې شى بلكه هغه دعالم امر څيز دې اودمادې نه مجرد دې .علامه آلوسى رحمه الله په روح المعانى كښې فرمائى چه دعالم امر اوعالم خلق اصطلاح دروستو پيداوار دې ،په حضور ﷺ باندې چه كله قرآن نازليدلونو دا اصطلاح دروستو پيداوار دې ،په حضور ﷺ باندې چه كله قرآن نازليدلو نو داصطلاح نه وه نو دا اصطلاح په آيت قرآنى باندې منطبق كول صحيح نه دى . هغوى ليكى :

ثم ان لى فى هذا الوجه وقفة فان الظاهران اطلاق عالم الامر على الكائن من غيرتحصل من مادة وتولد من اصل ،واطلاق عالم الخلق على خلافه محض اصطلاح لايعرف العرب ولا يعرفونه وفى الاستدلال عليه بقوله تعالى ,, الاله الخلق والامر،،مالايخفى على منصف ،،[1]

عالم خلق اوعالم امر : دعالم خلق اودعالم امر اصطلاح روستنئ پيداوار دې خوعلماء دقرآن آيت الاله الخلق والامرنه دا اصطلاح اخذ كړې ده . په دې دواړو اصطلاح باندې رڼړا اچولوسره شيخ الاسلام مولانا شبيراحمد عثمانى رحمه الله ليكى :

يوعالم دامرلفظ دې دكوم چه مناسب تشريح ضرورى ده. اودكوم پوهيدلوسره اميد دې چه دروح پيژندګلوكولو كښې به ډيرامداد ملاوشى . دسورة عراف الاله الخلق والامر,, دامردخلق ،، په مقابله كښې ساتلې دې دځه نه چه مونږ په دې نتيجه باندې رسوچه دالله تعالى په نزد دوه مده بالكل جداجدا دى . يوخلق امر،مخلوقات په يومعين اومحكم نظام باندې چلول كوم ته چه تدبير اوتصريف وئيلې شى امرشو. اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ الله تعالى اول دآسمان اوزمكې ټوله مشينرى جوړه كړه كوم ته چه ,,خلق ، ،وائى ،هره وړه اولويه پرزه ئې بنه په صحيح اندازه باندې تياره كړه كوم ته چه تقدير، ، وئيلى شوې دې ، ،قَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا،، ټولې پرزې يوځائ كړې اومشين فټ كړې شو كوم ته چه ,,تصوير ، ،وائى وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ دا ټول افعال دخلق په مدكښې وو، اوس ضروت ووچه كوم مشين په كوم كاركښې لګول دى اودې لګولې شى آخرمشين چالوكولودپاره ,,امرالهى،،بجلى راپريخودې شوه . دې امرالهى ته اوفرمائيلى شو ، ، اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَيْئًا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ په ځاى كښې ډيرپه وضاحت سره ,,امركن ،،په خلق جسدباندې مرتب كولوسره ارشاد اوفرمائيلې شوپه خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ بلكه ظاهريږى چه په قرآن كښې ,,كن فيكون،،مضمون په څومره ځايونوكښې راغلې دې عام توګه باندې دخلق اوابداع دذكرنه پس

[1] روح المعانى :ج١٥ص ١٥٤_

راغلې دې کوم سره چه خیال تیرېږي چه کلمه د ,,کن،، خطاب خلق ، ،نه پس دتدبیر اوتصریف دپاره کیږي .والله اعلم.

بهرحال دلته دامرمعنی حکم دې اوهغه حکم دا دې لکه چه څنګه لفظ ,,کن،، سره تعبیرکړې شو او,,کن ، دجنس کلامه نه دې چه دالله تعالی صفت قدیم دې څنګه چه مونږ دهغه ټول صفات ئې دشک شبهې نه بغیر تسلیم کوو دکلام الله اوکلمة الله متعلق هم دغه مسلک ساتل پکار دی ،خلاصه مطلب داشوچه روح سره اکثروځایونوکښې په قرآن کښې دامرلفظ استعمال شوې دې ،مثلا قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي ،، وَكَذٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ،، يُنَزِّلُ الْمَلٰئِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهِ،،

من عباده اول تیرشوچه امر,, دکلمې دکن نه یعنی هغه کلام انشائی کوم نه چه دمخلوقاتو تدبیر اوتصریف په دې طریقه باندې اوکړې شي په کوم چه دایجاد اوتکوین غرض مرتب وی نوثابته شوه چه دروح مبداء دالله تعالی صفت کلام دی کوم چه دصفت علم ماتحت دې.[1]

ایا د روح دحقیقت علم چاته کیدشی؟: دبعضې متاخرینوصوفیه رائې ده چه دروح دحقیقت علم چاته نشی کیدې اودروح په حقیقت کښې بحث اوغور اوفکر کول دادب خلاف دی.[2]

داخبره صحیح نه ده، یونبی یارسول ته دوحی په ذریعه یا یوولی ته دکشف اوحقیقت معلوملول دعام انسان دوس کارنه دې څنګه چه دروح خالق دصفاتوپه ذریعه پیژندل کیږی دغه شان روح هم دغه دصفاتوپه ذریعه پیژندلې کیږی .

متکلمین وائی چه روح یو لطیف نورانی بدن دې اودانسان په بدن کښې هغه داسې ورننوتلې دې کله عرق ګلاب کښې ، اواوربه کوئله کښې ورننوتلې وی .[3]

فلسفیان وائی چه روح یوجوهر دې چه مجرد عن الماده دې . دبدن سره ددې تعلق دتصرف او تدبیر دې ،هغه په بدن کښې نه داخل دې نه خارج نه بدن سره متصل دې اونه منفصل . دمسلمانانونه امام راغب اصفهانی رحمه الله اوحجة الاسلام امام غزالی رحمه الله هم داقول اختیار کړې دې.[4]

اودا هر څه په دې وجه وائی چه دروح دحقیقت صحیح علم نشته ددې دپاره ددې دپاسه د خارج کیدو یا داخل کیدو څه خاص حکم هم نشی لګولې .

ایا روح اونفس یو دی که جدا جدا ؟ : بعضې علماء وائی چه روح اونفس یو دې ، ابن زید داکثرو علماء دا قول نقل کړې دې اوابن حبیب اندلسی دواړه جدا جدا ګرځولې دی . ابن منده

---

[1]) تفسر عثمانی (۳۸۷فائده نمبر ٤_

[2]) روح المعانی ج۱۵ص ۱٥٤ وفتح الباری :ج۸ ص۴۰۳_٤۰٤)_

[3])روح المعانی :ج۱۵ص۱۵۵ علامه ابن قیم رحمه الله همدا قول صحیح ګرځولې دې اوپه دې باندې دیو سلونه زیات دلائل پیش کړی دی ،اوګورئی کتاب الروح :۳۱۷_۲۹۰_

[4]) روح المعانی ج۱۵ص۱۵۶ _

د دواړو په مينځ فرق كولو سره فرمائى ,,ان النفس طيبة نارية والروح نورية روحانية،، بعضوئيلى دى النفس ناسوتية الروح لاهوتية،..([1])

علامه ابن قيم رحمه الله كتاب الروح كښې رمبنى قول اختيار كړې دې اوهم دائى راجح ګرځولى دې([2])، ابن العربى دويم قول خق ګرځولې دې.([3]) اوعلامه آلوسى رحمه الله فرمائيلى دى چه حق دا دى چه دواړه من وجه متحد هم دى اومن وجه مختلف هم دى..([4])

دمولانا انورشاه كشميرى رحمه الله تحقيق: علامه شبيرا حمدعثمانى رحمه الله روح مجر ديا جسم نورانى لطيف كيدومتعلق دمولانا انورشاه كشميرى رحمه الله په حواله سره ليكى:

پاتې شوه دامسئله چه روح جوهر مجرد دې لکه څنګه چه اکثرحکماء قديم او دصوفيه مذهب دې ياجسم نورانى لطيف لکه چه دجمهورو اهل حديثو وغيره رائې ده په دې کښې زماپه نزد قول فيصل هغه دې کوم چه دبقية السلف بحرالعلوم علامه سيد انورشانه صاحب رحمه الله فرمائيلې دى په الفاظو دعارف جامى دلته درې څيزونه دى

① هغه جواهر چه په هغې کښې ماده اوکميت دواړه وى لکه زمونږ بدنونه ماديه.

② هغه جواهر چه په هغې کښې ماده نه وى صرف کميت وى کوم ته چه صوفيه اجسام مثاليه وائى

③ هغه جواهر چه دماده اوکميت دواړو نه خالى وى کوم ته چه صوفيه ارواح وائى ،هغه دصوفيه په نزدبدن مثالى سره يادېږى چه کله په بدن مادى کښې درګدېږى اوبدن مادى په شان اندامونه لرى ، دا روح دمادى بدون نه کله جدا کيږى اوددې جدائې په حالت کښې هم يوقسم مجهول الکيفيت علاقه بدن سره ساتى دڅه په وجه چه په بدن باندې دمرګ حالت نه شروع کيږى لکه دحضرت على رضى الله عنه دوينا موافق چه بغوى ,, الله يتوفى الانفس حين موتها،، په تفسير کښې نقل کړو هغه وخت روح پخپله جدا کيږى مګر ددې شعاع بدن ته رسى او دژوندى پاتې کيدو سبب جوړېږى لکه نمر چه په لاکهونوميله لرې د شعاګانو په ذريعه زمکه ګرمه ساتى ،بهرحال دشرع خاوندان چه کله روح ثابتوى نوصوفيه ته ددې نه انکار نشته بلکه هغوى ددې دپاسه يوبل روح مجر د منى په کوم کښې چه هيڅ استحاله نشته بلکه ددغه روح مجر هم يوبل روح وى او په آخره کښې دکثرت هغه ټوله سلسله راغونډۀ شى ,,امربى،، په وحدت باندې ختم شى نو دانکار ضرورت نشته.([5])

يو اشکال اودهغې جواب: دلته چاته دا اشکال کيديشى چه روح ته په ماقبل کښې جوهر مجرد يا جسم نورانى اووئيلې شو اوقرآن ديته ,,امربى،، ګرځولې دې ، دامرنه مراد د ,,کن،،

[1]) روح المعانى ج۱۵ص۱۵۷_۵۸
[2])كتاب الروح لابن قيم :۳۴۸،۳۵۱وروح المعانى ج۱۵ص۱۵۸_
[3])فتح البارى ج ۸ ص۴۰۳_
[4]) روح المعانى ج۱۵ص۱۵۸_
[5]) تفسيرعثمانى: ۳۸۸ فائده نمبر ۴_

حكم دې چه دكلام يوقسم دې نودا حكم جوهر مجرد يا جسم نورانى لطيف شكل څنګه
اختيار ولې شى ؟ ددې اشكال جواب وركولوسره مولانا شبير احمد عثمانى رحمه الله فرمائى:
داداسې اوګڼئې چه ټول عاقلان په دې متفق دى چه مونږ په خوب كښې كوم اشكال اوصور
وينو بعضې وختونو كښې هغه صرف زمونږ خيالات وى چه درياب زمرې غر وغيره په
شكلونوكښې ښكارى .اوس دغور كولومقام دې چه خيالات چه اعراض دى اودماغوسره قائم
دى هغه څنګه جواهر اوجسام جوړشو اوڅنګه په هغې كښې داجسامو لوازم اوخواص
پيداشو .كله چه ديوسړى په قوت مصوره كښې هغه دومره طاقت ايخودې دې چه هغه دخپل
طاقت موافق غير مجسم خيالاتوته بدنى ډانچه ورواچوى اوپه هغې كښې هم هغه خواص
اوآثار دالله تعالى په حكم سره پيدا كړى چه په عالم بيدارئې كښې اجساموسره تړلې وو نوآيا
دې ورې نمونې كتلوسره مونږ دومره نه شو پوهيدلې چه ممكن ده دقادر مطلق اومصور برحق
جل وعلا امر بې كيف سره دصفت قائمه بذاته تعالى كيدو سره په يو يا ډيرو صورتونو كښې
ښكاره سشى ، داصورتونه مونږ په ارواح ،فرښتې يا څه بل نوم باندې يا دوو، هغه ارواح
ملائكه وغيره ټول حادث دى او امرالهى ، ،په حال دقديم پاتې شو نوهيڅ شبه نشته چه روح
انسانى ,,امرربى،په حال دقديم پاتې شونوهيڅ شبه نشته چه روح انسانى ,,امرربى ، ،مظهردې
. داضرورى نه دى چه دمظهرټول احكام اوآثار په ظاهره باندې جارى وى.([1])

د روح قسمونه : بعضې حضراتو دروح دوه قسمونه بيان كړې دى ،يوروح طبى اوبل روح
شرعى ،په دې آيت كښې دروح شرعى ذكركړې دې اوهمدغه روح دشرعى اعمالو مكلف دې
. حضرت شاه ولى الله رحمه الله ليكلى دى چه روح طبى مركوب دې او روح شرعى راكب دې
دروح طبى نه اخلاط اربعه پيدا كيږى .([2])

قاضى ثناء الله پانى پتى رحمه الله فرمائى دروح دوه قسمونه دى .علوى اوسفلى .روح علوى مادې
نه مجرد دالله تعالى يومخلوق دې دكوم دحقيقت پيژندګلو چه مشكل ده، اهل كشف ته دد ې
مقام دعرش دپاسه خودلې كيږى څكه چه هغه دعرش نه مه ډير لطيف دې ، روح علوى په نظر
كشفى ښكته پورته يا په پنځو درجوكښې محسوس كيږى ، قلب ،روح ،سر،خفى ، اخفى
داټول دعالم امر دلطائف نه دى .

او روح سفلى هغه بخار لطيف دې چه دانسانى بدن عناصر اربعه اور اوبه خاروه هوا نه پيدا
كيږى اوهم دې ورح سفلى ته نفس وئيلې كيږى .دغه شان انسان د لسو څيزونو مجموعه ده
په كوم كښې چه پنځه په عالم خلق اوپنځه عالم امر سره متعلق دى .قلب روح سرخفى اخفى
ت تعلق عالم امر يره او اور اوبه خوره او هوا دې څلورونه پيدا كيدونكى بخار تعلق عالم خلق
سره دې . الله تعالى روح سفلى كوم ته چه نفس وائى داوراح علويه مذكوره آئينه جوړه كړې ده
ددې عكس هم د ددې روح سفلى په آئينه كښې راځى اود ارواح علويه آثار اوكيفات په دې

---

[1]) تفسير عثمانى: ٣٨٨ فائده نمبر ٤_

[2]) حجة الله البالغة مع ترجمه اردو نعمة الله السابغة : ج١ص٣٨_

كښې منتقل كوى اوهم دغه آثار كوم چه په نفوسو كښې پيدا كيږى دهريو فرد دپاره ارواح ونيلې شى.(١)

ايا په روح باندې مرګ راځى ؟ : په دې سلسله كښې داهل علم اختلاف دې ، دبعضوخيال دې چه روح باندې مرګ راځى خكه چه روح نفس انسانى نوم دې اوپه هرنفس باندې مرګ راتلل دقرآن دآيت نه ثابت دې كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ، كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ، كله چه په ملائكه باندې مرګ راځى نوړ په ارواح بشريه پاندې به په طريقه اولى مرګ راتلې شى (٢) خود علماء ديوړلې خيال دې چه په روح باندې مرګ نه راځى خكه چه دانسانى بدن نه دروح جدا كيدلونه پس دهغه په نعمتونو يا عذاب كښې كيدل داحاديث صريحه نه ثابت دى دكوم تقاضا چه دا ده چه په روح باندې مرګ نه راځى ګنى بيا دروح په نعمت اوعذاب كښې كيدل څه معنى لرى ؟ باقى په كومو نصوصوكښې چه په هرځيز باندې دمرګ راتلو ذكر دې هغه په خپل ځاى صحيح دى خو دبدن نه روح جدا كيدل مرګ سره تعبير كولې شى علامه آلوسى رحمه الله ليكى :

موت الروح هو مفارقتها الجسد ،فان اريد بموتها هذا القدر فهى ذائقة الموت وان اريدانها تعدم وتضمحل فهى لاتموت مفارقة ماشاء الله تعالى ثم تعود الى الجسد وتبقى معه فى نعيم اوعذاب ابدالابدين ودهر الداهرين ،،(٣) قرآن يوبل ځائى كښې دكافرانو اشكال نقل كړې دې .وَقَالُوٓا۟ أَءِذَا ضَلَلْنَا فِى ٱلْأَرْضِ أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍ ددې نه پس ئې ددې جواب وركړو ,,قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ،، حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله اشكال اوكړو چه دلته په اشكال اوجواب كښې مطابقت نشته ،بيائى پخپله اوفرمائيل چه كافرانومرګ عدم محض ګڼرلوالله تعالى جواب وركړو چه مرګ عدم محض نه دې بلكه روح يوه مقرره فرښته راوباسى اواوړى ،بالكل هغه نه فنا كيږى .(٤)

دلته په ايت كې د روح نه څه مراد دې؟ : دكوم روح باره كښې چه يهوديانو سوال كړې وو دهغې نه كوم روح مراد دې؟ په دې سلسله كښې ډير زيات اقوال دى.

① روح انسانى ② روح حيوانى ③ جبرائيل عليه السلام ④ حضرت عيسى عليه السلام ⑤ قرآن، ⑥ يوخاص مخلوق ⑦ وحى (٥) امام رازى اوامام قرطبى رحمه الله روح انسانى والاقول ته ترجيح وركړې ده .(٦) علامه قرطبى يوه خبره بله هم كړې ده چه سوال كونكې خويهودى وو اويهوديان حضرت عيسى عليه السلام ته روح ونيلونه منكر دى په دې وجه حضرت عيسى عليه السلام مراد نه دې، دغه شان

(١) تفسير مظهرى :ج ٥ص٤٨٥)_

(٢) روح المعانى : ١٥ص١٥٩)_

(٣) روح المعانى :١٥ص١٥٩)_

(٤) تفسيرعثمانى :٥٥٣ فائده نمبر ٧_

(٥) فتح البارى ج ٨ص٤٩٢ وتفسير كبير.ج ٢١ص٣٨_٣٩_

(٦) تفسير كبير :ج٢١ص٣٦ والجامع لاحكام القرآن :ج ١٠ ص ٣٢٤_

هغوى دحضرت جبرائيل علیه السلام دفرښتې کيدوقائل نه دى نوپه دې وجه هغه هم مرادنه دې
حافظ ابن قیم رحمه الله فرمائيلى دى چه روح انسانى يو داسې څيزدې کوم چه ټول منى ، ددې
تذکره چه قرآن کوم ځائ هم کړې ده هلته ددې دپاره لفظ ،،نفس ،، استعمال کړې دې دروح
لفظ ئې نه دې استعمال کړې کوم نه چه ثابتيږى چه دکوم روح باره کښې چه هغه سوال کړې
دې دهغې نه هم هغه روح مراد دې دکوم ذکرچه په آيت مبارک کښې ،،يوم يقوم الروح والملائكة
صفا،، دې يعنى جبرائيل امين روح المعانى مراد نه دې .(١) خو حافظ ابن حجر رحمه الله دحافظ ابن
قيم خبره مرجوح ګرځولې ده اوفرمائى چه راجح هم دغه دى چه سوال دانسانى روح متعلق وو(٢)

٢١٢= باب (وَلاَ تَجْهَرْ بِصَلاَتِكَ وَلاَ تُخَافِتْ بِهَا)

[٤٤٤٥] (٣): حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ حَدَّثَنَا أَبُو بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - فِى قَوْلِهِ تَعَالَى (وَلاَ تَجْهَرْ بِصَلاَتِكَ وَلاَ تُخَافِتْ بِهَا) قَالَ نَزَلَتْ وَرَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مُخْتَفٍ بِمَكَّةَ، كَانَ إِذَا صَلَّى بِأَصْحَابِهِ رَفَعَ صَوْتَهُ بِالْقُرْآنِ فَإِذَا سَمِعَهُ الْمُشْرِكُونَ سَبُّوا الْقُرْآنَ وَمَنْ أَنْزَلَهُ، وَمَنْ جَاءَ بِهِ، فَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى لِنَبِيِّهِ - صلى الله عليه وسلم - (وَلاَ تَجْهَرْ بِصَلاَتِكَ) أَىْ بِقِرَاءَتِكَ، فَيَسْمَعَ الْمُشْرِكُونَ، فَيَسُبُّوا الْقُرْآنَ، (وَلاَ تُخَافِتْ بِهَا) عَنْ أَصْحَابِكَ فَلاَ تُسْمِعُهُمْ (وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلاً)

[٤٤٤٦] (٤): حَدَّثَنِى طَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ أُنْزِلَ ذَلِكَ فِى الدُّعَاءِ.

دلته د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د رومبى روايت نه معلوميږى چه دا آيت د مونځ د قراءت باره کې نازل شوې دې او وروستې د حضرت عائشې رضی الله عنها د روايت نه معلوميږى چه دا آيت د دعا باره کې نازل شوې دې، (٥) په ظاهر په دواړو کې تعارض معلوميږى.

---

(١) كتاب الروح :٢٤٣وفتح البارى :ج٨ص٤٠٣_

(٢) فتح البارى :٨ص٤٠٣_

(٣) وايضا اخرجه فى التوحيد باب قوله تعالى وانزله بعلمه رقم الحديث :٧٤٩٠ وباب قوله تعالى واسروا قولكم رقم الحديث :٧٥٢٥ وباب قول النبى ﷺ الماهربالقرآن مع سفرة الكرام لبرر رقم الحديث :٧٥٤٧واخرجه مسلم فى الصلاة باب التوسط فى القرآءة فى الصلاة الجهرية رقم الحديث : ٤٤٦واخرجه الترمذى فى كتاب التفسير باب ومن سورة نبى اسرائيل رقم الحديث :٣١٤٦ واخرجه النسائى فى السنن الكبرى باب صفة الصوة رقم الحديث :١٠٨٤_

(٤) واخرجه فى الدعوات باب الدعاء فى الصلاة رقم الحديث :٦٣٢٧ (مع الفتح) وفى التوحيد باب واسروا قولكما واجهروابه رقم الحديث ٧٥٢٧(مع الفتح) وهذ الحديث من افراده (عمدة القارى :ج ١٩ص٣٥)_

(٥) د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه هم ددې مفهوم يو روايت منقول دې لكه ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

ددي يو جواب خودادي چه دعا چونكې جز د مونځ او جزء د قراءت دې، دلته جزء ونيلو سره كُل مراد اخستې دې د دعا نه هم مراد د مونځ قراءت دې.(١)

او دويم جواب دا هم كيدې شي چه ممكن ده د آيت نزول دوه ځل شوې وى يوځل د مونځ د قراءت باره كې اودويم ځل د دعا باره كې.

٢١٣- باب تفسير سورة الكهف

سُورَةُ الْكَهْفِ وَقَالَ مُجَاهِدٌ تَقْرِضُهُمْ [١٧] تَتْرُكُهُمْ وَكَانَ لَهُ ثُمُرٌ [٣٠٢] ذَهَبٌ وَفِضَّةٌ وَقَالَ غَيْرُهُ جَمَاعَةُ الثَّمَرِ بَاخِعٌ [٦] مُهْلِكٌ أَسَفًا [٦] نَدَمًا الْكَهْفُ الْفَتْحُ فِي الْجَبَلِ وَالرَّقِيمُ الْكِتَابُ مَرْقُومٌ [المطففين: ٢٠] مَكْتُوبٌ مِنَ الرَّقْمِ [٩] رَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ [١٣] أَلْهَمْنَاهُمْ صَبْرًا لَوْلَا أَنْ رَبَطْنَا عَلَى قَلْبِهَا شَطَطًا إِفْرَاطًا الْوَصِيدُ [١٨] الْفِنَاءُ جَمْعُهُ وَصَائِدُ وَوُصُدٌ وَيُقَالُ الْوَصِيدُ الْبَابُ مُؤْصَدَةٌ [البلد: ٢٠ والهمزة: ٨] مُطْبَقَةٌ آصَدَ الْبَابَ وَأَوْصَدَ بَعَثْنَاهُمْ [١٩] أَحْيَيْنَاهُمْ أَزْكَى [١٩] أَكْثَرُ وَيُقَالُ أَحَلُّ وَيُقَالُ أَكْثَرُ رَيْعًا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ [٣٣] لَمْ تَنْقُصْ وَقَالَ سَعِيدٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ الرَّقِيمُ اللَّوْحُ مِنْ رَصَاصٍ كَتَبَ عَامِلُهُمْ أَسْمَاءَهُمْ ثُمَّ طَرَحَهُ فِي خِزَانَتِهِ فَضَرَبَ اللَّهُ عَلَى آذَانِهِمْ فَنَامُوا وَقَالَ غَيْرُهُ وَأَلَتْ تَئِلُ تَنْجُو وَقَالَ مُجَاهِدٌ مَوْئِلًا [٥٨] مَحْرِزًا لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا [١٠١] لَا يَعْقِلُونَ

سورة الكهف

د كلماتو تشريح:

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: تَقْرِضُهُمْ تَتْرُكُهُمْ: په آيات كښې دى "واذا غربت تقرضهم ذات الشمال" يعنى د نمر د ډوبيدو په وخت كښې هغه پرېږدى او كس طرف ته كوزيږى، مطلب دا دې چه د نمر ډوبيدو په وخت كښې هم په هغوى باندې دهوپ اوګرمى نه پريوځى د مجاهد رحمه الله دا تعليق حنظلى رحمه الله موصولاً ذكر كړې دې.(٢) علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله ليكى: "الله تعالى په خپل قدرت كامله سره هغه ته د داسې ځائ طرف ته لارخودنه اوكړه چرته چه په امن اواطمينان سره آرام كوى، نه د ځائ د تنګيدونه زړه ويريږى اونه ئى يو وخت نمر تنګ كړى، غار د دننه نه كولاؤ او هوا دار وو اولكه څنګه چه ابن كثير رحمه الله ليكلى دى، دشمال طرف ته كيدو په وجه په داسې شكل او صورت واقع دې چه په هغې كښې به نمر د ضرورت

...بقيه ازحاشيه گذشته] چې علامه عينى ليكلى دى: وروى عن ابن عباس رضي الله عنهما مثل ما روى عن عائشة رواه ابن مردويه من حديث اشعث.عن عكرمة عن ابن عباس نزلت هذه الآية "ولا تجهر بصلاتك" فى الدعاء" (وانظر عمدة القارى ١٩\٣٥)

(١) عمدة القارى ١٩\٣٥)

(٢)(عمدة القارى: ١٩/٣٦-

مطابق رسیدو اوبغیر دَ څه تکلیف ورکولونه به وتلو. (١)

قوله: وَكَانَ لَهُ ثُمُرٌ: ذَهَبٌ وَفِضَّةٌ وَقَالَ غَيْرُهُ: جَمَاعَةُ الثَّمَرِ: "وَفَجَّرْنَا خِلَالَهُمَا نَهَرًا، وَكَانَ لَهُ ثُمُرٌ" په دې کښې دوه قرأته دی، بعضې کښې قرأت ثُمُرٌ(ثا او دَ میم دَ پیش سره) دَ کوم معنی چه سره زر او سپین زر ده، دَ عاصم قراءت ثَمَرٌ(دَ ثا او میم دَ زبر سره) دې په معنی دَ میوې. ثُمُرٌ(په پیشونوسره) دَ دې متعلق مجاهد رحمه الله نه غیر یعنی قتاده رحمه الله وئیلی دی چه داد ثَمَرٌ جمع ده اودَ ثَمَرٌ،ثَمَرَةٌ جمع ده، ثَمَرَةٌ واحد دې، دَ دې جمع ثَمَرٌ بیادَ دې جمع ثِمَارٌ او بیادَ دې جمع ثُمُرٌ ده.

قوله: بَاخِعٌ: مُهْلِكٌ: په آیت مبارك کښې دی " فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ عَلَى آثَارِهِمْ إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا بِهَٰذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا " کیدیشی چه تاسودَ هغوی نه رُوستو خپل خانونه هلاك کونکې ئی دَ غم نه. که چرې دا خلق دا مضمون (قرآن) باندې ایمان راوُنړی. امام فرمائی چه په آیت کریمه کښې " بَاخِعٌ" په معنی "مُهْلِكٌ" یعنی هلاك کونکې دې.

قوله: أَسَفًا: نَدَمًا: په ذکرشوی آیت شریف کښې دی "إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا بِهَٰذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا " په دې کښې "أَسَفًا" په معنی "نَدَمًا" یعنی دَ پښیمانتیا په وجه تاسو دَ خپل نفس هلاك کونکې ئی، دا تفسیر دَ ابوعبیده دې. حضرت قتاده "أَسَفًا" تفسیر "حَزَنًا" سره کړې دې یعنی دَ غم دَ وجه نه تاسو خپل خانونه هلاك کونکې ئی.

قوله: الْكَهْفُ: الْفَتْحُ فِي الْجَبَلِ: په آیت کښې دی "أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيمِ كَانُوا مِنْ آيَاتِنَا عَجَبًا" آیا ته دا خیال کوې چه کهف او رقیم والا زمونږ په عجائباتو کښې څه دَ حیرانتیا څیز وو، کهف غار ته وائی. علامه شبیر عثمانی لیکی:

د اصحاب کهف قصه: دَ الله تعالی دَ لوئی قدرت په لحاظ دَ اصحاب کهف قصه چه وړاندې ذکر ده، عجیبه نه ده، او کومه چه دَ حد نه زیاته عجیبه اوګنړلې شی، زمکه، آسمان، سپوږمی، نمر وغیره پیداکول، دَ دوئ محکم نظام قائمول،انسان ضعیف البنیان یعنی د کمزوری بنیاد خاوند ته په ټولوباندې فضیلت ورکول، په انسانانو کښې انبیاء کرام رالیګل، دَ هغوی لږ او کمزورې ډلې دَ لویولویو کبرکونکو په مقابله کښې کامیاب جوړول، ناتم الانبیاء او رفیق غار حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه دَ دښمنانو نه راویستل، په غار ثورکښې درې ورځې حصارول، دَ کافرانو دَ غاردَ خلې پورې راتلل، بیادَ هغوی ناکامه واپس کیدل،آخر د کورونوپریخودونکو یوموټې بې آسرې خلق ئی په ټول جزیرة العرب بلکه مشرق او مغرب کښې په دومره لږه موده کښې غالب او کامیاب کړل. آیا دا قسمه بې

---

١) فوائدعثمانی فائده ٨ ص ٣٩٤)

شمېره څيزونه دَ اصحاب كهف قصه نه څه كم عجيبه دى؟

حقيقت دا دې چه يهودو مشوره وركړې وه چه دَ محمد ﷺ نه دَ امتحان دَ پاره درې سوالونه اوكړئى، روح څه څيز دې؟ دَ اصحاب كهف څه قصه ده؟ اودَ ذوالقرنين څه قصه ده؟ دَ اصحاب كهف قصې ته دَ عجيبه كيدو په حيثيت هغوى خاص اهميت وركړې وو، دَ هغې دَ پاره په دې آيت كښې اوخودل چه دا دومره عجيبه نه ده څومره چه ئى تاسو گنړئى، دينه ډير عجيبه او حيرانونكى دَ قدرت نښې موجود دى.

وړاندې دَ اصحاب كهف قصه اول اجمالاً او بيا مفصلاً بيان فرمائيلې ده، وائى چه دا يو څو خوانان دَ روم دَ يو ظالم او جابر بادشاه په زمانه كښې وو دَ چا نامې چه بعضو دقيانوس خودلې، بادشاه ډير سخت بت پرست وو او جبر او اكراه سره به ئى دَ بت پرستئى خوررونه كوله. عامو خلقو به دَ سختئى او تكليف دَ ويرې او دَ دنياوى څوورخونفع په لالچ كښې خپل مذهب پريخودو او بت پرستى اختيار كړې وه. په هغه وخت كښې يو څو خوانان دَ چا تعلق چه دَ سلطنت دَ مشرانو نه ووچه دَ يو مخلوق په خاطر دَ خالق ناراض كول صحيح نه دى. دَ هغوى زړونه دَ الله تعالى دَ ويرې او دَ تقوې دَ نور نه ډك وو، الله تعالى دَ صبر اواستقلال، توكل او تبتل دَ دولت نه پوره كړى وو. دَ بادشاه په وړاندې تلو سره هم هغوى دَ "لَن نَّدْعُوَا مِن دُونِهِ إِلَٰهًا لَّقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا" نعره اولگوله اودَ ايمانى بهادرئ او استقلال څرگندونه كولوسره كتونكى ساكن او حيران كړل. دَ بادشاه دَ هغوى په خوانئى څه رحم راغلو او څه نور مشاغل او مصالح مانع شو چه هغوى فوراً قتل كړى، دَ يوڅوورځو مهلت ئى وركړو چه هغوى په خپله معامله كښې غور او فكر اوكړى. هغوى مشوره اوكړه چه دَ داسې فتنې په وخت كښې چه كله دَ جبر او تشدد نه عاجز شى او دَ پښو خونيدو ويره هم وى، به دا مناسب وى چه ښار سره نزدې چرته غار كښې پټ شى اودَ واپسئى دَ پاره دَ مناسب موقع انتظار اوكړى. دعا ئى اوكړه چه اې الله ته په خپله خاص مهربانئى اورحمت سره زمونږ كار جوړ كړې او دَ رشد او هدايت په لار كښې زمونږ ټول انتظام ټيك كړې. آخر دَ ښار نه ووتل او نزدې يو غار كښې پناه واخستله او خپل مينځ كښې يو كس مقرر كړو چه په بدله جامه څه وخت ښار ته لاړ شى او دَ ضرورت سامان واخلى او راوړى او دَ ښار دَ ټولو خبرونو او احوالو نه ټول خبركړى. كوم سړې چه په دې كار مقرر شوې وو هغه يوه ورځ دا خبر وركړو چه په ښار كښې نن په سركارى توگه زمونږ لټون دې او زمونږ خپل خپلوان مجبوروليې شى چه زمونږ پته اوښائى، دا خبرې كيدې چه الله تعالى په ټولو ناڅاپې خوب راوستلو. وئيلې شى چه سركارى اهلكارو ډير تلاش اوكړو خو څه پته اونه لگيده. ستړې شو او كيناسته او دَ بادشاه په مشوره باندې دَ اوسپنې په تختئى دَ هغه خوانانو نومونه او مناسب حالات اوليكل او په خزانه كښې كيخوده چه راتلونكې نسلونه ياد اوساتى چه يوه ډله په حيرانونكى طريقه سره وركه شوې ده. ممكن ده چه په وړاندې دَ هغوى څه پته اولگى او دَ بعض عجيبه واقعاتو څرگندونه اوشى.

دا خوانان په كوم مذهب وو؟په دې كښې اختلاف دې،بعضوئيلى دى نصرانى يعنى اصل دين مسيحى پيروكار وو،خو ابن كثير دَ قرائن نه دَ دې ترجيح وركړې ده چه دَ اصحاب

کهف قصه دَ حضرت مسیح علیه السلام نه وړاندې ده. والله اعلم (۱)

د اصحاب کهف غار کوم ځائې دې؟: دَ اصحاب کهف دَ غاریه محل وقوع کښې اختلاف دې لیکن راجح قول دا دې چه مذکوره غار په اردن کښې واقع دې. (۲)

---

(۱) (تفسیر عثمانی(ص۳۹۳)-

(۲)(دَ اصحاب کهف دا غار چرته چه هغوی درې سووکالوپورې اوده وو کوم ځائ دې؟ په دې سلسله کښې دَ علماء او محققینو رائې ډیره مختلف ده، بعضو وئیلی دی په اردن کښې واقع دې، دَ بعضو خیال دې په شام کښې دې، بعضې وائی یمن کښې دې او بعضې وائی چه د اندلس په ښار غرناطه کښې دې. خودَ اکثرو مفسرینو رائې ده چه د ترک ښار افسس سره نزدې واقع دې، دَ افسس ښار اسلامی نوم طرسوس دې،دا ښار یولسم صدی قبل مسیح کښې جوړشوې وو او روستو بیا دا د بت پرستئی یو ډیر لوئی مرکز جوړ شو. مولانا شیرعلی شاه صاحب تفسیر سوره الکهف (ص۶۱) باندې دَ علامه عینی په حواله سره لیکی: "وذهب معظم المفسرین الی ان الکهف المبحوث عنه واقع فی "افسس" المعروف بطرسوس، لانه کان مرکز اهاالعبادة الاصنام،ولما امن بعض شبان هذه المدینة حسب فطرتهم السلیمة، اجبرهم الملک الجبار علی عبادة الاصنام فاووا الی کهف واقع فی جبل بمسافة"

اومولانا محمد تقی عثمانی صاحب "جهان دیده" (ص۲۱۸) باندې لیکی:

په مسیحی مصادر کښې تقریباً په جزم سره دا بیان کړې شوې دې چه دا واقعه دَ ترکی ښار افسس سره نزدې پیښه شوې وه، او هم هلته د یو غار باره کښې وئیلی شی چه دا دَ اصحاب کهف غار دې. کیدېشی چه هم د دې مسیحی روایاتو د اثر لاندې ډیرو مسلمانانو مفسرینو او مؤرخینو هم دَ اصحاب کهف محل وقوع هم افسس خودلې دې. ولې د آخری دور اکثر محققینو دې ته ترجیح ورکړې چه دا مذکوره غار په اردن کښې واقع دې. مولانا حفظ الرحمن صاحب سیوهاروی رحمه الله په "قصص القرآن" کښې مولاناسید سلیمان ندوی صاحب رحمه الله "تاریخ ارض القرآن" کښې،مولانا ابوالکلام آزاد "تفسیرسوره کهف" کښې، مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله په "معارف القرآن" کښې، دَ اردن محقق تیسیر ظبیان"موقع اصحاب کهف" کښې، رفیق وفا دَجانی"اکتشاف کهف اصحاب الکهف" کښې او مولانا محمد تقی عثمانی صاحب "جهان دیده" کښې هم دې قول ته دَ دلائلو او شواهدو په بنیاد ترجیح ورکړې ده. دَ مولانا ابوالکلام آزاد او مولانا حفظ الرحمن سیوهاروی وغیره دَ تحقیق حاصل دا دې چه د اردن د مشهور تاریخی ښار پټرا کا اصل نوم "رقیم" وو کوم چه رومی حکومت بدل کړواو"پټرا" ئې کړو او دا غار هم دې سره نزدې چرته واقع دې. خو په ۱۹۵۳ء کښې دَ اردن محقق تیسیر ظبیان صاحب ته معلومه شوه چه عمان سره نزدې په یو غر کښې داسې غار واقع دې کوم کښې چه څه قبرونه او دَ مړو ډهانچې موجود دی هغه دَ دې په لټون کښې ووتلو او دَ دې په معلومولو کښې کامیاب شو. هغوی دَ آثار قدیمه محکمه متوجه کړه نو هغوی په ۱۹۶۱ء کښې دَ هغې نړول شروع کړه، او چه څومره اثری تحقیق اوشو دَ هغې نه داسې شواهد او قرائن ملاویږی دَ څه نه چه دَ هغوی دَ دې رائې تائید کیږی چه په قرآن کښې ذکرشوې کهف همدغه دې.

په قرآن کریم کښې چه دَ دې غار کوم صفتونه بیان شوی دی په دې غار کښې هغه موندلې شي. په قرآن کښې دی " وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَاوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِي فَجْوَةٍ مِّنْهُ " په دې غارکښې صورت حال داسې دې چه نمر یو وخت هم دننه نه راځی بلکه دَ ډوبیدو او راختو په وخت کښې ښی او کس طرف ته تیریږی. دغه شان په قرآن کښې په دې غار دَ پاسه دَ خلقو دَ جمات جوړولو دَ ارادې هم ذکر دې، اود مذکوره غاردَ پاسه هم یو جمات

قوله: وَالرَّقِيمُ الْكِتَابُ مَرْقُومٌ مَكْتُوبٌ مِنَ الرَّقْمِ: په آيت كښې دى "أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيمِ كَانُوا مِنْ آيَاتِنَا عَجَبًا"

د رقيم مصداق: د رقيم په معنى كښې د علماء مختلف اقوال دى:

موندلې شويدې.

په دې نوى معلوم شوى غار كښې چه كوم پيسې (سكې) پرتې ملاؤشويدې، په هغې كښې څه سكې د ټراجان د زمانې دى د چاپاره كښې چه د اكثرو محققينووينا ده چه همدغه هغه مشرك بادشاه وو د چا د زور ظلم نه چه تنګ شوى وو او اصحاب كهف په غاركښې پناه اخستې وه، دې نه هم ذكر شوې رائې ته تقويت ملاويږي.

استاد محترم مولانا تقى عثمانى صاحب د دې رائې په تائيد كښې دلائل او شواهد ذكر كولونه پس ليكى: "بهركيف: د دومره زړې واقعې د محل وقوع په باره كښې په حتمى توګه سل فيصد په يقين سره څه وئيل خو مشكل دى ولې په دې كښې شك نشته چه تراوسه پورې د څومره مقاماتو باره كښې د اصحاب كهف د مقام كيدود رائې څرګندونه كړيشوې ده په دې ټولوكښې چه كوم شواهد او قرائن د دې غارباره كښې دى د بل يو غارپه حق كښې دومره قرائن موجود نه دى.... دا غارد عمان ښار ۷ كلوميټر په جنوب كښې واقع دې اود اردن د مركزى شاهراه چه د عقبه نه عمان پورې خى. دينه د دې فاصله ۳ كلوميټر ده. غار په دريو حصوكښې تقسيم شويدې. يوه حصه ښكته كولو سره نيغه د شمال پورې خى، دونم طرف ته په ښى لاس مشرق طرف ته تاوېږى او دريم ګس لاس مغرب طرف ته. مشرقى او مغربى طرف ته آته تابوت په شكل كښې قبرونه ښكاره دى. د غار چه كومه حصه د جنوب نه شمال طرف ته نيغه تلې ده هغه تقريبا سپاټ دې اود دې باره كښې تيسير ظبيان صاحب خيال دا دې چه هم دغه "فجوى" د كوم ذكر چه په قرآن كريم كښې راغلې دې". (جهان ديده: ۲۲۲-۲۲۳)

د اردن محقق تيسير ظبيان اود هغه ځائ ماهر اثريات رفيق دجانى د دې غار متعلق د خپلې رائې په تائيدكښې مستقل كتابونه ليكلى دى ليكن په دې كښې څه شك نشته چه د دې قسم په غاركښې په مختلفو زمانو او مختلفو علاقوكښې پيداكيدل او كيديشى چه راپيداكيږى.

ابن عطيه د اندلس په ښاركښې د غرناطه ښارسره نزدې د دې قسم غار په دې كښې مړو ډهانچو او دې سره نزدې د جمات كنډلو ذكركړې دې، او وائى: ذهبت بنفسى اربع وخمسمائة، فوجدت الا جساد على هذه الحالة المسموعة، وعند ذلك الكهف مسجدو عمارة قديمة من طراز الروم" او ابوحيان اندلسى هم دې قول ته راجح ګرځولې (اوګوره البحر المحيط: ۱۰۲/۶) دې نه په ظاهره دا معلوميږى چه دا قسمه واقعات په مختلفو زمانواو مختلفو علاقوكښې پيښيږى. د كفر او شرك په تياروكښې د يو څو نيك بختو د توحيد شمع روښانه كړه او ښارونه ئې پريخودل او غارونوته تلل او عبادت كور يوخل نه بلكه څوځل شويدى. تركومې چه د دې غار تعلق دې د كوم ذكر چه په قرآن كښې ذكر دې د دې متعلق يو حتمى خبره څكه نشى كيدې چه ښخپله الله تعالى اود هغه د رسول ﷺ د دې متعلق تعين نه دې فرمائيلې چه هغه مقصود نه دې. حافظ ابن كثير رحمه الله ليكى:

"وقداخبر الله تعالى بذلك، واراد منا فهمه وتدبره، ولم يخبرنا بمكان هذا الكهف فى اى البلاد من الارض، اذالافائدة لنافيه، ولاقصد شرعى، وقد تكلف بعض المفسرين فذكروا فيه اقوالاً.... والله اعلم باى بلادالله هو.ولوكان لنا فيه مصلحة دينية، لارشدناالله تعالى ورسوله اليه، فقد قال صلى الله عليه وسلم: ما تركت شيئاً يقربكم الى الجنة، ويباعدكم من النار الاوقد علمتكم به، فاعلمنا الله تعالى بصفته، ولم يعلمنا بمكانه، فقال: وترى الشمس اذا طلعت الاية- (تفسير ابن كثير: ۷۵/۳)

① دَ دې معنی کتاب ده، هم دینه مرقوم په معنی دَ مکتوب ده او دا دَ رقم نه ماخوذ دې، دَ وخت بادشاه دَ هغوی دَ لټولو نه پس د هغوی نومونه دَ کاڼړې په تختئی لیکلې وو نو په دې وجه دوئی ته اصحاب الرقیم هم وئیلی شی. حضرت سعید بن جبیر رضی الله عنه نه هم دا نقل دی. (١) اودَ مفسرینو په نیز همدغه قول مشهوردې. امام بخاری رحمه الله همدا قول اختیار کړیدې. په دې وجه دَ حضرت سعید رضی الله عنه تعلیق دَ بخاری په بعضې نسخوکښې ذکر دې کوم چه ابن منذر موصولاً نقل کړیدې.
② رقیم دَ هغه غرنوم دې دَ کوم په مینځ کښې چه دغه غار واقع وو (٢)
③ رقیم دَ هغه وادئ نوم دې چرته چه په غر کښې دغه غار وو کوم کښې چه اصحاب کهف پټ شوی وو، قتاده وغیره دَ دې تائید کړیدې.(٣)
④ دَ اصحاب کهف دَ سپی نوم دې (٤)
⑤ دَ هغه دراهمو نوم دې چه کوم هغوی سره وو(٥)
⑥ دَ هغه کلی نوم دې کوم کښې چه اصحاب کهف اوسیدل، دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی چه دا ایله (عقبه) سره نیزدې دَ یو ښارنوم دې.متاخرینو محققینو علماء کرام اکثریت دا صحیح گرځولې دې، مولانا حفظ الرحمن سیوهاروی رحمه الله لیکی:
"دَ تاریخی او اثری تحقیقاتو په وړاندې همدا آخری قوم صحیح.اودَ قرآن کریم دَ بیان مطابق دې او باقی اقوال صرف قیاسونه او تخمینې دی. خلیج عقبه (ایله) نه شمال طرف ته د اوږدوشوو غرونو یو دوه متوازې سلسلې ملاویږی هم په دې کښې دَ یو غرپه څوکه دَ انباط دارالحکومت رقیم آباد وو" (٦)

فائده: علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله لیکي: "رقیم دَ غرده یعنی غار ته وائی او دَ مرقوم په معنی هم راځی یعنی لیکلې شوې څیز، د مسندعبدبن حمید په یو روایت کښې دی کوم ته چه حافظ علی شرط البخاری وئیلې دې. دَ ابن عباس رضی الله عنه نه دَ رقیم بله معنی نقل ده. یعنی اصحاب کهف او اصحاب الرقیم هم دَ یوې ډلې دوه القاب دی. په غارکښې دَ

---

(١)(واختاره سعيد بن جبير، ومجاهد (فتح القدير: ٢٧٢/٣)-
(٢)(تفسير البيضاوي: ٣/١-
(٣)(قصص القرآن:٢٥٤/٣-
(٤)(تفسيرسورة كهف: ٥٧-
(٥)(الصاوي: ٤/٣-
(٦)(قصص القرآن: ٢٥٤/٣-٢٦١. تیسیر ظبیان او رفیق وفادجانی عمان سره نیزدې کوم غار معلوم کړیدې دَ هلته ته ټول سل میتره فاصله باندې یو وروکې غوندې کلې دې چه "رجیب" بللې شی، د هغوی خیال دې چه دا د رقیم وران کړیشوې شکل دې. ځکه چه دَ هغه ځائې اکثر خلق قاف په جیم او میم په باء سره بدلوی او وائی. حکومت اردن اوس په سرکاری توگه دَ دې کلی نوم هم "رقیم" کړې دې (اوگورئی موقع اصحاب کهف ١١٨ او جهان دیده: ٢٢١) -

اوسيدوپه وجه هغوى ته اصحاب كهف وائى او د هغوى د نومونو او صفتونو وغيره تختئ ليكلې كيخودې وه نو په دې وجه اصحاب رقيم يادېدل مګر مترجم محقق (شيخ الهند رحمه الله) رومبنى معنى اخستې ده او بهرصورت اصحاب كهف او اصحاب رقيم ئى يو ګرخولى دى. د بعض علماؤ رائې دا ده چه د اصحاب الرقيم قصه په قرآن پاك كښې نه ده ذكر شوې صرف د عجيبه كيدو په لحاظ د اصحاب كهف په تذكره كښې د هغې حواله وركړيشويده. او په حقيقت كښې د اصحاب رقيم د غار هغه درې كسان دى چه د باران نه تختيدلي وو او په غاركښې پناه اخستې وه. د بره نه يو لوئ كانړې راپريوتلو او د غار خله ئى بنده كړه. په هغه وخت كښې هر سړى د خپل عمر مقبول ترين عمل حواله وركړه او د الله تعالى ته ئى فرياد اوكړو او په مزه مزه د غار خله كولاؤ شوه. امام بخارى رحمه الله د اصحاب كهف ترجمه كولو نه پس د حديث الغار يو مستقل عنوان قائم كړې دې او په هغې كښې د هغه دريو كسانو قصه په تفصيل سره ذكر كولو سره دې طرف ته اشاره وركړې چه اصحاب رقيم دا خلق دى. طبرانى او بزار په سند حسن د نعمان بن بشيز نه مرفوعاً روايت كړې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به د اصحاب رقيم ذكر فرمائيلو او دا د دريو كسانو قصه ئى بيان كړه. والله اعلم. دوئم لفظ امام بخارى رحمه الله "رقيم" په مناسبت سره "مرقوم" ذكر كړې چه په سورة مطففين كښې واقع دې "كتاب مرقوم" يعنى ليكلى شوې دفتر.

قوله: رَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ أَلْهَمْنَاهُمْ صَبْرًا لَوْلَا أَنْ رَبَطْنَا عَلَى قَلْبِهَا: رَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ معنى ده، مونږ د هغوى په زړونو كښې صبرواچولو. د سورة قصص آيت "لَوْلَا أَنْ رَبَطْنَا عَلَى قَلْبِهَا" همدغه معنى ده، يعنى كه مونږ د حضرت موسى عليه السلام د مورپه زړه كښې صبر نه وو اچولې.

قوله: شَطَطًا إِفْرَاطًا: په آيت مبارك كښې دى "لَن نَّدْعُوَ مِن دُونِهِ إِلَٰهًا لَّقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا" مونږ خوبه داپريږدو او د بل يو معبود به هيڅ كله هم عبادت اونه كړو. (ځكه چه كه مونږ داسې اوكړه) نو په دې صورت كښې به مونږ يقيناً ډيره بې ځايه خبره كړې وى. امام فرمائى چه په آيت كښې "شَطَطًا" په معنى د "افراطاً" دى، يعنى د حدنه زياتې كول، غلطه او بې ځايه خبره كول.

قوله: الْوَصِيدُ الْفِنَاءُ جَمْعُهُ وَصَائِدُ وَوُصُدٌ وَيُقَالُ الْوَصِيدُ الْبَابُ: په آيت كښې دى "وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ" يعنى د هغوى سپې دواړه لاسونه د دروازې په چوكاټ خواره كړې وو، "وصيد" معنى غولې او صحن دې اود دې معنى دروازه هم بيان كړيشويده.

قوله: مُؤْصَدَةٌ مُطْبَقَةٌ آصَدَ الْبَابَ وَأَوْصَدَ: دا په سورة همزه كښې دى "انها عليهم مؤصدة" يعنى كافران به دوزخ كښې واچوى او دروازې به بند كړى "اصدالباب" دروازه بندول، د وصيد په مناسبت سره دلته ذكر كړيشو.

قوله: بَعَثْنَاهُمْ أَحْيَيْنَاهُمْ: په آيت مبارك كښې دى "ثُمَّ بَعَثْنَاهُمْ لِنَعْلَمَ أَيُّ الْحِزْبَيْنِ أَحْصَىٰ لِمَا لَبِثُوا أَمَدًا" بيا مونږ هغوى (د خوب نه) بيدار كړل، دې دپاره چه مونږ (په ظاهرى توګه هم) معلوم

كړوچه كومه ډله د هغوى د اوسيدو د موده نه خبر وه، امام فرمائى په آيت كښې "بَعَثْنَاهُمْ" معنې ده مونږ هغوى ژوندې كړل يعنى د خوب نه چه اخوالموت دې مونږ هغوى بيدار كړل.

قوله: أَزْكَى أَكْثَرُ وَيُقَالُ أَحَلُّ وَيُقَالُ أَكْثَرُ رَيْعًا: "فَلْيَنْظُرْ أَيُّهَا أَزْكَى طَعَامًا" بيا ګوره كوم خوراك ازكى دې، په دې كښې "أَزْكَى" معنى "أكثر" هم كيديشى، په دغه وخت كښې به دا زكاة په معنى نماء نه ماخوذ وى يعنى چه د اكثرو ښارونو والا خوراك دې. او د دې معنى د "احل" هم بيان شويده، په دغه وخت كښې به دا زكاة په معنى د طهارت نه ماخوذ وى يعنى چه كوم صفا او حلال خوراك وى هغه راوړى، اود دې معنى "اكثر ريعاً" هم بيان شويده، په كوم كښې چه نماء ډيره وى د ريع معنى نماء او زياتوالې راځى. (١)

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ لَمْ تَنْقُصْ: په آيت مبارك كښې دى "كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ آتَتْ أُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ مِنْهُ شَيْئًا" يعنى دواړه باغونه خپلې ميوې راوړى، په دې كښې يو باغ په خپلو ميوو كښې څه كمې نه دې كړې. په دې كښې "أُكُلَهَا" ذكر كړوخود دې تفسير ئې بيان نه كړو، په حاشيه كښې د دې تفسير بيان شويدې "ثَمَرُهَا" يعنى "أُكُلَهَا" معنى ميوه دانه ده. او د "لَمْ تَظْلِمْ" معنى ده يو باغ په خپلو ميوو كښې څه كمى اونه كړه.

قوله: فَضَرَبَ اللَّهُ عَلَى آذَانِهِمْ فَنَامُوا:

د "فضربنا على اذانهم...." معنى: په آيت كښې دى "فَضَرَبْنَا عَلَى آذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا" بيا مونږ د هغوى په غوږ كښې خبرور كړو په دې غاركښې د شمير يو څو كاله. د هغې نتيجه دا شوه چه په كالونو پورې په دې غركښې اوده پراته وو د اخوا ديخوا هيڅ خبر د هغوى غوږونوته نه رسيدو. "ضَرَبَ عَلَى آذَانِ" د خوب نه كنايه ده، مولانا ابوالكلام آزاد په دې معنى باندې اشكال كړې دې چه په عربى كښې د خوب د پاره "ضَرَبَ عَلَى آذَانِ" تعبيرنه ملاويږى، په دې وجه د دې معنى د هغوى په نيز دا ده چه د دنيا د طرف ته د هغوى غوږونه بند شو. (٢)

خو عام مفسرين وائى چه دا يو قسم استعاره ده، د زور خوب حالت ته "ضَرَبَ عَلَى آذَانِ" د حالت سره تشبيه وركړې شويده. مولانا حفظ الرحمن سيوهاروى رحمه الله د جمهورو علماؤ ذكر شوې معنې ته ترجيح وركولو سره ليكى:

زمونږ په نيز د مفسرينو تفسير راجح دې او دا استعاره د هرې ژبې په محاوراتوكښې موندلې شى. مثلاً كله چه مور د غيږې بچى ته د اوده كيدو د پاره الله هو وائى نو هغه په

(١) (عمدة القارى: ٣٧/١٩-
(٢) اوګوره ترجمان قرآن :٣٧۶/٢-سوره الكهف-

لاس او غوږ باندې ټپوی، په دې وجه په اردو ژبه کښې "كانون كو تهپكى دينا" د خوب راوستو د پاره وائي، نو شيخ الهند نورالله مرقده د دې جملې ترجمه داشان كوى "بيا اوټپول مونږ غوږونه د هغوى په دې غاركښې د شمير يو څوكالونه" دې نه علاوه په عربى ژبه كښې "ضَرَبَ عَلَى آذَانِهِ" په معنى "منعه ان يسمع" راتلو سره د اوريدو ډير صورتونه دى، يو دا چه يو سړې ځنګل كښې د غار ته ډډ لاړو كيناستو او د دنياد خبرونه د هغه غوږونه ناآشنا شو دونم دا چه هغه كوڼ شو او د اوريدونه معذوره شو. دريم دا چه هغه اوده شو او د نورو ظاهرى حواس په شان غوږونه هم د اوريدونه پاتې شو نو "ضَرَبَ عَلَى آذَانِ" تعبير د دې ټولو صورتونو د پاره يو شان قابل استعمال دې او استعاره او تشبيه ده نود دريواړو معنو د پاره ده. البته د مولانا آزاد په تفسيركښې دا اشكال ضرور او لازم راځى چه كه "ضَرَبَ عَلَى آذَانِ" معنى دا ده چه د هغوى غوږونه د دنياد طرف ته بند شوى وو. يعنى هغوى د بيدارئى په حالت كښې د عام ژوند مطابق د كلى نه د غرپه يو غاركښې راهبانه ژوندون تيرولو نو بيا به د دې آيت څه معنى وى "وَكَذَٰلِكَ بَعَثْنَاهُمْ لِيَتَسَاءَلُوا بَيْنَهُمْ قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ" آيا دا آيت په خپله صفا معنى كښې ظاهروى نه چه د "ضَرَبَ عَلَى آذَانِ" صفا تعبير هم هغه دې چه د جمهورو مفسرينو په نيز صحيح او راجح دې. يعنى هغوى اوده شوى وو بلكه په داسې موقع باندې "بعثناهم" د تعبير تقاضا خو دا ده چه د مفسرينو د تفسير نه علاوه بله معنى اخستل قطعاً بې محله ده" [اوګورئى قصص القرآن: ۳/ ۲۷۰-۲۷۱-

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ وَأَلَتْ تَئِلُ تَنْجُو وَقَالَ مُجَاهِدٌ مَوْئِلًا مُحْرِزًا: په آيت كښې دى "بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّن يَجِدُوا مِن دُونِهِ مَوْئِلًا" د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما غير اوفرمائيل چه "وال، يئل" د باب ضرب نه په معنى د خلاصى بياموندل دې نو موئل د خلاصى ځائ ته ونيلې شى. مجاهد رحمه الله د دې معنى محرز بيان كړې ده، يعنى د حفاظت ځائ، دواړه معنې هم يو مفهوم اداكوى.

قوله: لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا لَا يَعْقِلُونَ: په آيت شريف كښې دى "الَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِي غِطَاءٍ عَن ذِكْرِي وَكَانُوا لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا" د دې آخرى جز تفسير باللازم اوكړو يعنى هغه ډډه كوى، د اوريدو د پاره تيارنه دې په دې وجه پوهيږى هم نه.

[۲۱۴] بَابٌ: وَكَانَ الْإِنْسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا

[۴۴۴۷] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ أَنَّ حُسَيْنَ بْنَ عَلِيٍّ أَخْبَرَهُ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَرَقَهُ وَفَاطِمَةَ قَالَ أَلَا تُصَلِّيَانِ

دا روايت دلته مختصر ذكركړې شويدې، كتاب الصلاة كښې "باب تحريض النبى صلى الله عليه وسلم على

قیام اللیل تحت دا روایت پوره ذکر کړې شویدې. د کوم په آخره کښې چه هغه مذکوره آیت ذکر کړې شویدې. (۱) او هم د هغه مفصل روایت د مناسبت په وجه دا روایت امام دلته راوړې دې.

رَجْمًا بِالْغَيْبِ لَمْ يَسْتَبِنْ فُرُطًا يُقَالُ نَدَمًا سُرَادِقُهَا مِثْلُ السُّرَادِقِ وَالْحُجْرَةِ الَّتِي تُطِيفُ بِالْفَسَاطِيطِ يُحَاوِرُهُ مِنَ الْمُحَاوَرَةِ لَكِنَّا هُوَ اللَّهُ رَبِّي أَيْ لَكِنْ أَنَا هُوَ اللَّهُ رَبِّي ثُمَّ حَذَفَ الْأَلِفَ وَأَدْغَمَ إِحْدَى النُّونَيْنِ فِي الْأُخْرَى وَفَجَّرْنَا خِلَالَهُمَا نَهَرًا يَقُولُ بَيْنَهُمَا زَلَقًا لَا يَثْبُتُ فِيهِ قَدَمٌ هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ مَصْدَرُ الْوَلِيِّ عُقْبًا عَاقِبَةٌ وَعُقْبَى وَعُقْبَةٌ وَاحِدٌ وَهِيَ الْآخِرَةُ قِبَلًا وَقُبُلًا وَقَبَلًا اسْتِئْنَافًا لِيُدْحِضُوا لِيُزِيلُوا الدَّحْضُ الزَّلَقُ

د کلماتو تشریح:

قوله: رَجْمًا بِالْغَيْبِ: لَمْ يَسْتَبِنْ: "وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًا بِالْغَيْبِ" معنی ده په دوی باندې حقیقت واضحه نه دې، صرف په اټکل او اندازه سره وائی.

د قرآن په دې آیت کښې دا سبق خودلې شویدې، چه د فضول بحثونونه پرهیز کول پکار دی. قرآن د اصحاب کهف د واقعه هغه حصې تفصیل سره بیان کړې چه د تذکیرد پاره فائده مندې وې، خو هغه جزئیات چه صرف تاریخی حیثیت ئی لرلو. مثلاً دا چه د هغه خوانان شمیرڅه وو؟ دهغوی عمرونه څه وو؟هغوی په غارکښې خومره موده مقیم وو؟ د قرآن دې اسلوب د دې قسمه بحثونوکښې سوچ او فکرکولونه منع کړیده. وئی فرمائیل "قُل رَّبِّي أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَاءً ظَاهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا"

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه د هغه قلیل نه زه هم یم چاته چه د هغوی د شمیر متعلق علم دې(۲) وئی فرمائیل چه هغه اووه وو اواتم د هغوی سپې وو او دا د دې د پاره چه الله تعالی د شمیر متعلق او دوه قوله ذکر کولونه پس اوفرمائیل "رَجْمًا بِالْغَيْبِ" خود دریم قول ذکر کولونه پس داسې یوه خبره نه ده کړې په دې وجه هم دغه صحیح شمیر دې.

قوله: فرطا: ندما: په آیت مبارك کښې دی "وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا" د فُرُطًا ترجمه ندماً سره کړیده یعنی د هغوی معامله د پښیمانتیا او شرمندګئی ذریعه جوړه شوه.

قوله: سرادقها: مثل السرادق، والحجرة التی تطیف بالفساطیط: آیت مبارك کښې دی "إِنَّا أَعْتَدْنَا

---

(۱)(هلته د روایت الفاظ دا دی: "ان علی بن ابی طالب رضی الله عنه اخبره ان رسول الله صلی الله علیه وسلم طرقه، وفاطمة بنت النبی صلی الله علیه وسلم لیلة. فقال: الا تصلیان؟ فقلت: یارسول الله. انفسنا بیدالله، فاذاشاء ان یبعثنا، بعثنا. فانصر فحین قلت ذلک، ولم یرجع الی شیئا. ثم سمعته، وهو مول. یضرب فخذه، وهویقول: وکان الانسان اکثر شئ جدلا" (صحیح البخاری، کتاب التهجد، باب تحریض النبی صلی الله علیه وسلم علی قیام اللیل: ۱۵۲/۱) -

(۲)(تفسیرابن کثیر:۷۸/۳ و تفسیرالدرالمنثور: ۲۱۷/٤-

لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا اَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا" يعنى مونږ دَ ظالمانو دَ پاره اُور تيار كړې دې دَ دې اُور پردو كښې به دوى راګيرشوى وى. امام فرمائيلى دى" مثل السرادق" لكه څنګه چه دَ څلورو واړو طرفونو دَ پردې دَ پاره قناتونه لګوى همدغه شان به هلته هم دَ څلورو واړو طرفونه دَ اُور پردې لګيدلې وى. دَ دې دوئم مثال دَ هغه حجرې غوندې دې چه په خيموكښې راګيره شوى وى. فساطيط دَ فسطاط جمع ده په معنى دَ خيمې.

قوله: يحاورة: من المحاورة: آيت كښې دى" فَقَالَ لِصَاحِبِهٖ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗۤ اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّاَعَزُّ نَفَرًا" بيانى اووئيل خپل ملګرى ته كله چه هغه سره خبرې كولې، ماسره تانه زيات مال دې او دَ ډيرعزت والا خلق دى يحاوره دَ محاورة نه مشتق دې دَ كوم معنى چه خبرې كول دى.

قوله: لَكِنَّا هُوَ اللّٰهُ رَبِّي أَيْ لَكِنْ أَنَا هُوَ اللّٰهُ رَبِّي ثُمَّ حَذَفَ الْأَلِفَ وَأَدْغَمَ إِحْدَى النُّونَيْنِ فِي الْأُخْرَى: آيت مبارك كښې دى " لٰكِنَّا هُوَ اللّٰهُ رَبِّيْ وَلَاۤ اُشْرِكُ بِرَبِّيْۤ اَحَدًا" يعنى زه خو همدغه وايم چه هم هغه الله زما رب دې او زه خپل رب سره څوك شريك نه منم "لٰكِنَّا" په اصل كښې "لكن انا" وو، دَ انا همزه حذف كړې شو او "لكن" نون "انا" په نون كښې مدغم كړې شو نو "لٰكِنَّا" شو.

قوله: زلقا: لا يثبت فيه قدم: "فَتُصْبِحَ صَعِيْدًا زَلَقًا" چه هغه باغ صفاميدان شى پاتې شى. امام فرمائى چه "زلقا" معنى ده داسې صفا او غوړ په كوم چه قدم نه اودريږى او اوخوئيږى.

قوله: هنالك الولاية: مصدر الولى: " هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ" هلته امداد كول هم دَ الله تعالى چه حق دې كار دې "ولاية" دَ "ولى" مصدر دې دَ څه معنى چه امداد او نصرت دې.

قوله: عقبا: عاقبة وعقبى واحد، وهى الاخرة: آيت كښې دى "هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ عُقْبًا" دَ دې ثواب دَ ټولونه ښه دې اودَ دې انجام دَ ټولونه ښه دې. امام فرمائى "عقبا" په معنى دَ "عاقبة" دې، عاقبة او عقبى هم يوه معنى ده يعنى آخرت

قوله: قِبَلاً، وقُبُلاً، وقَبَلاً: استينافا: آيت مبارك كښې دى "اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا" چه يا راشى عذاب دَ هغوى په وړاندې" په دې كښې دَ قُبُلاً معنى استيناف او استقبال دې، قِبَلاً (په زير دَ قاف او زبر دَ با) قُبُلاً(دَدوو پيشونو) او قَبَلاً (دَ دوو زبر) دَ ټولو معنى امام هم يو خودلې ده. خو مشهور دا دى چه قِبَلاً معنى "عيانا" ده او قُبُلاً دَ قَبِيل جمع ده دَ مختلف رنګونو دَ پاره استعماليږى (۱) او دَ قَبَلاً معنى استيناف ده.

---

(۱) (عمدة القارى: ۳۹/۱۹-

قوله: ليدحضوا: ليزيلوا: الدحض: الزالق: په آيت مبارك كښې دى "وَيُجَادِلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ" دَ حض معنى خوئيدل راځى او چه كله باب افعال ته يوړلې شى نو دَ زائل كولو معنى به وى ځكه دَ خوئيدو نه پس سړې په خپل ځاى نه پاتې كيږى او زائل كيږى.

[۲۱۵] باب: وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتَّى أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا زَمَانًا وَجَمْعُهُ أَحْقَابٌ

په آيت كښې دى "وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتَّىٰ أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا۞" ياد كړه هغه وخت چه كله موسى عليه السلام خپل خادم ته اووئيل چه زه به يوشان مزل كوم ترهغه وخت پورې چه زه اورسم هغه ځاى ته چرته چه دوه دريابونه په خپل مينځ كښې يوځاى شوى دى يا به د اوږدې مودې پورې ګرځم. فرمائى چه "حقب" اوږدې زمانې ته وائى اودَ دې جمع "احقاب" ده.

[۴۴۴۸] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ إِنَّ نَوْفًا الْبِكَالِيَّ يَزْعُمُ أَنَّ مُوسَى صَاحِبَ الْخَضِرِ لَيْسَ هُوَ مُوسَى صَاحِبَ بَنِي إِسْرَائِيلَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَذَبَ عَدُوُّ اللَّهِ حَدَّثَنِي أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ مُوسَى قَامَ خَطِيبًا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ فَسُئِلَ أَيُّ النَّاسِ أَعْلَمُ فَقَالَ أَنَا فَعَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِ إِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ إِلَيْهِ فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ إِنَّ لِي عَبْدًا بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ قَالَ مُوسَى يَا رَبِّ فَكَيْفَ لِي بِهِ قَالَ تَأْخُذُ مَعَكَ حُوتًا فَتَجْعَلُهُ فِي مِكْتَلٍ فَحَيْثُمَا فَقَدْتَ الْحُوتَ فَهُوَ ثَمَّ فَأَخَذَ حُوتًا فَجَعَلَهُ فِي مِكْتَلٍ ثُمَّ انْطَلَقَ وَانْطَلَقَ مَعَهُ بِفَتَاهُ يُوشَعَ بْنِ نُونٍ حَتَّى إِذَا أَتَيَا الصَّخْرَةَ وَضَعَا رُءُوسَهُمَا فَنَامَا وَاضْطَرَبَ الْحُوتُ فِي الْمِكْتَلِ فَخَرَجَ مِنْهُ فَسَقَطَ فِي الْبَحْرِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا وَأَمْسَكَ اللَّهُ عَنِ الْحُوتِ جِرْيَةَ الْمَاءِ فَصَارَ عَلَيْهِ مِثْلَ الطَّاقِ فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ نَسِيَ صَاحِبُهُ أَنْ يُخْبِرَهُ بِالْحُوتِ فَانْطَلَقَا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا وَلَيْلَتَهُمَا حَتَّى إِذَا كَانَ مِنَ الْغَدِ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا قَالَ وَلَمْ يَجِدْ مُوسَى النَّصَبَ حَتَّى جَاوَزَا الْمَكَانَ الَّذِي أَمَرَ اللَّهُ بِهِ فَقَالَ لَهُ فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنْسَانِيهِ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا قَالَ فَكَانَ لِلْحُوتِ سَرَبًا وَلِمُوسَى وَلِفَتَاهُ عَجَبًا فَقَالَ مُوسَى ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا قَالَ رَجَعَا يَقُصَّانِ آثَارَهُمَا حَتَّى انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِذَا رَجُلٌ مُسَجًّى ثَوْبًا فَسَلَّمَ عَلَيْهِ مُوسَى فَقَالَ الْخَضِرُ وَأَنَّى بِأَرْضِكَ السَّلَامُ قَالَ أَنَا مُوسَى قَالَ مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ نَعَمْ أَتَيْتُكَ لِتُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رَشَدًا قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا يَا مُوسَى إِنِّي عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ عَلَّمَنِيهِ لَا تَعْلَمُهُ أَنْتَ وَأَنْتَ عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ عَلَّمَكَهُ اللَّهُ لَا أَعْلَمُهُ فَقَالَ مُوسَى سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ صَابِرًا وَلَا أَعْصِي لَكَ أَمْرًا فَقَالَ لَهُ الْخَضِرُ

فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْأَلْنِي عَنْ شَيْءٍ حَتَّى أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا فَانْطَلَقَا يَمْشِيَانِ عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ فَمَرَّتْ سَفِينَةٌ فَكَلَّمُوهُمْ أَنْ يَحْمِلُوهُمْ فَعَرَفُوا الْخَضِرَ فَحَمَلُوهُمْ بِغَيْرِ نَوْلٍ فَلَمَّا رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ لَمْ يَفْجَأْ إِلَّا وَالْخَضِرُ قَدْ قَلَعَ لَوْحًا مِنْ أَلْوَاحِ السَّفِينَةِ بِالْقَدُومِ فَقَالَ لَهُ مُوسَى قَوْمٌ قَدْ حَمَلُونَا بِغَيْرِ نَوْلٍ عَمَدْتَ إِلَى سَفِينَتِهِمْ فَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا قَالَ وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتِ الْأُولَى مِنْ مُوسَى نِسْيَانًا قَالَ وَجَاءَ عُصْفُورٌ فَوَقَعَ عَلَى حَرْفِ السَّفِينَةِ فَنَقَرَ فِي الْبَحْرِ نَقْرَةً فَقَالَ لَهُ الْخَضِرُ مَا عِلْمِي وَعِلْمُكَ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ إِلَّا مِثْلُ مَا نَقَصَ هَذَا الْعُصْفُورُ مِنْ هَذَا الْبَحْرِ ثُمَّ خَرَجَا مِنَ السَّفِينَةِ فَبَيْنَا هُمَا يَمْشِيَانِ عَلَى السَّاحِلِ إِذْ أَبْصَرَ الْخَضِرُ غُلَامًا يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَأَخَذَ الْخَضِرُ رَأْسَهُ بِيَدِهِ فَاقْتَلَعَهُ بِيَدِهِ فَقَتَلَهُ فَقَالَ لَهُ مُوسَى أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَاكِيَةً بِغَيْرِ نَفْسٍ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ وَهَذِهِ أَشَدُّ مِنَ الْأُولَى قَالَ إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي عُذْرًا فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ قَالَ مَائِلٌ فَقَامَ الْخَضِرُ فَأَقَامَهُ بِيَدِهِ فَقَالَ مُوسَى قَوْمٌ أَتَيْنَاهُمْ فَلَمْ يُطْعِمُونَا وَلَمْ يُضَيِّفُونَا لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ إِلَى قَوْلِهِ ذَلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِدْنَا أَنَّ مُوسَى كَانَ صَبَرَ حَتَّى يَقُصَّ اللَّهُ عَلَيْنَا مِنْ خَبَرِهِمَا قَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقْرَأُ وَكَانَ أَمَامَهُمْ مَلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ صَالِحَةٍ غَصْبًا وَكَانَ يَقْرَأُ وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ كَافِرًا وَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ

[۲۱۶] بَاب: قَوْلِهِ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا مَذْهَبًا يَسْرُبُ يَسْلُكُ وَمِنْهُ وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ

[۴۴۴۹] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ قَالَ أَخْبَرَنِي يَعْلَى بْنُ مُسْلِمٍ وَعَمْرُو بْنُ دِينَارٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ يَزِيدُ أَحَدُهُمَا عَلَى صَاحِبِهِ وَغَيْرُهُمَا قَدْ سَمِعْتُهُ يُحَدِّثُهُ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ إِنَّا لَعِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي بَيْتِهِ إِذْ قَالَ سَلُونِي قُلْتُ أَيْ أَبَا عَبَّاسٍ جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاءَكَ بِالْكُوفَةِ رَجُلٌ قَاصٌّ يُقَالُ لَهُ نَوْفٌ يَزْعُمُ أَنَّهُ لَيْسَ بِمُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَمَّا عَمْرٌو فَقَالَ لِي قَالَ قَدْ كَذَبَ عَدُوُّ اللَّهِ وَأَمَّا يَعْلَى فَقَالَ لِي قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ حَدَّثَنِي أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُوسَى رَسُولُ اللَّهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ ذَكَّرَ النَّاسَ يَوْمًا حَتَّى إِذَا فَاضَتِ الْعُيُونُ وَرَقَّتِ الْقُلُوبُ وَلَّى فَأَدْرَكَهُ رَجُلٌ فَقَالَ أَيْ رَسُولَ اللَّهِ هَلْ فِي الْأَرْضِ أَحَدٌ أَعْلَمُ مِنْكَ قَالَ لَا

فعتب عليه إذ لم يرد العلم إلى الله قيل بلى قال أى رب فأين قال بمجمع البحرين قال أى رب اجعل لي علما أعلم ذلك به فقال لي عمرو قال حيث يفارقك الحوت وقال لي يعلى قال خذ نونا ميتا حيث ينفخ فيه الروح فأخذ حوتا فجعله في مكتل فقال لفتاه لا أكلفك إلا أن تخبرني بحيث يفارقك الحوت قال ما كلفت كثيرا فذلك قوله جل ذكره وإذ قال موسى لفتاه يوشع بن نون ليست عن سعيد قال فبينما هو في ظل صخرة في مكان ثريان إذ تضرب الحوت وموسى نائم فقال فتاه لا أوقظه حتى إذا استيقظ نسي أن يخبره وتضرب الحوت حتى دخل البحر فأمسك الله عنه جرية البحر حتى كأن أثره في حجر قال لي عمرو هكذا كأن أثره في حجر وحلق بين إبهاميه واللتين تليانهما لقد لقينا من سفرنا هذا نصبا قال قد قطع الله عنك النصب ليست هذه عن سعيد أخبره فرجعا فوجدا خضرا قال لي عثمان بن أبي سليمان على طنفسة خضراء على كبد البحر قال سعيد بن جبير مسجى بثوبه قد جعل طرفه تحت رجليه وطرفه تحت رأسه فسلم عليه موسى فكشف عن وجهه وقال هل بأرضي من سلام من أنت قال أنا موسى قال موسى بني إسرائيل قال نعم قال فما شأنك قال جئت لتعلمني مما علمت رشدا قال أما يكفيك أن التوراة بيديك وأن الوحي يأتيك يا موسى إن لي علما لا ينبغي لك أن تعلمه وإن لك علما لا ينبغي لي أن أعلمه فأخذ طائر بمنقاره من البحر وقال والله ما علمي وما علمك في جنب علم الله إلا كما أخذ هذا الطائر بمنقاره من البحر حتى إذا ركبا في السفينة وجدا معابر صغارا تحمل أهل هذا الساحل إلى أهل هذا الساحل الآخر عرفوه فقالوا عبد الله الصالح قال قلنا لسعيد خضر قال نعم لا نحمله بأجر فخرقها ووتد فيها وتدا قال موسى أخرقتها لتغرق أهلها لقد جئت شيئا إمرا قال مجاهد منكرا قال ألم أقل إنك لن تستطيع معي صبرا كانت الأولى نسيانا والوسطى شرطا والثالثة عمدا قال لا تؤاخذني بما نسيت ولا ترهقني من أمري عسرا لقيا غلاما فقتله قال يعلى قال سعيد وجد غلمانا يلعبون فأخذ غلاما كافرا ظريفا فأضجعه ثم ذبحه بالسكين قال أقتلت نفسا زكية بغير نفس لم تعمل بالحنث وكان ابن عباس قرأها زكية زاكية مسلمة كقولك غلاما زكيا فانطلقا فوجدا جدارا يريد أن ينقض فأقامه قال سعيد بيده هكذا ورفع يده فاستقام قال يعلى حسبت أن سعيدا قال فمسحه بيده فاستقام لو شئت لاتخذت عليه أجرا قال سعيد أجرا نأكله وكان وراءهم وكان أمامهم قرأها ابن عباس أمامهم ملك يزعمون عن غير سعيد أنه هدد بن بدد والغلام المقتول اسمه يزعمون جيسور ملك يأخذ كل سفينة غصبا فأردت إذا هي مرت به أن يدعها لعيبها فإذا جاوزوا أصلحوها فانتفعوا بها ومنهم من يقول سدوها بقارورة ومنهم من يقول بالقار كان أبواه مؤمنين وكان كافرا فخشينا أن يرهقهما

طُغْيَانًا وَكُفْرًا أَنْ يَحْمِلَهُمَا حُبُّهُ عَلَى أَنْ يَتَابِعَاهُ عَلَى دِينِهِ فَأَرَدْنَا أَنْ يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِنْهُ زَكَاةً لِقَوْلِهِ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا هُمَا بِهِ أَرْحَمُ مِنْهُمَا بِالْأَوَّلِ الَّذِي قَتَلَ خَضِرٌ وَزَعَمَ غَيْرُ سَعِيدٍ أَنَّهُمَا أُبْدِلَا جَارِيَةً وَأَمَّا دَاوُدُ بْنُ أَبِي عَاصِمٍ فَقَالَ عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ إِنَّهَا جَارِيَةٌ

قوله: اخبرني يعلى بن مسلم وعمرو بن دينار، عن سعيد بن جبير يزيد احدهما على صاحبه، وغيرهما سمعته يحدثه عن سعيد:

د سند توضيح: دهشام بن يوسف استاذ ابن جريج فرمائي چه مانه يعلى بن مسلم او عمرو بن دينار دَ حضرت سعيد بن جبير رضي الله عنه په واسطه بيان اوكړو او دې دواړوكښې يو دَ خپل ملګرى نه څه الفاظ زيات اوونيل اودغه دواړو (يعلى بن مسلم او عمرو بن دينار) دَ يو بل سړى نه هم ما واوريده چه دَ حضرت سعيد بن جبير رضي الله عنه نه ئې حديث بيانولو. حاصل دا چه دَ ابن جريج درې شيخان وو① يعلى بن مسلم ② عمرو بن دينار ③غيرهما دَ رومبنو دوو نه علاوه، امام بخارى رحمه الله دَ هغه نو په وړاندې روايت كښې ذكر كړې دې. فرمائى قال لى عثمان بن ابى سليمان

قوله: سربا: مذهبا، يسرب: يسلك، ومنه: "وسارب بالنهار": "فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا" نو هغه كب په درياب كښې خپله لاره په سرنګ جوړولو سره جوړه كړه. امام فرمائى چه په آيت كښې "سربا" دَ "مذهبا" په معنى كښې دې يعنى لاره، دَ تلو ځائ. يسرب: يسلك: هغه ځى او دَ سورة رعد په آيت كښې (وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ) هم دينه دې يعنى دَ ورځې تلونكې.

قوله: اقتلت نفسا زكية بغير نفس، لم تعمل بالحنث، وكان ابن عباس يقراها زكية: زاكية: مسلمة، كقولك: غلاما زكيا: حضرت موسى عليه السلام حضرت خضر عليه السلام ته اوونيل چه تايو بې ګناه انسان بغير د څه بدلې قتل كړو، چا چه هيڅ ګناه نه وه كړې. حضرت ابن عباس رضي الله عنه "زكية" په ځائ په "زاكية" لوستلو په معنى مسلمة لكه غلاما زكيا كښې دې.

[۲۱۷] باب: فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا

قَالَ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ إِلَى قَوْلِهِ عَجَبًا صُنْعًا عَمَلًا حِوَلًا تَحَوُّلًا قَالَ ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا إِمْرًا وَنُكْرًا دَاهِيَةً يَنْقَضَّ يَنْقَاضُ كَمَا تَنْقَاضُ السِّنُّ لَتَخِذْتَ وَاتَّخَذْتَ وَاحِدٌ رُحْمًا مِنَ الرُّحْمِ وَهِيَ أَشَدُّ مُبَالَغَةً مِنَ الرَّحْمَةِ وَنَظُنُّ أَنَّهُ مِنَ الرَّحِيمِ وَتُدْعَى مَكَّةُ أُمَّ رُحْمٍ أَيِ الرَّحْمَةُ تَنْزِلُ بِهَا

قوله: امرًا، ونکرًا: داهية: يوآيت مبارك كښې دى "لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا اِمْرًا" او دونم آيت كښې دى "لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا" فرمائى چه امرًا او نكرًا معنى ده داهية: مصيبت، لويه معامله او مجاهد امرًا ترجمه منكرًا كړيده، يعنى ناخبره اوحيرانونكې كار.

قوله: صنعاً: عملاً: "وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا" اوهغوى گڼړى چه هغوى ښه كاركوى په دې كښې صنعاً دَ عملاً په معنى كښې دې.

قوله: حولا: تحولاً: "لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا" هغه خلق به دَ جنت نه چرته تلل نه غواړى. فرمائى دَ حولا په تحولاً معنى كښې دى يعنى گرځيدل واپس كيدل. مولاناشبيراحمدعثمانى رحمه الله فرمائى: "يعنى دَ هميشه دَ پاره پاتې كيدو سره به ستړې كيږى نه. هر وخت به تازه په تازه نعمتونه ملاويږى. هيڅ كله به خواهش نه كوى چه مونږ چرته بدل كړيشو.

قوله: ينقض: ينقاض، كما تنقاض السن: آيت كښې دى "فَوَجَدَا فِيْهَا جِدَارًا يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ فَاَقَامَهٗ" دې دواړو هلته يو ديوال اوليدو چه پريوتلو نو حضرت خضر عليه السلام دا نيغ كړو. فرمائى (يَنْقَضَّ) او ينقاض دَ دواړو هم يوه معنى ده يعنى پريوتل، لكه چه وائى تنقاض السن دَ غاښ پريوتل.

قوله: لتخذت، واتخذت واحد: "قَالَ لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا" حضرت موسى عليه السلام اوفرمائيل كه تاسو غوښتل نو په دې كار به دې اجرت اخستې وې، فرمائى چه آيت په يو قراءت كښې "لتخذت" تخذت (دَ باب سمع) او اتخذت (باب انفعال) نه دې دَ دواړو معنى يوه ده يعنى اسختل.

قوله: رحماً: من الرحيم، وهي اشد مبالغة من الرحمة، ونظن انه من الرحيم، وتدعى مكة ام رحم، اى الرحمة تنزل بها: "خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً وَّاَقْرَبَ رُحْمًا" فرمائى "رُحْمًا" "رحيم" نه ماخوذ دې په معنى رشته دارى خپلولى او په دې كښې "رحمة" نه زياته مبالغه دې او يو خيال دا هم دې چه "رحما" "رحيم" نه ماخوذ دى، مكې ته "ام الرحم" وائى ځكه چه هلته دَ الله تعالى رحمت نازليږى. علامه كرمانى رحمه الله فرمائى:

قوله: "من الرحيم" بكسر الحاء بمعنى القرابة، وهي اشد مبالغة من الرحمة هي رقة والتعطف، لاستلزام القرابة الرقة غالبا من غير عكس، فظن بعضهم انه مشتق من الرحيم الذى من الرحمة، وغرضه انه بمعنى القرابة، لا الرقة، وعند البعض بالعكس (١)

[۴۴۵۰] حَدَّثَنِي قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ قَالَ حَدَّثَنِي سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِيْنَارٍ

---

(١) (شرح الكرمانى: ١٧/١٩٩-

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ إِنَّ نَوْفًا الْبِكَالِيَّ يَزْعُمُ أَنَّ مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ لَيْسَ بِمُوسَى الْخَضِرِ فَقَالَ كَذَبَ عَدُوُّ اللَّهِ حَدَّثَنَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَامَ مُوسَى خَطِيبًا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ فَقِيلَ لَهُ أَيُّ النَّاسِ أَعْلَمُ قَالَ أَنَا فَعَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِ إِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ إِلَيْهِ وَأَوْحَى إِلَيْهِ بَلَى عَبْدٌ مِنْ عِبَادِي بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ قَالَ أَيْ رَبِّ كَيْفَ السَّبِيلُ إِلَيْهِ قَالَ تَأْخُذُ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ فَحَيْثُمَا فَقَدْتَ الْحُوتَ فَاتَّبِعْهُ قَالَ فَخَرَجَ مُوسَى وَمَعَهُ فَتَاهُ يُوشَعُ بْنُ نُونٍ وَمَعَهُمَا الْحُوتُ حَتَّى انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَنَزَلَا عِنْدَهَا قَالَ فَوَضَعَ مُوسَى رَأْسَهُ فَنَامَ قَالَ سُفْيَانُ وَفِي حَدِيثِ غَيْرِ عَمْرٍو قَالَ وَفِي أَصْلِ الصَّخْرَةِ عَيْنٌ يُقَالُ لَهَا الْحَيَاةُ لَا يُصِيبُ مِنْ مَائِهَا شَيْءٌ إِلَّا حَيِيَ فَأَصَابَ الْحُوتَ مِنْ مَاءِ تِلْكَ الْعَيْنِ قَالَ فَتَحَرَّكَ وَانْسَلَّ مِنَ الْمِكْتَلِ فَدَخَلَ الْبَحْرَ فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ مُوسَى قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا الْآيَةَ قَالَ وَلَمْ يَجِدِ النَّصَبَ حَتَّى جَاوَزَ مَا أُمِرَ بِهِ قَالَ لَهُ فَتَاهُ يُوشَعُ بْنُ نُونٍ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ الْآيَةَ قَالَ فَرَجَعَا يَقُصَّانِ فِي آثَارِهِمَا فَوَجَدَا فِي الْبَحْرِ كَالطَّاقِ مَمَرَّ الْحُوتِ فَكَانَ لِفَتَاهُ عَجَبًا وَلِلْحُوتِ سَرَبًا قَالَ فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ إِذْ هُمَا بِرَجُلٍ مُسَجًّى بِثَوْبٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ مُوسَى قَالَ وَأَنَّى بِأَرْضِكَ السَّلَامُ فَقَالَ أَنَا مُوسَى قَالَ مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ نَعَمْ قَالَ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا قَالَ لَهُ الْخَضِرُ يَا مُوسَى إِنَّكَ عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ عَلَّمَكَهُ اللَّهُ لَا أَعْلَمُهُ وَأَنَا عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ عَلَّمَنِيهِ اللَّهُ لَا تَعْلَمُهُ قَالَ بَلْ أَتَّبِعُكَ قَالَ فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْأَلْنِي عَنْ شَيْءٍ حَتَّى أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا فَانْطَلَقَا يَمْشِيَانِ عَلَى السَّاحِلِ فَمَرَّتْ بِهِمْ سَفِينَةٌ فَعُرِفَ الْخَضِرُ فَحَمَلُوهُمْ فِي سَفِينَتِهِمْ بِغَيْرِ نَوْلٍ يَقُولُ بِغَيْرِ أَجْرٍ فَرَكِبَا السَّفِينَةَ قَالَ وَوَقَعَ عُصْفُورٌ عَلَى حَرْفِ السَّفِينَةِ فَغَمَسَ مِنْقَارَهُ فِي الْبَحْرِ فَقَالَ الْخَضِرُ لِمُوسَى مَا عِلْمُكَ وَعِلْمِي وَعِلْمُ الْخَلَائِقِ فِي عِلْمِ اللَّهِ إِلَّا مِقْدَارُ مَا غَمَسَ هَذَا الْعُصْفُورُ مِنْقَارَهُ قَالَ فَلَمْ يَفْجَأْ مُوسَى إِذْ عَمَدَ الْخَضِرُ إِلَى قَدُومٍ فَخَرَقَ السَّفِينَةَ فَقَالَ لَهُ مُوسَى قَوْمٌ حَمَلُونَا بِغَيْرِ نَوْلٍ عَمَدْتَ إِلَى سَفِينَتِهِمْ فَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ الْآيَةَ فَانْطَلَقَا إِذَا هُمَا بِغُلَامٍ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ فَقَطَعَهُ قَالَ لَهُ مُوسَى أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِي صَبْرًا إِلَى قَوْلِهِ فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَقَالَ بِيَدِهِ هَكَذَا فَأَقَامَهُ فَقَالَ لَهُ مُوسَى إِنَّا دَخَلْنَا هَذِهِ الْقَرْيَةَ فَلَمْ يُضَيِّفُونَا وَلَمْ يُطْعِمُونَا لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِدْنَا أَنَّ مُوسَى صَبَرَ حَتَّى يُقَصَّ عَلَيْنَا مِنْ أَمْرِهِمَا قَالَ وَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقْرَأُ وَكَانَ أَمَامَهُمْ مَلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ صَالِحَةٍ غَصْبًا وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ كَافِرًا

په ذكرشوى درياړو بابونوكښې امام بخارى رحمه الله كښې حديث خضر ذكر كړې دې. دا حديث په كتاب العلم كښې "باب ماذكر فى ذهاب موسى عليه السلام فى البحر الى الخضر عليه السلام او باب مايستحب للعالم اذاسئل اى الناس اعلم" تحت تيرشويدې (١) اودَ دې متعلق تفصيلى بحثونه هم هلته تيرشوى دى.

[٢١٨] بَاب قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا

[٤٤٥١] (٢) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ سَأَلْتُ أَبِي قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا هُمْ الْحَرُورِيَّةُ قَالَ لَا هُمْ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى أَمَّا الْيَهُودُ فَكَذَّبُوا مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَّا النَّصَارَى فَكَفَرُوا بِالْجَنَّةِ وَقَالُوا لَا طَعَامَ فِيهَا وَلَا شَرَابَ وَالْحَرُورِيَّةُ الَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَكَانَ سَعْدٌ يُسَمِّيهِمْ الْفَاسِقِينَ

حضرت مصعب بن سعد دَ خپل والد صاحب حضرت سعدبن ابى وقاص رضى الله عنه نه تپوس اوكړو چه په آيت مبارك كښې "بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا" نه كوم خلق مراد دى؟ آيا دَ دې نه حرورى يعنى خارجى مراد دى؟ حضرت سعد رضى الله عنه اوفرمائيل دلته دَ دې نه يهود او نصارى مراد دى: يهوديانوخو دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم تكذيب كړې وو په دې وجه ئې ټول اعمال ضائع شو او نصارى دَ جنت نه انكار كړې او وئيلې په دې كښې به دَ خوراك څښاك هيڅ څيز نه ملاويږى. ترکومې چه دَ حروريه يعنى خوارجو تعلق دې نو دې نه مراد هغه خلق دى چاچه دَ الله تعالى عهد او ميثاق مات كړو، حضرت سعد رضى الله عنه به هغوى ته فاسق وئيل.

په روايت كښې دى چه نصارى دَ جنت انكار اوكړو، حضرت كشميرى رحمه الله اوفرمائيل نصارى دَ روحانى جنت قائل دى دَ حسى جنت قائل نه دى (٣) دَ هغوى دا مذهب دَ فلسفې نقطه نظر سره نيزدې دې، هغوى هم دَ حسى جنت قائل نه دى ليكن بې شكه دَ نصارى دا خيال دَ تحريف پيداوار دې. دَ حسى جنت نقطه نظر دَ مذاهب سماويه اجماعى مسئله ده، دَ دې دَ پاره نصرانى آسمانى تعليم خلاف هډو سوال نه پيداكيږى.

---

(١) (صحيح بخارى باب ماذكر فى ذهاب موسى فى البحر الى الخضر: ١٧/١ وايضا فى باب الخروج فى طلب العلم على نفس الصفحة وباب ما يستحب للعالم اذاسئل اى الناس اعلم: ٢٣/١-

(٢) (واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى التفسير، باب قوله تعالى: هل ننبئكم بالاخسرين اعمالا، رقم الحديث: ١١٣١٣، وهذا الحديث لم يخرجه احد من اصحاب الستة سوى البخارى-

(٣) (فيض البارى: ٢٠٢/٤-

[۲۱۹] باب أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ الآية

[۴۴۵۲] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهُ لَيَأْتِي الرَّجُلُ الْعَظِيمُ السَّمِينُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَزِنُ عِنْدَ اللَّهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ وَقَالَ اقْرَءُوا فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا وَعَنْ يَحْيَى بْنِ بُكَيْرٍ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ مِثْلَهُ

دَ قيامت په ورځ به وزن دَ څه څیز وی؟ بعضې حضراتودَ دې حديث نه استدلال کړې دې چه وزن به د سړو وی. په دې سلسله کښې دَ اهل علم اختلاف دې چه دَ قیامت په ورځ به وزن دَ اعمالو کیږی یا دَ اعمالودَ صحیفو وی یا دَ اشخاصو وی دریواړه قوله دی.

① بعضې حضرات وائی چه وزن به دَ اشخاصو کیږی هغوی دَ باب حديث نه استدلال کړې دې او حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه متعلق دَ نبی کریم ﷺ دَ دې ارشاد نه استدلال کوی چه امام احمد رحمه الله روایت کړیدې، چه هغوی ﷺ دَ هغه متعلق فرمائیلی دی "اتعجبون من دقة ساقیه، والذی نفسی بیده، لهما فی المیزان اثقل من احد (۲)

②اوبعضې حضرات وائی چه وزن به دَ اعمالو دَ صحیفو وی، داحضرات دَ بطاقه دَ حديث نه استدلال کوی کوم چه امام ترمذی رحمه الله نقل کړیدې چه دَ قیامت په ورځ به یو سړې راوستلې شی په میزان کښې به یو طرف ته دَ هغه دَ اعمالو په بدله کښې یوکم سل صحیفې وی او په بله کښې به یوه بطاقه یعنی پرچه کیخودې شی کوم کښې چه به صرف "لااله الاالله" لیکلې وی. نو دَ بطاقه طرف چابږې به دروندشی. (۳)

③لیکن ډیر علماء وائی چه وزن به دَ اعمالوکیږی، الله جل شانه به نیك اعمالو ته ښه او بدو اعمالو خراب صورت کښې بدل کړی او دا صورتونه به په تله کښې کیخودې شی. دا حضرات دَ حضرت براء بن عازب رضی الله عنه دَ روایت نه استدلال کوی چه په قبرکښې مؤمن ته یو ښکلې ځوان دَ چا نه چه به خوشبو خوریږی راشی هغه به دَ ده نه تپوس اوکړی چه ته څوك ئی؟ نو هغه ځوان به په جواب کښې اووائی "انا عملك الصالح" زه ستا هغه نیك عمل یم او دَ کافر او منافق باره کښې به دَ دې خلاف کیږی. (۴) دَ دې حديث نه معلومه شوه چه اعمال به

---

(۱)(واخرجه مسلم فی صفات المنافقین واحکامهم، کتاب صفة القیامة والجنة والنار، رقم الحديث: ۲۷۸۵-

(۲)(رواه احمد: ۱/ ۴۲۰ کذافی تفسیر سورة الکهف: ۲۹۵-

(۳)(سنن الترمذی، کتاب الایمان، باب ماجاء فیمن یموت، وهو یشهد ان لااله الاالله:۲۵/۵ رقم ۲۶۳۹-

(۴)(رواه احمد: ۲۸۷/۵ کذافی تفسیر سورة الکهف:۲۹۵ —

دَ صورت شکل اختيار کړی نو وزن په دَ اعمالو وی. باقی حديث باب او آيت "فلانقيم لهم يوم القيامة وزنا" مطلب دا دې چه دَ الله تعالى په نيز به دَ هغې هيڅ اهميت نه وی. حضرت کشميری رحمه الله فرمائی: قوله "فلانقيم لهم يوم القيامة وزنا" يعنى مع كون الكفار لحيما شحيما فى الدنيا، ليس لاعمالهم وزن عندالله تعالى وقد استدل منه على وزن الاشخاص ايضاً، والصواب ان المرادمنه وزن الاعمال فقط، وانما تعرض الى عدم وزن انفسهم، اشارى الى انهم ممن لاعبادة بهم عندالله تعالى (١)

[٢٢٠] باب: تفسير سورة مريم

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ اللَّهُ يَقُولُهُ وَهُمْ الْيَوْمَ لَا يَسْمَعُونَ وَلَا يُبْصِرُونَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ يَعْنِي قَوْلَهُ أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ الْكُفَّارُ يَوْمَئِذٍ أَسْمَعُ شَيْءٍ وَأَبْصَرُهُ لَأَرْجُمَنَّكَ لَأَشْتِمَنَّكَ وَرِئْيًا مَنْظَرًا وَقَالَ أَبُو وَائِلٍ عَلِمَتْ مَرْيَمُ أَنَّ التَّقِيَّ ذُو نُهْيَةٍ حَتَّى قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَنِ مِنْكَ إِنْ كُنْتَ تَقِيًّا وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا تُزْعِجُهُمْ إِلَى الْمَعَاصِي إِزْعَاجًا وَقَالَ مُجَاهِدٌ إِدًّا عِوَجًا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وِرْدًا عِطَاشًا أَثَاثًا مَالًا إِدًّا قَوْلًا عَظِيمًا رِكْزًا صَوْتًا غَيًّا خُسْرَانًا وَقَالَ مُجَاهِدٌ فَلْيَمْدُدْ فَلْيَدَعْهُ وَقَالَ غَيْرُهُ بُكِيًّا جَمَاعَةُ بَاكٍ صِلِيًّا صَلِيَ يَصْلَى نَدِيًّا وَالنَّادِي وَاحِدٌ مَجْلِسًا

سُورَةُ كهيعص

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ اللَّهُ يَقُولُهُ وَهُمْ الْيَوْمَ لَا يَسْمَعُونَ وَلَا يُبْصِرُونَ: آيت کښې دی "أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا لَٰكِنِ الظَّالِمُونَ الْيَوْمَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ" حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل چه "أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ" دادَ الله تعالى ارشاد دې اودَ دې مطلب دا دې چه په قيامت کښې کله دوی مونږ له راشی نو لوئ کتونکې او لوئ اوريدونکې به وی خو په دنيا کښې په دې وخت نه حق خبره اوری او نه دَ حقائقوته دَ کتلودَ پاره تيار دی.(٢) "فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ" يو تفسير هم امام بخاری رحمه الله دلته نقل نه کړو، آيت دلته ختمېږی په دې وجه دَ دې ذکر دلته کړې دې. باقی "فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ" مطلب دادې چه په دنيا کښې نه حق اوری او نه حقائقوته ګوری، داتعليق ابن ابی حاتم موصولاً نقل کړيدې. (٣)

صيغهٔ تعجب "أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ" باندې دا اشکال کيږی چه تعجب کول خودَ الله تعالى دَ شان

(١)(فيض البارى: ٢٠٣/٤-

(٢)(لامع الدرارى: ١٣١/٩-١٣٢ وقال الشيخ زكريا رحمه الله تعليقاته: ١٣١/٩ "والمراد بقوله تعالى" مكن الظالمون اليوم..." اى فى الدنيا، وقوله تعالى: "فى ضلال مبين" معناه لايسمعون ولايبصرون، قوله: لايسمعون ولايبصرون تفسير لقوله: "فى ضلال مبين

(٣)(عمدة القارى: ٥٠/١٩_

سره مناسب نه دي او تعجب خو ناواقف ته كيږي نو دَ دې جواب دا كيديشي. چه دَ الله تعالى كمال بنديګانو سره دَ محاراواتو مطابق وى په دې وجه په كومه موقع چه دَ تعجب اظهاركولې شى الله تعالى هلته تعجب ذكر كوى چه بې تكلفه مطلب باندې پوهه شى. دَ دې كيفيت څه وى؟ مونږ دې نه خبر نه يو. فان الحق ان كل ماورد به الشرع فهو ثابت فى جنابه تعالى نعم لابد ان ينزه جنابه مايجب التنزيه له([1])

د كلماتو تشريح:

قوله: لَأَرْجُمَنَّكَ: لَأَشْتِمَنَّكَ: په آيت كښې دى "يَاإِبْرَاهِيمُ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا" فرمائى چه په ايت كښې معنى ده "زه به تاته كنځل كوم" كوم كښې چه دې طرف ته اشاره ده چه دَ رجم نه مراد رجم باللسان دې رجم بالحجارة مراد نه دې، بعضې حضرات وهل هم مراد واخستو ([2])

قوله: وَرِئْيًا مَنظَرًا: آيت كښې دى "وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا وَرِئْيًا" معنى سامان او اسباب دې او رئيا معنى دَ منظر ده يعنى هغوى سره سازوسامان هم ښه وو او په كتلوكښې هم ډېر ښكلې په نظر راتله.

قوله: وَقَالَ أَبُو وَائِلٍ عَلِمَتْ مَرْيَمُ أَنَّ التَّقِيَّ ذُو نُهْيَةٍ حَتَّى قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا بَاب قَوْلِهِ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ: داتعليق په بعض نسخوكښې نشته، امام بخارى رحمه الله دا تعليق دَ دينه اول په كتاب الانبياء كښې "باب قول الله عزوجل: واذكر فى الكتاب مريم..." تحت صفحه ۴۶۸ باندې ذكر كړيدې، ابووائل شقيق بن سلمه فرمائى چه حضرت مريم ته داخبره معلومه وه چه پرهيزګاره سړې دَ عقل خاوند وى او خراب كارنه منع كيږي نوهله خو ئى فرښته دَ پردى سړى په شكل كښې كتلوسره اووئيل "ماته ستانه دَ رحمن پناه، كه ته متقى او ويره لرونكې ئى" علامه شبيراحمد عثمانى صاحب دَ دې آيت تحت ليكى: بى بى مريم په اول ځل كښې پوهه شوه چه څوك سړې دې په ځان له ځائ كښې اچانك يو سړې مخې ته راتللو سره قدرتى توګه باندې اوويريدله او دَ خپل حفاظت فكر ئى شروع كړو مګر معلوميږي چه دَ فرشتې په مخ دَ تقوى او طهارت انوار پرقيدل نو هم دومره وينا كول ئى پوره اوګڼړل چه زه ستانه دَ رحمن په پناه كښې راځم كه ستا په زړه كښې دَ الله تعالى ويره وى نو زما نه به لاړ شې او ماسره به څه غرض نه كوې. نهية: عقل ينهاه عن فعل القبيح، نهية عقل ته وائى.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ: تَؤُزُّهُمْ: أَزًّا تُزْعِجُهُمْ إِلَى الْمَعَاصِي إِزْعَاجًا: آيت كښې دى

---

[1] (ملخص من حاشية البدرالسارى (جزو ٤ ص٢٠٣)-

[2] (عمدة القارى:١٩/٥٠-

"اَلَمْ تَرَ اَنَّآ اَرْسَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ تَؤُزُّهُمْ اَزًّاۙ" (ته چه دَ دغه کفارو په ګمراهئی باندې خفه کیږې نو) آیا تاته معلومه نه ده چه مونږ شیطانان په کافرانو باندې ورخلاص کړی دی هغوی کافران ښه راوچتوی. حضرت سفیان بن عینیه رحمه الله فرمائی "تؤزهم" معنی شیطانان چه هغوی دَ ګناهونوطرف ته دیکه کوی.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: إِدًّا عِوَجًا: آیت کښې دی "لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا اِدًّاۙ" تا ارتکاب اوکړو دَ داسې څیز چه کوږ دې په بعضې نسخوکښې دی "لدا: عوجا" "فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِيْنَ وَتُنْذِرَ بِهٖ قَوْمًا لُّدًّا۝" لدًا معنی بیان شویده کوږ قوم‌الدا کوږ قوم، جګړ مار قوم، عِوَجا او عُوَجا دواړه قسمه لوستلې شویدې معنی دَ دواړو یو شان ده. دې نه پس اداً تفسیر دَ قول عظیم سره کړې دې. دا ارشاد دَ الله تعالی اولاد ثابت کولو "اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًاۚ" باندې فرمائیلې شویدې او بې شکه داغلط هم دې او ګران هم.

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وِرْدًا: عِطَاشًا: آیت کښې دی "وَنَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا۝"[1] مونږ به په هغه ورځ مجرمان دَ دوزخ طرف ته دَ تندې په حالت کښې شړو.

قوله: أَثَاثًا: مَالًا: "هُمْ اَحْسَنُ اَثَاثًا وَّرِءْيًا۝" (ترجمه تیره شویده) په دې کښې دَ اثاثا معنی دَ مال ده.

قوله: رِكْزًا: صَوْتًا: آیت کښې دی "وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ ۗ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا۝" یعنی څومره بدبخته قومونه دَ خپلو جرمونو په بدله کښې هلاك کړیشوی دی. نن دَ هغوی دَ پښوکش کړپ یا دَ هغوی دَ خراب ګنړاری آواز هم نه راځی. امام بخاری رحمه الله رکزا تفسیر په صوت سره کړیدې لیکن رکزصوت خفی یعنی په مزه آواز ته وائی.

قوله: غَيًّا: خُسْرَانًا: آیت کښې دی "وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا۝" دَ "غَيًّا" معنی ده خسران تاوان نقصان. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چه غی دَ دوزه دَ یوداسې غار نوم دې کوم نه چه پخپله دوزخ آمان غواړی. (۲)زمونږ په هندوستانی نسخه کښې دَ "غَيًّا" په ځای عتیا معنی حدنه بهرکیدو او انتهائی درجې ته دَ رسیدو ده. آیت کښې دی "وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا۝" اوزه دَ بوډاوالی انتهائی درجې ته رسیدلې یم. په عامو نسخوکښې دا لفظ نشته بلکه غیا دې دَ کوم معنی چه خسران دې لکه چه پورته ذکرشو.

قوله: بُكِيًّا: جماعة باك: آیت مبارك کښې دی "خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا۝" ابوعبیده رحمه الله بکیا دَ باك

---

[1] (قوله: وردا جماعة یردون الماء، اسم علی لفظ المصدر (عمدة القاری:۵۲/۱۹)-

[2] (وعن ابن مسعود: الغی وادفی جهنم، بعید القعر، وعن عطاء، الغی وادفی جهنم، یسیل قیحاً ودما، وعن کعب، هووافی جهنم، ابعد هاقعرا واشدهاحرا-(عمدة القاری:۵۱/۱۹)

جمع گرځولې ده هم دا امام نقل کوی خو په دې باندې اشکال دې چه دَ بکی جمع خو بکاة راځی لکه دَ قاضی جمع چه قضاة ده لیکن علامه عینی رحمه الله فرمائی چه بکیا اصل کښې بکوی په وزن دَ فعول دې. لکه قاعد جمع چه قعود ده. بکوی کښې واؤ او یاء دواړه جمع شو او په دې کښې ړومبې یعنی واؤ ساکن دې په دې وجه واؤ په یاء سره بدل کړې شو او بیا دَ یاء په یاء باندې ادغام اوکړیشو اودَ ضمه دَ یاء په وجه په زیر سره بدله شوه نو بکیا شو.

قوله: صليا: صلى، يصلى: آیت کښې دی "ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِالَّذِينَ هُمْ أَوْلَى بِهَا صِلِيًّا" فرمائی صلیا صلی یصلی نه ماخوذ دې دَ څه معنی چه په اُورکښې دَ داخلیدلو او سوزیدلو راځی، مطلب دا دې چه مونږ ته معلومه دی هغه خلق چه په اُورکښې دَ داخلیدلو ډیر لائق او ډیر مناسب دی.

قوله: نديا: والنادي واحد: مجلساً: په آیت کښې دی "أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا" فرمائی دَ ندی او نادی دواړو معنی مجلس ده.

قوله: وقال مجاهد: ليمدد: فليدعه: آیت مبارك کښې دی "قُلْ مَنْ كَانَ فِي الضَّلَالَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمَنُ مَدًّا" یعنی اووایه چه په گمراهئی کښې پراته دی نو پکار دی چه دوی آزاد پریږدی رحمن په هغه لار دَ تلودَ پاره چه دَ نیك اوبد خبرورکولو نه پس کله چه څوك په خپله مرضئی سره دَ بدئی لار اختیار کړی نو هم هغه به دَ دې ذمه وار وی، فلیمدد تفسیر فلیدعه سره کړیدې. دا زمونږ دَ متن په نسخه کښې نشته په هندوستانی نسخه کښې دې.[1]

[۲۲۱] باب: وانذرهم يوم الحسرة

[۴۴۵۳] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى بِالْمَوْتِ كَهَيْئَةِ كَبْشٍ أَمْلَحَ فَيُنَادِي مُنَادٍ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ فَيَقُولُ هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا فَيَقُولُونَ نَعَمْ هَذَا الْمَوْتُ وَكُلُّهُمْ قَدْ رَآهُ ثُمَّ يُنَادِي يَا أَهْلَ النَّارِ فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ فَيَقُولُ هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا فَيَقُولُونَ نَعَمْ هَذَا الْمَوْتُ وَكُلُّهُمْ قَدْ رَآهُ فَيُذْبَحُ ثُمَّ يَقُولُ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ خُلُودٌ فَلَا مَوْتَ وَيَا أَهْلَ النَّارِ خُلُودٌ فَلَا مَوْتَ ثُمَّ قَرَأَ وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهَؤُلَاءِ فِي غَفْلَةٍ أَهْلُ الدُّنْيَا وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ.

---

[1] (واخرجه مسلم فى الجنة وصفة نعيمهاواهلها، باب النار يدخلها الجبارون، رقم الحديث: ۲۸۴۹ وباب وانذهم يوم الحسرة قم الحديث: ۱۱۳۱۶ واخرجه الترمذى فى التفسير، باب سورى مريم، رقم الحديث: ۳۱۵۶ واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى التفسير رقم الحديث: ۱۱۳۱۶-

قوله: يُوتي بالموت كهيئة كبش املح: (١)مرګ به دَ برګ ګډ په شکل کښې راوستې شي. دلته اشکال دا پیدا کیږی چه مرګ خو یو عرض دې دا به دَ ګډ په شکل کښې څنګه راوستې شي. علامه مارزی رحمه الله فرمائیل چه دا کلام علی سبیل التمثیل یعنی دَ مثال په توګه دې دینه مقصود صرف دا دې چه آئنده به چا له مرګ نه راځی. (٢) بعضو وئیلی دی چه په اصل کښې به هم ګډ راوستې شي او دَ خلقو په خیال کښې به دا خبره واچولې شي چه دا مرګ دې. (٣)- خو اکثر حضرات وائی چه هم مرګ ته به الله تعالی دَ ګډ شکل ورکړی (٤)- دَ اعراض دَ اجسام په شکل کښې بدلون څه مستبعد نه دې بلکه جدید سائنس خو داسې آلات ایجادکړی دی کوم سره چه اعراض په جسم کښې مخامخ راځی نو که دَ آخرت په حالاتوکښې داسې واقعه اوشی نو په دې باندې هیڅ قسم اشکال نشی کیدې.

قوله: فیشرئبون، وینظرون: نوستې به اوچتوی او ګوری به. اشراب (دَ اقشعر په وزن) ستې اوچتول او کتل.

قوله: یااهل الجنة، خلود، فلاموت، ویااهل النار، خلود، فلاموت: مرګ به حلال کړیشی او هغې نه پس به دا اعلان کیږی، ذبح کونکې به حضرت جبرائیل علیه السلام وی، بعضو وئیلی دی حضرت یحیی علیه السلام به ئی ذبح کوی ځکه چه دَ هغوی نوم دَ حیات نه مشتق دې او حیات دَ مرګ منافی دې. (٥) ـ

جنت او دوزخ دائمی دې: دینه پس به اهل جنت دَ همیشه دَ پاره په جنت کښې او اهل دوزخ به دَ همیشه دَ پاره دوزخ کښې وی دَ جمهوروبلکه دَ ټولو اهل سنت والجماعت همدغه عقیده ده. البته علامه ابن تیمیه رحمه الله اودَ هغوی شاګرد ابن القیم رحمه الله وائی چه جنت خو به دائمی وی خودَ دوزخ عذاب دائمی نه دې. دَ یوې اوږدې مودې پورې به دوزخ وی کوم چه الله تعالی خلود سره تعبیر کړیدې اودَ دې نه پس به دَ الله تعالی په فضل اوکرم سره دوزخ او دوزخیان ختم کړی (٦)- خودَ هغوی دا قول شاذ او دَ جمهورو دَ عقیدې خلاف (٧)- اود هغه ټولو نصوصو سره متعارض دې کوم کښې چه دَ خلودفی النار تصریح راغلې ده. که دوزخ

(١)(ابیض یشوبه سواد (تعلیقات البخاری للدکتور مصطفی:٤/١٧٦٠)
(٢)(عمة القاری٥٢/١٩ ورفع الصوت بذبح الموت للسیوطی:٩٦ فتح الباری:٤٢١/١١ کتاب الرقاق
(٣)(اوګورئی الحاوی للفتاوی للسیوطی، رفع الصوت بذبح الموت:٩٦
(٤)(عمدة القاری:٥٢/١٩
(٥)(عمدة القاری:٥٢/١٩ وفیض الباری:٢٠٣/٤
(٦)(اوګورئی العرف الشذی شرح جامع الترمذی، باب ماجاء فی خلود اهل الجنة والنار:٨٢/٢، والصواعق المرسلة لابن القیم
(٧)(قال الالوسی رحمه الله فی روح المعانی:١٤٦/١٢ "وانت تعلم ان خلود الکفار مماجمع علیه المسلمون، ولاعبرة بالمخالف، والقواطع اکثر من ان تحصی"

ختمول وو نو بيا د انبياء ﷺ سره د كافرانودا مقابله او د انبياء ﷺ زحمتونه او تكليفونه اوچتول ټول به بې فائدې او بې مقصده كيږى د دې وجه نه د اهل سنت والجماعة دا عقيده ده چه څنګه د جنت د پاره خلود دې دغه شان د دوزخ د پاره هم خلود يعنى هميشه والې دې.ددې نورتفصيل ان شاء الله كتاب الرقاق كښې باب صفة الجنة والنار په ذيل كښې راځى.

[۲۲۲] بَاب وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا

[۴۴۵۴] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ ذَرٍّ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِجِبْرِيلَ مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَزُورَنَا أَكْثَرَ مِمَّا تَزُورُنَا فَنَزَلَتْ وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا

[۲۲۳] بَاب قَوْلِهِ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا

[۴۴۵۵] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَمِعْتُ خَبَّابًا قَالَ جِئْتُ الْعَاصَ بْنَ وَائِلٍ السَّهْمِيَّ أَتَقَاضَاهُ حَقًّا لِي عِنْدَهُ فَقَالَ لَا أُعْطِيكَ حَتَّى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَا حَتَّى تَمُوتَ ثُمَّ تُبْعَثَ قَالَ وَإِنِّي لَمَيِّتٌ ثُمَّ مَبْعُوثٌ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ إِنَّ لِي هُنَاكَ مَالًا وَوَلَدًا فَأَقْضِيكَهُ فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ وَشُعْبَةُ وَحَفْصٌ وَأَبُو مُعَاوِيَةَ وَوَكِيعٌ عَنْ الْأَعْمَشِ

[۲۲۴] بَاب قَوْلِهِ أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمْ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَنِ عَهْدًا قَالَ مَوْثِقًا

[۴۴۵۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ خَبَّابٍ قَالَ كُنْتُ قَيْنًا بِمَكَّةَ فَعَمِلْتُ لِلْعَاصِ بْنِ وَائِلٍ السَّهْمِيِّ سَيْفًا فَجِئْتُ أَتَقَاضَاهُ فَقَالَ لَا أُعْطِيكَ حَتَّى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ قُلْتُ لَا أَكْفُرُ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى يُمِيتَكَ اللَّهُ ثُمَّ يُحْيِيَكَ قَالَ إِذَا أَمَاتَنِي اللَّهُ ثُمَّ بَعَثَنِي وَلِي مَالٌ وَوَلَدٌ فَأَنْزَلَ اللَّهُ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمْ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَنِ عَهْدًا قَالَ مَوْثِقًا لَمْ يَقُلْ الْأَشْجَعِيُّ عَنْ سُفْيَانَ سَيْفًا وَلَا مَوْثِقًا

د ايت كريمه شان نزول: په روايت كښې د آيت مبارك شان نزول بيان كړېشويدې. حضرت خباب فرمائى چه زه په مكه كښې لوهار ووم او ما د عاص بن وائل د پاره يوه توره جوړه كړې وه، د پيسو غوښتود پاره زه هغه له راغلم نو هغه وئيل چه تركومې دې د محمد ﷺ انكار نه وى كړې تاته به پيسې درنه كړم. ماوئيل چه زه د محمد ﷺ د نبوت انكار نه كوم كه تا الله تعالى مړ كړې او بيا دې راژوندې ولې نه كړې. هغه وئيل كه الله تعالى ما مړ كړې او بيا ژوندې شم نو هغه وخت به هم ما سره مال او اولاد وى (نو ته بيا هغه وخت.كښې زما نه اجرت واخله) په دې واقعه باندې دا مذكوره آيت نازل شو.

عبيد الله بن عبدالرحمن اشجعی هم دا روايت د سفيان ثوری نه روايت کړيدې خو په هغې کښې نه د ثوري جوړيدو ذکر دې اونه د لفظ "عهد" تفسير "موثقا" نقل دې.

قوله: عهدًا: موثقًا: "أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا" آيا دا سړي په غيبو خبردار شو يا د د الله تعالی نه وعده اخستې ده. په دې کښې د "عَهْدًا" معنی موثقا ده په معنی مضبوط اقرار.

[۲۲۵] بَاب كَلَّا سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا

[۴۴۵۷] حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ سَمِعْتُ أَبَا الضُّحَى يُحَدِّثُ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ خَبَّابٍ قَالَ كُنْتُ قَيْنًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَكَانَ لِي دَيْنٌ عَلَى الْعَاصِ بْنِ وَائِلٍ قَالَ فَأَتَاهُ يَتَقَاضَاهُ فَقَالَ لَا أُعْطِيكَ حَتَّى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَاللَّهِ لَا أَكْفُرُ حَتَّى يُمِيتَكَ اللَّهُ ثُمَّ يَبْعَثَكَ قَالَ فَذَرْنِي حَتَّى أَمُوتَ ثُمَّ أُبْعَثَ فَسَوْفَ أُوتَى مَالًا وَوَلَدًا فَأَقْضِيكَ فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا

[۲۲۶] بَاب قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا
وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْجِبَالُ هَدًّا هَدْمًا

آيت مبارك كښې دی "تَنشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا" اوزمكه به اوشليږی او غرونه به مات شی. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه په آيت کښې "هَدًّا" په معنی "هَدْمًا" دې.

[۴۴۵۸] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ خَبَّابٍ قَالَ كُنْتُ رَجُلًا قَيْنًا وَكَانَ لِي عَلَى الْعَاصِ بْنِ وَائِلٍ دَيْنٌ فَأَتَيْتُهُ أَتَقَاضَاهُ فَقَالَ لِي لَا أَقْضِيكَ حَتَّى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ قَالَ قُلْتُ لَنْ أَكْفُرَ بِهِ حَتَّى تَمُوتَ ثُمَّ تُبْعَثَ قَالَ وَإِنِّي لَمَبْعُوثٌ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ فَسَوْفَ أَقْضِيكَ إِذَا رَجَعْتُ إِلَى مَالٍ وَوَلَدٍ قَالَ فَنَزَلَتْ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَنِ عَهْدًا كَلَّا سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا

[۲۲۷] باب: تفسير سورة طٰه

قَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ بِالنَّبَطِيَّةِ أَيْ طَهْ يَا رَجُلُ يُقَالُ كُلُّ مَا لَمْ يَنْطِقْ بِحَرْفٍ أَوْ فِيهِ تَمْتَمَةٌ أَوْ فَأْفَأَةٌ فَهِيَ عُقْدَةٌ وَقَالَ مُجَاهِدٌ أَلْقَى صَنَعَ أَزْرِي ظَهْرِي فَيُسْحِتَكُمْ يُهْلِكَكُمْ الْمُثْلَى تَأْنِيثُ الْأَمْثَلِ يَقُولُ بِدِينِكُمْ يُقَالُ خُذِ الْمُثْلَى خُذِ الْأَمْثَلَ ثُمَّ ائْتُوا صَفًّا يُقَالُ هَلْ أَتَيْتَ الصَّفَّ الْيَوْمَ يَعْنِي الْمُصَلَّى الَّذِي يُصَلَّى فِيهِ فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خَوْفًا فَذَهَبَتِ الْوَاوُ مِنْ خِيفَةً لِكَسْرَةِ الْخَاءِ فِي جُذُوعِ أَيْ عَلَى جُذُوعِ النَّخْلِ خَطْبُكَ بَالُكَ مِسَاسَ مَصْدَرُ مَاسَّهُ مِسَاسًا لَنَنْسِفَنَّهُ لَنُذْرِيَنَّهُ قَاعًا يَعْلُوهُ الْمَاءُ وَالصَّفْصَفُ الْمُسْتَوِي مِنَ الْأَرْضِ وَقَالَ مُجَاهِدٌ أَوْزَارًا أَثْقَالًا مِنْ زِينَةِ الْقَوْمِ

وَهِيَ الْحُلِيُّ الَّتِي اسْتَعَارُوا مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ وَهِيَ الْأَثْقَالُ فَقَذَفْتُهَا فَأَلْقَيْتُهَا أَلْقَى صَنَعَ فَنَسِيَ مُوسَى هُمْ يَقُولُونَهُ أَخْطَأَ الرَّبَّ لَا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا الْعِجْلِ هَمْسًا حِسُّ الْأَقْدَامِ حَشَرْتَنِي أَعْمَى عَنْ حُجَّتِي وَقَدْ كُنْتُ بَصِيرًا فِي الدُّنْيَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ بِقَبَسٍ ضَلُّوا الطَّرِيقَ وَكَانُوا شَاتِينَ (١) فَقَالَ إِنْ لَمْ أَجِدْ عَلَيْهَا مَنْ يَهْدِي الطَّرِيقَ آتِكُمْ بِنَارٍ تُوقِدُونَ وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ أَمْثَلُهُمْ أَعْدَلُهُمْ طَرِيقَةً وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هَضْمًا لَا يُظْلَمُ فَيُهْضَمُ مِنْ حَسَنَاتِهِ عِوَجًا وَادِيًا وَلَا أَمْتًا رَابِيَةً سِيرَتَهَا حَالَتَهَا الْأُولَى النُّهَى التُّقَى ضَنْكًا الشَّقَاءُ هَوَى شَقِيَ بِالْوَادِي الْمُقَدَّسِ الْمُبَارَكِ طُوًى اسْمُ الْوَادِي يَفْرُطُ عُقُوبَةً بِمِلْكِنَا بِأَمْرِنَا مَكَانًا سِوًى مَنْصَفٌ بَيْنَهُمْ يَبَسًا يَابِسًا عَلَى قَدَرٍ مَوْعِدٍ لَا تَنِيَا تَضْعُفَا

د كلماتو تشريح:

قوله: قَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ بِالنَّبَطِيَّةِ أَيْ طَهْ يَا رَجُلُ:

د طٰه معنی: حضرت سعيد بن جبير فرمائي چه "طه" معنى په نبطى ژبه كښې "يارجل" ده، بعضې حضراتو ونيلى دى دا "وطی" نه د امر حاضر صيغه ده، اصل كښې طاالارض دې يعنى خپلې پښې په زمكه كيږدئى. په "طه" كښې "ها" كنايه ده د ارض نه، په يو روايت كښې دى چه نبى كريم ﷺ په شروع كښې د تهجدو مونځ كولو سره به په يوه پښه اودريدو او دونمه پښه به ئې اوچتوله نو الله تعالى "طه" نازل كړو اى طا الارض يعنى اعتمد على الارض بقدمك (٢)- بعضو ونيلې دى دا د الله تعالى په نومونوكښې يو نوم دې، الله تعالى په دې سره قسم خوړلې دې. (٣)- اود بعضوخيال دې چه دا د حروف مقطعات نه دې.(٤) په دې كښې مختلف قراءتونه دى مشهور قراءت طه (بفتح الطاء والهاء) دې، يو قراءت طه (بكسرة الطاء والهاء) دې. يو قراءت طه (بفتح الطاء وسكون الهاء) (٥)

په حرم شريف كې په يوه خپه اودريدو سره د امام ابوحنيفه رحمه الله د نيم قران لوستلو متعلق يوه فائده: پورته يو روايت ذكر كړيشو چه حضور اكرم ﷺ به په شروع كښې تهجدو مونځ په يوه پښه باندې په ولاړه كولو، د امام ابوحنيفه رحمه الله باره كښې راځى چه هغوى په حرم شريف كښې په يوه پښه اودريدونيم قرآن ئې ختم كړو او په دوئمه پښه اودريدو اونور نيم

(١)(شاتين) جمع شات، اى فى ايام الشتاء، حيث البرد والامطار، اوالمراد ان الامطار كانت تهطل عليهم. (سوى) قرا حجازى وابو عمرو وعلى بكسر السن. وقرا حفص بضمها، وقرا عيرهم بفتحا-

(٢)(عمدة القارى:١٩/٥٦)

(٣)(عمدة القارى:١٩/٥٦)

(٤)(عمدة القارى:١٩/٥٦)

(٥)(عمدة القارى:١٩/٥٦)

قرآن ئی ختم کړو. په دې اعتراض اوشو چه دا قسم عمل د سنت خلاف دې خو د دې روایت په موجودګئی کښې دې عمل ته مطلقاً خلاف سنت نشی ونیلې کیدې.(۱)

قوله: یقال: کل مالم ینطق بحرف، اوفیه تمتمة، اوفافاة، فهی عقدة: آیت کښې دی "وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِیْ﴿﴾" زما د ژبې غوټه کولاؤ کړې دلته د "عقدة" تشریح کولو سره فرمائی چه د چا د ژبې نه چه یو حرف هم نه اوځی، یا په دې کښې تمتمه یعنی تتوالې وی (۲) یعنی ژبه ئی انخلی یا د خبرو په وخت کښې تاتا آواز راوځی، یا فافاه وی یعنی د خبرو په وخت کښې د فافا په شانه آواز راوځی. په دې ټولوصورتونوباندې د عقده اطلاق کیږی. د حضرت موسی علیه السلام ژبه به هم انختله، په آیت کښې هغه د لکنت ختمولو د پاره دعا کړیده.

قوله: ازری: ظهری: آیت کښې دی "هٰرُوْنَ اَخِیْ﴿﴾ اشْدُدْ بِهٖۤ اَزْرِیْ﴿﴾" زما د زور هارون په ذریعه زما ملاِمضبوطه کړه. فرمائی آیت کښې ازری په معنی ظهری دې، بعض وائی چه ازر په معنی د قوت دې.

قوله: فیسحتکم: یهلککم: "لَا تَفْتَرُوْا عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا فَیُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ" په الله تعالی باندې دروغ او افتراء مه کوئی چه الله تعالی تاسو هلاك کړی. دې کښې یسحتکم معنی د هلاکولو ده.

قوله: المثلی تأنیث الامثل، یقول: بدینکم، یقال: خذ المثلی، خذ الامثل: آیت کښې دی "وَیَذْهَبَا بِطَرِیْقَتِكُمُ الْمُثْلٰی﴿﴾" یعنی یوبه سی دادواړه ستا بهترین دین. فرمائی چه مثلی د امثل مؤنث دې اود دې معنی افضل راځی. دلته د دینه دین مراد دې ځکه چه دین هم افضل وی، وائی خُذِ الْمُثْلٰی وَالْاَمْثَلَ اعلی او افضل تاسو واخلئی.

قوله: ثم ائتوا صفا، یقال: هل أتیت الصف الیوم، یعنی المصلی الذی یصلی فیه: آیت کښې دی "فَاَجْمِعُوْا كَیْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا" یعنی ټول یوځائ شئی(دوی ته ماتې ورکولو) تدبیر اوکړئی بیا قطار جوړکړئی راشئی، وائی هل اتیت الصف الیوم یعنی آیا ته دې صف ته راغلې وې کوم کښې چه مونځ ادا کیږی، په آیت کښې هم د صفا معنی مصلی او عیدګاه ده لیکن قطار جوړول او راتلل مراد کیدیشی لکه چه حضرت شیخ الهند مولانا محمود الحسن رحمه الله ذکر کړیدی. (۳)-

قوله: فأوجس: فی نفسه خوفا، فذهبت الواو من خیفة، لکسرة الخاء: آیت کښې دی "فَاَوْجَسَ فِیْ نَفْسِهٖ خِیْفَةً مُّوْسٰی﴿﴾" پس موسی علیه السلام په خپل زړه کښې خه ویره غوندې محسوس

---

(۱)(فیض الباری: ۴/۲۰۵)-

(۲)(والتمتمة: الترددبالتاء فی الکلام، والفافاة: الترددبالفاء (عمدة القاری:۱۹/۵۶)-

(۳)(تفسیرعثمانی ص ۴۲۱ سوره طه

كړه. امام فرمائى چه په آيت كښې "فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُوسَىٰ" معنى اضمرخوفاً ده. يعنى په زړه كښې ويره وه، بيا وراندې خيفة كښې تعليل بيان كړو چه په اصل كښې دا خوفة وو، واؤ دَ ماقبل كسرې په وجه سره په ياء بدل كړو نو خيفة شو.

قوله: فِي جُذُوعِ: أَيْ عَلَىٰ جُذُوعِ النَّخْلِ: "وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ" اوتاسو ټولو به زه دَ كهجورو په تنو په سولئى كړم. فرمائى "فِي جُذُوعِ..." كښې "فى" په معنى دَ "على" ده.

قوله: خَطْبُكَ: بَالُكَ: "قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَا سَامِرِيُّ" موسى عليه السلام اوفرمائيل اې سامرى! ستا څه حال دې؟ دې كښې "خطب" په معنى "بال" دې يعنى حالت

قوله: مِسَاسَ: مَصْدَرُ مَاسَّهُ مِسَاسًا: "قَالَ فَاذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَاةِ أَنْ تَقُولَ لَا مِسَاسَ" موسى عليه السلام (سامرى) ته اووئيل زه، ستا د پاره په ژوندكښې دا سزا ده چه ته به دا وائې اوګرخې به "لامساس" ماسره لاس مه لګوئى. فرمائى "مساس" دَ باب مفاعله مصدر دې.

قوله: لَنَنْسِفَنَّهُ لَنَذْرِيَنَّهُ: آيت كښې دى "لَنُحَرِّقَنَّهُ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ نَسْفًا" يعنى مونږ به دا سخې اوسوزوو او بيا به دا اوشيندو او په درياب به ئى لاهوكړو.

قوله: قَاعًا: يَعْلُوهُ الْمَاءُ، وَالصَّفْصَفُ الْمُسْتَوِي مِنَ الْأَرْضِ: آيت كښې دى "فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا" قاعاً معنى ده داسې هواره زمكه په كومه چه اوبه بهيدونكې راشى او صفصف هوارې زمكې ته وائى.

قوله: مِنْ زِينَةِ الْقَوْمِ: وَهِيَ الْحُلِيُّ الَّتِي اسْتَعَارُوا مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ: آيت كښې دى "وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَا أَوْزَارًا مِنْ زِينَةِ الْقَوْمِ" فرمائى چه زِينَةِ الْقَوْمِ نه مراد هغه كالى دى چه بنى اسرائيلو دَ فرعون دَ قوم نه عارية اخستې وو.

قوله: أَلْقَى: صَنَعَ: آيت كښې دى "فَقَذَفْنَاهَا فَكَذَٰلِكَ أَلْقَى السَّامِرِيُّ" مونږ هغه كالى ورواچول، بيا دغه شان سامرى هم اوكړه يعنى هغه هم خپل كالى واچول، دَ بنى اسرائيلو سره دَ فرعون دَ قوم كالى. يا خوئى دَ هغوى نه قرض اخستې وو يا په غنيمت كښې اخستې وو، هغه ئى ويلى كړې وو او سامرى يو سخې غوندې جوړكړې وو چه دَ هغې نه به دَ غوا آواز راوتلو نو هغې ته ئى معبود وئيل.

قوله: فَنَسِيَ: مُوسَى هُمْ يَقُولُونَهُ: أَخْطَأَ الرَّبَّ، لَا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا: الْعِجْلُ: آيت كښې دى "هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ۝ أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا" سامرى او دَ هغه متبعينو وئيل چه ستاسو اودَ موسى عليه السلام معبود خو دا دې، موسى عليه السلام خو هيركړيدې، دَ رب په پيژندګلو كښې موسى عليه السلام نه غلطى شويدې.(په كوه طور باندې دَ الله تعالى په طلب كښې تلې وو الله تعالى دَ هغې په جواب كښې فرمائى) آيا هغه خلق دومره هم نه ګورى چه هغه سخې خو نه دَ دوى دَ څه خبرې جواب وركولې شى اونه دَ هغوى په څه ضرر يا نفع كښې څه قدرت

لرى. په لايرجع كښې ضمير عجل طرف ته راجع دې كوم چه امام وړاندې ذكر كړيدې.

قوله: هَمْسًا: حِسُّ الْأَقْدَامِ: "وَخَشَعَتِ الْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا" اوټول آوازونه به دَ الله تعالى په وړاندې ښكته شى او دَ پښې كش كړپ نه بغير به هيڅ نه اورى. فرمائى همسا دَ پښو كشار ته وائى.

قوله: حَشَرْتَنِي أَعْمَى: عَنْ حُجَّتِي: يعنى په آيت كښې دَ اعمى كيدلو دامطلب نه دې چه په سترګو به نابينا وى مطلب دا دې چه دې به په دليل نه پوهيږى.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ: أَمْثَلُهُمْ أَعْدَلُهُمْ: طَرِيقَةً: آيت كښې دى "إِذْ يَقُولُ أَمْثَلُهُمْ طَرِيقَةً إِنْ لَبِثْتُمْ إِلَّا يَوْمًا" كله چه په دوى كښې دَ ټولونه زيات رائې وركونكې دا سې وائى چه تاسو خو به هم يوه ورځ (قبركښې) پاتې شوې ئى، حضرت سفيان بن عينيه رحمه الله فرمائى چه "أَمْثَلُهُمْ" دَ "أَعْدَلُهُمْ" په معنى كښې دې يعنى دَ عقل او پوهې په اعتبار سره بهتر او دَ رائې خاوند.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: هَضْمًا: لَا يُظْلَمُ، فَيُهْضَمُ مِنْ حَسَنَاتِهِ: فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا هَضْمًا" نونه به دَ زياتى ويره وى او نه دَ كمى. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه "هَضْمًا" معنى ده په ده ظلم نشى كولې چه دَ ده په نيكوكښې كمې اوكړيشى.

قوله: عِوَجًا: وَادِيًا، وَلَا أَمْتًا: رَابِيَةً: په آيت كښې دى "لَا تَرَى فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا" نوپه دې كښې به نه څه كوږوالې وينى او نه څه اوچتوالې. فرمائى "عِوَجًا" معنى وادى او لختې دې او "أَمْتًا" نه غونډئى او اوچتوالې مراددې.

قوله: سِيرَتَهَا: حَالَتَهَا: "سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا الْأُولَى" مونږ به هغوى دَ هغوى په اولنى حالت كښې واپس كوو، فرمائى دې كښې "سِيرَةَ" معنى دَ "حَالَةَ" ده.

قوله: الْأُولَى: النُّهَى: نهى په اصل كښې عقل ته وائى دلته دَ دې تشريح تلى سره كړيده، دَ دې د پاره چه كوم خلق تقوى اختياروى هم هغه په حقيقت كښې عقل مند وى.

قوله: ضَنْكًا: الشَّقَاءُ: "وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا" اوچه كوم سړې زما دَ دې نصيحت نه ډډه كوى دَ هغه دپاره به يوتنګ ژوندون وى. فرمائى په دې كښې "ضَنْكًا" معنى ده بدبختى، دا تفسيردَ ابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دې نورو مفسيرينو "ضَنْكًا" تفسير "ضَيِّقًا" سره كړې يعنى تنګ

قوله: هَوَى: شَقِيَ: "وَمَنْ يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي فَقَدْ هَوَى" اوپه كوم سړى چه زما غضب واقع كيږى هغه بالكل تيرشوې يعنى بدبخت شو، "هَوَى" معنى ده بخت شو.

قوله: الْمُقَدَّسِ: الْمُبَارَكِ: طُوًى اسْمُ الْوَادِي: "إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى" ته په يوه مباركه

وادئی طوی کښې ئی، "الْمُقَدَّسِ" معنی ده مبارکه او طوی دَ وادئی نوم دے.

قوله: بِمَلْكِنَا: بِأَمْرِنَا: "قَالُوا مَا أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا" هغوی وئیل مونږ تاسره دَ وعدې خلاف ورزی په خپل اختیار سره نه ده کړې، په دې کښې "بِمَلْكِنَا" معنی ده په خپل حکم او اختیارسره.

قوله: مَكَانًا سُوًى: مَنْصَفٌ بَيْنَهُمْ: "لَا نُخْلِفُهُ نَحْنُ وَلَا أَنْتَ مَكَانًا سُوًى" دَ کومې وعدې چه مونږ نه خلاف ورزی کوو نه تاسو په څه هوار ځائې کښې. فرمائی "مَكَانًا سُوًى" معنی ده داسې ځائې چه دَ هغې په مینځ کښې نیم نیم یعنی برابروی.

قوله: يَبَسًا: يَابِسًا: "فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا" نو دَ هغوی دَ پاره په دریاب کښې اوچه لار جوړه کړه. فرمائی "يَبَسًا" په معنی "يَابِسًا" دے یعنی اوچه او دا دَ "طريق" صفت دے.

قوله: عَلَى قَدَرٍ: مَوْعِدٍ: آیت کښې دی "ثُمَّ جِئْتَ عَلَى قَدَرٍ يَمُوسَى" بیا اے موسی علیه السلام! ته په یو مقرر وخت باندې راغلې. فرمائی آیت کښې "عَلَى قَدَرٍ" معنی "عَلَى مَوْعِدٍ" یعنی یو مقرر وخت.

قوله: لَا تَنِيَا: تَضْعُفَا: آیت مبارك کښې دی "وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي" او تاسو دواړه زما په یاد یعنی ذکر کښې سستی مه کوئی. فرمائی "لَا تَنِيَا" معنی ده تاسو دواړه کمزورې کیږئی مه، سست کیږئی مه.

[۲۲۸] بَاب: وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِي

[۴۴۵۹] حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مَهْدِيُّ بْنُ مَيْمُونٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْتَقَى آدَمُ وَمُوسَى فَقَالَ مُوسَى لِآدَمَ أَنْتَ الَّذِي أَشْقَيْتَ النَّاسَ وَأَخْرَجْتَهُمْ مِنَ الْجَنَّةِ قَالَ آدَمُ أَنْتَ مُوسَى الَّذِي اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالَتِهِ وَاصْطَفَاكَ لِنَفْسِهِ وَأَنْزَلَ عَلَيْكَ التَّوْرَاةَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَوَجَدْتَهَا كُتِبَ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِي قَالَ نَعَمْ فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى

قوله: اليم البحر:

دَ حضرت ادم او حضرت موسیٰ علیهما السلام ملاقات او مناظره کله اوشوه؟: حضرت آدم علیه السلام او حضرت موسیٰ علیه السلام په مینځ کښې دا مناظر او ملاقات کله اوشو؟ په دې سلسله کښې دَ علماؤ مختلف اقوال دی.

① بعضې حضراتو وئیلی دی چه کیدیشی چه هم دَ حضرت موسیٰ علیه السلام په ژوند کښې دَ هغوی دَ روح دَ حضرت آدم علیه السلام روح سره اتصال شوې وی او هغه وخت دا خبرې شوی وی(۱)

② بعضو وئیلی دی چه دا هم ممکن دی چه مذکوره مکالمه په خوب کښې شوی وی (۲)۔

(۱) (دا دَ حضرت شاه ولی الله رحمه الله رائې ده اوګورئی التعليق الصبيح: ۷۷/۱ و حجة الله البالغه-

(۲) (فتح البارى ۵۰۷/۱۱

④ بعض حضرات وائی ممکن دی چه دَ حضرت موسی علیه السلام دَ پاره دَ حضرت آدم علیه السلام قبرکولاؤ شوې وی اودَ هغوی روح حاضر شوې وی او دا خبرې کړې وی (۱)۔

⑥اکثر حضرات وائی چه مذکوره مناظره حضرت آدم علیه السلام او حضرت موسی علیه السلام دَ وفات نه پس په آسمان باندې شویدې، علامه ابن عبدالبر، یحیی بن سعید قطان او فضل الله توریشتی وغیره علماؤ همدغه رائې ده (۲)۔

⑤اویو قول دا هم دې چه مذکوره مکالمه تر اوسه پورې نه ده واقع شوې. په آخرت کښې به دا مکالمه وی، دلالت علی الیقین دَ پاره دَ ماضی صیغې سره تعبیرکړېشویده.(۳) والله اعلم

قوله: فَوَجَدْتَهَا كُتِبَ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِي: دَ وړاندینی باب په روایت کښې دی اتلومنی علی امر کتبه الله علی قبل ان یخلقنی اوقدره علی قبل ان یخلقنی علامه توریشتی رحمه الله فرمائیلی دی چه دَ دې مطلب دا دې چه الله تعالی دا زماد پیدائش نه هم اول په لوح محفوظ کښې مقدر فرمائیلې وو دَ کوم مطلب چه دا ووچه هغه به خپل وخت خامخا کیږی، نو چه کله وخت راغلونو دا څنګه ممکن وو چه امر مقدر اودَ الله تعالی دَ علم خلاف هغه عمل ممنوع به نه کیدلو، نو ته په ماباندې الزام خو اچوې او تاته سبب ظاهری یعنی زما کسب او اختیارخو یاد پاتې دې لیکن اصل څیز یعنی تقدیر نه تا نظر واړولو (۴)

یواشکال اودَ هغې جوابونه: په دې حدیث باندې یو مشهور اشکال کیږی، حضرت آدم علیه السلام تقدیر بهانه جوړه کړیده او اعتذار بالتقدیر جائز نه دې ځکه چه ګناه کونکې تقدیر ته په کتلو باندې ګناه نه کوی بلکه دَ خپل نفس په تقاضا باندې کوی.

①دَ دې یوجواب دا ورکړېشویدې چه دا مکالمه په دې دنیا کښې نه ده شوې بلکه دا په عالم علوی او دَ عالم ارواح واقعه ده چرته چه بنده مکلف بالشرع نه دې دَ دې دَ پاره دَ دې دنیا احکام دَ هغه دنیا په احکامو باندې قیاس کول صحیح نه دی. (۵)۔

②دونم جواب علامه ابن تیمیه رحمه الله ورکړیدې کوم چه حضرت کشمیری رحمه الله خوښ فرمائیلې دې (۶)۔ هغوی فرمائی اعتذار بالتقدیر په دوه قسمه دې، یو دا چه دَ ګناه ارتکاب کولو دَ پاره سرې دَ تقدیر حواله ورکړی چه په دې ګناه او جرم کښې زما هیڅ قصور نشته دا لیکلې شوې تقدیر دې، بې شکه داسې اعتذار بالتقدیر صحیح نه دې او قطعاً ناجائزدې. دونم دا چه دَ ګناه نه توبه اوکړی خوسره دَ دې ئی زړه مطمئن نه وی نود خپل زړه دَ تسلئی دَ پاره اعتذار بالتقدیر جائزدې. حضرت آدم علیه السلام هم دَ توبې نه پس

---

(۱)(فتح الباری، کتاب القدر، باب تحاج ادم و موسی عندالله: ۵۰۶/۱۱

(۲)(فتح الباری، کتاب القدر، باب تحاج ادم و موسی عندالله: ۵۰۶/۱۱و شرح الطیبی، کتاب الایمان:۲۱۸/۱

(۳)(عمدة القاری:۶۰/۱۹

(۴)(اوګورئی شرح الطیبی: ۲۱۸/۱ کتاب الایمان، الایمان بالقدر۔

(۵)(فیض الباری: ۲۰۶/٤

(۶)(فیض الباری: ۲۰۶/٤

صرف د خپل زړه د تسلئی د پاره اعتذار بالتقدير كړيدې. (١)- دا حديث وراندې په كتاب القدر كښې راغې(٢) په دې حديث اود تقدير متعلق تفصيلى بحث به ان شاء الله هلته راځى.

[۲۲۹] بَابُ وَلَقَدْ أَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا

لَا تَخَافُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَى فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ فَغَشِيَهُمْ مِنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُ وَمَا هَدَى الْيَمُّ الْبَحْرُ

[۴۴۶۰] حَدَّثَنِي يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا أَبُو بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَالْيَهُودُ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فَسَأَلَهُمْ فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِي ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ فَصُومُوهُ

[۲۳۰] بَابُ قَوْلِهِ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَى

[۴۴۶۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ النَّجَّارِ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَاجَّ مُوسَى آدَمَ فَقَالَ لَهُ أَنْتَ الَّذِي أَخْرَجْتَ النَّاسَ مِنَ الْجَنَّةِ بِذَنْبِكَ وَأَشْقَيْتَهُمْ قَالَ قَالَ آدَمُ يَا مُوسَى أَنْتَ الَّذِي اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالَتِهِ وَبِكَلَامِهِ أَتَلُومُنِي عَلَى أَمْرٍ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِي أَوْ قَدَّرَهُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِي قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى

[۲۳۱] بَاب: تفسير سُورَةُ الْأَنْبِيَاءِ

[۴۴۶۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَالْكَهْفُ وَمَرْيَمُ وَطه وَالْأَنْبِيَاءُ هُنَّ مِنَ الْعِتَاقِ الْأُوَلِ وَهُنَّ مِنْ تِلَادِي وَقَالَ قَتَادَةُ جُذَاذًا قَطَّعَهُنَّ وَقَالَ الْحَسَنُ فِي فَلَكٍ مِثْلِ فَلْكَةِ الْمِغْزَلِ يَسْبَحُونَ يَدُورُونَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ نَفَشَتْ رَعَتْ لَيْلًا يُصْحَبُونَ يُمْنَعُونَ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً قَالَ دِينُكُمْ دِينٌ وَاحِدٌ وَقَالَ عِكْرِمَةُ حَصَبُ حَطَبُ بِالْحَبَشِيَّةِ وَقَالَ غَيْرُهُ أَحَسُّوا تَوَقَّعُوا مِنْ أَحْسَسْتُ خَامِدِينَ هَامِدِينَ وَالْحَصِيدُ مُسْتَأْصَلٌ يَقَعُ عَلَى الْوَاحِدِ وَالِاثْنَيْنِ

---

(١) (فيض البارى: ٤/٢٠٦-٢٠٧ .

(٢) (صحيح البخارى مع فتح البارى، كتاب القدر، باب تحاج آدم وموسى عندالله ١١/٥٠٥ رقم ٦٦١٤-

وَالْجَبِيعِ لَا يَسْتَحْسِرُونَ لَا يُعْيُونَ وَمِنْهُ حَسِيرٌ وَحَسَرْتُ بَعِيرِي عَمِيقٌ بَعِيدٌ نُكِسُوا رُدُّوا صَنْعَةَ لَبُوسٍ الدُّرُوعُ تَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ اخْتَلَفُوا الْحَسِيسُ وَالْحِسُّ وَالْجَرْسُ وَالْهَمْسُ وَاحِدٌ وَهُوَ مِنَ الصَّوْتِ الْخَفِيِّ آذَنَّاكَ أَعْلَمْنَاكَ آذَنْتُكُمْ إِذَا أَعْلَمْتَهُ فَأَنْتَ وَهُوَ عَلَى سَوَاءٍ لَمْ تَغْدِرْ وَقَالَ مُجَاهِدٌ لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ تُفْهَمُونَ ارْتَضَى رَضِيَ التَّمَاثِيلُ الْأَصْنَامُ السِّجِلُّ الصَّحِيفَةُ

باب تفسير سورة الأنبياء

د کلماتو تشريح

قوله: وَقَالَ قَتَادَةُ: جُذَاذًا: قَطَّعَهُنَّ: آيت کښې دی "فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ" يعنی حضرت ابراهيم علیه السلام دَ لوئ بت نه علاوه ټول بتان ټکړې ټکړې کړل، جذاذاً (دَ جيم پيش سره) دَ اکثروقراءت دې، اودَ کسائي قراءت جِذاذاً (دَجيم په زيرسره) دې چه دَ جَذِيذٌ جمع ده او جذاذ مفرد، تثنيه او جمع ټولو دَ پاره استعماليږی (¹) دا تعليق حنظلی موصولاً نقل کړيدې (²)

قوله: وَقَالَ الْحَسَنُ: فِي فَلَكٍ: مِثْلِ فَلْكَةِ الْمِغْزَلِ، يَسْبَحُونَ: يَدُورُونَ: آيت کښې دی "وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ" حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه په نمر او سپوږمئی کښې هريوخپله دائره کښې لکه دَ څرخې په شان تاويږی، معزل: څرخه، فلکه دَ څرخې پلئی، دَ څرخې دَ اوسپنې هغه ډنډه په کوم چه دَ څرخې کولوبه وخت کښې پاغونده جوړيږی.

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: نَفَشَتْ: رَعَتْ لَيْلًا: آيت کښې دی "إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ" په دې پټی کښې (دَ شپې په وخت) دَ قوم چيلئی څرن کوی، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی نفشت معنی دَ شپې په وخت کښې دَ څرن ده، دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دا تعليق ابن ابی حاتم موصولاً نقل کړيدې (³)

قوله: يُصْحَبُونَ: يُمْنَعُونَ: آيت کښې دی "وَلَا هُمْ مِنَّا يُصْحَبُونَ" او نه به هغه زمونږ نه بند کړيشی. فرمائی آيت يصحبون معنی ده يمنعون، مطلب دا دې چه هغوی به زمونږ دَ عذاب نه هيڅ څوك بندنه کړيشی.

قوله: أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً: قَالَ: دِينُكُمْ دِينٌ وَاحِدٌ: آيت کښې دی "إِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً" يعنی ستاسو ټولوخلقو دين يو دې. ټول انبياء په اصول کښې متحد دی اودَ فروع اختلاف دَ زمان او مکان دَ وجه نه دې او هغه مذموم نه دی اصل څيز په اصول کښې اتحاد

---

¹)(عمدة القاری ک۱۹/۶۳-

²)(عمدة القاری ک۱۹/۶۳-

دي. حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه په دې کښې امةً دين په معنی کښې دې. طبری دا موصلاً نقل کړيدی. (۱)

قوله: وَقَالَ عِكْرِمَةُ: حَصَبُ: حَطَبُ بِالْحَبَشِيَّةِ: آيت کښې دی "إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ" بې شکه تاسو او چه د چا بغیرد الله تعالی نه عبادت کوئی، ټول د دوزخ خشاك ئی، حضرت عکرمه رحمه الله فرمانيلی چه حصب حبشی ژبه کښې لرګی او خشاك ته وائی.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ: أَحَسُّوا: تَوَقَّعُوا، مِنْ أَحْسَسْتُ: آيت کښې دی "فَلَمَّا أَحَسُّوا بَأْسَنَا إِذَا هُمْ مِنْهَا يَرْكُضُونَ" کله چه هغوی زمونږ د عذاب انديښته محسوس کړه نود هغه ځای نه اوتختيدل، حضرت عکرمه نه غير يعنی حضرت ابوعبيده اووئيل چه احسوامعنی ده توقعوا يعنی کله چه هغوی زمونږ د عذاب توقع اوکړه او انديښنه ئی محسوس کړه.

قوله: خَامِدِينَ: هَامِدِينَ: آيت کښې دی "حَتَّى جَعَلْنَاهُمْ حَصِيدًا خَامِدِينَ" تردې چه مونږ هغوی داسې (نيست او نابود) کړل لکه چه فصل کټ شوې وی او اور سوړ شوې وی، فرمائی په آيت کښې "خامدين" په معنی د "هامدين" ده "همد" (س) "همودا" د اور مړکيدل او يخيدل. "خامدين" ترکيب کښې دې احتماله دی ①دا د "حصيدا" صفت دې "حصيدا" کښې مفرد، تثنيه او جمع ټول برابر دی ②دا د "حصيدا" نه بدل دې ③ دا د "جعلناهم" ضمير مفعول "هم" نه حال دې.

قوله: حَصِيدٌ: مُسْتَأْصَلٌ، يَقَعُ عَلَى الْوَاحِدِ، وَالِاثْنَيْنِ، وَالْجَمِيعِ: "حَتَّى جَعَلْنَاهُمْ حَصِيدًا" دې کښې حصيداً معنی د جرړونه پريشوې. مفرد، تثنيه او جمع ټولو باندې د دې اطلاق کيږی.

قوله: لَا يَسْتَحْسِرُونَ: لَا يَعْيُونَ، وَمِنْهُ: حَسِيرٌ، وَحَسَرْتُ بَعِيرِي: آيت کښې دی "لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ" هغوی د الله تعالی د عبادت نه نه ډډه کوی او نه ستړې کيږی، د سورة ملك آيت "يَنْقَلِبْ إِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَهُوَ حَسِيرٌ" کښې حسير هم د دينه دې يعنی واپس کيږی به تاله ستا نظر ردکړيشوې ستړې شوې او وائی حسرت بعيری ماخپل اوښ ستړې کړو.

قوله: عَمِيقٌ: بَعِيدٌ: په سورة حج کښې دی "يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ" په دې کښې د "عميق" معنی "بعيد"ده، دا لفظ په سورة انبياء کښې نه دې، سورة حج کښې دې او غالبًا د کاتب په سهو دلته راغلې دې.

---

(۱)(فتح الباري۸/۴۳-

قوله: نُكِسُوا: رُدُّوا: "ثُمَّ نُكِسُوا عَلَى رُءُوسِهِمْ" حضرت شیخ الهند رحمه الله د دې ترجمه داسې کړېده "بیا پرمخې شو سر ښکته کونکې" یعنی د شرم د وجه سترګې نشوې ملاوولې، امام فرمائی چه "نُكِسُوا" معنی ده "رُدُّوا" یعنی هغوی اولټه سرښکته واپس کړې شو (د کفر طرف ته) لیکن ابوعبیده "نُكِسُوا" تفسیر "قلبوا" سره کړېدې یعنی هغوی پرمخې کړېشو.

قوله: صَنْعَةَ لَبُوسٍ: الدُّرُوعُ: آیت کښې دی "وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّن بَأْسِكُمْ" او مونږ هغوی ته (یعنی حضرت داؤد علیه السلام ته) د زغرو جوړول اوښودل ستاسو خلقو د ګټې د پاره، چه تاسو د یو بل د حملې نه بچ کړی، فرمائی چه په آیت کښې د لبوس نه زغرې مراد دی، لبوس د لبس جمع ده د کوم معنی چه لباس ده، د اوسپنې زغره، دلته آخری معنی مراد ده.

قوله: تَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ: اخْتَلَفُوا: آیت کښې دی "وَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ ۖ كُلٌّ إِلَيْنَا رَاجِعُونَ" او هغه خلقو په خپل دین کښې اختلاف پیدا کړو، ټول مونږ طرف ته واپس کیدونکی دی. فرمائی "وَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ" معنی هغوی اختلاف اوکړو.

قوله: الْحَسِيسُ: وَالْحِسُّ، وَالْجَرْسُ وَالْهَمْسُ وَاحِدٌ وَهُوَ مِنَ الصَّوْتِ الْخَفِيِّ: آیت کښې دی "لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا" هغه خلق یعنی جنتیان به د دوزخیانو کش کړپ هم نه اوری. فرمائی حَسِیسُ، حِسُّ، جَرْسُ او هَمْسُ د دې ټولو هم یوه معنی ده یعنی ټیټ آواز.

قوله: آذَنَّاكَ: أَعْلَمْنَاكَ: آذَنْتُكُمْ: إِذَا أَعْلَمْتَهُ: فَأَنْتَ وَهُوَ عَلَى سَوَاءٍ: لَمْ تَغْدِرْ: په سورة حم سجده کښې دی "قَالُوا آذَنَّاكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ" یعنی کافران به وائی چه مونږ تاسو ته اوښودل چه په مونږ کښې څوک د کفر او شرک د جرم اقرار نه کوو، دوی به دروغ وائی او د خپل جرم نه به انکاری وی. په دې کښې "آذَنَّاكَ" معنی بیان شویده مونږ تا ته اطلاع اوکړه، سورة حم سجده دا آیت د سورة انبیاء د دې آیت سره مناسبت باندې راوړې "فَإِن تَوَلَّوْا فَقُلْ آذَنتُكُمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ" یعنی هغه خلق (د حجت د پوره کیدو نه پس) که اعراض کوی نو هغوی ته اووایه چه ما تاسو ته اطلاع کړېده (چه اوس زمونږ په مینځ کښې هیڅ صلح نشته د څه علم چه ما ته او تاسو ټولو ته شویدې او مونږ ټول په دې کښې برابر یو چا ته به هیڅ دهوکه نه وی).
ابوعبیده د دې لفظ تشریح کولو کښې فرمائی "اذا انذرت عدوك واعلمته ذلك، ونبذت اليه الحرب، حتى تكون انت وهو على سواء، فقد اذنته" (۱)- یعنی چه کله ته دښمن اوویروې او ته هغه ته د حملې خبرور کړې او د جنګ خبره هغه ته اورسوې تردې چه د دې جنګ متعلق تاسو په هغه دواړو اطلاع ګانو کښې برابرشئ نو هغه وخت به وئیلی شی "اذنته"

(۱) (فتح الباری:۸/۴۳۷)

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ: تُفْهَمُونَ: آیت کښې دی "لَا تَرْكُضُوا وَارْجِعُوا إِلَىٰ مَا أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَاكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ" تیښته مه کوئی او خپل دَ عیش سامان او خپلو کورونو طرف ته واپس لاړشئی کیدیشی چه تاسو نه څوك تپوس اوکړی، مولانا شبیراحمدعثمانی رحمة الله عليه فرمائی: "یعنی چه کله دَ الله تعالی عذاب مخامخ راغلو نو غوښتل ئی چه دَ هغه ځائ نه اوتختی او په تیښته ځان بچ کړی، هغه وخت په تکوینی توګه اووئیلې شو چه چرته تختئی، اودریږئی او هم دیخوا واپس شئی چرته مو چه عیش کولو او کوم ځائ کښې مو چه ډیر دَ تنعم سامان جمع کړې ایخودې وو. کیدیشی چه هلته تاسو نه څوك تپوس اوکړی چه حضرت! هغه مال دولت، زور او طاقت نشته چرته لاړه؟ هغه سامانونه چرته لاړل؟ اوچه کوم نعمتونه الله تعالې درکړی وو دَ هغې شکر مو ترکوم ځائ پورې ادا کړې وو؟ یا دا چه تاسو لوئ سړی وئی دَ چا به چه په هره موقع تپوس کیدو اوس هم هلته لاړشئی دَ تختیدو ضرورت نشته چه خلق دَ خپلو اهمو کارونو کښې تاسو سره مشوره اوکړیشي او ستاسو رائې معلومې کړیشی". (داټولې خبرې تحکماً کړیشوی دی). حضرت مجاهدرحمة الله عليه فرمائی چه تسئلون معنی تفهمون ده، کیدیشی چه تاسو پوهه شئی.

قوله: ارْتَضَى: رَضِيَ: "وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَىٰ وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِ مُشْفِقُونَ" او هغوی (فرښتې) سفارش نه کوی مګر دهغوی دَ چادَ پاره چه دَ الله تعالی خوښه وی او هغوی ټول دَ الله تعالی دَ هیت نه ویریږی. فرمائی چه آیت کښې ارتضی معنی رضی ده، راضی کیدل، خوښول، مولاناشبیر احمد عثمانی رحمة الله عليه دَ دې آیت لاندې لیکې: "یعنی دَ الله تعالی دَ مرضئ معلومولونه بغیرهغه فرښتې هم دَ چا سفارش نه کوی، دَ مؤمنانو موحدانونه الله تعالی راضی وی دَ دې دَ پاره به دَ هغوی په حق کښې په دنیااوآخرت کښې استغفار کول دَ هغوی وظیفه ده".

قوله: التَّمَاثِيلُ: الْأَصْنَامُ: آیت کښې دی "مَا هَٰذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ" دا بتان څه دی دَچا دعبادت دپاره تاسوکلك ناست ئی(یعنی لږشان دَ دوی اصلیت او حقیقت خو بیان کړئ آخردَ کاڼی پخپله تراشلې بت خدائی څنګه جوړشو) فرمائی آیت کښې تماثیل معنی بت ده.

قوله: السِّجِلُّ: الصَّحِيفَةُ: آیت کښې دی "يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ" په کومه ورځ چه مونږ اسمانونه داسې راغونډکړو لکه څنګه چه دَ لیکلی شوی مضمون صحیفه راغونډولې شی.

د سجل په معنی کې مختلف اقوال: فرمائی چه صحیفې ته سجل وئیلی شی دلته دَ سجل همدغ معنی بیان کړیشویده.لیکن امام ابوداؤد، نسائی او طبری یو روایت نقل کړیدې چه سجل دَ یو صحابی نوم دې چه دَ رسول الله ﷺ کاتب وو (۱)- او علامه سهیلی نقل کړیدی

---

(۱)(فتح الباری:۴۳۷/۸

چه سجل په دوئم آسمان کښې د هغه فرښتې نوم دې چاله چه د پیر او جمعرات په ورځ کراماً کاتبین د خلقو اعمال راوړي راځي.(١) - علامه ثعلبي او سهیلي د دې خبرې نه انکار کړیدې چه سجل د رسول الله ﷺ د یو کاتب نوم دې ځکه چه د هغوی په کاتبانو کښې د دې نوم صحابي ذکر نه ملاویږي. (٢)- لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله د سهیلي دا قول رد کړیدې. هغه فرمائي چه ابن منده او ابونعیم د ابن نمیر په طریق سره د حضرت عمر رضي الله عنه روایت نقل کړیدې په کوم کښې چه دی "كان للنبي صلى الله عليه وسلم كاتب، يقال له: سجل" ابن مردویه هم دا روایت نقل کړیدې (٣)- البته حافظ ابن کثیر رحمه الله دا روایت منکر او حافظ مزي دا موضوع ګرځولې دې (٤)- لیکن حافظ ابن حجر د دې نورې طریق هم بیان کړې دی (٥)-

[٢٣٢] بَاب كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا

[٤٤٦٣] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ الْمُغِيرَةِ بْنِ النُّعْمَانِ شَيْخٌ مِنْ النَّخَعِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ خَطَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ إِلَى اللَّهِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ ثُمَّ إِنَّ أَوَّلَ مَنْ يُكْسَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِبْرَاهِيمُ أَلَا إِنَّهُ يُجَاءُ بِرِجَالٍ مِنْ أُمَّتِي فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُصَيْحَابِي فَيُقَالُ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ فَأَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ إِلَى قَوْلِهِ شَهِيدٌ فَيُقَالُ إِنَّ هَؤُلَاءِ لَمْ يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ

فَأَقُولُ: يَا رَبِّ، أُصَيْحَابِي، فَيُقَالُ: إِنَّ هَؤُلَاءِ لَمْ يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ

نبي کريم ﷺ به د قیامت په ورځ الله تعالی ته اوفرمائي "اې زما ربه! دا خو زما صحابه دي" ارشادبه اوشي "داخلق خوبه خپلو پوندود اسلام نه مرتدشوي وو کله چه تاسو د دوی نه جدا شوني".

اشکال اود هغې جوابونه: دلته په ظاهره اشکال کیږي چه آیا صحابه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس د اسلام نه اوړیدلي وو، ښکاره خبره ده چه داسې خو نه ده نوبیا د دې جملې څه مطلب دې؟

① د دې یوجواب دا دې چه په حدیث کښې "اصحابي" نه مراد هغه خلق دي چه د نبي کريم ﷺ د وفات نه پس مرتد شوي وو او حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه هغوی سره جنګ کړې وو،

---

(١) (فتح الباري:٨/٤٣٧)

(٢) (فتح الباري:٨/٤٣٧)

(٣) (فتح الباري:٨/٤٣٧)

(٤) (تفسير ابن كثير :٣/٢٠٠)

(٥) (فتح الباري:٨/٤٣٧)

هغوى ته اصحاب په دې وجه اووئيلې شو چه هغوى په نبى كريم ﷺ باندې ايمان راوړې وو، هغوې صحابى نه وو علامه خطابى رحمه الله فرمائى "لم يرتد من الصحابة احد وانما ارتد قوم من جفاة الاعراب ممن لانصرة له فى الدين، وذلك لايوجب قدحا فى الصحابة المشهورين" (١)-

② دونم جواب داورکړيشو چه حديث کښې "اصحابى" نه د هغوى ﷺ په ژوندکښې په هغوى ﷺ باندې ايمان راوړل اود هغوى د صحبت بابرکت نه فائده مندکيدونکى کسان مراد دى خو د ارتداد نه دلته ارتدادعن الاسلام مراد نه دې بلکه ارتداد عن الاستقامى على الدين مراد دې چه په دې حضراتو کښې يوڅوکسانو حقوق اسلام کماحقه نه دى اداکړى بلکه د هغوى نه څه کوتاهنى شويدى او د بعضې نامناسبه خبرو مرتکب شويدى نو حافظ رحمه الله ليکى: قال البيضاوى: ليس قوله: "مرتدين" نصافى كونهم ارتدواعن الاسلام، بل يحتمل ذلك، ويحتمل ان يراد انهم عصاة المؤمنين المرتدون عن الاستقامة، يبدلون الاعمال الصالحة بالسئة" (٢)- حافظ ابن حجر رحمه الله د دې جواب په تائيدکښې څه روايات هم نقل کړيدى اود هغه ميلان هم دې طرف ته معلوميږى (٣)- دا حديث د سورة مائده په تفسيرکښې تيرشويدې اود دې متعلق نور بحثونه ان شاء الله وړاندې په كتاب الرقاق کښې راځى.

باب: تفسير سورة الحج

وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ الْمُخْبِتِينَ الْمُطْمَئِنِّينَ

سُورَةُ الْحَجِّ

آيت کښې دى " وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ۝ "حضرت سفيان بن عيينه فرمائى چه په دې آيت کښې د(مُخْبِتِينَ ۝) معنى مطمئن او د راضى اوسيدونکوده. د آيت مطلب دا دې چه تاسو هغه خلقو ته زيرې واوروئى چه څوک د الله تعالى په احکامو باندې مطمئن او راضى دى يا د الله تعالى په ذکر سره اطمينان حاصلونکى دى.

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِي إِذَا تَمَنَّى أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي أُمْنِيَّتِهِ إِذَا حَدَّثَ أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي حَدِيثِهِ فَيُبْطِلُ اللَّهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ وَيُحْكِمُ آيَاتِهِ وَيُقَالُ أُمْنِيَّتُهُ قِرَاءَتُهُ إِلَّا أَمَانِيَّ يَقْرَءُونَ وَلَا يَكْتُبُونَ

امام بخارى رحمه الله ددې آيت تفسير کړې دې: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّا إِذَا تَمَنَّىٰ أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي أُمْنِيَّتِهِ فَيَنسَخُ اللَّهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللَّهُ آيَاتِهِ﴾

د "وما ارسلنا من قبلک من رسول ولا نبى الا اذا تمنّى القى الشيطان فى أُمنيّته"، تفسير: د دې

---

(١) (فتح البارى و كتاب الرقاق، باب الحشر: ١١/٣٨٥
(٢) (فتح البارى، كتاب الرقاق، باب الحشر: ١١/٣٨٦
(٣) (فتح البارى، كتاب الرقاق، باب الحشر: ١١/٣٨٦

آیت په تفسیرکښې مفسرینو مختلف آراء دي کوم کښې چه یوڅو دا دي:
① تمنی لفظ په عربی کښې دَ دوو معنودَ پاره استعمالیږی، یوه معنی خو هغه ده چه په اردو کښې استعمالیږی یعنی دَ یو څیز خواهش او آرزو کول، اوپه آیت کښې هم دا معنی مراد کیدې شی. په دې صورت کښې به دَ آیت ترجمه داوی "تاسونه وړاندې مونږ نه څوك رسول داسې لیږلې دې نه نبی، چاسره چه دا معامله نه وی پیښه شوې چه، چه کله هغه خواهش اوکړو (چه دَ هغه تبلیغ عام وی اودَ هغه قوم ایمان راوړی) نو شیطان دَ هغه په خواهش کښې حائل شو(چه دَ هغه دَ تبلیغ په لارکښې دې بندیزونه پیداکړی او مشکلات پیداکړی) نو الله تعالی دَ شیطان اچولې شوی بندیزونه ختموی او خپل آیاتونه کلکوی" دغه شان چه دَ دې قوم دَ کومو نیك بختو په قسمت کښې دَ ایمان همیشه نیك بختی لیکلې وی هغوی ایمان راوړی، اودَ شیطان اودرولې شوی بندیزونه دَ هغه دَ ایمان راوړو په لارکښې خنډان نشی جوړیدلې، الله تعالی خپل آیاتونه او دَ نبی سره کړیشوې وعدې کلکوی)
دَ آیات دا تفسیر ډیرو حضراتوکړیدې (1)- او مولانا انورشاه کشمیری رحمه الله "فیض الباری" کښې هم دا اختیار کړیدې (2)- مولانابدر عالم میرتهی رحمه الله "البدر الساری" کښې لیکی:
"فمعنی تمنی انه یتمنی الایمان لامته، ویحب لهم الخیر، والرشد، والصلاح، والنجاح، فهذه امنیة كل رسول، ونبی، والقاء الشیطان فیها یكون بما یلقیه فی قلوب امة الدعوة من الوساوس الموجهة لكفر بعضهم، ویرحم الله المؤمنین، فینسخ ذلك من قلوبهم ویحكم فیها الایات الدالة علی الوحدانیة والرسالة (3)-
② "تمنی" دونمه معنی تلاوت او لوستل دی. امنیة معنی قراءت ده.امام بخاری رحمه الله دلته هم دغه معنی بیان کړیده او په دلیل کښې دَ سورة بقره آیت پیش کړیدې. "وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ الْكِتٰبَ إِلَّآ أَمَانِيَّ" په دې کښې "امانی" یقرؤون معنی کښې دې. حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله هم دغه مراد اخستې دې (4)- اوشیخ الاسلام مولانا شبیراحمدعثمانی رحمه الله هم دیته ترجیح ورکړیده، هغوی لیکی: "دَ احقر په خیال کښې بهترین او آسان ترین تفسیر هغه دې چه د هغې مختصر اصل دَ سلفو نه منقول وی یعنی "تمنی" په معنی قراءت، تلاوت یا تحدیث او "امنیة" په معنی دَ متلو یا حدیث واخستلې شی، مطلب دا دې چه دَ پخوانه دا عادت راروان دې چه کله به یو نبی.یا رسول څه خبره کوله یا دَ الله تعالی آیات به نې لوستلو اوورولو نو شیطان دَ هغه بیان شوې خبره یا آیت کښې قسم قسم شکونه اچول،

---

(1) (روح المعانی:۱۷/۱۷۵ وتفسیر کبیر:۳۳/۵٤
(2) (فیض الباری:٤/۲۷، هغوی دَ دې ترجمه کړیده "یو نبی نه دې چه هغه امیدنه وی ترلې، دَ خپلې نبی متعلق به هغه ته هدایت کیږی نو شیطان دَ هغه خلقو په زړونوکښې کوګوالې پیدا کړو اودَ هغوی خواهش نې پوره کیدو ته نه دې پریښې او په هغې کښې نې رکاوټ نه وی اچولې
(3) (البدرالساری الی فیض الباری:٤/۲۰۸
(4) (بیان القرآن: ۲/۷۸

يعنى د بعض خبرو متعلق د ډيروخلقو په زړونوكښې وسوسې اچولوسره شك شبهې پيدا كولې مثلاً نبى كريم ﷺ آيت "حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ" لوستلو سره واورولو، نو شيطان دا شك واچولو چه ګورئ خپل وژلې شوې حلال او د الله تعالى وژلې شوې حرام ګڼړې يا هغوى ﷺ آيت "إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ" اولوستلو نو هغه شك پيدا كړو چه "وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ" كښې حضرت مسيح عليه السلام ،عزير عليه السلام او د الله تعالى ملائكې هم شاملې دى.يا هغوى ﷺ د حضرت مسيح عليه السلام باره كښې اوفرمائيل "وكلمته القاها الى مريم وروح منه" شيطان اوګڼړل چه د دې نه د حضرت مسيح عليه السلام ابنيت او الوهيت ثابتيږى، د دې شيطانى القاء باطل كيدو او رد كښې پيغمبر عليه السلام د الله تعالى هغه آياتونه اوروى چه بالكل صفا او محكم دى او داسې پخې خبرې بنائى د كوم په اوريدو چه هيڅ شك شبهې كولوګنجائش نه پاتې كيږى. د متشابهاتو ظاهرى سطح اخستلو سره شيطان چه كومه اغوا كوى نو آيات محكمات د هغې جرړې پريكوى د كوم په اوريدو سره ټول شك شبهې يو دم ختميږى. دا دوه قسمه آياتونه ولې نازلولې شى؟ شيطانانو ته داسې د وسوسې او تصرف موقع ولې وركولې شى؟ اود آياتو كوم احكام چه روستوكولې شى د شروع نه ولې نشى كولې؟ دا هر څه د الله تعالى د غيرمحدود علم او حكمت سره ظاهريږى. الله تعالى دا دنياعلماً او عملاً د امتحان كور جوړكړيدې او په دا قسمه كاروايانوكښې د بنديګانو امتحان دې چه كوم سړې د خپل زړه د بيمارئې يا سختئې په وجه د شك شبهو په ترمه كښې اينختې پاتې كيږى او كوم يو پوهه سړې د خپل علم او تحقيق په طاقت سره د ايمان او جنات اوچت مقام ته په رسيدو باندې ساه اخلى"(١) -

④د دې آيت يو دريم تفسير د يوې قصې په شكل كښې بيانولې شى چه يو ځل نبى كريم ﷺ د سورة النجم تلاوت فرمائيلوكله چه هغوى ﷺ "افرأيتم اللات والعزى ومناة الثالثة الاخرى" ته اورسيدل نو د هغوى د ژبې مباركې نه دا الفاظ ادا شو "تلك الغرانيق العلى وان شفاعتهن لترتجى" (يعنى زمونږ دا معبود د اوچتې درجې بتان دى د دوى د شفاعت اميدساتلې شى) مشركانو چه دا جمله واوريده نوډير زيات خوشحاله شو چه نن نبى كريم ﷺ زمونږ د معبودانو تعريف اوكړلو، كله چه د سورة په ختميدوباندې هغوى ﷺ سجده اوكړه نو مسلمانانوسره مشركانو هم سجده اوكړه. روستو حضرت جبرائيل عليه السلام راغلو او هغوى اووئيل دا دوه جملې خوشيطان ملاؤ كړيدى، په دې باندې هغوى ﷺ سخت پريشانه شو نو الله تعالى د هغوى ﷺ د تسلئې او اطمينان د پاره د سورة حج دا مذكوره آيت نازل اوفرمائيلو چه تاسو نه وړاندې پيغمبرانو سره هم داسې شويدى.

دا قصه ډيرو مفسرينو او محدثينو نقل كړيده، بغوى "معالم التنزيل" كښې، ابن جرير په خپل تفسير كښې، ابن سعد"طبقات" كښې، ابن اسحاق"سيرت" كښې، جلال الدين

(١)(تفسيرعثمانى:٤٥٠ فائده نمبر ٤

"جلالين" كښې او ابن ابى حاتم، "ابن مردويه" او طبرانى وغيره د احاديثو په خپلو كتابونو كښې نقل كړيدى. (١)- اكثرو حضراتو دا قصه بالكل غلطه اوموضوعى ګرځولې ده او علامه بيهقى، حافظ ابن كثير، قاضى عياض، قاضى ابوبكربن العربي، ابن خزيمه، امام رازى، قرطبى، علامه عينى، علامه شوكانى او علامه آلوسى رحمهم الله د دې ترديد كړيدې، نووى، كرمانى،ذهبى او ابومنصور ماتريدى رحمهم الله هم ترديد كړيدې.

محمد بن اسحاق بن خزيمه رحمه الله فرمائيلى "هذامن وضع الزنادقة" (٢)- اودَ دې په ردكښې مستقل يوكتاب ليكلې دې، امام قرطبى رحمه الله فرمائى "وليس منهاشئى يصح"(٣)-علامه خازن رحمه الله فرمائى "انه لم يروهااحدمن اهل الصحة ولااسندها ثقة بسندصحيح اوسليم متصل"(٤)-امام ابوالسعود ليكى:" وهوالمردودعندالمحققين" (٥)- امام رازى فرمائى "هذه القصة موضوعة" (٦)- ابن العرابى فرمائى "ذكرالطبرى فى ذلك روايات كثيرة باطلة،لااصل لها"فتح البارى:۴۳۹/۸- قاضى عياض "الشفاء" كښې فرمائيلى دى"يكفيك فى توهين هذالحديث انه لم يخرجه احدمن اهل الصحة ولارواه ثقة بسندصحيح سليم متصل"(٧)- او علامه قنوى رحمه الله فرمائى "وهومردودعند المحققين......بل يجب ان يكون مردودا عند جميع المسلمين" (٨)- ليكن ابن حجرِ، علامه زمحشرى (٩)- او حافظ ابن جرير(١٠)- داقصه صحيح ګڼړى، حافظ ابن حجر رحمه الله د دې قصې مختلف طرق ذكركولونه پس ليكى: "وكلها سوى طريق سعيدبن جبيراماضعيف والامنقطع لكن كثرة الطرق تدل على ان للقصة اصلا، مع ان لها طريقين اخرين مرسلين، رجالهماعلى شرط الصحيحين، احدهماما اخرجه

---

(١) اوګورئى معالم التنزيل: ۲۹۲/۳-۲۹۳، تفسير ابن جرير:۱۳۲/۹، وطبقات بن سعد:۲۰۵/۱ ذكر سبب رجوع اصحاب النبى صلى الله عليه وسلم من ارض الحبشة والروض الانف:۲۳۹/۱، وجلالين:۲۸۴/۲، وجامع البيان على حامش الجلالين : ۲۸٤ قال الحافظ فى الفتح:۴۳۹/۸ "وقداخرجه ابن ابى حاتم والطبرى، وابن المنذر، واخرجه البزار، وابن مردويه، وكذااخرجه النحاس، وذكره ابن اسحاق فى السيرة، وكذلك موسى بن عقبة فى المغازى"

(٢)(تفسير كبير:۵۰/۲۳

(٣)(تفسيرقرطبى:۸۰/۱۲

(٤)(خازن:۲۳/۵

(٥)(تفسيرابى السعود: ۲۵۶/۶

(٦)(تفسيرابن كبير:۵۱/۲۳

(٧)(تفسيرقرطبى:۸۲/۱۲

(٨)(حاشية القنوى على تفسير البيضاوى:۲۸۶/۵

(٩)(تفسير ابن جرير:۱۳۲/۹

(١٠)(تفسير ابن جرير:۱۳۲/۹

الطبري من طريق يونس بن يزيدعن ابن شهاب.... والثاني ايضاماأخرجه من طريق المعتمربن سليمان وحمادبن سلمة عن داودبن أبي هندعن أبي العالية" وړاندې چه کوم خلق دا قصه صحيح نه ګڼړی په هغوی باندې رد کولوسره ليکی: "وجميع ذلك لايتمشى على القواعد، فإن الطرق اذاكثرت، وتباينت مخارجها دل ذلك على ان لها اصلا، وقدذكرت ان ثلاثة اسانيدمنها على شرط الصحيح، وهى مراسيل يحتج بمثلهامن يحتج بالمرسل، وكذا من لايحتج به لاعتضاد بعضها ببعض"(۱)- دَ حافظ ابن حجر رحمه الله مقصددا دی چه دَ نورو طرق نه علاوه دَ دې قصې درې طرق صحيح او مرسل دی، په دې کښې دوه طرق ابن جرير رحمه الله ذکرکړيدی او دَ يو بزاز رحمه الله تخريج کړيدې. دا ټول طرق وړاندې کولو سره دَ انصاف خبره همدغه ده چه دَ دې قصې څه اصل ضرورشته، رواياتو ته ضعيف وئيلوسره دا رد کولې نشی. او چه کله قصه دَ رواياتوپه بنياد صحيح اومنلې شی نو په دې باندې اشکال کيږی چه رسول الله ﷺ په مبارکه ژبه باندې شيطان ته څنګه قدرت حاصل شو چه هغه دَ نبی کريم ﷺ په ژبه مبارکه باندې دَ دې شرکيه الفاظو القاء اوکړه. دا خوبه ټولو نصوصو سره معارض دې. که چرې دا صحيح اومنلې شی نو بيا خو به پوره دين مشکوک شی نو په دې وجه چه کومو حضراتو دا قصه دَ رواياتو په بنياد صحيح منلې ده هغوی دَ دې مختلف توجيهات پيش کړيدی، حافظ ابن حجر رحمه الله اووه توجيهات نقل کړيدی.

① دې وخت کښې هغوی له خوب ورغلې وو اودَ دې بې خبرئی په حالت کښې دا الفاظ وتلې. خو دا توجيه صحيح نه ده، ځکه چه شيطان ته په خوب کښې هم په هغوی ﷺ باندې قدرت حاصل نه دې.

② هغوی ﷺ شيطان مجبوره کړو او په غيراختياری حالت کښې دا الفاظ دَ هغوی ﷺ دَ ژبې مبارکې نه اووتل. ليکن دا توجيه هم صحيح نه ده، په شيطان کښې دهغوی ﷺ دَ مجبوره کولو طاقت نشته، پخپله دَ هغوی وينا ده "ماكان لى عليكم من سلطان" که شيطان ته داسې قدرت حاصل وې نو بيا به چا هم دَ الله تعالی اطاعت نشو کولې.

③ بعضو وئيل چه مشرکانو دَ خپلو معبودانو کله ذکر کولو نو مذکوره الفاظ به ئی وئيل، او هغوی ﷺ دا الفاظ دَ هغه نه څوځل اوريدلی وو په دې وجه دَ هغوی په ژبه دَ هغه معبودانو ذکر کولو\په وخت کښې مذکوره الفاظ سهواً جاری شو. ليکن قاضی عياض رحمه الله دا توجيه هم ردکړيده چه دَ هغوی ﷺ نه داسې سهوه ممکن وه.

④ بعضو وئيلی چه هغوی ﷺ دا الفاظ توبيخًا وئيلی وو، قاضې عياض فرمائيلی چه دا قسمه الفاظ هغه وخت کښې توبيخًا وئيلې کيدېشی چه کله دَ سړی په ذهن کښې څه قرينه وی، دَ باقلانی ميلان هم دې طرف ته معلوميږی.

⑤ بعضې وائی مشرکانو کښې دا الفاظ چا وئيلی وو ابن عاشوره وغيره دَ ويونکی نوم ابن

(۱)(فتح الباري:۸/۴۳۹، ورسره نوراوګورئی الكافى الشاف فى تخريج احاديث الكشاف:۳/۱۶۴-۱۶۵

الزبعرى ليکلي دي (١)-

⑨يو قول داهم دي چه "الغرانيق" نه فرښتې مراد دی، دَ مشرکانو معبودان بتان مراد نه دی، ليکن مشرکانو چه دا کله په خپلو بتانوباندې محمول کړله نو الله تعالی دا دواړه جملې منسوخ کړې او خپل آياتونه ئې مستحکم او مضبوط کړل.

⑥ يوه توجيه دا کړېشويده چه رسول الله ﷺ "ومناة الثالثة الاخرىٰ" باندې وقف اوکړو نو شيطان په دې مينځ کښې دا الفاظ اووئيل، دا اوګڼړلې شو چه دا هغوی ﷺ وئيلی دی. (٢)- قاضي عياض او ابن العربي دا توجيه خوښه کړېده، حافظ ابن حجر هم دا راجح ګرځولې (٣)- دا توجيهات قاضی عياض کړېدی او قاضی عياض دا قصه صحيح نه مني ليکن دا توجيهات هغوی روايت على السبيل الفرض والتقدير ثابت منلو نه پس نقل کړېدې. ليکن چه کومه توجيه حافظ ابن حجر رحمه الله راجح ګرځولې ده دَ دې رواياتو جواب نشي جوړيدې په کوموکښې چه دَ دې خبرې صراحت شوېدې چه دا مذکوره الفاظ شيطان دَ نبی کريم ﷺ دَ مبارکې ژبې نه ادا کړل. حقيقت دا دې چه دا مذکوره قصه موضوع، دروغ او غلطه ده اودَ دې په غلط ثابتولو باندې ډير شهادتونه دی.

داقصه چه په کوموسندونوسره نقل شويده هغه محمدبن قيس، محمدبن کعب قرظه، عروه بن زبير، ابوصالح، ابوالعاليه، سعيد بن جبير، ضحاک، ابوبکربن عبدالرحمن بن حارث بن حارث، قتاده، مجاهد، سدی، زهری او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما باندې ختميږی، دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه علاوه په دې کښې هم صحابی نشته او دا واقعه چه کوم وخت کښې پيښه شويده هغه وخت ابن عباس رضی الله عنهما بالکل ماشوم وو، دَ هغوی نه علاوه دَ بل يو صحابی نه دا واقعه نه ده نقل،که دا قصه واقعة داسې تفصيل سره وې نو په نورو صحابه کراموکښې به دَ چانه ضرور نقل وه. دَ بل چا نه نه نقل کيدل پخپله دَ دې دليل دې چه دا روايت صحيح نه دې. په کومو رواياتوکښې چه دا قصه نقل ده هغې نه معلوميږی چه دا دَ کال ۵ نبوی واقعه ده (٤)- اودَ سورة حج مذکوره آيت په کال ١ هجری کښې نازل شويدې. په دې وجه دَ دې قصې واقع کيدل اود سورة حج مذکوره آيت نازليدلوپه مينځ کښې دَ نهوکالو فاصله ده. دا نهه کاله فاصله پخپله دَ دې خبرې ثبوت دې چه دَ مذکوره قصې دې

---

(١)(التحرير والتنوير:۱٦/۳۰٤

(٢)(دَ ذکر شوی اوو توجيهاتو او تفصيل دَ پاره اوګورئی فتح الباری:۸/۴۳۹-۴٤٠ او دا اوومه توجيه علامه قشيری هم اختيارکړيده اوګګورئی لطائف الاشارات: ٤/۲۲٦

(٣)(فتح الباری: ۸/٤٤٠

(٤)(په بعضو رواياتوکښې دي چه دَ دې قصې خبر دَ حبشې طرف ته هجرت کونکوصحابه کرامو ته هغه وخت اورسيده کله چه دَ هغوی دَ هجرت درې مياشتې شويدې وې. هغوی ته چا اووئيل چه په مکه کښې مسلمانانو او مشرکينو ټول په يو ځائې سجده اوکړه او اختلافات ئې ختم کړل، دوی کښې بعضو بيا دَ مکې رخ اوکړو دلته چه راورسيده نو معلومه شوه چه خبر غلط وو او هجرت حبشه دَ معتبرو رواياتو په لحاظ په کال ۵ نبوی کښې پيښ شوې وو

آیت سره هیڅ تعلق نشته ځکه چه هرسړي په دې خبره په آسانئ سره پوهیدې شی که چرې داسې واقعه حقیقتاً پیښه شوې وه اورسول الله ﷺ ته دَ دې نه څه پریشانی شوې وه نود دې پریشانئ دَ ختمولو او دَ هغوی ﷺ دَ تسلئ دَ پاره به نهه کاله پس آیت نه نازلیدلو بلکه زر به څه وحی راتلله. بیا په دې روایاتوکښې چه مشرکانوهم دَ سورة په اختتام باندې مسلمانانوسره سجده اوکړه ځکه چه دَ هغوی دَ معبودانو ذکر راغلې وو، فرض کړه دا کلمات دَ نبی کریم ﷺ دَ ژبې مبارکې نه ادا شوی هم وی نو دَ دې نه وړاندې آیت باندې هم غور اوکړئ. "اَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْاُنْثٰى۝ تِلْكَ اِذًا قِسْمَةٌ ضِيْزٰى۝ اِنْ هِيَ اِلَّآ اَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ ۚ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنْ رَّبِّهِمُ الْهُدٰى۝" دَ سورة نجم دَ آخره پورې مضمون دَ دې فقرو خلاف دې. اوس دا خبره ځنګه اومنلې شی چه مشرکانوبه دې وجه سجده اوکړه چه دَ هغوی ﷺ دَ ژبې مبارکې نه دَ هغوی دَ معبودانو په حق کښې تعریفی فقرې وتلې وې، بلکه مشرکین چه دَ اسلام هر څیز ته دَ تنقید په نظر دَ کتلو عادت وو، هغوی له خود قرآن په دې تضادبیانئ باندې اشکال کول پکار وو چه یو طرف ته دَ هغوی دَ معبودانوتعریف کیږی او بل طرف ته دَ هغوی تردید ډیر په زور اوشور سره کیږی. بیا دا واقعه دَ نورو نصوصو سره متعارض ده، په دې کښې دی چه شیطان راغلو اود هغوی ﷺ دَ ژبې نه ئې دا الفاظ نقل کړل حالانکه دَ قرآن متعلق ارشاد دې "لَا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ؕ تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ۝" اودَ هغوی ﷺ متعلق اوفرمائیلې شو "وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى۝ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى۝"

علامه آلوسی رحمه الله روح المعانی کښې دَ دې قصې دَ عدم صحت اووه دلیلونه بیان کړی (۱) اودَ تفصیل سره دا ردکولو نه پس لیکی: "ولعمری ان القول بان هذا الخبر مما القاه الشیطان علی بعض السنة الرواة...... اهون من القول بان حدیث الغرانیق مما القاه الشیطان علی لسان رسول الله صلی الله علیه وسلم ثم نسخه سبحانه وتعالی"(۲)- "یعنی داخبره منل ډیر آسان دې چه دا حدیث دَ رسول الله ﷺ په ژبه القاء کړې وو او بیا الله تعالی دا منسوخ کړو" البته دا اشکال باقی پاتې کیږی چه کله دَ دې قصې څه حقیقت نشته نو بیا دومره لویه خبره دَ دومره راویانو په ذریعه ځنګه مشهوره شوه سره دَ دې چه په دې کښې بعض نوموړی بزرګان او مشهور محدث هم دی؟ دَ دې جواب دا دې چه اصل قصه دَ حدیث په معتبر کتابونوکښې موجود دی، بخاری، مسلم، ابوداؤد، نسائی او مسنداحمد کښې اصل واقعه داسې ده چه نبی کریم ﷺ سورة نجم تلاوت اوفرمائیلو، په آخره کښې هغوی ﷺ سجده اوکړه نومسلمانانو او مشرکانو ټولو هغوی سره سجده اوکړه (۳)- دَ سورة نجم په تفسیرکښې امام بخاری رحمه الله

---

(۱)(روح المعانی:۱۷/۱۷۷-۱۷۸

(۲)(روح المعانی:۱۷/۱۸۲

(۳)(الحدیث اخرجه البخاری فی تفسیرسورة النجم، باب "فاسجدوا الله ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

حضرت ابن عباس ﷺ نه روايت نقل كړيدې دَ كوم الفاظ دى "سجدالنبى صلى الله عليه وسلم بالنجم، وسجدمعه المسلمون والمشركون، والجن والانس"(١)- ښكاره خبره ده دَ قرآن خپل يو تاثيردې بياد رسول الله ﷺ دَ ژبې مباركې نه دَ دې اداكيدلو په ټولو باندې يو وجد غوندې حالت شروع كړو او پوره مجمع په سجده باندې پريوتله. ډيره ممكن ده چه روستو مشركانوكښې څه خلق په هغه خپل وقتي تاثر باندې پښيمانه شوې وى او هغوى هسې دا خبره كړې وى چه مونږ خو دَ محمد ﷺ دَ ژبې نه دا فقره اوريدلې وه په دې وجه مونږ هم هغوى سره په سجده پريوتلو، په دې وجه بعض ثقه راويان هم په دې غلط روايت كښې اخته شو او قصه دَ خپل اصلى صورت په ځائې په بل انداز كښې بيان شوه. والله اعلم بالصواب. دَ مشركانو دَ سجدې كولو وجه حضرت شاه ولى الله رحمه الله بيان كړيده چه آيت نجم تلاوت په وخت كښې دَ الله تعالى دَ قهر تجلى ښكاره شوې وه دَ هغې په وجه مشركان بې اختياره په سجدې ته تلې وو.

وَقَالَ مُجَاهِدٌ مَشِيدٌ بِالْقَصَّةِ. وَقَالَ غَيْرُهُ (يَسْطُونَ) يَفْرُطُونَ مِنَ السَّطْوَةِ، وَيُقَالُ يَسْطُونَ يَبْطُشُونَ (وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ) أُلْهِمُوا. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (بِسَبَبٍ) بِحَبْلٍ إِلَى سَقْفِ الْبَيْتِ. (تَذْهَلُ) تُشْغَلُ.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ مَشِيدٌ بِالْقَصَّةِ: آيت كښې دى "وَبِئْرٍ مُعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَشِيدٍ" دې كښې مشيد معنى ده كوم چه په چونه وغيره سره مضبوط جوړ كړيشوې وى، شيد او قصة چونې ته وائى.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ (يَسْطُونَ) يَفْرُطُونَ مِنَ السَّطْوَةِ، وَيُقَالُ يَسْطُونَ يَبْطُشُونَ: آيت كښې دى "يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِالَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا" دَ مجاهد نه غير يعنى ابوعبيده وئيلى دى چه دې كښې يسطون معنى دَ حدنه زياتى كونكې ده، دا سطوة نه مشتق دې دَ كوم معنى چه حمله ده. بعضو دَ دې معنى دَ نيولو سره كړيده.

قوله: وهدوا الى الطيب من القول: الهموا: يعنى دَهغوى په زړونو كښې ښه خبره واچوله.

قوله: وقال ابن عباس: بسبب: بحبل الى سقف البيت: "فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى السَّمَاءِ" په دې كښې د سبب معنى رسئى ده، اود سماء نه د كور چت مراد دې يعنى هغوى دَ خپل كور د چته پورې يوه رسئ اوتړى او دې سره خپله مرئى خفه كړى.

قوله: تذهل تشغل: آيت كښې دى "يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ أَرْضَعَتْ" په كومه ورځ

...بقيه ازحاشيه گذشته] واعبدوا" رقم ٤٥٨١ وفى سجودالقران، باب سجدة النجم، وباب ماجاء فى سجودالقران وسنتها، واخرجه مسلم فى المساجد، باب سجودالتلاوة، رقم ٤٥٨١، وابوداؤد فى الصلاة، باب من راى فيها السجودو رقم ١٤٠٦، والنسائى فى الافتتاح باب السجودفى النجم: ١٦٠/٢

(١)(صحيح البخارى، كتاب التفسير، باب فاسجدوالله واعبدوا، رقم ٤٥٨١

چه دَ قیامت زلزله اووینی چه ټولې ښځې ورکونکې ښځې خپل ښځې روونکی بچی هیرکړی.
فرمانی آیت کښې تذهل معنی ده تشغل: شغل‌عنه، غافل کیدل.

[۲۳۴] بَاب وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى

[۴۴۶۴] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَا آدَمُ يَقُولُ لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ فَيُنَادَى بِصَوْتٍ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكَ أَنْ تُخْرِجَ مِنْ ذُرِّيَّتِكَ بَعْثًا إِلَى النَّارِ قَالَ يَا رَبِّ وَمَا بَعْثُ النَّارِ قَالَ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ أُرَاهُ قَالَ تِسْعَ مِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ فَحِينَئِذٍ تَضَعُ الْحَامِلُ حَمْلَهَا وَيَشِيبُ الْوَلِيدُ وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَى النَّاسِ حَتَّى تَغَيَّرَتْ وُجُوهُهُمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ تِسْعَ مِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ وَمِنْكُمْ وَاحِدٌ ثُمَّ أَنْتُمْ فِي النَّاسِ كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِي جَنْبِ الثَّوْرِ الْأَبْيَضِ أَوْ كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَاءِ فِي جَنْبِ الثَّوْرِ الْأَسْوَدِ وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَكَبَّرْنَا ثُمَّ قَالَ ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَكَبَّرْنَا ثُمَّ قَالَ شَطْرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَكَبَّرْنَا قَالَ أَبُو أُسَامَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ تَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَقَالَ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ وَقَالَ جَرِيرٌ وَعِيسَى بْنُ يُونُسَ وَأَبُو مُعَاوِيَةَ سَكْرَى وَمَا هُمْ بِسَكْرَى

قوله: من كل الف تسعمائة وتسعة وتسعين:

په زرو کې یوکم زر بعث النار..... دلته فرمائیلې شویدی چه په زرو کښې یوکم زر بعث النار دی او یو به جنت ته ځی او وړاندې په کتاب الرقاق کښې یو روایت راځی په هغې کښې دی چه په سلوکښې به یو کم سل دوزخ ته ځی او یو به جنت ته ځی (۱)- کله چه په سلوکښې یوځی نو په زروکښې به لس ځی، په ظاهره په دواړو روایتونوکښې تعارض دې. دَ دې جواب دا ورکړېشود دې ځائ روایات دَ یاجوج ماجوج په اعتبار سره دی اودَ کتاب الرقاق روایت دَ نورو کفارو او مشرکانو په اعتبار سره دې چه په دوی کښې به یوکم سل دوزخ ته ځی او یو به مؤمن وی چه جنت ته به ځی.

قوله: وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ:

د ''وانی لارجو ان تکونوا ربع اهل الجنة،، معنی: دلته تدریجی اضافه ده اوتاته څلورمې، بیادَ دریمې او بیا دَ نیمې خبردرکړېشو او داهم ممکن ده چه دا شمیرمختلف اوقاتواو مختلف مرحلو په اعتبارسره وی، په شروع کښې به دَ امت مسلمه شمیر څلورمې حصې برابر وی بیا به یوه زمانه روستوراشی چه په جنتیانوکښې به زیاتوالې اوشی نوشمیر به دریمې

---

(۱) (کتاب الرقاق، باب کیف الحشر: ۲/۹۶۶

حصې برابر شي او په دريمه مرحله كښې به د دريمې نه نيمى حصې پورې شي (١)- د ترمذى په يو روايت كښې راځي چه په جنت كښې به شپږ شلې صفونه وى په دې كښې به اتيا صفونه د دې امت وى او څلويښت به د باقى امتونو وى (٢)- دينه معلوميږى چه د نبى كريم ﷺ دامت شميربه جنت كښې دوه ثلث يعنې د نيم نه زيات به وى، دا به په حقيقت كښې څلورمه مرحله وى كوم كښې به چه شمير د نيم نه زيات شى او دوه ثلث ته به اورسى. حضرت كشميرى رحمه الله اوفرمائيل چه دوثلث كيدل د ترمذى په روايت سره د دې امت د فضيلت علامت ګرځولې شويدې. احناف هم د نبى كريم ﷺ په امت كښې دوه ثلث دى چه د دوى د فضيلت علامت دې. (٣)-

[٢٣٥] بَاب وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَى حَرْفٍ

شَكٍّ فَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ اطْمَأَنَّ بِهِ وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ انْقَلَبَ عَلَى وَجْهِهِ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ إِلَى قَوْلِهِ ذَلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ أَتْرَفْنَاهُمْ وَسَّعْنَاهُمْ

[٤٤٦٥] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي حَصِينٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَى حَرْفٍ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ يَقْدَمُ الْمَدِينَةَ فَإِنْ وَلَدَتْ امْرَأَتُهُ غُلَامًا وَنُتِجَتْ خَيْلُهُ قَالَ هَذَا دِينٌ صَالِحٌ وَإِنْ لَمْ تَلِدْ امْرَأَتُهُ وَلَمْ تُنْتَجْ خَيْلُهُ قَالَ هَذَا دِينُ سُوءٍ

قوله: أَتْرَفْنَاهُمْ وَسَّعْنَاهُمْ: دا په سورة حج كښې نشته بلكه سورة مؤمنون كښې دى "وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِلِقَاءِ الْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا" دې كښې اترفناهم معنى بيان شويده مونږ هغوى ته د دنيا په ژوند كښې وسعت او د عيش فراخى وركړيده، دا لفظ د كاتب د سهو نه دلته راغلې دې. (٤)-

قوله: عَلَى حَرْفٍ: شَكٍّ: آيت كښې دى "وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَى حَرْفٍ" اوپه خلقو كښې بعض هغه دى چه د الله تعالى عبادت كوى په شك سره، "حرف" غاړې ته وائى او امام د دې تشريح شك سره كړيده، علامه احمدعثمانى رحمه الله فرمائى: "يعنى بعض كسان صرف د دنيا په غرض دين اختياروى اود هغوى زړه مذبذب وى، كه په دين كښې داخل شى اود دنيا خيګړه اووينى نو په ښكاره په بندګئى قائم وى او چه تكليف بيامومى نو پريږدى، يوخوادنيالاړه او بل خوا دين لاړ، په غاړه ولاړ دې يعنى زړه ئى تراوسه پورې نه اخوا دې او نه ديخوا، لكه چه څوك د كور په غاړه ولاړ وى كله چه غواړى نو اوځى اوتختى."

---

(١) (فيض البارى: ٤/٢٠٩
(٢) (فيض البارى: ٤/٢٠٩
(٣) (فيض البارى: ٤/٢٠٩
(٤) (عمدة القارى: ١٩/٦٩

[۲۳۶] بَاب هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ

[۴۴۶۶] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا أَبُو هَاشِمٍ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يُقْسِمُ قَسَمًا إِنَّ هَذِهِ الْآيَةَ هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ نَزَلَتْ فِي حَمْزَةَ وَصَاحِبَيْهِ وَعُتْبَةَ وَصَاحِبَيْهِ يَوْمَ بَرَزُوا فِي يَوْمِ بَدْرٍ رَوَاهُ سُفْيَانُ عَنْ أَبِي هَاشِمٍ وَقَالَ عُثْمَانُ عَنْ جَرِيرٍ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي هَاشِمٍ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ قَوْلَهُ

[۴۴۶۷] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَنَا أَوَّلُ مَنْ يَجْثُو بَيْنَ يَدَيِ الرَّحْمَنِ لِلْخُصُومَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ قَيْسٌ وَفِيهِمْ نَزَلَتْ هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ قَالَ هُمُ الَّذِينَ بَارَزُوا يَوْمَ بَدْرٍ عَلِيٌّ وَحَمْزَةُ وَعُبَيْدَةُ وَشَيْبَةُ بْنُ رَبِيعَةَ وَعُتْبَةُ بْنُ رَبِيعَةَ وَالْوَلِيدُ بْنُ عُتْبَةَ

[۲۳۷] بَاب: تفسير سُورَةُ الْمُؤْمِنُونَ

قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ سَبْعَ طَرَائِقَ سَبْعَ سَمَوَاتٍ لَهَا سَابِقُونَ سَبَقَتْ لَهُمُ السَّعَادَةُ قُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ خَائِفِينَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ بَعِيدٌ بَعِيدٌ فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ الْمَلَائِكَةَ لَنَاكِبُونَ لَعَادِلُونَ كَالِحُونَ عَابِسُونَ وَقَالَ غَيْرُهُ مِنْ سُلَالَةٍ الْوَلَدُ وَالنُّطْفَةُ السُّلَالَةُ وَالْجِنَّةُ وَالْجُنُونُ وَاحِدٌ وَالْغُثَاءُ الزَّبَدُ وَمَا ارْتَفَعَ عَنِ الْمَاءِ وَمَا لَا يُنْتَفَعُ بِهِ يَجْأَرُونَ يَرْفَعُونَ أَصْوَاتَهُمْ كَمَا تَجْأَرُ الْبَقَرَةُ عَلَى أَعْقَابِكُمْ رَجَعَ عَلَى عَقِبَيْهِ سَامِرًا مِنَ السَّمَرِ وَالْجَمِيعُ السُّمَّارُ وَالسَّامِرُ هَاهُنَا فِي مَوْضِعِ الْجَمْعِ تُسْحَرُونَ تَعْمَوْنَ مِنَ السِّحْرِ

سُورَةُ الْمُؤْمِنُونَ

د كلماتو تشريح:

قوله: قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ: سَبْعَ طَرَائِقَ سَبْعَ سَمَوَاتٍ: آيت كښې دى "وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَائِقَ" يعنى مونږ ستاسو دَ پاسه اووه آسمانونه جوړ كړل، په آسمان باندې دَ "طرائق" اطلاق خو يا دَ دې دپاره اوكړېشوه چه هغه دَ فرښتودَ تګ راتګ لارې دى يا دَ دې دَ پاره تطارق معنى راځى، دَ يوځيز په بل ځيز باندې كيدلوته وائى طارق النعل كله چه يوه څپلئى په بله څپلئى باندې كيخوديشوې وى، نوآسمانونه هم دَ يو بل دَ پاسه دى دَ دې دَ پاره دې ته سبع طرائق سره تعبير كړېشو. (۱)-

قوله: لَهَا سَابِقُونَ: سَبَقَتْ لَهُمُ السَّعَادَةُ: "أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ" يعنى دَ

(۱) (عمدة القارى:۱۹/ ۷۰ والكشاف:۳/ ۱۷۹

اول نه هغوی ته دَ سعادت شرف حاصل دې، په دې بنا هغه دَ نیکو طرف ته وړاندې کیږی او وړاندیوالې کوی.

قوله: قُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ: خَائِفِينَ : "وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ" اوکوم خلق چه (د الله تعالی په لارکښې) ورکړه کوی، او چه څه ورکوی نو د هغوی زړه د دینه وریږی چه هغوی دَ خپل رب طرف ته واپس کیدونکی دی یعنی څه پته ده چه هلته به قبول شوی وی که نه، وړاندې به په کارراشی که نه، دَ الله تعالی په لارکښې خرچ کولوسره دا شك وی، په خپل عمل باندې مغروره نه وی، دَ نیکئی کولوسره ویریږی، امام فرمائی "قُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ" معنی ده دَ هغوی زړونه ویریږی.

قوله: هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ: بَعِيدٌ بَعِيدٌ : آیت کښې دی " هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ "بعید دیر بعید دې هغه خبره دَ کومې چه تاسره وعده کولې شی کافروائی چه څومره دَ عقل نه لرې خبره ده چه دَ هډوکې ذرې په خاوروکښې دَ ملاویدو نه پس به بیا دَ قبرونونه انسانان جوړیږی راپاسی به؟ داسې مهمل خبره منلوته څوك تیار دی. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی آیت کښې "هَيْهَاتَ" معنی بَعِيدٌ: لرې ده.

قوله: فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ: الْمَلَائِكَةَ : آیت کښې دی "قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ" دې کښې د عادین نه مراد د شمیر او حساب ساتلو فرښتې دی.

قوله: لَنَاكِبُونَ: لَعَادِلُونَ : "وَإِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنَاكِبُونَ" بیشکه کوم خلق چه په آخرت باندې ایمان نه لری دَ نیغې لارې نه اخواکیدونکی دی. فرمائی لناکبون معنی عادلون اخواکیدونکی دډه کونکی ده، عدل عنه دډه کول.

قوله: كَالِحُونَ: عَابِسُونَ : "تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ" دَ هغوی مخونه به اُور اوسوزوی او په دې کښې به دوی خراب او بدشکله شی. فرمائی کالحون معنی ده تریوتندی، اوران شوی شکل.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ: مِنْ سُلَالَةٍ: الْوَلَدُ، وَالنُّطْفَةُ السُّلَالَةُ : آیت کښې دی "وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِّنْ طِينٍ" فرمائی چه ولد او نطفې ته سلالة وائی، پورته عبارت کښې "الولد" دَ سلالة تفسیر نه دې بلکه "الولد" او "النطفة" معطوف معطوف علیه یوځائ شوی مبتدا دی او السلالة خبر دې، ولد دَ مور دَ رحم نه په رابنکلوراخی، په دې وجه دیته سلاله وائی. نطفه هم دَ شانه رابنکلې کیږی راخی نو په دې وجه په دې باندې هم دَ سلاله اطلاق کیږی. سل الشئی—سلا: رابنکل، سلالة هغه څیز چه دَ بل څیز نه رابنکلې شوې وی، نچوړشوې وی.

خلاصه او نچوړ (١)-

قوله: وَالْجِنَّةُ وَالْجُنُونُ وَاحِدٌ: آيت كښې دى "أَمْ يَقُولُونَ بِهِ جِنَّةٌ" فرمائى چه جنة او جنون دواړو يوه معنى ده.

قوله: وَالْغُثَاءُ: الزَّبَدُ، وَمَا ارْتَفَعَ عَنِ الْمَاءِ، وَمَا لَا يُنْتَفَعُ بِهِ: آيت كښې دى "فَجَعَلْنٰهُمْ غُثَآءً فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ" غثاء معنى زګ ده يعنى هغه څيزچه د اوبو د پاسه اوچتيږى او د كوم نه چه هيڅ فائده نشى حاصلولې.

[٢٣٨] باب: تفسير سُورَةُ النُّورِ

مِنْ خِلَالِهِ مِنْ بَيْنِ أَضْعَافِ السَّحَابِ سَنَا بَرْقِهِ وَهُوَ الضِّيَاءُ مُذْعِنِينَ يُقَالُ لِلْمُسْتَخْذِي مُذْعِنٌ أَشْتَاتًا وَشَتَّى وَشَتَاتٌ وَشَتٌّ وَاحِدٌ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا بَيَّنَّاهَا وَقَالَ غَيْرُهُ سُمِّيَ الْقُرْآنُ لِجَمَاعَةِ السُّوَرِ وَسُمِّيَتِ السُّورَةُ لِأَنَّهَا مَقْطُوعَةٌ مِنَ الْأُخْرَى فَلَمَّا قُرِنَ بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ سُمِّيَ قُرْآنًا وَقَالَ سَعْدُ بْنُ عِيَاضٍ الثُّمَالِيُّ الْمِشْكَاةُ الْكُوَّةُ بِلِسَانِ الْحَبَشَةِ وَقَوْلُهُ تَعَالَى إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ تَأْلِيفَ بَعْضِهِ إِلَى بَعْضٍ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ فَإِذَا جَمَعْنَاهُ وَأَلَّفْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ أَيْ مَا جُمِعَ فِيهِ فَاعْمَلْ بِمَا أَمَرَكَ وَانْتَهِ عَمَّا نَهَاكَ اللَّهُ وَيُقَالُ لَيْسَ لِشِعْرِهِ قُرْآنٌ أَيْ تَأْلِيفٌ وَسُمِّيَ الْفُرْقَانَ لِأَنَّهُ يُفَرِّقُ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ وَيُقَالُ لِلْمَرْأَةِ مَا قَرَأَتْ بِسَلًا قَطُّ أَيْ لَمْ تَجْمَعْ فِي بَطْنِهَا وَلَدًا وَيُقَالُ فِي فَرَّضْنَاهَا أَنْزَلْنَا فِيهَا فَرَائِضَ مُخْتَلِفَةً وَمَنْ قَرَأَ فَرَضْنَاهَا يَقُولُ فَرَضْنَا عَلَيْكُمْ وَعَلَى مَنْ بَعْدَكُمْ وَقَالَ مُجَاهِدٌ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا لَمْ يَدْرُوا لِمَا بِهِمْ مِنَ الصِّغَرِ وَقَالَ الشَّعْبِيُّ أُولِي الْإِرْبَةِ مَنْ لَيْسَ لَهُ أَرَبٌ وَقَالَ طَاوُسٌ هُوَ الْأَحْمَقُ الَّذِي لَا حَاجَةَ لَهُ فِي النِّسَاءِ وَقَالَ مُجَاهِدٌ لَا يُهِمُّهُ إِلَّا بَطْنُهُ وَلَا يَخَافُ عَلَى النِّسَاءِ

سُورَةُ النُّورِ

د كلماتو تشريح:

قوله: مِنْ خِلَالِهِ: مِنْ بَيْنِ أَضْعَافِ السَّحَابِ: آيت كښې دى "فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ" يعنى ته به اووينې باران چه د اوريځو مينځ به به راوځى خلال د خلل جمع ده، مينځ او د دوو څيزونو په مينځ كښې خالى ځائ ته وائى، ابوعبيده تفسير "مِنْ بَيْنِ أَضْعَافِ السَّحَابِ" قط په قط د اوريځو مينځ نه باران راوځى.

قوله: سَنَا بَرْقِهِ: الضِّيَاءُ: "يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ يَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ" د دې اوريځ د بجلئ د ړڼا حالت دا

---

(١)(عمدة القارى:١٩/٧١، والمردات فى غريب القرآن:٢٣٧

دي چه داسې ښکارې لکه چه اوس به درنه نظر يوسې. فرمائي چه "سنابرقه" معنى ده رڼا، برق.

قوله: الْمِشْكَاةُ الْكُوَّةُ بِلِسَانِ الْحَبَشَةِ: "مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ" دَ دې دَ رڼا مثال دَ هغه طاخ په شان دې کوم کښې چه يوه ډيوه ايخودې شوې وي. فرمائي "مشكاة" معنى په حبشي ژبه کښې روشندان او طاخ ده.

قوله: مُذْعِنِينَ: يُقَالُ لِلْمُسْتَخْذِي مُذْعِنٌ: آيت کښې دی "وَإِنْ يَكُنْ لَهُمُ الْحَقُّ يَأْتُوا إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ" يعنى كه دَ دې منافقانو که په چا باندې حق وتلې نو سخ ښکته به تاله فيصلې کولو دَ پاره راتلل، دوی ته خو پته ده چه فيصله به په عدل او انصاف سره زمونږ په حق کښې وی او چه کله دوی په ناحقه وی‌نود فيصلې دَ پاره تاله نه راځی او پوهيږی چه هلته دَ چا رعايت به نه وی. فيصله به دَ حق برابره وی نو دوی به ناکامه وی. عاجزی او اطاعت کونکوته "مستخذى" يعنى مذعن وائى.

قوله: أَشْتَاتًا: وَشَتَّى وَشَتَاتٌ وَشَتٌّ وَاحِدٌ: آيت کښې دی "لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا" يعنى په تاسو باندې هيڅ ګناه نشته كه غواړئى نو يو ځائ اوخورئى او يا جدا جدا، امام بخارى رحمه الله دَ ابوعبيده په اتباع کښې فرمائى چه أَشْتَاتًا وَشَتَّى وَشَتَاتٌ وَشَتٌّ دَ څلورووارو معنى يوه ده خو نورحضرات فرمائى اشتات جمع ده، اودَ دې مفرد شت دې.(1) -دَ ابوعبيده دَ کلام نه دا تاثر ملاويږی چه اشتات، شت جمع نه ده بلکه شت معنى کښې مستقل لفظ دې.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا: بَيَّنَّاهَا: په عامونسخوکښې داشان دی، قاضى عياض رحمه الله وئيلی دی چه صحيح عبارت دا دې. "انزلناها وفرضناها" بيناها- بيناها: فرضناها تفسيردې. انزلناها تفسيرنه دې. دَ طبرى دَ روايت نه دَ قاضى عياض دَ قول تائيدکيږی (2)- طبرى دَ على ابن ابى طلحه طريق نه ابن عباس رضي الله عنهما قول نقل کړيدې "فرضناها يقول: بيناها"(3)-

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ: سُمِّيَ الْقُرْآنُ لِجَمَاعَةِ السُّوَرِ، وَسُمِّيَتِ السُّورَةُ، لِأَنَّهَا مَقْطُوعَةٌ مِنَ الْأُخْرَى فَلَمَّا قُرِنَ بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ، سُمِّيَ قُرْآنًا: دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما غير يعنى ابوعبيده وئيلی دی قران ته قران په دې وجه وائى چه دَ قرآن معنى دَ جمع کولو دی، او په قرآن کښې سورتونه راجمع کړيشوی دی نو څکه دې ته قرآن وائى. او سورة ته سورة په

(1)(فتح البارى:۸/٤٤٧)

(2)(فتح البارى: ۸/٤٤٧)

(3)(فتح البارى:۸/٤٤٧)

دي وجه وائي چه دَ "سورة" نه ماخوذ دي او "سورٌ بقية الشئ" ته وائي "بقية الشئ" نه جدا وي، ځكه سورة د بل سورة نه جدا وي. كله چه بعضې سورتونه دَ نورو بعضو سورتونو سره يو ځائ كړې شو نو دَ هغې نوم قرآن كيخودې شو.

قوله: وَقَوْلُهُ تَعَالَى: إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ: تَأْلِيفَ بَعْضِهِ إِلَى بَعْضٍ: سورة قيامه دا آيت هم "قرآن" په معنى د بعضو حصو بعضو سره ملاوول دى.

قوله: وَيُقَالُ: لَيْسَ لِشِعْرِهِ قُرْآنٌ، أَيْ تَأْلِيفٌ: كله چه دَ چا اشعار دَ چا په مجموعه كښې نه وى جمع شوى نو وئيلى كيږى چه د هغه د اشعاروَ پاره قرآن نشته يعنى هغه نه دى جمع شوى.

قوله: وَيُقَالُ لِلْمَرْأَةِ: مَا قَرَأَتْ بِسَلًا قَطُّ، أَيْ لَمْ تَجْمَعْ فِي بَطْنِهَا وَلَدًا: دَ ښځې متعلق وينا ده ماقرأت بسلاقط يعنى هغې په خپله خيټه كښې بچې نه دې جمع كړې. په دې كښې دې خبرې ته اشاره ده چه قران دَ قراء نه هم مشتق كيدې شى، قرأ معنى هم دَ جمع كولو راځى.

قوله: أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا: لَمْ يَدْرُوا لِمَا بِهِمْ مِنَ الصِّغَرِ: آيت كښې دى "أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ" يا په داسې هلكانو باندې چه دَ ښځو دَ پردې دَ خبرونه لاتراوسه خبرنه دى (يعنى داسې نابالغه ماشومان كوم چه د شهوت نه خبرنه دى دَهغوى نشته) امام فرمائى چه لم يظهروا معنى ده هغوى دَ ماشوم والى په وجه نه پيژنى.

[۲۳۹] بَاب قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ

[۴۴۶۸] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي الزُّهْرِيُّ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ عُوَيْمِرًا أَتَى عَاصِمَ بْنَ عَدِيٍّ وَكَانَ سَيِّدَ بَنِي عَجْلَانَ فَقَالَ كَيْفَ تَقُولُونَ فِي رَجُلٍ وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ أَمْ كَيْفَ يَصْنَعُ سَلْ لِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ فَأَتَى عَاصِمٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَكَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسَائِلَ فَسَأَلَهُ عُوَيْمِرٌ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَرِهَ الْمَسَائِلَ وَعَابَهَا قَالَ عُوَيْمِرٌ وَاللَّهِ لَا أَنْتَهِي حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ فَجَاءَ عُوَيْمِرٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ رَجُلٌ وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ أَمْ كَيْفَ يَصْنَعُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَنْزَلَ اللَّهُ الْقُرْآنَ فِيكَ وَفِي صَاحِبَتِكَ فَأَمَرَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمُلَاعَنَةِ بِمَا سَمَّى اللَّهُ فِي كِتَابِهِ فَلَاعَنَهَا ثُمَّ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ حَبَسْتُهَا فَقَدْ ظَلَمْتُهَا فَطَلَّقَهَا فَكَانَتْ سُنَّةً لِمَنْ كَانَ بَعْدَهُمَا فِي الْمُتَلَاعِنَيْنِ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْظُرُوا فَإِنْ

جَاءَتْ بِهِ أَسْحَمَ أَدْعَجَ الْعَيْنَيْنِ عَظِيمَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَلَا أَحْسِبُ عُوَيْمِرًا إِلَّا قَدْ صَدَقَ عَلَيْهَا وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أُحَيْمِرَ كَأَنَّهُ وَحَرَةٌ فَلَا أَحْسِبُ عُوَيْمِرًا إِلَّا قَدْ كَذَبَ عَلَيْهَا فَجَاءَتْ بِهِ عَلَى النَّعْتِ الَّذِي نَعَتَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ تَصْدِيقِ عُوَيْمِرٍ فَكَانَ بَعْدُ يُنْسَبُ إِلَى أُمِّهِ

[۲۴۰] بَاب وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَةَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ

[۴۴۶۹] حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ أَبُو الرَّبِيعِ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ رَجُلًا رَأَى مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ أَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ فِيهِمَا مَا ذُكِرَ فِي الْقُرْآنِ مِنَ التَّلَاعُنِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قُضِيَ فِيكَ وَفِي امْرَأَتِكَ قَالَ فَتَلَاعَنَا وَأَنَا شَاهِدٌ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَارَقَهَا فَكَانَتْ سُنَّةً أَنْ يُفَرَّقَ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ وَكَانَتْ حَامِلًا فَأَنْكَرَ حَمْلَهَا وَكَانَ ابْنُهَا يُدْعَى إِلَيْهَا ثُمَّ جَرَتِ السُّنَّةُ فِي الْمِيرَاثِ أَنْ يَرِثَهَا وَتَرِثَ مِنْهُ مَا فَرَضَ اللَّهُ لَهَا

[۲۴۱] بَاب وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ

[۴۴۷۰] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ قَذَفَ امْرَأَتَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرِيكِ ابْنِ سَحْمَاءَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيِّنَةَ أَوْ حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِذَا رَأَى أَحَدُنَا عَلَى امْرَأَتِهِ رَجُلًا يَنْطَلِقُ يَلْتَمِسُ الْبَيِّنَةَ فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْبَيِّنَةَ وَإِلَّا حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ فَقَالَ هِلَالٌ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنِّي لَصَادِقٌ فَلَيُنْزِلَنَّ اللَّهُ مَا يُبَرِّئُ ظَهْرِي مِنَ الْحَدِّ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ فَقَرَأَ حَتَّى بَلَغَ إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ فَانْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا فَجَاءَ هِلَالٌ فَشَهِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ ثُمَّ قَامَتْ فَشَهِدَتْ فَلَمَّا كَانَتْ عِنْدَ الْخَامِسَةِ وَقَّفُوهَا وَقَالُوا إِنَّهَا مُوجِبَةٌ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَتَلَكَّأَتْ وَنَكَصَتْ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهَا تَرْجِعُ ثُمَّ قَالَتْ لَا أَفْضَحُ قَوْمِي سَائِرَ الْيَوْمِ فَمَضَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْصِرُوهَا فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَكْحَلَ الْعَيْنَيْنِ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَهُوَ لِشَرِيكِ ابْنِ سَحْمَاءَ فَجَاءَتْ بِهِ كَذَلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا مَا مَضَى مِنْ كِتَابِ اللَّهِ لَكَانَ لِي وَلَهَا شَأْنٌ

د لعان ایتونه دچا متعلق نازل شوی؟: دلته دا اشکال کیږی چه دَدې نه اول حضرت سهل بن ساعد رضی الله عنه دَ روایت نه معلومیږی چه دَ لعان آیت دَ حضرت عویمرعجلانی متعلق نازل شوی دی او حضرت ابن عباس رضی الله عنه دَ روایت نه معلومیږی چه حضرت هلال ابن امیه باره کښې نازل شویدې. بعضو وئیلی دی چه مذکوره آیات حضرت عویمر رضی الله عنه باره کښې نازل شویدې او بعضودې خبرې ته ترجیح ورکړیده چه دا دَ حضرت هلال بن امیه متعلق نازل شویدې.

علامه قرطبی رحمه الله میلان دې طرف ته معلومیږی چه دَ دې نزول دوه ځل اوشو لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائیل چه دَ لعان دَ آیت نازلیدل خو په حقیقت کښې حضرت هلال ابن امیه دَ قصې متعلق دې. البته روستو دَ حضرت عویمر رضی الله عنه سره هم داسې واقعه پیښه شویده په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ ذکر شوی آیت فیصله هغه ته هم اولوستله او واوروله، دَ دې تائیددې خبرې نه هم کیږی چه دَ حضرت هلال په قصه کښې دَ حدیث الفاظ دی "فنزل جبریل" ولې دَ حضرت عویمر رضی الله عنه په واقعه کښې دَ حدیث الفاظ دی "قدانزل الله فیك" دَ کوم مطلب چه دا دې تا سره پیښه شوې واقعې غوندې په یوې واقعه کښې دَدې حکم نازل شویدې.(1)

دَ لعان متعلق نور بحث به انشاء الله وړاندې باب اللعان کښې راځی، دلته دَ آیت متعلق شیخ الاسلام مولانا شبیراحمدعثمانی تفسیری حاشیه نقل کولې شی، علامه لیکی: "چه په خپله ښځه دَ زناتهمت اولګوی، اولاً به دَ دې نه څلور ګواه غوښتلې شی که پیش کړیشی نو په ښځه به دَ زنا حد جاری کولې شی او که ګواه رانه وړیشی نوهغه ته به وئیلی شی چه څلور ځل به قسم اوخوری او بیان به کوی چه هغه پخپله دې دعوی کښې ربښتونې دې (یعنی کوم تهمت چه هغه په خپله ښځه لګولې دې په هغې کښې دې دروغ نه وائی) نو لکه دَ څلورو ګواهانوپه ځائ پخپله دَ ده څلور حلفیه شهادتونه شو او په آخرکښې به په پنځم ځل دا الفاظ وائی که هغه په خپله دې دعوی کښې دروغژن وی نو په ده دَ الله لعنت او غضب، که دَ ذکر شوی الفاظو وئیلو نه انکار اوکړی نو قیدکولې به شی او حاکم به دې مجبوروی چه یا خودَ خپلودروغوئیلو اقرار اوکړی نو قذف حدبه اولګی او یا پنځه ځل هغه الفاظ اووائی چه پورته ذکر شو نو بیا به ښځې ته وئیلې شی چه څلورځل دې قسم اوخوری او بیان دې اوکړی چه دا سړې په تهمت لګولوکښې درغژن دې او په پنځم ځل دا الفاظ اووائی چه دَ الله تعالی غضب دې وی په دې ښځه که دا سړې په خپله دعوی کښې ربښتونې وی، چه ترکومې پورې دا ښځه دا الفاظ اونه وائی ترهغه وخته پورې به په قیدکښې وی او مجبورولې به شی چه یا خوصفا دَ سړی دَ عوی تصدیق اوکړی نو بیا به په دې دَ زناحدجاری کولې شی او یا دې په ذکر شوی الفاظودَ ده تکذیب اوکړی که هغې هم دَ سړی په شان الفاظ اووئیل او دَ لعان نه فارغه شوه نو دې ښځې سره صحبت او دواعی صحبت ټول حرام شو. بیا که سړی دیته طلاق ورکړو نوډیره ښه ده ګنی قاضی به په دواړو کښې

(1)(فتح الباری:۸/ ۴۵۰)

جدائی اوکړی. که دواړه رضامند نه وی یعنی په ژبه سره اووائی چه ما په دوی کښې جدا والې اوکړو نو دا جداوالې به د طلاق بائن په حکم کښې وی" (١)-
د دې آیاتونو د نازلیدلو متعلق ابن جریر، ابن ابی حاتم او ابن حبان رائې ده چه په شعبان سنه ٩هجری کښې دا نازل شوی دی، حافظ ابن حجر رحمه الله په نیزد راجح دا دی چه د دې آیاتونو نازلیدل د غزوه تبوك نه پس په کال ١٠هجری کښې شوی دی (٢)-
د باب حدیث نه دا معلومه شوه چه د لعان نه پس دې حمل نه کوم بچې پیدا شو هغه به د دې د خاوند طرف ته نه منسوب کیږی بلکه د هغه نسبت به د هغه مورطرف ته کیږی، نبی کریم ﷺ د حضرت عویمر عجلانی رضی الله عنه اوهلال بن امیه رضی الله عنه متعلق همدغه فیصله اوفرمائیله.

[٢٤٢] بَابُ قَوْلِهِ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ

[٤٤٧١] حَدَّثَنَا مُقَدَّمُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى حَدَّثَنَا عَمِّي الْقَاسِمُ بْنُ يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ وَقَدْ سَمِعَ مِنْهُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَجُلًا رَمَى امْرَأَتَهُ فَانْتَفَى مِنْ وَلَدِهَا فِي زَمَانِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ بِهِمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَلَاعَنَا كَمَا قَالَ اللَّهُ ثُمَّ قَضَى بِالْوَلَدِ لِلْمَرْأَةِ وَفَرَّقَ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ

[٢٤٣] بَابُ إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ

لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَكُمْ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ مَا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ وَالَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ أَفَّاكٌ كَذَّابٌ

[٤٤٧٢] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَالَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ قَالَتْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ

[٢٤٤] بَابُ لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا

وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ ۝ لَوْلَا جَاءُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ ۝

[٤٤٧٣] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ وَسَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ وَعَلْقَمَةُ بْنُ وَقَّاصٍ وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ عَنْ حَدِيثِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَالَ لَهَا أَهْلُ الْإِفْكِ مَا قَالُوا فَبَرَّأَهَا اللَّهُ مِمَّا قَالُوا وَكُلٌّ حَدَّثَنِي طَائِفَةً مِنَ الْحَدِيثِ وَبَعْضُ حَدِيثِهِمْ يُصَدِّقُ بَعْضًا وَإِنْ كَانَ بَعْضُهُمْ أَوْعَى لَهُ مِنْ بَعْضٍ الَّذِي حَدَّثَنِي عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ

---

(١) تفسیر عثمانی: ٤٦٧ فائده نمبر ١
(٢) فتح الباری: ٣٩٧/٩ وتکملة فتح الملهم: ٢٣٤/١

رضي الله عنها أن عائشة رضي الله عنها زوج النبي صلى الله عليه وسلم قالت كان
رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا أراد أن يخرج أقرع بين أزواجه فأيتهن خرج سهمها خرج بها
رسول الله صلى الله عليه وسلم معه قالت عائشة فأقرع بيننا في غزوة غزاها فخرج سهمي
فخرجت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم بعد ما نزل الحجاب فأنا أحمل في هودجي
وأنزل فيه فسرنا حتى إذا فرغ رسول الله صلى الله عليه وسلم من غزوته تلك وقفل ودنونا
من المدينة قافلين آذن ليلة بالرحيل فقمت حين آذنوا بالرحيل فمشيت حتى جاوزت
الجيش فلما قضيت شأني أقبلت إلى رحلي فإذا عقد لي من جزع ظفار قد انقطع فالتمست
عقدي وحبسني ابتغاؤه وأقبل الرهط الذين كانوا يرحلون لي فاحتملوا هودجي فرحلوه
على بعيري الذي كنت ركبت وهم يحسبون أني فيه وكان النساء إذ ذاك خفافا لم
يثقلهن اللحم إنما تأكل العلقة من الطعام فلم يستنكر القوم خفة الهودج حين رفعوه
وكنت جارية حديثة السن فبعثوا الجمل وساروا فوجدت عقدي بعد ما استمر الجيش فجئت
منازلهم وليس بها داع ولا مجيب فأممت منزلي الذي كنت به وظننت أنهم سيفقدوني
فيرجعون إلي فبينا أنا جالسة في منزلي غلبتني عيني فنمت وكان صفوان بن
المعطل السلمي ثم الذكواني من وراء الجيش فأدلج فأصبح عند منزلي فرأى سواد إنسان
نائم فأتاني فعرفني حين رآني وكان رآني قبل الحجاب فاستيقظت باسترجاعه حين
عرفني فخمرت وجهي بجلبابي والله ما كلمني كلمة ولا سمعت منه كلمة غير استرجاعه
حتى أناخ راحلته فوطئ على يديها فركبتها فانطلق يقود بي الراحلة حتى أتينا الجيش
بعد ما نزلوا موغرين في نحر الظهيرة فهلك من هلك وكان الذي تولى الإفك عبد الله بن
أبي ابن سلول فقدمنا المدينة فاشتكيت حين قدمت شهرا والناس يفيضون في قول
أصحاب الإفك لا أشعر بشيء من ذلك وهو يريبني في وجعي أني لا أعرف من رسول الله
صلى الله عليه وسلم اللطف الذي كنت أرى منه حين أشتكي إنما يدخل علي رسول
الله صلى الله عليه وسلم فيسلم ثم يقول كيف تيكم ثم ينصرف فذاك الذي يريبني ولا أشعر
بالشر حتى خرجت بعد ما نقهت فخرجت معي أم مسطح قبل المناصع وهو متبرزنا وكنا لا نخرج
إلا ليلا إلى ليل وذلك قبل أن نتخذ الكنف قريبا من بيوتنا وأمرنا أمر العرب الأول في
التبرز قبل الغائط فكنا نتأذى بالكنف أن نتخذها عند بيوتنا فانطلقت أنا وأم مسطح وهي
ابنة أبي رهم بن عبد مناف وأمها بنت صخر بن عامر خالة أبي بكر الصديق وابنها مسطح
بن أثاثة فأقبلت أنا وأم مسطح قبل بيتي وقد فرغنا من شأننا فعثرت أم مسطح في مرطها
فقالت تعس مسطح فقلت لها بئس ما قلت أتسبين رجلا شهد بدرا قالت أي هنتاه أولم
تسمعي ما قال قالت قلت وما قال فأخبرتني بقول أهل الإفك فازددت مرضا على

مَرَضِي فَلَمَّا رَجَعْتُ إِلَى بَيْتِي وَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعْنِي سَلَّمَ ثُمَّ
قَالَ كَيْفَ تِيكُمْ فَقُلْتُ أَتَأْذَنُ لِي أَنْ آتِيَ أَبَوَيَّ قَالَتْ وَأَنَا حِينَئِذٍ أُرِيدُ أَنْ أَسْتَيْقِنَ الْخَبَرَ
مِنْ قِبَلِهِمَا قَالَتْ فَأَذِنَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْتُ أَبَوَيَّ فَقُلْتُ لِأُمِّي يَا أُمَّتَاهُ
مَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ قَالَتْ يَا بُنَيَّةُ هَوِّنِي عَلَيْكِ فَوَاللَّهِ لَقَلَّمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ قَطُّ وَضِيئَةٌ عِنْدَ رَجُلٍ
يُحِبُّهَا وَلَهَا ضَرَائِرُ إِلَّا كَثَّرْنَ عَلَيْهَا قَالَتْ فَقُلْتُ سُبْحَانَ اللَّهِ أَوَلَقَدْ تَحَدَّثَ النَّاسُ بِهَذَا قَالَتْ
فَبَكَيْتُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ حَتَّى أَصْبَحْتُ لَا يَرْقَأُ لِي دَمْعٌ وَلَا أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ حَتَّى أَصْبَحْتُ أَبْكِي فَدَعَا
رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَأُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا
حِينَ اسْتَلْبَثَ الْوَحْيُ يَسْتَأْمِرُهُمَا فِي فِرَاقِ أَهْلِهِ قَالَتْ فَأَمَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ فَأَشَارَ عَلَى رَسُولِ
اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالَّذِي يَعْلَمُ مِنْ بَرَاءَةِ أَهْلِهِ وَبِالَّذِي يَعْلَمُ لَهُمْ فِي نَفْسِهِ مِنَ الْوُدِّ فَقَالَ
يَا رَسُولَ اللَّهِ أَهْلَكَ وَلَا نَعْلَمُ إِلَّا خَيْرًا وَأَمَّا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَمْ يُضَيِّقِ
اللَّهُ عَلَيْكَ وَالنِّسَاءُ سِوَاهَا كَثِيرٌ وَإِنْ تَسْأَلِ الْجَارِيَةَ تَصْدُقْكَ قَالَتْ فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَرِيرَةَ فَقَالَ أَيْ بَرِيرَةُ هَلْ رَأَيْتِ مِنْ شَيْءٍ يَرِيبُكِ قَالَتْ بَرِيرَةُ لَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ
إِنْ رَأَيْتُ عَلَيْهَا أَمْرًا أَغْمِصُهُ عَلَيْهَا أَكْثَرَ مِنْ أَنَّهَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ تَنَامُ عَنْ عَجِينِ أَهْلِهَا
فَتَأْتِي الدَّاجِنُ فَتَأْكُلُهُ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَعْذَرَ يَوْمَئِذٍ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ
بْنِ أُبَيٍّ ابْنِ سَلُولَ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَا مَعْشَرَ
الْمُسْلِمِينَ مَنْ يَعْذِرُنِي مِنْ رَجُلٍ قَدْ بَلَغَنِي أَذَاهُ فِي أَهْلِ بَيْتِي فَوَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَى
أَهْلِي إِلَّا خَيْرًا وَلَقَدْ ذَكَرُوا رَجُلًا مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ إِلَّا خَيْرًا وَمَا كَانَ يَدْخُلُ عَلَى أَهْلِي إِلَّا مَعِي
فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ الْأَنْصَارِيُّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَا أَعْذِرُكَ مِنْهُ إِنْ كَانَ مِنَ الْأَوْسِ
ضَرَبْتُ عُنُقَهُ وَإِنْ كَانَ مِنْ إِخْوَانِنَا مِنَ الْخَزْرَجِ أَمَرْتَنَا فَفَعَلْنَا أَمْرَكَ قَالَتْ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ
عُبَادَةَ وَهُوَ سَيِّدُ الْخَزْرَجِ وَكَانَ قَبْلَ ذَلِكَ رَجُلًا صَالِحًا وَلَكِنِ احْتَمَلَتْهُ الْحَمِيَّةُ فَقَالَ لِسَعْدٍ
كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللَّهِ لَا تَقْتُلُهُ وَلَا تَقْدِرُ عَلَى قَتْلِهِ فَقَامَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَهُوَ ابْنُ عَمِّ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ
فَقَالَ لِسَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللَّهِ لَنَقْتُلَنَّهُ فَإِنَّكَ مُنَافِقٌ تُجَادِلُ عَنِ الْمُنَافِقِينَ
فَتَثَاوَرَ الْحَيَّانِ الْأَوْسُ وَالْخَزْرَجُ حَتَّى هَمُّوا أَنْ يَقْتَتِلُوا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمٌ
عَلَى الْمِنْبَرِ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّضُهُمْ حَتَّى سَكَتُوا وَسَكَتَ قَالَتْ
فَبَكَيْتُ يَوْمِي ذَلِكَ لَا يَرْقَأُ لِي دَمْعٌ وَلَا أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ قَالَتْ فَأَصْبَحَ أَبَوَايَ عِنْدِي وَقَدْ بَكَيْتُ
لَيْلَتَيْنِ وَيَوْمًا لَا أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ وَلَا يَرْقَأُ لِي دَمْعٌ يَظُنَّانِ أَنَّ الْبُكَاءَ فَالِقٌ كَبِدِي قَالَتْ
فَبَيْنَمَا هُمَا جَالِسَانِ عِنْدِي وَأَنَا أَبْكِي فَاسْتَأْذَنَتْ عَلَيَّ امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَأَذِنْتُ لَهَا فَجَلَسَتْ
تَبْكِي مَعِي قَالَتْ فَبَيْنَا نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ
ثُمَّ جَلَسَ قَالَتْ وَلَمْ يَجْلِسْ عِنْدِي مُنْذُ قِيلَ مَا قِيلَ قَبْلَهَا وَقَدْ لَبِثَ شَهْرًا لَا يُوحَى إِلَيْهِ فِي

شأني قالت فتشهد رسول الله صلى الله عليه وسلم حين جلس ثم قال أما بعد يا عائشة فإنه قد بلغني عنك كذا وكذا فإن كنت بريئة فسيبرئك الله وإن كنت ألممت بذنب فاستغفري الله وتوبي إليه فإن العبد إذا اعترف بذنبه ثم تاب إلى الله تاب الله عليه قالت فلما قضى رسول الله صلى الله عليه وسلم مقالته قلص دمعي حتى ما أحس منه قطرة فقلت لأبي أجب رسول الله صلى الله عليه وسلم فيما قال قال والله ما أدري ما أقول لرسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت لأمي أجيبي رسول الله صلى الله عليه وسلم قالت ما أدري ما أقول لرسول الله صلى الله عليه وسلم قالت فقلت وأنا جارية حديثة السن لا أقرأ كثيرا من القرآن إني والله لقد علمت لقد سمعتم هذا الحديث حتى استقر في أنفسكم وصدقتم به فلئن قلت لكم إني بريئة والله يعلم أني بريئة لا تصدقوني بذلك ولئن اعترفت لكم بأمر والله يعلم أني منه بريئة لتصدقني والله ما أجد لكم مثلا إلا قول أبي يوسف قال فصبر جميل والله المستعان على ما تصفون قالت ثم تحولت فاضطجعت على فراشي قالت وأنا حينئذ أعلم أني بريئة وأن الله مبرئي ببراءتي ولكن والله ما كنت أظن أن الله منزل في شأني وحيا يتلى ولشأني في نفسي كان أحقر من أن يتكلم الله في بأمر يتلى ولكن كنت أرجو أن يرى رسول الله صلى الله عليه وسلم في النوم رؤيا يبرئني الله بها قالت فوالله ما رام رسول الله صلى الله عليه وسلم ولا خرج أحد من أهل البيت حتى أنزل عليه فأخذه ما كان يأخذه من البرحاء حتى إنه ليتحدر منه مثل الجمان من العرق وهو في يوم شات من ثقل القول الذي ينزل عليه قالت فلما سري عن رسول الله صلى الله عليه وسلم سري عنه وهو يضحك فكانت أول كلمة تكلم بها يا عائشة أما الله عز وجل فقد برأك فقالت أمي قومي إليه قالت فقلت لا والله لا أقوم إليه ولا أحمد إلا الله عز وجل فأنزل الله عز وجل إن الذين جاءوا بالإفك عصبة منكم لا تحسبوه العشر الآيات كلها فلما أنزل الله هذا في براءتي قال أبو بكر الصديق رضي الله عنه وكان ينفق على مسطح بن أثاثة لقرابته منه وفقره والله لا أنفق على مسطح شيئا أبدا بعد الذي قال لعائشة ما قال فأنزل الله ولا يأتل أولو الفضل منكم والسعة أن يؤتوا أولي القربى والمساكين والمهاجرين في سبيل الله وليعفوا وليصفحوا ألا تحبون أن يغفر الله لكم والله غفور رحيم قال أبو بكر بلى والله إني أحب أن يغفر الله لي فرجع إلى مسطح النفقة التي كان ينفق عليه وقال والله لا أنزعها منه أبدا قالت عائشة وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم يسأل زينب ابنة جحش عن أمري فقال يا زينب ماذا علمت أو رأيت فقالت يا رسول الله أحمي سمعي وبصري ما علمت إلا خيرا قالت وهي التي كانت تساميني من أزواج

رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَصَمَهَا اللَّهُ بِالْوَرَعِ وَطَفِقَتْ أُخْتُهَا حَمْنَةُ تُحَارِبُ لَهَا فَهَلَكَتْ فِيمَنْ هَلَكَ مِنْ أَصْحَابِ الإِفْكِ

[٢٤٥] بَاب قَوْلِهِ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ

لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ وَقَالَ مُجَاهِدٌ تَلَقَّوْنَهُ يَرْوِيهِ بَعْضُكُمْ عَنْ بَعْضٍ تُفِيضُونَ تَقُولُونَ

[٤٤٧٤] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ أُمِّ رُومَانَ أُمِّ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ لَمَّا رُمِيَتْ عَائِشَةُ خَرَّتْ مَغْشِيًّا عَلَيْهَا

[٢٤٦] بَاب إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ مَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ

وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمٌ

[٤٤٧٥] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ قَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقْرَأُ إِذْ تَلِقُونَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ

[٢٤٧] بَاب وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُمْ مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا

سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ

[٤٤٧٦] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ اسْتَأْذَنَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَبْلَ مَوْتِهَا عَلَى عَائِشَةَ وَهِيَ مَغْلُوبَةٌ قَالَتْ أَخْشَى أَنْ يُثْنِيَ عَلَيَّ فَقِيلَ ابْنُ عَمِّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمِنْ وُجُوهِ الْمُسْلِمِينَ قَالَتْ ائْذَنُوا لَهُ فَقَالَ كَيْفَ تَجِدِينَكِ قَالَتْ بِخَيْرٍ إِنْ اتَّقَيْتُ قَالَ فَأَنْتِ بِخَيْرٍ إِنْ شَاءَ اللَّهُ زَوْجَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَنْكِحْ بِكْرًا غَيْرَكِ وَنَزَلَ عُذْرُكِ مِنْ السَّمَاءِ وَدَخَلَ ابْنُ الزُّبَيْرِ خِلَافَهُ فَقَالَتْ دَخَلَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَأَثْنَى عَلَيَّ وَوَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ نِسْيًا مَنْسِيًّا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنْ الْقَاسِمِ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اسْتَأْذَنَ عَلَى عَائِشَةَ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ نِسْيًا مَنْسِيًّا

حضرت عائشه رضي الله عنها د زنکدن وخت وو، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د هغوی په خدمت کښې د حاضرئی کولو اجازت اوغوښتلو (امام احمد او ابن سعد په روایت کښې دی چه اجازت د حضرت عائشه رضي الله عنها د غلام ذکوان په ذریعه غوښتلې وو) (۱) حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل

(۱) (فتح الباری: ۴۸۳/۸

چه ماته دا اندېښنه وه چه دې راشي نو زما تعريف به کوي(او په تعريف سره په سړي کښې ځان خوښي راپيداکيږي او داوخت داسې دې چه په دې کښې سړی له د الله تعالی طرف نه متوجه کيدل پکاردي، خپل طرف ته توجه کول يوشان هم مناسب نه دی په دې وجه اجازت ورکولوکښې تشويش وو) نو اووئيلې شوچه هغه د نبی کريم ﷺ د تره خوئی دې اود اوچت شان مسلمانانونه دې په دې وجه د دوی لحاظ کول ضروري دی. حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل اجازت ورکړه. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل تاسو خپل ځان څنګه ګنړئي؟ وئې فرمائيل که په ماکښې د الله تعالی ويره وی نو بيا خو هم خير او خير دی، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د هغې تعريف شروع کړو چه انشاء الله تاسو به په خيرسره ئې ځکه چه تاسو د رسول الله ﷺ بی بی ئې، تاسو نه علاوه نبی کريم ﷺ يوې پيغلې سره نکاح نه ده کړې او ستا عذر او براءت خو د آسمان نه نازل شوې. د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د تشريف اوړلونه پس د هغوی په خدمت کښې حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنهما داخل شو نو وئې فرمائيل. "دخل ابن عباس، فاثنى علي،وددت اني كنت نسيا منسيا"ابن عباس رضي الله عنهما داخليدو سره زما تعريف اوکړوزما دا خواهش دې چه زه خو چرته هيره غونډې ووم. دې جملې نه د حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها د الله تعالی نه ويره، بې نفسي او د تقوی اوچت مقام اندازه لګيدشی. د حديث افک ترجمه او تفصيل کتاب المغازی کښې تيرشويدې. (1)-

[۲۴۸] بَاب يَعِظُكُمُ اللَّهُ أَنْ تَعُودُوا لِمِثْلِهِ أَبَدًا

[۴۴۷۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ جَاءَ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ يَسْتَأْذِنُ عَلَيْهَا قُلْتُ أَتَأْذَنِينَ لِهَذَا قَالَتْ أَوَلَيْسَ قَدْ أَصَابَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ قَالَ سُفْيَانُ تَعْنِي ذَهَابَ بَصَرِهِ فَقَالَ حَصَانٌ رَزَانٌ مَا تُزَنُّ بِرِيبَةٍ وَتُصْبِحُ غَرْثَى مِنْ لُحُومِ الْغَوَافِلِ قَالَتْ لَكِنْ أَنْتَ

[۲۴۹] بَاب وَيُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ

[۴۴۷۸] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ دَخَلَ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ عَلَى عَائِشَةَ فَشَبَّبَ وَقَالَ حَصَانٌ رَزَانٌ مَا تُزَنُّ بِرِيبَةٍ وَتُصْبِحُ غَرْثَى مِنْ لُحُومِ الْغَوَافِلِ قَالَتْ لَسْتَ كَذَاكَ قُلْتُ تَدَعِينَ مِثْلَ هَذَا يَدْخُلُ عَلَيْكِ وَقَدْ أَنْزَلَ اللَّهُ وَالَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ مِنْهُمْ فَقَالَتْ وَأَيُّ عَذَابٍ أَشَدُّ مِنَ الْعَمَى وَقَالَتْ وَقَدْ كَانَ يَرُدُّ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۲۵۰] بَاب إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ

---

(1) (كشف البارى كتاب المغازى: ۳۳۸

وَأَنَّ اللَّهَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ تَشِيعُ تَظْهَرُ وَقَوْلُهُ وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ

[٤٤٧٩] وَقَالَ أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا ذُكِرَ مِنْ شَأْنِي الَّذِي ذُكِرَ وَمَا عَلِمْتُ بِهِ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيَّ خَطِيبًا فَتَشَهَّدَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ أَشِيرُوا عَلَيَّ فِي أُنَاسٍ أَبَنُوا أَهْلِي وَايْمُ اللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَى أَهْلِي مِنْ سُوءٍ وَأَبَنُوهُمْ بِمَنْ وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ مِنْ سُوءٍ قَطُّ وَلَا يَدْخُلُ بَيْتِي قَطُّ إِلَّا وَأَنَا حَاضِرٌ وَلَا غِبْتُ فِي سَفَرٍ إِلَّا غَابَ مَعِي فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فَقَالَ ائْذَنْ لِي يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْ نَضْرِبَ أَعْنَاقَهُمْ وَقَامَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي الْخَزْرَجِ وَكَانَتْ أُمُّ حَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ مِنْ رَهْطِ ذَلِكَ الرَّجُلِ فَقَالَ كَذَبْتَ أَمَا وَاللَّهِ أَنْ لَوْ كَانُوا مِنَ الْأَوْسِ مَا أَحْبَبْتَ أَنْ تُضْرَبَ أَعْنَاقُهُمْ حَتَّى كَادَ أَنْ يَكُونَ بَيْنَ الْأَوْسِ وَالْخَزْرَجِ شَرٌّ فِي الْمَسْجِدِ وَمَا عَلِمْتُ فَلَمَّا كَانَ مَسَاءُ ذَلِكَ الْيَوْمِ خَرَجْتُ لِبَعْضِ حَاجَتِي وَمَعِي أُمُّ مِسْطَحٍ فَعَثَرَتْ وَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ فَقُلْتُ أَيْ أُمِّ تَسُبِّينَ ابْنَكِ وَسَكَتَتْ ثُمَّ عَثَرَتِ الثَّانِيَةَ فَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ فَقُلْتُ لَهَا أَيْ أُمِّ أَتَسُبِّينَ ابْنَكِ فَسَكَتَتْ ثُمَّ عَثَرَتِ الثَّالِثَةَ فَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ فَانْتَهَرْتُهَا فَقَالَتْ وَاللَّهِ مَا أَسُبُّهُ إِلَّا فِيكِ فَقُلْتُ فِي أَيِّ شَأْنِي قَالَتْ فَبَقَرَتْ لِي الْحَدِيثَ فَقُلْتُ وَقَدْ كَانَ هَذَا قَالَتْ نَعَمْ وَاللَّهِ فَرَجَعْتُ إِلَى بَيْتِي كَأَنَّ الَّذِي خَرَجْتُ لَهُ لَا أَجِدُ مِنْهُ قَلِيلًا وَلَا كَثِيرًا وَوُعِكْتُ فَقُلْتُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْسِلْنِي إِلَى بَيْتِ أَبِي فَأَرْسَلَ مَعِي الْغُلَامَ فَدَخَلْتُ الدَّارَ فَوَجَدْتُ أُمَّ رُومَانَ فِي السُّفْلِ وَأَبَا بَكْرٍ فَوْقَ الْبَيْتِ يَقْرَأُ فَقَالَتْ أُمِّي مَا جَاءَ بِكِ يَا بُنَيَّةُ فَأَخْبَرْتُهَا وَذَكَرْتُ لَهَا الْحَدِيثَ وَإِذَا هُوَ لَمْ يَبْلُغْ مِنْهَا مِثْلَ مَا بَلَغَ مِنِّي فَقَالَتْ يَا بُنَيَّةُ خَفِّفِي عَلَيْكِ الشَّأْنَ فَإِنَّهُ وَاللَّهِ لَقَلَّمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ حَسْنَاءُ عِنْدَ رَجُلٍ يُحِبُّهَا لَهَا ضَرَائِرُ إِلَّا حَسَدْنَهَا وَقِيلَ فِيهَا وَإِذَا هُوَ لَمْ يَبْلُغْ مِنْهَا مَا بَلَغَ مِنِّي قُلْتُ وَقَدْ عَلِمَ بِهِ أَبِي قَالَتْ نَعَمْ قُلْتُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ نَعَمْ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتَعْبَرْتُ وَبَكَيْتُ فَسَمِعَ أَبُو بَكْرٍ صَوْتِي وَهُوَ فَوْقَ الْبَيْتِ يَقْرَأُ فَنَزَلَ فَقَالَ لِأُمِّي مَا شَأْنُهَا قَالَتْ بَلَغَهَا الَّذِي ذُكِرَ مِنْ شَأْنِهَا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ قَالَ أَقْسَمْتُ عَلَيْكِ أَيْ بُنَيَّةُ إِلَّا رَجَعْتِ إِلَى بَيْتِكِ فَرَجَعْتُ وَلَقَدْ جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْتِي فَسَأَلَ عَنِّي خَادِمَتِي فَقَالَتْ لَا وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَيْهَا عَيْبًا إِلَّا أَنَّهَا كَانَتْ تَرْقُدُ حَتَّى تَدْخُلَ الشَّاةُ فَتَأْكُلَ خَمِيرَهَا أَوْ عَجِينَهَا وَانْتَهَرَهَا بَعْضُ أَصْحَابِهِ فَقَالَ اصْدُقِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَسْقَطُوا لَهَا بِهِ فَقَالَتْ سُبْحَانَ اللَّهِ وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَيْهَا إِلَّا مَا يَعْلَمُ الصَّائِغُ عَلَى تِبْرِ الذَّهَبِ الْأَحْمَرِ وَبَلَغَ الْأَمْرُ إِلَى ذَلِكَ الرَّجُلِ الَّذِي قِيلَ لَهُ فَقَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَاللَّهِ مَا كَشَفْتُ كَنَفَ أُنْثَى قَطُّ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُتِلَ شَهِيدًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ قَالَتْ وَأَصْبَحَ أَبَوَايَ عِنْدِي

فَلَمْ يَزَالَا حَتّٰى دَخَلَ عَلَىَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ صَلَّى الْعَصْرَ ثُمَّ دَخَلَ وَقَدْ اكْتَنَفَنِي أَبَوَايَ عَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ يَا عَائِشَةُ إِنْ كُنْتِ قَارَفْتِ سُوءًا أَوْ ظَلَمْتِ فَتُوبِي إِلَى اللّٰهِ فَإِنَّ اللّٰهَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ مِنْ عِبَادِهِ قَالَتْ وَقَدْ جَاءَتْ امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَهِيَ جَالِسَةٌ بِالْبَابِ فَقُلْتُ أَلَا تَسْتَحْيِي مِنْ هٰذِهِ الْمَرْأَةِ أَنْ تَذْكُرَ شَيْئًا فَوَعَظَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَالْتَفَتُّ إِلَى أَبِي فَقُلْتُ لَهُ أَجِبْهُ قَالَ فَمَاذَا أَقُولُ فَالْتَفَتُّ إِلَى أُمِّي فَقُلْتُ أَجِيبِيهِ فَقَالَتْ أَقُولُ مَاذَا فَلَمَّا لَمْ يُجِيبَاهُ تَشَهَّدْتُ فَحَمِدْتُ اللّٰهَ وَأَثْنَيْتُ عَلَيْهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قُلْتُ أَمَّا بَعْدُ فَوَاللّٰهِ لَئِنْ قُلْتُ لَكُمْ إِنِّي لَمْ أَفْعَلْ وَاللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ يَشْهَدُ إِنِّي لَصَادِقَةٌ مَا ذَاكَ بِنَافِعِي عِنْدَكُمْ لَقَدْ تَكَلَّمْتُمْ بِهِ وَأُشْرِبَتْهُ قُلُوبُكُمْ وَإِنْ قُلْتُ إِنِّي قَدْ فَعَلْتُ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ أَنِّي لَمْ أَفْعَلْ لَتَقُولُنَّ قَدْ بَاءَتْ بِهِ عَلَى نَفْسِهَا وَإِنِّي وَاللّٰهِ مَا أَجِدُ لِي وَلَكُمْ مَثَلًا وَالْتَمَسْتُ اسْمَ يَعْقُوبَ فَلَمْ أَقْدِرْ عَلَيْهِ إِلَّا أَبَا يُوسُفَ حِينَ قَالَ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ وَأُنْزِلَ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَاعَتِهِ فَسَكَتْنَا فَرُفِعَ عَنْهُ وَإِنِّي لَأَتَبَيَّنُ السُّرُورَ فِي وَجْهِهِ وَهُوَ يَمْسَحُ جَبِينَهُ وَيَقُولُ أَبْشِرِي يَا عَائِشَةُ فَقَدْ أَنْزَلَ اللّٰهُ بَرَاءَتَكِ قَالَتْ وَكُنْتُ أَشَدَّ مَا كُنْتُ غَضَبًا فَقَالَ لِي أَبَوَايَ قُومِي إِلَيْهِ فَقُلْتُ لَا وَاللّٰهِ لَا أَقُومُ إِلَيْهِ وَلَا أَحْمَدُهُ وَلَا أَحْمَدُكُمَا وَلٰكِنْ أَحْمَدُ اللّٰهَ الَّذِي أَنْزَلَ بَرَاءَتِي لَقَدْ سَمِعْتُمُوهُ فَمَا أَنْكَرْتُمُوهُ وَلَا غَيَّرْتُمُوهُ وَكَانَتْ عَائِشَةُ تَقُولُ أَمَّا زَيْنَبُ ابْنَةُ جَحْشٍ فَعَصَمَهَا اللّٰهُ بِدِينِهَا فَلَمْ تَقُلْ إِلَّا خَيْرًا وَأَمَّا أُخْتُهَا حَمْنَةُ فَهَلَكَتْ فِيمَنْ هَلَكَ وَكَانَ الَّذِي يَتَكَلَّمُ فِيهِ مِسْطَحٌ وَحَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ وَالْمُنَافِقُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ وَهُوَ الَّذِي كَانَ يَسْتَوْشِيهِ وَيَجْمَعُهُ وَهُوَ الَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ مِنْهُمْ هُوَ وَحَمْنَةُ قَالَتْ فَحَلَفَ أَبُو بَكْرٍ أَنْ لَا يَنْفَعَ مِسْطَحًا بِنَافِعَةٍ أَبَدًا فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ يَعْنِي أَبَا بَكْرٍ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ يَعْنِي مِسْطَحًا إِلَى قَوْلِهِ أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ وَاللّٰهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ حَتّٰى قَالَ أَبُو بَكْرٍ بَلَى وَاللّٰهِ يَا رَبَّنَا إِنَّا لَنُحِبُّ أَنْ تَغْفِرَ لَنَا وَعَادَ لَهُ بِمَا كَانَ يَصْنَعُ

[۲۵۱] بَابُ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ

[۴۴۸۰] وَقَالَ أَحْمَدُ بْنُ شَبِيبٍ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ يُونُسَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ يَرْحَمُ اللّٰهُ نِسَاءَ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلَ لَمَّا أَنْزَلَ اللّٰهُ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ شَقَقْنَ مُرُوطَهُنَّ فَاخْتَمَرْنَ بِهَا

[۴۴۸۱] حدثنا ابونعيم حدثنا ابراهيم بن نافع عن الحسن بن مسلم عن صفية بنت شيبة ان عائشة رضى الله عنها كانت تقول لما نزلت هذه الاية وليضربن بخمرهن على جيوبهن اخذن ازرهن فشققنها من قبل الحواشي فاختمرن بها

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه كله الله تعالى دا آيت نازل كړو وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ (اوخپلې لوپټې په خپلو ګريوانونو باندې واچوئى) نود مهاجرو او انصارو ښځو خپل څادرونه اوشلول او د هغې لوپټې او پړونى جوړكړل. د جهالت په زمانه كښې به ښځو په عام توګه د داسې لوپټې د استعمال رواج وو چه لوپټه به ئى په سر واچوله نو دواړه پلوونه به ئى په اوږو شاته پريخودل د څه په وجه به چه غاړه او سينه كولاؤ وه،اسلام غاړه او سينه پټولو حكم وركړو.([1]) -

[٢٥٢]باب: تفسير سُورَةُ الْفُرْقَانِ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هَبَاءً مَنْثُورًا مَا تَسْفِي بِهِ الرِّيحُ مَدَّ الظِّلَّ مَا بَيْنَ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلَى طُلُوعِ الشَّمْسِ سَاكِنًا دَائِمًا عَلَيْهِ دَلِيلًا طُلُوعُ الشَّمْسِ خِلْفَةً مَنْ فَاتَهُ مِنَ اللَّيْلِ عَمَلٌ أَدْرَكَهُ بِالنَّهَارِ أَوْفَاتَهُ بِالنَّهَارِ أَدْرَكَهُ بِاللَّيْلِ وَقَالَ الْحَسَنُ هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ فِي طَاعَةِ اللَّهِ وَمَا شَيْءٌ أَقَرَّ لِعَيْنِ الْمُؤْمِنِ مِنْ أَنْ يَرَى حَبِيبَهُ فِي طَاعَةِ اللَّهِ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ثُبُورًا وَيْلًا وَقَالَ غَيْرُهُ السَّعِيرُ مُذَكَّرٌ وَالتَّسَعُّرُ وَالاضْطِرَامُ التَّوَقُّدُ الشَّدِيدُ تُمْلَى عَلَيْهِ تُقْرَأُ عَلَيْهِ مِنْ أَمْلَيْتُ وَأَمْلَلْتُ الرَّسُّ الْمَعْدِنُ جَمْعُهُ رِسَاسٌ مَا يَعْبَأُ يُقَالُ مَا عَبَأْتُ بِهِ شَيْئًا لَا يُعْتَدُّ بِهِ غَرَامًا هَلَاكًا وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَعَتَوْا طَغَوْا وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ عَاتِيَةٍ عَتَتْ عَنِ الْخُزَّانِ

سُورَةُ الْفُرْقَانِ

د كلماتو تشريح:

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: هَبَاءً مَنْثُورًا: مَا تَسْفِي بِهِ الرِّيحُ: آيت كښې دى "وَقَدِمْنَآ إِلَى مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا" يعنى مونږ د هغوى د اعمالوطرف ته راغلو نو مونږ هغه الوتونكې خاوره جوړه كړه، هغوى د اخلاص او ايمان نه خالي وو. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه "هَبَاءً مَّنثُورًا" هغه څيز ته وائى كوم چه هوا اوچت كړى او الوزوى يعنى دوړې وغيرد. د حضرت حسن بصرى رحمه الله نه منقول دى چه دينه مراد د خاورو دوړو هغه باريكې ذرې دى چه د دروازې په سورى كښې د نمرپه رڼاكښې ښكارى ([2])-

قوله: مَدَّ الظِّلَّ: مَا بَيْنَ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلَى طُلُوعِ الشَّمْسِ: آيت كښې دى "أَلَمْ تَرَ إِلَى رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ وَلَوْ شَاءَ لَجَعَلَهُ سَاكِنًا ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا" يعنى تا خپل رب نه دې ليدلې چه هغه د صبح صادق نه واخله تر نمر راختوپورې سورې څنګه اوږد كړو، كه الله تعالى غوښتلې نو دا به ئى د هميشه د پاره قائم ساتلې وو. بيا مونږ د نمر راختل په دې سورى دليل جوړكړو يعنى نمر د سورى په كمى او اوږدوالى باندې علامت وى، د سورى پيژندګلو

---

[1] (عمدة القارى:١٩/٩٢)

[2] (عمدة القارى:١٩/٩٣)

هم د نمر په ذریعه ممکن دی، د نمرنه بغیرسورې نشی پیژندلې. "ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا" په دې کښې د شمس نه مرادا د نمر راختل دی.

قوله: خِلْفَةً: مَنْ فَاتَهُ مِنَ اللَّيْلِ عَمَلٌ، أَدْرَكَهُ بِالنَّهَارِ،أَوْ فَاتَهُ بِالنَّهَارِ،أَدْرَكَهُ بِاللَّيْلِ: آیت کښې دی "وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً" الله تعالی هغه ذات دې چا چه شپه او ورځ په یو بل پسې راتلونکې جوړه کړه.د خلفة په تشریح کښې فرمائی چه د چانه د شپې څه عمل فوت شی نو هغه د ورځې کولې شی اوکه د ورځې فوت شی نو د شپې کولې شی.

د خلفة یو مراد خو هم هغه دې چه شپه د ورځې مخالف تیاره ده او ورځ د شپې په خلاف رڼا ده، یا داسې اووایه چه کله شپه لویه وی او ورځ وړه وی او کله ورځ لویه وی او شپه وړه وی یا به داسې وئیلی شی چه شپه د ورځې په ځائ راځی او ورځ د شپې په ځائ راځې اود یو بل قائمقام وی. بخاری څلورمه معنی بیان کړیده، چه د شپې عمل پاتې شی نو د ورځې پوره کړنې او که د ورځې عمل پاتې شی نو د شپې پوره کړنی([1]).

قوله: وَقَالَ الْحَسَنُ: هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ فِي طَاعَةِ اللَّهِ، وَمَا شَيْءٌ أَقَرَّ لِعَيْنِ الْمُؤْمِنِ مِنْ أَنْ يَرَى حَبِيبَهُ فِي طَاعَةِ اللَّهِ: حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه په آیت کښې "قرة أعين" نه مراد دا دې چه الله تعالی هغوی ته د خپل اطاعت او فرمانبردارئی توفیق ورکړی، د مؤمن د سترګو یخوالې د دې خبرې نه ډیر په بل څه څیزکښې کیدیشی چه هغه خپل محبوب د الله تعالی په اطاعت او فرمانبردارئی کښې اووینی.

قوله: ثُبُورًا: وَيْلًا: "دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا" داکافران به هلته (دوزخ کښې) هلاکت غواړی. فرمائی آیت کښې ثبور معنی هلاکت او دمرګ دې.

قوله: السَّعِيرُ مُذَكَّرٌ وَالتَّسَعُّرُ وَالاضْطِرَامُ التَّوَقُّدُ الشَّدِيدُ: آیت کښې دی: "وَأَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيرًا" اومونږ دوزخ تیار کړیدې د هغه سړی دپاره چه قیامت دروغ ګڼړی. فرمائی چه سعیر لفظ مذکر دې او تسعراو اضطرام معنی ده ښه بل کړیشوې، مشتعل کیدل.

قوله: تُمْلَى عَلَيْهِ: تُقْرَأُ عَلَيْهِ، مِنْ أَمْلَيْتُ وَأَمْلَلْتُ: آیت کښې دی "وَقَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلَى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا" یعنی هغوی اووئیل چه د اولنوخلقو قصې هغوی لیکلې

---

[1] (واخرجه عبدالرزاق عن معمر عن الحسن مثله. عن ابن عباس وقتادة: خلفة یعنی عوضا وخلفا، یقوم احد هما مکان صاحبه. فمن فاته عمله فی احدهما، قضاه فی الاخر. عن مجاهد: یعنی جعل کل واحدمنهما مخالفاللاخر. فجعل هذااسود. وهذابیض. وعن ابی زیدیعنی اذاجاء احدهماذهب الاخر. فهمایتعاقبان فی الظل والضیاء، والزیادة والنقصان (عمدة القاری:۹۳/۱۹

كيخوديدى يا په چا ليكلى دى او سحر مابنام هم دَ هغې ليكل كوئ. په دې كښې تملى عليه معنى ده په دې باندې لوستلې شى. دا دَ اَمْلَيْتُ او اَمْلَلْتُ نه دې. اِمْلاء ناقص يائى او املال مضاعف دَ دوارو معنى يوه ده.

قوله: الرَّسُّ: الْمَعْدِنُ، جَمْعُهُ رِسَاسٌ:

د رس معنى: آيت كښې دى "وَعَادًا وَّثَمُوْدَا وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ وَقُرُوْنًا بَيْنَ ذٰلِكَ كَثِيْرًا" ابوعبيده دَ دې تشريح معدن يعنى غوړ سره كړيده. بعض حضراتو وئيلى دى چه رس كوهې ته وائى، قوم ثمود سره كوهيان ډير وو په دې وجه هغوى ته اصحاب الرس اووئيلې شو (١)- بعضو وئيلى دى چه دا دَ يونهر نوم دې اودا خلق دَ دې په غاړه آباد وو په دې وجه دوى ته اصحاب الرس اووئيلې شو (٢)- ليكن په دې ټولواقوالوكښې هيڅ تضاد نشته،دَ دې ټولو په وجه دوى ته اصحاب الرس اووئيلې شو.

قوله: مَا يَعْبَأُ: يُقَالُ: مَا عَبَأْتُ بِهِ شَيْئًا: لَا يُعْتَدُّ بِهِ: آيت كښې دى "قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّيْ لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ" ته وايه زما رب ستاسو هيڅ پرواه نه ساتى، كه تاسو هغه راؤنه بلئ، عرب وائى ماعبات به شيئاً مادَ هغوى څه پرواه اونه كړه.

قوله: غَرَامًا: هَلَاكًا: "اِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا" بيشكه دَ دوزخ عذاب تباهى ده، دې كښې غراما معنى ده هلاكت.

قوله: وَعَتَوْا: طَغَوْا: "وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيْرًا" اودې خلقو ډيره لويه سركشى اوكړه، عتوا معنى سركشى كول.

قوله: عَاتِيَةٍ: عَتَتْ عَنِ الْخُزَّانِ: آيت كښې دى "وَاَمَّا عَادٌ فَاُهْلِكُوْا بِرِيْحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ" او عاديان چه كوم وو هغوى په يوتيزه هوا سره هلاك كړيشو، عاتيه معنى ده تيزه او تنده او دلته دا معنى بيان كړې دى، هغه هوا چه په هواګانوباندې مقررشوو فرښتوباندې سركشى اوكړې. خزان خازن جمع ده، دلته دينه هواګانې چلونكې فرښتې مراد دى.

[٢٥٣] بَاب قَوْلِهِ الَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ إِلٰى جَهَنَّمَ أُولٰئِكَ شَرٌّ مَكَانًا وَأَضَلُّ سَبِيْلًا

[٤٤٨٢] (٣) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يُوْنُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْبَغْدَادِيُّ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلٰى

---

(١)(فتح البارى:٤٩١/٨ وتفسير كشاف:٣٨٠/٣ ومعالم التنزيل:٣٦٩/٣

(٢)(الجامع لاحكام القران:٣٣/١٣

(٣)(واخرجه ايضاً فى كتاب الرقاق باب الحشر رقم الحديث ٦٥٢٣ ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ أَلَيْسَ الَّذِي أَمْشَاهُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ قَتَادَةُ بَلَى وَعِزَّةِ رَبِّنَا

[٢٥٤] بَاب قَوْلِهِ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ

وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا الْعُقُوبَةَ

[٤٤٨٣] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِي مَنْصُورٌ وَسُلَيْمَانُ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ أَبِي مَيْسَرَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ح قَالَ وَحَدَّثَنِي وَاصِلٌ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَأَلْتُ أَوْ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الذَّنْبِ عِنْدَ اللَّهِ أَكْبَرُ قَالَ أَنْ تَجْعَلَ لِلَّهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ ثُمَّ أَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ خَشْيَةَ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ أَنْ تُزَانِيَ بِحَلِيلَةِ جَارِكَ قَالَ وَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ تَصْدِيقًا لِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ

ویحیی هوابن سعیدالقطان وسفیان هوالثوری ومنصور هوابن المعتمر وسلیمان هوالاعمش وابووائل شقیق بن سلمة وابومیسرة عمروبن شرجیل الهمدانی وعبدالله هوابن مسعود وواصل هوابن حیان الکوفی

دا حدیث سفیان ثوری د دریومشائخویعنی منصور، سلیمان او واصل نه نقل کړیدې چه دا لاندینی دی: ① سفیان، عن منصور وعن ابی وائل، عن ابی میسرة، عن عبدالله ② سفیان، عن سلیمان، عن ابی وائل، عن ابی میسرة، عن عبدالله ③ سفیان، عن واصل، عن ابی وائل، عن عبدالله

د سند توضیح: په اول دوو طریق کښې ابووائل او حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په مینځ کښې ابومیسره دې او آخری طریق کښې ابووائل او حضرت عبدالله په مینځ کښې ابومیسره واسطه نشته. دا روایت دلته یحیی بن سعیدالقطان سفیان نه نقل کړیدې، عبدالرحمن بن مهدی هم سفیان نه مذکوره دریواړه طریق نه دا روایت نقل کړیدې. په دې کښې دَ واصل په طریق کښې هم ابومیسره ذکر دې. علامه عینی اوفرمائیل "والصواب اسقاط ابی میسرة من روایة واصل"[1]- یعنی صحیح خبره دا ده چه دَ واصل په طریق کښې ابومیسره واسطه نشته. والله اعلم

...بقیه ازحاشیه گذشته] واخرجه مسلم فی صفات المنافقین واحکامهم باب یحشرالکافرعلی وجهه رقم الحدیث: ٢٨٠٦ واخرجه النسائی فی السنن الکبری فی التفسیرفی التفسیرباب قوله تعالی: الذین یحشرون علی وجوههم الی جهنم رقم الحدیث: ١١٣٦٧

[1] (عمدة القاری ک ٩٦/١٩

[٤٤٨٤] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ قَالَ أَخْبَرَنِي الْقَاسِمُ بْنُ أَبِي بَزَّةَ أَنَّهُ سَأَلَ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ هَلْ لِمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا مِنْ تَوْبَةٍ فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ فَقَالَ سَعِيدٌ قَرَأْتُهَا عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ كَمَا قَرَأْتَهَا عَلَيَّ فَقَالَ هَذِهِ مَكِّيَّةٌ نَسَخَتْهَا آيَةٌ مَدَنِيَّةٌ الَّتِي فِي سُورَةِ النِّسَاءِ

[٤٤٨٥] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ النُّعْمَانِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْكُوفَةِ فِي قَتْلِ الْمُؤْمِنِ فَرَحَلْتُ فِيهِ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ نَزَلَتْ فِي آخِرِ مَا نَزَلَ وَلَمْ يَنْسَخْهَا شَيْءٌ

[٤٤٨٦] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ قَوْلِهِ تَعَالَى فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ قَالَ لَا تَوْبَةَ لَهُ وَعَنْ قَوْلِهِ جَلَّ ذِكْرُهُ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ قَالَ كَانَتْ هَذِهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ

د سورة فرقان په دريو آياتونوباندې امام بخاری رحمه الله ابواب قائم کړی دی. اولنې آيت دې. "وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا" په دې آيت باندې باب قائمولو سره امام د دې لاندې څلور احاديثو تخريج کړيدې. دوئم آيت دې "يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا" دې لاندې هم يو روايت نقل کړيدې، دريم آيت دې "إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا" د دې لاندې هم يو روايت نقل کړيدې. دې آياتونونه معلوميږی که يو سړې د قتل عمد مرتکب وی نو د توبې نه پس د ده معافی به اوشی خو د سورة النساء د آيت نه ملعوميږی چه د ده توبه نه قبليږی. د مؤمن د قتل ارتکاب کونکې به هميشه هميشه په دوزخ کښې وی او د ده معافی به نه وی. د آيت الفاظ دی "وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا"

د سورة فرقان او د سورة نساء د ايتونو متعلق د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما سوال او دهغه جواب: حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه د دې متعلق سوال اوکړيشو نو دلته په رواياتوکښې د دوی نه دوه قسمه جواب مروی دې. يو دا چه د سورة فرقان آيت د کوم نه چه د مؤمن د قتل د مرتکب معافي معلوميږی منسوخ دې او د دې د پاره ناسخ سورة النساء والا آيت دې او هغه مدنی دې نو د ده د پاره اوس د توبې گنجائش نشته.

په دوئم روايت کښې چه د هغوی نه د دې متعلق سوال اوکړيشو نو هغوی اوفرمائيل چه سورة النساء آيت چا نه دې منسوخ کړې اود تولونه په آخره کښې هغه نازل شويدې اود سورة فرقان آيت د اهل شرك په باره کښې دې چه کوموخلقو د جاهليت په زمانه کښې او د شرك په زمانه کښې قتل کړې وی او بيا ئې توبه کړې وی او ايمان ئې راوړې وی نود هغوی متعلق اووئيلې شو چه د هغوی توبه به قبليږی اودوی به نه نيولې کيږی. د اولنی جواب په رو سره حضرت ابن عباس رضي الله عنه د سورة النساء آيت ناسخ او د فرقان آيت منسوخ منلې دې او د دوئم جواب په رو سره هغه ناسخ منسوخ نه بلکه دواړه مصداق جدا جدا گرځوی چه د سورة نساء د آيت تعلق د اسلام راوړلونه پس قتل مؤمن ارتکاب سره دې او د سورة فرقان

آيت د هغه خلقو باره كښې دې چه د اسلام نه وړاندې د قتل ارتكاب كړې وى. بهرحال دلته د دې دواړو جوابونونه معلوميږى چه هغه د قاتل مؤمن د توبې قائل نه دې ليكن دا د جمهورو مسلك نه دې، جمهور علماء وائى چه د شرك نه علاوه هره گناه معاف كيدېشى. بلكه بعض حضرات سورة نساء آيت ته منسوخ او فرقان آيت ته ناسخ وائى. د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه هم يو قول د جمهورو موافق مروى دې. بعض حضراتو وئيلى دى چه حضرت ابن عباس رضي الله عنه مسلك د جمهورو مطابق دې البته هغوى په دې سلسله كښې چه څه وئيلى دى چه د قاتل مؤمن د پاره معافى نشته داد تغليظ اوتشديد اود قتل ذرائع د منع كولو د پاره مصلحتاً وئيلى دى. د دې متعلق بحث د سورة نساء د آيت لاندې تيرشوې دې هلته اوگورئ[1]

[٢٥٥] بَاب يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا

[٤٤٨٧] حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قَالَ ابْنُ أَبْزَى سَلِ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ قَوْلِهِ تَعَالَى وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَقَوْلِهِ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ حَتَّى بَلَغَ إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ لَمَّا نَزَلَتْ قَالَ أَهْلُ مَكَّةَ فَقَدْ عَدَلْنَا بِاللَّهِ وَقَدْ قَتَلْنَا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَتَيْنَا الْفَوَاحِشَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا إِلَى قَوْلِهِ غَفُورًا رَحِيمًا

[٢٥٦] بَاب إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا

[٤٤٨٨] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا أَبِي عَنْ شُعْبَةَ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ أَمَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبْزَى أَنْ أَسْأَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ هَاتَيْنِ الْآيَتَيْنِ وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ لَمْ يَنْسَخْهَا شَيْءٌ وَعَنْ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ قَالَ نَزَلَتْ فِي أَهْلِ الشِّرْكِ

[٢٥٧] بَاب فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا أَيْ هَلَكَةً

[٤٤٨٩] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ خَمْسٌ قَدْ مَضَيْنَ الدُّخَانُ وَالْقَمَرُ وَالرُّومُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا

د قيامت د علاماتو نه څومره علامتونه تيرشوى دى: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى چه د قيامت د نښونه پنځه ښيزونه تيرشوى دى ①دخان ② شق القمر③ روم باندې غلبه

---

[1] (كشف البارى

④ بطشه ⑤ لزام. دَ دخان ذکر په سورة دخان کښې دی. "فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ" اودَ شق القمر تذکره په سورة انبياء کښې ده "اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ" دَ روم ذکر په سورة روم کښې دی "غُلِبَتِ الرُّوْمُ فِيْ أَدْنَى الْأَرْضِ" اودَ بطشه ذکر په سورة دخان کښې دې "يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى إِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ" اودَ لزام ذکر دَ سورة فرقان په آيت باب کښې دې. په دې کښې خو دوه نښې په اتفاق سره تيرې شوی دی، يو شق القمر او دوئم دَ روم مغلوبيت او باقی درې نښې دخان، بطشه او لزام باره کښې اختلاف دې. حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په نيزد دخان نه مراد هغه لوګې دې چه دَ نبی کريم ﷺ په زمانه کښې چه قريشو ته دَ ولږې دَ زياتوالي په وجه محسوس کيدو. اودَ بطشه نه مراد غزوه بدر په موقع دَ کافرانو قتلول مراد دی اودَ لزام نه دَ هغوی قيد او بند مراد دې. ليکن نور حضرات فرمائي چه دخان نه مراد هغه لوګې دې چه قيامت سره نزدې به راوچتيږی او په ټولو خلقو به خوريږی البته نيکان به دَ دې اثر ډير سپک محسوس کوی او کافران او منافقان به دَ دې دَ اثر نه بې هوشه کيږی، دغه شان بطشه او لزام نه مراد دَ قيامت په ورځ دَ کافرانو رانيول او دوزخ کښې اچول اودَ هغوی هلاکيدل دی.(١) ليکن په دې کښې هيڅ تضاد نشته دواړه توجيهات مراد کيدې شی.

[٢٥٨] باب: تفسير سُوْرَةُ الشُّعَرَاءِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ تَعْبَثُونَ تَبْنُونَ هَضِيمٌ يَتَفَتَّتُ إِذَا مُسَّ مُسَحَّرِينَ الْمَسْحُورِينَ لَيْكَةُ وَالْأَيْكَةُ جَمْعُ أَيْكَةٍ وَهِيَ جَمْعُ شَجَرٍ يَوْمِ الظُّلَّةِ إِظْلَالُ الْعَذَابِ إِيَّاهُمْ مَوْزُونٍ مَعْلُومٍ كَالطَّوْدِ كَالْجَبَلِ وَقَالَ غَيْرُهُ لَشِرْذِمَةٌ الشِّرْذِمَةُ طَائِفَةٌ قَلِيلَةٌ فِي السَّاجِدِينَ الْمُصَلِّينَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ كَأَنَّكُمْ الرِّيعُ الْأَيْفَاعُ مِنَ الْأَرْضِ وَجَمْعُهُ رِيَعَةٌ وَأَرْيَاعٌ وَاحِدَةُ رِيعَةٌ مَصَانِعَ كُلُّ بِنَاءٍ فَهُوَ مَصْنَعَةٌ فَرِهِينَ مَرِحِينَ فَارِهِينَ بِمَعْنَاهُ وَيُقَالُ فَارِهِينَ حَاذِقِينَ تَعْثَوْا هُوَ أَشَدُّ الْفَسَادِ عَاثَ يَعِيثُ عَيْثًا الْجِبِلَّةَ الْخَلْقَ جُبِلَ خُلِقَ وَمِنْهُ جُبُلًا وَجِبِلًا وَجُبْلًا يَعْنِي الْخَلْقَ قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ

سُوْرَةُ الشُّعَرَاءِ

د کلماتو تشريح:

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: تَعْبَثُونَ: تَبْنُونَ: آيت کښې دی "أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُونَ" آيا هره اوچته زمکه باندې يوه نښه جوړوئی فضول، مولانا شبيراحمدعثمانی ليکی: "دې خلقو ته ډير شوق وود اوچتو او مضبوطو منارو دَ جوړولو، دَ چانه چه څه کار اونه خې مگرنوم ئې اوشي اودَ اوسيدو عمارتونه به ئې هم ډير مزيدار جوړول، دَ مال ضائع کولو دَ پاره به ئې به دې کښې استاذئی خودلې، لکه دا به ئې ګڼړل چه هميشه دلته اوسيدل دی او يادګارونه او

---

(١)(معالم التنزيل للبغوی: ١٤٩/٤)

عمارتونه كله به نه برباديږي (ليكن نن اوګوره د هغې كنډرې هم باقي نه دي)" حضرت مجاهد فرمائى چه په آيت كښې تعبثون په معنى تبنون ده، يعنى بې ضرورته اوچتې اوچتې منارې جوړولې كوم نه چه هيڅ فائده تشنه عبث خرچ كوى.

قوله: هَضِيمٌ: يَتَفَتَّتُ إِذَا مُسَّ: آيت كښې دى " فِي جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيْمٌ ﴿﴾"- يعنى باغونو كښې او چينو كښې او پټو كښې او په كهجورو كښې چه د هغې تيغونه نرم وى، تاسوله د عيش كولود پاره به پريخودې شي، نه داسې نه ده. مجاهد فرمائى چه هضيم اطلاق په هغه غونچه باندې كيږي چه لاس لګولوسره ذره ذره كيږي (اودا حالت د اوچيدونه پس كيږي)

قوله: مُسَحَّرِينَ: الْمَسْحُورِينَ: آيت كښې دى " قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿﴾" فرمائى دې كښې مسحرين په معنى د مسحورين ده يعنى چه په چا باندې جادو كړيشوى وى.

قوله: لَيْكَةَ: وَالْأَيْكَةُ جَمْعُ أَيْكَةٍ وَهِيَ جَمْعُ شَجَرٍ: آيت كښې دى "كَذَّبَ اَصْحٰبُ لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿﴾"- امام نافع، ابن كثير او ابن عامرقراءت ليكة دې اوباقى حضرات "الايكة" لولى[۱] امام فرمائى چه ليكة او الايكة ايكة جمع ده د ونوجنګئى او ځنګل ته وائى (مفر او جمع كښې صرف د لازم فرق دې) [۲]- علامه عينى دا پورته ذكر شوې عبارت غلط ګڼړى او فرمائى چه صحيح عبارت داسې پكاردې "الليكة، والايكة مفردايك، اويقال: جمعها ايك" يعنى الليكة او الايك "ايك" مفرد دې، يا داسې وئيلې شى چه د دې جمع ايك دې [۳]- بعض حضرات وائى چه "ليكة" د ښارنوم دې او "ايكة" د ونوجنګئى او ځنګل ته وائى [۴]- دا دواړه يو ګرځول صحيح نه دى.

قوله: يَوْمِ الظُّلَّةِ: إِظْلَالُ الْعَذَابِ إِيَّاهُمْ: آيت كښې دى "فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ ﴿﴾"- يوم الظلة نه هغه ورځ مراد ده، په كوم كښې چه عذاب په هغوى باندې سورې وى.

قوله: مَوْزُونٍ: مَعْلُومٍ: سورة حج كښې دى "وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُوْنٍ ﴿﴾" موزون هغه څيز چه وزن شوى وى يعنى معين او معلوم وى، دا لفظ دلته د كاتب په سهو راغلې دې. [۵]-

قوله: كَالطَّوْدِ: كَالْجَبَلِ: آيت كښې دى "فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ ﴿﴾" نوهغه درياب اوشليدو نو هره يوه حصه د لوئ غرپه شان شوه، حضرت شاه عبدالقادر صاحب رحمه الله ليكى:

---

[۱] (عمدة القارى: ۹۸/۱۹

[۲] (قال الشيخ الانور فى الفيض: ۲۱۸/۴ هى شجرة يقال للواحدة، ايكة، وللاشجار الكثير، الايكة فبين مفرده وجمعه فرق باللام

[۳] (عمدة القارى: ۹۸/۱۹

[۴] (عمدة القارى: ۹۸/۱۹

[۵] (قال العينى: هذاغيرواقع فى محله فانه فى سورة الحجر وكانه من جهل الناسخ(عمدة القارى: ۹۹/۱۹)

اوبه ډيرې زوړې وې، دولسوخايونوسره اوشليدې اوچې لارې جوړې شوې. دَ بنى اسرائيلو دولس قبيلې جدا جدا په هغې كښې تيرې شوې او په مينځ كښې دَ اوبوغرونه ولاړ پاتې شو. فرمائى آيت كښې طود معنى غرده.

قوله: لَشِرۡذِمَةٌ: اَلشِّرۡذِمَةُ طَـآئِفَةٌ قَلِيلَةٌ: "اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرۡذِمَةٌ قَلِيۡلُوۡنَ" دا خلق لږه شان ډله وه. فرمائى شرذمة معنى ده لږه شان ډله.

قوله: فِى السّٰجِدِينَ: اَلۡمُصَلِّينَ: آيت كښې دى "اَلَّذِىۡ يَرٰىكَ حِيۡنَ تَقُوۡمُ وَتَقَلُّبَكَ فِى السّٰجِدِيۡنَ" فرمائى په دې كښې ساجدين دَ مصلين په معنى كښې دى يعنى الله هغه ذات دې چه تا دَ مانځه دَ پاره ولاړوينى او په مونځ گذاروكښې ستا نقل اوحركت وينى، يعنى حضور اكرم ﷺ په كوم وخت كښې دَ مؤمنانو دَ احوال تفقد فرمائيلو او دابه ئى كتل چه مونځ صحيح كوى كه نه، دَ اركان تعديل او دَ مانځه نور آدابو رعايت كوى كه نه. دغه وخت كښې الله تعالى تاته گورى.

آيا دَ حضور اكرم ﷺ والدين مؤمنان وو؟: ابوجعفر نحاس په معانى القرآن كښې ددې يو بل مطلب نقل كړيدې هغه فرمائى چه **وتقلبك فى الساجدين** مطلب دا دې چه الله تعالى هغوى ﷺ ته په اصلاب طاهره سره په ارحام طاهره كښې منتقل كړو (١)-قاضى ماورى دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه هم دغه تفسيرنقل كړيدې (٢)اوحافظ جلال الدين سيوطى رحمه الله هم په دې باندې اعتماد كولو سره "**مسالك الحنفا**" كښې دا ثابت كړى دى چه دَ حضور ﷺ والدين مؤمنان وو بلكه دَ هغوى خو دا خيال دې چه دَ هغوى ﷺ نه په عمود نسب كښې دَ جناب عبدالله نه واخله حضرت آدم عليه السلام پورې يوهم كافر نه دې تيرشوې.(٣) - حافظ شمس الدين ابن ناصر دمشقى وئيلى دى:

تنقل احمد نورا عظيما تلألأ فى جباه الساجدينا
تقلب فيهم قرنا فقرنا الى ان جاء خير المرسلينا (٤)

دَ حضور اكرم ﷺ دَ والدينو باره كښې راجح قول همدغه دې چه هغوى مؤمنان شوى دى(٥)- امام مسلم رحمه الله په كتاب الايمان كښې يو روايت نقل كړيدې هغې سره دَ هغوى ﷺ

---

(١)(مسالک الحنفا:٢٢١ وروح المعانى:١٩/١٣٧-١٣٨ والحاوى للفتاوى فى رسالة: مسالک احنفا فى والدى المصطفى:٢/٢١٠ للسيوطى-

(٢)(قال الماوردى فى تفسيره "النكت والعيون":٣/١٨٥: وتقلبک فى الساجدين: فيه ستة تاويلات، احدها من نبى الى نبى حتى اخرجک نبيا، قاله ابن عباس

(٣)(مسالک الحنفا فى والدى المصطفى رسالة للسيوطى شاملة فى الحاوى للفتاوى:٢/٢١٠-٢١٦

(٤)(الحاوى للفتاوى، مسالک الحنفاء:٢٢١

(٥)(قال الالوسى رحمه الله فى روح المعانى:١٩/١٣٨: واستدل بالاية على ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

والدغير ناجي كيدل معلوميږي (١)- او هم امام مسلم رحمه الله په جنائز كښې يو روايت نقل كړيدې چه د هغې نه د هغوى ﷺ مور بى بى غيرناجى كيدل معلوميږي (٢)- ليكن ابن شاهين په "كتاب الناسخ والمنسوخ" كښې او خطيب بغدادى په "كتاب السابق واللاحق" كښې يو روايت نقل كړې دې چه الله تعالىٰ د هغوى ﷺ مورژوندنى كړه او هغې ايمان راوړو دې نه پس د هغوى وفات اوشو (٣)- د سيوطى رائې دا ده چه حضور ﷺ والدين د اصحاب الفطره نه وو او كه اصحاب الفطره چرې مشرك نه وى نو د هغوى په حق كښې د نجات فيصله ده. د امام مسلم رحمه الله په روايت باندې علامه سيوطى كلام كړيدې. (٤)- ليكن دا مسئله بهرحال ګرانه ده او د عقيدې سره د دې څه داسې تعلق هم نشته چه د انسان د خلاصى دارومدار په دې باندې وى په دې وجه په دې سلسله كښې سكوت اختيارول ډير بهتر او مناسب دى.

فائده: علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله د دې آيت په تفسير كښې فرمائى يعنى چه كله ته تهجد د پاره پاڅې او د متوسلين خبره اخلې چه د الله تعالىٰ په ياد كښې دى كه غافل دى (موضح) يا چه ته كله د مانځه د پاره اودريږې او په جمع كښې ښكته پورته كيدل(ركوع سجده وغيره)كوې او د مقتديانو خيال ساتې او بعض سلفوئيلې دى چه د ساجدين نه د هغوى نيكونه مراد دى يعنى د هغوى ﷺ نور د يو نبى صلب نه د بل نبى صلب ته وربدليدل او په آخره كښې نبى كيدل اوتشريف راوړل. بلكه بعضې مفسرينو هم دې لفظ نه د حضور ﷺ د والدينو په ايمان استدلال كړيدې. (٥)-

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ: كَأَنَّكُمْ: آيت كښې دى "وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ" يعنى تاسو په مكانونو او مناروكښې كاريګرئ جوړونى چه تاسو به هميشه په دې كښې اوسيږئ، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه دې كښې لعل حرف مشبه بالفعل د كان په معنى كښې دې يعنى دا د ترجى د پاره نه دې بلكه د تشبيه د پاره دې.

مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى: "اشار الى الجواب عن الاشكال المشهور، ان التمنى والترجى

...بقيه ازحاشيه گذشته] ايمان ابويه صلى الله عليه وسلم. كماذهب اليه كثير من اجلة اهلالسنة واناااخشى الكفر على من يقول فيهما. رضى الله تعالى عنهما

(١)(د حديث الفاظ دى: "عن انس ان رجلاقال لرسول صلى الله عليه وسلم اين ابى؟ قال: فى النار. قال: فلما قفى و دعاه، فقال: ان ابى واباک فى النار" صحيح مسلم كتاب الايمان باب بيان ان من مات على الكفر فهو فى النار:١/١١٤)

(٢)(الحديث اخرجه ملسم فى الجنائز:١/٣١٤ عن ابى هريرة قال: زارالنبى صلى الله عليه وسلم قبرامه، فبكى، وابكى من حوله. فقال صلى الله عليه وسلم: استاذنت ربى فى ان استغفرلها، فلم يؤذن لى، واستاذنته فى ان ازورقبرها، فاذن لى، فزورواالقبور، فانها تذكركم الموت

(٣)(الحاوى للفتاوى، مسالک الحنفا:٢/٢٣٠

(٤)(التحاوى للفتاوى، مسالک الحنفا والدى المصطفى: ٢/٢٢٦-٢٢٧

(٥)(تفسيرعثمانى ص٥٠١ سورة الشعراء آيت ٢١٨-٢١٩

محال فی جنابه تعالی، فما معنی الفاظ الترجی ونحوه، فاجاب عنه انه فی القرآن بمعنی کانکم" (١)-

قوله: الرِّيعُ: الْأَيْفَاعُ مِنَ الْأَرْضِ، وَجَمْعُهُ رِيَعَةٌ وَأَرْيَاعٌ، وَاحِدُهُ رِيعَةٌ: "أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُونَ" آياتاسو په هره اوچته زمكه باندې دَ لوبودَ پاره يو نښه جوړوئى. فرمائى چه ريع معنى دَ اوچتې زمكې راځى، دَ دې جمع ريعة (دَ را په كسره، ياء په فتحه سره) او ارياع راځى اودَ دې مفرد ريعة (راپه كسره اوياء په سكون سره)دې.

قوله: مَصَانِعَ: كُلُّ بِنَاءٍ فَهُوَ مَصْنَعَةٌ: آيت كښې دى "وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ" تاسو لوئ لوئ آبادئى جوړوئى لكه چه تاسو به په دنياكښې دَ هميشه دَ پاره اوسيږئى، مصانع مصنعة جمع ده او هرعمارت ته مصنعة وائى.

قوله: فَرِهِينَ: مَرِحِينَ فَارِهِينَ بِمَعْنَاهُ وَيُقَالُ: فَارِهِينَ: حَاذِقِينَ: "وَتَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا فَرِهِينَ" او تاسو اوچت اوچت غرونه تراشئى او كورونه جوړوئى. فرمائى چه آيت كښې فرهين معنى ده اوچت، فخر كونكى فرهين او فارهين دواړو يوه معنى ده. او يوقول داهم دې چه فارهين په معنى دَ حاذقين دې ماهر او تجربه كار.

قوله: تَعْثَوْا: هُوَ أَشَدُّ الْفَسَادِ- عَاثَ يَعِيثُ عَيْثًا: "وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ" فرمائى چه تعثوا معنى ده سخت فساد، دَ آيت ترجمه ده، اوتاسو په زمكه كښې فساد مه خوروئى. تعثوا دَ باب نصر نه دې، عاث يعيث وئيلوسره امام اشاره اوكړه چه دَ نصر او ضرب نه دَ دې هم يوه معنى ده.

قوله: الْجِبِلَّةَ: الْخَلْقُ: "وَاتَّقُوا الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْأَوَّلِينَ" او اوويريږئى دَ هغه الله تعالى نه چا چه تاسو او ټول مخكينى مخلوقات پيدا كړى. فرمائى چه جبلى معنى مخلوق دې جُبُلَ معنى خُلِق

[٢٥٩] بَاب وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ

[٤٤٩٠] وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ عَنْ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ يَرَى أَبَاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ الْغَبَرَةُ وَالْقَتَرَةُ الْغَبَرَةُ هِيَ الْقَتَرَةُ

[٤٤٩١] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا أَخِي عَنْ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي

(١) (فيض البارى: ٤/٢١٨

هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَلْقَى إِبْرَاهِيمُ أَبَاهُ فَيَقُولُ يَا رَبِّ إِنَّكَ وَعَدْتَنِي أَنْ لَا تُخْزِيَنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ فَيَقُولُ اللَّهُ إِنِّي حَرَّمْتُ الْجَنَّةَ عَلَى الْكَافِرِينَ

يعنې اې ربه! مارسوا نه کړې، په کومه ورځ چه به ټول اوچتولې شی او زما پلار اوبښې بېشکه هغه د ګمراهانونه وو.

دلته دا شبه کېږی چه حضرت ابراهيم عليه السلام د الله تعالى طرف ته د وعده خلافئ نسبت کوی او په دې وجه بعضې علماؤ د دې روايت د صحت نه انکارهم کړيدې. (۱)- ليکن جمهور علماء وائی چه په دې کښې د وعده خلافئ نسبت الله تعالى طرف ته منسوب کول مقصود نه دی بلکه دا کلام استعطاف دې. د الله تعالى رحمت غوښتلودپاره به حضرت ابراهيم عليه السلام دا درخواست کوی نو الله تعالى به د خپل خليل سره نرمی کوی او د آذر شکل به بدل کړيشی او چاته به معلومه نه وی چه دا د حضرت ابراهيم عليه السلام پلار دې. (۲)-

فائده: علامه عثمانی رحمه الله فرمائي چه دا دعائی د پلار د مرګ نه پس کړيده مګربل ځائ کښې تصريح راغلې ده چه کله چه د هغه دښمن الله تعالى معلوم شو نو د براءت او ويزارئی څرګندونه ئی اوفرمائيله کماقال تعالى: "وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَا إِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ" او که "إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ" کښې "کان" ترجمه "وه" په ځائ "ده" سره اوکړيشی نو بيا هيڅ اشکال نشته ځکه چه په ژوند کښې د ايمان راوړلوامکان وو نو د دعا حاصل دا دې چه اې الله دې په ايمان مشرف کړه او د کفر د زمانې خطاګانې معاف کړه.

[۲۶۰] بَاب وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ أَلِنْ جَانِبَكَ

[۴۴۹۲] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ صَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الصَّفَا فَجَعَلَ يُنَادِي يَا بَنِي فِهْرٍ يَا بَنِي عَدِيٍّ لِبُطُونِ قُرَيْشٍ حَتَّى اجْتَمَعُوا فَجَعَلَ الرَّجُلُ إِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَخْرُجَ أَرْسَلَ رَسُولًا لِيَنْظُرَ مَا هُوَ فَجَاءَ أَبُو لَهَبٍ وَقُرَيْشٌ فَقَالَ أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا بِالْوَادِي تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ قَالُوا نَعَمْ مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا قَالَ فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا فَنَزَلَتْ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ

[۴۴۹۳] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَنْزَلَ

---

(۱) (فتح البارى: ۸/ ۵۰۰)

(۲) (عمدة القارى: ۱۹/ ۱۰۱)

اللَّهُ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ قَالَ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا اشْتَرُوا أَنْفُسَكُمْ لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا يَا عَبَّاسُ بْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ لَا أُغْنِي عَنْكَ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا وَيَا صَفِيَّةُ عَمَّةَ رَسُولِ اللَّهِ لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا وَيَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَلِينِي مَا شِئْتِ مِنْ مَالِي لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا تَابَعَهُ أَصْبَغُ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ

د انزار څلور صورتونه: د انذاز څلور صورتونه دي. انذار عشيره، انذارقوم، انذار عرب او انذارجميع بنی آدم، د هغوی ﷺ نبوت خود تېولودپاره عام وو په دې وجه د انذار دا څلور صورتونه نبی کریم ﷺ اختيار فرمائيلی. علامه زمحشری رحمه الله ليکلی دی چه "قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ" او "قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ" او "قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ" دريواړه سورتونه مسلسل دی او په دې کښې "قل" راوړلې شو، دې نه اول "تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ" کښې "قل" راوئړلې شو چه ابولهب د هغوی ﷺ تره وو، که په دې کښې "قل" راوړلې شوې وو نود دې نسبت د حضور ﷺ طرف ته کيدو، اود هغوی دا عنوان اختياروول د مکارم اخلاق مطابق نه وو په دې وجه الله تعالی د خپل حبيب په رعايت سره "قل" په شروع کښې نازل نه کړو بلکه الله تعالی د هغه د پاره نيغ په نيغه "تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ" نازل کړو. -

[۲۶۱] باب: تفسير سُورَةُ النَّمْلِ

وَالْخَبْءُ مَا خَبَأْتَ لَا قِبَلَ لَا طَاقَةَ الصَّرْحُ كُلُّ مِلَاطٍ اتُّخِذَ مِنَ الْقَوَارِيرِ وَالصَّرْحُ الْقَصْرُ وَجَمَاعَتُهُ صُرُوحٌ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَلَهَا عَرْشٌ سَرِيرٌ كَرِيمٌ حُسْنُ الصَّنْعَةِ وَغَلَاءُ الثَّمَنِ يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ طَائِعِينَ رَدِفَ اقْتَرَبَ جَامِدَةً قَائِمَةً أَوْزِعْنِي اجْعَلْنِي وَقَالَ مُجَاهِدٌ نَكِّرُوا غَيِّرُوا وَأُوتِينَا الْعِلْمَ يَقُولُهُ سُلَيْمَانُ الصَّرْحُ بِرْكَةُ مَاءٍ ضَرَبَ عَلَيْهَا سُلَيْمَانُ قَوَارِيرَ أَلْبَسَهَا إِيَّاهُ

النَّمْلِ

د کلماتو تشريح:

قوله: وَالْخَبْءُ: مَا خَبَأْتَ: آيت کښې دی "اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ" فرمائی چه په ايت کښې الخبء معنی پټ څيز ده. يعنی سجده به ولې الله تعالی ته نه کوی چه پټ څيزونه د آسمان او زمکې نه راوباسی، شاه عبدالقادر رحمه الله فرمائی ملاچرګك رزق دې د شګونه چينجی راويستل او خوړل، نه دانه خوری نه ميوه، کيديشی په دې وجه د يخرج الخبء خاص توګه باندې ذکراوکړيشو (دا قول د ملاچرګك قرآن کريم نقل کړيدې)[۱]

[۱] (تفسير عثمانی ص۵۰۸ سورة النمل آيت ۲۵

قوله: لَاقِبَلَ: لَاطَاقَةَ: "اِرْجِعْ اِلَيْهِمْ فَلَنَاْتِيَنَّهُمْ بِجُنُوْدٍ لَّاقِبَلَ لَهُمْ بِهَا" بيا دې معلومه وى چه مونږ به هغوى له داسې لښكرې راولو دَ كوموقابله چه به دَ هغوى نه اونه شى. فرمائى دې كښې لاقبل معنى لاطاقة ده، يعنى په هغوى كښې به دَ دغه لښكرونه دَ خان ساتلوطاقت نه وى.

قوله: الصَّرْحُ: كُلُّ مِلَاطٍ اتُّخِذَ مِنَ الْقَوَارِيرِ وَالصَّرْحُ: آيت كښې دى "قِيْلَ لَهَا ادْخُلِى الصَّرْحَ" هغه ته اووئيلې شو چه محل ته دننه شه، صرح هر هغه گارې ته ائى چه دَ شيشې نه جوړيږى اودَ صرح معنى محل هم ده او وراندې دَدې معنى تالاب هم ليكلې ده دَ دې جمع صروح ده.

قوله: وَلَهَا عَرْشٌ عظيم سَرِيْرٌ كَرِيْمٌ حُسْنُ الصَّنْعَةِ وَغَلَاءُ الثَّمَنِ: آيت كښې دى "وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيْمٌ" اوبلقيس سره يو لوئ تخت دې. فرمائى چه عرش عظيم معنى ده يوښكلې او دَ ښه كاريگرئى او بيش قيمته تخت.

قوله: مُسْلِمِيْنَ: طَائِعِيْنَ: "قَالَ يَاَيُّهَا الْمَلَؤُا اَيُّكُمْ يَاْتِيْنِىْ بِعَرْشِهَا قَبْلَ اَنْ يَّاْتُوْنِىْ مُسْلِمِيْنَ" سليمان عليه السلام اوفرمائيل اې درباريانو تاسوكښې به څوك دَ بلقيس تخت ماله راوړى اول دَ هغې نه چه هغه خلق خبرشى او ماله راشى. فرمائى چه مسلمين معنى مطيع او حكم منونكى.

قوله: رَدِفَ: اقْتَرَبَ: "قُلْ عَسٰى اَنْ يَّكُوْنَ رَدِفَ لَكُمْ بَعْضُ الَّذِىْ تَسْتَعْجِلُوْنَ" تاسو اووائې څومره عجيبه ده چه دَ كوم عذاب تاسو دَ تندئى شور كوئې په هغې كښې څه تاسوته نزدې راورسيدو. فرمائى چه ردف معنى زررارسيدل.

قوله: جَامِدَةً: قَائِمَةً: "وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً" اوتاسو غرونه ته گورئى په دې حال كښې چه تاسو هغه قائم گڼرئى (چه دابه هميشه قائم او دائم وى حالانكه دَ قيامت په ورځ به دَ ټول دَ مالوچو غوندې په هواكښې الوزى) جامدة معنى قائمة

قوله: اَوْزِعْنِىْ: اجْعَلْنِىْ: "رَبِّ اَوْزِعْنِىْ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِىْ اَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلٰى وَالِدَىَّ" فرمائى آيت كښې اوزعنى معنى اجعلنى يعنى اې زما ربه ما داسې جوړكړې چه زه ستا دَ دې نعمت شكر ادا كړم چه تا ماته او زما مورپلار ته وركړيدې.

قوله: نَكِّرُوْا: غَيِّرُوْا: "قَالَ نَكِّرُوْا لَهَا عَرْشَهَا" نكروا معنى ده ته دَ دې صورت بدل كړه.

قوله: وَاُوْتِيْنَا الْعِلْمَ: يَقُوْلُهُ سُلَيْمَانُ:

واوتينا العلم، د چا مقوله ده: آيت كښې دى "قَالَتْ كَاَنَّهُ هُوَ وَاُوْتِيْنَا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِيْنَ" مجاهد رحمه الله فرمائى چه په آيت كښې "وَاُوْتِيْنَا الْعِلْمَ" دَ حضرت سليمان عليه السلام مقوله ده. په دې صورت كښې من قبلها كښې ضمير بلقيس طرف ته راجع به وى، يعنى حضرت سليمان عليه السلام اوفرمائيل چه دَ دې ښځې نه اول مونږ ته علم راكړې شويدې. ليكن دونم قول دا دې چه دا دَ بلقيس مقوله ده، په دې صورت كښې من قبلها ضمير معجزې طرف ته راجع دې او مطلب به دا وى چه دَ دې معجزې نه اول مونږ ته علم شوې وو چه سليمان صرف بادشاه نه

دي دَ الله تعالى مقرب بنده دې او دَ دې دَ پاره مونږ دَ هغه دَ فرمانبردارئی، منلو او انقیاد لاره اختیار کړله. حافظ ابن حجر رحمه الله رومبنی قول ته ترجيح ورکړیده. (١)-لیکن علامه عینی رحمه الله (٢)- حضرت تهانوی رحمه الله (٣)- اوحضرت مولانا شبيراحمد عثمانی رحمه الله دوئم قول ته ترجيح ورکړيده، اودَ سیاق او سباق نه دَ دوئم قول تائيد کيږی. (٤)-

قوله: الصَّرْحُ: بِرْكَةُ مَاءٍ، ضَرَبَ عَلَيْهَا سُلَيْمَانُ قَوَارِيرَ: "قِيلَ لَهَا ادْخُلِي الصَّرْحَ" الصرح معنى دَ اوبوتالاب په کوم چه حضرت سليمان عليه السلام شیشه لګولې وه، نوچه کله بلقیس ته په محل کښې دَ داخليدو دَ پاره اووئیلې شو نو هغې پینځې راوچتې کړې او پښې ئې ښکاره شوې. مولانا شبيراحمد عثمانی رحمه الله ليکی: "حضرت سليمان عليه السلام په ديوان خانه کښې ناست وو په هغې کښې دَ کانړو په ځای شیشې فرش وو، صفاشیشه به دَ لرينه ښکاريده لکه چه اوبه خوزيږی. اوممکن ده چه دَ شيشې لاندې واقعی اوبه وې يعنی حوض په شیشه باندې پټ کړې وی. هغې په اوبوکښې ننوتلو دَ پاره پښې کولاؤ کړې سليمان عليه السلام اوفرمائيل چه دا دَ شیشې فرش دې اوبه نه دی، هغې ته دَ خپل عقل قصور او دَ عقل کمال معلوم شو، پوهه شوه چه په دین کښې هم دې څه ګنړې هغه به صحيح وی، اودا هم معلومه شوه چه په کوم سازوسامان دَ هغې قوم فخر کولو دلته دَ هغې نه ډير موجود دې. نولکه چه سليمان عليه السلام هغه خبرداره کړه په آفتاب اودَ ستورو په پرقار باندې عاشقه کيدلوسره هغه خدای ګڼړل هم داسې يوه دهوکه ده. لکه چه سړې شیشه اووينی او دَ اوبوګمان پرې کوی.

[٢٦٢] باب: تفسير سورة القصص

(كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ) إِلَّا مُلْكَهُ، وَيُقَالُ إِلَّا مَا أُرِيدَ بِهِ وَجْهُ اللَّهِ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ (الْأَنْبَاءُ) الْحُجَجُ.

سورة القصص

قوله: (كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ) إِلَّا مُلْكَهُ، وَيُقَالُ إِلَّا مَا أُرِيدَ بِهِ وَجْهُ اللَّهِ: آيت کښې دی "وجهه" نه مراد دَ الله تعالى حکومت دې او دا هم اووئیلې شو چه دَ دې نه مراد هغه نيك اعمال دی چه دَ الله تعالى دَ رضادپاره کړيشوې وی.

قوله: وقال مجاهد: فعميت عليهم الانباء: الحجج: آيت کښې دی "فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْأَنْبَاءُ يَوْمَئِذٍ" نو په هغه ورځ به دَ هغوی نه ټول دلائل ورك شی. مجاهد رحمه الله فرمائی چه الانباء نه دلائل مراد دی يعنی دې منکرانوسره به په هغه ورځ هيڅ دليل او حجت نه وی.

---

(١) (فتح البارى: ٨/٥٠٥
(٢) (عمدة القارى: ١٩/١٠٤
(٣) (بيان القران: ٢/٨٨
(٤) (تفسير عثمانى: ٥٠٧ فائده نمبر ٢

[٢٦٣] باب قوله (إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ)

[٤٤٩٤] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَمَّا حَضَرَتْ أَبَا طَالِبٍ الْوَفَاةُ جَاءَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَوَجَدَ عِنْدَهُ أَبَا جَهْلٍ وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي أُمَيَّةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ، فَقَالَ «أَيْ عَمِّ قُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، كَلِمَةً أُحَاجُّ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللَّهِ». فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي أُمَيَّةَ أَتَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَعْرِضُهَا عَلَيْهِ، وَيُعِيدَانِهِ بِتِلْكَ الْمَقَالَةِ حَتَّى قَالَ أَبُو طَالِبٍ آخِرَ مَا كَلَّمَهُمْ عَلَى مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، وَأَبَى أَنْ يَقُولَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ. قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «وَاللَّهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَا لَمْ أُنْهَ عَنْكَ». فَأَنْزَلَ اللَّهُ (مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ) وَأَنْزَلَ اللَّهُ فِي أَبِي طَالِبٍ، فَقَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - (إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ).

آيا ابوطالب مسلمان شوي وو؟: د آيت باب باره كښې خودلې شوى دىچه د ابوطالب باره كښې نازل شوې دې اود اهل حق همدغه مسلك دې چه د ابوطالب انتقال په حالت د كفر كښې شوې دې. ابن اسحاق په خپل سيرت كښې يو روايت نقل كړيدې چه ابوطالب د مرګ په وخت كښې خپلو شونډو له حركت وركولو، حضرت عباس ﷺ چه د هغه رور وو هغه غوږ كيخودو نو واوريده نو هغوى ﷺ ته ئې عرض اوكړو وراره دې خو هم هغه كلمه لولى د كومې چه تامطالبه كړې وه، هغوى ﷺ اوفرمائيل ما نه ده اوريدلې (١)-

د بخارى په روايت باندې د شبلى نعمانى مرحوم اعتراض او دهغې جواب: شبلى نعمانى رحمه الله د امام بخارى رحمه الله په دې روايت تبصره كولوسره ليكي: "د ابوطالب د اسلام متعلق اختلاف دې ليكن د بخارى دا روايت قابل حجت نه دې چه آخرى راوى مسيب دې چه د فتح مكه په وخت كښې اسلام راوړو اود ابوطالب د وفات په وخت كښې موجودنه وو. په دې وجه علامه عينى د دې حديث په شرح كښې ليكى چه روايت مرسل دې. د ابن اسحاق په سلسله روايت كښې عباس بن عبدالله بن معبد او حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه دې. دا دواړه ثقه دى. ليكن د مينځ يو راوى دلته هم پاتې شو په دې بنا باندې د دواړو روايتونو د استناد په درجه كښې ډير فرق نشته.(٢) - ليكن د علامه شبلى دا خيال صحيح نه دې اول دا وينا چه حضرت مسيب رضي الله عنه د مكې د فتح په وخت كښې اسلام راوړې وو او د ابوطالب د وفات په وخت كښې موجود نه وو. دا د واقدى او مصعب زبيرى قول دې. (٣)- نورمحدثين حضرات

(١) (سيرة ابن هشام مع الروض الانف: ١/٢٥٩-٢٦٠)
(٢) (سيرة النبى: ١/١٤٩)
(٣) (تهذيب التهذيب: ١٠/١٥٢ والاصابة: ٣/٤٢٠ رقم الترجمة: ٧٩٩٦ د دوى د حالاتودپاره اوګورئى تهذيب الكمال: ٢٧/٥٨٥ واسدالغابة: ٤/٣٦٦ والاستيعاب: ٣/١٤٠٠ وتاريخ البخارى الكبير: ٧/ الترجمة: ١٧٨٢

وائی چه حضرت مسیب رضي الله عنه دَ فتح مکه نه ډیر وړاندې اسلام راوړې وو (۱)- دونمه خبره دا ده چه دَ ابنِ اسحاق سندمنقطع دې او پریخودې شوې راوی صحابی نه دې، پخپله ابن اسحاق هم دَ امام بخاری په شان دَ استناد اعلی درجه نه لری، په دې وجه دَ بخاری او ابن اسحاق روایات یو شان ګرځول صحیح نه دی. بلکه داخبره شبلی پخپله لیکلې ده ابن اسحاق چه په احتجاج کښې کله یوازې وی نو کافی نه دې. دَ علامه شبلی شاګرد مولاناسیدسلیمان ندوی دَ خپل استاذ ذکرشوی خیال سره اختلاف کولوسره لیکی: "دَمصنف دې نظریې سره زما اتفاق نشته څکه چه دَ بخاری دَ روایت آخرې راوی حضرت مسیب رضي الله عنه دې چه صحابی دې، ښکاره خبره ده چه دَ صحابی دا روایت به دَ صحابی نه وی نو په دې وجه مراسیل صحابه حجت دې اودَ ابن اسحاق روایت منقطع دې او پریخودې شوې راوی صحابی نه دې او پخپله ابن اسحاق هم دَ استناد اعلی درجه نه لری، په دې وجه دواړه روایتونه یوشان نشی ګرځولې کیدې. دینه علاوه دَ حضرت مسیب رضي الله عنه دَ دې روایت په تائید کښې پخپله دَ حضرت عباس رضي الله عنه هغه روایت دې چه هم دَ دې مسیب رضي الله عنه دَ روایت نه پورته صحیح بخاری کښې موجود دې په کوم کښې چه ذکر دې"حضرت عباس رضي الله عنه معلومه کړه چه یارسول الله ﷺاستاسو تره (ابوطالب) ته تاسو نه څه فائده اورسیده چه هغه به ستاسو حفاظت کولو او ستاسو دَ پاره به ستاسو دښمنانو سره په مقابله وو. وئی فرمائیل هغه به دَ دوزخ په اورکښې صرف دَ ګیټوپورې وی مګر دَ دې اثر هم دماغوته رسی، که چرې زه نه وم نو هغه به دَ دوزخ په لاندینئی طبقه کښې وو. دینه معلومه شوه چه پخپله دَ حضرت عباس رضي الله عنه په علم کښې وو چه دَ هغه خاتمه دَ توحید په اقرار باندې نه ده شوې(۲)

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (أُولِي الْقُوَّةِ) لاَيَرْفَعُهَا الْعُصْبَةُ مِنَ الرِّجَالِ. (لَتَنُوءُ) لَتُثْقِلُ. (فَارِغًا) إِلاَّ مِنْ ذِكْرِ مُوسَى. (الْفَرِحِينَ) الْمَرِحِينَ. (قُصِّيهِ) اتَّبِعِي أَثَرَهُ، وَقَدْ يَكُونُ أَنْ يَقُصَّ الْكَلاَمَ (نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ). (عَنْ جُنُبٍ) عَنْ بُعْدٍ عَنْ جَنَابَةٍ وَاحِدٌ، وَعَنِ اجْتِنَابٍ أَيْضًا، يَبْطِشُ وَيَبْطُشُ. (يَأْتَمِرُونَ) يَتَشَاوَرُونَ. الْعُدْوَانُ وَالْعَدَاءُ وَالتَّعَدِّي وَاحِدٌ. (آنَسَ) أَبْصَرَ. الْجِذْوَةُ قِطْعَةٌ غَلِيظَةٌ مِنَ الْخَشَبِ، لَيْسَ فِيهَا لَهَبٌ، وَالشِّهَابُ فِيهِ لَهَبٌ. وَالْحَيَّاتُ أَجْنَاسٌ الْجَانُّ وَالأَفَاعِي وَالأَسَاوِدُ. (رِدْءًا) مُعِينًا. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (يُصَدِّقُنِي) وَقَالَ غَيْرُهُ (سَنَشُدُّ) سَنُعِينُكَ كُلَّمَا عَزَّزْتَ شَيْئًا فَقَدْ جَعَلْتَ لَهُ عَضُدًا. مَقْبُوحِينَ مُهْلَكِينَ. (وَصَّلْنَا) بَيَّنَّاهُ وَأَتْمَمْنَاهُ. (يُجْبَى) يُجْلَبُ. (بَطِرَتْ) أَشِرَتْ. (فِي أُمِّهَا رَسُولاً) أُمُّ الْقُرَى مَكَّةُ وَمَا حَوْلَهَا. (تُكِنُّ) تُخْفِي. أَكْنَنْتُ الشَّيْءَ أَخْفَيْتُهُ، وَكَنَنْتُهُ أَخْفَيْتُهُ وَأَظْهَرْتُهُ. (وَيْكَأَنَّ اللَّهَ) مِثْلُ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ (يَبْسُطُ

(۱)(عمدة القاری:۱۸۰/۸ كتاب الجنائز باب اذاقال المشرک عندالموت: لااله الاالله وتهذيب التهذيب:۱۵۲/۱۰

(۲) حاشيه سيرة النبی:۱۵۰/۱ وقال السهيلی فی الروض الانف:۲۵۸/۱: ان الصحيح من الاثر اثبت لابی طالب الوفاة علی الكفر والشرک-

الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ) يُوَسِّعُ عَلَيْهِ وَيُضَيِّقُ عَلَيْهِ.

د کلماتو تشريح:

قوله: قال ابن عباس: اولي القوة: لايرفعها العصبة من الرجال: آيت كښې دى "وَاٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوْٓاُ بِالْعُصْبَةِ اُولِي الْقُوَّةِ" فرمائى چه دَ قارون دَ خزانو كنجيانې دَ طاقتورو سړو ډلې هم نه شوې اوچتولې، عصبة جماعت او ډلې ته وائى. آيت كښې لتنوٓ په معنى كښې بيان كړې دې هغه كنجيانو به ښكته كول، دَ بوج نه به طاقتور سړى ښكته كيدل.

قوله: فارغا: الا من ذكر موسى: آيت كښې دى "وَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى فٰرِغًا" يعنى دَ حضرت موسى عليه السلام د مور زړه د حضرت موسى عليه السلام دَ ذكر نه علاوه دَ هرڅيز نه فارغ او خالى وو.

قوله: الفرحين: المرحين: "اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ" بې شكه الله تعالى غرور كونكى نه خوښوى. آيت كښې فرحين معنى ده مرحين غرور كونكى، مرح (س) مرحاً فخركول.

قوله: قصيه: اتبعي اثره وقديكون: ان يقص الكلام نحن نقص عليك: "وَقَالَتْ لِاُخْتِهٖ قُصِّيْهِ" قصيه معنى ده دَ هغې نه روستوروستوځه، دا لفظ كلام او قصه بيانولو معنى كښې هم راځى لكه په سورة يوسف كښې دى "نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ"

قوله: عن جنب: عن بعد عن جنابة واحد وعن اجتناب ايضا: آيت كښې دى "فَبَصُرَتْ بِهٖ عَنْ جُنُبٍ وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ" (ترجمه تيره شوه) دې كښې عن جنب معنى ده، دَ دلرينه، عن جنابة او عن اجتناب هم دغه معنى ده.

قوله: يأتمرون: يتشاورون: "قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنَّ الْمَلَاَ يَاْتَمِرُوْنَ بِكَ لِيَقْتُلُوْكَ" وئيل اې موسى رضي الله عنه! درباريان ستا متعلق مشوره كوى چه تا قتل كړى، فرمائى يأتمرون معنى په خپل مينځ كښې مشوره كوى.

قوله: العدوان والعداء والتعدي واحد: "فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ" فرمائى عدوان، عداء او تعدى هم په يوه معنى كښې دى يعنى زياتې.

قوله: انس: ابصر: "اٰنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ نَارًا" انس معنى ده اوكتل، يعنى حضرت موسى عليه السلام دَ كوه طور طرف ته اُور اوليدو.

قوله: الجذوة: قطعة غليظة من الخشب ليس فيها لهب والشهاب فيه لهب: آيت كښې فرمائى "اَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ" يا دَ اُور سكروټه راوړم چه ته ګرمه شې، فرمائى چه جذوة دَ لرګى پيړې ټوټې ته وائى كوم كښې چه شغله نه وى انګار او شهاب هغه وى كوم كښې چه شغله وى لكه په سورة نمل كښې دى "اٰوْ اٰتِيْكُمْ بِشِهَابٍ قَبَسٍ...."

قوله: والحيات اجناس الجان والافاعي والاساود: دَ مارانو مختلف اقسام او اجناس وی، يو قسم دَ هغوی خان دې دَ کوم تذکره چه په دې سورة کښې راځی "فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا" دا يو وړوکې پړقيدونکې سپين مار وی، يو افاعی دې دا دَ افعیٰ جمع ده، دا بنځه وی نرته العوان وائی او يو قسم اساود دې دا دَ اسود جمع ده، دا دَ تور رنګ دَ ټولونه خطرناك مار وی. بهر حال دا مختلف قسمونه دی او په دې ټولو باندې حية اطلاق کيږی.

قوله: ردا معينا قال ابن عباس: لكي يصدقني: آيت کښې دی "وَاَخِيْ هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ لِسَانًا فَاَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْاً يُّصَدِّقُنِيْٓ" دې کښې "ردا" معنی معين او امدادی دې، يعنی زما رور هارون دَ ژبې په اعتبار سره مانه زيات فصيح دې هغه زما معين او مددګار جوړکړه راوليګه چه هغه زما تصديق اوکړه.

قوله: سنشد: سنعينك: آيت کښې دی "قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِاَخِيْكَ" وئی فرمائيل مونږ اوس ستاورور ستا دَ متو طاقت جوړوو. فرمائی چه نشد معنی هم مدد کوو عضد تشريح کولوسره امام فرمائی چه "كلما عززت شيئا فقد جعلت له عضدا" کوم څيز ته چه ته هم قوت اورسوې نوته دَ هغه متې جوړيږې. عزز تعزيزا طاقت رسول، تائيد کول.

قوله: مقبوحين: مهلكين: آيت کښې دی "وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ" فرمائی مقبوحين معنی ده مهلكين يعنی دَ قيامت په ورځ دَ هلاکيدونکونه وی.

قوله: وصلنا: بيناه واتممناه: "وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ" دې کښې وصلنا معنی دد بيناه، واتممناه يعنی مونږ دا کلام بيان کړو او پوره موکړو دې دَپاره چه نصيحت حاصل کړی.

قوله: يجبى: يجلب: آيت کښې دی "يُّجْبٰٓى اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ" فرمائی يجبی معنی يجلب يعنی چرته چه هرقسم ميوې رابنکلوسره راوړی.

قوله: بطرت: اشرت: آيت کښې دی "وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍۭ بَطِرَتْ مَعِيْشَتَهَا" اوډير داسې کلی مونږ تباه کړی دی چه دَ خپل عيش په سامان به ئی ناز کولو. بطرت معنی اشرت فخر تکبر او لوئی کول، علامه شبيراحمد عثمانی رحمه الله ليکی: "يعنی دَ عربودَ دښمنئی نه څه ويريږی دَ الله تعالی دَ عذاب نه اوويريږه، ګورې نه څومره قومونه تيرشوی دی دَ چا چه په خپل عيش او عشرت باندې غرور وو کله چه هغوی کبر او سرکشی اختيار کړه الله تعالی څنګه تباه او برباد کړل چه نن دَ دنيا په مخ باندې دَ هغوی نوم او نشان باقی پاتې نه شو. دا کنډرې دَ هغوی دَ کلو نښې پاتې دی کوموکښې چه څوك اوسيدونکی نشته. بغيردَ دې نه چه چرته مسافر په کښې دَ لږ ساعت دَ پاره آرام اوکړی يا دَ الله تعالی دَ قدرت دَ عبرت تماشه کتلودَپاره هلته ورکوزشی".

قوله: في امها رسولا: ام القري مكة وما حولها : "وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى حَتّٰى يَبْعَثَ فِيْٓ اُمِّهَا رَسُوْلًا" ستا رب دَ كلو تباه كونكې نه دي ترهغه وخت پورې چه دَ هغوی لوئ كلی ته رسول اونه ليگی. علامه شبيراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی: "يعنی الله تعالی هغه وخت پورې كلې نه غرقه وی تركوم وخت پورې چه دَ هغې دَ لوئی مقام ته هوښياروونكې پيغمبر اونه ليگی (دَ صدرمقام تخصيص كيدښې په دې وجه شوې وی چه دَ هغې اثر ترلرې پورې رسی او دَ ښارونو اوسيدونكی نسبتاً سليم العقل وی) دَ مخ دَ زمكې دَ آبادو صدر مقام مكه معظمه ده" امام فرمائی په آيت مذكوره كښې "امها" نه مراد مكه اودَ دې اطراف دی.

قوله: تكن: تخفي اكننت الشئي: اخفيته وكمننته اخفيته واظهرته: آيت كښې دی "وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا يُعْلِنُوْنَ" او ستا رب پوهيږی په هغه ځيزونو كوم چه دَ هغوی سينې پټوی او كوم چه هغوی ښكاره كوی. فرمائی چه تكن معنی تخفي يعنی پټوی. عرب وائی "اكننت الشئي" ما دا پټ كړو. وكننته (ازباب نصر) ما دا پټ كړو، هغه ظاهر كړو دَ اضداد نه دې.

قوله: يبسط الرزق لمن يشاء ويقدر: يوسع عليه ويضيق عليه: آيت كښې دی "وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ" فرمائی په آيت كښې يبسط معنی ده الله تعالی دَ هغوی رزق زياتوی او يقدرمعنی رزق كښې تنگی كول دی.

قوله: ويكان الله: مثل: الم تران الله يبسط الرزق لمن يشاء ويقدر:

د لفظ ‘‘ويكان،، تحقيق: ايا تاسو اونه ليدوچه الله تعالی دَ چا دَ پاره غواړی رزق زياتوی (اوچا دَپاره غواړی) تنگوی. په هندوستانی نسخوكښې "ويك ان" جدا جدا ليكلی دی او په مصری نسخو كښې "ويكان" يوځائ ليكلې شوی دی. صاحب الجمل فرمائی باجماع المصاحف دا كلمه متصل منلې شويده. دَ دې جدا جدا ليكل صحيح نه دی. [1]- البته په قراء كښې اختلاف دې، عاصم دَ اسم اعتباركوی او په مينځ كښې وقف نه كوی ليكن كسائی "وی" باندې وقف كوی او ابوعمرو بن العلاء "ويك" باندې وقف كوی. [2]- بيا په دې كښې هم اختلاف دې چه دا كلمه مفرده ده يا كلمه مركبه، بعضې حضراتووئيلی دی دا مفرد ده او "الم تر" معنی كښې ده لكه چه امام بخاری رحمه الله نقل كړی دی او بعضو وئيلی دی دا مركب ده، "وی" او "كان" نه "وی" "اعجب" په معنی كښې كلمه تعجب ده او "كان" حرف تشبيه ده ليكن تشبيه معنی دلته ختمه كړيشوه معنی ده [3]- "اعجب ان الله...." او بعضې

---

[1] (تعليقات لامع الدراری:۱٤۳/۹ وتفسيرجمل
[2] (تعليقات لامع الدراری:۱٤۳/۹
[3] (روح المعانی:۱۲٤/۳

حضرات وائى چه، دا "ويلك ان الله" په معنى كښې دې "ويلك" كښې لام دَ تخفيف په غرض سره حذف كړے شو "ويك ان الله" جوړ شو (١)-

[٢٦٤] بَاب إِنَّ الَّذِى فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ الْآيَةَ

[٤٤٩٥] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا يَعْلَى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الْعُصْفُرِيُّ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ لَرَادُّكَ إِلَى مَعَادٍ قَالَ إِلَى مَكَّةَ

[٢٦٥] باب: تفسير سورة العنكبوت

قال مجاهد وكانوا مستبصرين ضللة وقال غيره الحيوا الحى واحد وليعلمن الله علم الله ذلك انما هى بمنزلة فليميز الله كقوله ليميز الله الخبيث من الطيب اثقالا مع اثقالهم اوزارا مع اوزارهم.

سورة العنكبوت

د كلماتو تشريح:

قوله: قال مجاهد: وكانوا مستبصرين: ضللة: آيت كښې دى "وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَكَانُوا مُسْتَبْصِرِينَ" مجاهد رحمه الله فرمائى چه دَ مستبصرين معنى گمراه ده، دَ آيت مطلب دې "شيطان دَ هغوى په نظر كښې دَ هغوى اعمال ښائسته جوړ كړى دى نو هغې دوى دَ حق دَ لارې نه منع كړل او هغوى گمراه وو".

قوله: فليعلمن الله: علم الله ذلك انما هى بمنزلة فليميز الله ك قوله: ليميز الله الخبيث من الطيب:

د ايت "فليعلمن الله الذين صدقوا..." متعلق يو اشكال او د حضرت شيخ الهند رحمه الله جواب: آيت كښې دى "فَلَيَعْلَمَنَّ اللهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِينَ" دلته په ظاهره اشكال كيږى چه دَ الله تعالى علم خو ازلى دې "ليعلمن" صيغه مستقبل ده نو دَ الله تعالى دَ پاره مستقبل كښې علم ثابتول به څنګه صحيح وى؟ امام بخارى رحمه الله فرمائيلى دى چه صيغه خو دَ مستقبل ده ليكن په معنى كښې ماضى دې، اوس سوال دا پيدا كيږى نو بيا دَ مستقبل صيغه ولې استعمال كړې شو؟ دَ دې جواب امام بخارى "انما هى بمنزلة..." سره وركړيدې يعنى دلته دَ علم نه علم تمييز مراد دې. دَ هرڅيز اجمالى او تفصيلى علم دَالله تعالى ازلى دې او په دې كښې دَ خبرو شك او اجمال پورې نشته ليكن په دې كښې هيڅ شك نشته چه علم تمييز محدثات په وجود كښې دَ راتلونه پس كيږى. په دې وجه دلته دَ مستقبل صيغه استعمال

(١) (عمدة القارى: ١٠٧/١٩ وتفسير الكشاف: ٤٣٤/٣

کړې شوه. د دې سوال په جواب کښې شيخ الهند رحمه الله ليکی: "آيت چه حتی نعلم او فليعلمن او لمايعلم الله او لنبلونكم او الالنعلم وغيره كلمات موجود دی، دې ټولونه په ظاهر په پوهه کښې راځی چه الله تعالى ته نعوذبالله د دې څيزونوعلم روستوشوې وو، د دې څيزونو د وجودنه وړاندې علم نه وو. حالانکه د هغه علم د هرڅيز سره قديم دې. "وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا" علماؤ په څو قسمه د دې جواب ورکړيدې. بعضو د علم نه متميز او جدا جدا کول مراد اخستې دې، بعضو د امتحان معنى اخستې، چا علم په معنى د رؤيت اخستې، چا مستقبل په معنى د ماضى کړې، بعضو حدوث علم د نبى او مؤمنانوطرف ته يا مخاطبينو طرف ته واپس کړيدې. بعضې اکابر محققينو علم حالى چه ورستو وجود معلوم متحقق کيږی په کوم چه جزا او سزا مدح و ذم مترتب کيږی مراد اخستې دې او هم دا ئی خوښ کړې دې. بعضې راسخين مدققين د دې متعلق دوه خبرې ډير دقيق او انيق بيان فرمائيلی.

د اول خلاصه دا ده چه حسب ارشاد "وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا" ټول څيزونه د اول نه تراخره پورې حقير او عظيم، قليل او کثير د الله تعالى په وړاندې دی اود ټولو علم په يوځائ هغه ته دې. د هغه په علم کښې تقدم او تاخر هيڅ کله نشته. مګر په خپل مينځ کښې د يوبل په نسبت بيشکه مقدم او مؤخر ګڼړلې شی، نود الله تعالى د علم په حساب ټول په منزله د شئ واحد موجود دی په دې وجه هلته د ماضى حال او مستقبل راويستل بالکل غلط به وی البته د خپل مينځ تقدم او تاخرپه وجه دا دريواړه زمانې بالبداهت به جدا جدا راوځی. نو جناب باری کله د حسب موقع او حکمت د معلوميدلو په لحاظ سره کلام کوی اوکله د دې وقائع د تقدم او تاخر لحاظ کيږی، په اول صورت کښې خوهميشه د يو فريق دقيق په لحاظ سره د ماضى صيغه يا د حال صيغه استعماليږی،اود استقبال صيغه نشې استعماليدې او په دوئم صورت کښې د ماضى په موقع کښې ماضى او حال موقع کښې د حال او استقبال په ځائ استقبال راوړلې شی. او چرته چه د آئنده وقائع د ماضى په الفاظوکښې بيان کړې دې لکه "وَنَادٰى اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ" وغيره تو هلته دا لحاظ دې چه الله تعالى ته ټول مستحضر او په وړاندې دی او کوم ځائ کښې چه تيرشوی واقعات د استقبال په صيغه سره بيان شوی دی لکه هم په دې آيت کښې نو هلته هم دا په خيال کښې دی چه دا نسبت د خپل ماقبل مستقبل دې، د علم الهى په لحاظ سره استقبال نه دې چه د هغه په علم کښې د حدوث وهم وی.

د دوئم تحقيق خلاصه دا ده چه مونږ ته د څيزونو علم په دوو طريقوسره حاصليږی، يو بغيرد واسطې او بل سره د واسطې. مثلاً اُور څو کله په سترګو وينو او کله اُورزمونږ نه چرته پټ وی څو لوګې کتلوسره د اُور يقين کيږی او اکثر دا دواړه علمونه په يو ځائ موجود وی. مثلاً که اُور د نزدې نه اووينی نو لوګې به هم هغې سره په نظر راشی نو په داسې صورت کښې به د اُور علم په دواړو طريقو سره حاصل شې. يو څو بغيرواسطې څکه چه په سترګو اُور وينی، دوئم په واسطه سره يعنى د اُور علم د لوګی په واسطه سره او دا دواړه علمونه هم په يوځائ دی. وړاندې روستونه دی شوی څو علم په واسطه سره په علم

بغیرد واسطې کېږي دا ورننوتې وی چه دا په خیال کښې هم نه راځي. علی هذاالقیاس کله د دوو شئینو علم بغیرد واسطې نه هم په یو ځائ حاصلیږی مثلاً اور او لوګې په یوځائ اوګوری. دغه شان کله د یو شیٔ علم بغیرد واسطې او بل شیٔ علم د رومبی شیٔ په واسطه سره یو ځائ حاصلیږی. مثلاً د لوګې علم بغیرد واسطې اود اور علم په واسطه د لوګی سره، یا د اور علم بغیرد واسطې او د لوګی علم په واسطه سره دواړه یوځائ پیدا کیږی مګر چه څنګه دې قلم په لاس کښې راواخستو او لیکې نو په هر صورت کښې قلم او لاس ملاویږی خو وائی داسې چه اول لاس بیا قلم خوزوه،دغه شان عقل سلیم د یوځائ کیدو سره بغیرد واسطې د شیٔ علم سره د واسطې د شیٔ په علم باندې ضرور مقدم ګڼړی.
کله چه دا خبرې معلومې شوې نو اوس واوړئی چه الله تعالی ته چه علیم ذات دې د ټولو شئینوعلم په دواړه شانه دې. بغیرواسطې او سره د واسطې په یوځائ یعنی د لوازم ملزومات نه او د ملزومات د لوازم نه او دواړه علمونه د ازل نه برابر یو ځائ دی او قدیم دی. نو علم بلاواسطه په طریقه مذکوره سره مقدم او علم بالواسطه مؤخر اووایه. او چه کوم ځائ کښې د الله تعالی په علم کښې د استقبال صیغه یاد استقبال معنی موندلې شی نو د علم بالواسطه په لحاظ سره دې. د زمانې په اعتبار سره څه تفاوت او لړیوالی نشته. او چرته چه ماضی یا حال مستعمل دې هلته علم بلاواسطه مراد دې اود علم بالواسطه په اعتبار سره کلام فرمائیلوکښې دا حکمت دې چه د الله تعالی د کلام مخاطب سړی دې او هغوی ته اکثر د شئینوعلم بالواسطه کیږی او چرته چه جناب باري په خپل علم کښې د مستقبل صیغه استعمال کړیده هغه هم هغه امور دی چه بنی آدم ته بلاواسطه نشی معلومیدلې. که په داسې موقع کښې بنی آدم نه په اعتبار د علم بلاواسطه کلام کولې شو نو په هغه باندې به پوره الزام نه وو او چه کوم ځائ دا مصلحت نه وی په اعتبار د علم بلاواسطه صیغه ماضی یا حال استعمالولې شی مګر بنی آدم ته د دې شئینوعلم بلاواسطه کیدې نشی او د دې واسطوعلم د هغوی د وجود نه اول بنی آدم ته ممکن نه دې. په دې وجه د هغه ټول علوم برابر نشی حاصلیدې نو هغه الله تعالی په خپل ځان باندې قیاس کولوسره د مستقبل د صیغې نه حدوث ګڼړی او حیرانیږی چه د الله تعالی په علم کښې حدوث ثابت شو. مګر پوهه خلق چه د مذکوره نکتې نه خبر وی ټول د یو بل مطابق ګڼړی. (١)-

قوله: اثقالا مع اثقالهم: اوزارامع اوزارهم: آیت کښې دی "وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ"

فرمائی دې کښې اثقال معنی اوزار ده چه جمع ده د وزر په معنی د بوج، علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله فرمائي: "یعنې دروغژن دی او ستا بوج یوه رتئی هم نشی سپکولې، او خپل بوج درنوی. یو خود هغوی د ذاتی ګناه بار وو اوس د نور په اغواء او اضلال سره دې کښې نورهم زیاتې کوی، حضرت شاه صاحب لیکی چه څوك غواړي چه دوستی اوکړی او د چا ګناه په خپل سر واخلی، نودا به نه وی مګر څوك نی چه ګمراه کړل اود هغه په غولولو سره

---

(١) (تفسیر عثمانی:٢٧-٢٨

هغه ګناه اوکړه، نو هغه ګناه په ده باندې هم ده او په هغه باندې هم. لکه چه په حديث کښې راغلې دی چه په دنياکښې څوك په ناحقه سره قتل کړی د هغه د ګناه حصه د حضرت آدم عليه السلام ړومبی ځوئ (قابيل) ته رسی، چا چه اول دا خرابه لار راويستلې.

[٢٦٦] باب: تفسير سورة الم غلبت الروم

قال مجاهد يحبرون ينعمون فلا يربو عند الله من أعطى عطية يبتغي أفضل منه فلا أجر له فيها قال مجاهد يحبرون ينعمون يمهدون يسوون المضاجع الودق المطر قال ابن عباس هل لكم مما ملكت أيمانكم في الآلهة وفيه تخافونهم أن يرثوكم كما يرث بعضكم بعضا يصدعون يتفرقون فاصدع وقال غيره ضعف وضعف لغتان وقال مجاهد السوأى الإساءة جزاء المسيئين

الم غلبت الروم

د کلماتو تشريح:

قوله: يحبرون :ينعمون : "فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَهُمْ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ" هغه خلق چه ايمان ئې راوړې وو او ښه کارونه ئې کړی وو هغه خو به (د جنت) باغونوکښې خوشحاله وی.

فرمائی چه يحبرون معنی ينعمون: هغه به په نعمتونوکښې وی.

قوله: فلا يربو عند الله: من أعطى عطية يبتغي أفضل منه فلا أجر له فيها :آيت کښې دی "وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُو عِنْدَ اللَّهِ" يعنی په سود باندې تاسو کومې روپئی وغيره ورکونی دې د پاره چه په مال کښې زياتوالې اوشی نو هغه د الله تعالی په نيزد نه زياتيږی. فرمائي آيت کښې "فَلَا يَرْبُو عِنْدَ اللَّهِ" مطلب دا دې چه کوم سړې چاته د زيات اخستلو په غرض څه ورکړی نو د هغه په ورکړه کښې د هغه د پاره هيڅ اجر به نه وی. د سود په ذريعه د مال د زياتی مثال داسې دې لکه د بدن پړسوب چه د مرګ پيغام دې او د زکوة په ذريعه چه په مال کښې په ظاهره کوم کمې په نظر راځی هغه داسې دې لکه د جلاب په ذريعه د فاسد مادو تنقيه يعنی صفائی کول د کوم انجام چه صحت دې.

قوله: فلانفسهم يمهدون: يسوون المضاجع :آيت کښې دی "وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِأَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ" فرمائی يمهدون معنی ده خپل ځان د پاره بسترې سيده کوی، خوروی. يعنی چه کوم خلق نيك عمل کوی نو لکه چه خپل ځان د پاره (جنت يا قبرکښې) بسترې او فرش خوروی.

قوله: الودق: المطر : "فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ" ودق معنی باران يعنی بيا تاسو په وريځوکښې دننه باران راوتونکې وينې.

قوله: قال ابن عباس: هل لكم مما ملكت أيمانكم: في الآلهة :آيت کښې دی

"ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْ ۖ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن شُرَكَاءَ فِي مَا رَزَقْنَاكُمْ" الله تعالى ستاسو د پاره يو مثال بيان کړو په تاسو کښې څه ستاسو په غلامانو کښې تاسوسره شريك دى په هغه مالونوکښې کوم چه مونږ تاسو له درکړى دى". حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه په دې آيت کښې الله تعالى د باطلو معبودانو په سلسله کښې مثال بيان کړې دې. او په دې کښې فرمائيلى دى چه کله تاسو پخپله په هغه خبره راضى نه ئى چه ستاسو غلامان ستاسو په شان په مالونوکښې شريك شى او هغه ستاسو وارثان جوړى نو بيا تاسو دا باطل معبودان چه الله تعالى پيداکړى دى الله تعالى سره ولې شريك گڼرئى او د الله تعالى افعالوکښې ولې وارثان اوحقدار گرځوئى. دغه شان تاسو ته د خپل غلامانو نه هيڅ خطره اوِ انديښنه نه وى نو بيا څنگه دا گڼرئى چه الله تعالى ته به د دې باطلومعبودانو پرواه وى او د هغوى نه به څه ويره محسوس کړى.

قوله: يَصَّدَّعُونَ: يَتَفَرَّقُونَ: "يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ" په هغه ورځ به ټول خلق گډوډ او خواره شى يصدعون اصل کښې يتصدعون وو د باب تفعل په معنى خواره واره کيدل، **فقلبت تاءه صادا، وادغمت**

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ: ضُعْفٌ وَضَعْفٌ لُغَتَانِ: آيت کښې دى "اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن ضَعْفٍ" الله تعالى هغه ذات دې چا چه تاسو د کمزورئى په حالت کښې پيدا کړئى. فرمائى ضعف کښې دوه لغت دى يو ضاد فتح سره او دوئم ضاد ضمه سره.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: السُّوأَى: الْإِسَاءَةُ جَزَاءُ الْمُسِيئِينَ: آيت کښې دى "ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِينَ أَسَاءُوا السُّوأَىٰ أَن كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ" بيا د خرابوخلقو انجام خراب شو چه هغوى د الله تعالى نبنې دروغ گڼرلى وې. مجاهد رحمه الله فرمائى آيت کښې د السواى معنى دخرابۍ چه کومه جزا وى د خرابى کونکو.

[٤٤٩٦] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ وَالْأَعْمَشُ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يُحَدِّثُ فِي كِنْدَةَ فَقَالَ يَجِيءُ دُخَانٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَأْخُذُ بِأَسْمَاعِ الْمُنَافِقِينَ وَأَبْصَارِهِمْ يَأْخُذُ الْمُؤْمِنَ كَهَيْئَةِ الزُّكَامِ فَفَزِعْنَا فَأَتَيْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ وَكَانَ مُتَّكِئًا فَغَضِبَ فَجَلَسَ فَقَالَ مَنْ عَلِمَ فَلْيَقُلْ وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ فَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ أَنْ يَقُولَ لِمَا لَا يَعْلَمُ لَا أَعْلَمُ فَإِنَّ اللَّهَ قَالَ لِنَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ وَإِنَّ قُرَيْشًا أَبْطَئُوا عَنِ الْإِسْلَامِ فَدَعَا عَلَيْهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَتَّى هَلَكُوا فِيهَا وَأَكَلُوا الْمَيْتَةَ وَالْعِظَامَ وَيَرَى الرَّجُلُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ كَهَيْئَةِ الدُّخَانِ فَجَاءَهُ أَبُو سُفْيَانَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ جِئْتَ تَأْمُرُنَا بِصِلَةِ الرَّحِمِ وَإِنَّ قَوْمَكَ قَدْ هَلَكُوا فَادْعُ اللَّهَ فَقَرَأَ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ إِلَى قَوْلِهِ عَائِدُونَ أَفَيُكْشَفُ عَنْهُمْ عَذَابُ الْآخِرَةِ إِذَا

جَاءَ ثُمَّ عَادُوا إِلَى كُفْرِهِمْ فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى يَوْمَ بَدْرٍ وَلِزَامًا يَوْمَ بَدْرٍ الم غُلِبَتِ الرُّومُ إِلَى سَيَغْلِبُونَ وَالرُّومُ قَدْ مَضَى

په دې حديث كښې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دَ خپل دې خيال اظهار اوكړو دَ كوم تذكره چه په ماقبل كښې تيره شوې ده چه لزام، دخان او بطشه دَ هغوى په نيزد واقع شويدى او دَ هغوى تعلق قريشو سره دې. دلته چه كوم سړى ونيلى دى چه دَ دخان واقع كيدل به په قيامت كښې وى هغه هم په خپل ځائ صحيح دې، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دَ خپل علم مطابق دَ دې انكار كړيدې ګنى جمهور علماء دَدې انكار نه كوى.

[۲۶۷] بَابُ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ لِدِينِ اللَّهِ خُلُقُ الْأَوَّلِينَ دِينُ الْأَوَّلِينَ وَالْفِطْرَةُ الْإِسْلَامُ

[۴۴۹۷] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ ثُمَّ يَقُولُ فِطْرَةَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ

آيت كښې دى "فِطْرَةَ اللهِ الَّتِیْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۖ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ ۖ" دې كښې "خلق الله" تشريح "دين الله" نه او فطرت تشريح اسلام سره كړيده. دغه شان په سورة الشعراء كښې دى "اِنْ هٰذَآ اِلَّا خُلُقُ الْاَوَّلِيْنَ" دې كښې خلق په معنى دَ دين دې. دَ روايت په آخره كښې ثم يقول: فطرة الله...دې،دې "يقول" ضمير رسول الله صلى الله عليه وسلم طرف ته نه راګرځى لكه چه دَ ظاهر نه معلوميږى بلكه دا دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه ارشاد دې. په كتاب الجنائز كښې دَ دې تصريح ده. ([1])

دَ "فطرت الله التى فطر الناس عليها"، تفسير: علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله ليكلى دى: الله تعالى دَ سړى كره وړه دَ شروع نه داسې ايخودې دى چه هغه دَ حق قبلول او پوهه غواړى نو كولې شى اودَفطرت دَ شروع نه خپل اجمالى معرفت يوپرق دَهغه په زړه كښې دَتخم په توګه دَ هدايت اچولې دې. كه چرې دَ چاپيره احوال او ماحول خراب اثر نه متاثر نه وى او په اصل طبيعت باندې پريخودلې شى نو خامخا به حق دين اختياروى بل طرف ته به نه متوجه كيږى. "عهد الست" په قصه كښې هم دې طرف ته اشاره ده او په احاديث صحيحه كښې تصريح ده چه هرماشوم په فطرت (اسلام) باندې پيدا كيږى روستو مور پلار هغه يهودى نصرانى او مجوسى جوړوى. په يوحديث قدسى كښې دى چه ما خپل بنده ته "حنفاء" پيدكړو. بيا

[1] (صحيح بخارى مع عمدة القارى كتاب الجنائز باب اذا اسلم اصبى: ۱۷۶/۸

شيطانانو اغواء كړو اوهغه ئې د نيغې لارې نه واړولو، بهرحال دين حق، دين حنيف او دين قيم هغه دې كه انسان د هغه په فطرت باندې محلى بالطبع پريخودې شى نو د خپل طبيعت نه به د هغې طرف ته تيټ شى، د ټولو انسانانو فطرت الله تعالى داسې جوړ كړيدې په كوم كښې چه څه تفاوت او بدلون نشته. فرض كړه كه فرعون يا ابوجهل په اصلى فطرت كښې دا استعداد او صلاحيت نه وې نو هغوى د حق د قبلولو مكلف جوړول نه صحيح كيدل لكه چه خښته كانړې يا څناور ئې د شرائع مكلف نه دى جوړ كړى، د انسانى فطرت هم د دې يوشان والى اثر دې چه د دين ډير مهمه اصول په څه ناڅه رنګ كښې تقريباً ټول انسانان تسليم كوى سره د دې كه په هغې باندې صحيح قائم نه اوسيږى.

حضرت شاه صاحب رحمه الله ليكى الله تعالى د ټولوحاكم، د ټولو نه عجيبه، څوك د هغه برابر نشته. د چا زور په هغه نشته، دا خبرې ټول پيژنى، په دې تلل پكار دى، هسې د چا ځان او مال تنګول.په ناموس باندې عيب لګول هرسړې بد ګڼړى، داسې الله تعالى يادول، غريب باندې ترس خوړل، پوره حق وركول. دهوكه نه كول هر سړې ښه پيژنى. په دې لار باندې تلل هم دغه دين رښتونې دې (دا فطرى امور دى مګر) د دې بندوبست د پيغمبرانو په ژبه الله تعالى خودلى دى.

سورة لقمان

[٢٦٧] بَاب لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ

[٤٤٩٨] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ شَقَّ ذَلِكَ عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالُوا أَيُّنَا لَمْ يَلْبِسْ إِيمَانَهُ بِظُلْمٍ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ لَيْسَ بِذَاكَ أَلَا تَسْمَعُ إِلَى قَوْلِ لُقْمَانَ لِابْنِهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ

[٢٦٩] بَاب قَوْلِهِ إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ

[٤٤٩٩] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ عَنْ جَرِيرٍ عَنْ أَبِي حَيَّانَ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَوْمًا بَارِزًا لِلنَّاسِ إِذْ أَتَاهُ رَجُلٌ يَمْشِي فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الْإِيمَانُ قَالَ الْإِيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَلِقَائِهِ وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ الْآخِرِ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الْإِسْلَامُ قَالَ الْإِسْلَامُ أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا تُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الْإِحْسَانُ قَالَ الْإِحْسَانُ أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنْ السَّائِلِ وَلَكِنْ سَأُحَدِّثُكَ عَنْ أَشْرَاطِهَا إِذَا وَلَدَتْ الْمَرْأَةُ رَبَّتَهَا فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا وَإِذَا كَانَ الْحُفَاةُ الْعُرَاةُ رُءُوسَ النَّاسِ

فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا فِي خَمْسٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ثُمَّ انْصَرَفَ الرَّجُلُ فَقَالَ رُدُّوا عَلَيَّ فَأَخَذُوا لِيَرُدُّوا فَلَمْ يَرَوْا شَيْئًا فَقَالَ هَذَا جِبْرِيلُ جَاءَ لِيُعَلِّمَ النَّاسَ دِينَهُمْ

[۴۵۰۰] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَفَاتِيحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ ثُمَّ قَرَأَ إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ

[۲۷۰] باب: تفسير سُورَةُ تنزيل (السَّجْدَةِ)

وَقَالَ مُجَاهِدٌ مَهِينٍ ضَعِيفٍ نُطْفَةُ الرَّجُلِ ضَلَلْنَا هَلَكْنَا وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْجُرُزُ الَّتِي لَا تُمْطَرُ إِلَّا مَطَرًا لَا يُغْنِي عَنْهَا شَيْئًا يَهْدِ يُبَيِّنْ

سُورَةُ تنزيل

د كلماتو تشريح:

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: مَهِينٍ: ضَعِيفٍ: نُطْفَةُ الرَّجُلِ: آيت كښې دى "ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ" بيا جوړ كړو د هغه نسل د بې قدره اوبود څاڅكى نه، فرمائى مهين معنى ضعيف ده او دينه مراد د سړى نطفه او منى ده.

قوله: ضَلَلْنَا: هَلَكْنَا: آيت كښې دى "وَقَالُوْٓا ءَاِذَا ضَلَلْنَا فِى الْاَرْضِ ءَاِنَّا لَفِىْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ" فرمائى ضللنامعنى هلكنا يعنى كافر وائى چه آيا كله مونږ په زمكه كښې ختم شو نو بيا به د نوى سر نه پيدا كيږو.

قوله: الْجُرُزُ: الَّتِي لَا تُمْطَرُ إِلَّا مَطَرًا لَا يُغْنِي عَنْهَا شَيْئًا: "اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَآءَ اِلَى الْاَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا" آيا هغوى په دې خبره باندې نظر نه دې كړې چه مونږ اوچې زمكې ته اوبه رسوو بيا د هغې په ذريعه فصل پيداكوو. فرمائى چه جرز هغه زمكې ته وائى چرته چه ډيركم باران كيږى د څه نه چه هغه زمكې ته هيڅ فائده نه رسى.

قوله: يَهْدِ: يُبَيِّنْ: آيت كښې دى "اَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ" آيا د هغوى د پاره دا امر د لار خودنې موجب نه دې چه مونږ د دوى نه وړاندې څومره امتونه هلاك كړى دى. فرمائى "يهد" معنى يبين يعنى آيا بيان نه دې كړې.

[۲۷۱] بَاب قَوْلِهِ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ

[۴۵۰۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى

أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ وحَدَّثَنَا عَلِيٌّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ اللَّهُ مِثْلَهُ قِيلَ لِسُفْيَانَ رِوَايَةً قَالَ فَأَيُّ شَيْءٍ

[٤٥٠٢] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ ذُخْرًا بَلْهَ مَا أُطْلِعْتُمْ عَلَيْهِ ثُمَّ قَرَأَ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ قَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ قَرَأَ أَبُو هُرَيْرَةَ قُرَّاتِ أَعْيُنٍ

قوله: ذُخْرًا بَلْهَ مَا أُطْلِعْتُمْ عَلَيْهِ: حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې "عن النبی صلی الله علیه وسلم یقول الله: اعددت لعبادی الصالحین مالاعین رات ولااذن سمعت ولاخطر علی قلب بشر ذخرا من بله ما اطلعتم علیه ثم قراء: فلاتعلم نفس مااخفی لهم من قرة اعین جزاء بماکانویعملون" په دې روایت کښې "ذخرا" تعلق "اعددت" سره دې او "مذخورا" په معنی کښې دې. ای اعددت ذلك لهم مذخورا یعنی دَ نیکانوخلقو دَ پاره ما دا ذخیره تیاره کړه.

د ``ذخرا بله ما اطلعتم علیه،، معنی: او "بله مااطلعتم علیه" کښې مختلف اقوال دی یو دا دې چه "بله" اسم فعل په معنی "دع" دې، په دې صورت کښې به ترجمه وی تاسو پریږدئی هغه نعمتونه په کومو چه تاسو خبردار شوی ئی، یعنی مونږ چه په جنت کښې کوم نعمتونه دَ نیکانوخلقو دَ پاره تیارکړی دی هغه ډیر اوچت دی، دې وخت کښې چه کوم نعمتونه تاسو په دنیاکښې پیژنئی هغه پریږدئی ځکه چه هغه په جنت کښې ذخیره شوی نعمتونو په مقابله کښې ډیر معمولی دی، علامه عینی رحمه الله په دې صورت کښې ترجمه لیکی: "دع مااطلعتم علیه: فانه سهل یسیرفی جنت ماادخرته لهم"(١)- دونم قول دا دې چه دا لفظ "من بله" دې او په معنی کښې د "غیر" دې. په دې صورت کښې به ترجمه وی، دَ نیکانودَ پاره چه دَ نعمتونو کومه ذخیره مونږ تیاره کړیده هغه دَ دې نعمتونونه علاوه دی دَ کومو نه چه تاسوخبرشوې ئی، دې صورت کښې "بله" دَ مابعد طرف ته مضاف دې. (٢)- دریم قول دا دې "من بله" په معنی کیف "بله" مبنی په فتح کیف په معنی کښې دې. اوکیف دَ استفهام استبعاد دَ پاره دې او معنی ده "من این اطلاعکم علی هذاالقدر الذی تقصرعقول البشرعن الاحاطة به" یعنی تاسو په

(١)(عمدة القاری:١٩/١١٤)
(٢)(فتح الباری:٨/٥١٦)

دې نعمتونوباندې څنګه اطلاع حاصلول شني د کوم د احاطې نه انساني عقلونه قاصر دي. (١)- والله اعلم

[٢٧٢] باب: تفسير سُورَةُ الْأَحْزَابِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ صَيَاصِيهِمْ قُصُورِهِمْ

الْأَحْزَابِ

د کلماتو تشريح:

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ صَيَاصِيهِمْ قُصُورِهِمْ: ﴿وَأَنْزَلَ الَّذِينَ ظَاهَرُوهُمْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ صَيَاصِيهِمْ﴾ اود اهل کتاب نه چه کومو خلقو د دې (مشرکانو) امداد کړې وو الله تعالى هغوى د هغوى د قلعه ګانونه لاندې راکوز کړل. فرمانى صياصيهم معنى قلعه ګانې. محل.

[٢٧٣] بَابُ النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ

[٤٥٠٣] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ هِلَالِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مُؤْمِنٍ إِلَّا وَأَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ تَرَكَ مَالًا فَلْيَرِثْهُ عَصَبَتُهُ مَنْ كَانُوا فَإِنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيَاعًا فَلْيَأْتِنِي فَأَنَا مَوْلَاهُ

[٢٧٤] بَابُ ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ

[٤٥٠٤] (٢) حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ الْمُخْتَارِ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي سَالِمٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كُنَّا نَدْعُوهُ إِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَتَّى نَزَلَ الْقُرْآنُ ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ

[٢٧٥] بَابُ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا

نَحْبَهُ عَهْدَهُ أَقْطَارِهَا جَوَانِبُهَا الْفِتْنَةَ لَآتَوْهَا لَأَعْطَوْهَا

---

(١) (فتح البارى:٨/٥١٦)

(٢) (واخرجه مسلم فى فضائل الصحابة، باب فضائل زيدبن حارثة، رقم الحديث:٢٤٢٥ واخرجه الترمذى فى المناقب، باب مناقب زيدبن حارثة، رقم الحديث:٣٨١٤ واجرجه النسائى فى السنن الكبرى فى التفسير باب سورة الاحزاب رقم الحديث:١١٣٩٧-

[٤٥٠٥] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ نُرَى هَذِهِ الْآيَةَ نَزَلَتْ فِي أَنَسِ بْنِ النَّضْرِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ

[٤٥٠٦] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ قَالَ لَمَّا نَسَخْنَا الصُّحُفَ فِي الْمَصَاحِفِ فَقَدْتُ آيَةً مِنْ سُورَةِ الْأَحْزَابِ كُنْتُ كَثِيرًا أَسْمَعُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَؤُهَا لَمْ أَجِدْهَا مَعَ أَحَدٍ إِلَّا مَعَ خُزَيْمَةَ الْأَنْصَارِيِّ الَّذِي جَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهَادَتَهُ شَهَادَةَ رَجُلَيْنِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ

قوله: شَهَادَتَهُ شَهَادَةَ رَجُلَيْنِ:

د حضرت خزيمه رضي الله عنه ګواهي د دوه سړو د ګواهۍ قائم مقام وو: د ابوداؤد، نسائی او عبدالرزاق په روايت کښې دی چه يو ځل رسول الله ﷺ د يو باندچی نه اس واخستو او د قيمت ادا کولو د پاره ئې باندچی ته ځان سره د تلو د پاره اوفرمائيل،هغه وخت څه نورو خلقو د دې باندچی نه هغه اس په زيات قيمت د اخستلو د پاره اووئيل، کله چه هغوی ﷺ د اس قيمت ادا کړو نو د اس په دې سودا باندې ګواه اوغوښتلو، حضرت خزيمه رضي الله عنه هلته موجود وو هغه ګواهي ورکړه چه رسول الله ﷺ دا اس اخستې دې. حضور ﷺ حضرت خزيمه رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه ته خود بيع په وخت کښې هلته موجودنه وې، تاڅنګه ګواهي ورکړه؟ هغه اووئيل چه د آسمان خبرې تاسوله راځی په هغې کښې مونږ ستاسو تصديق کوو دا خو د زمکې واقعه ده په دې کښې به مونږ ستاسو تصديق څنګه نه کوو. هغه وخت حضور ﷺ د حضرت خزيمه رضي الله عنه ګواهي د دوو سړو د ګواهۍ قائم مقام اوګرځوله. (١)- په طبراني کښې د دې باندچی نوم سوادبن حارث بيان کړيشوې دې. (٢)- د حضرت خزيمه رضي الله عنه د واقعې نه بعضې حضراتو دا استدلال کړيدې چه چرته يو سړې ډير زيات معتبر او ثقه وی نود هغه ګواهي د دوو سړو د ګواهۍ قائم مقام کيديشي. ليکن علامه خطابی رحمه الله په دې باندې اشکال کړيدې چه د دې واقعې نه دا مذکوره استدلال صحيح نه دې ځکه چه حضور ﷺ د اس د اخستلوکومه فيصله اوفرمائيله هغه ئې د خپل علم په بنياد باندې فرمائيلې وه، د حضرت خزيمه رضي الله عنه د ګواهۍ په بنياد باندې نه وه فرمائيلې او د ګواهۍ حيثيت صرف د تاکيدد پاره وو، په دې وجه دې واقعې نه مذکوره استدلال صحيح نه دې.(٣) -

---

(١)(فتح البارى:٨/٥١٨
(٢)(فتح البارى:٨/٥١٩
(٣)(فتح البارى:٨/٥١٩ ومعالم السنن

[۲۷۶] باب قوله يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ

أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا وَقَالَ مَعْمَرٌ التَّبَرُّجُ أَنْ تُخْرِجَ مَحَاسِنَهَا سُنَّةَ اللَّهِ اسْتَنَّهَا جَعَلَهَا
آیت کښې دی "وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى" اوتاسو په خپلو کورونو کښې ناستې اوسئ اود پخوانۍ زمانې د جاهليت په شان مه ګرځئ. معمر بن مثنى يعنى ابوعبيده فرمائي چه تبرج دا دې چه ښځه خپل حسن ښکاره کړي.

قوله: سُنَّةَ اللَّهِ اسْتَنَّهَا جَعَلَهَا: آیت کښې دی "سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ" د الله تعالى همدغه معمول د هغه خلقو په حق کښې هم وو کوم چه وړاندې تيرشوی دی. فرمائي سنة الله نه هغه معمول او طريقه مراد ده کومه چه الله تعالى مقرر کړيده.

[۴۵۰۷] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَهَا حِينَ أَمَرَهُ اللَّهُ أَنْ يُخَيِّرَ أَزْوَاجَهُ فَبَدَأَ بِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي ذَاكِرٌ لَكِ أَمْرًا فَلَا عَلَيْكِ أَنْ لَا تَسْتَعْجِلِي حَتَّى تَسْتَأْمِرِي أَبَوَيْكِ وَقَدْ عَلِمَ أَنَّ أَبَوَيَّ لَمْ يَكُونَا يَأْمُرَانِي بِفِرَاقِهِ قَالَتْ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللَّهَ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِلَى تَمَامِ الْآيَتَيْنِ فَقُلْتُ لَهُ فَفِي أَيِّ هَذَا أَسْتَأْمِرُ أَبَوَيَّ فَإِنِّي أُرِيدُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ

د حديث باب تشريح: حضوراکرم ﷺ د آيت تخيير نازليدونه پس حضرت عائشه رضی الله عنها خواله راغلو او هغې ته ئې اوفرمائيل چه زه به تاته يوه خبره کوم ته د هغې جواب په تندئي سره مه راکوه د خپل موربلار سره د مشورې نه پس ئې راکړه. دا تحفظ او احتياط حضور اکرم ﷺ ځکه اوفرمائيلو چه حضرت عائشه رضی الله عنها کم عمر وه چه چرته هغه غلطه فيصله اونه کړي نو ځکه هغوی ﷺ هم دا نه غوښتل چه حضرت عائشه رضی الله عنها دې جدا شي. نبى کريم ﷺ هغې ته آيت تخيير واورولو، حضرت عائشه رضی الله عنها صحيح فيصله اوکړه او وئې فرمائيل چه زه الله تعالى او د هغه رسول اختياروم او په دې باندې د حيرانتيا اظهاراوکړو چه په دې کښې د مور پلار سره د مشورې څه خبره وه، ظاهره ده چه زه تاسو څنګه پريخودې شم. حضرت عائشه رضی الله عنها حضور ﷺ ته دا هم اوفرمائيل چه زما دا جواب نورو بيبيانوته مه ښائې، کيدې شي چه د حضرت عائشه رضی الله عنها دا خواهش وو چه په هغې کښې څه داسې وي چه دنيا اختيار کړي او د نبى کريم ﷺ د زوجيت نه فارغې شي نو بيا به شمير کم شي. حضور اکرم ﷺ اوفرمائيل چه چاتپوس اونه کړو نوزه به ئې پخپله نه ښائم ليکن که تپوس ئې اوکړو نو بيا به ئې پټوم نه. حضور اکرم ﷺ د نورو بيبيانو په وړاندې آيت تخيير بيان کړو نو هرې يوې الله تعالى او د هغه رسول ﷺ اختيارولو فيصله اوکړه، ځکه چه د حضور اکرم ﷺ د صحبت او معيت نه د هرې يوې زړه د ايمان په رڼړا منور وو. هغوى دنيا ته د الله

تعالى او دَ هغه دَ رسول ﷺ په مقابله كښې څنګه ترجيح وركولې شوه. يوې هم دنياته ترجيح ورنه كړه اودَ نبى كريم ﷺ سره ئې دَ اوسيدو فيصله اوكړه.

[٢٧٧] بَاب قَوْلِهِ وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا

وَقَالَ قَتَادَةُ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ الْقُرْآنِ وَالْحِكْمَةُ السُّنَّةُ وَقَالَ اللَّيْثُ (١) حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ لَمَّا أُمِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَخْيِيرِ أَزْوَاجِهِ بَدَأَ بِي فَقَالَ إِنِّي ذَاكِرٌ لَكِ أَمْرًا فَلَا عَلَيْكِ أَنْ لَا تَعْجَلِي حَتَّى تَسْتَأْمِرِي أَبَوَيْكِ قَالَتْ وَقَدْ عَلِمَ أَنَّ أَبَوَيَّ لَمْ يَكُونَا يَأْمُرَانِي بِفِرَاقِهِ قَالَتْ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللَّهَ جَلَّ ثَنَاؤُهُ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا إِلَى أَجْرًا عَظِيمًا قَالَتْ فَقُلْتُ فَفِي أَيِّ هَذَا أَسْتَأْمِرُ أَبَوَيَّ فَإِنِّي أُرِيدُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ قَالَتْ ثُمَّ فَعَلَ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ مَا فَعَلْتُ تَابَعَهُ مُوسَى بْنُ أَعْيَنَ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ وَقَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَأَبُو سُفْيَانَ الْمَعْمَرِيُّ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ

[٢٧٨] بَاب وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَاهُ

[٤٥٠٩] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ مَنْصُورٍ عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ هَذِهِ الْآيَةَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ نَزَلَتْ فِي شَأْنِ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَزَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ

د ايت كريمه دوه تفسيرونه: د دې ايت دوه تفسيرونه شوى دى يوتفسير امام ابى حاتم او على بن الحسين زيد العابدين نه منقول دې چه الله تعالى حضور اكرم ﷺ ته خودلى وو چه

---

(١)(واخرجه مسلم فى الطلاق باب ان تخير امراته لايكون طلاقا الابالنية رقم الحديث:١٤٧٥ واخرجه الترمذى فى التفسير باب سورة الاحزاب رقم الحديث:٣٢٠٤ واخرجه النسائى الكبرى فى كتاب النكاح باب ما افترض الله على رسوله وخفضه على خلقه ليزيده به ان شاء الله قربة اليه رقم الحديث:٥٣٠٩-

(٢)(واخرجه ايضاً فى التوحيد باب قوله تعالى وكان عرشه على الماء رقم الحديث:٧٤٢٠(مع الفتح) واخرجه الترمذى فى التفسير باب سورة الاحزاب رقم الحديث:٣٢١٢ واخرجه النسائى فى السنن فى التفسير باب وتخفى فى نفسک ما الله مبديه رقم الحديث:١١٤٠٧-

زینب بنت جحش د هغوی په نکاح کښې راتلونکې ده لیکن د هغې نکاح د حضرت زیدبن حارثه سره شوې وه اوهغه د نبی کریم ﷺ متبنٰی وو په دې وجه د خلقو د خبرو د ویرې هغوی ﷺ دا خبره نه ظاهروله چه زینب بنت جحش زما په نکاح کښې راتلونکې ده. په زړه کښې همدغه ووچه زیدبن حارثه رضی الله عنه طلاق ورکړي نو زه به ورسره نکاح کوم، په دې دوران کښې حضرت زید راغلواود حضرت زینب رضی الله عنها شکایت ئې هم اوکړو لیکن هغوی اوفرمائیل "امسك علیك زوجك واتق الله" اوالله تعالی چه څه خودلې ووچه دا ستا په نکاح کښې راتلونکې ده هغه ئې پټ کړل، هم د دې متعلق ئې اوفرمائیل "وتخفی فی نفسك ماالله مبدیه" دې نه پس حضرت زید طلاق ورکړو او الله تعالی د اوو آسمانونو د پاسه د حضرت زینب نکاح حضور اکرم ﷺ سره اوکړه. په کتاب التوحیدکښې دا روایت موجود دې. (١)- د آیت هم دا تفسیر جمهور علماؤ اختیارکړیدې. (٢)- مولانا شبیراحمد عثمانی رحمه الله هم دا اختیارکړیدې هغوی لیکی: "حضرت زینب رضی الله عنها د رسول الله ﷺ د ترور لور او د قریشود اوچت خاندان نه وه، نبی کریم ﷺ غوښتل چه د هغې نکاح زیدبن حارثه رضی الله عنه سره اوکړی، دا زیدهم په اصل کښې شریف عرب وو لیکن په وړوکوالی کښې دې چا ظالم راوستلو او غلام ئې جوړکړو او د مکې بازارکښې خرڅ کړو.حضرت خدیجه رضی الله عنها واخستلو او خوورخې پس ئې نبی کریم ﷺ ته هیبه کړو، حضور ﷺ هغه آزاد کړو او متبنٰی ئې جوړکړو. د حضرت زینب رضی الله عنها خاندانی حیثیت ډیر اوچت وو او زیدبن حارثه رضی الله عنه په ظاهره د غلامئ داغ اوچت کړې آزاد شوې وو. په دې وجه د هغې او د هغې د رور زید سره د نکاح کولو مرضی نه وه. لیکن الله او د هغه رسول ﷺ ته منظور وه چه دا قسمه موهوم تفریقات او امتیازات په نکاح کښې رکاوټ جوړنه شی. د دې پاره نبی کریم ﷺ زینب او د هغې په ورو باندې زور اوکړو چه هغوی دې دانکاح قبوله کړی، هم په هغه وخت آیت نازل شو "وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا" اودې خلقو خپله مرضی الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ په مرضئ قربان کړله او د زیدبن حارثه رضی الله عنه نکاح حضرت زینب رضی الله عنها سره اوشوه. حضرت زینب رضی الله عنها چه د زید رضی الله عنه په نکاح کښې راغله نود مزاج برابر والی نه وو نو خپل مینځ کښې به چه کله جګړه اوشوه نو زید رضی الله عنه به حضور اکرم ﷺ ته شکایت کولو اووئیل به ئې چه زه هغه پرېږدم، حضرت به منع کولو چه زما په خاطر او د الله او د هغه د رسول په حکم سره هغې ته د خپلې رضا خلاف ته قبول کړې اوس پرېخودل به هغه اود هغې رشته داران بله بې عزتی اوګڼړي نو د الله نه اوویرېږه او په وړو وړو خبرو باندې ورانې مه راوله او ترکومې چه کیدیشی نو د کور جوړولو کوشش کوه. کله چه معامله په یو شان هم برابره نشوه او هر وخت جنګ جګړې

(١)(صحیح البخاري:کتاب التوحید باب بلاترجمة:١١٠٣/٢-١١٠٤

(٢)(قال القرطبي: قال علماؤنا:قول علی بن الحسین احسن ماقیل فی الایة وهوالذی علیه اهل التحقیق من المفسرین والعلماء الراسخین (البدری الساری: ٢٢٠/٤)

کيدې نو ممکن ده چه دَ نبی کريم ﷺ په زړه کښې دا راغلې وی که زيد غريب هغه پريږدی نو دَ زينب دَ زړه ساتنه بغير دې نه ممکن نه ده چه زه پخپله هغې سره نکاح اوکړم. ليکن دَ جاهلانو او منافقانو دَ بدو خبرو انديښنه وه چه دَ خپل خوی ښځه ئې کور کښې ساتلې ده. الله تعالی نبی کريم ﷺ خبرکړو چه دَ زينب نکاح تاسو سره کونکې يم، ولې نکاح کښې ورکونکې يم؟ دا پخپله دَ قرآن په الفاظو کښې "لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِيٓ أَزْوَاجِ أَدْعِيَآئِهِمْ" صفاصفا ظاهريږی. او کيديشی چه هم دا حکمت وی چه اول دَ زينب نکاح په زور اچولو سره زيد سره اوکړې شوه ځکه چه الله تعالی ته معلومه وه چه دا نکاح به ډير وخت پورې باقی نه وی، يوځومصالح مهمه وو چه دَ هغې حاصلولو په دې نکاح پورې زوړند وو. لهٰذا دا چه نبی کريم ﷺ دَ خپل ذاتی خيال، آسمانی پيشن ګوئې اودَ عوامو دَ پيغورونو خيال ساتلو سره شرميدلو او زيد ﷺ ته دَ طلاق مشورې ورکولوسره هم حياء کوله ليکن دَ الله تعالی خبره خوبه رښتيا کيدله او دَ هغه حکم تکوينی او تشريعی ضرور وو چه پوره کيدلو به. آخر حضرت زيد ﷺ طلاق ورکړو او عدت تيريدلو سره الله تعالی دَ حضور ﷺ نکاح حضرت زينب ﷺ سره اوتړله. دَ دې تقريرنه معلومه شوه چه دَ هغوی په زړه کښې کوم ځيز پټ وو هغه هم دا دَ نکاح پيشن ګوئی او دا خيال وو. (١)-

بعض مفسرينو روايات نقل کړی دی چه دَ نبی کريم ﷺ په زړه کښې کوم ځيز پټ وو هغه دَ زينب ﷺ سره محبت وو اود هغې سره محبت شوې وو ليکن دا قسم ټول روايات صحيح نه دی. حافظ ابن حجر رحمة الله عليه پورته ذکر شوی تفسير روايت نقل کولونه پس ليکی: "ووردت آثار اخری، اخرجها ابن ابی حاتم والطبری، ونقلها کثير من المفسرين لاينبغی التشاغل بها، والذی اوردته منها هو المعتمد، والحاصل ان الذی کان يخفيه النبی صلی الله عليه وسلم هو اخبار الله اياه انها ستصير زوجته، والذی کان يحمله علی اخفاء ذلك خشية قول الناس: تزوج امراة ابنه" (٢)-

[٢٧٩] بَاب قَوْلِهِ تُرْجِئُ مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ

"يعنی روستو ئې کړئې تاسو چه ځوك غواړئې هغوی نه خپل ځان سره ځائ ورکړئې چاله چه غواړئې او کومې چه دَ خپل ځان نه جدا کړې وې يعنی روستوکړې وې او په هغوی کښې چه ځوك غواړې خپل ځان سره اوساته، په تاباندې دې کښې هيځ ګناه نشته" مقصد دا دې چه قسم بين الازواج تاسو باندې واجب نه دې. ليکن هغوی هميشه انصاف کړې دې او دا دَ هغوی ﷺ دَ طرف نه تبرع وه، صرف دَ حضرت سوده ﷺ دَ عمر دَ زياتوالی په وجه په آخره کښې خپل نمبر حضرت عائشه ﷺ ته ورکړې وو. دَ دې آيت درې تفسيرونه شوی دی.

(١)(تفسير عثمانی: ٥٦-٥٦٣ فائده نمبر ٥٠٣
(٢)(فتح الباری: ٨/٥٢٤

① تطلق من تشاء وتمسك من تشاء (١)- ② تعتزل من تشاء وتقيم من تشاء (٢)-
③ تقبل من تشاء من الواهبات وترد من تشاء (٣)- مونږ په ترجمه كښې دوئمه توجيه اختيار كړې ده.

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ تُرْجِئُ تُؤَخِّرُ أَرْجِئْهُ أَخِّرْهُ

[٤٥١٠] حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ قَالَ هِشَامٌ حَدَّثَنَا عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أَغَارُ عَلَى اللَّاتِي وَهَبْنَ أَنْفُسَهُنَّ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَقُولُ أَتَهَبُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَلَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى تُرْجِئُ مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ قُلْتُ مَا أُرَى رَبَّكَ إِلَّا يُسَارِعُ فِي هَوَاكَ

[٤٥١١] (٤) حَدَّثَنَا حِبَّانُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا عَاصِمٌ الْأَحْوَلُ عَنْ مُعَاذَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْتَأْذِنُ فِي يَوْمِ الْمَرْأَةِ مِنَّا بَعْدَ أَنْ أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ تُرْجِئُ مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ فَقُلْتُ لَهَا مَا كُنْتِ تَقُولِينَ قَالَتْ كُنْتُ أَقُولُ لَهُ إِنْ كَانَ ذَاكَ إِلَيَّ فَإِنِّي لَا أُرِيدُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْ أُوثِرَ عَلَيْكَ أَحَدًا تَابَعَهُ عَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ سَمِعَ عَاصِمًا

[٢٨٠] بَاب قَوْلُهُ لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ

إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنْكُمْ وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَنْ تَنْكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ أَبَدًا إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمًا يُقَالُ إِنَاهُ إِدْرَاكُهُ أَنَى يَأْنِي أَنَاةً فَهُوَ آنٍ

قوله: يُقَالُ إِنَاهُ إِدْرَاكُهُ أَنَى يَأْنِي أَنَاةً: آيت كښې دى "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ" تاسو د نبى په كور كښې (بغير بلنې) مه داخليږئى مګرچه كوم وخت تاسو د خوراك د پاره (دراتلو) اجازت دركړېشى په داسې توګه چه د دې خوراك د تيارى پورې انتظار مه كوئى (يعنى بغيرد بللوخو هډوخښى مه اوكه دعوت وى نو بيا هم

(١) (تفسير كشاف: ٣/٥٥١)
(٢) (تفسير كشاف: ٣/٥٥١)
(٣) (تفسير كشاف: ٣/٥٥٢)
(٤) (واخرجه مسلم فى الطلاق باب بيان ان تخير المراة لايكون طلاقا الابالنية رقم الحديث ١٤٧٦ واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى عشرة النساء باب تاويل قول الله تعالى ترجى نمن تشاء منهن رقم الحديث: ٩٨٢٧ واحرجه ابوداؤد فى كتاب النكاح باب تقسيم بين النساء ٢١٣٦-

ډير دَ وړاندې نه مه ځنې او کينئ). فرمائى اناه معنى ادرکه يعنى دَ هغې پخيدل، تياريدل.
انى يانى (ض) انى (كرمى يرمى) دَ وخت راتلل، پخيدل.
د "لعل الساعة تكون قريباً"، متعلق يو اشكال او دهغې جواب: دلته په ظاهره يو اشكال كيديشي چه "الساعة" مؤنث دې په دې مناسبت سره وړاندې "قريبة" كيدل پكار دى، امام بخارى رحمه الله دَ دې جواب وركوى چه دا لفظ هغه وخت كښې مؤنث استعماليږى چه دا كله دَ مؤنث صفت وى ليكن كه دا صفت نه وى بلكه ضرف او بدل واقع كيږى، نوهغه وخت "قريب" استعمالوى او په دې كښې واحد او تثنيه جمع مذكر او مؤنث ټول برابريږى. مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى: "الفعيل ان كان نعتاً ففيه فرق بين المؤنث والمذكر، وان كان ظرفاً اوبدلاً، فلافرق بينهما اما اذاكان ظرفاً فظاهر، فان التذكير والتانيث فى الظرف سواء، واما قوله: او بدلاً، فهو ايضاً بمعنى الظرف، والا فهومضر" (1)- بعض حضراتو وئيلى دى چه مذكوره آيت كښې مضاف محذوف دې اواصل عبارت دې "لعل قيام الساعة تكون قريبا" دَ مضاف رعايت كولوسره "قريبا" مذكر استعمال كړې دې او مضاف اليه رعايت نه "تكون" مؤنث راوړلې دې. (2)- والله اعلم

[٤٥١٢] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ يَدْخُلُ عَلَيْكَ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ فَلَوْ أَمَرْتَ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ بِالْحِجَابِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ الْحِجَابِ

[٤٥١٣، ٤٥١٦] (3) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الرَّقَاشِيُّ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ حَدَّثَنَا أَبُو مِجْلَزٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا تَزَوَّجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ دَعَا الْقَوْمَ فَطَعِمُوا ثُمَّ جَلَسُوا يَتَحَدَّثُونَ وَإِذَا هُوَ كَأَنَّهُ يَتَهَيَّأُ لِلْقِيَامِ فَلَمْ يَقُومُوا فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ قَامَ فَلَمَّا قَامَ قَامَ مَنْ قَامَ وَقَعَدَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ فَجَاءَ النَّبِيُّ

---

(1) (فيض البارى: ٤/٢٢١)
(2) (فتح البارى: ٨/٥٢٩)
(3) واخرجه ايضاً فى النكاح باب الصفرة للمتزوج رقم الحديث (مع الفتح) وفى النكاح باب الهدية للعروس رقم الحديث ٥١٦٣: (مع الفتح) وفى النكاح باب الوليمة رقم الحدث ٥١٦٦: (مع الفتح) وايضاً فى النكاح باب وليمة رقم ٥١٦٨ (مع الفتح) وايضاً فى النكاح ٥١٧٠ (مع الفتح) وايضا فى النكاح باب من اولم على بعض سنائه اواكثرمن بعض رقم الحديث ٥١٧١: (مع الفتح) وفى كتاب الاطعمة باب قوله تعالى فاذاطعمتم فانتشروا رقم الحديث ٥٣٦٦ وفى كتاب الاستينذان باب اية الحجاب رقم الحديث ٦٢٣٨: واخرجه مسلم فى النكاح باب زواج زينب بنت جحش ونزول الحجاب رقم الحديث ١٤٢٨ واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى التفسيرباب لاتدخلوابيوت النبى (رقم الحديث

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَدْخُلَ فَإِذَا الْقَوْمُ جُلُوسٌ ثُمَّ إِنَّهُمْ قَامُوا فَانْطَلَقْتُ فَجِئْتُ فَأَخْبَرْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ قَدِ انْطَلَقُوا فَجَاءَ حَتَّى دَخَلَ فَذَهَبْتُ أَدْخُلُ فَأَلْقَى الْحِجَابَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ الْآيَةَ

[٤٥١٤] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَا أَعْلَمُ النَّاسِ بِهَذِهِ الْآيَةِ آيَةِ الْحِجَابِ لَمَّا أُهْدِيَتْ زَيْنَبُ بِنْتُ جَحْشٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ مَعَهُ فِي الْبَيْتِ صَنَعَ طَعَامًا وَدَعَا الْقَوْمَ فَقَعَدُوا يَتَحَدَّثُونَ فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ ثُمَّ يَرْجِعُ وَهُمْ قُعُودٌ يَتَحَدَّثُونَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ إِلَى قَوْلِهِ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ فَضُرِبَ الْحِجَابُ وَقَامَ الْقَوْمُ

[٤٥١٥] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بُنِيَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ بِخُبْزٍ وَلَحْمٍ فَأُرْسِلْتُ عَلَى الطَّعَامِ دَاعِيًا فَيَجِيءُ قَوْمٌ فَيَأْكُلُونَ وَيَخْرُجُونَ ثُمَّ يَجِيءُ قَوْمٌ فَيَأْكُلُونَ وَيَخْرُجُونَ فَدَعَوْتُ حَتَّى مَا أَجِدُ أَحَدًا أَدْعُو فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ مَا أَجِدُ أَحَدًا أَدْعُوهُ قَالَ ارْفَعُوا طَعَامَكُمْ وَبَقِيَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ يَتَحَدَّثُونَ فِي الْبَيْتِ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلَقَ إِلَى حُجْرَةِ عَائِشَةَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ وَرَحْمَةُ اللَّهِ فَقَالَتْ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ كَيْفَ وَجَدْتَ أَهْلَكَ بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فَتَقَرَّى حُجَرَ نِسَائِهِ كُلِّهِنَّ يَقُولُ لَهُنَّ كَمَا يَقُولُ لِعَائِشَةَ وَيَقُلْنَ لَهُ كَمَا قَالَتْ عَائِشَةُ ثُمَّ رَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا ثَلَاثَةٌ مِنْ رَهْطٍ فِي الْبَيْتِ يَتَحَدَّثُونَ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَدِيدَ الْحَيَاءِ فَخَرَجَ مُنْطَلِقًا نَحْوَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ فَمَا أَدْرِي آخْبَرْتُهُ أَوْ أُخْبِرَ أَنَّ الْقَوْمَ خَرَجُوا فَرَجَعَ حَتَّى إِذَا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي أُسْكُفَّةِ الْبَابِ دَاخِلَةً وَأُخْرَى خَارِجَةً أَرْخَى السِّتْرَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ وَأُنْزِلَتْ آيَةُ الْحِجَابِ

[٤٥١٦] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَكْرٍ السَّهْمِيُّ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَوْلَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ بَنَى بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَأَشْبَعَ النَّاسَ خُبْزًا وَلَحْمًا ثُمَّ خَرَجَ إِلَى حُجَرِ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ كَمَا كَانَ يَصْنَعُ صَبِيحَةَ بِنَائِهِ فَيُسَلِّمُ عَلَيْهِنَّ وَيُسَلِّمْنَ عَلَيْهِ وَيَدْعُو لَهُنَّ وَيَدْعُونَ لَهُ فَلَمَّا رَجَعَ إِلَى بَيْتِهِ رَأَى رَجُلَيْنِ جَرَى بِهِمَا الْحَدِيثُ فَلَمَّا رَآهُمَا رَجَعَ عَنْ بَيْتِهِ فَلَمَّا رَأَى الرَّجُلَانِ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ عَنْ بَيْتِهِ وَثَبَا مُسْرِعَيْنِ فَمَا أَدْرِي أَنَا أَخْبَرْتُهُ بِخُرُوجِهِمَا أَمْ أُخْبِرَ فَرَجَعَ حَتَّى دَخَلَ الْبَيْتَ وَأَرْخَى السِّتْرَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ وَأُنْزِلَتْ آيَةُ الْحِجَابِ وَقَالَ ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا يَحْيَى حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ سَمِعَ أَنَسًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٤٨٥٩، ٤٨٦٨، ٤٨٧١، ٤٨٧٣، ٤٨٧٥، ٤٨٧٦، ٥١٤٩، ٥٨٨٤، ٥٨٨٥، ٥٩١٦، وانظر ٤٥٠٩]

قوله: وَقَالَ ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا يَحْيَى حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ سَمِعَ أَنَسًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ابن ابی مریم نوم سعید بن محمد دې، پورتنی روایت کښې "حمید، عن انس" روایت عنعنه سره دې".... حمید، سمع انساً...." دې تعلیق نقل کولو سره امام خودل غواړی چه "حمید" د سماع تصریح هم منقول ده.

[۴۵۱۷] حَدَّثَنِي زَكَرِيَّاءُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ خَرَجَتْ سَوْدَةُ بَعْدَمَا ضُرِبَ الْحِجَابُ لِحَاجَتِهَا وَكَانَتِ امْرَأَةً جَسِيمَةً لَا تَخْفَى عَلَى مَنْ يَعْرِفُهَا فَرَآهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ يَا سَوْدَةُ أَمَا وَاللَّهِ مَا تَخْفَيْنَ عَلَيْنَا فَانْظُرِي كَيْفَ تَخْرُجِينَ قَالَتْ فَانْكَفَأَتْ رَاجِعَةً وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي وَإِنَّهُ لَيَتَعَشَّى وَفِي يَدِهِ عَرْقٌ فَدَخَلَتْ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي خَرَجْتُ لِبَعْضِ حَاجَتِي فَقَالَ لِي عُمَرُ كَذَا وَكَذَا قَالَتْ فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ ثُمَّ رُفِعَ عَنْهُ وَإِنَّ الْعَرْقَ فِي يَدِهِ مَا وَضَعَهُ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ

[۲۸۱] بَاب قَوْلُهُ إِنْ تُبْدُوا شَيْئًا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا

لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِي آبَائِهِنَّ وَلَا أَبْنَائِهِنَّ وَلَا إِخْوَانِهِنَّ وَلَا أَبْنَاءِ إِخْوَانِهِنَّ وَلَا أَبْنَاءِ أَخَوَاتِهِنَّ وَلَا نِسَائِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ وَاتَّقِينَ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا

[۴۵۱۸] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ حَدَّثَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتِ اسْتَأْذَنَ عَلَيَّ أَفْلَحُ أَخُو أَبِي الْقُعَيْسِ بَعْدَمَا أُنْزِلَ الْحِجَابُ فَقُلْتُ لَا آذَنُ لَهُ حَتَّى أَسْتَأْذِنَ فِيهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّ أَخَاهُ أَبَا الْقُعَيْسِ لَيْسَ هُوَ أَرْضَعَنِي وَلَكِنْ أَرْضَعَتْنِي امْرَأَةُ أَبِي الْقُعَيْسِ فَدَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَفْلَحَ أَخَا أَبِي الْقُعَيْسِ اسْتَأْذَنَ فَأَبَيْتُ أَنْ آذَنَ لَهُ حَتَّى أَسْتَأْذِنَكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا مَنَعَكِ أَنْ تَأْذَنِي عَمُّكِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الرَّجُلَ لَيْسَ هُوَ أَرْضَعَنِي وَلَكِنْ أَرْضَعَتْنِي امْرَأَةُ أَبِي الْقُعَيْسِ فَقَالَ ائْذَنِي لَهُ فَإِنَّهُ عَمُّكِ تَرِبَتْ يَمِينُكِ قَالَ عُرْوَةُ فَلِذَلِكَ كَانَتْ عَائِشَةُ تَقُولُ حَرِّمُوا مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا تُحَرِّمُونَ مِنَ النَّسَبِ [ر: ۱۴۶]

[۲۸۲] بَاب قَوْلِهِ إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا

قَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ صَلَاةُ اللَّهِ ثَنَاؤُهُ عَلَيْهِ عِنْدَ الْمَلَائِكَةِ وَصَلَاةُ الْمَلَائِكَةِ الدُّعَاءُ قَالَ ابْنُ

عَبَّاسٍ يُصَلُّونَ يُبَرِّكُونَ لَنُغْرِيَنَّكَ لَنُسَلِّطَنَّكَ

[٤٥١٩] حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ عَنِ الْحَكَمِ عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَمَّا السَّلَامُ عَلَيْكَ فَقَدْ عَرَفْنَاهُ فَكَيْفَ الصَّلَاةُ عَلَيْكَ قَالَ قُولُوا اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ

[٤٥٢٠] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ الْهَادِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ خَبَّابٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا التَّسْلِيمُ فَكَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ قَالَ قُولُوا اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُولِكَ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ قَالَ أَبُو صَالِحٍ عَنِ اللَّيْثِ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي حَازِمٍ وَالدَّرَاوَرْدِيُّ عَنْ يَزِيدَ وَقَالَ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَآلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَآلِ إِبْرَاهِيمَ [٥٩٩٧]

قوله: لنغرينك: لنسلطنك: آيت کښې دی﴿وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ﴾ فرمائی په دې کښې لنغرينك معنی لنسلطنك يعنی هغه خلق په مدينه کښې افواګانې خوروی)که هغوی دَ خپلو حرکتونونه منع نه شو) نو مونږ به خامخا تا په هغوی باندې مسلط کړو. په آيت کښې "صلوا" سره دَ تاکيد دَ پاره "تسليما" مصدر بيان کړېشوې دې ليکن "صلوا" سره مصدر دَ تاکيدپه غرض سره نه دې ذکر شوې.

دَ دې جواب دا دې چه دَ آيت په شروع کښې ﴿إِنَّ اللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ﴾ کښې صلاة ذکرشوې دې اودَ دې نه اول "ان"راوړلې شوې دې اودَ الله تعالی او ملائکو په حضور ﷺ باندې درود ليګلو ذکر شويدې، دَ کوم نه چه دَ صلاة دَ عظمت پخپله پته لګی، دَ دې دَ پاره "صلوا" نه پس تاکيد دَ پاره مصدر نه دې راوړلې شوې، په خلاف دَ سلام چه هلته مصدر دَ تاکيد دَ پاره بيان کړېشوې دې.

---

(١) وايضاً اخرجه فی کتاب الدعوات باب الصلاة علی النبی ﷺ رقم ٦٣٥٨ (مع الفتح) وايضاً فی کتاب الانبياء ١/٤٧٧: واخرجه مسلم، باب الصلاة علی النبی ﷺ بعد التشهده رقم الحديث ٦٥ :و٦٦و ٦٩واخرجه ابوداؤد کتاب الصلاة رقم الحديث ٩٧٦: واخرجه النسائی باب کيف الصلوة علی النبی ٢/١٩٠: (واخرجه ابن ماجه باب الصلاة علی النبی) رقم الحديث ٩٠٥: واخرجه موطا امام مالک باب ماجاء فی الصلوة علی النبی) رقم الحديث: ٦٦٦٦۔

دَدرود شريف حكم : دونم بحث په رسول الله ﷺ باندې دَ درودليګلو متعلق دې چه دَ دې شرعي څه حکم دې؟

په دې باندې خو ټولو علماؤ اجماع نقل کړيده چه په ټول عمر کښې يو ځل په حضور ﷺ باندې درود ليګلوحکم خو واجب دې او عند ذکر النبی صلی الله علیه وسلم مستحب دې، زمونږ دَ فقهاؤ هم دغه مسلك دې، ابوبکر جصاص رحمه الله همدغه رائې ده (۱) او ملاعلی قاری رحمه الله هم دا مختار ګرځولې دې (۲)

امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه حضور نوم مبارك كله هم راشی نو درود وئيل واجب دی سره دَ دينه كه دَ هغوی ﷺ نوم بار بار ولې نشی اخستلې، علامه زمخشری رحمه الله دا مختارګرځولې دې. (۳) شوافع حضرات نه هم بعض حضرات دَ دې قائل دی، ابوعبدالله چلپی او بعض مالکيه هم دا اختيار کړيده، ابن عربی رحمه الله فرمائيلی دی چه احوط هم دغه دې چه كله دَ هغوی ﷺ نوم مبارك واخستې شی نو ضرور به درود لوستلې شی، علامه قرطبی رحمه الله هم دا دَ احتياط تقاضا ګرځولې ده. (۴)

تشهد نه پس د دردشريف حكم: دونمه مسئله مانځه کښې تشهدنه پس د درود حکم دې، په دې کښې هم اختلاف دې حضرات حنفيه مالكيه او عام علماء رائې دا ده چه تشهد نه پس درودشريف لوستل سنت مؤكده دی. (۵) تشهدنه پس درود لوستلوته فرض وائی، امام احمد رحمه الله هم مشهور روايت همدغه دی، ابوذرعه دمشقی هم دا دَ امام احمد آخری روايت ګرځولې دې، مالکيه کښې ابوبکر بن ابراهيم هم دا اختيار کړې دې. (۶) دينه معلومه شوه چه تشهدنه پس درود لوستلوته صرف امام شافعی رحمه الله فرض نه وائی بلکه هغې سره په دې قول کښې نور علماء هم شريك دی، بعض علماء امام شافعی رحمه الله په دې مسئله کښې منفرد ګرځولې دې. علامه طحاوی، ابن جرير طبری، ابوبکر بن منده، ابوبکر جصاص، قاضی عياض او علامه خطابی وغيره امام شافعی رحمه الله ته منفرد وئيلې دې. (۷)

---

(۱) احكام بالقران للجصاص-۳/۳۷۱:

(۲) المرقاة لملاعلی قاری ۲/۳۳۷:واحكام القران للمفتی محمدشفيع-۳/۴۸۹:

(۳) قال الزمخشری فی الکشاف ۳/۵۵۸:والذی يقتضيه الاحتياط الصلوة عليه عندکل ذکر

(۴) تفصيل دَپاره اوګورئ الجامع لاحكام القران للقرطبی ۲۳۷-۱۴/۲۳۲: قال ابن القيم فی جلاء الافهام فی الصلاة والسلام علی خير الانا ۲۱۴ :فقال ابوجعفر الطحاوی وابوعبدالله الحليمی :تجب الصلاة عليه) كلما ذكراسمه وقال غير هما :ذلک مستحب ....ثم اختلفوا فقالت فرقة تجب الصلاة عليه فی العمر مرةواحدة وهذامحی عن ابی حنيفة ومالک وقال ابن عبدالبر :وهو قول جمهورا الامة

(۵) الجماع لاحكام القران -۱۴/۵۴۱:امام شافعی رحمه الله

(۶) مذاهب دَ پاره اوګورئ المغنی لابن قدامة-۱/۵۴۱:

(۷) الجامع لاحكام القران ۱۴/۲۳۶:واحكام القران للجصاص-۳/۲۷۱:

يو اشكال او دَ هغې جوابونه: دلته يو اشكال كيږى چه "اللهم صل على محمد..." كښې صلاة على النبى ته مشبه او صلاة على ابراهيم لره مشبه به جوړ كړيشوې دې او مشبه به، دَ مشبه نه اقوى او افضل وى، دَ دې قاعدې په رو سره صلاة على النبى، صلاة على ابراهيم نه كمه درجه شو، په دې كښې دَ حضرت ابراهيم عليه السلام په نبى كريم ﷺ باندې فضيلت معلوميږى حالانكه حضور اكرم ﷺ افضل الخلائق دې، هغوى ﷺ فرمائيلى دى "اناسيدولد ادم يوم القيامة ولافخر"(١)ـ دَ دې اشكال مختلف جوابونه دى:

①يو جواب دا دې چه دا قاعده چه مشبه، مشبه به نه كم تر او مشبه به اقوى وى، اكثريه ده كليه نه ده، دلته په نفس صلاة كښې تشبيه مقصود ده، قدرومنزلت كښې نه.(٢)

②دوئم جواب دا وركړيشوې دې چه دا هغوى ﷺ هغه وخت ارشاد فرمائيلې وو كوم وخت چه هغوى ته دَ خپل فضيلت هم علم نه ووشوې.(٣)

③دريم جواب دا وركړې شو چه "كماصليت..." كښې كاف تشبيه دَ پاره نه دې بلكه تعليل دَ پاره دې او مطلب دا دې چه اې الله ! تا په حضرت ابراهيم عليه السلام باندې درود نازل كړيدې نو په رسول الله ﷺ باندې هم درود نازل اوفرمايه.(٤)

④بعض حضراتو وئيلى دى چه دا خبره دَ تحضيض دَ قبيل نه ده او مطلب دا دې چه حضرت محمد ﷺ دَ حضرت ابراهيم عليه السلام نه افضل دې او په ابراهيم عليه السلام باندې درود نازل شوې دې نو حضور ﷺ چه افضل دې په طريقه اولى سره درود نازليدل پكار دى.(٥)

⑤بعضو وئيلى دى په اصل كښې دا تشبيه المجموع بالمجموع ده، په ځان له توګه حضرت نبى اكرم ﷺ دَ حضرت ابراهيم عليه السلام نه بهتر او افضل دې خو په مجموعى اعتبار سره آل ابراهيم، دَ آل محمد ﷺ نه بهتر او افضل دې.ځكه چه په آل ابراهيم كښې دَ انبياء كرامو يوه لويه ډله راغلې ده چه دَ هغوى ﷺ په آل كښې نشته. او په آل ابراهيم كښې حضور ﷺ پخپله هم شامل دې. (٦)

⑥ بعض علماء وائى چه دا تشبيه "مالايعرف بمايعرف" دَ قبيل نه ده، حضرت ابراهيم عليه السلام

---

(١)جامع الاصول ٨/٥٢٦:الباب الثالث فى فضائل لنبى صلى الله عليه وسلم

(٢)قال الحافظ فى الفتح، كتاب الدعوات باب صلاة على لنبى ١١/١٦١:ان التشبيه انما هو لاصل الصلاة باصل الصلاة لالقدر بالقدر فهو كقوله :انا او حينا اليک كما اوحينا الى نوح ...ورجح هذاالجواب القرطبى فى المفهم-

(٣)فتح البارى-٨/٥٣٣ :

(٤)فتح البارى كتاب الدعوات باب الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم-١١/١٦١:

(٥)فتح البارى-٨/٥٣٣:

(٦)فتح البارى-٨/٥٣٣:

په يهوديانو او نصارى كښې هم معروف وو او په قريشو هم [1] هغه پيژندلو او دَ حضور ﷺ هغه وخت كښې دومره مشهورتيا نه وه شوې، خو بيا هم حضور اكرم ﷺ دَ شهرت په اعتبار سره دَ هغوى نه زيات شو، دَ هغه وخت په اعتبار سره دا تشبيه "مالايعرف بمايعرف" كښې داخليدلې شى.

⑥ اوومه توجيه بعض حضراتو دا كړيده چه "اللهم صلى على محمد..." باندې كلام ختم شو، وراندې كلام شروع كيږى "وعلى ال محمد كما صليت على ابراهيم وعلى ال ابراهيم" مشبه به ابراهيم او آل ابراهيم دى او مشبه صرف آل محمد ﷺ دې او ښكاره خبره ده چه حضرت ابراهيم او آل ابراهيم دَ آل محمد نه بهتر او افضل دې.[2]

شيخ الاسلام علامه ابن تيميه او ابن القيم رحمه الله دا جواب ضعيف ګرځولې دى دَ دې دَ پاره چه آل محمد معطوف او محمد معطوف عليه دې، معطوف، معطوف عليه حكم يو وى، يو دَ بل نه په حكم كښې جدا كولې نشى. حافظ ابن حجر رحمه الله توجيهه كولو كوشش سره فرمائى چه دراصل دلته دَ آل محمد نه اول "صل" محذوف دې، تعقدير عبارت دې. "اللهم صل على محمد واصل على ال محمد كما صليت على ابراهيم..." [3] ليكن دا توجيه دَ تكلف نه خالى نه ده ځكه چه دا په دې باندې موقوف دى چه "صل" ضرورت وى نو هغوى ﷺ به صراحتاً ذكر فرمائيلو

د علامه ابن تيميه په تسامح باندې يوه تنبيه: علامه ابن تيميه دَ هغوى په اتباع كښې حافظ ابن قيم رحمه الله دعوى كړيده چه په يوه صيغه دَ درود كښې ابراهيم عليه السلام او آل ابراهيم يو ځائ ذكر نه دى راغلى ليكن دا صحيح نه ده ځكه چه دلته په روايت باب كښې دَ دواړو ذكر موجود دې.[4]

د درود حكم كله نازل شو؟: حضور اكرم ﷺ باندې درود ليګلو حكم په سنه ۲هجرى كښې راغلې دې، بعضو حضراتو سنه ۶هجرى كښې او حضرت كشميرى رحمه الله سنه ۵هجرى كښې دَ دې دَ نازليدلو قول نقل كړيدې.[5]

---

[1])فتح البارى-۸/۵۳۳:

[2])فتح البارى ۸/۵۳۳: وكتاب الدعوات باب الصلاة على النبى)-۱۱/۱۶۱:

[3])فتح البارى-۸/۵۳۳:

[4])فتح البارى كتاب الدعوات باب الصلاة على النبى ۱۱/۱۵۸: البته هلته صرف دَ ابن القيم رحمه الله دَ طرف نه دا قول منسوب دې او علامه ابن تيميه رحمه الله ليكى..." :فهذه الاحاديث التى فى الصحاح لم اجد فيها ولافى مانقل لفظ "ابراهيم وال ابراهيم ("وانظر فتاوى ابن تيميه ۲۲/۴۵۶:الفقه الصلاة-

[5])قال الحافظ ابوذرالهروى:ان الامربالصلاة والتسليم عليه صلى الله عليه وسلم[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

[٢٨٣] باب قوله لا تكونوا كالذين آذوا موسى

[٤٥٢١] حدثنا إسحاق بن إبراهيم أخبرنا روح بن عبادة حدثنا عوف عن الحسن ومحمد وخلاس عن أبي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إن موسى كان رجلا حييا وذلك قوله تعالى يا أيها الذين آمنوا لا تكونوا كالذين آذوا موسى فبرأه الله مما قالوا وكان عند الله وجيها

[٢٨٤] باب: تفسير سورة سبأ

يقال معاجزين مسابقين بمعجزين بفائتين معاجزي مسابقي سبقوا فاتوا لا يعجزون لا يفوتون يسبقونا يعجزونا وقوله بمعجزين بفائتين ومعنى معاجزين مغالبين يريد كل واحد منهما أن يظهر عجز صاحبه معشار عشر يقال الأكل الثمر باعد وبعد واحد وقال مجاهد لا يعزب لا يغيب سيل العرم السد ماء أحمر أرسله الله في السد فشقه وهدمه وحفر الوادي فارتفعتا عن الجنبين وغاب عنهما الماء فيبستا ولم يكن الماء الأحمر من السد ولكن كان عذابا أرسله الله عليهم من حيث شاء وقال عمرو بن شرحبيل العرم المسناة بلحن أهل اليمن وقال غيره العرم الوادي السابغات الدروع وقال مجاهد يجازى يعاقب أعظكم بواحدة بطاعة الله مثنى وفرادى واحد واثنين التناوش الرد من الآخرة إلى الدنيا وبين ما يشتهون من مال أو ولد أو زهرة بأشياعهم بأمثالهم وقال ابن عباس كالجواب كالجوبة من الأرض الخمط الأراك والأثل الطرفاء العرم الشديد

سورة سبا

د کلماتو تشریح:

قوله: يقال: معاجزين: مسابقين: آيت كښې دى ﴿وَالَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ أُولَئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُونَ﴾ په دې كښې د معاجزين معنى وړاندې كيدونكى، مقابل عاجزه كونكى، د آيت مفهوم دې چه كوم خلق زمونږ آياتونوته ماتې وركولو (عاجز كولو) دپاره كوشش كوى داسې خلق به عذاب كښې حاضرېږي يعنې د هغوى دا كوشش لكه چه د دې د پاره دې چه هغوى په مونږ په نيولوسره عاجز كړى او د قيامت د حاضرئى او عذاب نه

...بقيه ازحاشيه گذشته] وقع فى النسة الثانية من الهجرة قيل :فى ليلة الاسراء وانظرالفتوحات الربانية على الاذكار النواوية ٣/٢٩٩:كتاب الصلوة على النبى صلى الله عليه وسلم قال السخاوى فى "القول البديع فى الصلاة على الحبيب الشفيع ٤٣ :الباب الاول فى الامر بالصلاة على رسول الله :ذكرابوذر فيما نسبه شيخناالیه من غير عزوان الامر بالصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم كان فى السنة الثانية من الهجرة وقيل فى ليلة الاسراء

په خلاص شي.

قوله: بِمُعْجِزِينَ: بِفَائِتِينَ: په سورة عنکبوت کښې دا لفظ راغلې دې ﴿وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ﴾ تاسو نه په زمکه کښې عاجز او فوت کونکي ئې او نه په آسمان کښې، دَ عجزد مادې په مناسبت سره امام بخاري رحمه الله دَ سورة عنکبوت دا لفظ دلته راوړلې دې.

قوله: سَبَقُوا: فَاتُوا، لَا يُعْجِزُونَ: لَا يَفُوتُونَ: دَ سورة انفال دې آيت طرف ته اشاره ده ﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَبَقُوْا اِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُوْنَ﴾ اوکافران خلق دې دانه ګڼړی چه هغوی مړه شو(نودَ لاس نه اووتل) هغوی به مړه کیږی نه (یعنی هغوی مونږ عاجزکولوسره دَ لاس نه نشي وتلې)

قوله: يَسْبِقُونَا: يُعْجِزُونَا: په سورة عنکبوت کښې دی ﴿اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّسْبِقُوْنَا﴾ دې کښې "يسبقونا" معنی بیان کړه هغوی به مونږ عاجز کړی.

قوله: مِعْشَارٌ: عُشْرٌ: آیت مبارك کښې دی ﴿وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ اٰتَيْنٰهُمْ﴾ او دا (مشرکین عرب) هغه سامان کوم چه مونږ دوی ته ورکړې وو لسمې حصې ته هم نشی رسیدلې. فرمائی چه معشار معنی لسمه حصه.

قوله: بَاعِدْ: وَبَعِّدْ وَاحِدٌ: آیت کښې دی ﴿بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا﴾ وائی اې زمونږ پروردګاره! زمونږ سفرونه اوږده کړه. په دې کښې مشهور قراءت "باعد" دې او ابن کثير قراءت "بعد" دې. فرمائی باعد او بعددواړو یوه معنی ده.

قوله: لَا يَعْزُبُ: لَا يَغِيبُ: آیت کښې دی ﴿لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ﴾ دینه څه دَ ذرې برابر هم غائب نه دی نه په آسمانونوکښې اونه په زمکوکښې. فرمائی لايعزب معنی لايغيب: غائبیدې نشی.

قوله: الْعَرِمُ: السُّدُّ مَاءٌ أَحْمَرُ: آیت کښې دی ﴿فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ﴾ دې کښې "عرم" ترجمه "سد" سره کړیده. لکه دیوال او بند وائی، اودَ عرم معنی دَ اهل یمن په ژبه کښې "سناة" هم راځی، دَسناة معنی هم بنداو شپول ده، اودَعرم معنی وادی هم راځی. دلته دَ "السد" وړاندې چه "ماء احمر" بیان کړیشوې دې دا دَ عرم تفسیر نه دې بلکه دَ آیت لفظ "سیل العرم" کښې دَ "سیل" تفسیر دې. الله تعالی دَ سرو اوبو دَ بند دَ دننه نه اولیګلو، هغه بند اوشلولو او وئی غورزولو او وادی اوکنستله، دَ دې نتیجه دا راوُوتله چه دَ دواړو طرفونو نه هغه باغ خو اوچت شو او دَ اوبو مخ بنکته شوه، اوبه غیبې شوې نو باغ اوچ شو او دا سرې اوبه دَ بنداوبه نه وې بلکه دا دَ الله تعالی عذاب وو چرته چه هغه غوښتل هغه ئی اولیګلو.

قوله: يُجَازِي: يُعَاقِبُ: آیت کښې دی ﴿وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ﴾ په دې کښې دَ "نجازی" معنی ده مونږ سزا ورکوو.

قوله: بِوَاحِدَةٍ: بِطَاعَةِ اللّٰهِ: آيت كښې دى ﴿قُلْ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَاحِدَةٍ﴾ فرمائى بواحدة نه دَ الله تعالى اطاعت مراد دې يعنى زه تاسوته دَ الله تعالى دَ اطاعت نصيحت كوم.

قوله: التَّنَاوُشُ: الرَّدُّ مِنَ الْآخِرَةِ إِلَى الدُّنْيَا: آيت كښې دى ﴿وَقَالُوٓا آمَنَّا بِهِۦ وَأَنَّىٰ لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ﴾ فرمائى په دې كښې دَ تناوش معنى ده دَ آخرت نه واپس دنياته راتلل، دَ دې اصل معنى لاس اوچتول او څه څيز اوچتول، (١)- او دا هغه وخت ممكن كيديشى كله چه هغه څيز نزدې وى، مطلب دا دې چه كافر دَ قيامت په ورځ دنيا ته واپس راتلو او دَ ايمان راوړلو خواهش كوى ليكن دَ هغوى دا خواهش به نشى پوره كولې.

قوله: وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ: مِن مَالٍ أَوْ وَلَدٍ أَوْ زَهْرَةٍ: ﴿وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم﴾ يعنى په دوى كښې اودَ دوى)ايمان قبلولو) خواهش كښې به يو پرده اوكړې شى لكه څنګه چه دَ دوى سره دَ دوى دَ ځكونكو سره به هم دغه سلوك كولې شى. دَ اشياع نه امثال يعنى يوځائ ځكونكى خلق مراد دى. مولانا محمدشفيع صاحب رحمه الله ليكى: يعنى هغه خلقو ته چه كوم څيز محبوب او مقصود وو په هغوى اودَ هغه څيز په مينځ كښې پرده راوستلو سره هغوى محروم كړيشو. دا مضمون دَ قيامت په حال باندې هم صادق دې چه په قيامت كښې به داخلق دَ خلاصى او جنت غوښتونكى وى، هلته به نشى رسيدلې.او په دنياكښې دَ مرګ په وخت هم صادق دې چه په دنياكښې دلته دولت او سامان مقصود وو،مرګ دَ دوى دَ دې مطلوب په مينځ كښې پرده كولوسره دَ هغې نه جدا كړل.

﴿كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم﴾ اشياع- شيعة جمع ده، دَ يوسړى تابع او هم خيال ته دَ هغه شيعه وائى، مطلب دا چه كوم عذاب هغوى ته وركړيشو چه دَ خپل مطلوب او محبوب نه محروم كړيشو همدغه عذاب به دَ دې وړاندې هم دَ دوى په شان كفريه اعمال كونكو ته وركړې شوې دې. ځكه چه دا ټول خلق په شك كښې پريوتلى وو. يعنى دَ رسول الله ﷺ دَ نبوت اوقرآن دَ الله تعالى كتاب كيدلوباندې دَ هغوى يقين او ايمان نه وو.والله سبحانه وتعالى اعلم (٢)

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: كَالْجَوَابِ كَالْجَوْبَةِ مِنَ الْأَرْضِ: آيت كښې دى ﴿يَعْمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ﴾ يعنى هغه پيريانو به دَ حضرت سليمان عليه السلام دَ پاره قلعه ګانې جوړولې، تصويرونو او دَ تالاب او لګن په شان. حضرت ابن عباس رضى الله عنه فرمائى چه دَ جواب معنى دَ زمكې كنده يعنى حوض، دَ دې مفرد جابية دې، دَ څه معنى چه لوئ حوض دې.

---

(١) قال الراغب فى المفردات ٥٠٩: وتناوش القوم كذا :تناولوه، قال :وانى لهم التناوش اى كيف يتناولون الايمان من مكان بعيد، ولم يكونوا يتناولونه عن قريب فى حين الاختيار والاوالانتفاع بالايمان، اشارة الى قوله :يوم لاينفع نفسا ايمانها

(٢) معارف القران-٧/٣١٤:

قوله: الْخَمْطُ: الْأَرَاكُ وَالْأَثْلُ الطَّرْفَاءُ: آیت کښې دی «ذَوَاتَىْ أُكُلٍ خَمْطٍ وَّأَثْلٍ وَّشَیْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِیْلٍ» دوه باغونه د ترخومیوو، جهاؤ بوقسم ونه ده چه د دریاب په غاړه راټوکیږی او پچئی وغیره ترینه جوړیږی) او څه بیرو والا. فرمائی خمط اراك یعنی د مسواك ونه اولاث جهاؤ ونې ته وائی.

[۲۸۵] بَابٌ حَتَّی إِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ

[۴۵۲۲] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرٌو قَالَ سَمِعْتُ عِكْرِمَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ إِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَضَى اللَّهُ الْأَمْرَ فِي السَّمَاءِ ضَرَبَتِ الْمَلَائِكَةُ بِأَجْنِحَتِهَا خُضْعَانًا لِقَوْلِهِ كَأَنَّهُ سِلْسِلَةٌ عَلَى صَفْوَانٍ فَإِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا لِلَّذِي قَالَ الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ فَيَسْمَعُهَا مُسْتَرِقُ السَّمْعِ وَمُسْتَرِقُ السَّمْعِ هَكَذَا بَعْضُهُ فَوْقَ بَعْضٍ وَوَصَفَ سُفْيَانُ بِكَفِّهِ فَحَرَفَهَا وَبَدَّدَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ فَيَسْمَعُ الْكَلِمَةَ فَيُلْقِيهَا إِلَى مَنْ تَحْتَهُ ثُمَّ يُلْقِيهَا الْآخَرُ إِلَى مَنْ تَحْتَهُ حَتَّى يُلْقِيَهَا عَلَى لِسَانِ السَّاحِرِ أَوِ الْكَاهِنِ فَرُبَّمَا أَدْرَكَ الشِّهَابُ قَبْلَ أَنْ يُلْقِيَهَا وَرُبَّمَا أَلْقَاهَا قَبْلَ أَنْ يُدْرِكَهُ فَيَكْذِبُ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ فَيُقَالُ أَلَيْسَ قَدْ قَالَ لَنَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا فَيُصَدَّقُ بِتِلْكَ الْكَلِمَةِ الَّتِي سَمِعَ مِنَ السَّمَاءِ

[۲۸۶] بَابُ قَوْلِهِ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ

[۴۵۲۳] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَازِمٍ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ صَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّفَا ذَاتَ يَوْمٍ فَقَالَ يَا صَبَاحَاهْ فَاجْتَمَعَتْ إِلَيْهِ قُرَيْشٌ قَالُوا مَا لَكَ قَالَ أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ الْعَدُوَّ يُصَبِّحُكُمْ أَوْ يُمَسِّيكُمْ أَمَا كُنْتُمْ تُصَدِّقُونِي قَالُوا بَلَى قَالَ فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ تَبًّا لَكَ أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ

[۲۸۷] بَاب: تفسیر سُورَةُ الْمَلَائِكَةِ (فَاطِر)

قَالَ مُجَاهِدٌ الْقِطْمِيرُ لِفَافَةُ النَّوَاةِ مُثْقَلَةٌ مُثَقَّلَةٌ وَقَالَ غَيْرُهُ الْحَرُورُ بِالنَّهَارِ مَعَ الشَّمْسِ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْحَرُورُ بِاللَّيْلِ وَالسَّمُومُ بِالنَّهَارِ وَغَرَابِيبُ أَشَدُّ سَوَادٍ الْغِرْبِيبُ الشَّدِيدُ السَّوَادِ

الْمَلَائِكَةِ (فَاطِر)

قوله: قَالَ مُجَاهِدٌ: الْقِطْمِيرُ لِفَافَةُ النَّوَاةِ: آیت کښې دی «وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ

مِنْ قِطْمِيْرٍ﴿﴾ فرمائی چه قطمیر دَ هډوکی دپاسه نرئی جلئی ته وائی.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ: الْحَرُوْرُ بِالنَّهَارِ مَعَ الشَّمْسِ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: الْحَرُوْرُ بِاللَّيْلِ وَالسَّمُوْمُ بِالنَّهَارِ: آیت مبارك کښې دی﴿وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ﴿﴾ وَلَا الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ﴿﴾ وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُورُ﴿﴾﴾ دَمجاهدنه غیرونیلي دی چه حرورهغه ګرمئی ته وائی چه کله دَ ورځې نمر راوتلې وی او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه حرورد شپې ګرمئی ته وائی او دَ ورځې ګرمئی ته سموم وائی.

قوله: وَغَرَابِيبُ: أَشَدُّ سَوَادِ الْغِرْبِيبُ: الشَّدِيدُ السَّوَادِ: آیت مبارك کښې دی ﴿وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ﴿﴾﴾ یعنی دَ غرونویه مینځ کښې لارې دی، سپینې او سرې دَ کومورنګونه چه قسم قسم دی) څه ډیرې سپینې، څه کمې او سرې هم څه زیاتې او څه کمې) او سختې تورې. دې کښې الغرابیب جمع ده اودَ دې مفرد الغربیب ده،دَ کوم معنی چه دَ هغه تور شي ده کوم کښې چه دننه شدت موندلې شي. جدد لارو او کرخوته وائی دا دَ جدې جمع ده لکه مدې جمع مدد ده.

[۲۸۸] باب: تفسیر سُوْرَةُ یٰسٓ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ فَعَزَّزْنَا شَدَّدْنَا يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ كَانَ حَسْرَةً عَلَيْهِمُ اسْتِهْزَاؤُهُمْ بِالرُّسُلِ أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ لَا يَسْتُرُ ضَوْءُ أَحَدِهِمَا ضَوْءَ الْآخَرِ وَلَا يَنْبَغِي لَهُمَا ذَلِكَ سَابِقُ النَّهَارِ يَتَطَالَبَانِ حَثِيثَيْنِ نَسْلَخُ نُخْرِجُ أَحَدَهُمَا مِنَ الْآخَرِ وَيَجْرِي كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنْ مِثْلِهِ مِنَ الْأَنْعَامِ فَكِهُونَ مُعْجَبُونَ جُنْدٌ مُحْضَرُونَ عِنْدَ الْحِسَابِ وَيُذْكَرُ عَنْ عِكْرِمَةَ الْمَشْحُونِ الْمُوقَرُ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ طَائِرُكُمْ مَصَائِبُكُمْ يَنْسِلُونَ يَخْرُجُونَ مَرْقَدِنَا مَخْرَجِنَا أَحْصَيْنَاهُ حَفِظْنَاهُ مَكَانَتِهِمْ وَمَكَانُهُمْ وَاحِدٌ

سُوْرَةُ یٰسٓ

د کلماتو تشریح:

قوله: فَعَزَّزْنَا: شَدَّدْنَا: [فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ] دې کښې عززنا معنی ده مونږ طاقت ورکړو، تائیدمو اوکړو.

قوله: يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ: كَانَ حَسْرَةً عَلَيْهِمُ اسْتِهْزَاؤُهُمْ بِالرُّسُلِ: آیت کښې دی ﴿يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ ۚ مَا يَأْتِيهِمْ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ﴿﴾﴾ په دې کښې چاته وهم کیدیشی چه الله تعالی حسرت راؤغوښتلو دَ څه چه په ظاهره هیڅ معنی په پوهه کښې نه راځی. امام بخاری رحمه الله دا وهم لرې کولوسره فرمائی چه دا حسرت به پخپله کافرانوته وی چه هغوی په دنیاکښې دَ انبیاء کرامو او رسولانو پورې ټوقې مسخرې کولې.

"یا حسرة علی العباد"، دَ چا مقوله ده؟: ضحاك رحمه الله فرمائی چه دا دَ فرښتو قول دې کله چه

هغوی اوکتل چه کافرانو دَ انبیاء کرامو تکذیب اوکړو نو هغوی په دوی باندې افسوس اوکړو. بعضو وئیل چه دا دَ هغه مردمؤمن قول دې د چانوم چه حبیب وو او د مرسلینو په تائید او حمایت کښې به دَ مکذبینودَ پوهه کولو د پاره دَ اقصی مدینې نه په منډه راغلې وو، کله چه قوم هغه قتل کول غوښتل نو هغه وخت هغه دا جمله وئیلې وه) اقصی مدینه کښې دَ مدینې نه مراد اکثرو حضراتو انطاکیه اخستې ده) بعض وائی چه دَ هغه دریو رسولانوقول دې چه هغه قوم ته لیګلې شوی وو، کله چه هغوی قوم ته اوکتل چه هغوی دا مردمؤمن قتل کړو اودَ هغې په بدله کښې په قوم باندې عذاب راغلو نو هغه وخت هغوی ﴿یٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ﴾ اووئیل. او بعضو وئیلی دی چه دَ قیامت په ورځ کله کافران دَ عذاب نښې اووینی نو هغه وخت د ډیرې ملامتیا او بې بسئی په حالت کښې دا مذکوره جمله به وائی، یا هغوی په عذاب کښې راګیرلیدلو سره مؤمنان او فرښتې به دا الفاظ وائی (١) په دې ټولو اقوالوکښې هیڅ تعارض نشته او دا ټول جمع کیدې شی.

قوله: أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ: لَا يَسْتُرُ ضَوْءُ أَحَدِهِمَا ضَوْءَ الْآخَرِ وَلَا يَنْبَغِي لَهُمَا ذَلِكَ: ﴿لَا الشَّمْسُ يَنْبَغِي لَهَا أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ﴾ دې کښې ﴿أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ﴾ مطلب دا دې چه په نمر او سپوږمئی کښې یو دَ بل رڼا نشی پټولې او په دې کښې دَ هر یو دَ پاره یو حدمقرر دې د دې د پاره دَ یو رڼا دَ بل په رڼا کښې حائل کیدل دَ هغوی دَ مقرر شوی نظام دشان سره مناسب نه دی، دغه شان شپه دَ ورځ نه وړاندې نشی راتلې.

قوله: نَسْلَخُ: نُخْرِجُ أَحَدَهُمَا مِنَ الْآخَرِ وَيَجْرِي كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا: آیت کښې دی ﴿وَآيَةٌ لَهُمُ اللَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَإِذَا هُمْ مُظْلِمُونَ﴾ اویوه نښه دَ هغه خلقو دَ پاره شپه ده، مونږ په دې باندې ورځ راکاږو او ناڅاپه هغه خلق په تیاروکښې پاتې شی. دَ شپې نه ورځ راویستل، دا کلام په تشبیه باندې بنا دې، مشبه "کشف الضوٴ من اللیل" دې او مشبه به "کشف الجلدعن الشاة"دَ بکرئی نه څرمن ویستل) اووجه دَ تشبیه دَ یو په بل باندې توارد دې، څنګه چه په شاة باندې جلد واردکیږی تیک دغه شان نهار دَ لیل دَ پاسه واردکیږی. مشبه او مشبه به دواړه حسی دی او جامع یعنی وجه تشبیه عقلی ده او مطلب دا دې چه دَ شپې دَ پاسه مونږ غلاف ضوٴ خورکړې ساتلې دې کله چه هغه دَ ورځ غلاف مونږ راکاږو نو هغه ناڅاپه تیاروته اورسی.(٢)بعض حضراتووئیلی چه مشبه "اخراج ضوء سالنهار من اللیل"دې اومشبه به "اخراج الشاة من الجلد" دې. او مطلب دا دې چه تیاره او شپه اصل دې الله تعالی دَ دې تیارې نه دَ ورځې رڼا راوباسی څنګه چه دَ څرمن نه بکرئی راویستلې شی دَ شپې دَ تیارې نه دَ ورځې

(١)دَ مذکوره څلورو اقوالو دَپاره اوګورئ الجامع لاحکام القران-١٥/٣٣:

(٢))قال الزمخشری فی الکشاف ٤/١٦:سلخ جلد الشاة :اذاکشطه عنها وازاله ...فاشتعیر لازالة الضوء وکشفه عن مکان اللیل وملی ظله.وانظرروح المعانی-١٠/٢٣:

رنړا راویستل بیشکه د الله تعالی د قدرت کامله یوه کرشمه ده.

قوله: مِنْ مِثْلِهِ: مِنَ الْأَنْعَامِ: (وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِنْ مِثْلِهِ مَا يَرْكَبُونَ) فرمائی من مثله نه څاروی او څناور مراد دی یعنی مونږ د هغوی د پاره د کشتئی په شان څیزونه پیدا کړل په کومو چه خلق سوریږی (لکه اوښ، اس وغیره)

قوله: فَكِهُونَ: مُعْجَبُونَ: آیت مبارك کښې دی (إِنَّ أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فٰكِهُونَ) جنتیان به بیشکه په هغه ورځ په خپلو شغلونوکښې خوشحاله وی. فرمائی فکهون معنی خوشحاله به وی.

قوله: جُنْدٌ مُحْضَرُونَ: عِنْدَ الْحِسَابِ: آیت کښې دی (لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُحْضَرُونَ) هغه د دوی هیڅ امداد نشی کولې او هغه(معبودان) به د دوی په حق کښې یو مخالف ډله شی چه حاضرولې به شی. فرمائی دا اصنام یعنی بتان به د حساب په وخت کښې حاضرولې شی.

قوله: وَيُذْكَرُ عَنْ عِكْرِمَةَ: الْمَشْحُونِ الْمُوقَرُ: (وَآيَةٌ لَهُمْ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ) د حضرت عکرمه نه نقل دی چه مشحون معنی بارکړې شوې ، ډك شوې.

قوله: طَائِرُكُمْ: مَصَائِبُكُمْ: آیت کښې دی (قَالُوا طَائِرُكُمْ مَعَكُمْ) هغوی وائی چه ستاسو سپیره والې به هم تاسو سره وی. فرمائی چه د طائرکم نه مصائب مراد دی یعنی ستاسو مصیبتونه به هم تاسو سره وی.

قوله: يَنْسِلُونَ: يَخْرُجُونَ: (وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِنَ الْأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ) او دوباره به شپیلئی پوکوهلې شی نو ټول به د خپل رب طرف ته د قبرونونه راوځی. دې کښې ینسلون معنی ده هغوی به راوځی.

قوله: مَرْقَدِنَا: مَخْرَجِنَا: آیت کښې دی (قَالُوا يَا وَيْلَنَا مَنْ بَعَثَنَا مِنْ مَرْقَدِنَا) وائی به چه افسوس زمونږه بربادی مونږ د خپل مرقد نه چا راپاڅولو د مرقد نه مراد مخرج یعنی قبر. دلته اشکال کیږی چه کافرانو خو به په قبر کښې هم په عذاب کښې اخته وی نوبیا د هغوی د دوباره ژوندی کیدو په وخت کښې افسوس کول څه معنی لری؟ دینه خو په ظاهره دامعلومیږی چه هغوی د بعث نه اول په عذاب کښې گرفتار نه وو. حضرت کشمیری رحمه الله فرمائی چه د ړومبئی شپیلئی په وخت کښې به په ټولو ارواحانو د خوب حالت شروع کړیشی او دا وخت به د څلویښتوکالوموده وی. دینه پس به د ژوندی کیدو شپیلئی وی کوم سره چه به ټول روحونه ژوندی کړیشی نو هغه وخت به کافران وائی (يَا وَيْلَنَا مَنْ بَعَثَنَا مِنْ مَرْقَدِنَا) د مرقد نه د دوو نفخو په مینځ کښې دغه زمانه مراد ده، حضرت لیکی: "قیل: وان الكفار في العذاب، فاين المرقد؟ والجواب ان الارواح يصعقن بعد النفخ اربعين سنة، ثم يفقن بعد نفخة الاحياء، فلذلك قولهم: "من بعثنا من مرقدنا" وهكذا عند البخارى عن ابى هريرة: ص۷۱۱ ج۲. طبع الهند. فى

باب قوله: ونفخ في الصور (١) دوئم جواب دا ورکړيدې چه کافران خو به په قبرکښې په عذاب کښې اخته وی ليکن چه دَ قيامت هيبتناك منظر اوګوری نو قبر به اهون اوګنړی او خوب سره به تشبيه ورکړی. (٢)

قوله: أَحْصَيْنَاهُ: حَفِظْنَاهُ: ﴿وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ﴾ احصينا معنی مونږ محفوظ کړل يعنی هرڅيز په يوواضح کتاب (لوح محفوظ) کښې مونږ محفوظ کړی دی.

قوله: مَكَانَتُهُمْ وَمَكَانُهُمْ وَاحِدٌ: ﴿وَلَوْ نَشَاءُ لَمَسَخْنَاهُمْ عَلَى مَكَانَتِهِمْ﴾ فرمائی چه مكانة او مكان دواړو يوه معنی ده.

[٢٨٩] بَاب وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا ذَلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ

[٤٥٢٤| ٤٥٢٥] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ عِنْدَ غُرُوبِ الشَّمْسِ فَقَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ أَتَدْرِي أَيْنَ تَغْرُبُ الشَّمْسُ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهَا تَذْهَبُ حَتَّى تَسْجُدَ تَحْتَ الْعَرْشِ فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا ذَلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ

[٤٥٢٥] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ تَعَالَى وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا قَالَ مُسْتَقَرُّهَا تَحْتَ الْعَرْشِ [ر: ٣٠٢٧]

اونمر دَ خپل مستقر طرف ته روان دې. مستقر نه هغه ځائ هم مراد اخستې شی چرته چه به تلوياندې آخرنمر اودريږی او هغه وخت هم کيديشی کله چه نمر خپل حرکت پوره کړی اودريږی هغه وخت دَ قيامت ورځ ده. په دې صورت کښې به دَ آيت مطلب دا وی چه نمر په خپل مدارکښې په يومحکم نظام باندې دَ زرګونوکالونو راسې حرکت کوی ليکن دَ ده دا حرکت مستقل او دائمی نه دې دَ ده دَ پاره يو خاص مستقر او دَ قرار وخت دې. کله چه هغه وخت راورسی نو دَ ده حرکت به ختم شی او هغه به دَ قيامت ورځ وی. دَ دې تائيد دَ سورة زمر دَ دې آيت نه هم کيږی ﴿وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى﴾ دې کښې اجل مسمی نه قيامت مراد ليکن دلته امام بخاری کوم رويت ذکرکړې دهغې نه معلوميږی (٣) چه دلته په باب کښې کوم روايت ذکر کړيدې هغې نه معلوميږی چه په آيت باب کښې "مستقر" نه مستقر زمانی نه چه مستقرمکانی مراد دې. نبی کريم ﷺ حضرت ابوذرغفاری) ته خطاب کولوسره اوفرمائيل چه نمر روان وی تردې چه هغه تحت عرش ته اورسی نو سجده کوی بيائې

---

(١) فيض الباری -٢٢٣/٤:

(٢) تفسير عثمانی ٥٩١:فائده نمبر-٧

(٣) تفسير ابن كثير ٣/٥٧:

اوفرمائيل چه په دې آيت كښې د مستقر نه همدغه مراد دې (وَالشَّمْسُ تَجْرِىْ لِمُسْتَقَرٍّلَّهَا)
عبدالرزاق آيت باب متعلق د حضرت ابن عمرر ﷺ نه هم يو روايت نقل كړيدې د هغې الفاظ دا دى: "ان الشمس تطلع فتردها ذنوب بنى ادم، حتى اذا غربت، سلمت، وسجدت، واستاذنت، فيؤذن لها، حتى اذاكان يوم غربت، فسلمت، وسجدت، واستاذنت فلايؤذن لها، فتقول: ان المسير بعيد، وانى ان لايؤذن لى لاابلغ، فتحبس ماشاء الله ان تحبس، ثم يقال لها: اطلعى من حيث غربت، قال: فمن يومئذ الى يوم القيامة، (لَايَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْكَسَبَتْ فِىْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا)" [1]

د سجود شمس تحقيق او روايت باندې وارد كيدو نكى اشكالات او د هغې جوابونه: په دې حديث كښې "سجود شمس تذكره شويدې". د جديد فلكياتو تحقيقات او مشاهدات په رو سره په دې باندې يو څو اشكالات كيږى.

① رومبې اشكال دا كيږى چه نمر په يوځائ ډوبيږى نو هم هغه وخت په بل ځائ كښې راخيژى. د نمر ډوبيدل او راختل هروخت روان وى، خو د حديث نه دا مفهوم په پوهه كښې راځى چه په پوره دنياكښې نمر په يووخت ډوبيږى او د اجازت ملاويدونه پس بياځل سفر شروع كوى او راخيژى حالانكه دا د مشاهدې نه خلاف ده.

د دې اشكال جواب دا وركړيشو چه دلته د نمر د ډوبيدونه د ټولې دنيا ډوبيدل مراد نه دى بلكه د دنيا د لوئ حصې ډوبيدل مراد دى. يعنى هغه مقام چرته چه په ډوبيدو باندې د دنيا په اكثر آبادئى كښې ډوبيږى يا د دې نه د خط استواء ډوبيدل مراد دى او يا د افق مدينې ډوبيدل مراد دى او مطلب دا دې چه نمردا سجده اود ډوبيدو اجازت معظم معموره. ياد خط استواء ډوبيدل او يا د افق مدينه د ډوبيدلووخت طلب كوى. [2]

② دونم اشكال دا كيږى چه د عرش رحمن كوم تفصيل د قرآن او حديث نه معلوميږى د هغې په رو سره عرش ټول آسمانونه او كائنات سماويه باندې محيط دې په دې لحاظ نمرخو هميشه په هر حال او هروخت كښې د عرش لاندې دې او د حديث نه معلوميږى چه صرف د ډوبيدو په وخت كښې د عرش لاندې ځى.

د دې جواب دا دې چه د ډوبيدو په وخت كښې د عرش لاندې راتلل ده له مستلزم نه دى چه باقى وخت كښې هغه د عرش د لاندې نه وى. دا قيد احترازى نه دې قيد واقعى دې.

نو حضرت حكيم الامت تهانوى رحمة الله عليه ليكى: "د دې جواب دا دې چه ممكنه ده چه دا قيد واقعى وى او اصلى مقصود اخبار عن السجده وى اود دې تعبيرنه دا فائده وى چه د دې نه تحت الامرالالهى كيدلو تصريح اوشوه ځكه چه د استواء على العرش كنايه كيدل د نفاذ احكام او تصرفات نه په آيات عديده كښې ذكر دى" [3]

---

[1] تفسيرابن كثير-۳/۵۷۱:
[2] بيان القران-۹/۱۱۱:
[3] بيان القران-۹/۱۱۱:

③ دريم اشکال دا دې چه دَ دې حديث دَ ظاهر نه معلوميږی چه نمر خپل مستقر باندې رسيدلو سره سجده کوی، بيا اجازت غواړی، دغه شان هغه وقفه کوی حالانکه دَ نمر وقفه علم فلکيات اودَ مشاهدې په رو سره صحيح نه ده، دَ ده حرکت دائمی او مسلسل دې.
دَ دې جواب دا دې چه دَ هرڅيز سجده دَ هغه دَ حال مناسب وی لکه چه قرآن پخپله تصريح فرمائيلې ده "کل قدعلم صلاته وتسبيحه" دَ دې دَ پاره دَ نمر دَ سجدې دا معنی ګنړل چه هغه دَ انسان په شان سجده کوی صحيح نه ده. حضرت تهانوی رحمه الله ليکی: " سجده بالمعنی مذکوره دَ پاره اول خو انقطاع حرکت ضروری نه دې، بل ممکن دی چه دا سکون آنی وی او حرکت زمانی وی، دَ دې دَ پاره حساب رصدی مختل کيږی نه، او نه هغه منضبط او مدرك کيږی.“(١)
علامه شبيراحمد عثمانی رحمه الله په دې باره کښې يوه مستقل مقاله ليکلې ده او مولانامفتی محمد شفيع صاحب رحمه الله "معارف القرآن" کښې دَ دې خلاصه نقل کړيده. هغوی په يو بل انداز سره د حديث مفهوم بيان کړيدې دَ کوم حاصل چه دا دې.
په حديث کښې چه دا خودلې شوی دی چه نمر دَ ډوبيدونه پس دَ عرش لاندې الله تعالی ته سجده کوی او بيا دَ بل دور شروع کولو اجازت غواړی او دَ اجازت ملاويدو نه پس وړاندې تګ کوی او سحر دَ مشرق طرف نه راخيژی، دَ دې مقصد دَ دې نه زيات نه دې چه نمر دَ راختو او ډوبيدو په وخت کښې دَ دنيا په عالم کښې يو نوې انقلاب راځی دَ کوم مدار چه په نمر باندې دې. رسول الله ﷺ دا انقلابی وخت دَ انسان دَ خبرداری دَ پاره موزون ګنړلو سره دا تلقين اوفرمائيلو چه دا نمر په خپله مرضئی سره په خپل قدرت سره ګرځيدونکې مه ګنړئی دا صرف دَ الله تعالی په رضا او اجازت سره روان دې، دَ ده هر ځل راختل او ډوبيدل دَ الله تعالی په اجازت سره کيږی. دا دَ هغه دَ اجازت تابع دې، دَ ده حکم منونکې حرکت کول هم دَ ده سجده ګرځولې شويده. خلاصه دا چه دَ نمرد ډوبيدو تخصيص او دې نه پس دَ عرش لاندې تلل اوهلته سجده کول او دَ وړاندې تلو اجازت غوښتلو کوم واقعات په دې روايت کښې خودلې شوی دی هغه دَ پيغمبرانه مؤثر تعليم مناسب بالکل دَ عام خلقو دَ نظر په اعتبار سره يو تمثيل دې. نه دينه دا لازميږی چه هغه دَ انسان په شان په زمکه سجده کوی، اونه دَ سجدې کولو په وخت کښې دَ نمر په حرکت کښې څه وقفه کيدل لازم راځی. او نه دا مراد دی چه هغه په شپه ورځ کښې يوه سجده په يوخاص ځائ کښې کوی، اونه دا چه صرف دَ ډوبيدو په وخت کښې د عرش د لاندې ځی، مګر په دې انقلابی وخت کښې کله چه ټول خلق داوينی چه نمر زمونږ نه غائب شو هغه وخت دَ تمثيل په توګه هغوی په دې حقيقت باندې خبر کړيشو چه دا څه کيږی په حقيقت کښې نمر دَ عرش لاندې دَ فرمان تابع تلوراتلوسره کيږی، نمر پخپله څه قدرت او طاقت نه لری، نو څنګه چه دې وخت کښې د مدينې خلق په خپل ځائ کښې دا محسوس کوی چه اوس به نمر سجده کوی او دَ بلې

(١) بيان القران-١١١/٩:

دوري د پاره به اجازت غواړي، نو دغه شان چرته چرته چه دې ډوبيږي د ټولو پاره د سبق حاصلولو تلقين اوشو او د معاملې حقيقت دا راوښتلو چه نمر په خپل مدار کښې د حرکت په مينځ کښې په هره لمحه الله تعالى ته سجده هم کوي او د وړاندې تلو اجازت هم غواړي او د دې سجدې کولو او اجازت غوښتلو د پاره هغه ته د سکون او وقفې ضرورت هم نه وي.(١)

په دې تقرير سره په ذکر شوي حديث کښې نه د مشاهداتو په رو سره څه شبه کيږي او نه قواعد هئيت او رياضي په اعتبار سره څه شبه او اشکال باقي پاتې کيږي.

[۲۹۰] باب: تفسير سورة الصافات

وَقَالَ مُجَاهِدٌ (وَيَقْذِفُونَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ) مِنْ كُلِّ مَكَانٍ (وَيُقْذَفُونَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ) يُرْمَوْنَ (وَاصِبٌ) دَائِمٌ، لَازِبٌ لَازِمٌ (تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ) يَعْنِي الْحَقَّ الْكُفَّارُ تَقُولُهُ لِلشَّيْطَانِ (غَوْلٌ) وَجَعُ بَطْنٍ (يُنْزَفُونَ) لَا تَذْهَبُ عُقُولُهُمْ (قَرِينٌ) شَيْطَانٌ (يُهْرَعُونَ) كَهَيْئَةِ الْهَرْوَلَةِ (يَزِفُّونَ) النَّسَلَانُ فِي الْمَشْيِ (وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا) قَالَ كُفَّارُ قُرَيْشٍ الْمَلَائِكَةُ بَنَاتُ اللَّهِ وَأُمَّهَاتُهُمْ بَنَاتُ سَرَوَاتِ الْجِنِّ، وَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى (وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ) سَتُحْضَرُ لِلْحِسَابِ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (لَنَحْنُ الصَّافُّونَ) الْمَلَائِكَةُ (صِرَاطِ الْجَحِيمِ) سَوَاءِ الْجَحِيمِ وَوَسَطِ الْجَحِيمِ (لَشَوْبًا) يُخْلَطُ طَعَامُهُمْ وَيُسَاطُ بِالْحَمِيمِ (مَدْحُورًا) مَطْرُودًا (بَيْضٌ مَكْنُونٌ) اللُّؤْلُؤُ الْمَكْنُونُ (وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ) يُذْكَرُ بِخَيْرٍ (يَسْتَسْخِرُونَ) يَسْخَرُونَ (بَعْلًا) رَبًّا

سورة الصافات

قوله: وقال مجاهد: وَيَقْذِفُونَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ من كل مكان:

د سورة الصافات آيت (وَيُقْذَفُونَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ) مات شوي ستوري راغورزولې شي په دوى باندې د هرطرف نه، په مناسبت سره امام بخاري رحمه الله د سورة سبا آيت ذکر کړو او دا د امام طريقه ده چه هغه په معمولي مناسبت سره د مختلفو سورتونو الفاظ يوځاى ذکر کوي، البته دلته اشکال کيږي چه امام د سورة سبا په آيت کښې "من مكان بعيد" مطلب د مجاهد رحمه الله په حواله سره "من كل مكان" بيان کړيدې چه په عموم باندې دلالت کوي حالانکه د سورة سبا په مذکوره آيت کښې په عموم باندې دلالت کونکې يو لفظ هم نشته.البته سورة الصافات مذکوره آيت "وَيُقْذَفُونَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ" کښې "من كل جانب" تفسير د مجاهد رحمه الله نه "من كل مكان" نقل دې. دغه شان علامه سيوطي رحمه الله په درمنثور کښې عبد بن حميد، طبري، او ابن المنذر په حواله سره د حضرت مجاهد رحمه الله دا تفسير د سورة الصافات د دې آيت په

(١) رساله سجود شمس، ومعارف الران-۷/۳۹۲:

ضمن کښې نقل کړيدي. (١)دينه په ظاهره دا معلوميږی چه امام بخاري رحمه الله "من کل مکان" ته سورة الصافات آيت تشريح کښې ذکر کول غوښتل ليکن غلطئی سره سورة سبا آيت تفسير کښې دا ذکر کړلو.

د کلماتو تشريح:

قوله: واصب: دائم: ﴿وَلَهُمْ عَذَابٌ وَاصِبٌ﴾ واصب معنی هميشه.

قوله: لازب: لازم: ﴿إِنَّا خَلَقْنَاهُمْ مِنْ طِينٍ لَازِبٍ﴾ مونږ هغه د اينختونکې خاورې نه پيدا کړو، فرمائی چه لازب معنی لازم يعنی ايختونکې

قوله: تأتوننا عن اليمين: يعني الحق الکفار تقوله للشيطان: آيت کښې دی ﴿قَالُوا إِنَّكُمْ كُنْتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ﴾ فرمائی چه په دې کښې يمين په معنی د حق دې او مطلب دا دې چه ميدان حشر کښې کفار به شيطانانوته وائی چه ته به مونږ ته د حق خبرې د طرف نه راتلې، يعنی خپله باطله خبره به دې د حق په شکل کښې ظاهروله.

قوله: غول: وجع بطن، ينزفون: لاتذهب عقولهم: آيت کښې دی ﴿لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُونَ﴾ فرمائی "غول" نه د خيټې درد مراد دې او ﴿وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُونَ﴾ معنی د هغوی علقونه به لاړنشی مطلب دا چه د جنت شراب څکلو سره به نه په خيټه کښې درد وی او نه د انسانی عقل غائب کيدلو په وجه بې هوشی.

قوله: قرين: شيطان: ﴿قَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ﴾ په دوی کښې به يو وايونکې وائی په دنيا کښې زما يو ملګرې وو، فرمائی دينه شيطان مراد دې.

قوله: يهرعون: کهيئة الهرولة: ﴿فَهُمْ عَلَى آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ﴾ دې کښې "يهرعون" معنی ده تيز تلل. د منډې په شکل او صورت کښې، هرولة منډه، باب بعثر نه مصدر دې.

قوله: يزفون: النسلان في المشي: آيت کښې دی ﴿فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ﴾ دې کښې "يزفون" معنی ده په تلوکښې تيزی کول. النسلان: الاسراع فی المشی مع تقارب الخطی يعنی نزدې نزدې قدم کيخودلو سره تيز تلل.

قوله: وبين الجنة نسبا: قال کفار قريش: الملائکة بنات الله، وامهاتهم بنات سروات الجن: ﴿وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا﴾ اودې خلقو په الله او جناتو کښې نسب جوړ کړو،

---

(١) قال السيوطی فی الدرالمنثور" ٥/٢٧١:اخرج عبدبن حميد وابن جرير وابن المنذر وابن ابی حاتم عن مجاهد فی قوله":ويقذفون من کل جانب "قال يرمنون من کل مکان "تفصيل د پاره اوګورئی تعليقات لامع الدراری-١٥٢-٩/١٥١:

قریشوکفارو به وئیل چه فرښتې دَ الله تعالی لونړه دی اودَ دې فرښتومنیندې دَ سردارانو پیریانو لونړه دی.

قوله: لنحن الصافون: الملائکة: آیت کښې دی ﴿وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّونَ﴾ او مونږ صف تړې اودریږو، فرمائی دینه فرښتې مراد دی.

قوله: صراط الجحیم: سواء الجحیم ووسط الجحیم: آیت کښې دی ﴿فَاهْدُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْجَحِيمِ﴾ فرمائی صراط الجحیم، سواء الجحیم او وسط الجحیم دَ دریواړو یوه معنی ده.

قوله: لشوباً: یخلط طعامهم ویساط بالحمیم: آیت کښې دی ﴿ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ﴾ دې کښې د ﴿شَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ﴾ معنی دَ دوی دَ زقوم دَ ونې خوړل خوټکیدلو اوبوسره ګډوډ او یوځائ کیدل به وی، ساط، یسوط او خلط، یخلط په یو معنی کښې دی.

قوله: مدحورا: مطرودا: سورة اعراف کښې دی ﴿قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَّدْحُورًا﴾ دې کښې "مدحورا" معنی لرې کړیشوې، رټلې شوې، دا لفظ دَ سورة الصافات نه دې، سورة الصافات کښې ﴿دُحُورًا وَلَهُمْ عَذَابٌ وَاصِبٌ﴾ دې "دحورا" په مناسبت سره دا لفظ راوړلې شو.

قوله: بیض مکنون: اللؤلؤ المکنون: آیت کښې دی ﴿كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ﴾ بیض مکنون نه پټې مرغلرې مراد دی. هغه حورې به د پټو مرغلرو په شان ښائسته وی.

قوله: وترکنا علیه فی الاخرین: یذکر بخیر: او مونږ په هغې پسې شاته راتلونکو خلقو کښې دا خبره پاتې کړه چه په هغه باندې سلام وی. فرمائی چه دینه مراد چه دَ هغه دَ خیر ذکر به کیږی.

قوله: یستسخرون: یسخرون: ﴿وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ﴾ کله چه یوه معجزه ګوری نو هغې پسې ټوقې کوی، یستسخرون معنی هغوی ټوقې مسخرې کوی.

قوله: بعلا: ربا: آیت کښې دی ﴿أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ﴾ آیا تاسو بعل دَ بت نوم دې رابلئی او ښه جوړونکې پریږدئې، فرمائی چه په دې کښې دَ بعل معنی رب دې. بعضو وئیلی دی چه بعل دَ یوبت نوم وو. دَ بنی اسرائیلو یوې ډلې د دې عبادت کولو یا د حضرت الیاس علیه السلام قوم دَ دې عبادت کولو (۱)بعض وائی چه دا په یمنی ژبه کښې دَ رب په معنی کښې استعمالیږی.

[۲۹۱] بَاب وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ

[۴۵۲۶] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ

(۱) عمدة القاری ۱۹/۱,۳۶: وروح المعانی-۱۳۹/۲۳:

رَضِيَ اللَّهُ عَنهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَا يَنبَغِي لِأَحَدٍ أَن يَكُونَ خَيرًا مِن يُونُسَ بنِ مَتَّى

[٤٥٢٧] حَدَّثَنِي إِبرَاهِيمُ بنُ المُنذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بنُ فُلَيحٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَن هِلَالِ بنِ عَلِيٍّ مِن بَنِي عَامِرِ بنِ لُؤَيٍّ عَن عَطَاءِ بنِ يَسَارٍ عَن أَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن قَالَ أَنَا خَيرٌ مِن يُونُسَ بنِ مَتَّى فَقَد كَذَبَ

[٢٩٢] بَاب: تفسير سُورَةُ ص

[٤٥٢٨| ٤٥٢٩] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُندَرٌ حَدَّثَنَا شُعبَةُ عَنِ العَوَّامِ قَالَ سَأَلتُ مُجَاهِدًا عَنِ السَّجدَةِ فِي ص قَالَ سُئِلَ ابنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقتَدِه وَكَانَ ابنُ عَبَّاسٍ يَسجُدُ فِيهَا

[٤٥٢٩] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بنُ عَبدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بنُ عُبَيدٍ الطَّنَافِسِيُّ عَنِ العَوَّامِ قَالَ سَأَلتُ مُجَاهِدًا عَن سَجدَةٍ فِي ص فَقَالَ سَأَلتُ ابنَ عَبَّاسٍ مِن أَينَ سَجَدتَ فَقَالَ أَوَمَا تَقرَأُ وَمِن ذُرِّيَّتِهِ دَاوُدَ وَسُلَيمَانَ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقتَدِه فَكَانَ دَاوُدُ مِمَّن أُمِرَ نَبِيُّكُم صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ أَن يَقتَدِيَ بِهِ فَسَجَدَهَا دَاوُدُ عَلَيهِ السَّلَام فَسَجَدَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ

عُجَابٌ عَجِيبٌ القِطُّ الصَّحِيفَةُ هُوَ هَا هُنَا صَحِيفَةُ الحِسَابِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ: فِي عِزَّةٍ: مُعَازِّينَ المِلَّةِ الآخِرَةِ: مِلَّةُ قُرَيشٍ الاختِلَاقُ: الكَذِبُ الأَسبَابُ: طُرُقُ السَّمَاءِ فِي أَبوَابِهَا قَولُهُ جُندٌ مَا هُنَالِكَ مَهزُومٌ: يَعنِي قُرَيشًا أُولَئِكَ الأَحزَابُ: القُرُونُ المَاضِيَةُ فَوَاقٍ: رُجُوعٍ قِطَّنَا: عَذَابَنَا اتَّخَذنَاهُم سُخرِيًّا: أَحَطنَا بِهِم: أَترَابٌ: أَمثَالٌ وَقَالَ ابنُ عَبَّاسٍ: الأَيدُ: القُوَّةُ فِي العِبَادَةِ الأَبصَارُ: البَصَرُ فِي أَمرِ اللَّهِ حُبَّ الخَيرِ عَن ذِكرِ رَبِّي: مِن ذِكرِ طَفِقَ مَسحًا: يَمسَحُ أَعرَافَ الخَيلِ وَعَرَاقِيبَهَا الأَصفَادِ: الوَثَاقِ.

سورة ص

د كلماتو تشريح:

قوله: عُجَابٌ: عَجِيبٌ: په آيت کښې دی (إِنَّ هَٰذَا لَشَيءٌ عُجَابٌ) په معنی دَ عجيب دې.

قوله: القط: الصحيفة، هوهاهنا صحيفة الحسنات: په آيت کښې دی (رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبلَ يَومِ الحِسَابِ) دَ لفظ قط دو معنی بيان کړی دی، يو په معنی د صحيفه او دلته په آيت کښې نيکواعمالوصحيفه مراد ده او دونمه معنی دَ دې دَ عذاب بيان کړې شوې ده چه وړاندې دَ يوځو الفاظونه پس ده.

دَ کلبی وغيره په روايت کښې دی چه کله دَ سورة حاقه دا آيت نازل شو (فَأَمَّا مَن أُوتِيَ كِتَابَهُ

بِیَمِیْنِهٖ فَسَوْفَ یُحَاسَبُ حِسَابًا یَّسِیْرًا) نوکافرانودَ تپوقواو خندا په توګه نبی کریم ﷺ ته اوونیل که واقعي حساب کتاب کیږي نو تاسو مهرباني اوکړئي او زمونږ دَ نیکو اعمالو صحیفه دَ حساب کتاب دَ ورځې نه وړاندې وړاندې زر راکړه او قط په معني دَ عذاب به وي نوته دَ حساب دَ ورځ نه مخکښې زر عذاب راکړه، قرآن په ذکر شوي آیت کښې دَ کافرانو دَ مسخرو دا قول نقل کړې دې[1]

قوله: وقال مجاهد: في عزة: معازین: په آیت کښې دی (فِیْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ) مجاهد رحمه الله فرمائی (فِیْ عِزَّةٍ) معنی په عزت کښې غلبه غوښتونکې ده، معازین: مغالبین. دَ باب مفاعله نه صیغه د اسم فاعل ده.

قوله: الملّة الاخرة: ملة قریش: (مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِی الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۚ اِنْ هٰذَآ اِلَّا اخْتِلَاقٌ) په تیرشوي دین کښې مونږ دا خبره نه ده اوریدلې ، دا صرف دَ خان نه خبره ده. په دې کښې دَ ملت نه ملت قریش مراد دی. ځکه چه دَ هغوی دا خیال وو چه زمونږ ملت ملت ابراهیمی دې نو په دې وجه به هم هغه برقرار وی او دَ یهودو او نصاری ملت خوختم شوې دې په دې وجه دَ هغوی څه اعتبار نشته.[2]بعضودې نه "ملت نصاری" مراد اخستې دې[3]

قوله: الاختلاق: الکذب: (اِنْ هٰذَآ اِلَّا اخْتِلَاقٌ) معنی دروغ ده.

قوله: الاسباب: طرق السماء في ابوابها: په آیت کښې دی (فَلْیَرْتَقُوْا فِی الْاَسْبَابِ) فرمائی په دې کښې د اسباب نه دَ اسمان په دروازو کښې دَ آسمان لارې مراد دی.

قوله: جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُوْمٌ: یعني قریشاً: (جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُوْمٌ مِّنَ الْاَحْزَابِ) دَ ټولوډلونه یو ډله ده چه دلته (یعنی په مکه کښې) به ورته ماتې ورکړېشی، فرمائی دَ (جُنْدٌ مَّهْزُوْمٌ) نه قریش مکه مراد دی.

قوله: اُولٰٓئِكَ الْاَحْزَابُ: القرون الماضية: (وَاَصْحٰبُ لْئَیْکَةِ ۭ اُولٰٓئِكَ الْاَحْزَابُ) او اصحاب ایکه تکذیب کړې وو او هغه احزاب)دَ کوموچه اول په (مِنَ الْاَحْزَابِ) کښې ذکرراغلې دې همدغه خلق دی. فرمائی (اُولٰٓئِكَ الْاَحْزَابُ) نه تیرشوي امتونه مراد دی.

قوله: فواق: رجوع: (مَا لَهَا مِنْ فَوَاقٍ) فرمائی دَ فواق معنی ده رجوع یعنی دوئمه شپیلئی نه پس دنیا ته واپس کیدل نشته.

قوله: قطنا: عذابنا: په آیت کښې دی (رَبَّنَا عَجِّلْ لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ یَوْمِ الْحِسَابِ) په دې کښې دَ قط نه عذاب مراد دې، یعنی اې زمونږه ربه! دَ حساب دَ ورځ نه وړاندې مونږ له زمونږ عذاب زر

---

[1] عمدة القاری: ۳۸/۹-

[2])لامع الدارمی-۹/۱۵٤:

[3] عمدة القاری-۱۹/۱۳۹:

راکړه، مطلب دا چه کله به هغوی دَ قیامت دَ وعدې اوریده نو په مسخرو سره به نی دا وئیل چه مونږ له خودَ هغه وخت حصه هم اوس راکړه، هم اوس چه مونږ خپله عملنامه اووینو او لاس په لاس دَ سزی جزا نه اوزګار شو. فرمانی دې کښې دَ قطنه عذاب مراد دې.

قوله: أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا : تحطنا بهم: (أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْأَبْصَارُ) دې نه اول آیت کښې دی (وَقَالُوا مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ الْأَشْرَارِ) یعنی دوزخیان به په خپل مینځ کښې وائی چه څه خبره ده چه مونږ هغه خلق په دوزخ کښې نه وینو کوم چه به مونږ په دنیاکښې دَ خرابوخلقو نه شمیرل، آیا مونږ په(غلطئی) سره هغه خلقو سره ټوقې کړې وې زمونږ دَ سترګونه هغوی بې درکه شوی دی)اوهغوی زمونږ په کتوکښې نه راځی). امام بخاری رحمه الله دَ(أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا) ترجمه "احطناهم" سره کړې ده "چه آیامونږ په ټوقومسخروکښې هغوی راګیرکړې وو" او داسې کیږی چه په عام توګه چه دَ مزاق کولې شی نو هغه خلق راګیروی.
حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائیلی دی چه دا تفسیر باللازم دې او صحیح دې، هغوی فرمائی "فسر السخرية بالاحاطة، لان الاحاطة لازمة لها عادة، فانهم اذا ارادوا الاستهزاء باحد جعلوه وسطهم، ليتمكن كل منهم على الاستهزاء كل التمكن." (۱)

قوله: اتراب: امثال: (وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ أَتْرَابٌ)اوهغوی سره به دَ ښکته نظرونووالا هم عمرښځې وی (مراد ترینه حورې دی) فرمانی اتراب په معنی دَ امثام دی یعنی هم عمراو یوشان.

قوله: الأيد: القوة في العبادة، الابصار: البصر في امر الله: (وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ) فرمائی د اید معنی ده په عبادت کښې قوت اودَ ابصارمعنی ده دَ الله تعالی په کار کښې غور او فکر کول یعنی ابراهیم، اسحاق او یعقوب علیهم السلام په عبادت کښې قوی او دَ الله تعالی په کار کښې غوراوفکر کونکی وو.

قوله: حُبَّ الْخَيْرِ عَن ذِكْرِ رَبِّي: من ذكر ربي: په آیت شریف کښې دی (فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَن ذِكْرِ رَبِّي حَتَّىٰ تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ) په دې کښې عن په معنی دَ من دې (ترجمه تیره شوه)

فَطَفِقَ مَسْحًا : يمسح اعراف الخيل وعراقيبها: په آیت مبارك کښې دی (رُدُّوهَا عَلَيَّ فَطَفِقَ مَسْحًا بِالسُّوقِ وَالْأَعْنَاقِ) حضرت سلیمان علیه السلام اوفرمائیل هغه اسونه بیازمامخې ته راولئی) نوهغه راوستې شو) نو هغوی دَ دې اسونو په پنډو او سټونوباندې خپل لاس پاکول یعنی قتلول شروع کړل.

د ایت کریمه ``ردوها علی فطفق مسحا بالسوق والاعناق،، دوه تفسیرونه: دَ دې آیت دوه تفسیرونه شوی دی، ① دَ دې مشهور تفسیر دا شویدې چه حضرت سلیمان علیه السلام دَ اسونو په کتلوکښې داسې مشغول شوچه دَ هغه وخت مونځ یا وظیفه ترینه پاتې شوه او روستو

---

(۱)لامع الدارمی ۹/۱۵۵ :

ستومانه شو او هغوى دغه اسونه بيا دَ راوستلوحکم اوکړو او توره ئى راواخسته او دَ هغوى ستهونه او پنډئى پريکول ئى شروع کړل چه هم دَ دې په وجه دَ الله تعالى په ياد او ذکر کښې خلل واقع شوې وو نو دَدې خلل او غفلت هغوى داسې کفاره ادا کړه[1]

② دونم تفسير دا کړيشويدې چه دا اسونه دَ جهاد دَ پاره وو دَ هغې په معائنه کښې چه کله وخت اولګيدو نو دَ مازيګر مونځ ترينه قضاشو په دې باندې اوفرمائيل چه په دې کښې هيڅ حرج نشته که يو طرف ته په ظاهره دَ الله تعالى دَ ياد نه جدا شونوبل طرف ته دَ جهاد دَ اسونو سره مينه او دَ هغې پالنه هم دَ هغه ياد سره تړلې ده. هم دَ دې جهاد دَ جذبې دَ جوش نه ئى حکم ورکړو چه دا اسونه بيا واپس راولئى، نو واپس راوستې شو او حضرت سليمان عليه السلام دَ ډيرې مينې او اکرام دَ وجه دَ هغوى ستهونه او پنډئى اوچولې او پاکولې، دَ دې تفسير مطابق دَ "مسح" نه مراد پريکول نه بلکه دَ محبت او مينې نه لاس راښکل دى. دَ آيت دا دونم تفسير مفسرينو حضراتو اختيار کړې دې[2] خومشهور تفسير ړومبنې دې[3]

امام بخارى رحمه الله فرمائى "يمسح اعراف الخيل وعراقيبها" دَ "اعراف"، "عرف" جمع ده، دَ اس دَ سټ ويښتوته وائى اوعراقيب دَ عرقوب جمع ده، دَ ګيټو شاته يوې پټې ته وائى دلته دَ دې نه پنډئى مراد دى.

البته په ړومبنى تفسير باندې دا اشکال کيږى چه اسونه دَ الله تعالى يو نعمت وو خپل مال او دَ الله تعالى نعمت داسې ضائع کول دَ يو نبى شان سره نه ښائى. نودَ دې جواب دا ورکړې شويدې چه دا اسونه دَ حضرت سليمان عليه السلام ذاتى ملکيت وو اودَ هغوى په شريعت کښې دَ اس قربانى جائز وه، په دې وجه هغوى اسونه ضائع نه کړل بلکه هغه ئى دَ الله تعالى په نوم قربان کړل.[4]

قوله: الاصفاد: الوثاق: په آيت شريف کښې دى ﴿وَّاٰخَرِيْنَ مُقَرَّنِيْنَ فِى الْاَصْفَادِ﴾ مونږ دَ سليمان عليه السلام تابع کړل او ډير هغه پيريان چه په زنځيرونو کښې تړلې شوى دى "اصفاد" دَ "صفدٌ" جمع ده، زنځير او بيړو ته وائى.

[1]) الجامع الاحكام القران-١٥/١٩٥ :

[2]) الجامع الاحكام القران١٥/١٩٥ :، روح المعانى-٢٣/١٩٥:

[3]))روح المعانى-٢٣/١٩٥:

[4]))قال الالوسى رحمه الله فى تفسير روح المعانى :٢٣/١٩٣ :وقد جعلها عليه السلام بذلک قربان الله تعالى وکان تقريب الخيل مشروعافى دينه-

[۲۹۳] باب: قوله هب لي ملكا لا ينبغي لأحد من بعدي إنك أنت الوهاب

[٤٥٣٠] حدثنا إسحاق بن إبراهيم حدثنا روح ومحمد بن جعفر عن شعبة عن محمد بن زياد عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال إن عفريتا من الجن تفلت علي البارحة أو كلمة نحوها ليقطع علي الصلاة فأمكنني الله منه وأردت أن أربطه إلى سارية من سواري المسجد حتى تصبحوا وتنظروا إليه كلكم فذكرت قول أخي سليمان رب هب لي ملكا لا ينبغي لأحد من بعدي قال روح فرده خاسئا

[۲۹۴] باب: قوله وما أنا من المتكلفين

[٤٥٣١] حدثنا قتيبة بن سعيد حدثنا جرير عن الأعمش عن أبي الضحى عن مسروق قال دخلنا على عبد الله بن مسعود قال يا أيها الناس من علم شيئا فليقل به ومن لم يعلم فليقل الله أعلم فإن من العلم أن يقول لما لا يعلم الله أعلم قال الله عز وجل لنبيه صلى الله عليه وسلم قل ما أسألكم عليه من أجر وما أنا من المتكلفين وسأحدثكم عن الدخان إن رسول الله صلى الله عليه وسلم دعا قريشا إلى الإسلام فأبطئوا عليه فقال اللهم أعني عليهم بسبع كسبع يوسف فأخذتهم سنة فحصت كل شيء حتى أكلوا الميتة والجلود حتى جعل الرجل يرى بينه وبين السماء دخانا من الجوع قال الله عز وجل فارتقب يوم تأتي السماء بدخان مبين يغشى الناس هذا عذاب أليم قال فدعوا ربنا اكشف عنا العذاب إنا مؤمنون أنى لهم الذكرى وقد جاءهم رسول مبين ثم تولوا عنه وقالوا معلم مجنون إنا كاشفو العذاب قليلا إنكم عائدون أفيكشف العذاب يوم القيامة قال فكشف ثم عادوا في كفرهم فأخذهم الله يوم بدر قال الله تعالى يوم نبطش البطشة الكبرى إنا منتقمون

[۲۹۵] باب: تفسير سورة الزمر

سورة الزمر وقال مجاهد أفمن يتقي بوجهه يجر على وجهه في النار وهو قوله تعالى أفمن يلقى في النار خير أم من يأتي آمنا يوم القيامة غير ذي عوج لبس ورجلا سلما لرجل مثل لآلهتهم الباطل والإله الحق ويخوفونك بالذين من دونه بالأوثان خولنا أعطينا والذي جاء بالصدق القرآن وصدق به المؤمن يجيء يوم القيامة يقول هذا الذي أعطيتني عملت بما فيه وقال غيره متشاكسون الرجل الشكس العسر لا يرضى بالإنصاف ورجلا سلما ويقال سالما صالحا اشمأزت نفرت بمفازتهم من الفوز حافين أطافوا به مطيفين بحفافيه بجوانبه

مُتَشَابِهًا لَيْسَ مِنَ الْاِشْتِبَاهِ وَلٰكِنْ يُشْبِهُ بَعْضُهُ بَعْضًا فِي التَّصْدِيقِ

سورة الزمر

د کلماتو تشریح:

قوله: وقال مجاهد: افمن يتقي بوجهه: يجر على وجهه في النار: (اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ بِوَجْهِهٖ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ) یعنی آیا هغه سړې چه د قیامت په ورځ عذاب په خپل مخ باندې رابندوی د مؤمن په شان کیدې شی؟ چاته به چه په آخرت کښې د هیڅ قسم اندیښنه نه وی. په سړی چه کله مخامخ حمله کیږی نو په لاسونو باندې منع کوی، لیکن په محشر کښې به د ظالمانولاسونه تړلې وی په دې وجه به د عذاب سپیړې په مخ پریوځی. دې نه مراد دوزخیان دی چه خپل مخونه به بچ کوی او د تلوکوشش به کوی.امام د دې مطلب بیان کړو چه هغوی به پرمخې په دوزخ کښې رابنکلې شی نود مخونو د بچ کولو کوشش به کوی.

قوله: ذي عوج: لبس: په آیت کښې دی (قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ) یعنی "مونږ د دې خلقو د پاره قران پیش کړو کوم کښې چه کګلیچ نشته دې د پاره چه هغوی بچ اوځی" فرمائی چه عوج په معنی د لبس او اشتباه ده، ذی عوج: شکی او ګړبړ.

قوله: وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ: مثل لالهتهم الباطل والاله الحق: په آیت کښې د باطلو او حق معبود د مثال بیان کړیشویدې (ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ شُرَكَآءُ مُتَشٰكِسُوْنَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا) چه یو غلام دې په هغه کښې ډیر خلق شریك دی او یو بل غلام دې چه یواځې د یو سړی دې، نو آیا دا دواړه یو شان کیدیشی، ښکاره خبره ده چه دا دواړه غلامان هیڅ کله هم نشی یو شان کیدې. رومبې غلام به د خپلو مشرانود ظلمونو او جګړو په وجه به همیشه په تذبذب او تکلیف ښکاروی چه د کوم کوم حکم اومنی او کوم یو راضی کړی. ولې دونم سړې به د تکلیف او تذبذب ښکار نه وې ځکه چه د هغه معامله هم یو سړی سره تړلې ده، نو ټیك همدغه مثال دې د هغه سړی چه د ډیرو معبودانو عبادت کوی نو هغه به د تذبذب او بې آرامئ ښکار وی خو هغه سړې چه صرف د یو الله ﷻ عبادت کوی هغه به په آرام او تسلئ سره وی. رومبې او دونم سړې هیڅ کله نشی برابریدلې.

په آیت کښې د(مُتَشٰكِسُوْنَ) لفظ راغلې دې د دې لفظ امام تشریح کولوسره فرمائی "الرجل الشکس: العسر لايرضى بالانصاف" یعنی متشاکسین هغه سړی ته وائی چه زړه تنګې او جګړ مار وی او په انصاف باندې نه راضی کیږی.

قوله: وَيُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ: بالاوثان: اودا خلق تا د دې بتانود ویروی چه د الله تعالی نه سوا دی، فرمائی (بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ) نه اصنام او بتان مراد دی.

قوله: خولنا: اعطينا: آیت کښې دی (ثُمَّ اِذَا خَوَّلْنٰهُ نِعْمَةً مِّنَّا) بیاچه مونږ هغوی ته د خپل طرف نه څه نعمت ورکړو، فرمائی د خولنا معنی ده مونږ ورعطا کړو، ورکړو.

قوله: وَالَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ : القرآن، وَصَدَّقَ بِهٖ : المومن: په آیت کښې دی (وَالَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ) په دې کښې (الَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ) " نه قرآن او (صَدَّقَ بِهٖ) نه مومن مراد دې چه دَ قیامت په ورځ به راشي او وائی به چه دا قرآن ماته راکړې شوې وو او ما دَ دې په احکاماتو عمل کړې وو. د(الَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ) نه نبی کریم ﷺ او(صَدَّقَ بِهٖ) نه حضرت ابوبکر رضی الله عنه هم مراد کیدیشی، لانه اول من صدق به

قوله: اشمأزت: نفرت: (وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ) او چه کله صرف دَ الله تعالی ذکر کیږی نود هغه خلقو زړونه منقبض کیږی څوك چه د آخرت یقین نه لری فرمائی دَ(اشْمَاَزَّتْ) معنی: هغه نفرت اوکړو، ناخوښه ئی کړو.

قوله: بمفازتهم: من الفوز: آیت مبارك کښې دی (وَیُنَجِّی اللّٰهُ الَّذِیْنَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ) اوچه کوم خلق د) کفراوشرك نه) بچ کیدل، الله تعالی به هغه خلق په کامیابئی سره)دوزخ) نه خلاصې ورکړی. فرمائی آیت کښې "مفازة"، "فوز"نه مشتق دې دَ کوم معنی چه کامیابی ده.

قوله: حافین: اطافوابه، مطیفین بحفافیه: بجوانبه: په آیت مبارك کښې دی (وَتَرَی الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّیْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ) په دې کښې دَ حافین تشریح کولوسره فرمائی اطافوا به: یعنی هغه فرشتو به عرش راګیرکړې وی دَ عرش اطراف راګیرونکې او طواف کونکې به وی.

قوله: متشابها: لیس من الاشتباه، ولکن یشبه بعضه بعضا فی التصدیق: (اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِیْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا) په دې کښې (مُتَشَابِهًا) دَ اشتباه نه ماخوذ نه دې دَ کوم معنی چه التباس ده بلکه دلته دَ دې معنې داده چه دا قرآن په تصدیق کښې دَ بعض مشابهه دې. یعنې دَ قرآن کریم بعض آیاتونه دَ بعض آیاتونو تصدیق کوی. دَ دې مضمونونه یو شان وی او دَ دې په خپل مینځ کښې څه تعارض او تناقض نه وی.

[۲۹۶] بَاب: قَوْلُهُ یٰعِبَادِیَ الَّذِیْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓی اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِیْعًا اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ

[۴۵۳۲] حَدَّثَنِی اِبْرَاهِیمُ بْنُ مُوسَی اَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ یُوسُفَ اَنَّ ابْنَ جُرَیْجٍ اَخْبَرَهُمْ قَالَ یَعْلَی اِنَّ سَعِیدَ بْنَ جُبَیْرٍ اَخْبَرَهُ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ نَاسًا مِنْ اَهْلِ الشِّرْكِ كَانُوا قَدْ قَتَلُوا وَاَكْثَرُوا وَزَنَوْا وَاَكْثَرُوا فَاَتَوْا مُحَمَّدًا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا اِنَّ الَّذِی تَقُولُ وَتَدْعُو اِلَیْهِ لَحَسَنٌ لَوْ تُخْبِرُنَا اَنَّ لِمَا عَمِلْنَا كَفَّارَةً فَنَزَلَ وَالَّذِینَ لَا یَدْعُونَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا آخَرَ وَلَا یَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِی حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا یَزْنُونَ وَنَزَلَتْ قُلْ یَا عِبَادِیَ الَّذِینَ اَسْرَفُوا عَلٰی اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ(۱)

---

(۱) واخرجه مسلم فی الایمان، باب کون الاسلام یهدم ماقبله، ... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

دايت كريمه شان نزول: په روايت د باب کښې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د ذکرشوی آيت شان نزول بيان فرمائيلې دې چه مشرکانو د څه خلقو سره د ډير قتل او زنا ارتکاب کړې وو. بيا هغوی د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او وئيل چه تاسو د کوم څيز طرف ته دعوت ورکوئی هغه يقيناً بهتر دې په دې شرط چه مونږ ته معلومه شی کوم څه چه مونږ کړی دی د هغې کفاره به وی يعنی زمونږ تيره شوې ګناه به معاف کولې شی نو مونږ اسلام قبلوو. په دې باندې د سورة فرقان دا آيت ﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ....﴾ او د سورة زمر د باب آيت نازل شو. د دې آيت په تفسير کښې مولانا شبيراحمد عثمانی ليکی:

داآيت د ارحم الرحمين د ډيرزيات رحمت او عفوا او درګزر د لوئې شان اعلان کوی اود سختوسختو اود علاج نه د مايوسه شوو مريضانو په حق کښې د اکسيرشفا حکم لری. مشرک،ملحد، زنديق، مرتد، يهودی،نصرانی، مجوسی، بدعتی،بدمعاش،فاسق او فاجر کوم يو چه وی د دې آيت د اوريدونه پس د مايوسه کيدو او اميد ماتولو سره کيناستو هيڅ وجه نشته، ځکه چه الله تعالی د چا د پاره هم اوغواړی نو ټول ګناهونه ورته معاف کولې شی، څوک د هغه لاس نشی نيولې، نو بيا بنده نااميده کيږی ولې، او دا خبره ضرور ده چه د هغه په نورو اعلانونوکښې تصريح کړيشويده چه د کفر او شرک جرم به بغير د توبې نه نشی معاف کولې. نو﴿إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا﴾ د﴿لِمَنْ يَشَاءُ﴾ سره مقيد ګڼړل ضروريکار دی کما قال الله تعالی ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ په دې قيد باندې دا نه لازميږی چه بغير د توبه نه به الله تعالی وړوکې يا لوئی قصور نشی معاف کولې او نه دا مطلب شو چه د يو جرم د پاره هډو د توبې ضرورت نشته، بغير د توبې نه به ټول ګناهونه معاف کوی. قيد صرف د الله د رضا او منشاء دې اود مشيت او رضاد پاره په بل آيت کښې خودلې شوی دی چه هغه به د کفر او شرک نه بغير د توبې سره متعلق نه وی (١)

[٢٩٧] بَابُ قَوْلِهِ وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ

[٤٥٣٣] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ جَاءَ حَبْرٌ مِنَ الأَحْبَارِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّا نَجِدُ أَنَّ اللَّهَ يَجْعَلُ السَّمَوَاتِ عَلَى إِصْبَعٍ وَالأَرَضِينَ عَلَى إِصْبَعٍ وَالشَّجَرَ عَلَى إِصْبَعٍ وَالْمَاءَ وَالثَّرَى عَلَى إِصْبَعٍ وَسَائِرَ الْخَلاَئِقِ عَلَى إِصْبَعٍ فَيَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ تَصْدِيقًا لِقَوْلِ الْحَبْرِ ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ

...بقيه ازحاشيه ګذشته]رقم الحديث ١٢٢؛واخرجه النسائی فی السنن الکبری، باب قوله تعالی :ياعبادی الذين اسرفوا علی انفسهم، رقم الحديث١١٤٤٩/١ ؛. واخرجه ابوداود فی الفتن، باب فی تعظيم قتل المومن، رقم الحديث ٤٢٧٤ ؛واخرجه النسائی، کتاب المحاربة رقم الحديث-٢/١٦٣ :

(١) تفسير عثمانی ٦١٨؛فائده نمبر-٢

حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمٰوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ

قوله: فضحك النبى صلى الله عليه وسلم تصديقا لقول الحبر:

د ''**فضحک النبی ﷺ تصديقا لقول الحبر**،، **معنى**: علامه خطابى،قاضي عياض او قرطبي ﷫ رائي ده چه دَ نبى كريم ﷺ داخندا دَ يهوديانوپه دروغوباندي وه د هغوى دَ تصديق دَ پاره نه وه، يهوديانو به دَ الله تعالى دَ پاره بدن او اندامونه ثابتول او دلته هم هغوى دَ الله تعالى دَ پاره "اصبع" ثابت كړه، حالانكه الله تعالى دَ جسم او بدن نه منزه دي.(١)

خودَ دي حضراتودا رائي صحيح نه ده، په صحيح مسلم كښې يو روايت راځى "ان قلوب بنى ادم كلها بين اصبعين من اصابع الرحمن كقلب واحد يصرفه كيف شاء" (٢) په دي كښې هم دَ اصابع اثبات دَ الله ﷻ دَ پاره كړې دي نودا وئيل چه دي يهودى دَ الله تعالى دَ پاره دَ اصابع اثبات كړې وو نودَ هغې په ترديدباندې هغوى ﷺ دَ حيرانتيا اظهار كړې وو،دَ تصديق دَ پاره ئې نه ووفرمائيلى، ټيک نه ده، ابن خزيمه او علامه نووى ﷫ دَ دي حضراتو ترديد كړې دي.(٣) نوئيلې كېږى به چه دَ هغوى ﷺ ضحك دَ تصديق دَ پاره وو،دا حديث په احاديث صفات كښې داخل دي، متاخرين تاويل كوى چه "اصبع" نه دلته قدرت مراد دي.

[٢٩٨] بَاب: قَوْلِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمٰوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ

[٤٥٣٤] (٤) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ خَالِدِ بْنِ مُسَافِرٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَقْبِضُ اللَّهُ الْأَرْضَ وَيَطْوِي السَّمٰوَاتِ بِيَمِينِهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ مُلُوكُ الْأَرْضِ

---

(١) فتح البارى-٨/٥٥١:

(٢) صحيح مسلم ٢/٣٣٥:كتاب القدر، باب تصريف الله تعالى القلوب كيف شاء

(٣) فتح البارى-٨/٥٥١:

(٤) واخرجه ايضاً فى الرفاق، باب يقبض الله الارض يوم القيامة، رقم الحديث٦٥١٩: مع الفتح (وفى التوحيد باب قول الله تعالى :ملك الناس، رقم الحديث٧٣٨٢: مع الفتح(، وباب لماخلقت بيدى، رقم الحديث٧٤١٣-٧٤١٢ :، واخرجه مسلم فى صفات المنافقين واحكامهم، كتاب صفة القيامة والجنة والنار، رقم الحديث-٢٧٨٧ :

[۲۹۹] باب: قوله ونفخ في الصور فصعق من في السماوات ومن في الأرض إلا من شاء الله ثم نفخ فيه أخرى فإذا هم قيام ينظرون

[۴۵۳۵] (¹) حدثني الحسن حدثنا إسماعيل بن خليل أخبرنا عبد الرحيم عن زكرياء بن أبي زائدة عن عامر عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال إني أول من يرفع رأسه بعد النفخة الآخرة فإذا أنا بموسى متعلق بالعرش فلا أدري أكذلك كان أم بعد النفخة

[۴۵۳۶] حدثنا عمر بن حفص حدثنا أبي قال حدثنا الأعمش قال سمعت أبا صالح قال سمعت أبا هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال بين النفختين أربعون قالوا يا أبا هريرة أربعون يوما قال أبيت قال أربعون سنة قال أبيت قال أربعون شهرا قال أبيت ويبلى كل شيء من الإنسان إلا عجب ذنبه فيه يركب الخلق

دَ نفخ صور يعنى دَ شپيلئى دَ پوكوهلو متعلق كلام وړاندې تيرشويدې. دَ باب دوئم روايت دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه دې چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه دَ دوه ځل شپيلئى پوكوهلو په مينځ كښې به فاصله څلويښت وى، دَابوهريره رضي الله عنه شاګردانو تپوس اوكړو څلويښت ورځې، وئى فرمائيل ماته نه دى معلوم، تپوس ئى اوكړو څلويښت كاله وئى فرمائيل نه دى معلوم، تپوس اوشو څلويښت مياشتې وئى فرمائيل نه دى معلوم.

قوله: ويبلى كل شيئ من الانسان الا عجب (²) ذنبه فيه يركب الخلق:

دَ "**ويبلى كل شئ من الانسان الا عجب ذنبه**"، **معنى**: دَ انسان هرڅه سخا كيږى سوا دَ ملاَ دَ هډوكى نه چه اورى دَ دانې برابر باقى پاتې كيږى، دې نه به بيا دوباره جوړيږى. ابن عقيل حنبلى رحمه الله فرمائى دَ ملاَ هډوكى باقى پاتې كيدل "سر من اسرار الله" دى ګنى نو چه كوم ذات دَ عدم نه يو څيز له وجود وركړو هغه ذات دَ دې هيڅ كله محتاج نه دې چه دَ دوباره پيدائش دَ پاره دَ اولنى تخليق يوجزباقى پاتې كړى او دا هم ممكن ده چه دَ فرښتو دَ پيژندګلو دَ پاره دا باقى ساتلې وى چه هغوى دَ علامت په توګه انسان دَ هغه جوهر نه معلوم كړى او روح په كښې بيا واپس كړې شى(³) علامه مزنى وئيلى دى چه دَ دې حديث مطلب دا

(¹) وايضاً باب يوم ينفخ فى الصور، فتاتون افواجا، رقم الحديث ۴۶۵۱. واخرجه مسلم فى الفتن واشراط الساعة، باب مابين النفختين، رقم الحديث ۲۹۵۵. واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى التفسير، باب قوله تعالى: ثم نفخ فيه اخرى، رقم الحديث-۱۱۴۵۹-۲/

(²) والعجب) بفتح العين وسكون الجيم (هوعظم لطيف فى اصل الصلب، وهوراس العصص، وهومكان راس الذنب من ذوات الاربع) فتح البارى (۸/۵۵۲:

(³) فتح البارى-۵۵۳-۸/۵۵۲:

دي چه دَ انسان ټول اندامونه خو به خاورې اوخوری دَ څه په وجه چه به هغه ټول ختم شی ولې دَ ملاهډوکي به خاوره نه خوری بلکه دا به پخپله سخاشی او ختم به شی (۱) دَ دې مثال داسې اوګنړئی لکه څنګه چه الله تعالی دَ ټول مخلوق دَ مرګ دَ پاره د مرګ فرښته مقرر کړې ده خودملك الموت مرګ به پخپله راځی دهغه دپاره به دَ بل ملك الموت ضرورت نه وی. دَ دې نه انبیاء کرام ﷺ مستثنی دی دَ هغوی بدنونه زمکه نه خوری. علامه ابن عبدالبر شهداء او علامه قرطبی دَ ثواب په نیت سره اذان ورکونکې مؤذن هم دې نه مستثنی ګرځولې چه دَ هغوی بدنونه به هم محفوظ وی(۲) والله اعلم

[۳۰۰]باب: تفسیرسُورَةُ الْمُؤْمِنِ (غـافر)

قَالَ مُجَاهِدٌ: حم مَجَازُهَا مَجَازُ أَوَائِلِ السُّوَرِ وَيُقَالُ بَلْ هُوَ اسْمٌ لِقَوْلِ شُرَيْحِ بْنِ أَبِي أَوْفَى الْعَبْسِيِّ يُذَكِّرُنِي حَامِيمَ وَالرُّمْحُ شَاجِرٌ فَهَلَّا تَلَا حَامِيمَ قَبْلَ التَّقَدُّمِ الطَّوْلِ التَّفَضُّلُ دَاخِرِينَ خَاضِعِينَ وَقَالَ مُجَاهِدٌ إِلَى النَّجَاةِ الْإِيمَانُ لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ يَعْنِي الْوَثَنَ يُسْجَرُونَ تُوقَدُ بِهِمُ النَّارُ تَمْرَحُونَ تَبْطَرُونَ

سورة المؤمن

د کلماتو تشریح:

قوله: قَالَ مُجَاهِدٌ: حم مَجَازُهَا مَجَازُ أَوَائِلِ السُّوَرِ: حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه دَحم هم هغه حکم دې چه دَ سورتونو په شروع کښې دَ حروف مقطعات کوم حکم دې یعنی دا هم دَ نورو حروف مقطعات په شان دې. لیکن دوئم قول دا دې چه دا اسم دې د نورو مقطعاتو په شان نه دې. وړاندې دَ شُرَيْح دَ يو شعر نه دَحم" نه دَ اسم استدلال کړې دې.

يذكرني حاميم والرمح شاجر   فهلا تلا حاميم قبل التقدم

په شعرکښې حاميم مفعول به کيدو په وجه منصوب لوستلې شویدې، دَ اعراب راتلل دَ دې خبرې دليل دې چه دا اسم دی ځکه چه په حروف باندې اعراب نه راځی. دا شعر شرَيْح د جمل په هغه وخت کښې لوستلې وو کله چه دَ هغه مقابله دَ حضرت طلحه) ځوئی محمد بن طلحه) سره اوشوه، شرَيْح چه کله نيزه وړاندې کړه نو هغه "حم عسق" يا دَ دې سورة آيت (قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا ٱلْمَوَدَّةَ فِى ٱلْقُرْبَىٰ) اولوستلو، خو شرَيْح هغه اووژلو اودَ شعر ئی اووئيل چه دَ هغې ترجمه ده، هغه ماته حم رايادوی خو نيزه راوانه شويده، دَ جنګ نه دَ راتلونه وړاندې هغه ولې حم نه لوستلو. بعضوئيلی دی دا شعر دَ اشترنخعی دې او محمدبن طلحه) هغه

(۱) فتح الباری-۸/۵۵۳:
(۲) فتح الباری-۸/۵۵۳:

قتل کړې وو او بعضو دا عصام بن مقشعر طرف ته منسوب کړيدې. ده هغې اشعار دى:

و اشعث قوام بايات ربه قليل الاذى فيما ترى العين مسلم

هتكت له بالرمح جيب قميصه فخر صريعا لليدين و للفم

على غير شئ، غير ان ليس تابعا عليا ومن لايتبع الحق يندم (١)

قوله: الطول: التفضل: په آيت کښې دى (شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ) په دې کښې ده طول معنى ده احسان کول، انعام ورکول.

قوله: داخرين: خاضعين: په آيت مبارك کښې دى (سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ) هغه خلق به ډيرزر ذليل شى او دوزخ ته به داخل کړې شى، ده داخرين معنى ده خاضعين يعنى خوار او ذليل به شى.

قوله: الى النجاة الايمان: په آيت کښې دى (وَيٰقَوْمِ مَا لِيْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ) په دې کښې ده نجات نه مراد ايمان دې.

قوله: ليس له دعوة: يعنى للوثن: په آيت کښې دى (لَا جَرَمَ اَنَّمَا تَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ لَيْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْاٰخِرَةِ) يعنى ظاهره ده چه ده كوم څيز طرف ته تاسو مارابلئى هغه نه په دنيا کښې ده چا دعاقبولې شى نه په آخرت کښې. فرمائى "ليس له دعوة" کښې "له" ده ضميرمرجع "وثن" يعنى بت دې، اوبت په دنيا او آخرت کښې ده چا دعانشى قبلولې.

قوله: يسجرون: توقد بهم النار: په آيت مبارك کښې دى (ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُوْنَ) بيابه هغه خلق په اور کښې ورواتونبلې شى. فرمائى ده "يسجرون" معنى ده په هغوى به اوربل کړې شى يعنى هغوى ده دوزخ خشاك جوړ کړې شى.

قوله: تمرحون: تبطرون: (ذٰلِكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ) دا (سزا) ده هغې په بدله کښې ده چه تاسو په دنيا کښې برناحقه خوشحالئى کولې اوده هغې په بدله کښې ده چه تاسو به بدمعاشى کوله. فرمائى ده "تمرحون" معنى ده "تبطرون" يعنى بدمعاشى مو كوله.

وَكَانَ الْعَلَاءُ بْنُ زِيَادٍ يُذَكِّرُ النَّارَ فَقَالَ رَجُلٌ لِمَ تُقَنِّطُ النَّاسَ قَالَ وَأَنَا أَقْدِرُ أَنْ أُقَنِّطَ النَّاسَ وَاللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ وَيَقُولُ وَأَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ وَلَكِنَّكُمْ تُحِبُّونَ أَنْ تُبَشَّرُوا بِالْجَنَّةِ عَلَى مَسَاوِءِ أَعْمَالِكُمْ وَإِنَّمَا بَعَثَ اللَّهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُبَشِّرًا بِالْجَنَّةِ لِمَنْ أَطَاعَهُ وَمُنْذِرًا بِالنَّارِ مَنْ عَصَاهُ

---

(١) ده ذکرشوى تفصيل ده پاره فتح البارى ٨/٥٥٤ : اوگورئى-

حضرت علاء بن زياد مشهور پرهيزګاره تابعي دي[1] هغوی به خلقو ته اُور يادولو او په خپل بيان کښې به ئې دَ ترهيب په توګه دَ جهنم ذکر کولو نو يو سړی هغوی ته اووئيل چه ته خلق ولې نااميده او مايوسه کوې؟ هغوی وئيل چه زه په دې قادريم چه خلق مايوسه کړم او دَ الله تعالی ارشاد مبارك دې ﴿يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ﴾ او وئې فرمائيل "وان المسرفين هم اصحاب النار" دَ اول آيت مفهوم دې په خپلو ځانونوباندې ظلم کونکی او اسراف کونکی دې دَ الله تعالی دَ رحمت نه مايوسه کيږی نه دَ توبې اُو الله تعالی طرف ته دَ رجوع کولو دروازه دَ هغوی دَ پاره کولاؤ ده. دَ دوئم آيت مطلب دې که څوك توبه نه کوی او هم په اسراف کښې اخته وی نو دوزخ هم دَ داسې خلقو دَ پاره دې. نودَ داسې اميد ورکولو نه دَ ډك آيت په موجودګئی کښې زماڅه قدرت دې چه زه خلق دَ الله تعالی دَ رحمت نه مايوسه کړم خو ولې ته دا غواړې چه په بدواعمالوهم تاته دَ جنت زيرې درکړيشی. حالانکه محمد ﷺ دَ هغه خلقو دَ جنت دَ زيری ورکولو دَ پاره راليږلې شوې وو څوك چه دَ هغوی ﷺ تابعداری کوی دَ الله تعالی نه ګناه کونکو دَ پاره هغوی ﷺ دَ اُور نه ويرونکې راليږلې وو.

[۴۵۳۷] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ قَالَ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ قَالَ قُلْتُ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَخْبِرْنِي بِأَشَدِّ مَا صَنَعَ الْمُشْرِكُونَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِفِنَاءِ الْكَعْبَةِ إِذْ أَقْبَلَ عُقْبَةُ بْنُ أَبِي مُعَيْطٍ فَأَخَذَ بِمَنْكِبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَوَى ثَوْبَهُ فِي عُنُقِهِ فَخَنَقَهُ بِهِ خَنْقًا شَدِيدًا فَأَقْبَلَ أَبُو بَكْرٍ فَأَخَذَ بِمَنْكِبِهِ وَدَفَعَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَاءَكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ رَبِّكُمْ

عقبه بن ابی معيط دَ رسول الله ﷺ په سټ مبارك کښې کپړا واچوله اودَ هغوی ﷺ مرئی په زور سره خفه کړه نو حضرت صديق اکبر رضی الله عنه راغلو اودَ عقبه نه ئې هغوی ﷺ جدا کړل او

[1]) علاء بن زياد مشهور زاهد تابعي دي، ابونعيم اصفهانی رحمه الله "حلية الاولياء (۲/۲۴۲" کې دَ دوئی تذکره په دې الفاظوسره شروع کړې ده: المبشر المحزون، المستر المخزون، تجرد من التلاد، وتشمر للمهاد، وقدم العتاد للمعاد، واعتزل عن العباد: العلاء بن زياد - په عبادت کښې به دومره مستغرق وو چه دَ خپل صحت خيال به ئې هم نه ساتلو، کله چه صحت ډيرخراب شواو خلقوته پته اولګيده نو حضرت انس رضی الله عنه او حضرت حسن بصری رحمه الله هغوی له راغله او وئې فرمائيل چه تا خو خپل صحت تباه کړو، الله تعالی خودداسې کولو حکم نه دې ورکړې. وئې فرمائيل زه دا عاجزی او هرڅه د دې د پاره کوم چه الله تعالی په ما رحم اوکړی، فرمائيل به ئې چه ما په خوب کښې يوه بدرنګه سپيره ښځه اوليده چه دَ هرقسم سنګار ئې کړې وو، ما هغې ته اووئيل دَ الله تعالی پناه دا ته څوك ئې وئيل زه دنيا يم، که ته زمانه پناه غواړې نودَ دراهمونه نفرت اختيار کړه. دَ هغوی دَ تفصيلی حالات دَ پاره اوګورئ حلية الاولياء (۲۴۹-۲/۲۴۲:

هغه خبره ئې اوکړه چه هغه مؤمن سړی د فرعون په وړاندې کړې وه کله چه هغه د حضرت موسٰی علیه السلام د قتل کولواراده کړې وه يعنی ﴿اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ رَّبِّكُمْ﴾

[۳۰۱] باب: تفسير سورة حٰمٓ السّجدة (فُصّلت)

وقال طاوٗس، عن ابن عباس: وائتيا طوعا: اعطيا. قالتا اتينا طائعين: اعطينا.

سورة حٰمٓ السّجدة

دلته کښې اشکال دې چه اتی یاتی معنی د راتلوده، د اعطاء معنی ئې نه ده، نو بیا ابن عباس رضی الله عنهما ولې په اعطیا او اعطینا سره تفسیر کړې دې.

د دې جواب دا دې چه د ابن عباس رضی الله عنهما په قراءت کښې اٰتِيَا او اٰتَيْنَا د مدسره دې. اٰتِيَا او اٰتَيْنَا دا صيغې مواتاة د باب مفاعله نه دی. اتيان د باب ضرب صيغې نه دی او مواتاة معنی برابروالې دې. نو مطلب دا شوچه زمکې او آسمان ته حکم ورکولې شی چه تاسو دواړونه کوم مقصدونه مطلوب دی د هغوی په ادا کولوکښې يوبل سره برابروالې کوئی، د آسمان نه به د نمر او سپوږمئی رنړا راځی، باران به وريږی، زمکه به غله راټوکوی، لباسونه او دوایانې به ورکوی، دا نظام به د دواړو په اتفاق سره چليږی.

[۴۵۳۷ م] وَقَالَ الْمِنْهَالُ عَنْ سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِابْنِ عَبَّاسٍ إِنِّي أَجِدُ فِي الْقُرْآنِ أَشْيَاءَ تَخْتَلِفُ عَلَيَّ قَالَ (فَلاَ أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلاَ يَتَسَاءَلُونَ) . (وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ) . (وَلاَ يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا) . (رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ) فَقَدْ كَتَمُوا فِي هَذِهِ الآيَةِ، وَقَالَ (أَمِ السَّمَاءُ بَنَاهَا) إِلَى قَوْلِهِ (دَحَاهَا) فَذَكَرَ خَلْقَ السَّمَاءِ قَبْلَ خَلْقِ الأَرْضِ، ثُمَّ قَالَ (أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ) إِلَى (طَائِعِينَ) فَذَكَرَ فِي هَذِهِ خَلْقَ الأَرْضِ قَبْلَ السَّمَاءِ، وَقَالَ (وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا) عَزِيزًا حَكِيمًا سَمِيعًا بَصِيرًا، فَكَأَنَّهُ كَانَ ثُمَّ مَضَى. فَقَالَ (فَلاَ أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ) فِي النَّفْخَةِ الأُولَى ثُمَّ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ، فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الأَرْضِ إِلاَّ مَنْ شَاءَ، فَلاَ أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ عِنْدَ ذَلِكَ وَلاَ يَتَسَاءَلُونَ، ثُمَّ فِي النَّفْخَةِ الآخِرَةِ أَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ، وَأَمَّا قَوْلُهُ (مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ) . (وَلاَ يَكْتُمُونَ اللَّهَ) فَإِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ لأَهْلِ الإِخْلاَصِ ذُنُوبَهُمْ وَقَالَ الْمُشْرِكُونَ تَعَالَوْا نَقُولُ لَمْ نَكُنْ مُشْرِكِينَ. فَخَتَمَ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ فَتَنْطِقُ أَيْدِيهِمْ، فَعِنْدَ ذَلِكَ عُرِفَ أَنَّ اللَّهَ لاَ يُكْتَمُ حَدِيثًا وَعِنْدَهُ (يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا) الآيَةَ، وَخَلَقَ الأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ، ثُمَّ خَلَقَ السَّمَاءَ، ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ، فَسَوَّاهُنَّ فِي يَوْمَيْنِ آخَرَيْنِ ثُمَّ دَحَا الأَرْضَ، وَدَحْوُهَا أَنْ أَخْرَجَ مِنْهَا الْمَاءَ وَالْمَرْعَى، وَخَلَقَ الْجِبَالَ وَالْجِمَالَ وَالآكَامَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي يَوْمَيْنِ آخَرَيْنِ، فَذَلِكَ قَوْلُهُ (دَحَاهَا)، وَقَوْلُهُ (خَلَقَ الأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ) فَجُعِلَتِ الأَرْضُ وَمَا

فِیهَا مِنْ شَیْءٍ فِی أَرْبَعَةِ أَیَّامٍ وَخُلِقَتِ السَّمَوَاتُ فِی یَوْمَیْنِ. (وَکَانَ اللّٰهُ غَفُورًا) سَمّٰی نَفْسَهُ ذٰلِکَ وَذٰلِکَ قَوْلُهُ، أَیْ لَمْ یَزَلْ کَذٰلِکَ، فَإِنَّ اللّٰهَ لَمْ یُرِدْ شَیْئًا إِلَّا أَصَابَ بِهِ الَّذِی أَرَادَ، فَلَا یَخْتَلِفْ عَلَیْکَ الْقُرْآنُ، فَإِنَّ کُلًّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ. قَالَ أَبُو عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنِی یُوسُفُ بْنُ عَدِیٍّ حَدَّثَنَا عُبَیْدُ اللّٰهِ بْنُ عَمْرٍو عَنْ زَیْدِ بْنِ أَبِی أُنَیْسَةَ عَنِ الْمِنْهَالِ بِهٰذَا.

د قرانی ایتونو متعلق د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه څلور سوالات: یو سړې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په خدمت کښې حاضر شو، دا سړې څوك وو؟حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائیل چه غالبًا دا نافع بن ازرق وو چه روستو د ازارقه فرقې مشر جوړشو([1])- هغه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه د قرآن د آیاتونو باره کښې څلور سوالونه اوکړل. ړومبنی درې سوالونه د هغه آیاتونو متعلق دی کوموکښې چه په ظاهره تعارض ښکاری.

① اولنې سوال هغه دا اوکړو د قرآن کریم په سورة مؤمنون کښې دی ﴿فَلَآ أَنسَابَ بَیْنَهُمْ یَوْمَئِذٍ وَلَا یَتَسَآءَلُونَ﴾ او د سورة صافات آیت دې ﴿وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰی بَعْضٍ یَتَسَآءَلُونَ﴾ په ړومبی آیت کښې د دوئم دسوال نفی اوپه دوئم آیت کښې ددې اثبات دې،په ظاهره په دواړوکښې تعارض دې.

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د دې سوال په جواب کښې اوفرمائیل چه د ړومبی آیت تعلق نفخه اولی یعنی اولې شپیلئ سره دې چه کله اوله شپیلئ پوکوهلې شی هغه وخت به ټول بې

[1]) فتح الباری ۸/۵۵۷. **فرقه ازارقه :** د ازارقه فرقې تعلق د خوارجو متشدد ډلې سره دې د کوم بنیاد چه نافع بن الازرق کیخودې دې .کوم ته چه فرقه ازارقه" امیرالمؤمنین "په لقب سره یادولو، د خوارجو په فرقه کښې د دوئ نه زیات متشدد او د شمیر او شان او شوکت په اعتبار سره یوه ډله د دوئ برابر نه وه .د ۶۰ هجری نه پس دوئ راپیداشوې وو، د عمان او یمامه خوارج سره ملاؤ شونو د دوئ شمیر شل زره ته رسیدلې وو .او د" اهواز "اود دې خاوشا د فارس په زمکواو کرمان باندې د دوئ قبضه وه .د مسلمانانو دوئ سره څلور جنګونه شوی، کوموکښې چه په دریوکښې مسلمانانوماتې خوړلې او په څلورم جنګ کښې ازارقه ته ذبردسته ماتې شوې وه .د حضرت مهلب بن ابی صفره په مشرئ کښې یو جرار لښکر په دولاب کښې د هغوی مقابله اوکړه کوم کښې چه د هغوی امیرالمؤمنین نافع بن ازرق هلاك شو، دې نه پس دې خلقو "ایدج "کښې قطری بن الفجاء په لاس باندې بیعت اوکړو او هغه نې هم د امیرالمؤمنین په لقب سره یاد کړو .حضرت مهلب بن ابی صفره د نورلسو) (۱۹ کالوپورې هغوی سره جنګ کولو، څه موده د حضرت عبدالله بن زبیر) په زمانه کښې او څه د عبدالملك بن مروان په زمانه کښې .دا جنګ د مهلب بن ابی صفره او د ازارقه په مینځ کښې یو شان ګرم شروع وو، تردې چه ازارقه په دوو ډلوکښې تقسیم شو .یوه ډله" عبدربه الکبیر قطری "سره یوځائ شوه او دونمه ډله" عبدربه الصغیر "سره یوځائ شو .آخر سفیان بن الابرد په قلعه قوس کښې محاصره کولوسره د هغوی خاتمه اوکړه. د ازارقه ډلې څه عقیدې دا وې. ① خپلو مخالفینوته به نې مشرکان وئیل ② .چه چابه د هغوی موافق کیدو نه باوجودهجرت نه کولو هغه هم د هغوی په نیز کافر او مشرك وو③کوسرې به چه د هغوی په لښکر کښې داخلیدل غوښتل د خپلو مخالف خلقو یو سړې به نې قیدی کولو د هغوی په وړاندې قتل کول په هغه باندې لازم وو ګنی په فوځ کښې به نشو شاملولې بلکه هغه به نې قتل کولو④د خپلو مخالفینو ښځې او بچی قتلول به نې مباح ګڼړل اود هغه ماشومانو متعلق به نې مخلد فی النار کیدو عقیده لرله ⑤. درجم منکروو .د دې فرقې د تفصیلی حالاتود کتلود پاره اوګورئی)الفرق بن الفرق

هوشه شی او دَ یو بل سره به څه تعلق پاتې نشي او نه به دَ یو بل نه سوال کولې شي. دَ دوئم آیت تعلق دوئمې شپیلئ سره دې. په دوئم ځل دَ شپیلئ پوکوهلو نه پس به خلق دَ یو بل نه سوال کوی نو په دې دواړو آیاتونوکښې هیڅ تعارض نشته ځکه چه عدم تساؤل دَ دوئم ځل شپیلئ پوکوهلو نه پس او تساؤل دَ دوئم ځل نه پس دې.

۲ دوئم سوال دا ووچه په سورة نساء کښې دی ﴿وَلَا يَكْتُمُونَ اللّٰهَ حَدِيْثًا﴾ دَ کوم نه چه معلومیږی چه دَ قیامت په ورځ به کافر او مشرک یوه خبره هم نشي پټولې او په سورة انعام کښې دی ﴿وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ﴾ دې نه معلومیږی چه هغوی به خپل شرک پټوی په ظاهره په دواړو آیاتونو کښې تعارض دې.

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل چه کله الله تعالی دَ اخلاص خاوندان معاف کړی اودَ هغوی بښنه اوکړې نو مشرکان به وائی چه راځئ مونږ هم وایوچه مونږ مشرکان نه وو نو بیا به الله تعالی دَ هغوی په ژبوباندې مهر اولګوی اودَ هغوی پښې لاسونه به خبرې کوی. په دغه وخت کښې به معلومه شي چه دَ الله تعالی نه یوه خبره هم نشي پټولې، کتمان دَ شهادت جوارح نه اول دې او عدم کتمان دَ جوارح دَ شهادت نه پس دې نو هیڅ تعارض نشته.

۳ دریم سوال هغه دا اوکړو چه په سورة نازعات کښې دی ﴿ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ بَنٰهَا﴾.... الی قوله... ﴿وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰهَا﴾ نه معلومیږی چه آسمان دَ زمکې نه اول پیدا شویدې خودَ سورة حم سجده ایت ﴿اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِيْ خَلَقَ الْاَرْضَ...الی قوله: طَآئِعِيْنَ﴾ نه دَ دې په خلاف دا معلومیږی چه زمکه دَ آسمان نه اول پیدا شویده. په ظاهره په دواړو خبروکښې اختلاف او تعارض دې.

دَ دې جواب دا دې چه دَ دې په پیداکیدوکښې شپږ ورځې لګیدلی دی او ترتیب دا دې دَ ټولونه اول زمکه پیدا شوه، دې نه پس آسمان پیدا کړو، دې نه پس "دحوارض" هوا یعنی په دې کښې ونې، غرونه غونډئی او دَ زمکې نورمخلوقات پیدا کړو او دا ئی په دې کښې خواره کړل. نودَ نفس زمکې پیدائش دَ آسمانونودَ پیداکولونه مخکښې دې دَ کوم چه په سورة حم سجده کښې ذکر دې او "دحوارض" پیدائش دَ آسمان نه پس واقع شوی دی دَ څه چه په سورة نازعات کښې تذکره ده نو هیڅ تعارض نشته. دَ زمکې او آسمان په پیداکولوکښې شپږ ورځې دَ عالم اسباب په وجه اولګولې شوې ګنی نو الله تعالی صرف دَ یو "کن" په اشاره سره ټول څیزونه دَ عدم نه وجود ته راوستلې شو خو په عالم اسباب کښې تدریجی عمل کیږی په دې وجه الله تعالی هم تدریجی طریقې ته ترجیح ورکړه.

۴ څلورم سوال هغه دا اوکړو چه په قرآن کریم کښې ځائ په ځائ ﴿وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا﴾، ﴿وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا﴾ راغلی دی په دې کښې "کان" دَ تیرې شوې زمانې دَ پاره راځی کوم نه چه معلومیږی چه الله تعالی دې صفاتوسره صرف دَ ماضی یعنی تیره شوې زمانه کښې موصوف وو اوس نه دې؟

دَدې دا جواب ورکړو چه الله تعالی دَ خپل ذات تسمیه "غفور، رحیم" وغیره سره اوفرمائیله نو دا نوم کیخودل خو ښکاره خبره ده چه تیرشول خو دا صفات او دې سره دَ ذات باری

تعالی اتصاف باقی دي. دَ کوم صفت چه چا سره تعلق وی دَ هغه دَ پاسه دَ هغې اثر مرتب وی، دَ الله تعالی صفت رحمت چه چاسره متعلق وی نو په هغه باندې به دَ رحمت اثر مرتب وی، چه دَ مغفرت صفت متعلق وی نود دې اثر به مرتب وی. محقق دوانی لیکلی دی چه ادوات رابطه مجرد دَ ثبوت دَ پاره راځی په دې کښې دَ زمانې اعتبار او لحاظ نشی کولې.

(١)که دَ هغوی دا خبره اومنلې شی نو بیابه دَ سره اشکال نه وی. والله اعلم.

وَقَالَ مُجَاهِدٌ (مَمْنُونٍ) مَحْسُوبٍ. (أَقْوَاتَهَا) أَرْزَاقَهَا. (فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا) مِمَّا أَمَرَ بِهِ. (نَحِسَاتٍ) مَشَايِيمَ (وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاءَ) قَرَنَّاهُمْ بِهِمْ. (تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ) عِنْدَ الْمَوْتِ. (اهْتَزَّتْ) بِالنَّبَاتِ. (وَرَبَتْ) ارْتَفَعَتْ. وَقَالَ غَيْرُهُ (مِنْ أَكْمَامِهَا) حِينَ تَطْلُعُ. (لَيَقُولَنَّ هَذَا لِي) أَيْ بِعَمَلِي أَنَا مَحْقُوقٌ بِهَذَا. (سَوَاءً لِلسَّائِلِينَ) قَدَّرَهَا سَوَاءً. (فَهَدَيْنَاهُمْ) دَلَلْنَاهُمْ عَلَى الْخَيْرِ وَالشَّرِّ كَقَوْلِهِ (وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ) وَكَقَوْلِهِ (هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ) وَالْهُدَى الَّذِي هُوَ الْإِرْشَادُ بِمَنْزِلَةِ أَصْعَدْنَاهُ مِنْ ذَلِكَ قَوْلُهُ (أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ). (يُوزَعُونَ) يُكَفُّونَ. (مِنْ أَكْمَامِهَا) قِشْرُ الْكُفُرَّى هِيَ الْكُمُّ. (وَلِيٌّ حَمِيمٌ) الْقَرِيبُ. (مِنْ مَحِيصٍ) حَاصَ حَادَ. (مِرْيَةٍ) وَمُرْيَةٍ وَاحِدٌ أَيْ امْتِرَاءٌ، وَقَالَ مُجَاهِدٌ (اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ) الْوَعِيدُ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ) الصَّبْرُ عِنْدَ الْغَضَبِ وَالْعَفْوُ عِنْدَ الْإِسَاءَةِ فَإِذَا فَعَلُوهُ عَصَمَهُمُ اللَّهُ، وَخَضَعَ لَهُمْ عَدُوُّهُمْ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ.

د کلماتو تشريح:

قوله: اقواتها: ارزقها: په آیت مبارك کښې دی ﴿وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا﴾ اوالله تعالی په زمکه کښې برکتونه کیخودل او په دې کښې(په دې دَ اوسیدونکو دَ پاره) خوارکونه تجویز کړل. فرمائی چه اقوات معنی ده خوارکونه، ارزاق دَ رزق جمع ده او اقوات دَ قوت جمع ده.

قوله: في كل سماء امرها: په آیت مبارك کښې دی ﴿وَأَوْحَىٰ فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا﴾ په دې کښې ﴿أَمْرَهَا﴾ تفسیر "مما امربه" نه دې یعنی چه دَ کوم څیز الله تعالی فرښتوته حکم ورکړو نو الله تعالی په هر آسمان باندې دَ دې څیز وحی راولیږله دَ کوم چه فرښتوته حکم ورکړیشو.

قوله: نحسات: مشائیم: په آیت مبارك کښې دی ﴿فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي أَيَّامٍ نَحِسَاتٍ﴾ موږ په هغوی باندې په سپیره ورځوکښې سختې هواګانې راولیږلې ﴿نَحِسَاتٍ﴾ معنی ده سپیره او بدې... مشائیم: مشومة جمع ده په معنی سپیره.

قوله: تتنزل عليهم الملائكة: عند الموت: په آیت مبارك کښې دی ﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ

---

(١) حمدالله شرح مسلم العلوم۲۹ :وشرح تهذیب ۸۰ :وحاشية حمدالله للشيخ عبدالله ټونکی۲۵: حاشية-۵:

اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ) کوموخلقو چه اقرار اوکړو چه زمونږه رب الله دې (یعنی شرك ئې پرېخودو او توحیدئې اختیار کړو) بیا په دې باندې کلك پاتې شو نو په هغوی باندې (د الله د طرف نه د رحمت) فرښتې نازلیږی، امام بخاری رحمه الله فرمائی د فرښتو نازلیدل د مرګ په وخت کښې کیږی.

قوله: وقیضنا لهم قرناء: قرناهم بهم: په آیت کښې "قرناء" نه شیطانان مراد دی یعنی مونږ دې کافرانو سره هغه شیطانان یوځائې اوتړل.

قوله: اهتزت: بالنبات، وربت: ارتفعت: په آیت مبارك کښې دی (فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ) د (اهْتَزَّتْ) دوه تفسیرونه شوی دی، اول تفسیر دا دې چه زمکه خوریږی نو د بوټو بناخونه د زمکې نه راوځی او په دویم تفسیرکښې د تیغ نه د میوې راوتل مراد دی او "ربت" معنی ده زمکه پاسیږی، اوچتیږی.

قوله: فهدیناهم، وهدیناه النجدین، هدیناه السبیل: په دې دریواړو آیتونوکښې د هدایت نه اراءالطریق مراد دې او هغه هدایت چه ایصال الی المطلوب په معنی کښې وی هغه د "اسعاد" په مفهوم کښې وی. امام بخاری رحمه الله فرمائی "فهدیناهم دللناهم علی الخیر والشر کقوله: وهدیناه النجدین وکقوله: وهدینا السبیل، والهدی الذی هوالارشاد بمنزلة اصعدناه، من ذلك قوله: اولئك الذین هداهم الله، فبهداهم اقتده" اصعاد(صاد سره) او اسعاد(سین سره)دواړو سره صحیح دې. په اول صورت کښې به معنی وی مونږ هغه اوچت کړل، اورسول او د اسعدنا معنی به وی مونږ هغه نیك بخت جوړکړل او ایصال الی المطلوب په صورت کښې هم انسان پوره نیك بخت او سعادت مند کیدې شی. دا معنی د څلورم آیت " اولئك الذین هداهم الله، فبهداهم اقتده" کښې مراد ده.

قوله: وقال غیره: من اکمامها: حین تطلع: په آیت کښې دی (وَمَا تَخْرُجُ مِن ثَمَرَٰتٍ مِّنْ أَكْمَامِهَا) "اکمام" "کم" جمع ده د تیغ جلئی او د غونچې پوستکی ته وائی، د دې مفرد کم د کاف زیر او پیش دواړوسره مستعمل دې، چه د کاف د زیر سره وی نو صرف پوستکی او پردې په معنی کښې وی او د کاف په پیش سره چه وی نو د دې معنی غلاف هم راځی او لستونړی ته هم وائی[1] وړاندې امام د دې په تشریح کښې "قشر الکفری"، "کفری" او کم یوه معنی ده.

قوله: لیقولن هذا لی: ای بعملی انا محقوق بهذا: په آیت مبارك کښې دی (وَلَئِنْ أَذَقْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِى) که چرې مونږ دوی ته د څه تکلیف نه پس چه هغوی ته

---

[1])عمدة القاری-۱۹/۱۵۳:

واقع شوى وى دَ خپلې مهربانئ مزه ورکړونووائی چه داخوهم زمونږ دَ پاره پکار وه. فرمائی هذالی معنی ده بعملی یعنی دا زما دَ عمل دَ وجه دی زه دَ دې حقدار یم.

قوله: سواء للسائلين: قدرها سواء: په آیت مبارك کښې دی ﴿وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَاءً لِّلسَّائِلِينَ﴾ او الله په دې زمکه کښې(دَ دې دَ اوسیدونکودَ پاره) خوراکونه تجویزکړل په څلورو ورځوکښې)اوهغه زمکه) برابره ده دَ سوال کونکودَ پاره. فرمائی سواء للسائلين معنی ده دا زمکه برابره او یو شان کولوسره تجویز کړه یعنی ټول دینه فائده اوچتولې شی او ټول دینه عبرت حاصلولې شی.

قوله: من محيص: حاص، حاد: په آیت مبارك کښې دی ﴿وَظَنُّوا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ﴾ په دې کښې محیص "حاص" نه ماخوذ دې حاص عنه په معنی حادعنه: اخواکیدل، ډډه کول، جدا کیدل، محیص: بچاؤ خلاصې.

قوله: ولي حميم: القريب: ﴿كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ﴾ دَحمیم معنی ده نزدې، نزدې دوست.

قوله: وقال مجاهد: اعملوا ما شيتم: الوعيد: آیت مبارك کښې دی ﴿اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾ څه چه مو زړه غواړی کوئی، هغه ستاسو هرڅه کونکی وینی. فرمائی ﴿اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ﴾ په خپله حقیقی معنی کښې نه دې بلکه دا وعید دې او دَ توبیخ او تهدید په توګه ویلې شویدې.

قوله: وقال ابن عباس: ادفع بالتى هى احسن: الصبرعند الغضب والعفو عند الاساءة، فاذا فعلوه عصمهم الله، وخضع لهم عدوهم: په آیت مبارك کښې دی ﴿وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ﴾ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه "التى هى احسن" مطلب دا دې چه دَ غصې په وخت کښې صبر کول او دَ نه برداشت او بدئی په وخت کښې معافی اختیاروئی. کله چه خلق دَ صبر او معافئی نه کار اخلی نوالله تعالی دَ هغوی حفاظت کوی اودَ هغوی دښمنان هم دَ هغوی مخې ته په عاجزئی او تواضع سره مخامخ کیږی. شیخ الاسلام مولاناشبیر احمدعثمانی صاحب رحمه الله دَ دې آیت په ذیل کښې لیکی: "په دې آیت کښې چه یو رښتونی داعی الی الله ته دَ کومو خو اخلاقو ضرورت دې، دَ هغې تعلیم ورکوی، یعنی ښه پوهه شئی، نیکی دَ بدئی او بدی دَ نیکئی برابرکیدې نشی. دَ دواړو اثر بیل اوجدا دې، بلکه یوه نیکی دَ بلې نیکئی نه او یوه بدی دَ بلې بدئی نه په اثر کښې زیاته وی. نو دَ یو قانت مؤمن او خاصکر دَ یو داعی الی الله دا مسلك کیدل پکار دی چه دَ بدئی جواب په بدئی سره نه روکوی بلکه چه ترکومې پورې ګنجائش وی دَ بدئی په مقابله کښې په نیکئی سره پیش کیږئی. که څوك ده ته سخته خبره اوکړی یا دَ بدئی معامله اوکړی نود هغې په مقابله کښې هغه طرز اختیارول پکار دی چه دَ دې نه ښه وی، مثلاً دَ غصې په جواب کښې برداشت، دَ کنځلوپه جواب کښې تهذیب او ښه

خبره اود سختنئ په جواب کښې نرمئ او مهربانئ سره پيش کيدل. د داسې کار په نتيجه کښې به تاسواوګورئ چه د سخت نه سخت دښمن به هم سست شي او که د زړه دوست جوړ هم نشي خو يووخت به راشي چه هغه به په ظاهره باندې د يوخوږ او ګرمجوش دوست په شان تاسره سلوك کوي. ممکنه ده چه يوڅو ورځې پس د ښمتوني زړه نه دوست جوړ شي او د دښمنئ او عداوت خيالات ئې بالکل د زړه نه اوځي. او که د يو سړي طور طريقه د مار لړم په شان وي چه هيڅ نرم خوئي او اخلاق په هغه اثر نه کوي نو هغه بله خبره ده خوداسې کسان ډير کم وي.(١)

[٣٠٢] بَاب: قَوْلُهُ: وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ

وَلَا جُلُودُكُمْ وَلَكِنْ ظَنَنْتُمْ أَنَّ اللَّهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِمَّا تَعْمَلُونَ

[٤٥٣٨] (٢) حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ عَنْ رَوْحِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ الْآيَةَ قَالَ كَانَ رَجُلَانِ مِنْ قُرَيْشٍ وَخَتَنٌ لَهُمَا مِنْ ثَقِيفَ أَوْ رَجُلَانِ مِنْ ثَقِيفَ وَخَتَنٌ لَهُمَا مِنْ قُرَيْشٍ فِي بَيْتٍ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ أَتُرَوْنَ أَنَّ اللَّهَ يَسْمَعُ حَدِيثَنَا قَالَ بَعْضُهُمْ يَسْمَعُ بَعْضَهُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَئِنْ كَانَ يَسْمَعُ بَعْضَهُ لَقَدْ يَسْمَعُ كُلَّهُ فَأُنْزِلَتْ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ الْآيَةَ

[٣٠٣] بَاب: قوله: وَذَلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِي ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ أَرْدَاكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ مِنَ الْخَاسِرِينَ

[٤٥٣٩، ٤٥٤٠] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ اجْتَمَعَ عِنْدَ الْبَيْتِ قُرَشِيَّانِ وَثَقَفِيٌّ أَوْ ثَقَفِيَّانِ وَقُرَشِيٌّ كَثِيرَةٌ شَحْمُ بُطُونِهِمْ قَلِيلَةٌ فِقْهُ قُلُوبِهِمْ فَقَالَ أَحَدُهُمْ أَتُرَوْنَ أَنَّ اللَّهَ يَسْمَعُ مَا نَقُولُ قَالَ الْآخَرُ يَسْمَعُ إِنْ جَهَرْنَا وَلَا يَسْمَعُ إِنْ أَخْفَيْنَا وَقَالَ الْآخَرُ إِنْ كَانَ يَسْمَعُ إِذَا جَهَرْنَا فَإِنَّهُ يَسْمَعُ إِذَا أَخْفَيْنَا

---

(١) تفسير عثماني ٦٣٩ :فائده نمبر-١

(٢) وايضا اخرجنه في كتاب التوحيد، باب قول الله تعالى، وماكنتم تسترون ان يشهدعليكم سمعكم والاابصاركم ولاجلودكم، رقم الحديث ٧٥٢١:واخرجه مسلم فى اوايل صفات المنافقين واحكامهم، رقم الحديث٢٧٧٥:، واخرجه الترمذى فى التفسير، باب سورة السجدة، رقم الحديث٣٢٤٨:، واخرجه النسائى فى التفسير، باب قول الله عزوجل :وماكنتم تسترون ان يشهدعليكم سمعكم، رقم الحديث-(١١٤٦٨/١

فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ الْآيَةَ

د سند توضيح: دلته دَ بخارى شيخ عبدالله بن زبيرى حميدى دي، هغوى روايت كوى دَ سفيان بن عيينه نه، سفيان، منصور بن المعتمر نه روايت كوى، منصور د مجاهدنه، مجاهددَ ابومعمر عبدالله بن سخبره رحمه الله نه او هغه دَ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل كوى.

وَكَانَ سُفْيَانُ يُحَدِّثُنَا بِهَذَا فَيَقُولُ حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ أَوْ ابْنُ أَبِي نَجِيحٍ أَوْ حُمَيْدٌ أَحَدُهُمْ أَوْ اثْنَانِ مِنْهُمْ ثُمَّ ثَبَتَ عَلَى مَنْصُورٍ وَتَرَكَ ذَلِكَ مِرَارًا غَيْرَ مَرَّةٍ وَاحِدَةٍ

دا دَ بخارى شيخ حميدى رحمه الله قول دي هغوى فرمائى چه سفيان ته دَ شروع نه دَ خپل شيخ متعلق تردد وو او هغه به دَ دريو شيخانونومونه اخستل او وئيل به ئى "حدثنا منصور، او ابن ابي نجيح، اوحميد، احدهم او اثنان منهم: يعنى دا حديث مونږ دَ منصور نه بيان كړې يا دَ عبدالله ابن ابى نجيح نه يا د حميدى نه، په دې دريواړو كښې دَ يو نه مونږ دا حديث اوريدلې يعنى سفيان ته خو دومره خبره يقينى ياده وه چه په دې دريواړو كښې يو يا دوو دا حديث بيان كړې دې.ليكن په كلكه ئى په يو كس يقين نه ووخو روستو بيادَ هغه تردد لرې شو اوهم دَ منصور نوم ئى واخستلو(1)

قوله: فَإِنْ يَصْبِرُوا فَالنَّارُ مَثْوًى لَهُمْ...الاية.

[۴۵۴۰] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي مَنْصُورٌ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بِنَحْوِهِ

[۳۰۴] باب تفسير سُورَةُ حم عسق (الشورى)

وَيُذْكَرُ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَقِيمًا الَّتِي لَا تَلِدُ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا الْقُرْآنُ وَقَالَ مُجَاهِدٌ يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ نَسْلٌ بَعْدَ نَسْلٍ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ لَا خُصُومَةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ذَلِيلٍ وَقَالَ غَيْرُهُ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَى ظَهْرِهِ يَتَحَرَّكْنَ وَلَا يَجْرِينَ فِي الْبَحْرِ شَرَعُوا ابْتَدَعُوا

سورة حم عسق

د كلماتو تشريح:

قوله: عقيما: لاتلد: آيت مبارك كښې دى (وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا) نه مراد هغه ښځه ده چه بچې نه راوړى يعنى شنډه دَ چا چه اولاد نه وى.

قوله: روحا من امرنا: القران: آيت مبارك كښې دى (وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا)

(1) عمدة القارى-۱۹/۱۵۵:

فرمائى په دې كښې (رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا) نه قرآن كريم مراد دې.

قوله: وقال مجاهد: يذرؤكم فيه: نسل بعد نسل: (جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّمِنَ الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ) يعنى الله تعالى په انسانانواو ځناورو دواړو كښې جوړې پيدا كړې دى دغه شان هغه په دې دواړوكښې د يو نسل نه پس بل نسل زياتوى او خوروى.

يذرؤكم: اى يخلقكم ويبثكم

قوله: لاحجة بيننا: لاخصومة: آيت مبارك كښې دى (لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ) په دې كښې (حُجَّةَ) نه ناراضګى او جګړه مراد ده يعنى زمونږ او ستاسو مينځ كښې هيڅ جګړه نشته.

قوله: طرف خفي: ذليل: آيت مبارك كښې دى (خٰشِعِيْنَ مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ) د ذلت په وجه به ټيټ شوې وى او په مړ نظر سره به ګورى. فرمائى د (طَرْفٍ خَفِيٍّ) معنى ده ذليل نظر، كمزورې نظر.

قوله: وقال غيره: فيظلمن رواكد على ظهره: يتحركن ولايجرين في البحر: آيت مبارك كښې دى (وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ۞ اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلٰى ظَهْرِهٖ) او ټولوكښې د هغه(د قدرت) د نښو جهازونه دى په سمندركښې (داسې اوچت) لكه غرونه، كه هغه اوغواړى نو هوا به اودروى نو هغه جهازونه به د سمندر د سرد پاسه اودريږى. د مجاهدنه غير وئيلى دى چه په آيت كښې (فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلٰى ظَهْرِهٖ) مطلب دا دې چه په خپل مقام باندې خو(د څپو په سپيرو) خوزيږى ولې په سمندركښې به روان نشى.

قوله: شرعوا: ابتدعوا: آيت مبارك كښې دى (اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا شَرَعُوْا لَهُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا لَمْ يَاْذَنْ بِهِ اللّٰهُ) آيا د هغوى (تجويز شوى) څه شريك شته چا چه د هغوى د پاره داسې دين مقرر كړې دې د كوم چه الله تعالى اجازت نه دې وركړې. د شرعوا معنى ده ابتدعوا: نوې دين راويستل.

[٢٠٥] بَاب: قَوْلِهِ: اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى

[٤٥٤١] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَيْسَرَةَ قَالَ سَمِعْتُ طَاوُسًا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ قَوْلِهِ اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى فَقَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ قُرْبَى آلِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَجِلْتَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ بَطْنٌ مِنْ قُرَيْشٍ إِلَّا كَانَ لَهُ فِيهِمْ قَرَابَةٌ فَقَالَ إِلَّا أَنْ تَصِلُوا مَا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ مِنَ الْقَرَابَةِ

د ايت كريمه تفسير: آيت مبارك كښې ارشاد دې (قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى) د نبى كريم ﷺ خبره به قريشو په ښه توګه نه اوريدله، په دې وجه الله تعالى هغوى ﷺ ته اوفرمائيل چه دې خلقو ته اووايه چه زه خو تاسو نه څه د بدلې مطالبه نه كوم، كم نه كم د

رشته دارنی او خپلولنی خیال اوساتنی او تاسو زما خبره په توجو مره اورئی او دَ ظلم او تکلیف رسولو نه منع شئی.

دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه دَ دې آیت متعلق تپوس اوشو نو سعید بن جبیر) اوفرمائیل چه دَ آل محمد) خپلوان ترې مراد دی، حضرت ابن عباس رضی الله عنه اوفرمائیل تا تندی اوکړه دَ قریشو یو څانګه هم داسې نه ده کوموکښې چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم رشته داری نه وی.

دَ سعید بن جبیر رحمه الله دَ کلام نه معلومیدله چه (الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ) کښې دَ قربت نه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نزدې رشته دار بنوهاشم مراد دی، حضرت ابن عباس اوفرمائیل چه دې نه ټول قریش مراد دی صرف بنو هاشم مراد نه دی.

دَ حضرت سعید رحمه الله اوحضرت ابن عباس رضی الله عنه په جوابونوکښې فرق دا دې چه دَ سعیدبن جبیر) په نیزبه دَ آیت معنی دا وی چه زه تاسو نه په تبلیغ باندې څه اجرت نه غواړم بس دومره غواړم چه زما اقارب (بنوالمطلب) سره مینه کوئی، حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا معنی اونه منله چه دَ اقارب سره دَ مینې طلب کول هم اجرت دې. بلکه بنوهاشم او بنوالمطلب نه ټول قریش دَ هغوی صلی الله علیه وسلم اقارب دی. په دې وجه دَ دې معنی دَ هغوی په نیز دا ده چه زه تاسو نه بدله نه غواړم لیکن کم نه کم ظلم او زیاتی نه منع شئی څکه چه دَ خپلولئی خو بهرحال دا تقاضاده . دَ لامع الدراری په حاشیه کښې دی: "وحاصل کلام سعید: ما اطلب منکم ایها الناس، الاان تودوا القرابة، فقال ابن عباس: غلطت، لانه ایضا اجرة، واما توجیه ابن عباس، حاصله: ما اطلب اجرا منکم ایها العرب، لکن اطلب منکم ان تصلوا القرابة، کما هودابکم، ولا تضرونی"[1]

هم دا خبره حضرت مولانا انورشاه کشمیری رحمه الله داسې فرمائیلې: "حاصل تفسیر سعیدبن جبیر ان النبی صلی الله علیه وسلم سالهم عن مراعاة اهل قرابته، وحاصل تفسیرابن عباس، سالهم عن مراعاة نفسه، لاجل قرابته فی جمیع البطون"[2]

[۳۰۶] باب تفسیر سُورَةُ حٰمٓ الزُّخْرُفِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ عَلَى أُمَّةٍ عَلَى إِمَامٍ وَقِيلَهُ يَارَبِّ تَفْسِيرُهُ أَيَحْسِبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُمْ وَلَا نَسْمَعُ قِيلَهُمْ

سُورَةُ حٰمٓ الزُّخْرُفِ

د کلماتو تشریح:

قوله: عَلَى أُمَّةٍ: عَلَى إِمَامٍ: (بَلْ قَالُوٓا إِنَّا وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّهْتَدُونَ) بلکه اووئیلې هغوی چه اوموندل مونږ پلاران خپل په یوه طریقه، او مونږ هم دَ هغوی په قدمونو لار بیاموندو، دَ لفظ "امت" تفسیر دین، ملت او امام سره کړې دې، امام بخاری رحمه الله دَ

[1] تعلیقات الدراری-۹/۱۶۱ :

[2] فیض الباری-۴/۲۳۰ :

امام' تفسيرنقل كړيدي.

قوله: وقيله يارب، تفسيره ايحسبون انالانسمع سرهم ونجواهم، ولانسمع قيلهم:

د ''وقيله يا رب ان هؤلاء قوم لايؤمنون''، **تفسير**: په آيت مبارك كښې دى (وَقِيلِهِ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ لَّا يُؤۡمِنُونَ) ددې آيت تعلق امام بخارى رحمه الله د دينه اووه آياته وړاندې آيت سره تړلې دې. هغه دادې (أَمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّا لَا نَسۡمَعُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۚ) امام د قيله يارب تعلق هم دې سره ګرخولې. په دې صورت كښې "قيله انالانسمع" د پاره به مفعول وى او ترجمه به وى"آياهغه كفار دا ګمان كوى چه مونږ د هغوى رازونه او د غوږخبرې نه اورو او مونږ د هغوى خبرې اترې نه اورو" خو د دې تفسير بعضې حضراتو انكار كړيدې خكه چه دا تفسير هغه وخت صحيح كيديشى كله چه د "قيله" ضمير د مشركانوطرف ته راجع وى او هغه جمع دى خو په دې كښې ضمير مفرد دې، نو علامه عينى رحمه الله ليكى: "وبعضهم انكر هذاالتفسير فقال: انما يصح لوكانت التلاوة وقيلهم" (۱)اكثر حضراتو دا ضمير رسول الله ﷺطرف ته راګرخولې دې، بيا د دې مختلف تفسيرونه كړيدى.

① "وقيله" كښې واؤ قسميه دې "يارب" د قيل مقول دې. او(إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ) جواب قسم دې. په دې صورت كښې به ترجمه وى "قسم دې د رسول صلى عليه وسلم د هغه ويناچه اې ربه! داخلق يقين نه راوړى" يعنى د نبى) وينا كول هم الله تعالى ته معلوم دى او د هغوى ﷺ د خلوص نه ډك سوال او د د درد نه ډك آواز الله ﷺقسم خورى چه هغه به د هغوى) خامخا امداد كوى او په خپل رحمت سره به هغه غالب او كاميابوى.(۲)

② يو تفسير دا شوې دې چه "وقيله" كښې واؤ عاطفه دې او د دې عطف د دې آيت نه دوه آياته وړاندې (وَعِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ) باندې كيږى. په دې صورت كښې به مطلب دا وى چه الله ﷺته د قيامت هم علم دې اود رسول صلى عليه وسلم د هغه وينا هم علم دې.(۳)

د دې دواړو تفسيرونو په صورت كښې "وقيله" مجرور دې، په اول تفسير كښې د واؤ قسميه په وجه او په دونم تفسير كښې د "الساعة" مضاف اليه باندې د عطف په وجه، نود عاصم او حمزه په قراءت كښې دا مجرور دې او باقى قاريان دا منصوب لولى.(۴)

وَقَالَ ابۡنُ عَبَّاسٍ وَلَوۡلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ لَوۡلَآ أَن جَعَلَ ٱلنَّاسَ كُلَّهُمۡ

---

(۱)عمدةالقارى ۱۹/۱۵۷:

(۲))تفسيرعثمانى ۶۵۸ :فائده نمبر-۱۱

(۳))بيان القرآن۲/۹۷ :)ج-(۱۰

(۴))عمدة القارى-۱۵۸-۱۹/۱۵۷:

كُفَّارًا لَجَعَلْتُ لِبُيُوتِ الْكُفَّارِ سَقْفًا مِنْ فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ مِنْ فِضَّةٍ وَهِيَ دَرَجٌ وَسُرُرَ فِضَّةٍ مُقْرِنِينَ مُطِيقِينَ آسَفُونَا أَسْخَطُونَا يَعْشُ يَعْمَى وَقَالَ مُجَاهِدٌ أَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ أَيْ تُكَذِّبُونَ بِالْقُرْآنِ ثُمَّ لَا تُعَاقَبُونَ عَلَيْهِ وَمَضَى مَثَلُ الْأَوَّلِينَ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ يَعْنِي الْإِبِلَ وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ يَنْشَأُ فِي الْحِلْيَةِ الْجَوَارِي جَعَلْتُمُوهُنَّ لِلرَّحْمَنِ وَلَدًا فَكَيْفَ تَحْكُمُونَ لَوْ شَاءَ الرَّحْمَنُ مَا عَبَدْنَاهُمْ يَعْنُونَ الْأَوْثَانَ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى مَا لَهُمْ بِذَلِكَ مِنْ عِلْمٍ أَيْ الْأَوْثَانُ إِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ فِي عَقِبِهِ وَلَدِهِ مُقْتَرِنِينَ يَمْشُونَ مَعًا سَلَفًا قَوْمُ فِرْعَوْنَ سَلَفًا لِكُفَّارِ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَثَلًا عِبْرَةً يَصِدُّونَ يَضِجُّونَ مُبْرِمُونَ مُجْمِعُونَ أَوَّلُ الْعَابِدِينَ أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ.

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَلَوْلَا أَنْ يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَوْلَا أَنْ جَعَلَ النَّاسَ كُلَّهُمْ كُفَّارًا لَجَعَلْتُ لِبُيُوتِ الْكُفَّارِ سَقْفًا مِنْ فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ مِنْ فِضَّةٍ وَهِيَ دَرَجٌ وَسُرُرَ فِضَّةٍ

آیت مبارك كښې دی ﴿وَلَوْلَآ أَنْ يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ يَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ﴾ دَ دې آیت په تفسیرکښې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی که چرې داخبره نه وه چه زه به ټول خلقو لره کافر جوړکړم نومابه دَ کافرانودَ کورونوچتونه دَ سپینو زرو کړی وواو پاوړئی هم دَ سپینو زرو. معارج معنی سپین زرو پاوړئی او دَ سپینوزرو تخت دې. علامه شبیراحمد عثمانی صاحب رحمه الله فرمائی : دَ الله تعالی سره دَ دې دنیاوی مال او دولت هیڅ قدر او قیمت نشته، اونه دَ دې ورکړه څه دَ الله تعالی دَ نزدیکت څه دلیل دې.داخوداسې بې قدره او سپك څیز دې که چرې یوخاص مصلحت منع کونکې نه وو نوالله تعالی به دَ کافرانودَ کورونوچتونه، پاوړئی، دروازې، چوکاټونه،تالې تختونه او چوکئی ټول دَ سپینوزرو او سرو زرو جوړکړی وو خو په دې صورت کښې چه دا خلق ګوری چه کافرانو ته داسې سامان ملاویږی‌نو عمومًا به ئی دَ کفرلار اختیارولې(الاماشاء الله) او دا څیزونه به دَ الله تعالی دَ مصلحت نه خلاف وو، په دې وجه ئې داسې اونه کړل.

په حدیث شریف کښې دی که دَ الله تعالی په نیز دَ دنیاقدر دَ مچ دَ وزر برابر وې نو کافرته به یو ګوټ اوبه هم نه ملاویدې. نو چه یوڅیز دَ الله تعالی په نیز دومره سپك وی نو هغه دَالله تعالی په نیز سیادت او وجاهت اودَ نبوت او رسالت معیارګرځول به ترکومې پورې صحیح وی.

دَ کلماتو تشریح:

قوله: مقرنین : مطیقین: آیت مبارك كښې دی ﴿سُبْحٰنَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِیْنَ﴾ پاك دې هغه ذات چا چه زمونږ دَ پاره داڅیزونه مسخر کړل او مونږ خو داسې (طاقتور او هنرمند) نه ووچه دامو قابوکړې وې. فرمائی په دې کښې "مقرنین" معنی ده "مطیقین" یعنی طاقتور او په قابوکښې راوستلووالا.

قوله: اسفونا: اسخطونا: آیت مبارك كښې دی ﴿فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِیْنَ﴾ په دې

كنبي " اسفونا" معنى " اسخطونا" ده، يعني چه كله خلقو مونږ ته غصه راوستله نومونږ دَ هغوى نه بدله واخستله او هغه ټول موغرق كړل.

قوله: يعش: يعمى: آيت مبارك كنبي دى ﴿وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ﴾ او كوم سړي چه دَ الله تعالى دَ نصيحت نه ځان ړوندكړي مونږ په ده باندې يوشيطان مسلط كوو بيا هغه هروخت ده سره اوسيږي. دې كنبي " يعش" معنى ده ړوندجوړيدل.

قوله: افنضرب عنكم الذكر: اي تكذبون بالقران: ثم لاتعاقبون عليه: آيت كنبي دى ﴿اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ﴾ آيا مونږ به دا نصيحت صرف په دې وجه تاسو نه اخوا كړوچه تاسو دَ حدنه زياتي كونكي قوم ئى. مجاهد رحمه الله فرمائى" افنضرب عنكم الذكر" معنى داده چه آياتاسوبه قرآن دروغ ګڼرئى اوبيا به هم تاسوله سزانشي دركولې.

قوله: ومضى مثل الاولين: سنة الاولين: آيت كريمه كنبي دى ﴿فَاَهْلَكْنَآ اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّمَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ﴾ بيا مونږ هغه خلق چه دَ دوى (اهل مكه) نه زيات زورآور وو (دَ تكذيب او ټوقو مسخرو په سزا كنبي) تباه كړل او دَ ړومبو خلقو دا حالت شوې دې. فرمائى چه آيت كنبي مثل الاولين نه سنة الاولين مراد دې يعني دَ وړاندينوخلقو طريقه.

قوله: وماكناله مقرنين: يعني الابل والخيل والبغال والحمير: مونږ دا په قابوكنبي راوستونكي نه وو، دينه مراد اوښ اس قچر او خر دې. دينه علاوه نورې سورلئى هم مراد كيديشى، موټر لارئى اوجهاز وغيره هم دې كنبي داخل دى.

قوله: لوشاءالرحمن ما عبدناهم: يعنون الاوثان، يقول الله تعالى: مالهم بذلك من علم: آيت مبارك كنبي دى ﴿وَقَالُوْا لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ۗ مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۗ اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ﴾ امام بخارى رحمه الله فرمائى "ماعبدناهم" كنبي "هم" ضمير بتانوطرف ته راجع دې ځكه چه وړاندې الله تعالى " مالهم بذلك من علم" اوفرمائيل يعني مشركان وائى كه الله تعالى غوښتلې نو مونږ به دَ دې بتانوعبادت نه كولو او دَ دې بتانو هغه ته هيڅ علم نشته دا صرف دَ اټكل نه كار اخلى. بعضوونيلى دى" ماعبدناهم" كنبي ضميرملائكه طرف ته راګرځى او مطلب دا دې كه الله تعالى غوښتل نومونږ به د دې ملائكه عبادت نه كولو، وړاندې الله تعالى دَ هغوى ترديد اوكړو " مالهم بذلك من علم" يعني دوى ته دَ دې خبرې هيڅ علم نشته، بې تحقيقه خبره كوى.

قوله: في عقبه: ولده: آيت مبارك كنبي ارشاد دې ﴿وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِيْ عَقِبِهٖ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ﴾ او هغه يعني (ابراهيم عليه السلام) هغوى ته يو باقي پاتې كيدونكې كلمه په خپل اولاد كنبي هم جوړه كړه (يعني حضرت ابراهيم عليه السلام دَ توحيد عقيده دَ خپل ذات پورې محدودنه كړه بلكه خپل اولاد ته ئې هم په دې دَ قائم پاتې كيدو وصيت اوكړو. فرمائى دَ عقبه نه ولد مراد دې.

قوله: مقرنین: یمشون معاً: آیت کښې دی (اَوْجَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِيْنَ) فرمائی مقرنین معنی ده سره سره تلونکې یعنی یابه هغه سره فرښتې یوځائې تلې(لکه چه امیرانو او رئیسانو سره چه اردلیان او خادمان روان وی)

قوله: سلفاً: قوم فرعون سلفاً لکفار امة محمد صلی الله علیه وسلم، مثلاً: عبرةً:
آیت شریف کښې دی (فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا وَّمَثَلًا لِّلْاٰخِرِيْنَ) بیا مونږ هغوی لره دَ راتلونکو دَ پاره پیش رو او نمونه، عبرت جوړ کړل،په آیت کښې دَ سلفاً نه دَ فرعون قوم مراد دې چه دَ محمد ﷺ دَ امت دَ کافرانو دَ پاره پیش رو، نمونه او عبرت دې مثلاً معنی ده، عبرت

قوله: یصدون: یضجون: آیت کښې دی (اِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّوْنَ) معنی ده چغې،شور او غوغا کوی یعنی ناڅاپی ستا قوم(دَ اعتراض په اوریدو) نه(دَ خوشحالئی نه) چغې وهی.

قوله: مبرمون: مجمعون: آیت کښې دی (اَمْ اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ) آیاهغوی (رسول صلی علیه وسلم ته دَ نقصان رسولودَپاره) اودرولې شوی دی، یوخبره خوبه مونږ هم اودروو.
فرمائی مبرمون نه معنی ده مجمعون په یوځائې فیصله کونکی.

وَقَالَ غَيْرُهُ إِنَّنِي بَرَاءٌ مِمَّا تَعْبُدُونَ الْعَرَبُ تَقُولُ نَحْنُ مِنْكَ الْبَرَاءُ وَالْخَلَاءُ وَالْوَاحِدُ وَالِاثْنَانِ وَالْجَمِيعُ مِنَ الْمُذَكَّرِ وَالْمُؤَنَّثِ يُقَالُ فِيهِ بَرَاءٌ لِأَنَّهُ مَصْدَرٌ وَلَوْ قَالَ بَرِيءٌ لَقِيلَ فِي الِاثْنَيْنِ بَرِيئَانِ وَفِي الْجَمِيعِ بَرِيئُونَ وَقَرَأَ عَبْدُ اللَّهِ إِنَّنِي بَرِيءٌ بِالْيَاءِ وَالزُّخْرُفُ الذَّهَبُ مَلَائِكَةً يَخْلُفُونَ يَخْلُفُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا ابن مسعود رضی الله عنهما
په آیت مبارك کښې دی (وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ اِنَّنِيْ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ) هرکله چه ابراهیم علیه السلام خپل پلار او قوم ته اوفرمائیل چه زه دَ دې خیزونو(عبادت) نه بیزاره یم دَ کومو چه تاسو عبادت کونې. فرمائی چه په آیت مبارك کښې دَ براء معنی بیزار ده، عرب وائی: نحن منك البراء والخلاء یعنی مونږ تانه بیزاره او جدا یو. دَ مفرد، تثنیه، جمع، مذکر او مؤنث ټولودَپاره دا استعمالیږی خکه چه دا مصدر دې(او مصدرکښې دا ټول برابردی) او که چرې برئ اووئیلې شی نو هغه وخت به دَ تثنیه دَ پاره بریئان او دَ جمع دَ پاره بریئون استعمالیږی.
حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قراءت "برئ" دې.

قوله: الزخرف: الذهب: آیت مبارك کښې دی (وَلِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ وَزُخْرُفًا) اودَ هغوی دَ کورونو دروازې او تخت هم (دَ سپینوزرو کولې) چه په کومو تکیه لګوی کینی او(هم دا خیزونه) به دَ سروزرو هم کول.

قوله: ملائکة یخلفون: یخلف بعضهم بعضاً: په آیت مبارك کښې دی (وَلَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَّلٰٓئِكَةً فِي الْاَرْضِ يَخْلُفُوْنَ) اوکه مونږ غوښتې نو مونږ به تانه فرښتې پیدا کړې وې(څنګه چه ناسونه ستاسو بچی پیداکیږی) چه هغوی په زمکه باندې (دَ انسان په شان) یوبل پسې

اوسيدلې. فرمائي چه په آيت کښې ملائکة يخلفون معنى ده په دوى کښې به بعضې د بعضو د پاره خليفه وى.

[۳۰۷] باب: قَوْلُهُ وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ قَالَ إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ

(۱) حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عَطَاءٍ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَى الْمِنْبَرِ وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ وَقَالَ قَتَادَةُ مَثَلًا لِلْآخِرِينَ عِظَةً لِمَنْ بَعْدَهُمْ وَقَالَ غَيْرُهُ مُقْرِنِينَ ضَابِطِينَ يُقَالُ فُلَانٌ مُقْرِنٌ لِفُلَانٍ ضَابِطٌ لَهُ وَالْأَكْوَابُ الْأَبَارِيقُ الَّتِي لَا خَرَاطِيمَ لَهَا

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ مُقْرِنِينَ ضَابِطِينَ يُقَالُ فُلَانٌ مُقْرِنٌ لِفُلَانٍ ضَابِطٌ لَهُ: په آيت کښې دى (وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ) په دې کښې د (مُقْرِنِينَ) معنى ظابطين يعنى په قابو کښې راوستونکى، عرب وائى فلان مقرن لفلان يعنى فلانکى فلانکې په قابو کښې راوستونکې دې.

قوله: والاكواب: الاباريق التى لاخراطيم لها: آيت کښې دى (يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّنْ ذَهَبٍ وَّأَكْوَابٍ) يعنى غلمان به هغوى سره د سروزرو پليټونه او د اوبولوښى ګرځوى "اكواب" نه هغه لوټې مراد دى چه د کومې ټوټئ نه وى، خراطيم د خرطوم جمع ده. والخرطوم هو مخرج للشراب يشبه الانف يعنى ټوټئ.

أَوَّلُ الْعَابِدِينَ أَيْ مَا كَانَ فَأَنَا أَوَّلُ الْآنِفِينَ وَهُمَا لُغَتَانِ رَجُلٌ عَابِدٌ وَعَبِدٌ وَقَرَأَ عَبْدُ اللَّهِ وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ وَيُقَالُ أَوَّلُ الْعَابِدِينَ الْجَاحِدِينَ مِنْ عَبِدَ يَعْبَدُ

د "فانا اول العابدين" مختلف تفسيرونه: په آيت کښې دى (قُلْ إِنْ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ) د دې آيت مختلف تفسيرونه بيان کړې شوى دى.

① د دې يو عام تفسير چه امام بخارى رحمه الله کړيدې چه د اول العابدين معنى اول المومنين ده، نو ترجمه به وى "که د الله تعالى اولاد وى نو د ټولونه وړاندې به د هغوى عبادت کونکې زه ووم" مطلب دا که چرې ستاسو دا خبره حق وى او تاسونى ثابته کړئى نو د ټولو نه وړاندې د دې منونکې زه يم. په دې صورت کښې "ان" په معنى د "لو" دې او شرطيه دې.

② دونم تفسير دا دې چه "ان" نافيه دې او (فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ) کښې فاء عاطفه ده او معنى ده (مَا كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ وَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ) د الله تعالى هيڅ اولاد نشته او زه د ټولونه اول د الله تعالى عبادت کونکې يم.(۱)

③ دريم تفسير دا دې چه "ان" نافيه دې او "عابدين" "انفين" او جاحدين په معنى کښې دې

(۱) عمدة القارى-١٩/١٦١:

او مطلب دا دي چه د الله تعالى هيڅ اولاد نشته، د الله تعالى د پاره د اولاد د ثبوت د تولونه اول زه انكاركونكې يم. امام بخارى رحمه الله داتفسير دلته بيان كړې دې عبد معنى عبادت كولو هم راځى او د انكار كولوهم راځى. عابد: عبادت كونكې، مؤمن، عبد انكاركونكې.

وَقَالَ قَتَادَةُ فِي أُمِّ الْكِتَابِ جُمْلَةِ الْكِتَابِ أَصْلِ الْكِتَابِ۔ أَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا أَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُسْرِفِينَ مُشْرِكِينَ وَاللَّهِ لَوْ أَنَّ هَذَا الْقُرْآنَ رُفِعَ حَيْثُ رَدَّهُ أَوَائِلُ هَذِهِ الْأُمَّةِ لَهَلَكُوا فَأَهْلَكْنَا أَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَمَضَى مَثَلُ الْأَوَّلِينَ عُقُوبَةُ الْأَوَّلِينَ جُزْءًا عِدْلًا

قوله: وقرأ عبدالله: وقال الرسول يارب: (وَقِيلِهِ يَرَبِّ إِنَّ هَؤُلَاءِ......) د جمهورو قراءت دې، د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قراءت "وقال الرسول يارب" دې دينه اول راتلل پكار وو چرته چه امام د مذكوره آيت تفسيركړې. اصل محل د دې هلته وو. دا جمله په هندوستانى نسخوكښې ده(زمونږ د متن په نسخه كښې نشته)

قوله: أَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا أَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُسْرِفِينَ: د دې آيت لاندې امام بخارى رحمه الله د قتاده قول نقل كړيدې "وَاللَّهِ لَوْ أَنَّ هَذَا الْقُرْآنَ رُفِعَ حَيْثُ رَدَّهُ أَوَائِلُ هَذِهِ الْأُمَّةِ لَهَلَكُوا" په خدائى كه داقرآن هغه وخت اوچت شوې وې كله چه د امت رومبنوخلقو دا رد كړې وو نو ټول به هلاك شوې وې. مطلب دا دې چه د اسلام په شروع كښې خلقود قرآن كريم انكار كولو اود دې تعليمات ئې ردكول، كه د هغوى د رد كولوپه وجه دا اوچت كړيشوې وې نو لويه تباهى او بربادى به وه. په ذكرشوى آيت كښې همدغه خبره بيان كړيشوې ده چه قرآن به په دې وجه نه ختموو چه تاسو د حدنه زياتې كونكې ئې.

قوله: جزءاً: عدلاً: آيت كښې دى (وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا) په دې كښې د جزء معنى د عدل ده، او په معنى د مثال او نظير.

[۳۰۸] باب: تفسير سورة حم (الدخان)

وَقَالَ مُجَاهِدٌ رَهْوًا طَرِيقًا يَابِسًا وَيُقَالُ رَهْوًا سَاكِنًا عَلَى عِلْمٍ عَلَى الْعَالَمِينَ عَلَى مَنْ بَيْنَ ظَهْرَيْهِ وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ أَنْكَحْنَاهُمْ حُورًا عِينًا يَحَارُ فِيهَا الطَّرْفُ فَاعْتِلُوهُ ادْفَعُوهُ وَيُقَالُ أَنْ تَرْجُمُونِ الْقَتْلُ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَالْمُهْلِ أَسْوَدُ كَمُهْلِ الزَّيْتِ وَقَالَ غَيْرُهُ تُبَّعٍ مُلُوكُ الْيَمَنِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ يُسَمَّى تُبَّعًا لِأَنَّهُ يَتْبَعُ صَاحِبَهُ وَالظِّلُّ يُسَمَّى تُبَّعًا لِأَنَّهُ يَتْبَعُ الشَّمْسَ

سُورَةُ الدُّخَانِ

د كلماتو تشريح:

قوله: رَهْوًا: طَرِيقًا يَابِسًا: په آيت مبارك كښې دى (وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا إِنَّهُمْ جُنْدٌ مُغْرَقُونَ)

اوتاسودا درياب دَ سکون په حالت کښې پرېږدئی، دَ دې(فرعونيانو) ټول لښکر)په دې درياب کښې) به ډوب کړېشي. مجاهد رحمه الله فرمائي په آيت کښې دَ رهوا معنی ده اوچه لاره.

قوله: عَلَى الْعَالَمِينَ عَلَى مَنْ بَيْنَ ظَهْرَيْهِ: آيت مبارك کښې ارشاد دي ﴿وَلَقَدِ اخْتَرْنٰهُمْ عَلٰى عِلْمٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ﴾ او مونږ بنی اسرائيلو ته دَ خپل علم دَ خاطره (بعضې کارونو کښې ټول) جهان خلقو باندې فوقيت ورکړو. فرمائي چه په آيت کښې عَلَى الْعَالَمِينَ معنی ده عَلٰى مَنْ بَيْنَ ظَهْرَيْهِ يعنی په هغه خلقو چه دَ هغوی په مينځ کښې دی او چه دَ هغوی په زمانه کښې دی په هغوی باندې فوقيت ورکړيدې.

قوله: فَاعْتُلُوهُ: ادْفَعُوهُ: ﴿خُذُوْهُ فَاعْتِلُوْهُ اِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ﴾ فرشتوته به حکم وی) دوی اونيسئی او په راښکلو راښکلو دَ دوزخ مينځ ته بوځئی. فرمائی فَاعْتُلُوهُ معنی دوی ديکه کړئی.

قوله: وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ أَنْكَحْنَاهُمْ حُورًا عِينًا يَحَارُ فِيهَا الطَّرْفُ: آيت کښې دی ﴿وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ﴾ فرمائی ددې معنی ده مونږ به دَ دوی نکاح دَ غټ سترګو حورو سره کوو کوموته په کتوچه سترګې حيران پاتې شی، عين: غټ سترګې.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَالْمُهْلِ أَسْوَدُ كَمُهْلِ الزَّيْتِ: آيت کښې دی ﴿طَعَامُ الْاَثِيْمِ كَالْمُهْلِ يَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ﴾ حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائيل دَ مجرم خوراك به دَ زيتونو دَ خيری په شان تور وی.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ تُبَّعٍ مُلُوكُ الْيَمَنِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ يُسَمَّى تُبَّعًا لِأَنَّهُ يَتْبَعُ صَاحِبَهُ وَالظِّلُّ يُسَمَّى تُبَّعًا لِأَنَّهُ يَتْبَعُ الشَّمْسَ: آيت کښې دي ﴿اَهُمْ خَيْرٌ اَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ﴾ فرمائی چه دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما غير ونيلی دی چه تبع دَ يمن بادشاهانوته وائی. په دوی کښې به هريوته تبع ونيلې کيدو، ځکه چه هغه په دَ خپل)تلونکی) نه پس راتلو يعنی چه يو به ختم شونود هغه نه پس به بل راتلو، سوری ته هم تبع وائی ځکه چه هغه دَ سوری تابع وی.

[٣٠٩] بَاب: فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ

قَالَ قَتَادَةُ فَارْتَقِبْ فَانْتَظِرْ

[٤٥٤٣] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ مَضَى خَمْسٌ الدُّخَانُ وَالرُّومُ وَالْقَمَرُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ

[٣١٠] بَاب: يَغْشَى النَّاسَ هَذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ

[٤٥٤٤] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ إِنَّمَا كَانَ هَذَا لِأَنَّ قُرَيْشًا لَمَّا اسْتَعْصَوْا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا عَلَيْهِمْ بِسِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ فَأَصَابَهُمْ قَحْطٌ وَجَهْدٌ حَتَّى أَكَلُوا الْعِظَامَ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَنْظُرُ إِلَى

السَّمَاءِ فَيَرَى مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا كَهَيْئَةِ الدُّخَانِ مِنَ الْجَهْدِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ يَغْشَى النَّاسَ هَذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ قَالَ فَأُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيلَ لَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ اسْتَسْقِ اللَّهَ لِمُضَرَ فَإِنَّهَا قَدْ هَلَكَتْ قَالَ لِمُضَرَ إِنَّكَ لَجَرِيءٌ فَاسْتَسْقَى لَهُمْ فَسُقُوا فَنَزَلَتْ إِنَّكُمْ عَائِدُونَ فَلَمَّا أَصَابَتْهُمُ الرَّفَاهِيَةُ عَادُوا إِلَى حَالِهِمْ حِينَ أَصَابَتْهُمُ الرَّفَاهِيَةُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى إِنَّا مُنْتَقِمُونَ قَالَ يَعْنِي يَوْمَ بَدْرٍ

[٣١١] بَاب: قَوْلِهِ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ

[٤٥٤٥] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ فَقَالَ إِنَّ مِنَ الْعِلْمِ أَنْ تَقُولَ لِمَا لَا تَعْلَمُ اللَّهُ أَعْلَمُ إِنَّ اللَّهَ قَالَ لِنَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ إِنَّ قُرَيْشًا لَمَّا غَلَبُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتَعْصَوْا عَلَيْهِ قَالَ اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ أَكَلُوا فِيهَا الْعِظَامَ وَالْمَيْتَةَ مِنَ الْجَهْدِ حَتَّى جَعَلَ أَحَدُهُمْ يَرَى مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَاءِ كَهَيْئَةِ الدُّخَانِ مِنَ الْجُوعِ قَالُوا رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ فَقِيلَ لَهُ إِنْ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَادُوا فَدَعَا رَبَّهُ فَكَشَفَ عَنْهُمْ فَعَادُوا فَانْتَقَمَ اللَّهُ مِنْهُمْ يَوْمَ بَدْرٍ فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ إِلَى قَوْلِهِ جَلَّ ذِكْرُهُ إِنَّا مُنْتَقِمُونَ

[٣١٢] بَاب: أَنَّى لَهُمُ الذِّكْرَى وَقَدْ جَاءَهُمْ رَسُولٌ مُبِينٌ الذِّكْرُ وَالذِّكْرَى وَاحِدٌ

[٤٥٤٦] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا دَعَا قُرَيْشًا كَذَّبُوهُ وَاسْتَعْصَوْا عَلَيْهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ فَأَصَابَتْهُمْ سَنَةٌ حَصَّتْ يَعْنِي كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى كَانُوا يَأْكُلُونَ الْمَيْتَةَ فَكَانَ يَقُومُ أَحَدُهُمْ فَكَانَ يَرَى بَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَاءِ مِثْلَ الدُّخَانِ مِنَ الْجَهْدِ وَالْجُوعِ ثُمَّ قَرَأَ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ يَغْشَى النَّاسَ هَذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ حَتَّى بَلَغَ إِنَّا كَاشِفُو الْعَذَابِ قَلِيلًا إِنَّكُمْ عَائِدُونَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بن مسعود رضی اللہ عنہ أَفَيُكْشَفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ وَالْبَطْشَةُ الْكُبْرَى يَوْمَ بَدْرٍ

[٣١٣] بَاب: ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوا مُعَلَّمٌ مَجْنُونٌ

[٤٥٤٧] حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ وَمَنْصُورٍ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ

قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا رَأَى قُرَيْشًا اسْتَعْصَوْا عَلَيْهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ فَأَخَذَتْهُمُ السَّنَةُ حَتَّى حَصَّتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى أَكَلُوا الْعِظَامَ وَالْجُلُودَ فَقَالَ أَحَدُهُمْ حَتَّى أَكَلُوا الْجُلُودَ وَالْمَيْتَةَ وَجَعَلَ يَخْرُجُ مِنَ الْأَرْضِ كَهَيْئَةِ الدُّخَانِ فَأَتَاهُ أَبُو سُفْيَانَ فَقَالَ أَيْ مُحَمَّدُ إِنَّ قَوْمَكَ قَدْ هَلَكُوا فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يَكْشِفَ عَنْهُمْ فَدَعَا ثُمَّ قَالَ تَعُودُونَ بَعْدَ هَذَا فِي حَدِيثِ مَنْصُورٍ ثُمَّ قَرَأَ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ إِلَى عَائِدُونَ أَنُكْشِفُ عَنْهُمْ عَذَابَ الْآخِرَةِ فَقَدْ مَضَى الدُّخَانُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ وَقَالَ أَحَدُهُمُ الْقَمَرُ وَقَالَ الْآخَرُ وَالرُّومُ

[۳۱۴] بَاب: يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى إِنَّا مُنْتَقِمُونَ

[۴۵۴۸] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ خَمْسٌ قَدْ مَضَيْنَ اللِّزَامُ وَالرُّومُ وَالْبَطْشَةُ وَالْقَمَرُ وَالدُّخَانُ

په دې ابوابو کښې چه کوم روايات بيان کړېشوی دی په هغې باندې وړاندې کلام شوېدې.

[۳۱۵] باب: تفسير سورة حم الْجَاثِيَةِ

الْجَاثِيَةِ مُسْتَوْفِزِينَ عَلَى الرُّكَبِ وَقَالَ مُجَاهِدٌ نَسْتَنْسِخُ نَكْتُبُ نَنْسَاكُمْ نَتْرُكُكُمُ الْجَاثِيَةِ: مُسْتَوْفِزِينَ عَلَى الرُّكَبِ

د کلماتو تشريح:

قوله: جَاثِيَةٍ: مُسْتَوْفِزِينَ عَلَى الرُّكَبِ: په آيت کښې دی (وَتَرَى كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً) اوګورئی به تاسو هرې ډلې ته (د وېرې او د هيبت په وجه) چه په زنګونوبه ناست وی. فرمائی جاثيه معنی په زنګونوناسته، استيفاز وائی داسې ناستې ته چه معلوميږی دَ پاسيدودَ پاره ئی ډيره تندی او بې قراری ده.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: نَسْتَنْسِخُ نَكْتُبُ: آيت کښې دی (إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ) مونږ (دنيا کښې) ستاسو عملونه (په فرښتو) ليکل. مجاهد رحمه الله فرمائی (نَسْتَنْسِخُ) معنی ده نَكْتُبُ مونږ ليکو.

قوله: نَنْسَاكُمْ: نَتْرُكُكُمْ: آيت کښې دی (وَقِيلَ الْيَوْمَ نَنْسَاكُمْ كَمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَذَا) او (دې منکرانو ته) به اووئيلی شی چه نن به مونږ تاسو هيرکړو لکه څنګه چه تاسودَ هغه ورځې ملاقات هيرکړې وو. فرمائی چه "ننساکم" معنی ده مونږ به تاسو په(عذاب کښې) پرېږدو لکه څنګه چه تاسو دَ هغه ورځې ملاقات او ايمان او عمل پرېښې وو.

[۲۱۶] باب: وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ الآيَة

[۴۵۴۹] (۱) حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ يَسُبُّ الدَّهْرَ وَأَنَا الدَّهْرُ بِيَدِي الْأَمْرُ أُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ

الله تعالی فرمائی چه انسان ما ته تکلیف راکوی، مطلب دا چه هغه داسې معامله کوی که هغه معامله یو انسان سره اوکړیشی نو هغه ته به تکلیف درد وی. نو علامه قرطبی رحمه الله فرمائی "معناه، يخاطبني من القول بما يتاذى به من يجوز في حقه التاذى، والله منزه عن ان يصل اليه الاذى، وانما هذا من التوسع في الكلام، والمراد ان من وقع ذلك منه تعرض لسخط الله" (۲) هغه زمانی ته کنځلې کوی حالانکه زمانه هم زه یم. یعنی هم زه د زمانې خالق اوپه دې کښې کیدونکو واقعاتو مدبر او مصرف یم ځکه چه په زمانه کښې خونه حس ته شته نه شعور او نه اراده.

د "يؤذيني ابن ادم، يسب الدهر و انا الدهر" معنی: "انا الدهر" کښې " الدهر" د مشهور روایت مطابق مرفوع دې او مضاف محذوف دې یعنی "انا خالق الدهر، ومصرف الدهر، ومالك الدهر" نو علامه خطابی رحمه الله فرمائی "معنا، انا صاحب الدهر، ومدبر الامور التي ينسبونها الى الدهر، فمن سب الدهر من اجل انه فاعل هذه الامور، عاد سبه الى ربه الذي هو فاعلها" (۳)

[۲۱۷] باب: سُورَةُ حم الْأَحْقَافِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ تُفِيضُونَ تَقُولُونَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ أَثَرَةٍ وَأُثْرَةٍ وَأَثَارَةٍ بَقِيَّةٌ مِنْ عِلْمٍ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ لَسْتُ بِأَوَّلِ الرُّسُلِ وَقَالَ غَيْرُهُ أَرَأَيْتُمْ هَذِهِ الْأَلِفُ إِنَّمَا هِيَ تَوَعُّدٌ إِنْ صَحَّ مَا تَدْعُونَ لَا يَسْتَحِقُّ أَنْ يُعْبَدَ وَلَيْسَ قَوْلُهُ أَرَأَيْتُمْ بِرُؤْيَةِ الْعَيْنِ إِنَّمَا هُوَ أَتَعْلَمُونَ أَبَلَغَكُمْ أَنَّ مَا تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللّٰهِ خَلَقُوا شَيْئًا؟

قوله: تُفِيضُونَ تَقُولُونَ: آیت مبارك کښې دی (هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ) تاسو چه د قرآن باره کښې څه هم وائې الله تعالی په هغې ښه پوهیږی، مجاهد رحمه الله فرمائی تُفِيضُونَ معنی ده تاسو وائې.

---

(۱) وايضاً اخرجه في الادب، باب لاتسبوا الدهر، رقم الحديث ۶۱۸۱: وفي التوحيد، باب قول الله تعالى: يريدون ان يبدلوا كلام الله، رقم الحديث ۷۴۹۱: واخرجه مسلم في الالفاظ من الادب وغيرها، باب النهى عن سب الدهر، رقم الحديث ۲۲۴۶: واخرجه النسائي في السنن الكبرى في التفسير، باب سورة الجاثية، رقم الحديث ۱/۱۱۴۸۶: واخرجه ابوداوٗد في الادب، باب في الرجل يسب الدهر، رقم الحديث-۵۲۷۴:

(۲) تكملة فتح الملهم ۴/۴۱۱ :وعمدة القارى-۱۹/۱۶۷:

(۳) معالم السنن ۸/۱۱۸ :بتغير الالفاظ، عمدة القارى-۱۹/۱۶۷ :

قوله: وَقَالَ بَعْضُهُمْ أَثَرَةٍ وَأُثْرَةٍ وَأَثَارَةٍ بَقِيَّةٌ: آيت مبارك كښې ذى (اِئْتُونِي بِكِتَابٍ مِنْ قَبْلِ هٰذَا أَوْ أَثَارَةٍ مِنْ عِلْمٍ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ) (اې نبى ته دوى ته اووايه) ماله څه (صحيح) كتاب راوړنى چه دَ دې (قرآن) نه اول وى (كوم كښې چه دَ شرك حكم وى) يا (كه هغه كتاب نه وى نو) څه بل (معتبر) مضمون راوړنى كه تاسو رښتونى ئى. فرمائى أَثَرَةٍ وَأُثْرَةٍ وَأَثَارَةٍ معنى ده بَقِيَّةٌ دَ هر څيز باقى پاتې حصه.

قوله: بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ: لَسْتُ بِأَوَّلِ الرُّسُلِ: په آيت مبارك كښې دى (قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِي مَا يُفْعَلُ بِي وَلَا بِكُمْ) ته اووايه چه زه څه عجيبه رسول نه يم او زه نه پوهيږم چه ما سره به څه څه كولې شى اونه)دا معلوم چه) تاسو سره)څه څه كولې شى (بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ) معنى اولنې رسول (مَا كُنْتُ بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ) كښې اولنې رسول نه يم.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ: أَرَأَيْتُمْ، هٰذِهِ الْأَلِفُ إِنَّمَا هِيَ تَوَعُّدٌ: آيت كښې دى (قُلْ أَرَأَيْتُمْ مَا تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللّٰهِ.....) اووايه ښه ده اوښايئې څوك چه تاسو رابلئى دَ الله نه سوا، ماته اوښايئې هغوى په زمكه كښې څه جوړ كړى دى يادَ هغوى شراكت شته په آسمانونو كښې.

فرمائى چه "ارايتم" كښې الف تنبيه اووعيددَ پاره راوړلې شويدې اومطلب دا دې كه چرې ستاسو دَ شرك دعوى صحيح وى بيا هم هغه دَ دې خبرې حقدار نه دې چه دَ هغه عبادت اوكړې‌شى څكه چه دَ كوم څيز دَ پاره نه نقلى دليل وى اونه عقلى نو هغه څنګه اومنلې شى، نقلى دليل دَ يوآسمانى كتاب سندپيش كړئى، څه علمى اصول پيش كړنى چه عقلى دليل جوړشى نو ستاسو خبره به اومنو او "ارايتم" كښې دَ ستركوليدل مراد نه دى بلكه دا دَ روڼت علم په معنى كښې دى، دَ دې مفهوم دې چه آيا تاسو سره علم شته ، آياتاسوته خبر دې.

بعضو دَ دې ترجمه "اخبرونى" سره هم كړيده.

[۳۱۸] بَاب: وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَكُمَا أَتَعِدَانِنِي أَنْ أُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُونُ مِنْ قَبْلِي وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ اللّٰهَ وَيْلَكَ آمِنْ إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَيَقُولُ مَا هٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ

[۴۵۵۰] (۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ قَالَ كَانَ مَرْوَانُ عَلَى الْحِجَازِ اسْتَعْمَلَهُ مُعَاوِيَةُ فَخَطَبَ فَجَعَلَ يَذْكُرُ يَزِيدَ بْنَ مُعَاوِيَةَ لِكَيْ يُبَايَعَ لَهُ بَعْدَ أَبِيهِ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ شَيْئًا فَقَالَ خُذُوهُ فَدَخَلَ بَيْتَ عَائِشَةَ فَلَمْ يَقْدِرُوا فَقَالَ مَرْوَانُ إِنَّ هٰذَا الَّذِي أَنْزَلَ اللّٰهُ فِيهِ وَالَّذِي قَالَ

(۱) وهذا الحديث لم يخرجه احد من اصحاب الستة سوى البخارى

لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَكُمَا أَتَعِدَانِنِي فَقَالَتْ عَائِشَةُ مِنْ وَرَاءِ الْحِجَابِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ فِينَا شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ إِلَّا أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ عُذْرِي

حضرت معاويه رضي الله عنه مروان بن الحکم ذ حجاز امير مقرر کړې وو. هغه يو ځل خطبه ورکړه او په هغې کښې خلقو نه ذ حضرت معاويه رضي الله عنه نه پس ذ هغوی ذ خوئ يزيد په لاس ذ بيعت ذ پاره اووئيل، په دې حضرت عبدالرحمن بن ابی بکر رضي الله عنه څه اووئيل، بعض رواياتوکښې دی چه هغوی دې طريقې ته ذ قيصر اوکسری طريقه اووئيله او اعتراض ئې اوکړوچه ذ قيصر او کسری په وخت کښې به ذ پلار نه پس ذ خوئ بادشاهی قائميدله.(١) مروان ذ هغه په اعتراض باندې خفه شو او وئې وئيل دې اونيسئ، حضرت عبدالرحمن ذ حضرت عائشه رضي الله عنها کور ته لاړو، ظاهره خبره ده چه ذ هغې کور ته ذ چا ذ تلو جراءت نه شوکيدې. هغوی هغهٔ خو راګيرنه کړو خو دائې اووئيل دا هغه سړې دې ذ چا باره کښې چه ذ قرآن دا آيت نازل شويدې ﴿وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَكُمَا﴾ حضرت عائشه رضي الله عنها ذ پردې نه اخوا ذ مروان ترديدکولو سره اوفرمائيل قرآن کښې زمونږ متعلق صرف زما براءت نازل شويدې، داسې قسم څه آيت زمونږ متعلق نه دې نازل شوې.

[٣١٩] بَاب: قَوْلِهِ فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ

قَالُوا هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهِ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَارِضٌ السَّحَابُ

[٤٥٥١] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عِيسَى حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنَا عَمْرٌو أَنَّ أَبَا النَّضْرِ حَدَّثَهُ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَاحِكًا حَتَّى أَرَى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ قَالَتْ وَكَانَ إِذَا رَأَى غَيْمًا أَوْ رِيحًا عُرِفَ فِي وَجْهِهِ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الْغَيْمَ فَرِحُوا رَجَاءَ أَنْ يَكُونَ فِيهِ الْمَطَرُ وَأَرَاكَ إِذَا رَأَيْتَهُ عُرِفَ فِي وَجْهِكَ الْكَرَاهِيَةُ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ مَا يُؤْمِنِّي أَنْ يَكُونَ فِيهِ عَذَابٌ عُذِّبَ قَوْمٌ بِالرِّيحِ وَقَدْ رَأَى قَوْمٌ الْعَذَابَ فَقَالُوا هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا

[٣٢٠] باب: تفسير سُورَةُ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم

أَوْزَارَهَا آثَامَهَا حَتَّى لَا يَبْقَى إِلَّا مُسْلِمٌ عَرَّفَهَا بَيَّنَهَا وَقَالَ مُجَاهِدٌ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَلِيُّهُمْ فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ أَيْ جَدَّ الْأَمْرُ فَلَا تَهِنُوا لَا تَضْعُفُوا وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَضْغَانَهُمْ حَسَدَهُمْ آسِنٍ مُتَغَيِّرٍ

قوله: أَوْزَارَهَا آثَامَهَا حَتَّى لَا يَبْقَى إِلَّا مُسْلِمٌ:

ذ "حتى تضع الحرب اوزارها"، **معنى:** په آيت مبارک کښې دی ﴿حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا﴾ دا يا

(١) عمدة القارى ١٩/١٦٩؛ وفتح البارى-٨/٥٧٧:

خو "ضرب الرقاب" غایت دې یا "شدالوثاق" او یا "فاما منا بعد واما فداء" غایت دې، مطلب دا چه دا احکام به هغه وخت باقی پاتې کیږی ترکومې چه ټول په ټول ختم نشی او صرف مسلمانان باقی پاتې شی. په آیت کښې "اوزار" "وزر" جمع ده د کوم معنی چه د بوج راځی.

امام بخاری رحمه الله "اوزار" تفسیر آثام یعنی ګناهونو سره کړیدې. په دې صورت کښې به ترجمه وی "تردې چه جنګ خپل ګناهونه کیږدی" یعنی چه جنګ ختم شی او ترکومې چه جنګ کیږی نو عام توګه باندې به طرفینوکښې ضرور د یو طرف نه د ګناه ارتکاب کوی چه په ناحقه او باطل باندې جنګیږی. او دا مطلب هم کیدیشی چه جنګ کونکی قوم د جنګ ګناه ختمه کړی په دې طریقه د کفر او شرک نه توبه اوباسی، نوعلامه عینی رحمه الله دا دواړه معنې بیانولو سره فرمائی: "تضع الحرب اوزارها: ای اثامها واجرامها، فیرتفع، وینقطع الحرب، لان الحرب لایخلومن الاثم فی احدالجانبین، وقیل: معناه: حتی یضع القوم المحاربون اوزارها اثامها، بان یتوبوامن کفرهم، ویؤمنوا بالله ورسوله[1] لیکن جمهورمفسرین "اوزارها" تفسیر په وسله سره کوی اود آیت مفهوم داسې بیانوی چه قتل او قتال او د قیداوبندسلسله به هغه وخت پورې دې جاری وی ترکومې پورې چه دښمن خپله وسله کینږدی.[2]

د کلماتو تشریح:

قوله: عَرَّفَهَا بَيَّنَهَا: په آیت مبارك کښې دی (وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ) په دې کښې عرفها معنی ده بینها یعنی دوی به جنت ته داخل کړی د کوم چه به دوی ته پیژندګلو اوکړی) هرجنتی به خپل مقام او کور اوپیژنی)

قوله: مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَلِيُّهُمْ: دا (ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ لَا مَوْلٰى لَهُمْ) د مسلمانانو کامیابی او کافرانو تباهی) د دې وجه نه ده چه الله تعالی د مسلمانانو کارساز دې او د کافرانو څوك کارساز نشته، فرمائی په آیت کښې مولی په معنی د ولی دې.

قوله: عَزَمَ الْأَمْرُ أَيْ جَدَّ الْأَمْرُ: آیت کښې دی (فَاِذَا عَزَمَ الْاَمْرُ فَلَوْ صَدَقُوا اللّٰهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ) نو بیا چه کله د کار تاکید وی نو که الله تعالی سره رښتونی وی نو د هغوی خیګړه ده. فرمائی عزم الامر معنی ده جدالامر یعنی معامله پخه شوه. علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله لیکی: "یعنی په ظاهره داخلق حکم منونکی او په ژبه د اسلام احکام او د اسلام اقرار کوی خود کارخبره دا ده چه عملاً د الله او رسول خبره اومنی او خبره ښه او معقول اوکړی. بیا چه کله په جهاد وغیره کښې د کار تاکید او زور راشی هغه وخت د الله تعالی په وړاندې رښتونی ثابت شی نو دا صورت به د هغوی د بهترئی او خیګړې وی. حضرت شاه صاحب لیکی: د

---

[1] عمدة القاری-۱۹/۱۷۱:

[2] فتح الباری-۸/۵۷۹:

شریعت حکم نه منلوسره کافر کیږی، دَ الله تعالی حکم په هر شان منل پکار دی. نوبیا خو رسول صلی علیه وسلم هم پوهیږی چه ویریدونکی ولې جنګوی خو چه کله ډیر تاکید راشی نو هغه وخت به جنګیدل ضروری وی او که نه وی نو جنګ کونکی خو ډیر دی.

قوله: فَلَا تَهِنُوا لَا تَضْعفُوا: په آیت مبارک کښې دی (وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ) نو(ای مسلمانانو) تاسو(دکافرانوپه مقابله کښې) همت مه بانیلئی او(همت بائیللو سره) دَ صلح طرف ته مه راغواړئی او هم تاسو به غالب ئی که چرې تاسو(حقیقتاً) مؤمن ئی، فرمائی آیت کښې لاتهنوا معنی ده تاسو ضعیف اوکمزوری مه جوړیږئی.

قوله: أَضْغَانَهُمْ حَسَدَهُمْ: آیت کښې دی (اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ اَضْغَانَهُمْ) دَ کوموخلق په زړونوکښې چه مرض(نفاق) دې(اودَ دې دَ پټولوکوشش کوی) نو آیا داخلق خیال کوی چه الله تعالی به چرې دَ دوی دَ زړه عداوت نه ښکاره کوی. فرمائی په آیت کښې دَ (لَاتَهِنُوْا) معنی ده دَ هغوی حسد او بغض.

قوله: آسِنٍ. مُتَغَيِّرٍ: په آیت مبارک کښې دی (فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ) په دې کښې ډیر نهرونه خودَ داسې اوبو دی کوم چه کښې به چه لږ تغیر نه وی. فرمائی په آیت کښې اسن په معنی دَ متغیر دې یعنی دَ دې اوبو په رنګ کښې، بوئی او خوند کښې به هیڅ قسم تغیر نه وی.

[۳۲۱] بَاب وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ

[۴۵۵۲](۱)، واخرجه مسلم فی الادب، باب الصلة وتحریم قطیعتها رقم الحدیث: ۲۵۵۴- حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ قَالَ حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي مُزَرِّدٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَلَقَ اللَّهُ الْخَلْقَ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْهُ قَامَتِ الرَّحِمُ فَأَخَذَتْ بِحَقْوِ الرَّحْمَنِ فَقَالَ لَهُ مَهْ قَالَتْ هَذَا مَقَامُ الْعَائِذِ بِكَ مِنَ الْقَطِيعَةِ قَالَ أَلَا تَرْضَيْنَ أَنْ أَصِلَ مَنْ وَصَلَكِ وَأَقْطَعَ مَنْ قَطَعَكِ قَالَتْ بَلَى يَا رَبِّ قَالَ فَذَاكِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ حَدَّثَنِي عَمِّي أَبُو الْحُبَابِ سَعِيدُ بْنُ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ بِهَذَا ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ فَهَلْ عَسَيْتُمْ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي الْمُزَرِّدِ بِهَذَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

[1])وایضا فی التفسیر باب وربک فکبر. رقم الحدیث۴۶۴۲-۴۶۴۱: وفی الادب باب من وصل وصله الله. رقم الحدیث۵۹۸۷:)مع الفتح (وفی التوحید. باب قوله تعالی یریدون ان یبدلواکلام الله. رقم الحدیث۷۵۰۲:)مع الفتح (واخرجه النسائی فی التفسیر. باب قوله تعالی :فهل عسیتم ان تولیتم ان تفسدوا فی الارض وتقطعوا ارحامکم. رقم الحدیث۱۱۴۹۷/۱:

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ فَهَلْ عَسَيْتُمْ

حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی کله چه الله تعالى دَ مخلوق دَ پيدائش نه فارغ شو نو رحم يعني رشته داری راپاسيده او دَ الله تعالى لمن ئې اونيوله، الله تعالى دې ته اوفرمائيل چه څه دی؟ عرض ئې اوکړو چه دَ قطع رحمي نه ستا پناه غواړم. الله تعالى ارشاد اوفرمائيلو چه ته په دې راضي نه ئې چه څوك ساتي نو زه هغه اوساتم او څوك چه تاپريږدی نو زه هغه پريږدم، دې وئيل ولې نه. الله تعالى اوفرمائيل چه هم داسې به وی. حضرت ابوهريره) اوفرمائيل که ستا زړه غواړی نو دا آيت اولوله (فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ....)

قوله: فلما فرغ منه، قامت الرحم: رحم دَ رحمت نه مشتق دې.خپلولئی او رشته دارئی ته وائی قرابت عرض دې دلته د دې طرف ته دَ قيام نسبت شويدې.ممکن دی چه الله تعالى دې ته بدن ورکړې وی او دا هم ممکن ده چه فرښتې په اودريدو سره دَ دې ترجمانی کړې وی اودا هم ممکن دی چه دا کلام په خپله حقيقي معنى کښې نه دَ تشبيه يا تمثيل په توګه وی لکه چه وړاندې راځی.

قوله: فأخذت بحقو الرحمن:

د "فاخذت بحقو الرحمن،، معنی: حقو (دَ حاء زبر او دَقاف غړوندی سره) معقد ازار ته وائی يعنی دَ ازار تړلو ځائ اوبه ازار باندې هم دَ دې اطلاق کيږی. داجمله په خپله حقيقي معنى باندې محمول نه ده ځکه چه الله تعالى دَ ازار او معقد ازار وغيره څيزونونه پاك او منزه دې. بلکه دا کلام دَ عربو يو مخصوص تعبير مخې ته کيخودلو سره کړيدې. دَ عربو دا عادت وو چه کله به يو سړې دَ چا په پناه کښې راغلو اويا دَ هغه دَ امداد خواهش مند وو نودَ خپل مقصد دَ اهميت په وړاندې هغه به دَ دې دَ پاره دا طريقه اختيارولـه چه دَ هغه سړی په حقوازار باندې به ئې دواړه لاسونه کيخوده دَ چا به چه امداد کول وو يا هغه چه دَ ده په پناه کښې به راغلو نو دغه شان به هغه متوجه شو. دلته چه کومه خبره بيانول مقصود دی نو هغه دَ عربو دَ طرزکلام دَ مثال په شکل کښې واضحه کړيشوه. نو رشته داری دَ خپلې پريکيدونه دَ الله تعالى پناه غوښتلو مفهوم دَ استعارې په توګه په مذکوره عبارت کښې بيان کړيشويدې. ګنی لغوی توګه باندې دا الفاظ په خپل حقيقي معنى کښې دلته صادق نه راځی. دا هم داسې ده لکه چه عربوکښې کله دَ چا باره کښې وئيلې کيږی چه "يداه مبسوطتان" نو دې نه مراد سخاوت يا فياضی ښکاره کول وی. که دَ هغه لاس هم نه وی ياداسې ذات وی دَ چا دَ پاره چه دَ لاس وجود کيدل محال وی لکه الله تعالى).

خلاصه دا شو چه دَ عربوپه کلام کښې ډير داسې الفاظ استعماليږی چه هغه په خپله حقيقي معنى کښې نه وی بلکه په دوئم مفهوم کښې وی. چونکه دَ قرآن نزول او دَ نبي کريم ﷺ دَ احاديثو صدور هم دَ عربو په طرز کلام ، هم دَ هغوی په طريقه او هم دَ هغوی دَ محاورې مطابق شويدې، په دې وجه په قرآن او حديث کښې دا قسمه الفاظ چه په کوم دَ متشابهاتواطلاق کيږی دَ هغې په تاويل او وضاحت کښې دا خبره په ذهن کښې ياد ساتل

پکار دی چه رشته داري يوه معنى ده دَ دې دَ پاره قيام کول، پناه غوښتل، يوځائ کول او پريکول دا ټول الفاظ دَ تمثيل او تشبيه دَ پاره دی. په دې سره هغه خبره واضحه کوی چه رحم لکه چه يوه هستي ده يا دَ يو داسې سړی په شان ده چه ولاړ وی او دَ الله تعالى دَ عظمت لمن اونيسي او دَ پناه غوښتونکې وی، دينه رشته دارئ او خپلولئی فضيلت ثابتول او دَ قطع رحمئی خراب والی کول مقصودی. علامه طيبی رحمه الله دَ دې حديث په شرح کښې ليکی: وهذا القول مبنى على الاستعارة التمثيلية، كانه شبه حالة الرحم وما هى عليه من الافتقار الى الصلة والذب عنها بحال مستجير ياخذ بحقو المستجار به، ثم اسند على سبيل الاستعارة التخييلية ما هو لازم المشبه به من القيام، فيكون قرينة مانعة من ارادة الحقيقة، ثم رشحت الاستعارة بالقول والاخذ وبلفظ الحقو فهو استعارة اخرى (١)

دَ روايت په آخرکښې دا آيت دې (فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ) حضرت شيخ الهند رحمه الله (تَوَلَّيْتُمْ) ترجمه دَ حکومت ملاويدلوسره کړيده، دَ هغوی ترجمه دا ده. "بيا ستاسو نه دا هم توقع ده که چرې تاسو ته حکومت ملاؤ شی نو په ملك کښې به خرابی واچوئی او خپلې رشته دارئی به ختمې کړئی" مولانا شبيراحمد عثمانی رحمه الله دَ دې په تحت کښې ليکی: "يعنی دَ حکومت او اقتدار په نشه کښې خلق عموماً په اعتدال او انصاف باندې نه قائميږی، دَ دنيا حرص نور هم زياتيږی، بيا دَ شان اوشوکت کشمکش او غرض پرستئی کښې جګړې اودروی، دَ څه چه آخری نتيجه دا کيږی چه عام فتنه او فساد او دَ يوبل سره تعلق ختمول".

نور علماء "تولی" په معنى دَ اعراض اخستلو سره دا مطلب اخلی چه که ته دَ الله تعالى په لار کښې دَ جهاد نه ډډه کوې نو ښکاره خبره ده چه په دنياکښې به امن او انصاف نشي قائم کيدې او چه کله امن او انصاف نشی قائميدې نو ظاهره ده چه فساد او بدامنی او دَ حق نه پيژندلو راج به وی.

او بعضوداسې تفسيرکړيدې که چرې تاسو دَ ايمان راوړلونه اعراض او ډډه کوئی نودَ جاهليت دَ زمانې کيفيت به په منډه راشي چه کوم خرابې او فساد په هغه وخت کښې وو او په وړه او معمولی خبره به رشتې او خپلولئی ختميدې هم هغه ټوله نقشه به بيا قائمه شی.

او که په آيت کښې دَ خاص منافقينوته خطاب اومنلې شی نو يومطلب داهم کيدیشی که دَ جهاد نه اعراض کوئی نو تاسو نه هم دا توقع کيدیشی چه په خپلو منافقانه شيطانو سره به په ملك کښې خرابی خوره کړئی او دَ کومو مسلمانانوسره چه ستاسو خپلولئی دی دَ هغې بالکل پرواه نه کولوسره به په کولاؤ دَ کافرانو امداديان جوړيږئی.(٢)

(١) اوګورئی شرح الطيبی ٩/١٥٣ :، کتاب الادب، باب البروالصلة بتغيير الالفاظ. وعمدة القاری-١٧٣/١٩:
(٢)تفسير عثمانی ٦٧٦:فائده نمبر-٧

[۳۲۲] باب: تفسير سورة الفتح

وَقَالَ مُجَاهِدٌ بُورًا هَالِكِينَ سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمُ السَّحْنَةُ وَقَالَ مَنْصُورٌ عَنْ مُجَاهِدٍ التَّوَاضُعُ شَطْأَهُ فِرَاخَهُ فَاسْتَغْلَظَ غَلُظَ سُوقِهِ السَّاقُ حَامِلَةُ الشَّجَرَةِ وَيُقَالُ دَائِرَةُ السَّوْءِ كَقَوْلِكَ رَجُلُ السَّوْءِ وَدَائِرَةُ السُّوءِ الْعَذَابُ تُعَزِّرُوهُ تَنْصُرُوهُ شَطْأَهُ شَطْءُ السُّنْبُلِ تُنْبِتُ الْحَبَّةُ عَشْرًا أَوْ ثَمَانِيًا وَسَبْعًا فَيَقْوَى بَعْضُهُ بِبَعْضٍ فَذَاكَ قَوْلُهُ تَعَالَى فَآزَرَهُ قَوَّاهُ وَلَوْ كَانَتْ وَاحِدَةً لَمْ تَقُمْ عَلَى سَاقٍ وَهُوَ مَثَلٌ ضَرَبَهُ اللَّهُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ خَرَجَ وَحْدَهُ ثُمَّ قَوَّاهُ بِأَصْحَابِهِ كَمَا قَوَّى الْحَبَّةَ بِمَا يُنْبِتُ مِنْهَا

د كلماتو تشريح:

قوله: سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمُ السَّحْنَةُ: آيت كښې دى ﴿سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ﴾ دَ سجدو په اثر سره دَ هغوی په مخونوباندې نښې ښكاره دى، په دې كښې ﴿سِيمَا﴾ ترجمه امام السحنة سره كړيده دَ كوم معنى چه دَ خرمنې نرمې او تازګى راځى. دَ سين زبر او زير دواړو سره لوستلې كيږى. منصور دَ مجاهدرحمه الله نه دَ دې معنى دَ تواضع نقل كړيده يعنى دَ سجدو دَ اثر په وجه دَ هغوى په مخونو باندې عاجزى انكسارى او تواضع ښكاره كيږى. او دريم مطلب دا هم بيان كړيشويدې چه دَ سجدې دَ اثر په وجه دَ هغوى په مخونوكښې دَ سجدې نښې وى.

قوله: فَاسْتَغْلَظَ : غَلُظَ: آيت كښې دى ﴿فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ﴾ فرمائى دې كښې "استغلظ" معنى غَلُظَ يعنى پيړشوې.

قوله: شَطْأَهُ: فراخه: ﴿كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ﴾ دَ بوټى په شروع كښې چه كومه ستن راوخى هغې ته شطا وائى.

قوله: دَائِرَةُ السَّوْءِ كَقَوْلِكَ رَجُلُ السَّوْءِ وَدَائِرَةُ السُّوءِ الْعَذَابُ: په آيت كښې دى ﴿عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ﴾ دې كښې دَ ﴿دَائِرَةُ السَّوْءِ﴾ نه عذاب مراد دې. خراب ګردش، "سوء" كه دَ سين زبر سره وى نو مضاف اليه واقع كيږى.

قوله: تُعَزِّرُوهُ: تَنْصُرُوهُ : په آيت مبارك كښې دى ﴿لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُعَزِّرُوهُ﴾ دې كښې "تعزروه" معنى ده تاسو دَ دوى مدد كوئى.

قوله: شَطْأَهُ شَطْءُ السُّنْبُلِ تُنْبِتُ الْحَبَّةُ عَشْرًا.... فَيَقْوَى بَعْضُهُ بِبَعْضٍ : ﴿أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ﴾ فرمائى شطاه كښې ضمير "سنبل" طرف ته راجع دې. سنبل يعنى دَ وږى ستن..... يوه دانه كله لس، كله آته او كله اووه وږى او ښاخونه راټوكوى. بيا هريو ته په بل سره مضبوطيا ملاويږى. هم دَ دې ذكر "فازره" كښې الله تعالى كړيدې. دَ دې معنى "قواه" ده. كه چرې هم يو وږې ښكاره كيدو نو هغه به په يوه تنه باندې نشو قائميدې. دا مثال الله تعالى نبى

کریم ﷺ دَ پاره بیان کړې ووچه په شروع کښې که خو ته یواځې وتلې وې، بیا الله تعالی دَ صحابه کرامو ﷺ سره مضبوطیا او تقویت درکړو لکه چه یوې دانې ته الله تعالی هم دَ هغه ځیز نه قوت ورکړی چه کوم دَ دادنې نه راټوکیږی.

[۳۲۳] بَاب: إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا

[۴۵۵۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسِيرُ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ وَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَسِيرُ مَعَهُ لَيْلًا فَسَأَلَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَنْ شَيْءٍ فَلَمْ يُجِبْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ سَأَلَهُ فَلَمْ يُجِبْهُ ثُمَّ سَأَلَهُ فَلَمْ يُجِبْهُ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ثَكِلَتْ أُمُّ عُمَرَ نَزَرْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ كُلَّ ذَلِكَ لَا يُجِيبُكَ قَالَ عُمَرُ فَحَرَّكْتُ بَعِيرِي ثُمَّ تَقَدَّمْتُ أَمَامَ النَّاسِ وَخَشِيتُ أَنْ يُنْزَلَ فِيَّ قُرْآنٌ فَمَا نَشِبْتُ أَنْ سَمِعْتُ صَارِخًا يَصْرُخُ بِي فَقُلْتُ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ يَكُونَ نَزَلَ فِيَّ قُرْآنٌ فَجِئْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ لَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ سُورَةٌ لَهِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ ثُمَّ قَرَأَ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا

[۴۵۵۴] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ سَمِعْتُ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا قَالَ الْحُدَيْبِيَةُ

[۴۵۵۵] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ قُرَّةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَرَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ سُورَةَ الْفَتْحِ فَرَجَّعَ فِيهَا قَالَ مُعَاوِيَةُ لَوْ شِئْتُ أَنْ أَحْكِيَ لَكُمْ قِرَاءَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَفَعَلْتُ

[۳۲۴] بَاب: لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا

د ایت کریمه متعلق یو اشکال او دهغې جوابات: دلته کښې اشکال کیږی چه فتح دَ الله تعالی نعمت دې او په نعمت باندې شکر مرتب کیدل پکار دی دلته کښې دَ شکر په ځائې مغفرت مرتب کړیشویدې. حضرت انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه کیدیشی دَ شکر او مغفرت په مینځ کښې څه معنوی مناسبت وی. دَ دې مناسبت په وجه دَ یو بل په ځائې ایږدی. دَ مانځه نه پس دَ استغفار حکم ورکړې دې خو هغه دَ شکر موقع ده. دونمه خبره دا ده چه دَ انبیاء کرام ﷺ په حق کښې دَ دنیا او آخرت نعمتونه خود امین په شکل کښې وی. هغوی دَ دنیاوی نعمت سره سره دَ په اخروی نعمت هم کامیابولې شی. چونکه دَ مکې دَ فتح ذکر په آیت کښې اوشو چه یو دنیاوی نعمت دې نو دې سره سره دَ اخروی نعمت هم ذکر اوکړیشو چه مونږ ته مغفور اوګرځولې.(۱) خودلته ته دا اشکال کیږی که دَ مکې فتح دنیاوی نعمت

---

(۱) فیض الباری-۴/۲۲۳:

دې اودې سره د اخروى نعمت مغفرت ذكر كولې شى نو بيا دا لام د تعليل څه د پاره دې؟
امام رازى رحمه الله د دې جواب دا ليكې چه په اصل كښې د مكې فتح د حج سبب جوړشو. د مكې دفتح نه وړاندې د مسلمانانود پاره حج ممكن نه وو څكه چه د مشركانو هلته تسلط وو.د مكې د فتح نه د حج لار كولاؤ شوه اوحج د ګناهونود مغفرت سبب دې. د دې د پاره الله تعالى (إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ....) نه پس (مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ) ذكر اوكړلو (١)
او حضرت تهانوى رحمه الله فرمائى د فتح مبين دې مغفرت د پاره سبب كيدلو وجه دا ده چه دې فتح مبين نه ډير خلق ډلې ډلې په اسلام كښې داخليږى اود اسلام د دعوت عام كيدل د هغوى عليه السلام د ژوند مقصدعظيم او د هغوى عليه السلام اجر او ثواب ډير زياتونكې دې او د اجر او ثواب زياتوالې سبب وى د ګناهونو د كفارې. (٢) بعض حضراتوونيلى دى دلته په حقيقت كښې عبارت محذوف دې او هغه دې (إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ، فَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ)
حافظ جلال الدين سيوطى رحمه الله فرمائى چه دا آيت د دنياوى او اخروى نعمتونود پاره جامع دې. د دنياوى نعمتونو بيا دوه قسمه دى يو هغه وى چه د كوم تعلق دين سره هم وى او دونم هغه چه هغه خالص دنياوى شميرلې كيږى (وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا) كښې الله تعالى د دې دنياوى نعمت ذكركړيدى د كوم چه دين سره تعلق دې. د صراط مستقيم هدايت يو ډير لوئ نعمت دې او دا په دنياكښې وركړيشويدې ليكن د دې تعلق دين سره دې چه په دې سره د انسان د دين حفاظت كيږى (وَيَنْصُرَكَ اللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا) كښې الله تعالى د دې نعمت ذكر كوى چه په ظاهره دنيا سره تعلق لرى او خالصا دنيا سره د دې ربط دې. د اخروى نعمتونو هم دوه قسمه دى يو ثبوتيه او دونم سلبيه (لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ...) كښې د نعم اخرويه سلبيه ذكر دې (وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ) كښې نعم اخرويه ثبوتيه ذكر دې. په دې كښې دې نعمتونو طرف ته اشاره ده د كوم چه په حديث كښې ذكر فرمائيلې شويدې "مالاعين رات، ولااذن سمعت، ولاخطرعلى قلب بشر" دې كښې د الله تعالى رضا هم داخله ده او د الله تعالى جل شانه رويت او ديدار هم په كښې شامل دې.

[۴۵۵۶] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا زِيَادٌ هُوَ ابْنُ عِلَاقَةَ أَنَّهُ سَمِعَ الْمُغِيرَةَ يَقُولُ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهُ فَقِيلَ لَهُ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا
حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَحْيَى أَخْبَرَنَا حَيْوَةُ عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ سَمِعَ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُومُ مِنَ اللَّيْلِ حَتَّى تَتَفَطَّرَ قَدَمَاهُ فَقَالَتْ عَائِشَةُ لِمَ تَصْنَعُ هَذَا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَقَدْ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ

(١) تفسير كبير-٢٨/٧٨:
(٢) بيان القران ١٨/٢:) جلد-(١١

وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَفَلَا أُحِبُّ أَنْ أَكُونَ عَبْدًا شَكُورًا فَلَمَّا كَثُرَ لَحْمُهُ صَلَّى جَالِسًا فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ فَقَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ

قوله: فَلَمَّا كَثُرَ لَحْمُهُ صَلَّى جَالِسًا:

د "فلما كثر لحمه، صلى جالسا، معنى: داؤدى په دې اشكال كړيدې چه صحيح "فلمابدن" دې بدن معنى راځى اسن كله چه د هغوى) عمر زيات شو. راوى روايت بالمعنى كولوسره د خپل طرف ته بدن ترجمه "كثرلحمه" سره كړيده. ابن جوزى رحمه الله هم په دې باندې اشكال كړيدې او وئيلى دى چه "كثرلحمه" صحيح نه دې ځكه چه نبى كريم ﷺ په اوصافوكښې دا چا هم نه دى نقل كړى چه د هغوى ﷺ اندامونه چاق وو، او د هغوى) اندامونه څنګه چاقيديشو چه هغوى) خوكله په ورځ دوه ځل د اوربشو روټئى په مړه خيټه نه خوړلې. نو ظاهرى همدغه معلوميږى چه راوى د خپل طرف ته "بدن" ته "كثرلحمه" سره تعبير كړې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى په راوى باندې دا قسمه ګمان كول خلاف ظاهر دې. د ابن جوزى رحمه الله دا ويناچه رسول الله ﷺ په ورځ كښې دوځل په مړه خيټه خوراك نه دې خوړلى نو په دې وجه هغوى چاقيدې نشى محل نظر دې، ځكه چه دا د رسول الله ﷺ په معجزاتوكښې هم شميرلې كيديشى. د ولږې سره به هغوى ﷺ يوشپه كښې نهه ازواج مطهراتو له ورتلو، نو چه د ولږې سره دا ممكن ده نو د كم خوراك نه باوجود هم جسم اطهر كښې كثرت لحم څنګه ناممكن كيديشى. د ابن جوزى رحمه الله په قول ردكولو سره حافظ رحمه الله ليكى: "وفى استدلاله بانه لم يشبع من خبز الشعير نظر، فانه يكون من جملة المعجزات، كما فى كثرة الجماع، وطوافه فى الليلة الواحدة على تسع، واحدى عشرة مع عدم الشبع، وضيق العيش، واى فرق بين الكثير المنى مع الجوع وبين وجود كثرة اللحم فى البدن مع قلة الاكل (۱) په دې وجه روايت كښې "فلما كثرلحمه" ته غلط وئيل او راوى ته بد فهم وئيل صحيح نه دى، خو دومره خبره ده چه د هغوى) بدن مبارك كښې داسې چاقوالې نه ووكوم سره چه د هغوى په حسن او جمال كښې كمې يا خلل واقع شوې وو.

[٣٢٥] بَاب إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا

[٤٥٥٨] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ هِلَالِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ هَذِهِ الْآيَةَ الَّتِي فِي الْقُرْآنِ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا قَالَ فِي التَّوْرَاةِ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَحِرْزًا لِلْأُمِّيِّينَ أَنْتَ عَبْدِي وَرَسُولِي سَمَّيْتُكَ الْمُتَوَكِّلَ لَيْسَ

---

(۱) فتح البارى-۸/۵۸۵ :

بفظٍ ولا غلیظٍ ولا سخّاب بالأسواق ولا یدفع السیّئة بالسیّئة ولکن یعفو ویصفح ولن یقبضه الله حتّی یقیم به الملّة العوجاء بأن یقولوا لا إله إلا الله فیفتح بها أعینا عمیا وآذانا صما وقلوبا غلفا

د سند توضیح: دَ ابوذر او ابوعلی بن سکن په روایت کښې عبدالله بن مسلمه دې (۱)دې نه علاوه په باقي روایاتوکښې "عبدالله" دې دَ پلار نوم نی ذکر نه دې، ابوعلی جیانی وئیلی چه دا عبدالله بن صالح دې، جافظ مزی دې ته ترجیح ورکړیده.دَ ترجیح وجه هغوی داذکر کړې چه امام بخاری رحمه الله بالکل هم دا حدیث په خپل کتاب "الادب المفرد" کښې "عبدالله بن صالح عن عبد العزیز" په سند سره نقل کړیدې دَ کوم نه چه معلومیږی چه دلته هم دَ عبدالله نه عبدالله بن صالح مراد دې(۲) خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائیلی دی چه دَامام بخاری رحمه الله دا روایت دَ عبدالله بن صالح نه نقل کولوسره دا لازم نه راځی چه دلته په بخاری کښې هم دَ ده نه نقل کړیدې ځکه چه ډیرځلې هم یو روایت دَ دوو مختلف شیخانونه امام نقل کوی (۳)دا روایت په کتاب البیوع کښې تیرشویدې.(۴)-

[۳۲۶]بَاب هُوَ الَّذِی أَنْزَلَ السَّکِینَةَ فِی قُلُوبِ الْمُؤْمِنِینَ

[۴۵۵۹]حَدَّثَنَا عُبَیْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَی عَنْ إِسْرَائِیلَ عَنْ أَبِی إِسْحَاقَ عَنْ الْبَرَاءِ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَیْنَمَا رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِیِّ صَلَّی اللَّهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقْرَأُ وَفَرَسٌ لَهُ مَرْبُوطٌ فِی الدَّارِ فَجَعَلَ یَنْفِرُ فَخَرَجَ الرَّجُلُ فَنَظَرَ فَلَمْ یَرَ شَیْئًا وَجَعَلَ یَنْفِرُ فَلَمَّا أَصْبَحَ ذَکَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِیِّ صَلَّی اللَّهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ السَّکِینَةُ تَنَزَّلَتْ بِالْقُرْآنِ

د سکینه په تفسیر کښې مختلف اقوال: په دې روایت کښې چه دَ کوم سړی واقعه بیان شویده هغه مشهور صحابی حضرت اسید بن حضیر) دې. دَ سکینې متعلق دَ علماؤ مختلف اقوال دی. مشهور قول دا دې چه سکینه یو معنوی څیز دې چه دَ سکون او اطمینان کیفیت سره په انسان باندې دَ الله تعالی دَ طرف نه نازلیږی(۵) بعضو وئیلی دی چه دا دَ اووه فرښتودَ یوې ډلې نوم دې .

علامه نووی رحمه الله فرمائیلی چه دا یو خاص مخلوق وی په چا کښې چه طمانیت او رحمت وی او دې سره دَ ملائکو ډله هم وی (۶)- امام راغب فرمائی چه دا فرښته وی چه دَ مؤمن زړه

---

(۱)فتح الباری-۸/۵۸۵ :

(۲) فتح الباری۸/۵۸۵ :و عمدة القاری-۱۹/۱۷۸

(۳)فتح الباری-۸/۵۸۵ :

(۴)صحیح بخاری،کتاب البیوع، باب کراهة السخب فی السوق

(۵)تفسیرروح المعانی-۱۲/۱۱۲ :

(۶)مجمع بحار الانوار ۳/۹۴ :وشرح مسلم للنووی ۱/۲۶۸کتاب فضائل القران، باب نزول السکینة الراءة القران

ته سكون او اطمينان رسوى(¹) يو قول دا هم دي چه سكينه دَ زړه نه دَ رعب او ويرې ختميدلو نوم دې(²)

[۳۲۷]بَاب قَوْلِهِ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ

[۴۵۶۰]حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ أَلْفًا وَأَرْبَعَمِائَةٍ

[۴۵۶۱](³)حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا شَبَابَةُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ عُقْبَةَ بْنَ صُهْبَانَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ الْمُزَنِيِّ إِنِّي مِمَّنْ شَهِدَ الشَّجَرَةَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْخَذْفِ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ صُهْبَانَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مُغَفَّلٍ الْمُزَنِيَّ فِي الْبَوْلِ فِي الْمُغْتَسَلِ يَأْخُذُ مِنْهُ الْوَسْوَاسُ

د سند توضيح: په دې حديث كښې "انى ممن شهد الشجرة" تعلق ترجمة الباب نه دې، دې نه پس دوه حديثونه يو مرفوع او دوئم موقوف ذكر كړيدې. اودَ دواړو تعلق ترجمة الباب نه نه دې.

---

¹) المفردات للراغب-۲۳۷:

²) المفردات للراغب ۲۳۷:وقال ابن الاثير فى النهاية فى غريب الحديث:۲/۳۸۶ :السكنة التى ذكرها الله فى كتابه العزيز، قيل فى تفسيرها انها حيوان له وجه كوجه الانسان مجتمع، وسائرها خلق رقيق كالريح والهواء، وقيل :هى صورة كالهرة كانت معهم فى جيوشهم، فاذاظهرت، انهزم اعداوٴ هم، وقيل :هى ماكانوا يسكنون اليه من الايات التى اعطيهاموسى عليه السلام .... وفى مجمع بحار الانوار ۳/۹۴ :المختار انهاشئ من مخلوقاته فيه طمانينة ورحمة، ومعه ملائكة، وقيل :الاظهر انها الملائكة، وقيل :هوما يحصل به السكون، وصفاء القلب،وذهاب الظلمة النفسانية، ونزول ضياء الرحمة، وحصول الذوق، وقيل، وقيل وقيل، وقال الشوكانى رحمه الله بعدسردالاقوال المختلفة" :هذه التفاسير المتناقضة وانظر الى جعلهم تارة حيوانا، وتارة جماداً، وتارة شيئاً لايعقل ......ولايصح ان يكون مثل هذه التفاسير المتناقضة مرواياعن النبى) ...... اذا تقررلک هذاعرفت ان الواجب الرجوع فى مثل ذلک الى معنى السكينة لغة، وهومعروف، ولاحاجة الى ركوب هذه الامور المتعسفة المتناقضة")وانظر فتح القدير -۱/۲۲۷ :سورة البقرة-(

³))وايضاً فى الذبائح والصيد، باب الخذف والبندقة رقم الحديث۵۴۷۹:، وفى كتاب الادب، باب النهى عن الخذف، رقم الحديث۶۲۲۰ . واخرجه مسلم فى الذبائح و باب اباحة الارنب، رقم الحديث۸۹۵۳:، واخرجه ابوداؤد فى الادب، باب فى الخذف رقم الحديث۵۲۷۰:، واخرجه ابن ماجه فى الصيد، باب النهى عن الخذف، رقم الحديث ،۳۲۲۷-۳۲۲۶ :والرواية الثانية اخرجهاالترمذى، باب ماجاء فى كراهية البول فى المغتسل رقم الحديث۲۱:، واخرجها ابوداؤد كتاب الطهارة رقم الحديث ۲۷:واخرجها ابن ماجه، باب كراهية البول فى المغتسل رقم الحديث ۳۰۳ :واخرجها النسائى فى الطهارة، باب كراهية الموت فى المستحم- ۱/۱۵

حدیث مرفوع دې "نهى النبى صلى الله عليه وسلم عن الخذف" يعنى هغوى ﷺ کانړي د ویشتلو نه منع اوفرمائیل. داحدیث وړاندې امام بخاری په کتاب الادب کښې تفصیلاً ذکر کړیدې. داحدیث مرفوع عقبه بن صیبان حضرت عبدالله بن مغفل) نه په طریقه د عنعنه نقل کوی. دینه پس امام دونم حدیث موقوف ذکرکړو، عقبه بن صهبان فرمائی چه ما د عبدالله بن مغفل) نه په غسل خانه کښې د میتیازو په باره کښې واوریدل(چه دینه منع شویده) امام بخاری رحمه الله دا موقوف حدیث ذکر کولو سره دا خودل غواړی چه د عقبه بن صهبان د عبدالله بن مغفل)نه د سماع تصریح نقل دی خکه چه په دې کښې "سمعت عبدالله بن مغفل" الفاظ دی. د دې موقوف حدیث باره کښې علامه عینی رحمه الله فرمائی:

وهذا أخرجه اصحاب السنن الأربعة، عن الحسن، عن عبدالله بن مغفل، ان النبى صلى الله عليه وسلم نهى ان يبول الرجل فى مستحمه، وقال: ان عامة الوسواس منه، وهذا لفظ الترمذى، أخرجه فى الطهارة عن على بن حجر، وأخرجه ابوداؤد فيه عن احمد بن حنبل .... وأخرجه النسائى فيه عن على بن حجر، وأخرجه ابن ماجه فيه عن محمد بن يحيى.[1]

[۴۵۶۲]حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ خَالِدٍ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ-رضى الله عنه-وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ.

[۴۵۶۳]حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِسْحَاقَ السُّلَمِيُّ حَدَّثَنَا يَعْلَى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ سِيَاهٍ عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ قَالَ أَتَيْتُ أَبَا وَائِلٍ أَسْأَلُهُ فَقَالَ كُنَّا بِصِفِّينَ فَقَالَ رَجُلٌ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُدْعَوْنَ إِلَى كِتَابِ اللَّهِ. فَقَالَ عَلِيٌّ نَعَمْ. فَقَالَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ اتَّهِمُوا أَنْفُسَكُمْ فَلَقَدْ رَأَيْتُنَا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ - يَعْنِي الصُّلْحَ الَّذِي كَانَ بَيْنَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَالْمُشْرِكِينَ - وَلَوْ نَرَى قِتَالاً لَقَاتَلْنَا، فَجَاءَ عُمَرُ فَقَالَ أَلَسْنَا عَلَى الْحَقِّ وَهُمْ عَلَى الْبَاطِلِ أَلَيْسَ قَتْلاَنَا فِي الْجَنَّةِ وَقَتْلاَهُمْ فِي النَّارِ قَالَ «بَلَى». قَالَ فَفِيمَ أُعْطِي الدَّنِيَّةَ فِي دِينِنَا، وَنَرْجِعُ وَلَمَّا يَحْكُمِ اللَّهُ بَيْنَنَا. فَقَالَ » يَا ابْنَ الْخَطَّابِ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ وَلَنْ يُضَيِّعَنِي اللَّهُ أَبَدًا». فَرَجَعَ مُتَغَيِّظًا، فَلَمْ يَصْبِرْ حَتَّى جَاءَ أَبَا بَكْرٍ فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ أَلَسْنَا عَلَى الْحَقِّ وَهُمْ عَلَى الْبَاطِلِ قَالَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ إِنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَلَنْ يُضَيِّعَهُ اللَّهُ أَبَدًا. فَنَزَلَتْ سُورَةُ الْفَتْحِ.

[۳۲۸]باب تفسير سورة الْحُجُرَاتِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ (لاَ تُقَدِّمُوا) لاَ تَفْتَاتُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى يَقْضِيَ اللَّهُ

[1]) عمدة القارى: ۱۹| ۱۷۹.

عَلَى لِسَانِهِ. (امْتَحَنَ) أَخْلَصَ. (تَنَابَزُوا) يُدْعَى بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ. (يَلِتْكُمْ) يَنْقُصْكُمْ، أَلَتْنَا نَقَصْنَا.

د کلماتو تشریح:

قوله: (لَا تُقَدِّمُوا) لَا تَفْتَاتُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حَتَّى يَقْضِيَ اللَّهُ عَلَى لِسَانِهِ: په آیت کښې دي (يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ) اې د ایمان خاوندانو! د الله تعالی او د هغه د رسول)اجازت نه) اول تاسو)په یوقول یا فعل کښې وړاندې والې مه کوئی. فرمائی آیت کښې "لاتقدموا" معنی ده "لاتفتاتوا" تاسو وړاندې کیږئ مه، تفتاتوافوت نه ماخوذ دې د کوم معنی چه وړاندې کیدل اود وخت تیریدلو ده.

قوله: يَلِتْكُمْ يَنْقُصْكُمْ: په آیت کښې دی (وَإِنْ تُطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَا يَلِتْكُمْ مِنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْئًا) اوکه تاسو د الله تعالی او د هغه د رسول صلی علیه وسلم وینا اومنئ نو الله تعالی به ستاسو د اعمالونه لږ شان هم کمې اونه کړی.

قوله: امْتَحَنَ أَخْلَصَ: په آیت کښې دی (إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ أُولَئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَى) بې شکه کوم خلق چه خپل آوازونه د رسول الله ﷺ په وړاندې ښکته ساتی نو دا هغه خلق دی د چا زړونه چه الله تعالی د تقوی د پاره خاص کړیدی، فرمائی آیت کښې امتحن معنی ده خالص کړی خوښ کړی.

[۳۲۹] بَاب لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ الْآيَةَ

تَشْعُرُونَ تَعْلَمُونَ وَمِنْهُ الشَّاعِرُ

[۴۵۶۴] حَدَّثَنَا يَسَرَةُ بْنُ صَفْوَانَ بْنِ جَمِيلٍ اللَّخْمِيُّ حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ عُمَرَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ كَادَ الْخَيِّرَانِ أَنْ يَهْلِكَا أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا رَفَعَا أَصْوَاتَهُمَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَدِمَ عَلَيْهِ رَكْبُ بَنِي تَمِيمٍ فَأَشَارَ أَحَدُهُمَا بِالْأَقْرَعِ بْنِ حَابِسٍ أَخِي بَنِي مُجَاشِعٍ وَأَشَارَ الْآخَرُ بِرَجُلٍ آخَرَ قَالَ نَافِعٌ لَا أَحْفَظُ اسْمَهُ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ لِعُمَرَ مَا أَرَدْتَ إِلَّا خِلَافِي قَالَ مَا أَرَدْتُ خِلَافَكَ فَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا فِي ذَلِكَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمُ الْآيَةَ قَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ فَمَا كَانَ عُمَرُ يُسْمِعُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ هَذِهِ الْآيَةِ حَتَّى يَسْتَفْهِمَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ ذَلِكَ عَنْ أَبِيهِ يَعْنِي أَبَا بَكْرٍ

قوله: تشعرون: تعلمون: ومنه الشاعر: په آیت کښې دی (وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ) فرمائی په دې کښې (تَشْعُرُونَ) په معنی د تعلمون دې او هم د دینه دې شاعر یعنی پیژندونکې. دامام بخاری رحمه الله د دې روایت نه معلومیږی چه ذکر شوې آیت د شیخینو حضراتو باره کښې نازل شویدې. خوولې ابن عطیه رحمه الله وائی چه مذکوره آیت د بنوتمیم د اعرابو متعلق نازل شویکې کله چه هغوی راغله اود رسول الله ﷺ په وړاندې په زوره خبرې شروع کړې او د

حضرات شیخین متعلق دابن جریج دَ روایت مطابق آیت ﴿یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَیْنَ یَدَیِ اللّٰهِ﴾ نازل شویدې.(۱) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په دواړو روایتونو کښې هیڅ تعارض نشته، سره دَ دې چه دَ حضرت عمر رضی الله عنه او حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه باره کښې آیت ﴿یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا﴾ نازل شویدې خودې آیت سره متصل وړاندې آیت ﴿یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَکُمْ﴾ دې په دې وجه حضرت عمر رضی الله عنه هم دَ دې آیت دَ وجه نه دَ هغوی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې په مزه دَ خبروکولو اهتمام شروع کړو(۲)

دَ ایت کریمه شان نزول: اودا هم ممکن دی چه ذکر شوی دواړه واقعات یو ځائې پیښې شوې وې. دَ حضرت عمر رضی الله عنه او حضرت ابوبکر رضی الله عنه په خبروکښې دَ هغوی آواز اوچت شو اودَ دواړو متعلق دا آیت نازل شو. دَ دې دَ پاره روایت باب او دَ آیت باب بهر حال یوبل سره تعلق دې او امام بخاری رحمه الله معمولی مناسبت او تعلق سره روایات ذکرکوی. دَ حضرات شیخین په مینځ کښې چه کومې خبرې اترې اوشوې دَ هغې تفصیل په کتاب المغازی کښې "وفدبنی تمیم" لاندې تیرشوې دې.(۳)

[۴۵۶۵] حَدَّثَنَا عَلِیُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا أَزْهَرُ بْنُ سَعْدٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ عَوْنٍ قَالَ أَنْبَأَنِی مُوسَى بْنُ أَنَسٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِیَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ افْتَقَدَ ثَابِتَ بْنَ قَیْسٍ فَقَالَ رَجُلٌ یَا رَسُولَ اللّٰهِ أَنَا أَعْلَمُ لَكَ عِلْمَهُ فَأَتَاهُ فَوَجَدَهُ جَالِسًا فِی بَیْتِهِ مُنَكِّسًا رَأْسَهُ فَقَالَ لَهُ مَا شَأْنُكَ فَقَالَ شَرٌّ كَانَ یَرْفَعُ صَوْتَهُ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَأَتَى الرَّجُلُ النَّبِیَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ قَالَ كَذَا وَكَذَا فَقَالَ مُوسَى فَرَجَعَ إِلَیْهِ الْمَرَّةَ الْآخِرَةَ بِبِشَارَةٍ عَظِیمَةٍ فَقَالَ اذْهَبْ إِلَیْهِ فَقُلْ لَهُ إِنَّكَ لَسْتَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَلَكِنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ

قوله: فقال رجل: یارسول الله، انا اعلم لك علمه: داسړې څوك وو حافظ بن حجر رحمه الله اوفرمائیل چه دا حضرت سعدبن معاذ) وو (۴)او په صحیح مسلم کښې هم دَ هغوی نوم دې(۵) خو حافظ ابن کثیر رحمه الله په دې باندې اشکال کړیدې چه حضرت سعد بن معاذ) دَ غزوه خندق نه پس په کال ۵هجری کښې شهیدشوې وو او دَ مذکوره آیت تعلق دَ بنی تمیم وفد سره دې. کوم چه په کال ۹هجری کښې دَ هغوی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضرشوې وو. په

---

(۱) فتح الباری-۸/۵۹۱ :
(۲) فتح الباری-۸/۵۹۱ :
(۳)کشف الباری،کتاب المغازی-۵۹۰:
(۴) فتح الباری-۸/۵۹۲ :
(۵) صحیح مسلم کتاب الایمان باب مخافة المؤمن ان یحبط عمله-۱/۷۵:

دي وجه په تاريخى لحاظ سره دَ حضرت سعدبن معاذ نوم اخستل صحيح نه دى (۱)ابن منذر په خپل تفسيركښې ليكلى دى چه دا سړې حضرت سعدبن عباده) وو(۲)اوابن جرير دَ عاصم بن عدى نوم اخستې دې(۳)اوبعضو دَحضرت ابومسعود انصارى) نوم اخستې دې(۴)

[۳۳۰]بَاب إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ

[۴۵۶۶]حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ أَخْبَرَهُمْ أَنَّهُ قَدِمَ رَكْبٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَمِّرْ الْقَعْقَاعَ بْنَ مَعْبَدٍ وَقَالَ عُمَرُ بَلْ أَمِّرْ الْأَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ مَا أَرَدْتَ إِلَى أَوْ إِلَّا خِلَافِي فَقَالَ عُمَرُ مَا أَرَدْتُ خِلَافَكَ فَتَمَارَيَا حَتَّى ارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا فَنَزَلَ فِي ذَلِكَ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ اللَّهِ وَرَسُولِهِ حَتَّى انْقَضَتْ الْآيَةُ

دلته هم امام دَ حضرات شيخين واقعه دَ دې آيت لاندې نقل كړيده، حالانكه مذكوره آيت دَ حضرات شيخين باره كښې نه دې نازل شوې بلكه دا دَ جفاة اعراب متعلق نازل شويدې. په هغوى چا په زوره سره "يامحمد" چغه په يو كلى واله طريقه سره دَ هغوى ﷺ دَ راغوښتلو دَ پاره اولګوله نو دا آيت نازل شو (۵) خودَ دې جواب هم هغه دې چه دَ حضرات شيخينومتعلق دَ سورة ړومبنې آيت نازل شويدې خو بيادا آيت هم دې سره نزدې او دَ هغوى ﷺ سره دَ ادب سلوك كول په دې آيت كښې هم دَ ړومبنى آيت په شان خودلې شوې دې. په دې مناسبت سره دلته ذكركړيشو.والله اعلم

[۳۳۱]بَاب قَوْلِهِ وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّى تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ

ددې آيت لاندې امام (بخارى ﷫) هيڅ يو روايت نه دې نقل كړې، علامه عينى ليكلى دى: والظاهرانه أخلى موضع الحديث، فامالم يظفر بشيء على شرطه او ادركه الموت.(۶)

[۳۳۲]باب: تفسيرسُورَةُ ق

رَجْعٌ بَعِيدٌ رَدٌّ فُرُوجٍ فُتُوقٍ وَاحِدُهَا فَرْجٌ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ وَرِيدَاهُ فِي حَلْقِهِ وَالْحَبْلُ حَبْلُ الْعَاتِقِ

---

(۱) تفسيرابن كثير-۴/۲۰۷:
(۲) عمدة القارى، باب علامات النبوة-۱۶/۱۴۵ :
(۳) تفسيرابن جرير و تفسير ابن كثير-۴/۲۰۷:
(۴) فتح البارى-۸/۵۵۲ :
(۵) تفسير ابن كثير ۴/۲۰۸:واسباب النزول سيوطى.۱۹۵-۱۹۴ :
(۶) عمدة القارى: ۱۹| ۱۸۴.

وَقَالَ مُجَاهِدٌ مَا تَنْقُصُ الْأَرْضُ مِنْ عِظَامِهِمْ تَبْصِرَةً بَصِيرَةً حَبَّ الْحَصِيدِ الْحِنْطَةُ بَاسِقَاتٍ الطِّوَالُ أَفَعَيِينَا أَفَأَعْيَا عَلَيْنَا حِينَ أَنْشَأَكُمْ وَأَنْشَأَ خَلْقَكُمْ وَقَالَ قَرِينُهُ الشَّيْطَانُ الَّذِي قُيِّضَ لَهُ فَنَقَّبُوا ضَرَبُوا أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ لَا يُحَدِّثُ نَفْسَهُ بِغَيْرِهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ رَصَدٌ سَائِقٌ وَشَهِيدٌ الْمَلَكَانِ كَاتِبٌ وَشَهِيدٌ شَهِيدٌ شَاهِدٌ بِالْغَيْبِ مِنْ لُغُوبٍ النَّصَبُ وَقَالَ غَيْرُهُ نَضِيدٌ الْكُفُرَّى مَا دَامَ فِي أَكْمَامِهِ وَمَعْنَاهُ مَنْضُودٌ بَعْضُهُ عَلَى بَعْضٍ فَإِذَا خَرَجَ مِنْ أَكْمَامِهِ فَلَيْسَ بِنَضِيدٍ وَإِدْبَارِ النُّجُومِ وَأَدْبَارِ السُّجُودِ كَانَ عَاصِمٌ يَفْتَحُ الَّتِي فِي ق وَيَكْسِرُ الَّتِي فِي الطُّورِ وَيُكْسَرَانِ جَمِيعًا وَيُنْصَبَانِ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَوْمُ الْخُرُوجِ يَوْمَ يَخْرُجُونَ إِلَى الْبَعْثِ مِنَ الْقُبُورِ

د کلماتو تشریح:

قوله: رَجْعٌ بَعِيدٌ: رَدٌّ: آیت کښې دی ﴿ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ذٰلِكَ رَجْعٌ بَعِيدٌ﴾ بنه ده چه کله مونږ مړه شو او خاورې شو نو آیابیا به راژوندی کولې شو. دا بیاراژوندی کیدل ډیره لرې خبره ده. فرمائي "رَجْعٌ بَعِيدٌ" معنی ده "رَدٌّ" یعنی دنیاطرف ته بیا راګرځیدل.

قوله: فُرُوجٍ: فُتُوقٍ: وَاحِدُهَا فَرْجٌ: ﴿وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوجٍ﴾ او(ستوروسره) دا ښائسته کړو او په دې کښې هیڅ چاوډې نشته فرمائي فروج په معنی فتوق دې چه د فتق جمع ده په معنی د چاوډی، سوری فروج جمع ده او د دې مفرد فرج دې.

قوله: مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ: وَرِيدَاهُ فِي حَلْقِهِ: آیت کښې دی ﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ﴾ فرمائي په آیت کښې (حَبْلِ الْوَرِيدِ) نه سټ کښې دوه رګونه مراد دی. ورید د سټ هغه رګ ته وائي د کوم په کټ کیدوچه مرګ واقع کیږی. په هندوستاني نسخوکښې عبارت دې "وریدٖفی حلقه: والحبل: حبل العاتق" ورید په حلق کښې وی اود حبل نه د سټ رګ مراد دې چونکه دا رګ حبل یعنی د رسئی سره یوشان وی په دې وجه دیته حبل الورید وائي.

قوله: مَا تَنْقُصُ الْأَرْضُ: مِنْ عِظَامِهِمْ: آیت مبارك کښې دی ﴿قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْأَرْضُ مِنْهُمْ﴾ مونږ دا اجزا پیژنو کوم چه خاوره کموی. فرمائي دې اجزا نه د دوی هډوکی مراددی.

قوله: تَبْصِرَةً: بَصِيرَةً: آیت کښې دی ﴿تَبْصِرَةً وَذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ مُنِيبٍ﴾ فرمائي د ﴿تَبْصِرَةً﴾ معنی ده بصیرت، هوښیارتوب او بینائي.

قوله: حَبَّ الْحَصِيدِ: الْحِنْطَةُ: آیت کښې دی ﴿فَأَنْبَتْنَا بِهِ جَنّٰتٍ وَحَبَّ الْحَصِيدِ﴾ فرمائي چه په دې کښې "حب الحصید" نه غنم او وریژې مراد دی، قتاده رحمه الله فرمائي چه دینه غنم او اوربشې مراد دی خودا لفظ عام دې د زمیندارئي هره غله د دې په عموم کښې داخله ده.

قوله: بَاسِقَاتٍ: الطِّوَالُ : ﴿وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَهَا طَلْعٌ نَضِيدٌ﴾ او(راتوکوی)اوږدې اوږدې د کهجورې ونې د کومو غونچې چه ښه ګورې وی. فرمائي چه باسقات معنی اوږدې اوږدې.

قوله: أَفَعَيِينَا: أَفَأَعْيَا عَلَيْنَا، حِينَ أَنْشَأَكُمْ: آيت کښې دی (أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ ۚ بَلْ هُمْ فِي لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ) آيا مونږ په اول پيداکولو کښې ستړې شوی يو بلکه داخلق دَ سره دَ پيداکيدو طرف نه په شك کښې پراته دی. فرمائی افعيينا معنی افاعيا علينا، آيا په مونږ باندې بوج جوړشويدې دې مونږ نی ستړی کړی يو کله چه تاسو الله پيدا کړنی.

قوله: وَقَالَ قَرِينُهُ: الشَّيْطَانُ الَّذِي قُيِّضَ لَهُ: آيت کښې دی (وَقَالَ قَرِينُهُ هَٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيدٌ) اوفرښته چه هغه سره اوسيده وائی به دا هغه (عمل نامه) ده چه ماسره تياره ده.

فرمائی "قرين" نه هغه شيطان مراد دې چه دَ هغه سړی دَ پاره مقرر کړيشوې وو دواړه قوله دی. علامه شبيراحمدعثمانی رحمه الله ليکی: "يعنی فرښته به عمل نامه حاضره کړی او بعضو "قرين" نه مراد شيطان اخستې دی يعنی شيطان به وائی چه دا مجرم حاضر دې کوم چه ما اغواکړې وو او دوزخ له مې تيار کړې راوستې دې. مطلب دا چه اغواخو ما کړو ولې زما داسې زور اوتسلط نه وو چه په زور مې دې په شرارت کښې اچولو دې خو په خپله اراده او اختيار سره گمراه شو.

قوله: فَنَقَّبُوا ضَرَبُوا: آيت مبارك کښې دی (فَنَقَّبُوا فِي الْبِلَادِ هَلْ مِن مَّحِيصٍ) اوټول ښارونه ئی چهانړ کړی وو نو بيا څه دَ پناه ځائ بياموندلې شو، فرمائی آيت کښې نقبوا معنی ده ضربوا: گرځيدل راځيدل.

قوله: حِينَ أَنْشَأَكُمْ: دا لفظ هندوستانی نسخوکښې دلته دی، دَ دې لفظ ثعلق افعيينا نه دې چه اول تيرشو، دا ئی سهوکاتب سره نقل کړيدې.

قوله: أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ: لَا يُحَدِّثُ نَفْسَهُ بِغَيْرِهِ: آيت کښې دی (إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ) فرمائی (أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ) مطلب دا دې چه په خپل زړه کښې دَ بل څه څيز خيال مه پيدا کوئی، غوږ کيږدئی واورئی.

قوله: رَقِيبٌ عَتِيدٌ: رَصَدٌ: (مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ) دَ رقيب معنی ساتندونکې اودَ عتيد معنی حاضر او تيار او دَ رصدمعنی په شيش کښې دَ ناست راځی.

قوله: سَائِقٌ وَشَهِيدٌ الْمَلَكَانِ: كَاتِبٌ وَشَهِيدٌ: آيت کښې دی (وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَائِقٌ وَشَهِيدٌ) فرمائی دا دوه فرښتې دی يوکاتب يعنی عملونه ليکونکې او دوئمه گواه. بعضو وئيلی دی چه سائق هغه فرښته ده چه سړې به خپل موقف طرف ته راکاږی او دَ شهيدنه اعمال باندې گواهی ورکونکې فرښته مراد ده.(١)

قوله: شَهِيدٌ: شَاهِدٌ بِالْقَلْبِ: (أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ) دې کښې دَ شهيد نه په زړه سره

---

(١)عمدة القاری-١٩/١٨٥:

حاضریدونکي مراد دي.

قوله: لُغُوبٌ : النَّصَبُ: آیت کښې دی (وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ) او مونږ سره ستړیوالي لږېدلې هم نه دې. فرمائي لغوب بمعنی ستړیوالي، ستړې.

قوله: نَضِيدٌ الْكُفُرَّى مَا دَامَ فِي أَكْمَامِهِ: آیت کښې دی (وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ) یعنی مونږ د اوبو په ذریعه اوږدې کهجورې راؤ ټوکولې د کومې غونچه چه تازه په تازه ده نضید هغه غونچې ته وائی چه په خپل غلاف او غونچه کښې وی دا معنی د منضود نه یعنی بعضې په بعضې باندې یود بل د پاسه وی، پټه شوې وی کله چه د خلاف نه غونچه راؤخی نو بیا په دې باندې د نضید اطلاق نه کیږی.

قوله: وَإِدْبَارِ النُّجُومِ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ: سورة طور کښې دی (وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ) او سورة ق کښې دی (وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ) فرمائی چه قاری عاصم سورة ق کښې لفظ "أدبار" د همزه زبر سره لولی او سورة طور کښې "إدبار" د همزه په زیر سره لولی. بعض حضرات دواړو ځایونوکښې زبر سره او بعضو دواړه ځایونوکښې زیرسره لوستلې دې.

"إدبار" همزه زیر سره باب افعال ادبر، یدبر مصدر دې او "أدبار" د همزه د زبر سره "دبر" جمع ده. دبرشاته او روستنئی حصې ته وائی(۱)دلته د دواړو په معنوکښې هیڅ تفاوت او لریوالی نشته. مقصود د ستورو د ډوبیدونه پس یعنی د سحر په وخت کښې اود مونځونونه پس د استغفار او تسبیح حکم دې.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَوْمَ الْخُرُوجِ يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الْقُبُورِ: آیت کښې دی (يَوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ) په کومه ورځ چه دا چغه په یقین سره ټول واوری، داورځ به وی د قبرونو نه) د وتلو. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه په دې آیت کښې (يَوْمُ الْخُرُوجِ) نه هغه ورځ مراد ده په کومه ورځ چه به خلق د قبرونونه راؤخی.

[۲۳۳] بَاب: قَوْلِهِ: وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ

[۴۵۶۷] (۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي الْأَسْوَدِ حَدَّثَنَا حَرَمِيُّ بْنُ عُمَارَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُلْقَى فِي النَّارِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ حَتَّى يَضَعَ قَدَمَهُ فَتَقُولُ قَطْ قَطْ

---

(۱) عمدة القاری-۱۹/۱۸۶:

(۲) وایضاً فی کتاب الایمان والنذور، باب الحلف بعزة الله وصفاته وکلماته، رقم الحدیث ۶۶۶۱ :. وفی التوحید باب قول الله عزوجل :وهوالعزیزالحکیم، سبحان ربک رب العزة عمایصفون، رقم الحدیث ۷۳۸۴:. واخرجه الترمذی فی التفسیر، باب" ومن سورة ق "رقم الحدیث-۳۲۷۲

[۴۵۶۸| ۴۵۶۹] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الْقَطَّانُ حَدَّثَنَا أَبُو سُفْيَانَ الْحِمْيَرِيُّ سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ مَهْدِيٍّ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَفَعَهُ وَأَكْثَرُ مَا كَانَ يُوقِفُهُ أَبُو سُفْيَانَ يُقَالُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ فَيَضَعُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَدَمَهُ عَلَيْهَا فَتَقُولُ قَطْ قَطْ

د سند توضيح: په سند کښې "محمد" نه محمدبن سيرين مراد دي، هغه دَ حضرت ابوهريره نه نقل کوی "واکثر ماکان يوقفه ابوسفيان" دا دَ امام بخاری رحمه الله دَ شيخ محمدبن موسى القطان رحمه الله قول دې هغه فرمائی دا حديث مرفوعاً هم مروى دې. ليکن زمونږ شيخ ابوسفيان رحمه الله به دا اکثر موقوفاً نقل کولو. "يوقفه" اوقف الحديث: حديث موقوفاً روايت کول.

[۴۵۶۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَاجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَقَالَتِ النَّارُ أُوثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِينَ وَالْمُتَجَبِّرِينَ وَقَالَتِ الْجَنَّةُ مَا لِي لَا يَدْخُلُنِي إِلَّا ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لِلْجَنَّةِ أَنْتِ رَحْمَتِي أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي وَقَالَ لِلنَّارِ إِنَّمَا أَنْتِ عَذَابِي أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مِلْؤُهَا فَأَمَّا النَّارُ فَلَا تَمْتَلِئُ حَتَّى يَضَعَ رِجْلَهُ فَتَقُولُ قَطْ قَطْ فَهُنَالِكَ تَمْتَلِئُ وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ وَلَا يَظْلِمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ خَلْقِهِ أَحَدًا وَأَمَّا الْجَنَّةُ فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُنْشِئُ لَهَا خَلْقًا

دلته دَ دې باب په روايت کښې دی چه د حساب کتاب نه پس به دوزخيان په دوزخ کښې اوغورزولې شی نو دوزخ به وائی چه څه نور څه هم شته؟ يعنی دَ نورو تقاضا به کوی نو الله تعالى به په هغه باندې خپل قدم کيږدی نو هله به دوزخ وائی بس بس.

د جنت او جهنم مناظره: په آخری روايت کښې دی چه جنت او دوزخ به په خپل مينځ کښې مخاصمه او مناظره کوی. دوزخ وائی "اوثرت بالمتکبرين والمتجبرين" (٢) کښې متکبره او ظالمانو دَ پاره خاص کړېشوې وی. جنت وئيل چه په ماڅه شوی چه په ما کښې کمزورې او ضعيف خلق داخليږی. نو الله تعالى جنت ته اووئيل چه ته زما رحمت ئی هم ستا په ذريعه به زه په خپلو بنديګانو کښې څوك چه غواړم رحم به پرې کوم او دوزخ ته ئی اوفرمائيل ته زما عذاب ئی ستا په ذريعه به زه خپلو بنديګانوته چاله چه غواړم عذاب به ورکوم. جنت او دوزخ دواړه به ډکول وی، دوزخ به هغه وخت پورې نه ډکيږی ترکومې چه الله تعالى په هغه

---

(١) وايضاً فى التوحيد باب ان رحمة الله قريب من المحسنين، رقم الحديث ۷۴۴۹: واخرجه مسلم فى الجنة وصفة نعيمها واهلها، باب النار يدخلها الجبارون، رقم الحديث-۲۸۴۶ :

(٢) قوله :بالمتكبرين والمتجبرين :هما سوامن حيث اللغة، فالثانى تاكيدللاول معنى، وقيل :المتكبر المتعظم بما ليس فيه، والمتجبر المنوع الذى لاينال اليه) عمدة القارى-۹/۱۸۷:

دَ پاسه خپل قدم نه وی ایخودې هغه وخت به هغه ډك شی او دَ دې حصې به راغونډې شی او دَ جنت دَ ډکولو دَ پاره به الله تعالی یو مخلوق پیدا کوی.

قوله: فَيَضَعُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَدَمَهُ عَلَيْهَا:

د "**فيضع الرب تبارك وتعالی قدمه عليها**"، **معنی**: دلته په روایت کښې دَ الله تعالی دَ پاره قدم ثابت کړیشویدې، دَ قدم نه څه مراد دی. په دې سلسله کښې دَ سلفو اختلاف دې. اکثر حضرات یعنی متقدمین وائی په قرآن او حدیث کښې داشان مواقع کښې تفویض او تسلیم اولی دې، دَ امام مالك رحمه الله نه "استواء عرش" باره کښې تپوس اوشو نو هغوی اوفرمائیل "الاستواء معلوم، والكيف مجهول، والايمان به واجب، والسؤال عنه بدعة" (۱) ډیرو حضراتو یعنی متاخرینو په دې قسم مواقع کښې دَ تاویل طریقه اختیار کړې نو دلته هم دَ قدم مختلف تاویلونه کړیشوی دی.

① بعضې حضراتو وئیلی دی دراصل دا "اذلال" نه کنایه ده چه دَ دوزخ طغیان کله زیات شی نو الله تعالی به هغه ذلیل کوی، دې اذلال ته "وضع قدم" سره تعبیر کړیشوې دې. لکه چه په محاوره کښې وائی "وضعت فلانا تحت قدمی" او مطلب دا وی چه ما هغه ذلیل کړو. په دې کښې دَ قدم حقیقی معنی مراد نه وی "والعرب تستعمل الفاظ الاعضاء فی ضرب الامثال، ولاترید اعيانها" (۲)

② بعضې حضراتو وئیلی دی چه قدم دَ یوخاص مخلوق نوم دې کوم چه الله تعالی دوزخ ته دَ لیګلو فیصله کړې ده. کله دوزخ دَ "هل من مزید" مطالبه کوی نو هغه وخت به هغه په دوزخ کښې داخل کړې شی نو هله به دَ دوزخ غوښتنه ختمه شی. (۳)

③ یوقول داهم دې چه دَ قدم نه مراد په دوزخ کښې دَ ټولونه آخرکښې داخلیدونکې ډله ده څکه چه قدم دَ انسانی بدن آخری اندام دې، په دې صورت کښې به معنی وی "حتی یضع الله فی النار اخر اهلها" (۴)

④ داوُدي وئیلی دی چه دَ قدم نه دلته قدم صدق مراد دې او هغه جناب نبی کریم ﷺ دې اودې نه دَ رسول الله شفاعت یعنی مقام محمود طرف ته اشاره ده چه دَ هغوی په سفارش به هغه ټول خلق دَ دوزخ نه راوُویستلې شی دَ چا په زړه کښې چه څه لږ ډیر ایمان وو او دې

(۱) روح المعانی ۸/۱۳۴: وشرح العقيدة الطحاوية ۲۸۱-۲۸۰: ومنهج ودراسات لايات الاسماء والصفات للشيخ محمد الامين الشنقيطی ۲۱: ومجموع فتاوی شيخ الاسلام ابن تيميه ۳/۵۸: كتاب مجمل اعتقاد السلف

(۲) فتح الباری-۸/۵۹۶:

(۳) فتح الباری-۸/۵۹۶:

(۴) فتح الباری-۸/۵۹۶:

سره سره به دَ دوزخ طغياني هم ختمه شي او هغه به دَ نورو غوښتني مطالبه پرېږدي.(١)
په آخري روايت كښي دَ قدم په ځاۍ رجل لفظ راغلې دې ابن جوزي رحمه الله وئيلي دي چه دا تحريف دې يو راوي كه دَ قدم حقيقي معنى مراد اخستلو سره دا رجل سره تعبير كړي، ابن فورك دَ رجل لفظ بالكل غير ثابت كړيدې.(٢) خودَ دوي دا خبره صحيح نه ده ځكه چه بخاري او مسلم دواړو كښي دا لفظ راغلې دې(٣) نودَ دې باره كښي دا وينا كول چه ثابت نه دي غلطه خبره ده. دَ قدم په شان دَ رجل هم تاويل كړشويدې ليكن چه څنګه اوخودلې شو چه په دې قسمه الفاظو كښي تفويض او تسليم بهتر دې، مناسب او محتاط مذهب دې.

قوله: لَا يَدْخُلُنِي إِلَّا ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ:

دَ "لا يدخلني الا ضعفاء الناس وسقطهم"، **معنى**: په جنت كښي به كمزوري او هغه داخليږي چه دَ خلقو په نظر كښي ساقط او غورزيدلي وي يا بيا داسې اووايه چه هغوي دَ الله تعالى دَ عظمت او جلال وړاندې كړې وي او خپل ځان حقير او كمتر شميري، دَ سقط نه ساقط او پريوتلي او حقير خلق مراد دي. خو دا دَ الله تعالى په نظركښي ساقط نه بلكه عظيم خلق به وي.دوي ته دَ عامو خلقو په نسبت ساقط وئيلي شوي دي. يا دَ هغوي دَ عاجزئي په وجه پخپله دَ هغوي په نظركښي حقيركيدل مراد دي نو حافظ ابن حجر رحمه الله ليكي: **هذا بالنسبة الى ماعند الاكثر من الناس، وبالنسبة الى ماعند الله، هم عظماء، رفعاء الدرجات، لكنهم بالنسبة الى عند انفسهم لعظمة الله عندهم، وخضوعهم له في غاية التواضع الله، والذلة في عبادة، فوصفهم بالضعف والسقط**"(٤)

قوله: وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ: دا دَ مجهول صيغه ده په معنى دَ راغونډيدلو، يوځاۍ كيدلو "**اى يضم بعضها الى بعض**" دَ جنت او دوزخ دا مخاصمه ياخو دَ حال په ژبه اوشوه او يا الله ﷻ دې دواړو ته دَ خبرو طاقت وركړو او دَ هغې نه پس دا بحث اوشو(٥) دَ دې متعلق نور تفصيل وړاندې كتاب التوحيد كښي "**باب قوله: ان رحمة الله قريب من المحسنين**" لاندې به انشاء الله تعالى راځي.

[۳۳۴] بَاب قَوْلِهِ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ

[۴۵۷۰] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنْ جَرِيرٍ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ

---

(١) فتح الباري ۸/۵۹۶:
(٢) فتح الباري-۸/۵۹۶:
(٣) فتح الباري-۸/۵۹۶:
(٤) فتح الباري-۸/۵۹۶:
(٥) عمدة القاري-۱۸/۱۸۷:

عَنْ جَرِيرِبْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا لَيْلَةً مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ أَرْبَعَ عَشْرَةَ فَقَالَ إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هٰذَا لَا تُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا فَافْعَلُوا ثُمَّ قَرَأَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ

[٤٥٧١] حدثنا آدم حدثنا ورقاء، عن ابن ابي نجيح، عن مجاهد قال ابن عباس امره ان يسبح فى ادبار الصلوات كلها، يعنيقوله وادبار السجود.

[٣٣٥] باب: تفسير سُورَةُ وَالذَّارِيَاتِ

قَالَ عَلِيٌّ عَلَيْهِ السَّلَامُ الذَّارِيَاتُ الرِّيَاحُ وَقَالَ غَيْرُهُ تَذْرُوهُ تُفَرِّقُهُ وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ تَأْكُلُ وَتَشْرَبُ فِي مَدْخَلٍ وَاحِدٍ وَيَخْرُجُ مِنْ مَوْضِعَيْنِ فَرَاغَ فَرَجَعَ فَصَكَّتْ فَجَمَعَتْ أَصَابِعَهَا فَضَرَبَتْ بِهِ جَبْهَتَهَا وَالرَّمِيمُ نَبَاتُ الْأَرْضِ إِذَا يَبِسَ وَدِيسَ لَمُوسِعُونَ أَيْ لَذُو سَعَةٍ وَكَذٰلِكَ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ يَعْنِي الْقَوِيَّ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى وَاخْتِلَافُ الْأَلْوَانِ حُلْوٌ وَحَامِضٌ فَهُمَا زَوْجَانِ فَفِرُّوا إِلَى اللّٰهِ مَعْنَاهُ مِنَ اللّٰهِ إِلَيْهِ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ مَا خَلَقْتُ أَهْلَ السَّعَادَةِ مِنْ أَهْلِ الْفَرِيقَيْنِ إِلَّا لِيُوَحِّدُونِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ خَلَقَهُمْ لِيَفْعَلُوا فَفَعَلَ بَعْضٌ وَتَرَكَ بَعْضٌ وَلَيْسَ فِيهِ حُجَّةٌ لِأَهْلِ الْقَدَرِ وَالذَّنُوبُ الدَّلْوُ الْعَظِيمُ وَقَالَ مُجَاهِدٌ صَرَّةٍ صَيْحَةٍ ذَنُوبًا سَبِيلًا الْعَقِيمُ الَّتِي لَا تَلِدُ وَلَا تُلْقِحُ شَيْئًا وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَالْحُبُكُ اسْتِوَاؤُهَا وَحُسْنُهَا فِي غَمْرَةٍ فِي ضَلَالَتِهِمْ يَتَمَادَوْنَ وَقَالَ غَيْرُهُ تَوَاصَوْا تَوَاطَئُوا وَقَالَ مُسَوَّمَةً مُعَلَّمَةً مِنَ السِّيمَا قُتِلَ الْإِنْسَانُ لُعِنَ

قوله: قَالَ عَلِي عليه السلام: الذاريات: الرياح: ذاريات دَ ذارية جمع ده چه دَ باب نصر نه صيغه اسم فاعل ده، خوریدونکی، الوتونکی او دلته دَ الرياح صفت دي.

ايا د حضرت على رضی اللہ عنہ نوم سره علیہ السلام ليکل جائز دی؟: دَ بخارى په نسخوكښې دَحضرت على رضی اللہ عنہ نوم سره په دې مقام "علیہ السلام" ليکلې دې دَ معنى په لحاظ سره اګركه صحيح دې ليکن دا جمله دَ صحابه كرامو دَپاره نه استعماليږى. دَ انبياء كرامو دَپاره استعماليږى، نود يوصحابى دَ نوم سره "علیہ السلام" لګول اودَ باقى دَ نومونوسره) مناسب نه دى په ټولو صحابه كرامو كښې مساوات پكار دې ګنى نو حضرات شيخين او حضرت عثمان) دَ دې زيات مستحق دى. په بيروت او مصر وغيره كښې چه كوم كتابونه چهاپ دى په هغې كښې دَ حضرت على) او حضرت فاطمه) نومونوسره ترضى په ځاىٔ "علیہ السلام" ليکلې وى، معلوميږى دا چه په چهاپه خانوباندې دَ شيعه ګانو تسلط دې او هغوى دَ منصوبه بندئى لاندې دا كار كوى. ليکن په دې مقام باندې دا لفظ دَ بخارى په قديمو نسخوكښې هم دې، نو علامه قسطلانى رحمہ اللہ دَدې رد كولو سره ليکى: "وهووان كان معناه صحيحا، لكن ينبغى ان يساوى بين

الصحابة فى ذلك، اذهومن باب التعظيم، والشيخان وعثمان اولى بذلك منه، فالاولى الترضى"(۱) ليكن علامه وحيدالزمان دَ علامه قسطلاني په دې عبارت اعتراض كولو سره ليكي: "دَ علامه قسطلاني) په دې كلام باندې دليل څه دې؟ دا صرف يو اصطلاح ده چه پيغبرانو ته) او صحابه كرامو ته) وائى نو امام بخارى رحمه الله حضرت على) ونيلو سره دا اصطلاح ردكړيده. اودَ علامه قسطلانى دا وينا چه شيخين او حضرت عثمان) دَ دې كلمې ډير مستحق دى وينا كولو نه امام بخارى رحمه الله چرته منع كړيده؟ نو بيا دا اعتراض فضول دې. او چه كله په صحابه كرامو كنبې مساوات لازم دې نو قسطلانى دَ تفضيل شيخين ولې قائل دې. زه دا وايم چه په حضرت على رضي الله عنه كنبې دَ نورو صحابه كرامو په نسبت يو بل خصوصيت دې هغه دا چه هغوى دَ نبى كريم ﷺ دَ تره خوئ دې اودَ هغوى ﷺ پاللې شوې او قديم الاسلام اوخاص خوم وو. دَ هغوى شمير په اهل بيتوكنبې دې اودَ اهل بيتود پاره ډيركارونه خاص كړيشوى وو. لكه چه وائى امام حسين رضي الله عنه او امام حسن رضي الله عنه او په دې كنبې هيڅ شرعى قباحت نشته"(۲) ليكن دَ وحيدالزمان په علامه قسطلانى باندې مذكوره اعتراض صحيح نه دې. دَ جمهورو علماؤ دا مسلك دې چه دَ نبى نه دَ غير دَ پاره) ونيل صحيح نه دى. حافظ ابن كثير رحمه الله هم په دې مسئله كنبې بحث كولو سره په خپل تفسيركنبې ليكى:"

قال الجمهور من العلماء لايجوز افراد غيرالانبياء بالصلاة، لان هذا قد صار شعار اللانبياء اذا ذكروا، فلايلحق بهم غيرهم، فلايقال: قال ابوبكر صلى الله عليه وسلم، اوقال على صلى الله عليه وسلم،وان كان المعنى صحيحا، كما لايقال محمدعزوجل، وان كان عزيزا، جليلا، لان هذا من شعار ذكرالله عزوجل..... "ثم اختلف المانعون من ذلك، هل هومن باب التحريم اوالكراهة التنزيهية اوخلاف الاولى؟ على ثلاثة اقوال.... والصحيح الذى عليه الاكثرون انه مكروه كراهة تنزيه، لانه شعار اهل البدع، وقدنهينا عن شعارهم.... واماالسلام.... هوفى معنى الصلاة، فلا يستعمل فى الغائب، ولايفرد به غيرالانبياء،فلايقال: على عليه السلام قلت: وقدغلب هذافى عبارة كثيرمن النساخ اللكتب ان يفردعلى رضي الله عنه بان يقال: على عليه السلام، من دون سائر الصحابة....، وهذا وان كان معناه صحيحا لكن ينبغى ان يسوى بين الصحابة فى ذلك، فان هذامن باب التعظيم والتكريم، فالشيخان واميرالمؤمنين اولى بذلك منه، رضى الله عنهم اجمعين"(۳)

دَ دې عبارت نه معلومه شوه چه دَ نبى نه علاوه دَ بل چادَ پاره سلام ونيل دَ كراهت نه خالى نه دى. البته حضرت حوا عليها السلام او حضرت مريم عليها السلام دَ دې قاعدې نه مستثنى دى. په باقى

---

(۱) ارشاد السارى-۱۱/۸۹:

(۲) تيسرى البارى-۶:

(۳) اوګورئى تفسير ابن كثير ۵۱۷-۴/۵۱۶ : سورۀ الاحزاب په دې مسئله كنبې دَ تفصيل دَ پاره اوګورئى " تدريب الراوى ۲/۷۷:، والتقريب ۲/۷۷:، وفتاوى عالمكيرى ۵/۳۱۵:، فتح المغيث-۳/۷۰:

صحابه كرامو كښې د مساوات كولو مطلب هيڅ كله دا نه دې چه په دوى كښې د يو د تفضيل سرې قائل نه وى او ټول دې د يوې درجې او مرتبې اوګڼړى ځكه چه خلفاء راشدين د ټولو صحابه كرامو نه افضل دى او په خلفاء راشدين كښې هم حضرت ابوبكر صديق، حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ، حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه په ترتيب سره د يو بل نه افضل دى. په دې وجه د مساوات قائم ساتلو مطلب دا دې چه د ټولو صحابه كرامو نومونه په يو شان ادب او احترام سره واخستې شى او د دې ټولو د پاره د ترضى صيغه استعمال كړې شى چاسره(او چا سره) د دې يوشان والى منافى دى. د حضرت علي خصوصيات دى كه چرې دا خصوصيات د دې د جواز وجه اوګرخولې شى نو حضرت صديق اكبر رضي الله عنه سره هم دا ونيل پكار دى ځكه چه د هغوى خصوصيات د حضرت علي) نه زيات دى. نودا وينا چه په دې كښې څه شرعى قباحت نشته محل نظر دې، والله اعلم.

دغه شان د حضرت حسن رضي الله عنه او حضرت حسين رضي الله عنه د پاره د "امام" لفظ استعمالول هم د امامت عقيدې ته رواج وركولو د پاره ليكلې او وئيلې شى او د خلافت عقيده كمزورې كولود پاره داسې كولې شى ګنى د دې د پاره بله هيڅ څه معقول وجه نشته. او دا په ائمه فقهاء يا ائمه محدثين باندې نشى قياس كولې. ولې چه هلته په فقه اوحديث كښې د هغوى امامت د مسلماتونه دې باقى پاتې شوه د ادب او احترام خبره نود دې ټول صحابه مستحق دى او د اهل بيتونه د كيدو خصوصيت د دې سبب ځكه نشى جوړيدې چه اول خود اهل بيت اصلى مصداق د نبى كريم ﷺ ازواج مطهرات دى "كما صرح به القرآن الكريم فى اية التطهير وشهد به العرف" دوئمه خبره دا ده چه په دې اطلاق سره د يوې غلطې نظريه ترويج لازم كيږى او په صحيح عقيده باندې په دې ګذار پريوځى نود دې د پاره دا مناسب نه ده.

د كلماتو تشريح:

قوله: وقال غيره: تذروه: تفرقه: په سورة كهف كښې دى ﴿فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ﴾ په دې كښې (تَذْرُوْهُ) معنى ده هواګانې دا خوروى، ګډوډ كوى، دا لفظ "ذاريات" په مناسبت سره دلته ذكر كړيدې.

قوله: وَفِي أَنْفُسِكُمْ: تَأْكُلُ وَتَشْرَبُ فِي مَدْخَلٍ وَاحِدٍ، وَيَخْرُجُ مِنْ مَوْضِعَيْنِ: آيت كښې دى ﴿وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ۭ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ﴾ او پخپله ستاسو په ذات كښې هم) دلائل دى دقيامت په امكان او واقع كيدوباندې) نو آياتاسوته نه ښكارى. فرمائى " وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ...." د انسان په ذات كښې د قدرت نښې دى كومو كښې چه يوه دا ده چه انسان خوراك څښاك په لار كوى. يعنى په خله او د ده فضله په دوو لارو يعنى وړاندې وروستو نه اوځى.

قوله: فَرَاغَ: فَرَجَعَ: آيت كښې دى "فَرَاغَ اِلٰٓى اَهْلِهٖ فَجَاۗءَ بِعِجْلٍ سَمِيْنٍ" بيا خپل كورطرف ته لاړلو يو چاق سخى (وريت شوى) راوړلو. فرمائى آيت كښې " فَرَاغَ په معنى "فَرَجَعَ" يعنى واپس راتلل، راغ (ن) روغاً په پټه يو طرف ته وتل، مائل كيدل.

قوله: فَصَكَّتْ فَجَمَعَتْ أَصَابِعَهَا فَضَرَبَتْ بِهِ جَبْهَتَهَا: آیت کښې دی "**فاقبلت امرأته في صرة فصكت وجهها**" بیا دَ هغوی بی بی خبرې کونکې راغله او په حیرانتیاسره خپل تندې په لاس اووهلو، **صرة** چغې صورې، په زوره آواز.

قوله: وَالرَّمِيمُ: نَبَاتُ الْأَرْضِ إِذَا يَبِسَ وَدِيسَ: په آیت کښې دی "**ماتذر من شئ الا جعلته کالرمیم**" په کوم څیز چه به(هغه طوفان) تیریدونوهغه به ئې دا کړو لکه چه یوڅیز سخاشی او ذره ذره شی. فرمائی رمیم معنی ده د زمکې واښه چه کله اوچ شی او چقړې کړېشی.

قوله: لَمُوسِعُونَ: أَيْ لَذُو سَعَةٍ، وَكَذَلِكَ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ يَعْنِي الْقَوِيَّ: په آیت کښې دی "**والسماء بنينها بايد وانالموسعون**" اومونږ آسمان په خپل قدرت سره جوړ کړو اوزمونږ قدرت وسیع دې. فرمائی چه په آیت مبارك کښې **لموسعون** معنی ده وسعت(قدرت) والا اوهمدغه شان په سورة بقره کښې (**وَمَتِّعُوْهُنَّ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ**) کښې (**الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ**) نه وسعت او قوت والا کیدل مراد دی.

قوله: خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ: الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى، وَاخْتِلَافُ الْأَلْوَانِ حُلْوٌ وَحَامِضٌ: دَ زوجین اطلاق په مذکر او مونث باندې هم کیږی اود الوان او انواع اختلاف لکه چه خوږ او ترېو څیز باندې هم دَ دې اطلاق کیږی. په آسمان او زمکه باندې هم دَ زوجین اطلاق کیږی، رڼړا او تیاره، ایمان اوکفر ته هم داسې وئیلې شی.

قوله: فَفِرُّوا إِلَى اللَّهِ، مَعْنَاهُ: مِنَ اللَّهِ إِلَيْهِ: یعنی دَ الله تعالی دَ عذاب او غضب نه دَ بچ کیدلو دپاره دالله طرف ته منډه کړه اودَ الله تعالی دَ رحمت په لمن کښې پناه حاصله کړئی.

قوله: وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ:

د ایت ``وما خلقت الجن والانس،، تفسیر: امام بخاری رحمه الله دَ دې په تفسیرکښې فرمائی چه مونږ په پیریانو او انسانانوکښې نیك بخت دَ خپل توحیددَپاره پیدا کړیدی، بعض وائی چه الله تعالی ټول دَ توحید دَپاره پیدا کړیدی خو بعضو اومنلو او بعض اونه منلو نو په دې آیت کښې دَ معتزله او قدریه دَ پاره هیڅ دلیل نشته.

دَایت نه دَمعتزله دَدریو مسئلو اثبات اودَهغې رد: دې آیت نه قدریه درې مسئلې ثابتوی، یوه دا چه دې آیت نه دَ الله تعالی دَ فعل خیر سره متعلق کیدل ثابتیږی دَ شرسره دَ دې تعلق نه وې اوهمدغ دَ دوی مذهب دې [۱] لیکن دا استدلال په دې وجه ضعیف دې چه په آیت کښې د خیر ذکر کړیدې، دینه دَ دوئم نفی نه لازمیږی، دَ یو ذکر دَ دوئم عدم ته نه مستلزم کیږی.

---

[۱] اوګورئی فتاوی شیخ الاسلام احمدبن تیمیة-۵۵-۵٤/۸:

دونمه مسئله هغوی دا ثابتوی چه دې آیت نه دَ الله تعالی دَ افعال معلل بالاغراض کیدل معلومیږی څکه چه په دې کښې دَ انسان او پیری دَ تخلیق علت " إِلَّا لِيَعْبُدُونِ "یعنی عبادت بیان کړیشوې دې او دَ معتزله او قدریه همدغه مسلك دې.هغوی تعلیل بالاغراض ته واجب وائی.(١)

حضرات اشاعره د الله جل شانه دَ افعال دَ تعلیل مطلقاً انکار کوی هغوی وائی چه یو فعل فاعل دَ څه غرض دَ پاره کوی هغه په حقیقت کښې ناقص وی. دَ دې غرض په ذریعه هغه خپل تکمیل غواړی او الله تعالی) خو دَ نقص دَ شك نه هم منزه او پاك دې په دې وجه دَ الله تعالی افعال دَ څه غرض او علت سره معلل کیږی نه، پس دَ الله تعالی جل شانه افعال ته دَ هغوی په نیزد معلل بالاغراض نشی وئیلې.(٢)

ماتریدیه، بعضې حنابله او حافظ ابن قیم رحمه الله نقطه نظر دا دې چه دَ الله تعالی په افعال کښې تعلیل بالاغراض جواز خو شته او دلته په آیت کښې ثبوت هم دَ جواز کیږی دَ وجوب ثبوت دلته نه کیږی خو معتزله دَ دې نه دَ وجوب ثبوت باندې استدلال کوی. خو دَ دې نه دَ هغوی استدلال نه صحیح کیږی. دَ الله تعالی دَ یوفعل دَ پاره دَ څه غرض مخې ته ساتل دې خبرې ته مستلزم نه دې چه دَ ذات باری تعالی یو فعل به دَ څه غرض نه خالی نه وی. دلته دا خبره هم یاد ساتل پکار دې چه ماتریدیه او حنابله دَ غرض نه مراد حکمت اخلی. هغه غرض چه دَ فاعل دَ تکمیل دَ پاره کیږی هغه دَ الله تعالی سبحانه وتعالی په افعال کښې مراد نه دې اوبه دې کښې هیڅ اشکال نشته، الله تعالی حکیم دې اودَ حکیم یو فعل دَ څه حکمت نه خالی نه وی.

دریمه مسئله دې آیت نه معتزله دا ثابتوی چه په دې کښې دَافعال عباد مخلوق للعباد کیدل معلومیږی څکه چه "لیعبدون" کښې دَ عبادت نسبت بندیګانو طرف کړیدې. دَ دې جواب دا دې چه دا نسبت علی سبیل الکسب دې علی سبیل الخلق نه دې دَ دې دَ پاره دَ افعال عباد مخلوق للعباد کیدل نه ثابتیږی.(٣) امام بخاری رحمه الله دَ دې آیت ذکر کولونه پس اوفرمائیل "ماخلقت اهل السعادة من اهل الفریقین الالیوحدون" دلته په حقیقت کښې امام بخاری رحمه الله دَ یو اشکال جواب ورکوی. اشکال دا دې چه دَ انسان او پیری دَ تخلیق غرض عبادت بیان کړیشو، انسانان او پیریان ئی په دې وجه پیدا کړل چه هغوی عبادت اوکړی لیکن خو په دوی کښې ډیر داسې دی چه هغوی عبادت نه کوی نودَ دې مطلب دا شو چه

---

(١)تفسیر کبیر-٢٨/٢٣٢:

(٢) مذهب الاشاعرة القایلین بان افعاله تعالی لاتعلل بالاغراض)روح المعانی-(٢٦/٨٩:

(٣) دَ مذاهب دَ تفصیل او دلائلودَ پاره اوګورئی شرح العقیدة الطحاویة ٤٤٤-٤٣٦:وشرح ملاعلی قاری علی الفقه الاکبر ٥١-٤٩:وروح المعانی ٣١-١٧/٢٨:و-٩٠-٢٥/٨٨

الله تعالى دَ كومې ارادې او مقصد دَ پاره هغوى پيدا كړل هغه پوره نهِ شو او دا په عقلى توګه محال دى چه دَ كوم كار دَ پاره الله تعالى څوك پيدا كړى بيا هغه دَ دغه كارنه انحراف اوكړى. امام بخارى رحمه الله دَ دې اشكال دوه جوابونه وركړى دى چه دَ امام فراء نه نقل دى.
رومبې جواب دا دې چه دلته خو لفظ بې شكه عام بيان كړيشوې دې ليكن مراد ترينه دلته نيك بخت دى او هغه ښكاره خبره ده چه دَ الله تعالى په عبادت كښې مشغول دى. ابن قتيبه په "مشكل القرآن" كښې داجواب قوى ګرځولې دې.
دَ دوئم جواب حاصل دا دې چه الله تعالى كله انسانان او پيريان پيدا كړل نو په دوى كښې دَ عبادت طاقت او صلاحيت كيخودو. اوس څوك دا طاقت استعمالوى او څوك دا طاقت نه استعمالوى، چا چه استعمال كړو نو دَ الله تعالى په عبادت كښې مشغول دې. او چا چه دا طاقت او صلاحيت بې كاره او ضائع كړو هغه دَ الله تعالى دَ عبادت نه منحرف دې.
حضرت كشميرى رحمه الله يوه بله خبرهٔ ارشاد فرمائيلې ده چه په اصل كښې يو غايت تشريعيه وى او يو غايت تكوينيه وى، په غايت تشريعيه كښې تخلف وى او په غايت تكوينيه كښې تخلف نه وى او په دې آيت كښې غايت تشريعيه بيان كړيشوې دې نو په دې وجه كه تخلف وى نو دَ اشكال قابل نه دې.(١) والله اعلم.

د كلماتو تشريح:

قوله: وَالذَّنُوبُ: الدَّلْوُ الْعَظِيمُ وَقَالَ مُجَاهِدٌ: ذَنُوبًا: سَبِيلًا: په آيت كښې دى ﴿فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَابِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ﴾ ذنوب په لغت كښې غټې ډولچې ته وائى مجاهد رحمه الله فرمائى چه ذنوب معنې لار ده، دَ آيت ترجمه ده " نو دَ هغه ګناهګارانو ډولچه هم ډكه شويده لكه څنګه دَ هغوى دَ ملګرو ډولچه ډكه شوه اوس مانه تندى مه كوئى" يعنى كه دا ظالمان دَ بندګئى طرف ته نه راځى نو پوهه شئى چه دَ نورو ظالمانو په شان دَ دوى ډولچې هم ډكې شويدى. بس اوس ډوبيدل غواړى. هسې په سزا كښې تندى مه كوئى لكه څنګه چه نورو كافرانو ته دَ الله تعالى دَ سزا حصه اورسيده دوى ته به هم رسى.

قوله: الْعَقِيمُ: الَّتِي لَا تَلِدُ: آيت كښې دى "وقالت انى عجوز عقيم" عقيم معنى ده هغه ښځه دَ چا چه بچې نه پيداكيږى يعنى شنډه.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَالْحُبُكُ: اسْتِوَاؤُهَا وَحُسْنُهَا: ﴿وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْحُبُكِ﴾ حضرت ابن عباس رضي الله عنه اوفرمائيل دَ حُبُك نه دَ آسمان برابريدل اودَ هغې حسن مراد دې. دا لفظ دَ حبيكة يا حباك جمع دې. په اصل كښې دا هغه لارې ته وائى چه په شګه يا په آرام اوبوكښې نرې هوا چليدو سره جوړيږى. دلته د.ستورې لارې مراد دى.

قوله: فِي غَمْرَةٍ: فِي ضَلَالَتِهِمْ يَتَمَادَوْنَ: آيت كښې دى ﴿قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ ۝ الَّذِينَ هُمْ فِي غَمْرَةٍ

(١)فيض البارى-٢٣٦/٤:

سَاهُوْنَ﴾ تباه دې شی بې سنده خبرې کونکی چه په جهالت کښې ورك شوی دی. فرمائی ﴿غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ﴾ معنی ده په خپله گمراهئی کښې زیاتیږی.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ :تَوَاصَوْا: تَوَاطَئُوا:آیت کښې دی ﴿أَتَوَاصَوْا بِهِ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ﴾ دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه علاوه بل چا فرمائیلی دی چه تواصوا معنی ده دوی هم دَ هغوی برابر اووئیل، تواطا معنی دَ موافقت راخی.

قوله: مُسَوَّمَةً: مُعَلَّمَةً مِنَ السِّيمَاءِ:آیت کښې دی ﴿لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ طِيْنٍ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِيْنَ﴾ دې دَ پاره چه مونږ په دوی باندې نری کانړی راوړو په کوموچه ستا دَ رب سره)یعنی عالم غیب کښې) خاص نښه هم ده، دَ حد نه تیریدونکو دَ پاره فرمائی مسومة معنی معلمة: نښه لرېدلې، نښې والا.

[۳۳۶] باب: تفسير سُورَةُ وَالطُّور

وَقَالَ قَتَادَةُ مَسْطُورٍ مَكْتُوبٍ وَقَالَ مُجَاهِدٌ الطُّورُ الْجَبَلُ بِالسُّرْيَانِيَّةِ رَقٍّ مَنْشُورٍ صَحِيفَةٍ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ سَمَاءٌ الْمَسْجُورِ الْمُوقَدِ وَقَالَ الْحَسَنُ تُسْجَرُ حَتَّى يَذْهَبَ مَاؤُهَا فَلَا يَبْقَى فِيهَا قَطْرَةٌ وَقَالَ مُجَاهِدٌ أَلَتْنَاهُمْ نَقَصْنَا وَقَالَ غَيْرُهُ تَمُورُ تَدُورُ أَحْلَامُهُمْ الْعُقُولُ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْبَرُّ اللَّطِيفُ كِسْفًا قِطَعًا الْمَنُونُ الْمَوْتُ وَقَالَ غَيْرُهُ يَتَنَازَعُونَ يَتَعَاطَوْنَ

قوله: مَسْطُورٍ: مَكْتُوبٍ:آیت مبارك کښې دی ﴿وَالطُّوْرِ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ﴾ په دې کښې دَ مسطور معنی ده لیکلې شوې.

قوله: الطُّورُ الْجَبَلُ بِالسُّرْيَانِيَّةِ: فرمائی طور په سریانی ژبه کښې غرته وائی.

قوله: رَقٍّ مَنْشُورٍ صَحِيفَةٍ:آیت کښې دی ﴿فِیْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ﴾ د﴿رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ﴾ نه صحیفه مراد ده.

قوله: وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ سَمَاءٌ: فرمائی آیت کښې دی ﴿وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ﴾ اوچت چت، دې نه مراد آسمان دې.

قوله: الْمَسْجُورِ الْمُوقَدِ وَقَالَ الْحَسَنُ تُسْجَرُ حَتَّى يَذْهَبَ مَاؤُهَا فَلَا يَبْقَى فِيهَا قَطْرَةٌ :آیت کښې دی ﴿وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ﴾ قتاده رحمه الله فرمائی چه دَ مسجور معنی ده موقد یعنی گرم کړیشوې او حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه سمندربه دومره غصه کړې شی چه دَ دې اوبه به ټولې ختمې شی تردې چه په دې کښې به یوڅاڅکې هم باقی پاتې نشی. وقيل: المسجور: المملوء، من سجر النهر اذا ملاءه، اوالموقد من سجرت التنور، اذا اوقدتها وملاتها وقوداً، وعليه تفسير الحسن البصری رحمه الله تعالى.

قوله: أَلَتْنَاهُمْ: نَقَصْنَاهُمْ:آیت کښې دی ﴿وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّیَّتُهُمْ بِاِیْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّیَّتَهُمْ

وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَیْءٍ﴾ اوچه کوموخلقو ایمان راوړو اود هغوی اولاد هم هغوی سره په ایمان کښې ملګرتیااوکړه)یعنی چه هغوی هم ایمان راوړوخو په اعمالوکښې د خپلو پلارانو مرتبې ته اونه رسیدل نود هغوی پلاران خوشحالولود پاره) مونږ به د هغوی اولاد ته هم)درجوکښې) هغوی سره شامل کړو او مونږ به)دَ دې اهل جنت متبوعینو) دَ عمل نه هیڅ څیز نه کموو. فرمائی آیت کښې التنا په معنی دَ نقصان دې.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ تَمُورُ تَدُورُ: ﴿يَوْمَ تَمُورُ السَّمَآءُ مَوْرًا﴾ په کومه ورځ چه آسمان تاؤ راتاؤ شی. فرمائی تمور معنی ته تاویدل.

قوله: أَحْلَامُهُمْ الْعُقُولُ: آیت کښې دی ﴿اَمْ تَاْمُرُهُمْ اَحْلَامُهُمْ بِهٰذَآ اَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ﴾ آیا دَ دوی عقلونه دوی ته دَ دې خبرو حکم ورکوی یا دا چه دا شیطانان خلق دی. فرمائی احلام معنی ده عقول، احلام: دَ حلم جمع ده په معنی دَ عقل.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْبَرُّ اللَّطِيفُ: آیت کښې دی ﴿اِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ﴾ فرمائی چه بر معنی لطیف مهربان اود هغه محسن ده دَ چا احسان چه عام وی.

قوله: كِسْفًا قِطَعًا: په آیت کښې ذی ﴿وَاِنْ يَّرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَآءِ سَاقِطًا يَّقُوْلُوْا سَحَابٌ مَّرْكُوْمٌ﴾ اوکه هغه دَ آسمان ټکړه اووینی هم چه راپریوتونکې راروانه ده نو)هغه به هم) داسې به وائی چه دا خو یو دَ بل دَ پاسه اوریځې دی. فرمائی دَ کسفاً معنی ده ټکړه.

قوله: الْمَنُونُ الْمَوْتُ: ﴿اَمْ يَقُوْلُوْنَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهٖ رَيْبَ الْمَنُوْنِ﴾ آیا دا خلق)دَ کاهن او مجنون کیدو نه علاوه ستا نسبت) دا)هم) وائی چه دا شاعر دې او مونږ دَ هغویء باره کښې دَ ناڅاپې مرګ انتظار کوو. فرمائی آیت کښې منون معنی مرګ ده.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ يَتَنَازَعُونَ يَتَعَاطَوْنَ: آیت کښې دی ﴿يَتَنَازَعُوْنَ فِيْهَا كَاْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا وَلَا تَاْثِيْمٌ﴾ یعنی جنتیان به په خپل مینځ کښې)دَ خوش طبیعتئی په توګه) ګپ شپ هم کوی او په دې او په هغې کښې به فضول او خرابه خبره نه وی. دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه علاوه وینا ده چه یتنازعون معنی ده دَ یو بل نه به اخلی.

[۴۵۷۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ نَوْفَلٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ شَكَوْتُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِّي أَشْتَكِي فَقَالَ طُوفِي مِنْ وَرَاءِ النَّاسِ وَأَنْتِ رَاكِبَةٌ فَطُفْتُ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي إِلَى جَنْبِ الْبَيْتِ يَقْرَأُ بِالطُّورِ وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ

[۴۵۷۳] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثُونِي عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ فَلَمَّا بَلَغَ هٰذِهِ الْآيَةَ أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ أَمْ خَلَقُوا السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ بَلْ

لَا يُوقِنُونَ أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُسَيْطِرُونَ قَالَ كَادَ قَلْبِي أَنْ يَطِيرَ قَالَ سُفْيَانُ فَأَمَّا أَنَا فَإِنَّمَا سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ يُحَدِّثُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ وَلَمْ أَسْمَعْهُ زَادَ الَّذِي قَالُوا لِي

سفيان رحمه الله فرمائی چه د امام زهری رحمه الله نه دا روايت ما واوريدو خو ما صرف دومره واوريدو "سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقرء في المغرب بالطور" اود دې نه پس الفاظ ما د زهری رحمه الله نه نه دی اوريدلی.

[۳۳۷] باب: تفسير سُورَةُ وَالنَّجْمِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ ذُو مِرَّةٍ ذُو قُوَّةٍ قَابَ قَوْسَيْنِ حَيْثُ الْوَتَرُ مِنَ الْقَوْسِ ضِيزَى عَوْجَاءُ وَأَكْدَى قَطَعَ عَطَاءَهُ رَبُّ الشِّعْرَى هُوَ مِرْزَمُ الْجَوْزَاءِ الَّذِي وَفَّى وَفَّى مَا فُرِضَ عَلَيْهِ أَزِفَتِ الْآزِفَةُ اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ سَامِدُونَ الْبَرْطَمَةُ وَقَالَ عِكْرِمَةُ يَتَغَنَّوْنَ بِالْحِمْيَرِيَّةِ وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ أَفَتُمَارُونَهُ أَفَتُجَادِلُونَهُ وَمَنْ قَرَأَ أَفَتَمْرُونَهُ يَعْنِي أَفَتَجْحَدُونَهُ وَقَالَ مَا زَاغَ الْبَصَرُ بَصَرُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا طَغَى وَمَا جَاوَزَ مَا رَأَى فَتَمَارَوْا كَذَّبُوا وَقَالَ الْحَسَنُ إِذَا هَوَى غَابَ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَغْنَى وَأَقْنَى أَعْطَى فَأَرْضَى

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ ذُو مِرَّةٍ ذُو قُوَّةٍ: آيت مبارك كښې دی ﴿عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى ۝ ذُو مِرَّةٍ فَاسْتَوَى ۝﴾ په دې كښې ذومرة معنی ده طاقت والا، مراد ترې حضرت جبرائيل ﴿ دې.

قوله: قَابَ قَوْسَيْنِ حَيْثُ الْوَتَرُ مِنَ الْقَوْسِ:

د "فكان قاب قوسين" تفسير: آيت مبارك كښې دی ﴿فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى ۝﴾ د دې آيت مختلف تفسيرونه بيان كړيشوی دی.

① **قاب:** مقدار ته وائی او قوسين د قوس تثنيه كمان ته وائی. اود آيت مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ د الله تعالى يا د حضرت جبرائيل عليه السلام سره دومره نزدې شو چه د دوو كمانونو برابر فاصله پاتې شوه. علامه قرطبی رحمه الله فرمائی "تقديره: فكان مقدار مسافة قربه مثل قاب قوسين"[1] په عربوكښې دا طريقه وه چه كله به دو سړو په خپل مينځ كښې اتحاد او د يوځائ كيدو معاهده كول غوښتل نو دواړو به خپل كمانونه اوچتول او يو بل سره به ئې خپل كمانونه داسې يو ځائ كول چه د دواړو كمانونو لرګی خو به ئې خپل طرف ته كول او د پلې تار)چه لينده كښې استعماليږی) بل طرف ته، دغه شان به چه د دواړو ليندو تارونه يوځائ شو او يو به شو نو په هغه دواړو كښې به د قوسونو د قاب فاصله پاتې كيدله، مطلب به دا ووچه د دې كمانونو په شان نن مونږ هم يو بل سره يو ځائ شو او زمونږ دوست او دښمن به اوس

[1] تفسير قرطبی-۱۷/۸۹:

یو وی. نو اوس دا دَ محاورې په توګه استعمالولې شی، په خیل مینځ کښې یو ځائ کیدل، او یوشان کیدل اودَ فاصلې دَ کمی تعبیر "قاب قوسین" سره کوی (١) دلته هم دا مطلب دې چه رسول الله ﷺ حضرت جبرائیل علیه السلام ته دومره نزدې راغلوچه د دواړو په مینځ کښې دَ دوو کمانونو برابر فاصله پاتې شوه، بلکه دینه هم کمه، اوهغوی دواړه یو بل سره په هر لحاظ سره یوشان او یو ځائ او په دواړو کښې مکمل اتصال اوشو.

② بعضې مفسرین وائی چه قاب هغه فاصله ته وائی چه دَ کمان قبضه)دَ نیولو لاسکې) اودَ کمان تار په مینځ کښې وی دَ څه اندازه چه په یو لاس کولې شی، دَ یو کمان دوه قابه وی دَ نیولو دَ لاسکی نه دَ تار طرف ته تلونکې دوو حصوکښې دَ هرې یوې حصې فاصله قاب دې. قرطبی رحمه الله فرمائی "والقاب مابين المقبض والسية، ولكل قوس قابان" په آیت کښې لفظی قلب کړېشویدې، اصل عبارت دې "قابَيْ قوس" یعنی دَ یو قوس دوه قابه،مضاف چه تثنیه دې دَ دې عوض مضاف الیه ئی تثنیه جوړکړو (٢)دَ دوو قابونو فاصله دَ یو کمان برابره ده. دَ آیت مطلب به دا وی چه رسول الله ﷺ اودَ حضرت جبرائیل علیه السلام په مینځ کښې دَ یو کمان دَ دوو قابونو برابره فاصله وه، حاصل دا چه دَ یو کمان برابره فاصله وه یا دَ دې نه هم کمه.

③ سعیدبن جبیر رحمه الله او ابواسحاق همدانی رحمه الله وغیره فرمائی چه قاب مقدار او قوس دَ ذراع په معنی کښې دی. ذراع ته قوس ولې اووئیلې شو "لانه يقاس بها كل شئ" چه دَ دې په ذریعه دَ هر څیز حساب لګولې شی، ناپ کولې شی اوس به معنی دا وی دَ نبی کریم ﷺ او حضرت جبرائیل علیه السلام په مینځ کښې فاصله دَ دوو ذراعو برابر پاتې شوې وه. حافظ ابن حجر رحمه الله دا اولی او ارجح ګرځولې(٣)اکثرو حضراتو اولنی تفسیر ته ترجیح ورکړیده.(٤)

د کلماتو تشریح:

قوله: ضِيزَى: عَوْجَاءُ: آیت مبارك کښې دی (تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ) په دې حالت کښې خو ډیر کوږ تقسیم اوشو... فرمائی چه ضیزی معنی نه ده کوږ.

قوله: وَأَكْدَى: قَطَعَ عَطَاءَهُ: آیت کښې دی (وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰ) لږ شان مال ورکړو او(بیا هغه هم) بند کړو، فرمائی آیت کښې اکدی معنی ده قطع عطاءه ورکول ئی ختم کړل.

قوله: رَبُّ الشِّعْرَى: مِرْزَمُ الْجَوْزَاءِ: (وَأَنَّهُ هُوَ رَبُّ الشِّعْرَىٰ) حضرت انورشاه کشمیری رحمه الله

---

١) اوګورئی معالم التنزیل-٤/٢٤٦:
٢) تفسیر قرطبی ١٧/٩٠:وفتح الباری-٨/٦١٠ :
٣)فتح الباری-٨/٦١٠ :
٤) تفسیرقرطبی ١٧/٨٩ :وروح المعانی ١٥/٧٥: جزء ٢٧ وتفسیر عثمانی:ص ٦٩٨ وفیض الباری-٤/٢٣٧:

"شعری" ترجمه "پرنی" کړې ده.(۱) امام بخاری رحمه الله فرمائی چه شعری ته مرزم الجوزاء هم وائی، دا ستوری جوزاء نه پس د گرمئی په موسم کښې راخیژی(۲) یو قول دا هم دې چه د نمر نه شعری لوئ دې.

قوله: الَّذِي وَفَّى: وَفَّى مَا فُرِضَ عَلَيْهِ: آیت کښې دی (وَاِبْرٰهِیْمَ الَّذِیْ وَفّٰۤی) فرمائی د (الَّذِیْ وَفّٰۤی) معنی ده کوم چه په هغوی فرض وو هغه ئې پوره کړل.

قوله: أَزِفَتْ الْآزِفَةُ: اقْتَرَبَتْ السَّاعَةُ: آیت کښې دی (اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ۚ لَیْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ کَاشِفَةٌ ؕ) هغه زر راتلونکې خیز نزدې راورسیدو.د الله تعالی نه علاوه بل څوك هغه اخوا کونکې نشته. فرمائی د (اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ۚ) معنی ده قیامت نزدې راغلو.

قوله: سَامِدُونَ: الْبَرْطَمَةُ، وَقَالَ عِكْرِمَةُ: يَتَغَنَّوْنَ، بِالْحِمْيَرِيَّةِ: آیت کښې دی (وَتَضْحَکُوْنَ وَلَا تَبْکُوْنَ ۙ وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ) فرمائی چه سامدون نه برطمة مراد دې. د برطمة معنی ده ده: کونکې(۳) او عکرمه رحمه الله وئیلی دی سامدون معنی په حمیری ژبه کښې گانه یعنی لوبه وئیل دی.

قوله: وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ: أَفَتُمَارُونَهُ: أَفَتُجَادِلُونَهُ، وَمَنْ قَرَأَ: أَفَتَمْرُونَهُ يَعْنِي أَفَتَجْحَدُونَهُ: (اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰی مَا یَرٰی) آیا ته هغه رسول صلی علیه وسلم سره د هغه کتونکې خیز باندې نزاع کوې حمزه او کسائی "اَفَتَمْرُوْنَهٗ" لولې د کوم معنی چه آیا تاسو د هغې انکار کوئی.

قوله: مَا زَاغَ الْبَصَرُ: بَصَرُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا طَغَى: وَلاَ جَاوَزَ مَا رَأَى :آیت کښې دی (مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰی) نه د هغه نظر دهوکه شو مراد د حضرت محمد ﷺ نظرمبارك دې او نه نظر تجاوز اوکړو د هغې نه چه څه ئې اوکتل، یعنی د هغوی) نظر مبارك د حد نه زیات نه شو څومره چه حکم وو هم دومره ئې اوکتل.

قوله: فَتَمَارَوْا: كَذَّبُوا: دا لفظ د سورة قمر دې، هلته په آیت کښې دی "ولقد انذرهم بطشتنا فتماروا بالنذر" او هغه ویریدلې وو زمونږ د نیولو نه لیکن هغوی زمونږ ویرول دروغ اوگنړل، دلته دې لفظ ته (اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰی مَا یَرٰی) په مناسبت سره راوړیدې.

قوله: إِذَا هَوَى: غَابَ: (وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰی ۙ) قسم دې د ستوری.کله چه هغه ډوبیږی، هوی

---

(۱)فیض الباری-۴/۲۴۷ :

(۲) د تفصیل د پاره اوگورئی فتح الباری ۸/۶۰۵:وعمدة القاری-۱۹/۱۹۶:

(۳)البرطمة، بفتح الباء، وسكون الراء وفتح الطاء، الاعراض، وقال ابن عيينة :البرطمة هكذا، ووضع ذقنه فى صدره)فتح الباری (۸/۶۰۵)

معنی غیبیدل دی.

قوله: أَغْنَى وَأَقْنَى: أَعْطَى فَأَرْضَى: آیت کښې دی (وَأَنَّهُ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ) یعنی هغه راکړه اوخوشحاله ئی کړو، اغنی: غنی جوړ کړل، مال اودولت ورکول، اقنی راضی کول، خوشحالول.

[۴۵۷۴] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ عَامِرٍ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا يَا أُمَّتَاهْ هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَبَّهُ فَقَالَتْ لَقَدْ قَفَّ شَعَرِي مِمَّا قُلْتَ أَيْنَ أَنْتَ مِنْ ثَلَاثٍ مَنْ حَدَّثَكَهُنَّ فَقَدْ كَذَبَ مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ كَذَبَ ثُمَّ قَرَأَتْ لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ وَمَنْ حَدَّثَكَ أَنَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ فَقَدْ كَذَبَ ثُمَّ قَرَأَتْ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَنْ حَدَّثَكَ أَنَّهُ كَتَمَ فَقَدْ كَذَبَ ثُمَّ قَرَأَتْ يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ الْآيَةَ وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام فِي صُورَتِهِ مَرَّتَيْنِ

[۳۳۸] بَاب فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى

حَيْثُ الْوَتَرُ مِنَ الْقَوْسِ

[۴۵۷۵] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الشَّيْبَانِيُّ قَالَ سَمِعْتُ زِرًّا عَنْ عَبْدِ اللَّهِ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ مَسْعُودٍ أَنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ

[۳۳۹] بَاب قَوْلِهِ فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى

[۴۵۷۶] حَدَّثَنَا طَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنْ الشَّيْبَانِيِّ قَالَ سَأَلْتُ زِرًّا عَنْ قَوْلِهِ تَعَالَى فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى جِبْرِيلَ لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ

[۳۴۰] بَاب لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى

[۴۵۷۷] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى قَالَ رَأَى رَفْرَفًا أَخْضَرَ قَدْ سَدَّ الْأُفُقَ

[۳۴۱] بَاب أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّى

[۴۵۷۸] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبُو الْأَشْهَبِ حَدَّثَنَا أَبُو الْجَوْزَاءِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فِي قَوْلِهِ اللَّاتَ وَالْعُزَّى كَانَ اللَّاتُ رَجُلًا يَلُتُّ سَوِيقَ الْحَاجِّ

[۴۵۷۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ حُمَيْدٍ

بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ وَاللَّاتِ وَالْعُزَّى فَلْيَقُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ أُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه لات دَ یو سړی نوم دې چه دَ حاجیانودَ پاره به ئې ستوان ټکول. فاکهی دَ مجاهد رحمه الله نه نقل کړی دی چه دا سړې دَ جاهلیت په زمانه کښې دَ طائف په یو غربانديې ناست وو او دَ طائف دَ کشمش او پنیر نه به ئې یوه حلوه جوړوله او په خلقو به ئې خوړله، کله چه دې مړ شو نو خلقودَ ده عبادت شروع کړو (۱) دَ دې سړی باره کښې اختلاف دې، بعض وائی چه دا عامربن ظرب وو چه په خپله زمانه کښې دَ عربومشهور دانشوروو، علامه سهیلی نقل کړی دی چه دا عمرو بن لُحی بن قمعه وو لیکن حافظ رحمه الله دا قول ردکړیدې اودَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه ئې روایت نقل کړیدې چه لات کله مړشو نو خلقو ته عمرو بن لحی اووئیل چه دا مړ نه دې بلکه په ګټهان کښې داخل شویدې دَ څه په وجه چه خلقو دَ هغه عبادت کول شروع کړه، دَ دې روایت نه معلومیږی چه لات او عمرو بن لحی دوه جداجدا سړو نامې دی.(۲)

بهرحال دا دَ یو سړی نوم دې دَ چا دَ مرګ نه پس چه خلقو دَ ده بت جوړکړو او دَ هغې عبادت کول ئې شروع کړه. دا بت حضرت مغیره بن شعبه) دَ رسول الله ﷺ په حکم هغه وخت اونړولو کله چه دَ طائف قبیلې ثقیف اسلام قبول کړلو. (۳)

دوئم بت عزی وو کوم چه دَ ټولو نه اول ظالم بن سعد دَ نخله په وادئی کښې دَ عبادت دَ پاره اوټاکلو اوحضرت خالدبن ولید) دَفتح مکې په کال دَ نبی کریم ﷺ په حکم سره مات کړو.(۴)

دریم بت مناة وو چه دَ لات نه هم وړاندې وو، داحضرت علی) دَ مکې دَ فتح په کال مات کړو(۵)

قوله: من حلف. فقال في حلفه: واللات والعزى، فليقل: لااله الا الله: که چرې هغه "واللات والعزى" تعظیماً وئیلې وی نو دَ ایمان تجدید به کوی او که تعظیماً ئې نه وی وئیلی هسې په ناپوهئی کښې دَ خُلې نه وتلی وی نو بیا هم دَ بت نوم ئې اخستې دې، په زړه کښې به ئې څه نا څه ظلمت او تیاره ضرور راغې نوپه دې وجه دَ دې دَ ازاله دَ پاره بیا هم کلمه توحید وئیل پکار دی (۶)

---

(۱) فتح الباری-۸/۶۱۲:
(۲) فتح الباری-۸/۶۱۲:
(۳) فتح الباری-۸/۶۱۲:
(۴)فتح الباری-۸/۶۱۲:
(۵) فتح الباری-۸/۶۱۲:
(۶)فتح الباری-۸/۶۱:

قوله: ومن قال لصاحبه: تعالی، اقامرك، فلیتصدق: که یو سړی خپل ملګری ته اووائی چه راځه جواری کوو نو ده له پکار دي چه صدقه اوکړی علامه طحاوی رحمه الله فرمائی چه هغه مال صدقه کول مراد دی کوم چه د جوارۍ د پاره راویستلې وو ځکه چه دا په جوارئ کښې د خرچ کولو نه بهتر ده چه په صدقه کښې خرچ کړې (۱) علامه خطابی رحمه الله همدغه مراد اخستې دې. لیکن علامه نووی رحمه الله فرمائی چه مطلقاً صدقه کول مراد دي ځکه چه جواری حرامه ده اود یو حرام کار دعوت د ده په ژبه جاری شو نوپه دې وجه د کفارې په خاطر دې څه نا څه صدقه اوکړی، د مسلم شریف روایت هم په دې معنی دلالت کوی، په دې کښې دی "فلیتصدق بشیء" (۲)

[۳۴۲] باب ومناة الثالثة الأخری

[۴۵۸۰] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ سَمِعْتُ عُرْوَةَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا فَقَالَتْ إِنَّمَا كَانَ مَنْ أَهَلَّ بِمَنَاةَ الطَّاغِيَةِ الَّتِي بِالْمُشَلَّلِ لَا يَطُوفُونَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَطَافَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُونَ قَالَ سُفْيَانُ مَنَاةُ بِالْمُشَلَّلِ مِنْ قُدَيْدٍ

داحدیث د سورة بقره په تفسیر کښې تیرشویدې. مشلل د ځایٔ نوم دې او قدید هم د مکې نه د مدینې طرف ته په لارکښې د یومقام نوم دې.

وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ خَالِدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ نَزَلَتْ فِي الْأَنْصَارِ كَانُوا هُمْ وَغَسَّانُ قَبْلَ أَنْ يُسْلِمُوا يُهِلُّونَ لِمَنَاةَ مِثْلَهُ

په دې تعلیق کښې دی د اسلام نه وړاندې انصار او د قبیله غسان خلقو د مناة بت په نوم باندې احرام تړلو، د دې متعلق دا مذکوره آیت نازل شو "یُهِلُّونَ لِمَنَاةَ" ای یحرمون لمناة "مثله" یعنی د دې تعلیق مفهوم هم د سفیان د حدیث په شان دې. د عبدالرحمن بن خالد دا تعلیق امام ذهلی په "زهریات" کښې او امام طحاوی په "مشکل الآثار" کښې موصولاً نقل کړیدې. (۳)

وَقَالَ مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْأَنْصَارِ مِمَّنْ كَانَ يُهِلُّ لِمَنَاةَ وَمَنَاةُ صَنَمٌ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ قَالُوا يَا نَبِيَّ اللَّهِ كُنَّا لَا نَطُوفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ تَعْظِيمًا لِمَنَاةَ نَحْوَهُ

د معمرنه معمر بن راشد مراددې "نحو" ای نحوالحدیث المذکور، دا تعلیق امام احمد رحمه الله موصولاً نقل کړیدې.

---

(۱) فیض الباری-۴/۲۴۱:
(۲) فتح الباری-۸/۶۱۲:
(۳) تعلیق اتعلیق ۴/۳۲۵ :عمدة القاری-۱۹/۲۰۳:

[۳۴۳] باب فاسجدوا لله واعبدوا

[۴۵۸۱] حدثنا أبو معمر حدثنا عبد الوارث حدثنا أيوب عن عكرمة عن ابن عباس رضي الله عنهما قال سجد النبي صلى الله عليه وسلم بالنجم وسجد معه المسلمون والمشركون والجن والإنس تابعه إبراهيم بن طهمان عن أيوب ولم يذكر ابن علية ابن عباس

[۴۵۸۲] حدثنا نصر بن علي أخبرني أبو أحمد حدثنا إسرائيل عن أبي إسحاق عن الأسود بن يزيد عن عبد الله رضي الله عنه قال أول سورة أنزلت فيها سجدة والنجم قال فسجد رسول الله صلى الله عليه وسلم وسجد من خلفه إلا رجلا رأيته أخذ كفا من تراب فسجد عليه فرأيته بعد ذلك قتل كافرا وهو أمية بن خلف

[۳۴۴] باب: تفسير سورة القمر (اقتربت الساعة)

قال مجاهد مستمر ذاهب مزدجر متناه وازدجر فاستطير جنونا دسر أضلاع السفينة لمن كان كفر يقول كفر له جزاء من الله محتضر يحضرون الماء وقال ابن جبير مهطعين النسلان الخبب السراع وقال غيره فتعاطى فعاطها بيده فعقرها المحتظر كحظار من الشجر محترق ازدجر افتعل من زجرت كفر فعلنا به وبهم ما فعلنا جزاء لما صنع بنوح وأصحابه مستقر عذاب حق يقال الأشر المرح والتجبر

قوله: قال مجاهد: مستمر: ذاهب: ﴿وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ﴾ اوکه هغوی چرته څه نښه وینی او ډېره کوی او وائی دا جادو دې چه د اول نه راوان دې. یعنی مدعیان نبوت اول هم داسې جادو کولو نو لکه څنګه چه د هغوی جادوپاتې نشو نو دا به هم پاتې نشی. مستمر معنی مجاهد رحمه الله ذاهب بیان کړیده یعنی تلونکې، ختمیدونکې، بعضو وئیلی دی ذاهب په معنی د سائر ده یعنی باقی پاتې کیدونکې(۱)

قوله: مزدجر: متناه: ﴿وَلَقَدْ جَاءَهُم مِّنَ الْأَنبَاءِ مَا فِيهِ مُزْدَجَرٌ﴾ فرمائی مزدجر په معنی د "متناه" ده چه د باب تفاعل نه صیغه د اسم فاعل ده. "ای غایة فی الزجر، لامزید علیه"(۲) یعنی بې انتهاء رټنه مطلب دا دې چه دې خلقو سره دومره خبرې رسیدلې دی په کوموکښې چه په اوچته درجه رټنه او تنبیه موجود ده.

قوله: وازدجر: فاستطیر جنونا: ﴿وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ﴾ اودې خلقو د حضرت نوح علیه السلام باره کښې اووئیل چه دا مجنون دې، اود جنون د وجه نه وریدلې او نشه دې. أستطیر صیغه

---

(۱) فتح الباری-۸/۶۱۲:

(۲) عمدة القاری-۱۹/۲۰۴ :

مجهول ده. أستطير الرجل ، ويرولې، خوف زده كړېشوي. بعضو د دې ترجمه صرع سره كړېده. يعنى د مرګى بيمارئى كښې اخته كړېشوي. بهرحال په دې صورت كښې داعطف دې مجنون باندې او د قوم په مقوله كښې داخل دې. بعضو دا د الله تعالى مقوله ګرځولې ده اود دې تفسير ئې كړېدې "دهمكى وركړېشوي"(١)

مطلب دا دې چه د نوح عليه السلام قوم نوح عليه السلام ته مجنون اوونيل او هغه ته ئې دهمكى وركړه چه د تبليغ نه منع شه مونږ به تا رجم كړو.

قوله: دُسُرٍ: أَضْلَاعُ السَّفِينَةِ (وَحَمَلْنَهُ عَلَى ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ) فرمائى چه "دسر" د كشتئى اړخونه يعنى تختې ميخونو او رسو وغيره ته وائى، دا د دسار جمع ده ميخ ته وائى.

قوله: لِمَنْ كَانَ كُفِرَ: يَقُولُ: كُفِرَ لَهُ جَزَاءً مِنَ اللَّهِ: (لِمَنْ كَانَ كُفِرَ) مطلب دا دې چه دا عذاب په حقيقت كښې د الله تعالى د طرف نه بدله وه د حضرت نوح عليه السلام چه د هغه ناقدرى او انكار ئې كړې وو.

قوله: مُحْتَضَرٌ: يَحْضُرُونَ الْمَاءَ: آيت كښې دى (وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُحْتَضَرٌ) اوهغه خلقو ته دا اوښايه چه اوبه)كويان) تقسيم كړېشوى دى هر يو دې په خپل نمبر راځى. فرمائى محتضر معنى ده نمبر والا ټول دې اوبه ته حاضريږى.

قوله: مُهْطِعِينَ: النَّسَلَانُ: الْخَبَبُ السِّرَاعُ: (مُهْطِعِينَ إِلَى الدَّاعِ)" دا د اهطاع نه صيغه اسم فاعل ده. د كوم معنى چه په تيزئى سره د تللو ده. ددې تفسير النسلان سره كړېدې. اود النسلان تفسير "الخبب السراع" سره، د ټولو معنى په تيزئى سره د تللو ده.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ: فَتَعَاطَى: فَعَاطَهَا بِيَدِهِ فَعَقَرَهَا: (فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَى فَعَقَرَ)

فتعاطى ترجمه عاط سره كړېده، عاط عوط نه ماخوذ دې د كوم چه د عربو په كلام كښې هيڅ معنى نه راځى. په دې وجه شراح حضراتو وئيلى دى چه په دې كښې قلب شويدې د عين كلمه د لام په ځائ كړشويده او دا عطو نه ماخوذ دې د كوم معنى چه په لاس د نيولو راځى او هغه دلته صحيح ده.(٢)

قوله: الْمُحْتَظِرِ: كَحِظَارٍ مِنَ الشَّجَرِ مُحْتَرِقٍ: (فَكَانُوا كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ) محتظر معنى ده د ونو)يعنى لرګو) سوزيدلې او مات شوې شپول. حظار از ضرب حظر، حظراً منع كول، حظار وحظيرة شپول هغه ځيز چه ستا او د نورو په مينځ كښې بنديز جوړشي. مطلب دا چه په عذاب راتلوباندې هغه د چقنړى شوى ازغود شپول په شان شو لكه څنګه چه هغه شپول ذره ذره كيږى دا هم تباه شو.

(١) تفسير كشاف-٤٣٣/٤ :

(٢) فتح البارى ٨/٦١٦:وعمدة القارى-١٩/٢٠٥:

قوله: كُفِرَ: فَعَلْنَا بِهِ وَبِهِمْ مَا فَعَلْنَا جَزَاءً لِمَا صُنِعَ بِنُوحٍ وَأَصْحَابِهِ: په آيت مبارك كښې دی "جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ" د نوح علیه السلام امداد كول او قوم غرق كول) دا بدله وه د هغه معاملې چه نوح علیه السلام اود هغه ملګرو سره اوکړیشوه.

قوله: مُسْتَقِرٌّ: عَذَابٌ حَقٌّ: آيت كښې دی وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ۚ او سحر وختی په هغوی باندې د هميشه عذاب راغلو. فرمائی مستقر معنی عذاب حق.

قوله: يُقَالُ: الْأَشَرُ: الْمَرَحُ وَالتَّجَبُّرُ: آيت كښې د "سَيَعْلَمُونَ غَدًا مَّنِ الْكَذَّابُ الْأَشِرُ ۝" هغوی ته ډیرزر معلوم شی چه دروغ وایونکې څوك وو. وئیلې شی چه اشر معنی ده کبر او غرور کول، اشر کبر او غرورکونکې.

[۳۴۵] بَاب وَانْشَقَّ الْقَمَرُ وَإِنْ يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا

[۴۵۸۳] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ وَسُفْيَانَ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِرْقَتَيْنِ فِرْقَةً فَوْقَ الْجَبَلِ وَفِرْقَةً دُونَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْهَدُوا

[۴۵۸۴] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ وَنَحْنُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَارَ فِرْقَتَيْنِ فَقَالَ لَنَا اشْهَدُوا اشْهَدُوا

[۴۵۸۵] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي بَكْرٌ عَنْ جَعْفَرٍ عَنْ عِرَاكِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ فِي زَمَانِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۴۵۸۶] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَأَلَ أَهْلُ مَكَّةَ أَنْ يُرِيَهُمْ آيَةً فَأَرَاهُمْ انْشِقَاقَ الْقَمَرِ

[۴۵۸۷] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ فِرْقَتَيْنِ

د انشقاق قمر بحث: امام بخاری رحمه الله دلته د اشقاق القمر روایتونه حضرت عبدالله بن مسعود)، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما او حضرت انس) نه نقل کړی دی. حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه خو د انشقاق قمر کتونکونه دي. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما لا پيدا شوې هم نه وو. خکه چه دا واقعه د هجرت نه پنځه کاله وړاندې ده، او ابن عباس رضی الله عنهما هغه وخت نه وو پیدا شوې او حضرت انس) د څلورو پنځو کالو ماشوم وو او په مدینه منوره کښې وو، په مکه مکرمه کښې موجود نه وو. غالباً هغوی د باقی صحابه کرامو نه اوریدوسره دا واقعه

بیان کړیده.(۱) ابونعیم "دلائل النبوة" کښې د حضرت ابن عباس ﷠ روایت نقل کړیدې چه یو څو مشرکان د رسول الله ﷺ په خواکې راجمع شول. په هغوی کښې ابوجهل، ولید بن مغیره، عاص بن وائل او نظربن حارث شامل وو او رسول الله ﷺ ته ئې اووئیل که ته رښتونې ئې نو دا سپوږمئی دوه ټکړې کړه. نبی کریم ﷺ دعا اوکړه او سپوږمئی دوه ټکړې شوه (۲)

حافظ جلال الدین سیوطی رحمة الله عليه فرمائیلی دی چه د دې ثبوت په تواتر سره دې، حافظ ابن کثیر دا متفق علیه ګرځولې دې (۳) د حافظ ابن حجر رحمة الله عليه استاد حافظ زین الدین عراقی رحمة الله عليه اجماع نقل کړې. هغه په خپل منظوم سیرت کښې فرمائی:

فصار فرقتین فرقة علت — وفرقة للطود منه نزلت

وذاك مرتین بالاجماع — والنص والتواتر السماع (۴)

د بعض قدیم علماؤ دا خیال دې چه د شق قمر معجزه نه ده واقع شوې دا به قرب قیامت کښې واقع کیږی. باقی پاتې شوه دا خبره ﴿وَانْشَقَّ الْقَمَرُ﴾ کښې د ماضی صیغه استعمال شویده نو هغوی وائی چه د مستقبل د پاره د ماضی صیغه استعمالولې شی کله چه په مستقبل کښې د هغه څیز په وقوع کښې تحقق کښې مبالغه مقصود وی لکه څنګه چه ﴿اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ﴾ کښې استعمال کړیشویده. لیکن د جمهورو علماؤ مسلك دا دې چه انشقاق قمر د رسول الله ﷺ په زمانه کښې واقع شویده. لکه څنګه چه په روایاتوکښې دی.

حافظ رحمة الله عليه لیکي: "والذی ذهب الیه الجمهور اصح، کما جزم به ابن مسعود وحذیفة وغیرهما" (۵) حافظ ابن حجر رحمة الله عليه د انشقاق قمر متعلق بعض سوالونه او اعتراضونه او د هغې جوابونه نقل کړیدی (۶) دلته د مولاناشبیراحمد عثمانی رحمة الله عليه تفسیری حاشیه نقل کولې شی چه په دې کښې د هغه مختصر جوابونه راغی، هغوی لیکی: "طحاوی او ابن کثیر د دې واقعې د تواتر دعوی کړیده اود یوعقلی دلیل نه هم ترنن پورې ددې قسم واقعه محال کیدل ثابت نه کړیشو. اوصرف د استبعاد په بنیادباندې داسې قطعی الثبوت څیزونه رد کولې نشی، بلکه استبعاد خو د معجزې د پاره لازم دې، د روزمره معمولی واقعاتوته معجزه څوك وائی"

---

(۱) فتح الباری، کتاب مناقب النصار، باب انشقاق القمر-۷/۱۸۲:

(۲) دلائل ابی نعیم، الفصل السادس عشر، انشقاق القمر -۱/۲۸۰: نور اوګورئی الخصائص الکبری، باب انشقاق القمر-۱۲۶-۱/۱۲۵:

(۳) تفسیر ابن کثیر-۴/۲۶۱:

(۴) فتح الباری، کتاب مناقب الانصار، باب انشقاق القمر-۷/۱۸۳:

(۵) فتح الباری، کتاب مناقب الانصار، باب انشقاق القمر-۷/۱۸۶:

(۶) فتح الباری، باب انشقاق القمر-۱۸۶-۷/۱۸۳:

باقی دا وېناچه شق قمر که واقع شوې وې نو په تاریخ کښې دَ دې وجود ولې نشته نو یادساتنې چه دا واقعه دَ شپې ده او په بعض ملکونوکښې خود مطالع دَ اختلاف دَ وجه هغه وخت ورځ وی او په بعض ځایونوکښې نیمه شپه وی او خلقو عام توګه باندې اوده وی او چه چرته بیداری وی او دَ کولاؤ آسمان لاندې ناست وی نو عادتاً دا ضروری نه ده چه ټول به آسمان ته ګوری، په زمکه چه کومه دَ سپوږمئی رڼا خوروی په دې شرط چه آسمان صفاوی نو په دې کښې دَ سپوږمئی دوه ټکړې کېدل څه فرق نه راولی، بیادَ لږ وخت قصه وه، مونږ وینوګورو چه بار بار سپوږمئی تندر نیسی او ډیره تیره وی خو په لاکهونو انسانانوته پته هم نه وی او په هغه زمانه کښې دَ رصد وغیره دومره وسیع او مکمل انتظامات او تقویم(جنتریانې) او دومره دَ خورونو ذرائع هم نه وې. بهر حال په تاریخونوکښې دَ نه ذکرکېدو په وجه دَ دې تکذیب نشی کېدې. سره دَ دې چه "تاریخ فرشته" وغیره کښې دَ دې ذکر موجود دې، دَ هندوستان مهاراجه "مالیبار" دَ اسلام راوړلو سبب هم دا واقعه لیکی.(۱)

قدیم فلاسفه چونکه دَ آسمان او سیاراتوخرق او التیام قائل نه دی په دې وجه هغوی دَ دینه انکار کوی نو حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی: "وقد انکر جمهور الفلاسفة انشقاق القمر، متمسکین بان الایات العلویة، لایتهیأفیها الانخراق والالتیام"

حافظ ابن حجر رحمه الله دَ زجاج په حواله سره دَ دې جواب ورکړیدې چه قمر او نور اجرام سماویه دَ الله تعالی) مخلوق دې اوالله تعالی دَ هغوی دَ تخلیق په شان دَ هغوی په انشقاق او په هغې کښې انخراق او التیام باندې قادر دې.(۲) او مولانا انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی "وقد ثبت الیوم الخرق، والالتئام، والانشقاق، والانفطار کلها فی الاجرام السماویة"(۳)

[۳۴۶] بَاب تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَاءً لِمَنْ كَانَ كُفِرَ

وَلَقَدْ تَرَكْنَاهَا آيَةً فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ قَالَ قَتَادَةُ أَبْقَى اللَّهُ سَفِينَةَ نُوحٍ حَتَّى أَدْرَكَهَا أَوَائِلُ هَذِهِ الْأُمَّةِ

[۴۵۸۸] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْأَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

دَ دې ترجمة الباب نه واخله باب ولقد اهلکنا اشیاعکم پورې شپږ مختلف ترجمې دی او په هره یوه کښې دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه هم یو روایت نقل دې. دَ امام بخاری رحمه الله مقصد خودل دا دی چه په آیت کښې "فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ" دَ دال سره دې او په دې خبره باندې هم

---

(۱) تفسیرعثمانی ۷۰۱: فائده نمبر-۱۲

(۲) فتح الباری، کتاب مناقب الانصار، باب انشقاق القمر-۷/۱۸۵:

(۳) فیض الباری-۴/۲٤۱:

خبرداري مقصد دي چه قرآن پاك كومې قصې او واقعات بيانوى دې نه عبرت حاصلول پكار دى.

[٣٤٧] بَاب وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

قَالَ مُجَاهِدٌ يَسَّرْنَا هَوَّنَّا قِرَاءَتَهُ.

[٤٥٨٩] حدثنا مسدد، عن يحيى، عن شعبة، عن أبى إسحق، عن الأسود، عن عبدالله رضى الله عنه، عن النبى) أنه كان يقرأ: فهل من مدكر.

[٣٤٨] بَاب أَعْجَازُ نَخْلٍ مُنْقَعِرٍ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ

[٤٥٩٠] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ أَنَّهُ سَمِعَ رَجُلًا سَأَلَ الْأَسْوَدَ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ أَوْ مُذَّكِرٍ فَقَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ يَقْرَؤُهَا فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ قَالَ وَسَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَؤُهَا فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ دَالًا

[٣٤٩] بَاب فَكَانُوا كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

[٤٥٩١] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا أَبِي عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْأَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ الْآيَةَ

[٣٥٠] بَاب وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُسْتَقِرٌّ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ إِلَى فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

[٤٥٩٢] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْأَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَرَأَ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

[٣٥١] بَاب وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

[٤٥٩٣] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَرَأْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَلْ مِنْ مُذَّكِرٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

[٣٥٢] بَاب قَوْلُهُ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ

[٤٥٩٤] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَوْشَبٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ ح وحَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ عَنْ وُهَيْبٍ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ

عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ يَوْمَ بَدْرٍ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَنْشُدُكَ عَهْدَكَ وَوَعْدَكَ اللّٰهُمَّ إِنْ تَشَأْ لَا تُعْبَدْ بَعْدَ الْيَوْمِ فَأَخَذَ أَبُو بَكْرٍ بِيَدِهِ فَقَالَ حَسْبُكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَلْحَحْتَ عَلَى رَبِّكَ وَهُوَ يَثِبُ فِي الدِّرْعِ فَخَرَجَ وَهُوَ يَقُولُ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ

[٣٥٣] بَابُ قَوْلِهِ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ يَعْنِي مِنَ الْمَرَارَةِ

[٤٥٩٥] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ قَالَ أَخْبَرَنِي يُوسُفُ بْنُ مَاهَكٍ قَالَ إِنِّي عِنْدَ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ لَقَدْ أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ وَإِنِّي لَجَارِيَةٌ أَلْعَبُ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ

[٤٥٩٦] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ خَالِدٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ لَهُ يَوْمَ بَدْرٍ أَنْشُدُكَ عَهْدَكَ وَوَعْدَكَ اللّٰهُمَّ إِنْ شِئْتَ لَمْ تُعْبَدْ بَعْدَ الْيَوْمِ أَبَدًا فَأَخَذَ أَبُو بَكْرٍ بِيَدِهِ وَقَالَ حَسْبُكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَدْ أَلْحَحْتَ عَلَى رَبِّكَ وَهُوَ فِي الدِّرْعِ فَخَرَجَ وَهُوَ يَقُولُ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ

[٣٥٤] باب: تفسير سُورَةُ الرَّحْمٰنِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ بِحُسْبَانٍ كَحُسْبَانِ الرَّحَى وَقَالَ غَيْرُهُ وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ يُرِيدُ لِسَانَ الْمِيزَانِ وَالْعَصْفُ بَقْلُ الزَّرْعِ إِذَا قُطِعَ مِنْهُ شَيْءٌ قَبْلَ أَنْ يُدْرِكَ فَذَلِكَ الْعَصْفُ وَالرَّيْحَانُ رِزْقُهُ وَالْحَبُّ الَّذِي يُؤْكَلُ مِنْهُ وَالرَّيْحَانُ فِي كَلَامِ الْعَرَبِ الرِّزْقُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ وَالْعَصْفُ يُرِيدُ الْمَأْكُولَ مِنَ الْحَبِّ وَالرَّيْحَانُ النَّضِيجُ الَّذِي لَمْ يُؤْكَلْ وَقَالَ غَيْرُهُ الْعَصْفُ وَرَقُ الْحِنْطَةِ وَقَالَ الضَّحَّاكُ الْعَصْفُ التِّبْنُ وَقَالَ أَبُو مَالِكٍ الْعَصْفُ أَوَّلُ مَا يَنْبُتُ تُسَمِّيهِ النَّبَطُ هَبُورًا وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْعَصْفُ وَرَقُ الْحِنْطَةِ وَالرَّيْحَانُ الرِّزْقُ وَالْمَارِجُ اللَّهَبُ الْأَصْفَرُ وَالْأَخْضَرُ الَّذِي يَعْلُو النَّارَ إِذَا أُوقِدَتْ وَقَالَ بَعْضُهُمْ عَنْ مُجَاهِدٍ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ لِلشَّمْسِ فِي الشِّتَاءِ مَشْرِقٌ وَمَشْرِقٌ فِي الصَّيْفِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ مَغْرِبُهَا فِي الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ لَا يَبْغِيَانِ لَا يَخْتَلِطَانِ الْمُنْشَآتُ مَا رُفِعَ قِلْعُهُ مِنَ السُّفُنِ فَأَمَّا مَا لَمْ يُرْفَعْ قِلْعُهُ فَلَيْسَ بِمُنْشَأَةٍ وَقَالَ مُجَاهِدٌ كَالْفَخَّارِ كَمَا يُصْنَعُ الْفَخَّارُ الشُّوَاظُ لَهَبٌ مِنْ نَارٍ وَنُحَاسٌ النُّحَاسُ الصُّفْرُ يُصَبُّ عَلَى رُءُوسِهِمْ فَيُعَذَّبُونَ بِهِ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ يَهُمُّ بِالْمَعْصِيَةِ فَيَذْكُرُ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ فَيَتْرُكُهَا مُدْهَامَّتَانِ سَوْدَاوَانِ مِنَ الرِّيِّ صَلْصَالٍ طِينٌ خُلِطَ بِرَمْلٍ فَصَلْصَلَ كَمَا يُصَلْصِلُ الْفَخَّارُ وَيُقَالُ مُنْتِنٌ يُرِيدُونَ بِهِ صَلَّ يُقَالُ صَلْصَالٌ كَمَا يُقَالُ صَرَّ الْبَابُ عِنْدَ الْإِغْلَاقِ وَصَرْصَرَ مِثْلُ كَبْكَبْتُهُ يَعْنِي كَبَبْتُهُ فَاكِهَةٌ

وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَيْسَ الرُّمَّانُ وَالنَّخْلُ بِالْفَاكِهَةِ وَأَمَّا الْعَرَبُ فَإِنَّهَا تَعُدُّهَا فَاكِهَةً كَقَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى فَأَمَرَهُمْ بِالْمُحَافَظَةِ عَلَى كُلِّ الصَّلَوَاتِ ثُمَّ أَعَادَ الْعَصْرَ تَشْدِيدًا لَهَا كَمَا أُعِيدَ النَّخْلُ وَالرُّمَّانُ وَمِثْلُهَا أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ ثُمَّ قَالَ وَكَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ وَقَدْ ذَكَرَهُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي أَوَّلِ قَوْلِهِ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَقَالَ غَيْرُهُ أَفْنَانٍ أَغْصَانٍ وَجَنَى الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ مَا يُجْتَنَى قَرِيبٌ وَقَالَ الْحَسَنُ فَبِأَيِّ آلَاءِ نِعَمِهِ وَقَالَ قَتَادَةُ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ يَعْنِي الْجِنَّ وَالْإِنْسَ وَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ يَغْفِرُ ذَنْبًا وَيَكْشِفُ كَرْبًا وَيَرْفَعُ قَوْمًا وَيَضَعُ آخَرِينَ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ بَرْزَخٌ حَاجِزٌ الْأَنَامُ الْخَلْقُ نَضَّاخَتَانِ فَيَّاضَتَانِ ذُو الْجَلَالِ ذُو الْعَظَمَةِ وَقَالَ غَيْرُهُ مَارِجٌ خَالِصٌ مِنَ النَّارِ يُقَالُ مَرَجَ الْأَمِيرُ رَعِيَّتَهُ إِذَا خَلَّاهُمْ يَعْدُو بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَيُقَالُ مَرَجَ أَمْرُ النَّاسِ مَرِيجٍ مُلْتَبِسٌ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ اخْتَلَطَ الْبَحْرَانِ مِنْ مَرَجْتَ دَابَّتَكَ تَرَكْتَهَا سَنَفْرُغُ لَكُمْ سَنُحَاسِبُكُمْ لَا يَشْغَلُهُ شَيْءٌ عَنْ شَيْءٍ وَهُوَ مَعْرُوفٌ فِي كَلَامِ الْعَرَبِ يُقَالُ لَأَتَفَرَّغَنَّ لَكَ وَمَا بِهِ شُغْلٌ يَقُولُ لَآخُذَنَّكَ عَلَى غِرَّتِكَ

د کلماتو تشریح:

قوله: وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ: يُرِيدُ لِسَانَ الْمِيزَانِ: دَ تلې دَ دوارو چابړو په مینځ کښې دَ لرګی په مینځ کښې یوه وړه شان ستن وی په څه سره چه دواړه چابړی برابرولې شی که هغه یو طرف ته تیټ شی نو دَ هغه طرف چابړې ښکته شی. چه هغه بالکل نیغ وی‌نو بیا دواړه چابړی برابر وی هم دیته لسان المیزان وائی او په آیت کښې همدغه مراد دې.

قوله: والحب ذوالعصف والريحان:

د ''والحب ذوالعصف والريحان،، **تفسیر:** امام بخاری رحمه الله دَ العصف پنځه معنې بیان کړیدی.

① یوه داچه دَ پتی هغه سبزی کومه چه دَ پخیدونه وړاندې پرکړې شی هغې ته عصف وائی.

② دوئم دا چه عصف نه مراد هغه دانې وی کوم چه خوړلې شی.

③ دریم دا چه عصف دَ غنمو پاڼرو ته وائی.

④ څلورم دَ ضحاک رحمه الله قول دې چه عصف اوچووښو او بهوسوته وائی.

⑤ پنځم دَ ابومالک رحمه الله قول دې چه عصف هغه سبزئی ته وائی چه اول میوه کوی او نبطی کښې عصف په ځائ هغې ته هبور وائی. او دَ "الريحان" دوه معنې بیان کړیدی. یو دا چه ریحان دَ عربو په کلام کښې رزق او روزئی ته وائی او دوئم دا چه دَ دې اطلاق په هغه پخه غله باندې کیږی چه کچه نشی خوړلې، نو فرمائی "والريحان: النضيج الذي لم يؤكل" دَ عصف په شرح کښې یو لفظ "تبن" تیرشو دَ دې معنی ده بهوس، او اوچ واښه.

قوله: وَالْمَارِجُ اللَّهَبُ الْأَصْفَرُ وَالْأَخْضَرُ الَّذِي يَعْلُو النَّارَ إِذَا أُوقِدَتْ: ﴿وَخَلَقَ الْجَانَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ﴾ كله چه أور بل كړې شى نوډ شين او زيړ رنګ شغله پورته طرف ته اوچتيږى، هغې ته مارج وائى.

قوله: رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ لِلشَّمْسِ فِي الشِّتَاءِ مَشْرِقٌ وَمَشْرِقٌ فِي الصَّيْفِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ مَغْرِبُهَا فِي الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ: آيت كښې دى ﴿رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ﴾ هغه د دواړو مشرقونواو دواړو مغربونومالك دې. فرمائى "مشرقين" نه مراد دا دې چه د نمر دپاره يو مشرق د ژمى په موسم كښې وى او يومشرق د ګرمئى په موسم كښې وى. دغه شان د نمر دوه مشرقونه شو او "مغربين" نه هم د ژمى مغرب او ګرمئى مغرب مراد دې. علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله فرمائى: " په ژمى او اوړى كښې د كومې كومې نقطې نه نمر راخيژى هم د دغه مشرقينواومغربينو په په تغير او تبدل سره موسم او فصلونه بدليږى او مختلف انقلابات كيږى. د زمكې د خلقو په زرګونو فوائد او مصالح دې بدلون سره تړلى دى نود دې اول بدليدل هم د الله تعالى يو لوئ نعمت او دهغه د قدرت يو عظيم نښه ده."

قوله: لَا يَبْغِيَانِ: لَا يَخْتَلِطَانِ :آيت كښې دى ﴿مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ۝ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ﴾ هم هغه دودريابونه(صورتاً) يوځائ كړل(په ظاهركښې) يوبل سره ملاوشوى دى او حقيقة د دې دواړو په مينځ كښې يو پرده(قدرتى) ده. چه(د دې په وجه) دواړه(د خپلې خپلې موقع نه) نشى وړاندې كيدې. فرمائى لايبغيان معنى ده لايختلطان يعنى هغه دواړه يو بل سره ملاويږى نه، مطلب دا چه خوږ درياب او مالږين درياب كوم ځائ كښې چه يوبل سره يوځائ كيږى هلته يو بل سره ګډوډ كيږى نه علامه شبيراحمدعثمانى رحمه الله فرمائى: "بيان القرآن كښې د دوو معتبرو بنګالى علماؤ شهادت نقل كړيدې. "اركان" نه "چاټ ګام" پورې درياب داسې دې چه د هغې دوه بالكل جدا جدا مختلف دريابونه ښكارى، د يواويه سپينې دى او د يو تورې، په تورو كښې د سمندر غوندې تلاطم او تموج يعنى اوچتيدل او راخلاصيدل كيږى او سپينې اوبه بالك خاموش دى. كشتئى په سپينواوبوكښې راوانه وى او د دواړو په مينځ كښې يوه كرخه شان برابره روانه وى چه د دواړو ملتقى ده، خلق وائى سپينې اوبه خوږې دى او تورې تروې.

اوماتد د "بارليسال" يو څو طالبانو بيان اوكړوچه په ضلع "بارليسال" كښې دوه ولې دى چه هم د يو درياب نه وتلى دى د يوې اوبه ترخې دى او د يوې ډيرې خوږې او مزيدارې دى.دلته په ګجرات راقم الحروف چه كوم ځائ مقيم دې سمندر تقريباً د لس دولسو ميلوپه فاصله باندې دې. د هغه ځائ په ولوكښې ښكته والې پورته والې كيږى، ډيرو ثقاتو بيان كړيدې د مدپه وخت كښې چه كله د سمندر اوبه ولې ته راخى نود خوږو اوبوپه مخ ترخې اوبه ډير زور سره راخيژى خو هغه وخت هم دواړه اوبه ګډې وډې كيږى نه، بره ترخې وى او لاندې خوږې، د جزر په وخت كښې د پاسه نه ترخې اوبه كوزې شى او خوږې چه څنګه وى نو هغه شان باقى پاتې شى. دا شواهد كتلوسره د آيت مطلب بالكل واضح كيږى."

قوله: وَالْمُنْشَآتُ: مَا رُفِعَ قِلْعُهُ مِنَ السُّفُنِ، فَأَمَّا مَا لَمْ يُرْفَعْ قِلْعُهُ، فَلَيْسَ بِمُنْشَأَةٍ:
(وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَآتُ فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ) منشئات هغه كشتوته وائى دَ كومو بادبانونه چه پورته اوچت كړيشوى وى)څكه چه دَ لرينه داسې كشتئى لكه دَ غرونو په شان ښكارى) دَ كومو بادبان چه نه وى اوچت شوې په هغې باندې دَ دې اطلاق نه كيږى.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: كَالْفَخَّارِ: كَمَا يُصْنَعُ الْفَخَّارُ: (خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ) الله تعالى انسان يعنى حضرت ادم) دَ يومعمولى غوندې آوازكونكې خاورې نه پيدا كړو. مجاهد رحمه الله فرمائى الله تعالى دَ آواز كونكې خاورينه داسې پيدا كړولكه څنګه چه دَ دې نه خاورين لوښى جوړيږى. وړاندې دَ صلحاؤ تشريح امام كړيده "طين خلط برمل، فصلصل، كما يصلصل الفخار" يعنى هغه خټه كومې سره چه شګه يوځائ كړيشى نو هغه دَ خاورين لوښى غوندې آواز كوى. دوئم قول دا دې چه صلصال بدبويه خټې ته وائى. دا صل نه ماخوذدې وائى چه صل اللحم، غوښه سخاشوه، بدبويه شوه، صل او صلصال يوه معنى ده، لكه صَرّ او صَرْ صَر چه يوه معنى ده. صرالباب: دروازې دَ بنديدلووخت كښې آواز اوكړى او لكه چه كَبَّ او كَبْكَبَ يوه معنى ده، اولتبه كول.

قوله: وَنُحَاسٌ: النُّحَاسُ الصُّفْرُ، يُصَبُّ عَلَى رُءُوسِهِمْ، فَيُعَذَّبُونَ بِهِ: آيت كښې دى (يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِنْ نَارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرَانِ) اې پيريانواو انسانانو مجرمانو!)تاسو دواړو باندې)دَ قيامت په ورځ) دَ أور شغله او ويلى شوى پيتل اچولې شى، بيا به تاسو)دا) اخوانه كړې شئ. فرمائى آيت مبارك كښې نحاس نه پيتل مراد دې چه ويلې كولې به شى او دَ دوزخيانو په سرونوبه اچولې شى اود دې په ذريعه به هغوى له عذاب وركولې شى.

قوله: خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ: يَهُمُّ بِالْمَعْصِيَةِ فَيَذْكُرُ اللَّهَ فَيَتْرُكُهَا: آيت كښې دى (وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ) اوكوم سړې چه دَ خپل رب په مخكښې دَ اودريدونه ويريږى دَ هغه دَ پاره به په جنت كښې دوه باغونه وى. فرمائى (خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ) مطلب دا دې چه يو سړې دَ ګناه كولو اراده اوكړى بيا الله تعالى يادكړى اوهغه ګناه پريږدى.

قوله: الشُّوَاظُ: لَهَبٌ مِنْ نَارٍ: آيت كښې دى (يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِنْ نَارٍ) (اې پيريانو اوانسانانومجرمانو!) په تاسو دواړوباندې به)دَ قيامت په ورځ)دَ أورشغله درپريخودې شى. فرمائى شواظ معنى دَ أور شغله.

قوله: مُدْهَامَّتَانِ سَوْدَاوَانِ مِنَ الرِّيِّ: هغه دواړه باغونه به دَ خړوبوالى دَ وجې تور ښكارى، شينكې او ابادى چه څومره زوريږى نو هغه دَ توروالى طرف ته مائله وى.

قوله: وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَيْسَ الرُّمَّانُ وَالنَّخْلُ بِالْفَاكِهَةِ وَأَمَّا الْعَرَبُ فَإِنَّهَا تَعُدُّهَا فَاكِهَةً:

نخل او رمان په فواکه کې داخل دی یا نه؟: ﴿فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ﴾ امام بخاری رحمه الله دَ دې آیت نه دَ امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله استدلال ردکول غواړی(۱)- دَ امام ابوحنیفه رحمه الله رائې ده چه نخل او رمان فواکه کښې داخل نه دی بلکه دَ دې حیثیت دَ مستقل غذا یعنی خوراك دې. دَ ائمه ثلاثه، صاحبینو او جمهور علماؤ رائې دا ده چه نخل او رمان فواکه کښې داخل دی.

(۲)امام اعظم رحمه الله دَ مذکوره آیت نه استدلال کوی چه دې کښې "فاكهة" او "نخل ورمان" په مینځ کښې واو عاطفه راوړلې شویدې او عطف په مغایرت باندې دلالت کوی په دې وجه دا "فاكهة" کښې داخل نه دی. امام بخاری رحمه الله فرمائی چه داعطف په مغایرت دَ دلالت دَ پاره نه دې بلکه دا "تخصیص بعد التعمیم" دَ قبیل نه دې لکه چه په نورو ډیرو آیاتونوکښې دَ کوم ذکر چه هغوی دلته اوکړو دَ دې مثال موجود دې نو دَ دې تقاضادا ده چه نخل ورمان فاکهة کښې داخلیدل پکار دی. امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه "نخل ورمان" کښې دَ تفکه شان موجود خودې لیکن دا دَ غذا او دا دوائ دواړو په توګه هم استعمالیږی په دې بنا دا فواکه کښې به نشی شاملولې.(۳) جمهور فرمائې چه هم دَ دې دَپاره خودَ دې تخصیص شویدې چه په دې کښې دَ تفکه دَ شان سره سره شان تغذی او تداوی هم موجود دی.ثمره اختلاف به هغه وخت ښکاره کیږی چه څوك قسم اوخوری چه هغه به فاكهة نه خوری، بیا هغه په نخل ورمان کښې یو څیز اوخوړلو نودَ جمهورو په نیزد به هغه حانث شی او دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزد به حانث نه وی. بعضوئیلی دی چه دا ختلاف دَ حجت او دلیل اختلاف نه دې بلکه دَ عصر زمان او عرف اختلاف دې، یعنی دَ امام اعظم رحمه الله په زمانه او علاقه کښې عرف همدغه وو چه دا به په فواکه کښې نشو شمیرلې او دَ نورو فقهاؤ په نیزد عرف دَ دې نه مختلف وو دابه ئې په فواکه کښې شمیرل او په یمین کښې دَ عرف اعتبار وی نو دَ دې دَ پاره به اعتبار عرف له وی (۴)

قوله: أَفْنَانٍ: أَغْصَانٍ :آیت کښې ﴿ذَوَاتَا أَفْنَانٍ﴾ دواړه باغونه به دَ ښاخووالا وی. فرمائی افنان نه ښاخونه مراد دی.

قوله: وَجَنَى الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ: مَا يُجْتَنَى قَرِيبٌ: دآیت ترجمه ده "اودَدې دواړو باغونو میوې به ډیرې نزدې وی" مطلب دا چه دې نه کومې میوې راشوکولې شی هغه به ډیرې نزدې وی.

---

(۱)وفی الفتح :۸/۲۲۳:العض المذکور هوابوحنیفة، وفی عمدة القاری ۱۹/۲۱٤:لایلزم تخصیص هذا القول بابی حنیفة وحده، فان جماعة المفسرین ذهبواالی هذاالقول

(۲) الهدایه، کتاب الایمان، باب الیمین فی الاکل والشرب ۲/٤۹۱:وفیض الباری-۲٤۳/٤

(۳)تعلیقات لامع الدراری-۹/۱۷۳:

(٤) دَ تفصیل دَ پاره تعلیقات لامع الدراری ۱۷٤-۹/۱۷۲:وفتح القدیر-٤/٤۰۵:

قوله: فَبِأَيِّ آلَاءِ: نِعَمِهِ، رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ: يَعْنِي الْجِنَّ وَالْإِنْسَ: آیت کښې دی (فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ) تاسو به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼړئ. فرمائی الاء نه مراد نعمتونه دی او ربکما کښې پیری او انسان ته خطاب دې.

قوله: وَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ: كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ: يَغْفِرُ ذَنْبًا: ابن حبان او ابن ماجه دا روایت مرفوعاً نقل کړیدې امام په خپل تاریخ کښې دا موصولاً نقل کړیدې، امام بیهقی هم دا موصولاً نقل کړیدې(۱) کل یوم" معنی "کل وقت" ده.

قوله: بَرْزَخٌ: حَاجِزٌ: آیت کښې دی (بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَا يَبْغِيَانِ) په دواړوکښې یوه پرده ده(دینه وړاندې والې نشې کولې په دې کښې دَ برزخ معنی ده حاجز، بندیز.

قوله: الْأَنَامُ: الْخَلْقُ: آیت کښې دی (وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ) او هم هغه زمکه دَ مخلوق دَ پاره(دَ هغې په ځائې) کیخوده. فرمائی انام معنی مخلوق ده.

قوله: نَضَّاخَتَانِ: فَيَّاضَتَانِ: آیت کښې دی (فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ) په دې دواړو باغونو کښې به ده چینې جوش وهونکې وی. فرمائی نضاختان معنی ده فیاضتان یعنی په جنتیانوباندې خیر او برکت وړونکې.

قوله: ذُو الْجَلَالِ: ذُو الْعَظَمَةِ: آیت کښې دی (تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ) ډیر دَ برکت نوم دې ستا دَ رب چه دَ عظمت والا دې او دَ احسان والا دې. فرمائی ذوالجلال معنی عظمت او بزرګئی والا.

قوله: مَارِجٌ: خَالِصٌ مِنَ النَّارِ، يُقَالُ: مَرَجَ الْأَمِيرُ رَعِيَّتَهُ، إِذَا خَلَّاهُمْ، يَعْدُو بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ، مَرَجَ أَمْرُ النَّاسِ، مَرِيجٍ: مُلْتَبِسٌ: آیت کښې دی (وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ) او پیریان دَ اُور دَ شغلې نه پیدا کړل، دَ مارج معنی ده خالص اُور، عرب وائی مرج الامیر رعیته حاکم خپل رعیت آزاد پریخودو، بعض په بعضوباندې ظلم کوی، مرج امرالناس دَ خلقو معامله خرابه شوه، مریج معنی مختلط مرج البحران دواړه دریابونه یوځائې شو. دا مرجت دابتك نه ماخوذ دې یعنی تا خپل څاروی پریخودل چه هغه دَ څرن په ځائې کښې اوڅری، مقصد دا چه مرج مختلف معنې راځی، آزادپریخودل، او ګډوډ کیدل.

قوله: سَنَفْرُغُ لَكُمْ: سَنُحَاسِبُكُمْ، لَا يَشْغَلُهُ شَيْءٌ عَنْ شَيْءٍ وَهُوَ مَعْرُوفٌ فِي كَلَامِ الْعَرَبِ: آیت کښې دی (سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ الثَّقَلَانِ) دلته اشکال کیږی چه الله تعالی اول په څه

---

(۱) قال الحافظ: وصله المصنف فی التاریخ، وابن حبان فی الصحیح وابن ماجه ...عن ابی الدرداء مرفوعاً واخرجه البیهقی فی الشعب عن ابنی الدرداء مرفوعاً)فتح الباری" -۸/۶۲۳ :

کارکښې مشغول وو او اوس هغه د ثقلین د پاره اوزګاریږی، د دې اشکال جواب امام ورکړیدې د محاورې په توګه استعمالیږی او د عربوپه کلام کښې دا معروف دی وائی لاتفرغنلك اوس زه ستادپاره اوزګاریږم حالانکه د اول د هغه څه مشغولتیانه وی، د دې مطلب دا وی چه اوس به هغه تانسی او مزه ورکونکې او سزا ورکونکې دې.

[۳۵۵] بَاب قَوْلِهِ وَمِنْ دُونِهِمَا جَنَّتَانِ

[۴۵۹۷] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي الْأَسْوَدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ الْعَمِّيُّ حَدَّثَنَا أَبُو عِمْرَانَ الْجَوْنِيُّ عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَجَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَبَيْنَ أَنْ يَنْظُرُوا إِلَى رَبِّهِمْ إِلَّا رِدَاءُ الْكِبْرِ عَلَى وَجْهِهِ فِي جَنَّةِ عَدْنٍ

[۳۵۶] بَاب حُورٌ مَقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْحُورُ السُّودُ الْحَدَقِ وَقَالَ مُجَاهِدٌ مَقْصُورَاتٌ مَحْبُوسَاتٌ قُصِرَ طَرْفُهُنَّ وَأَنْفُسُهُنَّ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ قَاصِرَاتٌ لَا يَبْغِينَ غَيْرَ أَزْوَاجِهِنَّ

[۴۵۹۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ حَدَّثَنَا أَبُو عِمْرَانَ الْجَوْنِيُّ عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ خَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ مُجَوَّفَةٍ عَرْضُهَا سِتُّونَ مِيلًا فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا أَهْلٌ مَا يَرَوْنَ الْآخَرِينَ يَطُوفُ عَلَيْهِمْ الْمُؤْمِنُونَ وَجَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَجَنَّتَانِ مِنْ كَذَا آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَبَيْنَ أَنْ يَنْظُرُوا إِلَى رَبِّهِمْ إِلَّا رِدَاءُ الْكِبْرِ عَلَى وَجْهِهِ فِي جَنَّةِ عَدْنٍ

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د حور تشریح سودالحدق د تورو سترګوالا، الحدق حدقة جمع ده، د سترګو تورروالې ته وائی، حور، د حوراء جمع ده اود مقصورات تفسیرئې بیان کړو چه د هغوی نظر اود هغوی ذات به د هغوی د خاوندانودپاره محفوظ وی اود بل چا په تصرت کښې راتلووالا به نه وی او د بل چاطرف ته به سترګو اوچتولووالا هم نه وی.

[۳۵۷] بَاب: تفسیرسورة الواقعه

وَقَالَ مُجَاهِدٌ (رُجَّتْ) زُلْزِلَتْ (بُسَّتْ) فُتَّتْ لُتَّتْ كَمَا يُلَتُّ السَّوِيقُ، الْمَخْضُودُ الْمُوقَرُ حَمْلًا، وَيُقَالُ أَيْضًا لَا شَوْكَ لَهُ (مَنْضُودٍ) الْمَوْزُ، وَالْعُرُبُ الْمُحَبَّبَاتُ إِلَى أَزْوَاجِهِنَّ (ثُلَّةٌ) أُمَّةٌ (يَحْمُومٍ) دُخَانٌ أَسْوَدُ (يُصِرُّونَ) يُدِيمُونَ. الْهِيمُ الْإِبِلُ الظِّمَاءُ (لَمُغْرَمُونَ) لَمُلْزَمُونَ (رَوْحٌ) جَنَّةٌ وَرَخَاءٌ (وَرَيْحَانٌ) الرِّزْقُ (وَنُنْشِئَكُمْ) فِي أَيِّ خَلْقٍ نَشَاءُ. وَقَالَ غَيْرُهُ (تَفَكَّهُونَ) تَعْجَبُونَ (عُرُبًا) مُثَقَّلَةً وَاحِدُهَا عَرُوبٌ مِثْلُ صَبُورٍ وَصُبُرٍ، يُسَمِّيهَا أَهْلُ مَكَّةَ الْعَرِبَةَ، وَأَهْلُ الْمَدِينَةِ الْغَنِجَةَ، وَأَهْلُ

الْعِرَاقِ الشَّكِلَةَ. وَقَالَ فِي (خَافِضَةٌ) لِقَوْمٍ إِلَى النَّارِ، وَ(رَافِعَةٌ) إِلَى الْجَنَّةِ (مَوْضُونَةٍ) مَنْسُوجَةٍ، وَمِنْهُ وَضِينُ النَّاقَةِ، وَالْكُوبُ لَا آذَانَ لَهُ وَلَا عُرْوَةَ، وَالْأَبَارِيقُ ذَوَاتُ الْآذَانِ وَالْعُرَى. (مَسْكُوبٍ) جَارٍ (وَفُرُشٍ مَرْفُوعَةٍ) بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ (مُتْرَفِينَ) مُتَمَتِّعِينَ (مَا تُمْنُونَ) هِيَ النُّطْفَةُ فِي أَرْحَامِ النِّسَاءِ. (لِلْمُقْوِينَ) لِلْمُسَافِرِينَ، وَالْقِيُّ الْقَفْرُ. (بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ) بِمُحْكَمِ الْقُرْآنِ، وَيُقَالُ بِمَسْقِطِ النُّجُومِ إِذَا سَقَطْنَ، وَمَوَاقِعُ وَمَوْقِعٌ وَاحِدٌ. (مُدْهِنُونَ) مُكَذِّبُونَ مِثْلُ (لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ). (فَسَلَامٌ لَكَ) أَيْ مُسَلَّمٌ لَكَ إِنَّكَ مِنْ أَصْحَابِ الْيَمِينِ، وَأُلْغِيَتْ إِنَّ وَهُوَ مَعْنَاهَا كَمَا تَقُولُ أَنْتَ مُصَدَّقٌ مُسَافِرٌ عَنْ قَلِيلٍ، إِذَا كَانَ قَدْ قَالَ إِنِّي مُسَافِرٌ عَنْ قَلِيلٍ. وَقَدْ يَكُونُ كَالدُّعَاءِ لَهُ كَقَوْلِكَ فَسَقْيًا مِنَ الرِّجَالِ. إِنْ رَفَعْتَ السَّلَامَ فَهُوَ مِنَ الدُّعَاءِ (تُورُونَ) تَسْتَخْرِجُونَ. أَوْرَيْتُ أَوْقَدْتُ. (لَغْوًا) بَاطِلًا. (تَأْثِيمًا) كَذِبًا.

د كلماتو تشريح:

قوله: رجت: زلزلت: آيت كښې دى ﴿إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا﴾ په زمكه كښې به سخته زلزله راشى په دې كښې د رجت معنى ده چه كله هغه اوخوزلې شى، هغه اوړقولې.

قوله: بست: فتت والتت كما يلت السويق: ﴿وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا﴾ فرمائى چه بست معنى ده فتت غرونه به ذره ذره كړيشى، لتت: گډوډبه كړيشى،لكه څنګه چه ستوان گډوډ كولې شى.

قوله: المخضود: الموقر حملا، ويقال ايضاً: لاشوك له: ﴿فِي سِدْرٍ مَّخْضُودٍ﴾ معنى ده د هغه بيرې ونه چه د ميوې د بوج نه باركړيشوې وى او دا هم وئيلى شى چه مخضود هغې ته وئيلى شى په كومه كښې چه ازغى نه وى.

قوله: منضود: الموز: ﴿وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ﴾ طلح تفسير دې الموز يعنى كيلا او منضود معنى ده په يوبل باندې كيخودې شوې.

قوله: والعرب: المحببات الى ازواجهن: ﴿فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا عُرُبًا أَتْرَابًا﴾ مونږ دې حورو لره ښځې ، د خاوندانو د پاره محبوب اود هغوى هم عمر جوړكړې. هغه ښځې چه د خپلو خاوندانو محبوبې وى "عرب" وائى، عروب: عروب وعروبة جمع ده، د اتو نهولفظونو تشريح نه پس امام دوباره د دې لفظ تشريح كړيده، نواوفرمائيلې شو عربا: **مثقلة** يعنى عرب مثقله دې، مثقله معنى ده د دې په را باندې پيش دې. محبوبې بى بى ته اهل مكه عَرِبَة وائى، اهل مدينه ديته غَنِجَة وائى اهل عراق دې ته شَكِلَة وائى

قوله: ثلة: امة: آيت كښې ﴿ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ﴾ په دې كښې ثلة معنى ډله، اوګروه.

قوله: يحموم: دخان اسود: آيت كښې دى ﴿وَظِلٍّ مِّن يَحْمُومٍ﴾ او (اصحاب شمال) د تور لوګى په سورى كښې به وى يحموم تور لوګى ته وائى.

قوله: يصرون: يديمون: آيت كښې دى (وَكَانُوا يُصِرُّونَ عَلَى الْحِنْثِ الْعَظِيمِ) اودې خلقو به په ډيره درنه گناه باندې اصرار كولو (يعنى ايمان به ئې نه راوړلو) يصرون معنى يديمون هميشه والې اختيار كړې وو.

قوله: الهيم: الابل الظماء: آيت كښې دى (فَشَارِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيمِ) هغوى به دَ تږى اوښانو په شان څكونكى وى، الهيم تږى اوښانوته وائى.

قوله: لمغرمون: لملزمون: آيت كښې دى (إِنَّا لَمُغْرَمُونَ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ) په مونږ باندې تاوان راپريوتلو بلكه بالكل محرومه پاتې شو. لمغرمون معنى ده الزام وركړيشو، په مونږ باندې لازم كړيشو، قرضدارې شو.

قوله: فروح: جنة ورخاء، وريحان: الرزق: آيت كښې دى (فَأَمَّا إِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ) بيا چه كوم خلق دَ مقربينونه وى دَ هغوى دَ پاره خو راحت دې او خوراكونه دى او دَ آرام جنت دې. روح معنى جنت او فراخى ده او ريحان معنى رزق ده.

قوله: وننشئكم: في أيّ خلق نشاء: آيت كښې دى (وَنُنْشِئَكُمْ فِي مَا لَا تَعْلَمُونَ) او ستاسو به داسې صورت جوړ كړيشى كوم چه تاسو پيژنې هم نه، فرمائى مطلب دا دې چه مونږ په كوم صورت كښې غواړو تاسو به پيدا كوو.

قوله: تفكهون: تعجبون: آيت كښې دى (لَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَاهُ حُطَامًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ) يعنى كه مونږ اوغواړو نو دا به ذره ذره كړو بيا به تاسو حيران شئى.

قوله: خافضة: لقوم الى النار، رافعة: الى الجنة: آيت كښې دى (لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ خَافِضَةٌ رَافِعَةٌ) دَ قيامت په واقع كيدوكښې هيڅ اختلاف نشته هغه به بعضې ښكته كړى او بعضې به اوچت كړى، امام فرمائى خافضة معنى ده هغه قيامت به يو قوم جهنم طرف ته يوسى او رافعة معنى يو قوم به دَ جنت طرف تهَ اوچتونكې دې.

قوله: موضونة: منسوجة، ومنه: وضين الناقة: (عَلَى سُرُرٍ مَوْضُونَةٍ) معنى ده جوړشوى، هم دينه وضين الناقة دې هغه رسئى ته وائى په كومه چه په اوښ باندې كجاوه او بار تړلې شى.

قوله: بأكواب وأباريق: كوب هغه لوښى ته وائى كوم كښې چه نه ټوټئى او او لاسكې لكه گلاس، پياله. ابريق هغه لوښى ته وائى په كوم كښې چه دا دواړه وى لكه لوټه، بعضو لوټوكښې دَ ټوټئى سره لاسكې هم وى لكه چه په عربوكښې رواج دې.

قوله: مسكوب: جار: آيت كښې دى (وَمَاءٍ مَسْكُوبٍ) او روانې اوبه وى... مسكوب معنى روانې.

قوله: وفرش موفوعة: بعضها فوق بعض: فرمائى آيت كښې دى (وَفُرُشٍ مَرْفُوعَةٍ) قط په قط فرش مراد دې.

قوله: مترفين: متمتعين: آيت كښې دى ﴿إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ مُتْرَفِينَ﴾ هغه خلق به دې نه وړاندې (يعنى دنيا كښې) په ډيره خوشحالئى كښې اوسيدل، فرمائى مترفين معنى متمتعين، په آرام سره ژوند تيرونكى، خوشحاله.

قوله: ماتمنون: هى النطفة فى ارحام النساء: آيت كښې دى ﴿أَفَرَأَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ۝ أَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُ أَمْ نَحْنُ الْخَالِقُونَ﴾ ښه بيا دا اوښائې تاسو كومه (دَ ښځو په رحم كښې) منى رسوئى هغې نه تاسو انسان جوړوئى كه مونږ جوړونكې يو. فرمائى ماتمنون معنى ده هغه نطفه چه دَ ښځې په رحم كښې اچوئى.

قوله: للمقوين: للمسافرين، والقى: القفر: ﴿نَحْنُ جَعَلْنَاهَا تَذْكِرَةً وَمَتَاعًا لِّلْمُقْوِينَ﴾ هم مونږ ونې پيدا كړى كوم نه چه اُورراوځى (ستاسو دَ ياداشت دَ پاره) چه كوم الله دَ شنې ونې نه اُور راويستلو باندې قادر دې هغه مړى ژوندى كولوباندې هم قادردې) اوپه ځنګل كښې سفر كونكو دَ نفع اوچتلو دَ پاره مقوين معنى مسافرين ده قِى (بكسرالقاف) نه ماخوذ دې صحرا او بيابان ته وائى.

قوله: بمواقع النجوم: بحكم القران، ويقال: بمسقط النجوم اذا سقطن: ﴿فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ﴾ فرمائې چه مواقع النجوم نه دَ قرآن كريم محكم آياتونه مراد دې. دَ موقع تفسير محكم سره اودَ نجوم تفسير قرآن سره كړيدې. ځكه چه قرآن نجماً نجماً نازل شويدې او مواقع النجوم دوئم تفسير دَ ستور پريوتل يعنى ډوبيدلو منازل.

قوله: مدهنون: مكذبون، مثل: لوتدهن فيدهنون: آيت كښې دى ﴿أَفَبِهَٰذَا الْحَدِيثِ أَنتُم مُّدْهِنُونَ﴾ آيا تاسو دا كلام دروغ ګرځونكى ئې، دَ سورة قلم په آيت كښې هم داشان دى ﴿وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ﴾ دا خلق غواړى چه تاسو دَ تبليغ په كار كښې) سست شئى نو دوى به هم سست شى.

قوله: فسلام لك: اى مسلم لك، انك من اصحاب اليمين: سلام په معنى دَ مسلم ده، اودَ دې معنى ده مسلم لك انك من اصحاب اليمين يعنى دا ستاسو دَ پاره منلې شوى ده چه تاسو دَ اصحاب اليمين نه ئې "ان" اګرچه په لفظونوكښې غورزولې شويدې ليكن په معنى كښې دَ دې اعتبار شته، لكه چه يو سړې اووائى زردې چه سفركونكې يم نو دَ دې په جواب كښې به تاسو وائى انت مصدق، مسافر عن قليل دلته هم "ان" محذوف دې او اصل عبارت دې "انت مصدق انك مسافر عن قليل" دَ سلام لفظ دَ دعا په توګه هم استعماليږى لكه "سقيامن الرجال" لفظ چه دَ دعا په توګه استعماليږى، "يعنى سقاك الله سقيا من الرجال" په خلق كښې دې الله تعالى هم تا خړوب كړى، البته "سقيا" دَ دعادَ پاره منسوب استعماليږى او سلام مرفوع استعماليږى.

قوله: تورون: تستخرجون: آیت کښې دی ﴿اَفَرَءَیْتُمُ النَّارَ الَّتِیْ تُوْرُوْنَ﴾ بنه ده بیا دا اوښایئې کوم اُور چه تاسو بلوئې. فرمائی تورون معنی کوم اُور چه تاسو راؤباسئی.

قوله: لغوا: باطلا: تاثیما: کذبا: آیت کښې دی ﴿لَا یَسْمَعُوْنَ فِیْهَا لَغْوًا وَّلَا تَاْثِیْمًا﴾ دې کښې لغو معنی باطل او تاثیما معنی د دروغوده.

[۳۵۸] بَاب قَوْلُهُ وَظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ

[۴۵۹۹] حَدَّثَنَا عَلِیُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْیَانُ عَنْ أَبِی الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِی هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یَبْلُغُ بِهِ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فِی الْجَنَّةِ شَجَرَةً یَسِیرُ الرَّاکِبُ فِی ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا یَقْطَعُهَا وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ وَظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ

[۳۵۹] باب: تفسیر سُوْرَةُ الْحَدِیْدِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ جَعَلَکُمْ مُسْتَخْلَفِینَ مُعَمَّرِینَ فِیهِ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَی النُّورِ مِنَ الضَّلَالَةِ إِلَی الْهُدَی فِیهِ بَأْسٌ شَدِیدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ جُنَّةٌ وَسِلَاحٌ مَوْلَاکُمْ أَوْلَی بِکُمْ لِئَلَّا یَعْلَمَ أَهْلُ الْکِتَابِ لِیَعْلَمَ أَهْلُ الْکِتَابِ یُقَالُ الظَّاهِرُ عَلَی کُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا وَالْبَاطِنُ عَلَی کُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا أَنْظِرُونَا انْتَظِرُونَا

د کلماتو تشریح:

قوله: قَالَ مُجَاهِدٌ: جَعَلَکُمْ مُسْتَخْلَفِینَ: مُعَمَّرِینَ فِیهِ: ﴿وَاَنْفِقُوْا مِمَّا جَعَلَکُمْ مُّسْتَخْلَفِیْنَ فِیْهِ﴾ اوپه کوم مال کښې چه هغه تاسو د نور قائم مقام جوړکړې ئی دینه خرچ کوئی، مجاهد رحمه الله د دې ترجمه کړیده "تاسوئی آبادکړی ئی په دې کښې د نورو خلقو د تللونه پس".

قوله: مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَی النُّورِ: مِنَ الضَّلَالَةِ إِلَی الْهُدَی: آیت کښې دی ﴿هُوَ الَّذِیْ یُنَزِّلُ عَلٰی عَبْدِهٖۤ اٰیٰتٍ بَیِّنٰتٍ لِّیُخْرِجَکُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوْرِ﴾ هغه داسې (رحیم) دې چه خپل بنده (محمد) باندې صفاصفا آیاتونه رالیکی دې د پاره چه هغه تاسو) د کفر او جهل) تیارونه (د ایمان او حقیقی علم) رانړا طرف ته راولی. فرمائی الظلمت نه گمراهی او النور نه هدایت مراد دې.

قوله: فِیهِ بَأْسٌ شَدِیدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ: جُنَّةٌ وَسِلَاحٌ: آیت مبارک کښې دی ﴿وَاَنْزَلْنَا الْحَدِیْدَ فِیْهِ بَاْسٌ شَدِیْدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ﴾ اومونږ اوسپنه پیدا کړیده په کومه کښې چه سختوالې دې او د خلقو د پاره نورې هم قسماقسم فائدې دی. فرمائی منافع لناس نه ډهال او وسله مراد ده.

قوله: مَوْلَاکُمْ: أَوْلَی بِکُمْ: آیت کښې دی ﴿مَاْوٰىکُمُ النَّارُ هِیَ مَوْلٰىکُمْ﴾ ستاسو د ټولو ځائ دوزخ دې هم هغه ستاسو (د همیشه د پاره) ملګرې دې. فرمائی مولاکم معنی اولی بکم یعنی د دوزخ اُور ستاسو د پاره لائق دې.

قوله: لِئَلَّا یَعْلَمَ أَهْلُ الْکِتَابِ: لِیَعْلَمَ أَهْلُ الْکِتَابِ: آیت مبارک کښې دی ﴿لِئَلَّا یَعْلَمَ اَهْلُ

الْكِتٰبِ اَلَّا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ) دي دَ پاره چه دَ قيامت په ورځ اهل كتابوته دا خبره معلومه شى چه دې خلقو ته دَ الله تعالى په فضل كښې په يو جزء باندې هم(بغير دَ ايمان راوړلو) قدرت نشته. فرمائى آيت كښې لئلايعلم معنى ليعلم ده يعنى په دې كښې لا زائد دې.

قوله: يُقَالُ: الظَّاهِرُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا، وَالْبَاطِنُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا

آيت مبارك كښې دى (هُوَ الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ) دَ دې يو مطلب خودا دې چه الله تعالى هرڅيز پيژنى، كه هغه پټ وى كه ښكاره او دوئم مطلب دا دې چه دَ الله تعالى وجود ظاهر دې ځكه چه دَ هغه دَ وجود خودونكى ډير دلائل دى او دَ الله تعالى وجود باطن هم دې ځكه چه هغه مدرك بالحواس نه دې.

قوله: أَنْظِرُوْنَا: انْتَظِرُوْنَا: آيت كښې دى (يَوْمَ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ) په كومه ورځ چه منافقان سړى او منافقانې ښځې مسلمانانوته اووائى(لږ شان) زمونږ انتظار اوكړئى. انظرونا معنى زمونږ انتظار اوكړئى.

[٣٦٠] باب: تفسير سورة المجادلة

د كلماتو تشريح:

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ يُحَادُّوْنَ يُشَاقُّوْنَ اللّٰهَ كُبِتُوْا أُخْزُوْا مِنَ الْخِزْيِ اسْتَحْوَذَ غَلَبَ:

(اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَادُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ) دې كښې يحادون ترجمه يشاقون سره كړيده دَ څه معنى چه مخالفت كولو راځى او كبتوا معنى ذليل كړېشوى.

قوله: اسْتَحْوَذَ: غَلَبَ: آيت مبارك كښې دى (اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ) په دوى باندې شيطان غلبه حاصله كړيده. استحوذ معنى غالب راتلل، تسلط حاصلو.

[٣٦١] باب: تفسير سورة الحشر

قوله: الْجَلَاءَ الْإِخْرَاجُ مِنْ أَرْضٍ إِلٰى أَرْضٍ: آيت كښې دى (وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ؕ) اوكه الله تعالى دَ هغوى په قسمت كښې وطن پريخودل نه وو ليكلى نو هغوى ته به په دنياكښې سزا وركوله. فرمائى الجلاء معنى دَ يوې زمكې نه بلې زمكې طرف ته راويستل دى.

[٤٦٠٠] **حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيْمِ حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا أَبُوْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ سُوْرَةُ التَّوْبَةِ قَالَ التَّوْبَةُ هِيَ الْفَاضِحَةُ مَا زَالَتْ تَنْزِلُ وَمِنْهُمْ وَمِنْهُمْ حَتّٰى ظَنُّوْا أَنَّهَا لَنْ تُبْقِيَ أَحَدًا مِنْهُمْ إِلَّا ذُكِرَ فِيْهَا قَالَ قُلْتُ سُوْرَةُ الْأَنْفَالِ قَالَ نَزَلَتْ فِيْ بَدْرٍ قَالَ قُلْتُ سُوْرَةُ الْحَشْرِ قَالَ نَزَلَتْ فِيْ بَنِي النَّضِيْرِ**

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه دَ سورة توبه متعلق تپوس اوشو نو هغوى اوفرمائيل چه دا سورة فاضحه ده يعنى دې ډير خلق رسوا كړل او دَ ډيروخلقو دَ حقيقت حال نه ئى پرده

اوچته کړیده. د صحابه کرامو خو دا خیال پیدا شوې وو چه کیدیشی چه دا څوك هم پرینږدی او د ټولوحال به په دې کښې ذکرکړیشی، خو ظاهره ده چه په دې کښې صرف د منافقانو او د هغه خلقو ذکراوکړیشو چه د الله تعالی په حکم ئی عمل نه کولو. د غایت ورع او تقوی په وجه صحابه کرامو ته په خپله باره کښې اندیښنه شوې وه.

[۴۶۰۱]حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُدْرِكٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا سُورَةُ الْحَشْرِ قَالَ قُلْ سُورَةُ النَّضِيرِ

داحدیث کتاب الغازی کښې "باب حدیث بنی النضیر" لاندې تیرشویدې (۱)

[۳۶۲]بَاب قَوْلِهِ مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ نَخْلَةٍ مَا لَمْ تَكُنْ عَجْوَةً أَوْ بَرْنِيَّةً

[۴۶۰۲]حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّقَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ وَقَطَعَ وَهِيَ الْبُوَيْرَةُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ

[۳۶۳]بَاب قَوْلِهِ مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ

[۴۶۰۳]حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ غَيْرَ مَرَّةٍ عَنْ عَمْرٍو عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَتْ أَمْوَالُ بَنِي النَّضِيرِ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا لَمْ يُوجِفِ الْمُسْلِمُونَ عَلَيْهِ بِخَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ فَكَانَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ مِنْهَا نَفَقَةَ سَنَتِهِ ثُمَّ يَجْعَلُ مَا بَقِيَ فِي السِّلَاحِ وَالْكُرَاعِ عُدَّةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ

[۳۶۴]بَاب وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ

[۴۶۰۴]حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُوتَشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ فَبَلَغَ ذَلِكَ امْرَأَةً مِنْ بَنِي أَسَدٍ يُقَالُ لَهَا أُمُّ يَعْقُوبَ فَجَاءَتْ فَقَالَتْ إِنَّهُ بَلَغَنِي عَنْكَ أَنَّكَ

---

[۱]) اوګورئی کشف الباری کتاب المغازی-۱۸۳:

[۲]) واخرجه مسلم فی اللباس والزینة، باب تحریم فعل الواصلة والمستوصلة، رقم احدیث۲۱۲۵:. واخرجه ابوداؤد فی کتاب الترجل، باب فی صلة الشعر، رقم الحدیث۴۱۶۹ :. واخرجه الترمذی فی الادب، باب ماجاء فی الواصلة المستوصلة والواشمة والمستوشمة، رقم الحدیث۲۷۸۲:. واخرجه النسائی فی السنن الکبری، باب ومانهاکم عنه فانتهوا، رقم الحدیث۱/۱۱۵۷۹ :. واخرجه ابن ماجه فی النکاح،باب الواصلة والواشمة، رقم الحدیث-۱۹۸۷:

لَعَنْتَ كَيْتَ وَكَيْتَ فَقَالَ وَمَا لِي أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ هُوَ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَقَالَتْ لَقَدْ قَرَأْتُ مَا بَيْنَ اللَّوْحَيْنِ فَمَا وَجَدْتُ فِيهِ مَا تَقُولُ قَالَ لَئِنْ كُنْتِ قَرَأْتِيهِ لَقَدْ وَجَدْتِيهِ أَمَا قَرَأْتِ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا قَالَتْ بَلَى قَالَ فَإِنَّهُ قَدْ نَهَى عَنْهُ قَالَتْ فَإِنِّي أَرَى أَهْلَكَ يَفْعَلُونَهُ قَالَ فَاذْهَبِي فَانْظُرِي فَذَهَبَتْ فَنَظَرَتْ فَلَمْ تَرَ مِنْ حَاجَتِهَا شَيْئًا فَقَالَ لَوْ كَانَتْ كَذَلِكَ مَا جَامَعْتُهَا

[۴۶۰۵] (۱) حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَنْ سُفْيَانَ قَالَ ذَكَرْتُ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَابِسٍ حَدِيثَ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَعَنَ اللَّهُ الْوَاصِلَةَ فَقَالَ سَمِعْتُهُ مِنِ امْرَأَةٍ يُقَالُ لَهَا أُمُّ يَعْقُوبَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ مِثْلَ حَدِيثِ مَنْصُورٍ

د حديث باب تشريح: دا حديث دلته په اول ځل راځي، امام بخاري رحمه الله وړاندې كتاب اللباس كښې هم نقل كړيدې، امام مسلم امام ابوداؤد امام ترمذى اوامام نسائى هم دا نقل كړيدې. حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى چه الله تعالى لعنت راليږلې دې واشمات باندې دا د واشمة جمع ده، هغه ښځې ته وائى چه لاس مړوند يا شونډه وغيره باندې خالونه كوى. او په موتشمات باندې دا د موتشمة جمع ده، په هغه ښځه چه په خپل يا د بل په اندام باندې خالونه وهى. او په متنمصات باندې دا د متنمصة جمع ده، هغه ښځه چه د مخ نه وېښته راوباسى، په مخ باندې كه ږيره يا بريت راوځى نو ښځوته د دې د وېښتو راويستلو اجازت وركړيشوې دې مګر دينه علاوه د مخ د اطرافو نه يا د ستركود ښرو نه يا اوريځو نه د حسن اوښائست په غرض وېښته ويستل جائز نه دى.اومتفلجات باندې دا د متفلجة جمع ده، نه هغه ښځه مرادده چه په خپلو غاښونوكښې د څه آلې وغيره په ذريعه كولاوالى پيدا كوى. په دې ټولو ښځو باندې لعنت ليږلې شويدې ځكه چه د الله تعالى په وركړيشوى قدرتى صورت كښې بدلون كوى. د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دا كلام د بنى اسد قبيلې يوې ښځې ته معلوم شو چه د ام يعقوب په نوم باندې مشهوره وه، هغه راغله او وئى وئيل چه ماته معلومه شويده چه تا په داسې قسمه ښځو د الله تعالى لعنت ليږلې دې، ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل د الله تعالى رسول صلى عليه وسلم چه په چا لعنت اوليږلو او چه د كتاب الله په نيزدمعلون دى په هغوى زه لعنت ولې اونه ليږم، ښځې وئيل چه د دوو تختو يعنى ګتوپه مينځ كښې قرآن ما لوستلې دې په هغې كښې خودا نشته، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل كه تالوستلې وې نو ضرور به ملاوشوې وو، بيا هغوى دا آيت تلاوت كړو "وما اتاكم الرسول فخذوه ومانهاكم عنه فانتهوا" په دې باندې هغه ښځې اووئيل

---

(۱) وايضًا اخرجه فى اللباس، باب المتفلجات للحسن، رقم الحديث ۵۹۳۱؛ وباب المتنمصات، رقم الحديث ۵۹۳۹؛ وباب الموصلة رقم الحديث ۵۹۴۳؛ وباب المستوشمة رقم الحديث ۵۹۴۸؛ واخرجه الترمذى فى الزينة-۲/۲۸۰؛

چه ستا کور والاهم داسې کوی، هغوی اووئیل لاړه شه او اوګوره، هغه لاړه خوداقسم څه څیز ئې اونه لیدو، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اوفرمائیل "که زما کوروالا داسې وه نو ماسره نشوه اوسیدلې".

[۳۶۵] بَاب وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ

[۴۶۰۶] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ يَعْنِي ابْنَ عَيَّاشٍ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أُوصِي الْخَلِيفَةَ بِالْمُهَاجِرِينَ الْأَوَّلِينَ أَنْ يَعْرِفَ لَهُمْ حَقَّهُمْ وَأُوصِي الْخَلِيفَةَ بِالْأَنْصَارِ الَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِ أَنْ يُهَاجِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقْبَلَ مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَيَعْفُوَ عَنْ مُسِيئِهِمْ

[۳۶۶] بَاب قَوْلُهُ وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ الْآيَةَ

الْخَصَاصَةُ الْفَاقَةُ الْمُفْلِحُونَ الْفَائِزُونَ بِالْخُلُودِ وَالْفَلَاحُ الْبَقَاءُ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ عَجِّلْ وَقَالَ الْحَسَنُ حَاجَةً حَسَدًا

[۴۶۰۷] حَدَّثَنِي يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ كَثِيرٍ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ غَزْوَانَ حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ الْأَشْجَعِيُّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَتَى رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَصَابَنِي الْجَهْدُ فَأَرْسَلَ إِلَى نِسَائِهِ فَلَمْ يَجِدْ عِنْدَهُنَّ شَيْئًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا رَجُلٌ يُضَيِّفُهُ هَذِهِ اللَّيْلَةَ يَرْحَمُهُ اللَّهُ فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ الْأَنْصَارِ فَقَالَ أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَذَهَبَ إِلَى أَهْلِهِ فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ ضَيْفُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدَّخِرِيهِ شَيْئًا قَالَتْ وَاللَّهِ مَا عِنْدِي إِلَّا قُوتُ الصِّبْيَةِ قَالَ فَإِذَا أَرَادَ الصِّبْيَةُ الْعَشَاءَ فَنَوِّمِيهِمْ وَتَعَالَيْ فَأَطْفِئِي السِّرَاجَ وَنَطْوِي بُطُونَنَا اللَّيْلَةَ فَفَعَلَتْ ثُمَّ غَدَا الرَّجُلُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَقَدْ عَجِبَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَوْ ضَحِكَ مِنْ فُلَانٍ وَفُلَانَةَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ

قوله: أَتَى رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دَ طبرانی په روایت کښې دا یو سړې حضرت ابوهریره) وو[1]

قوله: فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ الْأَنْصَارِ: دا حضرت ابوطلحه رضي الله عنه وو، بعض وائی چه دا ثابت بن قیس) وو[2] دا روایت په "مناقب انصار" کښې تیرشویدې.

---

[1] فتح الباری ۸/۶۳۲: وعمدة القاری-۱۹/۲۲۸:
[2] فتح الباری-۸/۶۳۲:

[۳۶۷] باب: تفسیر سورة الممتحنة

وَقَالَ مُجَاهِدٌ لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لَا تُعَذِّبْنَا بِأَيْدِيهِمْ فَيَقُولُونَ لَوْ كَانَ هَؤُلَاءِ عَلَى الْحَقِّ مَا أَصَابَهُمْ هَذَا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ أُمِرَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفِرَاقِ نِسَائِهِمْ كُنَّ كَوَافِرَ بِمَكَّةَ

قوله: لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لَا تُعَذِّبْنَا بِأَيْدِيهِمْ فَيَقُولُونَ لَوْ كَانَ هَؤُلَاءِ عَلَى الْحَقِّ مَا أَصَابَهُمْ هَذَا: آیت کښې دی ﴿رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا﴾ فرمانی ﴿لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً﴾ معنی ده چه د کافرانو لاسه مونږ ته څه تکلیف راونه رسیدو چه هغوی داسې اووئیل که دا مسلمانان په حقه وې نو دوی ته به دامصیبت نه وو رسیدلې)یعنی که د مسلمانانودین برحق وونو نو به دوی زمونږ نه مغلوب نه وو اوزمونږ د لاسه به دوی په تکلیف کښې نه وو)

قوله: بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ أُمِرَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفِرَاقِ نِسَائِهِمْ: ﴿وَلَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ﴾ د دې مطلب دا بیان کړیشوچه د رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته حکم ورکړیشو چه خپلې هغه ښځې جدا کړئی کومې چه په مکه کښې کافرانې دی، عِصَم"عصمة" جمع ده عقد زواج مراد دې، الکوافر"کافرة" جمع ده.

[۳۶۸] باب لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ

[۴۶۰۸] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ قَالَ حَدَّثَنِي الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ أَنَّهُ سَمِعَ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي رَافِعٍ كَاتِبَ عَلِيٍّ يَقُولُ سَمِعْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَالزُّبَيْرَ وَالْمِقْدَادَ فَقَالَ انْطَلِقُوا حَتَّى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا ظَعِينَةً مَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوهُ مِنْهَا فَذَهَبْنَا تَعَادَى بِنَا خَيْلُنَا حَتَّى أَتَيْنَا الرَّوْضَةَ فَإِذَا نَحْنُ بِالظَّعِينَةِ فَقُلْنَا أَخْرِجِي الْكِتَابَ فَقَالَتْ مَا مَعِي مِنْ كِتَابٍ فَقُلْنَا لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَنُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا فَأَتَيْنَا بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا فِيهِ مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى أُنَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ مِمَّنْ بِمَكَّةَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ أَمْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا هَذَا يَا حَاطِبُ قَالَ لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي كُنْتُ امْرَأً مِنْ قُرَيْشٍ وَلَمْ أَكُنْ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَكَانَ مَنْ مَعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ لَهُمْ قَرَابَاتٌ يَحْمُونَ بِهَا أَهْلِيهِمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِمَكَّةَ فَأَحْبَبْتُ إِذْ فَاتَنِي مِنَ النَّسَبِ فِيهِمْ أَنْ أَصْطَنِعَ إِلَيْهِمْ يَدًا يَحْمُونَ قَرَابَتِي وَمَا فَعَلْتُ ذَلِكَ كُفْرًا وَلَا ارْتِدَادًا عَنْ دِينِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكُمْ فَقَالَ عُمَرُ دَعْنِي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَأَضْرِبَ عُنُقَهُ فَقَالَ إِنَّهُ شَهِدَ بَدْرًا وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ قَالَ عَمْرٌو وَنَزَلَتْ فِيهِ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ

قَالَ لَا أَدْرِي الْآيَةَ فِي الْحَدِيثِ أَوْقَوْلُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا عَلِيٌّ قَالَ قِيلَ لِسُفْيَانَ فِي هَذَا فَنَزَلَتْ لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ الْآيَةَ قَالَ سُفْيَانُ هَذَا فِي حَدِيثِ النَّاسِ حَفِظْتُهُ مِنْ عَمْرٍو مَا تَرَكْتُ مِنْهُ حَرْفًا وَمَا أُرَى أَحَدًا حَفِظَهُ غَيْرِي

د سند توضيح: دَ حميدى رحمه الله دَ دې روايت په آخره كښې دى "قال: لاادرى الاية فى الحديث، اوقول عمرو" دا دَ ابوسفيان بن عينيه قول دې، هغه فرمائي چه ماته معلومه نه ده چه دَ روايت په آخره كښې دَ آيت دَ نزول آخرى كومه خبره ده هغه دَ حديث متعلق ده يادا دَ عمرو بن دينار قول دې، على بن مدينى رحمه الله فرمائى چه سفيان ته په دې سلسله كښې اوونيلې شوچه دَ روايت په آخركښې دا كوم آيت دې چه دا آيت "لاتتخذوا عدوى...." دَ حضرت حاطب په واقعه كښې نازل شويدې نو سفيان ابن عينيه اوونيل چه دا دَ خلقو روايت دې. ليكن ما چه دَ عمروبن دينار نه كوم محفوظ كړى دى دَ هغې نه مايو حرف هم نه دې پريخې او زه نه پوهيږم چه زما نه علاوه بل چا دا حديث داسې محفوظ كړې وى. حاصل دا دې چه آيت كريمه دَ دې واقعې باره كښې نازل شويدې، په دې سلسله كښې سفيان ته شك دې چه دا دَ حديث حصه ده كه دَ عمروبن دينار قول دې، علامه عينى رحمه الله ليكلى:

ملخص ماقاله سفيان لاادرى ان حكاية نزول الاية من تتمة الحديث الذى رواه على بن ابى طالب رضي الله عنه، اوقول عمروبن دينار موقوفا عليه ادرجه هومن عنده، وسفيان لم يجزم بهذه الزيادة، وقدروى النسائى عن محمدبن منصور مايدل على هذه الزيادة مدرجة، وروى الثعلبى هذا الحديث بطوله، وفى اخره: فانزل الله تعالىٰ فى شان حاطب ومكاتبته، ياايهاالذين امنوالاتتخذوا....الاية"[1]

[۳۶۹] بَابِ إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ

[۴۶۰۹] [2] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَمِّهِ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْتَحِنُ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ بِهَذِهِ الْآيَةِ بِقَوْلِ اللَّهِ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ إِلَى قَوْلِهِ غَفُورٌ رَحِيمٌ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَنْ أَقَرَّ بِهَذَا الشَّرْطِ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ قَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ بَايَعْتُكِ كَلَامًا وَلَا وَاللَّهِ مَا مَسَّتْ يَدُهُ يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ فِي الْمُبَايَعَةِ مَا يُبَايِعُهُنَّ إِلَّا بِقَوْلِهِ قَدْ بَايَعْتُكِ عَلَى ذَلِكِ تَابَعَهُ يُونُسُ وَمَعْمَرٌ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِسْحَاقَ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَقَالَ إِسْحَاقُ بْنُ

[1] عمدة القارى-۱۹/۲۳۰:

[2] واخرجه مسلم فى كتاب الامارة، باب كيفية بيعة النساء رقم الحديث ۱۸۶۶: وايضاً اخرجه فى الطلاق، باب اذااسلمت المشركة والنصرانية، رقم الحديث-۵۲۸۸:

رَاشِدٍعَنْ الزُهرِيِّ عَنْ عُروَةَوَعَمْرَةَ

قوله: وَلَاوَاللّهِ مَامَسَّتْ يَدُهُ يَدَامْرَأَةٍقَطُّ فِي الْمُبَايَعَةِ:

حضرت ام عطيه ته د نوحه اجازت ملاويدو په سلسله کښ اشکال او جواب: "دَ الله قسم! چه دَ رسول الله ﷺ لاس مبارك دَ بيعت په وخت کښې دَ يوې ښځې لاسره نه دې لګيدلې" په ظاهره داسې معلوميږی چه حضرت عائشه رضي الله عنها دَ حضرت ام عطيه رضي الله عنها دَ دې روايت ترديد کول غواړی په کوم کښې چه دی "فمديده من خارج البيت، ومددنا ايدينامن داخل البيت ثم قال: اللهم اشهد" دغه شان په وړاندې باب کښې روايت راځی په هغې کښې دی "فقبضت امرأة يدها" کوم نه چه معلوميږی چه ښځو به دَ بيعت کولو په وخت کښې لاس وړاندې کولو. په ظاهره په دواړو رواياتوکښې تعارض دې، دَدې جواب دا ورکړيشو چه دَ رسول الله ﷺمعمول خو هم هغه وو چه کوم حضرت عائشه رضي الله عنها په روايت باب کښې بيان اوفرمائيلو اودَ ام عطيه رضي الله عنها دَ ړومبنی روايت دا توجيهه اوکړيشوه چه "مدّالايدی" نه دَ بيعت دَ وقوع طرف ته اشاره ده، مصافحه مراد نه ده، دَ هغې په دوئم روايت کښې "قبض يد" نه مراددې چه بيعت هغوی موخرکړو(۱) بعضو وئيلی دی چه په اصل کښې به يوه کپړا وه دَ يوطرف نه به هغوی ﷺ نيوله او دَ بل طرف نه به بيعت کونکوښځو هغه نيولې وه، بيابه ئی بيعت اخستلو، ابوداؤد "مراسيل" کښې دَ شعبی رحمة الله عليه نه دَ دې مفهوم روايت نقل کړيدې.(۲)ابن اسحاق په مغازی کښې دَ صالح بن ابان نه روايت نقل کړيدې په دې کښې دی چه هغوی ﷺ بيعت داسې اوکړو لاس مبارك ئی په لوښی کښې واچولو او ښځې هم په هغې کښې لاس واچولو نو داسې بيعت اوفرمائيلو(۳)

په آخرکښې امام يونس، معمرو او عبدالرحمن ﷭ متابعت نقل کړيدې دَ يونس متابعت په کتاب الطلاق کښې او دَ معمر متابعت "احکام" کښې امام بخاری موصولا نقل کړيدی(۴))- اودَ عبدالرحمن متابعت ابن مردويه موصولاً نقل کړی دی اودَ اسحاق تعليق ذهلی "الزهريات" کښې موصولاً نقل کړيدی(۵)

(۱)فتح الباری ۸/۶۳۶:وعمدةالقاری-۱۹/۲۳۱:

(۲)فتح الباری-۸/۶۳۶:

(۳) فتح الباری-۸/۶۳۷:

(۴) فتح الباری ۸/۶۳۸:وعمدة القاری۱۹/۲۳۱:، بخاری کتاب الاحکام، باب بيعة النساء، رقم الحديث ۷۲۱٤)مع الفتح

(۵)فتح الباری ۸/۶۳۷:وعمدة القاری ۱۹/۲۳۱:وتغليق التعليق-۴/۳۳۹:

[۳۷۰] باب إذا جاءك المؤمنات يبايعنك

[۴۶۱۰] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ بَايَعْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَ عَلَيْنَا أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَنَهَانَا عَنِ النِّيَاحَةِ فَقَبَضَتِ امْرَأَةٌ يَدَهَا فَقَالَتْ أَسْعَدَتْنِي فُلَانَةُ أُرِيدُ أَنْ أَجْزِيَهَا فَمَا قَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَانْطَلَقَتْ وَرَجَعَتْ فَبَايَعَهَا

حضرت ام عطیه رضي الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ مونږ د بیعت کولو په وخت کښې نوحه یعنی د ژړا فریاد نه منع کړو نو یوې ښځې خپل لاس راښکلو او وئیل "اسعدتنی فلانة، اریدان اجزیها" فلانکئی ښځې ماسره په ژړا کښې امدادکړې ووزه غواړم چه د هغې بدله ورکړم. د اسعاد معنی ده "قیام المراة مع الاخری فی النیاحة" (۱) نو هغه لاړه او ژړافریاد ئی اوکړو نو واپس راغله، رسول الله ﷺ هغې ته هیڅ اونه وئیل او بیعت ئی کړه. دا ښځه پخپله ام عطیه رضي الله عنها وه، لیکن په دې روایت باندې اشکال داکیږی چه رسول الله ﷺ هغې له د نوحه بدله خلاصولو اجازت ځنګه ورکړو حالانکه نوحه حرام ده؟ د دې اشکال مختلف جوابونه ورکړیشوی دی.

① علامه نووی رحمه الله فرمائي دا د حضرت ام عطیه رضي الله عنها خصوصیت وو چه نبی کریم ﷺ هغه د دې عام حکم نه صرف د دې یوې موقع د پاره مستثنی اوګرځوله او شارع ته دا اختیار وی چه هغه د عموم نه څوك مستثنی اوګرځوی. لیکن دا جواب ضعیف دې ځکه چه یو حرام څیز د هغې د پاره ځنګه حلال اوګرځولې شو. حافظ رحمه الله فرمائی "وهو جواب فاسد، فانها لاتختص بتحلیل شئی من المحرمات" (۲)

② دونم جواب دا ورکړیشوچه نوحه په شروع کښې مباح وه بیا مکروه تنزیهی شوه او بیا حرام، مذکوره واقعه چه کوم وخت پیښه شوې وه هغه وخت د حرمت حکم نه وو راغلې صرف د کراهت تنزیهی حکم وو په دې وجه هغوی ﷺ دوی ته اجازت ورکړو، حافظ ابن حجر رحمه الله دا جواب خوښ کړیدې، نو لیکی: "وظهر من هذا كله ان ارب الاجوبة انها كانت مباحة، ثم كرهت كراهة تنزيه، ثم تحريم۔"

[۴۶۱۱] (۳) وهذا الحديث لم يخرجه احد من اصحاب السته سوى البخارى- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي قَالَ سَمِعْتُ الزُّبَيْرَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ

---

(۱) فتح الباری-۸/۶۳۸:
(۲) فتح الباری-۸/۶۳۹:
(۳) وهذا الحديث لم يخرجه احد من اصحاب السته سوى البخارى.

عَبَّاسٍ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ قَالَ إِنَّمَا هُوَ شَرْطٌ شَرَطَهُ اللَّهُ لِلنِّسَاءِ

[۴۶۱۲] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ الزُّهْرِيُّ حَدَّثَنَاهُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو إِدْرِيسَ سَمِعَ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَتُبَايِعُونِي عَلَى أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا تَزْنُوا وَلَا تَسْرِقُوا وَقَرَأَ آيَةَ النِّسَاءِ وَأَكْثَرُ لَفْظِ سُفْيَانَ قَرَأَ الْآيَةَ فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَنْ أَصَابَ مِنْهَا شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ فَسَتَرَهُ اللَّهُ فَهُوَ إِلَى اللَّهِ إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ تَابَعَهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ فِي الْآيَةِ

[۴۶۱۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مَعْرُوفٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ قَالَ وَأَخْبَرَنِي ابْنُ جُرَيْجٍ أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ مُسْلِمٍ أَخْبَرَهُ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ شَهِدْتُ الصَّلَاةَ يَوْمَ الْفِطْرِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ فَكُلُّهُمْ يُصَلِّيهَا قَبْلَ الْخُطْبَةِ ثُمَّ يَخْطُبُ بَعْدُ فَنَزَلَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ حِينَ يُجَلِّسُ الرِّجَالَ بِيَدِهِ ثُمَّ أَقْبَلَ يَشُقُّهُمْ حَتَّى أَتَى النِّسَاءَ مَعَ بِلَالٍ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ حَتَّى فَرَغَ مِنَ الْآيَةِ كُلِّهَا ثُمَّ قَالَ حِينَ فَرَغَ أَنْتُنَّ عَلَى ذَلِكَ فَقَالَتِ امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ لَمْ يُجِبْهُ غَيْرُهَا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَا يَدْرِي الْحَسَنُ مَنْ هِيَ قَالَ فَتَصَدَّقْنَ وَبَسَطَ بِلَالٌ ثَوْبَهُ فَجَعَلْنَ يُلْقِينَ الْفَتَخَ وَالْخَوَاتِيمَ فِي ثَوْبِ بِلَالٍ

[۳۷۱] باب: تفسير سُورَةُ الصَّفِّ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللَّهِ مَنْ يَتَّبِعُنِي إِلَى اللَّهِ

آیت مبارك كښې دى ﴿كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللَّهِ﴾ لكه څنګه چه عيسى بن مريم حوارييونو ته اوفرمائيل چه دَ الله تعالى دَ پاره څوك زما امداد كوئى فرمائى ﴿مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللَّهِ﴾ معنى ده څوك دَ الله تعالى طرف ته په تلو كښې زما تابعدارى كوئى.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مَرْصُوصٌ مُلْصَقٌ بَعْضُهُ بِبَعْضٍ وَقَالَ يَحْيَى بِالرَّصَاصِ: په آيت كښې دى ﴿كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَرْصُوصٌ﴾ لكه چه هغه يو عمارت دې كوم كښې چه سيسه اچولې شويده، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى دَمرصوص معنى ده دَ دې بعضې حصه دَ بعضې سره اينختې ده، او دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه غير وائى چه مرصوص معنى ملصق بالرصاص يعنى په سيسه سره اينختې، سيسه چړاوشوې.

[٣٧٢] بَاب قَوْلُهُ تَعَالَى مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ

[٤٦١٤] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ لِي أَسْمَاءً أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَنَا أَحْمَدُ وَأَنَا الْمَاحِي الَّذِي يَمْحُو اللَّهُ بِيَ الْكُفْرَ وَأَنَا الْحَاشِرُ الَّذِي يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى قَدَمِي وَأَنَا الْعَاقِبُ

دَنبی کریم ﷺ اسماء مبارکه: په دې روايت کښې دَ نبی کريم ﷺ پنځه اسماء مبارکه بيان کړېشوې دی ① محمد ② احمد ③ ماحی ④ حاشر او ⑤ عاقب، بعضې علماؤ فرمائيلی دی چه دَ دې پنځونومونو ذکر دلته شويدې چه په سابقه کتابونو کښې دَ هغوی ﷺ هم دا نومونه مشهور وو. ګنی دَ حضور اکرم ﷺ دَ اسماء مبارکه تعداد علماؤ ۳۷۵ پورې بيان کړی دی او حافظ جلال الدين سيوطی رحمه الله په يوه مستقل رساله کښې دا راجمع کړيدی.

"محمد" دَ چا چه دومره تعريف شوی وی چه په مخلوق کښې دومره تعريف دَ چاهم نه وی شوې. نو په زمکه او آسمان کښې دَ هغوی ﷺ مشهورتياده، په منبر او محراب کښې دَ هغوی تعريف کيږی، منارو او محفلونوکښې دَ هغوی ﷺ ذکرکيږی، دَ شپې ورځې يو وخت داسې نشته چه دَ هغوی ﷺ دَ نبوت او رسالت ذکر نه کيږی يا په هغوی ﷺ باندې درود نشی ليګلې او چه دَ نبوت او رسالت ذکر وی يا درود لوستلې شی هغه ټول دَ هغوی ﷺ تعريف دې، دا وصف نبوت او رسالت دَ هغوی ﷺ په دَ اوچتې درجې په کمال باندې دليل دې او وصف کمال ذکر هم تعريف او حمد دې.

يونوم دَ نبی کريم ﷺ "احمد" دې چه په قرآن کښې صرف په يو ځائ کښې سورة الصف کښې وارد دې، دا اسم تفصيل صيغه ده ،دَ فاعل يا مفعول په معنی کښې دې، دَ فاعل په صورت کښې معنی "احمد الحامدين" به وی او دَ مفعول په صورت کښې به معنی دا وی چه الله تعالی دَ هغوی ﷺ حمد کړيدې، او ملائکه اولين او آخرين هم دَ هغوی ﷺ تعريف کړيدې. نو چه څومره تعريف دَ هغوی) کړېشويدې دَ الله تعالی نه علاوه دَ بل چا دومره تعريف نه دې شوې.

نبی کريم ﷺ فرمائيلې دی چه ماته "حاشر" هم وئيلی شی ځکه چه دَ خلقو حشر به زما په پښوکښې وی يعنی دَ قبر نه به اول هغوی ﷺ اوچتولې شی بيا به نور خلق دَ خپلو قبرونو نه اوچتولې شی او "عاقب" هم زما نوم دې، دې دَ پاره چه "عاقب" روستوراتلونکی ته وائی او په انبياء ﷺ کښې هغوی خاتم الانبياء جوړشوې او دَ ټولو نه روستو ئی تشريف راوړيدې. دَ هغوی ﷺ نوم "ماحی" هم دې هغوی دَ نبوت دَ تعليم په ذريعه دَ کفر.تيارې ختم کړيدی.

تفسير سُورَةُ الْجُمُعَةِ

[٣٧٣] بَاب قَوْلُهُ وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ وَقَرَأَ عُمَرُ فَامْضُوا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ

دا دَ حضرت عمر بن الخطاب) قراءت دې، مشهور قراءت "فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللّٰهِ" دې.

[۴۶۱۵] (۱) حَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ عَنْ ثَوْرٍ عَنْ أَبِي الْغَيْثِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْجُمُعَةِ وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ قَالَ قُلْتُ مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَلَمْ يُرَاجِعْهُ حَتَّى سَأَلَ ثَلَاثًا وَفِينَا سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ وَضَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى سَلْمَانَ ثُمَّ قَالَ لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَنَالَهُ رِجَالٌ أَوْ رَجُلٌ مِنْ هَؤُلَاءِ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ أَخْبَرَنِي ثَوْرٌ عَنْ أَبِي الْغَيْثِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنَالَهُ رِجَالٌ مِنْ هَؤُلَاءِ

د سند توضیح: دا روایت دلته امام بخاری رحمه الله په اول خل ذکر کړيدې او صرف په دې ځائ کښې دې امام مسلم، ترمذی او نسائی هم دَ دې تخریج کړيدې. دلته په دوئم سند کښې دَ عبدالله بن عبدالوهاب شیخ عبدالعزیز دې، ابونصرکلاباذی وئیلی دی دا عبدالعزیز بن ابی حازم سلمه بن دینار دې (۲) لیکن صحیح دا دی چه دا عبدالعزیزبن محمد دراوردی دې. امام مسلم، اسماعیلی او ابونعیم اصفهانی دا هم دَ دراوردی په نسبت سره نقل کړيدې. (۳) حافظ رحمه الله فرمائی چه زما په علم کښې دَ ابن ابی حازم نه دا روایت هیڅ چا هم نه دې نقل کړې (۴)

امام بخاری رحمه الله دَ عبدالعزیز بن محمد دراوردی روایات مستقلاً نه ذکر کوی بلکه یا دَ متابعت په توګه نقل کوی اویا دَ بل روایت سره یوځائ کوی نو ذکر کوی (۵) دلته هم دَ هغوی روایت دَ سلیمان بن بلال روایت سره مقرون ذکر کړيدې.

قوله: لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَنَالَهُ رِجَالٌ:

د "**لوکان الایمان عند الثریا لنا له رجال**"، **معنی:** حضرت انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائیلی دی چه دَدینه په عجم کښې دَدین خدمت کونکی لوئ لوئ علماء مراد دی په کوموکښې چه حضرات فقهاء، محدثین او خاص کر ارباب صحاح داخل دی. (۶) خو دا په هغه صورت

(۱) واخرجه مسلم فی فضائل الصحابة، باب فضل فارس، رقم۲۵۴۶: ، واخرجه الترمذی فی التفسیر، باب من سورة الجمعة، رقم الحدیث۳۳۱۰:، واخرجه النسائی فی التفسیر، باب واخرین منهم لما یلحقوا بهم، رقم الحدیث-۱۱۵۹۲/۱:

(۲) فتح الباری-۸/۶۴۲:

(۳) فتح الباری-۸/۶۴۲:

(۴) فتح الباری: ۸| ۶۴۲

(۵) فتح الباری-۸/۶۴۲:

(۶) فیض الباری۴/۲۴۵:

کښې دی چه په روایت کښې د جمع صیغه (رجال) وی مګر په بعض روایاتوکښې "رجل" د مفرد صیغه واردشویده، علماؤ وئیلی دی چه دې نه امام ابوحنیفه رحمه الله مراد دې، حافظ جلال الدین سیوطی رحمه الله "تبییض الصحیفة" کښې ارشاد فرمائیلې دې چه په دې کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله د پاره بشارت او منقبت دې(۱) مولانا وحیدالزمان د بخاری په ترجمه کښې د دې نه انکار کړیدې هغه وائی چه چه امام خو د کابل اوسیدونکې دې او کابل د هندوستان علاقه شمیرلې شی او په حدیث کښې د فارس لفظ راغلې دې. د دې جواب دا دې چه د کابل بعض علاقې هم فارس سره متصل دی لکه هرات وغیره، او امام ابوحنیفه رحمه الله د دې علاقې اوسیدونکې دې نو دې ته فارس وئیلی شی بلکه بعض علماؤ خو هغوی ته فارسی وئیلې دې.(۲) حضرت شاه ولی الله رحمه الله "ازالة الخفاء" کښې "خلافة الخلفاء" بحث فرمائیلې دې چه دینه حضرات محدثین مراددی.

[۳۷۴] بَاب وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا

[۴۶۱۶] حَدَّثَنِي حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا حُصَيْنٌ عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ وَعَنْ أَبِي سُفْيَانَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَقْبَلَتْ عِيرٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَنَحْنُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَثَارَ النَّاسُ إِلَّا اثْنَيْ عَشَرَ رَجُلًا فَأَنْزَلَ اللَّهُ وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا

تفسیر سُورَةُ الْمُنَافِقِينَ

[۳۷۵] بَاب قَوْلِهِ إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللَّهِ إِلَى لَكَاذِبُونَ

[۴۶۱۷] (۳) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ كُنْتُ فِي غَزَاةٍ فَسَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ يَقُولُ لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا مِنْ حَوْلِهِ وَلَئِنْ رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِهِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَمِّي أَوْ لِعُمَرَ فَذَكَرَهُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَانِي فَحَدَّثْتُهُ فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

---

(۱) فیض البارى ۴/۲۴۵: وتبییض الصحیفة بمناقب الامام ابی حنیفة-۱:

(۲) سیر اعلام النبلاء ۳۹۰-۳۹۵/٦: وتهذیب الکمال-۲۹/۴۱۸:

(۳) واخرجه ملسم فی اول صفات المنافقین واحکامهم، رقم الحدیث۲۷۷۲:، واخرجه الترمذی فی التفسیر باب من سورة المنافقین رقم الحدیث ۳۳۱۲: واخرجه النسائی فی السنن الکبری فی التفسیر باب الذین یقولون لاتنفقوا علی من عندرسول الله حتی ینفضوا رقم الحدیث-۱۱۵۹۷ :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُبَيٍّ وَأَصْحَابِهِ فَحَلَفُوا مَا قَالُوا فَكَذَّبَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَدَّقَهُ فَأَصَابَنِي هَمٌّ لَمْ يُصِبْنِي مِثْلُهُ قَطُّ فَجَلَسْتُ فِي الْبَيْتِ فَقَالَ لِي عَمِّي مَا أَرَدْتَ إِلَى أَنْ كَذَّبَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَقَتَكَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ فَبَعَثَ إِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَ فَقَالَ إِنَّ اللَّهَ قَدْ صَدَّقَكَ يَا زَيْدُ

دَ دې سورة لاندې چه کوم احاديث او په هغې کښې چه کوم واقعات بيان شوی دی دَ هغې تشريح په کتاب المغازی کښې تيرشوې دې.

د کلماتو تشريح:

قوله: كُنْتُ فِي غَزَاةٍ: دَ محمدبن کعب په روايت کښې دی چه دا دَ غزوه تبوك واقعه ده دَ دې تائيددا دې چه دَ دې روايت نه په بعض طرق کښې دی "اصاب الناس، فيه شدی"[1] او غزوه تبوك کښې خلقوته شدت او سختی پيښه شوې وه. ليکن اهل مغازی دا دَ غزوه بنی المصطلق واقعة گرځوی[2] والله اعلم

قوله: فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَمِّي أَوْ لِعُمَرَ: دلته په دې روايت کښې "عم" او "عمر" په مينځ کښې "او" دَ شك کلمه راغلې ده ليکن وړاندې چه خومره روايات راځی په هغې کښې "لعمی" دې "اولعمر" الفاظ نشته. صرف په دې روايت کښې کلمه شك واقع شويده. امام ترمذی هم "لعمی" بغيردَ شك نه نقل کړيدې. [3] دَ طبرانی او ابن مردويه په روايت کښې دی چه "عمی" نه حضرت سعدبن عباده) مراد دې، حضرت سعدبن عباده) دَ حضرت زيدبن ارقم) سکه تره نه وو خودَ هغوی دَ قوم سردار وو په دې وجه "عمی" سره تعبيرکړو، دَ حضرت زيدبن ارقم سکه تره ثابت بن قيس وو[4] دَ سورة منافقون په تفسيرکښې اما بخاری رحمه الله اته(٨) تراجم قائم کړی دی او دَ ټولولاندې ئی هم يو حديث نقل کړيدې. دَ خودلو مقصد دا دې چه دَ دې ټولو آياتونو دَ نزول تعلق هم دې واقعه سره دې.

[٣٧٦] بَاب اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً يَجْتَنُّونَ بِهَا

[٤٦١٨] حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ مَعَ عَمِّي فَسَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ ابْنَ سَلُولَ يَقُولُ لَا تُنْفِقُوا

---

[1] فتح الباری-٨/٦٤٤ :

[2] والذی عليه اهل المغازی انها عزوة بنی المصطلق) فتح الباری-(٨/٦٤٤:

[3] سنن الترمذی کتاب التفسير باب ومن سورة المنافقين ٥/٤١٥: رقم الحديث ٣٣١٢:

[4] فتح الباری ٨/٦٤٥:

عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوا وَقَالَ أَيْضًا لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِعَمِّي فَذَكَرَ عَمِّي لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أُبَيٍّ وَأَصْحَابِهِ فَحَلَفُوا مَا قَالُوا فَصَدَّقَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَذَّبَنِي فَأَصَابَنِي هَمٌّ لَمْ يُصِبْنِي مِثْلُهُ قَطُّ فَجَلَسْتُ فِي بَيْتِي فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ إِلٰى قَوْلِهِ هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنْفِقُوا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ إِلٰى قَوْلِهِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ فَأَرْسَلَ إِلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَهَا عَلَيَّ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ قَدْ صَدَّقَكَ

[۳۷۷] بَابُ قَوْلِهِ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ

[۴٦۱۹] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ قَالَ سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ كَعْبٍ الْقُرَظِيَّ قَالَ سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ لَا تُنْفِقُوا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ وَقَالَ أَيْضًا لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ أَخْبَرْتُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَامَنِي الْأَنْصَارُ وَحَلَفَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ مَا قَالَ ذٰلِكَ فَرَجَعْتُ إِلَى الْمَنْزِلِ فَنِمْتُ فَدَعَانِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُهُ فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ قَدْ صَدَّقَكَ وَنَزَلَ هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنْفِقُوا الْآيَةَ وَقَالَ ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ عَمْرٍو عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلٰى عَنْ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۳۷۸] بَابُ وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ وَإِنْ يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُسَنَّدَةٌ يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ أَنّٰى يُؤْفَكُونَ

[۴٦۲۰] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ أَصَابَ النَّاسَ فِيهِ شِدَّةٌ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ لِأَصْحَابِهِ لَا تُنْفِقُوا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوا مِنْ حَوْلِهِ وَقَالَ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَأَرْسَلَ إِلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أُبَيٍّ فَسَأَلَهُ فَاجْتَهَدَ يَمِينَهُ مَا فَعَلَ قَالُوا كَذَبَ زَيْدٌ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَقَعَ فِي نَفْسِي مِمَّا قَالُوا شِدَّةٌ حَتّٰى أَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ تَصْدِيقِي فِي إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ فَدَعَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَسْتَغْفِرَ لَهُمْ فَلَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَقَوْلُهُ خُشُبٌ مُسَنَّدَةٌ قَالَ كَانُوا رِجَالًا أَجْمَلَ شَيْءٍ

[٣٧٩] بَاب قَوْلُهُ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ

لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُمْ مُسْتَكْبِرُونَ حَرَّكُوا اسْتَهْزَءُوا بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُقْرَأُ بِالتَّخْفِيفِ مِنْ لَوَيْتُ

[٤٦٢١] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ كُنْتُ مَعَ عَمِّي فَسَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ ابْنَ سَلُولَ يَقُولُ لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا وَلَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَمِّي فَذَكَرَ عَمِّي لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَانِي فَحَدَّثْتُهُ فَأَرْسَلَ إِلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُبَيٍّ وَأَصْحَابِهِ فَحَلَفُوا مَا قَالُوا وَكَذَّبَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَدَّقَهُمْ فَأَصَابَنِي غَمٌّ لَمْ يُصِبْنِي مِثْلُهُ قَطُّ فَجَلَسْتُ فِي بَيْتِي وَقَالَ عَمِّي مَا أَرَدْتَ إِلَى أَنْ كَذَّبَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَقَتَكَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللَّهِ وَأَرْسَلَ إِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَهَا وَقَالَ إِنَّ اللَّهَ قَدْ صَدَّقَكَ

[٣٨٠] بَاب قَوْلُهُ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ

[٤٦٢٢] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كُنَّا فِي غَزَاةٍ قَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً فِي جَيْشٍ فَكَسَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ الْأَنْصَارِيُّ يَا لَلْأَنْصَارِ وَقَالَ الْمُهَاجِرِيُّ يَا لَلْمُهَاجِرِينَ فَسَمِعَ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا بَالُ دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ كَسَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ فَسَمِعَ بِذَلِكَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ فَقَالَ فَعَلُوهَا أَمَا وَاللَّهِ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ عُمَرُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ دَعْنِي أَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ لَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ أَنَّ مُحَمَّدًا يَقْتُلُ أَصْحَابَهُ وَكَانَتِ الْأَنْصَارُ أَكْثَرَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ حِينَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ ثُمَّ إِنَّ الْمُهَاجِرِينَ كَثُرُوا بَعْدُ قَالَ سُفْيَانُ فَحَفِظْتُهُ مِنْ عَمْرٍو قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرًا كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[٣٨١] بَاب قَوْلُهُ هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ

حَتَّى يَنْفَضُّوا يَنْفَضُّوا يَتَفَرَّقُوا وَلِلَّهِ خَزَائِنُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ

[٤٦٢٣] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عُقْبَةَ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْفَضْلِ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ

حزنت على من أصيب بالحرة فكتب إلى زيد بن أرقم وبلغه شدة حزني يذكر أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول اللهم اغفر للأنصار ولأبناء الأنصار وشك ابن الفضل في أبناء أبناء الأنصار فسأل أنسا بعض من كان عنده فقال هو الذي يقول رسول الله صلى الله عليه وسلم هذا الذي أوفى الله له بأذنه

[۳۸۲] باب قوله يقولون لئن رجعنا إلى المدينة ليخرجن الأعز منها الأذل ولله العزة ولرسوله وللمؤمنين ولكن المنافقين لا يعلمون

[۴۶۲۴] حدثنا الحميدي حدثنا سفيان قال حفظناه من عمرو بن دينار قال سمعت جابر بن عبد الله رضي الله عنهما يقول كنا في غزاة فكسع رجل من المهاجرين رجلا من الأنصار فقال الأنصاري يا للأنصار وقال المهاجري يا للمهاجرين فسمعها الله رسوله صلى الله عليه وسلم قال ما هذا فقالوا كسع رجل من المهاجرين رجلا من الأنصار فقال الأنصاري يا للأنصار وقال المهاجري يا للمهاجرين فقال النبي صلى الله عليه وسلم دعوها فإنها منتنة قال جابر وكانت الأنصار حين قدم النبي صلى الله عليه وسلم أكثر ثم كثر المهاجرون بعد فقال عبد الله بن أبي أوقد فعلوا والله لئن رجعنا إلى المدينة ليخرجن الأعز منها الأذل فقال عمر بن الخطاب رضي الله عنه دعني يا رسول الله أضرب عنق هذا المنافق قال النبي صلى الله عليه وسلم دعه لا يتحدث الناس أن محمدا يقتل أصحابه

[۳۸۳] باب: تفسير سورة التغابن

وقال علقمة عن عبد الله ومن يؤمن بالله يهد قلبه هو الذي إذا أصابته مصيبة رضي وعرف أنها من الله وقال مجاهد التغابن غبن أهل الجنة أهل النار

حضرت علقمه رحمه الله (ومن يؤمن بالله يهد قلبه) لاندې فرمائي چه دينه هغه سړے مراد دے چه په چا مصيبت راشي او هغه راضي وی اوهغه د الله تعالی د طرف نه اوګڼړی ليکن د دے دا مطلب نه دے چه هغه په ژبه سره د مصيبت څرګندونه هم اونه کړی،په ژبه سره د مصيبت اظهار د ګيلې مانې نه بغير ناجائزنه دے. پخپله نبی کريم ﷺ "واراساه" فرمائيلی دی اود خپلې بيمارئ ذکرئې کړيدے.حضرت عائشه رضي الله عنها "واراساه" فرمائيلی اونبی کريم ﷺ په دے څه ناخوښی نه ده فرمائيلې. هغوی ﷺ "إنا بفراقك لمحزونون يا ابراهيم" فرمائيلی اود غم اظهارئی کړيدے(۱)

---

۱) السيرة الحلبية-۳/۳۱۰:

[٣٨٤] باب: تفسير سورة الطلاق

باب وقال مجاهد إن ارتبتم إن لم تعلموا أتحيض أم لا تحيض فاللائي قعدن عن المحيض واللائي لم يحضن بعد فعدتهن ثلاثة أشهر وبال أمرها جزاء أمرها

په آيت مبارك كښې دى (فذاقت وبال أمرها وكان عاقبة أمرها خسرا) هغوى د خپلو عملونومزه اوڅكله اود هغوى د كار انجام هم خساره شوه، مجاهد رحمه الله فرمائى چه وبال امرها معنى د خپل كارسزا. د وبال اصل معنى ده شدت او سختى، دلته د بدواعمالو سختى او د هغې سخته سزا مراد ده.

[٤٦٢٥] (١) حدثنا يحيى بن بكير حدثنا الليث قال حدثني عقيل عن ابن شهاب قال أخبرني سالم أن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أخبره أنه طلق امرأته وهي حائض فذكر عمر لرسول الله صلى الله عليه وسلم فتغيظ فيه رسول الله صلى الله عليه وسلم ثم قال ليراجعها ثم يمسكها حتى تطهر ثم تحيض فتطهر فإن بدا له أن يطلقها فليطلقها طاهرا قبل أن يمسها فتلك العدة كما أمر الله عز وجل

د دي تفصيل به ان شاء الله كتاب الطلاق كښې راځى.

[٣٨٥] باب وأولات الأحمال أجلهن أن يضعن حملهن

ومن يتق الله يجعل له من أمره يسرا وأولات الأحمال واحدها ذات حمل

[٤٦٢٦] (٢) حدثنا سعد بن حفص حدثنا شيبان عن يحيى قال أخبرني أبو سلمة

---

(١) واخرجه ايضاً فى الطلاق باب قوله تعالى :ياايهالنبى اذاطلقتم النساء، فطلقوهن لعدتهن واحصواالعدة، رقم الحديث٥٢٥١، وباب اذاطلقت الحائض تعتدبذلك الطلاق رقم الحديث٥٢٥٢، ٥٢٥٣وباب من طلق وهل يواجه الرجل امراته بالطلاق رقم الحديث ٥٨٥٨؛وباب من قال لامراته :انت على حرام، رقم الحديث ٥٢٦٤؛وباب وبعولتهن احق بردهن، رقم الحديث٥٣٣٢، ٥٣٣٣، والاحكام باب هل يقضى القاضى اويفتي وهوغضبان رقم الحديث ٧١٦٠؛واخرجه ابن ماجه فى الطلاق باب طلاق السنة، رقم الحديث ٢٠١٩، واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى الطلاق، باب وقت الطلاق للعدة، رقم الحديث٥٥٨٢/٢، واخرجه الترمذى فى الطلاق، باب ماجاء فى طلاق السنة، رقم الحديث١١٧٥، واخرجه ابوداؤد فى الطلاق، باب فى طلاق السنة، رقم الحديث٢١٧٩، واخرجه مسلم فى كتاب الطلاق رقم الحديث ١٤٧١؛ واخرجه النسائى فى الطلاق-٢/٩٨؛

(٢) وايضاً اخرجه فى الطلاق باب والات الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن رقم الحديث٥٣١٨؛مع الفتح واخرجه مسلم فى الطلاق باب انقضاء عدة المتوفى عنها زوجها وغير ها بوضع الحمل، رقم الحديث ١٤٨٥ واخرجه الترمذى فى الطلاق باب ماجاء فى الحامل المتوفى عنها زوجها رقم الحديث ١١٩٤؛واخرجه النسائى فى الطلاق باب عدة الحامل المتوفى عنها زوجها رقم الحديث-٥/٥٧٠٣؛

قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَبُو هُرَيْرَةَ جَالِسٌ عِنْدَهُ فَقَالَ أَفْتِنِي فِي امْرَأَةٍ وَلَدَتْ بَعْدَ زَوْجِهَا بِأَرْبَعِينَ لَيْلَةً فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ آخِرُ الْأَجَلَيْنِ قُلْتُ أَنَا وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَنَا مَعَ ابْنِ أَخِي يَعْنِي أَبَا سَلَمَةَ فَأَرْسَلَ ابْنُ عَبَّاسٍ غُلَامَهُ كُرَيْبًا إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ يَسْأَلُهَا فَقَالَتْ قُتِلَ زَوْجُ سُبَيْعَةَ الْأَسْلَمِيَّةِ وَهِيَ حُبْلَى فَوَضَعَتْ بَعْدَ مَوْتِهِ بِأَرْبَعِينَ لَيْلَةً فَخُطِبَتْ فَأَنْكَحَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ أَبُو السَّنَابِلِ فِيمَنْ خَطَبَهَا

[۴۶۲۶ م] وَقَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ وَأَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ كُنْتُ فِي حَلْقَةٍ فِيهَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى وَكَانَ أَصْحَابُهُ يُعَظِّمُونَهُ فَذَكَرُوا لَهُ فَذَكَرَ آخِرَ الْأَجَلَيْنِ فَحَدَّثْتُ بِحَدِيثِ سُبَيْعَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ فَضَمَّزَ لِي بَعْضُ أَصْحَابِهِ قَالَ مُحَمَّدٌ فَفَطِنْتُ لَهُ فَقُلْتُ إِنِّي إِذًا لَجَرِيءٌ إِنْ كَذَبْتُ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ وَهُوَ فِي نَاحِيَةِ الْكُوفَةِ فَاسْتَحْيَا وَقَالَ لَكِنْ عَمُّهُ لَمْ يَقُلْ ذَاكَ فَلَقِيتُ أَبَا عَطِيَّةَ مَالِكَ بْنَ عَامِرٍ فَسَأَلْتُهُ فَذَهَبَ يُحَدِّثُنِي حَدِيثَ سُبَيْعَةَ فَقُلْتُ هَلْ سَمِعْتَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ فِيهَا شَيْئًا فَقَالَ كُنَّا عِنْدَ عَبْدِ اللَّهِ فَقَالَ أَتَجْعَلُونَ عَلَيْهَا التَّغْلِيظَ وَلَا تَجْعَلُونَ عَلَيْهَا الرُّخْصَةَ لَنَزَلَتْ سُورَةُ النِّسَاءِ الْقُصْرَى بَعْدَ الطُّولَى وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ

د سورة بقره په تفسیر کښې دا روایت تیر شویدې.

سُورَةُ التَّحْرِيمِ

[۳۸۶] بَابُ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاةَ أَزْوَاجِكَ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ

[۴۶۲۷] (۱) حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ ابْنِ حَكِيمٍ هُوَ يَعْلَى بْنُ حَكِيمٍ الثَّقَفِيُّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ فِي الْحَرَامِ يُكَفَّرُ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ إِسْوَةٌ حَسَنَةٌ

[۴۶۲۸] (۲) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ عَطَاءٍ

---

۱) واخرجه ایضاً فی الطلاق باب لم تحرم ما احل الله لک رقم الحدیث ۵۲۶۶:)مع الفتح (واخرجه مسلم فی الطلاق باب وجوب الکفارة علی من حرم امراته ولیم ینوالطلاق رقم الحدیث-۱۴۷۳:

۲) وایضاً اخرجه فی النکاح باب دخول الرجل علی نسائه فی الیوم رقم الحدیث ۵۲۱۶:)مع الفتح (وفی الطلاق باب لم تحرم ما احل الله لک رقم ۵۲۶۷:، ۵۲۶۸وفی کتاب الاطعمة باب الادم رقم الحدیث ۵۴۳۰:، وفی الاشربة باب الباذق رقم الحدیث ۵۵۹۹:وباب شراب الحلووالعسل رقم الحدیث : ۵۶۱۴وفی الطب باب الدواء بالعسل وقول الله عزوجل :وفیه شفاء للناس ۶۶۸۲:وباب السعوط رقم ۵۶۹۱:وفی کتاب الحیل، باب مایکره من احتیال المراة مع الزوج والضرائر، رقم الحدیث ۶۹۷۲: واخرجه ابوداؤد فی الاشربة باب فی شراب العسل، رقم الحدیث ۳۷۱۴:...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْرَبُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَيَمْكُثُ عِنْدَهَا فَوَاطَيْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ عَلَى أَيَّتُنَا دَخَلَ عَلَيْهَا فَلْتَقُلْ لَهُ أَكَلْتَ مَغَافِيرَ إِنِّي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ مَغَافِيرَ قَالَ لَا وَلَكِنِّي كُنْتُ أَشْرَبُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَلَنْ أَعُودَ لَهُ وَقَدْ حَلَفْتُ لَا تُخْبِرِي بِذَلِكَ أَحَدًا

د ايت كريمه په شانِ نزول كې مختلف واقعات: د آيت باب په شان نزول كښې اختلاف دې دلته په باب كښې د حضرت عائشه صديقه ﷺ په روايت كښې دى چه حضور اكرم ﷺ د زينب بنت جحش كره شهد ځكلې وو او حصار شوې وو، ما او حضرت حفصه ﷺ مشوره اوكړه چه په مونږ كښې چا كره هم نبى كريم ﷺ داخل شو نو هغه ته به وائى چه آياتاسو مغافير ځكلى دى؟ زه تاسو نه د مغافيرو بوئى محسوس كوم، نو چه كله نبى كريم ﷺ هلته لاړو نو هغوى هم هغه خبره اوكړه. نبى كريم ﷺ به بدبوئى نه خوښوله او مغافير يو خاص قسم ګونددى په كوم كښې چه څه بدبوئى غوندې وى په دې وجه هغوى ﷺ اوفرمائيل چه نه، ماخوزينب ﷺ كره شهد ځكلې دى بيا به نه ځكم. ماقسم كړيدې خو ته د دې ذكر چاته مه كوه، په دې باندې دا مذكوره آيت نازل شو چه حلال څيز په ځان حرامول نه دى پكار.

د دې روايت نه خو معلومه شوه چه هغوى ﷺ حضرت زينب كره شهد استعمال كړى وو او وړاندې د بخارى كتاب الطلاق نه روايت معلوميږى چه هغوى د شهدو استعمال حضرت حفصه ﷺ كره كړى وو (۱) اود ابن مردويه د روايت نه معلوميږى چه هغوى ﷺ د شهدو استعمال حضرت سوده بنت زمعه ﷺ كره كړى وو(۲) د بې شميره رواياتو په وجه بعض نور علماء د بې شميره واقعاتو قائل شوى دى خو د قاضى عياض او نورو محققينو رائې دا ده چه مذكوره واقعه حضرت زينب ﷺ كره پيښه شوې وه، ځكه چه د حضرت زينب متعلق وړاندې تيرشوى دى "وهى التى تساميني" اود حضرت عائشه ﷺ يوه بله ډله وه، حضرت سوده او حضرت حفصه ﷺ داواړه د حضرت عائشه ﷺ ډلې سره تعلق لرلو، په دې وجه هم دا معلوميږى چه ذكر شوې منصوبه حضرت عائشه او حضرت حفصه ﷺ يو ځاى د حضرت زينب ﷺ خلاف جوړه كړې وه لكه څنګه چه د باب په روايت كښې دى (۳)

څوک چه حلال په خپل ځان باندې حرام كړى نو هغه له كفاره د يمين اداكول پكاردى يا نه؟:
طبرانى او مردويه روايت نقل كړيدې چه مذكوره آيت د حضرت ماريه قبطيه متعلق نازل

...بقيه ازحاشيه گذشته] واخرجه السنائى فى السنن الكبرى فى التفسير باب سورة التحريم ۲/۱۱۶۰۸: واخرجه النسائى فى كتاب عشرة النساء۲/۹۷:، واخرجه فى كتاب النذور والايمان-۲/۱۴۴:

۱) صحيح البخارى مع فتح البارى كتاب الطلاق باب لم تحرم ماحل الله لك ۳۷۵-۹/۳۷۴ :رقم الحديث-۵۲۶۸:

۲) فتح البارى كتاب الطلاق-۹/۳۷۶

۳) فتح البارى كتاب الطلاق-۹/۳۷۶:

شويدې، د حضرت حفصه رضي الله عنها په كوركښې هغوى ﷺ دې سره همبسترى كړې وه او په څه طريقه حضرت حفصه رضي الله عنها ته د دې علم شوې وو په څه چه حضرت حفصه رضي الله عنها ناخوښى ښكاره كړې وه نو هغوى ﷺ اوفرمائيل "هي على حرام" په دې باندې دا آيت نازل شو (۱)
علامه خطابى فرمائى چه د اكثرو حضراتو رائې دا ده چه مذكوره آيت د حضرت ماريه قبطيه رضي الله عنها په واقعه كښې نازل شوې دې (۲)- ليكن دا جمع كولې شى چه دا ټول واقعات پيښيدونه پس د باب آيت نازل شوى وى.

قوله: حدثنا معاذ.... قال في الحرام يكفر: يعنى چه كوم سړې په خان باندې يو څيز حرام كړى نو هغه له كفاره يمين يعنى د قسم كفاره ادا كول پكار دى. دينه پس به دا د هغه د پاره حلال وى. د امام شافعى او امام مالك رحمهما الله مذهب دا دې كه چا حلال څيز په خان حرام كړو نو د ده دا كلام عبث دې او دا به فضول شميرلې شى ځكه چه الله تعالى كوم څيز حلال گرځولې دې هغه د چا په حرام والې باندې نه حراميږى.(۳) د حنفيه او حنابله مذهب هم دغه دې چه په دې روايت كښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل كړېشويدې. چه د قسم كفاره به اداكوى (۴)

[۳۸۷] بَاب تَبْتَغِي مَرْضَاةَ أَزْوَاجِكَ قَدْ فَرَضَ اللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ وَاللَّهُ مَوْلَاكُمْ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ

[۴۶۲۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ عَنْ يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ بْنِ حُنَيْنٍ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يُحَدِّثُ أَنَّهُ قَالَ مَكَثْتُ سَنَةً أُرِيدُ أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ عَنْ آيَةٍ فَمَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَسْأَلَهُ هَيْبَةً لَهُ حَتَّى خَرَجَ حَاجًّا فَخَرَجْتُ مَعَهُ فَلَمَّا رَجَعْنَا وَكُنَّا بِبَعْضِ الطَّرِيقِ عَدَلَ إِلَى الْأَرَاكِ لِحَاجَةٍ لَهُ قَالَ فَوَقَفْتُ لَهُ حَتَّى فَرَغَ ثُمَّ سِرْتُ مَعَهُ فَقُلْتُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَنْ اللَّتَانِ تَظَاهَرَتَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَزْوَاجِهِ فَقَالَ تِلْكَ حَفْصَةُ وَعَائِشَةُ قَالَ فَقُلْتُ وَاللَّهِ إِنْ كُنْتُ لَأُرِيدُ أَنْ أَسْأَلَكَ عَنْ هَذَا مُنْذُ سَنَةٍ فَمَا

---

(۱) فتح البارى
(۲) مولانا فخر الحسن گنگوهى رحمه الله د ابوداؤد په حاشيه" التعليق المحمود "كښې ليكى" :وقال الخطابى :الاكثرعلى ان الايةنزلت فى تحريم مارية حين حرمهاعلى نفسه")التعليق المحمود (۲/۱۶۶ : ليكن علامه خطابى" معالم السنن "كښې د دې بالكل برعكس ليكى " وفى الهذاالحديث :دليل على ان يمين النبى صلى الله عليه وسلم انما وقعت فى تحريم العسل لافى تحريم ام ولده"مارية قبطيه "كما زعمه بعض الناس") وانظر معهالم السنن ۵/۲۸۰:باب فى شراب العسل كتاب الاشربة
(۳) فيض البارى-۴/۲۴۸:
(۴) فيض البارى-۴/۲۴۸:

أَسْتَطِيعُ هَيْبَةً لَكَ قَالَ فَلَا تَفْعَلْ مَا ظَنَنْتَ أَنَّ عِنْدِي مِنْ عِلْمٍ فَاسْأَلْنِي فَإِنْ كَانَ لِي عِلْمٌ خَبَّرْتُكَ بِهِ قَالَ ثُمَّ قَالَ عُمَرُ وَاللَّهِ إِنْ كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ مَا نَعُدُّ لِلنِّسَاءِ أَمْرًا حَتَّى أَنْزَلَ اللَّهُ فِيهِنَّ مَا أَنْزَلَ وَقَسَمَ لَهُنَّ مَا قَسَمَ قَالَ فَبَيْنَا أَنَا فِي أَمْرٍ أَتَأَمَّرُهُ إِذْ قَالَتِ امْرَأَتِي لَوْ صَنَعْتَ كَذَا وَكَذَا قَالَ فَقُلْتُ لَهَا مَا لَكِ وَلِمَا هَا هُنَا وَفِيمَ تَكَلُّفُكِ فِي أَمْرٍ أُرِيدُهُ فَقَالَتْ لِي عَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ مَا تُرِيدُ أَنْ تُرَاجَعَ أَنْتَ وَإِنَّ ابْنَتَكَ لَتُرَاجِعُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى يَظَلَّ يَوْمَهُ غَضْبَانَ فَقَامَ عُمَرُ فَأَخَذَ رِدَاءَهُ مَكَانَهُ حَتَّى دَخَلَ عَلَى حَفْصَةَ فَقَالَ لَهَا يَا بُنَيَّةُ إِنَّكِ لَتُرَاجِعِينَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى يَظَلَّ يَوْمَهُ غَضْبَانَ فَقَالَتْ حَفْصَةُ وَاللَّهِ إِنَّا لَنُرَاجِعُهُ فَقُلْتُ تَعْلَمِينَ أَنِّي أُحَذِّرُكِ عُقُوبَةَ اللَّهِ وَغَضَبَ رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بُنَيَّةُ لَا يَغُرَّنَّكِ هَذِهِ الَّتِي أَعْجَبَهَا حُسْنُهَا حُبُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاهَا يُرِيدُ عَائِشَةَ قَالَ ثُمَّ خَرَجْتُ حَتَّى دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ لِقَرَابَتِي مِنْهَا فَكَلَّمْتُهَا فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ عَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ دَخَلْتَ فِي كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى تَبْتَغِيَ أَنْ تَدْخُلَ بَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَزْوَاجِهِ فَأَخَذَتْنِي وَاللَّهِ أَخْذًا كَسَرَتْنِي عَنْ بَعْضِ مَا كُنْتُ أَجِدُ فَخَرَجْتُ مِنْ عِنْدِهَا وَكَانَ لِي صَاحِبٌ مِنَ الْأَنْصَارِ إِذَا غِبْتُ أَتَانِي بِالْخَبَرِ وَإِذَا غَابَ كُنْتُ أَنَا آتِيهِ بِالْخَبَرِ وَنَحْنُ نَتَخَوَّفُ مَلِكًا مِنْ مُلُوكِ غَسَّانَ ذُكِرَ لَنَا أَنَّهُ يُرِيدُ أَنْ يَسِيرَ إِلَيْنَا فَقَدِ امْتَلَأَتْ صُدُورُنَا مِنْهُ فَإِذَا صَاحِبِي الْأَنْصَارِيُّ يَدُقُّ الْبَابَ فَقَالَ افْتَحِ افْتَحْ فَقُلْتُ جَاءَ الْغَسَّانِيُّ فَقَالَ بَلْ أَشَدُّ مِنْ ذَلِكَ اعْتَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَزْوَاجَهُ فَقُلْتُ رَغَمَ أَنْفُ حَفْصَةَ وَعَائِشَةَ فَأَخَذْتُ ثَوْبِي فَأَخْرُجُ حَتَّى جِئْتُ فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَشْرُبَةٍ لَهُ يَرْقَى عَلَيْهَا بِعَجَلَةٍ وَغُلَامٌ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْوَدُ عَلَى رَأْسِ الدَّرَجَةِ فَقُلْتُ لَهُ قُلْ هَذَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَأَذِنَ لِي قَالَ عُمَرُ فَقَصَصْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا الْحَدِيثَ فَلَمَّا بَلَغْتُ حَدِيثَ أُمِّ سَلَمَةَ تَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنَّهُ لَعَلَى حَصِيرٍ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ شَيْءٌ وَتَحْتَ رَأْسِهِ وِسَادَةٌ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ وَإِنَّ عِنْدَ رِجْلَيْهِ قَرَظًا مَصْبُوبًا وَعِنْدَ رَأْسِهِ أَهَبٌ مُعَلَّقَةٌ فَرَأَيْتُ أَثَرَ الْحَصِيرِ فِي جَنْبِهِ فَبَكَيْتُ فَقَالَ مَا يُبْكِيكَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ كِسْرَى وَقَيْصَرَ فِيمَا هُمَا فِيهِ وَأَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ فَقَالَ أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ لَهُمُ الدُّنْيَا وَلَنَا الْآخِرَةُ

د روايت باب تشريح: دا روايت كتاب العلم كښې مختصراً تيرشوې دې [١] اووړاندې به په كتاب النكاح كښې په تفصيل سره راځي هم هلته به ان شاء الله بحث وى دلته صرف يو څو الفاظ اوګورئ.

قوله: مَا تُرِيدُ أَنْ تُرَاجَعَ أَنْتَ وَإِنَّ ابْنَتَكَ لَتُرَاجِعُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

---

[١] صحيح البخارى مع الفتح، كتاب العلم باب التناوب فى العلم ١/١٨٥: رقم الحديث-٨٩:

يعنى تاسونه غواړئ چه تاسوسره مراجعت اوکړیشى او ستاسوته د خبرو ستاسو جواب درکړیشى، ستاسو لور رسول الله ﷺ ته خبرې واپس ګرځوى او د هغوى ﷺ د خبرو جواب ورکوى.

قوله: يَا بُنَيَّةُ لَا يَغُرَّنَّكِ هَذِهِ الَّتِي أَعْجَبَهَا حُسْنُهَا حُبُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاهَا: دې کښې "حسنها" د "اعجبها" فاعل دې او "حب رسول الله" د "حسنها" ته بدل اشتمال دې، د دې حسن د رسول الله ﷺ دې سره مينه دا په ځان خوښئى کښې اخته کړه، مطلب دا چه نبى کريم ﷺ هغې سره ډيره مينه کوى نو د حضور ﷺ د دې محبت نه زما مراددې. د حسن نه دوئم صورت دا کيديشى چه دلته "واؤعاطفه" محذوف اوګنړلې شى "اعجبهاحسنها وحب رسول الله" د مسلم وغيره په روايت کښې دلته "واؤعاطفه" موجود دې. نو په دې صورت کښې به ترجمه وى "د هغې حسن او د هغې سره د رسول الله ﷺ محبت هغه په ځان خوښئى کښې اخته کړه" په دې دواړو صورتونوکښې به "حب رسول...." مرفوع وى. دريم صورت دا دې چه "حب...." د مفعول له په بناء باندې منصوب اولولې "اى اعجبها من اجل حبه لها" د رسول الله ﷺ د محبت د وجه هغه د هغې حسن په ځان خوښئى کښې اخته کړه "(1)

قوله: وَتَحْتَ رَأْسِهِ وِسَادَةٌ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ: د هغوى ﷺ د سر لاندې د څرمنې يوه تکيه وه، په هغې کښې د کجهورې پاڼې ډکې شوې وې، "ليف" د کجهورو پاڼو ته وائى.

قوله: يَرْقَى عَلَيْهَا بِعَجَلَةٍ: عجلة پاوړئى ته وائى په هغې به د پاوړئى په ذريعه ختله.

قوله: وَإِنَّ عِنْدَ رِجْلَيْهِ قَرَظًا مَصْبُوبًا: او د هغوى ﷺ پښې سره د ونې پاڼې اچولې شوې وې، قرظ د قاف او را د زبر سره) د يوې خاص ونې پاڼوته وائى د څه په ذريعه چه څرمنې جوړيږى، "مصبوبا" معنى "مسكوبا" ده، بهيولې شوى وو، اچولې شوى وو، بعض رواياتو کښې"مصبورا" دې اې مجموعا(2) ترجمه به وى "د هغې د پښوسره د ونود پاڼو يو ډيرې وو".

قوله: وَعِنْدَ رَأْسِهِ أَهَبٌ مُعَلَّقَةٌ: او د هغوى د سر سره څه څرمنې زوړندوې. اهب: اهاب جمع ده هغې څرمن ته وائى چه کومه جوړه شوى نه وى يعنى کچه څرمن.

[۳۸۸] بَاب وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَى بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا

فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِ وَأَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُ وَأَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِ قَالَتْ مَنْ أَنْبَأَكَ هَذَا قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ فِيهِ عَائِشَةُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

1) د مذکوره درې واړو صورتونو دپاره اوګورئى عمدة القارى-۱۹/۲۵۱:

2) عمدة القارى-۱۹/۲۵۱:

[٤٦٣٠] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ قَالَ سَمِعْتُ عُبَيْدَ بْنَ حُنَيْنٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ أَرَدْتُ أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقُلْتُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَنِ الْمَرْأَتَانِ اللَّتَانِ تَظَاهَرَتَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا أَتْمَمْتُ كَلاَمِي حَتَّى قَالَ عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ

[٣٨٩] بَاب إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا

صَغَوْتُ وَأَصْغَيْتُ مِلْتُ لِتَصْغَى لِتَمِيلَ وَإِنْ تَظَاهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ مَوْلاَهُ وَجِبْرِيلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمَلاَئِكَةُ بَعْدَ ذَلِكَ ظَهِيرٌ عَوْنٌ تَظَاهَرُونَ تَعَاوَنُونَ وَقَالَ مُجَاهِدٌ قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ أَوْصُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ وَأَدِّبُوهُمْ

[٤٦٣١] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ قَالَ سَمِعْتُ عُبَيْدَ بْنَ حُنَيْنٍ يَقُولُ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ أَرَدْتُ أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ عَنِ الْمَرْأَتَيْنِ اللَّتَيْنِ تَظَاهَرَتَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَمَكُثْتُ سَنَةً فَلَمْ أَجِدْ لَهُ مَوْضِعًا، حَتَّى خَرَجْتُ مَعَهُ حَاجًّا، فَلَمَّا كُنَّا بِظَهْرَانَ ذَهَبَ عُمَرُ لِحَاجَتِهِ فَقَالَ أَدْرِكْنِي بِالْوَضُوءِ فَأَدْرَكْتُهُ بِالإِدَاوَةِ، فَجَعَلْتُ أَسْكُبُ عَلَيْهِ وَرَأَيْتُ مَوْضِعًا فَقُلْتُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَنِ الْمَرْأَتَانِ اللَّتَانِ تَظَاهَرَتَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَمَا أَتْمَمْتُ كَلاَمِي حَتَّى قَالَ عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ.

[٣٩٠] بَاب قَوْلُهُ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ

مُسْلِمَاتٍ مُؤْمِنَاتٍ قَانِتَاتٍ تَائِبَاتٍ عَابِدَاتٍ سَائِحَاتٍ ثَيِّبَاتٍ وَأَبْكَارًا

[٤٦٣٢] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اجْتَمَعَ نِسَاءُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْغَيْرَةِ عَلَيْهِ فَقُلْتُ لَهُنَّ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبَدِّلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ

[٣٩١] بَاب: تفسير سُورَةُ الْمُلْكِ

تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ التَّفَاوُتُ الاِخْتِلاَفُ وَالتَّفَاوُتُ وَالتَّفَوُّتُ وَاحِدٌ تَمَيَّزُ تَقَطَّعُ مَنَاكِبِهَا جَوَانِبِهَا تَدَّعُونَ وَتَدْعُونَ وَاحِدٌ مِثْلُ تَذَّكَّرُونَ وَتَذْكُرُونَ وَيَقْبِضْنَ يَضْرِبْنَ بِأَجْنِحَتِهِنَّ وَقَالَ مُجَاهِدٌ صَافَّاتٍ بَسْطُ أَجْنِحَتِهِنَّ وَنُفُورٌ الْكُفُورُ

د کلماتو تشریح:

قوله: التَّفَاوُتُ: الاِخْتِلاَفُ، وَالتَّفَاوُتُ وَالتَّفَوُّتُ وَاحِدٌ: آیت مبارک کښې دی (مَا تَرَى فِي خَلْقِ الرَّحْمَٰنِ مِنْ تَفَاوُتٍ) ته به د الله تعالی په تخلیق کښې هیڅ تفاوت اونه وینی.... فرمائی تفاوت معنی اختلاف، تفاوت او تفوت دواړه په یوه معنی کښې دی.

قوله: تَمَيَّزُ: تَقَطَّعُ: آیت مبارك كښې دى (تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ) دې كښې دَ تميز معنى ده تقطع يعنى داسې ښكارى چه دَ غصې نه به هغه اوشليږى.

قوله: مَنَاكِبِهَا: جَوَانِبِهَا: آیت مبارك كښې دى (هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ) هغه الله تعالى داسې دې چا چه ستاسو دَ پاره زمكه مسخر كړه (چه تاسو په دې كښې هرقسم تصرفات كولې شئى) نو تاسو دَ هغه په لارو باندې ځئى گرځئى) اودَ الله تعالى دَ رزق نه خورئى او هم هغه له به بيا ژوندى ورځئى. فرمائى آيت كښې "مناكب" معنى دَ اطراف، اړخونه،

قوله: تَدَّعُونَ وَتَدْعُونَ، مِثْلُ تَذَّكَّرُونَ وَتَذْكُرُونَ: آیت مبارك كښې دى (وَقِيلَ هَذَا الَّذِي كُنْتُمْ بِهِ تَدَّعُونَ) اووئيلې به شى چه هغه همدغه دې چانه به چه تاسو غوښتنه كوله.... فرمائى تَدَّعُونَ او وتَدْعُونَ يوه معنى ده لكه تَذَّكَّرُونَ اووتَذْكُرُونَ

قوله: وَيَقْبِضْنَ: يَضْرِبْنَ بِأَجْنِحَتِهِنَّ، وَقَالَ مُجَاهِدٌ: صَافَّاتٍ: بَسْطُ أَجْنِحَتِهِنَّ: آيت مبارك كښې دى (أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ) آيا دې خلقو په خپل ځان باندې مرغوته نظر نه دې كړې چه وزرې خورې كړى(الوزى) او(كله په دې حالت باندې) راغونډوى. فرمائى ويقبضن معنى خپلې وزرې وهى راغونډوى او مجاهد رحمه الله فرمائى آيت كښې صافات معنى دَ هغوى خپل متې خورول.

قوله: وَنُفُورٌ الْكُفُورُ: آيت مبارك كښې دى (بَلْ لَجُّوا فِي عُتُوٍّ وَنُفُورٍ) بلكه داخلق سركشى او نفرت) من الحق) باندې كلك دى. نفور معنى كفور ده يعنى دَ حق نه تښتيدل.

[٣٩٢] باب: تفسير سُورَةُ ن وَالْقَلَمِ

وَقَالَ قَتَادَةُ حَرْدٍ جِدٍّ فِي أَنْفُسِهِمْ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَتَخَافَتُونَ يَنْتَجُونَ السِّرَارَ وَالْكَلَامَ الْخَفِيَّ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَضَالُّونَ أَضْلَلْنَا مَكَانَ جَنَّتِنَا وَقَالَ غَيْرُهُ كَالصَّرِيمِ كَالصُّبْحِ انْصَرَمَ مِنَ اللَّيْلِ وَاللَّيْلِ انْصَرَمَ مِنَ النَّهَارِ وَهُوَ أَيْضًا كُلُّ رَمْلَةٍ انْصَرَمَتْ مِنْ مُعْظَمِ الرَّمْلِ وَالصَّرِيمُ أَيْضًا الْمَصْرُومُ مِثْلُ قَتِيلٍ وَمَقْتُولٍ

د كلماتو تشريح:

قوله: وَقَالَ قَتَادَةُ: حَرْدٍ: جِدٍّ فِي أَنْفُسِهِمْ: (وَغَدَوْا عَلَى حَرْدٍ قَادِرِينَ) دَ حرد معنى دَ په ځان او زړه سره د كوشش كولو هم راځى لكه چه دلته قتاده رحمه الله فرمائيلى دى دَ ارادې او مقرر شوې فيصلې دَ پاره هم استعماليږى اودَ منع كولو او نه وركولو د پاره هم وئيلې كيږى، دَ آيت مفهوم دې "هغه دَ څه نه وركولو فيصله كولوبه وخت كښې سحر وختى داسې هلته لاړل لكه چه(هغوى دَ ميوو په شوكولو)قادر دى.

قوله: يَتَخَافَتُونَ: يَنْتَجُونَ السِّرَارَ وَالْكَلَامَ الْخَفِيَّ: (فَانْطَلَقُوا وَهُمْ يَتَخَافَتُونَ) هغوى لاړل

په داسې حال کښې چه يو بل سره ئې پټې پټې خبرکولو سره، يتخجون: يكلم بعضهم بعضا

قوله: لَضَآلُّوْنَ: أَضْلَلْنَا مَكَانَ جَنَّتِنَا: ﴿فَلَمَّا رَاَوْهَا قَالُوْا اِنَّا لَضَآلُّوْنَ﴾ بيا چه کله هغوی هغه باغ اوليدو نو وئی وئيل بې شکه مونږ ته دَ خپل باغ ځائ نه معلوميږی او مونږ نه هغه اورك شو. بدرالدين زرکشی رحمه الله فرمائی چه "اضللنا" په "ضللنا" بغير دَ همزه نه کيدل پکار دی اودَ دې وجه دا ده چه "ضللت الشئ" هغه وخت وئيلې شی کله چه ته يو څيز په يوخاص ځائ کښې کيږدې اودينه پس تاته ياد نه وی چه هغه کوم ځائ دې او "اضللت الشئ" هغه وخت وئيلی شی کله چه يو سړې خپل څه څيز ضائع او برباد کړی او دلته خو اولنې صورت دې هغوی ته دَ خپل باغ دَ ځائ پته نه لګيدله په دې وجه "ضللنا" کيدل پکار دی(۱) خو حافظ ابن حجر رحمه الله "اضللنا" ته هم صحيح وائی هغه فرمائی چه دَ دې معنی ده "عملناعمل من ضيع" مونږ دَ هغه سړی په شان عمل اوکړو چه خپل څيز ضائع کوی (۲)

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ: كَالصَّرِيمِ: كَالصُّبْحِ انْصَرَمَ مِنَ اللَّيْلِ، وَاللَّيْلِ انْصَرَمَ مِنَ النَّهَارِ: ﴿فَاَصْبَحَتْ كَالصَّرِيْمِ﴾ بيا سحرهغه باغ دَ پريکړيشوی پټی غوندې شو. سحرته هم "صريم" وائی، ځکه چه سحر دَ شپې نه جداکيږی پريکړې کيږی چه شپه ختميږی، نو سحر راځی او شپه دَ ورځې نه منقطع کيږی چه ورځ ځی، نوشپه راځی. او صريم دَ شګې هغه حصې ته هم وائی چه دَ شګې د يو لوئ غوندې نه جدا کيږی او صريم په معنی مصروم هم دې لکه چه قتيل په معنی مقتول دې. امام بخاری رحمه الله خودل دا غواړی چه دَ صريم مختلف معنې راځی خوپه هره معنی کښې پريکيدلو او جدا کيدلومفهوم داخل دې. "والصريم ايضا المصروم" نه داخودل مقصددې چه دا لفظ څنګه لازم استعماليږی متعدی هم استعماليږی.

[۳۹۳] بَاب عُتُلٍّ بَعْدَ ذَلِكَ زَنِيمٍ

[۴۶۳۳] حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي حَصِينٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عُتُلٍّ بَعْدَ ذَلِكَ زَنِيمٍ قَالَ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ لَهُ زَنَمَةٌ مِثْلُ زَنَمَةِ الشَّاةِ

[۴۶۳۴] (۳) حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَعْبَدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ سَمِعْتُ حَارِثَةَ بْنَ

---

(۱) فتح الباری-۸/۶۶۲:

(۲) فتح الباری-۸/۶۶۲:

(۳) واخرجه ايضاً فی کتاب الادب باب الکبر ۶۰۷۱:وفی کتاب الايمان والنذور باب قول الله تعالی : واقسموا بالله جهدايمانهم رقم الحديث ۶۶۵۷ :واخرجه مسلم فی الجنة...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

وَهْبٍ الْخُزَاعِيِّ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لَأَبَرَّهُ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ

قوله: قَالَ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ لَهُ زَنَمَةٌ مِثْلُ زَنَمَةِ الشَّاةِ: دَ چيلئ غوږ سره دَ غوښې يوه زياتى ټكړه زوړنده وى، داشان دَ بعضو سړو دَ غوږونوسره هم يوه ټكړه زوړندوى هغې ته زنمه وائي. بعضې حضراتو "له زنمة" نه مراداخستې دې چه دَ هغه دَ لاسونوګوتې شپږ دي. بعض خلقو وئيلي دى چه زنيم هغه سړى ته وائى چه يو قوم سره يوځائ شوې وى او دَ هغې قوم فرد نه وى لكه په مرې يا غوږ كښې زياتى ټكړه بې مقصده وى دغه شان هغه سړې هم په دې قوم كښې دَ اهميت مالك نه وى(١)دلته دَ زنيم نه څوك مراد دې يحيى بن سلام په خپل تفسيركښې وئيلى دى چه دينه وليدبن مغيره مراد دې، بعض اسودبن عبد يغوث او بعض اخنس بن شريق نوم هم ذكر كړيدې(٢) اولنې قول مشهور دې. دَ زنيم معنى دَ بعض سلف په نيزد ولدالزنااو حرام زاده دې(٣)دَ كوم يوكافر متعلق چه دا آيت نازل شوې وو هغه هم داسې وو.

عُتُلٍّ: سخت مزاج، هغه سړې چه وعظ او تذكير باندې نه پوهيږى(٤)

[٣٩٤]بَاب يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ

[٤٦٣٥]حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَكْشِفُ رَبُّنَا عَنْ سَاقِهِ فَيَسْجُدُ لَهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ فَيَبْقَى كُلُّ مَنْ كَانَ يَسْجُدُ فِي الدُّنْيَا رِيَاءً وَسُمْعَةً فَيَذْهَبُ لِيَسْجُدَ فَيَعُودُ ظَهْرُهُ طَبَقًا وَاحِدًا

"په كومه ورځ چه الله تعالى دَ خپل ساق(پنډئ) تجلى ښكاره اوفرمائى" بعضو حضراتو

...بقيه ازحاشيه گذشته] وصفة نعيمها واهلها باب النار يدخلها لجبارون رقم الحديث ٢٨٥٣:واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى التفسير باب قوله تعالىٰ :عتل بعدذلك زنيم رقم الحديث ١/١١٦١٥: واخرجه الترمذى فى صفة النار باب ١٣رقم الحديث ٢٦٠٥ واخرجه ابن ماجة فى الزهد باب من لايوبه له :رقم الحديث-٤١١٦ :

(١) المفردات للراغب٢١٥:ومشاهدالانصاف على شواهد الكشاف-٤/٥٨٧:

(٢)فتح البارى-٨/٦٦٢:

(٣)تفسير عثمانى ٧٤٩:فائده نمبر-١١

(٤) العتل :الفانک الشديد المنافق عن عبيد بن عمير :العتل :الاكول الشروب القوى الشديد)عمدة القارى (١٩/٢٥٦:وفى المفردات للراغب٣٢١:. العتل :الا خذبمجامع الشئ وجره بقهر والعتل :الاكول المنوع الذى يعتل الشئ عتلاً-

وئیلی دی چه دا شدت او سختئی نه کنایه ده او مطلب دا دې چه هغه وخت به ډیر سخت تکلیف ده او ګران وی (۱) علامه ابوبکر فرمائی دې نه هغه فوائد او الطاف مرا دی چه دَ الله تعالی دَ طرف نه به بندیګانوته باربار حاصلیږی. لیکن څنګه چه اول اووئیلې شو چه روایت دَ متشابهاتونه دې او په دې سلسله کښې تسلیم او تفویض احوط او احسن دې ، علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله لیکی: " دَ دې قصه په حدیث شیخین کښې داسې راغلې ده چه الله تعالی به دَ قیامت په میدان کښې خپله پنډئی ښکاره کړی، ساق پنډئې ته وائی او دا یو خاص صفت او حقیقت دې، صفات او حقائق الهیه نه دې کوم ته چه دَ یوخاص مناسبت سره ساق فرمائیلې شوې دی لکه چه په قرآن پاك کښې دَ ید او وجه لفظ راغلې دې، دا دَ مفهوماتو او متشابهاتونه بللې شی په دې باندې هم په دې شان سره بلاکیف ایمان ساتل پکار دی لکه چه دَ الله تعالی په ذات، وجود، حیات او سمع او بصر وغیره باندې ایمان ساتلې شی.
هم په دې حدیث کښې دی چه دا تجلی لیدلوسره به ټول مؤمنان سرې او ښځې په سجده پریوزی مګر کوم سړی چه به په ریاسره سجده کوله دَ هغه ملا به نه ګکیږی دَ تختې په شان به شی، اوچه کله دَ ریا او نفاق خاوندان په سجده باندې قادر نشی نو دَ کفارو په دې باندې نه قادرکیدل په طریقه اولی معلوم شو. دا هر څه به په محشر په دې وجه کولې شی چه مؤمن او کافر، مخلص او منافق په صفا توګه معلوم شی اودَ هر یو دننه حالت څنګه چه وو ښکاره نه شی. (۲)

[۳۹۵] باب: تفسیر سُورَةُ الْحَاقَّةِ

قَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ يُرِيدُ فِيهَا الرِّضَا الْقَاضِيَةَ الْمَوْتَةَ الْأُولَى الَّتِي مُتُّهَا لَمْ أُحْيَ بَعْدَهَا مِنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِينَ أَحَدٌ يَكُونُ لِلْجَمْعِ وَلِلْوَاحِدِ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْوَتِينَ نِيَاطُ الْقَلْبِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ طَغَى كَثُرَ وَيُقَالُ بِالطَّاغِيَةِ بِطُغْيَانِهِمْ وَيُقَالُ طَغَتْ عَلَى الْخَزَّانِ كَمَا طَغَى الْمَاءُ عَلَى قَوْمِ نُوحٍ
(غِسْلِينَ) كُلُّ شَيْءٍ غَسَلْتَهُ فَخَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ فَهُوَ غِسْلِينَ، فِعْلِينَ مِنَ الْغَسْلِ مِنَ الْجُرْحِ وَالدَّبَرِ. أَعْجَازُ نَخْلٍ) أُصُولُهَا) بَقِيَّةٍ.

دکلماتو تشریح:

قوله: عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ: يُرِيدُ فِيهَا الرِّضَا : آیت مبارك کښې دی (فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ) غرض هغوی به په خوښ کړیشوی عیش کښې وی، فرمائی چه په دې آیت کښې (عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ) نه مراد داسې ژوندې کوم کښې چه رضا وی چونکه (رَاضِيَةٍ) دَ عیش صفت نشی جوړیدې

---

(۱) فتح الباری ۸/۶۶٤:وعمدة القاری-۱۹/۲۵۷:
(۲) تفسیرعثمانی۷۵۰:فائده نمبر-٤

بلکه دا دَ عيش دَ خاوند صفت دې دَ دې وجې ﴿عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ﴾ نه مراد دا دې چه هغه به په دې ژوند کښې راضی وی.

قوله: الْقَاضِيَةَ: الْمَوْتَةَ الْأُولَى الَّتِي مُتُّهَا: لَمْ أُحْيَ بَعْدَهَا: ﴿يٰلَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ﴾ الموتة الاولى التى متها" دا د(يٰلَيْتَهَا) دَ ضمير تفسير دې او "لم احى بعدها" "القاضية" تفسيردې. يعنى هغه مرګ چه اول راغلې وو افسوس چه هم په هغې سره فيصله شوې وه دينه پس ئى چه زه وې ژوندې کړې.

قوله: فَمَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِينَ: احد: دَ واحد او جمع دواړو دَ پاره استعماليږى، مطلب دا دې که په محمد ﷺ باندې دَ الله تعالى دَ طرف ته څه عتاب راغلو نوتاسو ټول په هغه منع کولې نشئى.

تنبيه: غلام احمد قاديانى دَ دينه استدلال کوى که چرې زه هم ﴿وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ﴾ مطابق په الله تعالى باندې الزام او بهتان لګونکې يم نو ماته سزا ملاويدل پکار وو حالانکه ماته سزا ملاؤ نشوه. دَ دې جواب دا دې چه دَ الله تعالى مذکوره ارشاد دَ انبياء او صادقين باره کښې دې دَ کذابين متعلق نه دې، دروغژن او مفترى ته خو وخت ورکولې شى په دې وجه دَ دې استدلال دينه صحيح نه دې.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: الْوَتِينَ نِيَاطُ الْقَلْبِ: ﴿ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ﴾ وتين دَ زړه رګ ته وائى د کوم په پريکيدوسره چه مرګ واقع کيږى.

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: طَغَى: كَثُرَ، وَيُقَالُ: بِالطَّاغِيَةِ: بِطُغْيَانِهِمْ: ﴿إِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَاءُ حَمَلْنَاكُمْ فِي الْجَارِيَةِ﴾ معنى ده چه کله اوبه ډيرې زياتې شى، دوئم آيت کښې ﴿فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا بِالطَّاغِيَةِ﴾ معنى طغيان او سرکشى ده، وائى چه "طغت على الخزان کما طغى الماء على قوم نوح" هغه هوا په فرښتوباندې زياته شوه لکه چه په قوم نوح باندې اوبه زياتې شوې وې.

الخزان: هغه فرښتوته وائى چه دَ هوا چلولو باندې ماموره دى. خاء په پيش سره جمع او زبرسره مفرد دې. دلته دواړه مرادکيديشى. علامه عينى رحمه الله فرمائى دا دَ خازن جمع ده.[1]

[٣٩۶] باب: تفسير سورة المعارج "سأل سائل"

الْفَصِيلَةُ أَصْغَرُ آبَائِهِ، الْقُرْبَى إِلَيْهِ يَنْتَمِي مَنِ انْتَمَى. (لِلشَّوَى) الْيَدَانِ وَالرِّجْلَانِ وَالْأَطْرَافُ وَجِلْدَةُ الرَّأْسِ يُقَالُ لَهَا شَوَاةٌ، وَمَا كَانَ غَيْرَ مَقْتَلٍ فَهُوَ شَوًى، وَالْعِزُونَ الْجَمَاعَاتُ، وَوَاحِدُهَا عِزَةٌ. يُوفِضُونَ الابفاض الاسراع

---

[1] قال العينى فى العمدة ١٩/٢٥٩: وهوجمع خازن، وللريح خزان الاترسلهاالابمقدار-

قوله: الفصيلة: اصغر ابائي القربى، اليه ينتمي من انتمى: ﴿وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ﴾ مجرم به خواهش کوی چه د قیامت د ورځې د عذاب په عوض خپل خاندان په کوم کښې چه هغه اوسیدلو په فدیه کښې ورکړی او ځان خلاص کړی د نیکه نه چه کوم اولاد شروع کیږی هغې ته فصیله وائی اود نیکه نه بره چه د خاندان کومه سلسله وی هغې ته شعب وائی نو دلته هم دغه اوفرمائیلې شوچه فصیله قریبی نیکونوکښې د ټولونه نزدې ته وائی د کوم طرف ته چه د سړی نسبت کیږی.

قوله: كلا انها لظى نزاعة للشوى: "هیڅ کله هم نه بیشکه هغه سورکړیشوې اُوردې د ارخونواو د سرځرمن راښکونکې" حضرت شیخ الهند رحمه الله ترجمه کړینده "اور دې اِینه راښکونکې" فرمائی چه دواړه لاسونه، دواړه پښې، د بدن اړخونه او د سرځرمن ته شَواة وائی اود بدن هره هغه حصه په کوم چه ګذار واقع کیږی یاد کوم په پریکیدو چه مرګ نه واقع کیږی هغې ته شَوی وائی.

قوله: والعزون: الحلق، والجماعات. وواحدها: عزة: ﴿عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِينَ﴾ عزة جمع ده ډلو او حلقوته وائی یعنی دا کافرانو ستا نبی او ګس طرف ته ډلې ډلې راځی.

[۳۹۷] باب: تفسير سورة نوح "انا ارسلنا"

طَوْرًا كَذَا وَطَوْرًا كَذَا، يُقَالُ عَدَا طَوْرَهُ. أَيْ قَدْرَهُ، وَالْكُبَّارُ أَشَدُّ مِنَ الْكُبَارِ، وَكَذَلِكَ جُمَّالٌ وَجَمِيلٌ، لأَنَّهَا أَشَدُّ مُبَالَغَةً، وَكُبَّارٌ الْكَبِيرُ، وَكُبَارًا أَيْضًا بِالتَّخْفِيفِ، وَالْعَرَبُ تَقُولُ رَجُلٌ حُسَّانٌ وَجُمَّالٌ وَحُسَانٌ مُخَفَّفٌ وَجُمَالٌ مُخَفَّفٌ. (دَيَّارًا) مِنْ دَوْرٍ وَلَكِنَّهُ فَيْعَالٌ مِنَ الدَّوَرَانِ كَمَا قَرَأَ عُمَرُ الْحَيُّ الْقَيَّامُ. وَهْيَ مِنْ قُمْتُ. وَقَالَ غَيْرُهُ دَيَّارًا أَحَدًا. (تَبَارًا) هَلاَكًا. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما مِدْرَارًا (يَتْبَعُ بَعْضُهَا بَعْضًا. (وَقَارًا) عَظَمَةً.

قوله: اطوارا: طورا كذا، وطورا كذا: ﴿وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا﴾ یعنی یو وخت هغه ووچه انسان د ناپاکه قطرې په شکل کښې ووبیا هغه وینه جوړه شوه، بیا چك شوه، بیا یوه ټکړه شوه او دغه شان تغیرات راتلل تردې چه انسان جوړشو، عرب وائی عداطوره: د خپلې مرتبې نه وړاندې شو.

قوله: والكبار اشد من الكبار: ﴿وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا﴾ کبار د تشدیداو تخفیف دواړو په شان استعمالیږی. د تشدید په صورت کښې مبالغه ډیره وی او همدغه حال د جمال او حسان هم دې دا دواړه الفاظ هم د تشدید او تخفیف د پاره مستعمل دی.

قوله: ديارا: من دور، ولكنه فيعال من الدوران، كما قرا عمر: الحي القيام: ﴿وَقَالَ نُوحٌ رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا﴾ امام بخاری رحمه الله فرمائی چه دیار د دور نه مشتق دې لیکن داد "فَيْعَال" په وزن دې "فَعَّال" په وزن نه دې ګنی نو "دَوّار" به وو. په اصل کښې "دَيْوار" وو، واؤ په یاء سره بدل کړیشو نو ادغام اوشو دا بالکل هم داسې ده لکه حضرت عمر رضي الله عنه

دَ انحی القیوم په ځایٔ الحی القیام ونیلې دي هغه هم دَ قمت نه ماخوذ دي لیکن هغه هم دَ فعّال په وزن نه دي بلکه دَ فیعال په وزن دي چه په اصل کښې قیوام ووډ هغې نه قیّام جوړ کړلو.

[۳۹۸] بَاب وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ

[۴۶۳۶] (۱) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ وَقَالَ عَطَاءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا صَارَتِ الْأَوْثَانُ الَّتِي كَانَتْ فِي قَوْمِ نُوحٍ فِي الْعَرَبِ بَعْدُ أَمَّا وَدٌّ كَانَتْ لِكَلْبٍ بِدَوْمَةِ الْجَنْدَلِ وَأَمَّا سُوَاعٌ كَانَتْ لِهُذَيْلٍ وَأَمَّا يَغُوثُ فَكَانَتْ لِمُرَادٍ ثُمَّ لِبَنِي غُطَيْفٍ بِالْجُوْفِ عِنْدَ سَبَإٍ وَأَمَّا يَعُوقُ فَكَانَتْ لِهَمْدَانَ وَأَمَّا نَسْرٌ فَكَانَتْ لِحِمْيَرَ لِآلِ ذِي الْكَلَاعِ أَسْمَاءُ رِجَالٍ صَالِحِينَ مِنْ قَوْمِ نُوحٍ فَلَمَّا هَلَكُوا أَوْحَى الشَّيْطَانُ إِلَى قَوْمِهِمْ أَنِ انْصِبُوا إِلَى مَجَالِسِهِمُ الَّتِي كَانُوا يَجْلِسُونَ أَنْصَابًا وَسَمُّوهَا بِأَسْمَائِهِمْ فَفَعَلُوا فَلَمْ تُعْبَدْ حَتَّى إِذَا هَلَكَ أُولَئِكَ وَتَنَسَّخَ الْعِلْمُ عُبِدَتْ

حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہما نه روایت دي چه دَ نوح علیه السلام په قوم کښې دَ کومو بتانو عبادت کیدلو روستو بیا هغه په عربو کښې راغله. "ودّ" دَ قبیله کلب بت وو او دومة الجندل کښې وو، دَ دې متعلق داعقیده وه که دَ دوو زړونو په مینځ کښې دښمنی پیداشوی وی او اوس په دې کښې محبت پیداکول وی نو چه ده ته درخواست اوکړې شی نو مات شوی زړونه یوځایٔ شی. "سُوَاع" دَ قبیله هذیل بت وو دَ هرمقصد دَ حاصلولو دَپاره دَ ده طرف ته رجوع کولې شوه. "یغوث" دَ بنو مراد بت وو دې نه پس دا بیا دَ بنی غُطیف بت جوړ شو او بنی غُطیف په مقام جوف کښې اوسیدل چه سبا سره نزدې واقع دې. "یعوق" دَ بنی همدان بت وواوده ته به په دښمن باندې دَ رعب اچولو دَپاره درخواست کیدلو. "نَسْر" ګدهـ (دَ تپوس په شان یو مرداره خوړونکې مرغۍ) په شکل جوړ شوې بت وو آلِ ذِی الْکَلَاعِ یعنی قبیله حِمیر به دَ دې عبادت کولو. دا ټول دَ حضرت نوح علیه السلام دَ قوم دَ نیکانو خلقو نومونه وو بیا چه کله دا حضرات وفات شو نو شیطان دَ دې خلقو په زړونو کښې دا خبره واچوله چه په کومو ځایونو کښې به هغه بزرګانو ناسته پاسته کوله هلته دَ دوی په شان بتان جوړ کړئ اودَ دې بتانو نومونه هم دَ دوی په نومونو کیږدئ، چه دوی ته ګورئ نو دَ دوی کارنامې به دریاد یږی او بیا به تاسو دَ دوی تابعداری کولې شئ که تاسو دَ دوی بتان جوړنه کړل او اومونه ساتل نو دوی به هیر کړئ او په نیغه لار دَ تللو دَپاره به تاسو سره هیڅ څیز پاتې نشي. خلقو هم داسې اوکړل، کومو خلقو چه بتان سازکړی وو دَ هغوی عقیدې صحیح وې کله چه دَ هغوی وفات اوشو او دَ هغوی په اولاد کښې علم باقی پاتې نشو نو دَ دې بتانو عبادت کول شروع شو.

---

(۱) وهذا الحدیث لم یخرجه احد من اصحاب الستة سوی البخاری، انظر جامع الاصول-۲/۴۱۳:

د روايت باب په سند باندې اعتراض: روايت باب سند د امام بخارى رحمه الله په هغه سندونو كښې دې كوم باندې چه اعتراضونه شوى دى، اغراض دا دې چه په سند كښې ابن جريج عطاء رحمه الله نه روايت كوى عطاء دوه دى، يو عطاء خراسانى او بل عطاء بن ابى رباح، عطاء بن ابى رباح د امام بخارى رحمه الله په رجال كښې دې ليكن عطاء خراسانى د هغوى په رجال كښې نه دې چه هغه د دوى په شرائطو پوره نه دې. دلته امام بخارى رحمه الله نه مغالطه شويده اوهغوى په سند كښې عطاء لره عطاء بن ابى رباح گنړلې او د هغه نه ئى روايت اخستې دې حالانكه دا عطاء خراسانى دې، عطاء بن ابى رباح نه دې. دوئمه دا چه ابن جريج دا روايت د عطاء خراسانى نه نيغ په نيغه نه دې كړې بلكه جريج د هغه كتاب نه روايت اخستې دې چه د عطاء خراسانى وو او د هغه د خوى عثمان سره وو(١) د عطاء خراسانى روايت د بخارى په شرط نه پوره كيږى په دې وجه امام بخارى له دلته ذكر نه وو كول پكار، ليكن امام ته د دې خبرې هډو احساس نه دې شوې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه زما نيزد قوى خبره دا ده مذكوره روايت عطاء خراسانى او عطاء بن ابى رباح دواړو روايت كړيدې او دلته د بخارى په روايت كښې عطاء بن ابى رباح مراد دې(٢) ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله "مقدمه فتح البارى" كښې پخپله دا اقرار كړيدې چه دا وينا چه مذكوره روايت د عطاء خراسانى او عطاء بن ابى رباح د دواړو په روايت سره ابن جريج سره وو او عطاء ابن ابى رباح د روايت قصد كړيدې يو اقناعى جواب دې او تسلى بخش خبره نه ده، هلته كښې هغوى فرمائى "وهذا عندمن المواضع العقيمة عن الجواب السديد، ولابدللجواد من كبوة" (٣)- يعنى دا اعتراض په بخارى باندې داسې دې چه د دې صحيح جواب ممكن نه دې او ښه اس هم ټوكرخورى.

باقى پاتې شوه دا خبره چه په دې باندې څه دليل دې چه مذكوره روايت كښې د عطاء نه عطاء خراسانى مراد دې نود دې دليل دا دې چه مذكوره حديث عبدالرزاق خپل تفسير كښې د ابن جريج نه نقل كړيدې او په دې كښې تصريح ده، "اخبرنى عطاء الخراسانى عن ابن عباس" (٤) دغه شان ابوالسعود فرمائى "ثبت هذا الحديث فى تفسيرابن جريج عن عطاء الخراسانى" (٥) على بن مدينى د دې نور وضاحت كولو سره فرمائى چه ابن جريج به كله تفسيرى روايات نقل كول نو وئيل به ئى "عن عطاء الخراسانى، عن ابن عباس" وراق هرځائ "عطاء" سره "خراسانى" ليكلو نه سترې شو نو صرف "عطاء" ئى ليكلو د څه په وجه چه بعضې خلقوته روستو دا شك

---

(١)فتح البارى ٨/٦٦٧ والهدى السارى-٣٧٥:
(٢)فتح البارى-٨/٦٦٧:
(٣) الهداى للسارى ٣٧٦ئالفصل الثامن فى سياق الاحاديث التى انتقدها عليه ابوالحسن الدارقطنى وغيره من النقاد
(٤)فتح البارى-٨/٦٦٧:
(٥)فتح البارى-٨/٦٦٧:

شو چه دَ عطاء نه عطاء بن ابى رباح مراد دې، محمد بن ثور ته هم دا مغالطه لګيدلې ده او هغه عطاء بن ابى رباح مراداخستې دې اوداعطاء خراسانى دې[1] بهرحال محدثينو حضراتو په نيزد دومره خبره متعين ده چه په مذکوره روايت کښې عطاء نه عطاء خراسانى مراد دې، دَ هغوى روايت ذکرکولوسره په ظاهره امام بخارى رحمه الله ته هم غلط فهمى شويده، والله اعلم.

[۳۹۹] باب: تفسير سورة الجن "قل أوحي إلي"

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لِبَدًا أَعْوَانًا

[۴۶۳۷] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ انْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَائِفَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ عَامِدِينَ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ وَقَدْ حِيلَ بَيْنَ الشَّيَاطِينِ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ وَأُرْسِلَتْ عَلَيْهِمْ الشُّهُبُ فَرَجَعَتْ الشَّيَاطِينُ فَقَالُوا مَا لَكُمْ فَقَالُوا حِيلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ وَأُرْسِلَتْ عَلَيْنَا الشُّهُبُ قَالَ مَا حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ إِلَّا مَا حَدَثَ فَاضْرِبُوا مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا فَانْظُرُوا مَا هَذَا الْأَمْرُ الَّذِي حَدَثَ فَانْطَلَقُوا فَضَرَبُوا مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا يَنْظُرُونَ مَا هَذَا الْأَمْرُ الَّذِي حَالَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ قَالَ فَانْطَلَقَ الَّذِينَ تَوَجَّهُوا نَحْوَ تِهَامَةَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَخْلَةَ وَهُوَ عَامِدٌ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ وَهُوَ يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ صَلَاةَ الْفَجْرِ فَلَمَّا سَمِعُوا الْقُرْآنَ تَسَمَّعُوا لَهُ فَقَالُوا هَذَا الَّذِي حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ فَهُنَالِكَ رَجَعُوا إِلَى قَوْمِهِمْ فَقَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا وَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنْ الْجِنِّ وَإِنَّمَا أُوحِيَ إِلَيْهِ قَوْلُ الْجِنِّ

دَ کلماتو تشريح:

قوله: وقال الحسن: جد ربنا: غنا ربنا، وقال عكرمة، جلال ربنا، وقال ابراهيم، امر ربنا: آيت مبارک کښې دى ﴿وَأَنَّهُ تَعَالَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَلَا وَلَدًا﴾ اوزمونږ دَ پروردګار ډيرلوئ شان دې هغه نه څوک خپله بى بى جوړه کړې او نه اولاد، حضرت حسن بصرى رحمه الله فرمائى چه دَ جد ربنا نه دَ الله جل شانه غنا او مالدارى مراد ده، او حضرت عکرمه رحمه الله فرمائى دې نه دَ الله تعالى جلال مراد دې او حضرت ابراهيم رحمه الله فرمائى چه جد ربنا نه دَ رب حکم مراد دې. دَ دې لفظ دا تشريح صرف هندوستانى نسخوکښې ده.

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لِبَدًا أَعْوَانًا: آيت مبارک کښې دى ﴿وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا﴾ اوچه کله دَ الله تعالى خاص بنده (رسول الله ﷺ) دَ الله تعالى عبادت ته

---

[1]) فتح البارى-۸/۶۶۷:

اودریږي نو دا (کافر) خلق په دې بنده باندې ګڼړه لګوي (یعنې د تعجب او دښمنۍ د وجه هر سړې داسې ګوري لکه چه اوس حمله کونکي دي) علامه شبیر احمد عثماني رحمه الله فرمائي: "یعنې چه کله هغوی ﷺ اودریږي او قرآن لولي نو خلق ډلې ډلې په هغه باندې راپریوزي، مؤمنان خود شوق او رغبت نه د قرآن اوریدو په خاطر او کافران د عداوت او دښمنۍ په وجه په هغوی ﷺ باندې ګڼړه کولو د پاره" امام بخاري رحمه الله فرمائي چه په آیت مبارك کښې د لبدا نه اعوان وانصار مراد دي یعنې امداد او تعاون کونکي.

قوله: انْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَائِفَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ: ابن اسحاق او ابن سعد په نیزد دا واقعه په لسم کال د نبوت د ذی قعده په میاشت کښې پیښه شوې وه کله چه حضور ﷺ د طائف طرف ته وتلې وو او بیا د هغه ځائ نه د هغوی ﷺ واپسی اوشوه.(۱)

تعارض روایات او د هغې حل: لیکن په دې باندې اشکال دا کیږي چه دلته په روایت کښې دي چه هغوی ﷺ سره د صحابه کرامو ډله وه، او د ابن اسحاق په روایت کښې دي چه کله هغوی ﷺ طائف ته وتلې وی نو د حضرت زیدبن حارثه رضی الله عنه نه علاوه هغوی ﷺ سره بل هیڅ څوك نه وو (۲) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دواړه روایتونه داسې جمع کولې شي چه په تلوکښې ورسره د زیدبن حارثه رضی الله عنه نه علاوه څوك نه وو خو په واپس راتلوکښې صحابه کرام هغوی ﷺ سره ملاؤ شوې وو دلته هم د دې ذکر دې (۳) او په نورو واقعاتو هم دا محمول کولې شي.

د باب په روایت اشکال او د هغې جواب: دلته په روایت کښې دي چه شیطانان به اول آسمانونوته تلل، لیکن د رسول الله ﷺ د بعثت نه پس د هغوی آسمانونوته تللوباندې پابندی اولګیده چه که هغوی هلته د تلو کوشش کوی نو شهاب ثاقب په ذریعه ویشتلې شي. په دې باندې دا اشکال کیږي چه د شهاب ثاقب تذکره خو د جاهلیت په اشعاروکښې هم راځي د څه نه چه معلومیږي چه د ستورو داسې ماتیدل او پریوتل د جاهلیت په زمانه کښې هم وو، نو دغه شان دا عهد نبوی سره خاص کول څه معنی ده؟ د امام مسلم رحمه الله د روایت نه هم دغه معلومیږي چه د هغوی ﷺ د بعثت نه وړاندې هم ارسال شهب شوی وو.(۴)

① د دې جواب امام زهري رحمه الله ورکړیدې، چه د بعثت نبوی نه اول هم دا سلسله وه لیکن په دې کښې سختي او شدت نه وو د بعثت نه پس په دې کښې بیا شدت راغلو(۵)

---

(۱)فتح الباری-۸/۶۷۰:

(۲) فتح الباری-۸/۶۷۰:

(۳)فتح الباری-۸/۶۷۰:

(۴) فتح الباری ۸/۶۷۲:والروض الانف ۱/۱۳۵:فصل فی الکهانة-

(۵)فتح الباری ۸/۶۷۲:والروض الانف ۱/۱۳۵:فصل فی الکهانة-

② علامه قرطبی رحمه الله فرمائيلى دى چه دَ بعثت نه وړاندې ارسال شهاب سلسله مستقل نه وه كله به كيدله او كله نه، دَ بعثت نه روستو دا مستقل شوه.[1]

③ وهب بن منبه نه يو روايت نقل كړيدې كوم سره چه په ټولو اخباروكښې تطبيق كيږى او هغه دا چه دَ حضرت آدم عليه السلام دَ زمانې نه واخله تر حضرت عيسى عليه السلام زمانې پورې په شيطانانو هيڅ پابندى نه وه ، آسمانونوته دَ دوى ته په ټولو كښې مطلقاً آزادى وه، دَ حضرت عيسى عليه السلام آسمان ته پورته كيدو نه پس دَ هغوى پورته څلورو آسمانونو ته رسيدل موقوف شو او دَ لاندې دريو آسمانونوپورې دَ هغوى دَ تګ سلسله باقى وه، كله چه دَ نبى كريم ﷺ بعثت اوشو نوپه لاندينو دريو آسمانونو باندې تلل هم موقوف كړېشو.[2]

قوله: فَانْطَلَقَ الَّذِينَ تَوَجَّهُوا نَحْوَ تِهَامَةَ: سعيدبن جبيردَ حضرت ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت نقل كړيدې چه د پيريانودا وفد په نهه كسانو باندې مشتمل وو، دَ عكرمه په روايت كښې اووه وو او دَ "نصيبين" وو، او په بعضې رواياتوكښې دى چه څلور نصيبين وو او درې حران وو دَ هغوى نومونه دا وو. "حسا،نسا،شاصر،ماضر،الادرس،وردان، احقب" ابن دريد پنځه نومونه ذكر كړى دى شاصر، ماضر، منشى، ناشى او احقب په بعض رواياتوكښې دى چه دا د موصل وو اودَ هغوى شمير دولس زره وو.[3] تعداد او واقعات تسليم كولو سره جمع بين الروايات كيږى.

قوله: وَإِنَّمَا أُوحِيَ إِلَيْهِ قَوْلُ الْجِنِّ: دا دَ حضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنهما قول دې دينه دا معلوميږى چه جنات سره دَ نبى كريم ﷺ ملاقات نه دې شوې بلكه دَ وحى په ذريعه دَ هغوى قول نبى كريم ﷺ ته خودلې شويدې، خوظاهره ده چه په دې موقع دَ جنات سره دَ هغوى ﷺ ملاقات نه وى شوې نو په دې سره دا نه لازميږى چه په بله موقع باندې به هم ملاقات نه وى شوې، خكه چه دَ ليلة الجن واقعه يو ځل نه بلكه څو ځل پيښه شويده، دې وخت كښې هغوى دَ حال دَ تحقيق دَ پاره راغلى وو او سبب معلومولو سره لاړل او ملاقات اونه شو. دينه پس په حضور ﷺ باندې ايمان راوړو او دَاسلامى تعليماتودَ زده كړې دَ پاره دَ هغوى ﷺ په خدمت كښې حاضر شو او ملاقات اوشو.[4]

[۴۰۰] باب: تفسير سُورَةُ الْمُزَّمِّلِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَتَبَتَّلْ أَخْلِصْ وَقَالَ الْحَسَنُ أَنْكَالًا قُيُودًا مُنْفَطِرٌ بِهِ مُثْقَلَةٌ بِهِ وَقَالَ ابْنُ

---

[1] فتح البارى ۸/۶۷۲: وتفسير قرطبى ۱۹/۱۳: سورة الجن-
[2] فتح البارى ۸/۶۷۲: والروض الانف ۱/۱۳۵: فصل فى الكهانة-
[3] فتح البارى-۸/۶۷۴:
[4] دَ تفصيل دَ پاره الجامع الاحكام القران-۵-۱-۱۹/۱:

عَبَّاسٍ كَثِيبًا مَهِيلًا الرَّمْلُ السَّائِلُ وَبِيلًا شَدِيدًا

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: وَتَبَتَّلْ: أَخْلِصْ :آيت كښې دى (وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا) اودَ خپل رب نوم يادوه اود ټولونه تعلق ختم کړه او دَ هغه طرف ته متوجه اوسيږه، حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی دَ تبتل معنی ده اخلص يعنی خالص هم دَ هغه شه.

قوله: وَقَالَ الْحَسَنُ: أَنْكَالًا: قُيُودًا :آيت كښې دى (إِنَّ لَدَيْنَا أَنْكَالًا وَجَحِيمًا) مونږ سره بيړئ او دوزخ دې.حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی انکال نه بيړئ مراددی.

قوله: مُنْفَطِرٌ: بِهِ مُثْقَلَةٌ بِهِ : (يَوْمًا يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا ۝ السَّمَاءُ مُنْفَطِرٌ بِهِ) فرمائی چه "منفطربه" معنی ده "اسمان به د هغې د ويرې دروند او ثقيل شي"

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: كَثِيبًا مَهِيلًا: الرَّمْلُ السَّائِلُ :آيت كښې دى (وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَهِيلًا) او غرونه(به ذره ذره شي) اودَ الوتونکی گردپه شان به شي. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه د (كَثِيبًا مَهِيلًا) معنی ده،ريګ روان، بهيدونکې شګه.

قوله: وَبِيلًا شَدِيدًا: آيت كښې دى (فَأَخَذْنَاهُ أَخْذًا وَبِيلًا) نومونږ هغوی په سختو نيولو سره اونيول، فرمائی چه وبيلاً معنی ده شديداً يعنی سخت.

[٤٠١] باب: تفسير سُورَةُ الْمُدَّثِّرِ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَسِيرٌ شَدِيدٌ قَسْوَرَةٌ رِكْزُ النَّاسِ وَأَصْوَاتُهُمْ وَكُلُّ شَدِيدٍ قَسْوَرَةٌ وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ الْقَسْوَرَةُ قَسْوَرٌ الْأَسَدُ الرِّكْزُ الصَّوْتُ مُسْتَنْفِرَةٌ نَافِرَةٌ مَذْعُورَةٌ

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: عَسِيرٌ: شَدِيدٌ :آيت كښې دى (فَذَلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ) پس هغه ورځ (كافرانوباندې)سخته وی.حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه عسيرمعنی ده شديد ،سخت.

قوله: فرت من قَسْوَرَةٍ :دَ قسورة درې معنی بيان کړيشوی دی يودَ خلقو آوازونه او دَ هغوی کشار. دونمه معنی زمرې او دريمه معنی هريو سخت څيز.

قوله: كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُسْتَنْفِرَةٌ: مُسْتَنْفِرَةٌ معنی ده تختيدونکی ويريدلې.

[٤٦٣٨] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْمُبَارَكِ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ سَأَلْتُ أَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَوَّلِ مَا نَزَلَ مِنَ الْقُرْآنِ قَالَ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُلْتُ يَقُولُونَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ فَقَالَ أَبُو سَلَمَةَ سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ ذَلِكَ وَقُلْتُ لَهُ مِثْلَ الَّذِي قُلْتَ فَقَالَ جَابِرٌ لَا أُحَدِّثُكَ إِلَّا مَا حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَاوَرْتُ بِحِرَاءٍ فَلَمَّا قَضَيْتُ جِوَارِي هَبَطْتُ فَنُودِيتُ فَنَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا وَنَظَرْتُ عَنْ شِمَالِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا وَنَظَرْتُ أَمَامِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا وَنَظَرْتُ خَلْفِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَرَأَيْتُ شَيْئًا فَأَتَيْتُ خَدِيجَةَ فَقُلْتُ دَثِّرُونِي وَصُبُّوا عَلَيَّ مَاءً بَارِدًا قَالَ فَدَثَّرُونِي وَصَبُّوا

عَلَيَّ مَاءً بَارِدًا قَالَ فَنَزَلَتْ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ

[٤٠٢] بَاب قُمْ فَأَنْذِرْ

[٤٦٣٩] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ وَغَيْرُهُ قَالَا حَدَّثَنَا حَرْبُ بْنُ شَدَّادٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَاوَرْتُ بِحِرَاءٍ مِثْلَ حَدِيثِ عُثْمَانَ بْنِ عُمَرَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْمُبَارَكِ

[٤٠٣] بَاب قَوْلِهِ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ

[٤٦٤٠] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ حَدَّثَنَا حَرْبٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى قَالَ سَأَلْتُ أَبَا سَلَمَةَ أَيُّ الْقُرْآنِ أُنْزِلَ أَوَّلُ فَقَالَ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ فَقُلْتُ أُنْبِئْتُ أَنَّهُ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ فَقَالَ أَبُو سَلَمَةَ سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ أَيُّ الْقُرْآنِ أُنْزِلَ أَوَّلُ فَقَالَ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ فَقُلْتُ أُنْبِئْتُ أَنَّهُ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ فَقَالَ لَا أُخْبِرُكَ إِلَّا بِمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاوَرْتُ فِي حِرَاءٍ فَلَمَّا قَضَيْتُ جِوَارِي هَبَطْتُ فَاسْتَبْطَنْتُ الْوَادِيَ فَنُودِيتُ فَنَظَرْتُ أَمَامِي وَخَلْفِي وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي فَإِذَا هُوَ جَالِسٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَأَتَيْتُ خَدِيجَةَ فَقُلْتُ دَثِّرُونِي وَصُبُّوا عَلَيَّ مَاءً بَارِدًا وَأُنْزِلَ عَلَيَّ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ

دټولونه اول نازل شوی ایاتونه: دَ قرآن شریف دَ ټولونه اول کوم آیاتونه نازل شوی په دې باره کښې اختلاف دې او څلوره قوله مشهور دی:

① دَ جمهورعلماؤ قول دا دې چه سورة علق رومبنی پنځه آیاتونه دَ ټولونه اول نازل شوی دی لکه چه دَ "بدء الوحی" په روایت کښې دی امام نووی رحمه الله فرمائی "وهذا هوالصواب الذی علیه الجماهیر من السلف والخلف"(۱)

② دونم قول په حدیث باب کښې حضرت جابر رضی الله عنه اختیار کړیدې چه دَ ټولونه اول سورة مدثر نازل شویدې. دَ حضرت جابر رضی الله عنه شاګرد حضرت ابوسلمه بن عبدالرحمن همدغه رائې ده (۲)

③ دریم قول دا دې چه "بسم الله الرحمن الرحیم" دَ ټولونه اول نازل شوې (۳)- لیکن دا قول درست نه دې ځکه چه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې "کان النبی صلی الله علیه وسلم

---

(۱) شرح مسلم للنووی ۱/۸۹: کتاب الایمان باب بدء الوحی الی رسول الله صلی الله علیه وسلم

(۲) لکه چه په روایت باب کښې دی-

(۳) الاتقان ۱/۳۳: النوع السابع، معرفة اول ما نزل

لايعرف فصل السورة، حتى تنزل عليه، بسم الله الرحمن الرحيم" (۱) دينه معلومه شوه چه "بسم الله" روستونازل شويده.

③ څلورم قول دا دې چه سورة فاتحه دَ ټولونه اول نازل شوې، علامه زمخشرى نقل کړى دى چه دادَ اکثرومفسرينوقول دې (۲)تفسيرسورة العلق- خودَ علامه زمخشرى دا خبره صحيح نه ده، بلکه اکثر خو څه چه کثير هم دَ دې قائل نه دى،دَ دې صرف ابوميسره عمروبن شرجيل قائل دې، دَ هغوى مرسل روايت علامه بيهقى "دلائل النبوة" کښې ذکر دې، په دې کښې دى "فلماخلا، ناداه يامحمد، قل: بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدلله رب العالمين، حتى بلغ: ولاالضالين" ليکن امام بيهقى رحمه الله دَ دې روايت متعلق فرمائى"فهذامنقطع" (۳)- مشهور قول اولنى دوه دى او په دې کښې اول قول دَ جمهورو دې چه دَ دوئم قول نه راجح دې. يو خودَ دې دَ پاره چه سورة علق په ړومبنوپنځو آياتونوکښې وارد دى چه فرښتې اوونيل "اقرأ" هغوى ﷺ اوفرمائيل "ماانابقارى" که دَ سورة مدثردَ آيات نزول شوې وې نو نبى کريم ﷺ به ولې "ماانابقارى" فرمائيل بلکه هغوى ﷺ به زر آيت لوستلې وو(۴)- بل دا چه په سورة اقراء کښې دَ قراءت امردې او په سورة مدثر کښې دَ انداز، اودَ انداز درجه دَ قراءت نه پس ده. اول به قراءت حاصليږى بيا به دَ هغې مطابق انداز وى(۵)- دريم په دې وجه چه وړاندې باب، وثيابك فطهر کښې حضرت جابر رضي الله عنه په روايت کښې دى "فرفعت راسى، فاذاالملك الذى جاءنى بحراء جالس على کرسى بين السماء والارض" دينه معلوميږى چه دَ مدثردَ نازليدلونه اول نبى کريم ﷺ دَ فرښتې سره ملاقات شوې وو (۶) بعض حضراتودا دواړه اقواله راجمع کړى او مختلف توجيهات ئې کړى دى:

① اول مانزل على الاطلاق خودَ سورة علق آياتونه دى او مدثرته اول مانزل کاملأخصوصيت حاصل دې.(۷) ② دوئمه توجيهه دا شويده چه دَفترت نه پس کله بيا دَ وحى نزول شروع شو نوسورة مدثر نازل شو په دې اعتبارديته اوليت حاصل دې.(۸)

(۱)سنن ابى دواوُدكتاب الصلاة باب من جهربها)اى بالبسملة (رقم-۷۸۸:

(۲)تفسير كشاف۴/۷۷۵ :

(۳) دلائل النبوة للبيهقى۲/۱۵۸: باب اول سورة نزلت من القران

(۴)زادالمعاد ۱/۸۵ :فصل فى مبعثه واول مانزل عليه

(۵)زادالمعاد ۱/۸۵ :فصل فى مبعثه واول مانزل عليه

(۶)زادالمعاد-۱/۸۵:

(۷) الاتقان فى علوم القران، النوع السابع معرفة اول مانزل-۱/۳۲:

(۸)فتح البارى-۸/۶۷۸:

③ دریمه توجیهه دا ده چه اندازسره مقیدشونو دَ ټولونه اول سورة مدثر نازل شو.(۱)

④ څلورمه توجیهه دا شویده چه دَسورة علق دَ آیاتونودَ نزول دَ پاره څه سبب پیښ شوې نه دې اود سبب دَ پیښیدلونه پس دَ ټولونه اول سورة مدثر نازل شو په دې اعتبارسره دیته اول مانزل اووئیلې شو.(۲)

[۴۰۴] بَاب وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ

[۴۶۴۱] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ ح وحَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ قَالَ الزُّهْرِيُّ فَأَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ فَقَالَ فِي حَدِيثِهِ فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِي إِذْ سَمِعْتُ صَوْتًا مِنْ السَّمَاءِ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ جَالِسٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَجُئِثْتُ مِنْهُ رُعْبًا فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَدَثَّرُونِي فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ إِلَى وَالرِّجْزَ فَاهْجُرْ قَبْلَ أَنْ تُفْرَضَ الصَّلَاةُ وَهِيَ الْأَوْثَانُ

[۴۰۵] بَاب قَوْلِهِ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ يُقَالُ الرِّجْزُ وَالرِّجْسُ الْعَذَابُ

[۴۶۴۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِي سَمِعْتُ صَوْتًا مِنْ السَّمَاءِ فَرَفَعْتُ بَصَرِي قِبَلَ السَّمَاءِ فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ قَاعِدٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَجُئِثْتُ مِنْهُ حَتَّى هَوَيْتُ إِلَى الْأَرْضِ فَجِئْتُ أَهْلِي فَقُلْتُ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَزَمَّلُونِي فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ إِلَى قَوْلِهِ فَاهْجُرْ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ وَالرِّجْزَ الْأَوْثَانَ ثُمَّ حَمِيَ الْوَحْيُ وَتَتَابَعَ

[۴۰۶] بَاب: تفسير سُورَةُ الْقِيَامَةِ

وَقَوْلُهُ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ سَوْفَ أَتُوبُ سَوْفَ أَعْمَلُ لَا وَزَرَ لَا حِصْنَ سُدًى هَمَلًا

[۴۶۴۳] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ أَبِي عَائِشَةَ وَكَانَ ثِقَةً عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

(۱)فتح البارى-۸/۶۷۸:

(۲)فتح البارى-۸/۶۷۸:

وَسَلَّمَ إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ حَرَّكَ بِهِ لِسَانَهُ وَوَصَفَ سُفْيَانُ يُرِيدُ أَنْ يَحْفَظَهُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ

[۴۰۷] بَاب إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ

[۴۶۴۴] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ مُوسَى بْنِ أَبِي عَائِشَةَ أَنَّهُ سَأَلَ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ عَنْ قَوْلِهِ تَعَالَى لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ قَالَ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَانَ يُحَرِّكُ شَفَتَيْهِ إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ فَقِيلَ لَهُ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ يَخْشَى أَنْ يَنْفَلِتَ مِنْهُ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ أَنْ نَجْمَعَهُ فِي صَدْرِكَ وَقُرْآنَهُ أَنْ تَقْرَأَهُ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ يَقُولُ أُنْزِلَ عَلَيْهِ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ أَنْ نُبَيِّنَهُ عَلَى لِسَانِكَ

[۴۰۸] بَاب قَوْلُهُ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَرَأْنَاهُ بَيَّنَّاهُ فَاتَّبِعْ اعْمَلْ بِهِ

[۴۶۴۵] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مُوسَى بْنِ أَبِي عَائِشَةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي قَوْلِهِ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَزَلَ جِبْرِيلُ بِالْوَحْيِ وَكَانَ مِمَّا يُحَرِّكُ بِهِ لِسَانَهُ وَشَفَتَيْهِ فَيَشْتَدُّ عَلَيْهِ وَكَانَ يُعْرَفُ مِنْهُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ الْآيَةَ الَّتِي فِي لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ قَالَ عَلَيْنَا أَنْ نَجْمَعَهُ فِي صَدْرِكَ وَقُرْآنَهُ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ فَإِذَا أَنْزَلْنَاهُ فَاسْتَمِعْ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ عَلَيْنَا أَنْ نُبَيِّنَهُ بِلِسَانِكَ قَالَ فَكَانَ إِذَا أَتَاهُ جِبْرِيلُ أَطْرَقَ فَإِذَا ذَهَبَ قَرَأَهُ كَمَا وَعَدَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَوْلَى لَكَ فَأَوْلَى تَوَعُّدٌ

قوله: وقال ابن عباس: سدى: هملا: آيت كښې دى ﴿أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ أَنْ يُتْرَكَ سُدًى﴾ آيا انسان دا خيال كوى چه داسې به مهمل پريخودې شى. او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه سدى په معنى هملا دې: مهمل او آزاد

قوله: لا وزر: لا حصن: آيت كښې دى ﴿كَلَّا لَا وَزَرَ ۝ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ﴾ هيڅ كله نه(تيخته ممكن) نه ده (ځكه) چرته د پناه ځائ نشته، په هغه ورځ صرف ستا رب سره ځائ دې. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه په آيت مبارك كښې وزر معنى حصن يعنى پناه ګاه لاوزر: هيڅ پناه ګاه نشته.

قوله: ليفجر أمامه: سوف أتوب، سوف أعمل: ﴿بَلْ يُرِيدُ الْإِنْسَانُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ﴾ يعنى وړاندې په ژوند كښې برابره ګناه كوى، نه توبه كوى اونه نيك عمل، بلكه دې سوچ سره د دروغو تسلى وركوى چه راتلونكى وخت كښې به توبه اوكړم او نيك عمل به اوكړم، شيخ الهند رحمه الله ترجمه كړيده "بلكه غواړى انسان چه د هغه په وړاندې بهادرى اوكړى" يعنى د قيامت د

راتلونه وړاندې راتلونکی عمر کښې چه کوم عمر باقي دې بالکل آزاد پاتې شی او دَ گناه نه ډك ژوندتیرکړی په دې وجه دَ قیامت نه انکار کوی ګنی که قیامت نی اومنلو اودَ حساب کتاب قائل شو نو بیا به دَ آخرت دَ ویرینه آزاد پاتې نشی.

د اياتونو ربط: دلته علماؤ دا بحث کړیدې چه دَ آیات باب ماقبل او مابعدسره څه ربط دې خکه چه په ماقبل کښې دَ قیامت تذکره ده او مابعدکښې هم دَ قیامت ذکر دې او په مینځ کښې دا آیت دې کوم کښې چه حضور ﷺ دَ تحریك لسان نه منع اوفرمائیلو، دَ دې مختلف توجیهات کړیشوی دی:

① مناسبت او ربط دَ انسانانوپه کلام کښې لټولې شی خکه چه دَ هغوی دَ عقل او نقل دائره محدود ده اودَ هغوی مقاصدهم محدود وی. نو په دې حدودوکښې دننه اوسیدلوسره هغوی څه کولې شی، څه لیکلې شی او څه وئیلې شی اودَ حق تعالی شانه علم په ټولو موجوداتو او معدوماتو باندې محیط دې. هلته دَ دې مناسبت دَ لټون څه ضرورت نشته بلکه هلته خو به دا کتلې شی چه دې حکیم مطلق په خپل حکمت سره کوم چه دَ موقع مناسب وو هغه بیان اوفرمائیلو.

② امام رازی رحمه الله فرمائی دا دَ معترضه جملې په شان دې اودَ مدرس دَ تنبیه دَ قبیل نه دې. لکه مدرس دَ درس په دوران کښې دَ طالب علم غفلت وینی نو هغه له خبرداري ورکول غواړي او هغه خبردار کوی، په ماقبل کښې هم سبق وی او په مابعد کښې هم او په مینځ کښې دَ تنبیه جمله راځی، اوس که څوك درس ضبط کړی او دا دَ مینځ والاجمله هم اولیکی نو چاته چه سبب معلوم دې هغه خو به دا غیرمربوط نه ګڼړی خو چه چاته دَ سبب علم نشته هغه به ئی غیرمربوط ګڼړی. دلته همدغه صورت پیښ شو چه کله دَ قرآن کریم ړومبنی آیاتونه نازل شو نو حضور ﷺ دَ یادولو په نیت سره لوستل، هم هغه وخت په دې آیاتونوکښې تنبیه اوشوله چه ته دَ یادولو په نیت سره قرآن مجید زر زر مه یادوه، یادول زمونږ ذمه داری ده.[1]

③ علامه زمحشری رحمه الله فرمائی په ماقبل کښې دَ قیامت تذکره وه، دَ دې دَ فکر او اهتمام ترغیب وو، لکه چه ضمناً دَ عاجله مذمت وو او مابعدکښې دَ عاجله صراحةً مذمت راځی (كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ) او نبی کریم ﷺ هم په لوستلوکښې تندی کوله دَ دې دَ پاره "لاتحرك به لسانك" ویناسره هغوی ﷺ دَ تندئی نه منع کړې شو نوداسې دَماقبل او مابعد ربط کیږی.[2]

④ علامه قفال رحمه الله فرمائی چه (لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ) سره خطاب حضور ﷺ ته نه دې بلکه (يُنَبَّؤُا الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ) کښې چه "الانسان" دې هغه ته خطاب دې، یعنی دَ هغه مخکښې روستو اعمالوباندې به هغه خبرولې شی، دَ دې صورت به دا وی چه اعمال نامه

---

[1] تفسیر کبیر-۲۲۳-۲۲۲/۳۰:

[2] تفسیر کشاف-۶۶۲/٤:

به هغه ته ورکولې شي او ده ته به وئيلې شي ﴿اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا﴾ کله چه هغه خپله اعمال نامه لوستل شروع کړې نود هغه ژبه به د ډيرې ويرې اونخلي او زر زر به لوستل کوي نو هغه وخت به الله تعالى اوفرمائي ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ﴾ خپلې ژبې ته زر زر حرکت ورکولوسره اعمال نامه مه ختمه وه ﴿اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ﴾ مونږ ستا اعمال راجمع کړې او په دې اعمال نامه کښې مو ليکلې دی اوس دا زمونږ ذمه داری ده چه دا اولولو يعنى هر څيز به ستا په وړاندې پيش کولې شي ﴿فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ﴾ کله چه مونږ دا اعمال نامه په تفصيل سره اولولو نو د هرې خبرې څه چه تاکړی اقرار اومنل اوکړه ﴿ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ﴾ بيا زمونږ په ذمه دی چه مونږ د دې عقوبت او سزا بيان کړو. امام قفال رحمه الله چه کوم مناسبت بيان کړيدې په دې صورت کښې دا آيت د ماقبل او مابعد والا آيت بالکل مربوط کيږي ليکن د ابن عباس رضي الله عنهما نه د دې آياتونو د شان نزول سره د دې هيڅ مناسبت نشته (١)

⑤ د قرآن کريم عادت دې چه چرته هغه د اعمال نامې يا کتاب اعمال ذکر کوی هلته د نامه احکام يا کتاب احکام هم ذکر کوی. دغه شان دلته هم ﴿يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍۭ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ﴾ کتاب اعمال ذکر دې، دې نه پس ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ﴾ کښې قرآن کريم يعنى کتاب احکام ذکر دې (٢)

⑥ حضرت کشميری رحمه الله فرمائی چه بعض وخت د قرآن کريم دوه مرادونه وی يو مراد نظم قرآن او د سياق قرآن نه مفهوم وی دا مراد اولی دې او يومراد خارج نه يعنى شان نزول نه په پوهه کښې راځی هغه مراد ثانی دې. په مذکوره آياتونو کښې هم يو مراد اولی دې او يو مراد ثانی، مراد اولی دا دې چه کله الله تعالى د قيامت او د دې د احوالو ذکر اوکړونو مشرکانو د دې متعلق تعنتاً تپوس اوکړو، کله به ئی وئيل "ايان يوم الدين" او کله به ئی تپوس کولو "ايان مرسها" الله تعالى په دې باره کښې اول امر نه حضور صلى الله عليه وسلم ته فرمائی ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ﴾ د قيامت د ورځ د تعيين په سلسله کښې ته بالکل ژبه مه خوزوه ﴿اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ﴾ د وعدې مطابق مونږ به د محشر په ورځ د دې عالم خواره شوی اجزاء راجمع کړو اود قرآن په ذريعه مونږ پخپله د محشر احوال بيانونکی يو ﴿فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ﴾ کله چه مونږ د قرآن د قيامت متعلق آيت اولولو نود دې په تقاضا باندې عمل کوه اونوروته هم د دې د تياری تاکيد کوه ﴿ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ﴾ بيا د وعدې مطابق زمونږ ذمه داری ده د د شپيلئی د پوکوهلو په ذريعه د دې اظهار! نو دا مراد اولې دې چه په سياق او سباق سره متعين کيږي اود مدلول اولی په اعتبارسره د دې آياتونود ماقبل سره ربط دې او مدلول ثانوی اګرچه په نورو اعتبارو سره ملحوظ دې خود آياتونوپه منيځ کښې د ربط د پاره د دې

---

(١) تفسير کبير-٢٢٤-٣/٢٢٣:

(٢) فتح البارى-٨/٦٨٠:

لحاظ ضروري نه دي.(۱)

۷ حضرت مولانا عبدالرحمن امروهوی صاحب فرمائی چه په اصل کښې په ماقبل کښې وو ﴿يُنَبَّؤُا الْإِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾ په قیامت کښې به دا تپوس وی چه کوم څيز د روستوکولو وو هغه تاولې وړاندې کړو او وړاندينې دې ولې روستوکړو؟ دلته هم دغه تقدیم او تاخیر یعنی وړاندیوالې روستوالې مونډلې کیږی چه په حضور ﷺ باندې وحی نازليدله، دلته دَ وړاندې کیدلو څيز وو چه اوره او چپ اوسیږه اود دې لوستل، ژبه خوزول او شوندې روستونې څيز وو هغوی مقدم موخر او موخر مقدم کړلو په دې وجه اوفرمائیلې شو ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ﴾ یعنی دا ستا لوستل دَ مقدم کولوڅيز نه دې دَ موخر کولوڅيز دې. کله چه مونږ لولو نو ته په خاموشئ سره اوره، دا شان دَ دې آیاتونوربط﴿يُنَبَّؤُا الْإِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾ نه بالکل ظاهریږی.(۲)

۸ يو ربط علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله بیان کړیدې لیکی: "په شروع کښې چه کوم وخت حضرت جبرائیل علیه السلام دَ الله تعالی دَ طرف نه قرآن راوړلو نود هغې دَ لوستلو سره به حضرت هم په زړه کښې لوستلو دې دَ پاره چه زر ئې یاد کړی او زده ئې کړی. مګر په دې صورت کښې به هغوی ﷺ ته سخت تکلیف وو، ترکومې چه به ئې اولنې لفظ وئیلو راتلونکې به په اوریدوکښې نه راتلو اوظاهره خبره ده چه په پوهه کښې به هم تکلیف وو. په دې باندې الله تعالی اوفرمائیل چه دې وخت کښې لوستلو او ژبه خوزولو ضرورت نشته صرف غوږکیږده اوریدل پکار دی دا فکر مه کوه چه یادبه نشی. دا ستا په سینه کښې تکې په تکې جمع کول او ستا دَ ژبې نه لوستل زمونږ ذمه واری ده. حضرت جبرائیل علیه السلام چه کوم وخت کښې زمونږ دَ طرف نه لوستل کوی نو ته په خاموشئ سره اوره، دینه پس حضور ﷺ دَ جبرائیل علیه السلام سره لوستل پریخودل، داهم یوه معجزه شوه چه ټوله وحی اوریده، هغه وخت په ژبه سره یو لفظ نه ادا کولو، لیکن دَ فرښتې دَ تلونه پس به ټوله وحی لفظ په لفظ پوره ترتیب سره بغیردَ یو زبر زیر دَ بدلون نه هوار اوررولو. دا په دې دنیاکښې یوه وړه غوندې نمونه شوه ﴿يُنَبَّؤُا الْإِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾ یعنی څنګه چه الله تعالی په دې قادر دې چه خپله وحی دَ فرښتې دَ تلونه پس پوره ترتیب سره تکې په تکې بغیر دَ څه معمولې هیرینه دَ خپل پیغمبر په سینه کښې راجمع کړی، آیا په دې باندې قادر نه دې چه دَ بندیګانو مخکینې او روستونی اعمال کوم کښې چه بعض کونکې پخپله هم هیرکړې وی ټول راجمع کړی او په یووخت کښې رامخامخ کړی او هغه ته ئې ښه رایاد کړی او دغه شان دَ هډوکو خوارې شوې ذرې ټولې یو ځائ کښې راجمع کړی او بالکل په اولنی صحیح ترتیب باندې ترې انسان ته بیا وجود ورکړی. بیشکه هغه په دې باندې بلکه دَ دې نه په زیاتو باندې

---

(۱) فیض الباری-۱/۳۵:
(۲) ایضاح البخاری-۱/۹۸:

قادردي.(۱)

⑨ بعض علماؤ يو مناسبت دا بيان کړيدې چه الله تعالى اول دَ نفس انسان ذکر اوکړلو او وئى فرمائيل ﴿وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ﴾ کله چه دَ دې متعلق بيان اوشو نو بيا دَ اشرف النفوس اواكمل النفوس نفس رسول الله ﷺ تذکره اوفرمائيله اودا ارشاد اوشو چه ستاسو نفس دَ ټولونه اشرف او اکمل دې نو تاله دَ ټولونه اشرف او اکمل صورت اختيارول پکار دى.دَ جبرائيل عليه السلام دَ لوستلو په وخت کښې غوږ کيخودل پکار دى ځکه چه هغه زمونږ کلام لولى نو دَ زړه په حضور سره پوره شان سره اوريدلو کښې مشغول شه او چه کله هغه فارغ شى نو بيا زمونږ په ذمه دى چه مونږ دا بيا په تاباندې اولولو(۲)

⑩ يومناسبت حضرت حکيم الامت، مجدد الملہ مولانااشرف علي تهانوى رحمه الله بيان کړيدې، دَ هغې حاصل دا دې چه الله تعالىٰ دَ دې نه وړاندې ﴿يُنَبَّؤُا۟ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذِۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾ فرمائيلى دى دَ کومې نه چه دوه خبرې معلومې شوې يوه دا چه دَ الله تعالى علم ټول څيزونه په خپله احاطه کښې اخستې دى. هيڅ يو لوئ يا وړوکې څيز دَ الله تعالى دَ دائره علم نه بهر نه دې، که هغه سرى وى، بدنونه وى يا اعراض وى، الله تعالى ته دَ ټولو علم محيط حاصل دې، دوئم څيز دا معلوم شو چه الله تعالى کله غواړى ډير غائب علوم او امور دَ انسان په ذهن کښې حاضروى. ګورئى دا انسان په ټول ژوند کښې نه ده معلومه چه څومره کارکوى، صبا به دَ قيامت په ورځ دَ ده ټول کار دَ ده مخې ته کړيشى.

اوس الله تعالى خپل رسول ته خطاب فرمائى چه کله تاته معلومه شوه چه زمونږ علم محيط دې او مونږ چه کله غائب علوم غواړو حاضرولې شونو هڅې ته ولې خپل ځان په مشقت کښې اچوې چه جبرائيل عليه السلام سره لوستلو کښې ځان مصروف کوې، ديخوا دَ اوريدو طرف ته خيال کوې او اخوا دَ يادولو طرف ته خيال کوې، بل خوا مضامينو طرف ته متوجه کيږى، بلکه ته صرف يو کار کوه چه کله جبرائيل عليه السلام لولى نو ته اوره او وړاندې دَ دې يادول، لوستل او بيانول زمونږ ذمه وارى ده.(۳)

[۴۰۹] باب: تفسير سُورَةُ هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ

يُقَالُ مَعْنَاهُ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ وَهَلْ تَكُونُ جَحْدًا وَتَكُونُ خَبَرًا وَهَذَا مِنْ الْخَبَرِ يَقُولُ كَانَ شَيْئًا فَلَمْ يَكُنْ مَذْكُورًا وَذَلِكَ مِنْ حِينِ خَلَقَهُ مِنْ طِينٍ إِلَى أَنْ يُنْفَخَ فِيهِ الرُّوحُ أَمْشَاجٍ الْأَخْلَاطُ مَاءُ الْمَرْأَةِ وَمَاءُ الرَّجُلِ الدَّمُ وَالْعَلَقَةُ وَيُقَالُ إِذَا خُلِطَ مَشِيجٌ كَقَوْلِكَ خَلِيطٌ وَمَمْشُوجٌ مِثْلُ مَخْلُوطٍ وَيُقَالُ سَلَاسِلًا وَأَغْلَالًا وَلَمْ يُجِزْ بَعْضُهُمْ مُسْتَطِيرًا مُمْتَدًّا الْبَلَاءُ وَالْقَمْطَرِيرُ الشَّدِيدُ

---

(۱) تفسير عثمانى ۷۶۷: فائده نمبر ۱

(۲) فتح البارى ۸/۶۸۱:

(۳) بيان القران ۱۲/۶۱:

يُقَالُ يَوْمٌ قَمْطَرِيرٌ وَيَوْمٌ قُمَاطِرٌ وَالْعَبُوسُ وَالْقَمْطَرِيرُ وَالْقُمَاطِرُ وَالْعَصِيبُ أَشَدُّ مَا يَكُونُ مِنَ الْأَيَّامِ فِي الْبَلَاءِ وَقَالَ الْحَسَنُ النَّضْرَةُ فِي الْوَجْهِ وَالسُّرُورُ فِي الْقَلْبِ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْأَرَائِكِ السُّرُرُ وَقَالَ الْبَرَاءُ وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا يَقْطِفُونَ كَيْفَ شَاءُوا وَقَالَ مَعْمَرٌ أَسْرَهُمْ شِدَّةُ الْخَلْقِ وَكُلُّ شَيْءٍ شَدَدْتَهُ مِنْ قَتَبٍ وَغَبِيطٍ فَهُوَ مَأْسُورٌ

قوله: هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ يُقَالُ مَعْنَاهُ: مطلب دا دې چه آيت کښې "هل" استفهام تقريرى دې استفهام انکارى نه دې، امام رازى رحمه الله په تفسيرکبيرکښې په دې باندې اتفاق نقل کړيدې چه "هل" دلته په معنى کښې دَ "قد" راغلې دې دغه شان "هل اتاك حديث الغاشية "(١)کښې "هل" هم دَ "قد" په معنى کښې دې.

الله تعالى فرمائى چه انسان کله يو څيز وو ليکن قابل ذکر نه وو، دَ امام بخارى رحمه الله په دې تفسيرکښې اشاره ده دې خبرې ته چه "لم يکن" کښې چه کومه نفي داخله ده دا دَ قيدنفى ده، دَ مقيدنفى نه ده. يعنى آيت کښې چه "مذکوراً" کوم قيددې دَ دې نفى ده. انسان څه خو وو، نطفه وه، دې نه پس وينه جوړه شوه دې نه پس غوښه، بياپه دې کښې هډوکى پيدا کړيشونو په دې وجه څه خو وو ليکن قابل ذکر نه ووبلکه دَ نطفې نه اول خاوره وو، بيا په دې کښې بوټى پيدا شو، په هغې کښې غله راغله، هغه غلې نه بيا خوراك حاصل کړيشو، دې غذا نه دَ بدن اجزاء تيار شو، دې اجزاء سره په بدن کښې دَ پيدائش ماده پيدا شوه او دَ نطفې په شکل کښې دَ مور رحم ته منتقل شوه او بيا دَ مورپه رحم کښې دَ مختلفو طريقونه تيرد شود نوهغه وخت هغه وو ليکن قابل ذکر نه وو،قابل ذکرکله جوړشو، چه کله پيدا شو.

معدوم وصف عدم سره موجود فى الخارج وى يا نه؟: دَ معتزله مسلك دا دې چه معدوم وصف عدم سره موصوف کيدلوپه صورت کښې موجودفى الخارج وى او دَ اهل سنت والجماعت مذهب دا دې چه کله هغه معدوم وى نوهغه وخت هغه موجود فى الخارج او متحقق فى نفس الامر نه وى، په وجودکښې دَ راتلونه پس هغې ته نفس الامر او خارج کښې تحقق حاصليږى.(٢) دَ دې آيت نه به دَ معتزله دَ پاره په دې خبره استدلال اخستل جائزنه وى چه دلته دَ معدوم دَ پاره وجود ثابتوى ځکه چه هغه معدوم نه وو، دَ خاورې په شکل کښې ووبا دَ بوټو او غذاپه شکل کښې وو او يا دَ نطفې په صورت کښې وو.

قوله: أَمْشَاجٍ: الْأَخْلَاطُ، مَاءُ الْمَرْأَةِ وَمَاءُ الرَّجُلِ، الدَّمُ وَالْعَلَقَةُ، وَيُقَالُ: إِذَا خُلِطَ: مَشِيجٌ كَقَوْلِكَ خَلِيطٌ، وَمَمْشُوجٌ مِثْلُ: مَخْلُوطٍ: آيت کښې دى (إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ) مونږ انسان دَ مخلوط نطفې نه پيدا کړو(يعنى دَ ښځې او سړى دواړو دَ نطفې نه)

---

(١) تفسير کبير-٣٠/٢٣٥:

(٢) النبراس شرح العقائد ٤٠-٣٩:وحاشيه برخوردار-٤٠:

فرمائی امشاج په معنی دَ اخلاط دې یعنی سړی او ښځې دَ اوبو دَ اختلاط نه. الله تعالی انسان پیدا کړو داسې چه دَ خاورې نه وینه، او بیا دَ وینې نه علقه جوړیږی، **ویقال اذا خلط: مشیج:** کله چه یو څیز بل څیز سره ملاوکړیشی نو دې ته مشیج وائی لکه چه هغوی ته خلیط هم وائی او ممشوج په معنی دَ مخلوط دې.

قوله: وَيُقرأ: سَلَاسِلًا وَّأَغْلَالًا وَلَمْ يُجِزْ بَعْضُهُمْ:دا هشام،نافع، ابوبکر او کسائی ﷺ قراءت دې، دا حضرات دا په تنوین سره لولی حالانکه سلاسل غیرمنصرف دې لیکن اغلالاً په قرب کښې دَ واقع کیدو په وجه سره تنوین ورکړیشوې دې او بعض حضرات سلاسل باندې تنوین لوستلوته جائزنه وائی.

قوله: مُسْتَطِيرًا: مُمْتَدًّا الْبَلَاءُ:آیت کښې دی ﴿وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا﴾ اوهغوی دَ داسې ورځ نه ویریږی دَ کومې سختی چه عام وی، **مستطیرا** معنی ده ممتداً یعنی دَ هغه ورځ امتحان اوسختی به خوریږی.

قوله: يُقَالُ :يَوْمٌ قَمْطَرِيرٌ،قُمَاطِرٌ عَبُوسٌ عَصِيبٌ قَمْطَرِيرٌ:دا ټول الفاظ دَ هغه ورځ دَ پاره استعمالیږی په کومه کښې چه به ډیره سختی وی او تکلیف زیات وی.

قوله: وَقَالَ مَعْمَرٌ: أَسْرَهُمْ: شِدَّةُ الْخَلْقِ : ﴿وَشَدَدْنَآ أَسْرَهُمْ﴾ معنی ده، دَ هغوی جوړونه مونږ سخت کړل اودهغوی د اندامونو بندش مو مضبوط جوړکړو،هرداسې څیز کوم سره چه کته وغیره تړلې شی هغې ته ماسور وائی په دې وجه چه په مضبوطیاسره په هغې تړلې کیږی.

[۴۱۰] باب: تفسیر سُورَةُ وَالْمُرْسَلَاتِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ جِمَالَاتٌ حِبَالٌ ارْكَعُوا صَلُّوا لَا يَرْكَعُونَ لَا يُصَلُّونَ وَسُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَا يَنْطِقُونَ وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ فَقَالَ إِنَّهُ ذُو أَلْوَانٍ مَرَّةً يَنْطِقُونَ وَمَرَّةً يُخْتَمُ عَلَيْهِمْ

قوله: جِمَالَاتٌ: حِبَالٌ:آیت کښې دی ﴿كَأَنَّهُ جِمٰلَتٌ صُفْرٌ﴾ **بضم الجیم** هم لوستلې شویدې. او بالکسر هم، **بالضم** په صورت کښې دَ دې معنی به دَ رسو وی اودَ بالکسر په صورت کښې به دَ دې معنی دَ اوښانوی چه دَ جمالة جمع ده او جمالة دَ جمل جمع ده.(۱)

[۴۶۴۶] حَدَّثَنِي مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُنْزِلَتْ عَلَيْهِ وَالْمُرْسَلَاتِ وَإِنَّا لَنَتَلَقَّاهَا مِنْ فِيهِ فَخَرَجَتْ حَيَّةٌ فَابْتَدَرْنَاهَا فَسَبَقَتْنَا فَدَخَلَتْ جُحْرَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُقِيَتْ شَرَّكُمْ كَمَا وُقِيتُمْ شَرَّهَا حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يَحْيَى

(۱)عمدة القاری-۱۹/۲۷۲:

بْنُ آدَمَ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ مَنْصُورٍ بِهَذَا وَعَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ مِثْلَهُ وَتَابَعَهُ أَسْوَدُ بْنُ عَامِرٍ عَنْ إِسْرَائِيلَ وَقَالَ حَفْصٌ وَأَبُو مُعَاوِيَةَ وَسُلَيْمَانُ بْنُ قَرْمٍ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ الْأَسْوَدِ قَالَ يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ مُغِيرَةَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ وَقَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَسْوَدِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ

[۴۶۴۷] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ الْأَسْوَدِ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بَيْنَا نَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَارٍ إِذْ نَزَلَتْ عَلَيْهِ وَالْمُرْسَلَاتِ فَتَلَقَّيْنَاهَا مِنْ فِيهِ وَإِنَّ فَاهُ لَرَطْبٌ بِهَا إِذْ خَرَجَتْ حَيَّةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ اقْتُلُوهَا قَالَ فَابْتَدَرْنَاهَا فَسَبَقَتْنَا قَالَ فَقَالَ وُقِيَتْ شَرَّكُمْ كَمَا وُقِيتُمْ شَرَّهَا

[۴۱۱] بَاب قَوْلُهُ إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ

[۴۶۴۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَابِسٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ قَالَ كُنَّا نَرْفَعُ الْخَشَبَ بِقَصَرٍ ثَلَاثَةَ أَذْرُعٍ أَوْ أَقَلَّ فَنَرْفَعُهُ لِلشِّتَاءِ فَنُسَمِّيهِ الْقَصَرَ

قوله: انها ترمي بشرر كالقصر: په دې كښې دوه قراءتونه دى يو القصر په سكون دَ صاد او دوئم قراءت القصر په فتح دَ صاد. په رومبى صورت كښې به معنى دَ محلّ وى او مطلب به دا وى چه دوزخ به دومره لوئ لوئ بخرى غورزوى لكه چه لوئ لوئ محلونه وى او په دوئم صورت كښې به معنى وى دوزخ به په اندازه دَ دريولاسونو بخرى غورزوى لكه چه دلته په روايت كښې دى.

قوله: كنا نرفع الخشب، بقصر ثلاثة اذرع او اقل: دلته دوه صورتونه كيدشى يو صورت دا دې چه بقصر كسره او تنوين سره اولوستلې شى او "ثلاثة اذرع" منصوب اووئيلې شى مطلب به دا وى چه مونږ به دَ يخنئى دَ پاره درې درې لاسه لرگى برابر اوچتول كيخودل او هغه به دَ اوبنانودَ ستهونوبرابروو دَ هغې نوم به مونږ قصر كيخودلو قصر اعناق الابل ته هم وئيلى شى، اصول الشجر ته هم وائى او دَ كهجورې تنې ته هم وئيلى شى.([1])اودوئم صورت دا دې چه "بقصر ثلاثة اذرع" دَ مضاف په بنا اولوستلې شى يعنى دَ دريودريو ذراع په اندازه، حافظ عينى او علامه كرمانى رحمه الله هم دا اختيار كړيده.([2])

---

[1] فتح البارى-۸/۶۸۸:

[2] عمدة القارى ۱۹/۲۷۴:وشرح الكرمانى-۱۸/۱۷۷:

[۴۱۲] باب قوله كأنه جمالات صفر

[۴۶۴۹] حدثنا عمرو بن علي حدثنا يحيى أخبرنا سفيان حدثني عبد الرحمن بن عابس سمعت ابن عباس رضي الله عنهما ترمي بشرر كالقصر قال كنا نعمد إلى الخشبة ثلاثة أذرع أو فوق ذلك فنرفعه للشتاء فنسميه القصر كأنه جمالات صفر حبال السفن تجمع حتى تكون كأوساط الرجال

[۴۱۳] باب قوله هذا يوم لا ينطقون

[۴۶۵۰] حدثنا عمر بن حفص بن غياث حدثنا أبي حدثنا الأعمش حدثني إبراهيم عن الأسود عن عبد الله قال بينما نحن مع النبي صلى الله عليه وسلم في غار إذ نزلت عليه والمرسلات فإنه ليتلوها وإني لأتلقاها من فيه وإن فاه لرطب بها إذ وثبت علينا حية فقال النبي صلى الله عليه وسلم اقتلوها فابتدرناها فذهبت فقال النبي صلى الله عليه وسلم وقيت شركم كما وقيتم شرها قال عمر حفظته من أبي في غار بمنى

[۴۱۴] باب: تفسير سورة النبأ (عم يتساءلون)

قال مجاهد لا يرجون حسابا لا يخافونه لا يملكون منه خطابا لا يكلمونه إلا أن يأذن لهم صوابا حقا في الدنيا وعمل به وقال ابن عباس وهاجا مضيئا وقال غيره غساقا غسقت عينه ويغسق الجرح يسيل كأن الغساق والغسيق واحد عطاء حسابا جزاء كافيا أعطاني ما أحسبني أي كفاني

[۴۱۵] باب يوم ينفخ في الصور فتأتون أفواجا زمرا

[۴۶۵۱] حدثني محمد أخبرنا أبو معاوية عن الأعمش عن أبي صالح عن أبي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما بين النفختين أربعون قال أربعون يوما قال أبيت قال أربعون شهرا قال أبيت قال أربعون سنة قال أبيت قال ثم ينزل الله من السماء ماء فينبتون كما ينبت البقل ليس من الإنسان شيء إلا يبلى إلا عظما واحدا وهو عجب الذنب ومنه يركب الخلق يوم القيامة

قوله: قال مجاهد: لا يرجون حسابا: لا يخافونه: آيت كښې دى ﴿إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا﴾ هغه خلق دَ حساب اندیښنه نه لرله، مجاهد رحمه الله فرمائى آيت كښې لايرجون معنى لايخافون، هغه خلق دَ حساب ويره نه لرى.

قوله: لا يملكون منه خطابا: لا يكلمونه إلا أن يأذن لهم: آيت كښې دى ﴿رَبِّ السَّمٰوٰتِ

وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ لَا يَمْلِكُوْنَ مِنْهُ خِطَابًاۚ) څوك چه مالك دې دَ آسمانونواو زمكې اودَ هغه څيزونوچه د دې په مينځ كښې دى(اوچه) رحمن دې (او) چاته به دَ هغه طرف نه (مستقل) اختيار نه وى چه دَ هغه په وړاندې عرض معروض او كړيشى. فرمائى (لَا يَمْلِكُوْنَ مِنْهُ خِطَابًاۚ) معنى ده الله تعالى سره به خلق خبرې نشى كولې بغير دَ هغې نه چاله چه اجازت وركړيشى.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَهَّاجًا: مُضِيئًا :آيت كښې دى (وَّجَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًاۚ) اومونږ (اسمان كښې) يو روښانه چراغ جوړكړو. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى وهاج معنى روښانه

قوله: عَطَاءً حِسَابًا: جَزَاءً كَافِيًا، أَعْطَانِي مَا أَحْسَبَنِي ،أَيْ كَفَانِي :آيت كښې دى (جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًاۙ) دا بدله به ملاوېږى ستاد رب دَ طرف نه چه كافى انعام به وى. فرمائى عطاءً حساباً معنى ده جزاءً كافيًا يعنى پوره بدله، اعطانى ما احسبنى يعنى ماله ئى دومره راكړه چه كافى شو.

قوله: أَفْوَاجًا: زُمَرًا: آيت كښې دى (يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَتَأْتُوْنَ أَفْوَاجًاۙ) په كومه ورځ چه شپېلئى پوكوهلې شى تاسو خلق به ډلې ډلې راځئى. فرمائى افواجاً معنى ده زمراً، دا دَ زمرة جمع ده په معنى د ټولى او ډلې.

[۴۱۶] باب: تفسير سورة والنازعات

وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْآيَةَ الْكُبْرَى عَصَاهُ وَيَدُهُ يُقَالُ النَّاخِرَةُ وَالنَّخِرَةُ سَوَاءٌ مِثْلُ الطَّامِعِ وَالطَّمِعِ وَالْبَاخِلِ وَالْبَخِيلِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ النَّخِرَةُ الْبَالِيَةُ وَالنَّاخِرَةُ الْعَظْمُ الْمُجَوَّفُ الَّذِي تَمُرُّ فِيهِ الرِّيحُ فَيَنْخَرُ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْحَافِرَةِ الَّتِي أَمْرُنَا الْأَوَّلُ إِلَى الْحَيَاةِ وَقَالَ غَيْرُهُ أَيَّانَ مُرْسَاهَا مَتَى مُنْتَهَاهَا وَمُرْسَى السَّفِينَةِ حَيْثُ تَنْتَهِي الطَّامَّةُ تَطِمُّ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: الْآيَةَ الْكُبْرَى: عَصَاهُ وَيَدُهُ: آيت كښې دى (فَأَرٰىهُ الْآيَةَ الْكُبْرٰىۖ) بيا موسى عليه السلام هغه ته (يعنى فرعون ته) لويه نښه (دنبوت) اوخودله. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائى الْآيَةَ الْكُبْرٰى نه مراد دَ حضرت موسى عليه السلام همسا او يدبيضا مراد دى.

قوله: النَّاخِرَةُ وَالنَّخِرَةُ سَوَاءٌ: (ءَإِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةًۗ) ونيلې شى چه ناخره او نخره دواړو يوه معنى ده لكه طامع او طمع او باخل او بخل او بعض خلقو ونيلى دى چه نخره هغه هډوكى ته وائى چه سخا او خراب شوې وى او ناخره هغه هډوكى ته وائى چه ډډ وى، كوم كښې چه هوا تيرېږى نو آواز كوى.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: الْحَافِرَةِ: الَّتِي أَمْرُنَا الْأَوَّلُ إِلَى الْحَيَاةِ: (ءَإِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ فِي الْحَافِرَةِۗ) يعنى اول ژوندچه مونږ ته په دنياكښې راكړې شوې وو آيا مونږ به دَ هغې طرف ته واپس گرځولې شو.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ: أَيَّانَ مُرْسَاهَا: مَتَى مُنْتَهَاهَا: وَمُرْسَى السَّفِينَةِ حَيْثُ تَنْتَهِي:
آیت کښې دی ﴿يَسْئَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسٰهَا﴾ دا خلق تانه دَ قیامت باره کښې تپوس کوی چه دا به کله واقع کیږی. حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه غیر وئیلی دی چه ایان مرساها معنی ده دَهغې انتها کوم ځائ ده.دا ماخوذدې مرسی السفینة نه چرته چه کشتئی په آخره کښې اودریږی.

[۴۶۵۲] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ حَدَّثَنَا الْفُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بِإِصْبَعَيْهِ هَكَذَا بِالْوُسْطَى وَالَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ بُعِثْتُ وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ

قوله: بُعِثْتُ وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ: حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه فرمائی چه ما رسول الله ﷺ اولیدو چه هغوی خپله مینځمئی او دَ شهادت په گوته اشاره اوفرمائیله چه زه په داسې وخت کښې رالیګلې شوې یم چه زه او قیامت داواړه داسې یو یعنی زه لږ شان وړاندې یم او قیامت دینه لږ شان روستو، لکه څنګه چه مینځمئی گوته لږه شان وړاندې وتلې وی او سبابه یعنی مسواکه گوته دینه لږه شان روستو. دوئم مطلب دا هم کیدېشی چه څنګه دا دواړه گوتې ملاؤ شوی دی دغه شان زه او قیامت ملاؤشوی یو، زما او دَ قیامت په مېنځ کښې به الله تعالی څوك نبی یا رسول نه رالیګی، څه اوګورو- په ړومبی صورت کښې سوال وی چه دَ قیامت نه په څومره فاصله باندې هغوی ﷺ تشریف راوړیدې؟ ښکاره خبره ده چه په دې سلسله کښې څه خبره نشی خودلې چه دَ هغوی ﷺ او قیامت په مینځ کښې څومره فاصله ده.

دَامت محمدیه تول عمر: ابن جریر طبری رحمه الله په خپله زمانه کښې یوه خبره کړې وه چه دَ دې امت ټول عمر پنځه سوه کاله دې،او هغه دَ ابوثعلبه خشنی رضی الله عنه دَ روایت نه استدلال کړیدې، کوم چه امام ابوداؤد په خپل سنن کښې نقل کړیدې. "**لن یعجزالله هذه الامة من نصف یوم**" (۲) یعنی الله تعالی به ستا امت ته دَ نیمې ورځې ژوند ورکولو ته عاجز نه فرمائی، طبری رحمه الله دَ نصف یوم نه نصف یوم آخرت اوګڼړلو اودَ یوم آخرت مقدار زر کاله دې نو نصف به پنځه سوا کاله وی. لیکن دَ هغوی دا قول او استدلال غلط ثابت شو، څوارلس سوه کاله دې امت تیرکړی دی. حافظ جلال الدین سیوطی رحمه الله یوه رساله لیکلې ده "**الکشف عن مجاوزة هذه الامة الالف**" او په دې کښې هغه دَ ډیرو آثارونه دا ثابته کړیده چه دَ دې امت عمر به دَ زرو کالونه

(۱) وایضاً اخرجه فی الطلاق باب اللعان رقم الحدیث ۵۳۱۰:وفی الرقاق باب قول لنبی صلی الله علیه وسلم :بعثت انا والساعة کهاتین، رقم الحدیث ۶۵۰۳:وقال العینی فی عمدة" ۲/۲۷۸ :والحدیث من افراده من هذه الوجه "واخرجه مسلم فی الفتن واشراط الساعة بوجه اخر رقم الحدیث-۲۹۵۰:
(۲) سنن ابی داوٗد کتاب الملاحم باب قیام الساعة-۲/۲٤۲:

زيات وی(١) نوډ هغه خبره صحيح راؤتله.
حضرت مولانا کشميری رحمه الله فرمائيل چه په سلف کښې مشهوره وه چه دَ دنيا مجموعی عمر پنځوس زره کاله دې.دَ قرآن کريم په دې آيت کښې هم دې طرف ته اشاره ملاويږی (فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ) حضرت کشميری رحمه الله فرمائی چه په ميدان محشر کښې زما په نيزد دَ دنيا پوره عمر به دوباره واپس کولې شی او قرآن دَ يوم حشر مقدار پنځوس زره کاله خودلی کوم نه چه معلوميږی چه دَ دنيا مجموعی عمر پنځوس زره کاله دې(٢)والله اعلم.
دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه يو روايت نقل دې چه دَ دنيا عمر اووه زره کاله دې او په دې کښې شپږ دَ حضرت آدم عليه السلام نه واخله تر نبی کريم صلی الله عليه وسلم پورې تيرشوی دی اودَ هغوی نه پس هم زر کاله تير شو نوډ دې تقاضا خو دا ده چه دَ دنيا عمر خو پورا شو او قيامت قائم کيدل پکار دی.(٣)ليکن دا روايت موقوف دې (٤) او دا ټولې اندازې او تخميني دی دَ قيامت دَ واقع کيدو صحيح علم الله تعالی نه سوا بل هيڅ چا سره نشته (إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ)

قوله: الطَّامَّةُ تَطِمُّ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ: آيت کښې دی (فَإِذَا جَاءَتِ الطَّامَّةُ الْكُبْرَىٰ) نو چه کله لويه هنګامه راشی فرمائی چه طامة معنی چه په هرځيز باندې راخور شی، غالب شی.

[۴۱۷] باب: تفسير سُورَةُ عَبَسَ

عَبَسَ وَتَوَلَّى كَلَحَ وَأَعْرَضَ وَقَالَ غَيْرُهُ مُطَهَّرَةٍ لَا يَمَسُّهَا إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ وَهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَهَذَا مِثْلُ قَوْلِهِ فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا جَعَلَ الْمَلَائِكَةَ وَالصُّحُفَ مُطَهَّرَةً لِأَنَّ الصُّحُفَ يَقَعُ عَلَيْهَا التَّطْهِيرُ فَجُعِلَ التَّطْهِيرُ لِمَنْ حَمَلَهَا أَيْضًا سَفَرَةٍ الْمَلَائِكَةُ وَاحِدُهُمْ سَافِرٌ سَفَرْتُ أَصْلَحْتُ بَيْنَهُمْ وَجُعِلَتِ الْمَلَائِكَةُ إِذَا نَزَلَتْ بِوَحْيِ اللَّهِ وَتَأْدِيَتِهِ كَالسَّفِيرِ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ الْقَوْمِ وَقَالَ غَيْرُهُ تَصَدَّى تَغَافَلَ عَنْهُ وَقَالَ مُجَاهِدٌ لَمَّا يَقْضِ لَا يَقْضِي أَحَدٌ مَا أُمِرَ بِهِ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ تَرْهَقُهَا تَغْشَاهَا شِدَّةٌ مُسْفِرَةٌ مُشْرِقَةٌ بِأَيْدِي سَفَرَةٍ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَتَبَةٍ أَسْفَارًا كُتُبًا تَلَهَّى تَشَاغَلَ يُقَالُ وَاحِدُ الْأَسْفَارِ سِفْرٌ

[۴۶۵۳] (٥) حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ قَالَ سَمِعْتُ زُرَارَةَ بْنَ أَوْفَى يُحَدِّثُ عَنْ سَعْدِ

---

(١) مذكوره رساله اوورئی الحاوی للفتاوی للسيوطی-۹۰-۲/۸۶:
(٢) فيض الباری-۴/۲۵۴:
(٣) فيض الباری-۴/۲۵۴:
(٤) فيض الباری-۴/۲۵۴:
(٥) واخرجه مسلم فی صلاة المسافرين وقصرها باب فضل الماهر بالقران والذی يتتعتع به رقم الحديث ۷۹۸ واخرجه الترمذی رحمه الله فی كتاب فضائل القران باب ماجاء فی فضل قاری القران رقم الحديث ۲۹۰۴: واخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة باب فی ثواب قراءة القران ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

بن هشام عن عائشة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال مثل الذى يقرأ القرآن وهو حافظ له مع السفرة الكرام البررة ومثل الذى يقرأ وهو يتعاهده وهو عليه شديد فله أجران

قوله: عبس : كلح وأعرض : (عبس وتولى ۝ أن جاءه الأعمى ۝) هغوى غصه شو او متوجه نه شو په دې خبره چه هغوى له يو ړوند راغلو. فرمائى عبس معنى كلح، يعنى تريوتندې شو اود تولى معنى ده اعراض يعنى ډډه ئى اوكړه او متوجه نه شو.

قوله: وقال غيره: مطهرة: لا يمسها إلا المطهرون وهم الملائكة: دوه آياتونه دى (صحفا مطهرة ۝) او (لا يمسه إلا المطهرون ۝) دينه معلوميږى چه امام بخارى رحمه الله "مس" نه حقيقى مس مراد اخلى او دا خودل غواړى چه قرآن مجيد ته بغيرد پاكوالى نه لاس اوړل جائزنه دى، دې له لاس اوړلو دپاره طهارت شرط دې، دجمهورو اوائمه اربعه همدغه مسلك دې.[1]

مس مصحف او طهارت: داؤد ظاهرى ابن حزم، ابن منذر او ابن جرير په نيزد حائضه جنبى او محدث بالحدث الاصغر د پاره مس مصحف جائز دى- امام بخارى رحمه الله (صحفا مطهرة ۝) نه پس (لا يمسه إلا المطهرون ۝) ذكر كولوسره دې خبرې طرف ته اشاره كړيده چه د مس حقيقى معنى مراد ده. لهذا حائضه، جنبى او محدث بالحدث الاصغر د پاره مصحف مس كول جائزنه دى. بعض خلق د دې قائل دى چه دلته د مس مجازى معنى مراد ده او هغه مس مصحف ته په حالت د حدث او جنابت كښې جائزوائى. مجازى معنى دا ده چه د قرآن مجيد تلاوت اود دې په معنى كښې غور كولوسره خوندهغه خلق حاصلولې شى د چا زړه چه د ايمان د نور نه منور وى او خوك چه د كفر او شرك د نجاست نه پاك وى.[2]-

ابن العربى رحمه الله د امام بخارى رحمه الله د طرف نه د مجازى معنى نسبت كړيدې او وئيلى دى چه د امام بخارى په نيزد (لا يمسه إلا المطهرون ۝) كښې مجازى معنى مراد ده، او بيائى وئيلى چه همدغه معنى صحيح هم ده. هغوى وائى چه حديث "ذاق طعم الايمان، من رضى بالله ربا، وبالاسلام دينا، وبمحمد صلى الله عليه وسلم نبيا ورسولا" نه د دې تائيدهم كيږى، خو بياهم په دې كښې په ظاهره عدول دې.[3] ليكن د ابن العربى د امام بخارى رحمه الله طرف ته دا نسبت كول

...بقيه ازحاشيه گذشته]رقم الحديث ١٤٥٤ :واخرجه ابن ماجاه فى كتاب الادب باب ثواب القران رقم الحديث ٣٧٧٩:واخرجه النسائى فى السنن الكبرىٰ كتاب التفسير باب سورة عبس رقم الحديث : ١١٦٤٦ واخرجه فى فضائل القران رقم الحديث-٤٦-٨٠ :

[1]) الجامع لاحكام القران للقرطبى ١٧/٢٢٦:واحكام القران للشيخ محمدادريس الكاندهلوى سورة الواقعة-٥/١٠٠:

[2]) الجامع لاحكام القران ١٧/٢٢٦ :سورة واقعه

[3]) الجامع لاحكام القران ١٧/٢٢٦ :سورة واقعة واحكام القران لابن العربى-٤/١٧٣٨:

صحيح نه دى خکه چه دَ امام بخارى رحمه الله په نيزد حقيقى معنى مراد ده. امام مالك رحمه الله دَ عمروبن حزم دَ کتاب نه روايت نقل کړيدې "لايمس القران الاطاهر"(١)- نودَ دې په وړاندې ﴿لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُطَهَّرُونَ﴾ هم دغه مطلب کيدو چه قرآن له لاس اوړلودَ پاره طهارت شرط دې او امام بخارى هم دَ دې طرف ته اشاره کوى، ابن العربى چه کومه خبره کړيده هغه دَ امام بخارى نه چرته نقل نه ده.

قوله: لِأَنَّ الصُّحُفَ: (٢) يَقَعُ عَلَيْهَا التَّطْهِيرُ فَجُعِلَ التَّطْهِيرُ لِمَنْ حَمَلَهَا أَيْضًا: دَامام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه ﴿صُحُفًا مُّطَهَّرَةً﴾ کښې صحف ته "مطهرة" وئيلې شويدې او ﴿لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُطَهَّرُونَ﴾ کښې حاملين صحف ملائکه ته مطهر وئيلې شويدې. اصلاً دا "تطهير" دَ صحف صفت دې ليکن ملائکه دَ دې صحف حامل دى نودَ دوى صفت هم تطهير اوګرځيدلو او دوى ته هم مطهر اووئيلې شو دا بالکل داسې ده لکه ﴿فَٱلْمُدَبِّرَٰتِ أَمْرًا﴾ کښې تدبير اصل صفت نو راکبين خيل يعنى دَ فرښتودې ليکن هغه خيل (اسونه) دَ دې راکبين(فرښتو) حامل دى په دې وجه خيل ته هم مدبرات اووئيلې شو او تدبيردَ هغوى صفت جوړکړلو.

قوله: سَفَرَةٍ الْمَلَائِكَةُ وَاحِدُهُمْ سَافِرٌ سَفَرْتُ أَصْلَحْتُ بَيْنَهُمْ وَجُعِلَتِ الْمَلَائِكَةُ إِذَا نَزَلَتْ بِوَحْيِ اللَّهِ وَتَأْدِيَتِهِ كَالسَّفِيرِ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ الْقَوْمِ: آيت کښې دى ﴿بِأَيْدِى سَفَرَةٍ﴾ فرمائى سفرة نه فرښتې مراددى. دا دَ سافر جمع ده سافر ليکلونکې ته وائى. سفرت بين القوم ما په قوم کښې صلح اوکړه، دَ الله تعالى وحى راوړل او غه انبياء کرام ته رسولوکښې فرښتو لره په شان دَ سفير اوګرځولې شوې چه په خلقو کښې صلح کوى.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ تَصَدَّى تَغَافَلَ عَنْهُ: ﴿فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ﴾ کښې تصدى ترجمه تغافل سره کړيده.ليکن دا صحيح نه ده بلکه دَ دې معنى توجه کول او ورپسې لګيدلو راځى.(٣) دا تفسيردَ تلهى دې تصدى تفسيرغالباً حذف شويدې او دَ کاتب دَ سهو نه تلهى تفسيرداتله اوليکلې شو.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ لَمَّا يَقْضِ لَا يَقْضِي أَحَدٌ مَا أُمِرَ بِهِ: آيت کښې دى ﴿كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُۥ﴾ هيڅ کله (شک) نه (اداکوى) هغوى ته چه کوم حکم ورکړيشوې وو هغه ئى په ځائ راوڼرلو. مجاهد رحمه الله فرمائى لمايقض معنى ده دَ کومې خبرې حکم چه ورکړيشوې وو هغه چا

---

(١) الجامع لاحکام القران للقرطبى ١٧/٢٢٦ :سورة واقعة

(٢) وفى بعض النسخ" لايقع "بزيادة لا......وجهه ان الصحف لايطلق عليها التطهير الذى هوخلاف التنجيس حقيقة. وانما المراد انها مطهرة عن ان بنا لها ايدى الکفار)عمدة القارى_(١٩/٢٧٨:

(٣) عمدة القارى-١٩/٢٧٨:

پوره نه کړه.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ تَرْهَقُهَا تَغْشَاهَا شِدَّةٌ: آیت کښې دی ﴿تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ﴾ په هغوی باندې به غم، خفګان به خورشوي وي. حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ترهقها معنی ده په هغوی به شدت او سختی خوره وي.

قوله: مُسْفِرَةٌ مُشْرِقَةٌ: آیت کښې دی ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ﴾ ډیر مخونه به په هغه ورځ روښانه وي. فرمائی مسفرة معنی روښانه پرقیه ونکې.

قوله: تَلَهَّى تَشَاغَلَ: آیت کښې دی ﴿فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ﴾ ته د دوی نه بې رخی کوې. تلهی معنی بې رخی کول، ډډه کول.

[۴۱۸] باب: تفسير سورة إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ

انْكَدَرَتْ انْتَثَرَتْ وَقَالَ الْحَسَنُ سُجِّرَتْ ذَهَبَ مَاؤُهَا فَلَا يَبْقَى قَطْرَةٌ وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْمَسْجُورُ الْمَمْلُوءُ وَقَالَ غَيْرُهُ سُجِّرَتْ أَفْضَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ فَصَارَتْ بَحْرًا وَاحِدًا وَالْخُنَّسُ تَخْنِسُ فِي مُجْرَاهَا تَرْجِعُ وَتَكْنِسُ تَسْتَتِرُ كَمَا تَكْنِسُ الظِّبَاءُ تَنَفَّسَ ارْتَفَعَ النَّهَارُ وَالظَّنِينُ الْمُتَّهَمُ وَالضَّنِينُ يَضَنُّ بِهِ وَقَالَ عُمَرُ النُّفُوسُ زُوِّجَتْ يُزَوَّجُ نَظِيرَهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ ثُمَّ قَرَأَ احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ عَسْعَسَ أَدْبَرَ

قوله: انْكَدَرَتْ انْتَثَرَتْ: آیت کښې دی ﴿وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ﴾ اوچه کله ستوري مات پړې او راپریوزي. فرمائی انکدرت معنی انتشرت ده یعنی خواره واره پریوزي.

قوله: وَالْخُنَّسُ تَخْنِسُ فِي مُجْرَاهَا تَرْجِعُ وَتَكْنِسُ تَسْتَتِرُ كَمَا تَكْنِسُ الظِّبَاءُ: ﴿فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ﴾ فرمائی خنس معنی ده هغه ستوري چه واپس راګرځي په خپله لار او خپل ځائ ته واپس کیږي او د جوار نه نیغ تلونکی ستوري مراد دي او د کنس نه هغه ستوري مراد دي چه د هوسئ په شان پټیږي. د ستورو دري صفتونه ذکر دي دا د کرمانی رحمه الله په قول اووه سیارات دي او د قسطلانی رحمه الله په قول زحل، مشتری، مریخ، زهره او عطارد مراد دي چه کله د مغرب نه مشرق طرف ته نیغ ځي اوکله بیا په دغه لار واپس راګرځي او کله نمر سره خواکې راشي او غائب شي لکه څنګه چه هوسئ د ښاخونونه جوړشوي کورکښې پټیږي. (۱)

قوله: تَنَفَّسَ ارْتَفَعَ النَّهَارُ: آیت کښې دی ﴿وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ﴾ اوقسم دې د سحر کله چه هغه راشي، تنفس معنی ورځ راختل.

قوله: وَالظَّنِينُ الْمُتَّهَمُ وَالضَّنِينُ يَضَنُّ بِهِ: ﴿وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ﴾ په دې کښې دوه

(۱) ماخوذ ازحاشیه کتاب ۷۳۵ و تفسیرعثمانی-۷۸۰

قراءتونه دی يوقراءت دَ ابن كثير او كسائى دې "ظنين" په معنى متبهم په چا چه تهمت لګولې شوی وی او دوئم قراءت دَ حمزه او عاصم دې "بضنين" په معنى دَ بخيل.

قوله: وَقَالَ عُمَرُ النُّفُوسُ زُوِّجَتْ يُزَوَّجُ نَظِيرَهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ ثُمَّ قَرَأَ احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ: آيت كښې دى (وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ﴿﴾) حضرت عمر رضي الله عنه دَ دې په تفسير كښې فرمائى چه اهل جنت او اهل دوزخ نه به هر سړې دَ ده په شان سره اوتړلې شى بيا هغوى دَ سورة صافات دا آيت تلاوت كړو (اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَأَزْوَاجَهُمْ) (ملائكه ته په حكم وى) جمع كړئى ظالمانولره اودَ هغوى سره څكونكولره.

قوله: عَسْعَسَ أَدْبَرَ: آيت كښې دى (وَالَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ﴿﴾) اوقسم دې دَ شپې كله چه هغه خى. عسعس په معنى د ادبر ده، واپس تلل، شاكول واپس كيدل.

[۴۱۹] باب: تفسير سُورَةُ إِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ

وَقَالَ الرَّبِيعُ بْنُ خُثَيْمٍ فُجِّرَتْ فَاضَتْ وَقَرَأَ الْأَعْمَشُ وَعَاصِمٌ فَعَدَلَكَ بِالتَّخْفِيفِ وَقَرَأَهُ أَهْلُ الْحِجَازِ بِالتَّشْدِيدِ وَأَرَادَ مُعْتَدِلَ الْخَلْقِ وَمَنْ خَفَّفَ يَعْنِي فِي أَيِّ صُورَةٍ شَاءَ إِمَّا حَسَنٌ وَإِمَّا قَبِيحٌ أَوْ طَوِيلٌ أَوْ قَصِيرٌ

قوله: فُجِّرَتْ فَاضَتْ: آيت كښې دى (وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ﴿﴾) اوچه كله ټول په درياب لاهوشى. فجرت معنى فاضت يعنى لاهوكيدل.

قوله: الذي خلقك فسواك فعدلك في اى صورة ما شاء ركبك: اعمش او عاصم "فعدلك" تخفيف سره لوستلې دې او اهل حجاز دا "فعدلك" تشديد سره لولى، هغوى دينه په خلقت كښې دَ اعتدال مراد اخلى چه الله تعالى دَ انسان اندامونه برابر برابر جوړكړى دى، داسې نه ده چه يو لاس اوږد او بل لنډ، او كوموخلقو چه دَ دال په تخفيف سره لوستلې دې هغوى مراد اخلى چه الله تعالى په كوم صورت كښې غوښتل ته ئى جوړكړې. ښائسته يا بدرنګه، اوږد يا وړوكې. ليكن "ومن خفف" عطف كه دَ "اراد" په فاعل باندې اوكړېشى نو په دواړو صورتونوكښې معتدل الخلق به مراد وى يعنى چا چه په تشديدسره لوستلې هغوى هم، او چا چه تخفيف سره هغوى هم معتدالخلق معنى مراد اخلى. اودَ دې ګنجائش په دې وجه دې چه عدل او عدل بالتشديدوالتخفيف دواړه په يوه معنى هم راځى. يعنى (فِيْ أَيِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ﴿﴾) نه مقصود دا دې چه دَ ټولوپه صورتونو كښې لږ ډير فرق كيخودو، څوك ښائسته دې څوك بدرنګه، څوك اوږدې څوك لنډ خو په حيثيت مجموعى سره دَ انسان صورت دَ ټولوخناورو دَ صورت نه بهتر جوړكړې.

[۴۲۰] باب: تفسير سورة وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ بَلْ رَانَ ثَبْتُ الْخَطَايَا ثُوِّبَ جُوزِيَ وَقَالَ غَيْرُهُ الْمُطَفِّفُ لَا يُوَفِّي غَيْرَهُ
وَقَالَ غَيْرُهُ الْمُطَفِّفُ لَا يُوَفِّي غَيْرَهُ. الرَّحِيقُ: الخمر، خِتَامُهُ مِسْكٌ: طينته، التَّسْنِيمِ: يعلوشراب أهل الجنة. يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ.

[۴۶۵۴] (۱) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ حَتَّى يَغِيبَ أَحَدُهُمْ فِي رَشْحِهِ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ

قوله: رَانَ ثَبْتُ الْخَطَايَا: آيت كښې دى ﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾ هيڅ كله نه، (يعنى د قيامت منكرانوسره هيڅ دليل نشته) بلكه (د تكذيب اصل وجه دا ده چه) د هغوى په زړونوباندې دهغوى د بدواعمالورنګ ناست دې.فرمائى ران معنى د ګناهونو كلكيدل.

قوله: ثُوِّبَ جُوزِيَ: آيت كښې دى ﴿هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ﴾ واقعى كافرانوته د هغوى د كړيشوى عمل ښه بدله ملاوشوه. فرمائى ثوب معنى جوزى هغوى ته بدله وركړيشوه.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ الْمُطَفِّفُ لَا يُوَفِّي غَيْرَهُ: ﴿وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ﴾ لويه خرابى ده په ناپ تول كښې كمې كونكوډپاره. مجاهد نه غير فرمائى مطفف معنى چه بل ته پوره تول نه وركوى.

[۴۲۱] باب: تفسير سورة إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ

قَالَ مُجَاهِدٌ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ يَأْخُذُ كِتَابَهُ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهِ وَسَقَ جَمَعَ مِنْ دَابَّةٍ ظَنَّ أَنْ لَنْ يَحُورَ لَا يَرْجِعَ إِلَيْنَا وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يُوعُونَ يُسِرُّونَ

قوله: وَسَقَ: جَمَعَ مِنْ دَابَّةٍ: آيت كښې دى ﴿وَاللَّيْلِ وَمَا وَسَقَ﴾ اوقسم دې د شپې او د هغه څيزونو كوم چه شپه راغونډوى ياپټوى. فرمائى وسق معنى شپه ځناوروغيره راجمع كوى، او د شپې تولې په خپل خپل ځاىٔ كښې راجمع كيږى.

قوله: ظَنَّ أَنْ لَنْ يَحُورَ: لَا يَرْجِعَ إِلَيْنَا: آيت كښې دى ﴿إِنَّهُ ظَنَّ أَنْ لَنْ يَحُورَ﴾ هغه دا خيال كړې وو چه هغه ته (د الله د طرف ته) واپس كيدل نه دى. فرمائى لن يحور معنى هغه به هيڅ كله هم زمونږ طرف ته نه واپس كيږى.

قوله: قَالَ مُجَاهِدٌ: كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ: يَأْخُذُ كِتَابَهُ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهِ: دوه آياتونه دى، په يوآيت كښې دى ﴿وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ﴾ بِشِمَالِهِ٠ او په دوئم آيت كښې دى ﴿وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ

---

(۱) واخرجه ايضاً فى كتاب الرقاق قوله تعالى الايظن اولئك انهم مبعوثون ليوم عظيم، رقم الحديث ۶۵۳۱: واخرجه مسلم فى الجنة وصفة نعيمها واهلها رقم الحديث-۲۸۶۲:

﴿وَرَآءَ ظَهْرِهٖ﴾ حضرت مجاهد رحمه الله دواړه دلته جمع کړل يعنی هغه به خپله اعمال نامه په گس لاس کښې واخلی او د شا د طرف نه به ئی اخلی (څکه چه د کافرلاس به د شاد طرف نه راويستلې شوې وی)

[۴۲۲] بَاب فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا

[۴۶۵۵] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الْأَسْوَدِ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي مُلَيْكَةَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ح وحَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي يُونُسَ حَاتِمِ بْنِ أَبِي صَغِيرَةَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ الْقَاسِمِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ أَحَدٌ يُحَاسَبُ إِلَّا هَلَكَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاءَكَ أَلَيْسَ يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا قَالَ ذَاكَ الْعَرْضُ يُعْرَضُونَ وَمَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ هَلَكَ

[۴۲۳] بَاب لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ

[۴۶۵۶] حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ النَّضْرِ أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا أَبُو بِشْرٍ جَعْفَرُ بْنُ إِيَاسٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ حَالًا بَعْدَ حَالٍ قَالَ هَذَا نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۴۲۴] باب: تفسير سُورَةُ الْبُرُوجِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْأُخْدُودِ شَقٌّ فِي الْأَرْضِ فَتَنُوا عَذَّبُوا وقال ابن عباس فى قوله تعالى الودود الحبيب المجيد الكريم

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْأُخْدُودِ شَقٌّ فِي الْأَرْضِ: آيت کښې دی ﴿قُتِلَ أَصْحٰبُ الْأُخْدُودِ﴾ خندق والا مړه کړيشو، مجاهد رحمه الله فرمائی چه اخدود په زمکه کښې کندې اوخندق ته وائی.

قوله: فَتَنُوا عَذَّبُوا: آيت کښې دی ﴿إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ﴾ بيشکه کومو خلقو چه ايماندارو سړو او ايماندارو ښځوته عذاب ورکړو بيا هغوی توبه اونه کړه نود هغوی د پاره د دوزخ عذاب دې. فرمائی فتنوا معنی هغوی عذاب ورکړو، تکليف ئی اورسولو.

[۴۲۵] باب: تفسير سُورَةُ الطَّارِقِ

هوالنجم، وما اتاك ليلاً فهو طارق، النجم الثاقب: المضيئ وقال مجاهد: الثاقب: الذی يتوهج.
وَقَالَ مُجَاهِدٌ ذَاتِ الرَّجْعِ سَحَابٌ يَرْجِعُ بِالْمَطَرِ ذَاتِ الصَّدْعِ تَتَصَدَّعُ بِالنَّبَاتِ

وقال ابن عباس: لقول فصل: لحق، لما عليها حافظ: الاعليها حافظ

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ ذَاتِ الرَّجْعِ سَحَابٌ يَرْجِعُ بِالْمَطَرِ ذَاتِ الصَّدْعِ تَتَصَدَّعُ بِالنَّبَاتِ:

آيت مبارك کښې دی ﴿وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ۝ وَالْاَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ۝﴾ قسم دې د باران ورونکی آسمان باندې، اوقسم دې د زمکې چه (تخم راوتلووخت کښې) شليږي. مجاهد رحمه الله فرمائی الرجع نه اوريخې مراد دی چه باران راګرځوی او ذات الصدع نه مراد زمکه ده کوم چه تخم راټوکوی او شليږي.

[۴۲۶] باب: تفسير سورة سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى

وقال مجاهد قدر فهدى قدر للانسان الشقاء والسعادة وهدى الانعام لمراتعها وقال ابن عباس غثاء احوى هشيما متغيرا.

[۴۶۵۷] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَوَّلُ مَنْ قَدِمَ عَلَيْنَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ فَجَعَلَا يُقْرِئَانِنَا الْقُرْآنَ ثُمَّ جَاءَ عَمَّارٌ وَبِلَالٌ وَسَعْدٌ ثُمَّ جَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِي عِشْرِينَ ثُمَّ جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْتُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ فَرِحُوا بِشَيْءٍ فَرَحَهُمْ بِهِ حَتَّى رَأَيْتُ الْوَلَائِدَ وَالصِّبْيَانَ يَقُولُونَ هَذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَاءَ فَمَا جَاءَ حَتَّى قَرَأْتُ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى فِي سُوَرٍ مِثْلِهَا

[۴۲۷] باب: تفسير سورة هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ النَّصَارَى وَقَالَ مُجَاهِدٌ عَيْنٍ آنِيَةٍ بَلَغَ إِنَاهَا وَحَانَ شُرْبُهَا حَمِيمٍ آنٍ بَلَغَ إِنَاهُ لَا تَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً شَتْمًا وَيُقَالُ الضَّرِيعُ نَبْتٌ يُقَالُ لَهُ الشِّبْرِقُ يُسَمِّيهِ أَهْلُ الْحِجَازِ الضَّرِيعَ إِذَا يَبِسَ وَهُوَ سُمٌّ بِمُسَيْطِرٍ بِمُسَلَّطٍ وَيُقْرَأُ بِالصَّادِ وَالسِّينِ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ إِيَابَهُمْ مَرْجِعَهُمْ

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ: النَّصَارَى: آيت کښې دی ﴿وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ۝ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ۝﴾ ډير مخونه به په هغه ورځ ذليل او محنت کونکې ستړې وی، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی عاملة ناصبة نه مراد انصار دی. علامه شبير احمد عثمانی رحمه الله د دې آيت لاندې ليکی: "يعنی په آخرت کښې تکليفونه برداشت کونکی او د مصيبت برداشت کولو نه خراب حال او بعضو وئيلی دی "عاملة ناصبة" نه د دنيا حال مراد دې يعنی ځومره خلق دی چه په دنيا کښې خوارئ کولوکولو سره ستړې کيږی مګر د هغوی ټول محنتونه اوخوارئ د حق په لار د نه کيدو په وجه ټول بيکاره دی، دلته هم تکليفونه اوچت کړل او هلته هم په مصيبت کښې.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: عَيْنٍ آنِيَةٍ: بَلَغَ إِنَاهَا، وَحَانَ شُرْبُهَا، حَمِيمٍ آنٍ: بَلَغَ إِنَاهُ: آيت كښې دى (تُسْقٰى مِنْ عَيْنٍ اٰنِيَةٍ) اودَ خوټكيدلې چينې نه به پرې اوبه څكولې شى. مجاهد رحمه الله فرمائى عين انية معنى بلغ اناها يعنى دَهغې ګرمى آخرى حدته اورسيدله. اودَ هغې دَ څكلو وخت راغلو. دسورة رحمن آيت "حميم ان" همدغه معنى ده، چه دَهغې ګرمى حدته اورسيدله.

قوله: لَا تَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً: شَتْمًا: په هغه جنت كښې هيڅ فضول خبره نه اورې. فرمائى لاغية نه كنځل وغيره مراد دى.

قوله: الضَّرِيعُ نَبْتٌ يُقَالُ لَهُ الشِّبْرِقُ يُسَمِّيهِ أَهْلُ الْحِجَازِ الضَّرِيعَ إِذَا يَبِسَ وَهُوَ سُمٌّ: آيت كښې دى (لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ اِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ) اوهغوى له به بغيرد ازغنې جاړې بل هيڅ خوراك نه نصيب كيږى. فرمائى ضريع يوواښه دى كوم ته چه شبرق وائى، دا واښه چه كله اوچ شى نو اهل حجاز دې ته ضريع وائى او دا زهر دى.

قوله: بِمُسَيْطِرٍ: بِمُسَلَّطٍ، وَيُقْرَأُ بِالصَّادِ وَالسِّينِ: آيت كښې دى (لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ) ته په دوى باندې مسلط نه ئې. فرمائى مصيطر معنى مسلط اودا صاد اوسين دواړو سره لوستلې شى.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: إِيَابَهُمْ: مَرْجِعَهُمْ: آيت كښې دى (اِنَّ اِلَيْنَآ اِيَابَهُمْ) هم مونږ ته به واپس كيږى. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى ايابهم په معنى مرجعهم ده يعنى دَ هغوى واپس كيدل.

[۴۲۸] باب: تفسير سُورَةُ وَالْفَجْرِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْوَتْرُ اللَّهُ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ يَعْنِي الْقَدِيمَةَ وَالْعِمَادُ أَهْلُ عَمُودٍ لَا يُقِيمُونَ سَوْطَ عَذَابٍ الَّذِي عُذِّبُوا بِهِ أَكْلًا لَمًّا السَّفُّ وَجَمًّا الْكَثِيرُ وَقَالَ مُجَاهِدٌ كُلُّ شَيْءٍ خَلَقَهُ فَهُوَ شَفْعٌ السَّمَاءُ شَفْعٌ وَالْوَتْرُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَقَالَ غَيْرُهُ سَوْطَ عَذَابٍ كَلِمَةٌ تَقُولُهَا الْعَرَبُ لِكُلِّ نَوْعٍ مِنَ الْعَذَابِ يَدْخُلُ فِيهِ السَّوْطُ لَبِالْمِرْصَادِ إِلَيْهِ الْمَصِيرُ تَحَاضُّونَ تُحَافِظُونَ وَتَحُضُّونَ تَأْمُرُونَ بِإِطْعَامِهِ الْمُطْمَئِنَّةُ الْمُصَدِّقَةُ بِالثَّوَابِ وَقَالَ الْحَسَنُ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ إِذَا أَرَادَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ قَبْضَهَا اطْمَأَنَّتْ إِلَى اللَّهِ وَاطْمَأَنَّ اللَّهُ إِلَيْهَا وَرَضِيَتْ عَنِ اللَّهِ وَرَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا فَأَمَرَ بِقَبْضِ رُوحِهَا وَأَدْخَلَهَا اللَّهُ الْجَنَّةَ وَجَعَلَهُ مِنْ عِبَادِهِ الصَّالِحِينَ وَقَالَ غَيْرُهُ جَابُوا نَقَبُوا مِنْ جِيبِ الْقَمِيصِ قُطِعَ لَهُ جَيْبٌ يَجُوبُ الْفَلَاةَ يَقْطَعُهَا لَمًّا لَمَمْتُهُ أَجْمَعَ أَتَيْتُ عَلَى آخِرِهِ

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: الْوَتْرُ اللَّهُ: (وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ) الوتر هو في اللغة الفرد ومن العدد ما ليس بشفع اى زوج ومنه صلاة الوتر وهو من اسماء الله تعالى وهو الفذ الفرد جل جلاله ويطلق على يوم عرفة وقرا حمزة وعلى بكسر الواو وقرا غيرهما بفتحها

قوله: إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ: يَعْنِي الْقَدِيمَةَ وَالْعِمَادُ أَهْلُ عَمُودٍ لَا يُقِيمُونَ: (أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ۝ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ۝) دَقوم عاد دوه قسمونه دي يوعاد اولى او دونم عادآخره. دلته په آيت کښې "ارم" چه دَ عاد دَ پاره عطف بيان په توګه ذکر شويدې دا دَ دې خبرې دَ خودلو دپاره دې چه دلته دَ عادنه عاداولى او عاد قديمه مراد دى. وړاندې فرمائي چه عماد دَ عمود والا ته وائى اوعمود ستن ته وائى دلته دَ دينه خيمې مراد دى چه هغوى دَ خيمووالا وو، په خيموکښې به اوسيدل په کوموکښې چه دَ ستنواستعمال کيدلو.

قوله: سَوْطَ عَذَابٍ: الَّذِي عُذِّبُوا بِهِ: آيت کښې دى (فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ۝) نوستا رب په هغوى باندې د غذاب کوړا راوړوله. فرمائى سوط عذاب نه هغه څيز مراد دې کوم سره چه هغوى له عذاب ورکړيشو.

قوله: أَكْلًا لَمًّا: السَّفُّ: (وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَمًّا ۝) فرمائى اكلالما معنى ده تيرول، راغونډولو خوړلو ته وائى "لممتة اجمع: اتيت على اخره" کښې دَ دې آخره پورې اورسيدل، راغلل.

قوله: لَبِالْمِرْصَادِ: إِلَيْهِ الْمَصِيرُ: آيت کښې دى (إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ۝) بيشکه ستا رب (دَ نافرمانو) په شيش کښې دې. فرمائى لبالمرصاد معنى ده الله تعالى طرف ته به ټول واپس ځى.

قوله: تَحَاضُّونَ: تُحَافِظُونَ وَتَحُضُّونَ: تَأْمُرُونَ بِإِطْعَامِهِ: آيت کښې دى (وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ ۝) او تاسو نوروته هم دَ مسکينانو دَ خوراك ورکولو ترغيب نه ورکوئى. فرمائى تحاضون په معنى دَ تحافظون دې يعنى مسکين ته دَ خوراك ورکولو حفاظت نه کوئى. او بل قراءت تحضون دې يعنى تاسو دَ خوړلو حکم نه ورکوئى.

قوله: الْمُطْمَئِنَّةُ: الْمُصَدِّقَةُ بِالثَّوَابِ: آيت کښې دى (يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ۝ ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ۝) اې دَ اطمينان والا روحه! ته دَ خپل پروردګار (جواررحمت) طرف ته ځه او داسې چه ته دَ هغه نه خوشحاله او هغه ستانه خوشحاله. فرمائى المطمئنة معنى دَ الله تعالى په ثواب باندې يقين لرونکې اوحضرت حسن بصرى رحمه الله فرمائى نفس مطمئنه هغه دې چه کله الله تعالى هغه راغوښتل غواړى نو چه هغه دَ الله تعالى طرف ته مطمئن وى او الله تعالى ته دَ هغه د طرف نه اطمينان وى. هغه دَ الله نه راضى او خوشحاله او الله تعالى دَ هغه نه راضى اوخوشحال وى. الله تعالى دَ خپل نفس دَ روح قبض کولو حکم ورکوى او هغه جنت ته داخله وى او هغه دَ خپلو نيکانو بنديګانونه جوړوى.

قوله: وَقَالَ غَيْرُهُ: جَابُوا: نَقَبُوا مِنْ جِيبِ الْقَمِيصِ قُطِعَ لَهُ جَيْبٌ يَجُوبُ الْفَلَاةَ: يَقْطَعُهَا: آيت کښې دى (وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ۝) اودَ قوم ثمود سره (څه معامله اوشوه) چه په وادى قرى کښې (دَغر) کاڼړى تراشل. فرمائى آيت کښې جابوا په معنى دَ نقبوا دې يعنى سوړې به ئې کولې. څيرل به ئې کول. جابوا... جيب القميص نه ماخوذ دې کله چه پريکړې

شی او په قمیص کښې جیب لګولې شی هغې ته وائی. یجوب الفلاة: هغه ځنګل قطع کوی.

[۴۲۹] باب: تفسیر سورة لا أقسم

وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَأَنتَ حِلٌّ بِهَٰذَا الْبَلَدِ بِمَكَّةَ لَيْسَ عَلَيْكَ مَا عَلَى النَّاسِ فِيهِ مِنَ الْإِثْمِ وَوَالِدٍ آدَمَ وَمَا وَلَدَ لُبَدًا كَثِيرًا وَالنَّجْدَيْنِ الْخَيْرُ وَالشَّرُّ مَسْغَبَةٍ مَجَاعَةٍ مَتْرَبَةٍ السَّاقِطُ فِي التُّرَابِ يُقَالُ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ فَلَمْ يَقْتَحِمِ الْعَقَبَةَ فِي الدُّنْيَا ثُمَّ فَسَّرَ الْعَقَبَةَ فَقَالَ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ فَكُّ رَقَبَةٍ أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: بِهَٰذَا الْبَلَدِ: بِمَكَّةَ لَيْسَ عَلَيْكَ مَا عَلَى النَّاسِ فِيهِ مِنَ الْإِثْمِ: آیت کښې دی ﴿لَا أُقْسِمُ بِهَٰذَا الْبَلَدِ ۝ وَأَنتَ حِلٌّ بِهَٰذَا الْبَلَدِ ۝﴾ زه قسم خورم دَ دې ښار(مکې) او ستا دَ پاره په دې ښارکښې جنګ کول حلال کیدونکې دې، مجاهد رحمه الله فرمائی چه بهذاالبلد نه مراد مکه ده یعنی په تاباندې (قتال حلال کولوکښې) ګناه نشته کومه چه په نورو خلقو کښې په دې باندې ګناه ده. علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله دَ دې آیت لاندې لیکی: "په مکه کښې په هر سړی باندې دَ جنګ ممانعت دې مګر دَ حضور ﷺ دَ پاره دَ مکې دَ فتح په ورځ دا ممانعت نه وو پاتې، څوك چه هغوی ﷺ سره اوجنګیدل هغه ئې اووهلو او بعضې سنګین مجرمان ئې خاص دَ کعبې دیوال سره قتل کړل.بیا دَ هغه ورځ نه پس دا ممانعت ترقیامته پورې قائم شو. په دې آیت کښې دَ مکې قسم خوړلو سره دَ هغه مشکلاتو او سختو طرف ته اشارفرمائیلې ده، په کوم کښې چه انسان تیریږی او هغه وخت کښې دَ دنیا دَ ټولو نه بزرګ انسان هم په دې ښار کښې دَ دښمنانو طرف نه ډیرې زیاتې سختئی تیرولې دَ دې دَ پاره په منیځ کښې جمله معترضه ﴿وَأَنتَ حِلٌّ بِهَٰذَا الْبَلَدِ ۝﴾ فرمائیلوسره تسلی ورکړه چه ستا احترام دَ دې ښار په جاهلانوکښې نشته خویووخت داسې راتلل غواړی چه ستا به هم په دې ښارکښې فاتحانه داخله وی او دَ دې مقدس مقام دَ همیشه پاکوالی او تقدیس دَ پاره مجرمانوته سزا ورکولو هم تا ته اجازت دې.

تنبیه: بعضو ﴿وَأَنتَ حِلٌّ بِهَٰذَا الْبَلَدِ ۝﴾ معنی وانت نازل دَ پاره دې یعنی زه دَ دې ښارقسم خورم چه ته په دې ښارکښې پیداکړیشوې او پاتې شوې.

قوله: وَوَالِدٍ: آدَمَ وَمَا وَلَدَ: آیت کښې دی ﴿وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ۝﴾ قسم دې دَ پلار او اولاد. فرمائی والد نه حضرت ادم علیه السلام او ماولد نه دَ هغه اولاد مراد دې.

قوله: لُبَدًا: كَثِيرًا: آیت مبارك کښې دی ﴿يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ۝﴾ وائی ما ډیرمال خرچ کړو. لبدا په معنی دَ کثیرا دې یعنی ډیر مال.

قوله: النَّجْدَيْنِ: الْخَيْرُ وَالشَّرُّ: آیت کښې دی ﴿وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ ۝﴾ اوهغه ته دواړه لارې دَ خیر او شر اوخودلې نجدین معنی خیراوشر.

قوله: مَسْغَبَةٍ: مَجَاعَةٍ: آیت مبارك کښې دی ﴿أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ ۝﴾ یا خوراك ورکول دَ

نهرې په ورځ. فرمائی مسغبة په معنی دَ مجاعة ده يعنی ولږه، نهره.

قوله: مَتْرَبَةٍ: السَّاقِطُ فِي التُّرَابِ :آيت مبارك كښې دى (أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ) يا يو فقير محتاج ته خوراك ورکول. فرمائی مترېة معنی داسې محتاج په په خاورو کښې ککړوى.

قوله: يُقَالُ: فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ: فَلَمْ يَقْتَحِمِ الْعَقَبَةَ فِي الدُّنْيَا : په آيت کښې دى "فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ" مګر هغه سړې دَ دين دَ کندې نه دې وتلې(دَدين کارونو يعنی طاعات او عبادات ته په دې وجه کنده اووئيلې شوه چه په نفس باندې ګران دى) فرمائی "فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ" معنی هغه په دنيا کښې کنده باندې نه دې تيرشوې.

[٤٣٠] باب: تفسير سُورَةُ وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا

وَقَالَ مُجَاهِدٌ بِطَغْوَاهَا بِمَعَاصِيهَا وَلَا يَخَافُ عُقْبَاهَا عُقْبَى أَحَدٍ

[٤٦٥٨] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَمْعَةَ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ وَذَكَرَ النَّاقَةَ وَالَّذِي عَقَرَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذِ انْبَعَثَ أَشْقَاهَا انْبَعَثَ لَهَا رَجُلٌ عَزِيزٌ عَارِمٌ مَنِيعٌ فِي رَهْطِهِ مِثْلُ أَبِي زَمْعَةَ وَذَكَرَ النِّسَاءَ فَقَالَ يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ فَيَجْلِدُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ فَلَعَلَّهُ يُضَاجِعُهَا مِنْ آخِرِ يَوْمِهِ ثُمَّ وَعَظَهُمْ فِي ضَحِكِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ وَقَالَ لِمَ يَضْحَكُ أَحَدُكُمْ مِمَّا يَفْعَلُ وَقَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَمْعَةَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلُ أَبِي زَمْعَةَ عَمِّ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: بِطَغْوَاهَا: بِمَعَاصِيهَا :آيت کښې دى (كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَاهَا) قوم ثمود دَ خپل شرارت په وجه (دصالح عليه السلام) تکذيب اوکړو. مجاهد رحمه الله فرمائی چه طغواها نه ګناه مراد ده.

قوله: وَلَا يَخَافُ عُقْبَاهَا: عُقْبَى أَحَدٍ: اوالله تعالى ته دَ دې هلاکت په انجام کښې دَ څه خرابئ (دَ چانه) انديښنه اونه شوه. عقباها تفسيرکښې فرمائی عقبى احد يعنی الله تعالى ته دَ هيڅ چا دَ انجام انديښنه نشته چه څوك به دَ هغه نه بدله واخلى.

[٤٣١] باب: تفسير سُورَةُ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى بِالْخَلَفِ :آيت کښې دى (وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى) اوښه خبره (يعنی ملت اسلام) ئې دروغ اوګڼړو، حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه حسنى نه انجام اودَ اعمالوثواب او بدله مراد دې.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ تَرَدَّى مَاتَ وَتَلَظَّى تَوَهَّجُ وَقَرَأَ عُبَيْدُ بْنُ عُمَيْرٍ تَتَلَظَّى :آيت

مبارك كښې دى ﴿وَمَا يُغْنِىْ عَنْهُ مَالُهٗۤ اِذَا تَرَدّٰىؕ﴾ دَ هغه مال به دَ هغه هيڅ پكار رانشى كله چه هغه هلاك كيږى.. تردى په معنى هلاك شوې مړشوې.

قوله: تَلَظّٰى : تَوَهَّجُ:آيت مبارك كښې دى ﴿فَاَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظّٰىۚ﴾ ما تاسو دَ يو سور كړيشوى اور نه ويرولې ئى. تلظى په معنى توهج يعنى شغلې.

[٤٣٢] بَاب وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى

[٤٦٥٩] (١) حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ بْنُ عُقْبَةَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ دَخَلْتُ فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ عَبْدِ اللَّهِ الشَّامَ فَسَمِعَ بِنَا أَبُو الدَّرْدَاءِ فَأَتَانَا فَقَالَ أَفِيكُمْ مَنْ يَقْرَأُ فَقُلْنَا نَعَمْ قَالَ فَأَيُّكُمْ أَقْرَأُ فَأَشَارُوا إِلَيَّ فَقَالَ اقْرَأْ فَقَرَأْتُ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى قَالَ أَنْتَ سَمِعْتَهَا مِنْ فِي صَاحِبِكَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ وَأَنَا سَمِعْتُهَا مِنْ فِي النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَؤُلَاءِ يَأْبَوْنَ عَلَيْنَا

[٤٣٣] بَاب وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى

[٤٦٦٠] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ قَدِمَ أَصْحَابُ عَبْدِ اللَّهِ عَلَى أَبِي الدَّرْدَاءِ فَطَلَبَهُمْ فَوَجَدَهُمْ فَقَالَ أَيُّكُمْ يَقْرَأُ عَلَى قِرَاءَةِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كُلُّنَا قَالَ فَأَيُّكُمْ أَحْفَظُ فَأَشَارُوا إِلَى عَلْقَمَةَ قَالَ كَيْفَ سَمِعْتَهُ يَقْرَأُ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى قَالَ عَلْقَمَةُ وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى قَالَ أَشْهَدُ أَنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ هَكَذَا وَهَؤُلَاءِ يُرِيدُونِي عَلَى أَنْ أَقْرَأَ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى وَاللَّهِ لَا أُتَابِعُهُمْ

"والذكر والانثى" دا قراءت منسوخ دې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه او حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه دواړو ته دَ نسخ علم نه وو شوې په دې وجه به دواړو "والذكر والانثى" لوستلو (٢)

[٤٣٤] بَاب قَوْلِهِ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى

[٤٦٦١] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَقِيعِ الْغَرْقَدِ فِي جَنَازَةٍ فَقَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنْ الْجَنَّةِ وَمَقْعَدُهُ مِنْ النَّارِ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا نَتَّكِلُ فَقَالَ اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ ثُمَّ قَرَأَ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى

---

(١) وايضاً باب وما خلق الذكروالانثى رقم الحديث ٤٦٦٠:واخرجه مسلم فى الصلوة باب مايتعلق بالقرات رقم الحديث ٨٢٤:واخرجه الترمذى فى القراءة باب من سورة الليل رقم الحديث ٢٩٣٩:واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى التفسيرباب سورة الليل رقم الحديث-١١٦٧٦/١:

(٢) فتح البارى-٨/٦٠٧:

وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى إِلَى قَوْلِهِ لِلْعُسْرَى حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا قُعُودًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ نَحْوَهُ

[۴۳۶] بَاب فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى

[۴۶۶۳] حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ فِي جَنَازَةٍ فَأَخَذَ عُودًا يَنْكُتُ فِي الْأَرْضِ فَقَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ أَوْ مِنَ الْجَنَّةِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا نَتَّكِلُ قَالَ اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى الْآيَةَ قَالَ شُعْبَةُ وَحَدَّثَنِي بِهِ مَنْصُورٌ فَلَمْ أُنْكِرْهُ مِنْ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ

[۴۳۷] بَاب قَوْلِهِ وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَى

[۴۶۶۴] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَمَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا نَتَّكِلُ قَالَ لَا اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ ثُمَّ قَرَأَ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى إِلَى قَوْلِهِ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى

[۴۳۸] بَاب قَوْلُهُ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى

[۴۶۶۵] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا فِي جَنَازَةٍ فِي بَقِيعِ الْغَرْقَدِ فَأَتَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَعَدَ وَقَعَدْنَا حَوْلَهُ وَمَعَهُ مِخْصَرَةٌ فَنَكَّسَ فَجَعَلَ يَنْكُتُ بِمِخْصَرَتِهِ ثُمَّ قَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ وَمَا مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ إِلَّا كُتِبَ مَكَانُهَا مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ وَإِلَّا قَدْ كُتِبَتْ شَقِيَّةً أَوْ سَعِيدَةً قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا نَتَّكِلُ عَلَى كِتَابِنَا وَنَدَعُ الْعَمَلَ فَمَنْ كَانَ مِنَّا مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ فَسَيَصِيرُ إِلَى عَمَلِ أَهْلِ السَّعَادَةِ وَمَنْ كَانَ مِنَّا مِنْ أَهْلِ الشَّقَاءِ فَسَيَصِيرُ إِلَى عَمَلِ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ قَالَ أَمَّا أَهْلُ السَّعَادَةِ فَيُيَسَّرُونَ لِعَمَلِ أَهْلِ السَّعَادَةِ وَأَمَّا أَهْلُ الشَّقَاوَةِ فَيُيَسَّرُونَ لِعَمَلِ أَهْلِ الشَّقَاءِ ثُمَّ قَرَأَ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى الْآيَةَ

[٤٣٩] بَاب فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى

[٤٦٦٦] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْأَعْمَشِ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ عُبَيْدَةَ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةٍ فَأَخَذَ شَيْئًا فَجَعَلَ يَنْكُتُ بِهِ الْأَرْضَ فَقَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ وَمَقْعَدُهُ مِنَ الْجَنَّةِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا نَتَّكِلُ عَلَى كِتَابِنَا وَنَدَعُ الْعَمَلَ قَالَ اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ أَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ فَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ أَهْلِ السَّعَادَةِ وَأَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الشَّقَاءِ فَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ ثُمَّ قَرَأَ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى الْآيَةَ

قوله: إِلَّا وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ وَمَقْعَدُهُ مِنَ الْجَنَّةِ: بعض حضراتو "ومقعده من الجنة" واؤ دَ "او" په معنی کښې اخستې دې او په بعض رواياتوکښې "او" موجود هم دې، مطلب دا دې چه يا جنت کښې دَ هغه ځائ ليکلې شوې دې يا دوزخ کښې. داسې نه ده چه دواړو ځايونوکښې دې. خو دا خبره صحيح نه ده ځکه چه په بعضو رواياتوکښې صفاصفا دَ دې صراحت موجود دې چه دَ هر سړی ځائ په جنت او دوزخ دواړوکښې وی(١)اوس دا يوه بله خبره ده چه که ده ته جنت ملاؤ شی نودَ دوزخ ځائ به دَ ده دَ پاره نه وی او چه دوزخ ملاؤ شی نو دَجنت ځائ به دَ ده دَ پاره نه وی (٢)

[٤٤٠] بَاب: تفسير سُورَةُ وَالضُّحَى

وَقَالَ مُجَاهِدٌ إِذَا سَجَى اسْتَوَى وَقَالَ غَيْرُهُ سَجَى أَظْلَمَ وَسَكَنَ عَائِلًا ذُو عِيَالٍ

آيت مبارك کښې سجی معنی استوی يعنی چه کله شپه دَ ورځې برابره شی او دَ مجاهد نه غير وائی چه سجی معنی اظلم وسکن يعنی چه کله شپه تياره او خاموشه شی.

قوله: عَائِلًا: فَاغْنِي ذُو عِيَالٍ: آيت کښې دی ﴿وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ﴾ او الله تعالی ته ناچاره اوليدلې نو مالداره ئی جوړکړې. فرمائی عائلا معنی عيال دار، بال بچه دار، دا دَ ابوعبيده تفسير دې، جمهور مفسرين عائلا معنی نادار او فقير اخلی.

[٤٦٦٧] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا الْأَسْوَدُ بْنُ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدُبَ بْنَ سُفْيَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ اشْتَكَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَقُمْ لَيْلَتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا فَجَاءَتِ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ يَكُونَ شَيْطَانُكَ قَدْ تَرَكَكَ لَمْ أَرَهُ قَرِبَكَ مُنْذُ

---

(١) فيض البارى-٤/٢٥٦:

(٢) په دې حديث باندې تفصيلی بحث به وړاندې په كتاب القدر كښې ان شاء الله راځی-

لَيْلَتَيْنِ أَوْ ثَلاثَةٍ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَالضُّحَى وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى قَوْلُهُ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى تُقْرَأُ بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ بِمَعْنًى وَاحِدٍ مَا تَرَكَكَ رَبُّكَ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مَا تَرَكَكَ وَمَا أَبْغَضَكَ

[٤٤١] بَاب مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى

[٤٦٦٨] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدُبًا الْبَجَلِيَّ قَالَتْ امْرَأَةٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا أُرَى صَاحِبَكَ إِلَّا أَبْطَأَكَ فَنَزَلَتْ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى

دلته دَ اسودبن قيس ړومبنې او دوئم روايت كښې عنوان بدل دې، په اول روايت كښې سوال كونكې ښځې دَ "يامحمد" نو واخستو او سوال ئې اوكړو او په دوئم روايت كښې "يارسول الله" دې دغه شان په اولنى روايت كښې "ان يكون شيطانك..." راغلې دې او په دوئم كښې "ان يكون صاحبك....." راغلې دې. حافظ ابن حجر رحمه الله او كشميرى رحمه الله رائې دا ده چه په اولنى روايت كښې سوال كونكې ښځه كافره ، ابولهب ښځه ام جميل ده او په دوئم روايت كښې سوال كونكې ښځه ام المؤمنين حضرت خديجه رضي الله عنها ده.[1]

او دا هم كيديشى چه دَ اسود بن قيس نه روايت كونكې شعبه دې. ممكنه ده چه هغه روايت بالمعنى كړې وى ګنى اصل خبره هم هغه ده چه دَ ابولهب ښځې دا سوال كړې وو لكه چه په ړومبى روايت كښې دى[2]

[٤٤٢] باب: تفسير سُورَةُ أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ وِزْرَكَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْقَضَ أَثْقَلَ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ أَيْ مَعَ ذَلِكَ الْعُسْرِ يُسْرًا آخَرَ كَقَوْلِهِ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ وَلَنْ يَغْلِبَ عُسْرٌ يُسْرَيْنِ وَقَالَ مُجَاهِدٌ فَانْصَبْ فِي حَاجَتِكَ إِلَى رَبِّكَ وَيُذْكَرُ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: وِزْرَكَ: فِي الْجَاهِلِيَّةِ: ﴿وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ﴾ مجاهد رحمه الله فرمائى چه دَ ﴿وِزْرَكَ﴾ نه مراد هغه غيرافضل كار دې چه دَ حضور اكرم ﷺ نه دَ نبوت نه وړاندې صادر شوې وو هغه دلته په وزر سره تعبير كړې شو.

قوله: أَنْقَضَ: أَثْقَلَ: آيت كښې دى ﴿الَّذِي أَنقَضَ ظَهْرَكَ﴾ كوم چه دَ هغه ملاماته كړې وه.

---

[1]) فتح البارى ٨/٧١١:وفيض البارى-٤/٢٥٢:

[2]) شرح الكرمانى-١٨/١٩٧:

فرمائی انقض په معنی دَ اثقل دې یعنی وزندار کړو.

قوله: مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا: ابن عینیه فرمائی چه دَ دې مطلب دا دې چه گران سره یوه آسانی ده. دَ معانی او بلاغت قاعده ده چه کله کلمه معرف باللام مکرر راشی نودَ دواړو مصداق یو وی لیکن که نکره مکرر وی نو په هغه صورت کښې به دَ دواړو مصداق جدا جدا وی. دلته العسر مکرر راغلې دې او معرف باللام دې په دې وجه په دواړوځایونوکښې یو مراد دې. او یسرا مکرر راغلې دې او نکره دې په دې وجه دَ دواړو مصداق جدا جدا دې کوم نه چه نتیجه دا راوتله چه هم په یو عسر سره دَ دوو آسانو وعده ده.(۱) هم دې قاعدې ته اشاره کولوسره ابن عینیه رحمه الله فرمائی "ای مع ذلك العسر یسرا آخر" دې یوې تنګئی سره یوه آسانی به بله وی. کقوله: (هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ) یعنی څنګه چه دَ مؤمن دَ پاره په دې آیت کښې دَ تعدد حسنیین زیرې دې، دغه شان په دې سورة کښې هم دَ تعدد یسر خبر ورکړیشوې دې.

قوله: فَانْصَبْ فِي حَاجَتِكَ إِلَى رَبِّكَ: آیت کښې دی (فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ) نو چه کله تاسو دَ (تبلیغی احکامونه) فارغ شئی نو (په نورو عباداتو متعلقه بذات خاص کښې) محنت کوئی. مجاهد رحمه الله فرمائی فانصب معنی ده دَ خپل رب نه په خپل حاجت کښې خواری کوه.

[۴۴۳] باب: تفسیر سُورَةُ وَالتِّينِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ هُوَ التِّينُ وَالزَّيْتُونُ الَّذِي يَأْكُلُ النَّاسُ يُقَالُ فَمَا يُكَذِّبُكَ فَمَا الَّذِي يُكَذِّبُكَ بِأَنَّ النَّاسَ يُدَانُونَ بِأَعْمَالِهِمْ كَأَنَّهُ قَالَ وَمَنْ يَقْدِرُ عَلَى تَكْذِيبِكَ بِالثَّوَابِ وَالْعِقَابِ

قوله: وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ: مجاهد رحمه الله فرمائی چه دَ تین او زیتون نه هم هغه مشهورې میوې مراد دی کومې چه خلق خوری. په آیت مبارك کښې دی (فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ) بیاهغه څه څیز دې چه ستا په تکذیب باندې اماده کوی. په دې باره کښې چه خلق به دَ خپلو اعمالوبدله بیامومی، نولکه چه داسې اووئیل څوك قدرت لری دَ ثواب او عقاب متعلق ستا په تکذیب باندې.

[۴۶۶۹] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَدِيٌّ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي سَفَرٍ فَقَرَأَ فِي الْعِشَاءِ فِي إِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ بِالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ تَقْوِيمِ الْخَلْقِ

۱) الکشاف عن حقائق غوامض التنزیل ۴/۷۷۱ :وفتح الباری-۸/۷۱۲:

[۴۴۴] باب: تفسير سورة اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِى خَلَقَ

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ عَتِيقٍ عَنِ الْحَسَنِ قَالَ اكْتُبْ فِي الْمُصْحَفِ فِي أَوَّلِ الإِمَامِ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ وَاجْعَلْ بَيْنَ السُّورَتَيْنِ خَطًّا وَقَالَ مُجَاهِدٌ نَادِيَهُ عَشِيرَتَهُ الزَّبَانِيَةَ الْمَلاَئِكَةَ وَقَالَ مَعْمَرٌ الرُّجْعَى الْمَرْجِعُ لَنَسْفَعَنْ قَالَ لَنَأْخُذَنْ وَلَنَسْفَعَنْ بِالنُّونِ وَهِيَ الْخَفِيفَةُ سَفَعْتُ بِيَدِهِ أَخَذْتُ

حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه دَ سورة فاتحه په شروع کښې بسم الله ليکه، وړاندې دَ نورو سورتونو په شروع کښې يوخط دَ علامت فاصلې په توګه ليکه. علامه سهيلی دَ حضرت حسن بصری رحمه الله قول ردکړيدې اوفرمائيلی دی "فيه شذوذ" ولې چه ټولوصحابه کرامو به دَ سورة په شروع کښې بسم الله ليکله.[۱]

قوله: نَادِيَهُ: عَشِيرَتَهُ: آيت کښې دی ﴿فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ﴾ نودوی دې خپل مجلس والا راوغواړی. فرمائی نادیه معنی خپله ټبله.

قوله: الزَّبَانِيَةَ: الْمَلاَئِكَةَ: آيت کښې دی ﴿سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ﴾ زبانية نه فرښتې مراد دی.

قوله: الرُّجْعَى: الْمَرْجِعُ: آيت کښې دی ﴿إِنَّ إِلَى رَبِّكَ الرُّجْعَى﴾ هم ستا رب طرف ته به ټول واپس کيږی. رجعی په معنی دَ مرجع دې يعنی واپس کيدل دامصدردې.

قوله: لَنَسْفَعًا: لَنَأْخُذَنْ وَلَنَسْفَعَنْ بِالنُّونِ وَهِيَ الْخَفِيفَةُ سَفَعْتُ بِيَدِهِ: أَخَذْتُ: آيت کښې دی ﴿كَلَّا لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ﴾ هيڅ کله (داسې) نه (دی کول پکار) که داسړې منع نه شو نو مونږ به ئی دَ سر نه اونيسو رابه ئی کاږو. فرمائی لنسفعن معنی مونږ به ئی ضرور اونيسو. په دې کښې نون خفيفه دې وائی سفعت بيده يعنی ما هغه دَ لاس نه اونيولو.

[۴۶۷۰] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ مَرْوَانَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَةَ أَخْبَرَنَا أَبُو صَالِحٍ سَلْمُوَيْهِ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ أَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَتْ كَانَ أَوَّلَ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - الرُّؤْيَا الصَّادِقَةُ فِي النَّوْمِ، فَكَانَ لاَ يَرَى رُؤْيَا إِلاَّ جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ، ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلاَءُ فَكَانَ يَلْحَقُ بِغَارِ حِرَاءٍ فَيَتَحَنَّثُ فِيهِ - قَالَ وَالتَّحَنُّثُ التَّعَبُّدُ - اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهِ، وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ فَيَتَزَوَّدُ بِمِثْلِهَا، حَتَّى فَجِئَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ

[۱] عمدة القاری-۱۹/۳۰۳:

حِرَاءٍ فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «مَا أَنَا بِقَارِءٍ». قَالَ «فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ اقْرَأْ. قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِءٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ اقْرَأْ. قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِءٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ * خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ * الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ) ». الآيَاتِ إِلَى قَوْلِهِ (عَلَّمَ الإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ) فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - تَرْجُفُ بَوَادِرُهُ حَتَّى دَخَلَ عَلَى خَدِيجَةَ فَقَالَ « زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي ». فَزَمَّلُوهُ حَتَّى ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ قَالَ لِخَدِيجَةَ « أَيْ خَدِيجَةُ مَا لِي، لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي ». فَأَخْبَرَهَا الْخَبَرَ. قَالَتْ خَدِيجَةُ كَلاَّ أَبْشِرْ، فَوَاللَّهِ لاَ يُخْزِيكَ اللَّهُ أَبَدًا، فَوَاللَّهِ إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ، وَتَصْدُقُ الْحَدِيثَ، وَتَحْمِلُ الْكَلَّ، وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ. فَانْطَلَقَتْ بِهِ خَدِيجَةُ حَتَّى أَتَتْ بِهِ وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلٍ وَهُوَ ابْنُ عَمِّ خَدِيجَةَ أَخِي أَبِيهَا، وَكَانَ امْرَأً تَنَصَّرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ يَكْتُبُ الْكِتَابَ الْعَرَبِيَّ وَيَكْتُبُ مِنَ الإِنْجِيلِ بِالْعَرَبِيَّةِ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَكْتُبَ، وَكَانَ شَيْخًا كَبِيرًا قَدْ عَمِيَ فَقَالَتْ خَدِيجَةُ يَا ابْنَ عَمِّ اسْمَعْ مِنِ ابْنِ أَخِيكَ. قَالَ وَرَقَةُ يَا ابْنَ أَخِي مَاذَا تَرَى فَأَخْبَرَهُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - خَبَرَ مَا رَأَى. فَقَالَ وَرَقَةُ هَذَا النَّامُوسُ الَّذِي أُنْزِلَ عَلَى مُوسَى، لَيْتَنِي فِيهَا جَذَعًا، لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا. ذَكَرَ حَرْفًا. قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ ». قَالَ وَرَقَةُ نَعَمْ لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ بِمَا جِئْتَ بِهِ إِلاَّ أُوذِيَ، وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ حَيًّا أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا. ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ، وَفَتَرَ الْوَحْىُ، فَتْرَةً حَتَّى حَزِنَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -

د سند توضيح: دلته په سند کښې تحويل دې. او دوه سندونه دى. دَ اول سند الفاظ امام بخارى رحمه الله "بدء الوحى" کښې ذکر کړى دى اودَ تحويل نه پس چه کوم سند ثانى دې هغه دَ سعيدبن مروان بغدادى نه شروع کيږى دَ هغې الفاظ دلته بيان شوى دى.

په ړومبى سندکښې امام بخارى او ابن شهاب زهرى په مينځ کښې درې واسطې دى ①يحيى بن بکير ②ليث بن سعد ③ عقيل.

دغه شان په دوئم سند کښې دَ امام بخارى او ابن شهاب زهرى په مينځ کښې پنځه واسطې دى ① سعيدبن مروان ②محمدبن عبدالعزيز ③ابوصالح سلمويه ④عبدالله بن مبارک ⑤يونس بن يزيد، دې نه پس بيا زهرى دَ حضرت عروه او حضرت عائشه رضى الله عنها نه روايت کوى. دغه شان دَ امام بخارى نه دَ نبى کريم ﷺ پورې اته واسطې دى په دې وجه دې روايت ته ثمانى الاسناد وائى. دَ ړومبى سند دَ رجال تعارف "بدء الوحى" کښې شوې دې، په دوئم سندکښې دَ امام بخارى شيخ سعيدبن مروان دې.

سعيد بن مروان: دَ هغوى کنيت ابوعثمان دې او دَ بغدادى په نسبت دَ هغه ذکر کولې شى،

دي دَ امام بخاری دَ طبقې دي او دَ هغه په بخاری شریف کښې همدغه یوروایت دې.(۱) دا سعیدبن سلیمان واسطی، سلیمان بن حرب، سویدبن سعید، محمدبن عبدالعزیز بن ابی رزمه نه روایت کوی اوده نه ابراهیم بن اسحاق، احمدبن سلمه، محمدبن اسحاق بن خزیمه او امام بخاری روایت نقل کړیدې.(۲)دَ هغوی وفات دَ امام بخاری نه څلور کاله پس شویدې.(۳) حاکم ابوعبدالله نیشاپوری فرمائی چه دَهغوی وفات دَ پیرپه ورځ ۱۵ شعبان کال ۲۵۲ هجری نیشاپورکښې اوشو او محمدبن یحیی ذهلی دَ هغوی جنازه اوکړه.(۴) سعید بن ابوعثمان یو بل هم دې، هغه "ازدی رهاوی" په نسبت سره یادیږی. بعض حضراتو وئیلی چه دواړه یو دی لیکن صحیح خبره داده چه دواړه جداجدا دی. (۵)

محمدبن عبدالعزیز بن ابی رزمه: دوی دَ "مروزي" په نسبت سره یادولې شی، په محدثینو کښې دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله دَ طبقې دي. دَ بخاری دَ شیوخو دَوسطی طبقې سره تعلق لری. دَ هغوی په بخاری شریف کښې صرف دغه یو روایت دې. (۶)ابوحاتم دَ هغوی باره کښې فرمائی :صدوق (۷)امام نسائی رحمه الله اودارقطنی فرمائی: **ثقة**(۸)ابن حبان کتاب الثقات کښې دَ هغوی ذکر کړیدې. (۹) دَ هغوی وفات ۲۴۱ه کښې شوې. (۱۰)

قوله: اخبرنا ابوصالح سلموية:

ابوصالح سلمویه:دَ هغوی نوم سلیمان بن صالح دې، سلیمان سلمویه جوړشو، دَنحویانو دَ قاعدې مطابق هغه سلمویه لوستلې شی او محدثین هغه ته سلمویه وائی. دې دَ بخاری استاذ الاستاذ محمدبن عبدالعزیز دَ طبقې دې اودَ عبدالله بن مبارک دَ مخصوص استاذانو نه دې اوِدَ هغوی نه په کثرت سره روایات مشهور دی. امام بخاری دَ عمر په لحاظ سره دَ هغوی دَ پاڼې نه شمیرلې کیږی لیکن دَ امام ملاقات هغوی سره نه دې شوې.دَ هغوی وفات

---

(۱) عمدة القاری ۱۹/۳۰۳:وفتح الباری-۸/۷۱۶:
(۲) تهذیب الکمال-۵۷-۱۱/۵۶:
(۳) عمدة القاری-۱۹/۳۰۳:
(۴) تهذیب الکمال ۵۷-۱۱/۵۶: دَ هغوی دَ حالاتودَپاره اوګورئی تاریخ بغدادی ۹/۹۱ :والجمع لابن القیسر انی ۱/۱۷٤:والکاشف/۱: الترجمه ۱۹۷۵وخلاصة الخزرجی/۱:الترجمة-۲۵۳۶
(۵) تعلیقات تهذیب الکمال-۱۱/۵۶:
(۶) عمدة القاری ۱۹/۳۰۳:وفتح الباری-۸/۷۱۶:
(۷) الجرح والتعدیل/۸:الترجمة-۳۰
(۸) تهذیب الکمال-۱/۲۶:
(۹) ثقات ابن حبان-۹/۹۵:
(۱۰) تهذیب الکمال-۲۶/۱۰: دَ هغوی دَ حالاتودَپاره اوګورئی تاریخ الکبیر/۱:الترجمة ٤۹۸:و الجرح والتعدیل/۸:الترجمة ۳۰ وتهذیب التهذیب ۹/۳۱۲وخلاصة الخزرجی/۲:الترجمة-٦٤۵۳

په ۲۱۰ ھ کښې شوې.(۱) د حافظ ابن حجر او علامه عینی مطابق ابوصالح سلمویه په صحیح بخاری کښې همدغه یو روایت دې.(۲) لیکن هغوی ته سهو شوې ده ځکه چه د ابوصالح سلمویه یو روایت کتاب الکفاله کښې هم راغلې دې.(۳) هلته کښې حافظ پخپله د دې تصریح هم کړیده چه د حدیث راوی ابوصالح سلمویه دې.(۴)- دا روایت په بدء الوحی کښې تیرشوې دې او هلته په دې تفصیلی بحث شویدې.

[۴۶۷۱] قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي أَبُوسَلَمَةَ أَنَّ جَابِرَبْنَ عَبْدِاللّٰهِ الْأَنْصَارِيَّ-رضی الله عنهما- قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صلی الله علیه وسلم- وَهُوَيُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ قَالَ فِي حَدِيثِهِ «بَيْنَا أَنَا أَمْشِي سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ فَرَفَعْتُ بَصَرِي، فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ جَالِسٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَفَرِقْتُ مِنْهُ فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي». فَدَثَّرُوهُ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى (يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ * قُمْ فَأَنْذِرْ * وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ * وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ * وَالرِّجْزَ فَاهْجُرْ). قَالَ أَبُوسَلَمَةَ وَهِيَ الْأَوْثَانُ الَّتِي كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَعْبُدُونَ. قَالَ ثُمَّ تَتَابَعَ الْوَحْيُ

دا تعلیق نه دې بلکه ماقبل دوسندونوسره موصول دې. نوعلامه عینی لیکی هذا موصول بالاسنادین المذکورین فی اول الباب.(۵)

[۴۴۵] بَاب قَوْلِهِ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ

[۴۶۷۲] حَدَّثَنَا ابْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ

[۴۴۶] بَاب قَوْلِهِ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ

[۴۶۷۳] حَدَّثَنَا عَبْدُاللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُالرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ ح وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ قَالَ مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّادِقَةُ جَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ

---

(۱) عمدة القاری ۱۹/۳۰۳: وفتح الباری -۸/۷۱۶:
(۲) عمدة القاری ۱۹/۳۰۳: وفتح الباری-۸/۷۱۶:
(۳) صحیح بخاری مع فتح الباری کتاب الکفاله باب جوارابی بکر فی عهد النبی) وعقده رقم الحدیث-۲۲۹۷
(۴) فتح الباری ۴۷۷-۴۷۶/ ٤: کتاب الکفاله
(۵) عمدة القاری-۱۹/۳۰۷:

[۴۴۷] باب الذى علم بالقلم

[۴۶۷۴] حدثنا عبد الله بن يوسف حدثنا الليث عن عقيل عن ابن شهاب قال سمعت عروة قالت عائشة رضى الله عنها فرجع النبى صلى الله عليه وسلم إلى خديجة فقال زملونى زملونى فذكر الحديث

[۴۴۸] باب كلا لئن لم ينته لنسفعن بالناصية ناصية كاذبة خاطئة

[۴۶۷۵] حدثنا يحيى حدثنا عبد الرزاق عن معمر عن عبد الكريم الجزرى عن عكرمة قال ابن عباس قال أبو جهل لئن رأيت محمدا يصلى عند الكعبة لأطأن على عنقه فبلغ النبى صلى الله عليه وسلم فقال لو فعله لأخذته الملائكة تابعه عمرو بن خالد عن عبيد الله عن عبد الكريم

[۴۴۹] باب: تفسير سورة إنا أنزلناه (القدر)

يقال المطلع هو الطلوع والمطلع الموضع الذى يطلع منه أنزلناه الهاء كناية عن القرآن إنا أنزلناه خرج مخرج الجميع والمنزل هو الله والعرب توكد فعل الواحد فتجعله بلفظ الجميع ليكون أثبت وأوكد

آيت كښې دى ﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ﴾ فرمائى انزلناه كښې هاضمير دَ قرآن كريم طرف ته راجع دې سره د دې نه چه دَ قرآن لفظ اول نه دې ذکر مگرحکماً مذکور دې او سياق په دې باندې دلالت کوى. امام بخارى دلته دَ ابوعبيده "مجاز القرآن" عبارت نقل کړيدې چه په دې سورة کښې انا انزلنا دَ جمع صيغه استعمال شويده حالانکه قرآن نازل کونکې خو صرف يو الله دې، نودا دِ جمع صيغه د دې دَ پاره استعمال شويده چه اهل عرب دَ واحد دَ فعل دَ تاکيد په غرض دَ جمع صيغه تعبير کوى. دا خبره هغوى کړې ده چه کله په اهل عرب کښې مشهوره ده چه د تعظيم په غرض واحد فعل دَ جمع سره تعبير کوى، امام بخارى دغه شان د ابوعبيده خبرې بغيرد تحقيق نه نقل کوى. دَ دې نتيجه دا ده چه کتاب التفسير کښې ډير اقوال مرجوح دى.

قوله: يقال المطلع هو الطلوع والمطلع الموضع الذى يطلع منه: آيت کښې دى ﴿سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ﴾ (اوهغه شپه) ټوله سلام دې (او) هغه شپه دَ قدرد سحرد راختوپورې وى. فرمائى مطلع (په فتح دَ لام مصدر ميمى) په معنى دَ طلوع دې، اوهمدغه دَ جمهورو قراءت دې او مطلع (په کسر دَ لام) ظرف مکان دې يعنى هغه ځائ کوم ځائ نه چه نمر راخيژى.

[۴۵۰] باب: تفسير سورة لم يكن

منفكين زائلين قيمة القائمة دين القيمة أضاف الدين إلى المؤنث

قوله: مُنْفَكِّيْنَ: زَائِلِيْنَ: آیت کښې دی (لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ مُنْفَكِّيْنَ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ) کوم خلق چه دَ اهل کتاب او مشرکینونه (قبل بعثت نبویه) کافروو هغوی (دَخپل کفر نه هیڅ کله) نه منع کیدونکی وو ترکومې چه هغوی له واضح دلیل نه راتلو.

قوله: قَيِّمَةٌ: الْقَائِمَةُ: (وَذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ) دین مذکردې او القیمة مونث دې. دَ دې جواب دا دې چه دین مضاف دې او ملة طرف ته کوم چه محذوف دې. او ملة مونث دې نو اوس به په دواړوکښې مطابقت اوشی.(۱)

[۴۶۷۶]حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ سَمِعْتُ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُبَيٍّ إِنَّ اللّٰهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا قَالَ وَسَمَّانِي قَالَ نَعَمْ فَبَكَى

دا روایت هم په دې سند ابواب المناقب کښې تیرشویدې.(۲)

حَدَّثَنَا حَسَّانُ بْنُ حَسَّانَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُبَيٍّ إِنَّ اللّٰهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ قَالَ أُبَيٌّ آللّٰهُ سَمَّانِي لَكَ قَالَ اللّٰهُ سَمَّاكَ لِي فَجَعَلَ أُبَيٌّ يَبْكِي قَالَ قَتَادَةُ فَأُنْبِئْتُ أَنَّهُ قَرَأَ عَلَيْهِ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ

[۴۶۷۷]حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي دَاوُدَ أَبُو جَعْفَرٍ الْمُنَادِي حَدَّثَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ إِنَّ اللّٰهَ أَمَرَنِي أَنْ أُقْرِئَكَ الْقُرْآنَ قَالَ آللّٰهُ سَمَّانِي لَكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ وَقَدْ ذُكِرْتُ عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ قَالَ نَعَمْ فَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ

قوله: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي دَاوُدَ أَبُو جَعْفَرٍ الْمُنَادِي:

احمد بن ابی داؤد جعفر المناوی: دَ فربری په نسخه کښې دغه شان واقع شوی دی.علامه ابوالقاسم هبة الله ابن حسین لالکائی نه خطیب بغدادی نقل کړیدی چه دلته دَ امام نه اشتباه شویده او هغه "احمد بن ابی داود" نقل کړیدې حالانکه دَ ابوجعفر منادی نوم احمد نه بلکه محمد دې(۳) بعض خلقو وئیلی دی چه دَ محمد یو رورو احمد وو امام دا روایت دَ

---

(۱) قال العینی :ای دین الملة القائمة المستقیمة فالذین مضاف الی مونث وهی الملة والقیمةصفة فحذف الموصوف)عمدة القاری-۱۹/۳۰۹:

(۲) صحیح البخاری مع فتح الباری کتاب المناقب باب مناقب ابی بن کعب رقم الحدیث-۳۸۰۸

(۳) فتح الباری-۸/۷۲۶:

هغوی نه نقل کړيدي ليکن لالکائی دا ردکړيدي او وئيلی دی چه دا صحيح نه ده.[1]
او غالب گمان دغه دي چه امام بخاری ته دلته اشتباه شويده او ياپيادا وئيلی شی چه دَ امام بخاری په رائې کښې احمد او محمد يو دې، نو خطيب بغدادی دَ ابوبکر اسماعيلی نه نقل کړيدی چه عبدالله بن ناديه به کله دَ حديث املاء کوله نووئيل به ئې "حدثنا احمد بن ابي داؤد" نو هغه، ته اووئيلې شو چه دَ ابن ابی داوُد نوم احمد نه دې محمد دې نو هغه اووئيل چه احمد او محمد يو دی.
حافظ ابن حجر رحمه الله وائی دَ فربری دَ نسخې نه علاوه صرف "حدثنا ابوجعفر المنادی" واقع شويدې دَ "احمد بن ابي داؤد" هلته نشته. دې نه معلومه شوه چه دا شروع دَفربری دَ طرف نه شويده او هغه په غلطئی سره "احمدبن ابی داود" اووئيل، په دې وجه امام بخاری طرف ته دَ وهم نسبت کول يا دا وينا کول چه امام بخاری احمد او محمد يو گنړل نو دا صحيح نه ده.[2]
ليکن بيا حافظ اوفرمائيل چه دَ محدثينويوه دا متفقه فيصله او حتمی اصول دی چه شاگرد کله دَ استاذ کلام نقل کوی نو دَ خپل طرف نه په کښې څه زياتې نه کوی که زياتې کول وی نو دَ هغې طريقه دا وی چه شاگرد دَ يولفظ نه دَ هغې زياتی طرف ته اشاره کوی چه دا دَ شاگرد اضافه ده او دلته داسې يو لفظ نشته په څکه به لامحاله دا منلې شی "احمدبن ابی داود ابوجعفر المنادی" دَ فربری په نسخه کښې هم دَ بخاری ارشاد دې.[3]
دَ ابوجعفر بن ابی داؤد بخاری کښې صرف همدغه يوروايت دې دا دَ بخاری استاذ دې او دَ بخاری نه پس شپاړس کاله ژوندې وو، دَ هغه عمر دَ سلوکالونه څه زيات وو، دَ هغه نه هغه خلقو هم روايت نقل کړيدې چه امام بخاری ئې نه وو ليدلې. ولې چه دَ امام بخاری وفات دَ ابوعمرو سماك نه اته اتيا (۸۸) کاله وړاندې شوې وو.دا دَ سابق او لاحق عجيبه مثال دې امام بخاری سابق شاگرد دې او ابوعمرو بن سماك لاحق شاگرد دې اودَ دواړو په مينځ کښې اته اتيا کالوفاصله ده.[4]

[۴۵۱] باب تفسير سورة: إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا

قوله: فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ يُقَالُ أَوْحَى لَهَا أَوْحَى إِلَيْهَا وَوَحَى لَهَا وَوَحَى إِلَيْهَا وَاحِدٌ: آيت کښې دی (يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا) په هغه ورځ به زمکه خپل ټول (ښه اوبد) خبرونه بيان کړی په دې سبب چه ستا دَ رب به دې ته دا حکم وی. ونيلی شی اوحی لها، اوحی اليها، وحی لها، وحی اليها دَ دې ټولوهم يوه معنی ده يعنی اشاره کول او وحی ليگل.

[1])فتح البارى-۸/۷۲۶:
[2])فتح البارى-۸/۷۲۶:
[3])فتح البارى-۸/۷۲۶:
[4])فتح البارى-۸/۷۲۶:

[۴۶۷۸] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللهِ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْخَيْلُ لِثَلَاثَةٍ لِرَجُلٍ أَجْرٌ وَلِرَجُلٍ سِتْرٌ وَعَلَى رَجُلٍ وِزْرٌ فَأَمَّا الَّذِي لَهُ أَجْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ فَأَطَالَ لَهَا فِي مَرْجٍ أَوْ رَوْضَةٍ فَمَا أَصَابَتْ فِي طِيَلِهَا ذَلِكَ فِي الْمَرْجِ وَالرَّوْضَةِ كَانَ لَهُ حَسَنَاتٍ وَلَوْ أَنَّهَا قَطَعَتْ طِيَلَهَا فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا أَوْ شَرَفَيْنِ كَانَتْ آثَارُهَا وَأَرْوَاثُهَا حَسَنَاتٍ لَهُ وَلَوْ أَنَّهَا مَرَّتْ بِنَهَرٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ وَلَمْ يُرِدْ أَنْ يَسْقِيَ بِهِ كَانَ ذَلِكَ حَسَنَاتٍ لَهُ فَهِيَ لِذَلِكَ الرَّجُلِ أَجْرٌ وَرَجُلٌ رَبَطَهَا تَغَنِّيًا وَتَعَفُّفًا وَلَمْ يَنْسَ حَقَّ اللهِ فِي رِقَابِهَا وَلَا ظُهُورِهَا فَهِيَ لَهُ سِتْرٌ وَرَجُلٌ رَبَطَهَا فَخْرًا وَرِئَاءً وَنِوَاءً فَهِيَ عَلَى ذَلِكَ وِزْرٌ فَسُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحُمُرِ قَالَ مَا أَنْزَلَ اللهُ عَلَيَّ فِيهَا إِلَّا هَذِهِ الْآيَةَ الْفَاذَّةَ الْجَامِعَةَ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ

په كتاب الاعتصام كښې دا روايت په دې سندسره به راځي او په كتاب الجهاد كښې هم دا روايت تيرشوې دې.(۱)

[۴۵۲] بَاب وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ

[۴۶۷۹] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحُمُرِ فَقَالَ لَمْ يُنْزَلْ عَلَيَّ فِيهَا شَيْءٌ إِلَّا هَذِهِ الْآيَةُ الْجَامِعَةُ الْفَاذَّةُ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ

[۴۵۳] بَاب: تفسير سورة وَالْعَادِيَاتِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْكَنُودُ الْكَفُورُ يُقَالُ فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا رَفَعْنَا بِهِ غُبَارًا لِحُبِّ الْخَيْرِ مِنْ أَجْلِ حُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ لَبَخِيلٌ وَيُقَالُ لِلْبَخِيلِ شَدِيدٌ حُصِّلَ مُيِّزَ

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ: الْكَنُودُ الْكَفُورُ: آيت كښې دى ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ﴾ په دې كښې كنود معنى ناشكرا يعنى انسان دَ خپل رب ډيرناشكرا دې.

قوله: يُقَالُ: فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا: رَفَعْنَا بِهِ غُبَارًا: يعني هغه اسونه گرد اوچتوى، الوزوى.

قوله: لِحُبِّ الْخَيْرِ: مِنْ أَجْلِ حُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ: لَبَخِيلٌ وَيُقَالُ لِلْبَخِيلِ: شَدِيدٌ: آيت كښې دى ﴿وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ﴾ او هغه دَ مال په مينه كښې ډير سخت بخيل دې فرمائى لِحُبِّ الْخَيْرِ كښې لام دَ تعليل دَ پاره دې يعنى دَ مال دَ محبت دَ وجه نه او شديد په معنى بخيل، بخيل ته شديد وائى.

قوله: حُصِّلَ: مُيِّزَ: آيت كښې دى ﴿وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ﴾ او ښكاره به شى كوم څه چه په

(۱) صحيح البخارى كتاب الجهاد باب الخيل لثلاثة ۱/۴۰۰: باب الاحكام التى تعرف بالدلائل-۲/۱۰۹۳:

زړونو كښېږ دى. فرمائى حصل په معنى ميز دې، يعنې جدا به شى او ځان او ممتازبه شى.

[۴۵۴] باب: تفسير سُورَةُ الْقَارِعَةِ

كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ كَغَوْغَاءِ الْجَرَادِ يَرْكَبُ بَعْضُهُ بَعْضًا كَذَلِكَ النَّاسُ يَجُولُ بَعْضُهُمْ فِي بَعْضٍ كَالْعِهْنِ كَأَلْوَانِ الْعِهْنِ وَقَرَأَ عَبْدُ اللَّهِ كَالصُّوفِ

آيت كښې دى ﴿يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ﴾ په كومه ورځ چه انسانان دَ پريشانه پتنګانوپه شان"كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ" دَ پريشانه ملخانو په شان په يوبل ورخيژى، دغه شان به دَ قيامت په ورځ دَ پريشانئى په حال كښې په يوبل به چكرې وهى او ګرځى به.

قوله: كَالْعِهْنِ: كَأَلْوَانِ الْعِهْنِ: آيت كښې دى ﴿وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ﴾ اوغرونه به دَ ويشنلې شوى رنګينې وړئى په شان شى. فرمائى كَالْعِهْنِ نه الوان عهن كښې تشبيه وركول مقصود دى، عهن رنګينه وړئى ته وائى. دَ غرونورنګ هم مختلف وى په دې وجه دَ رنګينې وړئى سره تشبيه وركړېده. علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله ليكى: لكه څنګه چه وړئى ويشنونكې وړئى ويشنلوسره يوه يوه جدا كوى الوزوى دغه شان به غرونه جدا شى الوزى به.

[۴۵۵] باب: تفسير سُورَةُ أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ التَّكَاثُرُ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ

آيت كښې دى ﴿أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ﴾ (دنياوى سامان باندې) فخركول به تا(دَ آخرت) نه غافله ساتى، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه تكاثر معنى مال دولت ډيروالې.

[۴۵۶] باب: تفسير سُورَةُ وَالْعَصْرِ

وَقَالَ يَحْيَى الْعَصْرُ الدَّهْرُ أَقْسَمَ بِهِ

[۴۵۷] باب: تفسير سُورَةُ وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ

الْحُطَمَةُ اسْمُ النَّارِ مِثْلُ سَقَرَ وَلَظَى

آيت كښې دى ﴿كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ﴾ هيڅ كله نه هغه خوبه دَ چقنړى كولو ځائ غورزولې شى. فرمائى حطمة دَ دوزخ يونوم دې لكه چه سقر او لظى نومونه دى.

[۴۵۸] باب: تفسير سُورَةُ أَلَمْ تَرَ (الفيل) أَلَمْ تَعْلَمْ

قَالَ مُجَاهِدٌ أَبَابِيلَ مُتَتَابِعَةً مُجْتَمِعَةً وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مِنْ سِجِّيلٍ هِيَ سَنْكِ وَكِلْ

د سجيل مختلف معنى: مجاهد رحمه الله فرمائى چه "ابابيل" معنى وار په وار راتلونكى، ډلې ډلې راتلونكې مرغئى متتابعة "طير" صفت دې. "ابابيل" دا اسم جمع ده اودَ دې هيڅ واحد نشته، بعضوونيلى دى دا دَ "ابول" جمع ده لكه "عجول" جمع چه عجاجيل راځى او بعضو وئيلى

دی دا دَ "ابالة" جمع ده. (۱) رومبې قول مشهور دې. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه دا یو خاص قسم مرغنی دی دَ کوموچه دَ هاتهی غوندې خړتم وی او لاسونه نی هم وی. (۲)

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مِنْ سِجِّيلٍ هِيَ سَنْكِ وَكِلْ: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی "سجیل"هم هغه دَ فارسئی سنگ وگل دې مطلب دا دې چه دا لفظ دَ فارسی ژبې "سنگ گل" نه معرب دی سنگ کانړی ته وائی او گل خاورې ته. "سنگ گل" هغه قوت کانړوته وائی چه لمدې خاورې نه په اور کښې پخولوسره جوړېږی.

بعض حضراتو وئیلی دی چه دَ سجیل نه هغه دفتراورجسټر مراد دې په کوم کښې چه دَ معذبینو دَ عذاب قسمونه درج دی.(۳)

بعضو وئیلی دی چه دا دَ دنیاد آسمان نوم دې. (۴)

بعضو وئیلی چه دا دَ جهنم په اور باندې پوخ شوی یوخاص قسم کانړی نوم دې.(۵)

بعضو دې ترجمه سخت او شدید سره کړیده. (۶)

[۴۵۹] باب: تفسیر سُورَةُ لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ لِإِيلَافِ أَلِفُوا ذَلِكَ فَلَا يَشُقُّ عَلَيْهِمْ فِي الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ وَآمَنَهُمْ مِنْ كُلِّ عَدُوِّهِمْ فِي حَرَمِهِمْ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ لِإِيلَافِ لِنِعْمَتِي عَلَى قُرَيْشٍ

قوله: قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ لِإِيلَافِ لِنِعْمَتِي عَلَى قُرَيْشٍ: دا "لایلاف" "فلیعبدوا" سره متعلق دې.(۷) هغوی له پکار دی چه دَ دې بیت الله دَ رب عبادت اوکړی ځکه چه هغه په دوی باندې انعام کړې دې چه دَ رحلة الشتاء او رحلة الصیف دَ هغوی په زړونوکښې محبت پیدا کړیدې او دا سفر دَهغوی دَ پاره سهل او آسان کړیدې. مطلب دا چه زمونږ دَ نورو احسانونو په وجه که چرې دوی عبادت کولو دَ پاره نه تیاریږی نو کم نه کم په دې وجه خو دوی له زمونږ عبادت کول پکار دی چه مونږ دَ هغوی په زړونوکښې په گرمئی او یخنئی کښې سفر کولو مینه پیدا کړه.

---

(۱) عمدة القاری ۱۹/۳۱٤:وقال الراغب فی المفردات ۸:الواحد ابیل

(۲) عمدة القاری ۱۹/۳۱٤:ومعالم التنزیل للبغوی-٤/۵۲۸:

(۳) وفی الکشاف ٤/۷۹۹:وسجیل :کانه علم للدیوان الذی کتب فیه عذاب الکفار .....کانه قیل :بحجارة من جملة العذاب المکتوب المدون. واشتقاقه من الاسجال وهوالارسال، لان العذاب موصوف بذلک-

(۴) الجامع لاحکام القران-۲۰/۱۹۸:

(۵) الجامع لاحکام القران-۲۰/۱۹۸:

(۶) الکشاف-٤/۸۰۰:

(۷) روح المعانی ۳۰/۲۸۶:وتفسیر قرطبی-۲۰/۲۱۰:

بعض حضراتو وئیلی چه "لایلاف" تعلق دَ سورة الفیل آخری آیت ﴿فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ﴾ نه دې. اودَ حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه په مصحف کښې دا دواړه سورتونه یوځائ کړې لیکلی دی.(۱)په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه الله تعالی اصحاب فیل ته "عصف ماکول" په شان هغوی جوړ کړل چه الله تعالی قریشوته په رحلة الشتاء والصیف مینه ورکړه دَ څه په ذریعه چه هغوی دَ خپل ځان دَ پاره دَ خوراك څښاك سامان راحت او آسائش انتظامات اوکړل. الله تعالی اصحاب فیل هلاك کړل قریش محفوظ،مامون او باقی پاتې کړل.(۲) - قریشو به په کال کښې دَ تجارت په غرض دوه سفرې کولې. یخنئی کښې دَ یمن طرف ته او ګرمئی کښې دَ شام طرف ته.(۳)علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله لیکی: " مکه کښې غله وغیره نه پیدا کیده په دې وجه دَقریشوعادت وو چه په کال کښې به ئې دَ تجارت په غرض دوه سفرې کولې. په یخنئی کښې دَ یمن طرف ته چه ګرم ملك دې او په ګرمئی کښې دَ شام ملك ته چه یخ او آباد ملك دې. خلقو به دوی اهل حرم او خادم بیت الله ګڼړل او ډیر په درنه او دَعزت او احترام په سترګه به ئې ورته کتل. دَ دوی خدمت به ئې کولو اودَ هغوی جان ومال سره به ئې هیڅ غرض نه لرلو. دغه شان به هغوی ته زړه پورې نفع کیدله. بیا به ښه په آرام او امن سره کور ناست وو پخپله به ئې هم خوړله او په نوروبه ئې هم خوړله.دَ حرم شریف څلورو واړو طرفونوته به دَ شوکې غلا ډاکې بازار ګرم وو لیکن دَ کعبې دَ ادب دَ وجه به یو ډاکو او غل په قریشو لاس نه صفاکولو. همدغه انعام دلته کښې یادکړلې شو چه دَ دې کور په خاطر تاسوته رزق درکړو او امن او آرام درکړو، دَ اصحاب فیل دَ مقابلې نه محفوظ کړېشوې. نو بیا دَ دې کور دَ خاوند بندګی ولې نه کوئی او دَ هغه رسول ولې تنګوئی، دا ډیره ناشکری او احسان فراموشی ده. که په نورو خبرو نه پوهیږئې نو داسې کولاؤ حقیقت باندې ځان پوهه کول څه ګران دی." (۴)

[۴۶۰]باب: تفسیر سُورَةُ أَرَأَيْتَ (الماعون)

وَقَالَ مُجَاهِدٌ يَدُعُّ يَدْفَعُ عَنْ حَقِّهِ يُقَالُ هُوَ مِنْ دَعَعْتُ يُدَعُّونَ يُدْفَعُونَ سَاهُونَ لَاهُونَ وَ الْمَاعُونَ الْمَعْرُوفَ كُلُّهُ وَقَالَ بَعْضُ الْعَرَبِ الْمَاعُونُ الْمَاءُ وَقَالَ عِكْرِمَةُ أَعْلَاهَا

---

۱) الجامع لاحکام القران-۲۰۰/۲۰:

۲) قال الرازی فی التفسیرالکبیر " ۱۰۲/۲۰:فجعلهم کعصف ماکول "لالف قریش، ای اهلک الله اصحاب الفیل لتبقی قریش وما قد الفوا من رحلة الشتاء والصیف فان قیل :هذاضعیف، لانهم انما جعلوا کعصف ماکول، لکفرهم، ولم یجعلو کذلک لتالیف قریش، قلنا :هذاالسؤال ضعیف...لا نالانسلم ان الله تعالی انما فعل بهم ذلک لکفر هم فان الجزاء علی الکفر مؤخرللقیامة ....ولانه تعالی لوفعل بهم ذلک لکفر هم لکان قد فعل ذلک بجمیع الکفار بل انما فعل ذلک بهم لایلاف قریش ولتعظیم منصبهم واظهارقدرهم

۳)روح المعانی-۲۷۷/۳۰:

۴) تفسیرعثمانی ۸۰۳:فائده نمبر-۵

الزَّكَاةُ الْمَفْرُوضَةُ وَأَدْنَاهَا عَارِيَةُ الْمَتَاعِ
آيت كښې دى ﴿فَذٰلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ﴾ نو هغه سړې چه يتيم ته ديكې وركوى. مجاهد رحمه الله فرمائى د يدع معنى يدفع ده. هغه منع كوى. يعنى يتيم د هغه د حق اخستلونه اخوا كوى. دا د دععت نه ماخوذ دې د كوم معنى ديكه كول دى او د سورة الطور آيت ﴿يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا﴾ كښې يدعون په معنى يدفعون دې. په كومه ورځ چه به كافران په دوزخ طرف ته ديكه كړيشى.

قوله: سَاهُونَ: لَاهُونَ: ﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ﴾ نو د داسې مونځ ګذارو د پاره خرابى ده چه خپل مونځونه هير كړى، ساهون په معنى د لاهون يعنى غافل بې خبره. او په آيت مبارك كښې دى ﴿وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ﴾ فرمائى ماعون اطلاق په هريو بنه كار باندې كيږى. بعضوئيلى دى ماعون اوبوته وائى او حضرت عكرمه رحمه الله فرمائى ماعون اعلى قسم فرض زكوة دې او ادنى قسم د كور د عام سامان قرض وركول دى.) لكه لوټا، پياله ماچس وغيره) علامه شبيراحمدعثمانى رحمه الله د دې آيت لاندې ليكى: يعنى زكوة او صدقات خو به څه ادا كوى معمولى لوښى مثلاً لوټه، رسې، كټونى ستن اوتار وغيره چه څوك غواړى نو نه وركوى د كوم چه په دنيا كښې د وركولو عام رواج دې. چه د بخل اوفسق دا حال وى نو د خان خودنې د مانځه به څه فائده وى. كه يو سړې خپل خان ته مسلمان مونځ ګذار وائى ولې الله تعالى سره اخلاص او مخلوق سره همدردى نه ساتى نو د هغه اسلام لفظ بې معنى دې او د هغه مونځ د حقيقت نه ډير لرې دې، دا رياكارى اوبدبختى خود دې بدبختانو طريقه كيدل پكار دى چه د الله تعالى په دين او جزاء په ورځ هيڅ عقيده نه لرى.

[٤٦١] باب: تفسير سُورَةُ إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ شَانِئَكَ عَدُوَّكَ

[٤٦٨٠] (١) حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا عُرِجَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى السَّمَاءِ قَالَ أَتَيْتُ عَلَى نَهَرٍ حَافَتَاهُ قِبَابُ اللُّؤْلُؤِ مُجَوَّفًا فَقُلْتُ مَا هَذَا يَا جِبْرِيلُ قَالَ هَذَا الْكَوْثَرُ

[٤٦٨١] (٢) حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ يَزِيدَ الْكَاهِلِيُّ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَ سَأَلْتُهَا عَنْ قَوْلِهِ تَعَالَى إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ قَالَتْ نَهَرٌ أُعْطِيَهُ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاطِئَاهُ عَلَيْهِ دُرٌّ مُجَوَّفٌ آنِيَتُهُ كَعَدَدِ النُّجُومِ رَوَاهُ زَكَرِيَّاءُ وَأَبُو الْأَحْوَصِ وَمُطَرِّفٌ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ

---

(١) واخرجه ابوداؤد فى كتاب السنة باب الحوض رقم الحديث-٤٧٤٨:

(٢) واخرجه النسائى فى السنن الكبرى فى التفسير رقم الحديث٣/١١٧٠٥:حافتاه قباب اللؤلؤ(اى على خافتيه)مجوفاً (اى القبة كلها من لؤلؤمجرفة واللؤلؤجوهر نفيس معروف

[۴۶۸۲] (۱) حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ حَدَّثَنَا أَبُو بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ قَالَ فِي الْكَوْثَرِ هُوَ الْخَيْرُ الَّذِي أَعْطَاهُ اللَّهُ إِيَّاهُ قَالَ أَبُو بِشْرٍ قُلْتُ لِسَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ فَإِنَّ النَّاسَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُ نَهَرٌ فِي الْجَنَّةِ فَقَالَ سَعِيدٌ النَّهَرُ الَّذِي فِي الْجَنَّةِ مِنْ الْخَيْرِ الَّذِي أَعْطَاهُ اللَّهُ إِيَّاهُ

قوله: شَانِئَكَ: عَدُوَّكَ: آیت کښې دی (إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ) یقینی هم ستادښمن بې نوم او نښې دې. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی شانئك نه دښمن مراد دې.

قوله: أَتَيْتُ عَلَى نَهَرٍ حَافَتَاهُ قِبَابُ اللُّؤْلُؤِ مُجَوَّفًا: حافتا نه دَ هغه دواړه اړخه مراد دی، قباب دَ قبة جمع ده گنبد ته وائی یعنی دَ هغه نهر په دواړو غاړو باندې دَ ډیرومرغلرو گنبد وو.

دَ کوثر مصداق څه دې؟: په دې روایت کښې هم دغه دی چه دَ کوثرمصداق یو نهر دې چه په جنت کښې دې او دَ مسلم په روایت کښې هم دغه شان نقل کړی دی.(۲) - او په وړاندې روایت کښې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ کوثر تفسیر "خیر" سره کړیدې. علامه ابن تیمیه رحمه الله خپله فتاوی کښې هم دې تفسیرته ترجیح ورکړیده.(۳)-علامه عینی رحمه الله فرمائی دَ نهرتفسیر په حدیث کښې دَ نبی کریم ﷺ نه منصوص دې په دې وجه به دا راجح گرځولې شی.(۴)

دَ کوثر په تفسیرکښې دَ علماؤ ډیر اقوال دی توحید، اسلام، قرآن، نبوت وغیره ډیر اقوال دی. تفسیر بحرمحیط کښې دی چه دَ کوثر متعلق شپږویشت(۲۶) اقوال بعض علماؤ ذکر کړی دی.(۵) لیکن راجح دا دی چه دَ دې لفظ لاندې دَ هرقسم دینی او دنیاوی دولتونه او حسی او معنوی نعمتونه داخل دی. چه هغوی ﷺ ته یا دَ هغوی په برکت امت مرحومه ته ملاویدونکي وو، دې نعمتونونه یو ډیر لوئ نعمت حوض کوثر هم دې چه هم په دې نوم مسلمانانو کښې مشهور دې اودَ کوم په اوبوبه چه نبی کریم ﷺ دَ محشر په ورځ خپل اومت خړوبوی.(۶) دَ بعض روایاتونه دَ دې محشر کښې کیدل او اکثرو روایاتونه په جنت کښې کیدل ثابتیږی. اکثرو علماؤ داسې تطبیق ورکړیدې چه اصل نهر به په جنت کښې وی او دَ دې اوبه به میدان محشرته راوړلې شی او په یوحوض کښې به جمع کولې شی او

---

(۱) وایضا اخرجخ فی الرقاق باب فی الحوض وقوله تعالی :اناعطیناک الکوثر رقم الحدیث۶۵۷۸ :)مع الفتح (واخرجه النسائی فی السنن الکبری فی التفسیر باب سورة الکوثر رقم الحدث-۱۱۷۰۴/۳:

(۲) صحیح مسلم ۲/۲۵۱:باب اثبات حوض نبینا وصفاته

(۳) مجموع فتاوی ابن تیمیه کتاب التفسیر ۵۲۸-۱۶/۵۲۷:سورة الکوثر

(۴) عمدة القاری-۱۹/۷۳۲:

(۵) تفسیربحر المحیط-۸/۵۱۹:

(۶) تفسیرعثمانی ۸۰۴:فائده نمبر-۷

دوارړوته به کوثر ونیلې شي.(و) والله اعلم بالصواب.

تنبیه: مولانا شبیراحمد عثمانی رحمه الله دَ کوثر متعلق تفسیر دَ بحر محیط په حواله سره اولیکل چه په دې کښې کوثر متعلق شپږویشت (۲۶) اقوال ذکر کړی دی او په آخره کښې ترجیح هم دې ته ورکړیده چه دَ دې لفظ لاندې دَ هرقسم دنیاوی او اخروی نعمتونه داخل دی. لیکن تفسیر بحرمحیط کښې دَ کوثر متعلق تقریباً نهه اقوال ذکر دی او "نهرفی الجنة" تفسیر هغوی صحیح ګرخولې البته هغوی لیکلی دی چه په "تحریر" کښې کوثر متعلق شپږویشت اقوال ذکر دی.(۲) والله اعلم

[۴۶۲] باب: تفسیر سورة قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (الکافرون)

يُقَالُ لَكُمْ دِينُكُمُ الْكُفْرُ وَلِيَ دِينِ الْإِسْلَامُ وَلَمْ يَقُلْ دِينِي لِأَنَّ الْآيَاتِ بِالنُّونِ فَحُذِفَتِ الْيَاءُ كَمَا قَالَ يَهْدِينِ وَيَشْفِينِ وَقَالَ غَيْرُهُ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ الْآنَ وَلَا أُجِيبُكُمْ فِيمَا بَقِيَ مِنْ عُمُرِي وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ وَهُمُ الَّذِينَ قَالَ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا

قوله: لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ الْآنَ وَلَا أُجِيبُكُمْ فِيمَا بَقِيَ مِنْ عُمُرِي: دلته دا خودل غواړی چه (لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ۝ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ۝ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝) په دې جملوکښې په ظاهره تکرار دې. دَ دې تکرار وجه امام بخاری رحمه الله فرمائی (لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ۝ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝) دا دَ حال زمانې سره متعلق دې او وړاندې دَ دوو آیاتونو تعلق دَ مستقبل زمانې سره دې. "ولا اجیبکم فیما بقی من عمری" نه دې طرف ته اشاره ده. لیکن اشکال دا پیداکیږی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ هغوی دَ معبودانو عبادت په مستقبل کښې نه کوی، دا خو صحیح ده لیکن کفارو نه ډیرو خلقوایمان قبول کړې او ستا دَ معبود یعنی الله تعالی عبادت اوکړو نو دَ هغوی په حق کښې دا وینا کول چه تاسو به هم زما دَ معبود عبادت نه کونې خنګه صحیح کیدیشی. امام بخاری رحمه الله دَ دې جواب ورکړیدې "وهم الذین قال: ولیزیدن کثیرا منهم ما انزل الیك من ربك طغیانا وکفرا" یعنی (وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝) نه هغه کافران مراد دی دَ چا باره کښې چه فیصله شوې وه چه دَ هغوی په حق کښې دَ قرآن پاك دَ آیات نازلیدل به دَ طغیان او کفر دَ اضافې ذریعه شی دَ هغوی باره کښې (وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝) اوفرمائیلې شو دَ ټولو باره کښې نه دې فرمائیلې شوې.

---

(۱) تفسیرعثمانی ۸۰۴: فائده نمبر-۷

(۲) البحرالمحیط-۸/۵۱۹:

[٤٦٣] باب: تفسير سورة إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ (النصر)

[٤٦٨٣] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الرَّبِيعِ حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةً بَعْدَ أَنْ نَزَلَتْ عَلَيْهِ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ إِلَّا يَقُولُ فِيهَا سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي

[٤٦٨٤] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ

[٤٦٤] باب قَوْلُهُ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا

[٤٦٨٥] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سَأَلَهُمْ عَنْ قَوْلِهِ تَعَالَى إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ قَالُوا فَتْحُ الْمَدَائِنِ وَالْقُصُورِ قَالَ مَا تَقُولُ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ أَجَلٌ أَوْ مَثَلٌ ضُرِبَ لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُعِيَتْ لَهُ نَفْسُهُ

[٤٦٥] باب قَوْلُهُ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا

تَوَّابٌ عَلَى الْعِبَادِ وَالتَّوَّابُ مِنَ النَّاسِ التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ

[٤٦٨٦] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ عُمَرُ يُدْخِلُنِي مَعَ أَشْيَاخِ بَدْرٍ فَكَأَنَّ بَعْضَهُمْ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ فَقَالَ لِمَ تُدْخِلُ هَذَا مَعَنَا وَلَنَا أَبْنَاءٌ مِثْلُهُ فَقَالَ عُمَرُ إِنَّهُ مَنْ قَدْ عَلِمْتُمْ فَدَعَاهُ ذَاتَ يَوْمٍ فَأَدْخَلَهُ مَعَهُمْ فَمَا رُئِيتُ أَنَّهُ دَعَانِي يَوْمَئِذٍ إِلَّا لِيُرِيَهُمْ قَالَ مَا تَقُولُونَ فِي قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ فَقَالَ بَعْضُهُمْ أُمِرْنَا أَنْ نَحْمَدَ اللَّهَ وَنَسْتَغْفِرَهُ إِذَا نُصِرْنَا وَفُتِحَ عَلَيْنَا وَسَكَتَ بَعْضُهُمْ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا فَقَالَ لِي أَكَذَاكَ تَقُولُ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ لَا قَالَ فَمَا تَقُولُ قُلْتُ هُوَ أَجَلُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْلَمَهُ لَهُ قَالَ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ وَذَلِكَ عَلَامَةُ أَجَلِكَ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا فَقَالَ عُمَرُ مَا أَعْلَمُ مِنْهَا إِلَّا مَا تَقُولُ

[٤٦٦] باب: تفسير سورة تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ

قوله: تَبَابٌ خُسْرَانٌ تَتْبِيبٌ تَدْمِيرٌ: مذکوره الفاظ په سورة لهب کښې نشته بلکه رومبې لفظ دَ سورة مؤمنين دې هلته په آيت مبارك کښې دى ﴿وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ﴾ اود فرعون هرتدبير غرق شو. فرمائى تباب په معنى خسران دې يعنى هر تدبير دَخسارې ذريعه جوړشو او يو تدبيرئى کامياب نه شو. دونم لفظ تتبيب سورة هود کښې دې ﴿وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ﴾

او هغې دوی ته د هلاکت او بربادئ نه علاوه بله هیڅ فائده اونه رسوله. دې کښې تتبیب په معنی تدمیر دې یعنی بربادی. دا دواړه لفظونه دلته د تبت په مناسبت سره ذکر کړی دی.

[۴۶۸۷] حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ وَرَهْطَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى صَعِدَ الصَّفَا فَهَتَفَ يَا صَبَاحَاهُ فَقَالُوا مَنْ هَذَا فَاجْتَمَعُوا إِلَيْهِ فَقَالَ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا تَخْرُجُ مِنْ سَفْحِ هَذَا الْجَبَلِ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ قَالُوا مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ كَذِبًا قَالَ فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ قَالَ أَبُو لَهَبٍ تَبًّا لَكَ مَا جَمَعْتَنَا إِلَّا لِهَذَا ثُمَّ قَامَ فَنَزَلَتْ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ وَقَدْ تَبَّ هَكَذَا قَرَأَهَا الْأَعْمَشُ يَوْمَئِذٍ

[۴۶۷] بَاب قَوْلُهُ وَتَبَّ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ

[۴۶۸۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى الْبَطْحَاءِ فَصَعِدَ إِلَى الْجَبَلِ فَنَادَى يَا صَبَاحَاهُ فَاجْتَمَعَتْ إِلَيْهِ قُرَيْشٌ فَقَالَ أَرَأَيْتُمْ إِنْ حَدَّثْتُكُمْ أَنَّ الْعَدُوَّ مُصَبِّحُكُمْ أَوْ مُمَسِّيكُمْ أَكُنْتُمْ تُصَدِّقُونِي قَالُوا نَعَمْ قَالَ فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا تَبًّا لَكَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ إِلَى آخِرِهَا

[۴۶۸] بَاب قَوْلُهُ سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ

[۴۶۸۹] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَبُو لَهَبٍ تَبًّا لَكَ أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا فَنَزَلَتْ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ إِلَى آخِرِهَا

[۴۶۹] بَاب قَوْلِهِ وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ حَمَّالَةُ الْحَطَبِ تَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ يُقَالُ مِنْ مَسَدٍ لِيفِ الْمُقْلِ وَهِيَ السِّلْسِلَةُ الَّتِي فِي النَّارِ

قوله: وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ: د ابولهب ښځه ام جمیل د مالدارئ سره سخته بخیله وه، د ځنګل نه به ئې پخپله لرګی راغونډول راوړل به ئې. ازغی به ئې د حضور ﷺ په لارکښې غورزول. یوه ورځ هغې لرګی په شا کړی راروانه وه، او رسئی خپل تندی سره تړلې وه، په لار کښې د دمې او آرام د پاره کیناسته، یوه فرښته د شانه راغله او هغه لرګی راښکل نورسئی د هغې د تندی نه اوخوئیده په مرئی کښې راغله او مرئی خفه کیدو سره مړه

شوه.(١) قرآن دي ته حمالة الحطب اوويل. بعض وائی چه حمالة الحطب معنی د چغلخور ده، اودَ عربوپه محاوراتوکښې هم په دې معنی کښې دا لفظ استعمالیږی. (٢) لکه چه په فارسی کښې هم داسې سړی ته "هیزم کش" وائی. مجاهد رحمه الله همدغه معنی کړیده.

قوله: فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ يُقَالُ مِنْ مَسَدٍ لِيفِ الْمُقْلِ: اودَ هغې په مرئی کښې بنه ټکلیدلې یوه رسئی ده. یا خود هغه رسئی نه هغه رسئی مراد ده چه دَ مرګ په وخت کښې دَ هغې په مرئی کښې وه لکه پورته تیر شو، دا رسئی دَ ګوګل ونې دَ پوستکی وه، مقل ونه ګوګل ته وائی چه دَ کهجورې دَ ونې په شان وی او یا دینه دَ اوسپنې هغه زنځیر مراد دې چه په دوزخ کښې به دَ هغې په غاړه کښې پریوزی.(٣)لیکن په دې کښې هیڅ تعارض نشته دواړه مراد کیدیشی. حضرت شیخ الهند دَ مونجهٔ دَ ونې رسئی ترجمه کړیده. ډیره مضبوطه وی او ورخښیدونکې وی.

[۴۷۰]باب: تفسیرسُورَةقُلْ هُوَاللّٰهُ أَحَدٌ(الاخلاص)

يُقَالُ لَا يُنَوَّنُ أَحَدٌ أَيْ وَاحِدٌ

[۴۹۹۰]حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللَّهُ كَذَّبَنِي ابْنُ آدَمَ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذَلِكَ وَشَتَمَنِي وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذَلِكَ فَأَمَّا تَكْذِيبُهُ إِيَّايَ فَقَوْلُهُ لَنْ يُعِيدَنِي كَمَا بَدَأَنِي وَلَيْسَ أَوَّلُ الْخَلْقِ بِأَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ إِعَادَتِهِ وَأَمَّا شَتْمُهُ إِيَّايَ فَقَوْلُهُ اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا وَأَنَا الْأَحَدُ الصَّمَدُ لَمْ أَلِدْ وَلَمْ أُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لِي كُفُئًا أَحَدٌ

قوله: يُقَالُ لَا يُنَوَّنُ أَحَدٌ أَيْ وَاحِدٌ: ابوعبیده وائی چه (قُلْ هُوَاللّٰهُ أَحَدٌ) کله یوځائ لولې نو "احد" باندې به تنوین نشی لوستلې، مونږ خو دَ تنوین په وجه دَ وصل کولو په وخت کښې "احدن الله الصمد" لولو، لیکن ابوعبیده وائی چه بغیرتنوین "احدالله الصمد" به لوستلې شی.

[۴۷۱]بَاب قَوْلُهُ اللّٰهُ الصَّمَدُ وَالْعَرَبُ تُسَمِّي أَشْرَافَهَا الصَّمَدَ

قَالَ أَبُووَائِلٍ هُوَالسَّيِّدُالَّذِي انْتَهَى سُودَدُهُ

[۴۹۹۱]حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ وَحَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُ كَذَّبَنِي ابْنُ آدَمَ وَلَمْ

---

(١) الجامع لاحكا القران-٢٠/٢٤٠ :

(٢)فتح القدير للشوكانی ٥/٥١٢:والبحر المحيط ٨/٥٢٦:والجامع لاحكام القران-٢٠/٢٣٩:

(٣) روح المعانی-٣٠/٣٠٥:

يَكُنْ لَهُ ذٰلِكَ وَشَتَمَنِي وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذٰلِكَ أَمَّا تَكْذِيبُهُ إِيَّايَ أَنْ يَقُولَ إِنِّي لَنْ أُعِيدَهُ كَمَا بَدَأْتُهُ وَأَمَّا شَتْمُهُ إِيَّايَ أَنْ يَقُولَ اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا وَأَنَا الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ أَلِدْ وَلَمْ أُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لِي كُفُوًا أَحَدٌ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ كُفُوًا وَكَفِيئًا وَكِفَاءً وَاحِدٌ

دَ لفظ صمد ډيرې معنې کيدیشی په دې وجه دَ مفسرینوحضراتو په نیزد دې کښې مختلف اقوال دی لیکن د صمد اصل معنی داده چه دَ چا طرف ته خلق په حاجاتواو ضروریاتوکښې رجوع اوکړی او چه دَ لوئې او سیادت په انتها باندې وی، چه دَ هغه نه څوک لوئ نه وی، تول دَ هغه محتاج وی او هغه دَ هیڅ چا محتاج نه وی[1] حافظ ابن تیمیه رحمه الله فرمائی چه سورة اخلاص دوه ځل نازل شوې دې. یو ځل په مکه مکرمه کښې کله چه مشرکان راغله او هغوی ﷺ ته نی دا ونیلی ووچه دَ خپل رب نسب نامه بیان کړه او هغې نه پس په مدینه منوره کښې یهودیانوهمدغه سوال دَ نبی کریم ﷺ نه کړې وو هغه وخت دا دوباره نازل شو [2] لیکن دا هم ونیلی شی چه هم یو ځل په مکه مکرمه کښې نازل شوې دې، خو چه یهودیانو په مدینه منوره کښې دَ دې قسمه سوال اوکړو نو حضرت جبرائیل علیه السلام راغلو او وئی خودل چه (قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ) اولوله.

[۴۷۲] باب: تفسير سُورَةُ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (الفلق)

وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْفَلَقُ الصُّبْحُ وَغَاسِقٍ اللَّيْلُ إِذَا وَقَبَ غُرُوبُ الشَّمْسِ يُقَالُ أَبْيَنُ مِنْ فَرَقِ وَفَلَقِ الصُّبْحِ وَقَبَ إِذَا دَخَلَ فِي كُلِّ شَيْءٍ وَأَظْلَمَ

مجاهد رحمه الله دلته "غاسق" تفسير "ليل" سره کړیدې او "اذاوقب" معنی دَ نمرپریوتل بیان کړی دی. فلق شلیدو ته وائی) دَ صبح صادق دَ رڼرا چه کله دَ شروع نه ښکارکیدنه کیږی نو دې ته شلیدل وائی متل دې "ابين من فرق الصبح وفلق الصبح" یعنی دا خبره دَ سحر دَ سرکې او رڼرا ښکاره کیدونه ډیره ښکاره او واضحه ده. او وقب هغه وخت ته وائی کله چه یو شئ په څه څیز کښې داخل شی او تیاره خوره شی، دلته دَ نمر ډوبیدل مراد دی ځکه چه په دې سره هم تیاره خوریږی.

[۴۶۹۲] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَاصِمٍ وَعَبْدَةَ عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ سَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ عَنِ الْمُعَوِّذَتَيْنِ فَقَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ قِيلَ لِي فَقُلْتُ فَنَحْنُ نَقُولُ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دَ حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه نه دَ معوذتين باره کښې سوال اوکړې شو چه دا په قرآن مجيد

---

[1] قال ابن الانبارى :لاخلاف بين اهل اللغة ان الصمدهوالسيد الذى ليس فوقه احد الذى يصمداليه الناس فى امورهم وحوائجهم)البحر المحيط-(٨/٥٢٨:

[2] مجموع فتاوى شيخ الاسلام ابن تيميه كتاب التفسير)الجزء الرابع (سورة الاخلاص-١٧/١٩١:

کښې داخل دی اوکه نه؟ نو هغوی دَ نبی کریم ﷺ په حواله سره اوخودل چه دَ هغوی ﷺ نه تپوس اوکړې شو نو هغوی ﷺ اوخودل.

قوله: قِيلَ لِي فَقُلْتُ: یعنی ماته دَ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ او ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ لوستلوَ پاره اووئیلې شو مقصد دا دې چه حضرت جبرائیل علیه السلام وحی راوړله او راغلو نو ما هغه اولوستل.

قوله: فَنَحْنُ نَقُولُ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: حضرت ابی بن کعب فرمائی نو مونږ هم هغه شان لولو څنګه به چه هغوی ﷺ لوستلو. یعنی هغوی ﷺ دا وحی متلوجوړه کړه او دَ قرآن حصه نی اوګرځوله نو مونږ هم دې ته وحی متلو وایو او دَ قرآن حصه نی ګڼړو.

[۴۷۳] باب: تفسیر سُورَةُ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (الناس)

وَيُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ الْوَسْوَاسِ إِذَا وُلِدَ خَنَسَهُ الشَّيْطَانُ فَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ ذَهَبَ وَإِذَا لَمْ يُذْكَرِ اللَّهُ ثَبَتَ عَلَى قَلْبِهِ

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه ﴿مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ﴾ کښې وسواس تفسیر نقل دې چه کله ماشوم پیداکیږی نو شیطان په ده نوکاره لګوی، بیاچه هلته دَ الله تعالی نوم اخستې شی او دَ ماشوم په غوږ کښې اذان کولې شی نو هغه تختی خو که چرې دَ الله تعالی نوم نه شو اخستې نو شیطان به دَ هغه زړه پورې اینختلو. دلته عبارت دې "واذا ولد خنسه الشیطان" قاضی عیاض او بن التین په دې اعتراض کړیدې چه خنس معنی خو رجع او انقبض راځی. دَ کلام دَ سیاق تقاضادا ده چه دَ خنس په ځائ نخس وی دَ څه معنی چه نوکاره لګول راځی.[1] لیکن که خنس وی نو دا توجیهه کولې شی چه شیطان راځی نوکاره لګوی او نوکاره لګولو سره هغه دَ خپل ځائ نه اخواکوی او روستوکوی[2]

[۴۶۹۳] [3] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ أَبِي لُبَابَةَ عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ ح وَحَدَّثَنَا عَاصِمٌ عَنْ زِرٍّ قَالَ سَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ قُلْتُ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ إِنَّ أَخَاكَ ابْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ كَذَا وَكَذَا فَقَالَ أُبَيٌّ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي قِيلَ لِي فَقُلْتُ قَالَ فَنَحْنُ نَقُولُ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه او معوذتین: دَ معوذتین په کلام الله کښې دَ کیدلو هیڅ شك نشته او دَ ټولو په دې باندې اجماع او اتفاق دې، دغه شان دَ معوذتین په قرآن کیدلو

---

[1] فتح الباری-۸/۷٤۲:

[2] فتح الباری-۸/۷٤۲:

[3] واخرجه النسائی فی السنن الکبری فی التفسیر رقم الحدیث :

باندې د ټولو صحابه کرامو اجماع دہ او د هغوی د زمانې نه تراوسه پورې په تواتر سره ثابت دی البته حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه باره کښې مختلف رائې دی چه هغه دا د قرآن حصه منی او که نه؟

① حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه معوذتين په قرآن کښې شامل نه منلو. نو طبرانی او ابن مردويه روايت نقل کړيدې "کان عبدالله بن مسعود يحك المعوذتين من مصاحفه، ويقول: انهما ليستا من کتاب الله"(١) هغوی به فرمائيل چه د دې د نازليدلو مقصد رقيه او علاج وو معلومه نه ده چه د تلاوت په غرض نازل شوی دی که نه. په دې وجه دا په مصحف کښې درج کول او په قرآن کښې شامل کول خلاف احتياط دی. "روح البيان" کښې دی "انه کان لايعد المعوذتين من القرآن، وکان لايکتبهما في مصحفه، يقول: انهما منزلتان من السماء، وهما من کلام رب العالمين، ولکن النبي صلی الله عليه وسلم کان يرقی ويعوذبهما، فاشتبه عليه انهما من القرآن اوليستا منه، فلم يکتبهما في المصحف"(٢) او بنکاره خبره ده چه دا رائې د هغوی انفرادی او ذاتی وه. صحابه کرامو کښې چا هم هغه سره اتفاق نه دې کړې، بزاز رحمه الله فرمائی "ولم يتابع ابن مسعود علی ذلك احد من الصحابة"(٣) او بعض علماء فرمائی چه هغوی روستو رجوع کړې وه او ټولو صحابه کرامو سره متفق شوې وو.(٤)

② ابوبکر باقلانی او قاضی عياض فرمائی چه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د هغې په قرآن کښې د شامليدلو انکار نه کولو البته په مصحف کښې د ليکلونه منکر وو ځکه چه د هغوی رائې دا وه چه مصحف کښې د قرآن کريم يوه حصه هم د هغه وخت پورې ليکی کله چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې د ليکلو اجازت ورکړې او د معوذتين متعلق مصحف کښې د ليکلو اجازت کيديشی هغه ته معلوم نه وو په دې وجه ئې دا په مصحف کښې نه ليکلو.

(٥) باقي طبرانی او ابن مردويه په کوم روايت کښې چه دی "ويقول: انهما ليستا من کتاب الله" نو هلته د کتاب الله نه مراد مصحف دی.(٦)

③ امام نووی، ابن حزم ظاهری او امام فخرالدين رازی وغيره علماؤ د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه طرف ته د دې قول نسبت کول باطل ګرځولې، نووی رحمه الله فرمائی "اجمع المسلمون

---

(١) فتح الباری ٨/٧٤٢: وروح المعانی-٣٠/٣٢٢:
(٢) روح المعانی
(٣) فتح الباری ٨/٧٤٢: وروح المعانی-٣٠/٣٢٢:
(٤) روح المعانی-٣٠/٣٢٢:
(٥) فتح الباری-٨/٧٤٣:
(٦) فتح الباری-٨/٧٤٢:

على ان المعوذتين والفاتحة من القران، وان من جحد منهما شيئا، كفر، وما نقل عن ابن مسعود باطل ليس بصحيح" او ابن حزم فرمائى "ما نقل عن ابن مسعود من انكار قرانية المعوذتين، فهو كذب باطل" او امام رازى فرمائى "الاغلب على الظن ان هذا النقل عن ابن مسعود كذب باطل"[1] اودَ دې دَ غلط كيدلو وجه بيان كړې شوې دې چه عاصم، حمزه او كسائى دَ قراءت دَ روايت دَ سلسلې سند حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه پورې رسى او په دې كښې معوذتين موجود دې.[2]
دغه شان حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه مسجدنبوى كښې هر كال د رمضان په مياشت كښې صلاة تراويح اداكولې او امام په دې كښې معوذتين لوستلو ليكن هغوى اعتراض نه وو كړې.[3] په دې وجه دَ دې قول دَ هغوى طرف ته نسبت كول چه هغه دا په قرآن كښې شامل نه گڼړلو صحيح نه دې. ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په روايات صحيحه كښې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه مذكوره قول ثابت دې او په دې رواياتو بغير دَ مستند دليل طعن كول لائق قبول نه دى.[4] علامه عبدالعلى لكهنوى مسلم الثبوت په شرح "فواتح الرحموت" كښې حافظ ابن حجر رحمه الله باندې رد كړيدې. هغه فرمائى چه ابن مسعود رضي الله عنه ته دَ دې قول نسبت كول سراسر غلط دى. دَ صحت سند دَ پاره متن صحت لازم نه دې او انقطلاع باطنى موندلې شى هغه ليكى: "فنسبة انكار كونها من القران اليه غلط فاحش، ومن اسند الانكار الى ابن مسعود فلا يعبا بسنده عند معارضة هذا الاسانيد الصحيحة بالاجماع، والمتلقاة عند العلماء الكرام، بل والامة كلها كافة."[5]
بهرحال ډيرومحقق علماء دا روايات ضعيف او ياكم نه كم ناقابل قبول خودلى دى چه دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه طرف ته چه دا مذهب منسوب كوى. حافظ ابن حجر او علامه هيثمى اگرچه تصريح كړيده چه دَ دې روايتونو ټول راويان ثقه دى[6] ليكن صرف دَ راويانو ثقه كيدل دَ صحت دَ پاره كافى نه دى بلكه دا هم ضرورى دى چه په دې كښې څه علت يا شذوذ اونه موندلې شى. محدثينو دَ صحيح حديث تعريف كښې دا خبره ليكلى ده چه هغه روايت دَ هرقسم علت او شذوذ نه خالى وى، كه په روايت كښې علت يا شذوذ

[1] الاتقان فى علوم القران ٢/٨١:والمحلى لابن حزم ١/١٣:وفواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت ٢/١٢:ومقالات الكوثرى-١٦:
[2] البدرالسارى الى فيض البارى٤/٢٦٢:والنشرفى القرات العشر لابن الجزرى-١٦٦-١/١٦٥:
[3] البدرالسارى الى فيض البارى-٤/٢٦٢:
[4] فتح البارى-٨/٧٤٣:
[5] فواتح الرحموت-١٠-٢/٩:
[6] فتح البارى ٨/٧٤٣:ومجمع الزوائدللهيشمى-٧/١٤٩:

موندلې شي نوَد راویانوثقه کیدلو باوجود دا صحیح نشي گرځولې(١) په دې وجه دَ دې روایتونو دَ راویانو ثقه کیدلو سره ډیرو علماؤ ناقابل قبول گرځولې. یو خو په دې وجه چه دا روایتونه معلول دی اودَ دې دَ ټولو نه لوئ علت دا دې چه حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ دَ دې قراءتونو خلاف دې چه دَ هغه نه په تواتر سره نقل دی. په کوم روایت کښې چه دَ عبدالله بن مسعود ﷺ دا قول نقل کړیدې چه "انهما لیستامن کتاب الله" دا قول صرف دَ عبدالرحمن بن یزید نخعی نه نقل دی او چا هم دا جمله صراحة نه ده نقل شوې(٢)اودَ متواتر نه دَ خلاف کیدلو په وجه دا جمله یقینًا شاذ ده او "حدیث شاذ" مقبول نه وی. اوکه فرض کړه دا روایتونه صحیح هم اوګنړلې شی نو بیاهم دا اخبار آحاد دی او په دې باندې دامت اجماع ده چه کوم خبرواحد دَ متواتر او قطعیات خلاف وی هغه به مقبول نه وی. حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه چه کوم قراءتونه په تواترسره ثابت دی هغه قطعی دی نودَ دې په مقابله کښې دا اخبار یقینًا واجب الرد دی. (٣)

او صرف دا سوال پاتې کیږی چه دا دومره ثقه راویانو داسې بې اصل خبره ولې روایت کړیده؟ دَ دې جواب دا دې چه دَ دې روایتونوحقیقت دا کیدیشی چه حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ معوذتین خو دَ قرآن حصه منی لیکن دا ئی په مصحف کښې نه لیکل، په مصحف کښې ولې نه لیکل دَ دې یوه وجه خو قاضی عیاض په حواله کښې تیره شوې ده او علامه زاهدالکوثری رحمة الله عليه فرمائی چه هغه معوذتین په مصحف کښې په دې وجه نه لیکل چه دَ هغه هیرولو څه ویره نه وه ځکه چه هرمسلمان ته یاد وی (٤)والله اعلم وعلمه اتم

وهذا اخرما اردنا ایراده من شرح احادیث کتاب التفسیر من صحیح البخاری رحمه الله تعالی للشیخ المحدث الجلیل سلیم الله خان حفظه الله ورعاه ومتعنا الله بطول حیاته.... وقد وقع الفراغ من تسویده واعادة النظر فیه ثم تصحیح ملازم الطبع بیوم الاثنین ٩ من ذی القعدة ١٤١٨هجری الموافق ٩ من مارس ١٩٩٨ م والحمد لله الذی بنعمته تتم الصالحات وصلی الله علی النبی الامی واله وصحبه وتابعیهم وسلم علیه وعلیهم مادامت الارض والسموت، رتبه وراجع نصوصه وعلق علیه ابن الحسن العباسی عضو قسم التحقیق والتصنیف والاستاذ بالجامعة الفاروقیة وفقه الله تعالی لاتمام باقی الکتب کما یحبه ویرضاه وهو علی کل شئ قدیر، ولاحول ولاقوة الابالله العلی العظیم، ویلیه ان شاء الله شرح کتاب فضائل القران.

...

١) مقدمة ابن اصلاح فی علوم الحدیث ٨-٧:وتیسیر مصطلح الحدیث ٣٣:ومقدمة فتح الملهم-١/٥٤:
٢)مجمع الزوائدللهیثمی ٧/١٤٩ :والتح الربانی-٣٥٢-١٨/٣٥١:
٣) مقالات الکوثری-١٦:
٤)مقالات الکوثری-١٦:

مصادر ومراجع

- ✍ ايضاح البخاری \ مولانا فخر الدین صاحب \ مکتبہ مجلس قاسم المعارف دیوبند
- ✍ الاتقان فی علوم القرآن \ جلال الدین سیوطی مصطفی البابی الحلبی
- ✍ اسد الغابہ فی معرفۃ الصحابہ \ عزالدین ابن الاثیر جزری \ دار الکتب العلمیہ، بیروت
- ✍ الاصابہ حافظ ابن حجر \ دار الفکر بیروت
- ✍ اسباب النزول جلال الدین سیوطی \ مکتبہ اسلامیہ کوئٹہ
- ✍ اساسہ البلاغہ محمد بن عمر زمخشری \ دار المعرفہ، بیروت
- ✍ السعایہ مولانا عبد الحی لکھنوی \ سہیل اکیڈمی لاہور
- ✍ الاستیعاب علامہ ابن عبد البر \ دار فکر بیروت
- ✍ احکام القرآن محمد بن عبد اللہ : ابن العربی، مالکی \ دار المعرفہ بیروت
- ✍ احکام القرآن مفتی محمد شفیع و مولانا ظفر احمد عثمانی \ ادارۃ القرآن، کراچی
- ✍ احکام القرآن امام شافعی (جمعہ البیہقی) \ دار الکتب العلمیہ، بیروت
- ✍ اکتشاف کہف اصحاب کہف \ رفیق وفا دجانی
- ✍ الانتصاب علی الکشاف احمد بن منیر \ دار الکتاب العربی، بیروت
- ✍ ارشاد الساری احمد بن محمد قسطلانی \ دار الکتب العلمیہ، بیروت
- ✍ الاعلام خیر الدین زرکلی \ دار العلم للملایین
- ✍ اعلاء السنن مولانا ظفر احمد عثمانی \ ادارۃ القرآن، کراچی
- ✍ اعانۃ الطالبین سید ابوبکر المشہور بالسید بکری \ احیاء التراث العربی، بیروت
- ✍ الانصاف فی معرفۃ الراجح من الخلاف علاء الدین علی بن سلیمان مرداوی \ دار احیاء التراث العربی
- ✍ اوجز المسالک شیخ الحدیث مولانا زکریا صاحب \ ادارۃ تالیفات اشرفیہ، ملتان
- ✍ اکمال اکمال المعلم محمد بن خلفہ ابی مالکی \ دار الکتاب العلمیہ، بیروت
- ✍ انباہ الرواۃ جمال الدین علی بن یوسف قطفی \ دار احیاء التراث، بیروت
- ✍ الاعتبار فی الناسخ والمنسوخ من الآثار ابوبکر محمد بن موسیٰ ہمدانی \ مطبعہ علمیہ، حلب
- ✍ اصول البزدوی ابو الحسن علی ابن محمد البزدوی \ الصدف پبلشرز، کراچی
- ✍ البحر المحیط محمد بن یوسف ابوحیان مالکی اندلسی \ دار الفکر، بیروت
- ✍ البدر الساری مولانا بدر عالم میرٹھی \ خضر راہ بک ڈپو دیوبند

- بیان القرآن حضرت مولانا اشرف علی تھانوی \ مطبع مجتبائی، دھلی
- البحر الرائق شیخ زین العابدین ابن نجیم \ ایچ ایم سعید کمپنی، کراچی
- البرھان فی علوم القرآن بدر الدین محمد بن عبد اللہ زرکشی \ دار المعرفہ، بیروت
- البیان والتبیین عمرو بن الجاحظ \ دار الکتب العلمیہ، بیروت
- بغیة الوعاة علامہ جلال الدین سیوطی \ مکتبہ عیسی البابی، مصر
- تذکرة الحفاظ شمس الدین ذھبی \ دار الحیاء التراث، کویت
- تھذیب التھذیب حافظ ابن حجر \ دار صادر، بیروت
- تقریب التھذیب حافظ ابن حجر \ دار الرشید، حلب
- تاریخ بغداد احمد خطیب بغدادی \ دار الکتاب العربی، بیروت
- تاریخ ارض القرآن مولانا سید سلیمان ندوی \ مجلس نشریات اسلام
- تاریخ تفسیر و مفسرین غلام احمد حریری \ ملک سنز پبلشرز، فیصل آباد
- تاریخ بخاری کبیر امام بخاری \ دار الکتب العلمیہ، بیروت
- تغلیق التغلیق حافظ ابن حجر \ المکتب الاسلامی
- تبییض الصحیفہ حافظ جلال الدین سیوطی \ مولانا عاشق الهی برنی
- تدریب الراوی جلال الدین سیوطی \ مکتبہ علمیہ مدینہ منورہ
- التقریب امام نووی \ مکتبہ علمیہ، مدینہ منورہ
- تعلیقات لامع الدراری شیخ الحدیث مولانا زکریا صاحب \ مکتبہ امدادیہ، مکہ مکرمہ
- تعلیقات الانساب عبد اللہ عمر البارودی \ دار الجنان، بیروت
- تعلیقات البخاری مصطفی دیپ بغا \ دار ابن کثیر، بیروت
- تکملہ فتح الملہم مولانا محمد تقی عثمانی \ مکتبہ دار العلوم کراچی
- تفسیر کبیر امام فخر الدین رازی \ مکتبة الاعلام الاسلامیہ، ایران
- تفسیر عثمانی علامہ شبیر احمد عثمانی \ مجمع الملك فهد سعودی عرب
- تفسیر ابن جریر حافظ ابن جریر طبری \ دار المعرفہ بیروت
- تفسیر ابن کثیر اسماعیل ابن کثیر \ دار الفکر بیروت
- تفسیر الجمل شیخ سلیمان الجمل \ قدیمی کتب خانہ کراچی
- تفسیر صاوی احمد بن محمد الصاوی \ مکتبہ دار الباز، مکہ مکرمہ

- تفسیر خازن علی بن محمد خازن \ دار المعرفہ بیروت
- تفسیر ابی السعود ابی السعود محمد بن العمادی \ دار الاحیاء التراث الاسلامی، بیروت
- تفسیر سورۃ کہف مولانا شیر علی شاہ \ مؤتمر المصنفین، اکوڑہ خٹک
- التحریر والتنویر شیخ محمد طاہر ابن عاشوراء \ الدار التونسیہ، تیونس
- ترجمان قرآن مولانا ابو الکلام آزاد \ مکتبہ سعید ناظم آباد
- التعلیق الصبیح مولانا ادریس کاندھلوی \ مکتبہ عثمانیہ لاہور
- التعلیق المحمود (حاشیہ ابی داؤد) مولانا فخر الحسن گنگوھی \ ایچ ایم سعید کمپنی کراچی
- التلخیص الحبیر حافظ ابن حجر \ دار نشر الکتب الاسلامیہ، لاہور
- تفسیر مظہری قاضی ثناء اللہ مظہری \ بلوچستان بک ڈپو، کوئٹہ
- تفسیر نسفی عبداللہ بن احمد نسفی \ دار الاحیاء الکتب العربیہ، مصر
- تاج العروس محمد مرتضی زبیدی دار \ مکتبہ الحیاۃ، بیروت
- تفسیر بیضاوی عبداللہ بن عمر بیضاوی \ مکتبہ رشیدیہ کوئٹہ
- تفسیر القاسمی (محاسن التاویل) محمد جمال الدین قاسمی \ دار الفکر، بیروت
- التفسیر الواضح محمود حجازی
- تفسیر المراغی احمد مصطفی مراغی \ مطبعہ مصطفی البابی، مصر
- تفسیر ثعلبی (جواہر الحسان فی التفسیر القرآن) عبد الرحمٰن بن محمد ثعالبی \ مؤسہ الاعلی، بیروت
- توضیح و تلویح علامہ تفتازانی \ نور محمد کتب خانہ
- تخریج احادیث اصول البزدوی قاسم بن قطلوبغا \ الصدف پبلشرز کراچی
- ترجمان السنہ مولانا بدر عالم میرٹھی \ ایچ ایم سعید کمپنی
- تیسیر الباری مولانا وحید الزمان \ تاج کمپنی لمیٹڈ، پاکستان
- تفسیر منیر وھبہ الزحیلی \ دار الفکر، بیروت
- الجامع الاحکام القرآن محمد بن احمد قرطبی \ دار الفکر، بیروت
- جلاء الافہام فی الصلاۃ علی خیر الانام علامہ ابن قیم \ دار الکتب العلمیہ، بیروت
- جامع الاصول مبارک ابن احمد ابن اثیر جزری \ دار الفکر بیروت
- جلالین جلال الدین سیوطی و محلی \ ایچ ایم سعید کمپنی، کراچی
- جامع البیان (علی ہامش الجالین) سید معین الدین \ ایچ ایم سعید کمپنی، کراچی

- جہان دیدہ مولانا محمد تقی عثمانی \ ادارۃ المعارف، کراچی
- الجرح والتعدیل عبد الرحمٰن بن ابی حاتم رازی \ دائرۃ معارف عثمانیہ، حیدرآباد
- الحاوی للفتاوی جلال الدین سیوطی \ مکتبہ نوریہ فیصل آباد
- حاشیہ برخوردار مولوی برخوردار ملتانی \ مکتبہ حبیبیہ کوئٹہ
- حاشیہ صحیح البخاری احمد علی سہارنپوری \ قدیمی کتب خانہ کراچی
- حاشیہ صحیح البخاری ابو الحسن محمد بن عبد الهادی سندھی \ قدیمی کتب خانہ، کراچی
- حاشیہ القنوی علی تفسیر البیضاوی حافظ اسماعیل قنوی \ مکتبہ محمودیہ، استنبول
- حاشیہ سیرت النبی ﷺ مولانا سید سلیمان ندوی \ دارالاشاعت، کراچی
- حاشیہ حمد اللہ شیخ عبد اللہ ٹونکی \ سعید اینڈ سنز، کراچی
- حاشیہ حمد اللہ شیخ عبد اللہ ٹونکی \ سعید اینڈ سنز، کراچی
- الحاوی الکبیر علی بن محمد بن حبیب ماوردی \ دار الفکر، بیروت
- حجۃ اللہ البالغہ شاہ ولی اللہ \ ادارۃ الطباعہ المنیریہ، مصر
- حلیۃ الاولیاء ابو نعیم اصبہانی \ دار الفکر، بیروت
- حمد اللہ شرح سلم العلوم مولوی حمد اللہ \ محمد سعید اینڈ سنز
- خلاصہ الخزرجی علامہ صفی الدین خزرجی \ دار الفکر بیروت
- الخصائص الکبری جلال الدین سیوطی \ دار الکتب العلمیہ، بیروت
- دلائل النبوۃ ابو نعیم اصبہانی \ دار النفائس
- دلائل النبوۃ احمد بن الحسین بیہقی \ مکتبہ اثریہ لاہور
- الدر المختار محمد بن علی حصکفی \ ایچ ایم سعید کمپنی
- الدر المنثور جلال الدین سیوطی \ مؤسسہ الرسالہ
- روح المعانی ابو الفضل محمود آلوسی \ مکتبہ امدادیہ ملتان
- الروض الانف عبد الرحمٰن بن عبد اللہ سہیلی \ مکتبہ فاروقیہ ملتان
- رفع الصوت بذبح الموت جلال الدین سیوطی \ مکتبہ رضویہ فیصل آباد
- زاد المعاد علامہ ابن القیم \ مؤسسہ الرسالہ
- سنن نسائی احمد بن شعیب نسائی \ قدیمی کتب خانہ، کراچی
- السنن الکبری احمد بن شعیب نسائی \ ادارۃ تالیفات اشرفیہ، ملتان

- سنن ابی داؤد سلیمان بن اشعث : ابوداود \ دار احیاء السنہ النبویہ
- سنن دار قطنی علی بن عمر دار قطنی \ دار نشر الکتب الاسلامیہ، لاھور
- سیر اعلام النبلاء شمس الدین بن محمد ذہبی \ مؤسسہ الرسالہ
- السیرۃ الحلبیہ علی بن برہان الدین حلبی \ المکتبہ الاسلامیہ، بیروت
- سیرۃ ابن ھشام ابو محمد عبداللہ بن ھشام \ مصطفی البابی، مصر
- سیرۃ النبی مولانا شبلی نعمانی \ دار الاشاعت، کراچی
- سنن الترمذی محمد بن عیسی ترمذی \ دار احیاء التراث العربی، بیروت
- شرح الکرمانی محمد بن یوسف الکرمانی \ دار احیاء التراث العربی، بیروت
- شرح تھذیب ملا عبداللہ یزدی \ فاروقی کتب خانہ
- الشرح الصغیر احمد بن محمد دردیر \ دار المعارف، مصر
- الشرح الکبیر (العزیز شرح الوجیز) عبدالکریم بن محمد رافعی \ مکتبہ عباس احمد الباز، مکہ مکرمہ
- شرح مسلم یحی بن شرف نووی \ قدیمی کتب خانہ، کراچی
- شرح معانی الآثار احمد بن محمد طحاوی \ ایچ ایم سعید کمپنی، کراچی
- شرح ملا علی القاری علی الفقہ الاکبر ملا علی قاری \ قدیمی کتب خانہ، کراچی
- شرح الطیبی حسین بن محمد طیبی \ ادارۃ القرآن، کراچی
- شرح الکوکب المنیر محمد بن احمد : ابن النجار \ دار الفکر، دمشق
- شرح العقیدۃ الطحاویہ علی بن العز حنفی \ قدیمی کتب خانہ، کراچی
- شیخ محمد بن عبدالوہاب اور علماء حق مولانا محمد منظور نعمانی \ قدیمی کتب خانہ کراچی
- صحیح البخاری محمد بن اسماعیل بخاری \ قدیمی کتب خانہ، کراچی
- صحیح مسلم مسلم بن حجاج قدیمی کتب خانہ، \ دار الفکر
- صفوۃ التفاسیر محمد علی صابونی \ دار القرآن الکریم، بیروت
- الصواعق المرسلہ علامہ ابن قیم
- طبقات ابن سعد محمد بن سعد \ دار صادر، بیروت
- عمدۃ القاری محمد بن احمد عینی \ المطبعہ المنیریہ، بیروت
- عمل الیوم واللیلہ ابوبکر احمد بن محمد ابن السُنی \ مؤسسہ علوم القرآن، بیروت
- العدۃ شرح العمدۃ بہاء الدین عبدالرحمٰن بن ابراھیم مقدسی \ مکتبہ الریاض الحدیثہ

- العرف الشذی مولانا انور شاہ کشمیری قدیمی کتب خانہ، کراچی
- غایہ السعایہ مولانا عبد الحی لکھنوی \ مکتبہ خیر کثیر
- غرائب القرآن (علی ھامش تفسیر ابن جریر) نظام الدین الحسن بن محمد نیساپوری \ مطبعہ امیریہ، مصر
- فہرست ابن ندیم محمد بن اسحاق ندیم \ انور محمد کتب خانہ، کراچی
- فتح البیان فی مقاصد القرآن نواب صدیق حسن خان \ مطبعہ العاصمہ، قاہرہ
- فتح القدیر محمد بن عبد الواحد ابن الھام \ مکتبہ رشیدیہ، کوئٹہ
- فتح القدیر محمد بن علی شوکانی \ مکتبہ مصطفی البابی، مصر
- الفتوحات الربانیہ علی الاذکار النواویہ محمد بن علان صدیقی \ المکتبہ الاسلامیہ
- فتح الباری حافظ ابن حجر عقلانی \ دار الفکر، بیروت
- الفتح الربانی احمد عبد الرحمٰن البنا \ دار الحدیث، قاہرہ
- فیض الباری مولانا انور شاہ کشمیری \ خضر راہ بک ڈپو، دیوبند
- الفقہ الاسلامی وادلتہ علامہ وھبہ زحیلی \ مکتبہ حقانیہ پشاور
- فتاوی عالمگیری جماعة من علماء الھند \ نورانی کتب خانہ، پشاور
- فتح المغیث عبد الرحیم بن الحسین عراقی \ دار الکتب العلمیہ، بیروت
- الفوز الکبیر شاہ ولی اللہ \ قدیمی کتب خانہ، کراچی
- فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت \ بحر العلوم مولانا عبد العلی
- الفرق بین الفرق شیخ عبد القاھر بن طاھر بغدادی \ مکتب نشر الثقافہ الاسلامیہ
- القاموس المحیط مجد الدین محمد بن یعقوب فیروز آبادی \ مطبعہ مصطفی البابی، مصر
- قصص القرآن مولانا حفظ الرحمٰن سیوھاروی \ ندوۃ المصنفین، دھلی
- القول البدیع فی الصلوٰۃ علی الحبیب الشفیع محمد بن عبد الرّحمٰن سخاوی \ دار الکتاب العربی، بیروت
- کشاف محمد بن عمر ذھبی \ مؤسسہ علوم القرآن، جدہ
- کشف الباری (کتاب المغازی) شیخ الحدیث مولانا سلیم اللہ خان \ مکتبہ فاروقیہ، کراچی
- الکافی الشافی فی تخریج احادیث الکشاف حافظ ابن حجر عسقلانی \ دار الکتاب العربی، بیروت
- الکامل فی ضعفاء الرجال عبد اللہ بن عدی \ دار الفکر، بیروت
- الکوکب الدری مولانا رشید احمد گنگوھی \ ادارۃ القرآن، کراچی
- کتاب الآثار امام اعظم ابوحنیفہ \ کتب خانہ مجیدیہ ملتان

- كشف الاستار نور الدين على بن ابى بكر هيثمى \ مؤسسه الرساله ، بيروت
- كنز العمال علامه على متقى بن حسام الدين \ مكتبه التراث الاسلامى ، حلب
- كشف الاسرار على اصول فخر الاسلام علامه عبد العزيز بن احمد بن بخارى \ الصدف پبلشرز ، كراچى
- كتاب الام امام شافعى \ دار المعرفه بيروت
- اللباب عبد الغنى عنيمى ميدانى \ مكتبه علميه ، بيروت
- لامع الدارى مولانا رشيد احمد گنگوهى \ مكتبه امداديه ، مكه مكرمه
- لطائف الاشارات امام قشيرى \ دار الكاتب العربى ، قاهره
- لسان العرب علامه ابن منظور افريقى \ نشر الادب جوزه ، ايران
- معالم التنزيل محمد حسين بن مسعود بغوى \ ادارة تاليفات اشرافيه ، ملتان
- معالم السنن امام احمد بن محمد الخطابى \ مطبعه الانصار الاسلاميه المحمديه
- المفردات فى غريب القرآن علامه راغب اصفهانى \ نور محمد كتب خانه ، كراچى
- مجموعه فتاوىٰ ابن تيميه شيخ الاسلام علامه ابن تيميه \ دار العربيه بيروت
- المحلى بالآثار على ابن احمد ابن حزم \ دار الكتب العلميه ، بيروت
- مقالات الكوثرى علامه زاهد الكوثرى \ ايچ ايم سعيد كمپنى ، كراچى
- المعجم الكبير سليمان بن احمد طبرانى \ دار الحياء التراث العربى
- مشاهد الانصاف على شواهد الكشاف شيخ محمد عليان مرزوقى \ دار الكتاب العربى ، بيروت
- مجمع بحار الانوار علامه محمد طاهر پٹنى \ مجلس دائرة المعارف ، حيدر آباد دكن
- مشكاة المصابيح محمد بن عبد الله خطيب تبريزى \ قديمى كتب خانه ، كراچى
- منهج الدراسات لآيات الاسماء والصفات علامه محمد امين شنقيطى
- المعجم الوسيط لجنه من العلماء \ انتشارات ناصر خسرو ، تهران
- مرقاة المفاتيح ملا على قارى \ مكتبه امداديه ملتان
- المغنى موفق الدين ابن قدامه \ دار الفكر ، بيروت
- مسالك الحنفائى والدى المصطفى علامه جلال الدين سيوطى \ مكتبه رضويه ، فيصل آباد
- معارف القرآن مفتى محمد شفيع صاحب \ ادارة المعارف ، كراچى
- موقع اصحاب كهف محمد تيسير ظبيان مطبع \ دار الاعتصام
- مسند امام احمد بن حنبل امام احمد بن حنبل \ المكتب الاسلامى ، \ دار صادر ، بيروت

- المصنوع فی معرفة الحدیث الموضوع ملا علی قاری\ادارہ نشر الثقافہ النعمانیہ
- مختار الصحاح محمد بن ابی بکر رازی\دار المعارف، مصر
- میزان الاعتدال علامہ ذہبی\دار احیاء التراث العربی، بیروت
- مغنی المحتاج شیخ محمد شربینی الخطیب\دار احیاء التراث العربی، بیروت
- معانی القرآن ابوزکریا یحیی بن زیاد\فراء عالم الکتب، بیروت
- المغرب ابو الفتح ناصر الدین مطرزی\یوسفیہ بنوریہ، کراچی
- المقاصد الحسنہ شمس الدین محمد بن عبد الرحمان سخاوی\مکتبہ خانجی، مصر
- مصنف ابن ابی شیبہ عبد اللہ بن محمد بن ابی شیبہ\الدار السلفیہ، بمبئی
- المعرفہ والتاریخ یعقوب بن سفیان\مؤسہ الرسالہ
- المقنع فی فقہ الامام احمد بن حنبل موفق الدین ابن قدامہ\مکتبہ الریاض الحدیثہ، ریاض
- المنتقی شرح المؤطا ابو الولید سلیمان بن خلف باجی\دار الکتاب العربی، بیروت
- المحرر الوجیز محمد عبد الحق بن عطیہ غرناطی\مطابع الاهرام التجاریہ، قاہرہ
- مکمل اکمال الاکمال محمد بن محمد تنوسی\دار الکتب العلمیہ، بیروت
- معجم البلدان یاقوت بن عبد اللہ حموی\دار احیاء التراث العربی، بیروت
- مقدمہ مجاز القرآن محمد فواد سزکین\مکتبہ خانجی، قاہرہ
- مجاز القرآن ابو عبیدہ معمر بن المثنی\مکتبہ خانجی، قاہرہ
- النشر فی القرأت العشر محمد بن الجزری\مکتبہ تجاریہ مصر
- نیل الاوطار محمد بن علی شوکانی مطبع مصطفی البابی، مصر
- النہایہ فی غریب الحدیث علامہ ابن الاثیر\دار احیاء التراث العربی، بیروت
- النکت والعیون (تفسیر الماوردی) علی بن حبیب ماوردی\وزارة الاوقاف والشئون الاسلامیہ، بیروت
- النامی شرح حسامی مولوی محمد عبد الحق\کتب خانہ مجیدیہ، ملتان
- النبراس شرح شرح العقائد عبد العزیز بن احمد فرہاری\مکتبہ حبیبیہ، کوئٹہ
- وفیات الاعیان علامہ ابن خلکان\دار صادر، بیرت
- ہدی الساری حافظ ابن حجر عسقلانی\دار الفکر، بیروت
- الہدایہ علی بن ابی بکر مرغینانی\ایچ، ایم سعید کمپنی، کراچی